بسم الله الرحمن الرحيم

صفوة التفاسير

پښتو

تألیف

محمد علي الصابوني

په مکه مکرمه کښي د پاچا عبدالعزیز پوهنتون
د شرعیاتو او اسلامي زده کړو استاذ

ژباړونکی

مولوي شمس الله کمال زاده

المکتبة المعروفیة
کوئټه لاهور پاکستان

صفوة التفاسير

لومړی ټوک

د قرآن کریم هغه تفسیر چې د مأثور او معقول تولګه اوله خورا معتبرو تفسیرونو څخه لکه:
طبري، کشاف، قرطبي، اُلوسي، ابن کثیر، بحر محیط اونورو څخه يي غور چاڼ شوي او په
روانو اونويو اسلوبو چې بیان اولغوي اړخونو ته پکښي پاملرنه شوي لیکل شوي دي۔

مؤلف

محمد علي الصابوني

په مکه مکرمه کښي د پاچا عبدالعزیز پوهنتون
د شرعیاتو او اسلامي زده کړو استاذ

ژباړونکي:

مولوي شمس الله کمال زاده

عنبر الوان شیخ صابر



المکتبة المعروفیة

(کوئٹہ) کاسی روڈ شالدرہ کوئٹہ پاکستان
(لاہور) ہادیہ حلیمہ سنٹر غزنی سٹریٹ اُردو بازار لاہور

:03337907394-03353132868
Ph:03159807152-03337907398
E-mail:maktabamaroofia786@gmail.com
http://www.facebook.com/maktabamarofia

دکتاب پېژندنه

دکتاب نوم: ------------------ پښتو صفوه التفاسیر

تالیف: ------------- الشیخ محمد علي الصابوني رحمه الله

پښتو ژباړه: --------------- مولوي شمس الله کمال زاده

دکمپوزچاري: ------------- مرحوم انجنیرعبدالله ګل (ریان) او زیاته برخه مولوي عبد البصیر

خپرونکي اداره: ------------------ المکتبة المعروفیة (کوئټه) (لاهور)

دچاپ شمیر: -------------------------- ۸۰۰ ټوکه

دچاپ کال: ----------- ۱۴۴۰ هجري قمري د محرم الحرام میاشت

دکتاب ترلاسه کولو پته ---------------- المکتبة المعروفیة (کوئټه) (لاهور)



المکتبة المعروفیة

(کوئټه) کاسي روډ شالدره کوئټه پاکستان

(لاهور) بادیه حلیمه سنټر غزني سټریټ اردو بازار لاهور

:03337907394-03353132868

Ph:03159807152-03337907398

E-mail:maktabamaroofia786@gmail.com

http://www.facebook.com/maktabamarofia

دژباړونکي خبرې

بسم الله الرحمن الرحيم

شروع په نامه دالله چې خورا مهربان ډېر رحم والادی

ربي لك الحمد كما ينبغي لجلال وجهك وعظيم سلطانك لك الحمد يا من منحت اهل الطاعة الطاعة ورغبتهم فيها وأوجدت فيهم الاستطاعة واثبتهم عليها , لك الحمد يا من مقاليد الأمور كلها بيديك والمبدأ منك والمصير اليك ، احمدك ياربی حمد الشاكرين فجد علي من خزائن جودك بما تعلقت به الآمال فأنك واسع العطاء جزيل النوال .
وصل اللهم أتم صلاة واكملها وأشرفها وأفضلها وأعمّها وأشملها على سيدنا ومولينا محمّد سيد الأنبياء والمرسلين وأفضل خلقك أجمعين وعلى آله وصحبه الطيبّين الطاهرين صلاة لايحصيها عدد ولايقطعها مدد وسلم تسليما كثيرا إلى يوم الدين آمين يارب العلمين.
اما بعد :

درنو او ګرانو لوستونکو !
دعظيم الشان قرآن ترجمې اوتفسيرونه خو زښته ډېر دی اوهر يو يې پخپل ځای کی دقدراو ستاينې وړدی اولکه چې وايي:

جهان چون چشم وخد وخال وابروست که هر چیزی که در وی هست نیکوست !

مګر دغه سپېځلي دتفسيرکتاب چې اوس ستاسوپه لاس کښې دې ډېوستر نوميالي حنفي عالم تأليف دی چې زه يې ژباړل دخپل مسلمان ولس لپاره خدمت ګڼم اوهغوي ته يې وړاندې کول ګټور بولم هغه مهال مې ددې مقدس تفسير دژباړلو لپاره متې راونغښتې چې يو خواخوږي وروړ يې دژباړلو لپاره راته وړانديز وکړ اوهغه وخت په هيواد کښې بې اتکله ناورين پېښ وو هغه وخت داسې نادودې اوناخوالې وې چې وزګارتيرول يې هم آسانه نه وو څه خو چې يوڅوک دليکنې اويا ترجمې لپاره چمتوشي.
لکه چې ـ وميالي ليکوال يې پنځه کاله پرله پسې په ليکلو کښې تيرکړي ماتر هغه لا زياته موده ددې تفسير په ژباړلو ولګوله ،هغه بختور خو دبيت الله شريفې په حرم کښې اوسيدو هغه انګړ چې الله ﷻ يې اوسيدونکې (أَطْعَمَهُم مِّن جُوعٍ وَءَامَنَهُم مِّنْ خَوْفٍ) ستايلې مګر مونږ په پرېمانه غمونو او سختو شپو ورځو کښې دهجرت په ديار کښې دقرار اوفرار په پوله ولاړ وو.

لنډه دا چي دغي ترجمې ته مي له ډيرو ستونزو سره سره اوږه ورکړه شپې اوورځي څه چې کلونه مي دهغه په ليکلو تصحيح او سمولو کي تير کړل چا وچا چې به يي دبشپړيدلو راځخه پوښتل ما به په ځواب کي ورته ويل چې ژوند خوهسي هم تيريږي ښه داده چي ډيره برخه يي په داسي نيک کار کي لکه دتفسير ژباړل ولګول شي او په دي شعر مي دلاساينه وه:

از آن زمان که برين آستان نها دم روي　　فراز مسند خورشيد تکيه گاه منست

ماپخوا هم دسپين روبو پوهانو لسګوني ليکنې اوګڼ شمير کتابونه ژباړلي وو اودا ځل مي دغه ستر کارته دالله ﷻ په مرسته ملا وتړله تر څو که الله ته ومنل شو اوزما لپاره يي دآخرت توښه کړ،شيخ الهند محمود الحسن رحمه الله ليکي چي شاه عبد القادر رحمه الله کله چي دقرآنکريم ترجمه موضح القرآن ليکله نو دغه فارسي بيت به يي په لږ تغيير کولو سره داسي وايو :

روز محشر هر کسی باخويش دارد نامه　　من نيز حاضر ميشوم تفسير قرآن در بغل!

او زما هم دغه توقع ده چي الله ﷻ مي دقرآن کريم له خدمت کونکو وګڼي، الله ﷻ ډير مهربان دی زه يي په خپلو ډيرو هيلو کي بريالی کړی يم ، ماچي نسبتا يو څه ښکلی ليک ليکلای شو زياته مينه مي درلوده چي قرآن کريم پخپل لاس اوقلم وليکم خو چي دکمپيوتر دور را دبره شو دلاس ليکل يي تر خپلو وړانګو لاندی کړل خو زه ددې تفسير د ژباړلو په ترڅ کي هغې هيلي ته ورسيدم او قرآن کريم مي ټول ددې تفسير ليکلو په وخت کي په لاس وليکل ؛ دزده کړی په وخت کي به ډير ځله په غزني نورالمدارس کي دخطابې ميز شاته دريدلم او ليکلی مقاله به مي حاضرينو ته اوروله دعرفات شريف يوه ورځ مي له راديو څخه دحج دمراسمو پوښښ اوريدو له ځانه سره مي وويل داڅومره نيکمرغه کسان دي چي ټول اسلامی امت ته له زښته پاکه ځايه او په سپيڅلو شيبو کي خپل پيغام رسوی الهی ما هم دغه مقصد ته ورسوی، الله تعالی هغسی موفق کړم اوپه ۱۳۱۸هجری قمری کي دسعودی عربستان له خوا د افغانستان په ونډه کي د وزارت اعلام مېلمه شوم او دعرفات له سپيڅلی غونډی مي خپل پيغام په دريو ژبو: عربی،پښتو او دری باندي عالم اسلام ته ورساوو ؛يو وخت چې دمجاهدينو په لاس په هيواد کښی اسلامي نظام پلی کيدو او په بهرنيو هيوادونو کښی يی خپل ديپلو ماتان وګومارل زه هم دکوم کار لپاره دخپل هيواد يوې کونسلګری ته ورغلم او زموږ دډلې يو تن هلته مشر وو ما په زړه کي هيله څرګنده کړه کاشکي ما هم په ديپلوماتيک ډګر کي ، خپل هيواد او خلکو خدمت کولای هغسي الله تعالی يو وخت زه هم د ديپلو ماتانو په کتار کې ودرولم او په ډېره مينه مي دغه خدمت سرته ورساوو او دوخت دډېرو هوسا اوبډای پاچهانو لکه دشيخ زايد او ملک فهد رحمهما الله په دسترخوان مېلمه شوم ؛ ***بمطلب مير سد جوياى کام آهسته آهسته.***

الله تعالی لره حمد اوثنا ده چي دژباړې سترنعمت يي راباندې لورولې دي آن ترديي چي ددغه تفسير شريف دژباړلو وياړ يي را وبانبو اوزه دا وينا د (تحديث بالنعمة) په توګه کوم دادي چي دلوي الله جل جلاله په مرسته اوس تفسير شريف دبشپړتوب په درشل کښي ده.

موږ له بشري توان سره زيار ايستلی چې ښه له خوند اومعنی ډکه پيمانه ژباړه دلوستونکو مخ ته کيږدو چي له هرډول غلطيو خوندي اوژغورلی وي خو لکه په پيل کی مو چي يادونه وکړه دغه دژوند مقطع دخواښينيو غمونو اولالهاندېو توره دوره وه دوه تنه خواخوږې اوځارنوميالی عالمان چی ما ورځخه دتصحيح هيله لرله يو يې دليری هيوادمسافر اوبل يې چې نږدې ځو سيپاړې تفسير يې وکوت اوارزښتناک ياددښتونه يې راکړل د(القابضون علی الجمر) د پلوی په توربندی شو.

دکمپوز دستونزو به درته څه ووايم ؟ ماکه پخپله دقلم په نوک خوشخط ليکلای دومره به يې ستومانه کړی نه وم دغه ځلورم ځل ده چي پروف يې لولم خوبياهم ډيری کتبي غلطی لری ،الله تعالی عالم دی له هغه ﷺ څخه داجر په هيله ټول مشکلات آسان شي.

هو منم چي دتفسير شريف ژباړل ډير ستر او له مسئوليته ډک کار دي ما زيار ايستلي چي له بشري توان سره سم کټ مټ دمؤلف رحمه الله مقصد وژباړم خوځرنګه چي هغه دغه تفسير دعربي لوستونکو لپاره ليکلي اوښکاره خبره ده چي په عربي ګريدونکي دهري کلمې ترجمې اومعناته اړنه وي نومؤلف هم کله کله لفظي ترجمه نه ليکي او په تفسير بسنه او اکتفاء کوي مګر له ترجمې پرته يوازي په تفسيرپوهيدل بيا پښتنو لوستونکو ته ګران وي ځکه نو په داسي وخت کښي ما دکابلي تفسير هغه ترجمه چي شيخ الهند مولانا محمود الحسن رحمه الله کړي اوبيايوي ډلي پښتنوعلماوو ژباړلي اوتر ډيري اندازي په خلکو کښي مشهور او هغوي ته منلی دي تکي په تکي په دوو ليندکيو کښي ليکلي او په کومو ځايونوکښي چي دڅه بدلون اړتياوه هغه مي تر سره کړی دمثال په توګه:

کله چي کابلي تفسير ددي آيت ﴿ اَعۡلَمُوۡۤا اَنَّمَا الۡحَیٰوۃُ الدُّنۡیَا لَعِبٌ وَّ لَہۡوٌ وَّ زِیۡنَۃٌ وَّ تَفَاخُرٌ ﴾ (الحديد) په ترجمه کښي ددنيامعنی داسي ليکلي (ژوندون لږ خسيس ددنيا) مونږ هغه داختصارپه توګه ژوند ددنيا ليکلي.

دارنګه کله کله دکابلي تفسير او صفوة التفاسيردترجمو په مينځ کښي څه توپير وي مونږ دواړه رايي را اخلو لکه ددي آيت ﴿ وَ کَاَیِّنۡ مِّنۡ قَرۡیَۃٍ عَتَتۡ عَنۡ اَمۡرِ رَبِّہَا وَ رُسُلِہٖ فَحَاسَبۡنٰہَا حِسَابًا شَدِیۡدًا ۙ وَّ عَذَّبۡنٰہَا عَذَابًا نُّکۡرًا ۝۸ ﴾ (الطلاق) کابلي تفسيرليکي : او ډير وو له کليو څخه چي ګرزيدلي سرکشي يي کړي وه له حکمه درب خپل او (لهٔ امره حکمه) درسولانو ددغه (الله) څخه نوحساب به وکړو مونږ له هغوي سره حساب سخت (په قيامت کښي) اوصفوة التفاسير ليکي: حساب مو وکړ او جزا مو ورکړه هغوي ته ددوي په طغيان او عصيان باندي سخته جزا چي دردناک عذاب ، لوږه ، کاختي اوهلاکت مو ورولېدل لومړني تفسير دمستقبل په بڼه او دوهم بيا دماضي په تو ګه ليکلي موږ دواړه يي را اخيستي ښايي چي محترم لوستونکي يي تيروتنه ونه ګني.

هو کي کله کله د حرفي ترجمي ليکل خورا ګران وي لکه د دې آيت شريف ﴿ وَءَاخَرِينَ مِنْهُمْ لَمَّا يَلْحَقُوا۟ بِهِمْ ۚ وَهُوَ ٱلْعَزِيزُ ٱلْحَكِيمُ ﴾ (الجمعة) نو سره له دې چې زموږ په پوهه د کابلي تفسير ترجمه له تعقيد او تکلف څخه خوندي نه ده بيا موهم لمړي هغه تکي په تکي را اخيستې او وروسته مو د صفوة التفاسير اجمالي تفسير زياره وروزياته کړي چې لوستونکي يې له بشپړ ځرنګوالي څخه ګټه واخلي.

همدا رنګه کله کله د کابلي تفسير په زياره کښې تفسيري کلماتي د قوسينو په مينځ کښې راغلي او له تکلف څخه زغورلي نه وي نو موږ په هغو کښې هم د لوستونکو د آسانتيا لپاره اړين تغيير را وړي لکه داچې ﴿ وَجَعَلَ لَكُمُ ٱلسَّمْعَ وَٱلْأَبْصَـٰرَ وَٱلْأَفْـِٔدَةَ ۖ ﴾ (الملک) هغه ليکي: او درکړي ګرزولي يې دي تاسي ته غوږونه (د پاره د سماعت او ريدلو د حق) او موږ دغه فيما بين القوسين داسي زباړلي (او درکړي يې دي تاسي ته غوږونه د حق اوريدلو لپاره) همداسي دسترګو او زړونو په اړوند مو لنډه زياره راوړي ده. زه تر خپله وسه زيار باسم چې خبرې مي په تول او پيمانه وي څکه نو ديري لږ خبرې کوم او داهيله لرم چې که چيرې تاسو په دغه تفسير کښې کومه تېروتنه او تقصير ومونډ هغه به د هغه کرم له مخې چې تاسو يې لرئ را وبښئ او په دې التجا دغه بريد ليک په دې وينا بشپړ وم چې

الهی قرآن کن که انجام کار تو خوشنود باشی و ما رستگار

مولوي شمس الله کمال زاده
۱۴۳۵ هـ ق ذیقعدة الحرام

دمؤلف سریزه

الحمد لله الذي أنارقلوب عباده المتقين بنور كتابه المبين ،وجعل القرآن شفاء لما في الصدور وهدى ورحمة للمؤمنين ، والصلوة والسلام على خاتم الأنبياء وأشرف المرسلين ، سيدنا محمد النبي العربي الأمين ، الذي فتح الله به أعينا عميا، وأذانا صما، و
قلوبا غلفا، وأخرج به الناس من الظلمات الى النور ، صلاة وسلاما دائمين الى يوم البعث والنشور ، وعلى آله الطيبين الأطهار واصحابه الهادين الأبرار، ومن تبعهم باحسان الى يوم الدين وبعد:

قرآن کریم دعلومو اومعارفوڅپاند سمندر دي څوک چي دهغه دملغلروپه لټه کښي وي دې ته اړدي چي په تل کښي یي غوټي ووهي،همدغه قرآن عظیم دي چي دبلاغت دډګر اتلان او دعلم اوپوهي قهرمانانوته ورښیې چي دغه دالله ﷻ معجز کتاب په امي پیغمبر نازل شوي دهغه ﷺ دربشتنولی کره شاهد او ددي څرګندوي دي چه دحکیم اوعلیم ذات له لوري نازل شوي دي ﴿ وَإِنَّهُۥ لَتَنزِيلُ رَبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿١٩٢﴾ نَزَلَ بِهِ ٱلرُّوحُ ٱلْأَمِينُ ﴿١٩٣﴾ عَلَىٰ قَلْبِكَ لِتَكُونَ مِنَ ٱلْمُنذِرِينَ ﴿١٩٤﴾ بِلِسَانٍ عَرَبِيٍّ مُّبِينٍ ﴿١٩٥﴾ ﴾ الشعراء: ١٩٢ ـ ١٩٥
سره له دي چي ډیرو پوهانوورباندي لیکني کړي اوپه اسلامي کتابتون کښي په دي اړه خورا په زړه پوري دتفسیر کتابونه شته خو قرآنکریم داسي له عجائباتو ډک اوپه ملغرو اوجواهرو مشتمل کتاب دي چي له سره پاي اوانتها نلري او وخت په وخت یي دپوهانو دتحقیق په رڼا کښي نندارکوو داسي ملغرې دي چي عقلونه هیښوې او احساسات راویښوي دهغه په آیتونو کښې دالهي نور ځلانده وړانګې ، سپېڅلي قدسي فیوضات او نوراني وړمې دي هغه مقدس کتاب چي دانسانیت لپاره له بد مرغي اوشقاوت څخه دخلاصون ضمانت کوې.
هوکې هر علم بشپړ شوي او پاي ته رسیدلي خو یوازي دتفیسر علم دي چي تل ترتله بهانده سیند اودملغلرو لاس ته راوړونکې یي ژور ډوبیدلو ته اړدي ترڅوهغه ومومي ، رازونه یي وسپړي اوښکلاوي یي رابرسیره کړي ځکه نو تل ترتله علماي کرام دهغه په څنډو دریږي او له خوږو صافو اوبو څخه یي خپله تنده ماتوي.
څوک کولاي شي چي درب العزت په کلام باندي په واقعي توګه وپوهیږي؟او ټول رازونه ،ګردې باریکي اواعجاز یي وپیژني او یاهم داسي وانګیرې چي ګواکي په بشپړه توګه یي په هغو برلاسي مونډلي دي؟.
بیشکه داهمغه معجز کتاب دي چي همیشه انسانانوته دهغه علوم ، معارف ، اسرار،او حکمتونه وخت په وخت څرګندیږي څوپي ایمان غښتلي اویقین یي پوخ کړي دغه دعربي پیغمبر خالده اوتل ترتله معجزه ده او دحکیم حمید ذات له لوريورباندي پیرزو شوي ده.
څرنګه چي مسلمان دخپل ژوندانه دارتیاوو لپاره کسب اوکارته اړدي نوهغه ته دومره وخت نه پیداکیږي چي داسلافو رضوان الله علیهم هغو اوږدو اوسترو تفسیرونه ته رجوع وکړي کوم چي

هغوي دکتاب الله دچوپړلپاره ليکلي ترڅو چي دقرآنکريم دآيتونو تفصيل اوبيان دبلاغت څرګندونه داعجاز رابښکون او همدا راز دتشريع ، تهذيب ، احکامو او اخلاقو دروزني توجيهات اولاربښونې پکښي وموميي نو علماوو ته لازمه ده چي ددغو مفاهيمو دآسانولو اودخلکو وربانديي پوهولو لپاره په روانو اسلوبو ، ښايسته اوروښانه بيان چي نه پکښي زياتوالي وي اونه هم کم والي ، نه پکښي تعقيد وي اونه هم تکلف ، ژهار وباسي ترڅو دقرآن عظيم الشان داعجازاوبيان ښکلا لکه څرنګه چي دعصر اوزمان غوښتنه او ايجاب دي را وسپړي او دزدکړي تږيو مسلمانانو چي دقرآنکريم علوم اومعارف لتږوي تنده ورماته کړي.

ما دغسي تفسير لکه چې ورته اړتيا وه ونه موند اوخلکو يي دپيدا کوو تلوسه درلوده ؛ ډيروخت به يي دهغه په هکله پوښتني کولي ځکه نو ماپخپله ددغه کار لپاره ليځي راونغښتي سره له دي چي پريمانه مشکلات او ډيري ستوماني پکښي وي-تاسي پوهيږئ- په اوسني زمانه کښي دومره زيات وخت چاته نه پيدا کيږي خو ما دالله ﷻ په توکل په داسي حال کښي چي ددغه کاردبشپړيدا اوپه دي کښي دبرياليتوب سوالونه مي دهغه ﷻ په دربار کښي کول تر څو توفيق راپه برخه کړي اولکه څرنګه چي دالله له کتاب سره وړ اولايق وي دغسي تفسير راغونډ کړم چي مسلمانانو ته دالله دکتاب فهمول آسانه اوبيان يي روڼ روښانه کړي هم داسي زما دغه عمل يوازي دخپلي رضا لپاره وګرزوي اوپه دي لاره کښي مي مرستندوي شي.

ما دغه خپل کتاب(صفوة التفاسير) ونو ماوو ځکه دغه دسترو اومفصلو تفسيرونو غور چاڼ دي په دي کښي له وضاحت بيان اوترتيب سره سره اختصار اولنډون هم خوندي شوي دي او زه تږول هيله هيله يم چي ددي تفسير نوم اوپخپله تفسير سره يو له بله مطابق وي ترڅو ورڅخه اسلامي امت ګټه پورته کړي او ورته دسمي سيخي لاري لاربښود شي.

په دي تفسير کښي لاندي ټکي په نظرکښي نيول شوي دي !

لومړي: دسورت په وړاندي ، دسورت د اساسي مقصدونو خلاصه اولنډيز.

دوهم: دنزول سبب ، دهغه سبب څرګندول چي دهغه له مخي آيتونه نازل شوي دي.

دريم: مناسبت ، دتيرشويو اوراتلونکو آيتونو تړون.

څلورم: لغت ، دلغت دعلماوو درايي په شاهدي راوړلو داشتقاق بيان.

پنځم: تفسيرشريف.

شپږم: بلاغت ،دبياني انځورونو اودبلاغت دنکاتو سپړل.

اووم: فوائد اوګټي، هغه ګټي او فايدي بيانول کومې چي له آيت څخه راوزي او يا ورسره تعلق او تړاو لري

دتفسير مزاياوي

۱: دا دمشهورو معتمدو مفسرينو داقوالو لنډيز دي

۲: منقول اومعقول دپخوانيو او اوسنيو علماوو ويناوي يوځاي كوي

۳: ترټولو درانه اوغوره اقوال راغونډوي

۴: سره له دي چي آسان او روان عبارت لري په دقت او غورسره چاڼ شوي دي.

ددغه تفسير په ليكلو كښي مي پنځه كاله پر له پسي شپي او ورځي يو له بله تړلي او ترهغو به مي يوه كلمه هم نه ليكله څو به مي دمفسرين كراموويناوي په معتبرو تفسيرونو كښي نه وي لوستلي وروسته به مي په دقيق ډول هغه غوره اوصحيح اقوال راغونډول.

زه دالله ﷻ څخه دزړه له كومي شكر ګذار يم چي دغه كار يي راته آسانه كړ ، مادخپل دغه كار په اوږدو كښي داسي ګڼله لكه چي وخت راته نغښتل كيږي اودغه ټول دبيت الله شريفي دګاونډيتوب اوجوار بركتونه وو كوم چي الله تبارك وتعالى په مالورولي ووا وزه په ۱۳۸۱هجري قمري كال كښي په مكه مكرمه كښي دشرعياتو او اسلامي زده كړو استاذ ګومارل شوي وم.

ما دغه كار يوازي دالله ﷻ درضاء لپاره ترسره كړي او لاس په دعايم چي زما مرستندوي شي او دخپلي خوښي موجب يي وګرزوي او دآخرت دورځي لپاره يي زما توښه كړي هيله لرم څوك چي داتفسير لولي اوتري ګټه اخلي په نيكه دعامي يادكړي.

وصلى الله على سيدنا محمد وآله وصحبه وسلم تسليما كثيرا.

مكه مكرمه دذي الحجې پيل ۱۳۹۹ هجري قمري كال.

محمد علي الصابوني

په مكه مكرمه كښي دپاچا عبد العزيز پوهنتون دشرعياتو او اسلامي علومو دپوهنځي استاذ

والله ولي التوفيق

سورة الفاتحة

دفاتحې سورت مکي او اووه آیتونه لري

أَعُوذُ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

پناه غوارم په الله ﷻ او اعتصام کوم په الله ﷻ له رټل شوي شيطان څخه چې په دين يا دنيا کې راته ضرر ورسوي او يا مي د مأمور به فعل په وړاندې خنډ شي، او همدا راز په سميع او عليم خالق پناه غوارم دشيطان له همز او لمز څخه او دهغه له ډول ډول وسوسو څخه ځکه پرته له الله ﷻ څخه شيطان له چا څخه څوک نشي ليری کولای ، روايت دی چې رسول الله به کله چې دشپې پاڅيدو نو لمونځ به يې په تکبير پيل کړو او بيا به يې ويل:

اَعُوْذُ بِاللهِ السَّمِيْعِ الْعَلِيْمِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيْمِ مِنْ هَمْزِهٖ وَنَفْخِهٖ وَنَفْثِهٖ .(۱)

پناه غوارم په الله ﷻ السميع العليم ذات د رټل شوي شيطان له (همزه)،(نفح)،(نفث) يعني له کبره ، سحره، او وسوسي څخه.

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

له هر شي څخه مخکي دالله ﷻ په نامه پيل کوم له هغه څخه په خپلو ټولو کارونو کې مرسته غوارم ځکه هغه معبود رب دی او دفضل اوجودخاوند دی ډير مهربانه دی داحسان څښتن دی،دهغه رحمت هرچا ته رسيدلی.

تنبيه: ﴿بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ﴾ دفاتحې سورت او همدارنګه ټول قرآني سورتو نه دتوبې دسورت څخه پرته په دې آيت شريف پيل شوی دی ، ترڅو مسلمانانو ته لار ښونه وکړی چې خپل اعمال او اقوال درحمن او رحيم الله په نامه پيل کړي چې دهغه مرسته او توفيق يې په برخه شي او دبت پرستانو مخالفت وکړی هغوی چې خپل عملونه دخپلو باطلو خدايانو په نامه پيل کوی ، اووايي دلات په نامه دعزی په نامه دهبل په نامه.

طبری وايي چې الله ﷻ خپل استازي حضرت محمد ﷺ ته دخپلو اسماء الحسنی دیادولو تعليم ورکړو او دايي دټولو خلکو لپاره يو سنت وګرزاوو چې بيا به يې تل تر تله پيروي کوی.(۲) نو کله چې دسورت په پيل کی وايي﴿ بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ﴾ معنی يې داده چې لولم دالله ﷻ په نامه همدارنګه په نورو ټولو کړو وړو کی يعنی پيل کوم دالله په نامه چې ډير مهربانه او زيات رحم لرونکی دی.

دسورت په وړاندي

دغه مبارک سورت مکي او دعلماؤ په اتفاق اووه آيتونه دی ، او فاتحه يې په دې بولی چې دالله ﷻ عزتمن کتاب ورباندی پيل شوی دی او دا په ترتيب کی دقرآن کريم پيل ده نه په نزول کی ، دا سورت دهغه له لنډوالی

---

(۱) اخرجه اصحاب السنن.

(۲) جامع البيان للطبري.

او ایجاز سره دقرآنکریم معناکاني رانغښتي او په اجمالي توګه په اساسي مقاصدو مشتمل دي ځکه هغه ددين اصول او فروع را اخلی عقیده او عبادت بیانوی ، تشریع او دآخرت دورخی په راتلو باور او عقیده ښیي دالله ﷻ په حسنی صفاتو ایمان او یوازي دالله ﷻ عبادت او له هغه څخه مرسته او دعا غوښتل له هغه څخه دهدایت او لار ښووني غوښتنه هغه چې حق دین او سمي لاری ته دایمان په تثبیت او دنیکانو خلګو په لاره تلل دي دهغو کسانو له لاري څخه ژغورل کوم چې وربانډی غضب کړل شوی یا ګمراهان دی ددې توبو په غوښتلو کی الله ﷻ ته توجه کول بیانوی او پدې کی دپخوانیو امتو نو له کیسو څخه اخبار دی ، دنیکمرغه او بدمرغه کسانو دهستوګني ځای معلوموي او دالله ﷻ په امراو نهی باندی پابندي ښيي او پکي نور ډیر اغراض او مقاصد خوندی دی او دا نورو سورتونو لره لکه مور غوندي ده ځکه یې (ام الکتاب) بولي چې ټول اساسي مقصدونه پکي راغونډ شوی دی.

دفاتحة الكتاب بهتري :

الف. امام احمد په خپل مسند کی روایت کړی چې ابی بن کعب رسول الله ﷺ ته أم القرآن ولوست نو رسول الله ﷺ وفرمایل: والذي نفسي بيده ما أنزل في التورة ولا في الانجيل ولا في الزبور ولا في الفرقان مثلها هي السبع المثانى والقرآن العظيم الذي أوتيته،په دې حدیث شریف کی دالله ﷻ هغه قول ته اشاره راغله چې فرمایي: ﴿ وَلَقَدْ ءَاتَيْنَٰكَ سَبْعًا مِّنَ ٱلْمَثَانِى وَٱلْقُرْءَانَ ٱلْعَظِيمَ ﴾[الحجر ٨٧].

ب: په صحیح البخاري کی راغي چې رسول الله ﷺ ابي سعيد بن المعلى ته وويل: لأعلمنك سورة هي اعظم السور في القرآن ، الحمد لله رب العلمين ، هي السبع المثاني والقرآن العظيم الذي أوتيته.

نومونه يې: ددې سورت نومونه: الفاتحة ، أم الكتاب ، السبع المثاني ، الشافية ، الوافية ، الكافية ، الاساس اوالحمد دی ، علامه قرطبي رحمه الله ددې سورت نومونه شمیرلی وایي چې دوولس نومونه لري.

بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

﴿ ٱلْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ ۝٢ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ ۝٣ مَٰلِكِ يَوْمِ ٱلدِّينِ ۝٤ إِيَّاكَ نَعْبُدُ وَإِيَّاكَ نَسْتَعِينُ ۝٥ ٱهْدِنَا ٱلصِّرَٰطَ ٱلْمُسْتَقِيمَ ۝٦ صِرَٰطَ ٱلَّذِينَ أَنْعَمْتَ عَلَيْهِمْ غَيْرِ ٱلْمَغْضُوبِ عَلَيْهِمْ وَلَا ٱلضَّآلِّينَ ۝٧ ﴾

لغتونه:

﴿ ٱلْحَمْدُ ﴾ دتعظيم په توګه په نيكيو باندی ثنا ويلو ته حمد وايي چې دا تر شكر عام دی او دذم نقيض ته ويل كيږي ځكه شكر دنعمت په مقابل كی وی پرته له حمد نه. ﴿ لِلَّهِ ﴾ دپروردګار مقدس ذات اسم علم ته الله وايي چې هيڅوک ورسره پکي شرکت او ګډون نلری قرطبي رحمه الله وايي چې دالله ﷻ دغه اسم تر ټولو نومونو لوی او جامع دی چې دالله ﷻ ټول صفتونه پکي دی هغه چې منعوت دربوبیت په نعتونو او په حقیقي وجود منفرد دی لا اله الا هو سبحانه. ﴿ رَبِّ ﴾ رب له تربيت څخه اخيستل شوی او هغه دنورو دامورو اصلاح او

رعایت کولو ته وایي .هروي وایي: رب هغه چاته چې دیوشی اصلاح او تمام کوی ویل کیږي ، او له دې څخه ربانیون هم دی چې دوی به دکتاب پاملرنه کوله (۱)

او رب په څو معنا ګانو راځي چې هغه مالک ، مصلح ، معبود ،سید او مطاع ته ویل کیږي ﴿ ٱلْعَـٰلَمِينَ ﴾ عالم اسم جنس دي چې له خپل لفظ څخه واحد نلری او لکه رهط غوندی دي او دا انسانانو او پیریانانو دواړو ته شامل دي آن تر دې چې ملائکه او شیاطین هم پکې داخل دی دغه وینا فراء هم کړی ده له علامې څخه مشتق ده

څکه عالم هم دخالق په وجود باندي علامه ده ﴿ ٱلرَّحْمَـٰنِ ﴾ رحمان دستر نعمت خاوند ته وایي څکه فعلان دمبالغې صیغه چې دشی پر لوی والی او ډیر والي دلالت کوي خو دوام ورسره لازم نه دي او لکه سکران او

غضبان غوندي ګڼل کیږي. ﴿ ٱلرَّحِيمِ ﴾ رحیم ددائم الرحمة په معنی دی څکه دفعیل صیغه په دائمي صفاتو کی استعمالیږي لکه: کریم او ظریف نو لکه چې فرمایلي یې دی دلوی رحمت خاوند او تل تر تله داحسان څښتن دي(۲) خطابي وایي رحمٰن دشامل رحمت لرونکی ذات نوم دی هغه چې رحمت یې دټولو خلکو په ارزاقو او مصالحو خپور ، مسلمان او کافر دواړو ته رسیدلی دی او رحیم تر مومنانو پوری ځانګړی دی لکه چې الله ﷻ فرمایي:

﴿ وَكَانَ بِٱلْمُؤْمِنِينَ رَحِيمًا ﴾ [الأحزاب: ٤٣]. ﴿ ٱلدِّينِ ﴾ جزاته وایي لکه چې په حدیث شریف کی راځي (کماتدین تدان) یعني لکه څرنګه چې ستا عمل وی همغسې جزا به مومې زمخشري وایي چې (دین) دعبادت دخشوع او خضوع نهایي مرحلې ته وایي څکه نو له الله ﷻ څخه پرته دبل چا لپاره نه استعمالیږي هغه ذات چې

دخورا ستر و نعمتونو مالک دی ، او هرڅومره تذلل او خضوع دهغه په وړاندی ښایي .(۳) ﴿ ٱلصِّرَٰطَ ﴾ لاري ته وایي په اصل کی له استراط څخه اخیستل شوې چې دتیرولو او غوړپ کولو په معنی ده او لکه چې لاره هم

لاروی تر ستوني تیروي. ﴿ ٱلْمُسْتَقِيمَ ﴾ سمه سیخه چې پکې کږوالی نه وی .(آمین) یعني دعا مو ومنه او دا کلمه دعلماوو په اتفاق له قرآن کریم څخه نه ده شمیرل شوې.

تفسیر:

الله ﷻ موږ ته لار ښوونه کوي چې څه ډول یې حمد او ثنا ووایو او څرنګه یې پاکي بیان کړو ویې فرمایل:

یعنی اې زما بندګانو کله چې زما شکر او ثنا وایاست نو ووایاست ﴿ ٱلْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ ٱلْعَـٰلَمِينَ ﴾ زما د احسان شکر پر ځای کړی زه دعظمت او لویي خاوند الله یم زه دانسانانو او پیریانو پیدا کوونکی یم زه دآسمانونو او مځکو خاوند یم څکه نو حمد او ثنا یوازي درب العلمین سره ښایي نور معبودان ددې لائق نه دی. ﴿ ٱلرَّحْمَـٰنِ

ٱلرَّحِيمِ ﴾ هغه مهربان ذات چې رحمت یې هر څه ته رسیدلی دی او فضل یې په ټولو خلکو غوړیدلی چې هغوی یې پیدا کړی رزق او روزي یې ورکړې دداړو دارینو نیکمرغي ته یې ورته لاره ښودلي ده دهغه احسان تل ترتله

(۱) قرطبي ۷/۱۳۳
(۲): کشف القرآن تفسیر ابن جماعة.
(۳)الکشاف ۱۱/۱

او رحمت یې ستر دي ﴿ مَٰلِكِ يَوۡمِ ٱلدِّينِ ﴾ یعنی الله ﷻ د جزاء دورځي خاوندی دی او په هغې ورځ کي د داسي تصرف څښتن دی لکه چي څوک یې پخپل ملک کي کوي لکه چي الله ﷻ فرمايي ﴿ يَوۡمَ لَا تَمۡلِكُ نَفۡسٞ لِّنَفۡسٖ شَيۡـٔٗاۖ وَٱلۡأَمۡرُ يَوۡمَئِذٖ لِّلَّهِ ﴾ [الانفطار: ١٩]. ﴿ إِيَّاكَ نَعۡبُدُ وَإِيَّاكَ نَسۡتَعِينُ ﴾ یعني خاص تا لره اې الله موږ عبادت کوو او خاص له تا څخه موږ مرسته او مدد غواړو له تا پرته د بل هیچا عبادت نه کوو یوازي تالره موږ سرټیټوو عجز او زاري کوو او له تا څخه ستا د طاعت او عبادت لپاره ستا د خوښي او رضا په خاطر مرسته او معاونت غواړو ځکه ته د هر ډول اجلال او تعظیم مستحق یې له تا پرته هیڅوک زموږ مرسته نشي کولای ﴿ ٱهۡدِنَا ٱلصِّرَٰطَ ٱلۡمُسۡتَقِيمَ ﴾ راوښیه موږ ته سمه لار په اسلام مو ثابت ولره هغه چي تا پیغمبران او انبیاء علیهم السلام ورباندی رالیږلی او خاتم الانبیاء علیه السلام دی د ټولو وروسته را استولی او موږ له هغو لارویانو وګرځوه کوم چي مقربین بندګان دی ﴿ صِرَٰطَ ٱلَّذِينَ أَنۡعَمۡتَ عَلَيۡهِمۡ ﴾ لار د هغو کسانو چي تا وربانډی نعمت کړی لکه انبیاء، صدیقین شهداء او صالحین وحسن أولئک رفیقا ﴿ غَيۡرِ ٱلۡمَغۡضُوبِ عَلَيۡهِمۡ وَلَا ٱلضَّآلِّينَ ﴾ نه لاره د هغه چا چي په دوی غضب شوی او نه لاره د ګمراهانو یعنی اې الله موږ ستا له دښمنانو مه ګرزوه هغوي چي له سمی لاری ګرځیدلی، او کږې لاري یې نیولي وي کوم چي مغضوب یهودان او یا ګمراه نصرانیان دی دوی ستا د سپیڅلی شریعت څخه لاره ورکه کړې او د تل تر تله غضب او لعنت وړ او مستحق ګرځیدلی دی. آمین.

بلاغت:

﴿ ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِ ﴾ دا جمله لفظا خبریه او په معنی کی انشائیه ده معنی یې داسي کیږی چي ووایاست الحمد لله او دا ټول حمد قصر د الله ﷻ لپاره افاده کوي لکه چي ووايي: (الکرم للعرب) ﴿ إِيَّاكَ نَعۡبُدُ وَإِيَّاكَ نَسۡتَعِينُ ﴾ پدې جمله کی له غیبت څخه خطاب ته التفات دی که په اصلي ډول راغلي واي نو به (ایاه نستعین) وای همدارنګه د مفعول ړومبي والي د قصر افاده کوې چي معنی یې راځي له تا پرته د بل چا عبادت نه کوو لکه پدې قول د الله تعالی کي ﴿ وَإِيَّٰيَ فَٱرۡهَبُونِ ﴾ [البقرة: ٤٠] په بحر محیط کی وایي چي پدې سورت کی د فصاحت او بلاغت ډیري بیلګي شته لکه:

- حسن افتتاح او د مطلع براعت.
- په ثنا کی مبالغه کوم چي الف ولام استغراقي یې افاده کوي.
- د خطاب رنګین والي ځکه صیغه د خبر او معنایي امر ده چي (قولوا الحمد لله).
- اختصاص پدې قول کی چي (لله).
- حذف لکه حذف د صراط له دې قول د الله ﷻ څخه ﴿ غَيۡرِ ٱلۡمَغۡضُوبِ عَلَيۡهِمۡ وَلَا ٱلضَّآلِّينَ ﴾ تقدیر یې داسي دی (غَیرِ صِرَاطَ المَغضُوبِ عَلَیهِمْ وَغَیرِ صِرَاطَ الضَّالِّین).

- تقديم او تاخير د ﴿ إِيَّاكَ نَعْبُدُ ﴾ په کلمه کي.
- له ابهام څخه وروسته تصريح چې پدې آيت کی راځي ﴿ ٱلصِّرَٰطَ ٱلْمُسْتَقِيمَ ﴾ بيا يې تفسير وفرمايه:

﴿ صِرَٰطَ ٱلَّذِينَ أَنْعَمْتَ عَلَيْهِمْ ﴾.

- التفات پدې کلمه کې چې ﴿ إِيَّاكَ نَعْبُدُ وَإِيَّاكَ نَسْتَعِينُ ﴾
- طلب دشي چې مراد ورڅخه دوام او استمرار وي لکه ﴿ ٱهْدِنَا ٱلصِّرَٰطَ ٱلْمُسْتَقِيمَ ﴾ چې معنا يې ده يعني موږ ورباندی ثابت قدم ولرې.
- متوازي سجع لکه په ﴿ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ ، ٱلصِّرَٰطَ ٱلْمُسْتَقِيمَ ﴾ او ﴿ نَسْتَعِينُ ، ٱلضَّآلِّينَ ﴾ کي.

ګټې او فائدې:

لومړۍ فائده: فرق د(الله) او (اله) ترمنځ چې لومړی دالله ﷻ دمقدس ذات اسم علم او معنايي ده معبود برحق او ددوهم معنا مطلقا معبود دی هغه که برحق وی او که ناحق ځکه یې نو په الله ﷻ او بل چا هم اطلاق کيدلای شي.

دوهمه فائده: د﴿ إِيَّاكَ نَعْبُدُ وَإِيَّاكَ نَسْتَعِينُ ﴾ په کلمه کی دجمعي صيغې استعمال شوې او داسې نه دی ویل شوی چې (اياک اعبد و اياک استعين) دا دبنده پر قصور او کوتاهي اعتراف ښيې چې څرنګه په يوازې توګه دملک الملوک په دربار کی درېږي چې د اله داسې حقير اوذليل بنده سره نه ښايي چې يوازې يې مناجات ته ودرېږي بلکه زه له نورو موحدينو مؤمنينو سره يو ځای ستا مناجات کوم او ددوی په ډله کی زما دعا هم ومنه ، موږ ټول ستا عبادت کوو او له تا څخه مرسته غواړو.

دريمه فائده: دنعمت نسبت الله ﷻ ته کوم چې پدې کلمه کی راځي ﴿ أَنْعَمْتَ عَلَيْهِمْ ﴾ خو غضب او اضلال يې هغه ته منسوب نه کړل چې ويلی يې وايي (غضبت عليهم) او (اضللتهم) ځکه دا بندګانو ته تعليم او ښوونه ده چې له الله ﷻ سره ادب غوره کړی دشر نسبت داب له مخې الله ﷻ ته نه کيږی که څه هم په تقدير کی دهغه له لوری څخه وی (الخير کله بيديک والشر لاينسب اليک) (۱)

پايله: دهغو قدسي او سپيڅليو اسرارو په هکله کوم چې په فاتحة الکتاب کی شته داسلام شهيد شيخ حسن البناء پخپله ارزښتناکه رساله کی چې (مقدمة في التفسير) نومېږی داسې ليکلی دی:

بيشکه څوک چې دفاتحې شريفې په معنا ګانو کی تدبر او سوچ کوي نو به پکې خورا ښکلی معناګانې او عجيبه لوړ تناسب ووينی چې زړه به يې روښانه او عقل به يې ځان ته راکاږي ، ځکه چې هغه به لومړی دلوی خدای ﷻ په نامه دتبرک لپاره پيل کوی هغه الله ﷻ چې په شامل رحمت باندی موصوف دی او درحمت اثار يې په هر شي کی نوي نوي هميشه څرګنديږی کله چې يې دغه معنا په زړه کې ځای ونيسي نو بيا دهمدې رحيم او

---

(۱) البحر المحيط ۳۷/۱.

رحمٰن پروردګار په حمد او ثنا یا دونه کوی چې دهغه دنعمتونو احسانات او دهغه ښکاره فضائل دټول عالم په روزنه او پالنه کی څرګند دی بیا به خپل بصیرت پدغه بې ګودره محیط کی وځغلوي او ورياد به شي چې دغه ډیر نعمتونه او پریمانه روزنه او پالنه نه دامیدونو اوهیلو په بدل کی ده او نه هم دویري زیږنده بلکه یوازي دفضل او احسان له کبله ده نو ددوهم ځل لپاره به یې ژبه په(الرحمن الرحیم) وګرزي او ددې ستر معبود له کمال سره داشته چې رحمن صفت یې له عدل سره یو ځای شی او له فضل نه وروسته حساب کتاب هم ور په یاد شي چې دا ستر واکمن سره له بشپړ او تل ترتله رحمته بیا له بندګانو سره دجزا په ورځ حساب هم کوی ﴿ يَوۡمَ لَا تَمۡلِكُ نَفۡسٞ لِّنَفۡسٖ شَيۡـٔٗاۖ وَٱلۡأَمۡرُ يَوۡمَئِذٖ لِّلَّهِ ﴾ [الانفطار: ۱۹] نو د الله ﷻ روزنه او پالنه دهغه درحمت دامید او له حساب او عدالت څخه په ویری باندی ولاړه ده ﴿ مَٰلِكِ يَوۡمِ ٱلدِّينِ ﴾ هغه چې دجزا دروځي خاوند دی او چې داسي ده نو بنده مکلف دی چې دخلاصون وسائل او دخیر لاره ولټوي هغه پدې هکله تر ټولو زیات هغه چاته اړدی چې سمي لاری ته یې لار ښوونه وکړی او ددې لپاره تر خپل خالق او پیدا کونکی ذات بل څوک بهتر نشته نو هغه ته دي پناه وروړي او ورباندی باور دی وکړی داسي دی ووایي ﴿ إِيَّاكَ نَعۡبُدُ وَإِيَّاكَ نَسۡتَعِينُ ﴾ او دهغه له فضله دی دسمي لاری دهدایت غوښتنه وکړی هغه سمه لار چې دهغو کسانو ده چې الله ﷻ ورباندی نعمت کړی چې حق او دحق پلویان یې وپیژندلی نه لاره دهغو کسانو چې الله ﷻ غضب ورباندی کړی او څه چې یې ورکړی بیرته یې ځنې اخیستی او له لاری مینډلو وروسته یې بیا لاره ورکه کړې ده ، هغه لالهاند ګمرهان چې دحق لاره یې پرېیښي وی او یا خو غواړي چې حق ته ورسیږي خو توفیق یې نه مومي .(آمین) هغه کلمه چې دجمال او حسن نهایته ښکلي مقطع ده او له فاتحة الکتاب او دعا څخه پرته به بل کوم شي وی چې له دغي مقطع سره ښایي ؟ ایا تر دې ښه باریک مناسبت او تر دې مرغلین او ټینګ تړون چې ددې مبارک سورت په آیتونو کی یې لولی بل چیرته مولیدلی ؟ کله چې ددې ښکلي سمسور بڼ نندراه کوی هغه قدسي حدیث په یاد کي لره ! کوم چې رسول الله ﷺ فرمایي : (قسمت الصلاة بيني وبين عبدي نصفين ولعبدي ما سأل) لمونځ مي دځان او بنده تر منځ په دووبرخو ویشلی او بنده لره هغه څه ورکوم چې غواړي یې دحدیث ترپایه.. تل ترتله دغه تدبیر او انعام غنیمت وګڼه او زیار وباسه چې په لمانځه او له لمانځه دباندی یې په آرامه او کراره له عجز او نیاز سره جوخت ولولې په هر آیت باندی دریږه ! آیتونو ته دتجوید او ښکلي آواز حق ورکوه تکلف او تطریب مه کوه له معنا ګانو څخه په یوازي الفاظو مه مشغولیږه ځکه داتدبر بیا له پوهیدلو سره مرسته کوي ، داوښکو چینې رابهوې او زړه ته تر هغه تلاوت چې په تدبر او خشوع وی زیات ګټور بل شی نشته .(۱)

دفاتحة الکتاب تفسیر بشپړ شو.

***

(۱) مقدمة في التفسير ص ۵۹

دبقرې سورت په اتفاق سره مدني او له لومړنیو نازل شوو سورتونو څخه دی دوه سوه اوه اتیا آیتونه لري.

دسورت په وړاندي:

دالبقرة سورت په مطلق ډول دقرآن کریم له اوږدو سورتونو څخه دی ،او څرنګه چې په مدینه منوره کی نازل شوی نو لکه نور مدني سورتونه تشریعي قوانین او هغه څه چې مسلمانان ورته په ټولنیز ژوند انه کی اړدی څېړي دغه سورت په ډیرو تشریعي احکامو لکه ،عقائد ، عبادات ، معاملات ، اخلاق دنکاح ،طلاق او عدت په چارو مشتمل دی.

*په لمړي پیل کي دمؤمنانو کافرانو او منافقینو صفات یا دوي چې دایمان کفر او نفاق حقیقت څرګند کړي تر څو دنیکمرغه اوبدمرغه خلکو پرتله وشی بیا دبشریت دلمړی پیدا ېښت خبره چې آدم علیه السلام اودهغه هیښوونکی عجیبه پیښې دي را اخلی کوم چې دالله تعالی لخوا په هغه عزت او تکریم دلالت کوی چې بشرته یې ورکړي دي

* بیا داهل کتابو اوپه ځانګړی توګه یهودو چې دمسلمانانو سره په مدینه منوره کی نږدی او سیدل حال بیانوی اومسلمانان دهغوی په دوکو او چلونو خبروی دهغوی غدر اوخیانت په ګوته کوی اودوعدو اوژمنو ماتول یې ښیي اونور ډیرهغه تورونه چې دغه مفسدین ورباندی تورن دی راسپړی چې ددوی سترخطرونه اوضررونه څرګند شی اوتر یوه دریمه زیات دسورت آیتونه ددوی په شان کی دی چې له دې آیت څخه پیلیږي ﴿ يَٰبَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ ٱذۡكُرُواْ نِعۡمَتِيَ ٱلَّتِيٓ أَنۡعَمۡتُ عَلَيۡكُمۡ وَأَوۡفُواْ بِعَهۡدِيٓ أُوفِ بِعَهۡدِكُمۡ وَإِيَّٰيَ فَٱرۡهَبُونِ ﴾ بیا تر دې آیت شریفه پوري ﴿ وَإِذِ ٱبۡتَلَىٰٓ إِبۡرَٰهِـۧمَ رَبُّهُۥ بِكَلِمَٰتٖ فَأَتَمَّهُنَّۖ ﴾ [البقرة: ۴۰- ۱۲۴].

* په نورسورت کی دشرعی حکمونو بیان دی ځکه داسلامي دولت دلومړي ځل لپاره بنسټ اېښودشوی وو اوترهرڅه یوالهی منهج اوآسمانی تشریع ته اړوو هغه چې دوی یې په رڼاکی خپل ژوند دعباداتو اومعاملاتو په برخه کی په مخ بوزی نو دا لامل دي چې نورټول سورت تشریعی لوری ته ځانګړی شوی اوپه لنډه توګه لکه دروژی تفصیلی حکمونه ،دحج اوعمری احکام ،د فی سبیل الله جهاد احکام ،دکورنۍ په هکله اوهغه چې دنکاح ، طلاق ،رضاع ،عدت .دمشرکو ښځو حرمت اودحیض په حالت کی له ښځو څخه ګوښه توب اوداسي نورچې په کورنۍ پوری اړوند مسائل دی را اخلي ځکه کورنۍ دستري ټولني لومړنۍ زړي دی.

* بیا دسود اوربا دجرم اوجنایت خبره را اوچتوي هغه چې دټولني بنسټ ورانوي اودملاتیربې ماتوي نو ځکه دسود خوړونکو سره دالله تعالی او دهغه داستازي له خوا دجنګ اعلان په ډاګه کوي چې ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَذَرُواْ مَا بَقِيَ مِنَ ٱلرِّبَوٰٓاْ إِن كُنتُم مُّؤۡمِنِينَ (۲۷۸) فَإِن لَّمۡ تَفۡعَلُواْ فَأۡذَنُواْ بِحَرۡبٖ مِّنَ ٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦۖ وَإِن تُبۡتُمۡ فَلَكُمۡ رُءُوسُ أَمۡوَٰلِكُمۡ لَا تَظۡلِمُونَ وَلَا تُظۡلَمُونَ (۲۷۹) ﴾ [البقرة : ۲۷۸- ۲۷۹]

* دسود اوربا له آیتونو وروسته دهغی هیبت لرونکی ورځی څخه دویری آیت راوړی چې هلته انسان ته دخپل عمل جزا ورکول کیږي که ښه عمل یې وو نو د خیر جزا به وویني او که شرو و نو شر به یې په برخه شي ﴿ وَٱتَّقُواْ يَوۡمٗا تُرۡجَعُونَ فِيهِ إِلَى ٱللَّهِۖ ثُمَّ تُوَفَّىٰ كُلُّ نَفۡسٖ مَّا كَسَبَتۡ وَهُمۡ لَا يُظۡلَمُونَ (۲۸۱) ﴾ [البقرة: ۲۸۱] او دا ترټولو

وروستی آیت دئ چې نازل شوی دی د دې آیت له نزول سره سمدستي آسماني وحی له مځکی څخه قطع او نازولی استازی ﷺ وروسته له دی چې رسالت یې بشپړ او امانت ورساوو دخپل رب جوار ته ولیږدیدو.

* په پای کی سورت مسلمانان د توبې لوری ته رابولی او دا چې الله ﷻ ته عجز او زاری وکړی ترڅو له توانه زیات څه ور باندی بار نه کړی په کفارو باندی نصرت او بری ورکړی او دعا وربښیې چې دداړینو نیکمرغی پکښی نغښتی ده فرمایی: ﴿رَبَّنَا وَلَا تُحَمِّلْنَا مَا لَا طَاقَةَ لَنَا بِهِۦ ۖ وَٱعْفُ عَنَّا وَٱغْفِرْ لَنَا وَٱرْحَمْنَآ ۚ أَنتَ مَوْلَىٰنَا فَٱنصُرْنَا عَلَى ٱلْقَوْمِ ٱلْكَـٰفِرِينَ ﴿٢٨٦﴾﴾ [البقرة: ٢٨٦] او دارنګه دمومنانو په صفتونو پیل او په دعایی پای ته رسیږی چې د پیل او پای ښه پېیلتوب او جوړښت یې څرګند دی.

تسمیه یا نومول:

دغه سورت ته ځکه دبقرې سورت وایی چې دهغه حیرانونکی معجزی تلین بیاراژوندی کړی کومه چې دحضرت موسی علیه السلام په وخت کی څرګنده شوی وه هلته چې له بنی اسرائیلو څخه یو څوک چاوژلی وو خو قاتل یې معلوم نه وو اودوی حضرت موسی علیه السلام ته مراجعه وکړه چې هغه یې قاتل ورو ښیی. بیا الله ﷻ حضرت موسی علیه السلام ته وحی راواستوله چې دوی ته ووائی غوا حلاله کړی او په یوه ټوټه یې مړی ووهی، نو د الله ﷻ په اذن به مړي ژوندی او خپل قاتل به دروښیي او دا به د الله ﷻ په قدرت چې څرنګه مړی ژوندی کوی څرګنده دلیل وی او کیسه به انشاء الله پخپل ځای کښی په تفصیلی توګه راشی.

دسورت بهتري:

رسول الله ﷺ دنوموړی سورت په هکله فرمایی (لاتجعلوا بیوتکم مقابر، انّ الشیطان ینفرمن البیت الذی تقرأ فیه سورة البقرة) [اخرجه مسلم والترمذی]. وقال ﷺ: اقرأوا سورة البقرة فان اخذه برکة وترکها حسرة ولایستطیعها البطلة) دلومړی حدیث شریف معنی دا چې: تاسو خپل کورونه ګورونه (قبرونه) مه جوړوی بیشکه شیطان له هغه کوره چې هلته سورة البقرة لوستل کیږی تښتې او ددوهم حدیث شریف معنا دا چې سورة البقرة لولې چې لوستل یې برکت دی او پرېښودل یې حسرت او افسوس دی کودګریی دمقابلې توان نه لری. (رواه مسلم)(۱)

لغتونه:

(لِّلْمُتَّقِينَ) دتقوی اصل له اتقا څخه دی چې ځان ژغورلو ته وایي، نو متقی هغه چاته وایی چه خپل ځان له زیانمنو څیزونو ژغوری او له دی څخه هغه څوک دی چې دالله مطیع اوله عذاب څخه یې ځان ژغوری او بشپړه تقوی هغه ده چې بنده د الله ﷻ او امرپرځای او له نواهیو څخه یې ځان وژغوری (الغیب) هغه څه چې له حواسو څخه پټ ورته غیب ویل کیږی لکه دوزخ او جنت یا قیامت او محشر راغب وایی چې غیب هغه شی ته وایی چې په حواسو کی نه راځی (۱). (المفلحون) فلاح بریالیتوب او کامیابی ته ویل کیږی ابوعبیده وایی هرچاته چې یو څه خیرورسیږی هغه مفلح دی بیضاوی وایی مفلح هغه څوک دی چې په خپل مطلب کی بریمند شی اولکه چې دبریالیتوب لاری ورته پرانستی شوی وی او فلح اصل په لغت کی څیرلو او غوڅولو ته وایی ځکه عرب وایی چې

(۱) الکشاف ۲۷۰

(ان الحديد بالحديد يفلح) بيشکه اوسپنه اوسپنه غوڅوی. اوداسبب دی چې بزګرته هم فلاح وايي ځکه هغه په قلبه مځکه څيري. (کفروا) کفرپه لغت کې دنعمت پټولو ته وايي کافرته ځکه کافروايي چې دنعمت منکراوهغه پټوی ځکه نوشپې اودهقان ته کافرویل کیږي الله ﷻ فرمايي (أعجب الکفار نباته) [الحديد:۲۰] يعنی دهقانان اوبزګران اوشپې ته ځکه وايي چې هغه په خپله تياره کې هرڅه پټوی اونغاړي. (انذرتهم) انذاردخطر اخبارته وايي که خطر پکې نه وی هغه ته اعلام يااعلان وايي(ختم) مهرلګولوته وايي ترڅونورڅه پکې ورګدنشی اوله دی څخه د مکتوب مهرهم دی. (غشاوة) پردی ته وايي لکه چې يوڅاته ويل کيږي (غشيه)کله چې يې پټ کړی ځکه دقيامت ورځی ته هم غشية وايي چې خلک پخپلو سختيو کې پټوی اورانغاړي.

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

﴿ الٓمٓ ۝١ ذَٰلِكَ ٱلْكِتَٰبُ لَا رَيْبَ فِيهِ هُدًى لِّلْمُتَّقِينَ ۝٢ ٱلَّذِينَ يُؤْمِنُونَ بِٱلْغَيْبِ وَيُقِيمُونَ ٱلصَّلَوٰةَ وَمِمَّا رَزَقْنَٰهُمْ يُنفِقُونَ ۝٣ وَٱلَّذِينَ يُؤْمِنُونَ بِمَآ أُنزِلَ إِلَيْكَ وَمَآ أُنزِلَ مِن قَبْلِكَ وَبِٱلْءَاخِرَةِ هُمْ يُوقِنُونَ ۝٤ أُوْلَٰٓئِكَ عَلَىٰ هُدًى مِّن رَّبِّهِمْ ۖ وَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلْمُفْلِحُونَ ۝٥ ﴾

تفسير:

دامبارک سورت دمتقينوپه صفتونوپيل شوی اوپه سرکی يې ﴿ الٓمٓ ﴾ مقطعات توري راغلي چې دمنکرينوغوږونوته دلمري ځل لپاره داسي ناڅرګند لفظونه وليږي چې هغه دوی کله هم په خپله مخاطبه کي اوريدلي نه وي نوبه هغوی متوجه شي ترڅودغه آيات بينات واوری اوپدی تورو اوپه امثالوکی يې دا تنبيه هم شته چې دغه قرآن داعجازخاونددی دی ځکه کټ مټ له هغوتوروجوړدی کوم چې دوی يې پخپلوخبرواتروکی استعمالوی نوچې دوی بيا داسي آيتونه نشی جوړولای دااستردليل دی چې قرآن معجز کتاب دی. علامه ابن کثير رحمه الله وايي دغه حروف ځکه دسورتونوپه پيل کې ذکرشوی چې دقرآن کريم اعجاز څرګندکړی اودا وښيي چې خلک ددوی په مثل اوشان لوستلواوجوړولو کی عاجز دی له دی سره سره چې قرآنکريم هم له دغوتوروڅخه مرکب دی کوم چې دوی هم وربانديی تکلم اوخبری کوی اودادیوی ډلی محققينواوڅيړونکو رايه هم ده زمخشری په خپل کشاف نومی تفسير کی دغه خبره تائيداوکلک ملاتړيی کړی دی اوامام ابن تيميه هم دالوری کړی اوزياتوی چې په هرسورت کی چې دامقطعات توری يی په پيل کی راغلی اورموربه په کښنی دقرآن کريم دبرياوو يادونه شوی وی اوداعجاز اوعظمت بيان به يی راغلی وی لکه ﴿ الٓمٓ ۝١ ذَٰلِكَ ٱلْكِتَٰبُ ﴾ ﴿ الٓمٓصٓ ۝١ كِتَٰبٌ أُنزِلَ إِلَيْكَ ﴾ [الأعراف: ۱ - ۲] ﴿ الٓمٓ ۝١ تِلْكَ ءَايَٰتُ ٱلْكِتَٰبِ ٱلْحَكِيمِ ۝٢ ﴾ [لقمان: ۱ - ۲] ﴿ حمٓ ۝١ وَٱلْكِتَٰبِ ٱلْمُبِينِ ۝٢ ﴾ [الدخان: ۱ - ۲] اونورآيتونه چې دقرآنکريم په اعجازدلالت کوی بيا الله تعالی فرمايي ﴿ ذَٰلِكَ ٱلْكِتَٰبُ لَا رَيْبَ فِيهِ ﴾ داکتاب نشته هيڅ شک په ده کی ؛ يعنی اي محمد ﷺ داقرآن چې په تا نازل شوی دی داسي کتاب دی چې بل کتاب ورسره مثل اوسيال نشی کيدای پدی کی هيڅ شک نشته چې دپاک الله ﷻ له لوری نازل شوی دی خوچې څوک سوچ اوفکروکړی اوياغوږ ورته ونيسی ﴿ هُدًى لِّلْمُتَّقِينَ ﴾ (لاربښوونکی دی متقينومومنانو ته) هغوی چې دلوی الله دغضب له ويری دهغه اوامرپرځای کوی اوله نواهيوڅخه يی ځانونه

ژغوری او دهغه له عذاب څخه ځان په طاعاتو او عباداتو ساتی ابن عباس ﷺ وایی متقین هغه څوک دی چې له شرک څخه یې ځان ژغورلی او دالله طاعت او عبادت کوی حسن بصری رحمه الله وایی متقین هغه دی چې ځانونه یې له محرماتو ژغورلی او هغه دالله فرض یې اداکړی وی وروسته الله ﷻ ددی متقیانو صفتونه داسي بیان کړل:

﴿ ٱلَّذِينَ يُؤْمِنُونَ بِٱلْغَيْبِ ﴾ (هغوی چې په پټو څیزونو ایمان لری) یعنی دهغه څه باورکوی چې له دوی څخه پټ او په حواسو یې نشی محسوسولای لکه حشر، جنت، دوزخ، پل صراط، حساب او نور هغه چې په قرآن کریم کی راغلی او یارسول الله ﷺ خبر راکړی دی ﴿ وَيُقِيمُونَ ٱلصَّلَوٰةَ ﴾ (او قائموی دوی لمونځ) یعنی داچې له ټولو شروطو او ارکانو سره یې په اکمله وجه له خشوع او ادابو او ټولو حقوقو سره سم اداکوی ابن عباس ﷺ وایی دلمانځه داقامت معنی داچې رکوع، سجده، تلاوت او خشوع یې په بشپړه توګه وی(١) ﴿ وَمِمَّا رَزَقْنَٰهُمْ يُنفِقُونَ ﴾ (او ځینی له هغو شیانو چې موږ دوی ته ورکړی دالله درضا لپاره یې لګوی) یعنی څه له هغو مالونو څخه دنیکی او احسان په لاروچاروکی صرفوی او آیت شریف عام دی زکات، صدقی او ټولو نفقاتو ته شامل دی دا ابن جریر غوره ده او له ابن عباس ﷺ څخه روایت کاوو شی چې دلته مراد دزکات مالونه دی ابن کثیر وایی: ډیرځله الله ﷻ دلمانځه او دمالونو دانفاق یوځای یادونه کوی ځکه لمونځ دالله تعالی حق دی او په توحید، تمجید او دالله په ثناء مشتمل دی او انفاق بیادبنده حق دی ځکه دالله له مخلوق سره احسان کول انفاق ګڼل کیږی نو ټول واجب نفقات او فرضی زکات په آیت شریف کی داخل دی ﴿ وَٱلَّذِينَ يُؤْمِنُونَ بِمَآ أُنزِلَ إِلَيْكَ ﴾ (او هغه کسان چې ایمان لری دوی په هغه کتاب چې نازل کړې شوی دی تاته) یعنی باورلری په ټول هغه څه چې تادالله له لوری راوړی دی (وَمَآ أُنزِلَ مِن قَبْلِكَ) او په هغو کتابونو چې نازل شوی دی له مخه دتا) یعنی په هغوچې ستاله مخه رسولانو دالله له لوری راوړی دوی دالله په کتابونو او پیغمبرانو کی توپیرنه کوی ﴿ وَبِٱلْءَاخِرَةِ هُمْ يُوقِنُونَ ﴾ (او په آخرت دوی یقین کوی) یعنی دوی ټینګه عقیده او باورلری چې قیامت راتلونکی دی او په دی هیڅ شک او شبه نه وینی او داچې راپورته کیدل حساب او جنت، دوزخ، میزان او جزاحق ده آخرت ته ځکه آخرت وایي چې له دنیا وروسته راتلونکی دی ﴿ أُو۟لَٰٓئِكَ عَلَىٰ هُدًى مِّن رَّبِّهِمْ ﴾ (دغه ستایل شوی کسان دی په هدایت-له جانبه- درب خپل) یعنی دغه په سترو صفتونو موصوف خلک دالله له لوری په نور، روښنائی او هدایت کی دی ﴿ وَأُو۟لَٰٓئِكَ هُمُ ٱلْمُفْلِحُونَ ﴾ او دغه ستایل شوي کسان هم دوی په مراد رسیدلي دي

بلاغت:

پدی آیتونو کی چې دبلاغت کومی ښکلاوی شته په لاندی ډول یې لنډیز لیکو:

عقلی مجاز (هُدًى لِّلْمُتَّقِينَ) چې دهدایت نسبت یې قرآن ته وکړاو دغه ته اسناد دسبب وایی ځکه هدایت کونکی خو په حقیقت کي الله ﷻ دی.

(١) دا تفسیر مو له طبری. ابن کثیر او جلالین څخه را اخیستی دی.

نژدی خیزته په لیری کلمه اشاره کول لکه (ذَٰلِكَ ٱلۡكِتَٰبُ) چې دادقرآنکریم دشان لوړوالی ته اشاره اودکمال دمرتبې لیری والی ښیې نودمرتبې لیری والی دحسی لیری والی په ځای کی راوړل شو.

داشارت تکرارلکه (أُوْلَٰٓئِكَ عَلَىٰ هُدٗى مِّن رَّبِّهِمۡۖ) (وَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡمُفۡلِحُونَ) چې دمتقینو دشان په هکله زیات عنایت (پیرزوینه) ده اوچې د(هم)په ضمیریې ذکر کړی دحصرافاده وشوه لکه چې ویلی دی (هم المُفلِحُون لاغیرهم) یعنی یوازی دوی په مرادرسیدلی دی نه بل څوک.

۱ - دکافرانوله ایمان څخه ناهیلی چې کله فرمایی (سَوَآءٌ عَلَيۡهِمۡ ءَأَنذَرۡتَهُمۡ أَمۡ لَمۡ تُنذِرۡهُمۡ لَا يُؤۡمِنُونَ) پدی جمله کی وارله مخه ددوی دسخت کفر تنبیه یاده شوه چې هغوی په طغیان کی ډوب اودایمان لپاره استعداد نلری نوددوی له ایمان راوړلو څخه لاس پریمنځی.

۲ - تصریحي باریکه لطیفه استعاره لکه (خَتَمَ ٱللَّهُ عَلَىٰ قُلُوبِهِمۡ) څکه ددوی هغه زړونه چې حق نه منی اوسترګی غوږونه چې نه حق وینی اونه یی اوری له هغه لوښی سره تشبیه کړل چې برغولی(سرپوښ) وربا ندی اینبی اوټول منافذ یی سخت بندوی چې هیڅ روغونکی شی وردننه کیدلای نشی اودهغه لپاره یی دختم اوپردی کلمی راوړی چې دی ته تصریحي استعاره ویلای شو.(۱)

الله تعالی فرمایي:

﴿إِنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ سَوَآءٌ عَلَيۡهِمۡ ءَأَنذَرۡتَهُمۡ أَمۡ لَمۡ تُنذِرۡهُمۡ لَا يُؤۡمِنُونَ ۝٦ خَتَمَ ٱللَّهُ عَلَىٰ قُلُوبِهِمۡ وَعَلَىٰ سَمۡعِهِمۡۖ وَعَلَىٰٓ أَبۡصَٰرِهِمۡ غِشَٰوَةٞۖ وَلَهُمۡ عَذَابٌ عَظِيمٞ﴾ .

له مخکنیو آیتونو سره مناسبت اوتړاو:

کله چې الله تبارک وتعالی په تیروآیتونو کی دمؤمنانو صفات یادکړل وروسته یی دکافرانو صفات راوړل چې ددواړوتولګیو ترمنځ څرګند توپیر روښانه کړی اوداد قرآن کریم اسلوب دی چې دابرارواوفجارو یادونه یوپه بل پسي کوی ترڅو نیکمرغه اوبدمرغه کسان سره بیل کړی (وبضدها تتبين الاشياء) څکه شیان یودبل په ضد پیژندل کیږی.

تفسیر:

﴿إِنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ﴾ بیشکه هغه کسان چې کافران شوی دی په آیتونو دالله ؛ اودمحمد ﷺ رسالت نه منی ﴿سَوَآءٌ عَلَيۡهِمۡ﴾ برابردی په دوی ﴿ءَأَنذَرۡتَهُمۡ أَمۡ لَمۡ تُنذِرۡهُمۡ﴾ ویرول ستادوی لره اونه ویرول ستادوی

۱- تلخیص البیان للشریف الرضي ۳/۱ ، ۲- البحر المحیط لابي حیان ۵۷/۱.

لره ﴿ لَا يُؤْمِنُونَ ﴾ (دوی ایمان نه راوړی) په هغه څه چې په تا نازل شوی ته د دوی د ایمان راوړلو هیله مه لره او مه د دوی په کفر خواشیني او خفګان کوه ١ پدې کې د رسول الله ﷺ دادینه ده څکه چې قوم یې هغه په پیغمبری نه منل بیا الله ﷻ د دوی د ایمان نه راوړلو علت او سبب داسې بیانوی ﴿ خَتَمَ ٱللَّهُ عَلَىٰ قُلُوبِهِمْ ﴾ (مهرلګولی الله ﷻ په زړونو د دوی) یعنی د دوی په زړونو هسی مهرلګول شوی دی چې هغه ته د ایمان نور او څلا نه ورننوزی هلته د ایمان د ورتلو لاره نشته. مفسرینو لیکلی دی ختم مهر او پټولو ته وایی او زړونه چې کله ګناهونه پری زیات شی د بصیرت خلیدل یې ورک شی نو ایمان نه ورننوځی او همدا راز له هغو څخه د کفر د وتلو سوری هم نه وی لکه چې بل ځای الله تعالی فرمایي: ﴿ بَلْ طَبَعَ ٱللَّهُ عَلَيْهَا بِكُفْرِهِمْ فَلَا يُؤْمِنُونَ إِلَّا قَلِيلًا ﴾ [النساء: ١٥٥] (١) ﴿ وَعَلَىٰ سَمْعِهِمْ ۖ وَعَلَىٰ أَبْصَٰرِهِمْ غِشَٰوَةٌ ۖ وَلَهُمْ عَذَابٌ عَظِيمٌ ﴾ (او په غوږونو د دوی او سترګو د دوی پرده ده) چې نه حق اوری او نه یې وینی او نه وربان‌دی پوهیږی څکه غوږ او سترګی یې داسې دی لکه چې درنې پردې وربانډی غوړیدلی وی نو که حق وینی هم خو نه یې منی، اوری یې خو په غوږ کی یې نه نیسی ابو حیان وایی الله تعالی د دوی زړونه له دی کبله چې حق نه مني او غوږونه یې چې د نجات د بلونکی (داعی) غږ نه اوری او سترګی یې چې د هدایت رڼایی پکی نه رغړی له یو داسې لوښي سره تشبیه کړی چې سرېی بند وی او ټول منافذ او سوری یې تړلی وی داسې پرده وربانډی تاوشوی وی چې هیڅ روغونکی څیزنه ورپریږدی او داله دی سره سره چې روغ رمټ دی خود خیرله منلو لیدلو او اوریدلو څخه ممنوع کړل شوی دی او پدې کی استعاره ده ﴿ وَلَهُمْ عَذَابٌ عَظِيمٌ ﴾ (او د دوی لره عذاب دی ډیرلوی) یعنې دوی لره په آخرت کی سخت عذاب دی چې پریکړون نه لری او دا د هغه جرم په سبب کوم چې دوی کافران وو او د الله ﷻ آیتونه یې منل

الله تعالی فرمايي:

﴿ وَمِنَ ٱلنَّاسِ مَن يَقُولُ ءَامَنَّا بِٱللَّهِ وَبِٱلْيَوْمِ ٱلْءَاخِرِ وَمَا هُم بِمُؤْمِنِينَ ﴿٨﴾ يُخَٰدِعُونَ ٱللَّهَ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَمَا يَخْدَعُونَ إِلَّآ
أَنفُسَهُمْ وَمَا يَشْعُرُونَ ﴿٩﴾ فِى قُلُوبِهِم مَّرَضٌ فَزَادَهُمُ ٱللَّهُ مَرَضًا ۖ وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌۢ بِمَا كَانُوا۟ يَكْذِبُونَ ﴿١٠﴾ وَإِذَا قِيلَ
لَهُمْ لَا تُفْسِدُوا۟ فِى ٱلْأَرْضِ قَالُوٓا۟ إِنَّمَا نَحْنُ مُصْلِحُونَ ﴿١١﴾ أَلَآ إِنَّهُمْ هُمُ ٱلْمُفْسِدُونَ وَلَٰكِن لَّا يَشْعُرُونَ ﴿١٢﴾ وَإِذَا قِيلَ
لَهُمْ ءَامِنُوا۟ كَمَآ ءَامَنَ ٱلنَّاسُ قَالُوٓا۟ أَنُؤْمِنُ كَمَآ ءَامَنَ ٱلسُّفَهَآءُ ۗ أَلَآ إِنَّهُمْ هُمُ ٱلسُّفَهَآءُ وَلَٰكِن لَّا يَعْلَمُونَ ﴿١٣﴾ وَإِذَا لَقُوا۟
ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ قَالُوٓا۟ ءَامَنَّا وَإِذَا خَلَوْا۟ إِلَىٰ شَيَٰطِينِهِمْ قَالُوٓا۟ إِنَّا مَعَكُمْ إِنَّمَا نَحْنُ مُسْتَهْزِءُونَ ﴿١٤﴾ ٱللَّهُ يَسْتَهْزِئُ بِهِمْ وَيَمُدُّهُمْ فِى
طُغْيَٰنِهِمْ يَعْمَهُونَ ﴿١٥﴾ أُو۟لَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ ٱشْتَرَوُا۟ ٱلضَّلَٰلَةَ بِٱلْهُدَىٰ فَمَا رَبِحَت تِّجَٰرَتُهُمْ وَمَا كَانُوا۟ مُهْتَدِينَ ﴿١٦﴾ مَثَلُهُمْ
كَمَثَلِ ٱلَّذِى ٱسْتَوْقَدَ نَارًا فَلَمَّآ أَضَآءَتْ مَا حَوْلَهُۥ ذَهَبَ ٱللَّهُ بِنُورِهِمْ وَتَرَكَهُمْ فِى ظُلُمَٰتٍ لَّا يُبْصِرُونَ ﴿١٧﴾ صُمٌّۢ بُكْمٌ عُمْىٌ
فَهُمْ لَا يَرْجِعُونَ ﴿١٨﴾ أَوْ كَصَيِّبٍ مِّنَ ٱلسَّمَآءِ فِيهِ ظُلُمَٰتٌ وَرَعْدٌ وَبَرْقٌ يَجْعَلُونَ أَصَٰبِعَهُمْ فِىٓ ءَاذَانِهِم مِّنَ ٱلصَّوَٰعِقِ حَذَرَ
ٱلْمَوْتِ ۚ وَٱللَّهُ مُحِيطٌۢ بِٱلْكَٰفِرِينَ ﴿١٩﴾ يَكَادُ ٱلْبَرْقُ يَخْطَفُ أَبْصَٰرَهُمْ ۖ كُلَّمَآ أَضَآءَ لَهُم مَّشَوْا۟ فِيهِ وَإِذَآ أَظْلَمَ عَلَيْهِمْ قَامُوا۟ ۚ وَلَوْ
شَآءَ ٱللَّهُ لَذَهَبَ بِسَمْعِهِمْ وَأَبْصَٰرِهِمْ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ عَلَىٰ كُلِّ شَىْءٍ قَدِيرٌ ﴿٢٠﴾ ﴾

مناسبت اوتړاو:

الله تعالی دسورت په لمړی پیل کی دمومنانوصفات یادکړی وروسته یې دکافرانود صفتونوذکرکړی او داهم دمنافقینو صفات دی چې دادریم تولگی دی هغوی چې ایمان ځرگندوی اوکفرپټوی اوددوی یادونه یې په دیرلسوآیتونوکی اوږده کړه ترڅوددوی لوی خطراوسترضررمسلمانانوته وربه گوته کړی اوبیایی دوه مثالونه دزیات ځرگندولو لپاره راوړل چې دوی څرنگه دگمراهي اونفاق په توروتیاروکی راگیراوڅرنگه به دهلاک اوتباهی کندی ته لویږی؟[1]

لغتونه:

(یخادعون) (ټگی کوی) خداع مکراودوکی ته وایې اودهغه څه ځرگندولوته چې په باطن کی بل څه وی خداع وایی اصل یې پټول دی لکه چې دهر اوزمانی ته خادع ویل کیږی ځکه هغه هم غوائل(فتنی اومحنتونه)پټ ساتی اومخدع ته ځکه مخدع وایی چې دکورخاوندان هغه پټ ساتی(مرض) ناروغی چې دروغتیا ضددی کله حسی وی لکه دبدن ناروغی اوکله هم معنوی وی لکه نفاق یاکینه اوریا ابن فارس وایی مرض هرهغه څه ته وایی چې انسان دروغتیاله سرحده ناروغی ته پوری باسی هغه که ناجوړی وی یانفاق یاهم په کارکښی تقصیر او کوتاهی(تفسدوا)له استقامت څخه عدول ته فساد وایی اودصلاح ضد گڼل کیږی(السفهاء) دسفیه جمع اوجاهل ته وایی هغه دکمزوری رایی څښتن دي چې گټه اوتاوان لږ پیژنی سفه په اصل کی سپکتیاته وایی اودسفیه عقل سپک وی دلغت علماء وایی چې (سفه)سپکوالی اودرایی کمزوری ته وایی چې دعقل نقصان ورسره وی اوددی په مقابل کی حلم دی(٢)(طغیانهم) په هرڅه کی له حدڅخه تجاوزته طغیان وایی لکه (طغی الماء)کی چې معنی یې ده اوبه پورته شوی لوړی شوی اوله حدڅخه یې تجاوز وکړ اود(طاغیة)معنی ده سرغړونکی ، عنید (یعمهون) عمه حیرانتیاته وایی فخررازی رحمه‌الله وایی : عمه لکه عمی داسي ده خوعمی درائی اوسترگودواړولپاره اوعمه یوازی درائی په هکله ویل کیږی اومعنی یې تردد اوحیرانتیاده چې نه پوهیږی کوم پلوته مخ کړی (اشتروا) په حقیقت کی شراء بدلولوته وایی اوپه پیسوباندی دمطلوب څیز رانیولوته هم ویل کیږی عرب هغه چاته چې یوڅیزپه بل بدلوی وایی(اشتراه). (صم)داصم جمع اوکاڼه ته وایی(بکم)دأبکم جمع اوگونگی ته وایی چې خبری نشی کولای (عمی)داعمی جمع هغه چې ړوند وی څه نه وینی (صیب)گڼ باران ته ویل کیږی له صوب څخه اخیستل شوی چې په شدت سره راکوزیدلو ،اوریدلوته وایی (الصواعق)دصاعقة جمع ده اوتکی ته وایی هغه سوځونکی اورچې هرڅه ته ورسیږی اوتباه یې کړی له صعق څخه اخیستل شوی چې دغږشدت ته وایی(السماء)په لغت کی له سرنه دپاسه لوړڅیزته وایی چې سیوری یې پرتاپریوزی وایي ځکه دخونی بام ته هم سماء ویل کیږی باران ته هم سماء وایی ځکه له آسمانه راتوئیږی (یخطف)خاطف په چټکتیا سره

---

(١) تفسیر کبیر امام رازي ٧١٧٢.
(٢) وگوری تهذیب اللغة ، صحاح او قاموس.

دیوشی ترلاسه کونکي ته وایی اوله دی څخه دی (الامن خطف الخطفة) اومرغانو ته چې خطاف وایی ځکه هغوی په ډیره تلواره سره درومي اوښکار کوي.

دنزول سبب:

ابن عباس ﷺ وایی دغه آیتونو داهل کتابو په منافقینو کی نازل شوی دي چې له هغوی څخه هريو (عبدالله بن ابی ابن سلول ،معتب بن قشیراوجدبن قیس وو دوی به چې کله له مسلمانانو سره یوځای شول نوایمان به یی څرګنداوو اوویل به یی مونږ پخپلو کتابونو کی دپیغمبر ﷺ نعت اوصفت لوستلی دی

تفسیر:

﴿ وَمِنَ ٱلنَّاسِ مَن يَقُولُ ءَامَنَّا بِٱللَّهِ ﴾ (اوځيني له خلکوڅخه داسي کسان دي چې وایي موږ ایمان راوړی په الله) یعنی له خلکو څخه یوه ډله داسي کسان دي چې په ژبه وایې مونږ په الله اوپه هغه آیتونو چې نازل کړی یی دی ایمان اوباورلرو ﴿ وَبِٱلْيَوْمِ ٱلْءَاخِرِ ﴾ (اودقیامت په ورځ موایمان راوړی) ﴿ وَمَا هُم بِمُؤْمِنِينَ ﴾ (حال داچه نه دی دوی مومنان) یعنی دوی په حقیقت کی مومنان نه دی ځکه دوی یوازی دغه دخولی خبری کوی اوعقیده اوګروهه نه لری قول کوی باوریی نشته ، بیضاوی وایی دغه دریمه ټولګی ده چې مذبذب بلل کیږی ځکه دوی دمسلمانانو اوکفاروترمنځ دي اوترکافرانو پلیت اوناولې دي اودالله ﷻ په نزد مبغوض دی ځکه دوی کفرپه ایمان رنګولی اوچم دوکه اوملنډی یی وهلی دی ځکه ددوی بیان ډیر اوږد شوی ددوی پلیتی اوناپوهی بیان شوي په دوی ملنډی وهلی شوی اوددوی خویونه چتی اوبی فایدی بلل شوی ګمراهی اوسرغړونه وربانذی ترل شوی اومثالونه ورته راوړل شوی دی ﴿ يُخَٰدِعُونَ ٱللَّهَ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ﴾ (تګی کوی دوی له الله سره اوله هغو کسانو سره چې ایمان یی راوړی دی) یعني دی دتګماروپه شان عمل کوي چې ایمان څرګندوي په واقعه کی په خپل کفراصراراوټینګارکوی دوی له خپلی ناپوهي داسي انګیري چې الله ﷻ په دغي تګي غولوي اودادوی لپاره ګټوره ده دوی دغه مخادعه داسي پرتله کوی لکه له بعضی مؤمنانو سره چې یی کوی هغه مؤمنان چې ددوی په واقعیت ښه نه پوهیږی خودغه منافقین پدی نه پوهیږی چې الله ﷻ دبندګانو په شان نه دی له هغه څخه هیڅ هم پټ نه دی ابن کثیروایی نفاق دخیرڅرګندولو اودشرپټولو ته وایی اودا په څوډوله دی یویی اعتقادی هغه چې خاوند یی تل ترتله په اورکی وی اوبل یی یوازی عملی اودادزښته ستروګناهونو څخه دي ځکه دمنافق قول اوعمل سر ه مخالفت لری اوپټ اوښکاره یی سره ضد اونقیض وی دمنافقینو صفات ځکه په مدنی سورتونوکی ذکرشوی چې په مکه مکرمه کی نفاق نه وو(۱) ﴿ وَمَا يَخْدَعُونَ إِلَّآ أَنفُسَهُمْ ﴾ (حال داچې نه کوی تګی دوی مګرله خپلو ځانونو سره)یعنی ددغی تګی ضرر وبال بیرته دوی ته راګرځی ﴿ وَمَا يَشْعُرُونَ ﴾ (حال داچې نلری دوی شعور)دوی ددی احساس ځکه نشی کولای چې دوی په غفلت کی غوپه اوبشپړحماقت یی په برخه دی ﴿ فِي

(۱) مختصرابن کثیر۱/۳۳.

قُلُوبِهِم مَّرَضٌ فَزَادَهُمُ ٱللَّهُ مَرَضًا ﴾ (ددوي په زړونو کی مرض (نفاق) ناروغی ده نوزیات کړ الله دوی لره مرض) یعنی ددوی په زړونو کی دشک اونفاق ناروغی ده نو الله هغه پسی ورزیاته کړه اودغه جمله دعائیه ده ابن اسلم وایی چې دغه دینی مرض دی اوجسدی نه دی ځکه دوی په اسلام کی شک لری الله ﷻ دغه شک لاورزیات کړ (۲) ﴿ وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌۢ بِمَا كَانُوا۟ يَكْذِبُونَ ﴾ (اودوی لره دی عذاب ډیردردناک په سبب دهغه چې دوی به دروغ ویل) یعنی دوی لره په دغه دروغوچې دایمان په دعوی کی به یی ویل اودالله ﷻ په آیتونو به یی ملنډی وهلی سخت دردناک عذاب دی ﴿ وَإِذَا قِيلَ لَهُمْ لَا تُفْسِدُوا۟ فِى ٱلْأَرْضِ ﴾ (اوکله چې وویل شي دوی ته فساد مه کوی په مځکه کی) یعنی کله ځیني مومنان دوی ته ووایی په مځکه کی دفسادخورولو هڅی مکوی خلک دالله ﷻ له لاری مه راګرزوی دکفرملامه تړی ابن مسعود ﷺ وایی په مځکه کی فساد کول کفرته ویل کیږی اودمعصیت اوګناه معناهم فساددی ځوک چې دالله عصیان غوره کړی نوپه مځکه کی یی فساد وکړ ﴿ قَالُوٓا۟ إِنَّمَا نَحْنُ مُصْلِحُونَ ﴾ (دوی وایی چې بیشکه مونږ یو اصلاح کوونکی) یعنی زمونږ کار خودفسادنه بلکه اصلاح ده مونږ دخلکوترمنځ صلح خپروو اوخیرغواړو مونږ ته دفسادمه وایاست بیضاوی لیکی دوی دفساد داسي تصور کاوو لکه داصلاح ځکه ددوی په زړونو کی مرض وولکه چې الله ﷻ فرمایی: ﴿ أَفَمَن زُيِّنَ لَهُۥ سُوٓءُ عَمَلِهِۦ فَرَءَاهُ حَسَنًا ﴾ [فاطر: ۸] ځکه نوالله ﷻ په هغوی سخت ردوکړ چې دجملی په پیل کی یي دوه دتاکید حرفونه راوړل یو (ألا) چې دتنبیه لپاره اوبل (ان) چې دتقریرلپاره ده هم دارنګه خبریی معرفه راوړی اوضمیرفصل یی توسیط کړي اوددوی لاشعوری یی بیان کړی ده فرمایلی یی دی ﴿ أَلَآ إِنَّهُمْ هُمُ ٱلْمُفْسِدُونَ وَلَـٰكِن لَّا يَشْعُرُونَ ﴾ (خبرداردوی دی فسادکوونکی مګردوی (پخپل فساد) شعورنلری) یعنی خبردارای خلکودوی فسادکوونکی دی بل ځوک نه دی خوځرنګه چې په زړونو کي یی دایمان ډیوه مړه وه نوپخپل فساد نه پوهیدل ﴿ وَإِذَا قِيلَ لَهُمْ ءَامِنُوا۟ كَمَآ ءَامَنَ ٱلنَّاسُ ﴾ (کله چې دوی (منافقینو) ته وویل شی چې رښتونی ایمان راوړی) لکه دخلکو (چې ریااونفاق پکی نه وی) یعني لکه ایمان داصحاب کرامو ﷺ ﴿ قَالُوٓا۟ أَنُؤْمِنُ كَمَآ ءَامَنَ ٱلسُّفَهَآءُ ﴾ (وایی دوی چې أیاایمان راوړو مونږ لکه چې ایمان راوړی ناپوهانو)؟ همزه دلته داستفهام لپاره ده چې شک اوسخریه هم ورسره ملګری ده یعنی مونږ ددی ناپوهانو غوندی ایمان راوړو ؟ کوم چې صهیب، عمار او بلال دی دوی دعقل اوسوچ له خوا ناقص دی بیضاوی وایی دوی ته یی ځکه سفهاء وویل چې داصحابو ﷺ رایه یی چتی اوبی معنی بلله اویاداچې ددوی سپکاوی یی کاوو ځکه اکثر مسلمانان بیوزله وو اوبعضي موالین وو لکه صهیب، اوبلال او نور ﴿ أَلَآ إِنَّهُمْ هُمُ ٱلسُّفَهَآءُ وَلَـٰكِن لَّا يَعْلَمُونَ ﴾ (خبردار بیشکه هم دوی دی بی عقلان (ناپوهان) خونه پوهیږی (پخپله ناپوهی) ځکه چې دباطل پیروی کوی بی له شکه ناپوه دی خوهغوی په خپل ضلالت اوګمراهی نه پوهیږی اوداتر ړندوالی لازیات ده دلته یی تنبیه اوتاکیدوکړ چې سفاهت اوناپوهی په دوی پسی حصرده بیاالله ﷻ ددوی نفاق اوکړه وړه داسي وستایل ﴿ وَإِذَا لَقُوا۟ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ قَالُوٓا۟ ءَامَنَّا ﴾ (کله چې ملاقات وکړی له مومنانو سره وایی مونږ ایمان راوړی) یعنی کله چې له مسلمانانو سره مخامخ شی ایمان اوخواخوږی ځرګندوی اوداد نفاق اومصالحت له مخی

---

(۲) تفسیرالبیضاوی ۱/۱۷.

وي ﴿ وَإِذَا خَلَوْاْ إِلَىٰ شَيَٰطِينِهِمْ ﴾ (اوکله چې يوازې شي له شيطانانو(مشرانو) خپلو سره هغوی چې دګمراهي اوباطل سرداران دي ﴿ قَالُوٓاْ إِنَّا مَعَكُمْ إِنَّمَا نَحْنُ مُسْتَهْزِءُونَ ﴾ (وايي بيشکه مونږ له تاسو سره يو بيشکه هم داخبره ده چې موږ مسخرې کوونکي يو (په مومنانو پورې) يعني موږ ستاسو په دين يوخو کله چې ايمان ښکاره کوو يوازې په هغوی مسخرې کوو ﴿ ٱللَّهُ يَسْتَهْزِئُ بِهِمْ ﴾ (الله جزاورکوي دمسخرو ددوی) چې وخت ورکوي اوبيا عذاب ورکوي ابن عباس ﷺ وايي: الله په دوی مسخرې کوي چې دوی ته مهلت ورکوي او عذاب به ورکړي لکه چې فرمايي: ﴿ وَأُمْلِي لَهُمْ إِنَّ كَيْدِي مَتِينٌ ﴾ [القلم: ٤٥] ابن کثيروايي: داد الله ﷻ له لورې اخباردي چې هغه به دوی ته داستهزاء مجازات ورکوي اودوي په ټکې باندې به يې ترټي نودجزاوړ فعل يې دجزاپه ځای ذکر کړ چې لفظ متفق خومعنايې مختلف ده اوداډول يې هغه په قرآنکريم کې ټول نظائراومثالونه توجيه کړې دی لکه داقول دالله تعالی ﴿ وَجَزَٰٓؤُاْ سَيِّئَةٖ سَيِّئَةٞ مِّثۡلُهَاۖ فَمَنۡ عَفَا وَأَصۡلَحَ فَأَجۡرُهُۥ عَلَى ٱللَّهِۚ إِنَّهُۥ لَا يُحِبُّ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴾ [الشورى: ٤٠] ﴿ ٱلشَّهۡرُ ٱلۡحَرَامُ بِٱلشَّهۡرِ ٱلۡحَرَامِ وَٱلۡحُرُمَٰتُ قِصَاصٞۚ فَمَنِ ٱعۡتَدَىٰ عَلَيۡكُمۡ فَٱعۡتَدُواْ عَلَيۡهِ بِمِثۡلِ مَا ٱعۡتَدَىٰ عَلَيۡكُمۡۚ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَٱعۡلَمُوٓاْ أَنَّ ٱللَّهَ مَعَ ٱلۡمُتَّقِينَ ﴾ [البقرة: ١٩٤] ځکه چې اول ظلم مګردوهم عدل دي ﴿ وَيَمُدُّهُمۡ فِي طُغۡيَٰنِهِمۡ يَعۡمَهُونَ ﴾ (اومهلت (ترقي) ورکوي دوی ته په سر کشې ددوی کې حال داچې دوي حيران دي (په خپل کارکښې) دوی دوتلو لاره نه مومي ځکه الله يې په زړونو مهر لګولی اوسترګې يې ور ړندې کړې نه سميدلای شي اونه سمه لاره نيولای شي ﴿ أُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ ٱشۡتَرَوُاْ ٱلضَّلَٰلَةَ بِٱلۡهُدَىٰ ﴾ (داهغه کسان دي چې پيرودلې يې ده ګمراهي په هدايت) يعنې کفر يې په ايمان بدل کړی دضلالت بيه يې هدايت ورکړی دي ﴿ فَمَا رَبِحَت تِّجَٰرَتُهُمۡ ﴾ (نوهيڅ ګټه ونکړه سوداګری ددوی) ﴿ وَمَا كَانُواْ مُهۡتَدِينَ ﴾ (اونه وودوی لارموندونکي) ځکه دوی دداړوجهانونو تاوان وکړ بيا الله ﷻ دوه مثالونه راوړل چې ددوی دغه پريمانه تاوان ښکاره کړي ويې فرمايل ﴿ مَثَلُهُمۡ كَمَثَلِ ٱلَّذِي ٱسۡتَوۡقَدَ نَارٗا ﴾ (مثال ددوی(منافقانو) لکه مثال دهغه چاده چې اوربې بل کړی وی) يعنې ددی منافقانو مثال دهغه چاپه څيردی چې دتوذوخې اوروښنايي لپاره يې اور بل کړی وی خو دير وخت نه وی وتلی چې اورمړشي اودوی په همغه تپه توره تياره کې پريږدي چې سخت ويريږي ﴿ فَلَمَّآ أَضَآءَتۡ مَا حَوۡلَهُۥ ذَهَبَ ٱللَّهُ بِنُورِهِمۡ ﴾ نوکله چې روښانه کړی دغه (اور) چاپيرددده الله ﷻ مړه کړي رڼاددوی) يعنې کله چې يې خوا اوشا روښانه شي او څه ووينی ، په امن اوبيغمه شي ، په دغه ځلانده اور باندې دلاساشي الله ﷻ يې يومخه ايزه دغه اورووژني اوروښنايي يې ورکه کړي ﴿ وَتَرَكَهُمۡ فِي ظُلُمَٰتٖ لَّا يُبۡصِرُونَ ﴾ (اوپريږدی دوی په تياروکې چې هيڅ نه وينی) يعنې دوی په دومره زياتوتاريکيوکې حيران پاتې شي چې هيڅ هم نه ويني ابن کثيروايي الله تعالی دمنافقينو لپاره دغه مثال راوړی دی اودوی يې له هغه چاسره مشابه ګڼلي چې ګمراهي يې په هدايت رانيولې وی اودوی له ليدلو وروسته ړانده شوی وی ددوی مثال داسې ده لکه څوک چې اوربل کړي کله چې يې خوا وشا روښانه شي ښې اوکيڼ لورې ووينی په اور يوڅه ګټه واخلي چې نابېره يې اورمړ اوپه سخته تاريکۍ کې پاتې شي نه څه ويني اونه لاره ايستلای شي دغه منافقين همداسې دي چې دهدايت په بدل کې يې ګمراهي رانيولې ده دوی ترسمې لارې ناسمه خوښوی اوپه دی مثال کې ددې دلالت شته چې دوی يوځل ايمان راوړی بيا کافران شوي ځکه الله ﷻ ددوی نور اوځلا ورکه

کړی اودوی یې په سخته تیاروکې چې هغه دکفراوشرک اونفاق تیارې دې غورځولي نودخیر اوخلاصون لاره نشي موندلای ﴿ صُمٌّ ﴾ کاڼه دي ،دخیر خبری نه اوری ﴿ بُكۡمٌ ﴾ گونګیان دي ،هغه ګټوري خبري نشي کولای ﴿ عُمۡيٌ ﴾ ړانده دي ،دخیر ښیگڼی لاره نه ویني اونه دهدایت په لاره تللای شي ﴿ فَهُمۡ لَا يَرۡجِعُونَ ﴾ نوبیرته نه راګرځي دوی له ګمراهي څخه، بیاالله ﷻ ددوی لپاره بل مثال راووړ چې زیات ځرګندوالی یې وشي ویې فرمایې ﴿ أَوۡ كَصَيِّبٖ مِّنَ ٱلسَّمَآءِ ﴾ (یاپه شان (دهغو کسانودي)چې غټ ځاځکی زورور باران له آسمانه وربانديې اوري) مځکه تیپه توره تیاره اوله آسمان څخه غټ ځاځکی باران چې تالنده اوبریښنا ورسره ملګری وی وربانديې را اوري ﴿ فِيهِ ظُلُمَٰتٞ وَرَعۡدٞ وَبَرۡقٞ ﴾ (په هغه کې تیاری تالنده اوبریښناوی) سختی تیاری اوماتونکی تندرهمداراز تښتونکی بریښنا یکی موجود وی ﴿ يَجۡعَلُونَ أَصَٰبِعَهُمۡ فِيٓ ءَاذَانِهِم مِّنَ ٱلصَّوَٰعِقِ ﴾ (ننی باسی (سرونه) دګوتوپه خپلو غوږونو کی د تندر(له ویری)څخه دوي ګومان کوي چې دابه یې وژغوری ﴿ حَذَرَ ٱلۡمَوۡتِۚ ﴾ دمرګ له ویری، له دغه تندرونوڅخه ﴿ وَٱللَّهُ مُحِيطُۢ بِٱلۡكَٰفِرِينَ ﴾ (اوالله احاطه کوونکی دی په کافرانو(پخپل قدرت سره)دغه اعتراضیه جمله ده یعنی دوی دالله ﷻ ترارادي اومشیت لاندی دی لکه چې په یوچاباندی دښمنان له ټولو خواووچاپیروی اوځنی خلاصیدلای نشی دوی هم هیڅکله ورڅخه تښتیدلای نشی ﴿ يَكَادُ ٱلۡبَرۡقُ يَخۡطَفُ أَبۡصَٰرَهُمۡۖ ﴾ نژدی ده چې بریښناپه چابکی سره یوسی (نور)دسترګوددوی څکه ځلایی ډیره تیزه اوتونده وی ﴿ كُلَّمَآ أَضَآءَ لَهُم مَّشَوۡاْ فِيهِ ﴾ کله چې رڼاکړی (بریښنا) دوی ته لاره نوپکښی روان شي ﴿ وَإِذَآ أَظۡلَمَ عَلَيۡهِمۡ قَامُواْۚ ﴾ اوکله چې تیاره کړی پردوي نوودریږی (ترهور)؛ په خپل ځای کی اوپدی کښي ددوی دلالها ندتوب اوحیرانتیا انځور ښودل شوي دی کله چې نابیره بریښناوځلیږی سره له دی چې بیریږی دسترګو نوربه یې په چابکی سره یوسی خوبیاهم دوی فرصت غنیمت وګڼي اویوڅوګامه واخلی اوکله چې رڼاورکه شی له تللو څخه ودریږی اوله ځایه نه خوځیږی ویره لری چې په کنده کی به ولویږی ﴿ وَلَوۡ شَآءَ ٱللَّهُ لَذَهَبَ بِسَمۡعِهِمۡ وَأَبۡصَٰرِهِمۡۚ ﴾ اوکه اراده کړی وای الله نوبه یې قوت داوریدلو کړی وو، یعنی په تندرکی به یې د غږ زیات قوت ایښي ا ودوی به یې کاڼه کړی واي اوبریښنابه یې دومره زیاته کړی وه چې ددوی دسترګونوریې ځنی وړی وای ﴿ إِنَّ ٱللَّهَ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٞ ﴾ (بیشکه الله په هرشی ښه قادردی اوهیڅ دځمکی اوآسمان قوت هغه عاجزکولای نشی ابن جریر وایی الله ﷻ دلته خپل ځان په هرشی دقدرت لرلو په صفت وستایه ځکه چې منافقین یې له خپل زور اوعذاب څخه وویرول اودوی ته یې خبرورکړ چې الله پردوی محیط اوپه ړندولو اوکڼولو یې قادراوتوانادی.

(تفسیر طبری ۷۹/۱).

بلاغت:

پدی آیتونو کی چې د بلاغت اوبدیع کومې ښکلاوی شته په لاندی ډول یې لنډیز لیکو:

۱. ددوی په تکذیب کی مبالغه چې فرمایې: ﴿ وَمَا هُم بِمُؤۡمِنِينَ ﴾ اصل خوداووچې ویل شوی وای (وماآمنوا)ترڅوددی قول سره مطابق وایی چې (من یقول آمنا) کوم چې په خواتیرشو خپله فعل

څخه یې اسم ته عدول وکړ ترڅودوی دمومنانو له ډلې راوباسي اوبیایې د(با)په توری تاکیدوفرمایه ترڅو ددوی دبې ایمانۍ مبالغه څرګنده شي.

۲. تمثیلي استعاره لکه (يُخَٰدِعُونَ ٱللَّهَ)ددوی حال یې له خپل رب سره دایمان په څرګندولو کې او دکفرپه پټولو کې له هغه رعیت سره مشابه وګڼل کوم چې له خپل پاچاسره چلکي کوي اومشبه به یې دمشبه لپاره استعاره کړ.

۳. دقصر صیغه لکه(إِنَّمَا نَحۡنُ مُصۡلِحُونَ)اودغه ډول قصرته قصر د موصوف تر صفته وایي یعنی مونږ مصلحین یونه بل څوک.

۴. لطیفه کنایه لکه پدې قول کې: (فِي قُلُوبِهِم مَّرَضٌ)ناروغي خوحقیقتا په اجسامو کې وی اوله نفاق څخه یې مرض کنایه راوړ څکه نفاق زړه خرابوی لکه چې مرض بدن ته تاوان رسوی

۵. دتاکید تنویع لکه . (أَلَآ إِنَّهُمۡ هُمُ ٱلۡمُفۡسِدُونَ)دغه جمله په څلورو تاکیداتو مؤګده راغلې ده یو(ألا)چې تنبیه افاده کوی بل (ان)چې دتاکیدلپاره دي بیادفصل ضمیر (هم)راغلی اوبیایې خبرمعرفه ذکرکړی چې (المفسدون)اوهم دارنګه پدې جمله کې چې (أَلَآ إِنَّهُمۡ هُمُ ٱلسُّفَهَآءُ)اوپدې کې دالله ﷻ له خوا ډیر سخت اومحکم رد نغښتل شوی دی.

۶. مشاکلت لکه چې فرمایي : (ٱللَّهُ يَسۡتَهۡزِئُ بِهِمۡ) داستهزاء جزا یې پخپله استهزاء وګڼله چې دامشاکلت ده اوهغه د لفظ اتفاق اودمعنی اختلاف ته وایي.

۷. تصریحیه استعاره :لکه (اشۡتَرَوُاْ الضَّلَٰلَةَ بِالۡهُدَىٰ)مراد داچې دوی ګمراهي په هدایت رانیوله اوکفریې په ایمان وپیرودل څوسوداګری یې په تاوان تمامه شوه نودبدلون لپاره یې د خرڅولو لفظ راوړ اوبیایې په توضیح کې وفرمایل: (فَمَا رَبِحَت تِّجَٰرَتُهُمۡ)اودی ته ترشیح وایي چې داستعاری له لوړوپوړیو څخه ګڼل کیږي(۱)

۸. تمثیلي تشبیه لکه : (مَثَلُهُمۡ كَمَثَلِ ٱلَّذِي ٱسۡتَوۡقَدَ نَارٗا) او دارنګه : (أَوۡ كَصَيِّبٖ مِّنَ ٱلسَّمَآءِ فِيهِ ظُلُمَٰتٞ) په لومړي مثال کې یې منافق له هغه چاسره مشابه کړ چې اور یې بل کړی وی او دایمان څرګندول یې له روښنایي سره ،او چې وربادی ګټه نشي اخیستلای لکه چې اور یې مړ شي او په دوهم مثال کې یې اسلام له باران سره مشابه ګڼلی څکه ژوندی وربادی داسي ژوندي کیږي لکه مځکه په اوبوباندي او دکفارو شکونه او شبهې یې له تاریکیو سره مشابه ګڼلی او هغه چې په قرآنکریم کښي وعد او وعید راغلی هغه یې له تالندي بریښنا سره مشابه بللی دی(۲)

---

(۱) زمخشري وایي چې داهسې بدیعي صنعت دي چې په مجاز کې هغه لوړي څوکې ته رسیږي کشاف ۳۵/۱.
(۲) فخرالرازي وایي دلته تشبیه بالکل صحیح او سمه ده څکه دوی لومړی په ایمان باندې یو څه څلاء وموندله او بیا یې په نفاق وبایلله او په حیرانتیا کې ولویدل څکه تر دې بله زیاته حیراني نشته چې څوک تل تر تله په خسران کې ولویږي (الرازي۷۳/۲).

۹. بلیغه تشبیه لکه (صُمٌّۢ بُكۡمٌ عُمۡیٌ) یعنی دوی لکه کاڼه ، ګونګیان او ړانده غوندي دی چې له دغو حواسو څخه استفاده نشي کولای دتشبیه توري اوادات او دمشابهت وجه یي حذف کړه چې دې ته بلیغه تشبیه ویل کیږي.

۱۰. مرسل مجاز لکه: (وَرَعۡدٌ وَبَرۡقٌ یَجۡعَلُونَ أَصَٰبِعَهُمۡ فِیٓ ءَاذَانِهِم) چې دلته دکل اطلاق کړي اوجز څني اراده شوی یعنی دګوتو سرونه په غوږونو کي ننی باسي څکه دټولو ګوتو ننی ایستل امکان نلري.

۱۱. دفواصلو توافق دآیتونو په سرونو کي چې دا هم ښا ښښت او اغیز درلودونکی ده لکه: (عَذَابٌ أَلِیمٌۢ بِمَا كَانُواْ یَكۡذِبُونَ) (إِنَّمَا نَحۡنُ مُصۡلِحُونَ) (وَیَمُدُّهُمۡ فِی طُغۡیَٰنِهِمۡ یَعۡمَهُونَ) او داهم له بدیعي محسناتو څخه شمیرل کیږي(۱)

فوائد او ګټي:

لمړۍ ګټه: دمثال دراوړلو ګټه داوي چې لیري څیز رانژدې کوي پټ رازونه څرګندوي تر څولکه محسوس او لیدونکی غوندی وبریښي او دمثالونو په نفس یو عجیبه اغیز او تاثیر وی الله ﷻ فرمایي: (وَتِلۡكَ ٱلۡأَمۡثَٰلُ نَضۡرِبُهَا لِلنَّاسِۖ وَمَا یَعۡقِلُهَآ إِلَّا ٱلۡعَٰلِمُونَ).

دوهمه فائده: الله ﷻ منافقین په دغو آیتو کي په لسو صفتونو وستایل چې ټول یې بد دی او ددوی دګمراهي څرګندونه کوي لکه: دروغ ، ټګي ، مکر (دوکه) بې عقلي ، استهزاء په مځکه کي فساد کول ، جهل ، ګمراهي ، تذبذب ، او په مسلمانانو باندی سخریه کول او ملنډي وهل. الله ﷻ دی موږ دمنافقانو له اوصافو وژغوري (آمین).

دریمه فائده: څرنګه چې منافقان کافران دي د اچې رسول الله ﷺ سره له دې چې څیني د دوی یې پیژندل هم خو دوي یي نه وژل حکمت دادي چې بخاري یو حدیث راوړي وایي چې رسول الله ﷺ حضرت عمر ﷺ ته وویل: (اکره ان یتحدث العرب ان محمداً یقتل اصحابه) یعني زه دانه خوښوم چې عرب دی ووایي محمد خپل ملګري وژني. (۲)

لطیفه:

علامه ابن قیم وایي دالله ﷻ په دې قول کي فکر وکړه چې فرمایي: (ذهب الله بنورهم) او داسي یې ونه ویل (ذهب الله بنارهم) سره له دې چې همداسي مناسب وو څکه دآیت له لومړي پیل سره به مطابق وُو چې هغه داده (استوقد ناراً) چې په اور کي څلا او سوځل دواړه شته نو الله ﷻ یې یوازي څلا ورکه کړه او سوځل یې پاتي دی

(۱) دبلاغت دغه بیلګي دمثال په ډول راوړل شوې او پدې کي حصر نه دی څکه دالله ﷻ کلام معجز او بې شماره محسنات پکي دي

(۲) داسي ابن کثیر لیکلي کذا في المختصر ۳۳/۱.

او پدې کي هم فکر وکړه چې څرنګه يې وفرمايل: (بنورهم) او داسي يې ونه ويل (بضوئهم) ځکه چې ضوء په نور کي زياتوالى ته وايي که چېري يې (بضوئهم) ويلى وايى نو به داسي ګومان کيدو چې هغه د نور زياته برخه يې وړې او اصلي نور پخپل ځاى پاتي دى، او پدې کي هم فکر او سوچ وکړه چې څرنګه يې نور يوازي ذکر کړى او بيا يې فرمايلي دى (وتركهم في ظلمات) ظلمات يې دجمعي په صيغه ياد کړل ځکه چې حق يو او صراط المستقيم ده، بله لاره نشته خو د باطل لاري ګني او څانګي څانګي دى نو الله ﷻ حق يو او واحد بللي دي او باطل يي دجمعي په صيغو ډير ځايونه ذکر کړى لکه: (يُخۡرِجُهُم مِّنَ ٱلظُّلُمَٰتِ إِلَى ٱلنُّورِ) [البقرة: ۲۵۷] (وَجَعَلَ ٱلظُّلُمَٰتِ وَٱلنُّورَ) [الانعام: ۱] او دا قول (وَأَنَّ هَٰذَا صِرَٰطِي مُسۡتَقِيمٗا فَٱتَّبِعُوهُۖ وَلَا تَتَّبِعُواْ ٱلسُّبُلَ فَتَفَرَّقَ بِكُمۡ عَن سَبِيلِهِۦۚ) [الانعام: ۱۵۳] د باطل لاري يې جمع او د حق لاره يې يوه وبلله(۱)

الله تعالى فرمايي:

﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ ٱعۡبُدُواْ رَبَّكُمُ ٱلَّذِي خَلَقَكُمۡ وَٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِكُمۡ لَعَلَّكُمۡ تَتَّقُونَ ﴿٢١﴾ ٱلَّذِي جَعَلَ لَكُمُ ٱلۡأَرۡضَ فِرَٰشٗا وَٱلسَّمَآءَ بِنَآءٗ وَأَنزَلَ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءٗ فَأَخۡرَجَ بِهِۦ مِنَ ٱلثَّمَرَٰتِ رِزۡقٗا لَّكُمۡۖ فَلَا تَجۡعَلُواْ لِلَّهِ أَندَادٗا وَأَنتُمۡ تَعۡلَمُونَ ﴿٢٢﴾ وَإِن كُنتُمۡ فِي رَيۡبٖ مِّمَّا نَزَّلۡنَا عَلَىٰ عَبۡدِنَا فَأۡتُواْ بِسُورَةٖ مِّن مِّثۡلِهِۦ وَٱدۡعُواْ شُهَدَآءَكُم مِّن دُونِ ٱللَّهِ إِن كُنتُمۡ صَٰدِقِينَ ﴿٢٣﴾ فَإِن لَّمۡ تَفۡعَلُواْ وَلَن تَفۡعَلُواْ فَٱتَّقُواْ ٱلنَّارَ ٱلَّتِي وَقُودُهَا ٱلنَّاسُ وَٱلۡحِجَارَةُۖ أُعِدَّتۡ لِلۡكَٰفِرِينَ ﴿٢٤﴾ وَبَشِّرِ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ أَنَّ لَهُمۡ جَنَّٰتٖ تَجۡرِي مِن تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُۖ كُلَّمَا رُزِقُواْ مِنۡهَا مِن ثَمَرَةٖ رِّزۡقٗا قَالُواْ هَٰذَا ٱلَّذِي رُزِقۡنَا مِن قَبۡلُۖ وَأُتُواْ بِهِۦ مُتَشَٰبِهٗاۖ وَلَهُمۡ فِيهَآ أَزۡوَٰجٞ مُّطَهَّرَةٞۖ وَهُمۡ فِيهَا خَٰلِدُونَ ﴿٢٥﴾ ﴾

البقرة: ۲۱ - ۲۵

مناسبت او تړاو:

کله چې الله ﷻ درې ټولګى يعني مؤمنان، کافران او منافقان ذکر کړل او د دوى توپير يې په نيکمرغي او بدمرغي کي يا ايمان او نفاق کي ياد کړ مثالونه يې ورته راوړل د ګمراهي لاري يې په ګوته کړي د لته يې وروسته د الله د وحدانيت دلائل او براهين راوړل خلګ يې د الله په نعمتو وپوهول تر څو شکر پر ځاى کړى او دوى ته يې په دې هکله خطاب وفرمايو چې: (يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ) او دغه ټولو پرګنو ته خطاب دى کوم چې الله ﷻ پنځولي (پيداکړي) او روزي يې ورکړې ده او څرګنده معجزه (قرآنکريم) يې رالېږلى چې له زړونو څخه يې د شک او شبهې جرړي وباسي.

(۱) د قاسمي له محاسن التأويل څخه را اخيستل شوى دى.

لغتونه:

(خلقکم) خلق ایجاد اوهغې اختراع ته وايي چې پخواني مثال يې نه وی په اصل کې خلق تقدير او اندازې ته ويل کيږی لکه چې وايي (خلق الأديم للسقاء) يعني خرمن يې داوبو دزې لپاره سمه کړې ده. حجاج وايي: (ما خلقت الا فريت ولا وعدت الا وفيت) يعني ما دڅه شي تقدير نه دی کړی مګر بيا مې سرته رسولی دی او وعده مې نه ده کړې مګر پر ځای کړې مې ده (فراشا) هغه فرش ته وايي چې انسان ورباندی کښيني يا څملي (بناء) هغه چې بنا کيږې او دريږې لکه خيمه، او قبه يا کوټه او خونه (انداد) دند جمع ده او ند سارې او سيال ته ويل کيږی څکه دعلم کلام علماء وايي (ليس لله ندٌ ولا ضد) يعني نه الله ﷻ لره سيال شته او نه يې ضد (مخالف) زمخشري وايي **(ند) هغه مثل او سيال ته وايي چې مخالف قدرت وی (۲) (وقودها) وقود ازوغ دسوند مواد هغه چې اور** ورباندی بليږې قرطبي وايي وقود په زور سره دبلولو او سوځولو موادوته وايي او دواو په پيښ سره بيا مصدر دی چې معنا يې بليدل دي(۱) (اعدت) تيارکړل شوي دي بيضاوي وايي (اعدّت لهم) يعنی (هيئت لهم) معنا دا چې تيار شوي دی ددوی دعذابولو لپاره. (بشر) بشارت خوښونکي خبر لره ويل کيږی او کله چې دشر په خبر کې استعمال شي بياد تهکم او ملنډو معنی لري لکه (فبشرهم بعذاب اليم) (ازواج) دزوج جمع او نارينه ښځې دواړوته زوج وايي څکه نارينه دميرمني زوج دی اوميرمن دنارينه زوج لکه چې الله ﷻ فرمايي (اسکن انت وزوجک الجنة) (خالدون) تل تر تله (هميشه).

تفسير:

پداسي حال کي چې الله ﷻ خپل بندګان وحدانيت ته متوجه کوي نوداسي دلائل بيانوي ﴿ يَـٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ ٱعْبُدُوا۟ رَبَّكُمُ ﴾ (اې خلګو درب خپل عبادت وکړی) يعنی اې بنيادمانو دالله ﷻ ستر نعمتونه په ياد کړی او دهغه الله ﷻ هغه چې تاسو يې روزلي او پاللی ياست عبادت وکړی دهغه عبادت په توحيد او شکر يې په نعمت ادا کړی ﴿ ٱلَّذِى خَلَقَكُمْ وَٱلَّذِينَ مِن قَبْلِكُمْ ﴾ (هغه رب) چې پيدا کړی يې يې تاسو او هغه کسان چې پخواله تاسو وو) يعنی هغه ذات چې تاسو يې پخپل قدرت له نيستي څخه هست کړی او تر پخوا له تاسي امتونه يې هم پيدا کړی وو ﴿ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ ﴾ (دپاره ددې چې ځان وساتی له عذابه (دده) يعنی تر څو تاسي دمتقينو په ډله کي له برياليو او ژغورل شوو کسانو څخه وګڼل شی بيضاوي وايي: کله چې الله مکلف ټولګي وشميرلي نو بيا يې دوی ته دالتفات په توګه داسي خطاب وفرمايل چې اوريدونکی وخوځوي او هغه راوپښ او بيدار کړي اوبل ددې لپاره چې دعبادت په هکله اهتمام او دهغه شان ستر څرګند شوی وی، هوکي په قرآنکريم کي چې ډير ځله په کلمه د﴿ يَـٰٓأَيُّهَا ﴾ سره خطاب راغي ددې لپاره چې په هغه کي دتاکيد څو وجهي شته او هر کله چې الله ﷻ خپلو بندګانو ته غږ او ندا کوي هلته به ستر امور وي چې له هغوی سره به ښايي ترڅو بندګان ورته ځير او په زړونو ورته

(۲) القرطبي ۲۳۰/۱.
(۱) الکشاف ۷۲/۱.

متوجه شي که څه هم ډیر کسان خو ورڅخه غافل وی نو پداسي وخت کي هغه غږ او وینا ښایي چې بلیغه او تاکید لرونکي وی (۲) بیا الله ﷻ خپل نعمتونه ورپه یاد کړل چې: ﴿ ٱلَّذِى جَعَلَ لَكُمُ ٱلْأَرْضَ فِرَٰشًا ﴾ هغه ذات چې ګرزولي یې ده ځمکه تاسي ته فرش) یعنی تاسو یې سره له دې چې ځمکه ګردی او کروي ده لکه فرش غوندي استعمالولای شی او داد الله ﷻ نعمت ده که نه نو تاسي ته دهغه استعمال غیر ممکن وو ، بیضاوي وایي الله ﷻ ځمکه داسي تیاره کړې چې انسانان وربانده کښیني او پریوزي ناستي او څملاستي یې دواړه ممکن دی او که څه هم مدوره او کروي ده خو دومره پراخه ده چې دانسانانو داستعمال لپاره پکي هیڅ ستونزه هم نه شته (۳)

﴿ وَٱلسَّمَآءَ بِنَآءً ﴾ (او ګرځولی یې دی آسمان چت) یعنی آسمان یې لکه قبه غوندي په ځمکه چت جوړ کړی دی

﴿ وَأَنزَلَ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءً ﴾ (او راتوی کړی یې دی (له طرفه) داسمانه اوبه) یعنی باران دخوږو اوبو یې له وریځي راوررولی دی ﴿ فَأَخْرَجَ بِهِۦ مِنَ ٱلثَّمَرَٰتِ رِزْقًا لَّكُمْ ﴾ (پس راویې ایسته پدې اوبو سره له هرډول میوو څخه روزي تاسی ته ﴿ فَلَا تَجْعَلُوا۟ لِلَّهِ أَندَادًا وَأَنتُمْ تَعْلَمُونَ ﴾ پس نو مه ګرزوی له الله ﷻ سره شریکان حال دا چې تاسي پوهیږی) یعنی تاسي له الله ﷻ سره دبتانو او انسانانو شریکان مه نیسی چې عبادت یې کوی او تاسي پدې هم پوهیږی چې دغه شریکان نه څوک پنځولای (پیدا کولای) او نه هم روزي ورکولای شی او یوازي الله ﷻ خالق او رازق ذوالقوة المتین ذات دی ابن کثیر وایي الله تعالی دالوهیت دوحدانیت په پیلولو کی داسي وفرمایل چې هغه پخپلو بندګانو نعمتونه پیرزوکړی له عدم څخه یې پیدا کړی او بیا یې وربانده ډول ډول نعمتونه لوررولی او په (سما) سره دلته مراد وریځ ده ځکه الله له وریځي اوبه ددوی داړتیا په وخت کي رانازلوی او بیا ډول ډول میوې دانې وربانده زرغونوي تر څو ددوی او ددوی دڅارویو لپاره غذاشي خلاصه دا چې الله ﷻ دخلکو پیدا کونکي او روزي ورکونکی دی نو هغه ددې وړ او لائق ده چې یوازي دهغه عبادت وشي او څوک ورسره شریک ونه نیول شي (۱) بیا الله ﷻ دتوحید دلائل چې دنبوت حجت او دقرآنکریم اعجاز ښیي داسي بیان کړل. ﴿ وَإِن كُنتُمْ فِى رَيْبٍ مِّمَّا نَزَّلْنَا عَلَىٰ عَبْدِنَا ﴾ او که چیری تاسي په شک کي یاست له هغه (قرآنه) چې توته توته مو پخپل بنده نازل کړی) یعنی اې خلکو که تاسي ددغه قرآن په رښتنولی کي چې بیان ،تشریع ،او نظم یې معجزه ده شک او شبه لری کوم چې موږ پخپل بنده او پیغمبر حضرت محمد ﷺ نازل کړی دی نو ﴿ فَأْتُوا۟ بِسُورَةٍ مِّن مِّثْلِهِۦ ﴾ (نو راوړی یو سورت په شان دده) یعنی ددې قرآن دفصاحت بلاغت او بیان په مثل یو سورت ولولی

﴿ وَٱدْعُوا۟ شُهَدَآءَكُم مِّن دُونِ ٱللَّهِ ﴾ او راوبولی مددګاران خپل بې له الله) څخه) یعنی پر ته له الله ستاسو هغه مددګار او مرستندویان چې له تاسي سره دقرآنکریم په معارضه او انکار کي ملګری دی هم راوغواړی مراد دادی چې له خدایه پرته که هر څوک غواړی ورڅخه مرسته وغواړی بیضاوی وایي مقصد دادی چې راوبولی دمعارضي لپاره هر څوک چې تاسي یې دمرستي هیله کوی که انسان وی که پیری او که ستاسی نور معبودان (۲) چې بغیر له الله ﷻ څخه وی دوی هم نشي کولای دا ډول سورت راوړي یوازي الله ﷻ وربانده قادر او توانا دی

﴿ إِن كُنتُمْ صَٰدِقِينَ ﴾ که چیری تاسي رښتیا ویونکي یاست (چې دا دانسان کلام دی) او ځواب یې حذف شوی چې مخکی وینا وربانده دلالت کوي ﴿ فَإِن لَّمْ تَفْعَلُوا۟ ﴾ (که ونه کړای شی دغه کار) چې یو داسي سورت

---

(۳) البیضاوي ۱۲/۱.

راوړي او پخوا هم تاسي ندی کړی چې داسي آيتونه راوړی چې له قرآن سره سم او يا ورسره ورته وی سره له دې چې له فصاحت لرونکو ژب غړاندو او دبلاغت له څښتنانو مومرسته غوښتي ده ﴿ وَلَن تَفۡعَلُواْ ﴾ او له سره به يې ونکړای شي چې په راتلونکي کی دغه کار تر سره کړی دغه جمله معترضه او مقصد يې دادي چې بشر به په حاضر او مستقبل کي دغه توان ونلري لکه چې الله فرمايي: ﴿ لَا يَأۡتُونَ بِمِثۡلِهِۦ وَلَوۡ كَانَ بَعۡضُهُمۡ لِبَعۡضٖ ظَهِيرٗا ﴾ [الاسراء: ٨٨] ابن کثير وايي چې دوی ته قرآنکريم چېلنج ورکړ دوی د ټولو امتونو فصيح امت وُو خو بيا هم عاجزه شول (لن) په مستقبل کي د نفي تاکيد کوي چې ګرد سره به ونکړای شی او دا هم يوه معجزه ده چې په غوڅه توګه يې اخبار وکړ چې دغه قرآن به تل تر تله معجز او په هيڅ وخت به يې په وړاندی معارض نشي دريدلای او همداسي وشول چې له هغې ورځي تر نن پوري يې هيڅ مخالف سيال کلام ندی را ډبره شوی او څوک چې په قرآنکريم کي سوچ وکړي نو داعجاز له وجوهاتو او اسبابو څخه به ډير پټ او ځرګند فنون په لفظ او معنی دواړو کي ومومي چې بيخي زيات به فصيح او دبيان خاوند وی هغه کسان به ورباندی پوهيږي څوک چې دعربو کلام او لغت پيژني جوړښت او تصاريف يې ورته معلوم وي ﴿ فَٱتَّقُواْ ٱلنَّارَ ﴾ (نو وويريږی له اورڅخه) يعنی دالله ﷻ له عذاب او ددوزخ له اور څخه وويريږی هغه چې الله د دروغجنو لپاره جزا ټاکلې ده ﴿ ٱلَّتِي وَقُودُهَا ٱلنَّاسُ وَٱلۡحِجَارَةُ ﴾ (هغه چې خس خاشلک يې بنيادمان او ډبري دی) هغه بتان چې دوي به يي پرته له الله څخه عبادت کاوو لکه چې الله فرمايي: ﴿ إِنَّكُمۡ وَمَا تَعۡبُدُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ حَصَبُ جَهَنَّمَ ﴾ [الأنبياء: ٩٨] تاسو او پرته له الله نه ستاسو معبودان د دوزخ ازوغه ياست ، مجاهد وايي: الله تعالی به کافرانو ته په کبريت ډبري چې تر مړزګه به بد بويه وي په اور کي عذاب ورکوي ﴿ أُعِدَّتۡ لِلۡكَٰفِرِينَ ﴾ (دغه اور) د کافرانو لپاره تيار کړي شوي دي، چې دوي ته به پکښي ډول ډول خوارونکي دسپکاوی عذابونه ورکول کيږي، کله چې الله هغه څه ياد کړل چې د دښمنانانو لپاره يې تيار کړي ورپسي هغه څه يادوي چې دوستانو ته يي ورکوي ځکه دغه د قرآن کريم اسلوب دي چې ترهيب او ترغيب يو په بل پسي ذکر کوي ويې فرمايل: ﴿ وَبَشِّرِ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ ﴾ او زيری ورکړه (اې محمده) هغو کسانو لره چې ايمان يې راوړی او کړی يې دی ښه عملونه يعنی ايمان او عمل صالح يې يو ځای کړی ﴿ أَنَّ لَهُمۡ جَنَّٰتٖ تَجۡرِي مِن تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُ ﴾ چې بيشکه دوی لره جنتونه دی چې بهيږي (لاندی تر مانيو او ونو) دهغو ويالې(١) ﴿ كُلَّمَا رُزِقُواْ مِنۡهَا مِن ثَمَرَةٖ رِّزۡقٗا ﴾ هر کله چې روزي ورکړه شی دوی ته له دغو جنتونو څخه ميوه لپاره دخوړلو ﴿ قَالُواْ هَٰذَا ٱلَّذِي رُزِقۡنَا مِن قَبۡلُ ﴾ وايي دوی چې دا همغسی ميوه ده چې موږ ته پخوا له دې راکړل شوې وه مفسرين وايي چې جنتيانو ته به ملايک ميوې راوړي کله چې يې ددوهم ځل لپاره ورکړي دوی به وايي چې دا هغسي دی چې پخوا موراکړې وې ملايک به ورته وايي: اې دالله بنده وخوره رنګ يې يو دی خو خوند يې جلا جلا (٢) الله ﷻ فرمايي: ﴿ وَأُتُواْ بِهِۦ مُتَشَٰبِهٗا ﴾ (او رابه وړل شي دوی ته ميوه هم رنګه) يعنی

(١) په حديث شريف کي راغي چې د جنت نهرونه به پولي نلری.
(٢) ځيني مفسرين وايي چې د (رزقنا من قبل) معنا دادی چې په دنيا کي يا دوي خو بهتره داده چې ابن عباس وايي چې دا په جنت کي ده او په دنيا کي پرته د جنت له نومونو بل هيڅ نشته.

په رنګ او منظر به یو ډول ښکاري خو خوند او لذت به یې بیل وی ابن جریر وایي په رنګ او شکل کی به متشابه خو په خوند او ذائقه کې به هغسي نه وی ابن عباس وایي دجنت هیڅ څیز ددنیا له شیانو سره مشابه نه دی یوازي په نومونو کی ورسره مشابهت لري﴿ وَلَهُمْ فِيهَآ أَزْوَٰجٌ مُّطَهَّرَةٌ ﴾ (وي به دوی لره پدې جنتونو کي ښځي ښې پاکي سوتره) یعنی حوري چې له ټولو حسي او معنوي چټلتیا ووبه پاکي وی هغه به دجنتیانو میرمني وی ابن عباس وایي: پاکي به وی له چټلي او ښځینه امراضو ، مجاهد وایي پاکي به وی له حیض ، نفاس ، بولو او غټو متیازو او هم دا رنګه دپوزي له ګرنګو او دستوني له بلغمو به پاکي وی او داسي هم راغلی چې ددې دنیا میرمنی به هلته تر حورو لاښائسته وی لکه چې الله وایي: ﴿ إِنَّآ أَنشَأْنَٰهُنَّ إِنشَآءً ﴿٣٥﴾ فَجَعَلْنَٰهُنَّ أَبْكَارًا ﴿٣٦﴾ عُرُبًا أَتْرَابًا ﴿٣٧﴾ ﴾ [الواقعة: ۳۵ - ۳۷] ﴿ وَهُمْ فِيهَا خَٰلِدُونَ ﴾ (او دوی به په دغه جنتونو کی همیشه وی) او دا بشپړه نیکمرغی او سعادت دی چې تل ترتله له خپلو میرمنو سره په داسي بیغمه دنعمتونو په ځای کې اوسي.

بلاغت:

۱. کله چې الله ﷻ فرمايي (ٱعْبُدُوا۟ رَبَّكُمُ) او مخاطبینو ته د(رب) اضافت کوی دادتفخیم او تعظیم لپاره دي

۲. په (عَلَىٰ عَبْدِنَا) کي اضافت دتشریف او ځانګړتیا (تخصیص) لپاره دي او دا هغه تر ټولو اشرف وصف دی چې رسول الله ﷺ یې ورباندی ستایلی دی.

۳. تعجیز لکه (فَأْتُوا۟ بِسُورَةٍ) امر له خپلي صیغې څخه راوتلی او دتعجیز معنی ځني اخیستل کیږي او سورت چې یې نکره ذکر کړی دعموم او شمول اراده یې شوی ده.

۴. لطیفه مقابله لکه: (جَعَلَ لَكُمُ ٱلْأَرْضَ فِرَٰشًا وَٱلسَّمَآءَ بِنَآءً) ځکه دلته یې دمځکی او آسمان تر منځ مقابله او د(فرش) او چت تر منځ مقابله راوړي چې دا هم له بدیعي محسناتو څخه ګڼل کیږي.

۵. اعتراضیة جمله لکه:(وَلَن تَفْعَلُوا۟) چې دوی لپاره تحدی (چېلنج) شی چې داسي بشپړ عجز مو په برخه دی چې په هیڅ وخت او زمان کې به ونه توانیږي.

۶. دکنایې په راوړلو ایجاز او لنډون لکه: (فَٱتَّقُوا۟ ٱلنَّارَ) یعنی که له راوړلو عاجز شوی بیا نو ددوزخ له اوره ووېرېږی او دقرآن رښتنولي ومنی.

الله تعالی فرمایي:

﴿ ۞ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَسْتَحْىِۦٓ أَن يَضْرِبَ مَثَلًا مَّا بَعُوضَةً فَمَا فَوْقَهَا ۚ فَأَمَّا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ فَيَعْلَمُونَ أَنَّهُ ٱلْحَقُّ مِن رَّبِّهِمْ ۖ وَأَمَّا ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ فَيَقُولُونَ مَاذَآ أَرَادَ ٱللَّهُ بِهَٰذَا مَثَلًا ۘ يُضِلُّ بِهِۦ كَثِيرًا وَيَهْدِى بِهِۦ كَثِيرًا ۚ وَمَا يُضِلُّ بِهِۦٓ إِلَّا ٱلْفَٰسِقِينَ ﴿٢٦﴾ ٱلَّذِينَ يَنقُضُونَ عَهْدَ ٱللَّهِ مِنۢ بَعْدِ مِيثَٰقِهِۦ وَيَقْطَعُونَ مَآ أَمَرَ ٱللَّهُ بِهِۦٓ أَن

يُوصَلَ وَيُفْسِدُونَ فِى ٱلْأَرْضِۚ أُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلْخَٰسِرُونَ ﴿٢٧﴾ كَيْفَ تَكْفُرُونَ بِٱللَّهِ وَكُنتُمْ أَمْوَٰتًا فَأَحْيَٰكُمْۖ ثُمَّ يُمِيتُكُمْ ثُمَّ يُحْيِيكُمْ ثُمَّ إِلَيْهِ تُرْجَعُونَ ﴿٢٨﴾ هُوَ ٱلَّذِى خَلَقَ لَكُم مَّا فِى ٱلْأَرْضِ جَمِيعًا ثُمَّ ٱسْتَوَىٰٓ إِلَى ٱلسَّمَآءِ فَسَوَّىٰهُنَّ سَبْعَ سَمَٰوَٰتٍۚ وَهُوَ بِكُلِّ شَىْءٍ عَلِيمٌ ﴿٢٩﴾ [البقرة: ۲۶ - ۲۹]

مناسبت او تړاو:

څرنګه چې الله ﷻ په قاطع دليل او څرګند برهان سره دا ښکاره کړه چې قرآنکريم دالله ﷻ کلام او داعجاز خاوند په خاتم النبيين نازل شوی دی دوی ته يې بلنه ورکړه که کولای شي يو سورت دی همداسي جوړ کړی نو دلته يې هغه دکافرانو شک او شبه ذکر کړه ، کومه چې دوی به ويل په قران کريم کی دمچي ، مچ ، تناوکنس (جولاګی) او ميږي نومونه راغلي او دا دفصاحت له خاوندانو سره نه ښايي څه خولا دالله ﷻ سره ، الله يې ددغی شبهې ځواب داسي ورکړ چې ددغو شيانو کوچنی والی دقرآنکريم په فصاحت او اعجاز کی څه تاوان نه پيښوې کله چې مثال په سترو حکمتونو مشتمل وی بيا هيڅ عيب او عار نه دي.

لغتونه:

(حيا)هغه تغيير او انکسار ته وايي چې انسان ته کله چې دکوم کار له عيب او بدی څخه ويره لری پيښيږي او دلته يې لازم مراد دی چې هغه ترک او پريښودل دی ، زمخشری وايي چې الله ﷻ دماشي مثال راوړل نه پريږدی لکه چې څوک يې دکوچنيتوب په وجه په يادولو شرميږي(۱) (فمافوقها) يا چې تر هغه هم کوچنی وی (الفاسقين) فسق دعربو په کلام کی له يو شی څخه وتلوته وايي او منافق ته ځکه فاسق ويل کيږی چې دالله ﷻ له طاعت څخه متجاوز او وتلی دی فراء وايي چې فاسق دعربو له دې قول څخه اخستل شوی چې وايي (فسقت الرطبة من قشرها) يعنی لمده خرما له پوټوکي څخه راووتله او فاسق ته ځکه (فاسق) وايي چې دالله ﷻ له طاعت څخه بهر وتلی دی او موږکی (مږی) ته ځکه (فويسقه) وايي چې دضرر رسولو لپاره بهر راوزي(۲) (ينقضون) نقض ماتولو او خرابولوته وايي هغه که مانۍ او ودانۍ وی او که پړی(رسۍ) او يا هم ژمنه او عهد لکه چې الله ﷻ فرمايي: (كَٱلَّتِى نَقَضَتْ غَزْلَهَا) [النحل: ۹۲] او بل ځای فرمايي: (فَبِمَا نَقْضِهِم مِّيثَٰقَهُمْ) [النساء: ۱۵۵] يعنی دوعدې په ماتولو ، (عهد) وعدې او ژمنی ته وايي چې يوانسان يې له بل سره په ټينګه کوی (الميثاق) هغه محکم عهد چې لوړه اوقسم هم پری اخيستی شوی وی او دا تر عهد کلک او ټينګ يا زيات دی (استوی) په اصل کی سمولو او اعتدال ته وايي لکه چې وايي (استوی العود) لرګي برابرشو کله چې ودريږي او سم شي او کله چې وايي (استوی اليه کالسهم) يعنی دهغه قصد او تکل يې دغيشي په شان په سم او برابر قصد

---

(۱) الکشاف۱/ ۵۸.

(۲) تفسير کبير للرازي۲/ ۱۴۷.

سره وکړ ثعلبي وايي: (دا ستواء معنى يو څيز ته مخه کول دي(١) (فسواهن) برابر يې کړل او ښوک بيا وايي چې ويې ګرزول.

دنزول سبب:

کله چې الله ﷻ غوماشى او عنکبوت (جولاګى) په قرآن کي ذکر کړل اود مشرکينو مثال يي راووړ نو يهودانو وخندل او ويې ويل دا دخداى له کلام سره مشابه نه ده الله تعالى ددې حقيروشيانوله يادولو څه غواړى؟ نو الله ﷻ دا آيتونه رانازل کړل. (٢)

تفسير:

الله ﷻ ديهودو او منافقينو دګومان دترديد لپاره فرمايي: ﴿ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَسْتَحْيِۦٓ أَن يَضْرِبَ مَثَلًا مَّا ﴾ (يعنى الله نه پريږدى چې بيان کړي يو مثال له مثالونو) که په هر شي باندي وي کوچنى او که لوى وي؟

﴿ بَعُوضَةً فَمَا فَوْقَهَا ﴾ غوماشى وى او که تري پورته يعني که څه هغه هم په سپکتيا او کوچني والي کى حقير وى خوڅرنګه چې له خلقت او پيدا کولو څخه يې نه پريږدى همداسي له مثال راوړلو يې هم نه پريږ دى ﴿ فَأَمَّا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ فَيَعْلَمُونَ أَنَّهُ ٱلْحَقُّ مِن رَّبِّهِمْ ﴾ پس هغه کسان چې مؤمنان وى پوهيږى چې الله ﷻ حق او دا مثال هم الله بيان کړى نو حق دى ﴿ وَأَمَّا ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ فَيَقُولُونَ مَاذَآ أَرَادَ ٱللَّهُ بِهَٰذَا مَثَلًا ﴾ او هغه کسان چې کافران شوى دى وايي چې څه څيز اراده کړى ده الله ﷻ په دې مثال سره؟ دوى تعجب کوى چې الله پدې حقير او ذليلو شيانو له مثال راوړلو څخه څه غواړى؟ الله ددوى په رد کى وفرمايل: ﴿ يُضِلُّ بِهِۦ كَثِيرًا وَيَهْدِى بِهِۦ كَثِيرًا ﴾ (داسي اراده کړې ده الله ﷻ) چې ګمراه کوي پدې مثال سره ډير خلق او ښمه لاره ښيي پدې سره ډيرو خلقوته، يعني دهدايت سبب يې جوړ شي ﴿ وَمَا يُضِلُّ بِهِۦٓ إِلَّا ٱلْفَٰسِقِينَ ﴾ او نه ګمراه کيږى پدې مثال سره مګر فاسقان؟ هغوى چې دالله له طاعت څخه وتلى او سر غړونکى وى دالله ﷻ آيتونه نه مني بيا الله ددوى صفتونه داسي وګڼل: ﴿ ٱلَّذِينَ يَنقُضُونَ عَهْدَ ٱللَّهِ مِنۢ بَعْدِ مِيثَٰقِهِۦ ﴾(هغه کسان چې ماتوى دالله عهد وروسته دهغه له ټينګوالى) يعنى دوى هغه عهد ماتوى چې په اسمانى کتابو نو کي راغلى چې په محمد رسول الله به ايمان راوړى او هغه وروسته له دې چې په دوى ټينګ او محکم شوى هم وو ، او يا هر عهد ماتوى چې په الله ﷻ ايمان په پيغمبرانو تصديق او په شرعي حکمونو عمل کول دى. ﴿ وَيَقْطَعُونَ مَآ أَمَرَ ٱللَّهُ بِهِۦٓ أَن يُوصَلَ ﴾ او پرې کوي هر هغه څه چې حکم کړى دى الله ﷻ چې پيوند دى کړل شى) هغه که دخپلوانو صله رحمى وى يا بل څه،

---

(١) الصاوى على الجلالين ١٩/١ الکشاف ٩٢/١.
(٢) القرطبى ٢٤٤/١ صاوي ١٧/١.

لفظ عام دی هر هغه پرې کرل شوی ته وایی چې الله ﷻ یې نه خوښوي لکه دانبیاوو سره پریکړون دخپلوانو سره او دمسلمانانو تر منځ دموالات او دوستی شلول. ﴿ وَيُفْسِدُونَ فِي ٱلْأَرْضِ ﴾ (او فساد کوی دوی په مځکه کی) په ګناهو نو فتنو اچولو له ایمان څخه دراګرزولو او دقرآن کریم په هکله شکونو او شبهاتو دخپرولو په لاره کی ﴿ أُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلْخَٰسِرُونَ ﴾ (دغه کسان هم دوی دی زیان کاران) یعنی دا یادشوی کسان چې داسې بدصفتونه لری زیانکاران دی څکه دوې ګمراهي په هدایت اخیستی(پیرودلي) ده عذاب یې په بښنه او مغفرت بدل کړي او تل ترتله ددوزخ اوسیدونکي دي ﴿ كَيْفَ تَكْفُرُونَ بِٱللَّهِ ﴾ (څرنګه په الله کافران کیږئ؟) استفهام دتوبیخ او انکار لپاره دي یعنی له هغه پیدا کونکی او پنځـونکی الله څخـه څرنګه انـــــکار کوئ؟ ﴿ وَكُنتُمْ أَمْوَٰتًا ﴾(دا چې وی تاسي مړه) نطفې واست دپلـرونو په ملا وواو دمیـندو په ارحـــــامـو کې. ﴿ فَأَحْيَٰكُمْ ﴾ بیا یې ژوندی کړئ تاسي ،یعني دنیاته یي راوستلاي ﴿ ثُمَّ يُمِيتُكُمْ بیا به الله ﷻ مړه کړي تاسي کله چې مواجل راورسیږي ﴿ ثُمَّ يُحْيِيكُمْ ﴾ بیا به موژوندی کړی تاسي په بعث سره﴿ ثُمَّ إِلَيْهِ تُرْجَعُونَ ﴾(بیا به ده ته وروستل شئ) دجزا او حساب لپاره وروسته بیا الله ﷻ په بعث باندی دلیل ذکر کړ چې: ﴿ هُوَ ٱلَّذِي خَلَقَ لَكُم مَّا فِي ٱلْأَرْضِ جَمِيعًا ﴾(الله)هغه ذات دی چې پیدا کړی یې دی تاسي ته په مځکه کي ټول شیان ؛ ستاسي دګټی لپاره څو تاسي وپوهیږئ چې الله خالق او رازق دی ﴿ ثُمَّ ٱسْتَوَىٰٓ إِلَى ٱلسَّمَآءِ ﴾ بیا یې قصدوکړ آسمان ته) یعنی خپله اراده یې آسمان ته متوجه کړه ﴿ فَسَوَّىٰهُنَّ سَبْعَ سَمَٰوَٰتٍ ﴾نو برابر یې کړل دوی اوه اسمانونه) چې محکم او ټینګه بنا لری او دا دالله دقدرت څرګند دلیل دی ﴿ وَهُوَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ ﴾ (او دې په هر څه باندی ښه عالم دی) یعنی هغه په هر مخلوق او پنځول شوی ښه عالم او پوه دې ایا تاسو له دې نه عبرت نه اخلی ؟ چې قادر ددې شیانو په پیدا کولو (چې هغه تر تاسي ډیر ستر دی) ستاسي په بیارا ژوندي کولو هم قادر دی؟ هو الله ﷻ په هر څه باندی توانا او قادر دی.

بلاغت:

داکلام چې فرمایي: (لَا يَسْتَحْيِۦٓ) مجاز ده چې ملزوم راوړل شوی او لازم ځنی اراده کیږی معنی یې دا چې نه پریږدی نو له پرینبودلو څخه یې په حیا تعبیر وفرمایه چې پرینبودل دحیاله ثمراتو اولوازمو څخه دي او څوک چې دیو شی له کولو شرمیږی نو هغه نه کوی.(۱)

۱ - پدې قول کی چې (يَنقُضُونَ عَهْدَ ٱللَّهِ) مکنیه استعاره ده څکه رسی یې له عهد سره مشابه کړه مشبه به یې حذف او دهغه له لوازمو څخه یې یوه لازم ته اشاره وکړه چې نقض اوماتول دی.

۲ - دا وینا چې فرمایی: (كَيْفَ تَكْفُرُونَ بِٱللَّهِ) التفات دی او هغه هم له غیبت څخه خطاب ته چې مقصد پکي توبیخ او ترتل دی دا هم دبدیعی محسناتو څخه بلل کیږي.

---

(۱)زمخشری.

۳ - (عَلِيمٌ) دمبالغې صيغه ده چې دپراخ علم خاوند ته ويل کيږي هغه چې په ټولو شيانو راګرزيدلی وي ابوحيان وايي: چې الله ﷻ خپل ځان په (عالم ، عليم او علام) صفتونو ستايلی دی چې و روستي دوه يې دمبالغې لپاره دي او عرب په علام کې دمبالغې دتاکيد لپاره (ها) هم زياتوي چې علامة ورته وايي خو دا صفت دالله ﷻ لپاره روانه دي (۱)

ګټې او فائدې:

لومړۍ فايده: زمخشري وايي مثال ددې لپاره وي چې معنی څرګنده او له مقصد څخه پرده پورته شي ايا ته نه ګورې څرنګه چې حق څرګند او ښکاره وي نو دهغه لپاره په څلا او روښنائي مثال راوړل کيږي او باطل چې دحق په ضد دی دهغه لپاره په تاريکی او ظلمت مثال ويل کيږي او څرنګه چې هغه دکفارو بتان او معبوان چې له الله سره يې شريکان او سيالان ګڼل تر هغوی سپک او حقير بل هيڅ شی نه وو نو يې دجولاګې (عنکبوت) په څاله چې ډيره ضعيفه او کمزوری وی ددوی لپاره مثال راووړ (كَمَثَلِ ٱلْعَنكَبُوتِ ٱتَّخَذَتْ بَيْتًا) او تر مچ پيدا کولو يې ددوی قدر او منزلت سپک وګانه چې فرمايي: (لَن يَخْلُقُوا۟ ذُبَابًا وَلَوِ ٱجْتَمَعُوا۟ لَهُۥ ۖ وَإِن يَسْلُبْهُمُ ٱلذُّبَابُ شَيْـًٔا لَّا يَسْتَنقِذُوهُ مِنْهُ) (او تعجب ددوی (يهودو) په حال دی چې څرنګه ددې څخه انکار کوی ؟ سره له دې چې خلک په خارويو او مرغانو باندی مثالونه راوړی او دعربو دغه مشهور مثالونه چې په ښارونو او بيديا وو کې يې اوريدل کيږی هم ددوی په وړاندی دی. (۲)

دوهمه فائده: اضلال يې له هدايته مخکي ذکر کړی چې (يُضِلُّ بِهِۦ كَثِيرًا وَيَهْدِى بِهِۦ كَثِيرًا) تر څو لومړی هغه څه په خواب کی ددوی غوږونو ته رسيږي چې ويرونکي خبره وي توان يې سلب کړی او د استقبال صيغه يې ددی لپاره غوره کړه چې استمرار او تجدد افاده کړي. (۳)

دريمه فائده: ابن جزی په تسهيل نومی کتاب کی وايي چې دغه آيت: (خَلَقَ لَكُم مَّا فِى ٱلْأَرْضِ جَمِيعًا ثُمَّ ٱسْتَوَىٰٓ إِلَى ٱلسَّمَآءِ) ددې غوښتونکی دی چې اسمان تر مځکه وروسته پيدا شوی او دا آيت چې فرمايي: (وَٱلْأَرْضَ بَعْدَ ذَٰلِكَ دَحَىٰهَآ) ظاهريې دلومړی خبري خلاف دي څواب يې په دوه ډوله دی يو دا چې مځکه تر آسمان له مخه پيدا شوې خو ويره شوې وروسته ده او بل دا چې (ثم) کلمه داخباری ترتيب لپاره راوړل شوې ده نو دآيتونو تعارض به نه راځي. (۴)

***

---

(۱) البحر المحيط.
(۲) الكشاف ۸۳/۱.
(۳) ارشاد العقل السليم ۷۰/۱.
(۴) التسهيل في علوم التنزيل ۴۳/۱.

الله تعالی فرمايي:

﴿وَإِذْ قَالَ رَبُّكَ لِلْمَلَٰٓئِكَةِ إِنِّى جَاعِلٌ فِى ٱلْأَرْضِ خَلِيفَةً ۖ قَالُوٓا۟ أَتَجْعَلُ فِيهَا مَن يُفْسِدُ فِيهَا وَيَسْفِكُ ٱلدِّمَآءَ وَنَحْنُ نُسَبِّحُ بِحَمْدِكَ وَنُقَدِّسُ لَكَ ۖ قَالَ إِنِّىٓ أَعْلَمُ مَا لَا تَعْلَمُونَ ﴿٣٠﴾ وَعَلَّمَ ءَادَمَ ٱلْأَسْمَآءَ كُلَّهَا ثُمَّ عَرَضَهُمْ عَلَى ٱلْمَلَٰٓئِكَةِ فَقَالَ أَنۢبِـُٔونِى بِأَسْمَآءِ هَٰٓؤُلَآءِ إِن كُنتُمْ صَٰدِقِينَ ﴿٣١﴾ قَالُوا۟ سُبْحَٰنَكَ لَا عِلْمَ لَنَآ إِلَّا مَا عَلَّمْتَنَآ ۖ إِنَّكَ أَنتَ ٱلْعَلِيمُ ٱلْحَكِيمُ ﴿٣٢﴾ قَالَ يَٰٓـَٔادَمُ أَنۢبِئْهُم بِأَسْمَآئِهِمْ ۖ فَلَمَّآ أَنۢبَأَهُم بِأَسْمَآئِهِمْ قَالَ أَلَمْ أَقُل لَّكُمْ إِنِّىٓ أَعْلَمُ غَيْبَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ وَأَعْلَمُ مَا تُبْدُونَ وَمَا كُنتُمْ تَكْتُمُونَ ﴿٣٣﴾﴾ [البقرة: ٣٠-٣٣]

مناسبت او تړاو:

څرنګه چې الله ﷻ خپلو بندګانو ته د پیدا ایښت او ایجاد نعمت ورپه یاد کړ او دا چې ټول په مځکه کې شیان یې ورته تابع ګرځولي له نیستي څخه یې هست کړي نو یې ورپسې هغه دلومړنی خلقت او ددوی دپلار تشریف او تکریم هم ورته ذکر کړ کوم چې په مځکه کی یې خلیفه ګرځولی دکرامت په بڼ کی یې هستوګنه ورکړې او ملائکو ته یې فرمایلي وو چې ورته سجده ولګوئ او پدې کښې شک نشته چې له پلار سره احسان لکه له اولاد سره احسان غوندی دی ځکه نو داهم له هغو نعمتونو څخه شمېرل کیږي چې دوی ته ورکول شوی او یادول یې مناسب دی.

لغتونه:

(اذ) دزمان ظرف او په حذف شوی فعل سره منصوب دی تقدیر یې داسي کیږی: (اذکر حین) او یا (اذکر وقت) او کله کله محذوف فعل هم ذکر کیږی لکه: (وَٱذْكُرُوٓا۟ إِذْ أَنتُمْ قَلِيلٌ)[الانفال: ٢٦] مبرد وایی که چېری (اذ) له مستقبل فعل سره راغی معنا یې دماضی فعل کیږی لکه: (وَإِذْ يَمْكُرُ بِكَ)[الانفال: ٣٠] معنا یې دا چې دوی تکې کړې وه له تاسره او کله چې (اذا له ماضی سره راشی معنا یې داستقبال اخیستل کیږی لکه: (فَإِذَا جَآءَتِ ٱلطَّآمَّةُ ٱلْكُبْرَىٰ)[النازعات ٣٤]او یا (إِذَا جَآءَ نَصْرُ ٱللَّهِ وَٱلْفَتْحُ) یعنی کله چې راشی په راتلونکی وخت کی (١) (خلیفة) فعیل وزن او دفاعل په معنی چې (تا) لپاره دمبالغې دی او دخلیفة معنی نائب او دهغه څوک دی چې داحکامو په چلولو او دربانی اوامرو په تنفیذ مقرر وی الله ﷻ فرمایی (يَٰدَاوُۥدُ إِنَّا جَعَلْنَٰكَ خَلِيفَةً فِى ٱلْأَرْضِ)[ص: ٢٦] (یسفک) سفک وینوتو یولو او بهولو ته وایي او له وینو پرته دبل څه تویولو ته نه ویل کیږی په مصباح کی وایي چې (سفک الدم) معنی وینی یې توی کړې وې او باب یې ضرب (مفتوح العین) دی (نسبح) مو ږ تسبیح

---

(١) القرطبی ٢٢٢/١.

وایو د الله ﷻ ستاینه کوو ؛ تسبیح پاکي ستایلو ته وایي هغه چې له بدي څخه پاکی او تنزیه وی(۱) اصل د تسبیح له سبح څخه اخیستل شوی چې، هغه تګ او منډی ته وایی الله ﷻ فرمایی : (إِنَّ لَكَ فِي ٱلنَّهَارِ سَبۡحٗا طَوِيلٗا) [المزمل:۷] او څوک چې تسبیح وایی ګواکي د الله په تنزیه ستایلو کی روان وی (ونقدس) او موږ ستا سپیځلتیا کوو ، تقدیس پاکي او سپیځلتیا ته وایي او له هغه څخه ده (الارض المقدسة) و (وروح القدس) او ضد یې تنجیس او پلیتي ده د الله تقدیس معنی د هغه تعظیم او تمجید او له هغه څیز څخه پاکی چې ورسره نه ښایي په صحیح مسلم کی راځي چې رسول الله ﷺ په رکوع او سجده کي ویل (سبوح قدوس رب الملائکة والروح) (انبئوني) یعنی خبر راکړی (نباء) هغه زښته ګټوري ؛ ستري خبري ته وایي لکه چې الله ﷻ فرمایي (قُلۡ هُوَ نَبَؤٌاْ عَظِيمٌ) (تبدون) څرګندوی تاسو (تکتمون) پټوی تاسو او له دې څخه د علم اخفاء ده چې پټولو ته وایي.

تفسیر :

﴿وَإِذۡ قَالَ رَبُّكَ لِلۡمَلَٰٓئِكَةِ﴾ (او یاد کړه هغه وخت اې محمده !) چې وویل پروردګار ستا پرښتوته) او ستاقوم ته دغه نکل واوروه ! ﴿إِنِّي جَاعِلٞ فِي ٱلۡأَرۡضِ خَلِيفَةٗ﴾ (چې بیشکه زه ګرځوونکی یم په ځمکه کي دیوه خلیفه) هغه چې زما احکام تنفیذ کړي او یا یو قوم چې یو په بل پسی خلافت کوي له یوه نسل نه بل ته ،له یوې پیړۍ بلې ته دغه خلافت لیږدی ﴿قَالُوٓاْ أَتَجۡعَلُ فِيهَا مَن يُفۡسِدُ فِيهَا﴾ (او ویل دوی ایا ګرځوې په ځمکه کی هغه څوک چې فساد به کوی په دې کی) یعنی دوی د تعجب او معلوماتو تر لاسه کولو لپاره داسي وویل چې: څرنګه داسي څوک خلیفه ګرځوې چې په دوی کی به داسي کسان وی چې په ځمکه کی به په ګناهونو سره فساد کوی ؟ ﴿وَيَسۡفِكُ ٱلدِّمَآءَ﴾ او تویوی به وینی ، په ناحقه او تجاوز سره ﴿وَنَحۡنُ نُسَبِّحُ بِحَمۡدِكَ﴾ (او حال دا چې موږ تسبیح وایو سره د ثنا ستا ،له هغه څه څخه ستا تنزیه کوو کوم چې له تاسره نه ښایي ﴿وَنُقَدِّسُ لَكَ﴾ (او نسبت د پاکي کوو تاته) یعنی ستا امر سترګنو ستاذکر یاد له هغه څه څخه په پاکي ستا یو کوم چې ملحدونو پسی تړلی دی ﴿قَالَ إِنِّيٓ أَعۡلَمُ مَا لَا تَعۡلَمُونَ﴾ وویل الله ﷻ بیشکه زه پوهیږم په هغو اسرارو چې تاسي پرې نه پوهیږئ) او زه د خلیفه په پیدا کولو کی حکمت لرم چې تاسي ته معلوم نه دی ﴿وَعَلَّمَ ءَادَمَ ٱلۡأَسۡمَآءَ كُلَّهَا﴾ او وښودل آدم ته یې نومونه ټول ،ابن عباس ﷺ وایي چې د هر شي نوم یې ورو ښود آن تر دې چې کاسه او کاچوغه (چمچه) یې هم ورو ښودله ﴿ثُمَّ عَرَضَهُمۡ عَلَى ٱلۡمَلَٰٓئِكَةِ﴾ بیا یې وروړاندی کړل هغه ټول شیان پرښتوته (چې دوی عاجز کړي) ﴿فَقَالَ أَنۢبِـُٔونِي﴾ نو وی ویل خبر راکړی ماته ﴿بِأَسۡمَآءِ هَٰٓؤُلَآءِ﴾ په نومونو د دې شیانو سره، هغه چې تاسي یې وینی ﴿إِن كُنتُمۡ صَٰدِقِينَ﴾ (که چېری تاسی رښتیا ویونکی یاست) ستاسی په هغه ګومان

---

(۱) طلحه بن عبیدالله وایي چې ما له رسول الله ﷺ څخه وپوښتل چې د سبحان الله تفسیر څه دی ؟ ویل یې چې تنزیه له هري بدي څخه قرطبی ۳۷۲/۱ .

چې تاسو د خلافت حق درلود ونکی یاست ، لنډه دا چې الله ﷻ آدم ﷺ ته په هغه علم او پوهه فضیلت وروبښل کوم چې ملائکو ته یې نه وو ورکړی او له هغوی پرته یې آدم په بشپړ علم او پوهنه وناز اوو ځکه نو دوی هم په خپل عجز او قصور اعتراف وکړ. ﴿ قَالُوا سُبْحَانَكَ لَا عِلْمَ لَنَا إِلَّا مَا عَلَّمْتَنَا ﴾ وویل پرښتو نسبت د پاکی کوو تا ته نشته هیڅ علم موږ لره مگر هغه چې ښودلی دی تا موږ ته ﴿ إِنَّكَ أَنتَ الْعَلِيمُ ﴾ بیشکه هم دا ته ښه عالم (پوه) یې علیم هغه څوک چې هیڅ څني پټ نه وي ﴿ الْحَكِيمُ ﴾ او ښه د حکمت خاوند یې، هغه چې داسي هیڅ کار نکوي کوم چې د حکمت غوښتنه نه وی ﴿ قَالَ يَا آدَمُ أَنبِئْهُم بِأَسْمَائِهِمْ ﴾ وویل (الله) اې آدمه خبر کړه دوی په نومونو ددې شیانو ، هغه چې دوی یې له پوهیدلو عاجز شول او پخپل قصور یې اعتراف وکړ ﴿ فَلَمَّا أَنبَأَهُم بِأَسْمَائِهِمْ ﴾ کله چې (آدم) خبر ورکړو دوی ته په نومونو ددغو شیانو ، هر څیز یې پخپل نامه ونوماوو او دهغه دپیدا ښت حکمت یې هم بیان کړ ﴿ قَالَ أَلَمْ أَقُل لَّكُمْ إِنِّي أَعْلَمُ غَيْبَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ ﴾ وویل (الله) ایا مانه ؤو ویلی تاسو ته چې بیشکه زه پوهیږم په پټو شیانو د اسمانونو او ځمکي ﴿ وَأَعْلَمُ مَا تُبْدُونَ وَمَا كُنتُمْ تَكْتُمُونَ ﴾ او په هغو شیانو چې ښکاره کوئ یې تاسي او په هغو شیانو چې تاسي یې پټوی ،ستاسي له هغی دعوې نه چې وایاست الله تر تاسي بهتر مخلوق نه پیدا کوي روایت کیږی کله چې پرښتو (ملائکو) د حضرت آدم ﷺ د پیدا ښت عجیبه فطرت ولید نو یې وویل هر څه چې یې رضاوي هغه دی وشي خو هیڅکله به الله ﷻ داسي مخلوق پیدا نکړي چې تر موږ زیات عزتمن وی بلکه موږ به تر هغه په الله ﷻ باندي عزتمن یو (۱)

بلاغت:

۱ - تعرض د ربوبیت په عنوان لکه (وَإِذْ قَالَ رَبُّكَ) سره له اضافت کولو رسول ﷺ ته چې تشریف او تکریم څنی معلومیږی او کله چې جار او مجرور مقدم کړی شول ددي لپاره چې د مقدم په هکله اهتمام او دمؤخر لپاره تشویق افاده کړي. د الله ﷻ پدې قول کی (أَنبِئُونِي) دامر صیغه له خپل حقیقت څخه راوزي او تعجیز ، تبکیت یې معنی ده (۲) .

۲ - پدې قول دالله ﷻ کی چې فرمایی : (فَلَمَّا أَنبَأَهُم بِأَسْمَائِهِمْ)ایجاز بالحذف دی او تقدیر یې داسي راځي (فانبأهم بها فلما انبائهم) او حذف ددې لپاره شوی چې معنی یې فهمول کیږی.

۳ - په (ثُمَّ عَرَضَهُمْ) کي چې دنارینه عقلمندو لپاره جمع دي تغلیب راغلی که داسي نه وایي نو به یې فرمایل وو (ثم عرضها) یا (ثم عرضهن).

د اطناب صنعت دفعل په څرګندونه لکه پدې قول کی چې (إِنِّي أَعْلَمُ غَيْبَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ) او بیا (وَأَعْلَمُ مَا تُبْدُونَ) تر څو په خبر کی اهتمام راشي او دا تنبیه څرګنده شي چې دالله تعالی علم په ټولو شیانو احاطه کړې دي

(۱) مختصر ابن کثیر ۵۲/۱ ، ابو السعود ۷۹/۱.
(۲) دابو السعود څخه

۴ - طباق لکه پدې کلمو کې چې (مَا تُبْدُونَ) او (تَكْتُمُونَ) دی.

فوائد او ګټې:

لومړۍ فائده: ځينو علماوو ويلی دی چې دالله پدې اخبار کې چې ملائکوته يې کړی چې آدم پيدا کوی او په ځمکه کې يې خليفه ګرځوي بندګانوته تعليم او ښوونه ده چې تر پخواله کار کولو بايد مشوره تر سره کړي.

دوهمه فائده: دآدم ﷺ له خليفه ګرزولو څخه حکمت په بندګانو درحمت لورېينه ده نه دا چې الله محتاج ده ځکه بندګان خو بې واسطې نشی کولای دالله اوامر او نواهی له الله څخه تر لاسه کړی نو دالله له لطف، مرحمت او احسان څخه ده چې دوی ته يي له بني نوع بشر څخه استازی راوليږل.

دريمه فائده: حافظ ابن کثير وايي چې ملکو داقول چې (أَتَجْعَلُ فِيهَا مَن يُفْسِدُ فِيهَا...) په الله ﷻ داعتراض بنه نه لری او نه هم له بني آدم سره درخې او کينې نښه ده، بلکه دغه داستعلام او استکشاف پوښتنه ده چې پدې کې څه حکمت ده چې انسان پيدا کوې؟ سره له دې چې په دوی کې ځيني کسان په ځمکه کې فساد کوی(١)

په تسهيل کې وايي چې ملائکوته دغه خبر الله ﷻ ورښودلی ده چې بني آدم په ځمکه کې فساد کوی او چا بيا ويلی چې پخوا په ځمکه کې پيريانان وو او هغوی فساد کاوو چې بيا الله ﷻ ملائک ورته راواستول او پيريانان يې ووژل ملائکو په انسانانو هم دهغو پيريانانو اټکل کاوو (٢)

څلورمه فائده: له شعبي څخه وپوښتل شول چې ايا شيطان ښځه لری هغه ورته ويل ما داواده نه دی ليدلی بيا يې وويل چې کله ما ولوستل (أَفَتَتَّخِذُونَهُۥ وَذُرِّيَّتَهُۥٓ أَوْلِيَآءَ) نو وپوهيدم چې اولاد خو له مير مني پرته نه وی نو مي ورته وويل هو کي ښځه لري (٣)

الله تعالی فرمايي:

﴿ وَإِذْ قُلْنَا لِلْمَلَٰٓئِكَةِ ٱسْجُدُوا۟ لِءَادَمَ فَسَجَدُوٓا۟ إِلَّآ إِبْلِيسَ أَبَىٰ وَٱسْتَكْبَرَ وَكَانَ مِنَ ٱلْكَٰفِرِينَ ﴿٣٤﴾ وَقُلْنَا يَٰٓـَٔادَمُ
ٱسْكُنْ أَنتَ وَزَوْجُكَ ٱلْجَنَّةَ وَكُلَا مِنْهَا رَغَدًا حَيْثُ شِئْتُمَا وَلَا تَقْرَبَا هَٰذِهِ ٱلشَّجَرَةَ فَتَكُونَا مِنَ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٣٥﴾ فَأَزَلَّهُمَا
ٱلشَّيْطَٰنُ عَنْهَا فَأَخْرَجَهُمَا مِمَّا كَانَا فِيهِ ۖ وَقُلْنَا ٱهْبِطُوا۟ بَعْضُكُمْ لِبَعْضٍ عَدُوٌّ ۖ وَلَكُمْ فِى ٱلْأَرْضِ مُسْتَقَرٌّ وَمَتَٰعٌ إِلَىٰ حِينٍ ﴿٣٦﴾
فَتَلَقَّىٰٓ ءَادَمُ مِن رَّبِّهِۦ كَلِمَٰتٍ فَتَابَ عَلَيْهِ ۚ إِنَّهُۥ هُوَ ٱلتَّوَّابُ ٱلرَّحِيمُ ﴿٣٧﴾ قُلْنَا ٱهْبِطُوا۟ مِنْهَا جَمِيعًا ۖ فَإِمَّا يَأْتِيَنَّكُم مِّنِّى هُدًى فَمَن
تَبِعَ هُدَاىَ فَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ ﴿٣٨﴾ وَٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ وَكَذَّبُوا۟ بِـَٔايَٰتِنَآ أُو۟لَٰٓئِكَ أَصْحَٰبُ ٱلنَّارِ ۖ هُمْ فِيهَا خَٰلِدُونَ
﴿٣٩﴾ ﴾ البقرة: ٣٤ - ٣٩

(١) مختصر ابن کثير ۴۹/١.
(٢) مختصر ابن کثير ۴۹/١.
(٣) محاسن التاويل ١٠۴/٢.

مناسبت او تړاو:

په تیرو آیتونو کی اشاره شوې ده چې الله ﷻ حضرت آدم ﷺ په خلافت غوره کړ او همدارنګه هغه ته بې پریمانه علم او پوهه ورکړه او پدې آیتونو کی دیو بل تکریم یادونه زیاته شوه چې هغه ته دملائکو سجده او هغوی ته په دې امر کیدل وو او دا دعزت او تکریم لپاره تر ټولو څرګند مثال دی چې بنی نوع بشر ته الله ﷻ وربښلی دی.

لغتونه:

(اسجدوا) سجده په اصل کی کږوالي (انحنا) ته وايي چې دچا دعزت او تعظیم لپاره کول کیږی او په لغت کی عاجزی او خضوع او په اصطلاح کی تندی په مځکه لګولو ته سجده وايي (ابلیس) دشیطان نوم او عجمی دی او له ابلاس څخه راغلی یأس او نا امیدي ته وايي. (أبى) له ابا څخه راغلی او امتناع ته وایی هر هغه کار چې کول یې ممکن خو څنې منع کوي دغه ته ابا وايي (استکبر) له استکبار نه اخستل شوی او کبر غرور ته وايي (رغداً) هغه پراخ او ډیر ته وايي چې څه تکلیف پکې نه وی درزق پراخی ته هم رغد وايي (فازلهما) په اصل کی له زلل څخه اخیستل شوی او هغه ښوئیدلو ته وايي لکه چې ویل کیږی (زلت قدمه) کله چې یې پښه وښوئیږی او بیا مجازا دګناه په کولو کی استعمال شو لکه چې وايي سړی وښوئیدو کله چې داسې کار وکړی چې دکولو نه وی او یا هغه یې وښویول چې یو ځوک یې وغولوي یا تیر باسي.(١) (مستقر) دآرام او کرار ځای (متاع) هر هغه شی ته ویل کیږی چې سړی ورباندی ګټه اخلی لکه خوراک څښاک او لباس (فتلقى) تلقی په اصل کی استقبال ته وايي لکه چې ځوک ووايی: (خرجنا نتلقى الحجيج) ددی لپاره راووتلو چې دحاجیانو استقبال وکړو او بیا دیو شي په اخیستلو او قبلولو کی استعمال شوه لکه چې وايي (تلقيت الرسالة من فلان) یعنی ما مکتوب له فلاني څخه واخیست اوومې منل (فتاب) توبه یې قبوله کړه، توبه په اصل لغت کی رجوع ته وايي که چیرې د(عن) په توري متعدی شوی وه نو له ګناه څخه رجوع یې معنا ده او که د(على) په توري متعدی وه بیا یې دقبلولو معنا کیږی.

تفسير:

﴿وَإِذْ قُلْنَا لِلْمَلَٰٓئِكَةِ﴾ او (یاد کړه اې محمده! خپل قوم ته) کله چې وویل موږ پرښتو ته ﴿ٱسْجُدُواْ لِأَدَمَ﴾ چې سجده وکړی آدم ته، دتعظیم او احترام سجده نه دعبادت ﴿فَسَجَدُوٓاْ إِلَّآ إِبْلِيسَ﴾ پس سجده وکړه دوی ټولو پرته له ابلیس نه ﴿أَبَىٰ وَٱسْتَكْبَرَ﴾ منع یې راوړه او لویې یې وکړه ﴿وَكَانَ مِنَ ٱلْكَٰفِرِينَ﴾ او وو دې (لا له پخوا دالله په علم کې) له کافرانو څخه یعنی په همدې منع او استکبار سره له کافرانو څخه وګرځیدو ځکه دالله ﷻ امر یې دسجدې کولو په هکله ونه مانو ﴿وَقُلْنَا يَٰٓـَٔادَمُ ٱسْكُنْ أَنتَ وَزَوْجُكَ ٱلْجَنَّةَ﴾ (او وویل موږ اې آدمه واوسیږه ته او ښځه ستا (حواء) په جنت کې ﴿وَكُلَا مِنْهَا رَغَدًا﴾ او خورئ له میوو دجنت څخه پریمانه، څه

(١) مختصر الطبري ١/٤٢.

چې موزره غواړي ﴿ حَيْثُ شِئْتُمَا ﴾ هر چېرته چې مو خوښه وی، چې هلته يې وخورئ ﴿ وَلَا تَقْرَبَا هَٰذِهِ الشَّجَرَةَ ﴾ (او مه نژدې کيږئ دې ونې ته) يعنی له دې ونی څخه ميوه مه خورئ ابن عباس وايي چې هغه دانګور ونه وه ﴿ فَتَكُونَا مِنَ الظَّالِمِينَ ﴾ که نژدې شوئ نو شئ به له ظالمانو څخه، هغه کسان چې ځانونه يې د الله څخه دعصيان په کولو ظالمان جوړ کړی او پخپلو ځانو نو يې ظلم کړی وی ﴿ فَأَزَلَّهُمَا الشَّيْطَانُ عَنْهَا ﴾ پس وښويول دوی دواړو لره شيطان له جنته، او که چېرې دعنها ضمير ونې ته راجع شي نو معنا يې داده چې وښويول شيطان دوی دواړو لره په سبب دخوړلو له هغې ونې څخه ﴿ فَأَخْرَجَهُمَا مِمَّا كَانَا فِيهِ ﴾ نو راوېې ايستل دوی دواړه له هغو نعمتونو څخه چې دوی پکې وو ﴿ وَقُلْنَا اهْبِطُوا ﴾ (او موږ وويل چې کوز شئ) له جنت نه مځکې ته او خطاب آدم ﷺ، حواء ﵂ او ابليس لعين ته دی ﴿ بَعْضُكُمْ لِبَعْضٍ عَدُوٌّ ﴾ حال دا چې ځنې ستاسي به له ځينو نورو سره دښمنان وی يعنی شيطان به ستاسو او تاسو به دهغه دښمنان ياست بل ځای فرمايي: ﴿ إِنَّ الشَّيْطَانَ لَكُمْ عَدُوٌّ فَاتَّخِذُوهُ عَدُوًّا ﴾ [فاطر: ٦] ﴿ وَلَكُمْ فِي الْأَرْضِ مُسْتَقَرٌّ ﴾ تاسي ته په مځکه کی ځای دهستوګني دی ﴿ وَمَتَاعٌ إِلَىٰ حِينٍ ﴾ (او اسباب دګټې اخيستلو تر يو وخته، چې اجل يا قيامت دی ﴿ فَتَلَقَّىٰ آدَمُ مِن رَّبِّهِ كَلِمَاتٍ ﴾ يعنی واخيستی آدم له خپل رب نه دعا ګانې، چې الله ورته الهام کړې وې او بيا يې هغه لوستلې او دغه کلماتې پخپل ځای کی په تفصيلی توګه راغلی چې داعراف سورت دا آيتونه دی: ﴿ قَالَا رَبَّنَا ظَلَمْنَا أَنفُسَنَا ﴾ [الأعراف: ٢٣] ﴿ فَتَابَ عَلَيْهِ ﴾ پس قبوله کړه (الله) توبه دده ﴿ إِنَّهُ هُوَ التَّوَّابُ الرَّحِيمُ ﴾ بيشکه الله تعالی ډير توبه قبلونکی دی دپراخ رحمت څښتن دی ﴿ قُلْنَا اهْبِطُوا مِنْهَا جَمِيعًا ﴾ (وويل موږ چې کوز شئ له جنته ټول) دکښته کيدلو امرېې تکرارې دتاکيد لپاره راوړی او بل دا څرګندونه چې دآدم ﷺ او داولادې هستوګنځي به يې په مځکه کښې وي نه په جنت کښې (۱)

﴿ فَإِمَّا يَأْتِيَنَّكُم مِّنِّي هُدًى ﴾ (پس که راغی تاسي ته له مانه کوم هدايت) چې رسول درته استوم او کتاب درباندی نازلوم ﴿ فَمَن تَبِعَ هُدَايَ ﴾ پس هر څوک چې پيروی وکړي زما دهدايت، په ما ايمان راوړي او په امر مي عمل وکړي ﴿ فَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ ﴾ پس نه به وی هيڅ ويره په دوی باندی او نه به وی دوی غمګين او خپه په آخرت کی ﴿ وَالَّذِينَ كَفَرُوا وَكَذَّبُوا بِآيَاتِنَا ﴾ او هغه کسان چې کافران شوی او دروغ ګڼی آيتونه زموږ، يعنی زموږ پيغمبران او کتابونه نه مني ﴿ أُولَٰئِكَ أَصْحَابُ النَّارِ ۖ هُمْ فِيهَا خَالِدُونَ ﴾ هم دغه کسان څښتنان داور دی همدوی به په هغه کی هميشه وی، چې دوزخ دی الله ﷻ مودي ځنی وژغوري.

(۱) دغه دجلالين دمفسرينو غوره ده او لومړئ رايه طبری غوره ګڼلې ده.

بلاغت:

۱. دجمعې صيغه په دې کلمه کې (وَإِذْ قُلْنَا) دتعظيم لپاره دی او په هغې کلمې عطف کړل شوی چې فرمايي: (وَإِذْ قَالَ رَبُّكَ) پدې کې له غائب نه متکلم ته التفات دی چې دجلال او مهابت څرګندونه کوي.

۲. په دې کلمه کې چې (فَسَجَدُوٓا۟) ده (فا) دامر دامتثال دچټکتيا لپاره راوړل شوې يعني سمدستي يې سجده وکړه او ځنډيې ونکړ.

۳. همدا راز په آيت شريف کی ايجاز بالحذف دی چې يوازي (فَسَجَدُوٓا۟) راغلی تقدير يې داسي کيږي چې (فَسَجَدُوٓا۟ له) بل دا چې د (أبی) مفعول محذوف دی او هغه دا چې (أبی السجود).

۴. دا وينا چې فرمايي: (وَلَا تَقْرَبَا هَٰذِهِ ٱلشَّجَرَةَ) منع خو دميوې له خوړلو څخه ده او دلته له قرب څخه منع راغلې چې له خوړلو څخه يې زښته زياته منع ده ځکه دنژديکت څخه منع خو له خوړلو څخه زياته او په اولی طريقه سره ده لکه چې دزنا په باب فرمايي: (وَلَا تَقْرَبُوا۟ ٱلزِّنَىٰٓ) ځکه زنا ته دنږدې کيدلو څخه منع دوسائلو غوڅول دی تر څو دزنا مرتکب نشي.

۵. پدې کلام سره تعبير چې: (مِمَّا كَانَا فِيهِ) ابهام ددې لپاره دي چې دهغې سوکالي او نعمتونو په ستر والی دلالت وکړی که ويل شوی وای (من الجنة او من النعيم) دومره ښکلا به يې نه وای ځکه دبلاغت اسلوب دادی چې کله ديوشي په سترتوب او عظمت دلالت مقصود وی هغه مبهم ذکر کوی لکه (مِمَّا كَانَا فِيهِ) تر څو اوريدونکی دهغې وروستی مرحلې چې له هغې زيات امکان نلری تصور وکړي.

۶. (إِنَّهُۥ هُوَ ٱلتَّوَّابُ ٱلرَّحِيمُ) دواړه صفات دمبالغې له صيغو څخه دی چې زيات توبه قبلونکی او دپريمانه رحمت خاوند يې معناده.

فوائد او ګټې:

لومړی فائده: څرنګه له الله ﷻ څخه پرته بل چاته سجده کول صحيح دی؟ ځواب دا چې دملائکو سجده حضرت آدم ته دتحيې او تعظيم لپاره وه او عبادت پکې مقصود نه وو ، زمخشري وايي: سجده الله ﷻ ته دعبادت په وجه ده او نوروته دتعظيم او تکريم لپاره لکه دملائکو سجده آدم ته او يا هم ديوسف ﷺ دپلار او ورونو سجده حضرت يوسف ﷺ ته.[۱]

دوهمه فائده: ځينو عارفانو ويلی دی چې په پخواني عنايت او لوربينه کی دجنايت پيښيدل څه اغيزه نکوی او نه هم دولايت له رتبې څخه لويږی دآدم ﷺ مخالفت کوم چې دهغه په سبب له جنت نه راوايستل شو خو

(۱) الکشاف ۹۵/۱.

هغه يي د خلافت له رتبې څخه ونه غورځاوو بلکه نورهم الله ورباندې پيرزوينه وکړه چې فرمايي: (ثُمَّ ٱجْتَبَٰهُ رَبُّهُۥ فَتَابَ عَلَيْهِ وَهَدَىٰ).

دريمه فائده: ايا ابليس دملائکو له ډلې څخه وو ؟ مفسرين پدې کې اختلاف لرې څوک وايي چې هغه دملکو څخه وو ځکه استثنا هم داسي راغلې چې (فَسَجَدُوٓاْ إِلَّآ إِبْلِيسَ) چا بيا ويلې چې دلته استثناء منقطع ده او ابليس له پيريانو څخه دی او همدا قول قتاده او حسن رحمهما الله کړی چې زمخشري غوره کړی دی حسن بصری وايي چې يوه شيبه هم ابليس دملايکو څخه نه دی ګڼل شوی او موږ هم دوهم قول ته ترجيح ورکوو ځکه ۱- ملائک له ګناه او معصيت څخه پاک دی (لَّا يَعْصُونَ ٱللَّهَ مَآ أَمَرَهُمْ) [التحريم:۶] او ابليس خو دالله تعالی معصيت او سر غړونه وکړه ۲- ملائکي له نور څخه پيدا شوی او شيطآن له اور څخه نو ددوی طبيعتونه يو له بله مخالف دی ۳- داچې ملائکی ذوذات او نسل نلری او شيطآن نسل او ذريه لری لکه چې الله فرمايي: (أَفَتَتَّخِذُونَهُۥ وَذُرِّيَّتَهُۥٓ أَوْلِيَآءَ مِن دُونِى) [الکهف: ۵۰] ۴- دابليس په هکله صريح نص هم راغلی چې له جن څخه دی او هغه دا چې: (كَانَ مِنَ ٱلْجِنِّ فَفَسَقَ عَنْ أَمْرِ رَبِّهِۦٓ) [الکهف: ۵۰] او دغه دليل او برهان کفايت کوی.(۱)

الله تعالی فرمايي:

﴿يَٰبَنِىٓ إِسْرَٰٓءِيلَ ٱذْكُرُواْ نِعْمَتِىَ ٱلَّتِىٓ أَنْعَمْتُ عَلَيْكُمْ وَأَوْفُواْ بِعَهْدِىٓ أُوفِ بِعَهْدِكُمْ وَإِيَّٰىَ فَٱرْهَبُونِ ﴿۴۰﴾ وَءَامِنُواْ بِمَآ أَنزَلْتُ مُصَدِّقًا لِّمَا مَعَكُمْ وَلَا تَكُونُوٓاْ أَوَّلَ كَافِرٍۭ بِهِۦ ۖ وَلَا تَشْتَرُواْ بِـَٔايَٰتِى ثَمَنًا قَلِيلًا وَإِيَّٰىَ فَٱتَّقُونِ ﴿۴۱﴾ وَلَا تَلْبِسُواْ ٱلْحَقَّ بِٱلْبَٰطِلِ وَتَكْتُمُواْ ٱلْحَقَّ وَأَنتُمْ تَعْلَمُونَ ﴿۴۲﴾ وَأَقِيمُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتُواْ ٱلزَّكَوٰةَ وَٱرْكَعُواْ مَعَ ٱلرَّٰكِعِينَ ﴿۴۳﴾﴾ البقرة: ۴۰ - ۴۳

مناسبت او تړاو:

ددې آيت له پيل څخه بيا تر ۱۴۲ آيت پورې دبني اسرائيلو په باب خبرې دی قرآنکريم له دوی څخه ډير په تفصيل غږيدلی چې تقريبا يوه سيپاره تشکيلوي او دا پدې چې قرآنکريم ديهودو دحقائقو په څرګندولو او لوڅولو کی پوره پاملرنه کړی ددوی ټګی برګی ، پليتي او نور شرارتونه يې ښکاره کړی تر څو مسلمانان له دوی څخه ووېروي او مناسبت ددې آيتونو له پخوانيو سره دا چې کله الله ﷻ انسانان خپل عبادت او توحيد ته وبلل او څرګند دلائل يې په خپل وجود او وحدانيت ورته واورول بيا يې هغه نعمتونه ورپه ياد کړل کوم چې ددوی په پلار حضرت آدم ﷺ يې لورولی وو نو بيا يې بني اسرائيل او په ځانګړي توګه يهودان ايمان ته راوبلل چې په خاتم الانبياء او هغه کتاب چې ده راوړی ايمان راوړی ځکه دا ددوی په کتاب (تورات) کی ليکل شوی مومي او په ډول ډول يې له دوی سره مخاطبه کړی کله يې په نرمي او پسته ژبه رابللی کله يې ويرولی او کله يې دنعمتونو

(۱) زموږ په کتاب النبوة والانبياء کې مفصل تحقيق وګوره.

وریه یادولو په شکل کې اوبیایي پردوي باندې ددوی دبدواعمالو په کولو دلائل راوړي او هغوی یې ترټلي او توبیخ کړی دی او دا ډول آیتونه دعمومي نعمتونو یادولو څخه چې دبشریت په پلار الله ﷻ لوړولي وو ځانګړو نعمتونو ته چې بني اسرائیلو ته یې ورکړي انتقال کوي.

لغتونه:

(اسرائیل) عجمي نوم او معنی یې عبدالله یعنی دالله بنده ده او دا دحضرت یعقوب ﷺ نوم دی چې دآل عمران په سورت کې په صراحت ذکر شوی ﴿إِلَّا مَا حَرَّمَ إِسْرَٰٓءِيلُ عَلَىٰ نَفْسِهِۦ﴾ [آل عمران: ۹۳] (اوفوا) وفا وکړې وفا یو شی په بشپړه توګه راوړلو ته وایي ، وایي چې (وفیٰ) یعنی په بشپړه توګه یې ترسره کړ (تلبسوا) لبس خلط او ګډیدلو ته وایي لکه چې وایي (لبس الشئ) یعنی ګډ او خلط شو الله فرمایي: ﴿وَلَلَبَسْنَا عَلَيْهِم مَّا يَلْبِسُونَ﴾ [الأنعام: ۹] په صراح کې وایي (لبس الثوب) جامه یې واغوسته د تعب له باب څخه او مصدر یې لبسا راځي چې مضموم العین ده او (لبست علیه الأمر) چاره مي ورته ګډه وډه کړه دضرب له باب څخه دی چې مصدر یې مفتوح العین دی معنی یې خلط او ګډیدل دی (الزکاة) له (زکا الزرع یزکو) څخه اخیستل شوی چې وده کولو او نما ته وایي ځکه چې دزکات ایستل مال ته وده ورکوی او یا هم له زکات څخه اخیستل شوی چې پاکي ته وایي ځکه زکات مال پاکوي لکه چې الله تعالی فرمایي: ﴿خُذْ مِنْ أَمْوَٰلِهِمْ صَدَقَةً تُطَهِّرُهُمْ وَتُزَكِّيهِم بِهَا﴾ [التوبة: ۱۰۳]

تفسیر:

﴿يَٰبَنِىٓ إِسْرَٰٓءِيلَ﴾ اې دصالح نبي حضرت یعقوب ﷺ زامنو ﴿ٱذْكُرُوا۟ نِعْمَتِىَ ٱلَّتِىٓ أَنْعَمْتُ عَلَيْكُمْ﴾ (یاد کړی نعمت زما هغه چې ما انعام کړی دی په تاسو) او ستاسو په پلرونود ومره ډیر نعمتونه چې شمیر یې نه کیږي ﴿وَأَوْفُوا۟ بِعَهْدِىٓ﴾ (وفا وکړی په عهدزما) کوم څه چې تاسو عهد کړی وو دایمان او طاعت هغه بشپړ پرځای کړی ﴿أُوفِ بِعَهْدِكُمْ﴾ (چې زه هم وفا وکړم په عهد ستاسي) کوم چې ما تاسو سره دنیک ثواب عهد کړی ﴿وَإِيَّٰىَ فَٱرْهَبُونِ﴾ (او خاص له مانه پس وویریږی) نه له بل چا څخه ﴿وَءَامِنُوا۟ بِمَآ أَنزَلْتُ﴾ (او ایمان راوړی په هغه کتاب چې نازل کړی دی ما) یعنی قرآنکریم ﴿مُصَدِّقًا لِّمَا مَعَكُمْ﴾ حال دا چې تصدیق کوونکی دی دهغه کتاب چې تاسو سره دی یعنی دنبوت او توحید په امورو کې دتورات تصدیق کوي ﴿وَلَا تَكُونُوٓا۟ أَوَّلَ كَافِرٍۭ بِهِۦ﴾ (او مه کیږئ لمړی کافران په هغه) ستاسو حق خو دادی چې په دې کتاب لومړی ایمان راوړنکی یاست ﴿وَلَا تَشْتَرُوا۟ بِـَٔايَٰتِى ثَمَنًا قَلِيلًا﴾ (او مه پیرئ (اخلئ) په آیتونو زما بیه لږ) یعنی زما په آیتونو ددنیا ناڅیز مال مه بدلوی ﴿وَإِيَّٰىَ فَٱتَّقُونِ﴾ او خاص له مانه پس وویریږی نه بل چا څخه ﴿وَلَا تَلْبِسُوا۟ ٱلْحَقَّ بِٱلْبَٰطِلِ﴾ او مه ګډوی حق له باطل سره ، یعنی هغه دالله ﷻ نازل شوی حق له هغه ستاسو له ځانه جوړشوی باطل سره مه ګډوی

او هغه څه چې په تورات کې دی په هغه بهتان چې تاسو له ګیډي جوړ کړی مه ګډوی ﴿ وَتَكْتُمُوا الْحَقَّ ﴾ او مه پټوی حق، کوم چې ستاسي په کتاب کې د پیغمبر (محمد ﷺ) صفتونه راغلی ﴿ وَأَنتُمْ تَعْلَمُونَ ﴾ او حال دا چې تاسو پوهیږی، په تاوان او ضرر دپټولو ﴿ وَأَقِيمُوا الصَّلَاةَ وَآتُوا الزَّكَاةَ وَارْكَعُوا مَعَ الرَّاكِعِينَ ﴾ او سم قائموی لمونځ او ورکوی زکات او رکوع وکړی سره له رکوع کونکو، یعنی هغه فرائض چې لمونځ او زکات دی پر ځای کړی او له نورو لمونځ کوونکو سره یو ځای په جماعت لمونځ کوی یا هم د پیغمبر له ملګرو (اصحابو) سره یو ځای لمونځ کوی.

بلاغت:

۱ - د نعمت نسبت الله ته د نعمت د ښه والی لوی والی او قدر من توب په معنا ده لکه بیت الله، ناقة الله.

۲ - (وَلَا تَشْتَرُوا بِآيَاتِي) دلته حقیقي پیرودنه (اخیستل) مراد نه ده بلکه په مجازي توګه راغلی لکه چې په

﴿ أُولَٰئِكَ الَّذِينَ اشْتَرَوُا الضَّلَالَةَ بِالْهُدَىٰ ﴾ کې راغلې.

۳ - د حق کلمه په تکراري ډول راوړل شوی لکه: (تَلْبِسُوا الْحَقَّ ، وَتَكْتُمُوا الْحَقَّ) چې د منع شوی په باب تاکید راشي ځکه کوم څیز چې په صراحت سره ذکر شي تر هغه لوړ دی چې په ضمیر سره یاد شي او د غه اطناب ته تر نورو لوړ وايي.

۴ - (وَارْكَعُوا مَعَ الرَّاكِعِينَ) پدې کې مرسل مجاز دی ځکه ذکر د جزء او مراد ځني کل دی دلته رکوع او راکعین راغلی چې مراد تري لمونځ او لمونځ کوونکی دی.

۵ - (وَإِيَّايَ فَارْهَبُونِ ، وَإِيَّايَ فَاتَّقُونِ) اختصاص او ځانګړتیا څرګندوی.

ګټې او فائدې:

ځیني عارفانو ویلی دی چې بندګان په دوه ډوله دی یو د نعمت بندګان او یو هم د نعمت ورکونکي (منعم) بندګان د منعم بندګان لږ وي لکه چې الله ﷻ بني اسرائیلو ته خپل نعمتونه ورپه یاد کړل تر څو چې د منعم نعمت وپیژني ویې فرمایل: (اذْكُرُوا نِعْمَتِيَ) او د محمد ﷺ امت ته یې د منعم ور په یادول وښودل چې: (فَاذْكُرُونِي أَذْكُرْكُمْ) تر څو له منعم څخه نعمت وپیژني او دا دواړه ډیر سره لیری دی.

الله تعالی فرمايي:

﴿ أَتَأْمُرُونَ النَّاسَ بِالْبِرِّ وَتَنسَوْنَ أَنفُسَكُمْ وَأَنتُمْ تَتْلُونَ الْكِتَابَ ۚ أَفَلَا تَعْقِلُونَ (۴۴) وَاسْتَعِينُوا بِالصَّبْرِ وَالصَّلَاةِ ۚ وَإِنَّهَا لَكَبِيرَةٌ إِلَّا عَلَى الْخَاشِعِينَ (۴۵) الَّذِينَ يَظُنُّونَ أَنَّهُم مُّلَاقُو رَبِّهِمْ وَأَنَّهُمْ إِلَيْهِ رَاجِعُونَ (۴۶) يَا بَنِي إِسْرَائِيلَ اذْكُرُوا نِعْمَتِيَ

ٱلَّتِىٓ أَنْعَمْتُ عَلَيْكُمْ وَأَنِّى فَضَّلْتُكُمْ عَلَى ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿٤٧﴾ وَٱتَّقُوا۟ يَوْمًا لَّا تَجْزِى نَفْسٌ عَن نَّفْسٍ شَيْـًٔا وَلَا يُقْبَلُ مِنْهَا شَفَٰعَةٌ وَلَا يُؤْخَذُ مِنْهَا عَدْلٌ وَلَا هُمْ يُنصَرُونَ ﴿٤٨﴾ ﴾ البقرة: ٤٤ - ٤٨

مناسبت او تړاو:

اوس هم آيتونه دبني اسرائيلو کړه وړه بيانوی او پدې آيتونو کی ددوی دهغو بدو کارونو يادونه ده چې دوی به خلکوته دخير کارونه وربنودل خو پخپله يې نه کول خلک به يې سمي لارې او هدايت ته رابلل مګر پخپله يې سمه لاره نه نيوله.

لغتونه:

(بالبر) بر نيکی ته وايي دا دټولو ښو کارونو لپاره نوم دی او کله چې وايي (بر الوالدين) مراد ځنی دهغوی امر منل دی په حديث شريف کې راځي (البر لا يبلیٰ والذنب لاينسیٰ)نيکي نه زړيږي او ګناه نه هېريږي (وتنسون) پريږدی مراد له نسيان نه پريښودل دی لکه چې الله فرمايي: (نسوا الله فنسيهم) او دلته هم دامراد دی دغه رنګه نسيان هيری ته وايي لکه چې الله فرمايي: (فنسي ولم نجد له عزما) (تتلون) لولی او تدريس کوی (الخاشعين) خاضع متواضع ته وايي چې له ذلت او استکانت څخه اخيستل کيږي زجاج وايي چې خاشع هغه چاته وايي چې دذلت اثر وربا ندی ځرګند وی او ددې آيت چې فرمايي (وخشعت الاصوات) معنی داده چې کرار شي ږغونه (۱) (يظنون) ظن دلته ديقين په معنی ده نه دشک په معنی او داله اضدادو څخه ګڼل کيږی او عبيد وايي چې عرب يقين ته ظن وايي او شک ته هم ظن وايي (۲) او په يقين کې يې استعمال زيات ده لکه چې الله فرمايي: (اني ظننت اني ملاق حسابيه) او (فظنوا انهم مواقعوها) (شفاعة) شفاعت له شفع څخه چې دوتر ضد دی اخيستل شوی او هغه ديو بل چا پيوسته کول دی چې ستا وسيله شي څکه يې شفاعت بولی او دا دشفيع درتبې اظهار او څرګندول هم دی چې هغه يې دمشفع په وړاندی لری (عدل) دعين توری په فتحه سره بدل (فداء) ته وايي او دعين توري په کسره سره بيا مثل او ساري ته وايي لکه(عدل وعديل لک) يعنی ستا سيال ،ساری (انډيوال) دی

دنزول سبب:

دغه آيتونو ديهودانو دځينو عالمانو په باب نازل شوی هغوی چې به خپلو خپلوانو ته کومو چې ايمان يې راوړی وو ويل د (محمد ﷺ) په دين ثبات او استقامت وکړی چې هغه حق دی مګر پخپله يې ايمان نه راووړ (۳)

(۱) القرطبي ۳۷۴/۱.
(۲) مجاز القرآن ص ۳۹.
(۳) الصاوی ۳۲/۱.

تفسير:

الله تعال دیهودانو علماوو ته خطاب کوی او دتوبیخ په ډول ورته فرمایي ﴿ أَتَأْمُرُونَ ٱلنَّاسَ بِٱلْبِرِّ وَتَنسَوْنَ أَنفُسَكُمْ ﴾ (ایا امر کوئ خلکو ته په نیکي او پرېږدئ خانونه خپل) یعنی تاسو خلک ښیګڼي او په محمد باندی ایمان راوړلو ته رابولئ او خپل ځانونه پرېږدئ د خیر ښیګڼي کار نه کوئ ﴿ وَأَنتُمْ تَتْلُونَ ٱلْكِتَٰبَ ﴾ حال دا چې تاسي لولئ کتاب (تورات) او په هغه کی دمحمد ﷺ نعت او صفت شته ﴿ أَفَلَا تَعْقِلُونَ ﴾ ایا تاسو نه پوهیږئ (چې دابدکار دی ؟) نو هسي مه کوئ بیا الله ﷻ دوی ته په شهوتونو دبری لاره وروښودله چې څرنګه (دجاه او سلطنت ، ریاست له محبت څخه ځانونه وژغورې ویې فرمایل: ﴿ وَٱسْتَعِينُوا۟ ﴾ مرسته وغواړئ ! په ټولو امورو کي ﴿ بِٱلصَّبْرِ وَٱلصَّلَوٰةِ ﴾ په صبر (زغم) او لمانځه سره یعنی هغه شرعي تکالیف وزغمئ او لمنځونه ادا کوئ چې هغه ددین ستني دی ﴿ وَإِنَّهَا ﴾ او بیشکه دا لمونځ ﴿ لَكَبِيرَةٌ ﴾ سخت او دروند دی ﴿ إِلَّا عَلَى ٱلْخَٰشِعِينَ ﴾ مګر نه په عاجزی کوونکو باندی هغوی چې نفسونه یې دالله لپاره سپیځلی شوی وی ﴿ ٱلَّذِينَ يَظُنُّونَ ﴾ هغه کسان چې (پوخ) یقین کوی کوم شک ورسره نه وی ﴿ أَنَّهُم مُّلَٰقُوا۟ رَبِّهِمْ ﴾ چې بیشکه دوی مخامخ کیدونکی دی له رب خپل سره ،چې بیا هغه ددوی په اعمالو جزا ورکوي ﴿ وَأَنَّهُمْ إِلَيْهِ رَٰجِعُونَ ﴾ (او بیشکه دوی هغه ته رجوع کوونکی وی) یعنی دقیامت په ورځ هغه ته ورتلونکی دی بیا الله ﷻ دخپلو بی شمیره نعمتونو ورپه یاد ولو ورته داسي وویل ﴿ يَٰبَنِىٓ إِسْرَٰٓءِيلَ ٱذْكُرُوا۟ نِعْمَتِىَ ٱلَّتِىٓ أَنْعَمْتُ عَلَيْكُمْ ﴾ اې بني اسرائیلو (دیعقوب ؑ اولادې) یاد کړئ نعمت زما هغه چې انعام مي کړی په تاسو یعنی شکر دنعمت په طاعت کولو ادا کړئ ﴿ وَأَنِّى فَضَّلْتُكُمْ ﴾ چې بیشکه ما غوره کړی پلرونه ستاسو ﴿ عَلَى ٱلْعَٰلَمِينَ ﴾ دخپلی زماني په خلکو چې انبیاء مي ورته رااستولې او کتابونه می پرې نازل کړی پاچهان او سرداران می ګرزولی او دغه دپلرونو نعمت ددوی دشرافت نښه ده .

﴿ وَٱتَّقُوا۟ يَوْمًا لَّا تَجْزِى نَفْسٌ عَن نَّفْسٍ شَيْـًٔا ﴾ (او ووېرېږئ له هغې ورځی چې لیري کولی به نشي هیڅ نفس له هیڅ نفس څخه هیڅ شی) له حقوقو څخه ﴿ وَلَا يُقْبَلُ مِنْهَا شَفَٰعَةٌ ﴾ او نه به منل کیدی شی له دغه نفس څخه شفاعت دکافر په هکله کوم چې په الله ﷻ کافر وی ﴿ وَلَا يُؤْخَذُ مِنْهَا عَدْلٌ ﴾ او وابه نه خیستل شي له دغه نفس نه بدل (فدیه) ﴿ وَلَا هُمْ يُنصَرُونَ ﴾ او نه به له دوی سره مدد وکړی شي چې دالله ﷻ له عذاب څخه یې وژغوري.

بلاغت:

۱ - (أَتَأْمُرُونَ) استفهام دی او له خپل حقیقت څخه یې توبیخ ته رااېستلي دي.

۲ - د (أَتَأْمُرُونَ) په کلمه کې د مضارع صیغه راوړل شوه که څه هم دا عمل خو دوی پخوا تر سره کړی وو څکه د مضارع صیغه په تجدد او حدوث دلالت کوی او د فعل له ترک او پرېښودلو څخه یې په نسیان تعبیر وفرمایل چې: (وَتَنسَوْنَ أَنفُسَكُمْ) څکه دا په پرېښودلو کې مبالغه ده لکه چې هیڅ یې په خاطر کې هم نه ورتیریږی او دا چې وروسته یې حالیه جمله راوړه لکه (وَأَنتُمْ تَتْلُونَ ٱلْكِتَٰبَ) پدې کې هم توبیخ او تقریع نغښتې شوې ده.

۳ - (وَأَنِّي فَضَّلْتُكُمْ عَلَى ٱلْعَٰلَمِينَ) دغه عطف د خاص په عام باندی بللی شوي څکه یو ځل خو په (اذکروا نعمتي) کې واړه (ګرد) نعمتونه ذکر شول او بیا یې دغه ځانګړي نعمت راووړ.

۴ - (وَٱتَّقُوا۟ يَوْمًا) دیوم تنکیر د شدت او هیبت لپاره دي او د نفس نکره ذکر کول پدې کلمه کې چې (نَفْسٌ عَن نَّفْسٍ) د عموم د افاده کولو او بشپړه ناهیلي د پاره راوړل شوی دی.

ګټې او فائدې:

لومړۍ ګټه: قرطبي وايي څرنګه چې لمونځ يې په ځانګړی توګه ذکر کړی چې د هغه د اهمیت څرګندونه وشي او رسول الله ﷺ به چې کله خواشینی شو نو به يې په بیړه د لمانځه ادا کول پیل کړل او د لمانځه په هکله به يې بلال ﷺ ته ویل: (ارحنا بها یا بلال).

دوهمه فائده: على کرم الله وجهه وايي زما ملا دوو تنو را ماته کړي (عالم متهتک وجاهل متنسک) یو هغه عالم چې عمل نلری او بل هغه بې علمه سړی چې شیخي کوی هو هغه څوک چې بل سمی لاري ته رابولي خو پخپله په سمه لاره نه درومي لکه هغه څراغ غوندي دی چې نورو ته لاره روښانه کوی خو پخپله سوځي.

الله تعالی فرمایي:

﴿ وَإِذْ نَجَّيْنَٰكُم مِّنْ ءَالِ فِرْعَوْنَ يَسُومُونَكُمْ سُوٓءَ ٱلْعَذَابِ يُذَبِّحُونَ أَبْنَآءَكُمْ وَيَسْتَحْيُونَ نِسَآءَكُمْ ۚ وَفِى ذَٰلِكُم بَلَآءٌ مِّن رَّبِّكُمْ عَظِيمٌ ﴿٤٩﴾ وَإِذْ فَرَقْنَا بِكُمُ ٱلْبَحْرَ فَأَنجَيْنَٰكُمْ وَأَغْرَقْنَآ ءَالَ فِرْعَوْنَ وَأَنتُمْ تَنظُرُونَ ﴿٥٠﴾ وَإِذْ وَٰعَدْنَا مُوسَىٰٓ أَرْبَعِينَ لَيْلَةً ثُمَّ ٱتَّخَذْتُمُ ٱلْعِجْلَ مِنۢ بَعْدِهِۦ وَأَنتُمْ ظَٰلِمُونَ ﴿٥١﴾ ثُمَّ عَفَوْنَا عَنكُم مِّنۢ بَعْدِ ذَٰلِكَ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ ﴿٥٢﴾ وَإِذْ ءَاتَيْنَا مُوسَى ٱلْكِتَٰبَ وَٱلْفُرْقَانَ لَعَلَّكُمْ تَهْتَدُونَ ﴿٥٣﴾ وَإِذْ قَالَ مُوسَىٰ لِقَوْمِهِۦ يَٰقَوْمِ إِنَّكُمْ ظَلَمْتُمْ أَنفُسَكُم بِٱتِّخَاذِكُمُ ٱلْعِجْلَ فَتُوبُوٓا۟ إِلَىٰ بَارِئِكُمْ فَٱقْتُلُوٓا۟ أَنفُسَكُمْ ذَٰلِكُمْ خَيْرٌ لَّكُمْ عِندَ بَارِئِكُمْ فَتَابَ عَلَيْكُمْ ۚ إِنَّهُۥ هُوَ ٱلتَّوَّابُ ٱلرَّحِيمُ ﴿٥٤﴾ ﴾ البقرة: ٤٩ - ٥٤

مناسبت او تړاو:

څرنګه چې ړومبی الله تعالی خپل نعمتونه په اجمالي توګه بني اسرائیلو ته وریاد کړل بیا یې دهغو ډولونه په تفصیلي توګه راوړل تر څو ښه ورته څیر او شکرته یې متوجه شي لکه چې الله ګواکې ورته داسي ویلي: (اذکروا نعمتي) (واذکروا اذنجیناکم من آل فرعون) (واذکروا اذ فرقنا بکم البحر ...) تر پایه چې دا ټول دشکر موجب دي او دوی یې باید کفران ونکړي.

لغتونه:

(آل فرعون) دآل اصل اهل وو څکه یې تصغیر په (اهیل) سره راځي دا هل هاء په الف بدله شوه نو آل وګرځیدو او ددې استعمال دلویو خلکو له نامه سره ځانګړی شوي لکه پاچهان او سلاطین او هیڅکله داسي نه ویل کیږي چې دموچي آل او یا دډم (حجام) آل (فرعون) دادعمالقه دپاچهانو نوم دی لکه قیصر چې دروم، او کسریٰ دفارس دخلکو دپاچهانو نوم، فرعون یې له دې کبله بولي چې جبروت او تکبر لري له تفرعن څخه اخیستل شوی دی.(۱) (یسومونکم) درڅکې له سامه څخه اخیستل شوی او څکلوته وایي طبري وایي چې رسوی تاسي ته او درڅکې تاسي ته (یستحیون) ژوند کولو ته پریږدي (بلاء) امتحان او ازموینی ته وایي او په خیر او شر دواړو کې استعمالیږي لکه چې الله تعالی وایي: (ونبلوکم بالشر والخیر فتنة) (فرقنا) فرق جلا والی او تمیز ته وایي او له دې څخه دی (وقرآنا فرقناه) یعنی په بیان سره مو بیل او تفصیل کړی دی (بارئکم) باري هغه پیدا کونکی ذات ته وایي چې داسي څه پیدا کوي چې پخوایي مثال نه وي او (بریة) خلکوته وایي.

تفسیر:

﴿ وَإِذْ نَجَّيْنَٰكُم ﴾ او یاد کړئ هغه وخت کله چې نجات درکړی وو موږ (نیکونو) ستاسی ته ﴿ مِّنْ ءَالِ فِرْعَوْنَ ﴾ (له عمل دفرعون څخه) دلته خطاب هغو بني اسرائیلو ته دی کوم چې رسول الله ﷺ معاصر وو څکه چې نعمت په پلرونو نعمت په زامنو دی ﴿ يَسُومُونَكُمْ سُوٓءَ ٱلْعَذَابِ ﴾ (چې رساوو به یې تاسي ته سخت عذاب ﴿ يُذَبِّحُونَ أَبْنَآءَكُمْ ﴾ چې ذبح کول به یې زامن ستاسی ﴿ وَيَسْتَحْيُونَ نِسَآءَكُمْ ﴾ او ژوندي به یې پریښودلې ښځې (لوڼي) ستاسی دخدمت دپاره ﴿ وَفِى ذَٰلِكُم بَلَآءٌ مِّن رَّبِّكُمْ عَظِيمٌ ﴾ او په دې کې (حلالول دزامنو، پریښودل دلوڼو یا ټولو کی) ازموینت وو له طرفه دپروردګار دتاسي ډیر لوی، تر څو نیکو کار له بد کاره څخه جلا کړي. ﴿ وَإِذْ فَرَقْنَا بِكُمُ ٱلْبَحْرَ ﴾ (او یاد کړئ هغه وخت چې څیرې کړ موږ ستاسی له پاره دریاب) وچه مځکه درته څرګنده شوه او بیا وربانده تیر شوی ﴿ فَأَنجَيْنَٰكُمْ وَأَغْرَقْنَآ ءَالَ فِرْعَوْنَ ﴾ (نو موږ نجات درکړ تاسي ته (وموژغورلئ) او ډوب مو کړل عمله دفرعون) له هغه سره چې دا یوه څرګنده نښه دالله ﷻ له علاماتو څخه ده چې څرنګه خپل دوستان ژغوري او دښمنان هلاکوي؟ ﴿ وَأَنتُمْ تَنظُرُونَ ﴾ په داسي حال کې چې تاسي

---

(۱) الکشاف ۱/۱۰۲.

ورته کتل ﴿ وَإِذْ وَٰعَدْنَا مُوسَىٰٓ أَرْبَعِينَ لَيْلَةً ﴾ (او یاد کړی هغه وخت چې وعده کړې وه موږ له موسی سره څلویښت ورځي) چې وروسته له دې به تورات ورکول کیږي او دا وروسته ستاسی له نجات او دفرعون له ډوبیدلو وو ﴿ ثُمَّ ٱتَّخَذْتُمُ ٱلْعِجْلَ ﴾ (بیا تاسي خوسی (په خدایي) ونیو) یعنی دهغه عبادت مو کاوو ﴿ مِنۢ بَعْدِهِۦ ﴾(پس له تللو دموسی) ﴿ وَأَنتُمْ ظَٰلِمُونَ ﴾(او وی تاسي (په دې کارکی) ظالمان پخپلو ځانونو ﴿ ثُمَّ عَفَوْنَا عَنكُم مِّنۢ بَعْدِ ذَٰلِكَ ﴾ بیا موږ عفو وکړه تاسي لره له (دې سختی ګناه څخه)وروسته له دغه دخوسي له عبادت کولونه ﴿ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ ﴾ (دپاره ددې چې تاسي شکر ګذار شی) وروسته له دې طاعت ته مخه کړي ﴿ وَإِذْ ءَاتَيْنَا مُوسَى ٱلْكِتَٰبَ وَٱلْفُرْقَانَ ﴾ (او یاد کړی هغه وخت چې ورکړي وو موږ موسی ته کتاب (تورات) او بیلوونکی (دحق او باطل لپاره) او په نورو معجزاتو مو دهغه ملا تر کړی وو ﴿ لَعَلَّكُمْ تَهْتَدُونَ ﴾ (لپاره ددې چې تاسي سمه لاره پیدا کړي) او په هغو احکامو عمل وکړی، چې په تورات کي دی بیا الله ﷻ ددغي عفوي څرنګوالی داسي بیان کړ فرمایي: ﴿ وَإِذْ قَالَ مُوسَىٰ لِقَوْمِهِۦ يَٰقَوْمِ إِنَّكُمْ ظَلَمْتُمْ أَنفُسَكُم ﴾(او یاد کړی هغه وخت چې وویل موسی خپل قوم ته اې قومه زما بیشکه تاسي پر خپلو ځانونو ظلم کړی دی) یعنی هغه وخت درپه یاد کړی کله چې موسی له خپل موعد څخه راستون شو او ویې لیدل چې خپل قوم یې دخوسي عبادت . کوي نو یې ورته وویل چې بیشکه تاسي پخپلو ځانونو ظلم کړی دی ﴿ بِٱتِّخَاذِكُمُ ٱلْعِجْلَ ﴾ (په سبب دنولو ستاسی خوسی لره) په خدایي سره چې تاسي یې عبادت یې کوی ﴿ فَتُوبُوٓا۟ إِلَىٰ بَارِئِكُمْ ﴾ پس توبه وباسي خپل خالق لره، چې له هر عیب او نقصان څخه یې سپیڅلی پیدا کړی یاست ﴿ فَٱقْتُلُوٓا۟ أَنفُسَكُمْ ﴾ نو ووژنی ځانونه خپل یعنی برئ دی مجرم ووژنی ﴿ ذَٰلِكُمْ ﴾ دغه وژل ﴿ خَيْرٌ لَّكُمْ عِندَ بَارِئِكُمْ ﴾ بهتر دی تاسي ته په نزد دخالق دتاسي یعنی ستاسی رضا. دالله په حکم او دهغه دامر منل ستاسی دخالق په نزد بهتره دی ﴿ فَتَابَ عَلَيْكُمْ ﴾ پس قبوله یې کړه توبه ستاسي ﴿ إِنَّهُۥ هُوَ ٱلتَّوَّابُ ٱلرَّحِيمُ ﴾ بیشکه هم دی ښه توبه قبلونکی ښه مهربان دی په توبه کوونکو باندی

بلاغت:

ابن جزي وايي: (يَسُومُونَكُمْ سُوٓءَ ٱلْعَذَابِ) په بدعذاب یې ملزم کړی او دا استعاره ده له سوم په بیع او شراء کی او د (سوء العذاب) تفسیر یې پدې قول فرمایلی: (يُذَبِّحُونَ أَبْنَآءَكُمْ وَيَسْتَحْيُونَ نِسَآءَكُمْ) ځکه عطف هم ندی وریاندی کړل شوی.(۱)

۱ - تنکیر په (بلاء) او (عظیم) کی دلوی والي او سخت والي معنیٰ لری.

(۱) کتاب التسهیل ۴۷/۱.

٢ - دمفاعلې صيغه په (واذواعدنا) کی په خپل باب نه دی پاتي ځکه پدې کي ددوارو خواوو مشارکت نشته او يوازې دثلاثی په معنی ده چې (وعدنا) راځي.

٣ -ابوالسعود وايي : (فَتُوبُوٓا۟ إِلَىٰ بَارِئِكُمْ) دلته دباري کلمه ذکر کول ددې خبرتيا وركوي چې دوی هغه خپل وروستي دجهالت پولي ته رسيدلی دی دومره ناپوهان دی چې دعليم حکيم ذات هغه چې دوی يې په لطيف حکمت سره پيدا کړي دهغه عبادت يې پريښود او دغوايي دزوی (خوسي) عبادت يې پيل کړ ، هغه (خوسي) چې په غباوت اوناپوهي کښي وربانده ی مثال ويل کيږی. (١)

ګټې او فائدې:

لومړی فائده : پدې قول کي چې فرمايي : (الكتاب والفرقان) عطف دصفت پر صفت دی ځکه کتاب خو (تورات) دی اوفرقان هم (تورات) او دعطف ښکلا پدې کی ده چې معنايې داسي وشي چې دغه هم منزل کتاب دی او هم دحق او باطل بيلتون او فرق کونکی دی. (٢)

دوهمه فائده : سبب دوژلو دماشومانو دبني اسرائيلو هغه څه وو چې ځيني مفسرينو ذکر کړی چې فرعون په خوب کی وليدل له بيت المقدس څخه يو اور راپورته شو او په مصر راوګرځيد ټول قبطی توکم يې وسوځول او په بني اسرائيلو يې هيڅ غرض هم ونکړ نو فرعون هک پک حيران شو او له کاهنانو او کوډګرانو څخه يې وپوښتل هغوی ورته وويل په بني اسرائيلو کي يو ماشوم زيږيدونکی دی چې دهغه په لاس به ستا او ستا دپاچهي ورکه وي نو فرعون امر وکړ چې په بني اسرائيلو کي هر ماشوم زيږيږي هغه دی ووژل شي.

دريمه فائده : قشيری وايي څوک چې دالله په قضا صبر او زغم ولری الله ﷻ به يې دخپلو او لياوو سره ملګری کړی همدا بني اسرائيل وو چې دفرعون او دهغه دقوم سختي يې په ځان ومنلې نو الله ﷻ له دوی څخه نبيان او پاچهان غوره کړل هغه څه يې ورکړل چې بل چاته يې له مخلوقاتو هڅو ورکړی نه وو.

الله تعالی فرمايي:

﴿ وَإِذْ قُلْتُمْ يَٰمُوسَىٰ لَن نُّؤْمِنَ لَكَ حَتَّىٰ نَرَى ٱللَّهَ جَهْرَةً فَأَخَذَتْكُمُ ٱلصَّٰعِقَةُ وَأَنتُمْ تَنظُرُونَ ﴿٥٥﴾ ثُمَّ بَعَثْنَٰكُم

مِّنۢ بَعْدِ مَوْتِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ ﴿٥٦﴾ وَظَلَّلْنَا عَلَيْكُمُ ٱلْغَمَامَ وَأَنزَلْنَا عَلَيْكُمُ ٱلْمَنَّ وَٱلسَّلْوَىٰ كُلُوا۟ مِن

طَيِّبَٰتِ مَا رَزَقْنَٰكُمْ وَمَا ظَلَمُونَا وَلَٰكِن كَانُوٓا۟ أَنفُسَهُمْ يَظْلِمُونَ ﴿٥٧﴾ وَإِذْ قُلْنَا ٱدْخُلُوا۟ هَٰذِهِ ٱلْقَرْيَةَ فَكُلُوا۟ مِنْهَا

حَيْثُ شِئْتُمْ رَغَدًا وَٱدْخُلُوا۟ ٱلْبَابَ سُجَّدًا وَقُولُوا۟ حِطَّةٌ نَّغْفِرْ لَكُمْ خَطَٰيَٰكُمْ وَسَنَزِيدُ ٱلْمُحْسِنِينَ ﴿٥٨﴾ فَبَدَّلَ

ٱلَّذِينَ ظَلَمُوا۟ قَوْلًا غَيْرَ ٱلَّذِى قِيلَ لَهُمْ فَأَنزَلْنَا عَلَى ٱلَّذِينَ ظَلَمُوا۟ رِجْزًا مِّنَ ٱلسَّمَآءِ بِمَا كَانُوا۟ يَفْسُقُونَ ﴿٥٩﴾ ﴾

البقرة: ٥٥ - ٥٩

---

(١) ابو السعود ٨٧/١.

(٢) داسي زجاج ويلي او زمخشری غوره کړي دي

مناسبت او تړاو:

وروسته له دې چې الله تعالی خپل نعمتونه ورياد کړل نو ددوی د طغيان له رنګونو او ډولونو څخه يې دلته يو ډول بيان کړ هغه چې ددوی انکار څرګند وی او دوی د الله ﷻ اوامر تبديلوی يهود څومره بد او شرميدلی امت دی سره له دې چې دوی کفر او طغيان لري خو الله ﷻ ورسره د لطف او احسان معامله کوي

طبري وايي: کله چې بني اسرائيلو د(خوسی) له عبادت څخه توبه وايستله الله ﷻ موسی ﷺ ته امر وکړ چې له خپل قوم څخه څوتنه غوره کړی تر څو دخوسی دعبادت کولو معذرت الله ﷻ ته وړاندی کړی نو موسی ﷺ اويا تنه مخه ورکسان سپين رو يې غوره کړل لکه چې الله ﷻ وايي: (وَٱخۡتَارَ مُوسَىٰ قَوۡمَهُۥ سَبۡعِينَ رَجُلٗا لِّمِيقَٰتِنَا) [الاعراف ۱۵۵] او هغوی ته يې وويل چې روژې ونيسی، خانونه ښه پاک کړی او جامې موهم پاکې کړی، هغوی همداسې وکړل نو يې (طورسينا) ته راوستل هغوی موسی ﷺ ته وويل مونږ ته د الله ﷻ څخه وغواړه چې کلام يې واورو هغه ورته ويل زه به وغواړم کله چې موسی ﷺ غره ته نژدې شو نو وريځی هغه پټ کړ آن تر دې چې ټول غر پټ شو نو دوې واوريدل چې الله ﷻ موسی ﷺ ته دامر او نهی خبرې کوی کله چې وريځې الونياشوې او حضرت موسی ﷺ څرګند شو نو له دوی سره مخامخ شو هغوی موسی ﷺ ته وويل: (لَن نُّؤۡمِنَ لَكَ حَتَّىٰ نَرَى ٱللَّهَ جَهۡرَةٗ) هيڅکله به ستا په خبره باور ونکړو تر څو چې الله ﷻ ښکاره ونه وينو (١)

لغتونه:

(جهرة) څرګند د جهر اصل ظهور ته وايي لکه جهر د قرائت او جهر په ګناهونو يعنی په څرګنده د ګناهونو تر سره کول لکه څوک چې وايي (رأيت الامير جهرة وجهارا) يعنی ما وليد امير ښکاره چې هيڅ پټ نه وو ابن عباس ﷺ د جهرة معنی عيان ښودلی ده (الصاعقة) د عذاب چيغه او يا سوځونکی اور (بعثناکم) ژوندی کړی مو ياست تاسې طبري وايي (بعث اصلی معنی پورته کول ديوشی له خپله ځايه (الغمام) د غمامة جمع لکه سحاب او سحابة په وزن او معنی کی څکه هغه آسمان پټوی او کله چې وايي (غم الهلال) يعنی چې وريځ يې پټ کړي او ونه ليدل شي (حطة) له حط څخه اخيستل شوی چې کله ويل کيږی (حط عنا ذنوبنا (٢) دا د استغفار کلمه ده او دايې معنی ده چې زمونږ ګناهونه راوبخښه (رجز) عذاب ته وايي لکه دا چې: (لئن کشفت عنا الرجز) يعنی عذاب (يفسقون) دوي تجاوز کوي فسق له طاعت څخه وتلو ته وايي.

تفسير:

﴿ وَإِذۡ قُلۡتُمۡ يَٰمُوسَىٰ ﴾ (دريه ياد کړی، هغه وخت چې وويل تاسو اې موسیٰ) يعنی کله چې تاسی له موسی ﷺ سره يو ځای د الله حضور ته دعذر وړاندې کولو لپاره ووتلاست او بيا مو وويل ﴿ لَن نُّؤۡمِنَ لَكَ ﴾ (هيڅکله به له سره باور ونکړو) هغه څه چې اورو يې چې دا د الله کلام دی ﴿ حَتَّىٰ نَرَى ٱللَّهَ جَهۡرَةٗ ﴾ (تر څو چې

---

(١) مختصر ابن کثير ٦٢/١.
(٢) مجاز القرآن ٤٧/١.

خپله ووينو الله ښکاره) ﴿ فَأَخَذَتْكُمُ ٱلصَّٰعِقَةُ ﴾ (بيا ونيولې تاسي تندر (اور) هغه چې الله ﷻ له اسمانه اور راوليږل او دوی يې وسوځول ﴿ وَأَنتُمْ تَنظُرُونَ ﴾ او حال دا چې تاسي ورته کتل، بيا کله چې مړه شول موسی عليه السلام الله ته وژړل او ويل يې اې ربه زه به بني اسرائيلو ته څه وايم ؟ په داسي حال کې چې تاسي سپين روبي او ستانه کسان ووژل، او پر له پسې دعاګانی يې کولې ترڅو الله ﷻ بيرته ژوندی کړل ﴿ ثُمَّ بَعَثْنَٰكُم مِّنۢ بَعْدِ مَوْتِكُمْ ﴾ پس له هغه بيا ژوندی کړی موږ تاسي يعنی وروسته له دې چې تاسي يوه شپه او ورځ مړه واست او بيا را پاڅېدلی يو بل ته موکتل چې څنګه ژوندی شوی ﴿ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ ﴾ دپاره ددې چې تاسي شکر ګذار شی، په راژوندی کيدلو او پاڅيدلو وروسته له مرګ څخه بيا الله ﷻ هغه نعمت ورته ياد کړ کوم چې دوی دجبارينو ښارته له ننوتلو او له هغوی سره دجنګ کولو څخه ډډه وکړه او موسی عليه السلام ته يې وويل: ﴿ فَٱذْهَبْ أَنتَ وَرَبُّكَ فَقَٰتِلَآ ﴾ [المائدة: ٢٤] نو پدې باندی الله ﷻ څلويښت کاله دوی په (تيه) کی لالهاند کړل الله ﷻ فرمايي: ﴿ وَظَلَّلْنَا عَلَيْكُمُ ٱلْغَمَامَ ﴾ (او ياد کړی هغه وخت چې سيوری ګرځولې وو موږ په تاسی وريځ) ﴿ وَأَنزَلْنَا عَلَيْكُمُ ٱلْمَنَّ وَٱلسَّلْوَىٰ ﴾ (او نازل کړی وو موږ په تاسی من او سلوی) يعنی تاسو ته مو ډول ډول نعمتونه درکړی وو چې داسي بې ربړ او زحمته خوراک ښباک وو لکه من او سلوی من لکه عسل غوندی خوندور څيز وو چې له اوبو سره به يې ګډول او ښبل (۱) او سلوی د(مرغ) په شان مرغان وو چې خورا خوندور وو (۲) ﴿ كُلُوا۟ مِن طَيِّبَٰتِ مَا رَزَقْنَٰكُمْ ﴾ وخورئ له پاکيزه دهغو شيانو چې روزي درکړې ده موږ تاسي ته ﴿ وَمَا ظَلَمُونَا وَلَٰكِن كَانُوٓا۟ أَنفُسَهُمْ يَظْلِمُونَ ﴾ (او ظلم نه وو کړی دوی پر موږ باندی ليکن دوی په خپلو ځانو نو باندی ظلم کاوو) يعنی دوی پر دادومره ډيرو نعمتونو کفران وکړ دوی په موږ ظلم ندی کړی بلکه پخپلو ځانو نو يې وکړ دعصيان وبال په دوی پريوت ﴿ وَإِذْ قُلْنَا ٱدْخُلُوا۟ هَٰذِهِ ٱلْقَرْيَةَ ﴾ او در په ياد کړی هغه وخت چې وويل موږ چې ننوځئ دغه قريې ته يعنی هغه وخت درياد کړی چې کله له تيه څخه راووتی موږ درته وويل بيت المقدس ته ننوځئ ﴿ فَكُلُوا۟ مِنْهَا حَيْثُ شِئْتُمْ رَغَدًا ﴾ پس خورئ له ميوو دهغو څخه هر چيری هر څومره چې موخوښه وی ﴿ وَٱدْخُلُوا۟ ٱلْبَابَ سُجَّدًا ﴾ او ننوځئ په دروازه (ددې ښار کی) سجده کوونکی څکه چې الله ﷻ له (تيه) څخه راوايستلې شکر يې ادا کړی ﴿ وَقُولُوا۟ حِطَّةٌ ﴾ او وايا ست اې ربه وبښه زموږ ګناهونه ﴿ نَّغْفِرْ لَكُمْ خَطَٰيَٰكُمْ ﴾ چې وبښو تاسي ته ګناهونه ستاسي ﴿ وَسَنَزِيدُ ٱلْمُحْسِنِينَ ﴾ اوزر ده چې زيات به کړو نيکانو ته اجر او ثواب لوی ﴿ فَبَدَّلَ ٱلَّذِينَ ظَلَمُوا۟ ﴾ (پس بدل کړی هغو کسانو چې ظلم يې کړی وو) يعنی تغيير يې کړ امر دالله او ويې ويل:

---

(۱) دادربيع بن انس قول دی.

(۲) دادجمهورو مفسرينو وينا ده.

﴿ قَوْلًا غَيْرَ ٱلَّذِى قِيلَ لَهُمْ ﴾ (خبره بل شان له هغې چې دوی ته ويلې شوې وه) چې دوی دشا په څټ په کوناتيو ورښوئيدلو او دملنډو په شان يې ويل (حبة في شعيرة) او دالله په اوامرو يې ريشخندواهو ﴿ فَأَنزَلْنَا عَلَى ٱلَّذِينَ ظَلَمُوا۟ رِجْزًا مِّنَ ٱلسَّمَآءِ ﴾ پس نازل کړ موږ په هغو کسانو چې ظلم يې کړی وو عذاب له آسمانه چې هغه طاعون او وباوه ﴿ بِمَا كَانُوا۟ يَفْسُقُونَ ﴾ په سبب ددې چې دوی به (دالله له فرمانونو) سر غړاوو ، روايت کاوه شي چې په يوه ساعت کې دطاعون په ذريعه اويا زره کسان يهودان مړه شول.

بلاغت:

۱. کله چې يې (بعث) په (بعدالموت) مقيد کړ دادزيات تاکيد لپاره چې څوک داسي ونه انګيري چې ګواکې دابه بيهوښي وه او يا به خوب وو څکه نو بعث وروسته له مرګه يې وويل چې هغه حقيقي مرګ دی.

۲. پدې آيتونو کې ايجاز بالحذف دی چې فرمايي: (کلوا...) او تقدير يې داده چې (قلنا لهم کلوا...) او پدې آيت کې چې (وماظلمونا) تقدير يې دا چې (فظلموا انفسهم بان کفروا وماظلمونا بذلک) او پدغه حذف باندې داقول دلالت کوی چې فرمايي (ولکن کانو انفسهم يظلمون) او کله چې دماضي او مضارع صيغې يوځای راوړي لکه (وظلمونا) او (يظلمون) ترڅو دادلالت وکړی دوی په استمراری کفر او زياته سر غړونه او عصيان دلالت وکړی.(۱)

۳. ظاهر دضمير په ځای کې راوړل لکه (فأنزلنا على الذين ظلموا) او داسي يې ونه ويل (فانزلنا عليهم) دادزياتي تقبيح او بدې لپاره او (رجزا) دهيبت لپاره(۲)

تنبيه:

راغب وايي چې: عذاب په دوه ډوله دی يو هغه دانسانانو په لاس عذاب دی چې دهغه مخنيوی دبنيادمانو په لاس ممکن وی لکه نريدل ، ډوبيدل او يانور او بل ډول هغه عذاب دی چې دبشر په وس کې دهغه مخنيوی ممکن نه وی لکه طاعون ، تندر ، او مرګ او په (رجزًا من السماء) کې همدادوهم ډول مراد دی.

***

(۱) الفتوحات الالهية ۵۷/۱ .
(۲) ارشاد العقل السليم ۸۳/۱ .

الله تعالی فرمايي:

﴿ وَإِذِ ٱسْتَسْقَىٰ مُوسَىٰ لِقَوْمِهِۦ فَقُلْنَا ٱضْرِب بِّعَصَاكَ ٱلْحَجَرَ ۖ فَٱنفَجَرَتْ مِنْهُ ٱثْنَتَا عَشْرَةَ عَيْنًا ۖ قَدْ عَلِمَ كُلُّ أُنَاسٍ مَّشْرَبَهُمْ ۖ كُلُوا۟ وَٱشْرَبُوا۟ مِن رِّزْقِ ٱللَّهِ وَلَا تَعْثَوْا۟ فِى ٱلْأَرْضِ مُفْسِدِينَ ﴿٦٠﴾ وَإِذْ قُلْتُمْ يَٰمُوسَىٰ لَن نَّصْبِرَ عَلَىٰ طَعَامٍ وَٰحِدٍ فَٱدْعُ لَنَا رَبَّكَ يُخْرِجْ لَنَا مِمَّا تُنۢبِتُ ٱلْأَرْضُ مِنۢ بَقْلِهَا وَقِثَّآئِهَا وَفُومِهَا وَعَدَسِهَا وَبَصَلِهَا ۖ قَالَ أَتَسْتَبْدِلُونَ ٱلَّذِى هُوَ أَدْنَىٰ بِٱلَّذِى هُوَ خَيْرٌ ۚ ٱهْبِطُوا۟ مِصْرًا فَإِنَّ لَكُم مَّا سَأَلْتُمْ ۗ وَضُرِبَتْ عَلَيْهِمُ ٱلذِّلَّةُ وَٱلْمَسْكَنَةُ وَبَآءُو بِغَضَبٍ مِّنَ ٱللَّهِ ۗ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمْ كَانُوا۟ يَكْفُرُونَ بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ وَيَقْتُلُونَ ٱلنَّبِيِّۦنَ بِغَيْرِ ٱلْحَقِّ ۗ ذَٰلِكَ بِمَا عَصَوا۟ وَّكَانُوا۟ يَعْتَدُونَ ﴿٦١﴾ إِنَّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَٱلَّذِينَ هَادُوا۟ وَٱلنَّصَٰرَىٰ وَٱلصَّٰبِـِٔينَ مَنْ ءَامَنَ بِٱللَّهِ وَٱلْيَوْمِ ٱلْءَاخِرِ وَعَمِلَ صَٰلِحًا فَلَهُمْ أَجْرُهُمْ عِندَ رَبِّهِمْ وَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ ﴿٦٢﴾ ﴾ البقرة: ٦٠-٦٢.

مناسبت او تړاو:

تراوسه پوري لا آيتونه دبني اسرائيلو نعمتونه بيا نوی او دا يو بل ستر نعمت دی چې کله دوی په (تيه) کی لالهاندوو او سخت تږی شول چې نږدې وو هلاک شی نو موسی ﷺ الله ته دعا وکړه چې دوي ته اوبه ورکړي خو تنده يې ماته شی الله ورته وحی وکړه چې په لکړه دی ډبره ووهه نو بيا ددوی دټبرونو او قومونو په شمير ويالې ځنی راوبهيدې دوي دوولس توکمه وواو ددوولس لښتي ځنی را بهر شول چې هر چابه له خپل لښتي او ويالې څخه خپل حاجت بشپړاوو چې دبل چا به ورسره کار نه وو او دا داوبولو پيښه دحضرت موسیٰ ﷺ ځرګنده معجزه وه خو له هغه سره سره دوی بيا هم انکار او کفران کاوو.

لغتونه:

(استسقی) اوبه غوښتل ځکه سين او تا دطلب او غوښتنی لپاره راځی لکه :(استنصر)او (استخبر)ابو حيان وايي: استسقا داوبو هغی غوښتنی ته وايی چې اوبه نه وی او يا لږ وی او دلته مفعول محذوف دی يعنی کله چې وغوښتی موسی اوبه له خپله ربه(١) (فانفجرت) انفجار څيريدلو ته وايي لکه چې (فجر) هم درڼا رادبره کيدل بولی (انفجر) او (انبجس) دواړه په يوه معنی راځي لکه (فانبجست منه) [الاعراف :١٦٠] (مشربهم) ځای داوبو څښلو (تعثوا) عيث دفساد شدت ته وايي لکه عثی يعثی وعثا فهو عاث(٢) طبری وايی چې معنی يې طغيان او په اصل کی دفساد شدت ته وايي (فومها) فوم (ثوم) هوږې ته وايي چا بيا ويلی غنمو ته وايي (يستبدلون) استبدال ديو څيز پريښود واو دهغه په ځای بل څيز اخيستلو ته وايي (ادنی) بيکاره او چټي هغه سړی ته دنئ وايي چې په خسيسو شيانو پسي ګرځي (الذلة) سپکتيا او خواری ته وايي (المسكنة) بيوزلی او عاجزی ته وايي له سکون څخه اخيستل شوی او بيوزله هم ډير لږ خوځيږی ځکه هغه فقير او نيستمن وی (باءوا)

---

(١) البحر المحيط ١/٢٣٢.

(٢) كذافي المصباح.

رجوع او انصراف ته وايي امام رازي وايي چې (باء) يوازي په شرکی راځي (يعتدون) اعتداء له حد او پولی څخه تجاوز ته وايي او دا هم په ګناه او ظلم کی.

تفسير:

﴿ وَإِذِ ٱسْتَسْقَىٰ مُوسَىٰ لِقَوْمِهِۦ ﴾ (او ياد کړی هغه وخت چې اوبه وغوښتې موسی خپل قوم لره) کله چې په تيه کی هغوی تږي شول ﴿ فَقُلْنَا ٱضْرِب بِّعَصَاكَ ٱلْحَجَرَ ﴾ (نو موږ ورته وويل ووهه په همسا خپلی سره تيږه) هره يوه چې وی زموږ په قدرت به څنی او به راوزی ﴿ فَٱنفَجَرَتْ مِنْهُ ٱثْنَتَا عَشْرَةَ عَيْنًا ﴾ نو وخوټيدې له هغې تيږي څخه (دوولس چينې) خومره چې ددوی ټبرونه او قبيلې وې ﴿ قَدْ عَلِمَ كُلُّ أُنَاسٍ مَّشْرَبَهُمْ ﴾ (په تحقيق سره وپوهيدل هر قوم ځای د (اوبو څښلو خپلو) تر څو يو له بله جګړه ونکړي ﴿ كُلُوا۟ وَٱشْرَبُوا۟ مِن رِّزْقِ ٱللَّهِ ﴾ (خوری او څښی له روزي دالله ﷻ) چې (من او سلوی) ده او څښی له دغو اوبو څخه (بې له واسطې داسبابو) او دا يوازي دالله انعام دی ﴿ وَلَا تَعْثَوْا۟ فِى ٱلْأَرْضِ مُفْسِدِينَ ﴾ (او مه تيريږی له حده په فساد کولو په مځکه کي)

﴿ وَإِذْ قُلْتُمْ يَٰمُوسَىٰ ﴾ (او ياد کړی هغه وخت چې وويل تاسي اې موسی) کله چې تاسي ته من او سلوی دررسيدل او په صحراء کی او سيدلي ﴿ لَن نَّصْبِرَ عَلَىٰ طَعَامٍ وَٰحِدٍ ﴾ (هيڅکله موږ په يوه خوراک صبر نشو کولای) کوم چې من او سلوی دی ﴿ فَٱدْعُ لَنَا رَبَّكَ يُخْرِجْ لَنَا مِمَّا تُنۢبِتُ ٱلْأَرْضُ ﴾ (پس وغواړه زموږ لپاره له خپل پرور دګار نه چې راوباسي موږ لره له هغو شيانو چې زرغونوی يې مځکه) نور له من او سلوی خوړلو څخه خواتوری شوو او زړه مونه غواړی هغه څه غواړو چې له مځکی راشنه کيږی لکه غلې دانې او سبزی، سابو ﴿ مِنۢ بَقْلِهَا ﴾ لکه شنه نعناع، ګندنا او کاهو ﴿ وَقِثَّآئِهَا ﴾ او لکه بادرنګ يا خيار، ترې ﴿ وَفُومِهَا ﴾ او لکه هوږه ﴿ وَعَدَسِهَا ﴾ او له نسکو ﴿ وَبَصَلِهَا ﴾ او له پيازو ﴿ قَالَ أَتَسْتَبْدِلُونَ ٱلَّذِى هُوَ أَدْنَىٰ بِٱلَّذِى هُوَ خَيْرٌ ﴾ نو وويل موسی ايا بدلوی هغه څه چې ناکاره دي په هغه څه چې بهتر او غوره دی؟ دغه استفهام يې دانکار په ډول وکړ يعنی افسوس ده تاسی لره ﴿ ٱهْبِطُوا۟ مِصْرًا فَإِنَّ لَكُم مَّا سَأَلْتُمْ ﴾ (کوزشی يوه ښارته پس بيشکه تاسي لره دی هغه څه چې غواړی يې). بيا الله تعالی ددوی دګمراهی، فساد، دښمني او سرغړوني دتنبيه لپاره وفرمايل: ﴿ وَضُرِبَتْ عَلَيْهِمُ ٱلذِّلَّةُ وَٱلْمَسْكَنَةُ ﴾ (او مقرر شو په دوی، ذلت او محتاجی) دهغه نعمت دکفران په سبب په دوی سپکتيا او بيوزلی دتل لپاره وتړل شوه چې هيڅکله به څنی نه وزګاريږي. ﴿ وَبَآءُو بِغَضَبٍ مِّنَ ٱللَّهِ ﴾ (او اخته شول دوی په غضب له جانبه دالله) ﴿ ذَٰلِكَ ﴾ (دغه سپکاوی) او دخدای غضب او ذلت دهغو جرائمو له امله ده چې دوی به کول ﴿ بِأَنَّهُمْ كَانُوا۟ يَكْفُرُونَ بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ وَيَقْتُلُونَ ٱلنَّبِيِّۦنَ بِغَيْرِ ٱلْحَقِّ ﴾ (دا خواری او ذلت وو په سبب ددې چې دوی دالله په آيتونو کافران وو) او نبيان يې په نا حقه وژل ﴿

ذَٰلِكَ بِمَا عَصَوا وَّكَانُوا يَعْتَدُونَ ﴾ دغه کفر او قتل) په سبب د دې وو چې سرغړونه به يې کړې وه) او د عصيان په سبب به له حدودو تيريدل د الله احکام به يې نه منل بيا الله ﷻ ټول ملتونه او پرګنې که مسلمانان دی که يهود، نصاری او صابئين دوی بې ربښتينی ايمان ته راوبلل کوم چې يوازی په الله ايمان او د هغه لپاره خالص عمل وي او

دخبر په صيغه يې وفرمايل: ﴿ إِنَّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ﴾ بيشکه هغه کسان چې ايمان يې راوړی دی) د محمد ﷺ

امتيان ﴿ وَٱلَّذِينَ هَادُواْ ﴾ (يهودان د حضرت موسی ﷺ (اتباع) ﴿ وَٱلنَّصَٰرَىٰ ﴾ (د حضرت عيسیٰ ﷺ (اتباع

) ﴿ وَٱلصَّٰبِـِٔينَ ﴾ (هغوی چې يهوديت او نصرانيت يې پرې ايښي) او د ملائکو پرستش کوی ﴿ مَنْ ءَامَنَ بِٱللَّهِ

وَٱلْيَوْمِ ٱلْءَاخِرِ ﴾ (چې ايمان يې راوړی په الله او باور لري د آخرت په ورځ) ﴿ وَعَمِلَ صَٰلِحًا ﴾ او عمل يې کړی

دی دنيکو په دنيا کی ﴿ فَلَهُمْ أَجْرُهُمْ عِندَ رَبِّهِمْ ﴾ (نو وي به ثواب د دوی په نزد د رب د دوی) چې يو ذره ثواب

به يې کم نشي ﴿ وَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ ﴾ (او نه به وی هيڅ ډول ويره په دوی او نه به دوی خپه کيږی) يعنی کله چې په ورځ د آخرت کفار ويريږي او يا هم ګنهکاران د خپل ژوند په تباه کولو او د ثواب په بايللو خپه کيږی دوی ته به هيڅ ويره او خفګان نه ورپيښيږي.

بلاغت:

١. د رزق په نسبت کولو کی چې الله ته يې کوی (كُلُواْ وَٱشْرَبُواْ مِن رِّزْقِ ٱللَّهِ) د هغه انعام او احسان تعظيم او دې ته اشاره ده چې بې له کوم تکليف او زحمت نه پرته ورپا لاس ته راغلی دی.

٢. د مځکی په صراحتا يادولو کی کله چې فرمايي: (وَلَا تَعْثَوْاْ فِى ٱلْأَرْضِ) د فساد په بدګڼلو کی مبالغه ده او کله چې (مُفْسِدِينَ) موکد حال راغلی دا د دې لپاره چې کله کله متکلم له دې امله چې د امر او يا نهی په خواوشا کی شک او شبه پاتي نشي زياته پاملرنه او لورينيه کوی او هغه بيا په تاکيدی حال بيانوی چې دغه مفسدين کلمه يې هم د دغه فساد څخه په قوت او سختی سره د ممانعت په معنی ده.

٣. د الله تعالی په دغه وينا کی چې (مِمَّا تُنۢبِتُ ٱلْأَرْضُ) ده اصلی زرغوونکی او شين کوونکی خو الله تعالی دي د لته د مجاز عقلي صنعت دی او علاقه يې سببيت دي ځکه ځمکه هم د زرغونيدلو سبب دی.

٤. (وَضُرِبَتْ عَلَيْهِمُ ٱلذِّلَّةُ وَٱلْمَسْكَنَةُ) پدې قول کی کنايه استعمال شوې او لکه چې خيمه په چا وهل شوې وی د ارنګه ذلت او بيوزلي په هغوی وهل شوی ده.

۵. دانبیاوو قتل چې په غیر حق سره یې مقید کړی سره له دې چې په حق هیڅکله نه دی وژل شوی دا دزیات بدوالی او ددوی دسختی دښمني له کبله ده.

ګټې او فائدې:

لومړۍ فائده: مفسرینو دهغې ډېرې په هکله کومه چې اوبه څنی راوخوټیدې ډیر اقوال روایت کړی مونږ له هغو نه تیر شو او هغه چې دآیت دپوهیدلو په هکله کفایت کوی دادی چې کومه ډبره چې موسی ﷺ په همسا ووهله هغه دهغو ډبرو له ډیش څخه و. کومي چې عادتا او به هیڅکله څنی نه راوزي څکه نو څرګنده معجزه ده حسن بصری رحمه الله وایی چې الله ﷻ یوازی کومه معلومه ډبره ورته نه ده ښودلې څکه دا لا دڅرګندي معجزې یو بل دلیل او د الهی قدرت نښانه ده.(۱)

دوهمه فائده: که څوک وایي ولی دوولس چینې وبهیدلې؟ څواب دا چې دموسٰی ﷺ قوم ډیر او په صحراء کی وو او کله چې په ځنګو زیاته تنده راشی او بیا اوبه پیدا کړی خامخا یې تر منځ اخ اوډب پیښیږي نو الله دغه نعمت هم وریشپړ کړ او دهرقوم په سر یې یوه ویاله وزکړه دوی دیعقوب ﷺ دوولس زامنو اولاده دوولس خیله وو. والله اعلم.

دریمه فائده: ځیني مفسرینو وایی چې مراد له(فوم) څخه غنم دی خو درنه رایه داده چې هوږه (ثوم) ته ویلې شي او دابن مسعود ﷺ قرائت چې (وثومها) یې تلاوت کړی هم ددغي رایې ملاتړکوی او بل دا چې پیاز ورسره وروسته ذکر شوی دي، فخر رازي وایي چې: هوږه له عدس (نسک) او پیاز سره مناسب ده او قرطبي دحضرت حسان ﷺ په قول دلیل راوړی چې هغه وایي:

وانتم اناس لئام الاصول   طعامکم الفوم والحوقل

تاسي هغه خلک یاست چې پلرونه مونا خوانه وو ستاسو هوږه او پیاز خواړه دی.

الله تعالی فرمایي:

﴿ وَإِذْ أَخَذْنَا مِيثَٰقَكُمْ وَرَفَعْنَا فَوْقَكُمُ ٱلطُّورَ خُذُوا۟ مَآ ءَاتَيْنَٰكُم بِقُوَّةٍ وَٱذْكُرُوا۟ مَا فِيهِ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ ﴿٦٣﴾ ثُمَّ تَوَلَّيْتُم مِّنۢ بَعْدِ ذَٰلِكَ ۖ فَلَوْلَا فَضْلُ ٱللَّهِ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَتُهُۥ لَكُنتُم مِّنَ ٱلْخَٰسِرِينَ ﴿٦٤﴾ وَلَقَدْ عَلِمْتُمُ ٱلَّذِينَ ٱعْتَدَوْا۟ مِنكُمْ فِى ٱلسَّبْتِ فَقُلْنَا لَهُمْ كُونُوا۟ قِرَدَةً خَٰسِـِٔينَ ﴿٦٥﴾ فَجَعَلْنَٰهَا نَكَٰلًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهَا وَمَا خَلْفَهَا وَمَوْعِظَةً لِّلْمُتَّقِينَ ﴿٦٦﴾ ﴾ البقرة: ٦٣ - ٦٦

(۱) الكشاف ۱/۱۰۷

مناسبت او تړاو:

څرنګه چې الله ﷻ دخپلو سترو نعمتونه یادونه وکړه ورپسي یې دهغو عذابونو ذکر راووړ چې په دوی باندې ددوی دکفر او عصیان له امله نازل شوی وو دوی دالله ﷻ دنعمتونو کفران وکړ او دالله ﷻ له أوامرو څخه یې سرغړونه وکړه وعده او عهد یې مات کړ او دشنبي په ورځ یې تجاوز ته ملاوتړله څو چې الله ﷻ دوی مسخ او بیزوګان کړل همداسي به دهر متجاوز امت او د هغه چا حال وی چې دخپل پروردګار او دهغه دپیغمبرانو له غوښتنو څخه سرغړوي.

لغتونه:

(میثاقکم) میثاق محکم عهد ته وایي چې په یمین(قسم)او یا بل څه یې تاکید شوی وی او دلته مراد دتورات په حکمونو عمل کول دی (الطور) هغه غره ته وایی کوم چې الله تعالی له موسی ﷺ سره ورباندې خبري کړې دی (بقوة) په کلک عزم او حزم سره (تولیتم) تولیّ اعراض او مخ کرزولوته وایي (خاسئین) دخاسئ جمع او سپک خوارته ویل کیږي دلغت پوهان وایي چې خاسئ شړل شوی او سپک ته وایه شي لکه چي سپی خلکو ته نژدې شي دوی ورته وایی (اخسئ)یعنی ورک او لیرې شه (نکالاً) سخت عذاب ته ویل کیږي هر عذاب ته نکال نه ویل کیږي تر څو زجر ورکونکی او ویروونکی نه وی.

تفسیر:

﴿ وَإِذْ أَخَذْنَا مِيثَٰقَكُمْ ﴾ (او یاد کړی هغه وخت چې واخیست موږ محکم عهد ستاسي څخه) چې تاسو ویل موږ به په تورات عمل کوو ﴿ وَرَفَعْنَا فَوْقَكُمُ ٱلطُّورَ ﴾ او پورته کړ موږ په سر ستاسي دطور غر؛ او لکه سیورې غوندې وو موږ تاسو ته وویل ﴿ خُذُوا مَآ ءَاتَيْنَٰكُم بِقُوَّةٍ ﴾ (واخلئ هغه احکام چې درکړی دی موږ تاسي ته په ښه کوښښ سره) یعنی عمل وکړی په هغو احکامو چې په تورات کې دی په ښه زیار او جدیت سره ﴿ وَٱذْكُرُوا مَا فِيهِ ﴾ (او یاد کړی هغه احکام چې په ده کې دی) مه یې هیروئ او مه ځنی غافل کیږئ ﴿ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ ﴾ لپاره ددې چې په دنیا او آخرت کې تاسو له هلاکت څخه وژغول شئ) -او یا -هیله ده چې تاسو دمتقینو له ډلې څخه وګڼل شئ ﴿ ثُمَّ تَوَلَّيْتُم مِّنۢ بَعْدِ ذَٰلِكَ ﴾ بیا شاګړه تاسي وروسته له دې عهد نه ﴿ فَلَوْلَا فَضْلُ ٱللَّهِ عَلَيْكُمْ ﴾ نو که چېرې نه وی په تاسي دالله فضل دتوبې په قبلولو سره ﴿ وَرَحْمَتُهُۥ ﴾ (او مهرباني دهغه چې تاسي ته یې ګناه دروبښله) ﴿ لَكُنتُم مِّنَ ٱلْخَٰسِرِينَ ﴾ (نو هرو مرو به شوی وی تاسي له زیانکارانو) په دنیا او آخرت کی ﴿ وَلَقَدْ عَلِمْتُمُ ٱلَّذِينَ ٱعْتَدَوْا مِنكُمْ فِى ٱلسَّبْتِ ﴾ (او خامخا په تحقیق سره ښه پیژندلی دی تاسو هغه کسان چې تجاوز یې کړی وو له تاسي څخه (دماهیانو په ښکار) په ورځ دشنبې کی) یعنی تاسي ته معلومه ده هغه چا چې زموږ له امر څخه غاړه غړوله او چې موږ ځنی منع کړی وو دهغه په خلاف یې دشنبي په ورځ دماهیانو ښکار کاوو ﴿ فَقُلْنَا لَهُمْ كُونُوا قِرَدَةً خَٰسِـِٔينَ ﴾ نو وویل موږ دوی ته چې شئ بیزوګان ذلیل (خوار شوی) یعنی

دوې بشر وو خو مونږ په ذليلو بيزوګانو مسخ کړل ﴿ فَجَعَلْنَاهَا نَكَالًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهَا ﴾ نو وګرزوله مونږ دغه مسخ يو عبرتناک عذاب دحاضرو امتونو ﴿ وَمَا خَلْفَهَا ﴾ او دهغوي چې وروسته راځي ﴿ وَمَوْعِظَةً لِّلْمُتَّقِينَ ﴾ او پند لپاره دپرهيزګارانو او دسبحانه وتعالى دصالح بندګانو.

بلاغت:

١ - (خُذُوا مَا آتَيْنَاكُم بِقُوَّةٍ) دلته ايجاز بالحذف دى يعنى مونږ ورته وويل واخلى او دالکه چې زمخشری ليکي دقول په راوړلو سره بشپړيږي يعنى: قلنا لهم خذوا...

٢ - (كُونُوا قِرَدَةً خَاسِئِينَ) دلته امر له خپل حقيقت څخه دتحقير او اهانت معنى ته راووت ځينو مفسرينو ويلې چې دغه پخپله دتحقير او تکوين امر دى او دا دقدرت له تعلق څخه عبارت دى چې دوى يې دبشريت له حقيقت څخه دبيزوګانو حقيقت ته وليږدول(١)

٣ - (لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهَا وَمَا خَلْفَهَا) دلته کنايه ده له هغو خلکو او امتونو څخه چې تر دوى مخکې او يا وروسته راځي او يا عبرت دى پرومبنيو او وروستنيو ته.

ګټې او فائدې:

لومړۍ فائده: قفال وايي دا چې يې وفرمايل: (مِيثَاقَكُمْ) او داسي يې ونه ويل (مواثيقكم) څکه ددوى د هر يوه ميثاق يى جلا جلا اراده کړې لکه چې بل ځاى فرمايي (ثم يخرجكم طفلا) يعنى را باسي هر يو ستاسي ماشوم(٢)

دوهمه فائده: د لطافت دپوهې ځينې خاوندان وايي چې دبني اسرائيلو نفسونه له تاريکي څخه ډک وو خودبيني او تکبر يې اوج ته رسيدلى وو کله چې دتورات دحکمونو دمنلو امر ورته وشو دوى ته ډير درووند ښکاره شو نو سر يې وغړاوو الله تعالى دطور غر ورباندى دپاسه کړ او بيا يې سوچ وکړ چې داغرخو دتورات تر حکمونو لاپسي دروند دى نو يې تورات ته غاړه کښيښوده.

دريمه فائده: دمتقيانو لپاره پند چې ځانګړي وګڼل شو (وَمَوْعِظَةً لِّلْمُتَّقِينَ) څکه په پند او وعظ سره دوى نفع اخلى لکه چې الله فرمايي (وذكر فان الذكرى تنفع المؤمنين).

(١) الفتوحات الالهية ٢٣/١.
(٢) البحر المحيط ٢٤٣/١.

الله تعالى فرمايي:

﴿ وَإِذْ قَالَ مُوسَىٰ لِقَوْمِهِۦٓ إِنَّ ٱللَّهَ يَأْمُرُكُمْ أَن تَذْبَحُوا۟ بَقَرَةً ۖ قَالُوٓا۟ أَتَتَّخِذُنَا هُزُوًا ۖ قَالَ أَعُوذُ بِٱللَّهِ أَنْ أَكُونَ مِنَ
ٱلْجَٰهِلِينَ ﴿٦٧﴾ قَالُوا۟ ٱدْعُ لَنَا رَبَّكَ يُبَيِّن لَّنَا مَا هِىَ ۚ قَالَ إِنَّهُۥ يَقُولُ إِنَّهَا بَقَرَةٌ لَّا فَارِضٌ وَلَا بِكْرٌ عَوَانٌۢ بَيْنَ ذَٰلِكَ ۖ
فَٱفْعَلُوا۟ مَا تُؤْمَرُونَ ﴿٦٨﴾ قَالُوا۟ ٱدْعُ لَنَا رَبَّكَ يُبَيِّن لَّنَا مَا لَوْنُهَا ۚ قَالَ إِنَّهُۥ يَقُولُ إِنَّهَا بَقَرَةٌ صَفْرَآءُ فَاقِعٌ
لَّوْنُهَا تَسُرُّ ٱلنَّٰظِرِينَ ﴿٦٩﴾ قَالُوا۟ ٱدْعُ لَنَا رَبَّكَ يُبَيِّن لَّنَا مَا هِىَ إِنَّ ٱلْبَقَرَ تَشَٰبَهَ عَلَيْنَا وَإِنَّآ إِن شَآءَ ٱللَّهُ لَمُهْتَدُونَ
﴿٧٠﴾ قَالَ إِنَّهُۥ يَقُولُ إِنَّهَا بَقَرَةٌ لَّا ذَلُولٌ تُثِيرُ ٱلْأَرْضَ وَلَا تَسْقِى ٱلْحَرْثَ مُسَلَّمَةٌ لَّا شِيَةَ فِيهَا ۚ قَالُوا۟ ٱلْـَٰٔنَ جِئْتَ بِٱلْحَقِّ ۚ
فَذَبَحُوهَا وَمَا كَادُوا۟ يَفْعَلُونَ ﴿٧١﴾ وَإِذْ قَتَلْتُمْ نَفْسًا فَٱدَّٰرَْٰٔتُمْ فِيهَا ۖ وَٱللَّهُ مُخْرِجٌ مَّا كُنتُمْ تَكْتُمُونَ ﴿٧٢﴾ فَقُلْنَا ٱضْرِبُوهُ
بِبَعْضِهَا ۚ كَذَٰلِكَ يُحْىِ ٱللَّهُ ٱلْمَوْتَىٰ وَيُرِيكُمْ ءَايَٰتِهِۦ لَعَلَّكُمْ تَعْقِلُونَ ﴿٧٣﴾ ثُمَّ قَسَتْ قُلُوبُكُم مِّنۢ بَعْدِ ذَٰلِكَ فَهِىَ كَٱلْحِجَارَةِ
أَوْ أَشَدُّ قَسْوَةً ۚ وَإِنَّ مِنَ ٱلْحِجَارَةِ لَمَا يَتَفَجَّرُ مِنْهُ ٱلْأَنْهَٰرُ ۚ وَإِنَّ مِنْهَا لَمَا يَشَّقَّقُ فَيَخْرُجُ مِنْهُ ٱلْمَآءُ ۚ وَإِنَّ مِنْهَا لَمَا يَهْبِطُ
مِنْ خَشْيَةِ ٱللَّهِ ۗ وَمَا ٱللَّهُ بِغَٰفِلٍ عَمَّا تَعْمَلُونَ ﴿٧٤﴾ ﴾ البقرة: ۶۷ - ۷۴

مناسبت او تړاو:

څرنګه چې الله د يهودانو ځيني جرائم او بدي ذکر کړې چې هغو ي وعدې ماتوي د الله له اوامرو سرغړوی کوم چې د شنبې په ورځ ښکار کوی او د الله نازل شوی شريعت او حکمونه يې نه پرځای کوی الله د دوی يو بل رنګه جرم او معصيت بيانوی هغه دا چې دوی د انبياوو عليهم السلام هم مخالفت کوی هغوی ته دروغجن وايي او کوم الهی حکمونه چې په همدې انبياوو رانازليږي دوی يې امتثال ته چمتو نه دی او بيا ډيري پوښتني اوزياته سپين سترګي له انبياوو سره کوی او دا چې له خپل پيغمبر حضرت موسی ﷺ سره يې په مخاطبه کي څومره بې دريغه جفاکړی ده.

لغتونه:

(هزواً) هزو مسخرې او ملنډو ته وايي (هزواً) لکه (کفوا) داسي ده بيا يې زا ته ضمه ورکړه او همزه يې په واو سره بدله کړه او دلته مضاف حذف شوی چې تقدير يي داده (اتتخذنا موضع هزو) يعنی ايا ته موږ د مسخرو ځای ګڼې او يا هم مصدر د مفعول په معنی دی چې ايا ته موږ مسخره کړل شوی ګرځوې (فارض) زړه (بکر) څوانه هغه چې لا لنګه شوې نه وي فحل هم د هغې د کوچنيوالی له امله ورنژدې شوی نه وی (عوان) ميانه حاله ده نه ډيره زړه ده او نه ډيره وړه او چا بيا ويلی دی هغه چې يو ځل او يا دوه ځلی لنګه شوې وی (فاقع) فقوع د ژيړوالی وروستی حد ته وايي (چې موږ په پښتو کی ورته تک ژيړ وايو) لکه چې ويلی کيږی (احمرُ قانٍ) يعنی تک سور طبری وايي او د الکه چې تک سپين ته وايي (ابيضُ ناصعٌ)، (ذلول) يعنی نه ده تکليف کښونکی د قلبي لپاره (مسلمة) له عيوبو خلاصه ده (شية) داغ (مخالف) ټکي له رنګه د هغې له اصلی رنګ څخه په کي نشته[۱] (فادارأتم) په

---

(۱) البحر المحيط ۲۴۸/۱ .

جګړه شوی اختلاف او شخړي مو رامنځ ته کړې اصل د دغي کلمې (تدارأتم) وو او د (درء) معنی دفع کول دی او دواړو قبیلو یو بل څخه دفع کوله نو (تا) یې په دال کی مدغم کړه او همزه دوصل یې ددې لپاره راوړه چې په ساکن توري پیل او ابتداء رانشي (ادّارأتم) شو او په حدیث شریف کی راځي (أدرؤا الحدود بالشبهات) (قست) سخت شول درقت (نرم والی) ضد ته ویل کیږي (یشقق) څیرل په اوږده او پسور ته وایي (یهبط) ښکته رارغړیدل.

دمړي دژوندي کولو معجزه او دغوا کیسه:

ابن ابي حاتم له عبیده السلماني څخه روایت کوی هغه وایي: په بني اسرائیلو کي یو موړ سړی وو چې اولاد یې نه درلود وراره یې وارث وو نو یې خپل تره وواژه او دشپې یې دیو چا په دروازه کی وغورځاوو او بیا یې په هغوی دوژلو دعوی وکړه آن تر دې چې (دتورن قاتل اومقتول) دواړه خواوی جګړې ته تیار شول نو بیا هوښیارانو وویل موږ ولی یو بل سره وژنو؟ دادی دالله استازی موجود دی حضرت موسی ﷺ ته راغلل او کیسه یې ورته وکړه هغه ورته وویل: ﴿إِنَّ ٱللَّهَ يَأْمُرُكُمْ أَن تَذْبَحُوا۟ بَقَرَةً﴾ الله درته امر کوی چې غوا حلاله کړی که چیرې دوی اعتراض نه وی کړی هره غوا چې یې حلاله کړی وای هغه کافي وه خو دوی ډیری پوښتنی پیل کړې آن تر دې چې هغې غوا ته خبره ورسیده چې بیا یې وموندله دا دیو سړی غواده چې له هغې پرته بله یې نه درلوده نو یې ورته وویل چې زما دی په خدای لوړه وی که به یې زه تردې کمه درکړم تر څو چې څرمن یې له سرو زرو راډکه نه کړی نو دوی هم موافقه ورسره وکړه او څرمن یې په سرو زرو ورډکه کړه هغه یې حلاله کړه او په یوه ټوټه یې مړی وواهو هغه رااوچت شو دوی ورته ویل چا ووژلې؟ ده ورته ویل دغه سړی ! او خپل وراره ته یې اشاره وکړه او بیرته ومړ (وفات شو) نو یې وراره له میراث څخه محروم شو اوله هغه را وروسته اوس هیڅکله هم قاتل میراث نشي وړای (١)اوپه یو روایت کی هغه هلک یی وواژه.

تفسیر:

﴿وَإِذْ قَالَ مُوسَىٰ لِقَوْمِهِۦٓ إِنَّ ٱللَّهَ يَأْمُرُكُمْ أَن تَذْبَحُوا۟ بَقَرَةً﴾ (یاد کړی (اې بني اسرائیلو) کله چې وویل موسی خپل قوم لره چې بیشکه الله امر کوی تاسو ته چې حلاله کړی غوا) ﴿قَالُوٓا۟ أَتَتَّخِذُنَا هُزُوًا﴾ (وویل دوی ایا ګرځوی ته موږ مسخره) یعنی خپل نبی ته ستاسی بیکاره ځواب هم داوو ﴿قَالَ أَعُوذُ بِٱللَّهِ أَنْ أَكُونَ مِنَ ٱلْجَٰهِلِينَ﴾ (وویل موسی) پناه غوارم په الله له دې چې شم زه له ناپوهانو (مسخره چیانو) ﴿قَالُوا۟ ٱدْعُ لَنَا رَبَّكَ يُبَيِّن لَّنَا مَا هِىَ﴾ (وویل دوی وغواړه دپاره زموږ له رب ستا څخه چې څرنګه غوا ده ؟) ﴿قَالَ إِنَّهُۥ يَقُولُ إِنَّهَا بَقَرَةٌ لَّا فَارِضٌ وَلَا بِكْرٌ﴾ (وویل موسی چې بیشکه هغه وایی چې بیشکه هغه یوه غواده چې نه ډیره زړه ده او نه ډیره وړه) ﴿عَوَانٌۢ بَيْنَ ذَٰلِكَ﴾ میانه ده په منځ ددې کي ﴿فَٱفْعَلُوا۟ مَا تُؤْمَرُونَ﴾ (وکړی هغه څه چې درباندی مامور شوی یاست) سختي مه کوی الله به درسره سختي وکړی ﴿قَالُوا۟ ٱدْعُ لَنَا رَبَّكَ يُبَيِّن لَّنَا مَا

(١) مختصر ابن کثر ٧۶/١ .

﴿لَوْنُهَا﴾ (وویل دوی وغواړه له رب ستا څخه چې بیان کړی موږ ته څرنگه ده رنگ دهغې) سپین دی توردی او یا بل ډول؟ ﴿قَالَ إِنَّهُۥ يَقُولُ إِنَّهَا بَقَرَةٌ صَفْرَآءُ فَاقِعٌ لَّوْنُهَا تَسُرُّ ٱلنَّٰظِرِينَ﴾ (وویل موسی) بیشکه الله وایی چې بیشکه هغه غواده ژیړه تک ژیړ دی رنگ دهغې خوشحالوی زړونه دکتونکو ﴿قَالُواْ ٱدْعُ لَنَا رَبَّكَ يُبَيِّن لَّنَا مَا هِىَ﴾ وویل دوی وغواړه له ربه ستا نه چې بیان کړي څه ده هغه غوا؟ بیرته یې سوال راوگرزواوو وروسته له دې چې دغوا تونه، غاښ او رنگ ټول ورته معلوم شو نویې وویل چې داسې میانه غواوی چې تک ژیړ رنگ لرې ډیري دی کومه یوه یې رانبیي ﴿إِنَّ ٱلْبَقَرَ تَشَٰبَهَ عَلَيْنَا﴾ (بیشکه غوا په موږ مشتبه شوه) موږ نه پوهیږو دکومې غوا په حلالولو راته امر شوی دی ﴿وَإِنَّآ إِن شَآءَ ٱللَّهُ لَمُهْتَدُونَ﴾ او بیشکه موږ که اراده وکړی الله خامخا لار پیدا کوونکي یو ﴿قَالَ إِنَّهُۥ يَقُولُ إِنَّهَا بَقَرَةٌ لَّا ذَلُولٌ تُثِيرُ ٱلْأَرْضَ وَلَا تَسْقِى ٱلْحَرْثَ﴾ وویل موسی بیشکه الله وایي چې بیشکه دا غواده چې نه ده تکلیف ایستونکی چې مځکه اړوی (قلبه کوی) او نه اوبه کوی کښت ﴿مُسَلَّمَةٌ لَّا شِيَةَ فِيهَا﴾ ساتلې شوې او سالمه ده له نورو رنگونو چې پکې هیڅ بل رنگ نشته تکه ژیړه ده ﴿قَالُواْ ٱلْـَٰٔنَ جِئْتَ بِٱلْحَقِّ﴾ وویل دوی (بنی اسرائلو) اوس دی روښانه خبره وکړه چې هیڅ پټ والی پکې نشته ﴿فَذَبَحُوهَا وَمَا كَادُواْ يَفْعَلُونَ﴾ (پس هغه یې حلاله کړه او نه وو دوی نژدې دې ته چې دا کار به یې کړی وای) یا له دې چې قیمت او بیه یې لوړه وه او یا هم دقاتل دپیدا کیدلو له شرمه بیا الله تعالی دخپل دغه امر چې دوی ته یې دغوا په حلالولو کړی وو داسې اخبار وفرمایه: ﴿وَإِذْ قَتَلْتُمْ نَفْسًا﴾ (یاد کړی هغه وخت چې مړ کړ (پلرونو ستاسې) یو سړی ﴿فَٱدَّٰرَْٰٔتُمْ فِيهَا﴾ او تاسو په جګړه او شخړه کې شوی په هغه (مقتول) کښې هر چا به دقتل تور له ځان څخه لیرې کاوو او پر بل چا باندې به یې اړاوو ﴿وَٱللَّهُ مُخْرِجٌ مَّا كُنتُمْ تَكْتُمُونَ﴾ او الله ښکاره کونکی دی دهغه څه چې تاسو هغه پټاوو (قتل) ﴿فَقُلْنَا ٱضْرِبُوهُ﴾ نو وویل موږ چې ووهی دامړی په یوه بوټی دغوا؛ چې ژوندی به شي او تاسو به له حقیقت څخه خبر کړي چې قاتل څوک دی؟ ﴿بِبَعْضِهَا ۚ كَذَٰلِكَ يُحْىِ ٱللَّهُ ٱلْمَوْتَىٰ﴾ دغه رنگه الله تعالی مړی ژوندی کوی لکه دغه سړی چې یې ستاسو په وړاندې ژوندی کړ ﴿وَيُرِيكُمْ ءَايَٰتِهِۦ لَعَلَّكُمْ تَعْقِلُونَ﴾ او درښیي دخپل قدرت دلائل لپاره ددې چې فکر او سوچ وکړی، پدې وپوهیږی چې الله تعالی په هرڅه قادر دی. بیا الله تعالی ددوی دزړه له سخت والی او جفا څخه خبر راوړی فرمایي ﴿ثُمَّ قَسَتْ قُلُوبُكُم﴾ بیا سخت شو زړونه ستاسی، اې یهودانو چې وعظ او نصیحت وړباندې اغیزه نکوی ﴿مِّنۢ بَعْدِ ذَٰلِكَ﴾ وروسته له دې (معجزاتو) نه ﴿فَهِىَ كَٱلْحِجَارَةِ أَوْ أَشَدُّ قَسْوَةً﴾ نو دغه (زړونه) لکه تیږې دی او یا سخت تر تیږو؛ لکه اوسپنه غوندې ﴿وَإِنَّ مِنَ ٱلْحِجَارَةِ لَمَا يَتَفَجَّرُ مِنْهُ ٱلْأَنْهَٰرُ﴾ او بیشکه چې له ځینو تیږو څخه هغه دي چې

خامخا خوتيږي خنى لوبي لوبي ويالې ﴿ وَإِنَّ مِنْهَا لَمَا يَشَّقَّقُ فَيَخْرُجُ مِنْهُ ٱلْمَآءُ ﴾ او په تحقيق سره ځينى له دغو تيږو څخه هغه دي چې چوى او راوزى له هغوى نه اوبه؛ دغه چودل يې دالله له ويرى وى ﴿ وَإِنَّ مِنْهَا لَمَا يَهْبِطُ مِنْ خَشْيَةِ ٱللَّهِ ﴾ (او ځينى له هغو څخه هغه دي چې رارغړي دخداى له ويرى نه) دا ډيرى ستاسو تر زړونو نرمي او اغيز منونكى دي ستاسى زړونه نه تاثير منى او نه هم نرميږى ﴿ وَمَا ٱللَّهُ بِغَٰفِلٍ عَمَّا تَعْمَلُونَ ﴾ او نه دى الله بې خبر له هغه څه نه چې تاسى يې كوى، بلكه الله ﷻ څارونكى دى او پدې به دقيامت په ورځ جزا دركوى پدې كى وعيد او تهديد پټ دى.

بلاغت:

١ - ايجاز بالحذف لكه پدې كلام كى (فَذَبَحُوهَا وَمَا كَادُوا۟ يَفْعَلُونَ) له صدر ددغى جملې څخه دوه جملې چې دكلام له پيلتوب څخه معلوميږى حذف شوى تقدير يې داسي ده (فطلبوا البقرة الجامعة للاوصاف السابقة وحصلوها فلما اهتدوا اليها فذبحوها).

٢ - دالله ﷻ داقول چې فرمايي (وَٱللَّهُ مُخْرِجٌ مَّا كُنتُمْ تَكْتُمُونَ) دغه جمله اعتراضيه ده چې ددوو جملو يوه يې (فَٱدَّٰرَٰٔتُمْ فِيهَا) او بله يې (فَقُلْنَا ٱضْرِبُوهُ بِبَعْضِهَا) ده ددوى تر منځ راغلې او كله چې معترضه دهغو ددو جملو ترمنځ چې شان يې پيوستون وى راشي كلام ته دبلاغت دپلوه ښكلا وربښي او داعتراض فائده دلته داده چې مخاطبين وپوهوي چې خا مخا به حقيقت څليږى.

٣ - (ثُمَّ قَسَتْ قُلُوبُكُم) پدې جمله كى تصريحي استعاره ده څكه زړونه يې په ټينګ والى او سخت والى وستايل هغه چې وعظ او پند ورباندى اغيزه نلرى ابو السعود وايى چې قسوت عبارت له ټينګ والى او جفا څخه دى او هغه سخت والى چې په ډېره كى ده كه څېري داسي وعظونه او اخطارونه لكه چې ددوى زړونو ته مخامخ كيږى ډبرو او غرونو ته مخ شي ويلې كيږي او پستيږي (١)

٤ - (فَهِىَ كَٱلْحِجَارَةِ) دغې تشبيه ته مرسله مجمله وايي څكه دتشبيه تورى او ادات موجود دي خو دشبه وجه يې حذف شوي ده.

٥ - (لَمَا يَتَفَجَّرُ مِنْهُ ٱلْأَنْهَٰرُ) دلته مجاز مرسل دي څكه ويالې خو نه بهيږي بلكه اوبه يې خو تيږي عرب كله كله دمحل ذكر كوى چې مراد څنى حال وى لكه چې روډ ذكر كوى خو مراد يې درود اوبه وى.

(١) ارشاد العقل السليم ١/٩٠.

فوائد او نکتې:

لومړۍ فائده: دا چې الله تعالی وفرمایل: (قَالَ أَعُوذُ بِاللَّهِ أَنْ أَكُونَ مِنَ الْجَٰهِلِينَ) ددې تنبیه ورکوي چې ملنډې په دینی امورو ستر جهل او ناپوهي ده ځکه نو ځیرونکو پوهانو دآیتونو لوستل په هغه ځای کې چې مسخرې توکي کول کیږي منع کړي دي وایي چې قرآنکریم دتفکر او خشوع لپاره نازل شوی دټوکو ټکالو په ځای کې یې لوستل یې مناسب نه دي.

دوهمه نکته او فائده: پدې قول کې چې الله ﷻ فرمایي (وَإِذْ قَتَلْتُمْ نَفْسًا) حاضرینو یهودو ته خطاب دی او عادت داسې ده کله څوک یو چاته خطاب کوي دتیرو پلرونو کارنامې یې دوی ته نسبت کوي کله چې دوی هم دهغوی په پلونو پل ایږدي او دهغوی په کړو وړو خوښ وي او پدې کې توبیخ او ترټنه ده پخوانیو او وسنیو ته.

دریمه نکته او فائده: دقتل پیښه دغواتر حلالولو دمخه پیښه وه که څه هم په یادولو کې وروسته راغلې او پدې کې داراز نغښتی ده چې دغوا دحلالو دسبب لپاره تشویق پیدا کړي او بل دا چې ترټنه او ټکونه تکرار شي علامه ابوالسعود وایي چې ترتیب ددې لپاره واړول شو چې توبیخ او ترټل تکرارشي ځکه دیو چا وژل په ناحقه سره په موسی ﷺ ملنډې وهل او دهغه په غوښتنه باندې غوږ کوڼ اچول دا ډیر ستر جنایت او ګناه ده له دې سره ښایي چې څو څو ځله دوی وترټل شي([1]) څلورمه فائده: الله تعالی پدې مبارک سورت کښې دمړیو ژوندی کول پنځه ځله راوړي (الف) : (ثُمَّ بَعَثْنَٰكُم مِّنۢ بَعْدِ مَوْتِكُمْ) (ب) : (فَقُلْنَا اضْرِبُوهُ بِبَعْضِهَا) (ج) : دهغو کسانو په باب چې ددوی له ښارونو خپلو په زرهاوو کسان راووتل (فَقَالَ لَهُمُ اللَّهُ مُوتُوا ثُمَّ أَحْيَٰهُمْ) [البقرة: ۲۴۳] (د) او دحضرت عزیر ﷺ په کیسه کې (فَأَمَاتَهُ اللَّهُ مِائَةَ عَامٍ ثُمَّ بَعَثَهُۥ) [البقرة: ۲۵۹] (هـ) او دحضرت ابراهیم ﷺ په کیسه کې: (رَبِّ أَرِنِي كَيْفَ تُحْيِ الْمَوْتَىٰ) ([2]) [البقرة: ۲۶۰].

پنځمه فائده: پدې کلمه کې چې فرمایي: (فَهِيَ كَالْحِجَارَةِ أَوْ أَشَدُّ قَسْوَةً) دلته د(او) کلمه دبل په معنی ده یعنی لکه تیږې غوندې بلکه زیات تر تیږو سخت دي لکه چې الله ﷻ بل ځای فرمایي (وارسلناه الی مائة الف او یزیدون) چا بیا ویلي چې (او) دتردید لپاره دی او یا هم دتخییر لپاره یعنی پدې تشبیه کې تاله اختیار دی چې ډبره یې بولې او که تر هغې سخت لکه اوسپنه غوندې څوک چې ددوی حال ورته معلوم دي هغه یې ډبره او یا تر هغې لاسخت ګڼي او چاته چې یې حال معلوم ندی هغه یې ډبره غوندې ګڼي.

شپږمه فائده: ځیني مفسرینو ویلي چې (خشیة) دلته پخپله حقیقي معنا دی او الله دغو ډبرو ته هم دویرې او خشیت څخه برخه اوونډه ورکړې ده لکه چې الله دتسبیح په باب فرمایي:(وَإِن مِّن شَيْءٍ إِلَّا يُسَبِّحُ بِحَمْدِهِۦ) [الاسراء: ۴۴] نور چا بیا ویلي چې دلته مجازی معنا مراد کیږي لکه چې وایي: قال الحائط للمسمار: (لم تشقنی؟ قال سل من یدقنی)! یعني دیوال موږې ته وویل ولې مې څیرې؟ هغه ورته وویل داپوښتنه له هغه چاڅخه کوه چې ما ټک وهي والله اعلم؟.

---

(۱) ارشاد العقل السلیم ۹۰/۱.

(۲) همداسې علامه ابن کثیر فرمایلي دي

الله تعالی فرمایي:

﴿ أَفَتَطْمَعُونَ أَن يُؤْمِنُوا لَكُمْ وَقَدْ كَانَ فَرِيقٌ مِّنْهُمْ يَسْمَعُونَ كَلَامَ اللَّهِ ثُمَّ يُحَرِّفُونَهُ مِن بَعْدِ مَا
عَقَلُوهُ وَهُمْ يَعْلَمُونَ ﴿٧٥﴾ وَإِذَا لَقُوا الَّذِينَ آمَنُوا قَالُوا آمَنَّا وَإِذَا خَلَا بَعْضُهُمْ إِلَىٰ بَعْضٍ قَالُوا أَتُحَدِّثُونَهُم
بِمَا فَتَحَ اللَّهُ عَلَيْكُمْ لِيُحَاجُّوكُم بِهِ عِندَ رَبِّكُمْ أَفَلَا تَعْقِلُونَ ﴿٧٦﴾ أَوَلَا يَعْلَمُونَ أَنَّ اللَّهَ يَعْلَمُ مَا يُسِرُّونَ وَمَا
يُعْلِنُونَ ﴿٧٧﴾ وَمِنْهُمْ أُمِّيُّونَ لَا يَعْلَمُونَ الْكِتَابَ إِلَّا أَمَانِيَّ وَإِنْ هُمْ إِلَّا يَظُنُّونَ ﴿٧٨﴾ فَوَيْلٌ لِّلَّذِينَ يَكْتُبُونَ
الْكِتَابَ بِأَيْدِيهِمْ ثُمَّ يَقُولُونَ هَٰذَا مِنْ عِندِ اللَّهِ لِيَشْتَرُوا بِهِ ثَمَنًا قَلِيلًا فَوَيْلٌ لَّهُم مِّمَّا كَتَبَتْ أَيْدِيهِمْ وَوَيْلٌ
لَّهُم مِّمَّا يَكْسِبُونَ ﴿٧٩﴾ وَقَالُوا لَن تَمَسَّنَا النَّارُ إِلَّا أَيَّامًا مَّعْدُودَةً قُلْ أَتَّخَذْتُمْ عِندَ اللَّهِ عَهْدًا فَلَن يُخْلِفَ اللَّهُ
عَهْدَهُ أَمْ تَقُولُونَ عَلَى اللَّهِ مَا لَا تَعْلَمُونَ ﴿٨٠﴾ بَلَىٰ مَن كَسَبَ سَيِّئَةً وَأَحَاطَتْ بِهِ خَطِيئَتُهُ فَأُولَٰئِكَ
أَصْحَابُ النَّارِ هُمْ فِيهَا خَالِدُونَ ﴿٨١﴾ وَالَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ أُولَٰئِكَ أَصْحَابُ الْجَنَّةِ هُمْ فِيهَا
خَالِدُونَ ﴿٨٢﴾ ﴾ البقرة: ٧٥ - ٨٢

مناسبت او تړاو:

څرنګه چې الله تعالی دیهودانو عناد ، او دالله ﷺ حکم نه منل او له انبیاء علیهم السلام سره مجادله کول دالله او پیغمبر له اوامرو څخه سر غړول ذکر کړی له دې وروسته یې ددوی نوري بدي ګناوی او جرائم کوم چې دوی تر سره کړی وو لکه دالهي کلام تحریف او دادعوی چې دوی دالله دوستان او غوره احباب دي بیشکه چې دوی به اور، ونه سوځوی مګر لږ یو څو شپې او ددوی نوری دروغجنی دعوې او هیلي کومی چې له پلرونو او نیکونو ورته په میراث پاتی وی نو الله ﷺ ددوی له ایمان راوړلو څخه دمسلمانانو په ناهیلی کولو پیل وکړ ځکه ددوی ختمه په ګمراهي او ضلالت اغښلی شوي او دوي له عناد او تکبر څخه جوړ دی.

لغتونه:

(افتطمعون) طمع دنفس هغه تړاو ته وایي چې دیو شی په تر لاسه کولو کی یې لری که ډیر او سخت تړاو وو طمع او که جهری بیا کمزوری وو ورته رجاء او هیله وایي (فریق) تولی ته وایی اسم جمع دي او له خپل لفظ څخه واحد نلري لکه رهط او قوم غوندي (عقلوه) یعنی پر ي پوهیدلی او هغه یې پیژندلې وی (امیّون) مورته یې نسبت شوی یعنی هغسی پاتی لکه څرنګه چې له موره زیږیدلی دی یعنی په څه نه پوهیږي (امانی) د(امنیة) جمع ده هغه څه ته وایي چې انسان یې تمنا او ارزو لری او یایې له هیلو او تمنیاتو څخه له ځانه جوړوی ځکه نو دروغو ته هم (تمنی) وایی لکه چې یو اعرابی بل ته وویل (اهذا شئ رایتَه ام تمنیتَه) یعنی ایا داتا پخپله لیدلی شئ ده او که دی له ځانه جوړ کړی ده کله کله دلوستلو په معنی هم راځي لکه چې حسان ﷺ وایي (تمنی کتاب الله اول لیلة) یعنی لوستي یې وو دالله کتاب لومړی شپه (فویل) ویل هلاک ته وایي چا بیا ویلی شرمیدلو او بنوئیدلوته وایي داهسي کلمه ده چې په عذاب او په شرکی استعمالیږی قاضي وایي چې دادوعید او تهدید وروستنی

مرحله ده لکه (ویل للمطففین) او سیبویه وایي چې (ویل) دهغه چا لپاره وی چې په هلاکت کی لویدلی او (ویح) دهغه چا لپاره چې په پوله یې ولاړ وی؛ ورنږدې شوی وی.

دنزول سبب او تړاو:

١: دا آیتونه دانصارو په هکله نازل شوی څوک چې دیهودو حلفاء وو دوی یوله بله سره همسایه ګان وو انصارو هیله درلوده کاشکي دغه یهودان مسلمانان شي نو الله وفرمایل: (أَفَتَطْمَعُونَ أَن يُؤْمِنُوا لَكُمْ)(١)

٢: مجاهد له ابن عباس رضي الله عنهما څخه روایت کوی چې یهودو به ویل دا دنیا اوه زره کاله دي او په هر یو زر کاله به فقط یوه شپه په اور کی لویږو بیشکه دغه اوه ورځی یوه اونۍ شمیرلې شپې دی نو الله جل جلاله نازل کړ (وَقَالُوا لَن تَمَسَّنَا النَّارُ إِلَّا أَيَّامًا مَّعْدُودَةً) (٢)

تفسیر:

الله مؤمنانو ته خطاب کوي فرمایي: ﴿أَفَتَطْمَعُونَ أَن يُؤْمِنُوا لَكُمْ﴾ ایا نو تمه کوي تاسي چې دوی به ایمان راوړی؟ او ستاسی په دین کی به درګډ شي ﴿وَقَدْ كَانَ فَرِيقٌ مِّنْهُمْ يَسْمَعُونَ كَلَامَ اللَّهِ﴾ (او بیشکه چې وه یوه ډله ددوی څخه چې اوریده به یې کلام دالله) یعنی حال دا چې ددوی دعلماوو او احبارو یوه ډله وه چې دالله کلام به یې لوستل او اوریدل، ښه ورته معلوم وو ﴿ثُمَّ يُحَرِّفُونَهُ مِن بَعْدِ مَا عَقَلُوهُ﴾ (بیا به یې اړول وروسته له دې چې دوی به پرې پوهیدل) یعنی هغه آیتونه به یې په تبدیل او تأویل اړول ﴿وَهُمْ يَعْلَمُونَ﴾ (حال دا چې دوی به پدې پوهیدل) چې دوی دګناه مرتکب کیږی قصداً دغه مخالفت ترسره کوی پدې کی کوم خطاء او نسیان نشته ﴿وَإِذَا لَقُوا الَّذِينَ آمَنُوا قَالُوا آمَنَّا﴾ (او کله چې ملاقات وکړي هغه کسان یهودان له مؤمنانو سره وایي چې موږ ایمان راوړی دی یعنی کله چې درسول الله ﷺ له اصحابو سره یو ځای شي نو دغه منافق یهودان دایمان دعوی کوی وایي چې تاسی په حق یاست او محمد ﷺ هغه پیغمبر دی چې دوی ته وربانده زیری ورکول شوی وو ﴿وَإِذَا خَلَا بَعْضُهُمْ إِلَىٰ بَعْضٍ﴾ او کله چې یواځي شي ځینی ددوی له ځینو نورو سره ﴿قَالُوا أَتُحَدِّثُونَهُم بِمَا فَتَحَ اللَّهُ عَلَيْكُمْ﴾ نو وایي دوی (دعتاب په ډول) ایا خبر وی تاسي مؤمنان په هغه څه چې پرانستلي الله پر تاسي (په تورات کښي) ﴿لِيُحَاجُّوكُم بِهِ عِندَ رَبِّكُمْ﴾ ترڅو چې جګړه وکړی له تاسی سره مؤمنان په هغه سره په نزد دپروردګار ستاسو، یعنی تاسو دپیغمبر متابعت پرې اېښي وو سره له دې چې په رښتنولۍ مو علم درلود ﴿أَفَلَا تَعْقِلُونَ﴾ (ایا نو نه پوهیږي په دې؟ ددغه قول قائلین یهود دی او معنی یې دا چې دوی به ځینو نورو ته یې ویل چې پدې نه پوهیږي چې دښمن ته حجت ورښیي؟ الله تعالی پر دوی باندې

(١) البحر المحیط ١/٢٧٧.
(٢) مختصر ابن کثیر ١/٨٢.

تردید په توګه داسې وفرمایل: ﴿ أَوَلَا يَعْلَمُونَ أَنَّ اللَّهَ يَعْلَمُ مَا يُسِرُّونَ وَمَا يُعْلِنُونَ ﴾ (ایا نه پوهیږي دغه یهودان) چې بیشکه الله پوهیږي په هغه چې دوی یې پټوی او په هغه څه چې دوی یې څرګندوی) الله په هر څه عالم او پوه دی دوی ولې هسې وایي او بیا دایمان لرلو ګومان هم کوی کله چې الله لومړی ددوی عالمان یاد کړل هغوی چې دتورات آیتونه یې اړول یا یې بدلول وریسې یې عوام الناس ذکر کړل چې دنوموړو عالمانو پیروی یې کوله او داسې یې وښودله چې دواړه ډلې په ضلالت او ګمراهی کی دی ویې فرمایل: ﴿ وَمِنْهُمْ أُمِّيُّونَ لَا يَعْلَمُونَ الْكِتَابَ ﴾ (او ځینی له دغو (یهودو) څخه امیان دی چې نه پوهیږي په کتاب (تورات) باندی یعنی دهغوی لوستل او لیکل زده نه دی چې په تورات وپوهیږي ﴿ إِلَّا أَمَانِيَّ ﴾ مګر آرزوګانې هغه چې دوی ته احبار او عالمانو یې ورکړی چې الله عفوه درته کوی او اور مو نه سوځوی مګر یو څو شپې او ددوی نبیان پلرونه به ددوی شفاعت کوي او دوی دخدای زامن او خپلوان (دوستان) دی او داسې نور ﴿ وَإِنْ هُمْ إِلَّا يَظُنُّونَ ﴾ (او نه دی دوی مګر (بې دلیله) ګومان کوی) یعنی دوی دپلرونو روند تقلید او پلوی کوی بیا الله دغو مشرانو ګمراهانو جرم او ګناه بیانوی کوم چې دوی عام خلک ګمراهی ته بیولی او داهم ددنیا دناځیز شی په بدل کی الله فرمایي:

﴿ فَوَيْلٌ لِّلَّذِينَ يَكْتُبُونَ الْكِتَابَ بِأَيْدِيهِمْ ﴾ نو عذاب او هلاک دی دهغو کسانو لپاره چې لیکی کتاب له خپله خانه، په خپلو لاسونو یعنی هغه کسان چې اړوی تورات او بیا لیکی دغه تحریف شوی آیتونه پخپلو لاسونو ﴿ ثُمَّ يَقُولُونَ هَٰذَا مِنْ عِندِ اللَّهِ ﴾ (او بیا وایي دغه له نزده دالله ﷻ ده) یعنی دوی خپلو امیانو اتباعوته وایي چې دغه لیکل شوی دالله آیتونه دی کوم چې په تورات کی یې په موسی ﷺ نازل کړی دی سره له دې چې دوی له خانه پخپلو لاسونو لیکلی او الله ﷻ ته یې په دروغو نسبت کوی ﴿ لِيَشْتَرُوا بِهِ ثَمَنًا قَلِيلًا ﴾ لپاره ددې چې واخلی په دغه (اړولی لیک) قیمت لږ ﴿ فَوَيْلٌ لَّهُم مِّمَّا كَتَبَتْ أَيْدِيهِمْ ﴾ هلاک او خرابي ده دوی لره په سبب دهغه شی چې لیکلی دی لاسونو ددوی له تحریف دتورات څخه ﴿ وَوَيْلٌ لَّهُم مِّمَّا يَكْسِبُونَ ﴾ او هلاک دی دوی لره له سببه دهغه چې دوی یې کوی یعنی حرام او باطل مالونه خوري ﴿ وَقَالُوا لَن تَمَسَّنَا النَّارُ إِلَّا أَيَّامًا مَّعْدُودَةً ﴾ (او وایي دوی هیچرې به نه رسیږي موږ ته اور مګر څو ورځې شمیرلې شوی) هغه چې د(خوسی) دعبادت موده او یا فقط اوه ورځې ﴿ قُلْ أَتَّخَذْتُمْ عِندَ اللَّهِ عَهْدًا ﴾ ووایه ته (اې محمد!) دوی لره ایا اخیستی ده تاسی په نزد دالله وعده؟ یعنی دغه خبره دانکار او توبیخ په توګه ورته وکړه نو که چیری یې ورسره وعده کړې وی ﴿ فَلَن يُخْلِفَ اللَّهُ عَهْدَهُ ﴾ نوله سره مخالفت نه کوی الله ﷻ له خپلی وعدې څخه ﴿ أَمْ تَقُولُونَ عَلَى اللَّهِ مَا لَا تَعْلَمُونَ ﴾ ایا وایې او جوړ وی په الله (دروغ) هغه څه چې پرې نه پوهیږي یعنی هغه څه وایاست چې الله نه وی ویلی نو دوې ګناوې جمع کوي! یوه دتحریف او بله په الله ﷻ باندی دروغ او بهتان ویل بیا الله ﷻ دیهودو دغه ناروا ګومان چې وایي دوی ته اورنه رسیږی مګر یو څو شپې داسې باطل کړ ویې فرمایل: ﴿ بَلَىٰ مَن كَسَبَ سَيِّئَةً ﴾ (هو رسیږي (تاسی ته دائمي اور) هر چا چې دبدې کسب وکړ ﴿ وَأَحَاطَتْ بِهِ خَطِيئَتُهُ ﴾ او

چاپیره شوه په ده گناه دده) یعنی له ټولو خواوو یې پټ کړ او دخلاصون ټولې لارې یې وربانډې وتړلې لکه تاسو غونډې ﴿ فَأُوْلَـٰٓئِكَ أَصۡحَـٰبُ ٱلنَّارِۖ هُمۡ فِيهَا خَـٰلِدُونَ ﴾ نو دغه کسان داور څښتنان دی تل به په اور کې وی ﴿ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّـٰلِحَـٰتِ ﴾ او هغه کسان چې دوی ایمان راوړی او نیک صالح عملونه یې سرته رسولی یعنی ایمان او صالح عمل یې یوځای کړی هغوی ته اور نه رسیږي او په جنتونو کی به وی ﴿ أُوْلَـٰٓئِكَ أَصۡحَـٰبُ ٱلۡجَنَّةِۖ هُمۡ فِيهَا خَـٰلِدُونَ ﴾ (دغه کسان څښتنان دجنت دي دوی به تل په همدې جنت کی وی) هیڅکله به ځنې نه وزی.

(اللهم اجعلنا منهم یا أرحم الراحمین).

بلاغت:

۱ - (وهم یعلمون) پدغه جمله کی ددوی دکړو وړو بشپړه بدي او قباحت بیان شوی ځکه دتورات تحریف اواړول دوی پداسې حال کی کاوو چې پوهه یې درلوده په خطاء او نسیان یې نه کاوو او څوک چې په قصد کومه گناه ترسره کوی هغه تر هغه چا چې وربانډی نه پوهیږي دسخت عذاب مستحق اووړوی.

۲ - پدې جمله کی چې الله ﷻ فرمایي: (یکتبون الکتاب بأیدیهم) دلته یې دلاسونو ذکر وفرمایل تر څو دمجاز توهم دفع شي او دا چې دغه کار دوی په لوی لاس تر سره کړی دی لکه چې یو څوک وایي پخپل لاس یې لیکلي پخپلو غوږونو یې اوریدلی دی.

۳ - دطباق صنعت چې پدې دوو کلمو کی راغلی (ما یسرون ومایعلنون) دلته دغه دوه لفظونه چې (یسرون) او (یعلنون) دی دی دایجاب طباق چې دبدیعي محسناتو څخه دی راغلی.

۴ - تکرار د (ویل) په کلمه چې په (فَوَيۡلٌ لِّلَّذِينَ يَكۡتُبُونَ ٱلۡكِتَـٰبَ) او (فَوَيۡلٌ لَّهُم مِّمَّا كَتَبَتۡ أَيۡدِيهِمۡ) او (وَوَيۡلٌ لَّهُم مِّمَّا يَكۡسِبُونَ) کی راغلې ددې لپاره دی چې ددوی جرم اوجنایت خپل وروستي پړاو ته رسیدلی نو باید څوځله په عذاب او هلاک توبیخ ورکول شي.

۵ - پدې قول کی چې الله ﷻ فرمایي: (وَأَحَـٰطَتۡ بِهِۦ خَطِيٓـَٔتُهُۥ) دلته استعاره کړل شوې ځکه گناهونه یې له هغه لښکر سره مشابه کړي چې کله په یو قوم راوگرځي داسې یې خواوشا احاطه کړې ته به وا لاسوندی په مړوند راځرخیدلي وي او داحاطې لفظ یې دگناهونو لپاره راووړ چې گوا کی تر نیکیو زیات او غلبه وربانډی لری لکه چې له ټولو خواوو وربانډې راگرځیدلي وي[1]

---

(۱) تلخیص البیان ۸/۱.

فوائد او ګټي:

لومړۍ فائده: دالله ﷻ دکلام تحریف په فاسد تأویل او یا تغیر او تبدیل دوارو باندی مصداق مومي او دیهودو داحبارو څخه دواړه ډول پیښ شوی دی لکه چې درسول الله په هکله یې داسي تحریف کړی دی ابو السعود وایي چې روایت کیږي دیهودو احبار او علماء دخپل ریاست په زوال ویریدل او هغه څه صفات چې په تورات کی لیکلی وو چې دآخر الزمان پیغمبر ﷺ به ښکلی مخ تکی توری ګڼی ول ول تاوشوی څڼی توری سترګي میانه قد او غنم رنګه وی خو دوی هغه وارولی داسي یې ولیکل: چې قد یې اوږد سترګی یې شنې څڼی یې ساده او خوړندي او ژیړی وی کله چې به امیانو له دوی څخه دپیغمبر ﷺ صفتونه وپوښتل دوی به هغه ورته ویل چې پخپله یې لیکلی وو نو به دوی چې پیغمبر ﷺ ته کتل له هغه څخه به یې مخالف لیدل کوم چې ددوی په تحریف شوی تورات کی وو نو ایمان به یې وریاندی نه واووړ (١)

دوهمه فائده: تحریف په دواړو ډولونو په آسماني کتابونو لکه تورات او انجیل کی واقع شوی لکه چې الله تعالی فرمايي (يُحَرِّفُونَ ٱلْكَلِمَ عَن مَّوَاضِعِهِۦ) [المائدة: ١٣] او هغه چې تحریف په باطل تأویل سره ده په قرآن کریم کی دملحدانو او جاهلانو له خواکیږي خو دآیتونو بدلول او یا غورځول له دې څخه قرآن عظیم خوندی ساتل شوی لکه چې الله فرمايي: (إِنَّا نَحْنُ نَزَّلْنَا ٱلذِّكْرَ وَإِنَّا لَهُۥ لَحَـٰفِظُونَ) [الحجر: ٩]

دریمه فائده: امام بخاری له ابو هریرة ﷺ څخه روایت کوی چې هغه وویل: (لما فتحت خيبر اهديت لرسول الله ﷺ شاة فيها سم فقال رسول الله ﷺ: اجمعوا لى من كان من اليهود هنا) فقال لهم رسول الله (من ابوكم) قالوا فلان قال: (كذبتم بل ابوكم فلان) فقالوا صدقت وبررت ثم قال لهم: (وهل انتم صادقى ان سألتكم عنه؟) قالوا: نعم يا اباالقاسم وان كذبناک عرفت كذبنا كما عرفته في أبينا فقال لهم رسول الله ﷺ: (من اهل النار؟) فقالوا نكون فيها يسيرا ثم تخلفونا فيها فقال لهم ﷺ (واخسئوا والله لا نخلفكم فيها ابدا) ثم قال لهم رسول الله ﷺ: (هل انتم صادقي عن شئ ان سألتكم عنه؟) قالوا نعم يا ابا القاسم قال: (هل جعلتم في هذه الشاة سمّا؟) فقالوا نعم قال (فما حملكم على ذلک؟) اردنا ان كنت كاذبا ان نستريح منک وان كنت نبيا لم يضرک؟. (٢)

الله تعالی فرمايي:

﴿وَإِذْ أَخَذْنَا مِيثَـٰقَ بَنِىٓ إِسْرَٰٓءِيلَ لَا تَعْبُدُونَ إِلَّا ٱللَّهَ وَبِٱلْوَٰلِدَيْنِ إِحْسَانًا وَذِى ٱلْقُرْبَىٰ وَٱلْيَتَـٰمَىٰ وَٱلْمَسَـٰكِينِ وَقُولُوا۟ لِلنَّاسِ حُسْنًا وَأَقِيمُوا۟ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتُوا۟ ٱلزَّكَوٰةَ ثُمَّ تَوَلَّيْتُمْ إِلَّا قَلِيلًا مِّنكُمْ وَأَنتُم مُّعْرِضُونَ ﴿٨٣﴾ وَإِذْ أَخَذْنَا مِيثَـٰقَكُمْ لَا تَسْفِكُونَ دِمَآءَكُمْ وَلَا تُخْرِجُونَ أَنفُسَكُم مِّن دِيَـٰرِكُمْ ثُمَّ أَقْرَرْتُمْ وَأَنتُمْ تَشْهَدُونَ ﴿٨٤﴾ ثُمَّ أَنتُمْ هَـٰٓؤُلَآءِ تَقْتُلُونَ أَنفُسَكُمْ وَتُخْرِجُونَ فَرِيقًا مِّنكُم مِّن دِيَـٰرِهِمْ تَظَـٰهَرُونَ عَلَيْهِم

(١) تفسير ابي السعود ٩٣/١.
(٢) مختصر ابن كثير ٨٢/١.

بِٱلۡإِثۡمِ وَٱلۡعُدۡوَٰنِ وَإِن يَأۡتُوكُمۡ أُسَٰرَىٰ تُفَٰدُوهُمۡ وَهُوَ مُحَرَّمٌ عَلَيۡكُمۡ إِخۡرَاجُهُمۡۚ أَفَتُؤۡمِنُونَ بِبَعۡضِ ٱلۡكِتَٰبِ وَتَكۡفُرُونَ بِبَعۡضٖۚ فَمَا جَزَآءُ مَن يَفۡعَلُ ذَٰلِكَ مِنكُمۡ إِلَّا خِزۡيٞ فِي ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَاۖ وَيَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ يُرَدُّونَ إِلَىٰٓ أَشَدِّ ٱلۡعَذَابِۗ وَمَا ٱللَّهُ بِغَٰفِلٍ عَمَّا تَعۡمَلُونَ (۸۵) أُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ ٱشۡتَرَوُاْ ٱلۡحَيَوٰةَ ٱلدُّنۡيَا بِٱلۡأٓخِرَةِۖ فَلَا يُخَفَّفُ عَنۡهُمُ ٱلۡعَذَابُ وَلَا هُمۡ يُنصَرُونَ (۸۶) ﴾ البقرة: ۸۳ - ۸۶

مناسبت او تړاو:

لاتر اوسه پورې آيتونه ديهودانو جرائم شميرې او پدې آيتونو کې ددوی په دښمني سرغړونه او فساد اچولو کې څرګند مثالونه دی څکه دوی وعده ماته کړې کومه چې په تورات کې له دوی څخه اخيستل شوې وه دوی به خلک وژل دخلکو مالونه به يې په ناروا خوړل، روا ګڼل او پخپلو ورونو يې تجاوز وکړ چې له خپلو کورونو يې وايستل څکه دوی دهر لعنت، عذاب او هلاکت وړ او مستحق دی.

لغتونه:

(ميثاق) ميثاق هغه عهد ته وايي چې په قسم، لوړه او يا بل تاکيد ټينګ شوی وی، او که چيرې مؤکد نه وی بيا ورته عهد وايي (حسنا) حسن عام نوم دی چې هرې ښيګڼې ته وايي لکه پسته خبره ښه ادب ښه خويونه او ضديې ټول قبائح دی معنی يې داده چې (قولوا قولا حسنا) څکه دغه دمحذوف مصدر صفت واقع شوی دی (توليتم) تولی اعراض او مخ اړولو ته وايي چې نه يې منی لکه چې الله فرمايي: (فَأَعۡرِضۡ عَن مَّن تَوَلَّىٰ عَن ذِكۡرِنَا) [النجم: ۲۹] او خينو پوهانو دتولی او اعراض داسي فرق کړی وايي چې تولی په جسم او اعراض په زړه پورې اړه لری (۱) (تظاهرون) يو له بله مرسته کوئ دغه دمضارع صيغه او يوه تا يې حذف شوی لکه چې متظاهرين يو دبل ملا ټينګوی او ترې او ظهير د مرستندوی په معنی ده (الاثم) هغې ګناه ته وايي چې ګنهکار يې دملامتيا وړوی جمع يې آثام راځي (العدوان) په ظلم کې له حد څخه تجاوز کولو ته وايي (خزی) رسوايي، سپکتيا، خواری او عذاب ته ويل کيږي.

تفسير:

﴿ وَإِذۡ أَخَذۡنَا مِيثَٰقَ بَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ ﴾ او ياد کړئ (اې يهودانو) هغه وخت چې موږ واخيست محکم عهد له بني اسرائيلو (ستاسو له پلرونو) ﴿ لَا تَعۡبُدُونَ إِلَّا ٱللَّهَ ﴾ چې عبادت مه کوئ مګر يوازې دالله ﷻ ﴿ وَبِٱلۡوَٰلِدَيۡنِ إِحۡسَانٗا ﴾ او له مور او پلار سره نيکی کوئ ﴿ وَذِي ٱلۡقُرۡبَىٰ وَٱلۡيَتَٰمَىٰ وَٱلۡمَسَٰكِينِ ﴾ او له خپلوانو او هغو ماشومانو سره چې پلار مړی وی او له بيوزلانو سره ﴿ وَقُولُواْ لِلنَّاسِ حُسۡنٗا ﴾ او وايا ست خلکو ته ښې خوږې

(۱) البحر المحيط ۲۸۱/۱.

خبری په نرمي او لطف سره ورته خبري کوی ﴿ وَأَقِيمُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتُواْ ٱلزَّكَوٰةَ ﴾ ادا کوی لمونځ ورکوی زکات لکه څرنګه چې الله ﷻ دربانذی فرض کړی دی ځکه دغه دوه رکنونه ستر بدنی او مالی عبادات دی ﴿ ثُمَّ تَوَلَّيۡتُمۡ إِلَّا قَلِيلًا مِّنكُمۡ وَأَنتُم مُّعۡرِضُونَ ﴾ بیا وګرځیدی تاسي (او ستاسي پلرونه) مګر ونه ګرځیدل لږ کسان له تاسي حال دا چې هم تاسو مخ ګرځونکی یاست ﴿ وَإِذۡ أَخَذۡنَا مِيثَٰقَكُمۡ لَا تَسۡفِكُونَ دِمَآءَكُمۡ ﴾ او یاد کړۍ (اې بني اسرائیلو) هغه وخت چې واخیست موږ عهد محکم چې مه تویوۍ وینې تاسي یعنی یو او بل مه سره وژنۍ ﴿ وَلَا تُخۡرِجُونَ أَنفُسَكُم مِّن دِيَٰرِكُمۡ ﴾ او مه باسۍ ځانونه خپل له کورونو خپلو (یعنی یو او بل په ظلم سره) ﴿ ثُمَّ أَقۡرَرۡتُمۡ وَأَنتُمۡ تَشۡهَدُونَ ﴾ بیا تاسو عهد وکړ (یعنی پلرونو ستاسي) او حال دا چې تاسي شاهدان یې ﴿ ثُمَّ أَنتُمۡ هَٰٓؤُلَآءِ تَقۡتُلُونَ أَنفُسَكُمۡ مِّن دِيَٰرِهِمۡ ﴾ پس له دې عهده تاسي هغه کسان یاست چې وژنۍ ځانونه خپل) یعنی عهد مومات کړ او خپل دینی ورونه مو ووژل او هغه څه چې تاسو ځنی منع شوی واست هغه مو تر سره کړل ﴿ وَتُخۡرِجُونَ فَرِيقًا مِّنكُم ﴾ او باسی یوه ټولی له تاسو له خپلو کورونو څخه او عهد ته مو هیڅ پام هم نکوۍ ﴿ تَظَٰهَرُونَ عَلَيۡهِم بِٱلۡإِثۡمِ وَٱلۡعُدۡوَٰنِ ﴾ مرسته غواړی یو له بله پر دوی باندی په ګناه او دښمني یعنی په دغو شړل شوو باندی دنور ظلم لپاره یو دبل مرستندوی یاست ﴿ وَإِن يَأۡتُوكُمۡ أُسَٰرَىٰ تُفَٰدُوهُمۡ ﴾ او که چېری دوی بندیان شي مال یې په فدیه کی ورکوي ﴿ وَهُوَ مُحَرَّمٌ عَلَيۡكُمۡ إِخۡرَاجُهُمۡ ﴾ شان دا چې حرام کړی شو پر تاسو ایستل ددوی، څرنګه وژل او شړل روا ګڼي؟ خو بندي کیدل په لاس ددښمن کي روانه بولي ﴿ أَفَتُؤۡمِنُونَ بِبَعۡضِ ٱلۡكِتَٰبِ وَتَكۡفُرُونَ بِبَعۡضٍ ﴾ ایا ایمان راوړی په ځینی احکامو دکتاب (تورات) چې فدیه ده) او کافران کیږی په ځینو نورو چې بیګناه وژل ، په ګناه سره مرسته کول او له کورونو شړل دی دلته غرض ددوی توبیخ دی ځکه دوی کفر او ایمان یوځای کړی او کفر په ځینو احکامو کفر په ټول کتاب دی ځکه الله فرمایي ﴿ فَمَا جَزَآءُ مَن يَفۡعَلُ ذَٰلِكَ مِنكُمۡ إِلَّا خِزۡيٞ فِي ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا ﴾ پس نه ده سزا دهغه چا چې کوی (دا کارونه) له تاسو مګر رسوایي ذلت او عذاب په ژوند ددنیا کی دی ﴿ وَيَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ يُرَدُّونَ إِلَىٰٓ أَشَدِّ ٱلۡعَذَابِ ﴾ او په ورځ دقیامت ګرځول کیږی دوی ډیر سخت عذاب ته هغه چې تل تر تله او پای نلری ﴿ وَمَا ٱللَّهُ بِغَٰفِلٍ عَمَّا تَعۡمَلُونَ ﴾ او الله ﷻ غافل نه دی له هغه څه نه چې کوی یې تاسي (اې یهودانو) پدې جمله کی ډیر سخت وعید او اخطار دی دهغه چا لپاره چې دالله ﷻ له ارامرو څخه غاړه غړوي بیا الله ﷻ ددغه طغیان او عصیان سبب داسي ښیي: ﴿ أُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ ٱشۡتَرَوُاْ ٱلۡحَيَوٰةَ ٱلدُّنۡيَا بِٱلۡأٓخِرَةِ ﴾ (دا هغه کسان دی چې پیرلی (اخیستی) یې دی ژوند ددنیا په آخرت باندی) یعنی غوره کړی یې دی ﴿ فَلَا يُخَفَّفُ عَنۡهُمُ ٱلۡعَذَابُ ﴾ سپک به نه کړی شي له دی څخه عذاب (یوه شیبه) ﴿ وَلَا هُمۡ يُنصَرُونَ ﴾ (او نه به له دوی سره مرسته وکړه شي) چې دالله ﷻ له دردناک عذاب څخه یې وژغوري.

تنبیه:

(بنی قریظة) او (بني النضير) دواړه تبره یهودان وو بني قريظة له (اوس) قوم سره دوستي او تحالف درلود او (بني نضير) له (خزرج) قوم سره کله چې به داوس او خزرج تر منځ جګړه پېښه شوه نو دغو یهودانو به له خپلو دوستانو سره یوځای جګړه کوله نو به یو یهودی بل ورور یهودی وژل او له خپلو کورونو څخه به یې پسي اخیستل په مال او دولت سامان به یې چور تالان ګډاوو او اودغه ددوی په دین اودتورات په نصوصوحرام وو اوچې کله به بیا جنګ سوړ شو نو دبندیانو په راخلاصولو کی به یې په فدیه ورکولو بدې راوغړلې او ګواکی دوی د(تورات) په حکم عمل کوی څکه الله ﷻ وفرمایل: (أَفَتُؤْمِنُونَ بِبَعْضِ ٱلْكِتَٰبِ وَتَكْفُرُونَ بِبَعْضٍ) (١)

بلاغت:

١ - (لَا تَعْبُدُونَ إِلَّا ٱللَّهَ) دغه جمله خبر خو دنهی په معنا ده او دا له صریح نهی څخه ابلغ ګڼل کیږی څکه پدې کی داسې اشاره شته چې دغه ممنوع امر باید ډیر ژر پای ته ورسیږي او بس کړل شی او لکه چې بس کړل شوی وی څکه خبر راغلی او نهی مراد ده. (٢)

٢ - (وَقُولُوا۟ لِلنَّاسِ حُسْنًا) پدې جمله کې (حسنا) مصدر او دصفت په ځای کې راغلی معنا یې داده چې (قولوا للناس قولاً حسنا او ذاحسن) او داهم دمبالغې لپاره څکه عرب کله چې دمبالغې قصد لری نو مصدر داسم فاعل او یاصفت پر ځای راوړی لکه: (هوعدل) هغه عدل دی یعنی عادل دی.

٣ - تنکیر پدې قول کې چې فرمایې: (إِلَّا خِزْيٌ فِي ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا) دتفخیم او تهویل لپاره ده.

۴ - (تَقْتُلُونَ أَنفُسَكُمْ) دلته یې دغیر له نفس څخه په خپل نفس تعبیر وکړ څکه څوک چې دبل چا وینی توی کړي لکه چې خپلی یې توی کړی وی او دلته ګواکي مجاز په سبب دادنۍ ملابست دي.

۵ - پدې جمله کی (أَفَتُؤْمِنُونَ) همزه دتوبیخي انکار لپاره دی.

فوائد او ګټې:

لومړی فائده: په وروستي آیت شریف کي ترتیب داهمیت له وجی ده یعنی ډیر مهم له مخه بیا پسي بل مهم او بیا بل نو دالله ﷻ حق یې رومبی کړ چې هغه نعمت ورکونکی دی بیا یې دمور او پلار حق راووړ چې دوی داولاد په روزنه کی دستر حق څښتنان دی او بیا یې خپلوان راوړل هغوی چې صله رحم په دوی کی ده او داحسان اجرهم بیا یې یتیمان ذکر کړل څکه هغه بل خوا خوړی نلری او بیا یې مسکینان راوړل چې ضعیفان او بې وزله دی

(١) مختصر ابن کثیر ٨۵/١.

(٢) تفسیر ابی السعود ٩٢/١.

دوهمه فائده : (وَقُولُوا۟ لِلنَّاسِ حُسْنًا) او داسي هم ونه ويل چې : (قولوا لاخوانكم) او (قولوا للمؤمنين حسنا) ددې لپاره چې امر په احسان دټولو خلکو دپاره ده مسلمان وی او که کافر ښه سړی وی او که بیکاره او پدې کې دپستو خبرو او نرم کلام ،ورین تندی ، ښو اخلاقو او ښائسته ادب ماړپینه شوی ده.

الله تعالى فرمايي:

﴿ وَلَقَدْ ءَاتَيْنَا مُوسَى ٱلْكِتَـٰبَ وَقَفَّيْنَا مِنۢ بَعْدِهِۦ بِٱلرُّسُلِ ۖ وَءَاتَيْنَا عِيسَى ٱبْنَ مَرْيَمَ ٱلْبَيِّنَـٰتِ وَأَيَّدْنَـٰهُ بِرُوحِ ٱلْقُدُسِ ۗ
أَفَكُلَّمَا جَآءَكُمْ رَسُولٌۢ بِمَا لَا تَهْوَىٰٓ أَنفُسُكُمُ ٱسْتَكْبَرْتُمْ فَفَرِيقًا كَذَّبْتُمْ وَفَرِيقًا تَقْتُلُونَ ﴿٨٧﴾ وَقَالُوا۟ قُلُوبُنَا غُلْفٌۢ ۚ بَل
لَّعَنَهُمُ ٱللَّهُ بِكُفْرِهِمْ فَقَلِيلًا مَّا يُؤْمِنُونَ ﴿٨٨﴾ وَلَمَّا جَآءَهُمْ كِتَـٰبٌ مِّنْ عِندِ ٱللَّهِ مُصَدِّقٌ لِّمَا مَعَهُمْ وَكَانُوا۟ مِن قَبْلُ
يَسْتَفْتِحُونَ عَلَى ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ فَلَمَّا جَآءَهُم مَّا عَرَفُوا۟ كَفَرُوا۟ بِهِۦ ۚ فَلَعْنَةُ ٱللَّهِ عَلَى ٱلْكَـٰفِرِينَ ﴿٨٩﴾ بِئْسَمَا
ٱشْتَرَوْا۟ بِهِۦٓ أَنفُسَهُمْ أَن يَكْفُرُوا۟ بِمَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ بَغْيًا أَن يُنَزِّلَ ٱللَّهُ مِن فَضْلِهِۦ عَلَىٰ مَن يَشَآءُ مِنْ عِبَادِهِۦ ۖ فَبَآءُو
بِغَضَبٍ عَلَىٰ غَضَبٍ ۚ وَلِلْكَـٰفِرِينَ عَذَابٌ مُّهِينٌ ﴿٩٠﴾ وَإِذَا قِيلَ لَهُمْ ءَامِنُوا۟ بِمَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ قَالُوا۟ نُؤْمِنُ بِمَآ أُنزِلَ
عَلَيْنَا وَيَكْفُرُونَ بِمَا وَرَآءَهُۥ وَهُوَ ٱلْحَقُّ مُصَدِّقًا لِّمَا مَعَهُمْ ۗ قُلْ فَلِمَ تَقْتُلُونَ أَنۢبِيَآءَ ٱللَّهِ مِن قَبْلُ إِن كُنتُم
مُّؤْمِنِينَ ﴿٩١﴾ ۞ وَلَقَدْ جَآءَكُم مُّوسَىٰ بِٱلْبَيِّنَـٰتِ ثُمَّ ٱتَّخَذْتُمُ ٱلْعِجْلَ مِنۢ بَعْدِهِۦ وَأَنتُمْ ظَـٰلِمُونَ ﴿٩٢﴾ ﴾
البقرة: ٨٧ - ٩٢

لغتونه:

(الكتاب) تورات (وقفينا) پرله پسي مو را استولی وو اصل يې له قفا څخه اخیستل شوی چې متابعت ته وایه شی لکه مرادف (البینات) څرګندي معجزې لکه دمړی ژوندی کول د (اکمه) او (ابرص) روغول (ايدنا) موږ قوی کړی (روح القدس) القدس پاکي او برکت ته وايي روح القدس جبريل ﷺ دی (تهویٰ) مینه او محبت (غلف) جمع د غلف او غلاف ده چې پردې ته وايي لکه چې وايي (سيف اغلف) کله چې په تیکي کې توره وی او یا (قلب أغلف) کله چې زړه پټ وی فهم او تمیز نشي کولای له (اغلف) څخه مستعار دی هغه چې غیر مختون (ناسنته) ته وايي (١) (لعنهم) دلعن اصل دعربو په کلام کی شړلو ته وايي لکه (ذئب لعين) يعني شړل شوی لیوه او مراد دلته شړل شوی له رحمته ده (يستفتحون) دفتحی طلب او غوښتنه کولو ته استفتاح وايي (بئسما) اصل يې (بئس) او (ما) ده يعني بد ده هغه، بئس فعل ذم او نعم فعل مدح ده (بغيا) بغی حسد او ظلم ته وايي اصمعي وايي :اصل يې له (بغي الجرح) څخه اخيستی کله چې پرهار فاسد او خراب شي نو بغی دفساد په معنا شوه (٢) (باؤ) اخته شول ، اکثرا (باء) په شرکی استعمالیږي (مهین) له هوان څخه اخیستل شوی دسپک او ذلیل په معنی دی.

---

(١) الكشاف ١٣٢/١.

(٢) البحر المحيط ٢٩٨/١ .

مناسبت او تړاو:

دغه رنګه آیتونه له بني اسرائیلو څخه غږیږي پدې آیتونو کی دوی ته څه نعمتونه ورپه یادول کیږی کوم چې بیا دوی دهغو کفران وکړ لکه څرنګه چې ددوی نیمه خوا عادت هم داوو چې داحسان په بدل کي بدې رسوي او دنعمت په وړاندي کفران او انکار کوي.

تفسیر:

﴿ وَلَقَدْ ءَاتَيْنَا مُوسَى ٱلْكِتَٰبَ ﴾ او خامخا بیشکه ورکړی وو موږ موسی ته کتاب (تورات) ﴿ وَقَفَّيْنَا مِنۢ بَعْدِهِۦ بِٱلرُّسُلِ ﴾ او استولی وو موږ پس له موسی نور ډیر رسولان ﴿ وَءَاتَيْنَا عِيسَى ٱبْنَ مَرْيَمَ ٱلْبَيِّنَٰتِ ﴾ او ورکړی مو وو عیسی دمریمي زوی ته معجزې څرګندي ﴿ وَأَيَّدْنَٰهُ بِرُوحِ ٱلْقُدُسِ ﴾ او قوی کړی مو وو په جبریل ﷺ ﴿ أَفَكُلَّمَا جَآءَكُمْ رَسُولٌۢ بِمَا لَا تَهْوَىٰٓ أَنفُسُكُمُ ٱسْتَكْبَرْتُمْ فَفَرِيقًا كَذَّبْتُمْ وَفَرِيقًا تَقْتُلُونَ ﴾ (ایا چې کله به راغی تاسي ته پیغمبر په هغو حکمونو چې ستاسو نفسونو به نه خوښول نو به مو تکبر وکړ نو دانبیاوو یوه ډله مو دروغجنه وګڼله او بله ډله (دنبیانو مو ووژله) بیا الله تبارک وتعالی دهغو موجودو بنی اسرائیلو چې درسول الله ﷺ معاصر وو ګمراهی او ضلالت داسي بیان کړ: ﴿ وَقَالُوا۟ قُلُوبُنَا غُلْفٌۢ ﴾ او وایي زړونه مو په پردو کي دی هغه څه وړباندی اثر نکوی چې ته یې وایي اې محمده ﷺ او غرض دهغوی له ایمان راوړلو څخه درسول الله ناهیله کول دی الله تعالی درد په توګه داسي ورته وفرمایل ﴿ بَل لَّعَنَهُمُ ٱللَّهُ بِكُفْرِهِمْ ﴾ بلکه پردوی الله لعنت کړی دی په سبب دکفر ددوی یعنی دوی بې ددوی دکفر او ګمراهي له امله له خپل رحمت څخه شړلی ﴿ فَقَلِيلًا مَّا يُؤْمِنُونَ ﴾ (نو ډیر لږ (له دوی څنی) ایمان راوړی) او یادوی لږ ایمان راوړی چې په یو څه احکامو ایمان راوړی او په نورو کافران کیږی ﴿ وَلَمَّا جَآءَهُمْ كِتَٰبٌ مِّنْ عِندِ ٱللَّهِ مُصَدِّقٌ لِّمَا مَعَهُمْ ﴾ (او کله چې راغی دوی ته کتاب (قرآن) له نزده دالله) چې تصدیق کوونکی دهغه کتاب دی چې له دوی سره دی (تورات) ﴿ وَكَانُوا۟ مِن قَبْلُ يَسْتَفْتِحُونَ عَلَى ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ ﴾ او حال دا چې دوی به نصرت غوښتل له الله په هغه (محمد ﷺ) په دښمنانو دهغوی چې کافران وو ویل به یې (اللهم انصرنا بالنبی المبعوث آخر الزمان الذي نجد نعته في التوراة) الهي موږ ته دآخری زماني په پیغمبر دچاچې په تورات کی صفت راغلی نصرت او بري راکړې ﴿ فَلَمَّا جَآءَهُم مَّا عَرَفُوا۟ كَفَرُوا۟ بِهِۦ ﴾ کله چې راغی دوی ته هغه رسول چې پیژندلی یې وو وړباندی کافران شول یعنی دمحمد ﷺ په رسالت کافران شول ﴿ فَلَعْنَةُ ٱللَّهِ عَلَى ٱلْكَٰفِرِينَ ﴾ پس لعنت (دخدای دوی په کافرانو باندی په هغو یهودانو چې په خاتم المرسلین یې ایمان نه راووړ ﴿ بِئْسَمَا ٱشْتَرَوْا۟ بِهِۦٓ أَنفُسَهُمْ ﴾ بد دی هغه څه (بیکاره شي) چې دوی خانونه وړباندی پلورلی دی ﴿ أَن يَكْفُرُوا۟ بِمَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ ﴾ هغه دا چې کافران شوی په هغه کتاب (قرآن) چې

الله ﷻ نازل کړی ﴿ بَغۡيًا ﴾ په سبب د حسد او کينې ﴿ أَن يُنَزِّلَ ٱللَّهُ مِن فَضۡلِهِۦ عَلَىٰ مَن يَشَآءُ مِنۡ عِبَادِهِۦۖ ﴾ دا چې نازلوي الله له خپله فضله په هغه چا چې اراده وکړي له بندګانو خپلو يعنی ددوئ دکفر سبب کينه او حسد دی ﴿ فَبَآءُو بِغَضَبٍ عَلَىٰ غَضَبٖۚ ﴾ نو اخته شول په يوه غضب د پاسه دبل غضب دالله تعالی ﴿ وَلِلۡكَٰفِرِينَ عَذَابٞ مُّهِينٞ ﴾ او مقرر دی دکافرانو لپاره خوار او سپکونکی عذاب، څرنګه چې ددوی دکفر سبب تکبر او حسد وو نو الله ﷻ په سپکاوي او خواري ورته وکتل ﴿ وَإِذَا قِيلَ لَهُمۡ ءَامِنُواْ بِمَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ ﴾ کله چې ورته وويل شي ايمان راوړی په هغو کتابو نو چې الله نازل کړی (قرآن) او دهغه تصديق وکړئ ويې منئ ﴿ قَالُواْ نُؤۡمِنُ بِمَآ أُنزِلَ عَلَيۡنَا ﴾ وايي موږ ايمان راوړی په هغه چې په موږ نازل شوی دی (تورات) ﴿ وَيَكۡفُرُونَ بِمَا وَرَآءَهُۥ وَهُوَ ٱلۡحَقُّ مُصَدِّقٗا لِّمَا مَعَهُمۡۗ ﴾ حال دا چې کافران کيږي په هغه چې پرته (ماسوی) له تورات څخه دی (انجيل او (قرآن) حال دا چې دا هم حق دی او تصديق کوی دهغه کتاب چې له دوی سره دی (يعنی دوی په قرآن کافران دی او هغه (قرآن) له هغه کتاب سره موافق دی کوم چې له دوی سره دی ﴿ قُلۡ فَلِمَ تَقۡتُلُونَ أَنۢبِيَآءَ ٱللَّهِ مِن قَبۡلُ إِن كُنتُم مُّؤۡمِنِينَ ﴾ ووايه (اې محمده ادوی ته) نوولی وژل تاسي انبياء دخدای پخوا که چېرې تاسي ايمان راوړونکی ياست ؟ ﴿ وَلَقَدۡ جَآءَكُم مُّوسَىٰ بِٱلۡبَيِّنَٰتِ ﴾ او خامخا راوړی وی موسی تاسی ته ښکاره معجزې ﴿ ثُمَّ ٱتَّخَذۡتُمُ ٱلۡعِجۡلَ مِنۢ بَعۡدِهِۦ وَأَنتُمۡ ظَٰلِمُونَ ﴾ (بيا ونيو تاسي (خوسی) ګيلګی په خدايي وروسته له هغه او تاسي ظالمان وی پر ځانو خپلو) يعنی کله چې موسی ﷺ دطور غره ته ولاړ تاسو دخوسي عبادت پيل کړ او دا ستاسو ظلم وو.

بلاغت:

۱ - پدې دوو جملو کی دمفعول تقديم شوی چې: (فَفَرِيقًا كَذَّبْتُمْ) و(وَفَرِيقًا تَقْتُلُونَ) دادد لپاره چې دسامع اهتمام او تشويق پيدا کړي چې نور به څه اوري.

۲ - په مضارع سره تعبير کول چې (وَفَرِيقًا تَقْتُلُونَ) او داسي يې ونه ويل چې (قتلم) لکه چې يې وويل (کذبتم) څکه فعل مضارع دبلاغت په اسلوبو کی هلته دماضي په افعالو کي استعماليږي چې خورا ستر بد او ناروا وی نو دارنګه يې دانبياوو قتل او وژل مخي ته کښيښودل او لکه چې کتونکی پخپلو سترګو ورته ګوري نو دلته انکار هم خورا بليغ او فظاعت يې هم خورا ستر دی.

۳ - اسم ظاهر دضمير په ځای راوړل لکه: (فَلَعْنَةُ ٱللَّهِ عَلَى ٱلْكَٰفِرِينَ) او داسي يې ونه ويل (عليهم) ترڅو ونبيي چې دلعنت سبب ددوی کفر دی.

۴ - دا چې فرمايي (وَلَقَدْ جَآءَكُم مُّوسَىٰ بِٱلْبَيِّنَٰتِ) په دې کي توبيخ دی چې ولی يې دپيغمبر متابعت نه دی کړی ؟.

۵ - داهانت نسبت یې عذاب ته کړی چې فرمایي: (عَذَابٌ مُّهِينٌ) ځکه سپکتیا دعذاب په سبب راځي او دبیان له اسلوبو یو دادی چې دافعالو نسبت اسبابو ته کوی.

فائده: حسن بصري رحمه الله وایي حضرت جبریل علیه السلام له دې سببه روح القدس وستایل شو ځکه (قدس) الله جل جلاله او روح یې جبریل نو نسبت دشرافت لپاره شوی امام الرازي وایي او هغه څه چې پدې دلالت کوی چې روح القدس جبریل دی هغه دا چې الله فرمایي (قُلْ نَزَّلَهُ رُوحُ الْقُدُسِ مِن رَّبِّكَ بِالْحَقِّ) [النحل: ۱۰۲] (۱)

الله تعالی فرمایي:

﴿ وَإِذْ أَخَذْنَا مِيثَاقَكُمْ وَرَفَعْنَا فَوْقَكُمُ الطُّورَ خُذُوا مَا آتَيْنَاكُم بِقُوَّةٍ وَاسْمَعُوا قَالُوا سَمِعْنَا وَعَصَيْنَا وَأُشْرِبُوا فِي قُلُوبِهِمُ الْعِجْلَ بِكُفْرِهِمْ قُلْ بِئْسَمَا يَأْمُرُكُم بِهِ إِيمَانُكُمْ إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ (۹۳) قُلْ إِن كَانَتْ لَكُمُ الدَّارُ الْآخِرَةُ عِندَ اللَّهِ خَالِصَةً مِّن دُونِ النَّاسِ فَتَمَنَّوُا الْمَوْتَ إِن كُنتُمْ صَادِقِينَ (۹۴) وَلَن يَتَمَنَّوْهُ أَبَدًا بِمَا قَدَّمَتْ أَيْدِيهِمْ وَاللَّهُ عَلِيمٌ بِالظَّالِمِينَ (۹۵) وَلَتَجِدَنَّهُمْ أَحْرَصَ النَّاسِ عَلَىٰ حَيَاةٍ وَمِنَ الَّذِينَ أَشْرَكُوا يَوَدُّ أَحَدُهُمْ لَوْ يُعَمَّرُ أَلْفَ سَنَةٍ وَمَا هُوَ بِمُزَحْزِحِهِ مِنَ الْعَذَابِ أَن يُعَمَّرَ وَاللَّهُ بَصِيرٌ بِمَا يَعْمَلُونَ (۹۶) قُلْ مَن كَانَ عَدُوًّا لِّجِبْرِيلَ فَإِنَّهُ نَزَّلَهُ عَلَىٰ قَلْبِكَ بِإِذْنِ اللَّهِ مُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهِ وَهُدًى وَبُشْرَىٰ لِلْمُؤْمِنِينَ (۹۷) مَن كَانَ عَدُوًّا لِّلَّهِ وَمَلَائِكَتِهِ وَرُسُلِهِ وَجِبْرِيلَ وَمِيكَالَ فَإِنَّ اللَّهَ عَدُوٌّ لِّلْكَافِرِينَ (۹۸) ﴾ البقرة: ۹۳-۹۸

مناسبت او تړاو:

دا دیهودانو له جنایاتو څخه یو ډول نور جنایتونه دی ځکه دوی مضبوط او ټینګ عهدونه مات کړل تر څو چې دطور غریږې په سر راپورته شو او دوي ته ددې امر وشو چې دتورات حکمونه ومنی دوی په ظاهره منلو ته چمتو شول خو بیرته کفر او عصیان ته وګرځیدل له الله جل جلاله څخه پرته دخوسي (ګیلګي) عبادت یې پیل کړ دوی داسي ګومان کاوو چې په خدای ګران دی او جنت یوازې ددوی لپاره دی له دوی څخه پرته به هیڅوک جنت ته نه ورځي له ټولو پرښتو چې په سر کي یې جبرئیل علیه السلام وو له دوی سره یې دښمني غوره کړه په نبیانو او پیغمبرانو یې ایمان نه راووړ هغوی یې دروغجن ګڼل په ټولو وختونو کي همدا ددوی حال دی.

لغتونه:

(میثاقکم) هغه عهد چې په یمین مؤکد شوی وی میثاق بولي (الطور) هغه غر چې الله جل جلاله له موسی علیه السلام سره وربا ندې خبرې کړې وی (بقوة) په عزم او تصمیم سره (أشربوا) او به ورکول شوي وي (اوبول) یعنی زړونو ته یې ورځښل شوی وه مینه دخوسي (خالصة) لکه عافیت او عاقبت غوندې مصدر دی دخلوص په معنی دی چې خاص په دې پوري بل څوک ورسره ګډون نلری (احرص) حرص درغبت زیاتوالی ته وایي او په حدیث کي راځي

(۱) محاسن التأويل ۱۸۲/۲.

(احرص علی ماینفعک) یعنی هغه چی درته گټه رسوی د هغه په هکله زیات رغبت کوه (بمزحزحه) زحزحة لیری والي او گوښه توب ته ویل کیږي الله ﷻ فرمایي : (فمن زُحزِحَ عن النار) یعنی څوک چې لیری شی داوره.

تفسیر:

﴿ وَإِذۡ أَخَذۡنَا مِيثَٰقَكُمۡ ﴾ او یاد کړی هغه وخت چې واخیست موږ ستاسی محکم عهد چې تورات به منی (او وربا ندی عمل به کوی)﴿ وَرَفَعۡنَا فَوۡقَكُمُ ٱلطُّورَ ﴾ او لوړ مو کړ ستاسی په سر د(طور) غر دا مو درته وویل ﴿ خُذُواْ مَآ ءَاتَيۡنَٰكُم بِقُوَّةٖ ﴾ واخلی هغه (احکام) چې درکړی مودی تاسو لره په کوښښ او عزم سره او که نه غر به دربا ندی راوغورځوو﴿ وَٱسۡمَعُواْ ﴾ او واورئ په طاعت کولو او منلو سره ﴿ قَالُواْ سَمِعۡنَا وَعَصَيۡنَا ﴾ دوی (یهودو) وویل : اوریدلی موده او منلې مو نه ده ﴿ وَأُشۡرِبُواْ فِي قُلُوبِهِمُ ٱلۡعِجۡلَ ﴾ (او ورڅښلې شوی دی په زړو نو ددوی کی مینه دخوسي) او مراد دادی چې دخوسي مینه یې له وینی سره گډه شوې او په زړونو یې ننوتلې لکه چې رنگ په جامه کی ننوزی او یا هم اوبه په بدن کی ﴿ بِكُفۡرِهِمۡ ﴾ په سبب دکفر ددوی ﴿ قُلۡ بِئۡسَمَا يَأۡمُرُكُم بِهِۦٓ إِيمَٰنُكُمۡ ﴾ ووایه (اي محمده) دوی ته بد دی هغه څه چې تاسو ته ستاسو ایمان امر کوی یعنی داخبره دتهکم په ډول ورته وکړه چې ستاسو ایمان چې دخوسی دعبادت درته امر کوی دابد دی ﴿ إِن كُنتُم مُّؤۡمِنِينَ ﴾ که چیری یاست تاسی مؤمنان یعنی که تاسو دایمان گومان کوئ نو داکار بد دی او معنا دا چې تاسي مؤمنان نه یاست ځکه ایمان چاته دخوسي په عبادت کولو امر نه کوی ﴿ قُلۡ إِن كَانَتۡ لَكُمُ ٱلدَّارُ ٱلۡأٓخِرَةُ عِندَ ٱللَّهِ خَالِصَةٗ مِّن دُونِ ٱلنَّاسِ ﴾ ورته ووایه (اي محمده) که چیری تاسی ته یوازی جنت وی په نزد دالله پرته له نورو خلکو لکه چې تاسي گومان کوئ ﴿ فَتَمَنَّوُاْ ٱلۡمَوۡتَ إِن كُنتُمۡ صَٰدِقِينَ ﴾ نو هیله (تمنا) وکړئ که چیری یاست تاسي صادقان تر څو جنت ته ورشی ځکه ددې دنیا نعمتونه له جنت سره بیخي پرتله کیدای نشي او څوک چې دا باور لری چې دجنت له اهل څخه دی نو بیا ورته زیاته مینه لری الله تعالی ددوی په رد کی فرمایي : ﴿ وَلَن يَتَمَنَّوۡهُ أَبَدَۢا بِمَا قَدَّمَتۡ أَيۡدِيهِمۡ ﴾ او له سره به هیله ونکړی دمرگ په سبب دهغو گناهونو چې ددوی لاسونو پخوا الیږلی ﴿ وَٱللَّهُ عَلِيمُۢ بِٱلظَّٰلِمِينَ ﴾ الله ﷻ ښه عالم دی په احوالو دظالمانو اوژرده چې ددوی دظلم جزابه ورکړي ﴿ وَلَتَجِدَنَّهُمۡ أَحۡرَصَ ٱلنَّاسِ عَلَىٰ حَيَوٰةٖ وَمِنَ ٱلَّذِينَ أَشۡرَكُواْ ﴾ او خامخا به ته ومومې یهودان چې ډیر حرصناک دی په ژوند او تر هغه چا هم حرص لری چې مشرکان دی ځکه دوی پوهیږي چې دوزخ ته به ځی گنهکاران دی ﴿ يَوَدُّ أَحَدُهُمۡ لَوۡ يُعَمَّرُ أَلۡفَ سَنَةٖ ﴾ خوښوی هر یو ددوی که عمر ورکړ شي زر کاله ﴿ وَمَا هُوَ بِمُزَحۡزِحِهِۦ مِنَ ٱلۡعَذَابِ أَن يُعَمَّرَ ﴾ او نه دی خلاصونکی دده له عذابه چې ډیر عمر ولری ﴿ وَٱللَّهُ بَصِيرُۢ بِمَا يَعۡمَلُونَ ﴾ او الله ښه لیدونکی (عالم) دی په هر څه چې دوی یې کوی او په هغو به جزا ورکړي ﴿ قُلۡ مَن

كَانَ عَدُوًّا لِّجِبْرِيلَ ﴾ (ورته ووايه (اې محمده) څوک چې دجبرائيل دښمن وی) نو هغه دالله دښمن دی ځکه جبرائيل ﷺ دالله او دپيغمبرانو تر منځ واسطه دی څوک چې دهغه دښمنی کوی دالله دښمن دی﴿ فَإِنَّهُۥ نَزَّلَهُۥ عَلَىٰ قَلْبِكَ بِإِذْنِ ٱللَّهِ ﴾ ځکه جبرائيل امين نازل کړی دی (دغه قرآن) دالله په اجازه او حکم په زړه ستا باندی ﴿ مُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهِ ﴾ تصديق کونکی دهغه کتابونو دی چې پخواله ده وو ﴿ وَهُدًى وَبُشْرَىٰ لِلْمُؤْمِنِينَ ﴾ او هدايت (لاربښوونکی) او زيری دی مؤمنانو لره دجنت په لور ﴿ مَن كَانَ عَدُوًّا لِّلَّهِ وَمَلَٰٓئِكَتِهِۦ وَرُسُلِهِۦ وَجِبْرِيلَ وَمِيكَىٰلَ ﴾ څوک چې دالله او دهغه دملائکو ، پيغمبرانو او جبرائيل،او ميکائيل دښمن وی (هغه کافر او دالله دښمن دی) ﴿ فَإِنَّ ٱللَّهَ عَدُوٌّ لِّلْكَٰفِرِينَ ﴾ نو بيشکه الله دښمن دی دکافرانو لپاره ځکه هغه کسان چې دالله اولياء دښمنان ګڼي الله ورباندی غضب کوی او دښمن يې ګڼی پدې کې وعيد او تهديد دی.

دنزول سبب:

روايت کيږی چې يهودانو رسول الله ﷺ ته وويل هيڅ داسې پيغمبر نشته چې ملائکې ورته دالله له لوري وحی او فرمان نه راوړی تاته کوم ملائک وحی راوړي چې موږ دی متابعت او پيروی وکړو رسول الله ﷺ ورته وويل جبرائيل ، دوی وويل: داخو هغه څوک دی چې دجنګ جګړو په باب به راتو دا زموږ دښمن دی که دی ويلی وای چې ميکائيل نو موږ به ستا پيروی کړې وای نو الله ﷻ دا آيتونه نازل کړل (۱) (قُلْ مَن كَانَ عَدُوًّا لِّجِبْرِيلَ فَإِنَّهُۥ نَزَّلَهُۥ عَلَىٰ قَلْبِكَ...) الاية.

بلاغت:

۱ - (وَأُشْرِبُوا۟ فِى قُلُوبِهِمُ ٱلْعِجْلَ) پدې کلام کی مکنيه استعاره ده ځکه دخوسي دعبادت مينه او محبت يې له خوندورو شربتو سره مشابه کړ او مشبه به يې نه راووړ دهغه متعلقاتو څخه چې څښل دی ذکر شو نو مکنيه استعاره شوه په تلخيص البيان کی وايي چې دا استعاره ده او ګواکی دخوسی دعبادت مينه او محبت ورڅښل شوی او داسې پلکي ګډ شوی لکه څوک چې خوندور شربت وڅښي او په بدن کی يې ګډ شي (۲)

۲ - (قُلْ بِئْسَمَا يَأْمُرُكُم بِهِۦٓ إِيمَٰنُكُمْ) دلته دامر نسبت ايمان ته کول استهزاء او تهکم دی لکه چې الله بل ځای فرمايي: (اصلوٰتک تأمرک) او همدا رنګه دايمان نسبت دوی ته هم تهکم دی داخبره زمخشری کړې ده.

۳ - (حَيَوٰةٍ) پدې قول کی چې فرمايي: (عَلَىٰ حَيَوٰةٍ) نکره راوړل شوې تر څو په دې تنبيه راشي چې دوی په ځانګړی او خاص حيات باندی کوم چې په زرهاوو کالونو وی حريصان دی.

---

(۱) رواه الترمذی وانظر القرطبي ۳۶/۲.

(۲) تلخيص البيان للشريف الرضي ص۹.

۴ - دا جمله دشرط په ځواب کې واقع ده چې: (فَإِنَّ ٱللَّهَ عَدُوٌّ لِّلۡكَٰفِرِينَ) او اسميه يې ځکه راوړی چې ثبات افاده کړی او اسم ظاهر يې دضمير په ځای راوړ چې (عَدُوٌّ لِّلۡكَٰفِرِينَ) هسې يې نه ويل چې (عدوٌلهم) ترڅو دا کفر په دوی ليکلی وښيي او دا پدې چې دوی دملائکو دښمنان دي.

۵ - پدې قول کې (وَجِبۡرِيلَ وَمِيكَىٰلَ) ددوی ذکر له ملائکو څخه وروسته ګواکې ذکر دخاص وروسته له عام څخه دی او داهم دتعظيم او تشريف لپاره دی.

ګټې او فائدې:

لومړی فائده: پدې قول کې چې: (واسمعوا) يوازې اوريدل مراد نه دی بلکه دمنلو او غاړه ايښودلو اوريدل دی ځکه دا دپخواني خبري چې (خذوا ما اتيناکم بقوة) تاکيد کوی.

دوهمه فائده: يوازې دزړه ذکر يې وفرمايل چې (نَزَّلَهُۥ عَلَىٰ قَلۡبِكَ) ځکه هغه دعقل او علم ځای او مرکز دی لکه چې الله ﷻ فرمايي: (لهم قلوب لايعقلون بها).

دريمه فائده: پدې آيت شريف چې فرمايي: (وَلَن يَتَمَنَّوۡهُ أَبَدًۢا) د (لن) توری راوړل شو او دجمعې په سورت کې د (لا) توری چې فرمايي: (ولا يتمنونه ابداً) راغلی دا پدې چې ددوی دعویٰ دلته ډيره غټه او ستره ده دوی جنت يوازې دځان لپاره بولی او هلته يې ځانونه دخدای دوستان ګڼلی ځکه دلته د (لن) حرف راوړل شوچې دحاضر او مستقبل نفی کوی او هلته يوازې په نفی کفايت کول شوی دی[1]

څلورمه فائده: دغه آيت شريف اخبار بالغيب دی چې معجزه ګڼل کيږی او ددې په معجزه کيدلو کې دا کفايت کوی چې دغو يهودانو چې پيغمبر ﷺ په وخت کې وو دمرګ هيله نه کوله او په حديث شريف کې راځي چې: (لو ان اليهود تمنوا الموت لماتوا ورأومقاعدهم من النار[2] که چيری يهودانو دمرګ هيله (تمنا) کړي وای سمدستي به مړه شوی او خپل داور ځايونه به يې ليدلی وای.

الله تعالی فرمايي:

﴿ وَلَقَدۡ أَنزَلۡنَآ إِلَيۡكَ ءَايَٰتِۭ بَيِّنَٰتٖۖ وَمَا يَكۡفُرُ بِهَآ إِلَّا ٱلۡفَٰسِقُونَ ﴿٩٩﴾ أَوَكُلَّمَا عَٰهَدُواْ عَهۡدٗا نَّبَذَهُۥ
فَرِيقٞ مِّنۡهُمۚ بَلۡ أَكۡثَرُهُمۡ لَا يُؤۡمِنُونَ ﴿١٠٠﴾ وَلَمَّا جَآءَهُمۡ رَسُولٞ مِّنۡ عِندِ ٱللَّهِ مُصَدِّقٞ لِّمَا مَعَهُمۡ نَبَذَ فَرِيقٞ مِّنَ
ٱلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلۡكِتَٰبَ كِتَٰبَ ٱللَّهِ وَرَآءَ ظُهُورِهِمۡ كَأَنَّهُمۡ لَا يَعۡلَمُونَ ﴿١٠١﴾ وَٱتَّبَعُواْ مَا تَتۡلُواْ ٱلشَّيَٰطِينُ عَلَىٰ مُلۡكِ
سُلَيۡمَٰنَۖ وَمَا كَفَرَ سُلَيۡمَٰنُ وَلَٰكِنَّ ٱلشَّيَٰطِينَ كَفَرُواْ يُعَلِّمُونَ ٱلنَّاسَ ٱلسِّحۡرَ وَمَآ أُنزِلَ عَلَى ٱلۡمَلَكَيۡنِ
بِبَابِلَ هَٰرُوتَ وَمَٰرُوتَۚ وَمَا يُعَلِّمَانِ مِنۡ أَحَدٍ حَتَّىٰ يَقُولَآ إِنَّمَا نَحۡنُ فِتۡنَةٞ فَلَا تَكۡفُرۡۖ فَيَتَعَلَّمُونَ مِنۡهُمَا مَا

(١) الصاوی علی الجلالين ۴۹/۱.
(٢) القرطبي ۳۳/۲.

يُفَرِّقُونَ بِهِۦ بَيْنَ ٱلْمَرْءِ وَزَوْجِهِۦ ۚ وَمَا هُم بِضَآرِّينَ بِهِۦ مِنْ أَحَدٍ إِلَّا بِإِذْنِ ٱللَّهِ ۚ وَيَتَعَلَّمُونَ مَا يَضُرُّهُمْ وَلَا
يَنفَعُهُمْ ۚ وَلَقَدْ عَلِمُوا۟ لَمَنِ ٱشْتَرَىٰهُ مَا لَهُۥ فِى ٱلْـَٔاخِرَةِ مِنْ خَلَٰقٍ ۚ وَلَبِئْسَ مَا شَرَوْا۟ بِهِۦٓ أَنفُسَهُمْ ۚ لَوْ
كَانُوا۟ يَعْلَمُونَ ﴿١٠٢﴾ وَلَوْ أَنَّهُمْ ءَامَنُوا۟ وَٱتَّقَوْا۟ لَمَثُوبَةٌ مِّنْ عِندِ ٱللَّهِ خَيْرٌ ۖ لَّوْ كَانُوا۟ يَعْلَمُونَ ﴿١٠٣﴾ ﴾

البقرة: ٩٩ - ١٠٣

مناسبت او تړاو:

کله چې الله ﷻ دیهودو خوی خاصیت ذکر کړ چې دوی عهود ماتوی دانبیاوو تکذیب کوی دالله داولیاوو دښمنی ته ملاتړی آن تر دې چې دالله ﷻ دهغه سفیر چې دالله او دمخلوق تر منځ واسطه کیږی (دالله کلام انبیاوو ته راوړی) دهغه دښمنی هم کوی نو بیا یې درسول الله ﷺ دداديني او تسلا لپاره ددوی هغه عادتونه چې په وعده وفا نه کوی انبیاء دروغجن بولی دګمراهی او کوډو لاری نیسي بیا ن کړل ځکه چې دوی له رسول الله ﷺ سره همداسي وکړل چی دالله دکتاب زیری چی دسراج منیر ذات دبعثت په هکله وواودوی په هغه باندی په ایمان راوړلو مکلف وو ونه مانه او هغه کتاب یی شاته وغورځاوو او دکوډ ګرو او شیطانانو خبری یې ومنلې او دایې حضرت سلیمان ﷺ ته نسبت وکړی چې هغه په بشپړه توګه ځنی پاک دی همدارنګه ددوی حال له هر پیغمبر سره داسی دی نو ته ددوی په هکله مه خواشینی کیږه !:

لغتونه:

(نبذ) غورځول ځکه ناروا اولاد لقیط ته (منبوذ) وایي چې هغه یې په لارکی غورځولی وی (تتلوا) لولیِ له تلاوت څخه اخیستل شوی او یا له (تلو) څخه چې د اتباع او پیروی په معنی ده طبری وایي څوک وایي: (هو یتلو کذا) یوه معنی یې دا چې اتباع کوی دهغه یعنی له شاورپسي ځی او دوهم دا چې قرائت او لوست ته وایي لکه چې فلانی دقرآن تلاوت کوی([1]) (السحر) جوهری وایي هر څه چې باریک اخځای (مأخذ) لری سحر ګڼلی کیږی او ویل کیږی (سحره) یعنی هغه یې غولولی وو ([2]) او په حدیث شریف کی راځي: (ان من البیان لسحرا) (فتنة) فتنه ابتلاء او ازموینښت ته وایي او وایي: (فتنة الذهب) کله چې یې په اور ویلی کړی چې کوټ او کره یې څرګند شي (خلاق) نصیب او برخی ته ویل کیږی زجاج وایي دخیر غتی برخی ته خلاق وایي (لمثوبة) مثوبة ثواب او جزا ته وایي.

تفسیر:

﴿ وَلَقَدْ أَنزَلْنَآ إِلَيْكَ ءَايَٰتٍۭ بَيِّنَٰتٍ ﴾ او په تحقیق نازل کړی دی موږ تاته (درکړی دی) آیتونه روښانه (چې ستا په نبوت دلالت کوی) ﴿ وَمَا يَكْفُرُ بِهَآ إِلَّا ٱلْفَٰسِقُونَ ﴾ او نه کافران کیږی په دې مګر فاسقان هغه چې له طاعت څخه بهر او سرغړونکی کفار وی ﴿ أَوَكُلَّمَا عَٰهَدُوا۟ عَهْدًا نَّبَذَهُۥ فَرِيقٌ مِّنْهُم ﴾ (او کله چې وبه کړ دوی یو

---

(١) القرطبي ٢/۴٠٧.
(٢) الصحاح للجوهری.

عهد وبه غورځاوو يوې ډلي له دوى څخه) يعنى ايا دوى په هغوروښانه آيتونو كافران كيږى او كله چې دوى عهد وكړى يوه ډله يې ماتوى ؟ ﴿ بَلْ أَكْثَرُهُمْ لَا يُؤْمِنُونَ ﴾ بلكه اكثره ددوى (يهودو) ايمان نه راوړى په تورات باندى څكه عهود ماتوى ﴿ وَلَمَّا جَآءَهُمْ رَسُولٌ مِّنْ عِندِ ٱللَّهِ ﴾ او كله چې راغى دوى ته رسول له نزده دالله څخه چې هغه محمد ﷺ وو ﴿ مُصَدِّقٌ لِّمَا مَعَهُمْ ﴾ چې تصديق كونكى دهغه كتاب وو چې له دوى سره وو (تورات) ددين په اصولو كى ورسره موافق او دموسى ﷺ دنبوت تائيد كوونكى وو ﴿ نَبَذَ فَرِيقٌ مِّنَ ٱلَّذِينَ أُوتُوا۟ ٱلْكِتَٰبَ كِتَٰبَ ٱللَّهِ وَرَآءَ ظُهُورِهِمْ ﴾ (وغورځاوو يوې ډلى له هغو كسانو چې وركړ شوى وو كتاب دالله كتاب لره وروسته تر شاوو خپلو) هغوى چې دتورات علماء او احبار وو څكه هغه تورات دمحمد ﷺ په نبوت دلالت كاوو نو دوى تري انكار وكړ ﴿ كَأَنَّهُمْ لَا يَعْلَمُونَ ﴾ لكه چې دوى نه پوهيږى په دلائلو دنبوت دهغه ﴿ وَٱتَّبَعُوا۟ مَا تَتْلُوا۟ ٱلشَّيَٰطِينُ عَلَىٰ مُلْكِ سُلَيْمَٰنَ ﴾ او متابعت وكړ يهودانو دهغه څه چې لوست به شيطانانو) په وخت دپاچهي دسليمان كى) يعنى سحر او كوډي يې زده كړى ﴿ وَمَا كَفَرَ سُلَيْمَٰنُ ﴾ او نه وو كافر شوى سليمان اونه ساحر وو چې سحر يې ورزده كاوو ﴿ وَلَٰكِنَّ ٱلشَّيَٰطِينَ كَفَرُوا۟ يُعَلِّمُونَ ٱلنَّاسَ ٱلسِّحْرَ ﴾ لكن شيطانان كافران شوى وو خلكوته به يې سحر ښودل تر څو په خلكو كى خپور شو ﴿ وَمَآ أُنزِلَ عَلَى ٱلْمَلَكَيْنِ بِبَابِلَ هَٰرُوتَ وَمَٰرُوتَ ﴾ (او متابعت به يې كاوو دهغه څه چې نازل شوى وو په بابل كى په دوو ملكو هاروت او ماروت هغه چې الله دازمويښت لپاره خلكوته را استولي وې ﴿ وَمَا يُعَلِّمَانِ مِنْ أَحَدٍ حَتَّىٰ يَقُولَآ إِنَّمَا نَحْنُ فِتْنَةٌ فَلَا تَكْفُرْ ﴾ او نه به كول ښودنه دوى هيچا ته تر څو به يې دنصيحت په توګه وويل دوى بيشكه موږ ازموينه يو له جانبه دالله ﷻ نو مه كافران كيږه) نو دضرر رسولو لپاره يې مه استعمالوه څوک چې يې ددې لپاره زده كړى چې ضرر يې له خلكو دفع كړى نو نجات يې پيدا كړ او كه چا ددې لپاره زده كړ چې خلكو ته ضرر ورسوى هلاک او ګمراه شو ﴿ فَيَتَعَلَّمُونَ مِنْهُمَا مَا يُفَرِّقُونَ بِهِۦ بَيْنَ ٱلْمَرْءِ وَزَوْجِهِۦ ﴾ نو زده كول به يې له دوى دواړو هغه چې بيلتون به يې راووړ دميړه او ميرمني تر منځ هغه چې پخوا به يې تر منځ مينه او الفت وو بيا به اختلاف او شقاق ورته مخه كړه ﴿ وَمَا هُم بِضَآرِّينَ بِهِۦ مِنْ أَحَدٍ إِلَّا بِإِذْنِ ٱللَّهِ ﴾ او نه وو دوى ضرر رسوونكى په دغه سحر دهيچا مګر په حكم دالله ﴿ وَيَتَعَلَّمُونَ مَا يَضُرُّهُمْ وَلَا يَنفَعُهُمْ ﴾ او زده كوي دوى (يهودان) هغه چې ضرر رسوى دوى ته او ګټه نه رسوي دوى ته ﴿ وَلَقَدْ عَلِمُوا۟ لَمَنِ ٱشْتَرَىٰهُ مَا لَهُۥ فِى ٱلْءَاخِرَةِ مِنْ خَلَٰقٍ ﴾ او په تحقيق سره دوى پوهيدل چې هغه څوک چې اخلى (زده كوى) سحر نشته ده لره په آخرت كى هيڅ برخه (دنيكي) يعنى برخه دالله درحمت او ياجنت څكه دوى تركتاب الله سحر غوره ګڼلى دى ﴿ وَلَبِئْسَ مَا شَرَوْا۟ بِهِۦٓ أَنفُسَهُمْ ۚ لَوْ كَانُوا۟ يَعْلَمُونَ ﴾ او ارو مرو ډير بد دى هغه څه چې خرڅ كړى (پلورلى) دى په

هغه ځانو نه خپل كه چېرى دوى پوهيدلاى فهم او ادراك يې درلوداى نو سحر به يې نه زده كاوو ﴿ وَلَوْ أَنَّهُمْ ءَامَنُوا۟ وَٱتَّقَوْا۟ ﴾ (او كه په تحقيق دوى ايمان راوړى او پر هيز يې كړى واى) دالله له عذاب نه ويريدلاى ﴿ لَمَثُوبَةٌ مِّنْ عِندِ ٱللَّهِ خَيْرٌ لَّوْ كَانُوا۟ يَعْلَمُونَ ﴾ خامخا ثواب له طرفه دالله ﷻ دير غوره دى كه دوى پوهيدلاى يعنى الله به تر هغه كار چې دوى ورباندى مشغول دى لكه سحر بهتر ثواب وركړى وو ځكه سحر دوى ته پرته له هلاكت او زيان څخه بل څه نه راوړى.

دنزول سبب:

كله چې به رسول الله ﷺ سليمان عليه السلام په انبياوو او پيغمبرانو كى ذكر كاوو نوديهودو علماوو (احبارو) به ويل: ايا تعجب نه كوى چې محمد ﷺ گومان كوى چې سليمان بن داود نبي وو په خداى لوړه چې هغه نه وو مگر جادوگر او كوډگر نو دا آيت شريف نازل شو: ﴿ وَمَا كَفَرَ سُلَيْمَـٰنُ وَلَـٰكِنَّ ٱلشَّيَـٰطِينَ كَفَرُوا۟ يُعَلِّمُونَ ٱلنَّاسَ ٱلسِّحْرَ ﴾ (١)

بلاغت:

١ - پدې جمله كى چې فرمايي: (رَسُولٌ مِّنْ عِندِ ٱللَّهِ) درسول تنكير دتفخيم او تعظيم لپاره او دا چې له نزده دالله راځي پدې كى زيات اكرام او عزت دى.

٢ - (وَرَآءَ ظُهُورِهِمْ) دايو متل دى چې عرب وايي فلانى كار يې شاته وغور ځاوو يعنى له هغه څخه يې مخ واړاوو هر كار چې شاته وغور ځول شي بيا ورته نه كتل كيږى نو په دې كى دنه منلو كنايه ده چې بالكليه يې تورات ته شاكړه.

٣ - پدې برخه دآيت شريف كى چې فرمايي: (كَأَنَّهُمْ لَا يَعْلَمُونَ) دبلاغت دفنونو هغه اسلوب دى چې كه چېرى عالم په خپل علم عمل ونكړى نو هغه دجاهل په منزلت گڼل كيږى او علم داسي ځنى نفى كاوه شى لكه چې له جاهل څخه نفى كاوه شي.

۴ - (لَمَثُوبَةٌ مِّنْ عِندِ ٱللَّهِ) دلته يې دفعلي جملې پرځاى اسميه راوړه چې په ثبوت او استمرار دلالت وكړى.

فائده: دملائكو په سحرى تعليم وركولو كى خلكو ته دا حكمت نغښتى وو چې په هغه زمانه كي جادوگران او كوډگرزيات وو او عجيبه دسحر ډولونه يې جوړكړل او ډيرځله به خلكو دا گومان كاوو چې همدا كوډگر انبياء دى نو الله ﷻ دوه پرښتې راواستولې چې دوى ته دسحر ډولونه وروښيي تر څو دمعجزې او سحر توپير وكړاى شي نو بيا به ددروغو دپيغمبرى دعوا كوونكى وپيژنى چې دوى نبيان نه بلكه كوډگر دى.

---

(١) زاد المسير ١/١٢٠ و القرطبى ٢/۴٧.

الله تعالی فرمایي:

﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَقُولُواْ رَٰعِنَا وَقُولُواْ ٱنظُرۡنَا وَٱسۡمَعُواْۗ وَلِلۡكَٰفِرِينَ عَذَابٌ أَلِيمٞ
(١٠٤) مَّا يَوَدُّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ مِنۡ أَهۡلِ ٱلۡكِتَٰبِ وَلَا ٱلۡمُشۡرِكِينَ أَن يُنَزَّلَ عَلَيۡكُم مِّنۡ خَيۡرٖ مِّن رَّبِّكُمۡۚ وَٱللَّهُ
يَخۡتَصُّ بِرَحۡمَتِهِۦ مَن يَشَآءُۚ وَٱللَّهُ ذُو ٱلۡفَضۡلِ ٱلۡعَظِيمِ (١٠٥) ۞ مَا نَنسَخۡ مِنۡ ءَايَةٍ أَوۡ نُنسِهَا نَأۡتِ بِخَيۡرٖ مِّنۡهَآ
أَوۡ مِثۡلِهَآۗ أَلَمۡ تَعۡلَمۡ أَنَّ ٱللَّهَ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٌ (١٠٦) أَلَمۡ تَعۡلَمۡ أَنَّ ٱللَّهَ لَهُۥ مُلۡكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۗ وَمَا لَكُم
مِّن دُونِ ٱللَّهِ مِن وَلِيّٖ وَلَا نَصِيرٍ (١٠٧) أَمۡ تُرِيدُونَ أَن تَسۡـَٔلُواْ رَسُولَكُمۡ كَمَا سُئِلَ مُوسَىٰ مِن قَبۡلُۗ وَمَن
يَتَبَدَّلِ ٱلۡكُفۡرَ بِٱلۡإِيمَٰنِ فَقَدۡ ضَلَّ سَوَآءَ ٱلسَّبِيلِ (١٠٨) وَدَّ كَثِيرٞ مِّنۡ أَهۡلِ ٱلۡكِتَٰبِ لَوۡ يَرُدُّونَكُم مِّنۢ
بَعۡدِ إِيمَٰنِكُمۡ كُفَّارًا حَسَدٗا مِّنۡ عِندِ أَنفُسِهِم مِّنۢ بَعۡدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُمُ ٱلۡحَقُّۖ فَٱعۡفُواْ وَٱصۡفَحُواْ حَتَّىٰ يَأۡتِيَ ٱللَّهُ
بِأَمۡرِهِۦٓۗ إِنَّ ٱللَّهَ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٞ (١٠٩) وَأَقِيمُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتُواْ ٱلزَّكَوٰةَۚ وَمَا تُقَدِّمُواْ لِأَنفُسِكُم مِّنۡ خَيۡرٖ تَجِدُوهُ
عِندَ ٱللَّهِۗ إِنَّ ٱللَّهَ بِمَا تَعۡمَلُونَ بَصِيرٞ (١١٠) ﴾ البقرة: ١٠٤ - ١١٠

مناسبت او تړاو:

کله چې الله ﷻ د یهودو قبائح بیانوي او دا چې دوی سحر او جادو خوړوله کاوو دعوی دیو بل دول شرارت او فساد ذکر یې وفرمایو هغه چې دوی به په زړونو کی له پیغمبر ﷺ او مسلمانانو سره پیغور، کینه، رخه او حسد درلود او هیله یې درلوده له پیغمبر او مسلمانانو څخه نعمت زائل شي اسلامي شریعت به یې د پیغور هدف ګرځاوو هغه په دې چې ځینی شرعي احکام به منسوخ شول نو دوی به وریاندی وارونه کول (چې ګوری محمد نن یو څه وایي سبا بیا هغه پریږدی بل څه وایي).

لغتونه:

(راعنا) له مراعت څخه دی یعنی موږ ته توجه وکړه ځکه رعایت دانسان دمصالحو کتنې ته وایي خو یهودانو داسي اړولی وه چې له رعونت څخه یې اخیستله او هغه حمق او نا پوهي ته ویل کیږی ځکه الله ﷻ مؤمنان ورڅخه منع کړل (انظرنا) له انتظار څخه ده لکه چې وایي (نظرتُ الرجلَ) کله چې ورته مهلت ورکول شي او انتظار یې وشي (یوّد) تمنی او هیلی ته وایي (ننسخ) نسخ په لغت کی دیو شرعی حکم پورته کول او په ځای یې بل حکم درولو ته وایي (ننسها) له هیرولو څخه ده او نسیان دیادولو ضد دی یعنی له زړونو څخه یې محو کوم (ولی) ولی هغه چاته وایي چې دسړی دمصلحتونو او امورو چارواکی وی (نصیر) مرستندوی ته وایي او له دې قول څخه اخیستل شوی چې (نصره) هغه چې ورسره به یې مرسته وکړه (أم) دبل په معنی دی چې لیږدیدل او انتقال ځنی معلومیږی لکه چې الله ﷻ فرمایي (أم یقولون افتراه) (یتبدل) له بدل او تبدل څخه دی یوشی دبل په ځای اخیستلو ته تبدل وایي (سواء السبیل) یعنی میانه لاره ځکه سواء دهر شي وسط ته وایي (فاعفوا) عفو

دمؤاخذې ترک ته ویل کیږی یعنی ښښنه (اصفحوا) بخشش وکړي ، دترڅو بخشش ته صفح وایي چې ملا متیا وروښښل شي.

دنزول سبب:

روایت کیږی چې یهودو ویل ایا تعجب نه کوی چې محمد ﷺ یو ځلی خپلو ملګروته امر کوی او بیا یې ځنې منع کوی نن یو څه وایي سبا ځنې پښیمانه او وګرځي دغه قرآن بل څه نه ده بلکه د محمد ﷺ خبری دی چې له ځانه یې جوړوی نو دا آیت نازل شو. (۱)

تفسیر:

﴿ يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ ﴾ (اې هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی) داد الله ﷻ له لوری مؤمنانو ته غږ دی وایي ﴿ لَا تَقُولُوا۟ رَٰعِنَا ﴾ مه وایی لفظ دراعنا چې موږ ته ودرېږه ځو موږ هغه څه یاد کړو چې ته یې راته وایي ﴿ وَقُولُوا۟ ٱنظُرْنَا ﴾ (وواياست چې انظرنا یعنی موږ ته منتظر شه او ودرېږه ﴿ وَٱسْمَعُوا۟ ﴾ او واوری تاسي حق یعنی دالله داوامرو منل او اطاعت وکړی دیهودانو غوندی مه کوی چې وایي : سمعنا وعصینا ﴿ وَلِلْكَـٰفِرِينَ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴾ او شته کافرانو لره (چې یهود دی) عذاب الیم دردناک عذاب څکه دوی پیغمبر ته ښکنځل کول (او راعنا کلمه یې د ښکنځلو په نیت ویله) ﴿ مَّا يَوَدُّ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ مِنْ أَهْلِ ٱلْكِتَـٰبِ وَلَا ٱلْمُشْرِكِينَ أَن يُنَزَّلَ عَلَيْكُم مِّنْ خَيْرٍ مِّن رَّبِّكُمْ ﴾ نه خوښوی هغه کسان چې کافران شوی دی له اهل کتابو څخه او نه له مشرکانو څخه چې نازل کړی شی په تاسي کوم ښه خبره له لوری د پروردګار ستاسی(دکینې او بغض له مخي) ﴿ وَٱللَّهُ يَخْتَصُّ بِرَحْمَتِهِۦ مَن يَشَآءُ ﴾ او الله ځانګري کوی په رحمت خپل سره هغه څوک چې دده رضا شي) یعنی الله ﷻ چې وغواړي غوره کوی یو څوک په وحی ، فضل او احسان سره ﴿ وَٱللَّهُ ذُو ٱلْفَضْلِ ٱلْعَظِيمِ ﴾ او الله دډیر لوی فضل څښتن دی بیا الله تعالی دیهودانو ددې پیغور په هکله چې ویل به یې ولی دقرآن دیو آیت په ځای بل راوړل کیږی او نسخ صورت نیسی داسي وفرمایل :﴿ مَا نَنسَخْ مِنْ ءَايَةٍ أَوْ نُنسِهَا ﴾ هغه چې منسوخ کوو موږ له کوم آیته یا هیروو(له زړُنو) د مؤمنانو څخه ﴿ نَأْتِ بِخَيْرٍ مِّنْهَآ أَوْ مِثْلِهَآ ﴾ نو راليږو بهتر له هغه (پخواني څخه په سهولت او کثرت د اجر کښې او یا په مثل د هغه) یعني اې مؤمنانو موږ به تاسو ته راوړو هغه چې تاسو ته په عاجل یا اجل کښې د مشقت په پورته کولو یا د ثواب په زیاتیدلو کښې ډیر ګټور وي ﴿ أَلَمْ تَعْلَمْ أَنَّ ٱللَّهَ عَلَىٰ كُلِّ شَىْءٍ قَدِيرٌ ﴾ ایا نه پوهیږی ته چې الله ﷻ په هر څه ښه قادر (او حاکم) دی له هغه څخه داسي څه نه صادریږی چې هغه د بندګانو لپاره دی په ګټه او احسان کی نه وی .

---

(۱) الکشاف ۱۳۷/۱ ، زموږ کتاب روائع البیان ۱۰۰/۱ وګوری .

﴿ أَلَمْ تَعْلَمْ أَنَّ ٱللَّهَ لَهُۥ مُلْكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ﴾ ايا نه پوهيږي ته بيشکه الله لره د اسمانو او مځکې پاچهي دی ؟ هغه پکي هر ډول چي غواړي د خلکو په شؤنو کې تصرف کوي په هغه څه چې وغواړي حکم کوي ﴿ وَمَا لَكُم مِّن دُونِ ٱللَّهِ مِن وَلِيٍّ وَلَا نَصِيرٍ ﴾ او نشته تاسي لره پرته له الله څخه دوست مرستندوی ﴿ أَمْ تُرِيدُونَ أَن تَسْـَٔلُوا۟ رَسُولَكُمْ كَمَا سُئِلَ مُوسَىٰ مِن قَبْلُ ﴾ ايا اراده لرئ تاسو (اې مؤمنانو) چې سوال وکړی له خپل پيغمبره لکه چې غوښتنه او سوال کړی شوی وو پخوا له موسی ﷺ نه يعنی يهودو ورته ويل (أرنا الله جهرة) نو به تاسو هم داسي گمراه شی لکه دوی غوندی ﴿ وَمَن يَتَبَدَّلِ ٱلْكُفْرَ بِٱلْإِيمَٰنِ ﴾ او هر څوک چې بدلوی کفر په ايمان يعنی غوره کوی گمراهي تر هدايت او کفر تر ايمان ﴿ فَقَدْ ضَلَّ سَوَآءَ ٱلسَّبِيلِ ﴾ پس په تحقيق ورکه کړی سمه لار او کوږ شو له سمي سيخي لاري څخه ﴿ وَدَّ كَثِيرٌ مِّنْ أَهْلِ ٱلْكِتَٰبِ ﴾ خوښوي ډير له اهل کتابو څخه چې يهود او نصارئ دی ﴿ لَوْ يَرُدُّونَكُم مِّنۢ بَعْدِ إِيمَٰنِكُمْ كُفَّارًا ﴾ چې وگرځوی دوی تاسو لره وروسته له ايمان راوړلو کافران ﴿ حَسَدًا مِّنْ عِندِ أَنفُسِهِم ﴾ د حسد له مخې چې د دوی له خبيثو نفسونو څخه پيدا شوي دي ﴿ مِّنۢ بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُمُ ٱلْحَقُّ ﴾ وروسته له هغه چې ښکاره شو دوی ته حق چې ستاسو دين برحق دی ﴿ فَٱعْفُوا۟ وَٱصْفَحُوا۟ ﴾ نو عفوه وکړی دوی ته او مخ تر واړوی جزا مه ورکوی ﴿ حَتَّىٰ يَأْتِىَ ٱللَّهُ بِأَمْرِهِۦٓ ﴾ ترڅو چې الله ﷻ د دوی د قتال حکم راواستوي ﴿ إِنَّ ٱللَّهَ عَلَىٰ كُلِّ شَىْءٍ قَدِيرٌ ﴾ بيشکه الله ﷻ په هر څه قادر دی کله چې وخت راشي ځني انتقام به اخلی ﴿ وَأَقِيمُوا۟ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتُوا۟ ٱلزَّكَوٰةَ ﴾ او سم دروی (ادا کوی) لمونځ او ورکوی زکات چې دا دوه مهم د اسلام عمودونه او ستنې دی چې بدنی او مالی عبادات دی ﴿ وَمَا تُقَدِّمُوا۟ لِأَنفُسِكُم مِّنْ خَيْرٍ تَجِدُوهُ عِندَ ٱللَّهِ ﴾ او څه چې مخکي ليږی لپاره د ځانونو خپلو له نيکي څخه د هغه ثواب به په نزد د الله ومومی هغه که فرض وی او که نفل ﴿ إِنَّ ٱللَّهَ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ ﴾ بيشکه الله په هغه څه چې تاسي يې کوی ښه ليدونکی دی نو په ورځ د آخرت به يې جزا درکړي.

بلاغت:

١ - پدې جمله کې چې فرمايي (من ربکم) اضافت د تشريف لپاره دی او بندگانو ته ددې يادونه کوی چې الله ﷻ يې پالونکی دی.

٢ - دا دوه جملې چې په سر کې يې د الله ﷻ لفظ راوړی لکه (وَٱللَّهُ يَخْتَصُّ) او (وَٱللَّهُ ذُو ٱلْفَضْلِ) دا مر د اهميت او ستر توب ښنه ده ځکه يې تصدير په لفظ الجلالة سره فرمايلی دی.

۳ - (أَلَمْ تَعْلَمْ) استفهام د تقرير لپاره دي خطاب پيغمبر ﷺ ته او مراد امت د رسول الله ﷺ دی ځکه چې بيا راځي (وَمَا لَكُم مِّن دُونِ ٱللَّهِ ...).

۴ - وضع د اسم ظاهر د الله ﷻ په ځای د ضمير پدې ځايونو کې چې فرمايي (ان الله) او (من دون الله) کي د دې لپاره ده چې په زړونو کی د هيبت او عظمت پالنه وشي.

۵ - پدې جمله کی چې (فَقَدْ ضَلَّ سَوَآءَ ٱلسَّبِيلِ) اضافت د صفت موصوف ته شوی يعنی ورکه يې کړه برابره لاره او په آيت کی د هغه چا سخت شناعت او بدی څرګنديږي چې حق ورته معلوم وي خوله هغه څخه کږ ولاړو ته درومي.

ګټي او فائدې:

لومړی فائده: الله ﷻ په دې کلمه چې (يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟) ده اته اتيا ځله (۸۸) په قرآن کي خطاب فرمايلی دی او دا پدې سورت کی لومړنی خطاب دی چې الله ﷻ مؤمنانو ته غږ کوی او د ايمان والو په نامه يې ستايي دوی ته ورپه يادوی چې د ايمان غوښتنه داده چې د الله ﷻ اوامر او نواهي په خورا ښکلی طاعت او امتثال سره پر ځای کړی.

دوهمه فائده: الله ﷻ مؤمنان له دې څخه منع کړی چې پيغمبر ته ووايي (راعنا) بلکه پر ځای يې د (انظرنا) حکم کړی دی او پدې کي د ښائسته ادب ښوونه ده چې انسان بايد هلته چې تعظيم او محبت مقصد وی له داسي کلماتو څخه ځان وژغوری چې د جفا او سپکتيا توهم پکي کيدای شي.

دريمه فائده: يهودانو به د (راعنا) کلمه د ښکنځلو لپاره ويله او روايت کول کيږی چې سعد بن معاذ ځني واوريدله نو ورته يې داسي وويل: اې د الله دښمنانو پر تاسو دی د الله ﷻ لعنت وی زما دی په هغه الله لوړه او سوګند وی چې زما روح يې په يد د قدرت کي ده که مې ستاسي له يو چا څخه واوريدل چې رسول الله ﷺ ته يې وايي زه به يې سر قلم کړم نو دوی ورته وويل ايا تاسو يې نه واياست؟ بيا دغه آيت نازل شو (يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ لَا تَقُولُوا۟ رَٰعِنَا وَقُولُوا۟ ٱنظُرْنَا).

الله تعالى فرمايي:

﴿ وَقَالُوا۟ لَن يَدْخُلَ ٱلْجَنَّةَ إِلَّا مَن كَانَ هُودًا أَوْ نَصَٰرَىٰ ۗ تِلْكَ أَمَانِيُّهُمْ ۗ قُلْ هَاتُوا۟ بُرْهَٰنَكُمْ إِن كُنتُمْ صَٰدِقِينَ ﴿١١١﴾ بَلَىٰ مَنْ أَسْلَمَ وَجْهَهُۥ لِلَّهِ وَهُوَ مُحْسِنٌ فَلَهُۥٓ أَجْرُهُۥ عِندَ رَبِّهِۦ وَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ ﴿١١٢﴾ وَقَالَتِ ٱلْيَهُودُ لَيْسَتِ ٱلنَّصَٰرَىٰ عَلَىٰ شَىْءٍ وَقَالَتِ ٱلنَّصَٰرَىٰ لَيْسَتِ ٱلْيَهُودُ عَلَىٰ شَىْءٍ وَهُمْ يَتْلُونَ ٱلْكِتَٰبَ ۗ كَذَٰلِكَ قَالَ ٱلَّذِينَ لَا يَعْلَمُونَ مِثْلَ قَوْلِهِمْ ۚ فَٱللَّهُ يَحْكُمُ بَيْنَهُمْ يَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ فِيمَا كَانُوا۟ فِيهِ يَخْتَلِفُونَ ﴿١١٣﴾ وَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّن مَّنَعَ مَسَٰجِدَ ٱللَّهِ أَن يُذْكَرَ فِيهَا ٱسْمُهُۥ وَسَعَىٰ فِى خَرَابِهَآ ۚ أُو۟لَٰٓئِكَ مَا كَانَ لَهُمْ أَن يَدْخُلُوهَآ إِلَّا

خَآئِفِينَۚ لَهُمۡ فِي ٱلدُّنۡيَا خِزۡيٞ وَلَهُمۡ فِي ٱلۡأٓخِرَةِ عَذَابٌ عَظِيمٞ ﴿١١٤﴾ وَلِلَّهِ ٱلۡمَشۡرِقُ وَٱلۡمَغۡرِبُۚ فَأَيۡنَمَا تُوَلُّواْ فَثَمَّ وَجۡهُ ٱللَّهِۚ إِنَّ ٱللَّهَ وَٰسِعٌ عَلِيمٞ ﴿١١٥﴾ ﴾ البقرة: ١١١ - ١١٥

مناسبت او تړاو:

دغه آيتونه داهل کتابو نور چټيات بيانوی هغه چې ددوی هرې يوې ډلې دعوی درلوده چې جنت په دوی پسې خانګړی دی او دبل په دين پسې به يې پيغوروونه ترل يهوداڼو به نصرانيان کافران اوګمرهان ګڼل او دوی به پخپله په حضرت عيسی ﷺ او انجيل باندی ايمان نه راوړ او نصرانيانو به بيا يهود په دې کافران اوګمرهان ګڼل څکه په مسيح يې ايمان نه وو راوړی هغه چې ددوی دشريعت دبشپړوالی لپاره راغلی وو دغه شخړه دومره اوچتې مرحلې ته ورسيده چې ديو بل په دين پوری به يې پيغوروونه ترل او داسي ګومان يې کاوو چې جنت خاص ددوی خای دی الله ﷻ ددوی دغه خوبونه درواغ وګڼل او داسي يې ښکاره کړه چې جنت دپرهيزګاره مؤمن مسلمان خای دی.

لغتونه:

(هودا) يعنی يهود چې دهائد جمع او دهائد معنی تائب او رجوع کوونکی دی چې له هاد څخه اخيستل شوی کله چې توبه وباسي الله فرمايي (انا هدنا اليک) (امانيهم) دامنيه جمع ده چې هيلی او آرزوته وايي (برهان) هغه دليل حجت ته وايي چې يقين ته رسونکی وی (اسلم) تسلميدلو ته ويل کيږی (خرابها) ورانولو ته وايي هغه په دوه ډوله دی يويې معنوی لکه چې په مسجد کی دالله شعائر نه پر خای کيږی ورته دمسجد تخريب وائی او بل يې حسي اوظاهری دي لکه دمسجد نړول (خزی) رسوا کيدل او سپکتيا ته وايي (ثم) دثاء په فتحه سره ظرف مکان معنی مومن هلته (وجه الله) له وجه الله څخه مراد هغه دالله خوښ کړی شوی جهت دی چې الله ورته دمخامخ کيدلو امر فرمايي.

دنزول سبب:

ابن عباس رضي الله عنهما وايي کله چې دنجران نصاری رسول الله ﷺ ته راغلل نو ديهودو علماءم ورته راغلل او درسول الله ﷺ په وړاندی يې شخړه پيل کړه نو رافع بن حرمله وويل تاسو له دين څخه په هيڅ شی کی نه ياست او په عيسی ﷺ او انجيل کافر شو بيا دنجران دنصاراوو يو تن يهوداڼو ته وويل تاسی په هيڅ شي کي نه ياست او په تورات او موسی ﷺ کافران او له حقيقت څخه يې منکر شول نو الله ﷻ دا آيتونه نازل کړل (وَقَالَتِ ٱلۡيَهُودُ لَيۡسَتِ ٱلنَّصَٰرَىٰ عَلَىٰ شَيۡءٖ) (١)

---

(١) مختصر ابن کثير ١٠٨/١.

Bawar.net

تفسیر :

﴿ وَقَالُوا۟ لَن يَدْخُلَ ٱلْجَنَّةَ إِلَّا مَن كَانَ هُودًا أَوْ نَصَٰرَىٰ ﴾ او وايي (يهودان) له سره به نه ننوځي جنت ته مگر هغه چې يهود وي او نصارى وايي چې له سره به جنت ته نه ننوځي مگر هغه چې نصراني وي ﴿ تِلْكَ أَمَانِيُّهُمْ ﴾ داددوی خيالات او نفساني غوښتنې دی ﴿ قُلْ هَاتُوا۟ بُرْهَٰنَكُمْ إِن كُنتُمْ صَٰدِقِينَ ﴾ ووايه دوی ته (اې محمده) راوړی (ښكاره) دليل پدې دعوئ كه چېرې صادقان یاست ؟ ﴿ بَلَىٰ مَنْ أَسْلَمَ وَجْهَهُۥ لِلَّهِ وَهُوَ مُحْسِنٌ ﴾ (بلكه له دوی پرته نورهم داخليږی داسې نه ده لكه چې دوی وايي هو) هر څوک چې وسپاری ځان خپل الله ته او نيكو كار وی) دپيغمبر ﷺ تصديق كونكی اومنونكی وی ﴿ فَلَهُۥٓ أَجْرُهُۥ عِندَ رَبِّهِۦ وَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ ﴾ نوده لره اجر او ثواب دی په نزد دپروردگار دده او نشته هيڅ ډول ويره په دوی او نه به هيڅ چېرې خفه كيږی بلكه په تل تر تله نعمت كی به اوسي ﴿ وَقَالَتِ ٱلْيَهُودُ لَيْسَتِ ٱلنَّصَٰرَىٰ عَلَىٰ شَىْءٍ ﴾ او وايي يهودان چې نه دی نصرانيان په هيڅ شی (له صحيح دين څخه يعنی دين يې باطل دی) ﴿ وَقَالَتِ ٱلنَّصَٰرَىٰ لَيْسَتِ ٱلْيَهُودُ عَلَىٰ شَىْءٍ ﴾ او وايي نصرانيان نه دی يهودان په هيڅ شی (دحق دين څخه) دوی په موسی ﷺ كافران شوی دی ﴿ وَهُمْ يَتْلُونَ ٱلْكِتَٰبَ ﴾ او حال دا چې دا يهودان او نصرانيان) لولی كتاب (تورات او انجيل) دوی له پوهي سره سره كافران شوی دی ﴿ كَذَٰلِكَ قَالَ ٱلَّذِينَ لَا يَعْلَمُونَ مِثْلَ قَوْلِهِمْ ﴾ همدارنگه ويل هغو كسانو چې نه پوهيدل په شان دويلو ددغو (اهل كتابو) لكه دعربو مشركانو چې به ويل محمد په هيڅ شي كی نه دی له حق دين څخه ﴿ فَٱللَّهُ يَحْكُمُ بَيْنَهُمْ يَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ فِيمَا كَانُوا۟ فِيهِ يَخْتَلِفُونَ ﴾ نو الله به حكم وكړی په مينځ ددوی كی دقيامت په ورځ په هغه شي كي چې وو دوی او ددين په اړه يې پكي جگړې او اختلاف كاوو ﴿ وَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّن مَّنَعَ مَسَٰجِدَ ٱللَّهِ أَن يُذْكَرَ فِيهَا ٱسْمُهُۥ وَسَعَىٰ فِى خَرَابِهَآ ﴾ (څوک دی لوی ظالم تر هغه چا چې بندوی مسجدونه دالله له دی څخه چې پكي يادكړی شی نوم دده اوزيار باسي په نړولو ،شاړولو دهغو كي) يعنی نشته تري بل ظالم دلته استنكار او استبعاد دی معنی دا چې تر دې ستر ظالم بل څوک نشته چې خلك دالله ذكر ته په مساجدو كی نه پريږدی او يا مسجدونه نړوی لكه چې رومان بيت المقدس وران كړ او يا دقريشو كفارو دالله كور ته دذكر لپاره څوک نه پريښودل ﴿ أُو۟لَٰٓئِكَ مَا كَانَ لَهُمْ أَن يَدْخُلُوهَآ إِلَّا خَآئِفِينَ ﴾ دغه كسان ندی لائق دوی ته چې ننوځي دغو مسجدونو ته مگر ويريدونكی يعنی دوی ته دا نه ښايي چې دمساجدو تخريب او تعطيل وكړی مگر دا چې په خشوع او عاجزی ورننه شي ﴿ لَهُمْ فِى ٱلدُّنْيَا خِزْىٌ ﴾ دوی لره په دنيا كې ذلت دی ﴿ وَلَهُمْ فِى ٱلْءَاخِرَةِ عَذَابٌ عَظِيمٌ ﴾ او شته دوی لره په آخرت كی ستر عذاب چې اور دی ﴿ وَلِلَّهِ ٱلْمَشْرِقُ وَٱلْمَغْرِبُ ﴾ او خاص الله لره دی ختيز او لويديز او مراد تول مځكه ده ﴿ فَأَيْنَمَا تُوَلُّوا۟ فَثَمَّ وَجْهُ ٱللَّهِ ﴾ او هر لوری ته چې مخ وگرځوې نو هم دا

لوری د طاعت د الله او قبله ده دا آیت د هغه چا په هکله نازل شوی چې قبله خنی ورکه شوې ده ﴿إِنَّ ٱللَّهَ وَٰسِعٌ عَلِيمٌ﴾ بیشکه چې پراخ دی رحمت د الله او ښه عالم او پوهیدونکی دی یعنی په خلکو باندی یې پریمانه نعمتونه لورولی دی او د دوی د امورو تدبیر او چلول کوی چې هیڅ یو وړوکی څیز هم ورڅخه پاتي نه دی.

بلاغت:

١ - داجمله چې فرمایي: (تِلْكَ أَمَانِيُّهُمْ) اعتراضیه ده او فائده یې د دوی د دعوې بطلان دی چې د دوی دعوه یو مخ ایزه دروغ دی.

٢ - په (قُلْ هَاتُوا بُرْهَٰنَكُمْ) کې امر د تبکیت او ترتني لپاره دی.

٣ - په دې جمله کی چې فرمایي: (بَلَىٰ مَنْ أَسْلَمَ وَجْهَهُۥ لِلَّهِ) استعاره دی او یوازې مخ یې د دې لپاره ذکر کړ چې د اعضاؤ تر ټولو زیات د شرافت خاوند دی مراد څنی د الله لوری ته توجه کړځول او د هغه عبادت کول دی(١)

٤ - (عِندَ رَبِّهِۦ) په دې جمله کی په نزد د رب د شرافت لپاره ذکر شوی او د (رب) اضافت بیا ضمیر ته د زیات لطف او احسان څرګندونه کوی.

٥ - پدې جمله کی چې فرمایي: (قَالَ ٱلَّذِينَ لَا يَعْلَمُونَ) ستر توبیخ دی چې اهل کتابو سره له پوهی د هغه چا لاره تعقیبوله چې له سره یې علم نه درلود.

٦ - پدې کلمه کی چې (وَمَنْ أَظْلَمُ) ده استفهام د نفی په معنا دی یعنی نشته هیڅوک ستر ظالم.

٧ - کله چې الله تعالی فرمایي: (لَهُمْ فِي ٱلدُّنْيَا خِزْيٌ) دلته تنکیر د تهویل لپاره دی یعنی داسې ستر او هولناک ذلت چې هیڅ بیان یې نه کیږی.

٨ -(علیم) د فعیل صیغه د مبالغې لپاره او معنا یې (واسع العلم) دی

فائده:

امام فخرالرازی وایي (اسلم وجهه) د مخ اسلام یعنی د الله طاعت ته د نفس سپارل او کله کله په وجه سره له نفس څخه کنایه راځي لکه چې الله فرمایي (کل شئ هالک الا وجهه).

الله تعالی فرمایي:

﴿وَقَالُوا ٱتَّخَذَ ٱللَّهُ وَلَدًا ۗ سُبْحَٰنَهُۥ ۖ بَل لَّهُۥ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ۖ كُلٌّ لَّهُۥ قَٰنِتُونَ ﴿١١٦﴾ بَدِيعُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ۖ وَإِذَا قَضَىٰٓ أَمْرًا فَإِنَّمَا يَقُولُ لَهُۥ كُن فَيَكُونُ ﴿١١٧﴾ وَقَالَ ٱلَّذِينَ لَا يَعْلَمُونَ لَوْلَا يُكَلِّمُنَا ٱللَّهُ أَوْ تَأْتِينَآ ءَايَةٌ

(١) تلخیص البیان ص١٠.

كَذَٰلِكَ قَالَ ٱلَّذِينَ مِن قَبْلِهِم مِّثْلَ قَوْلِهِمْ تَشَٰبَهَتْ قُلُوبُهُمْ قَدْ بَيَّنَّا ٱلْءَايَٰتِ لِقَوْمٍ يُوقِنُونَ ﴿۱۱۸﴾ إِنَّآ
أَرْسَلْنَٰكَ بِٱلْحَقِّ بَشِيرًا وَنَذِيرًا وَلَا تُسْـَٔلُ عَنْ أَصْحَٰبِ ٱلْجَحِيمِ ﴿۱۱۹﴾ وَلَن تَرْضَىٰ عَنكَ ٱلْيَهُودُ وَلَا ٱلنَّصَٰرَىٰ حَتَّىٰ تَتَّبِعَ
مِلَّتَهُمْ قُلْ إِنَّ هُدَى ٱللَّهِ هُوَ ٱلْهُدَىٰ وَلَئِنِ ٱتَّبَعْتَ أَهْوَآءَهُم بَعْدَ ٱلَّذِى جَآءَكَ مِنَ ٱلْعِلْمِ مَا لَكَ مِنَ ٱللَّهِ مِن وَلِىٍّ وَلَا نَصِيرٍ ﴿۱۲۰﴾
ٱلَّذِينَ ءَاتَيْنَٰهُمُ ٱلْكِتَٰبَ يَتْلُونَهُۥ حَقَّ تِلَاوَتِهِۦٓ أُو۟لَٰٓئِكَ يُؤْمِنُونَ بِهِۦ وَمَن يَكْفُرْ بِهِۦ فَأُو۟لَٰٓئِكَ هُمُ ٱلْخَٰسِرُونَ ﴿۱۲۱﴾ يَٰبَنِىٓ إِسْرَٰٓءِيلَ
ٱذْكُرُوا۟ نِعْمَتِىَ ٱلَّتِىٓ أَنْعَمْتُ عَلَيْكُمْ وَأَنِّى فَضَّلْتُكُمْ عَلَى ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿۱۲۲﴾ وَٱتَّقُوا۟ يَوْمًا لَّا تَجْزِى نَفْسٌ عَن نَّفْسٍ شَيْـًٔا وَلَا يُقْبَلُ مِنْهَا
عَدْلٌ وَلَا تَنفَعُهَا شَفَٰعَةٌ وَلَا هُمْ يُنصَرُونَ ﴿۱۲۳﴾ ﴾ البقرة: ۱۱۶ - ۱۲۳

مناسبت او تړاو:

کله چې الله تعالی د یهودو او نصاراوو دغه افتراء او دروغ ذکر کړل چې دوی به ویل جنت یوازې زموږ دی نور هیڅوک له موږ سره پکې ګډون نشي کولای بیا وروسته یې د دوی څه نور قبائح ذکر کړل او همدا رنګه د نورو مشرکینو چې دوی به ګومان کاوو او ویل یې چې ملائک دالله ﷻ لوڼې دي او یا به یهودانو ویل چې عزیر ﷺ دالله زوی او نصاراوو به بیا حضرت مسیح ﷺ دالله ﷻ زوی باله، الله ﷻ د دوی دغه دروغژنې دعوې باطلې او په غوښ برهان یې وټکولې.

لغتونه:

(سبحانه) سبحان د سبح مصدر او د تنزیه او پاکی په معنی دی یعنی پاکی له هر هغه څیز نه چې دالله جلاله سره نه ښایي (قانتون) غاړه ایښودونکی له قنوت څخه اخیستل شوی چې طاعت او خضوع ته وایي (بدیع) له ابداع نه اخیستل شوی او ابداع دیو شی هغه جوړښت ته ویل کیږی چې پخوانی مثال نلري (قضیٰ) دارادې او تقدیر په معنی دی (بشیرًا) بشارت یو ښتونی خبر چې خوشحالونکی وی او راوړونکی ته یې بشیر وایي (نذیرًا) دیو ویرونکی خبر راوړنکی ته نذیر وایي (جحیم) لمبې وهونکی اور (مِلَّتَهُم) دین د هغوی جمع یې ملل راځي (ملت) په اصل کی تګ لارې ته وایي او بیا دالله ﷻ رانازل شوی شریعت ته وویلی شو (عدل) بدل او فدیه.

تفسیر:

﴿ وَقَالُوا۟ ٱتَّخَذَ ٱللَّهُ وَلَدًا ﴾ او وایي کفار (نصرانیان او یهودان) چې نیولی دی الله زوی یهودانو ویل چې (عزیر) دالله زوی دی نصارا وو ویل چې حضرت مسیح دالله زوی دی مشرکانو به ویل چې ملائکې دالله ﷻ لوڼې دي نو الله د دوی ټولو دروغجنتوب څرګند کړی چې ﴿ سُبْحَٰنَهُۥ ﴾ پاکي ده ده لره له هغو ټولو نه چې دوی ګومان کوی ﴿ بَل لَّهُۥ مَا فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ﴾ بلکه ده لره دی هر هغه څه چې په آسمانو او ځمکو کی دی هسې نه لکه چې دوی ګومان کوی بلکه الله ﷻ پیدا کوونکی د ټولو مخلوقاتو دی او د هغوی له جملې څخه عزیر، عیسی او

ملائکي هم دی ﴿ كُلٌّ لَّهُۥ قَٰنِتُونَ ﴾ ټول هغه لره حکم منونکی دی چې دالله ﷻ له تکوین او تقدیر څخه سرغړونه نه کوی ﴿ بَدِيعُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ﴾ نوی پیدا کونکی دآسمانونو او مځکې چې پخوایې مثال نه درلود ﴿ وَإِذَا قَضَىٰٓ أَمْرًا فَإِنَّمَا يَقُولُ لَهُۥ كُن فَيَكُونُ ﴾ (او هر کله چې اراده وکړي دیو کار نو بیشکه همدا خبره ده چې وایې هغه کار ته چې شه نو وشی) یعنی بې له ځنډه اوانکار نه دسترګو په رپ کې هغه کار تر سره شي غوښتنې یې ارو مرو منل کیږی او له امر څخه یې مخالفت نه کاوه شي (وما امرنا الا واحدة کلمح بالبصر) ﴿ وَقَالَ ٱلَّذِينَ لَا يَعْلَمُونَ ﴾ (او وایې هغه کسان چې دوی نه پوهیږي) مراد ځنې دمشرکینو جاهلان او دقریشو کافران دی ﴿ لَوْلَا يُكَلِّمُنَا ٱللَّهُ ﴾ ولې خبری نه کوی له موږ سره الله (پخپله) چې موږ ته وحی راواستوی او یا مخامخ راته ووایی چې ته دهغه رسول او پیغمبر یې ؟ ﴿ أَوْ تَأْتِينَآ ءَايَةٌ ﴾ یاولی نه راځي موږ ته یو آیت چې ستا دنبوت تصدیق وکړی دا به یې دعناد او استکبار له مخي ویل ﴿ كَذَٰلِكَ قَالَ ٱلَّذِينَ مِن قَبْلِهِم مِّثْلَ قَوْلِهِمْ ﴾ (همدارنګه هغو کسانو ویل چې تر دوی له مخه وو په شان دخبرو ددوی) یعنی ددغو کسانو دباطلو او دروغو په شان پخوا ددوی اسلافو هم درسولانو دتکذیب په هکله ویناوې کولې ﴿ تَشَٰبَهَتْ قُلُوبُهُمْ ﴾ یو رنګ شوی دی زړونه ددوی په دروغ ویلو ، عناد ، رندوالی او تکذیب کی او پدې خبره کې درسول الله دادینه ده ﴿ قَدْ بَيَّنَّا ٱلْءَايَٰتِ لِقَوْمٍ يُوقِنُونَ ﴾ (په تحقیق بیان کړی دی موږ معجزې هغو خلکو ته چې دوی یقین کوی)او حق غواړی او دا ټول ستا دکتاب او رسالت تصدیق او رښتنولی ځرګندوی ﴿ إِنَّآ أَرْسَلْنَٰكَ بِٱلْحَقِّ بَشِيرًا وَنَذِيرًا ﴾ بیشکه موږ لیږلی یې ته (اې محمده) (په روښانه شریعت او سم دین باندی) په حقه سره زیری ورکونکی (مؤمنانو ته په نعیم) او ویرونکی (کافرانو ته په حجیم سره) ﴿ وَلَا تُسْـَٔلُ عَنْ أَصْحَٰبِ ٱلْجَحِيمِ ﴾ او نه به پوښتل کیږی ته له دوزخیانو څخه یعنی ته دهغه چا مسئول نه یې چې په تا ایمان نه راوړی تا خو ددوی دبلنې په لار کی خپل زیار ایستلی دی (انما علیک البلاغ وعلینا الحساب) ﴿ وَلَن تَرْضَىٰ عَنكَ ٱلْيَهُودُ وَلَا ٱلنَّصَٰرَىٰ حَتَّىٰ تَتَّبِعَ مِلَّتَهُمْ ﴾ او هیڅکله به راضی نه شي له تا څخه (اې محمده) یهودان او نصاری تر څو چې ته ددوی ددین متابعت وکړې ﴿ قُلْ إِنَّ هُدَى ٱللَّهِ هُوَ ٱلْهُدَىٰ ﴾ ووایه (اې محمده) بیشکه هدایت دالله همدغه هدایت دی ﴿ وَلَئِنِ ٱتَّبَعْتَ أَهْوَآءَهُم بَعْدَ ٱلَّذِى جَآءَكَ مِنَ ٱلْعِلْمِ ﴾ او که چیری پیروی وکړی ته دآرزوګانو ددوی (چې فاسد او ناکره دی) وروسته له دې چې راغلی دی تاته له پوهی او علم نه یعنی تاته حق په ځرګندو دلائلو او کوټلی براهینو ثابت شوی دی ﴿ مَا لَكَ مِنَ ٱللَّهِ مِن وَلِىٍّ وَلَا نَصِيرٍ ﴾ نو نه به وی تالره څوک ساتونکی له عذابه دالله او نه مددګار او خلاصونکی له هغه عذابونو څخه ﴿ ٱلَّذِينَ ءَاتَيْنَٰهُمُ ٱلْكِتَٰبَ ﴾ (هغه کسان چې ورکړی دی موږ دوی ته کتاب هغوی دیهودانو او نصاراوو هغه کسان او ټولی دی چې مسلمانان شوی دی ﴿ يَتْلُونَهُۥ حَقَّ تِلَاوَتِهِۦٓ ﴾ لولی دا کتاب په حق لوستلو

دهغه لکه چې نازل شوی دی ﴿ أُوْلَٰٓئِكَ يُؤۡمِنُونَ بِهِۦ ﴾ همدغو کسانو ایمان راوړی په دغه کتاب دغه کلمه خبر دمبتداء دی یعنی یوازی همدغه کسان پرته له منکرینو او تحریف کونکو څخه حقاني مؤمنان دی ﴿ وَمَن يَكۡفُرۡ بِهِۦ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡخَٰسِرُونَ ﴾ او هغه څوک چې کافر شي په ده نو دغه کسان هم دوی دی زیانکاران (په دنیا او آخرت کی) ﴿ يَٰبَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ ٱذۡكُرُواْ نِعۡمَتِيَ ٱلَّتِيٓ أَنۡعَمۡتُ عَلَيۡكُمۡ ﴾ (اې بني اسرائیلو یاد کړی زما هغه انعام چې کړی دی ما پر تاسی) یعنی زما هغه ډیر نعمتونه یاد کړئ چې لوروللی مي دی په تاسو او ستاسو په پلرونو باندی ﴿ وَأَنِّي فَضَّلۡتُكُمۡ عَلَى ٱلۡعَٰلَمِينَ ﴾ (او بل دا چې بیشکه ماغوره کړی یې تاسي او پلرونه ستاسي په خلکو دزمانې ستاسي ﴿ وَٱتَّقُواْ يَوۡمٗا لَّا تَجۡزِي نَفۡسٌ عَن نَّفۡسٖ شَيۡـٔٗا ﴾ (او وویریږی له هغې ورځي چې لیری کولی به نشي هیڅ نفس له هیڅ نفس څخه هیڅ شی اونه به دفع کولای شی له عذابه دالله څخه یو څه ځکه چې (کل نفس بما کسبت رهینة) ﴿ وَلَا يُقۡبَلُ مِنۡهَا عَدۡلٞ ﴾ او نه به شي قبلولی له هغه نفس څخه بدل او فدیه ﴿ وَلَا تَنفَعُهَا شَفَٰعَةٞ ﴾ او نه به گټه رسوي دده ته شفاعت (سپارښتنه) ځکه هغه کافر شوی ﴿ فَمَا تَنفَعُهُمۡ شَفَٰعَةُ ٱلشَّٰفِعِينَ ﴾ [المدثر: ٤٨] ﴿ وَلَا هُمۡ يُنصَرُونَ ﴾ او نه به له دوی سره مدد وکړی شي یعنی نه به یې څوک دالله له عذابه ژغوري او نه به ځنی عذاب دفع کوی.

بلاغت:

١ - (سُبۡحَٰنَهُۥ) اعتراضیه جمله ده او فائده یې دادی چې دظالمانو ددعوی بطلان کوی هغوی چې گومان کاوو الله ﷻ زوی لری، ابو السعود وایي چې په دې کلمه کی بشپړه تنزیه او پاکي ده ځکه له سبح څخه یې اشتقاق شوی او تفعیل ته یې نقل راغلی او مصدرته یې عدول شوی دی مقصد یې داده چې زه دالله هغسي تنزیه او پاکي بیانوم کوم چې له شان سره یې وړ او لائق وی(١)

٢ - (كُلّٞ لَّهُۥ قَٰنِتُونَ) دلته جمع تغلیبی دی ځکه قانتون دعاقلانو جمع دی او گواکې ذوی العقول په غیر ذوی العقول باندی غالب گڼل شوی او دغه هم دبدیع دعلم له محسناتو شمیرلی کیږی.

٣ - (أَصۡحَٰبِ ٱلۡجَحِيمِ) دکافرانو او دروغجنو خلکو څخه په دوزخیانو تعبیر شوی دی او دا ددې گواهی ورکوی چې ددوی په زړونو مهر لگول شوی ددې هیله ځنی نه کیږی چې دوی به له خپلی گمراهي او کفر څخه ایمان او دین ته رجوع وکړی ځکه نو دوی اکه پکه دوزخیان دی.

٤ - (هُوَ ٱلۡهُدَىٰ) په جمله کی چې الهدی په الف لام باندی معرفه ذکر شوی سره له دې چې دفصل ضمیر ورسره په څنگ کی دی ددې افاده کوی چې هدایت یوازی دالله ﷻ په دین کی دی او دا دصفت قصر او ځانگړتیا په موصوف کی ښیي ځکه اسلام خو گرد دټول بشر هدایت دی او له هغه پرته گمراهی او ړوندوالی دی.

٥ - (وَلَئِنِ ٱتَّبَعۡتَ أَهۡوَآءَهُم) پدې جملو کی تهییج او الهاب یعنی په غور ځنگ راوستل او ایشیدل دی.

---

(١) تفسیر ابی السعود ١/١١٧.

تنبیه:

قرطبي وايي (بَدِيعُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ) معنا یې داده چې پیدا کوونکی جوړونکی اختراع کونکی د آسمانونو او ځمکی دی چې پخوا یې مثال نه وو او هر څوک چې کوم څيز پرته له پخوانی مثال نه جوړ کړی ورته مبدع ویل کیږی ځکه نو بدعت ته بدعت وایی دوی په دین کی داسي نوی کارونه پیدا کوی چې پخوانه وی موجود او نه چا وربانده قول کړی وی او په بخاری شریف کی درمضان دقیام په هکله راغلی چې (نعمت البدعة هذه) او بیا وايي چې هر نوی کار چې له مخلوق څخه صادر شي که چېرې یې په شریعت کی اصل وی نو هغه دثنا وړ دي او دحضرت عمر ﷺ قول یې ملا تړ کوی چې ویلی: (نعمت البدعة هذه) او که یې اصل نه درلود نو دکرکی او انکار وړ دي په حدیث شریف کی راځي: (څوک چې په اسلام کی نیکه او ښه لاره جوړه کړي نو هغه لره دهغه اجر دي او هرڅوک چې په همغه لاره درومی دهغوی اجرهم ورکول کیږی او څوک چې بده لاره چاره جوړه کړی هغه ته دهغې سزا ورکول کیږی او څوک چې په هغه لاره عمل کوی دهغوی سزا هم ورکول کیږی(١)

الله تعالی فرمايي:

﴿ ۞ وَإِذِ ٱبۡتَلَىٰٓ إِبۡرَٰهِـۧمَ رَبُّهُۥ بِكَلِمَٰتٖ فَأَتَمَّهُنَّۖ قَالَ إِنِّي جَاعِلُكَ لِلنَّاسِ إِمَامٗاۖ قَالَ وَمِن ذُرِّيَّتِيۖ قَالَ لَا يَنَالُ عَهۡدِي
ٱلظَّٰلِمِينَ ١٢٤ وَإِذۡ جَعَلۡنَا ٱلۡبَيۡتَ مَثَابَةٗ لِّلنَّاسِ وَأَمۡنٗا وَٱتَّخِذُواْ مِن مَّقَامِ إِبۡرَٰهِـۧمَ مُصَلّٗىۖ وَعَهِدۡنَآ إِلَىٰٓ إِبۡرَٰهِـۧمَ وَإِسۡمَٰعِيلَ أَن
طَهِّرَا بَيۡتِيَ لِلطَّآئِفِينَ وَٱلۡعَٰكِفِينَ وَٱلرُّكَّعِ ٱلسُّجُودِ ١٢٥ وَإِذۡ قَالَ إِبۡرَٰهِـۧمُ رَبِّ ٱجۡعَلۡ هَٰذَا بَلَدًا ءَامِنٗا وَٱرۡزُقۡ أَهۡلَهُۥ مِنَ
ٱلثَّمَرَٰتِ مَنۡ ءَامَنَ مِنۡهُم بِٱللَّهِ وَٱلۡيَوۡمِ ٱلۡأٓخِرِۚ قَالَ وَمَن كَفَرَ فَأُمَتِّعُهُۥ قَلِيلٗا ثُمَّ أَضۡطَرُّهُۥٓ إِلَىٰ عَذَابِ ٱلنَّارِۖ وَبِئۡسَ ٱلۡمَصِيرُ ١٢٦ وَإِذۡ
يَرۡفَعُ إِبۡرَٰهِـۧمُ ٱلۡقَوَاعِدَ مِنَ ٱلۡبَيۡتِ وَإِسۡمَٰعِيلُ رَبَّنَا تَقَبَّلۡ مِنَّآۖ إِنَّكَ أَنتَ ٱلسَّمِيعُ ٱلۡعَلِيمُ ١٢٧ رَبَّنَا وَٱجۡعَلۡنَا مُسۡلِمَيۡنِ لَكَ
وَمِن ذُرِّيَّتِنَآ أُمَّةٗ مُّسۡلِمَةٗ لَّكَ وَأَرِنَا مَنَاسِكَنَا وَتُبۡ عَلَيۡنَآۖ إِنَّكَ أَنتَ ٱلتَّوَّابُ ٱلرَّحِيمُ ١٢٨ رَبَّنَا وَٱبۡعَثۡ فِيهِمۡ رَسُولٗا مِّنۡهُمۡ
يَتۡلُواْ عَلَيۡهِمۡ ءَايَٰتِكَ وَيُعَلِّمُهُمُ ٱلۡكِتَٰبَ وَٱلۡحِكۡمَةَ وَيُزَكِّيهِمۡۖ إِنَّكَ أَنتَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡحَكِيمُ ١٢٩ ﴾ البقرة: ١٢٤ - ١٢٩

مناسبت او تړاو:

وروسته له دې چې په تیرو آیتونو کی الله ﷻ بنې اسرائیلو ته دخپلو ورکړل شویو نعمتونو یاد ونه وکړه او دایي څرګنده کړه چې څرنګه به دوې دنعمتونو کفران کاوو او دنعمتونو مقابله به یې په عناد او سرغړونې کوله په خپلو کړو وړو کی به یې منکرات او ناروا لاري چاري غوره کولې نو خبره تر دې راورسیده چې دوی خو به ځانونه حضرت ابراهیم ﷺ ته منسوب کول او دهغه بهتری به یې منله نو که په رښتیا هم یهودیان او نصرانیان پخپل قول کی صادق او رښتونی وی نو ددغه عزتمن پیغمبر حضرت محمد ﷺ پیروی او متابعت خو وربانده لازم وو ځکه دی دابراهیم ﷺ ددعا استجابت دی کومه چې داهل حرم لپاره یې کړې وه او بل دی داسماعیل ﷺ له اولاد څخه دی نو دده دشریعت خو بیخی اتباع او پیروی کول لازم وو چې دا دخلیل ﷺ شریعت دی.

(١) القرطبي ٨٧/٢.

لغتونه:

(ابتلى) امتحان او ازموينت (فاتمهن) هغه يې بشپړ كړل (اماما) امام هغه مقتداء ته وايي چې په كړو وړو كې يې پيروي كول كيږي (مثابة) مرجع له ثاب يثوب څخه اخيستل شوى يعنى دوى به ورته راګرزي هيڅكله به يې څنى استغنانه راځي (امنا) سلامتيا له ويرى څخه او پخپل اهل او نفس اطمنان او بيغمي ته وايي (وعهدنا) امر مو كړى او وحى مو نازله كړې (للطائفين) دطائف جمع دي له طواف څخه اخيستل شوى او طواف خواوشا په يوشى راګرځيدلوته وايي (فامتعه) زه به ده ته نفع وركړم له تمتع څخه اخيستل شوى او معنى يې دي انسان ته دداسي شي وركول چې ورباندى نفع واخلى (قل تمتعوا فان مصير كم الى النار) (القواعد) دقاعدې جمع دى او هغه بيا اساس او بنسټ ته وايي (مناسكنا) دمنسك جمع او هغه عبادت او طاعت ته وايي (الحكمة) ګټور علم چې سره له عمله وى او مراد څنى نبوى پاكيزه سنت دى (ويزكيهم) له تزكيې څخه اخيستل شوى او هغه تنميې او ودې ته ويل كيږى او بيا دنفسي طهارت او پاكوالى په معنىٰ استعمال شو الله ﷻ فرمايي : (قد أفلح من زكاها).

تفسير:

﴿ وَإِذِ ٱبۡتَلَىٰٓ إِبۡرَٰهِـۧمَ رَبُّهُۥ بِكَلِمَٰتٖ فَأَتَمَّهُنَّ ﴾ (او ياد كړه اې محمده) هغه وخت چې وازمايه ابراهيم لره پروردګار دده په څو خبرو نو ده پوره كړى هغه (خبرى) يعنى كله چې الله ﷻ خپل بنده ابراهيم په څو اوامرو او نواهيو وازمايو او هغه په ښه توګه ترسره كړل ﴿ قَالَ إِنِّي جَاعِلُكَ لِلنَّاسِ إِمَامٗا ﴾ وويل (الله) چې بيشكه زه ګرځونكى ستايم لپاره دخلكو مقتدا (په دين كى) ترڅو خلك ستا په سبب لار ومومى او ته يې لارښوونكى يې ﴿ قَالَ وَمِن ذُرِّيَّتِي ﴾ (وويل (ابراهيم) او له اولادې زما) همدارنګه امامان ﴿ قَالَ لَا يَنَالُ عَهۡدِي ٱلظَّٰلِمِينَ ﴾ نو وفرمايل (الله) نه رسيږي عهد زما (امانت) زما كافرانو ته) دغه ستر فضل او احسان هيڅ كافرته نه رسيږي ﴿ وَإِذۡ جَعَلۡنَا ٱلۡبَيۡتَ مَثَابَةٗ لِّلنَّاسِ ﴾ او ياد كړه (اې محمده) هغه وخت چې وګرځوله موږ كعبه مرجع لپاره دخلكو چې له هره لورى ورته رادرومى ﴿ وَأَمۡنٗا ﴾ او ځاى دامن چې په امن كيږى هر څوک چې ورته پناه راوړى او داله دې وجهي چې الله پاک دعربو په زړونو كى دهغې تعظيم او اجلال خوندى كړى دى ﴿ وَٱتَّخِذُواْ مِن مَّقَامِ إِبۡرَٰهِـۧمَ مُصَلّٗى ﴾ (او ونيسى (اې مؤمنانو) له ځاى ددريدلو) دابراهيم څنى ځاى دلمانځه) او داهغه تيږه ده چې حضرت ابراهيم به دكعبې دجوړلو په وخت كى ورباندى دريدو ﴿ وَعَهِدۡنَآ إِلَىٰٓ إِبۡرَٰهِـۧمَ وَإِسۡمَٰعِيلَ ﴾ او حكم كړى وو وصيت مو كړى وو ابراهيم او اسماعيل ته ﴿ أَن طَهِّرَا بَيۡتِيَ لِلطَّآئِفِينَ وَٱلۡعَٰكِفِينَ وَٱلرُّكَّعِ ٱلسُّجُودِ ﴾ (چې پاک كړى تاسي دواړه (كور دعبادت) زما لپاره دطواف كونكو معتكفينو او لپاره دركوع كووونكو ، سجده كونكو) يعنى موږ دواړو ته امر كړى وو چې پاک وساتى (بيت الله) له پليتي او بتانو څخه چې عبادت كونكو لپاره پناهګاه او سنګروى، په آيت شريف كى دعبادت كونكو څو ډلي ښودلې شوې طواف كونكي معتكفين او لمونځ ګذاره دى بيا الله ﷻ دابراهيم ددعا يادونه كوي ﴿ وَإِذۡ قَالَ إِبۡرَٰهِـۧمُ رَبِّ ٱجۡعَلۡ هَٰذَا بَلَدًا ءَامِنٗا ﴾ (او ياد كړه (اې محمده) هغه وخت چې

وويل ابراهيم اې ربه زما وګرزوه دا ښار ځاى دامن) مراد ځنى دمكې ښار دى چې خلک يې په امن او استقرار کې وى ﴿ وَٱرۡزُقۡ أَهۡلَهُۥ مِنَ ٱلثَّمَرَٰتِ مَنۡ ءَامَنَ مِنۡهُم بِٱللَّهِ وَٱلۡيَوۡمِ ٱلۡأٓخِرِۖ ﴾ (او روزى وركړه او سيدونكوته يې دهرراز ميوو څخه هر هغه چا لره چې ايمان يې راوړى دى له دوى ځنى په الله او په ورځ دآخرت باندى) يعنى دمكې مكرمې خلكو اواوسيدونكوته ډول ډول ميوې وركړه تر څو ستا عبادت وكړى او دطاعت لپاره دى چمتو وى او په خانګړى توګه يې دمؤمنانو يادونه وكړه الله ﷻ يې په ځواب كې وفرمايل ﴿ قَالَ وَمَن كَفَرَ فَأُمَتِّعُهُۥ قَلِيلٗا ﴾ وويل الله او هر څوک چې كافر شو هغه ته به يې هم وركم لږ) يعنى الله ﷻ وفرمايل چې زه به كافرانوته هم روزي وركړم ايا زه يو څوک خلق او پيدا كړم او بيا روزي ورنكړم ؟ هو كافر ته به په دنيا كې چې دده دژوند لنډه موده ده روزي وركوم ﴿ ثُمَّ أَضۡطَرُّهُۥٓ إِلَىٰ عَذَابِ ٱلنَّارِۖ ﴾ او بيا به يې په زور بوزم داكافر عذاب داورته) او هيڅ خلاصون به ځنى نه مومى ﴿ وَبِئۡسَ ٱلۡمَصِيرُ ﴾ او بدځاى دورتلو دى هغه اور چې دكافر ځاى مرجع او مآل شي ، حضرت خليل خو روزي هم له امامت سره قياس او پرتله كړه خو الله ﷻ ورته وښودل چې روزي او رزق دنيوي رحمت دى او نيكمرغه بدمرغه دواړوته شامل او وركول كيږي پرته له امامت نه هغه چې په خواصومؤمنانو پورې خانګړى شوى دى وروسته بيا الله تعالى دبيت الله دودانولو نكل داسي تير وى ﴿ وَإِذۡ يَرۡفَعُ إِبۡرَٰهِـۧمُ ٱلۡقَوَاعِدَ مِنَ ٱلۡبَيۡتِ وَإِسۡمَٰعِيلُ ﴾ او ياد كړه (اې محمده) هغه وخت چې پورته كړل ابراهيم او اسماعيل تادوونه دكعبې) يعنى داهسي عجيبه كار چې دوه ستر پيغمبران حضرت خليل او اسماعيل دبيت الله تادوونه پورته كوى او بيا په بشپړه خضوع او عاجزي دعا كوى چې ﴿ رَبَّنَا تَقَبَّلۡ مِنَّآۖ إِنَّكَ أَنتَ ٱلسَّمِيعُ ٱلۡعَلِيمُ ﴾ (اې ربه زموږ قبول كړه له موږ څخه دا كار بيشكه چې ته يې ښه اوريدونكى او ښه پوهيدونكى) يعنى دكار كولو په ترڅ كى به يې دغه مباركى دعا ګانى هم لوستلې چې اې ربه زموږ دغه كار خاص ستا درضا لپاره وګرزوې ته زموږ ددعاګانو اوريدونكى اوزموږ په نيتونو ښه پوهيدونكى يې ﴿ رَبَّنَا وَٱجۡعَلۡنَا مُسۡلِمَيۡنِ لَكَ ﴾ (اې زموږ ربه موږ ستا حكم منونكى وګرزوه) او تاته غاړه ايښودنكى ﴿ وَمِن ذُرِّيَّتِنَآ أُمَّةٗ مُّسۡلِمَةٗ لَّكَ ﴾ او وګرزوه له اولادې او نسل زموږ يوه ډله حكم منونكى ﴿ وَأَرِنَا مَنَاسِكَنَا ﴾ او وښيه موږ ته دعبادت لارى (شرائع) احكام دحج ﴿ وَتُبۡ عَلَيۡنَآۖ إِنَّكَ أَنتَ ٱلتَّوَّابُ ٱلرَّحِيمُ ﴾ (او قبوله كړه توبه زموږ بيشكه هم داته يې ښه توبه قبلونكى ښه مهربان) ستا رحمت ډير پراخ او مغفرت دى ډير ستر دى ﴿ رَبَّنَا وَٱبۡعَثۡ فِيهِمۡ رَسُولٗا مِّنۡهُمۡ ﴾ اې زموږ ربه وليږه په دوى كى يو استازى (رسول ددوى ځنى) او دا ددوى مباركانو له دعاګانو څخه يوه وه چې په (پايله) نتيجه كى يې بل مشال (سراج منير) حضرت محمد ﷺ د الله ﷻ له لورى په استازيتوب راغى ﴿ يَتۡلُواْ عَلَيۡهِمۡ ءَايَٰتِكَ ﴾ لولى پر دوى باندى آيتونه ستا (دقرآن آيتونه) ﴿ وَيُعَلِّمُهُمُ ٱلۡكِتَٰبَ وَٱلۡحِكۡمَةَ ﴾ (اوښيي دوى ته كتاب (قرآن) او حكمت (دنبي سنت) ﴿ وَيُزَكِّيهِمۡۚ ﴾ او پاک كړى دوى له ګناهونو (دشرک څخه) ﴿ إِنَّكَ أَنتَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡحَكِيمُ ﴾ بيشكه ته هم داته ښه غالب دحكمت خاوند يې) يعنى په تاهيڅوک هم برى نشي موندلاى ته په هر چا غالب يې او هسي حكيم ذات يې هغه چې دحكمت له مقتضا او غوښتني پرته هيڅ كار هم نكوې.

بلاغت:

١ - دربوبيت عنوان پدې کلمه کی څرګندول چې (وَإِذِ ٱبْتَلَىٰٓ إِبْرَٰهِـۧمَ رَبُّهُۥ) دحضرت ابراهيم ﷺ دتعظيم او تشريف لپاره دی او دا چې دغه ابتلاء دهغه درب له لوری ورکول شوې دده لپاره روزنه او تربيه ده بل دا چې ديو ستر کار لپاره نومول (ترشيح) شوی دی معنی دا چې الله ﷻ ورسره داسي معامله لکه څرنګه چې ازمويونکي(ممتحن) يی کوی ورسره وکړه چې په اوامرو او نواهيو يې مکلف کړ تر څو دستر امامت لپاره يې استحقاق څرګند شي.

٢ - دمصدر راتلل داسلم فاعل پر ځای لکه په (امنا) کی دمبالغې لپاره دی او دلته اسناد مجازی دی چې هغه څوک چې پکي داخل شي په امن او بيغمه به وی لکه چې الله بل ځای فرمايي: (ومن دخله كان آمنا).

٣ - دبيت نسبت دالله ﷻ ضمير ته پدې جمله (وطهر بيتي) کي دتعظيم لپاره راغلی دی.

٤ - پدې کلام کی چې فرمايي: (وَإِذْ يَرْفَعُ إِبْرَٰهِـۧمُ) تعبير دمضارع په صيغه شوی سره له دې چې له ماضي څخه حکايت کيږی چې داهم بياني ښکلاده ددې لپاره چې تير شوی انځور دسترګو په وړاندی کښيښودل شي او لکه چې اوريدونکی په سرسترګو هغه حالت ګوری کوم چې ابراهيم اواسماعيل عليهما السلام دکعبې تادوونه راپورته کوی (ديوالونه اوچتوی او دعا ګاني کوی) معماران حضرت خليل او اسماعيل عليهماالسلام وی ، ابو السعود وايي چې دمستقبل صيغه دماضی دحکايت لپاره په دې استعمال شوی چې هغه عجيبه تصوير چې څرګنده معجزه وه سترګوته راحاضر کاندي(١)

٥ - (ٱلتَّوَّابُ ٱلرَّحِيمُ) دادواړه صيغې دمبالغې دی لکه فعال او فعيل غوندی.

ګټي او فائدې:

لومړۍ فائده: دمفعول ړومبی والی په فاعل باندی پدې کلمه کی چې (ٱبْتَلَىٰٓ إِبْرَٰهِـۧمَ رَبُّهُۥ) کی واجب دی ځکه فاعل له داسي ضمير سره متصل دی چې هغه بيرته مفعول ته راجع کيږی نو که چېرې فاعل ړومبی راوړل شي بيا دضمير عود متأخرته کيږی هغه چې په لفظ او رتبه کی وروسته دی.

دوهمه فائده: څرنګه چې امتحان ديو شي دربښتونی توب او دروغجن توب معلومولو لپاره کيږی او داخو دالله ﷻ په شان کی محال دی ځکه هغه تر امتحانولو پخوا لا ورباندی پوه او عالم دی خو دغه معامله يې دممتحن غوندی ورسره وکړه تر څو چې خلکو ته څرګنده شي.

دريمه فائده: مفسرين کرام په هغو کلماتو کی چې الله ﷻ ورباندی حضرت خليل ازمويل مختلف نظرونه لری خو تر ټولو سم يې هغه دحضرت ابن عباس ﷺ روايت شوی قول دی چې فرمايي: هغه کلمات چې الله ﷻ ورباندی حضرت ابراهيم ﷺ وازمويل او هغه په ښه توګه تر سره کړل دادی چې دقوم بيلتون يې چې الله ورته امر وکړ سمدستی پر ځای کړ له نمرود سره يې دالله ﷻ په هکله دليل ووايو ، کله چې يې اورته وغورځاوو په دې يې صبر او زغم وکړ ، له خپل هيواد نه يې هجرت وکړ کله چې ورته دوتلو امر وشو،او زوی يې ذبح کړ هله چې دحلالولو امر ورته وشو(٢)

---

(١) تفسير ابی السعود ١٢٤/١ .
(٢) الدر المنثور ١١/١ .

څلورمه فائده: مراد له امامت نه کوم چې په آیت شریف کی راغلی د دین امامت دی چې هغه نبوت ته وایي که چېری دنیوی امامت او سلطنت وای نو دا به د واقع سره مخالف وو ځکه ډیر ظالمان سلطنت (امامت) ته رسیدلی دی نو معلومه شوه چې دنیوی نه بلکه دینی امامت مراد دی.

پنځمه فائده: علامه ابن القیم وایي چې د بیت الله د فضیلت راز له دې څخه بیخي څرګندی دی چې زړه راښکون لری د هغه راښکون تر مقناطیس لا زیات دی چې او سپنه ځان ته راکاږی ځکه خلک له ټولي نړی ورته رادرومي او مینه یې نه ماتیږی هر څومره چې ډیر ورته راځی تنده یې لا زیاتیږی.

الله تعالی فرمایي:

﴿ وَمَن يَرْغَبُ عَن مِّلَّةِ إِبْرَٰهِـۧمَ إِلَّا مَن سَفِهَ نَفْسَهُۥ ۚ وَلَقَدِ ٱصْطَفَيْنَٰهُ فِى ٱلدُّنْيَا ۖ وَإِنَّهُۥ فِى ٱلْـَٔاخِرَةِ لَمِنَ ٱلصَّٰلِحِينَ
﴿١٣٠﴾ إِذْ قَالَ لَهُۥ رَبُّهُۥٓ أَسْلِمْ ۖ قَالَ أَسْلَمْتُ لِرَبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿١٣١﴾ وَوَصَّىٰ بِهَآ إِبْرَٰهِـۧمُ بَنِيهِ وَيَعْقُوبُ يَٰبَنِىَّ إِنَّ ٱللَّهَ ٱصْطَفَىٰ
لَكُمُ ٱلدِّينَ فَلَا تَمُوتُنَّ إِلَّا وَأَنتُم مُّسْلِمُونَ ﴿١٣٢﴾ أَمْ كُنتُمْ شُهَدَآءَ إِذْ حَضَرَ يَعْقُوبَ ٱلْمَوْتُ إِذْ قَالَ لِبَنِيهِ مَا
تَعْبُدُونَ مِنۢ بَعْدِى ۖ قَالُوا۟ نَعْبُدُ إِلَٰهَكَ وَإِلَٰهَ ءَابَآئِكَ إِبْرَٰهِـۧمَ وَإِسْمَٰعِيلَ وَإِسْحَٰقَ إِلَٰهًا وَٰحِدًا وَنَحْنُ لَهُۥ مُسْلِمُونَ
﴿١٣٣﴾ تِلْكَ أُمَّةٌ قَدْ خَلَتْ ۖ لَهَا مَا كَسَبَتْ وَلَكُم مَّا كَسَبْتُمْ ۖ وَلَا تُسْـَٔلُونَ عَمَّا كَانُوا۟ يَعْمَلُونَ ﴿١٣٤﴾ ﴾ البقرة: ۱۳۰ - ۱۳۴

مناسبت او تړاو:

کله چې الله ﷻ د حضرت خلیل ﷺ مآثر (عزتمن سنتونه) او د هغه د کعبې جوړول بیان کړل هغه چې د توحید مناره ده بیا یې د هغو کسانو سخت ترټل وښودل څوک چې یهود نصارا او د حضرت ابراهیم د ملت مخالف وو او په دې یې ټینګار وکړ چې که څوک له ملت ابراهیمی څخه اعراض کوی او مخ اړوی هغه بدمرغه او د سپکي رایی خاوند دی هغه د شیطان په پله پل ایږدی.

لغتونه:

(سفه نفسه) سپک ګرزولی دی ځان خپل سفه په اصل کی سپک توب ته وایي (اصطفیناه) پاک کړی وو موږ له ناپاکي څخه له (صفو) څخه راغلی (او معنایې غور چاڼ دی مقصد ځنی په نبوت، خلت او عظمیٰ امامت باندی غوره کول دی (وصیٰ) یو چاته هسي لار ښونه کول چې پکي سم والی او ثواب وی (شهداء) حاضرین (خلت) تیر شوی فنا شوی دی.

تفسیر:

﴿ وَمَن يَرْغَبُ عَن مِّلَّةِ إِبْرَٰهِـۧمَ إِلَّا مَن سَفِهَ نَفْسَهُۥ ﴾ (او څوک دی چې مخ ګرځوی له دینه د ابراهیم څخه؟ مګر هغه څوک چې احمق یې ګرزولی وی خپل ځان) یعنی هیڅوک د ابراهیم ﷺ له روښانه دین څخه مخ نه اړوی

مگر هغه چې ځان يې سپک گرزولی وی ﴿ وَلَقَدِ ٱصْطَفَيْنَٰهُ فِى ٱلدُّنْيَا ﴾ (او په تحقيق موږ غوره کړی وو دی (ابراهيم) په دنيا کی په نبوت ، خلت او امامت باندی ﴿ وَإِنَّهُۥ فِى ٱلْءَاخِرَةِ لَمِنَ ٱلصَّٰلِحِينَ ﴾ او بيشکه دی دی په آخرت کی له (خاصو) نيکانو څخه چې په لوړو درجاتو او پوړونو کی به وی ﴿ إِذْ قَالَ لَهُۥ رَبُّهُۥٓ أَسْلِمْ ﴾ (کله چې وويل ابراهيم ته رب دده چې غاړه کښيږده!) زما احکاموته او ځان ورته ځانگړی کړه ﴿ قَالَ أَسْلَمْتُ لِرَبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴾ (ويې ويل غاړه مې ايښې ده رب د عالميانو ته) ﴿ وَوَصَّىٰ بِهَآ إِبْرَٰهِۦمُ بَنِيهِ وَيَعْقُوبُ ﴾ او وصيت کړی وو په دين خپل سره ابراهيم زامنو ته او يعقوب هم) چې د ابراهيمي ملت اتباع به کوی ﴿ يَٰبَنِىَّ إِنَّ ٱللَّهَ ٱصْطَفَىٰ لَكُمُ ٱلدِّينَ ﴾ اې زامنو الله ﷻ بيشکه غوره کړی دی تاسی ته دين (د اسلام) ﴿ فَلَا تَمُوتُنَّ إِلَّا وَأَنتُم مُّسْلِمُونَ ﴾ نو له سره مه مری، مگر دا چې مسلمانان ياست) يعنی په اسلام تر هغو منگولی ولگوی، ثابت اوسی، کله چې مو مرگ راورسيږي ! ﴿ أَمْ كُنتُمْ شُهَدَآءَ إِذْ حَضَرَ يَعْقُوبَ ٱلْمَوْتُ ﴾ ايا وی، تاسی حاضران هغه وخت چې راغی يعقوب ته مرگ ؟) يعنی کله چې يې د ځنکدن وخت وو او زامنو ته يې د ابراهيمی دين د متابعت ماريينه کوله ﴿ إِذْ قَالَ لِبَنِيهِ مَا تَعْبُدُونَ مِنۢ بَعْدِى ﴾ کله چې يې زامنو ته وويل چې د څه شي عبادت به کوی، تاسي پس زما له مرگه ؟ ﴿ قَالُوا۟ نَعْبُدُ إِلَٰهَكَ وَإِلَٰهَ ءَابَآئِكَ إِبْرَٰهِۦمَ وَإِسْمَٰعِيلَ وَإِسْحَٰقَ إِلَٰهًا وَٰحِدًا ﴾ (نو وويل دوی چې عبادت به کوو د معبود ستا او ستا د پلرونو چې ابراهيم اسماعيل او اسحاق دی هغه الله چې يو دی) رب العلمين دی ستا د پلرونو او نيکونو معبود دی ﴿ وَنَحْنُ لَهُۥ مُسْلِمُونَ ﴾ (او موږ ټول هغه ته غاړه ايښودونکی يو) غرض پکښی له شرک څخه بيزاری (براءة) دی الله تعالی د غي سپيځلی ذوذات ته په اشاره د اسي فرمايي: ﴿ تِلْكَ أُمَّةٌ قَدْ خَلَتْ ﴾ دغه يوه ټولی، وه چې په تحقيق تير شوی دی اشاره حضرت ابراهيم او د هغه زامنو ته ده ﴿ لَهَا مَا كَسَبَتْ وَلَكُم مَّا كَسَبْتُمْ ﴾ هغوی ته ده (جزا) د هغه څه چې يې کړی دی او تاسی ته ده (جزا) چې کړی دی تاسي ﴿ وَلَا تُسْـَٔلُونَ عَمَّا كَانُوا۟ يَعْمَلُونَ ﴾ او نه به پوښتل کيږی له هغه څه چې دوی به کول ، يعنی په قيامت د هغوی له کړنو څخه تاسي نه پوښتيدل کيږی بلکه هر څوک به د خپل عمل ثواب او سزا گوري.

بلاغت:

۱ - (وَمَن يَرْغَبُ) پد غه استفهام کی انکار او ترټنه ده او د نفی معنی پکي نغښتې يعنی مخ نه اړوی مگر هغه چې احمق وی او دا جمله د کافرانو د ترټنی او توبيخ لپاره ده.

۲ - په دې کلام کی چې فرمايي: (وَإِنَّهُۥ فِى ٱلْءَاخِرَةِ لَمِنَ ٱلصَّٰلِحِينَ) تاکيد په ان او لام د واړو راغلی ځکه دا د آخرت په هکله دی او هغه چې له سترگو الونيا ده ځکه، تاکيد ته ضرورت لری هسې نه ده لکه د دنيا حال چې د ليدلو وړ او معلوم دی.

٣ - (إِذْ قَالَ لَهُۥ رَبُّهُۥٓ أَسْلِمْ) پدې کې التفات دی ځکه د کلام سیاق خو داسي ایجابول چې ویل شوی وایي (اذقلنا) او التفات هم دبیان دعلم له ښکلاوو څخه ګڼل کیږي او د (ربه) په کلمه کې زیات لطف او اعتناء څرګندیږي لکه چې خواب حضرت ابراهیم ﷺ هم داسي ورکوی چې (أَسْلَمْتُ لِرَبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ) او داسي نه وايي چې (اسلمت لک) ځو دده د اسلام قوت او بشپړتوب ښکاره شي او دا چې الله د ټول عالم رب دی نو ښایي چې په بشپړه خضوع او عاجزی یې حکم ومنل شي.

٤ - (ءَابَآئِكَ) پدې کلمه کې تره ، پلار ، نیکه ټول ګڼدي نیکه ابراهیم دی تره او کاکا اسماعیل او پلار اسحاق دی او دغه ته تغلیب وایي چې له مجازاتو ګڼل کیږي.

فائده او ګټه:

ابو حیان وایي چې مرګ یې له ځنګندن څخه کنایه راوړ ځکه مړی خو هیڅ هم نشي ویلای او بل دا چې مرګ غائب دی حضورته اړتیا .شته لکه چې په دعا کي ویل کیږي (اجعل الموت خیر غائب ننتظره) (١)

تنبیه:

دالله تعالی له ظاهری قول څخه چې فرمایي: (فَلَا تَمُوتُنَّ إِلَّا وَأَنتُم مُّسْلِمُونَ) دا معلومیږي چې مه مرئ مګر په اسلام کی مقصد یې دادی چې تاسي په اسلام ثابت واوسی، او هیڅکله اسلام مه پرېږدئ چې ځو پوری تاسي ته مرګ رسیږي او تاسي په اسلام کی یاست لکه چې یو چاته ووایي لمونځ مه کوه مګر په عاجزی او خشوع باندی یې کوه.

الله تعالی فرمایي:

﴿ وَقَالُوا۟ كُونُوا۟ هُودًا أَوْ نَصَٰرَىٰ تَهْتَدُوا۟ ۗ قُلْ بَلْ مِلَّةَ إِبْرَٰهِـۧمَ حَنِيفًا ۖ وَمَا كَانَ مِنَ ٱلْمُشْرِكِينَ ﴿١٣٥﴾ قُولُوٓا۟ ءَامَنَّا
بِٱللَّهِ وَمَآ أُنزِلَ إِلَيْنَا وَمَآ أُنزِلَ إِلَىٰٓ إِبْرَٰهِـۧمَ وَإِسْمَٰعِيلَ وَإِسْحَٰقَ وَيَعْقُوبَ وَٱلْأَسْبَاطِ وَمَآ أُوتِىَ مُوسَىٰ وَعِيسَىٰ وَمَآ أُوتِىَ
ٱلنَّبِيُّونَ مِن رَّبِّهِمْ لَا نُفَرِّقُ بَيْنَ أَحَدٍ مِّنْهُمْ وَنَحْنُ لَهُۥ مُسْلِمُونَ ﴿١٣٦﴾ فَإِنْ ءَامَنُوا۟ بِمِثْلِ مَآ ءَامَنتُم بِهِۦ فَقَدِ ٱهْتَدَوا۟ ۖ وَّإِن
تَوَلَّوْا۟ فَإِنَّمَا هُمْ فِى شِقَاقٍ ۖ فَسَيَكْفِيكَهُمُ ٱللَّهُ ۚ وَهُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلْعَلِيمُ ﴿١٣٧﴾ صِبْغَةَ ٱللَّهِ ۖ وَمَنْ أَحْسَنُ مِنَ ٱللَّهِ صِبْغَةً ۖ
وَنَحْنُ لَهُۥ عَٰبِدُونَ ﴿١٣٨﴾ قُلْ أَتُحَآجُّونَنَا فِى ٱللَّهِ وَهُوَ رَبُّنَا وَرَبُّكُمْ وَلَنَآ أَعْمَٰلُنَا وَلَكُمْ أَعْمَٰلُكُمْ وَنَحْنُ لَهُۥ مُخْلِصُونَ
﴿١٣٩﴾ أَمْ تَقُولُونَ إِنَّ إِبْرَٰهِـۧمَ وَإِسْمَٰعِيلَ وَإِسْحَٰقَ وَيَعْقُوبَ وَٱلْأَسْبَاطَ كَانُوا۟ هُودًا أَوْ نَصَٰرَىٰ ۗ قُلْ ءَأَنتُمْ أَعْلَمُ

---

(١) البحر المحيط ٤٠١/١.

أَمِ ٱللَّهُ ۗ وَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّن كَتَمَ شَهَٰدَةً عِندَهُۥ مِنَ ٱللَّهِ ۗ وَمَا ٱللَّهُ بِغَٰفِلٍ عَمَّا تَعْمَلُونَ ﴿١٤٠﴾ تِلْكَ أُمَّةٌ قَدْ خَلَتْ ۖ لَهَا
مَا كَسَبَتْ وَلَكُم مَّا كَسَبْتُمْ ۖ وَلَا تُسْـَٔلُونَ عَمَّا كَانُوا۟ يَعْمَلُونَ ﴿١٤١﴾ ﴾ البقرة: ١٣٥ - ١٤١

مناسبت او تړاو:

هلته چې الله ﷻ وفرمایل چې ابراهیمي ملت حنیفیة او پاک دی ځوک چې یې پیروي نکوي هغه دجهالت په کندوکی غورځیدلی او حماقت یې په برخه شوی دی بیا یې نو داهل کتابو باطلي دعوا ګاني یادي کړې هغه چې دوی ګومان کاوو هدایت په یهودانو او نصرانیانو کی شته وروسته یې داځرګنده کړه چې دغه باطلی (دعواګانی) دکوم دلیل او شبهې له مخي نه بلکه له انکار او عناد ځخه سر چینې اخلی په پای کی الله ﷻ داوښودله چې حق دین په اسلام منګولی خښول دی هغه چې دین دټولو انبیاوو پیغمبرانو علیهم السلام دی.

لغتونه:

(حنيفا) له باطل دين ځخه حق ته مائل حنيف بولی او ځکه احنف ته هم وویل شو چې یوه پښه یې کږه وه (الاسباط) دسبط جمع او لمسیانو ته ویل کیږی چې دیعقوب ﷺ دزامنو او لادې چې دوولس سبطه کیږی او دا په بني اسرائیلو کی لکه قبیلې دعربو غوندی دی (شقاق)مخالفت او دښمنی ته ویل کیږی له شق ځخه اخستل شوی او داختلاف په وخت کی هم یو په یو شق کي او بل په بل کی وی (فسیکفیکهم) له کفایت ځخه دی او ژغورني ته وایه شي (صبغة الله) له صبغ ځخه رایستل شوی او هغه تغیر دیو شی ته وایي په یو رنګ له رنګونو ځخه وی او مراد دلته دین دی (اتحاجوننا) له محاجات ځخه دی او مجادلې جګړې ته وایي (مخلصون) اخلاص هغه څه ته وایي چې په یو کار کی یوازی دالله ﷻ خوښی او رضا مقصد او یوازی دهغه ذات لپاره یې تر سره کوي.

تفسير:

﴿ وَقَالُوا۟ كُونُوا۟ هُودًا أَوْ نَصَٰرَىٰ تَهْتَدُوا۟ ﴾ او وایي دوی (مسلمانانوته) چې یهودان یا نصرانیان شی چې سمه لاره وموميږ) یعنی یهودان یې یهودیت ته رابولی چې زموږ په مذهب یهودان شی او نصارا بیا وایي چې نصرانیان شی سمه لاره به پیدا کړی هر ځوک یې خپل کاږه مذهب ته رابولی ﴿ قُلْ بَلْ مِلَّةَ إِبْرَٰهِـۧمَ حَنِيفًا ۖ وَمَا كَانَ مِنَ ٱلْمُشْرِكِينَ ﴾ ورته ووایه (اې محمده) موږ داسي نه کوو) بلکه (متابعت کوو) دابراهیمي دین چې حق ته مائل وواو نه وو هغه له مشرکانو ځخه) بلکه موحد مؤمن وو او پدې کی کتابیانو ته تعریض دی چې دوی ګواکی په شرک اوګمراهي کی اوسي ﴿ قُولُوٓا۟ ءَامَنَّا بِٱللَّهِ وَمَآ أُنزِلَ إِلَيْنَا ﴾ ووایاست موږ ایمان راوړی په الله ﷻ او هغه کتاب (قرآن) چې نازل شوی دی موږ ته ﴿ وَمَآ أُنزِلَ إِلَىٰٓ إِبْرَٰهِـۧمَ وَإِسْمَٰعِيلَ وَإِسْحَٰقَ وَيَعْقُوبَ وَٱلْأَسْبَاطِ ﴾ او په هغو (لسو صحیفو) چې نازل کړل شوي دی ابراهیم ته او اسماعیل او اسحاق او یعقوب او اولادې (ددوی ته) کوم چې نبوت په دوی کی وو ﴿ وَمَآ أُوتِىَ مُوسَىٰ وَعِيسَىٰ ﴾ او په هغو چې ورکړی شوی وو موسی ته (تورات) او هغو چې ورکړل شوی دی عیسی ته (انجیل) ﴿ وَمَآ أُوتِىَ ٱلنَّبِيُّونَ مِن رَّبِّهِمْ ﴾ او په هغو (کتابونو) چې ورکړل شوی نورو نبیانوته له (جانبه) دربه ددوی نه موږ په دې ټولو باور لرو کوم چې دالله له لوری ښکاره آیتونه او ځرګندی

معجزې دي ﴿لَا نُفَرِّقُ بَيْنَ أَحَدٍ مِّنْهُمْ﴾ (نه کوو فرق په منځ ديو ددوی کی) هسي نه کوو لکه يهود او نصارا چې په يو چا ايمان راوړو په بل چا کافران کيږو ﴿وَنَحْنُ لَهُۥ مُسْلِمُونَ﴾ او موږ الله ته غاړه اېښودونکي يو ﴿فَإِنْ ءَامَنُوا۟ بِمِثْلِ مَآ ءَامَنتُم بِهِۦ فَقَدِ ٱهْتَدَوا۟﴾ (نو که ايمان راووړ دوی لکه چې تاسی ايمان راوړی په هغه نو په تحقيق بې ومونده سمه لاره) حق ته ورسيدل لکه چې تاسی رسيدلی ياست ﴿وَّإِن تَوَلَّوْا۟ فَإِنَّمَا هُمْ فِى شِقَاقٍ﴾ او که بې مخ وگرزاوو (له ايمانه) پس بيشکه هم دا خبره دی چې دوی له تاسره په مخالفت کی دی دوی ستا دښمني او خلاف کوی دحق غوښتونکی نه دی ﴿فَسَيَكْفِيكَهُمُ ٱللَّهُ﴾ نو ژر ده چې کافی به شي په (دفع دشر) ددوی کی تا لره الله او تا به ددوی له شر او ضرر څخه وژغوری ﴿وَهُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلْعَلِيمُ﴾ او هغه ده ښه اوريدونکی (دخبرو) او ښه پوهيدونکی (په احوالو) دوی چې څه وايي الله ﷻ يې اوري او چې څه په سينو کي پټ ساتي الله ﷻ ورباندی ښه پوهيږي ﴿صِبْغَةَ ٱللَّهِ وَمَنْ أَحْسَنُ مِنَ ٱللَّهِ صِبْغَةً﴾ (او وايي ای مؤمنانو چې موږ الله رنگ کړی يو) په رنگ دالله ﷻ او څوک ښه دی له جهته درنگه له الله څخه) يعنی موږ دالله ددين په رنگ پيدا شوی او رنگ شوی يو داسي يې اثر په موږ کي څرگند دی لکه چې درنگ اثر په جامه کی څرگند وی ﴿وَنَحْنُ لَهُۥ عَٰبِدُونَ﴾ (او موږ خاص ده لره عبادت کوونکی يو) نه بل چا لره ﴿قُلْ أَتُحَآجُّونَنَا فِى ٱللَّهِ﴾ ووايه (اې محمده) دوی ته ايا جگړه کوی تاسي له موږ سره په دين دالله ﷻ کی تاسي گومان کوئ چې دالله زامن او دوستان ياست انبياء يوازی ستاسی له ډلی څخه دی ﴿وَهُوَ رَبُّنَا وَرَبُّكُمْ﴾ حال دا چې هغه دی رب زموږ او رب ستاسي د ټولو برابر پروردگار دی او موږ بې ټول بندگان يو ﴿وَلَنَآ أَعْمَٰلُنَا وَلَكُمْ أَعْمَٰلُكُمْ﴾ او موږ لره دی عملونه زموږ تاسي لره دی عملونه ستاسي) زموږ داعمالو جزا زموږ او ستاسو داعمالو ستاسی ده يو دبل په گناه نه نيول کيږو ﴿وَنَحْنُ لَهُۥ مُخْلِصُونَ﴾ او موږ خاص الله لره په اخلاص (عبادت کوونکی يو) زموږ دين او عمل خاص دالله لپاره دی ﴿أَمْ تَقُولُونَ إِنَّ إِبْرَٰهِۦمَ وَإِسْمَٰعِيلَ وَإِسْحَٰقَ وَيَعْقُوبَ وَٱلْأَسْبَاطَ كَانُوا۟ هُودًا أَوْ نَصَٰرَىٰ﴾ (ايا وايي تاسي (اې کتابيانو) چې ابراهيم ، اسماعيل ، اسحاق ، يعقوب او اولاد ددوی يهوديان او نصرانيان وو؟) ﴿قُلْ ءَأَنتُمْ أَعْلَمُ أَمِ ٱللَّهُ﴾ ووايه (اې محمده) ايا تاسي ښه پوهيږي که الله ؟ يعنی ايا تاسي دعوی په ديانت ښه خبر ياست که الله ﷻ هغه چې ددوی لپاره په اسلامي ملت گواهي ويلی او له يهوديت او نصرانيت څخه يې بيزاره ښودلی دی فرمايي : (ماکان ابراهيم يهوديا ولا نصرانيا ولکن کان حنيفا مسلما) نو څرنگه گومان کوی چې هغوی ستاسی په دين وو ﴿وَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّن كَتَمَ شَهَٰدَةً عِندَهُۥ مِنَ ٱللَّهِ﴾ (او څوک دی زيات ظالم له هغه چا چې پټوی (له خلکو) شاهدی په نزد ده له طرفه دالله) يعنی تر هغه چا بل پور ته ظالم نشته چې دتورات او انجيل هغه بشارتونه (زيری) چې درسول الله ﷺ دراتلو په هکله وو او تر هغه چا بل ستر ظالم نشته چې دالله خبری پټوی چې هغه فرمايي انبياء عليهم السلام داسلام په دين وو ﴿وَمَا ٱللَّهُ بِغَٰفِلٍ عَمَّا تَعْمَلُونَ﴾ او نه دی الله بې خبر له هغه څه چې تاسي يې کوئ) بلکه الله ستاسی په کړو وړو عالم او پوه دی او په هغه جزا درکوی او په دې کی

سخت وعید نغښتی دی ﴿ تِلْكَ أُمَّةٌ قَدْ خَلَتْ لَهَا مَا كَسَبَتْ وَلَكُم مَّا كَسَبْتُمْ وَلَا تُسْـَٔلُونَ عَمَّا كَانُوا۟ يَعْمَلُونَ ﴾ دا آیت شریف یې مکرر ددې لپاره راوړ چې دتهدید او وویرولو معنی پکې دی یعنی که څېرې دغه انبیاء علیهم السلام سره له خپل لوړ قدر او منزلت په خپلو عملو نو ورته جزا ورکول کیږی نو تاسی ته خامخا درکول کیږی ددې آیت تفسیر پخو اتیر شوی دراګرزولو اړتیا یې نشته.

بلاغت:

۱ - پدې کلام کی چې فرمایي: (وَقَالُوا۟ كُونُوا۟ هُودًا أَوْ نَصَـٰرَىٰ) ایجاز بالحذف دی یعنی داسي لنډون دی چې څه کلماتی یې حذف شوی په اصل کی داسي دی چې (وقال الیهود کونوا یهودا وقال النصاری کونوا نصاری) هسي نه دی چې دواړو ډلو دایوه خبره کوله ځکه ددوی هره یوه ډله دبلی دین باطل ګڼی.

۲ - پدې کلمه چې فرمایي: (فَسَيَكْفِيكَهُمُ ٱللَّهُ) څرګند ایجاز دی یعنی اصل یې دادی چې (ژرده الله به کافي (او ژغورونکی) شي تالره ددوی له شر څخه) او چې د(سوف) کلمی پرځای د(سین) توری راغي نو ګواکی دغه بریالیتوب یې هم په ډېره نژدې زمانه کی ده.

۳ - (ٱلسَّمِيعُ ٱلْعَلِيمُ) دادواړه دمبالغې صیغې دی معنایې داده چې سمع او علم یې په ټولو شیانو راګرزیدلی او محیط دی.

۴ - دین ته صبغة او رنګ وویل شو لکه په (صِبْغَةَ ٱللَّهِ) کی ځکه چې ددین بڼه او رنګ هم په سړی څرګندوی لکه چې رنګ په خپله جامه څرګند او ښکاره وی[1] او پدې کي استعاره راغلې ده.

۵ - پدې جمله کی چې فرمایي: (قُلْ أَتُحَآجُّونَنَا فِى ٱللَّهِ) استفهام دتوبیخ او ترټني لپاره واقع شوی دی.

فوائد او ګټې:

لومړۍ فائده: څرنګه چې دا آیت شریف چې فرمایي: (وَمَا ٱللَّهُ بِغَـٰفِلٍ عَمَّا تَعْمَلُونَ) څو ځایه په قرآن کریم کی په تکراري ډول راغلی دی ابوحیان وایي چې دابل وخت نه راځی مګر کله چې دیو ګناه او معصیت ارتکاب وشي نو بیا هغه دوعید متضمن وی او ګواکی ددې څرګندونه کوی چې الله ﷻ به دوی هسي خوشي نه پریږدی[2].

دوهمه فائده: ابن عباس رضي الله عنهما وایي کله چې به دنصاراوو ماشوم وزیږیدو نو به داووشپو شو په هغو اوبو کي به یې ولمباوو چې دوی به ورته (معمودي) ویلې ترڅوک پاک سپیڅلی شي او ویل به یې چې دا د(ختان) پرځای پاکوالی دی چې داسي به یې وکړل بیا به نو حقاني نصرانی جوړ شو بیا الله ﷻ دا آیت رانازل کړی[3]

---

(۱) تلخیص البیان.
(۲) البحر المحیط ۴۱۲/۱.
(۳) اسباب النزول للواحدی ص۲۲.

دريمه فائده: اهل كتابو به تورات په عبراني لوستل او مسلمانانو ته به يې په عربي ژباړل نو رسول الله ﷺ داسي وفرمايل: (لاتصدقوا اهل الكتاب ولا تكذبوهم وقولوا امنا بالله وما انزل الينا. (رواه البخاري).

د اهل كتابو تصديق مه كوئ او مه يې هم تكذيب كوئ او داسي واياست چې موږ ايمان راوړى په الله او په هغه څه چې موږ ته يې نازل كړي دي (د بخاري روايت).

الله تعالى فرمايي:

﴿ ۞ سَيَقُولُ ٱلسُّفَهَآءُ مِنَ ٱلنَّاسِ مَا وَلَّىٰهُمْ عَن قِبْلَتِهِمُ ٱلَّتِى كَانُوا۟ عَلَيْهَا ۚ قُل لِّلَّهِ ٱلْمَشْرِقُ وَٱلْمَغْرِبُ ۚ يَهْدِى مَن يَشَآءُ إِلَىٰ صِرَٰطٍ مُّسْتَقِيمٍ ﴿١٤٢﴾ وَكَذَٰلِكَ جَعَلْنَٰكُمْ أُمَّةً وَسَطًا لِّتَكُونُوا۟ شُهَدَآءَ عَلَى ٱلنَّاسِ وَيَكُونَ ٱلرَّسُولُ عَلَيْكُمْ شَهِيدًا ۗ وَمَا جَعَلْنَا ٱلْقِبْلَةَ ٱلَّتِى كُنتَ عَلَيْهَآ إِلَّا لِنَعْلَمَ مَن يَتَّبِعُ ٱلرَّسُولَ مِمَّن يَنقَلِبُ عَلَىٰ عَقِبَيْهِ ۚ وَإِن كَانَتْ لَكَبِيرَةً إِلَّا عَلَى ٱلَّذِينَ هَدَى ٱللَّهُ ۗ وَمَا كَانَ ٱللَّهُ لِيُضِيعَ إِيمَٰنَكُمْ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ بِٱلنَّاسِ لَرَءُوفٌ رَّحِيمٌ ﴿١٤٣﴾ قَدْ نَرَىٰ تَقَلُّبَ وَجْهِكَ فِى ٱلسَّمَآءِ ۖ فَلَنُوَلِّيَنَّكَ قِبْلَةً تَرْضَىٰهَا ۚ فَوَلِّ وَجْهَكَ شَطْرَ ٱلْمَسْجِدِ ٱلْحَرَامِ ۚ وَحَيْثُ مَا كُنتُمْ فَوَلُّوا۟ وُجُوهَكُمْ شَطْرَهُۥ ۗ وَإِنَّ ٱلَّذِينَ أُوتُوا۟ ٱلْكِتَٰبَ لَيَعْلَمُونَ أَنَّهُ ٱلْحَقُّ مِن رَّبِّهِمْ ۗ وَمَا ٱللَّهُ بِغَٰفِلٍ عَمَّا يَعْمَلُونَ ﴿١٤٤﴾ ﴾ البقرة: ۱۴۲ - ۱۴۴

مناسبت او تړاو:

يهودو او نصاراوو داسي ګومان كاوو چي حضرت ابراهيم او نور انبياء ورسره ټول يهودان او نصرانيان وو او د ټولو نبيانو قبله بيت المقدس وه كله چي رسول الله ﷺ په مكه كي وو هم به يې بيت المقدس ته لمونځ ګوذارل خو هغه وخت چي الله تعالى د كعبې په لور د لمونځ كولو ورته امر وفرمايو نو يهودانو ته دده په دين باندي د تورونو لګولو موقع په لاس ورغله او ويل به يې چي محمد د خپل زيږنتون (مولد) تاتوبى ته تږى دى نږدې دى چي د خپل قوم دين غوره كړي نو الله ﷻ رسول الله ﷺ ته د دوى د دغو خبرو اخبارو وفرمايل چي ژرده ناپوهان به داسي وايي (رسول الله ﷺ) ته يې د دوى د ځواب دليل وروښود او همدارنګه د دوى له لورى د ستونزو او تكليفونو د نابيره راپيدا كيدلو لپاره يې چمتو كړ، دغه اخباركوم چي د كعبې شريفي لورته د قبلې راګرزيدلو پخوا واقع شو نو د رسول الله ﷺ معجزه ګڼل كيږي.

لغتونه:

(السفهاء) د سفيه جمع ده او ناپوه، د سپكي رايي خاوند او هغه چاته وايي چي خپلې ګټې او تا وانونه ښه نه پيژني د (سفه) اصل سپكتيا او نرم والى ته ويل كيږي لكه (ثوب سفيه) چي نرى او سپكه او بدل شوى وي (ولاهم) وګرزول دوى (تولى) اعراض او ګرزيدلو مخ اړولو ته وايي (وسطا) طبري وايي: وسط د عربو په

محاوراتو کي غوره ته وايي او چا بيا ويلی چي عدل او ميانه ته وايي (١) څکه ويل کيږی چي (خير الاشياء اوساطها) يعنی غوره دشيانو څخه وسط ددوی ده هغه چي نه پکي غلو او نه هم تقصير دی څکه له اندازې زيات غلو او تر اندازې لږ تقصير دواړه چتي او بيکاره دی (عقبيه) دعقب تثنيه ده او پوندو ته وايي (شطر) په لغت کي دطرف، لوری او پلو په معنی ده

دنزول سبب:

براء رضي الله عنه وايي کله چي رسول الله ﷺ مديني منورې ته تشريف راووړ نو شپاړس يا اولس مياشتي يې دبيت المقدس لوری ته لمنځونه وکوزارل او د رسول الله ﷺ دا خوښه وه چي کعبې شريفې ته لمونځ وکړی نو الله ﷻ دا آيتونه نازل کړل (قَدْ نَرَىٰ تَقَلُّبَ وَجْهِكَ فِي السَّمَاءِ) او بيا نا پوهانو خلکو وويل چي هغوی يهودان وو (مَا وَلَّاهُمْ عَن قِبْلَتِهِمُ الَّتِي كَانُوا عَلَيْهَا) الله تعالی يې په ځواب کی وفرمايل: (قُل لِّلَّهِ الْمَشْرِقُ وَالْمَغْرِبُ) (٢) (اخرجه البخاری)

تفسير:

﴿سَيَقُولُ السُّفَهَاءُ مِنَ النَّاسِ﴾ (ژر ده چي وبه وايي ناپوهان له خلکو) چي کمزوري عقلونه لري ﴿مَا وَلَّاهُمْ عَن قِبْلَتِهِمُ الَّتِي كَانُوا عَلَيْهَا﴾ (څه شي وګرزول دوی له قبلې ددوی څخه هغي قبلې نه چي وو دوی په هغي باندی) يعني څه شي له بيت المقدس څخه راوګرزول هغه چي دوی به ورته لمنځونه کول او دپخوانو انبياوو قبله وه؟

﴿قُل لِّلَّهِ الْمَشْرِقُ وَالْمَغْرِبُ﴾ (ورته ووايه (اې محمده) الله لره دی ختيز او لويديز) تول لوری دالله لپاره دی هر چيرته چي مخ وګرزوو هلته دالله ﷻ ذات دی ﴿يَهْدِي مَن يَشَاءُ إِلَىٰ صِرَاطٍ مُّسْتَقِيمٍ﴾ هدايت کوی هغه چاته چي اراده (دهدايت) وکړی (لوری) دلارې سمې ته يعنی لار ښوونه کوی خپلو مؤمنو بندګانو ته سمې لارې هغوی ددواړو جهانونو نيکمرغي ته رسيږی ﴿وَكَذَٰلِكَ جَعَلْنَاكُمْ أُمَّةً وَسَطًا﴾ او همداسي موګرزولی يې تاسی يو، غوره ډله) يعنی لکه څرنګه چي مو داسلام لوری ته درته هدايت کړی همغسي مو يوه غوره ډله ګرزولې ياست خطاب مؤمنانو ته دی ﴿لِّتَكُونُوا شُهَدَاءَ عَلَى النَّاسِ وَيَكُونَ الرَّسُولُ عَلَيْكُمْ شَهِيدًا﴾ (دپاره ددې چي شی شاهدان په خلکو دقيامت په ورځ دانبياوو لخوا) چي رسولانو خپله دنده سرته رسولې او خلکو ته يې لارښوونه کړې ده) او شي (محمد ﷺ) رسول پرتاسي شاهد چي هغه تاسو ته ابلاغ کړی دی ﴿وَمَا جَعَلْنَا الْقِبْلَةَ الَّتِي كُنتَ عَلَيْهَا﴾ (او نه دی ګرزولی موږ دا قبله هغه چي وی ته په هغې باندی (تر هجرت دمخه) يعنی موږ تاته امر نه دی

---

(١) مختصر الطبری ١/٥٥.

(٢) اسباب النزول للواحدي ص ٢٣.

کړی د مخامخ کیدلو بیت المقدس ته بیا وروسته مو را گرزولی یې کعبې ته ﴿ إِلَّا لِنَعْلَمَ مَن يَتَّبِعُ ٱلرَّسُولَ مِمَّن يَنقَلِبُ عَلَىٰ عَقِبَيْهِ ﴾ مگر لپاره ددې چې موږ معلوم کړو هغه څوک چې پیروی د رسول کوی له هغو چانه چې بیرته گرزی په پوندو خپلو (کفرته) یعنی چې موږ د خلکو ایمان وازمویو چې څوک د پیغمبر تصدیق کوي او څوک په دین کی شک پیدا کوی او د خپل کمزوری باور له امله بیرته کفر ته گرزي ﴿ وَإِن كَانَتْ لَكَبِيرَةً إِلَّا عَلَى ٱلَّذِينَ هَدَى ٱللَّهُ ﴾ که څه هم وی دغه گرزیدل خامخا سخت درووند مگر نه دی دروند په هغو کسانو چې الله ورته سمه لاره ښودلی ده ﴿ وَمَا كَانَ ٱللَّهُ لِيُضِيعَ إِيمَـٰنَكُمْ ﴾ او نه دی الله ﷻ چې ضائع کړی ایمان (لمونځ) ستاسي یعنی کوم لمونځونه چې تاسو بیت المقدس ته کړی په هغو به هم الله ﷻ ثواب درکړی دا په هغه وخت کی نازل شوی چې اصحابانو ﷺ کله له رسول الله ﷺ څخه د هغو کسانو په هکله پوښتنه وکړه چې بیت المقدس ته یې لمنځونه کړی او مړه شوی وو پخوا تر دې چې د قبلې راگرزیدلو حکم صادر شي او الله وفرمایل: ﴿ إِنَّ ٱللَّهَ بِٱلنَّاسِ لَرَءُوفٌ رَّحِيمٌ ﴾ بیشکه الله په خلکو مؤمنانو باندی ارو مرو ډیر مهربان پوره رحم کونکی دی ، دالکه چې د پورتنی حکم لپاره علت دی یعنی الله ﷻ پخپلو بندگانو د ستر رحمت خاوند دی د هغوی نیک عملونه نه ضایع کوی چې پخوایې کړی دی ﴿ قَدْ نَرَىٰ تَقَلُّبَ وَجْهِكَ فِى ٱلسَّمَآءِ ﴾ په تحقیق سره وینو موږ (بیا بیا) گرزول د مخ ستا په د طرف د آسمان) یعنی ډیر څکه ستا دسترگو غړول د آسمان لوری ته موږ لیدل چې ستا شوق و قبلې ته د گرزیدلو وو ﴿ فَلَنُوَلِّيَنَّكَ قِبْلَةً تَرْضَىٰهَا ﴾ نو موږ به هرو مرو و گرزوو تا هغې قبلې ته چې ته یې خوښوې) هغه چې ستا د پلار قبله او کعبه شریفه ده ﴿ فَوَلِّ وَجْهَكَ شَطْرَ ٱلْمَسْجِدِ ٱلْحَرَامِ ﴾ نو وگرزوه مخ ستا طرف د مسجد حرام ته یعنی په لمانځه کی د کعبې معظمې لورته مخامخ شه ﴿ وَحَيْثُ مَا كُنتُمْ فَوَلُّوا۟ وُجُوهَكُمْ شَطْرَهُۥ ﴾ او په هر ځای کی چې اوسې نو وگرزوی مخونه خپل (په لمانځه کی) په لوری د هغې (کعبې) دارنگه ﴿ وَإِنَّ ٱلَّذِينَ أُوتُوا۟ ٱلْكِتَـٰبَ لَيَعْلَمُونَ أَنَّهُ ٱلْحَقُّ مِن رَّبِّهِمْ ﴾ او بیشکه هغه کسان چې دوی ته ورکړی شوی دی کتاب خامخا دوی پوهیږی چې بیشکه دا (استقبال حق دی له لوری درب ددوی) یعنی یهود او نصارا پوهیږي چې دغه راگرزیدل حق دی دالله له طرفه خو دوی خلک په فتنه او شبه کی اچوي ﴿ وَمَا ٱللَّهُ بِغَـٰفِلٍ عَمَّا يَعْمَلُونَ ﴾ او نه دی الله غافل له هغو کارونو څخه چې دوی یې کوی) الله به ورباندی جزا ورکړی په دې کی ددوی لپاره وعید او تهدید دی.

بلاغت:

۱ - پدې قول کی چې الله ﷻ فرمايي (يَنقَلِبُ عَلَىٰ عَقِبَيْهِ) تمثیلی استعاره ده څکه هغه څوک چې له دین څخه وگرزی د هغه په مثال دی لکه چې په پوندو وگرزی دا د امام فخررازی رحمه الله قول دی.

۲ - دا چې الله ﷻ فرمایي (لَرَءُوفٌ رَّحِيمٌ) رأفت د رحمت شدت ته وایی او ابلغ یې چې رؤف دی څکه مخکی ذکر کړ چې د فواصلو مراعات وشي لکه (صراط مستقیم) (لرؤف رحیم) هر دواړه د مبالغې صیغې دی.

۳ - (فَوَلِّ وَجْهَكَ) پدې کلام کې مرسل مجاز دی او هغه دا چې جزء ذکر شی او مراد ځنې کل وی دلته هم وجه ذکر شوې او مراد ځنې ذات دی ذکر د جزء او مراد ځنې کل شو لکه چې بل ځای الله ﷻ فرمايي: (ويبقى وجه ربک).

فوائد او نکتې:

لومړی فائده: په بخاری شریف کې روایت شوی چې رسول الله ﷺ وفرمايل: (يدعى نوح عليه السلام يوم القيامة فيقول لبيک وسعديک يارب فيقول: هل بلغت؟ فيقول نعم، فيقال لامته هل بلغکم؟ فيقولون: ما جاءنا من نذير فيقول من يشهد لک؟ فيقول محمد وامته فيشهدون انه قد بلغ فذلک قوله عز وجل: (لِّتَكُونُوا۟ شُهَدَآءَ عَلَى ٱلنَّاسِ وَيَكُونَ ٱلرَّسُولُ عَلَيْكُمْ شَهِيدًا). يعنې الله تعالی به نوح علیه السلام د قیامت په ورځ راوبولی هغه به یې بلنی ته لبیک ووایي الله به ترې وپوښتي ایا تا دین خپل امت ته ابلاغ کړی؟ هغه به وایي هو! امت به یې منکر شي نو الله به شاهدان ترې وغواړي نوح علیه السلام به وایي زما شاهدان محمد او د هغه امت دی نو هغوی به شاهدي ووایي چې هو دین یې رسولی دی.

دوهمه فائده: الله ﷻ لمانځه ته ایمان ووایو چې (وَمَا كَانَ ٱللَّهُ لِيُضِيعَ إِيمَـٰنَكُمْ) ځکه ایمان پرته له لمانځه نه بشپړ کیږي او دا هم په نیت قول او عمل مشتمل دی.

دریمه فائده: له کعبې ځخه په مسجد حرام تعبیر کول ددې معنی لری چې دلوری او طرف مراعات کول واجب دی ځکه د سترګو د دید رسیدل خو محال او د خلکو لپاره د زیات مشکل سبب ګرزي.

الله تعالی فرمايي:

﴿ وَلَئِنْ أَتَيْتَ ٱلَّذِينَ أُوتُوا۟ ٱلْكِتَـٰبَ بِكُلِّ ءَايَةٍ مَّا تَبِعُوا۟ قِبْلَتَكَ ۚ وَمَآ أَنتَ بِتَابِعٍ قِبْلَتَهُمْ ۚ وَمَا بَعْضُهُم بِتَابِعٍ قِبْلَةَ بَعْضٍ ۚ وَلَئِنِ ٱتَّبَعْتَ أَهْوَآءَهُم مِّنۢ بَعْدِ مَا جَآءَكَ مِنَ ٱلْعِلْمِ ۙ إِنَّكَ إِذًا لَّمِنَ ٱلظَّـٰلِمِينَ ﴿١٤٥﴾ ٱلَّذِينَ ءَاتَيْنَـٰهُمُ ٱلْكِتَـٰبَ يَعْرِفُونَهُۥ كَمَا يَعْرِفُونَ أَبْنَآءَهُمْ ۖ وَإِنَّ فَرِيقًا مِّنْهُمْ لَيَكْتُمُونَ ٱلْحَقَّ وَهُمْ يَعْلَمُونَ ﴿١٤٦﴾ ٱلْحَقُّ مِن رَّبِّكَ ۖ فَلَا تَكُونَنَّ مِنَ ٱلْمُمْتَرِينَ ﴿١٤٧﴾ وَلِكُلٍّ وِجْهَةٌ هُوَ مُوَلِّيهَا ۖ فَٱسْتَبِقُوا۟ ٱلْخَيْرَٰتِ ۚ أَيْنَ مَا تَكُونُوا۟ يَأْتِ بِكُمُ ٱللَّهُ جَمِيعًا ۚ إِنَّ ٱللَّهَ عَلَىٰ كُلِّ شَىْءٍ قَدِيرٌ ﴿١٤٨﴾ وَمِنْ حَيْثُ خَرَجْتَ فَوَلِّ وَجْهَكَ شَطْرَ ٱلْمَسْجِدِ ٱلْحَرَامِ ۖ وَإِنَّهُۥ لَلْحَقُّ مِن رَّبِّكَ ۗ وَمَا ٱللَّهُ بِغَـٰفِلٍ عَمَّا تَعْمَلُونَ ﴿١٤٩﴾ وَمِنْ حَيْثُ خَرَجْتَ فَوَلِّ وَجْهَكَ شَطْرَ ٱلْمَسْجِدِ ٱلْحَرَامِ ۚ وَحَيْثُ مَا كُنتُمْ فَوَلُّوا۟ وُجُوهَكُمْ شَطْرَهُۥ لِئَلَّا يَكُونَ لِلنَّاسِ عَلَيْكُمْ حُجَّةٌ إِلَّا ٱلَّذِينَ ظَلَمُوا۟ مِنْهُمْ فَلَا تَخْشَوْهُمْ وَٱخْشَوْنِى وَلِأُتِمَّ نِعْمَتِى عَلَيْكُمْ وَلَعَلَّكُمْ تَهْتَدُونَ ﴿١٥٠﴾ ﴾ البقرة: ۱۴۵ - ۱۵۰

مناسبت او تړاو:

څرنګه چې الله د یهودو د ناپوهانو هغه خبرې چې د قبلې د راګرزیدلو په هکله به یې کولې ذکر کړې او دا چې رسول الله ته یې د کعبې په لور د مخ راګرزولو امر وکړ نو پدې راوروسته آیتونو کې بیا رسول الله ﷺ ته دا ډاډ ګیرنه ورکوی چې د یهودو عناد، مکابره او سرغړونه خپل وروستي سرحد ته رسیدلې هغوی ستا قبله ددې لپاره نه دی پرې ایښې چې دلیل او حجت ته اړ دی بلکه له سره د وی د مخالفت او عناد له امله همداسې کوي!.

لغتونه:

(آية) حجت ، دليل او علامه (اهوائهم) دهوئ جمع چي دنفس ميلان او خواهش ته وايي (الممترين) له امترا څخه اخيستل شوی او شک ته وايي (نو ممترين دشكمنو په معنی شو) او (مرية) هم له دغه مادې څخه دی چي الله فرمايي : (ولايزال الذين كفروا فی مرية منه) يعنی تل به كافران له دې څخه په شک کي وی (وِجهة) او(وَجهة) دواړه په فتحه او کسره سره په يوه معنا دی او مراد ځنی قبله ده (هو موليها) فراء وايي چي معنا يې ده مخامخ كيدونكی هغې ته (استبقوا) تلواره وكړئ (الخيرات) نيكيو او ښو عملونو ته چي دخير جمع ده (تخشوهم) ويريږی له دوی نه خشيت او خوف دواړه يو دی.

تفسير:

﴿ وَلَئِنْ أَتَيْتَ ٱلَّذِينَ أُوتُوا۟ ٱلْكِتَـٰبَ بِكُلِّ ءَايَةٍ مَّا تَبِعُوا۟ قِبْلَتَكَ ﴾ او قسم دی خامخا كه ته راوړې هغو كسانو ته چي وركړل شوی دی دوی ته كتاب په هر قسم دليل سره نه به شي تابع دوی ستاد (قبلی) كه هر ډول معجزې ورته وښيي چي ستا تصديق كوی چي ته دقبلې دراګرزيدلو په باب په حق يې دوی به ستا متابعت ونكړی او نه به هم ستا قبلې ته لمونځ وګذاری ﴿ وَمَآ أَنتَ بِتَابِعٍ قِبْلَتَهُمْ ﴾ اونه يې ته (اې محمده)تابع كيدونكی ددوی دقبلې وروسته له دې چي الله ﷺ درته دراګرزيدلو امر وفرمايه او دا ددوی دطمع شكيدلو لپاره دی دوی خو درسول الله ﷺ دمتابعت هسي خوشي هيله لرله ويل يې كه چيری زموږ په قبله راسره ثابت واوسي نو موږ هيله كوو چي دابه هغه موعود نبي وی دابه يې درسول الله دخطاايستلو لپاره ويل ﴿ وَمَا بَعْضُهُم بِتَابِعٍ قِبْلَةَ بَعْضٍ ﴾ او نه دی ځينی ددوی تابع كيدونكی دقبلې دځينو نورو) څكه نصارا ديهودو دقبلې متابعت نه كوی لكه چي يهود دنصرانيانو دقبلې نه كوی څكه ددوی په منځ كی دښمني او مخالفت دی كه څه هم چي ټول له بني اسرائيلو څخه دی ﴿ وَلَئِنِ ٱتَّبَعْتَ أَهْوَآءَهُم مِّنۢ بَعْدِ مَا جَآءَكَ مِنَ ٱلْعِلْمِ ﴾ او هرو مرو كه (بالفرض) تابع شي ته ددوی دآرزوګانو وروسته له هغه چي راغی تاته له علمه (چي وحی دی) ﴿ إِنَّكَ إِذًا لَّمِنَ ٱلظَّـٰلِمِينَ ﴾ (بيشكه ته په دغه وخت كی يې له ظالمانو ځنی) داخبره دفرض او تقدير په ډول ده او كه هسي نه وی نو له رسول الله ﷺ څخه خو دداسي شنيع امر تر سره كيدل بيخی ممكن نه دی چي دكافرانو مجرمينو دخوښې متابعت وكړی او دا دحق په لاری باندی دلازيات ثبات او ټينګښت لپاره هڅونه ده. ﴿ ٱلَّذِينَ ءَاتَيْنَـٰهُمُ ٱلْكِتَـٰبَ ﴾ (هغه كسان چي موږ كتاب وركړی دی) يعنی يهود او نصاری ﴿ يَعْرِفُونَهُۥ كَمَا يَعْرِفُونَ أَبْنَآءَهُمْ ﴾ دوی هغه پيژني (محمد) لكه چي پيژني زامن ددوی په يقيني علم سره ﴿ وَإِنَّ فَرِيقًا مِّنْهُمْ لَيَكْتُمُونَ ٱلْحَقَّ وَهُمْ يَعْلَمُونَ ﴾ او په تحقيق چي يوه ډله له دوی ځنی خامخا پټوي حق (دنبوت دمحمد ﷺ) او دا داهل كتابو رئيسان او احبار دی چي حال دا چي دوی پوهيږی) حق نه څرګندوی او دنبي صفت پټوي هغه چي دوی ته په خورا او خار او ښكاره ډول څرګند دی ﴿ ٱلْحَقُّ مِن رَّبِّكَ فَلَا تَكُونَنَّ مِنَ ٱلْمُمْتَرِينَ ﴾ (حق ثابت دی له (جانبه د) رب ستا نو مه كيږه ته خامخا له شک كوونكو څخه) يعنی هغه څه چي تاته الله وحی كړی دقبلې دراګرزيدلو او دين په هكله هغه حق دی خطاب رسول الله ته دی او مراد يې

امت دی ﴿ وَلِكُلٍّ وِجْهَةٌ هُوَ مُوَلِّيهَا ﴾ او هر يوه امت لره يوه قبله ده چي مخ کرځونکی دی هغې ته ﴿ فَاسْتَبِقُوا الْخَيْرَاتِ ﴾ توتلواره کوئ اې مؤمنانو دنيکيو کړو (افعالو) ته ﴿ أَيْنَ مَا تَكُونُوا يَأْتِ بِكُمُ اللَّهُ جَمِيعًا ﴾ هر چيری ته چي ياست تاسي رابه ولی الله تاسي ټول په قيامت کی ، يعنی که دمځکی په تل کی ياست او که داوچتو غرونو په څوکو کی الله ﷻ به مو دحساب دتصفيې لپاره راولی او بيا به دحق څښتنان او دباطل پلويان سره بېل کړی ﴿ إِنَّ اللَّهَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ ﴾ بيشکه الله په هر شي باندی ښه قادر دی) او له دې نه ستاسی راټولول هم دی که څه هم بدنونه مو رژيدلی او خاوری شوی وی ﴿ وَمِنْ حَيْثُ خَرَجْتَ فَوَلِّ وَجْهَكَ شَطْرَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ ۖ وَحَيْثُ مَا كُنتُمْ فَوَلُّوا وُجُوهَكُمْ شَطْرَهُ ﴾ او له هر ځايه چي ووزی ته (اې محمده) (دسفر لپاره) نو وګرزوه ته مخ خپل په لوری دمسجد حرام (په لمانځه کی) ﴿ وَإِنَّهُ لَلْحَقُّ مِن رَّبِّكَ ۗ وَمَا اللَّهُ بِغَافِلٍ عَمَّا تَعْمَلُونَ ﴾ خامخا دا دمخ ګرځول کعبې ته) حق دی له طرفه درب ستا او نه دی الله بې خبر له هغه څه نه چي تاسي يې کوئ) دا حکم يې څکه تکراری بيان کړی چي حضر او سفر دواړه برابر دی ﴿ وَمِنْ حَيْثُ خَرَجْتَ فَوَلِّ وَجْهَكَ شَطْرَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ ۚ وَحَيْثُ مَا كُنتُمْ فَوَلُّوا وُجُوهَكُمْ شَطْرَهُ ﴾ دادريم ځل لپاره کعبې مشرفی ته دمخ ګرزولو حکم دی او ددی تکرار فائده داده چي څرنګه په شرعی احکامو کی لومړی وار دقبلې نسخ راغلې نو دی ته اړتيا وه چي دتاکيد او تقرير لپاره په مکرر ډول امر وشي تر څو شک او شبه پاتی نه وی د(حيث ماكنتم) معنا داده چي په هر ځای او هر وخت کی چي ياست(اې مؤمنانو) نو وګروزئ مخونه خپل په لوری دهغې (کعبې) ﴿ لِئَلَّا يَكُونَ لِلنَّاسِ عَلَيْكُمْ حُجَّةٌ ﴾ ددې لپاره چي نه وی خلکو (يهودانو او مشرکانو) ته په تاسي هيڅ اعتراض يعنی دا چي يهود به وايي زموږ له دين څخه منکر خو زموږ دقبلې متابعت کوئ يالکه دمشرکينو خبره چي (محمد ﷺ دابراهيمی ملت دعوی لری خوله قبلې څخه مخالفت کوی (نو دغه دقبلې په هکله څرګندونه به د هسي چټياتو مخنيوی وکړی ﴿ إِلَّا الَّذِينَ ظَلَمُوا مِنْهُمْ فَلَا تَخْشَوْهُمْ وَاخْشَوْنِي ﴾ مګر (اعتراض) دهغو کسانو چي ظالمان دی له دوی څخه نو مه ويريږۍ له دوی څنی او وويريږئ له ما څنی (زمانافرمانی مه کوۍ) يعنی پرته له اعتراض دهغو ظالمانو معاندينو چي هيڅ دليل نه مني له هغوی څخه مه ويريږئ له ما وويريږئ ﴿ وَلِأُتِمَّ نِعْمَتِي عَلَيْكُمْ وَلَعَلَّكُمْ تَهْتَدُونَ ﴾ او لپاره ددې چي پوره کړم خپل نعمت په تاسي او ښايي چي تاسي لار ومومۍ يعنی چي زه ستاسو په لارښونه دخپل پلار ابراهيم قبلې ته بشپړ کړم خپل فضل او همدارنګه په توفيق درکولو تاسو ته ددواړو جهانونو دنيکمرغي لپاره.

بلاغت:

١ - دالله ﷻ پدې قول کی چي فرمايي (الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ) دضمير په ځای اسم موصول راوړل شوی چي ددوی له بدحاله او عناد څخه خبر تيا ورکړی.

٢ - پدې کلام کی چي (وَلَئِنِ اتَّبَعْتَ أَهْوَاءَهُم) په حق باندی دثبات او ټينګار هڅونه او تهيج دی.

۳ - دالفتوحات الالهية مؤلف ليكى چي داجمله چي وايي: (وَمَآ أَنتَ بِتَابِعٍ قِبْلَتَهُمْ) تر هغې جملې چي (مَّا تَبِعُواْ قِبْلَتَكَ) په نفى كى زياته او ابلغ ده ځكه دا جمله اسميه او بيا يې په (باء) سره تاكيد راغلى دى.

۴ - پدې كلام كى چي الله فرمايي: (كَمَا يَعْرِفُونَ أَبْنَآءَهُمْ) مرسله مفصله تشبيه ده يعنى دوى رسول الله په ښركند ډول پيژني لكه ددوى له خپله پشته او لادونه غوندى.

فوائد او ټكي:

لومړۍ فائده: روايت كيږى چي عمر بن الخطاب عبدالله بن سلام ته وويل: ايا محمد داسي پيژني لكه خپل زوى؟ هغه وويل او تر دې زيات ځكه له اسمانه امين دمځكى امين ته راښكته شوى او دده نعت او صفت يې راوړى او ما پيژندلى دى او پدې كي هيڅ شك او شبه نلرم چي هغه نبى دى او زوى مى نه يم خبر چي مورخو به يې خيانت نوى كړى؟ نو عمر ﷺ يې سربنكل كړ (۱)

دوهمه فائده: وعيد علماوو او پوهانو ته تر بل چا زيات متوجه دى ځكه الله ﷻ داهل كتابو (بدى او ذم په هكله فرمايي (وهم يعلمون) او هغه څوك چي سره له پوهي دګناه مرتكب كيږي داسي نه ده لكه چي دچا څخه په ناپوهي كي ګناه صادره كيږى.

دريمه فائده: دكعبې شريفى په هكله دقبلې دامر تكرار درې ځله ددې لپاره شوى چي لومړى داهل مكې لپاره دوهم دنوربناروںو داوسيدونكو او دريم دهغه چا لپاره چي په سفر وتلى وو همدا خبره قرطبى راوړې ده (۲)

الله تعالى فرمايي:

﴿كَمَآ أَرْسَلْنَا فِيكُمْ رَسُولًا مِّنكُمْ يَتْلُواْ عَلَيْكُمْ ءَايَٰتِنَا وَيُزَكِّيكُمْ وَيُعَلِّمُكُمُ ٱلْكِتَٰبَ وَٱلْحِكْمَةَ وَيُعَلِّمُكُم مَّا لَمْ تَكُونُواْ تَعْلَمُونَ ﴿١٥١﴾ فَٱذْكُرُونِىٓ أَذْكُرْكُمْ وَٱشْكُرُواْ لِى وَلَا تَكْفُرُونِ ﴿١٥٢﴾ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱسْتَعِينُواْ بِٱلصَّبْرِ وَٱلصَّلَوٰةِ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ مَعَ ٱلصَّٰبِرِينَ ﴿١٥٣﴾ وَلَا تَقُولُواْ لِمَن يُقْتَلُ فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ أَمْوَٰتٌۢ ۚ بَلْ أَحْيَآءٌ وَلَٰكِن لَّا تَشْعُرُونَ ﴿١٥٤﴾ وَلَنَبْلُوَنَّكُم بِشَىْءٍ مِّنَ ٱلْخَوْفِ وَٱلْجُوعِ وَنَقْصٍ مِّنَ ٱلْأَمْوَٰلِ وَٱلْأَنفُسِ وَٱلثَّمَرَٰتِ ۗ وَبَشِّرِ ٱلصَّٰبِرِينَ ﴿١٥٥﴾ ٱلَّذِينَ إِذَآ أَصَٰبَتْهُم مُّصِيبَةٌ قَالُوٓاْ إِنَّا لِلَّهِ وَإِنَّآ إِلَيْهِ رَٰجِعُونَ ﴿١٥٦﴾ أُوْلَٰٓئِكَ عَلَيْهِمْ صَلَوَٰتٌ مِّن رَّبِّهِمْ وَرَحْمَةٌ ۖ وَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلْمُهْتَدُونَ ﴿١٥٧﴾﴾ البقرة: ۱۵۱ - ۱۵۷

مناسبت او تړاو:

آيتونه هسي پيل شوى چي مسلمانانو ته خطاب كوى او دالله ﷻ هغه ستر نعمت چي درسول الله ﷺ بعثت دى ورپه يادوى دا وروسته له هغه چي پخوانيو آيتونو له بني اسرائيلو څخه خبر وركول او دالله ﷻ هغه نعمتونه يې شميرل چي دوى به په انكار او كفران استقبالول چي نژدې ددې سورت يوه دريمه برخه يې نيولى ده قرآن كريم ديهودانو او نصاراوو (بني اسرائيلو) جرائم ځكه په ډير تفصيل بيان كړى چي مسلمانان ورڅخه عبرات واخلى او

(۱) مختصر ابن كثير ۱۴۰/۱.

(۲) القرطبى ۱۲۸/۲.

ددوی لپاره وعظ او پند شي نو کله چي دبني اسرائيلو پير تيرشو دمسلمانانو دتذکير وار راغی چي دالله ﷻ ستر نعمتونه او حکمت لرونکی تشريعات چي الله ﷻ ورته دداړينو دنيکمرغي لپاره وربانديٰ لورلي وريه ياد کړل شي.

لغتونه:

(الکتاب) قرآنکريم (الحکمة) نبوي سنت (فاذکروني) ما ياد کړئ اصلا ذکر دزړه ياد ولو ته وايي خو دژبي يا دولوته ذکر وويل شو ځکه دادزړه په يادولو نښه او علامه ده (ولنبلونکم) او خامخا به مو وازمويم دابتلاء اصل امتحان او ازموينه ده او دا کلمه دخير په امورو او کله بيا دشرپه امورو کی هم وی (ونبلوکم بالشر والخير فتنة) (مصيبة) مصيبت هر ضرر او تاوان ته چي مؤمن ته په ځان، مال اواو لاد کی پيښيږی وايي (صلوات) صلوة په اصل کی دعا ته وايي او که چيری دالله ﷻ له لوری وی درحمت په معنی او دملائکو له پلوه داستغفار په معنی راځي.

تفسير:

﴿ كَمَآ أَرۡسَلۡنَا فِيكُمۡ رَسُولٗا مِّنكُمۡ ﴾ (لکه چي ليږلی دی موږ په تاسي کی رسول له جنسه ستاسو شخه) ترڅو بشپړ کړم خپل نعمت په تاسو نو معنی داشوه لکه چي په تاسو می نعمت کړی همداسي مې په تاسو کی ستاسی له جنس ځخه پيغمبر استولی دی ﴿ يَتۡلُواْ عَلَيۡكُمۡ ءَايَٰتِنَا ﴾ (لولی په تاسي زموږ آيتونه) (قرآن) ﴿ وَيُزَكِّيكُمۡ ﴾ او پاکوی تاسي (له شرک او بدو افعالوڅخه) ﴿ وَيُعَلِّمُكُمُ ٱلۡكِتَٰبَ وَٱلۡحِكۡمَةَ ﴾ (اوښيي تاسي ته کتاب (احکام دقرآن مجيد) او حکمت (نبوی پاکيزه سنت) ﴿ وَيُعَلِّمُكُم مَّا لَمۡ تَكُونُواْ تَعۡلَمُونَ ﴾ او درښيي تاسی ته هغه شيان چي تاسی نه پرې پوهيدلي) يعنی ددين او دنيا دامورو ډير څه چي تاسي وربانديٰ نه پوهيدلی درزده کوي ﴿ فَٱذۡكُرُونِيٓ أَذۡكُرۡكُمۡ ﴾ (نو ياد کړی تاسی ما (په طاعت او عبادت سره) زه به تاسو ياد کړم (په ثواب او مغفرت سره) ﴿ وَٱشۡكُرُواْ لِي وَلَا تَكۡفُرُونِ ﴾ او شکر وباسی مالره (چي نعمت می درکړی (او کفران مه کوی) په انکار او سرغړونه سره ،روايت کيږی چي موسی ﷺ وويل اې ربه ! ستا شکر څنګه ادا کړم؟ الله ﷻ ورته وويل: زما ذکر او ياد کوه مامه هيروه ! کله چي زما ذکر وکړې نو بيشکه زما شکر دی پر ځای کړ او که دی هير کړم نو په تحقيق زما کفران دی وکړ(١) ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱسۡتَعِينُواْ بِٱلصَّبۡرِ وَٱلصَّلَوٰةِ ﴾ اې هغو کسانو چي ايمان يې راوړی دی مدد وغواړئ(ددنيا او آخرت په امورو کی) په زغم (صبر) او لمانځه سره) ځکه په صبر سره هر فضيلت ته رسيدلای شی او په لمانځه له هر رذالت څخه ژغورل کيدلای شئ ﴿ إِنَّ ٱللَّهَ مَعَ ٱلصَّٰبِرِينَ ﴾ بيشکه چي الله ﷻ له صبر کوونکو سره دی (په مرسته معاونت ، حفظ او ملا تړ سره ﴿ وَلَا تَقُولُواْ لِمَن يُقۡتَلُ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ أَمۡوَٰتُۢ ﴾ مه واياست تاسي هغه چاته چي ووژل شي په لاره دالله کی مړه) يعنی تاسی شهيدانو ته مړه مه واياست ﴿ بَلۡ أَحۡيَآءٞ وَلَٰكِن لَّا تَشۡعُرُونَ ﴾ بلکه ژوندی دی لکن تاسي نه پوهيږی) دوی ته په برزخی ژوند کی

---

(١) مختصر ابن کثير ١٤٢/١ .

دالله په نزد روزی ورکول کیږی ، چي ددنیا تر ژوند ډیر غوره او لوړدی اوسی ﴿ وَلَنَبْلُوَنَّكُم بِشَيْءٍ مِّنَ ٱلْخَوْفِ وَٱلْجُوعِ وَنَقْصٍ مِّنَ ٱلْأَمْوَٰلِ وَٱلْأَنفُسِ وَٱلثَّمَرَٰتِ ﴾ او خامخا موږ ازمویو تاسی په یوه شي چي هغه (له دښمن څخه ویره ،لوږه ، کموالی دمالونو په ډول ډول آفتونو او دنفسونو (په مرګ ،قتل ، ناروغی) او دمیوو (په اسمانی او ځمکنی آفتونو سره) ﴿ وَبَشِّرِ ٱلصَّٰبِرِينَ ﴾ (او زیری ورکړه صبر کوونکوته) هغو چي په مصیبتونو او بلا یاوو باندی صبر کوی دجنت زیری بیا الله تعالی دصابرانو صفت هسي وکړ ﴿ ٱلَّذِينَ إِذَآ أَصَٰبَتْهُم مُّصِيبَةٌ ﴾ هغه کسان کله چي وروررسیږی دوی ته څه مصیبت) ضرر تکلیف او ناخوښه کار ﴿ قَالُوٓاْ إِنَّا لِلَّهِ وَإِنَّآ إِلَيْهِ رَٰجِعُونَ ﴾ وایي دوی بیشکه موږ دالله (بندګان) یو او بیشکه موږ هم ده ته بیا ورتلونکی یو یعنی دوی په دې اعتراف کوی چې د الله ﷻ مملوک دی او هر څه چي هغه وغواړی ورباندی کوی یې ﴿ أُوْلَٰٓئِكَ عَلَيْهِمْ صَلَوَٰتٌ مِّن رَّبِّهِمْ وَرَحْمَةٌ وَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلْمُهْتَدُونَ ﴾ دغه کسان په دوی دی عنایتونه له ربه ددوی او مهربانی ده او هم دوی دی لاره موندونکی (دحق او نیکمرغي).

بلاغت:

۱ - د(ارسلنا) او (رسولا) په دووکلمو کې اشتقاقي جناس دی.

۲ - په دې آیتونو کی چي فرمايي (وَيُعَلِّمُكُم مَّا لَمْ تَكُونُواْ تَعْلَمُونَ) چي له دې آیته (وَيُعَلِّمُكُمُ ٱلْكِتَٰبَ وَٱلْحِكْمَةَ) وروسته راغلی عام له خاص نه وروسته ذکر شوی او دې ته په بلاغت کی اطناب وایي چي شمول افاده کوی.

۳ - پدې کلام چي (أَمْوَٰتٌۢ بَلْ أَحْيَآءٌ) دلته ایجاز بالحذف یعنی دحذف په وجه لنډون شوی یعنی (لاتقولوا اموات بل هم احیاء) او ددوی تر مینځ دطباق صنعت هم موجود دی.

۴ - پدې کلمه کی (بِشَيْءٍ مِّنَ ٱلْخَوْفِ) چي (شئ) نکره ذکر شوی فائده یې داده چي لږشی ځنی اراده شي.

۵ - (صَلَوَٰتٌ مِّن رَّبِّهِمْ وَرَحْمَةٌ) پدې دواړو کي تنوین دتفخیم لپاره دی او چي درب کلمې ته تعرض شوی او ددوی ضمیر ته یې اضافت شوی مقصد ددوی په هکله دالله ﷻ زیات عنایات او بخششونه دی.

۶ - پدې جمله کی چي فرمايي (هُمُ ٱلْمُهْتَدُونَ) دقصر صیغه او ګواکي صفت په موصوف پسي قصر دی.

فوائد او ګټي:

لومړی فائده: عمر بن الخطاب ﷺ وایي ماته چي مصیبت رسیدلی دی دری نعمتونه می پکي موندلی دی لومړی دا چي هغه مصیبت به په دین کی نه وو دوهم دا چي تر هغه چي وو به ستر نه وو دریم دا چي الله ﷻ به په

هغه لويه جزا او ثواب ورکوی او بيا يې دالله ﷻ دا آيت تلاوت کړ چي (أُوْلَٰٓئِكَ عَلَيۡهِمۡ صَلَوَٰتٞ مِّن رَّبِّهِمۡ وَرَحۡمَةٞۖ وَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡمُهۡتَدُونَ).

دوهمه فائده، کله چي ديوبنده زوی ومری الله ﷻ ملائکوته وايي چئ زما دبنده دزوی روح مو واخيسته؟ هغوی وايي هو ، نو وايي چي دزړه ميوه مو څنی بيل کړه؟ هغوی وايي هو ، وايي چي زما بنده څه وويل؟ دوی وايي ستا حمد اوثنا يې لوستله او استرجاع يې کوله الله تعالى وايي: زما دبنده لپاره په جنت کي مانۍ جوړه کړئ او د(بيت الحمد) يې نوم کښيږدئ(١)

الله تعالى فرمايي:

﴿ ۞ إِنَّ ٱلصَّفَا وَٱلۡمَرۡوَةَ مِن شَعَآئِرِ ٱللَّهِۖ فَمَنۡ حَجَّ ٱلۡبَيۡتَ أَوِ ٱعۡتَمَرَ فَلَا جُنَاحَ عَلَيۡهِ أَن يَطَّوَّفَ بِهِمَاۚ وَمَن تَطَوَّعَ خَيۡرٗا فَإِنَّ ٱللَّهَ شَاكِرٌ عَلِيمٌ ﴿١٥٨﴾ إِنَّ ٱلَّذِينَ يَكۡتُمُونَ مَآ أَنزَلۡنَا مِنَ ٱلۡبَيِّنَٰتِ وَٱلۡهُدَىٰ مِنۢ بَعۡدِ مَا بَيَّنَّٰهُ لِلنَّاسِ فِي ٱلۡكِتَٰبِ أُوْلَٰٓئِكَ يَلۡعَنُهُمُ ٱللَّهُ وَيَلۡعَنُهُمُ ٱللَّٰعِنُونَ ﴿١٥٩﴾ إِلَّا ٱلَّذِينَ تَابُواْ وَأَصۡلَحُواْ وَبَيَّنُواْ فَأُوْلَٰٓئِكَ أَتُوبُ عَلَيۡهِمۡ وَأَنَا ٱلتَّوَّابُ ٱلرَّحِيمُ ﴿١٦٠﴾ إِنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ وَمَاتُواْ وَهُمۡ كُفَّارٌ أُوْلَٰٓئِكَ عَلَيۡهِمۡ لَعۡنَةُ ٱللَّهِ وَٱلۡمَلَٰٓئِكَةِ وَٱلنَّاسِ أَجۡمَعِينَ ﴿١٦١﴾ خَٰلِدِينَ فِيهَا لَا يُخَفَّفُ عَنۡهُمُ ٱلۡعَذَابُ وَلَا هُمۡ يُنظَرُونَ ﴿١٦٢﴾ ﴾ البقرة: ١٥٨ - ١٦٢

مناسبت او تړاو:

څرنګه چي الله مسلمانانو ته دذکر او يادولو ماربينه وکړه او په صبر او لمانځه باندی يې دمرستی غوښتلو بلنه ورکړه نو بيا يې دحج داهميت په هکله بيان وفرمايه چي داددين دشعائرو څخه دی او وروسته يې دعلم او پوهي دخپرولو او دنه پټولو اړتيا څرګنده کړه او هغه خطرونه يې په ګوته کړل چي دسمي لاری ښودلو او علم دپټولو څخه رابر سيره کيږی لکه چي به يهودانو او نصاراوو پخپلو کتابو نو کی پټول او دالله ﷻ دلعنت ، غضب او هلاکت مستحق او ور وګرزيدل.

لغتونه:

(شعائر الله) دالله شعائر دشعيرة جمع ده هغه علامې ته وايي او هدی ته شعار ګرزول يعنی دپيژندګلوی علامه ورځړول چي وايي (اشعر الهدی) او شعائر هر هغه څه ته وايي چي موږ يې دالله ﷻ دعبادت لپاره تر سره کوو لکه طواف ، سعی ،اذان او داسي نور (حج) په لغت کی قصد کولو ته وايي او په اصطلاح کې دکعبې شريفی قصد دمناسکو دادا کولو لپاره دی (اعتمر) عمره په لغت کی زيارت کولو ته وايي بيا وروسته دکعبې شريفې دزيارت چي دعبادت لپاره تر سره شي نوم وګرزيدو (جناح) دګناه په لوری ميل کولو ته وايي او چا بيا ويلی چي پخپله ګناه ته وايي او پدې ونومول شو څکه چي دباطل لوری ته پکي ميلان شوی وی ويل کيږی (جنح الی کذا) کله چي هغه لوری ته ميلان وکړی ابن الاثير وايي هر چيرته چي راشي نو معنا يې ګناه او ميل دی (ما ژياړونکی لوستلی دی چي جناح دګناه معرب ده لکه (سجيل) چي د(سنګ ګل) معرب بلل شوی او په لږ توپير سره دواړه

---

(١) اخرجه احمد والترمذي .

کلمې بیخي سره ورته دی) (یکتمون) پټوي یې له کتمان څخه اخستل شوی او پټولو ته وایي (ینظرون) مهلت ورکول شوی.

تفسير:

﴿ إِنَّ ٱلصَّفَا وَٱلْمَرْوَةَ ﴾ (بیشکه صفا اومروه) چي ددو غرونو هغه چي دکعبې شریفي په څنګ کی دی نومونه دی ﴿ مِن شَعَآئِرِ ٱللَّهِ ﴾ له علامو (ددین) دالله څخه دی چي موږ یې په طواف کولو دالله ﷻ عبادت کوو ﴿ فَمَنْ حَجَّ ٱلْبَيْتَ أَوِ ٱعْتَمَرَ ﴾ څوک چي اراده وکړي دحج دبیت الله اویا اراده وکړي د عمرې ﴿ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِ أَن يَطَّوَّفَ بِهِمَا ﴾ (نونشته هیڅ ګناه په ده باندی چي طواف وکړي پدې دواړو) که مشرکانو ددې دووغرونو تر منیځ سعی او طواف کاوو بیا به یې دواړه بتان مچ کول نو تاسي دیو الله رب العالمین لپاره طواف وباندی وکړی له دې مه ویریږی چي په دې به له مشرکانو سره مشابهت راشي ﴿ وَمَن تَطَوَّعَ خَيْرًا ﴾ (او هر څوک چي وکړي پخپله خوښه څه نیکي) یعنی چي وروسته له فرضی حج نه نفلی حج او عمره کوی او یا بل دنیکی کار فرض وی که نفل تر سره کوی ﴿ فَإِنَّ ٱللَّهَ شَاكِرٌ عَلِيمٌ ﴾ (بیشکه الله ﷻ ښه شکر قبلونکی ښه عالم دی) یعنی دهغه دطاعت به چي ښه وړباندی خبر دی ښه جزا ورکوی دهغه په وړاندی دنیکانو اجر نه ضائع کیږی ﴿ إِنَّ ٱلَّذِينَ يَكْتُمُونَ مَآ أَنزَلْنَا مِنَ ٱلْبَيِّنَٰتِ وَٱلْهُدَىٰ ﴾ بیشکه هغه کسان چي پټوی له خلکو هغه څه چي موږ نازل کړی دی له ښکاره (احکامو) او هدایت (خبری) یعنی هغوی چي دالله ﷻ نازل کړل شوی څرګند آیتونه له خلګو پټوی هغه چي دمحمد ﷺ په ربښتنولی دلالت کوی ﴿ مِنۢ بَعْدِ مَا بَيَّنَّٰهُ لِلنَّاسِ فِى ٱلْكِتَٰبِ ﴾ (پس له هغه چي بیان کړی دی موږ لپاره دخلکو په کتاب (تورات) کی ﴿ أُو۟لَٰٓئِكَ يَلْعَنُهُمُ ٱللَّهُ وَيَلْعَنُهُمُ ٱللَّٰعِنُونَ ﴾ (دغه کسان دی لیری کوی الله ﷻ دوی له رحمت خپل نه او لعنت وایي پر دوی لعنت ویونکی (له پرښتو او مؤمنانو څخه) یعنی هغوی چي بدعملونه کوی درسول الله ﷺ اوصاف پټوی دتورات احکام تحریفوي نو الله یې له رحمته شړی ﴿ إِلَّا ٱلَّذِينَ تَابُوا۟ وَأَصْلَحُوا۟ وَبَيَّنُوا۟ فَأُو۟لَٰٓئِكَ أَتُوبُ عَلَيْهِمْ ﴾ مګر هغه کسان چي بیرته وګرزیدل (له شرک او پټولو دنعمت) او ښه یې کړ عمل خپل او بیان یې کړه حقه خبره نو دغه کسان دی (چي الله ﷻ وایي) زه به یې توبه قبوله کړم .

﴿ وَأَنَا ٱلتَّوَّابُ ٱلرَّحِيمُ ﴾ اوهم دا زه ښه توبه قبلونکی او مهربان یم) زما رحمت ډیر پراخ دی دبندګانو څخه چي کوم ګناهونه صادر شوي وي هغه وربښم ﴿ إِنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ وَمَاتُوا۟ وَهُمْ كُفَّارٌ ﴾ (بیشکه هغه کسان چي کافران شوی او مړه شوی دی حال دا چي دوی کافران وو (په وخت دمرګ کې) ﴿ أُو۟لَٰٓئِكَ عَلَيْهِمْ لَعْنَةُ ٱللَّهِ وَٱلْمَلَٰٓئِكَةِ وَٱلنَّاسِ أَجْمَعِينَ ﴾ دغه کسان چي دی پر دوی باندی لعنت دالله ، پرښتو او تولو خلکو ، یعنی پر دوی د الله ،پرښتې او دمځکی اوسیدونکی آن تر دې چي کافران هم وړباندی لعنت وایي څکه کافران د قیامت په ورځ یو په بل لعنت وایي ﴿ خَٰلِدِينَ فِيهَا ﴾ تل ترتله به وي (په اوریا لعنت کی) او داچي اور یې څرګند او ظاهر نه راوړ وړ په ضمیر یې

ذكر کړو هغه دتفخيم لپاره ده ﴿ لَا يُخَفَّفُ عَنْهُمُ ٱلْعَذَابُ ﴾ (نه به سپکاوه شي له دوی څنی عذاب) تل تر تله به په عذاب کی وی دسترګو درپ په اندازه به هم نه څني ليري کيږي ﴿ لَا يُفَتَّرُ عَنْهُمْ وَهُمْ فِيهِ مُبْلِسُونَ ﴾ [الزخرف ٧٥] ﴿ وَلَا هُمْ يُنظَرُونَ ﴾ او نه به دوی ته مهلت ورکړل شي بلکه کله چي ومري سمدستي به عذاب ورسره مخامخ وي.

د نزول سبب يې: روايت کاوشي چي يو چا له انس ﷺ څخه دصفا او مروه په هکله وپوښتل ؟ هغه وويل چي موږ هغه (صفا او مروه) له جاهليت څنی ګڼل چي اسلام راغی نو موږ يې دطواف کولو څخه ډډه کوله بيا دا آيت نازل شو ﴿ إِنَّ ٱلصَّفَا وَٱلْمَرْوَةَ مِن شَعَآئِرِ ٱللَّهِ ﴾ (١)

بلاغت:

١ - پدې جمله کی چي (مِن شَعَآئِرِ ٱللَّهِ) ايجاز بالحذف او اصل يې دادی چي (من شعائر دين الله).

٢ - (شَاكِرٌ عَلِيمٌ) ددې معنا دا چي په طاعت ثواب ورکوونکی دی او دمجاز په توګه يې شکر ذکر کړ چي مقصد څنی جزا او ثواب دی.

٣ - پدې کلمه کی چي فرمايي (يَلْعَنُهُمُ ٱللَّهُ) التفات له متکلم څخه غائب ته دی څکه په اصل کی (نلعنهم) وو او چي دالله ﷻ مبارک نوم ذکر شو دا دويرونی او په زړه کي دترهي اچولو لپاره دی.

۴ - په (وَيَلْعَنُهُمُ ٱللَّٰعِنُونَ) کی دجناس اشتقاق دی چي دبديعی محسناتو څخه ګڼل کيږي.

٥ - (خَٰلِدِينَ فِيهَا) په لعنت او يا اور کی او دا چي اور يې څرګند نه راووړ دهغه دتفخيم لپاره دی.

٦ - پدې قول دالله ﷻ چي فرمايي (وَلَا هُمْ يُنظَرُونَ) جمله اسميه يې ددې لپاره غوره چاڼ کړه چي په دوام او استمرار دلالت وکړی.

فوائد او ګټي:

لومړۍ فائده: په صفا غونډۍ باندی يو بت وو چي (اساف) به يې ورته ويل او په مروه باندی بل بت وو چي (نائلة) يې بالو نو مشرکانو چي به کله هم ورباندی طواف کاوو هغوی به يې مسح کول مسلمانان وويريدل چي مبادا دجاهليت له تولی سره يې مشابهت رانشي څکه يې په طواف کولو انديښنه څرګنده کړه او آيت شريف نازل شو چي دادواړه دالله ﷻ له علامو څخه دی او ددوی تر منځ منډه وهل ناروانه دی څکه مسلمانان دالله ﷻ لپاره سعی کوی نه دبتانو لپاره.

دوهمه فائده: دشکر معنا داحسان او نعمت په مقابل کی ثنا ويل او عرفان څرګندول دی او دا خو دالله ﷻ په شان کی محال ده څکه دهيچا نعمت او احسان په الله ﷻ نشته چي علمائ کرامو په ثواب اړولی او معنا يې دا الله ددوی دطاعت ثواب او جزا ورکوي او دهيچا عمل او کړه خوشی نه ځي ، او صحيح هغه ده کوم چي سلفو بللی

---

(١) اخرجه البخاری وانظر الدر المنثور للسيوطي ١٥٩/١.

چې دصفاتو اثبات هسې وکړل شي لکه چې راغلي دي نو بيا هسې شکر چې دالله ﷻ له جلال او کمال سره ښايي مراد کيدلای شي.

الله تعالی فرمايي:

﴿ وَإِلَٰهُكُمْ إِلَٰهٌ وَاحِدٌ ۖ لَّا إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ الرَّحْمَٰنُ الرَّحِيمُ ﴿١٦٣﴾ إِنَّ فِي خَلْقِ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَاخْتِلَافِ اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ وَالْفُلْكِ الَّتِي تَجْرِي فِي الْبَحْرِ بِمَا يَنفَعُ النَّاسَ وَمَا أَنزَلَ اللَّهُ مِنَ السَّمَاءِ مِن مَّاءٍ فَأَحْيَا بِهِ الْأَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَا وَبَثَّ فِيهَا مِن كُلِّ دَابَّةٍ وَتَصْرِيفِ الرِّيَاحِ وَالسَّحَابِ الْمُسَخَّرِ بَيْنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ لَآيَاتٍ لِّقَوْمٍ يَعْقِلُونَ ﴿١٦٤﴾ وَمِنَ النَّاسِ مَن يَتَّخِذُ مِن دُونِ اللَّهِ أَندَادًا يُحِبُّونَهُمْ كَحُبِّ اللَّهِ ۖ وَالَّذِينَ آمَنُوا أَشَدُّ حُبًّا لِّلَّهِ ۗ وَلَوْ يَرَى الَّذِينَ ظَلَمُوا إِذْ يَرَوْنَ الْعَذَابَ أَنَّ الْقُوَّةَ لِلَّهِ جَمِيعًا وَأَنَّ اللَّهَ شَدِيدُ الْعَذَابِ ﴿١٦٥﴾ إِذْ تَبَرَّأَ الَّذِينَ اتُّبِعُوا مِنَ الَّذِينَ اتَّبَعُوا وَرَأَوُا الْعَذَابَ وَتَقَطَّعَتْ بِهِمُ الْأَسْبَابُ ﴿١٦٦﴾ وَقَالَ الَّذِينَ اتَّبَعُوا لَوْ أَنَّ لَنَا كَرَّةً فَنَتَبَرَّأَ مِنْهُمْ كَمَا تَبَرَّءُوا مِنَّا ۗ كَذَٰلِكَ يُرِيهِمُ اللَّهُ أَعْمَالَهُمْ حَسَرَاتٍ عَلَيْهِمْ ۖ وَمَا هُم بِخَارِجِينَ مِنَ النَّارِ ﴿١٦٧﴾ البقرة: ۱۶۳ - ۱۶۷

مناسبت او تړاو:

کله چې الله تعالی دمنکرينو کافرانو د هغه عذابونو او عبرتناکو سزاگانو چې ددوی لپاره په آخرت کې تياري دی حال بيان کړ نو دلته يې دالله ﷻ په وحدانيت او قدرت باندې دليلونه راوړل چې د حکمت لرونکی خالق په وجود شاهدي ورکوي لومړی يې دپورتنی عالم يادونه وکړه ورپسې دسفلي (ښکتني) عالم او بيا دشپې او ورځې په ادلون بدلون او بيا دبيړيو او هغه چې دسمندر په سرله څپو سره سره ځي بيا دبارانونو په ياد کول او دکښتنو او پنځوليو (مخلوقاتو) او هغه چې په مځکه کې تيت شوی عجيبه ژوی دي بيا دبادونو او ورځو حال چې الله ﷻ دانسان دګټې لپاره تابع او ايل ګرځولي چې په پای کی يې په دې ختم کړي چې دالله ﷻ په نادروجوړښتونو او مصنوعاتو دهغه دښکلې او اغلې مخلوق په هکله له عقل او سوچ څخه کار واخلي ځکه هر اثر په مؤثر دلالت کوي او هر صنعت دتدبير او حکمت لرونکي خالق او صانع په وجود ګواه وي.

لغتونه:

(والهکم) اله. معبود ته ويل کيږي که په حق وي او که ناحقه او دلته مراد معبود برحق دی (الفلک) لويې او ستری بيړې ته وايي دمفرد او جمع دواړو لپاره يو ډول استعماليږي (وبث) تيت او شيندلی او له دې څخه دی (کالفراش المبثوث) (دابة) دابة په لغت هر هغه خوځيدونکی ته وايي چې په مځکه روان وي او په لغوی معنا باندې يې دالله ﷻ دا قول دلالت کوي چې فرمايي: ﴿وَاللَّهُ خَلَقَ كُلَّ دَابَّةٍ مِّن مَّاءٍ ۖ فَمِنْهُم مَّن يَمْشِي عَلَىٰ بَطْنِهِ وَمِنْهُم مَّن يَمْشِي عَلَىٰ رِجْلَيْنِ وَمِنْهُم مَّن يَمْشِي عَلَىٰ أَرْبَعٍ﴾ نو دښوئيدونکو ، انسانانو ، او حيواناتو ټولو يادونه پکې جمع او راټوله شوې ده (تصريف الرياح) رياح دريح جمع او نسيم او شمال يا هوا ته وايي او (تصريف) له يو حال نه بل حال ته يې اړولو او ليږدولو ته ويل کيږي نو کله تاوده بادونه او کله سړې سيلۍ کله تند او طوفاني بادونه او کله بيا نرې شمال کله کله دنباتاتو درازغونولو جوګه وي او کله کله بيا شنډونکی وي (المسخر) له تسخير څخه اخيستل شوی او تذليل او تيسير (تابع او ګرزنده) ته وايي (انداداً) د ند جمع دی او مماثل (سيال)

ته ویل کیږي او مراد څنی بتان دی (الاسباب) دسبب جمع او په اصل کی پړی او رسی ته وايي او مراد څنی هغه علائق او روابط دی چي دخلکو تر منځ دنسبي اړیکو او یاراني (ملګرتیا) په سبب جوړیږی (کرة) دبیرته راګرزیدلو (رجعت) په معنا دی (حسرات) دحسرت جمع او ډیر سخت ندامت او پښیماني ته وايي په قرآنکریم کي راځي (أَن تَقُولَ نَفْسٌ يَٰحَسْرَتَىٰ عَلَىٰ مَا فَرَّطتُ فِى جَنۢبِ ٱللَّهِ).

د نزول سبب: عطاء روایت کوی چي په نبي ﷺ په مدینه منوره کی دا آیت نازل شو (وَإِلَٰهُكُمْ إِلَٰهٌ وَٰحِدٌ) دمکي کفارو قریشو وویل څرنګه یوازی یو الله دټولو خلکو معبود او کار جوړونکی کیدای شی ؟ نو الله ﷻ دا آیتونه نازل کړی (إِنَّ فِى خَلْقِ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ..) تر دې قوله پوری چي: (لَءَايَٰتٍ لِّقَوْمٍ يَعْقِلُونَ) دی[1]

تفسیر:

﴿ وَإِلَٰهُكُمْ إِلَٰهٌ وَٰحِدٌ ﴾ (او معبود ستاسي یو معبود) یعنی هغه چي دعبادت لائق دی دهغه هیڅ مثل نه په ذات کی شته او نه په صفاتو او افعالو کی ﴿ لَّآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ٱلرَّحْمَٰنُ ٱلرَّحِيمُ ﴾ (نشته بل څوک لائق دعبادت مګر هم دی ، خورامهربان دی پوره رحم لرونکی ، دنعمتونو او فضل او احسان بخښونکی دی ﴿ إِنَّ فِى خَلْقِ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ﴾ (بیشکه په پیدا کولو داسمانونو او مځکی کی) خومره د صنعت عجائب او دقدرت دلائل دی ؟ ﴿ وَٱخْتِلَٰفِ ٱلَّيْلِ وَٱلنَّهَارِ ﴾ (او په اختلاف دشپي او ورځي کی) چي ډیر محکم نظام له مخی ځی او راځی کله اوږدیږی کله لنډیږی (کله یخیږی کله تودیږی) ﴿ وَٱلْفُلْكِ ٱلَّتِى تَجْرِى فِى ٱلْبَحْرِ ﴾ (او په بیړیو هغو کی چي رواني وی په دریاب کی) یعنی هغه ستری (غول پیکره بیړۍ) چي داوبو په مخ باندی په درنو بارونو بار رواني دی ﴿ بِمَا يَنفَعُ ٱلنَّاسَ ﴾ په هغه سره چي ګټه رسوی خلکوته ، دخلکو دسوداګری مالونه او اسبابونه پکي دی

﴿ وَمَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مِن مَّآءٍ ﴾ او په هغه څه کی چي نازل کړی دی الله له (طرفه) داسمانه له اوبو څنی هغه چي په هغو سره دخلکو او ځمکو ژوند موندل کیږی یعنی دبلاد او عبادو دژوندانه سبب کیږی ﴿ فَأَحْيَا بِهِ ٱلْأَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَا ﴾ نو ژوندي (زرغونه) کړی یې ده ځمکه په هغه وروسته له مرګه (وچوالی) دهغې یعنی په دغو اوبو باندی کښتونه او وني راژوندی کیږی وروسته له هغی چي وچي کلکی او رژیدلې وی نه پکي دانې وی او نه هم میوې ﴿ وَبَثَّ فِيهَا مِن كُلِّ دَآبَّةٍ ﴾ (او خواره کړی یې دی په دې ځمکه کی له هر قسمه خوځیدونکو څخه) چي غټ او واړه مختلف شکلونه رنګونه او غږونه لری ﴿ وَتَصْرِيفِ ٱلرِّيَٰحِ ﴾ او په ګرزولو د بادونو چي شمالی او جنوبی الوزی ساړه او یا تاوده وی نرم او یا طوفاني وی ﴿ وَٱلسَّحَابِ ٱلْمُسَخَّرِ بَيْنَ ٱلسَّمَآءِ وَٱلْأَرْضِ ﴾ دا وریځي مسخره کړی شوی په منځ داسمان او مځکی کې ، چي دالله دقدرت تابع او هر هغه لوری ته درومي چي الله

---

(1) اسباب النزول للواحدي ۱۹۱/۲ .

یې وغواړي پریمانه اوبه یې بارکړې وي او بیا یې خاشکي په مخکه را اوري ، کعب الاحبار وايي وريځ دباران غلبیل ده که وریځ نه وای باران به هغه څه چي ورباندی راتوئیدو تباه کړی وايي (۱) ﴿ لَآيَٰتٖ لِّقَوۡمٖ يَعۡقِلُونَ ﴾ هرو مرو دلیلونه دی هغه قوم لره چي دعقل څښتنان دی یعنې پدې ټولو کی ستر دلیلونه دی چي دالله ﷻ په زور ور قدرت څرګند حکمت او ستر او پراخ رحمت باندی ګواه او دعقل څښتنان ورباندی پوهیږي ، بیا الله ﷻ دمشرکانو دبد انجام او عاقبت حال بیانوی هغه کسان چي له الله ﷻ څخه پرته دبل چا عبادت کوی نویې وفرمایل: ﴿ وَمِنَ ٱلنَّاسِ مَن يَتَّخِذُ مِن دُونِ ٱللَّهِ أَندَادٗا ﴾ (او ځيني دخلکو څخه هغه دي چي نيسي يې له الله څخه شریکان) یعنې دومره ناپوهان دی چي له الله څخه پرته دبتانو او سردارانو عبادت کوی ﴿ يُحِبُّونَهُمۡ كَحُبِّ ٱللَّهِ ﴾ (مینه کوی دوی په هغو باندی لکه چي مینه کوی په الله) ﴿ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ أَشَدُّ حُبّٗا لِّلَّهِ ﴾ (او هغه کسان چي ایمان یې راوړی دی ډیر ټینګ دی له جهته دمینی دالله سره) یعنې مینه دمؤمنانو له الله سره) دهغې مینی چي مشرکان یې له شریکانو سره لري ډیره زیاته ده ﴿ وَلَوۡ يَرَى ٱلَّذِينَ ظَلَمُوٓاْ إِذۡ يَرَوۡنَ ٱلۡعَذَابَ أَنَّ ٱلۡقُوَّةَ لِلَّهِ جَمِيعٗا ﴾ او که ووینی هغه کسان چي ظلم یې کړی دی په هغه وخت کی چي ووینی دوی عذاب چي بیشکه ټول قوت (اوزر) خاص الله لره دی ﴿ وَأَنَّ ٱللَّهَ شَدِيدُ ٱلۡعَذَابِ ﴾ (او بیشکه چي الله سخت عذاب ورکونکی دی) یعنې دهغه عذاب دردناک دی د(لو) ځواب حذف شوی او تقدیریې داسي کیږي چي دوی به هغه څه ووینی چي سختوالی او فظاعت یې دستایلو نه وی. ﴿ إِذۡ تَبَرَّأَ ٱلَّذِينَ ٱتُّبِعُواْ مِنَ ٱلَّذِينَ ٱتَّبَعُواْ ﴾ (کله چي بیزاره شی هغه کسان چي متبوعان دی له هغو کسانو چي تابعان دی) یعنې کله چي رئیسان له خپل رعیت څخه بیزاره شي.

﴿ وَرَأَوُاْ ٱلۡعَذَابَ ﴾ او ووینی دوی عذاب ﴿ وَتَقَطَّعَتۡ بِهِمُ ٱلۡأَسۡبَابُ ﴾ او غوڅې شي په دوی باندی هغه ټولی دخپلوی علاقې او روابط ﴿ وَقَالَ ٱلَّذِينَ ٱتَّبَعُواْ لَوۡ أَنَّ لَنَا كَرَّةٗ فَنَتَبَرَّأَ مِنۡهُمۡ ﴾ (او وايي هغه کسان چي تابعان وو کاشکی وايي موږ لره بیا ورتلل (ودنیاته) نو بیزاره به شو موږ له دوی نه) هغه متبوعان چي له دوی څخه یې لاره ورکه کړې وه ﴿ كَمَا تَبَرَّءُواْ مِنَّا ﴾ لکه چي بیزاره شوی دی دوی له موږ څنې الله تعالی فرمایي: ﴿ كَذَٰلِكَ يُرِيهِمُ ٱللَّهُ أَعۡمَٰلَهُمۡ حَسَرَٰتٍ عَلَيۡهِمۡ ﴾ همداسي لکه چي وښوده الله دوی ته (دعذاب سختی) وبه ښیي الله دوی ته (بیکاره) عملونه ددوی افسوسونه پر دوی باندی) یعنې ددوی په زړونو کی به داسي سخته پښیماني او حسرتونه وی لکه ددوزخ سپرغی او بڅرکی ﴿ وَمَا هُم بِخَٰرِجِينَ مِنَ ٱلنَّارِ ﴾ او نه به وی دوی هیچري وتونکی له اوره (ددوزخ) یعنې دوی له اور څخه دوتلو هيڅ لاره نلري او په تل ترتله عذاب او بدمرغی کی به اوسي.

بلاغت:

۱ - پدې جمله کی چي الله تعالی فرمایي: (وَإِلَٰهُكُمۡ إِلَٰهٞ وَٰحِدٞ) داخبر پرته له کوم تاکید نه ذکر شوی ترڅو چي منکر دغیر منکر پوري ته رابنکته کړي ځکه ددوی په وړاندی داسي څرګند دليلونه اوروښانه براهين شته چي که په غور او پاملرنه یی وګوری بشپړ قناعت به یی وشي.

---

(۱) البحر المحیط ۴۶۷/۱.

۲ - (لَأَيَـٰتٍ) د آياتو په هکله تنکير د هغوی دلويوالی او تفخيم لپاره شوی يعنی ستر آيتونه او دلائل دی چي دالله ﷻ په قاهره قدرت او باهره حکمت دلالت کوي.

۳ - پدې کلمه کی چي فرمايي (كَحُبِّ ٱللَّهِ) مرسله مجمله تشبيه ده ځکه دتشبيه ادات ذکر شوی او دمشابهت وجه نه دی ذکر شوی.

۴ - (أَشَدُّ حُبًّا لِّلَّهِ) د(اشد) په کلمه سره تصريح کول تر دې ابلغ او لوړ ده چي وويل شي (احب لله) لکه چي الله بل ځای فرمايي (فهی کالحجارة او اشد قسوة) سره له دې چي داهم سمه ده چي ويل شوی واي (او اقسٰی).

۵ - پدې کلام کی چي (وَلَوْ يَرَى ٱلَّذِينَ ظَلَمُوٓا۟) راغلی دضمير پرځای ظاهر ذکر شوی چي (لويرون) وو ددې لپاره چي داوريدونکی په ذهن کی انځور ژوندی شي او داورته په مخ کې کښيودل شي چي ددوی دسخت عذاب سبب ددوی پريمانه ظلم وو.

۶ - پدې قول کی چي (وَرَأَوُا۟ ٱلْعَذَابَ) او (وَتَقَطَّعَتْ بِهِمُ ٱلْأَسْبَابُ) دی هغه صنعت راغلی چي دبديع په علم کی ورته ترصيع وايي او هغه دکلام دسجعي رعايت کول دی.

۷ - (وَمَا هُم بِخَـٰرِجِينَ مِنَ ٱلنَّارِ) دلته اسميه جمله ددې لپاره راوړل شوه چي خلود او دوام افاده کړي.

فوائد او ګټي:

لومړی فائده: الله تعالی په دې آيت کی له عجيبه مخلوقاتو څخه اته ډوله ذکر کړل چي ددې تنبيه وشي چي په دې کي عبرتونه او دالله په وحدانيت باندی دلائل او اثار موجود دی، اول داسمانونو ياد او هغه ستوری لمر او سپوږمی پکې. دوهم: ځمکه او پکي غرونه، سيندونه، ونې، رودونه، خزانې او ملغری، دريم دشپې او ورځی اختلاف چي لنډي او ږدې، روښانه، تياره، زياتي کمي وی څلورم: ستری بيړی لکه اوچت غرونه هغه چي په مالونو او خلکو باروی بادونه يې يوې بلی خوا مخ او شاته خوځوی، پنځم: باران هغه چي الله دموجوداتو دژوندانه سبب ګرځولی دی او ورباندی حيوان او نبات پايي بيا دا چي په اندازه را اوری شپږم: هغه چي په ځمکه خوځيږي که انسان دی او که حيوان سره دشکلونو، رنګونو او صورتونو له توپيره اووم: دبادونو ګرځول هغه چي هوا يو نرم او پوست جسم دی خو بيا هم ډير زور ور دی چي ونې او ډبری له بيخه راکاږی ودانی نړوی خو له دې سره سره دژوند ارتيا ده که دسترګو درپ په اندازه له نړی څخه غوڅه (پرې کړی) شي نو ټول به ومری او څه چي دمځکی په سر دی بدبويی ډډوزي به يې ولاړ شي اتم: وريځ او هغه چي درنې او به پکي خوندی دی چي کله واوری نو غټې غټې خوړونه ډک بهيږی خو سره له دې داسمان او مځکی تر منځ ترل شوی فسبحان الواحد القهار.

دوهمه فائده: درياح لفظ په قرآنکريم کې جمع او مفرد دواړه ذکر شوی خو جمع يې له رحمت سره جوخت او مفرد يې له عذاب سره يوځای راغلی لکه دالله ﷻ داقول: (ومن آياته ان يرسل الرياح مبشرات) او لکه دا (وهو الذی ارسل الرياح بشرا بين يدی رحمته) او مفرد چي له عذاب سره يوځای راغلی لکه (بريح صرصر عاتية) او دا (الريح العقيم) روايت کاوه شي کله چي به باد راوالوت رسول الله ﷺ به داسي ويل: (اللهم اجعلها رياحًا ولا تجعلها ريحا) اې الله بادونه يې وګرزوه او باد يې مه ګرزوه کوم چي دعذاب خبر ورکوی.

الله تعالی فرمايي:

﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ كُلُواْ مِمَّا فِي ٱلْأَرْضِ حَلَٰلًا طَيِّبًا وَلَا تَتَّبِعُواْ خُطُوَٰتِ ٱلشَّيْطَٰنِۚ إِنَّهُۥ لَكُمْ عَدُوٌّ مُّبِينٌ ﴿١٦٨﴾ إِنَّمَا
يَأْمُرُكُم بِٱلسُّوٓءِ وَٱلْفَحْشَآءِ وَأَن تَقُولُواْ عَلَى ٱللَّهِ مَا لَا تَعْلَمُونَ ﴿١٦٩﴾ وَإِذَا قِيلَ لَهُمُ ٱتَّبِعُواْ مَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ قَالُواْ بَلْ نَتَّبِعُ مَآ
أَلْفَيْنَا عَلَيْهِ ءَابَآءَنَآۚ أَوَلَوْ كَانَ ءَابَآؤُهُمْ لَا يَعْقِلُونَ شَيْـًٔا وَلَا يَهْتَدُونَ ﴿١٧٠﴾ وَمَثَلُ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ كَمَثَلِ
ٱلَّذِي يَنْعِقُ بِمَا لَا يَسْمَعُ إِلَّا دُعَآءً وَنِدَآءًۚ صُمٌّۢ بُكْمٌ عُمْيٌ فَهُمْ لَا يَعْقِلُونَ ﴿١٧١﴾ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ كُلُواْ مِن طَيِّبَٰتِ
مَا رَزَقْنَٰكُمْ وَٱشْكُرُواْ لِلَّهِ إِن كُنتُمْ إِيَّاهُ تَعْبُدُونَ ﴿١٧٢﴾ إِنَّمَا حَرَّمَ عَلَيْكُمُ ٱلْمَيْتَةَ وَٱلدَّمَ وَلَحْمَ ٱلْخِنزِيرِ وَمَآ
أُهِلَّ بِهِۦ لِغَيْرِ ٱللَّهِۖ فَمَنِ ٱضْطُرَّ غَيْرَ بَاغٍ وَلَا عَادٍ فَلَآ إِثْمَ عَلَيْهِۚ إِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿١٧٣﴾ إِنَّ ٱلَّذِينَ يَكْتُمُونَ مَآ
أَنزَلَ ٱللَّهُ مِنَ ٱلْكِتَٰبِ وَيَشْتَرُونَ بِهِۦ ثَمَنًا قَلِيلًاۙ أُوْلَٰٓئِكَ مَا يَأْكُلُونَ فِي بُطُونِهِمْ إِلَّا ٱلنَّارَ وَلَا يُكَلِّمُهُمُ ٱللَّهُ
يَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ وَلَا يُزَكِّيهِمْ وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿١٧٤﴾ أُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ ٱشْتَرَوُاْ ٱلضَّلَٰلَةَ بِٱلْهُدَىٰ وَٱلْعَذَابَ
بِٱلْمَغْفِرَةِۚ فَمَآ أَصْبَرَهُمْ عَلَى ٱلنَّارِ ﴿١٧٥﴾ ذَٰلِكَ بِأَنَّ ٱللَّهَ نَزَّلَ ٱلْكِتَٰبَ بِٱلْحَقِّۗ وَإِنَّ ٱلَّذِينَ ٱخْتَلَفُواْ فِي ٱلْكِتَٰبِ لَفِي
شِقَاقٍۭ بَعِيدٍ ﴿١٧٦﴾ ﴾ البقرة: ١٦٨ - ١٧٦

مناسبت او تړاو:

څرنګه چې الله ﷻ توحيد او دهغه دلائل وفرمايل او هغه څه يې وښودل کوم چې دمؤمنانو او کافرانو لپاره تيار دي وروسته يې خپل هغه انعام چې په مؤمن او کافر دواړو يې يو شان لورولی ذکر کړ چې دا څرګنده کړي کفر دانعام په زوال کې مؤثريت نلري ځکه الله رب العالمين دی او احسان يې هم له ټول مخلوق سره شته پرته له کوم توپير څخه چې دا مؤمن او دا کافر يادا نيکو کار او دا بد کردار دی بيا الله ﷻ مؤمنان دمنعم شکر ادا کولو ته را وبلل او دا چې له پاکيزه شيانو چې الله حلال ګرزولي خوراک وکړئ له هغو څان وژغورئ چې حرام دي.

لغتونه:

(خطوات الشيطان) خطوات دخطوة جمع ده او هغه واټن ته وايي چې د تګ په وخت کې د دوو پښو ترمنځ مسافه وی، او مجازا د يل په پله اېښودلو لپاره راځي (السوء) هر هغه څه ته وايي چې انسان خواشيني کوی او ګناه ته که هغه قولي وی که فعلي او که اعتقادي ځکه (سوء) ويل کيږي چې هغه هم ګنهکار خوابدي کوی که سمدستي (في الحال) وی او که په راتلونکي کې (الفحشاء) دګناهونو ستر او هغه چې ډير بدوی ويل کيږي (وجدنا) يعني موندلي مودی او له سمدې څخه دی چې الله فرمايلي: (وَأَلْفَيَا سَيِّدَهَا لَدَى الْبَابِ) يا (إِنَّهُمْ أَلْفَوْا آبَاءَهُمْ ضَالِّينَ) يعني موندلي يې وو (ينعق) نارې وهي ويل کيږي (ينعق الراعي بغنمه) يعني شپون خپلې رمې ته نارې وهي او راګرزوي يې. (اهلّ) له اهلال څخه اخيستل شوی ويل کيږي (اهلّ المحرم) کله چې تلبيه ويل په لوړ اواز پيل کړي او له همدې مادې څخه دماشوم اهلال هم اخستل شوی دی کله چې دولادت او زيږيدلو په وخت کې يې غږ راو چتيږي او کله چې به مشرکانو ذبح کوله نو به يې د(لات) او (عزی) په نامه غږ کاوو په زوره به يې نارې

وهلې (اضطرّ) كله چي يې ضرورت دمحرماتو خوړلوته اړباسي (باغٍ ولا عاد) باغي له بغي او عادي له عدوان څخه اخيستل شوي دواړه دظلم او له حد څخه دتجاوز او تيريدلو په معنى دى (يزكيهم) له تزكيې څخه او پاكولوته وايي (شقاق) خلاف او عداوت (دښمني) ته وايي.

تفسير:

﴿ يَـٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ كُلُوا۟ مِمَّا فِى ٱلْأَرْضِ حَلَـٰلًا طَيِّبًا ﴾ دلته خطاب ټول بشريت ته عام دى يعنى (اې خلګو خورئ تاسي له ځينو هغو شيانو چي په ځمكه كي دى حلال پاك (يعني هغه پخپله پاك دي او بدنونو عقلونوته يې خوړل تاوان نه رسوي ﴿ وَلَا تَتَّبِعُوا۟ خُطُوَٰتِ ٱلشَّيْطَـٰنِ ﴾ او پيروي مه كوئ تاسى دقد مونو دشيطان يعني شيطان تاسو ته دخير دلوري امر نكوي او دګناهونو او منكراتو څخه مونږ منع كوي بلكه دهغه لوري ته مو بولي ﴿ إِنَّهُۥ لَكُمْ عَدُوٌّ مُّبِينٌ ﴾ بيشكه چي شيطان ستاسى ښكاره دښمن دى ، دهغه عداوت او دښمني هر چاته بربنډه دي. ﴿ إِنَّمَا يَأْمُرُكُم بِٱلسُّوٓءِ وَٱلْفَحْشَآءِ ﴾ بيشكه همدا خبره ده چي شيطان تاسى ته حكم په بد او ناروا كارسره كوى ځني راګرزوي مونه ﴿ وَأَن تَقُولُوا۟ عَلَى ٱللَّهِ مَا لَا تَعْلَمُونَ ﴾ او چي ووايا ست تاسى په الله هغه خبري چي تاسى پرې نه پوهيږئ يعني چي تاسو په الله افتراء وكړئ هغه چي حلال دى حرام يې كړې او كوم چي حرام دى حلال يې وګرزوئ پس نو تاسي به شرعي احكام له خپله لوري جوړوئ. ﴿ وَإِذَا قِيلَ لَهُمُ ٱتَّبِعُوا۟ مَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ ﴾ او كله چي وويل شي دوي ته چي تاسي پيروي كوئ دهغه حكم چي نازل كړى دى الله يعني كله چي مشركينو ته وويل شي چي دهغه احكامو پيروي وكړئ چي الله ﷻ په خپل پيغمبر له وحى او قرآن څخه نازل كړى دى او كوم چي تاسي دګمراهي او ضلالت جهالت لاره نيولې هغه پريږدئ ﴿ قَالُوا۟ بَلْ نَتَّبِعُ مَآ أَلْفَيْنَا عَلَيْهِ ءَابَآءَنَآ ﴾ نو وايي چي بلكه پيروي كوو دهغه حكم چي موندلى دى مونږ په هغه باندى پلرونه زمونږ الله تعالى ددوى په رد كي هسي وفرمايل: ﴿ أَوَلَوْ كَانَ ءَابَآؤُهُمْ لَا يَعْقِلُونَ شَيْـًٔا وَلَا يَهْتَدُونَ ﴾ اګر كه وو پلرونه ددوى چي په هيڅ شي نه پوهيدل او نه يې لاره موندلې وه) ددوې پلرونه خو داسي احمقان او نالائقه وو چي عقل يې هغه چي دوى دشر له كارونو راوګرزوي خوړلى ؤو ، او نه يې دزړه روښنايي وه چي سمه لاره ومومي استفهام دتوبيخ او انكار لپاره او ددوې په حال تعجب څرګندول دى چي څرنګه دخپلو پلرونو روند تقليد كوي بيا الله ﷻ دكافرانو لپاره يوزښته زيات څرګند مثال راوړو چي وايي ﴿ وَمَثَلُ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ كَمَثَلِ ٱلَّذِى يَنْعِقُ بِمَا لَا يَسْمَعُ إِلَّا دُعَآءً وَنِدَآءً ﴾ (او حال ددعوت كوونكو دغمخوارانو لره چي كافران شويدي لكه حال دهغه چا دى چي ناري وهي هسي يو شي ته چي نه اوري هيڅ مګر تشه بلنه او غږ) يعني دكفارو مثال په ګټه نه اخيستلو كي لكه دهغو چادى چي شپون وي او رمې ته چيغي وهي رمه يې ناري اوري خو په مقصد او خبر يې نه پوهيږي او نه يې هم معنى درك كولاى شي دغه كفار هم لكه چا رپايان غوندي دى چي څه ورته ويل كيږي ورباندي نه پوهيږي قرآن اوري خو غوږونه يې ځني كاڼه اچولي وي ﴿ إِنْ هُمْ إِلَّا كَٱلْأَنْعَـٰمِ بَلْ هُمْ أَضَلُّ سَبِيلًا ﴾ [الفرقان ۴۴] (يعني دوي په شان دڅارپايانو دي (په پند نه اوريدلو كښي) بلكه لا دوي ډير ليري دى له لياري (د صواب) څكه الله تعالى فرمايي: ﴿ صُمٌّۢ بُكْمٌ عُمْىٌ فَهُمْ لَا يَعْقِلُونَ ﴾ (دوى) كاڼه دى ګونګيان دى ړانده دى نودوى هيڅ عقل نلرى) يعني غوږونه يې دحق له اوريدلو كاڼه

او له حق ویلو څخه گونګیان او له لیدلو څخه یې ړانده دي نو ځکه په هغه څه نه پوهیږي چې دوی ته ویل کیږي دوی لکه بو دګان او چارپایان غوندي دي دمثال خلاصه دا چي: مثال دکافرانو لکه حیوانات داسي دي چي شپون څه ورته وایي له اوریدلو نه زیات په څه نه پوهیږي او دا دابن عباس ﷺ دقول خلاصه هم ده. والله اعلم.

﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ كُلُواْ مِن طَيِّبَٰتِ مَا رَزَقۡنَٰكُمۡ ﴾ (اې هغو کسانو چي ایمان یې راوړی دی (اې مؤمنانو) خوری تاسی له پاکو حلالو هغو شیانو چي درکړي دي موږ تاسي ته دلته خطاب مؤمنانو ته دی ځکه دوی په الهي توجیهاتو پوهیږي ﴿ وَٱشۡكُرُواْ لِلَّهِ إِن كُنتُمۡ إِيَّاهُ تَعۡبُدُونَ ﴾ او شکر وباسی الله ﷻ لره که چیري یاست تاسي چي خاص ده لره عبادت کوی یعني دالله دبیشمیره نعمتونه شکر پر ځای کړی که چیري تاسی یوازي دالله ﷻ عبادت کوی او دبل هیچا عبادت نه کوی ﴿ إِنَّمَا حَرَّمَ عَلَيۡكُمُ ٱلۡمَيۡتَةَ وَٱلدَّمَ وَلَحۡمَ ٱلۡخِنزِيرِ ﴾ بیشکه هم داخبره ده چي حرام کړی دی (الله ﷻ) په تاسي باندی خوراک دمرداري او (حرام کړی یې دی) خوراک دویني (بهیدونکې) او حرام کړی یې دی (خوراک) دغوښي دخنزیر ﴿ وَمَآ أُهِلَّ بِهِۦ لِغَيۡرِ ٱللَّهِ ﴾ او هر هغه چي آواز پرې کول شوی وي (په وخت دذبح کي) بې له الله. یعني هغه چي دبتانو په نامه پرته دالله ﷻ له نامه حلال شوي وي لکه چي دحلالولو په وخت وربانديويل شوي وي دلات په نامه ،دعزی په نامه ﴿ فَمَنِ ٱضۡطُرَّ غَيۡرَ بَاغٖ وَلَا عَادٖ فَلَآ إِثۡمَ عَلَيۡهِۚ ﴾ نو هغه څوک چي اړشي (دحرامو خوړلو ته) حال دا چي نه وي ظلم کونکی او نه تجاوز کونکی وی (له قدره دکفافه) نو نشته ګناه په ده)چه ویې خوری ﴿ إِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٞ رَّحِيمٌ ﴾ بیشکه چي الله لوی بخښونکی پوره رحکم لرونکی دی او دهغه له رحمت څخه دضرورت او اړتیا په وخت کي دمحرماتو خوړل دی. ﴿ إِنَّ ٱلَّذِينَ يَكۡتُمُونَ مَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ مِنَ ٱلۡكِتَٰبِ ﴾ بیشکه هغه کسان چي پټوي (دوی هغه څه چي نازل کړي دی الله چي کتاب دی) یعني درسول الله ﷺ هغه صفت پټوی چي په تورات کی راغلی دی دغه کسان یهودان دی ابن عباس ﷺ وایی چي داآیت دیهودانو دمشرانو اوسردارانو په هکله دی هغوی چي درسول الله صفت یی پټ کړ.

﴿ وَيَشۡتَرُونَ بِهِۦ ثَمَنٗا قَلِيلًا ﴾ اوپیری دوی (اخلی) په دی پټولو سره قیمت لږ ددنیاله متاع نه ﴿ أُوْلَٰٓئِكَ مَا يَأۡكُلُونَ فِي بُطُونِهِمۡ إِلَّا ٱلنَّارَ ﴾ (نو دغه کسان نه خوری په ګیډوخپلوکی مګراور)یعنی دوی دغه حرام مال پخپلو ګیډوکی اچوی هغه چي ددوزخ داورموجب ګرزی ﴿ وَلَا يُكَلِّمُهُمُ ٱللَّهُ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ ﴾ اونه به خبری وکړی له دوی سره الله په ورځ دقیامت کی دخوښي خبري لکه څرنګه چي یې له مؤمنانو سره کوي بلکه دقهر او غضب خبري به ورته کوي لکه دا چي: ﴿ قَالَ ٱخۡسَـُٔواْ فِيهَا وَلَا تُكَلِّمُونِ ﴾ [المؤمنون: ۱۰۸] (یعني الله به وفرمائي چي؛ تاسي چپ شئ (پراته اوسئ خوار ذلیل) په دي دوزخ کښي مه غږیږي له ما سره (په دفع د عذاب کښي) ﴿ وَلَا يُزَكِّيهِمۡ ﴾ او نه به پاک کړي دوی الله ﷻ دګناهونو له پلیتي څخه ﴿ وَلَهُمۡ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴾ او دوی لره عذاب دردناک دی چي هغه دجهنم عذاب دی ﴿ أُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ ٱشۡتَرَوُاْ ٱلضَّلَٰلَةَ بِٱلۡهُدَىٰ ﴾ دوی هغه کسان دی چي پیرودلی یې دی ګمراهي په هدایت او کفر په ایمان ﴿ وَٱلۡعَذَابَ بِٱلۡمَغۡفِرَةِ ﴾ او عذاب په بدل دمغفرت کي

، چي دوزخ يې په جنت بدل کړی دی ﴿ فَمَآ أَصْبَرَهُمْ عَلَى ٱلنَّارِ ﴾ نو څومره صبر کونکی دی دوی په اور ؟ دا ځای د تعجب دی مؤمنانو لره چي د اکفار څومره زړه وردی چي د اسي ډول ډول ګناوي کوي بيا الله ﷻ د دوی د عبرتناک عذاب سبب د اسي بيانوي ﴿ ذَٰلِكَ بِأَنَّ ٱللَّهَ نَزَّلَ ٱلْكِتَٰبَ بِٱلْحَقِّ ﴾ دا عذاب ځکه دی چي بيشکه الله کتاب په رښتيا سره نازل کړی دی چي هغه تورات دی او د حق بيان پکي دی خو دوی پټ کړی او تحريف کړی دی ﴿ وَإِنَّ ٱلَّذِينَ ٱخْتَلَفُوا۟ فِى ٱلْكِتَٰبِ ﴾ او بيشکه هغه کسان چي اختلاف يې کړی دی په کتاب کي يعني تأويل او تحريف يې کړی ﴿ لَفِى شِقَاقٍۭ بَعِيدٍ ﴾ خامخا په مخالفت کي دی چي له حق نه ليري دی او د سخت عذاب مستوجب دی.

د نزول سبب:

ابن عباس ﷺ وايي: چي دا آيت د يهودو د سردارانو په باب چي هغوی هر يو: کعب بن الاشرف ، مالک بن الصيف ، حيي بن اخطب وو رانازل شوی دی دوی به له خپلو پلويانو سوغاتونه او ډالۍ اخيستې کله چي رسول الله په پيغمبري مبعوث شو دوی د همدې سوغاتونو په ورکيدلو او لړيدلو وويريدل نو د رسول الله ﷺ او د هغه د شريعت موضوع يې پټه کړه بيا الله دا آيت نازل کړ: (إِنَّ ٱلَّذِينَ يَكْتُمُونَ مَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ مِنَ ٱلْكِتَٰبِ)(١)

بلاغت:

١. (خُطُوَٰتِ ٱلشَّيْطَٰنِ) پدې کي له پلوی کولو څخه استعاره راغلې ده او دا چي د هغه په پله پل ايږدی چي د هغه دويلو منل او يا يې د کولو تقليد او پيروي کول دی په تلخيص البيان کی وايي چي دا تر ټولو ستر تحذير او ويرونه ده.

٢. پدې کلمه کي چي فرمايي: (بِٱلسُّوٓءِ وَٱلْفَحْشَآءِ) عطف د خاص په عام باندی راغلی دی ځکه ، سوء ټولو ګناهو نو ته وايي او فحشاء ډير بد او بيکاره ته.

٣. د الله ﷻ پدې قول کي مجمله او مرسله تشبيه ده چي فرمايي: (وَمَثَلُ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ كَمَثَلِ ٱلَّذِى ...) ځکه د تشبيه ادات ذکر دی خو د مشابهت وجه نه ده ذکر شوې د لته کفار له څلور بولو سره مشابه ګڼل شوی هغه چي ناري اوري خو په مقصد او مرام هډو پوهيږي نه.

۴. (صُمٌّۢ بُكْمٌ) د لته د تشبيه ادات او د مشابهت وجه دواړه حذف شوي نو ځکه ورته بليغه تشبيه وايو يعني دوی لکه کاڼه غوندي دی حق نه اوري او لکه ړانده او ګونګيان دی چي د قرآن رڼانه وېني او نه هم ورباندي ګته اخلي

۵. (مَا يَأْكُلُونَ فِى بُطُونِهِمْ إِلَّا ٱلنَّارَ) مرسل مجاز دی او هغه په دې اعتبار چي بالاخره به د دوی د غه عمل هغوی اورته وغورځوي او دا چي فرمايي: (فِى بُطُونِهِمْ) د دوی د حال لا زياته تباهي او

(١) الفخر الرازي ٢٨/٥.

هلاکت دی ددوی حال داسي انځوروی لکه څوک چي داور لمبې خوري او په ګېډه کي يې اچوي دا نو سخت ويرونکی دی.

۲. (ٱشۡتَرَوُاْ ٱلضَّلَٰلَةَ بِٱلۡهُدَىٰ) دلته بيا استعاره ده او مراد ددوی هغه بدلون دی چي ايمان په کفر بدلوي دغه استعاره دسورت په پيل کي هم اجرا شوې ده.

ګټې او فائدې:

لومړی فائده: ابن عباس رضي الله عنه وايي: دغه آيت (يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ كُلُواْ مِمَّا فِي ٱلۡأَرۡضِ حَلَٰلٗا طَيِّبٗا) درسول الله ﷺ په وړاندي تلاوت شو نو سعد بن ابي وقاص ودريدو ويل يې: اې رسول الله ﷺ ماته دعا وکړه چي الله ﷻ مي مستجاب الدعوات کړي نو رسول الله ﷺ وويل: اې سعده پاکيزه خواړه خوره دعا به دي منل کيږي ، زما دي په هغه ذات لوړه وي چي دمحمد روح يې په يد دقدرت کي ده چي يو څوک يوه مړی ډوډی حرامه په ګېډه کي اچوي څلويښت ورځي يې عمل نه قبليږي او هغه څوک چي غوښه يې له حرامو او يا دسود څخه راټوکيدلې وی نو اور دهغه لپاره بهتر دی(۱)

دوهمه فائده: بعضي سلفو فرمايلي دی: چي دشيطان په خطواتو کي ټول ګناهونه راځي آن تر دې چي څوک په ګناه نذر ايږدی هم راځي. شعبي رحمه الله وايي يو سړي نذر کښيښود چي خپل زوی به حلالوي مسروق رحمه الله فتوا ورکړه چي پسه دي حلال کړي او ورته يې وويل: چي دا دشيطان پيروي کول دی.(۲)

دريمه فائده: ابن القيم رحمه الله په (اعلام الموقعين) کي دالله ﷻ ددې قول په باب: (وَمَثَلُ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ كَمَثَلِ ٱلَّذِي يَنۡعِقُ بِمَا لَا يَسۡمَعُ إِلَّا دُعَآءٗ) داسي وايي ته کولا ی شي چي دغي ته مرکبه تشبيه ووايي او يا يې (مفرقه) وبولي څکه که دی مرکبه ګڼله دکفارو تشبيه ده هغه چي نه پوهيږي او نه ګټه اخلي نو له هغو حيواناتو سره مشابه دی چي شپون خو ورته ناري وهي مګر دوی له دغ څخه پرته په بل څه نه پوهيږي او که چيري دی (مفرقه) وبلله نو کافران دچارپايانو په منزلت دی او دبلونکي بلنه او دعوت چي سمي لاري ته يې رابولي دهغه چا په منزلت دی چي ناري سوري وهي او ددوی راغوښتل سمي لاري ته ګواکي (نعق) ناري وروهل دی او چي دوی دغه ناري اوري لکه حيوانات غوندي دی يوازي دی غږ اوري. والله اعلم

الله تعالی فرمايي:

﴿ ۞ لَّيۡسَ ٱلۡبِرَّ أَن تُوَلُّواْ وُجُوهَكُمۡ قِبَلَ ٱلۡمَشۡرِقِ وَٱلۡمَغۡرِبِ وَلَٰكِنَّ ٱلۡبِرَّ مَنۡ ءَامَنَ بِٱللَّهِ وَٱلۡيَوۡمِ ٱلۡأٓخِرِ وَٱلۡمَلَٰٓئِكَةِ وَٱلۡكِتَٰبِ وَٱلنَّبِيِّـۧنَ وَءَاتَى ٱلۡمَالَ عَلَىٰ حُبِّهِۦ ذَوِي ٱلۡقُرۡبَىٰ وَٱلۡيَتَٰمَىٰ وَٱلۡمَسَٰكِينَ وَٱبۡنَ ٱلسَّبِيلِ وَٱلسَّآئِلِينَ وَفِي ٱلرِّقَابِ وَأَقَامَ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتَى ٱلزَّكَوٰةَ وَٱلۡمُوفُونَ بِعَهۡدِهِمۡ إِذَا عَٰهَدُواْۖ وَٱلصَّٰبِرِينَ فِي ٱلۡبَأۡسَآءِ وَٱلضَّرَّآءِ وَحِينَ ٱلۡبَأۡسِۗ أُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ صَدَقُواْۖ وَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡمُتَّقُونَ ﴿١٧٧﴾ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ كُتِبَ عَلَيۡكُمُ ٱلۡقِصَاصُ فِي ٱلۡقَتۡلَىۖ ٱلۡحُرُّ بِٱلۡحُرِّ وَٱلۡعَبۡدُ بِٱلۡعَبۡدِ وَٱلۡأُنثَىٰ بِٱلۡأُنثَىٰۚ فَمَنۡ عُفِيَ لَهُۥ مِنۡ أَخِيهِ شَيۡءٞ فَٱتِّبَاعُۢ بِٱلۡمَعۡرُوفِ وَأَدَآءٌ إِلَيۡهِ بِإِحۡسَٰنٖۗ ذَٰلِكَ تَخۡفِيفٞ مِّن

(۱) اخرجه الحافظ ابن مردويه.
(۲) محاسن التاويل ۳/۳۶۸.

رَبِّكُمْ وَرَحْمَةٌ فَمَنِ ٱعْتَدَىٰ بَعْدَ ذَٰلِكَ فَلَهُۥ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿١٧٨﴾ وَلَكُمْ فِي ٱلْقِصَاصِ حَيَوٰةٌ يَٰٓأُو۟لِي ٱلْأَلْبَٰبِ لَعَلَّكُمْ
تَتَّقُونَ ﴿١٧٩﴾ كُتِبَ عَلَيْكُمْ إِذَا حَضَرَ أَحَدَكُمُ ٱلْمَوْتُ إِن تَرَكَ خَيْرًا ٱلْوَصِيَّةُ لِلْوَٰلِدَيْنِ وَٱلْأَقْرَبِينَ بِٱلْمَعْرُوفِ حَقًّا
عَلَى ٱلْمُتَّقِينَ ﴿١٨٠﴾ فَمَنۢ بَدَّلَهُۥ بَعْدَ مَا سَمِعَهُۥ فَإِنَّمَآ إِثْمُهُۥ عَلَى ٱلَّذِينَ يُبَدِّلُونَهُۥٓ إِنَّ ٱللَّهَ سَمِيعٌ عَلِيمٌ ﴿١٨١﴾ فَمَنْ خَافَ مِن مُّوصٍ
جَنَفًا أَوْ إِثْمًا فَأَصْلَحَ بَيْنَهُمْ فَلَآ إِثْمَ عَلَيْهِ إِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿١٨٢﴾ البقرة: ۱۷۷ - ۱۸۲

مناسبت او تړاو:

نژدې له دې ځایه د سورت بله نیمایي برخه پیلیږي پخوانۍ نیمایي سورت د دین له اصولو او تاداؤونو غږیدو او د بني اسرائیلو قبائح یې بیانول او دا وروستي نیمايي غالباً په تشریعي احکامو رڼا اچوي د مناسبت وجه دا ده چې الله تعالی په رومبني آیت کي بیان کړل چې اهل کتاب پخپل دین کي ستر اختلاف لري چې دهغه په وسیله په لیري خلاف کي لویدلی او دهغوی له دې اختلاف نه یو هم دکعبې لوری ته د مسلمانانو مخ ګرزول دی چې دوی یې په هکله بحث کولو ته اړ ایستل او هر یوه یعني یهودو او نصارا ؤ دا دعوا درلوده چې سمه لار ددوی دقبلې ده نو الله ﷻ ددوی دغه دعوی ردکړه او دا سی یې څرګنده کړه چې حقا ني عبادت او دنیکی عمل یواځي دا نه دی چې انسان لویدیز او یا ختیز ته مخ کړی خو دالله ﷻ په طاعت ،امر منلو او ټینګ رښتوني ایمان باندی حساب کول کیږی.

لغتونه:

(البر) ټولو طاعاتو او ښو کارونو ته ویل کیږي (الرقاب) درقبې جمع او غاړي ته ویلی شي ، چې په ټول بدن یې اطلاق کیږي لکه چې سترګي ته جاسوس وایي ،اوله رقاب څخه په آیت کي ځني بندیان او مریونه مقصد دی (البأساء) فقر او بیوزلي (الضرآء) درد او ناروغي (البأس) جنګ او جګړه له اصله بأس شدت ته ویل کیږی ، (کتب) فرض کړی شوی (القصاص) هغه بالمثل عقوبت او جزاء ته وایي که قتل دی او که پرهار له قص څخه اخیستل شوی او هغه دپله تعقیب کولوته وایي لکه دالله داقول: (وقالت لاخته قصیه)یعني اودموسی علیه السلام خورته یی وویل چې دهغه صندوق تعقیب کړه. (القتلی) دقتیل جمع او مذکر مؤنث دواړه یکي برابر دی ویل کیږي (رجل قتیل) و(امرأة قتیل) (الالباب) دلب جمع اوله لب النخلة څخه اخیستل شوی عقل ته وایي (اثما) ګناه (جنفًا) جنف له حق څخه عدول کولو ته وایي چې دخطا لاره غوره کړي.

دنزول سبب:

قتاده ﷺ وایي چې دجاهلیت په خلګو کی دشیطان پیروي او له حق څخه سرغړونه زیاته وه کله چې به په یوه کلي کی زورور ؤو نو چې ددوی مریی به یو چا ووژل دوی به ویل موږ یې په بدل کي حر او اصیل وژنو او که به یې ښځه دبل قوم ښځي ورووژله نو دوی به ویل چې موږ به یی خامخا نارینه وژنو بیا الله ﷻ دا آیت شریف نازل کړی (الحُرّ بالحرّ والعَبْدُ بالعَبْد والأنثى بالأنثى) (١)

تفسیر:

﴿ لَّيْسَ ٱلْبِرَّ أَن تُوَلُّوا۟ وُجُوهَكُمْ قِبَلَ ٱلْمَشْرِقِ وَٱلْمَغْرِبِ ﴾ نه ده نیکي (یوازي دا چې وګرزوي مخونه خپل (په لمانځه کي) دمشرق یا مغرب لوري ته ﴿ وَلَٰكِنَّ ٱلْبِرَّ مَنْ ءَامَنَ بِٱللَّهِ وَٱلْيَوْمِ ٱلْءَاخِرِ ﴾ لکن غوره نیکي دهغه چاده چې

---

(١) الدرالمنثور ١/١٧٣

په الله او دقيامت په ورځ يې ايمان راوړی وي ﴿ وَٱلْمَلَٰٓئِكَةِ وَٱلْكِتَٰبِ وَٱلنَّبِيِّـۧنَ ﴾ او په پرښتو او په (ټولو) كتابو (او ايمان يې راوړی وی) په واړه انبياؤ ﴿ وَءَاتَى ٱلْمَالَ عَلَىٰ حُبِّهِۦ ذَوِى ٱلْقُرْبَىٰ ﴾ او وركوي مال په محبت دهغه خپلوانوته څكه دوی دلمړيتوب حق لري ﴿ وَٱلْيَتَٰمَىٰ وَٱلْمَسَٰكِينَ وَٱبْنَ ٱلسَّبِيلِ ﴾ او ركوي خپل مال يتيمانو ته او مسكينانو ته او مسافرانو ته يعنی هغه چي پلار يې مړ وي او يا هم ناداره مسكينان يا له خپلو مالو څخه ليري پاتي مسافران وي ﴿ وَٱلسَّآئِلِينَ وَفِى ٱلرِّقَابِ ﴾ او ناداره سوالګروته او په آزادولو دمريانو كي.

﴿ وَأَقَامَ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتَى ٱلزَّكَوٰةَ ﴾ او دروي لمنځونه او وركوي زكاتونه چي دا دواړه داسلام مهم اركان دي ﴿ وَٱلْمُوفُونَ بِعَهْدِهِمْ إِذَا عَٰهَدُوا۟ ﴾ او وفا كونكي دی په وعدو خپلو كله چي وعده وكړي مخالفت يې نه كوي ﴿ وَٱلصَّٰبِرِينَ فِى ٱلْبَأْسَآءِ وَٱلضَّرَّآءِ وَحِينَ ٱلْبَأْسِ ﴾ او صبر كوونكی دی په سختيو او په رنځونو كي او په وخت دجنګ په لاره دالله كی دغه په نصب سره راوړل يې دمدح او صفت كولو لپاره ده يعني صفت كوو دصبر كوونكو ﴿ أُو۟لَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ صَدَقُوا۟ ۖ وَأُو۟لَٰٓئِكَ هُمُ ٱلْمُتَّقُونَ ﴾ او دغه هغه خلک دي چي صداقت يې كړی (په دين، متابعت او دنيكي په غوښتنه كي) او دغه كسان هم دوی دي پرهيزګاران په دين كي په نيكانو خلكو ثنا لوستل شوې او دې ته اشاره ده چي دوی به اطمينان او ښكلي ژوند مومي ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ كُتِبَ عَلَيْكُمُ ٱلْقِصَاصُ فِى ٱلْقَتْلَى ﴾ اې هغو خلكو چي ايمان يې راوړی دی (اې مؤمنانو) فرض كړل شوی دی په تاسي باندي قصاص (برابر والی) په وژل شويو كي نه بايد تجاوز وكړي او نه هم دښمني ﴿ ٱلْحُرُّ بِٱلْحُرِّ وَٱلْعَبْدُ بِٱلْعَبْدِ وَٱلْأُنثَىٰ بِٱلْأُنثَىٰ ﴾ اصيل په اصيل باندی مريی په مريي په ښځه باندی قصاصيږي. تاسی يې له قاتله پرته بل بې ګناه تن مه وژنئ څكه دا ظلم او تجاوز دی. ﴿ فَمَنْ عُفِىَ لَهُۥ مِنْ أَخِيهِ شَىْءٌ ﴾ نو هغه څوک چي عفوه وكړه شي ده ته (له قصاصه داسلامي) ورور دده نه څه شی ﴿ فَٱتِّبَاعٌۢ بِٱلْمَعْرُوفِ وَأَدَآءٌ إِلَيْهِ بِإِحْسَٰنٍ ﴾ نو لازمه ده (په دې عفوه كوونكي) په ښه وجه ددیت مطالبه او وركول ددیت په ښه وجه سره يعني نه خودی عفوه كونكي قاتل په څور كوي چي په زور سره څني ديت اخلی او نه دي هم قاتل هسي كوي چي ددیت په وركولو كي مخ او شاته كيږي ځند پكي اچوي په ښه وجه يې نه وركوي. ﴿ ذَٰلِكَ تَخْفِيفٌ مِّن رَّبِّكُمْ وَرَحْمَةٌ ﴾ دا كار (دقصاص جواز يا ديت يا عفوه) آساني ده له طرفه درب ستاسی او مهرباني ده، څكه په ديت كي دقاتل لپاره اساني او دمقتول دخپلوانو لپاره يو څه نفع او په تحقيق سره اسلام دقتل په جزاكي عدل او رحمت دواړه نغښتي دی څكه قصاص يې دمقتول دخپلوانو حق بللی كه يې غوښتل قصاص كولای شي او دا عدل دی او ديت يې هغه وخت روا ګڼلی كله چي قصاص له قاتل څخه نه غواړي او دا درحمت بيلګه ده. ﴿ فَمَنِ ٱعْتَدَىٰ بَعْدَ ذَٰلِكَ فَلَهُۥ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴾ نو هر چا چي زياتوالی وكړ (په ظلم او وژلو دقاتل) وروسته ددیت له اخستلو او منلو څخه) نو ده لره ده عذاب دردناک (په آخرت كي) ﴿ وَلَكُمْ فِى ٱلْقِصَاصِ حَيَوٰةٌ يَٰٓأُو۟لِى ٱلْأَلْبَٰبِ ﴾ او تاسي لره په قصاص كي ژوندون شته اې دعقل خاوندانو څكه هر څوک چي پوه شي كه څوک يې ووژل نو به دی ورباندي قصاص كيږي نو ويريږي او څوک نه وژني پدې سره ګواكي دقاتل خپل ژوند او دمقتول ژوند خوندي پاتي شول، او پدې باندي وينی ژغورل كيږی او

دخلكو ژوند تأمينيږي ﴿ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ ﴾ لپاره ددې چې تاسي ځان وساتئ له ناحقه وينو څخه او دالله ﷻ له محارمو او ګناهو نوڅخه ﴿ كُتِبَ عَلَيْكُمْ إِذَا حَضَرَ أَحَدَكُمُ ٱلْمَوْتُ ﴾ فرض کړل شوی دی پر تاسی باندی کله چې حاضر شي يو له تاسو ته (اسباب دمرګ) ﴿ إِن تَرَكَ خَيْرًا ﴾ که چيری څه مال يې پرې اينبی وي ﴿ ٱلْوَصِيَّةُ لِلْوَٰلِدَيْنِ وَٱلْأَقْرَبِينَ ﴾ وصيت کول لپاره دموراو پلاراو (نورو) خپلوانو. ﴿ بِٱلْمَعْرُوفِ حَقًّا عَلَى ٱلْمُتَّقِينَ ﴾ په ښه انصاف سره دا حکم لازم دی په هيزګارانو باندی چې تر يوه دريمه زيات به وصيت نه کوي او نه به همداسي وصيت کوي چې مسکينان پريږدي او بډايانو ته يې ورکړي او دا دميراث دآيتونو تر نزول له مخه واجب ؤو اوکله چې دميراث آيت نازل شو منسوخ وګرځيدو ﴿ فَمَنۢ بَدَّلَهُۥ بَعْدَ مَا سَمِعَهُۥ ﴾ نو هر چاچې بدل کړدا وصيت وروسته له هغه چې وايې وريده هغه (له وصي او شاهد څخه) ﴿ فَإِنَّمَآ إِثْمُهُۥ عَلَى ٱلَّذِينَ يُبَدِّلُونَهُۥٓ ﴾ نو هم دا خبره ده چې ګناه ددې (بدلولو) په هغو کسانو ده چې بدلوي يې دا وصيت ځکه دوی دشرعي حکم مخالفت اوهم خيانت کوي ﴿ إِنَّ ٱللَّهَ سَمِيعٌ عَلِيمٌ ﴾ بيشکه چې الله ﷻ ښه اوريدونکی (دټولو اقوالو) ښه پوهيدونکي دی (په ټولو احوالو) پدې کي دبدلونکو لپاره سخت وعيد دی ﴿ فَمَنْ خَافَ مِن مُّوصٍ جَنَفًا ﴾ (نو هغه څوک چې وويريږي له وصيت کونکي څخه دظلم (په خطا سره) يعني چې پدې پوه شي او يا يې ګومان ورسيږي چې موصی له حق څخه په خطا لوري ميل او کږوالی کوي ﴿ أَوْ إِثْمًا ﴾ او يا په قصد سره دګناه ﴿ فَأَصْلَحَ بَيْنَهُمْ فَلَآ إِثْمَ عَلَيْهِ ﴾ نو اصلاح وکړی په منځ ددوی (موصٰی او موصٰی له) نونشته هيڅ ګناه په ده باندی په دغه تبديلي او تغير باندي ﴿ إِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴾ بيشکه الله ښه بخښونکي پوره رحم لرونکي دی په هغه چاچې پخپلو کړو وړو کي داصلاح قصد لري.

بلاغت:

١. (وَلَٰكِنَّ ٱلْبِرَّ مَنْ ءَامَنَ) پدې کلمه کي مبالغه ده ځکه چې نيکي يې دمؤمن وګڼله او دبلغاؤ په کلام کي داسي ډير ليدل شوي چې وايي (سخاء حاتم) و(الشعر زهير) يعنی سخا سخا دحاتم طايي ده او شعر شعر دزهير دی ځکه نو سيبويه په دې هکله وايي چې الله ﷻ په خپل کلام کي فرمايي (وَلَٰكِنَّ ٱلْبِرَّ مَنْ ءَامَنَ) او خبره داده بله نه ده چې (وَلَٰكِنَّ ٱلْبِرَّ مَنْ ءَامَنَ بِٱللَّهِ) (١) او ددی مثال هسي ده لکه چې وو ايي سخا دانه ده چې يوه روپۍ ورکړي خو سخا هغه ده چې په زرهاؤ وي مناسب داسي ده چې وويل شي سخي هغه ده چې په زرهاؤ روپۍ ورکوي.

(١) البحر المحيط ٣/٢.

۲. پدې کلمه کې چې فرمايي: (وَفِي ٱلرِّقَابِ) دلته ايجاز بالحذف دى معنى يې دا چې په خلاصولو دغاړو کې يعني دبنديانو په را خلاصولو کې همدارنګه (الرقاب) په کلمه کې مرسل مجاز دى چې جز ذکر شوى او مراد څني کل دى يعني يوازې غاړه را ورل شوې مقصد څني تول بدن دې.

۳. پدې جمله کې چې فرمايي: (وَٱلصَّٰبِرِينَ فِي ٱلْبَأْسَآءِ) اصل خو داؤو چې مرفوع ذکر شوى واى لکه: (وَٱلْمُوفُونَ بِعَهْدِهِمْ) خو دلته يې په ځانګړي توګه نصب ورکړى او دبلغاؤو ترمنځ داسې اسلوب د(قطع) په نامه پيژندل شوى هغه دا چې کله دمدح او يا ذم صفتونه ذکر شي او په اعراب کې يې بدلون او تغير څرګند شي نو تفنن ګڼل کيږي ځکه له معلوم څخه تغير په زيات اهتمام او اعتناء دلالت کوي چې او ريدونکى ورته ښه ځير او تشويق شي.

۴. (أُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ صَدَقُواْ) په دغه جمله کې خبر دماضي فعل راغلى چې تحقيق افاده کړى او دا چې دغه کار له دوى څخه واقع شوى دى په دوهمه جمله کې خبر جمله اسميه راغلې چې: (وَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلْمُتَّقُونَ) تر څو په ثبوت دلالت وکړي او چې دغه يې ګواکې خوى خاصيت دى سر بيره پردې دفاصلې رعايت هم پکې شوى دى.

۵. پدې قول کې چې فرمايي: (حَقًّا عَلَى ٱلْمُتَّقِينَ) دا دهڅوني او راپاروني لپاره ده.

۶. پدې کلماتو کې چې فرمايي: (اتباع) او (اداء) او (حر) او (عبد) دطباق صنعت راوړل شوى دى.

فوائد او ګټې:

لومړۍ فائده: دا چې الله ﷻ داخوت په کلمه سره ذکر فرمايلي: (فَمَنْ عُفِيَ لَهُۥ مِنْ أَخِيهِ شَيْءٌ) ددې لپاره ده چې ديني ورورولي ورپه ياد کړي الله پاک قاتل دمقتول دولي ورور ياد کړى تر څو مينه او عواطف يې يو له بله سره وېښ کاندي او ترمنځ يې عفو او يا ورکړه د ديت په ښه وجه او اخيستل په احسان سره تر سره شي.

دوهمه فائده: په بني اسرائيلو کې يوازې قصاص ؤو او ديت پکې روانه ؤو او په نصارا ؤو کې بيا ديت ؤو خو قصاص پکې نه ؤو الله ﷻ دغه محمدي امت دقصاص ، ديت او عفو بخښنښ په هکله اختيار لرونکى جوړ کړ او دا ګواکې دمحمدي شريعت على صاحبها الف الف صلوة وسلام آسانتيا څرګندوي.

دريمه فائده: دبديع او بيان پوهان او علماء په دې کې اتفاق لرى چې دا آيت شريف چې فرمايي: (وَلَكُمْ فِي ٱلْقِصَاصِ حَيَوٰةٌ يَٰٓأُوْلِي ٱلْأَلْبَٰبِ) دبلاغت په لوړو پوړيو کې ده او له عربو څخه دهمدې مقصد په هکله يو بل متل رانقل شوى چې وايي: (القتل انفىٰ للقتل) خو په قرآنکريم کې دحکمت له کبله دحسن بيان له پلوه بهتري او فضل شته که غواړې چې دقرآني بلاغت په بهتري او په لوړه مرتبه يې له هغه کلام څخه چې بلغاء او اديبان يې وايي خبر شي نو دغو دوو عبارتو نو ته وګوره هله به بيا تاته داعجاز له ډېرو هغه څه درڅرګند شي چې دخالق او مخلوق دکلام ترمنځ څومره توپير موجود دى ؟ قرآني حکمت دڅوندانه سبب قصاص بللى او هغه دبرابرې وژلوته وايي چې دقتل په سبب قاتل ووژل شي او عربي متل دژوندانه سبب قتل بللى او قتل خو هغه دى چې په ظلم هم وي نو به دتباه کيدلو سبب وى خو دهمدغه عبارت تصحيح دا ډول کيداى شي چې ووايي: (القتل قصاصا انفىٰ للقتل ظلما) يعني هغه قتل چې دقصاص وي هغه دهغه قتل ورکونکي دى کوم چې په ظلم تر سره شوى وى آيت شريف له تکرار څخه پرته راغلى او په متل کې دقتل کلمه دوه ځله تکرار راغلې چې هغه دروندوالى او ثقل پکې پروت

دی کوم چي په آیت شریف کي نشته او له نورو باریکو توپیرونو څخه یو دا هم دی چي آیت شریف قصاص دژوندانه سبب ګڼلی او متل قتل او وژل دقتل دورکولو سبب بللی هغه چي دژوندانه مستلزم نه دی ، علمائ کرامو په شمیر سل دوله توپیرونه دقرآني آیت شریف او دعربي متل ترمنځ ذکر کړی چي سیوطي په اتقان نومي کتاب کي راوړی که زړه دی وی هلته یې وګوره چي تنده دي ماته شي.

الله تعالی فرمایي:

﴿ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُتِبَ عَلَيْكُمُ الصِّيَامُ كَمَا كُتِبَ عَلَى الَّذِينَ مِن قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ (١٨٣)
أَيَّامًا مَّعْدُودَاتٍ فَمَن كَانَ مِنكُم مَّرِيضًا أَوْ عَلَىٰ سَفَرٍ فَعِدَّةٌ مِّنْ أَيَّامٍ أُخَرَ وَعَلَى الَّذِينَ يُطِيقُونَهُ فِدْيَةٌ
طَعَامُ مِسْكِينٍ فَمَن تَطَوَّعَ خَيْرًا فَهُوَ خَيْرٌ لَّهُ وَأَن تَصُومُوا خَيْرٌ لَّكُمْ إِن كُنتُمْ تَعْلَمُونَ (١٨٤) شَهْرُ رَمَضَانَ الَّذِي
أُنزِلَ فِيهِ الْقُرْآنُ هُدًى لِّلنَّاسِ وَبَيِّنَاتٍ مِّنَ الْهُدَىٰ وَالْفُرْقَانِ فَمَن شَهِدَ مِنكُمُ الشَّهْرَ فَلْيَصُمْهُ وَمَن
كَانَ مَرِيضًا أَوْ عَلَىٰ سَفَرٍ فَعِدَّةٌ مِّنْ أَيَّامٍ أُخَرَ يُرِيدُ اللَّهُ بِكُمُ الْيُسْرَ وَلَا يُرِيدُ بِكُمُ الْعُسْرَ
وَلِتُكْمِلُوا الْعِدَّةَ وَلِتُكَبِّرُوا اللَّهَ عَلَىٰ مَا هَدَاكُمْ وَلَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ (١٨٥) وَإِذَا سَأَلَكَ عِبَادِي
عَنِّي فَإِنِّي قَرِيبٌ أُجِيبُ دَعْوَةَ الدَّاعِ إِذَا دَعَانِ فَلْيَسْتَجِيبُوا لِي وَلْيُؤْمِنُوا بِي لَعَلَّهُمْ يَرْشُدُونَ (١٨٦) أُحِلَّ لَكُمْ
لَيْلَةَ الصِّيَامِ الرَّفَثُ إِلَىٰ نِسَائِكُمْ هُنَّ لِبَاسٌ لَّكُمْ وَأَنتُمْ لِبَاسٌ لَّهُنَّ عَلِمَ اللَّهُ أَنَّكُمْ كُنتُمْ تَخْتَانُونَ أَنفُسَكُمْ
فَتَابَ عَلَيْكُمْ وَعَفَا عَنكُمْ فَالْآنَ بَاشِرُوهُنَّ وَابْتَغُوا مَا كَتَبَ اللَّهُ لَكُمْ وَكُلُوا وَاشْرَبُوا حَتَّىٰ يَتَبَيَّنَ لَكُمُ الْخَيْطُ الْأَبْيَضُ
مِنَ الْخَيْطِ الْأَسْوَدِ مِنَ الْفَجْرِ ثُمَّ أَتِمُّوا الصِّيَامَ إِلَى اللَّيْلِ وَلَا تُبَاشِرُوهُنَّ وَأَنتُمْ عَاكِفُونَ فِي الْمَسَاجِدِ تِلْكَ حُدُودُ اللَّهِ
فَلَا تَقْرَبُوهَا كَذَٰلِكَ يُبَيِّنُ اللَّهُ آيَاتِهِ لِلنَّاسِ لَعَلَّهُمْ يَتَّقُونَ (١٨٧) ﴾ البقرة: ١٨٣ - ١٨٧

مناسبت او تړاو:

الله تعالی په تیرو آیتونو کي دقصاص حکم راووړ بیا یې وروسته ... یت کول مور او پلار او خپلوانو ته ذکر کړل وروسته یې دروژې احکام په تفصیلي توګه بیان کړل ځکه دسورت دغه برخه په شرعي احکامو مشتمله ده ، او څرنګه چي روژه ددین له ډیرو مهمو ارکانو څخه ده الله ﷻ دلته ذکر کړه تر څو خپلو بندګانو ته دسپیڅلتیا پړاوونه او دنیکانو متقیانو معراجونه ورکړي.

لغتونه: (الصیام) په لغت کي امساک ته ویل کیږي ابو عبیده وایي چي هر څوک چي له خوړلو څښلو ، خبري کولو او له تګ کولو څخه امساک کوي ورته صائم ویلی شي ، په شرعي اصطلاح کي دورځي په اوږدو کي له خوړلو څښلو او جماع څخه دروژې په نیت ځان ساتل دی ، (یطیقونه) یعني هغه چي په مشکل او تکلیف روژه نیسي راغب وایي طاقت هغه اندازې کارته وایي چي انسان یې دکولو امکان سره له تکلیفه ویني ځکه نو له طوق سره مشابه ګڼل شوې چي په یو شی راګرځیدلې وي(١) (فدیة) بدل هغه چي انسان یې دخپل ځان په بدل کي مال

(١) مفردات القرآن للراغب ص٣١٢.

ورکوي (شهر) له اشتهار څخه اخیستل شوې او څرګندوالی ته وایي (رمضان) له رمض څخه ده او سختي ګرمي او تودوخي ته وایي او دروژې میاشت ځکه رمضان وبلل شوه چي هغه دمسلمانانو ګناهونه سیځي (الرفث) جماع او دهغې اسبابو ته وایي (رفث) په اصل کي بد و خبروته وایي خو دلته له کوروالي (جماع) څخه کنایه راغلې ده (تختانون) په لسان العرب کي وایي چي (خانه واختانه او مخانة) له خیانت څخه اخیستل شوې او دامانت ضد دی له یو چا څخه دتوري په هکله وپوښتل شول چي هغه په خواب کي ورته وویل: چي دورور لپاره دی هم ده که یې ستا (په ناموس کي) خیانت کاوو (عاکفون) اعتکاف په لغت کي درنګ کولو او ملازمت ته وایي خو په شرعي اصطلاح کي په مسجد کي دعبادت لپاره پاتي کیدلو ته اعتکاف وایي (حدود الله) حد په لغت کي منع ته وایي او په اصل کي ددوو متقابلو او مخامخ شیانو تر منځ بیلونکي څیز یا علامې ته حد وایي شرعي احکامو ته چي حد ود وویل شول دوې هم دحق او باطل بیلوونکي دی.

دنزول سبب:

روایت دی: چي یوې تولۍ صحرایي اوسیدونکو اصحابانو له رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وکړه چي: اې محمده ازموږ رب نژدې ده چي ورسره مناجات وکړو او که لیري دی چي ورته ناري کړو؟ بیا الله ﷻ دا آیت نازل کړ: (وَإِذَا سَأَلَكَ عِبَادِى عَنِّى فَإِنِّى قَرِيبٌ) دآیت شریف تر پایه.

تفسیر:

﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ﴾ اې مؤمنانو! دایمان په لفظ یې ورته غږ کړ تر څو چي دطاعت مشاعر یې راوپاروي او دایمان سکروته یې لمبه او بل کړي ﴿ كُتِبَ عَلَيۡكُمُ ٱلصِّيَامُ ﴾ فرض کړی شوی ده پر تاسي باندی روژه (درمضان دمیاشتی) ﴿ كَمَا كُتِبَ عَلَى ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِكُمۡ ﴾ لکه چي فرض کړی شوی وو پر هغو کسانو چي پخوا له تاسي څخه ؤو (هغه پخواني امتونه) ﴿ لَعَلَّكُمۡ تَتَّقُونَ ﴾ لپاره ددې چي تاسو دالله متقیان بندګان جوړ شي هغه چي دالله له محارمو ځان ژغوری ﴿ أَيَّامًا مَّعۡدُودَٰتٍ ﴾ یو څو ورځي شمیرلې شوې یعني دروژې ورځي لږدي تول عمر خو درباندی فرض نه ده او دا په تاسي باندی درحمت پیرزوینه او اسانتیا ده ﴿ فَمَن كَانَ مِنكُم مَّرِيضًا أَوۡ عَلَىٰ سَفَرٍ فَعِدَّةٌ مِّنۡ أَيَّامٍ أُخَرَ ﴾ پس هر څوک چي وي له تاسي څخه ناروغ او یا په سفر روان او روژه ونه نیسي) نو (پر ده باندی لازم ده روژه نیول دخوړلیو شپو) له نورو ورځو چي قضا به یې راوړي ﴿ وَعَلَى ٱلَّذِينَ يُطِيقُونَهُۥ فِدۡيَةٌ طَعَامُ مِسۡكِينٍ ﴾ او هغه کسان چي دروژې نیولو توان لري (خو له مشقت او تکلیف سره چي یا بوډا او یا ضعیف وی) فدیه ورکول دي خوراک دیوه مسکین په بدل دهري ورځي روژه خوړلو کي ﴿ فَمَن تَطَوَّعَ خَيۡرًا ﴾ پس هرڅوک چي پخپله خوښه کومه نیکي وکړي یعني له دغي پیمانې دیو مسکین خوراک زیات څه ورکړي ﴿ فَهُوَ خَيۡرٌ لَّهُۥ ﴾ نو دغه بهتره ده ده لره الله تعالی فرمایي: ﴿ وَأَن تَصُومُواْ خَيۡرٌ لَّكُمۡ إِن كُنتُمۡ تَعۡلَمُونَ ﴾ او روژه نیول ستاسي (سره دافطار له رخصته) ډیر بهتر دی تاسي لره (له خوړلو څخه) که چیري یې تاسي چي پوهیږئ چي په روژه کي څومره اجر او فضلیت شته بیا الله ﷻ دروژې میاشت او وخت بیانوي ﴿ شَهۡرُ رَمَضَانَ

ٱلَّذِيٓ أُنزِلَ فِيهِ ٱلۡقُرۡءَانُ هُدٗى لِّلنَّاسِ وَبَيِّنَٰتٖ مِّنَ ٱلۡهُدَىٰ وَٱلۡفُرۡقَانِ ﴾ (دروژې میاشت هغه ده چې نازل کړی شوی دی پدې کې قرآن چې هدایت دی لپاره دخلګو او دلیلونه دی ښکاره چې هغه لاره ښیي او بیلونکي دحق او باطل دی) یعنی هغه شمیرلی ورځي چې په تاسو یې روژه نیول فرض کړی شوی دی اې مؤمنانو (هغه میاشت ده چې دقرآن کریم دنزول پیل په کې شوی دی هغه چې دخلګو لپاره لار ښود او په کې ارشاد او اعجاز موجود دی دلار میندلو څرګند دلائل پکښې شته او دحق او باطل بیلونکي دی ﴿ فَمَن شَهِدَ مِنكُمُ ٱلشَّهۡرَ فَلۡيَصُمۡهُۖ ﴾ نو هر څوک چې ومومي له تاسي (اې مکلفینو) دا میاشت نو ضروري ده چې روژه ونیسي دهغې (میاشتي) ﴿ وَمَن كَانَ مَرِيضًا أَوۡ عَلَىٰ سَفَرٖ فَعِدَّةٞ مِّنۡ أَيَّامٍ أُخَرَۗ ﴾ او څوک چې له تاسي څخه ناروغ او یا په سفر روان وي نو پر ده باندی دی (روژه نیول) په شمار (دخوړل شو و روژو) له نورو ورځو څخه او دا یې تکرار ذکر کړ چې څوک داسي ګومان ونکړي چې پخوانی همدا حکم به دمیاشتي دموندلو په عمومي حکم چې روژي نیول دی نسخ شوی وی ﴿ يُرِيدُ ٱللَّهُ بِكُمُ ٱلۡيُسۡرَ وَلَا يُرِيدُ بِكُمُ ٱلۡعُسۡرَ ﴾ اراده لري الله په تاسي باندی دآسانتیا او اراده نلري په تاسي باندی دسختي یعني الله په دغه رخصت کي ستاسي آسانتیا اراده کړې دتکلیف او مشقت اراده او غوښتنه یې نه ده ﴿ وَلِتُكۡمِلُواْ ٱلۡعِدَّةَ ﴾ او لپاره ددې چې پوره کړي (تاسي په قضا اوړلو سره) شمار (دروژې دمیاشتي) ﴿ وَلِتُكَبِّرُواْ ٱللَّهَ عَلَىٰ مَا هَدَىٰكُمۡ ﴾ او چې په لویي سره یاد کړئ الله پدې چې هدایت یې کړی دی تاسي ته. ﴿ وَلَعَلَّكُمۡ تَشۡكُرُونَ ﴾ او دپاره ددې چې تاسي شکر وباسئ دالله ﷻ دفضل او احسان... بیا الله ﷻ داسي وفرمایل: چې هغه بلونکوته نژدې دی دهغوی دعاګاني مني او دحاجتمندو حاجتونه پوره کوي ﴿ وَإِذَا سَأَلَكَ عِبَادِي عَنِّي فَإِنِّي قَرِيبٌۖ ﴾ او کله چې پوښتنه وکړي له تا څخه (اې محمده!) بندګان زما (له لیري والي او نژدې والي) زما نو بیشکه زه نژدې یم) یعني زه له دوی سره یم دعاګاني یې اورم او بیوزلي او عجز تضرع یې وینم او درباندې پوه یم چې څه حال یې دی لکه چې بل ځای فرمایي: ﴿ وَنَحۡنُ أَقۡرَبُ إِلَيۡهِ مِنۡ حَبۡلِ ٱلۡوَرِيدِ ﴾ [ق: ١٦] ﴿ أُجِيبُ دَعۡوَةَ ٱلدَّاعِ إِذَا دَعَانِۖ ﴾ (قبلوم سوال دغوښتونکي په هغه وخت کي چې وبولي ما) یعني کله چې یې غوښتنه له ایمان او دزړه له خشوع سره جوخته وي زه یې قبلوم ﴿ فَلۡيَسۡتَجِيبُواْ لِي وَلۡيُؤۡمِنُواْ بِي لَعَلَّهُمۡ يَرۡشُدُونَ ﴾ نو ښایي چې دوی هم ومني حکم زما او ټینګ دی اوسي په ایمان په ما باندی ښایي چې دوی په سمه لار باندی محکم پاتي شي یعنی که چیري زه ستاسو غني پالونکی پروردګار یم ستاسي دعاوي منم نو تاسي زما بلني ته غاړه کښیږدئ چې دایمان او طاعت بلنه درکوم په ایمان باندی ثابت اوسئ تر څو نیکمرغه راشدین پاتي شئ، بیا الله دروژې دنورو حکمونو دبشپړولو بیان وروسته له هغه چې دنزدیکت او دعا منلو ارشاد یې وکړ داسي پیل کړ ﴿ أُحِلَّ لَكُمۡ لَيۡلَةَ ٱلصِّيَامِ ٱلرَّفَثُ إِلَىٰ نِسَآئِكُمۡۚ ﴾ حلال کړي شوی دی تاسي ته په شپه کي دروژې بو ځای والی (جماع) له خپلو ښځو (میرمنو) ﴿ هُنَّ لِبَاسٞ لَّكُمۡ وَأَنتُمۡ لِبَاسٞ لَّهُنَّۗ ﴾ (دوی لباس دی تاسي لره او تاسي لباس (جامې) یې دوی لره) ابن عباس رضي الله عنهما وایي چې دوی ستاسي

لپاره سکن ارامتیا او تاسي ددوی لپاره یاست ﴿ عَلِمَ ٱللَّهُ أَنَّكُمْ كُنتُمْ تَخْتَانُونَ أَنفُسَكُمْ ﴾(معلوم دی الله ته چي بیشکه تاسي یی، چي خیانت کوی، په ځانو نو خپلو) یعني دا چي دروژې په شپو کي کوروالي (جماع) کوی، او دا د اسلام په پیل کي حرام وه بیا وروسته نسخ شوه بخاري رحمه الله له براء رضي الله عنه څخه روایت کوي چي هغه وویل: کله چي به درمضان میاشت رابره شوه نو به ټوله میاشت میرمنو ته نه نژدې کیدل (جماع به یې ورسره نه کوله) خو ځینو کسانو به بیا خیانت کاؤو په ځانونو خپلو (کوروالي به یې کاؤو) نو الله جل جلاله دا آیت شریف نازل کړ. ﴿ فَتَابَ عَلَيْكُمْ وَعَفَا عَنكُمْ ﴾ستاسی توبه یې قبوله کړه او ښننه یې وکړه له تاسي دتیر شوي خیانت تر پخوا دمنسوخ کیدلو) ﴿ فَٱلْـَٔـٰنَ بَـٰشِرُوهُنَّ وَٱبْتَغُوا۟ مَا كَتَبَ ٱللَّهُ لَكُمْ ﴾ نو اوس جماع کوی، له خپلو ښځو سره او وغواړي هغه څه چي لیکلي دی الله ستاسي لپاره یعني تاسي له هغوی سره یوازي دشهواني غریزې داشباع لپاره جماع مه کوی، بلکه دهغوی په جماع سره داولاد غوښتنه کوی. ﴿ وَكُلُوا۟ وَٱشْرَبُوا۟ حَتَّىٰ يَتَبَيَّنَ لَكُمُ ٱلْخَيْطُ ٱلْأَبْيَضُ مِنَ ٱلْخَيْطِ ٱلْأَسْوَدِ مِنَ ٱلْفَجْرِ ﴾ (او خوری، او څښی، تاسي تر هغه پوري چي ښکاره شي تاسي ته تار سپین (جلا) له تاره توره (چي سپین تار) عبارت له سبا څني (دی) ﴿ ثُمَّ أَتِمُّوا۟ ٱلصِّيَامَ إِلَى ٱلَّيْلِ ﴾(بیا پوره کړی، روژه تر شپې پوري) یعني دلمر تر ډوبیدلو پوري له خوړلو څښلو او کوروالي (جماع) څخه ځان وساتی. ﴿ وَلَا تُبَـٰشِرُوهُنَّ وَأَنتُمْ عَـٰكِفُونَ فِى ٱلْمَسَـٰجِدِ ﴾او مه نژدې کیږی، ښځو ته (په جماع سره) حال دا چي تاسي معتکفان یې په مسجد ونو کي) یعني کله چي معتکفین یاست مه په شپه او مه په ورځ کي ښځو ته نژدې کیږي﴿ تِلْكَ حُدُودُ ٱللَّهِ فَلَا تَقْرَبُوهَا ﴾(دا احکام او حدود دالله دی نو مه نژدې کیږی، دوی ته (په ماتولو سره) یعني دغه دالله اوامر او زواجر دی هغه چي ستاسو لپاره یې ټاکلي نو مخالفت یې مه کوی، ﴿ كَذَٰلِكَ يُبَيِّنُ ٱللَّهُ ءَايَـٰتِهِۦ لِلنَّاسِ لَعَلَّهُمْ يَتَّقُونَ ﴾همداسی بیانوي الله آیتونه خپل لپاره دخلکو چي دوی ځان وساتي (ددې حدودو له مخالفته) او محارمو څخه.

بلاغت:

١ - پدې آیت شریف کي چي فرمایي (كَمَا كُتِبَ...) تشبیه په فرضیت کښي ده نه په کیفیت او څرنګوالي کي یعني همدا سی فرض شوي لکه چي فرض شوی دی په پخوانیو امتونو او دغي تشبیه ته مرسله مجمله وایي.

٢ - (فَمَن كَانَ مِنكُم مَّرِيضًا أَوْ عَلَىٰ سَفَرٍ) دلته ایجاز بالحذف دی یعنی (من کان مریضا فافطر او علی سفر فافطر فعلیه قضاء ایام بعدد ما افطر) یعني څوک چي ناروغ وي روژه وخوري او یا په سفرروان وی ویې خوري نو په ده باندي د همدغو خوړل شوو شپو قضایي روژه نیول شته.

٣ - (وَعَلَى ٱلَّذِينَ يُطِيقُونَهُۥ) دجلالین شریف په تفسیر کي یې د (لا) کلمه ورسره مقدر کړې (لایطیقونه) خو دغه تقدیر ته ضرورت نشته ځکه دآیت معنا داده چي له مشقت سره یې توان لري او دا لکه بوډا او تی ورکونکي (مرضعه) مور او یا هم امیدواره میرمن دوی خو روژه نیولای شي لکن له زیات تکلیف سره او طاقت دهغه څه نوم دی څوک چي دیو کار توان سره له تکلیفه او سختي لري.

۴ - د الله ﷻ په دې کلام کې چې فرمايي: (يُرِيدُ ٱللَّهُ بِكُمُ ٱلْيُسْرَ وَلَا يُرِيدُ بِكُمُ ٱلْعُسْرَ) د (طباق السلب) صنعت چې له بديعي محسناتو څخه ګڼل کيږي راغلې دی.

۵ - (ٱلرَّفَثُ إِلَىٰ نِسَآئِكُمْ) الرفث له جماع (کوروالي) څخه کنايه او په الی باندی متعدي شوې ځکه چې د افضاء معنی پکي نغښتې شوې ده هغه چې خلوت ته وايي او دا له کناياتو څخه شميرل کيږي لکه دا قول دالله تبارک وتعالی:) (فلما تغشاها) او يا دا چې: (فأتوا حرثکم) او يا دا: (فالآن باشروهن) ابن عباس ﷺ وايي چې الله عز وجل کريم او حکيم دی کنايه راوړي.(روائع البيان ۱/۱۹۰ تلخيص البيان ص ۱۲).

۶ - پدې آيت کې چې فرمايي (هُنَّ لِبَاسٌ لَّكُمْ وَأَنتُمْ لِبَاسٌ لَّهُنَّ) دلته ښکلې استعاره ده ځکه هر يو دميره او ميرمني يې له لباس سره تشبيه کړې چې يو په بل رانغاړل شوې وي لکه لباس او جامې غوندې چې په اغوستونکي راتاو شوي وي نو لباس استعاره ده. (الکشاف ۱/۱۷۵).

۷ - شريف رحمه الله وايي چې پدې کلام کې چې فرمايي (ٱلْخَيْطُ ٱلْأَبْيَضُ مِنَ ٱلْخَيْطِ ٱلْأَسْوَدِ) پدې کې عجيبه استعاره ده چې مراد څنې (دسباؤون سپين والی او دشپې توروالی دی او دوه تارونه مجاز راغلی او دوی يې ځکه تشبيه کړل ځکه چې دسهار سپين والی په اول ختلو کې وي چې نری ځليږي او دشپې توروالی تلونکی او ختميدونکی وی نو دواړه ډير ضعيف خو دا لومړی خپريږي او زياتيږي او دادوهم زياتره پسی پټيږي او زمخشري بيا وايي چې دغه بليغه تشبيه ده.

ګټې او فائدې:

لومړی فائده: له حسن رحمه الله څخه روايت شوی چې هغه ويلي: الله تعالی درمضان روژه په نصاراؤو او يهودانو فرض کړې وه خو يهودانو پريښوده او په کال کې به يې يوه ورځ روژه نيوله ګومان يې کاوو چې دغه ورځ دفرعون ډوبيدلو ده ، او نصاراؤو درمضان روژه نيوله خو يووخت له سختې ګرمي سره يې سمون راغی نو دوی داسي وخت ته واړوله چې تغير نه مني او بيا يې وويل چې موږ به يې زياته نيسو لس ورځ يې ورباندی زياتي کړې او بيا وروسته له څه مودې يې پاچا ناروغ شو اووه روژې يې نذر کښيښودې او زياتي يې کړې بيا بل پاچا راغی نو ويل دغه درې ډوله څه معنی پوره پنځوس يې کړې او دا دالله ﷻ هغه قول دی چې فرمايي: (ٱتَّخَذُوٓاْ أَحْبَارَهُمْ وَرُهْبَٰنَهُمْ أَرْبَابًا) (التفسير الکبير ۵/۷۲).

دوهمه فائده: حافظ ابن کثير وايي چې دالله ﷻ له لوري ددې آيت چې په دعا باعث دې دروژې داحکامو په منځ کې راوړل ددې ارشاد کوي چې په دعا کې زيارو ايستل شي کله چې شمير بشپړ شي بلکه په هر روژه ماتي کې دی دعا وشي ځکه په حديث کې راځي چې روژه لرونکي لره دروژه ماتي په وخت کې دعا منل کيږي او عبدالله بن عمر چې به کله روژه ماتوله داسي به يې ويل: (اللهم اني اسألک برحمتک التي وسعت کل شئ ان تغفرلي).

دريمه فائده: په ظاهر کې خو ددغې جملې چې: (وَإِذَا سَأَلَكَ عِبَادِى عَنِّى) معنا داده چې دوی دالله په باب پوښتنه کوله او پوښتنه له ذات څخه نه بلکه له حالاتو څخه وي نو چې دا په ځواب کې راځي (فَإِنِّى قَرِيبٌ) په دې دلالت کوي چې دوی له نژديوالي او ليري والي څخه پوښتنه کوله او همدارنګه ځواب په (قل) سره او يا په (فقل) سره ندی راغلی لکه چې په نورو پوښتنو کې به راتو لکه: (وَيَسْـَٔلُونَكَ عَنِ ٱلْجِبَالِ فَقُلْ يَنسِفُهَا رَبِّى نَسْفًا) بلکه

الله پخپله خواب ورکوي چې بيخي نژدې والی يې څرګند شي او دا چې له هر پوښتونکي سره يوځای دی چې اجابت يې واسطې ته اړتيا نلري.

څلورمه فائده: امام ابن تيميه رحمه الله وايي چې (الله له عرش نه دپاسه په خلګو څارندوی مهيمن او خبردار دی او په دې کې هغه ايمان چې الله خپل مخلوق ته نژدې دی داخليږي) په صحيح احاديثو کې راغي چې هغه څوک چې تاسې يې بولئ (ورته دعا کوئ) تاسو ته ستاسې دکجاوې ترغاړه نژدې ده (ان الذي تدعونه اقرب الی احدکم من عنق راحلته) او هغه چې په کتاب او سنت کې دالله ﷻ دمعيت او نژدې والي په هکله راغلي له دې سره منافي نه دی چې الله څومره لوړ دی څکه چې سبحانه وتعالی ليس کمثله شي دی.

پنځمه فائده: الله پاک له جنسي مباشرت څخه هغه چې دميره او خپلې ميرمنې تر منځ وی په يو لوړ او پاسته تعبير بيان وفرمايه تر څو موږ ته په ټولو هغو امورو کې چې دميرمنو او جنس په باب وی تعليم راکړي څکه ابن عباس رضي الله عنهما وايي: (ان الله عزوجل کريم حليم يکنی) يعنی الله عزوجل کريم او حليم دی کنايه فرمايي.

الله تعالی فرمايي:

﴿ وَلَا تَأْكُلُوٓا۟ أَمْوَٰلَكُم بَيْنَكُم بِٱلْبَٰطِلِ وَتُدْلُوا۟ بِهَآ إِلَى ٱلْحُكَّامِ لِتَأْكُلُوا۟ فَرِيقًا مِّنْ أَمْوَٰلِ ٱلنَّاسِ بِٱلْإِثْمِ وَأَنتُمْ تَعْلَمُونَ ﴿١٨٨﴾ ۞ يَسْـَٔلُونَكَ عَنِ ٱلْأَهِلَّةِ ۖ قُلْ هِىَ مَوَٰقِيتُ لِلنَّاسِ وَٱلْحَجِّ ۗ وَلَيْسَ ٱلْبِرُّ بِأَن تَأْتُوا۟ ٱلْبُيُوتَ مِن ظُهُورِهَا وَلَٰكِنَّ ٱلْبِرَّ مَنِ ٱتَّقَىٰ ۗ وَأْتُوا۟ ٱلْبُيُوتَ مِنْ أَبْوَٰبِهَا ۚ وَٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ ﴿١٨٩﴾ وَقَٰتِلُوا۟ فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ ٱلَّذِينَ يُقَٰتِلُونَكُمْ وَلَا تَعْتَدُوٓا۟ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يُحِبُّ ٱلْمُعْتَدِينَ ﴿١٩٠﴾ وَٱقْتُلُوهُمْ حَيْثُ ثَقِفْتُمُوهُمْ وَأَخْرِجُوهُم مِّنْ حَيْثُ أَخْرَجُوكُمْ ۚ وَٱلْفِتْنَةُ أَشَدُّ مِنَ ٱلْقَتْلِ ۚ وَلَا تُقَٰتِلُوهُمْ عِندَ ٱلْمَسْجِدِ ٱلْحَرَامِ حَتَّىٰ يُقَٰتِلُوكُمْ فِيهِ ۖ فَإِن قَٰتَلُوكُمْ فَٱقْتُلُوهُمْ ۗ كَذَٰلِكَ جَزَآءُ ٱلْكَٰفِرِينَ ﴿١٩١﴾ فَإِنِ ٱنتَهَوْا۟ فَإِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿١٩٢﴾ وَقَٰتِلُوهُمْ حَتَّىٰ لَا تَكُونَ فِتْنَةٌ وَيَكُونَ ٱلدِّينُ لِلَّهِ ۖ فَإِنِ ٱنتَهَوْا۟ فَلَا عُدْوَٰنَ إِلَّا عَلَى ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿١٩٣﴾ ٱلشَّهْرُ ٱلْحَرَامُ بِٱلشَّهْرِ ٱلْحَرَامِ وَٱلْحُرُمَٰتُ قِصَاصٌ ۚ فَمَنِ ٱعْتَدَىٰ عَلَيْكُمْ فَٱعْتَدُوا۟ عَلَيْهِ بِمِثْلِ مَا ٱعْتَدَىٰ عَلَيْكُمْ ۚ وَٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ وَٱعْلَمُوٓا۟ أَنَّ ٱللَّهَ مَعَ ٱلْمُتَّقِينَ ﴿١٩٤﴾ وَأَنفِقُوا۟ فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ وَلَا تُلْقُوا۟ بِأَيْدِيكُمْ إِلَى ٱلتَّهْلُكَةِ ۛ وَأَحْسِنُوٓا۟ ۛ إِنَّ ٱللَّهَ يُحِبُّ ٱلْمُحْسِنِينَ ﴿١٩٥﴾ ﴾ البقرة: ۱۸۸ - ۱۹۵

مناسبت او تړاو:

کله چې الله ﷻ په تيرو آيتونو کې دروژې احکام بيان کړل او مسلمانانو ته يې درمضان دمياشتې په شپو کې په خوړلو څښلو او کوروالي (جماع) رواوالی وښود وروسته يې دحرام مال خوړل ناروا وګڼل چې بغير حق مالونه خوړل او په هغه ګټه اخيستل نه خو په روژه کې روا ده او نه هم بې له روژې او لکه چې دروژې په هکله دمياشتې دليدلو خبره کيږي او دا نو بيا ګواکي دخلګو په زړه کې دمياشتې په هکله پوښتنه راپاروي چې مياشتې پخپله څه دي؟ څکه دا آيتونه فرمايي چې: مياشتې دعبادتونو لپاره که روژه وي او که نور ثوابي کړه وړه ټاکلي شوې دي.

لغتونه:

(الباطل) په لغت كې تلونكي او وركيدونكي ته وايي ويل كيږي (بطل الشئ بطولا فهو باطل) يعني باطل شوى وو يو شى ، او په شرعي اصطلاح كې حرام مال لكه دغصب ، غلا ، قمار ، جواري، او ربا (سود) ته باطل ويل كيږي (وتدلوا) له ادلاء څخه اخيستل شوى په اصل كې دسلواغې څړول په كوهي كې يې معنى ده خو بيا وروسته دهر قول او فعل دتر سره كولو او دمال وركولو ته (ادلا) وويل شوه لكه چې وايي: (ادلىٰ بحجته) يعني خپل دليل يې وړاندې كړ ، او دلته يې معنى وركول دى درشوت لپاره (الاهلة) دهلال جمع ده او هغه دسپوږمى دلومړني ليدني په حالت كى هلال بولي چې بيا وروسته قمر او بيا كله چې ځلا يې بشپړه شي بدر بلل كيږي (مواقيت) دميقات جمع او هغه وخت ته وايي لكه ميعاد چې دوعد ى په معنا وي او چا بيا ويلي چې ميقات دوخت منتها ته وايي (ثقفتموهم) دموندلو او بري وربانديٍ تر لاسه كولو ته وايي كله چې وويل شي (رجل ثقفٌ) معنا يې داده چې ژرنيوونكي ترخپلو همزولو. (التهلكة) هلاكت او تباهي ته وايه شي.

دنزول سبب:

روايت كيږي چې ځينى اصحابانو رسول الله ﷺ ته وويل چې: ولي سپوږمى په لمړي پيل كي باريكه او نرى لكه تار ليدل كيږي او ورو ورو زياتيږي تر څو چې ډكه او پوره شي بيا وروسته تل كميږي آن تر دې چې هغه پخواني حالت ته ورسيږي دلمر په شان نه ده چې په يو حالت باندى وى نو دا آيت شريف نازل شو: (يَسْـَٔلُونَكَ عَنِ ٱلْأَهِلَّةِ) (الرازي ۱۳۲/٥-اسباب النزول للواحدي ص۲۸).

روايت كاوه شي چې انصارو به كله احرام وتاړه نو به خپل كورته له دروازې څخه نه راتلو بلكه له شاخوا به په كوم سوري را دننه شول يا به په زينو راوختل كورته به راغلل دا عمل به يې دجاهليت په وخت كي كا وو چې الله ﷻ دا آيتونه نازل كړل (وَلَيْسَ ٱلْبِرُّ بِأَن تَأْتُوا۟ ٱلْبُيُوتَ مِن ظُهُورِهَا).

تفسير:

﴿ وَلَا تَأْكُلُوٓا۟ أَمْوَٰلَكُم بَيْنَكُم بِٱلْبَٰطِلِ ﴾ (اومه خورئ مالونه ستاسي په منځو ستاسو كي په ناحقه سره) يعنى يو دبل مالونه په داسي دول چې الله روا كړي نه وى مه خورى ﴿ وَتُدْلُوا۟ بِهَآ إِلَى ٱلْحُكَّامِ ﴾ او رسوى دا مال تر حاكمانو) چې په رشوت كي يې وركوئ ﴿ لِتَأْكُلُوا۟ فَرِيقًا مِّنْ أَمْوَٰلِ ٱلنَّاسِ بِٱلْإِثْمِ ﴾ دپاره ددې چې وخورى يو څه له مالونو دخلكو ځنى په ظلم (ناحقه سره) ﴿ وَأَنتُمْ تَعْلَمُونَ ﴾ او تاسي پوهيږى (چې دا ظلم دى) يعني دغه په رشوت كي وركول دمال ددې لپاره كوى چې له تاسي سره دناحقه مالونو په خوړلو كي مرسته وكړي ﴿ يَسْـَٔلُونَكَ عَنِ ٱلْأَهِلَّةِ ﴾ (پوښتنه كوي له تا څخه (اې محمد !) له حالة دنويو مياشتو) چې ولي لكه تار نرى معلوميږي او بيا لوييږي او گرديږي بيا كميږي او نرى كيږي تر څو هسي شي لكه چې پخواوه ﴿ قُلْ هِىَ مَوَٰقِيتُ لِلنَّاسِ وَٱلْحَجِّ ﴾ ورته ووايه (اې محمده !) چې دا مياشتي تاكلې شوي وختونه دى لپاره دخلكو او حج) يعنى دا ستاسو دعبادت وختونه او هغه څرگندونكي علامې دى چې تاسي وربانديٍ دروژې حج او زكات وختونه معلوم كړئ ﴿ وَلَيْسَ

﴿ٱلْبِرُّ بِأَن تَأْتُوا۟ ٱلْبُيُوتَ مِن ظُهُورِهَا﴾ او نه ده نيکي چي راځي کوروته دشاله لوري لکه چي به تاسي په جاهليت کي کول) ﴿وَلَٰكِنَّ ٱلْبِرَّ مَنِ ٱتَّقَىٰ﴾ ولکن (خاوند) دنيکي هغه څوک دی چي وويريږي (له الله ﷻ) يعني هغه نيک عمل چي تاسي الله ﷻ ته نژدې کوي هغه دالله ﷻ له محارمو څخه ځان ژغورل دی ﴿وَأْتُوا۟ ٱلْبُيُوتَ مِنْ أَبْوَٰبِهَا﴾ او راځئ کوروته له طرفه ددروازو دهغوی لکه څنګه چي دخلکو دود او عادت دی ﴿وَٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ﴾ او وويريږئ له الله څخه ښايي چي تاسي خلاص شئ دالله ﷻ له عذابه څخه او پخپل مراد ورسيږئ دالله رضا او خوښي مو په نصيب شي ﴿وَقَٰتِلُوا۟ فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ ٱلَّذِينَ يُقَٰتِلُونَكُمْ﴾ او جنګ کوئ په لاره دالله کي له هغو کسانو سره چي جنګ کوي له تاسي سره يعني له کافرانو سره داعلاء کلمة الله لپاره جنګ وکړئ ﴿وَلَا تَعْتَدُوٓا۟ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يُحِبُّ ٱلْمُعْتَدِينَ﴾ او زيادت مه کوئ (په هيڅا باندی ای مؤمنانو) بيشکه چي الله نه خوښوي تيريدونکي له حده) يعني تاسي ددوی سره په جنګ کولو پيل مه کوئ ځکه الله ﷻ ظالمان نه خوښوي دغه ددعوت او بلني په لومړي سر کي شرعي حکم وو او بيا د(براءة) په آيت سره منسوخ شو(وَقَاتِلُوا الْمُشْرِكِينَ كَافَّةً) او چا بيا ويلي چي په هغه آيت منسوخ شوي چي له دې آيته وروسته راځي او فرمايي ﴿وَٱقْتُلُوهُمْ حَيْثُ ثَقِفْتُمُوهُمْ﴾ او ووژنئ دوی هر چيري چي دوی ومومئ که په حل کي او که حرم کي وی ﴿وَأَخْرِجُوهُم مِّنْ حَيْثُ أَخْرَجُوكُمْ﴾ او وباسئ دوی له هغه ځايه چي تاسي يې ايستلی ياست) يعني دوی له خپلو وطنو نو وشړئ او وباسئ لکه چي تاسي يې له مکې ايستلی واست. ﴿وَٱلْفِتْنَةُ أَشَدُّ مِنَ ٱلْقَتْلِ﴾ او فتنه ډيره سخته ده له وژلو څخه) يعني فتنه دمؤمن په دين کي (له دينه څخه اړول) ډير سخت دي تر وژلو يې او يا دا چي دکافرانو کفر ډير سخت او ستر دی تر هغه چي تاسي دوی په حرم کي ووژنئ نو که تاسي ددوی وژل په حرم کي سخت ګڼئ بيا خو ددوی کفر تر دې ډير سخت دی ﴿وَلَا تُقَٰتِلُوهُمْ عِندَ ٱلْمَسْجِدِ ٱلْحَرَامِ حَتَّىٰ يُقَٰتِلُوكُمْ فِيهِ﴾ (او جنګ مه کوئ له دوی سره په نږد دمسجد حرام کي تر څو پوري چي وجنګيږي دوی له تاسي سره په دغه حرم کي) يعني تاسي رومبی ځل په دوی جنګ مه پيل کوئ چي تر څو يي هغوی پيل کړی ﴿فَإِن قَٰتَلُوكُمْ فَٱقْتُلُوهُمْ﴾ پس که جنګ وکړ دوی له تاسي سره نو تاسي جنګ له دوی سره وکړئ) يعني که چيري دوی جنګ پيل کړ بيا ورسره جنګ وکړئ ځکه دوی دحرم شريف حرمت تر پښو لاندي کړ او څوک چي شر پيل کوی هغه ستر ظالم دی ﴿كَذَٰلِكَ جَزَآءُ ٱلْكَٰفِرِينَ﴾ (همداسي جزاء ده دکافرانو) يعني دا حکم جزا دهر کافر ده ﴿فَإِنِ ٱنتَهَوْا۟ فَإِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ﴾ پس که چيري يې منع راوړه (له شر که نو الله به يې وبښي) نو بيشکه الله ډير بخښونکي پوره رحم لرونکی دی ﴿وَقَٰتِلُوهُمْ حَتَّىٰ لَا تَكُونَ فِتْنَةٌ وَيَكُونَ ٱلدِّينُ لِلَّهِ﴾ او جنګ کوئ تاسي له دوی سره تر هغه پوري چي پاتي نشي فتنه (شرک او فساد) او شي دين (حکم) خاص الله لره يعني دهغو جنګيالو سره وجنګيږئ تر څو يې شوکت مات شي او دمځکي په مخ شرک پاتي نشي او دالله ﷻ دين په ټولو اديانو بريالی او سر لوړی شي ﴿فَإِنِ ٱنتَهَوْا۟ فَلَا عُدْوَٰنَ إِلَّا عَلَى ٱلظَّٰلِمِينَ﴾ پس که چيري وګرځيدل (دوی له شرکه نو تاسی تجاوز مه کوئ پردوی) پس نشته هيڅ تيری مګر (شته

جزا دظلم) پر ظالمانو باندی) یعني که چیري دوی ستاسي له وژلو لاس واخیست نو تاسي یې هم مه وژنی او که چا ووژل ظالم دی او نشته تیری مګر په ظالمانو او یا دا چي که له شرک څخه یې توبه وکښله نو بیا یې مه وژنی بیا الله ﷻ هسي بیان وفرمایه چي دمشرکانو وژل په شهرحرام (یعني حرامه میاشت) کي ددې لپاره چي مسلمانان یې له ضرر څخه خوندي پاتي شي روادی ویې ویل: ﴿ ٱلشَّهۡرُ ٱلۡحَرَامُ بِٱلشَّهۡرِ ٱلۡحَرَامِ وَٱلۡحُرُمَٰتُ قِصَاصٌ ﴾ (میاشت حرامه په بدل دحرامي میاشتي کي ده او تعظیمونه سره برابر دی) یعني که چیري یې له تاسي سره په حرامه میاشت جنګ وکړ تاسي یې هم په حرامه میاشت کي ورسره کوې لکه چي دوی دمیاشتي حرمت او ستاسی وینی تر پښو لاندي کړی تاسي هم ورسره هما غسي چلند وکړئ (او چا بیا ویلي چي هغه شهر حرام چي تاسي پکي مکي ته داخل شوې په بدل دهغې میاشتي کي ده چي تاسي څني ګرزول شوې او منع شوې واست چي مکي ته راشي هغه دحدیبیې په کال ذیقعده میاشت وه. ﴿ فَمَنِ ٱعۡتَدَىٰ عَلَيۡكُمۡ فَٱعۡتَدُواْ عَلَيۡهِ بِمِثۡلِ مَا ٱعۡتَدَىٰ عَلَيۡكُمۡ ﴾ (پس هر چا چي تیری وکړ پر تاسي باندي نو تاسي هم تیری کوئ په هغو باندی په شان دهغه چي تیری یې کړی ؤ په تاسي) یعني له خپلو ځانونو څخه شر دفع کړئ او معامله بالمثل ورسره وکړئ. ﴿ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَٱعۡلَمُوٓاْ أَنَّ ٱللَّهَ مَعَ ٱلۡمُتَّقِينَ ﴾ او وویریږئ له الله ﷻ څخه او پوه شئ چي بیشکه الله له پرهیزګارانو سره دی (په مرسته او نصرت کولو کي په دنیا او آخرت کي) ﴿ وَأَنفِقُواْ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ وَلَا تُلۡقُواْ بِأَيۡدِيكُمۡ إِلَى ٱلتَّهۡلُكَةِ ﴾ (او صرفوئ مالونه خپل دالله په لار کي او مه غورځوئ ځانونه خپل په هلاکت کي) یعني دجهاد او په نورو ټولو دخیر کارونو کی خپل مال ولګوئ او بخل مکوئ چي هلاک به شئ دښمنان به درباندی بری ومومي او چا بیا ویلی چي جهاد مه پریږدئ چي تاسي پخپلو مالونو او لادونو مشغول شئ بیا به هلاک شئ ﴿ وَأَحۡسِنُوٓاْۚ إِنَّ ٱللَّهَ يُحِبُّ ٱلۡمُحۡسِنِينَ ﴾ (او نیکي کوئ (په ټولو عملونو کي) بیشکه چي الله دوستي کوي له نیکو کارانو سره) یعني تاسي به هله دالله ﷻ دوستان او مقربین ولیان جوړ شئ.

بلاغت:

١. (يَسۡـَٔلُونَكَ عَنِ ٱلۡأَهِلَّةِۖ قُلۡ هِيَ مَوَٰقِيتُ لِلنَّاسِ وَٱلۡحَجِّ) دغه ډول ځواب ته دبدیع په علم کي (الاسلوب الحکیم) وایي ځکه دوی له رسول الله ﷺ څخه دهلال (میاشتي) په هکله پوښتنه کوله چي ولي یو ځل نرئ معلومیږي څو چي بشپړه او رڼایې پوره شي ؟ نو بیا یې دوی ددغي میاشتي څخه دحکمت لورته واړول او لکه چي ورته وایي بهتره داوه چي تاسي دمیاشتي دپیدائښت په هکله پوښتنه کړې واي نه خو دکوچني والي او لوی والي په هکله او دا هغه اسلوب دی چي دبلاغت علمائې (الاسلوب الحکیم) بولي.

٢. (ٱلشَّهۡرُ ٱلۡحَرَامُ بِٱلشَّهۡرِ ٱلۡحَرَامِ وَٱلۡحُرُمَٰتُ قِصَاصٌ) دلته ایجاز بالحذف دی تقدیر یې داسي راځي چي: (هتک حرمة الشهر الحرام تقابل بهتک حرمة الشهر الحرام) یعني دشهر حرام عزت تر پښو لاندی کول په مقابل دعزت پایمالولو دشهر حرام کي روادی او دغه ته ایجاز بالحذف وایي.

٣. (ٱلشَّهۡرُ ٱلۡحَرَامُ بِٱلشَّهۡرِ ٱلۡحَرَامِ وَٱلۡحُرُمَٰتُ قِصَاصٌ) دتجاوز جزاته یې تجاوز وویل او دې ته مشاکلت وایي چي لفظ خو متفق مګر په معنی کي به یې اختلاف وي لکه چي وایي. (وَجَزَٰٓؤُاْ سَيِّئَةٖ سَيِّئَةٞ

مِّثْلُهَا) زجاج وايي چي عرب كله داسي هم وايي (ظلمني فلان فظلمته) فلاني راباندي ظلم كړي ما هم ورباندي ظلم وكړ، يعني دظلم جزا مي وركړه.

ګټي او فائدي:

لومړۍ فائده: روايت كوي چي دمسلمانانو يو تن درومیانو په لښكر حمله وكړه آن تر دې چي پكي ورګډ شو نو خلكو چيغي كړي: سبحان الله پخپلو لاسونو يې ځان هلاكت او تباهي ته وركړ ابو ايوب انصاري رضي الله عنه وويل دا آيت: (وَلَا تُلْقُوا بِأَيْدِيكُمْ إِلَى التَّهْلُكَةِ) زموږ د انصارو په باب رانازل شوی دی كله چي الله تعالى اسلام ته برى وركړ او مرستندويان يې زيات شول نو موږ ووېل كاشكي موږ دخپلو باغونو او مالونو پالنه كړې وای چي تاوان موراګرزولی وای نو دا آيت نازل شو (وَأَنفِقُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَلَا تُلْقُوا بِأَيْدِيكُمْ إِلَى التَّهْلُكَةِ) نو هلاكت په پاتي كيدلو او دمال په ساتلو او پالنه كي دی چي ځوک له جهاد څخه راپاتي كړي همدا وجه وه چي ابو ايوب انصاري به تل تر تله جګه غاړه په جهادي ډګر كي ولاړ وو تر څو چي شهيد او دروم په مخكه كي ښخ كړای شو.

دوهمه فائده: په قرآنكريم كي دقتال او جهاد لفظ نه ذكر كيږي مګر ورسره جوخت في سبيل الله راځي او په دې كي ځرګند دلالت دی چي له جنګ جګړې څخه يو سپيڅلي او شريف هدف او موخه شته چي هغه دالله جل جلاله دكلمي لوړوالی دی نه دا چي ولجې او غنيمتونه تر لاسه كړي او يا هم ښارونه ونيسي او لوړ تيا ته ورسيږي يا داسي نور چټي او ناكاره مقصد ونه.

تنبيه:

ټول هغه څه چي په قرآنكريم كي دسوال (پوښتني) په صيغه ذكر شوي ځواب يې په (قل) كلمه وركول شوی دی پرته دسورت (طه) څخه چي هلته په ځواب كي (فاء) زياته ته شوې ده چي فرمايي: (فَقُلْ يَنسِفُهَا رَبِّي نَسْفًا) حكمت پكي دادي چي: ځواب په نورو ټولو ځايونو كي له پوښتني وروسته وركول شوی خو په سورت (طه) كي مخ كي تر پوښتني ځكه تقديري يې داسي دی كه چيري له تا څخه دغرونو په هكله پوښتنه وشي نو بيا ورته ووايه!
- (الفتوحات الإلهية ١/١٥٢)

الله تعالى فرمايي:

﴿ وَأَتِمُّوا الْحَجَّ وَالْعُمْرَةَ لِلَّهِ ۚ فَإِنْ أُحْصِرْتُمْ فَمَا اسْتَيْسَرَ مِنَ الْهَدْيِ ۖ وَلَا تَحْلِقُوا رُءُوسَكُمْ حَتَّىٰ يَبْلُغَ الْهَدْيُ مَحِلَّهُ ۚ فَمَن كَانَ مِنكُم
مَّرِيضًا أَوْ بِهِ أَذًى مِّن رَّأْسِهِ فَفِدْيَةٌ مِّن صِيَامٍ أَوْ صَدَقَةٍ أَوْ نُسُكٍ ۚ فَإِذَا أَمِنتُمْ فَمَن تَمَتَّعَ بِالْعُمْرَةِ إِلَى الْحَجِّ فَمَا اسْتَيْسَرَ مِنَ الْهَدْيِ ۚ
فَمَن لَّمْ يَجِدْ فَصِيَامُ ثَلَاثَةِ أَيَّامٍ فِي الْحَجِّ وَسَبْعَةٍ إِذَا رَجَعْتُمْ ۗ تِلْكَ عَشَرَةٌ كَامِلَةٌ ۗ ذَٰلِكَ لِمَن لَّمْ يَكُنْ أَهْلُهُ حَاضِرِي الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ ۚ
وَاتَّقُوا اللَّهَ وَاعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ شَدِيدُ الْعِقَابِ ﴿١٩٦﴾ الْحَجُّ أَشْهُرٌ مَّعْلُومَاتٌ ۚ فَمَن فَرَضَ فِيهِنَّ الْحَجَّ فَلَا رَفَثَ وَلَا فُسُوقَ
وَلَا جِدَالَ فِي الْحَجِّ ۗ وَمَا تَفْعَلُوا مِنْ خَيْرٍ يَعْلَمْهُ اللَّهُ ۗ وَتَزَوَّدُوا فَإِنَّ خَيْرَ الزَّادِ التَّقْوَىٰ ۚ وَاتَّقُونِ يَا أُولِي
الْأَلْبَابِ ﴿١٩٧﴾ لَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ أَن تَبْتَغُوا فَضْلًا مِّن رَّبِّكُمْ ۚ فَإِذَا أَفَضْتُم مِّنْ عَرَفَاتٍ
فَاذْكُرُوا اللَّهَ عِندَ الْمَشْعَرِ الْحَرَامِ ۖ وَاذْكُرُوهُ كَمَا هَدَاكُمْ وَإِن كُنتُم مِّن قَبْلِهِ لَمِنَ

ٱلضَّآلِّينَ ﴿١٩٨﴾ ثُمَّ أَفِيضُواْ مِنْ حَيْثُ أَفَاضَ ٱلنَّاسُ وَٱسْتَغْفِرُواْ ٱللَّهَ إِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿١٩٩﴾ فَإِذَا
قَضَيْتُم مَّنَٰسِكَكُمْ فَٱذْكُرُواْ ٱللَّهَ كَذِكْرِكُمْ ءَابَآءَكُمْ أَوْ أَشَدَّ ذِكْرًا فَمِنَ ٱلنَّاسِ مَن يَقُولُ
رَبَّنَآ ءَاتِنَا فِى ٱلدُّنْيَا وَمَا لَهُۥ فِى ٱلْءَاخِرَةِ مِنْ خَلَٰقٍ ﴿٢٠٠﴾ وَمِنْهُم مَّن يَقُولُ رَبَّنَآ ءَاتِنَا فِى ٱلدُّنْيَا حَسَنَةً
وَفِى ٱلْءَاخِرَةِ حَسَنَةً وَقِنَا عَذَابَ ٱلنَّارِ ﴿٢٠١﴾ أُوْلَٰٓئِكَ لَهُمْ نَصِيبٌ مِّمَّا كَسَبُواْ وَٱللَّهُ سَرِيعُ ٱلْحِسَابِ ﴿٢٠٢﴾ ۞
وَٱذْكُرُواْ ٱللَّهَ فِىٓ أَيَّامٍ مَّعْدُودَٰتٍ فَمَن تَعَجَّلَ فِى يَوْمَيْنِ فَلَآ إِثْمَ عَلَيْهِ وَمَن تَأَخَّرَ فَلَآ إِثْمَ عَلَيْهِ لِمَنِ ٱتَّقَىٰ
وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَٱعْلَمُوٓاْ أَنَّكُمْ إِلَيْهِ تُحْشَرُونَ ﴿٢٠٣﴾ ﴾ البقرة: ١٩٦ - ٢٠٣

مناسبت او تړاو:

کله چي الله تعالی په تیرو آیتونو کي دروژې احکام ذکر کړل وروسته یې دحج احکام راوړل ځکه دحج میاشتي له روژې سمدستي وروسته راځي او دجهاد آیتونه یې دیو مهم حکم دبیانولو لپاره راوړل چي هغه په حرامو میاشتو کي دجهاد حکم دی او که چیري مشرکان په مسلمانانو متعرض شول (وبلوسیدل) پداسي حال کي چي مسلمانان په احرام کي وو نو ایا بیا مسلمانانو ته له خپله ځانه دفاع کول او له دوی سره په دې میاشتو کي قتال جایز دی؟ نو په تحقیق سره پخواني آیتونه په دې باب دمیاشتو حکمت بیانوي او دا چي میاشتي دروژې او حج لپاره ټاکلې شوې دمسلمانانو دریز دجنګ په هکله څرګند دی کله چي رسول الله ﷺ دعمرې دادا کولو اراده درلوده خو مشرکینو هغه له دې ارادې تر سره کولو څخه چي مکې ته ننوتل دی منع کړ، او بیا دحدیبې صلح لاس لیک شوه بیا چي یې په راتلونکي کال کي دعمرې دادا کولو تکل وکړ نو اصحابو ﷺ اندیښنه درلوده که چیري مشرکان پداسي حال کي چي مسلمانان په احرام کي وي جنګ پیل او خیانت وکړي نو دوی به څه کوي؟ دا آیتونه نازل شول چي دوې به دغه حرمات تر پښو نه لاندي کوي خو که چیري دښمن تیری وکړي دوی کولای شي له ځانه دفاع او دعدوان خواب ورکړي چي دا دقصاص غوندي معامله شي وروسته بیا دحج احکام او احصار حکم ته خبره راغبرګه شوه چي دا دتیرو او راتلونکي آیتونو تړون څرګند وي.

لغتونه:

(احصرتم) کله چی بند شئ دحصر معنا منع او بندیدل دی لکه چي وایي: (حصره عن السفر) له سفر څخه یې راوګرزاوو او ازهري وایي (حصر الرجل في الحبس) راوګرزیدو سړي په بند کي او (احصر في السفر من مرض) او یا بند کړشو په سفر کي دناروغي له امله (الهَدْیَ) هغه څاروی چي بیت الله شریف ته اهداء (سوغات) او ډالی کیږي هغه څاروی لکه اوښان، غوایي او پسونه دی او تر ټولو وړوکی یې پسه دی (محله) هغه ځای چي هلته هَدْیَ حلالیږي چي هغه حرم او (محصر) لره دبندیدلو ځای دی (نسک) دنسیکة جمع ده او هغه حلالی ته وایي چي بنده یې دالله په نامه دعبادت په توګه حلالوي (جناح) ګناه اصل یې له جنوح څخه اخستل شوي او هغه له قصد څخه میل ته وایي (او زما (مترجم) په نزد دګناه معرب دی) (افضتم) چي راښکته شی په قوت سره ځکه داله (فاض الماء) څخه اخستل شوي کله چي په زور سره را خوټیږي او یا بهیږي همدا راز خلګ په قوت او زور سره له عرفات نه راکوزیږي (خلاق) دالهي رحمت نصیب، برخه، ونډه (تحشرون) دحساب لپاره ورټولیږی

دنزول سبب:

لومړی خبره: ابن عباس رضي الله عنهما وايي چي ديمن خلګو به کله چي حج کاوو توښه به يې له خانه سره نه راوړله ويل به يې موږ توکل کونکی يو او چي مکې ته به راغلل نو به يې سوال او ګدايي کوله الله ﷻ دا آيت ناز ل کړ: (وَتَزَوَّدُوا۟ فَإِنَّ خَيْرَ ٱلزَّادِ ٱلتَّقْوَىٰ) .(اسباب النزول للواحدي ۳۲/۱)

دوهمه خبره: عائشه رضي الله عنها وايي قريش او ددوی په دين خلک به په مزدلفه کي تم کيدل عرفات ته به نه ورختل او دې ته به يې (حمس) وايو کله چي اسلام راغی الله خپل پيغمبر ته وفرمايل: چي عرفات ته ولاړشی او بيا له هغه ځخه رابنکته شی او قريش به له مشعر حرام ځخه راکوزيدل الله ﷻ دا آيت نازل کړ: (ثُمَّ أَفِيضُوا۟ مِنْ حَيْثُ أَفَاضَ ٱلنَّاسُ) . (اسباب النزول للواحدي ۳۲/۱)

تفسير:

﴿وَأَتِمُّوا۟ ٱلْحَجَّ وَٱلْعُمْرَةَ لِلَّهِ﴾ (او پوره ادا کړی حج او عمره دالله لپاره) يعني سره له خپلو ارکانو او شرطونو يې ادا کړې ﴿فَإِنْ أُحْصِرْتُمْ فَمَا ٱسْتَيْسَرَ مِنَ ٱلْهَدْيِ﴾ نو بيا که چيري منع کړی شوې (نو واجب دی پر تاسي) هغه ځه چي آسان دی له هديې ځخه يعنی که چيری له تمامولو دحج او عمرې ځخه ناروغي او يا دښمن منع کړی او غوښتل مو چي ځان حلال کړی نو پر تاسي باندی هغه چي درته آسانه مذبوحه وي واجب ده هغه که اوښ وی او که غوا يا پسه وي ﴿وَلَا تَحْلِقُوا۟ رُءُوسَكُمْ حَتَّىٰ يَبْلُغَ ٱلْهَدْىُ مَحِلَّهُۥ﴾ او مه خريئ سرونه خپل تر هغه پوري چي ورسيږي هديه (مذبوحه) ځای د حلال خپل ته چي هغه حرم او يا ځای داحصار (بنديدلو) دی ﴿فَمَن كَانَ مِنكُم مَّرِيضًا أَوْ بِهِۦٓ أَذًى مِّن رَّأْسِهِۦ فَفِدْيَةٌ مِّن صِيَامٍ أَوْ صَدَقَةٍ أَوْ نُسُكٍ﴾ نو هر ځوک چي وي له تاسي ځخه نا جوړه يا وي په ده پوري ضرر (له طرفه) دسر دده نو لازمه ده په ده باندي فديه له روژې ځخه يا له خيراته يا له حلالولو (دپسه) يعني اې محرمينو که چيري يو ځوک له تاسي ځخه داسي ناروغ وي چي ويښتان يې ځوروي او سر يې وخربيل او يا يې په سر کي ځه تکليف درلود لکه سپږي يا دردونه او سر يې وکښيل نو په هغه باندی بدله شته يا درې ورځي روژه او يا به درې پيمانې خيراتوي په شپږو مسکينانو او يا به پسه حلالوي ﴿فَإِذَآ أَمِنتُمْ﴾ (نو هر کله چي په امن (بيغمه) شي) يعني په لومړي سر کي او يا له احصار ځخه وروسته ﴿فَمَن تَمَتَّعَ بِٱلْعُمْرَةِ إِلَى ٱلْحَجِّ فَمَا ٱسْتَيْسَرَ مِنَ ٱلْهَدْيِ﴾ نو هر چا چي نفع واخيستله په عمري سره (چي يو ځای يې کړه) له حج سره نو (واجب دی) په ده باندی (هغه) هديه چي ورته آسانه وي) يعني چا چي دحج په مياشتو کي عمره وکړه او نفع يې واخيسته په هغه ځه چي هغه غير محرم کوي لکه خوشبويي لګول او کوروالي (جماع) نو بيا په ده باندي يو پسه ده چي دالله ﷻ لپاره به يې شکرانه حلالوي ﴿فَمَن لَّمْ يَجِدْ فَصِيَامُ ثَلَٰثَةِ أَيَّامٍ فِى ٱلْحَجِّ وَسَبْعَةٍ إِذَا رَجَعْتُمْ﴾ (هر چا چي ونه موندله (هديه) نو واجب دی په ده باندی روژې ددريو ورځو په حج کي او اوه روژې کله چي وګرزي وخپل اهل او هيواد ته) ﴿تِلْكَ عَشَرَةٌ كَامِلَةٌ﴾ دغه لس ورځي دی پوره چي دذبح په ځای دريږي او ثواب يې هم دومره ده لکه د ذبحې) ﴿ذَٰلِكَ لِمَن لَّمْ

يَكُنْ أَهْلُهُۥ حَاضِرِي ٱلْمَسْجِدِ ٱلْحَرَامِ ﴾ (دا حكم (دتمتع) هغه چالره دى چي نه دى كورني دده په (حوالي) دمسجد حرام كي) يعني دغه تمتع او هديې په هغه چا پوري ځانګړي ده چي دحرم له اوسيدونكو څخه نه وى او هغه چي په حرم كي اوسي نو نه ددوى لپاره تمتع شته او نه هم وربانديي هديې شته ﴿ وَٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ وَٱعْلَمُوٓا۟ أَنَّ ٱللَّهَ شَدِيدُ ٱلْعِقَابِ ﴾ (او وويريږئ له الله څخه او پوه شئ چي بيشكه الله ډير سخت عذاب وركونكى دى) يعني دالله اوامر پر ځاى او له نواهيو څخه يې ځان وژغورئ او پدې وپوهيږئ چي عذاب يې ډير سخت دى بيا الله تعالى دحج وخت بيان كړ او دايې وفرمايل: ﴿ ٱلْحَجُّ أَشْهُرٌ مَّعْلُومَٰتٌ ﴾ (وخت د) حج (څو) مياشتي معلومي دى) هغه چي دخلكو تر منځ پيژندل شوي او شوال ,ذيقعده اولس دذي الحجې دى. ﴿ فَمَن فَرَضَ فِيهِنَّ ٱلْحَجَّ ﴾ نو هر چا چي فرض كړ (پخپل ځان) په دې مياشتو كي حج يعني دحج لپاره يې احرام وتاړه او تلبيه يې ولوستله نو په ځان يې لازم كړ. ﴿ فَلَا رَفَثَ وَلَا فُسُوقَ وَلَا جِدَالَ فِى ٱلْحَجِّ ﴾ نو نه دى كوي جماع (كوروالى او نه دواعي دهغې) او نه ګناهونه او نه جګړې پدې (ورځو) دحج كي څكه دى الله ﷻ ته ورتلونكي او دهغه خوښي غواړي نو بايد چي شهوتونه پريږدي او ګناهونه او جګړې له خپلو ملګرو او نور چا سره ونكړي ﴿ وَمَا تَفْعَلُوا۟ مِنْ خَيْرٍ يَعْلَمْهُ ٱللَّهُ ﴾ او هر څه چي كوى له نيک كار څخه نو پوهيږي په هغه باندى الله يعني هغه څه چي تاسي يې دخپلو ځانونو لپاره نيک عملونه استوئ الله به په هغو ښه جزا دركاندي. ﴿ وَتَزَوَّدُوا۟ فَإِنَّ خَيْرَ ٱلزَّادِ ٱلتَّقْوَىٰ ﴾ (او توښه واخلئ (له ځانو سره) نو بيشكه بهتره توښه ځان ساتل دى ، يعني دآخرت لپاره ښه توښه تقوى او پرهيزګاري ده. ﴿ وَٱتَّقُونِ يَٰٓأُو۟لِى ٱلْأَلْبَٰبِ ﴾ (او وويريږئ له ما اې خاوندانو دعقلونو) او فهم درلودونكو خلكو. ﴿ لَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ أَن تَبْتَغُوا۟ فَضْلًا مِّن رَّبِّكُمْ ﴾ (نشته په تاسي باندى هيڅ ګناه پدې كي چي غواړئ روزي له فضله درب خپله) يعني دحج په موده كي په سوداګري كولو بنديز نشته هغه چي دنيوي كاروبار دى او دا له عبادت سره منافي نه دى دوى به ګومان كاوو چي دا به ګناه وي نو آيت شريف نازل شو او دحج په مياشتو كي يې دتجارت كولو روا والى بيا ن كړ. ﴿ فَإِذَآ أَفَضْتُم مِّنْ عَرَفَٰتٍ فَٱذْكُرُوا۟ ٱللَّهَ عِندَ ٱلْمَشْعَرِ ٱلْحَرَامِ ﴾ (نو هر كله چي راكوز شئ له عرفاتو نو يا دوئ الله په نزد دمشعرالحرام) يعني كله چي له عرفات څخه وروسته له دريدلو راكوزشئ بيانو الله ﷻ په ذكر، دعا، تهليل، تكبير او عاجزي باندي دمشعر حرام سره يادوئ ﴿ وَٱذْكُرُوهُ كَمَا هَدَىٰكُمْ وَإِن كُنتُم مِّن قَبْلِهِۦ لَمِنَ ٱلضَّآلِّينَ ﴾ او يادوئ هغه (الله) لكه چي لاره يې درښودلې تاسي ته او بيشكه چي وئ تاسي پخوا له هدايته خامخا له ګمزاهانو څخه) يعنى داسي ښه يادونه يې كوئ لكه څنګه چي هغه ښه لار ښوونه درته كړې او دهدايت او ايمان په نعمت باندى شكر وباسئ څكه تاسي پخوا تر هدايته دلاروركو (ګمراهانو) په ټولى كي ګنل كيدئ هغه چي نه په ايمان خبر وي او نه هم د دين او شريعت حكمونه ورته معلوم وي. ﴿ ثُمَّ أَفِيضُوا۟ مِنْ حَيْثُ أَفَاضَ ٱلنَّاسُ ﴾ (بيا راكوزيږئ (اې قريشو! دطواف لپاره) له هغه ځايه چي راكوزيږي نورخلک) دلته خطاب قريشو ته څكه دى چي دوى به په خلكو ځان لوړ بالوچي دوى دالله ﷻ دحرم اوسيدونكي غوره كسان دي نو به عرفات ته نه ختلو او په مزدلفه كي به دريدلو څكه هغه له حرم څخه او دوى به ويل موږ له حرم څخه نه وزو او بيا به له هغه ځايه راكوزيدو دې ته به يې (حُمس)

وایو پس الله ﷻ خپل پیغمبر ته امر وفرمایل : چي عرفات ته داخل او بیا له هغه ځایه راکوز شي. ﴿وَاسْتَغْفِرُوا اللَّهَ إِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَحِيمٌ﴾ (او مغفرت غواړئ له الله څخه بیشکه چي الله ښه مغفرت کوونکی پوره رحم لرونکی دی) یعني دخپلو هغو ګناهونو چي پخوا مو کړي له الله ﷻ څخه مغفرت او ښښنه وغواړئ هغه دستر مغفرت او پراخ رحمت خاوند دی ﴿فَإِذَا قَضَيْتُم مَّنَاسِكَكُمْ فَاذْكُرُوا اللَّهَ كَذِكْرِكُمْ آبَاءَكُمْ أَوْ أَشَدَّ ذِكْرًا﴾ او هر کله چي ادا کړل تاسي افعــال دحج خپل نو یادوئ الله لکه یا دول ستاسي پلرونو خپلو لره (په جاهلیت کي په فخر سره) بلکه لا ډیر زیات یا دول) یعني کله چي دحج له اعمالو څخه فارغ شئ نو دالله ذکر زیات کوئ لکه چي به تاسي دخپلو پلرونو ویاړني بیانولې بلکه تر هغه هم لا زیات ، مفسرینو ویلي چي کله به دوی دحج له مناسکو ادا کولو فارغ شول نو په منیٰ کي دغره او مسجد تر منځ به ودریدل او دپلرونو ښې ورځې او افتخارات به یې بیانول نو الله ﷻ ورته امر وکړ چي یوازي دالله ﷻ یا دونه او ذکر کوئ ﴿فَمِنَ النَّاسِ مَن يَقُولُ رَبَّنَا آتِنَا فِي الدُّنْيَا وَمَا لَهُ فِي الْآخِرَةِ مِنْ خَلَاقٍ﴾ نو ځیني له خلکو څخه هغه څوک دی چي وایي اې ربه زموږ راکړه موږ ته په دنیا کي (زموږ برخه مال او جاه) او نشته ده لره په آخرت کي هیڅ برخه) یعنی ځینی کسان هغه دی چي یوازي دنیایي مقصد او موخه وی نو وایي: چي زما برخه او ونډه په دنیا کي راکړه ﴿وَمِنْهُم مَّن يَقُولُ رَبَّنَا آتِنَا فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً وَفِي الْآخِرَةِ حَسَنَةً وَقِنَا عَذَابَ النَّارِ﴾ (او ځیني له دوی څخه هغه څوک دی چي وایي: اې ربه زموږ راکړه موږ ته په دغه دنیا کي نیکي (نعمت) او په آخرت کي نیکي (جنت) او وساته موږ له عذابه داور څخه یعني ځیني هغه څوک دی چي ددنیا او آخرت ښیګني غواړي او هغه هوښیار مؤمن دی ځکه نو په دې غوښتنه کي هر خیر راځي او له هر شر ځني ګوښه توب کیږي چي ددنیا نعمت ،روغتیا ، جوړوالی ، پراخی او ښکلي مانۍ ، ښې میرمني زیاتي روزي او نور ډیر شیانو ته شامله ده او دآخرت نیکي بیا دآخرت له تکلیفونو څخه په امن کیدل دحساب آساني دجنت داخلیدل او دالله ﷻ دیدار کولو ټولو ته ورغلی ده. ﴿أُولَٰئِكَ لَهُمْ نَصِيبٌ مِّمَّا كَسَبُوا وَاللَّهُ سَرِيعُ الْحِسَابِ﴾ (دغه کسان شته دوی لره لویه برخه له سببه دهغو دښو اعمالو چي دوی کړی دی او الله ﷻ ژر اخیستونکي دحساب دی) یعني دا کسان چي ددارینو نیکمرغي یې غوښتله دوی لره لویه ونډه دخپلو ښو عملو نو شته او الله ﷻ دسترګو په رپ کي دخلکو محاسبه تر سره کوي. ﴿وَاذْكُرُوا اللَّهَ فِي أَيَّامٍ مَّعْدُودَاتٍ﴾ (او یا دوئ الله دتکبیراتو په ویلو سره په څو ورځو شمیر لیو شویو (دتشریق) کي) یعني دالله یادکوي (تکبیرونه وروسته له لمنځونو او دجمراتو له ویشتلو وروسته وایاست)چي داله یوم النحر څخه وروسته دتشریق درې ورځي دی ﴿فَمَن تَعَجَّلَ فِي يَوْمَيْنِ فَلَا إِثْمَ عَلَيْهِ﴾ هر چا چي بیړه وکړه (په تلو کي له منیٰ نه مکې ته) په دوو ورځو کي نو نشته هیڅ ګناه په ده باندی ﴿وَمَن تَأَخَّرَ فَلَا إِثْمَ عَلَيْهِ لِمَنِ اتَّقَىٰ﴾ او هر چا چي تاخیر وکړ نو نشته هیڅ ګناه په ده باندي) دا بیګناهی هغه چالره ده چي پرهیز یی کړی وی (له مناهیو څخه) یعني هغه چي ددریمي ورځي جمرې یې هم وویشتلې ورباندي هیڅ ګناه نشته ﴿وَاتَّقُوا اللَّهَ وَاعْلَمُوا أَنَّكُمْ إِلَيْهِ تُحْشَرُونَ﴾ (او ویریږئ له الله څخه او پوه شئ چي بیشکه تاسي خاص الله ته ورټولیږئ) او بیا به تاسي ته پخپلو اعمالو جزادرکړي.

بلاغت:

۱. -(يَبۡلُغَ ٱلۡهَدۡيُ مَحِلَّهُۥ) په دې کلمه کې کنايه راغلې له ذبحې څخه د احصار په ځای کې.

۲. -پدې کلمه کې چې فرمايي (فَمَن كَانَ مِنكُم مَّرِيضًا) ايجاز بالحذف دی چې تقديرېې داسې راځي څوک چې له تاسې څخه ناروغ وی او سر وخربې نو وربانديې فديه شته.

۳. - پدې کلام کې چې: (وَسَبۡعَةٍ إِذَا رَجَعۡتُمۡ) دالتفات صنعت دی هغه چې له غائب څخه مخاطب ته راګرزيدل کيږي او دا هم له بديعي محسناتو څخه دی.

۴. -(تِلۡكَ عَشَرَةٞ كَامِلَةٞ) پدې کې له تفصيل نه وروسته اجمال دی چې (اطناب) ورته ويل کيږی او ګټه يې زيات تاکيد او مبالغه ده چې بايد په بشپړه توګه پوره لس روژې ونيول شي نه پکې نقصان او نه هم سستي وشي.

۵. -دضمير په ځای کی اظهار دهيبت او روعت څرګندونه کوي لکه چې فرمايي: (وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَٱعۡلَمُوٓاْ أَنَّ ٱللَّهَ) او دا هم له محسناتو څخه يو دی.

۶. - پدې جمله کې چې فرمايي: (فَلَا رَفَثَ وَلَا فُسُوقَ) صيغه يې د نفی او حقيقت يې نهی او ممانعت دی څکه داسې افاده کوي چې دا کار هيڅکله بايد ونشي ولې کوم کار چې پخپله بد او ناروا وی نو دحج په مياشتو کې خو بيخي زيات بد او ناروا دی څکه نو دخبر په صيغه راوړل او د نهی اراده کول څرګنده مبالغه دی.

۷. -(فَٱذۡكُرُواْ ٱللَّهَ كَذِكۡرِكُمۡ ءَابَآءَكُمۡ) په دې کې تمثيلي تشبيه دی چې ورته (مجمله مرسله) تشبيه وايي.

۸. -لطيفه مقابله ددې دوو آيتونو ترمنځ لکه: (فَمِنَ ٱلنَّاسِ مَن يَقُولُ رَبَّنَآ ءَاتِنَا فِي ٱلدُّنۡيَا) او ددې آيت (وَمِنۡهُم مَّن يَقُولُ رَبَّنَآ ءَاتِنَا فِي ٱلدُّنۡيَا حَسَنَةٗ) چې دا هم له بديعي محسناتو څخه ګڼل کيږي.

ګټې او فائدې:

لومړی فائده: (نسک) په اصل کې عبادت ته وايي او چې دځلور بولو (انعامو) ذبيحې ته (نسک) وويل شو څکه هغه له اشرفو عباداتو څخه دی چې بنده الله ﷻ ته نژدې کوي.

دوهمه فائده: ددنيا توښه سړی نفسي خواهشاتو او غوښتنو ته رسوي او دآخرت توښه بيا سړی تل تر تله نعمتونو ته څکه نو الله دآخرت توښه ګټوره بللې.

الله تعالى فرمايي:

﴿ وَمِنَ ٱلنَّاسِ مَن يُعۡجِبُكَ قَوۡلُهُۥ فِي ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا وَيُشۡهِدُ ٱللَّهَ عَلَىٰ مَا فِي قَلۡبِهِۦ وَهُوَ أَلَدُّ ٱلۡخِصَامِ ﴿٢٠٤﴾
وَإِذَا تَوَلَّىٰ سَعَىٰ فِي ٱلۡأَرۡضِ لِيُفۡسِدَ فِيهَا وَيُهۡلِكَ ٱلۡحَرۡثَ وَٱلنَّسۡلَۚ وَٱللَّهُ لَا يُحِبُّ ٱلۡفَسَادَ ﴿٢٠٥﴾ وَإِذَا قِيلَ لَهُ ٱتَّقِ
ٱللَّهَ أَخَذَتۡهُ ٱلۡعِزَّةُ بِٱلۡإِثۡمِۚ فَحَسۡبُهُۥ جَهَنَّمُۖ وَلَبِئۡسَ ٱلۡمِهَادُ ﴿٢٠٦﴾ وَمِنَ ٱلنَّاسِ مَن يَشۡرِي نَفۡسَهُ ٱبۡتِغَآءَ
مَرۡضَاتِ ٱللَّهِۚ وَٱللَّهُ رَءُوفُۢ بِٱلۡعِبَادِ ﴿٢٠٧﴾ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱدۡخُلُواْ فِي ٱلسِّلۡمِ كَآفَّةٗ وَلَا تَتَّبِعُواْ
خُطُوَٰتِ ٱلشَّيۡطَٰنِۚ إِنَّهُۥ لَكُمۡ عَدُوّٞ مُّبِينٞ ﴿٢٠٨﴾ فَإِن زَلَلۡتُم مِّنۢ بَعۡدِ مَا جَآءَتۡكُمُ ٱلۡبَيِّنَٰتُ فَٱعۡلَمُوٓاْ أَنَّ
ٱللَّهَ عَزِيزٌ حَكِيمٌ ﴿٢٠٩﴾ هَلۡ يَنظُرُونَ إِلَّآ أَن يَأۡتِيَهُمُ ٱللَّهُ فِي ظُلَلٖ مِّنَ ٱلۡغَمَامِ وَٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ وَقُضِيَ ٱلۡأَمۡرُۚ وَإِلَى ٱللَّهِ
تُرۡجَعُ ٱلۡأُمُورُ ﴿٢١٠﴾ سَلۡ بَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ كَمۡ ءَاتَيۡنَٰهُم مِّنۡ ءَايَةِۭ بَيِّنَةٖۗ وَمَن يُبَدِّلۡ نِعۡمَةَ ٱللَّهِ مِنۢ بَعۡدِ مَا جَآءَتۡهُ فَإِنَّ ٱللَّهَ شَدِيدُ
ٱلۡعِقَابِ ﴿٢١١﴾ زُيِّنَ لِلَّذِينَ كَفَرُواْ ٱلۡحَيَوٰةُ ٱلدُّنۡيَا وَيَسۡخَرُونَ مِنَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْۘ وَٱلَّذِينَ ٱتَّقَوۡاْ فَوۡقَهُمۡ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِۗ وَٱللَّهُ
يَرۡزُقُ مَن يَشَآءُ بِغَيۡرِ حِسَابٖ ﴿٢١٢﴾ ﴾ البقرة: ٢٠٤ - ٢١٢

مناسبت او تړاو:

کله چي الله تعالی په تیرو آیتونو کي هغه عبادات ذکر کړل لکه روژه، صدقه، او حج چي زړونه يې پاکول او نفسونه يې مينځل او دايې وويل: چي ځيني خلک ايکي يوازي دنيا غواړي او ځيني بيا دالله خوښه اورضا غواړي نو په دې پسې جوخت وروسته يې دوه ډلې په دې ډول ذکر کړي چي يوه دګمراهي ډله هغه چي ځان يې په شيطان پلورلی وي او بله دهدايت ډله چي ځان يې په رحمٰن پلورلی وی او بيامو الله دشيطان په پله له پل اېښودلو څخه ويروي او دهغه سخت عداوت او دښمني رابښيي.

لغتونه:

(الد) سخت (کړيږ) طبري وايي (الالد) په دښمني کي سخت په حديث شريف کي راځي: (ان ابغض الرجال الى الله الالد الخصم) يعني تر ټولو کرکجن خلک الله ته هغه په دښمني کي سخت خلک دی (الحرث) کښت ته وايي څکه چي زراعت وکرل شي بيا کښت شي (النسيل) ذوذات او لاد ته وايي نسل يې څکه بولي چي دمور له ګيډي ژر رابهر شي، او نسل هم ژر راوتلو ته وايي څکه راځي چي (الى ربهم ينسلون) (العزة) کبر (حسبه) يعني هغه يې کافي او بس ده (المهاد) فراش او دخوب آرامځای ته وايي (يشري) پلوري (ابتغاء) دغوښتني له امله (السلم) دسين په کسره بنه اسلام ته وايي او په زبر سره يې سولي او مصالحې ته وايي او اصل يې له استسلام نه اخيست شوي چي خضوع او غاړه اېښودلو ته وايي (زللتم) له سمي لاري څخه انحراف ته وايي چي په اصل کي په کړو لارو تګ ته زلل وايي خو بيا په معنوي شيانو کي استعمال شو(ظلل) د(ظلة) جمع او سيوري کونکي ته وايي هر څه چي دلمر وړانګي پټوي ورته (ظله) وايي.

دنزول سبب يې:

۱: روایت کیږي چي اخنس بن شریق رسول الله ﷺ ته راغي او اسلام یې ورته څرګند کړ لوړه یې وکړه چي هغه له رسول الله سره مینه لري خو هغه منافق وو په ظاهره یې اسلام او په پټه یې کفر خپل کړی وو او له رسول الله ﷺ څخه رخصت شو دمسلمانانو یو چا په کښت را برابر شو هغه یې وسو څاوو دمسلمانانو اوښان یې وموندل هغه یې ووژل نو الله ﷻ دا آیتونه نازل کړل (وَمِنَ ٱلنَّاسِ مَن يُعْجِبُكَ قَوْلُهُۥ...) آن تر دې قوله پوري چي (وَإِذَا تَوَلَّىٰ سَعَىٰ فِى ٱلْأَرْضِ لِيُفْسِدَ فِيهَا وَيُهْلِكَ ٱلْحَرْثَ وَٱلنَّسْلَ...) (الفخر الرازي ۲۱۵/۵، واسباب النزول ص۳۴)

۲: روایت کیږي چي صهیب رومي کله چي مدینې منورې ته دهجرت کولو تکل وکړ یوه ډله مشرکان قریش یې مخي ته ورغلل او هغه له خپلي سورلۍ څخه کوز شو غشي یې راوسپړل لیندۍ یې را اوچته کړه بیا یې وویل اې قریشو ! تاسي پوهیږي چي زه ستاسي ښه غیشي ویشتونکي یم او زما دی په الله ﷻ لوړه وي چي ماته به رانژدې نشئ څومي تول غشي درباندي ویشتلي نه وی او بیا به په توره درسره جنګیږم څومي وس وي بیا چي څه غواړۍ ویې کړئ. هغو ورته وویل ته نادراه راغلی وې هیڅ دي نلرل اوس بډایه شوې او ډیر مال دولت لرې نو صهیب ﷺ ورته وویل ایا که زه خپل مال دروښیم زما لاره به خوشي کړئ ؟ دوی وویل هو ! نو خپل کوم مال چي یې په مکه کي درلود ورویې ښودل کله چي مدینې منورې ته راغی او درسول الله ﷺ په حضور مشرف شو رسول الله ﷺ ورته وویل: (ربح البیع صهیب ، ربح البیع صهیب) ګټوره سودادي کړې صهیبه ! ، ګټوره سودا دي کړې صهیبه ! الله ﷻ دا آیتونه نازل کړل: (وَمِنَ ٱلنَّاسِ مَن يَشْرِى نَفْسَهُ ٱبْتِغَآءَ مَرْضَاتِ ٱللَّهِ... الی اخرالآیه)

تفسیر:

﴿ وَمِنَ ٱلنَّاسِ مَن يُعْجِبُكَ قَوْلُهُۥ ﴾ (او ځیني له خلکو څخه هغه دی چي په تعجب کي اچوي تا خبره دده) یعني ځیني له خلکو څخه هغه څوک دی چي ددوی پستې خبرې تاته خوند درکوي او دهغه په ژبغړاندتوب تعجب کوي خو هغه دروغجن منافق وی ﴿ فِى ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا وَيُشْهِدُ ٱللَّهَ عَلَىٰ مَا فِى قَلْبِهِۦ ﴾ په ژوند ددنیا کي فقط او په ژوندانه دآخرت کي خو هغه چي حکم چلوونکي علام الغیوب ذات دی دزړونو په پټو رازونو خبر دار دی ﴿ وَهُوَ أَلَدُّ ٱلْخِصَامِ ﴾ حال دا چي دی ډیر سخت دی په جګړه او عداوت کي) یعني په باطل کار کي مجادله کونکی په ظاهر کي دیندار او سوله خوښونکي ځان څرګندوي ﴿ وَإِذَا تَوَلَّىٰ سَعَىٰ فِى ٱلْأَرْضِ ﴾ او کله چي بیرته وګرزي (له تانه اې محمده !) نو ګرندي ګرځي په مځکه کي دپاره ددې چي فساد پکي وکړي) دا آیتونه داخنس په باب نازل شوي او حکم یې عام دی هر منافق چي په خوله هغه څه وایي کوم چي په زړه کي یې نه وي (یعطیک من طرف اللسان حلاوة * ویروغ فیک کما یروغ الثعلب) دژبي له لوري خواږه او پستې خبري دراوروي خو داسي دوکه او فریب درکوي لکه ګیدړه غوندي. ﴿ لِيُفْسِدَ فِيهَا وَيُهْلِكَ ٱلْحَرْثَ وَٱلنَّسْلَ ﴾ او هلاکوي کښت او ساکښان (په سوځلو او وژلو سره) یعني تباه کوي کښت او هغه چي دانسان او حیوان نسل وی ، معنایي داده چي فساد یې عام وي څکه کښت او زراعت دمیوو دانو او نسل چي دحیواناتو محصول دی دخلکو دژوندانه اکثر اړتیا وي همدا پوره کوي نو ددوی تبا ه کول دانسانیت تباهي ده ﴿ وَٱللَّهُ لَا يُحِبُّ ٱلْفَسَادَ ﴾ (حال دا چي الله ﷻ نه خوښوي فساد) یعني الله فساد او مفسدین نه خوښوي له هغو څخه کرکه کوي ﴿ وَإِذَا قِيلَ لَهُ ٱتَّقِ ٱللَّهَ أَخَذَتْهُ ٱلْعِزَّةُ

بِٱلْإِثْمِ ﴾ او كله چي وويل شي ده ته چي وويريږه له الله نيسي دى غرور (عار او ننګ په كولو) يعني كله چي دې فاجرته پند وركول شي او ورته وويل شي چي له دې خپلو بد وكړو وړو ويلو او كولو وګرځه نو دجاهليت غرور يې دګناه په كولو لا ټينګ كړي او دحق له منلو يې تكبر راوګرځوي نو په فساد جوړولو كي لاپسي ډوب شي . ﴿ فَحَسْبُهُۥ جَهَنَّمُ ۚ وَلَبِئْسَ ٱلْمِهَادُ ﴾ (نو پس كافي ده ده لره عذاب ددوزخ) اوهرومرو بد بستر دى (دا اورددوزخ) ﴿ وَمِنَ ٱلنَّاسِ مَن يَشْرِى نَفْسَهُ ٱبْتِغَآءَ مَرْضَاتِ ٱللَّهِ ﴾ او ځيني له خلكو څخه هغه څوک دى چي خرڅوي نفس خپل لپاره درضا دالله (يعني له خپل ځان او ماله تيريږي) دا دوهمه ټولى ده چي دنيكو كارو صالحانو ده ورو سته له دې چي الله ﷻ دمنافقينو بد صفتونه ذكر كړل وروسي يې دمؤمنانو نيک صفتونه راوړل هغوى چي خپل ځانونه دالله ﷻ درضا لپاره خرڅوي دهغه ثوابونه غواړي او له خپلو كړو وړو څخه يې الله مقصد وى. ﴿ وَٱللَّهُ رَءُوفٌۢ بِٱلْعِبَادِ ﴾ او الله ډير مهربان دى په بندګانو باندى ګناوي يې ببښي نيكي يې ورزياتوي هغه چي ځني سرغړونه كوي سمدستي يې نه نيسي بيا الله مؤمنانو ته دانقياد او غاړه ايښودلو امر وفرمايو چي په اسلام كي هغه مبارک دين چي دالله خوښ دى داخل شي او ټول حكمونه يې ومني . ﴿ يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ ٱدْخُلُوا۟ فِى ٱلسِّلْمِ كَآفَّةً ﴾ (اې هغو كسانو چي ايمان يې راوړي وى(اې مؤمنانو) ننوځئ په اسلام كي (دهغه له ټولو شرائطو سره) ټول) هسي مه كوى چي يو حكم يې واخلى بل پريږدى لمونځ كوى زكاتونه نه وركوى اسلام داسي كل دى چي ټوټه كيږي نه . ﴿ وَلَا تَتَّبِعُوا۟ خُطُوَٰتِ ٱلشَّيْطَـٰنِ ۚ إِنَّهُۥ لَكُمْ عَدُوٌّ مُّبِينٌ ﴾ او مه كوى پيروي دقدمونو دشيطان بيشكه دا (شيطان) ستاسي ښكاره دښمن دى ﴿ فَإِن زَلَلْتُم مِّنۢ بَعْدِ مَا جَآءَتْكُمُ ٱلْبَيِّنَـٰتُ ﴾ (بيا كه وښويدى تاسي وروسته له هغه چي راغلى دى تاسي ته ښكاره معجزې) يعني كه وروسته له دې چي قاطع دليلونه يې په حقيقت باندى شته بيا هم وښوئيدئ ﴿ فَٱعْلَمُوٓا۟ أَنَّ ٱللَّهَ عَزِيزٌ حَكِيمٌ ﴾ (نو وپوهيږي چي الله ډير غالب لوى حكمت والا دى) يعني هغه دومره غالب دى چي له ګنهګارانو څخه دانتقام په اخيستلو كي پاتي نه راځي او پخپل حكمت اوصنعت كي دحكمت خاوند دى ﴿ هَلْ يَنظُرُونَ إِلَّآ أَن يَأْتِيَهُمُ ٱللَّهُ فِى ظُلَلٍ مِّنَ ٱلْغَمَامِ وَٱلْمَلَـٰٓئِكَةُ ﴾ (انتظار نه كوي دوى مګر دې ته چي راشي دوى ته (عذاب د) الله په سيورو كي له ورېځو څخه (او راشي دوى ته) پرښتي (دعذاب) ﴿ وَقُضِىَ ٱلْأَمْرُ ۚ وَإِلَى ٱللَّهِ تُرْجَعُ ٱلْأُمُورُ ﴾ او خلاص شي كار (دهلاكت ددوى) او (خاص) الله ته بيرته ګرځول كيږي ټول كارونه (په قيامت كي دمجازاتو لپاره) يعني دوى انتظار نه كوي مګر دا چي دوى ته الله پخپله په ورځ دقيامت راشي ترڅو دخلكو ترمنځ فيصله وكړي. (١) كله

(١) امام فخررازي وايي چي دا كلام دمضاف په حذف سره دى معنى ددي قول (ان يأتيهم الله) دادي چي راشي عذاب دخداى اويا امر دخداى لكه چي په (اسأل القرية) كي مضاف حذف شوي او دا دمجاز مشهور ډول دى لكه چي وايي (ضرب الامير فلانا) او (اعطى الامير فلانا) پخپله خويې امير نه وهي او نه پخپل لاس چاته څه وركوي بلكه حكم كوي او هغه عملي كيږي اود دغه تأويل يې په بل آيت هم ملاتړ كړى چي: (هَلْ يَنظُرُونَ إِلَّا أَن تَأْتِيَهُمُ الْمَلَائِكَةُ أَوْ يَأْتِيَ أَمْرُ رَبِّكَ) خو هغه چي موږ رانقل كړي دابن كثير تفسير او دسلفو مذهب دى چي تأويل نه مني او دآيت معني په تفصيلي توګه الله ﷻ ته تفويض كوي

چي اسمان وچوي او الله ﷻ دوريځو په سيورو کي (بلا کيفه) رابښکته شي دعرش ورونکي او نوري ډيري ملائکي اوپر ښتې چي شمير يې له الله ﷻ څخه پرته هيچا ته ندي معلوم او دوی لره دتسبيح صوت وی وايي: (سبحان ذي الملک والملکوت سبحان ذي العزة والجبروت سبحان الحي الذي لايموت سبحان الذي يميت الخلائق ولا يموت سبوح قدوس رب الملائکة والروح) او دخلکو تر منځ جلاوالی وشي يوه ډله په جنت کي او بله په اور کي ولويږي او يوازي الله ته دخلکو بيرته ګرځول کيږی مقصد دلته دقيامت دورځي سترتوب او هيبت انځورول دی اوهم ددې بيان دي چي الله ﷻ دپاچهانو پاچا دی هغه چي حکم يې څوک شاته غورځولی نشي او نه يې څوک فيصله ماتولای شي هغه احکم الحاکمين ذات دی وروسته بيا رسول الله ﷺ ته خطاب فرمايي:

﴿سَلۡ بَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ كَمۡ ءَاتَيۡنَٰهُم مِّنۡ ءَايَةِۭ بَيِّنَةٖۗ﴾ پوښتنه وکړه (اې محمد!) له بني اسرائيلو څخه چي څومره ورکړي دی موږ دوی ته له معجزی څرګند ی څخه؟ يعني اې محمد ﷺ! له بنی اسرائيلو څخه دتوبيخ په توګه وپوښته چي له موسی ﷺ سره يې څومره زياتي څرګندي معجزې ليدلی خو بيا هم ايمان يې نه دي راوړي ﴿وَمَن يُبَدِّلۡ نِعۡمَةَ ٱللَّهِ مِنۢ بَعۡدِ مَا جَآءَتۡهُ فَإِنَّ ٱللَّهَ شَدِيدُ ٱلۡعِقَابِ﴾ (او هر څوک چي بدل کړي نعمت د الله (په ناشکري سره) وروسته له هغه چي راغلی ؤو دا (نعمت) ده ته نو بيشکه الله سخت دی عذاب دده (په دنيا او عقبی کي) ﴿زُيِّنَ لِلَّذِينَ كَفَرُواْ ٱلۡحَيَوٰةُ ٱلدُّنۡيَا﴾ ښائسته کړی شوی دی هغو کسانو لره چي کافران شوي دی دغه ژوندون لږ (ددنيا) يعني ښائسته کړی شوی دی دوی لره ددنيا نعمتونه چي دومره يې ورسره مينه ده چي له آخرت څخه يې راګرزولي دی. ﴿وَيَسۡخَرُونَ مِنَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْۘ﴾ (او مسخرې کوي دوی پر هغو کسانو چي ايمان يې راوړي دی) يعني ملنډې وهي او مسخري کوي په مسلمانانو باندی هغوی بې عقل ګڼي چي دنيا ته يې شا کړې او آخرت يې مدنظر ګرځولی دی لکه چي بل ځای راځي: (إِنَّ الذِينَ أَجْرَمُوا كانُوا مِنَ الذِينَ آمَنُوا يَضْحَكُونَ) الله وربانديې رد کوي فرمايي: ﴿وَٱلَّذِينَ ٱتَّقَوۡاْ فَوۡقَهُمۡ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِۗ﴾ (او هغه کسان چي ځانونه يې ساتلي دی (له شرک څخه) ددوی دپاسه به وي په ورځي دقيامت کي) يعنی مؤمنان به په (اعلی عليين) او دوی به په (اسفل سافلين) کي وی مؤمنان به په بشپړ او کامل عزت او کرامت کي وی کافران به ذلت او خواري په خوساډنډ کي ﴿وَٱللَّهُ يَرۡزُقُ مَن يَشَآءُ بِغَيۡرِ حِسَابٖ﴾ او الله روزي ورکوي هغه چا لره چي اراده يې وکړي بې له حسابه (ډيره پراخه) يعني خپلو اوليا وو ته پراخ رزق ورکوي چي تل تر تله وي لکه چي بل ځای فرمايي: (يَدْخُلُونَ الجَنَّةَ يُرْزَقُونَ فِيهَا بِغَيْرِ حِسَاب) اويا رزق ورکوي په دنيا کي هغه چا ته چي اراده يې وشيَ که مؤمن دی او که کافر نيکو کاروي که ګنهکار او داهم دخپلي ارادي له مخي چي هيڅ محاسبه هم ورسره نکوي.

بلاغت:

١. پدې کلام کي چي فرمايي: (أَخَذَتۡهُ ٱلۡعِزَّةُ بِٱلۡإِثۡمِۚ) داثم کلمه يې وروسته له عزت څخه راوړه چي دي ډول صنعت ته دبديع دعلم علماء (تتميم) وايي ځکه ډير ځله داسي ګومان کيږي چي دغه به ښه عزت وي نو ورسره يې اثم راوور چي څرګنده شي دا دګناه عزت دی.

٢. (وَلَبِئۡسَ ٱلۡمِهَادُ) دلته تهکم او استهزاء مقصد ده ځکه دوزخ يې ددوی لپاره فرش او زانګوغوندې وګڼله هغه چي مور خپل ګران زوی وربانديې نازوي.

۳. پدې کلام کې چې فرمايي: (هَلۡ يَنظُرُونَ) دلته استفهام انکاري دی او دنفی په معنی دی خکه چې وروسته خني (الا) راغلې ده معنی يې داده چې انتظار نکوي.

۴. (فِي ظُلَلٖ مِّنَ ٱلۡغَمَامِ) تنکير پدې جمله کې دهيبت او تهويل لپاره دی چې دومره پندې وريخې وی چې ليدونکي هيڅ نه ويني او (وَقُضِيَ ٱلۡأَمۡرُ) په مضارع باندې عطف دی خو چې دماضي په صيغه يې ذکر کړ معنی يې داده چې اثبات او تحقق افاده کړي لکه چې دا کار شوی دی.

۵. پدې کلام کې چې: (فَإِنَّ ٱللَّهَ شَدِيدُ ٱلۡعِقَابِ) دالله ﷻ نوم يې ظاهر راووړ چې هيبت او ترهه ځرګنده شي.

پدې کلماتو کې چې فرمايي: (زُيِّنَ ... وَيَسۡخَرُونَ) تزئين يې دماضي په صيغه راوړی چې ګواکې داددوی په طبيعت کې پروت او ټينګ دی خو فعل مضارع يې وربانديی عطف راوړي چې دسخر يې په استمرار او هميشه توب دلالت وکړي.

تنبيه:

ابن تيميه رحمه الله پخپله (تدمريه رساله) کې وايي چې دالله ﷻ وصف پدې چې راځي په سيورو (وريځو) کې داسې ده لکه راتګ په نورو آيتونو کې او ددوی په شان هغه دی چې الله ﷻ خپل ځان پخپل کتاب کې ستايلي او يا له رسول الله ﷺ څخه يې روايت شوی پدې ټولو کې خبر يوډول ده او هغه دامت دسلفو او علماؤو امامانو مذهب دی چې دوی دالله هغه ډول صفت بيانوي لکه چې الله ﷻ يې کوي او يا رسول الله ﷺ هغه ستايي نه تحريف پکې کوي او نه تعطيل نه يې ځرنګوالی (کيف) بيانوي او نه هم تمثيل او دالله په صفاتو کې قول همداسې ده لکه دهغه په ذات کې او (ليس کمثله شئ لا في ذاته ولا في صفاته ولا في افعاله) نو که چيري پوښتونکي سوال وکړي چې الله ځرنګه راځي ؟ ورته دی ووايي چې لکه ځرنګه چې ته دالله دذات په کيفيت علم او پوهه نلري همدا ډول دهغه دصفاتو کيفيت هم درته ځرګند ندي

الله تعالی فرمايي:

﴿كَانَ ٱلنَّاسُ أُمَّةٗ وَٰحِدَةٗ فَبَعَثَ ٱللَّهُ ٱلنَّبِيِّـۧنَ مُبَشِّرِينَ وَمُنذِرِينَ وَأَنزَلَ مَعَهُمُ ٱلۡكِتَٰبَ بِٱلۡحَقِّ لِيَحۡكُمَ بَيۡنَ
ٱلنَّاسِ فِيمَا ٱخۡتَلَفُواْ فِيهِۚ وَمَا ٱخۡتَلَفَ فِيهِ إِلَّا ٱلَّذِينَ أُوتُوهُ مِنۢ بَعۡدِ مَا جَآءَتۡهُمُ ٱلۡبَيِّنَٰتُ بَغۡيَۢا بَيۡنَهُمۡۖ فَهَدَى ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ
ءَامَنُواْ لِمَا ٱخۡتَلَفُواْ فِيهِ مِنَ ٱلۡحَقِّ بِإِذۡنِهِۦۗ وَٱللَّهُ يَهۡدِي مَن يَشَآءُ إِلَىٰ صِرَٰطٖ مُّسۡتَقِيمٍ ﴿۲۱۳﴾ أَمۡ حَسِبۡتُمۡ أَن تَدۡخُلُواْ ٱلۡجَنَّةَ
وَلَمَّا يَأۡتِكُم مَّثَلُ ٱلَّذِينَ خَلَوۡاْ مِن قَبۡلِكُمۖ مَّسَّتۡهُمُ ٱلۡبَأۡسَآءُ وَٱلضَّرَّآءُ وَزُلۡزِلُواْ حَتَّىٰ يَقُولَ ٱلرَّسُولُ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ مَعَهُۥ مَتَىٰ
نَصۡرُ ٱللَّهِۗ أَلَآ إِنَّ نَصۡرَ ٱللَّهِ قَرِيبٞ ﴿۲۱۴﴾ يَسۡـَٔلُونَكَ مَاذَا يُنفِقُونَۖ قُلۡ مَآ أَنفَقۡتُم مِّنۡ خَيۡرٖ فَلِلۡوَٰلِدَيۡنِ وَٱلۡأَقۡرَبِينَ وَٱلۡيَتَٰمَىٰ
وَٱلۡمَسَٰكِينِ وَٱبۡنِ ٱلسَّبِيلِۗ وَمَا تَفۡعَلُواْ مِنۡ خَيۡرٖ فَإِنَّ ٱللَّهَ بِهِۦ عَلِيمٞ ﴿۲۱۵﴾ كُتِبَ عَلَيۡكُمُ ٱلۡقِتَالُ وَهُوَ كُرۡهٞ لَّكُمۡۖ وَعَسَىٰٓ
أَن تَكۡرَهُواْ شَيۡـٔٗا وَهُوَ خَيۡرٞ لَّكُمۡۖ وَعَسَىٰٓ أَن تُحِبُّواْ شَيۡـٔٗا وَهُوَ شَرّٞ لَّكُمۡۚ وَٱللَّهُ يَعۡلَمُ وَأَنتُمۡ لَا تَعۡلَمُونَ ﴿۲۱۶﴾

يَسْـَٔلُونَكَ عَنِ ٱلشَّهْرِ ٱلْحَرَامِ قِتَالٍ فِيهِ ۖ قُلْ قِتَالٌ فِيهِ كَبِيرٌ ۖ وَصَدٌّ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ وَكُفْرٌۢ بِهِۦ وَٱلْمَسْجِدِ ٱلْحَرَامِ وَإِخْرَاجُ أَهْلِهِۦ مِنْهُ أَكْبَرُ عِندَ ٱللَّهِ ۚ وَٱلْفِتْنَةُ أَكْبَرُ مِنَ ٱلْقَتْلِ ۗ وَلَا يَزَالُونَ يُقَـٰتِلُونَكُمْ حَتَّىٰ يَرُدُّوكُمْ عَن دِينِكُمْ إِنِ ٱسْتَطَـٰعُوا۟ ۚ وَمَن يَرْتَدِدْ مِنكُمْ عَن دِينِهِۦ فَيَمُتْ وَهُوَ كَافِرٌ فَأُو۟لَـٰٓئِكَ حَبِطَتْ أَعْمَـٰلُهُمْ فِى ٱلدُّنْيَا وَٱلْـَٔاخِرَةِ ۖ وَأُو۟لَـٰٓئِكَ أَصْحَـٰبُ ٱلنَّارِ ۖ هُمْ فِيهَا خَـٰلِدُونَ ﴿٢١٧﴾ إِنَّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَٱلَّذِينَ هَاجَرُوا۟ وَجَـٰهَدُوا۟ فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ أُو۟لَـٰٓئِكَ يَرْجُونَ رَحْمَتَ ٱللَّهِ ۚ وَٱللَّهُ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿٢١٨﴾ البقرة: ٢١٣ - ٢١٨

مناسبت او تړاو:

الله ﷻ په تیرو آیتونو کي ذکر کړل چي انسانان په دوو ټولګیو ویشل شوی یوه ډله هغه چي په مځکه کي فساد خپروي او خلک په خوړه او پسته ژبه ګمراه کوي بله ډله هغه دی چي ځان یې دالله درضا لپاره خرځ کړی وی له الله پرته نور هیڅ نه غواړي او څرنګه چي خامخا دخیر او شر ترمنځ ټکر راځي نو باید چي دحق توره وچلیږي ځکه نو الله ﷻ مؤمنانو لره داسي لاره وښوده چي توره راواخلئ ملا وتړئ او جهاد یې رواکړ تر څو چي دظلم او طغیان مخه ونیسي دښمني او عدوان له منځه یوسي.

لغتونه:

(بغیا) دښمني او طغیان (وزلزلوا) له (زلة الارض) څخه اخیستل شوی او هغه ښوریدلو او اضطراب ته وایي چي شدید او سخت خوځښت یې معنا ده (کره) مکروه او نا خوښه ابن قتیبه وایي چي کره په ضمه (پیښ) سره مشقت او په زبر (فتحه) سره قهر او اکراه ته وایي (صدّ) منعي ته ویلي شي (یرتد) رجوع کوی او (ردة) ته وایي کله چي له ایمانه کفر ته رجوع وکړي راغب وایي (ارتداد) او (رجوع) له کومي لاري چي راغلي وی په هغې بیرته ګرزیدلو ته وایي خو (ردة) په کفر کي استعمالیږي او (ارتداد) عام دی په کفر او نورو کي راځي لکه چي الله فرمایي: (فارتدا علی آثارهما قصصًا) (مفردات القرآن للراغب) (حبطت) باطل شول په لسان العرب کي وایي چي (حبط) معنی داچي یو عمل یې تر سره کړ او بیرته یې باطل یا فاسد کړ په قرآنکریم کي راځي: (فاحبط أعمالهم) یعني ثواب یې باطل کړ (یرجون) رجا طمع دیو کار او آرزو (هیلي) ته وایي چي پکي ګټه او مصلحت وي (لسان العرب د(حبط) ماده).

دنزول سبب یې:

رسول الله ﷺ عبدالله بن جحش دیوې ډلی اصحابانو په مشر تابه واستاؤو چي دقریشو دقافلې څارنه وکړي هغه قافله چي عمر بن الحضرمي او دریې تنه نور هم پکي ول بیا اصحابانو هغه وواژه او دوه تنه یې په اسارت ونیول قافله یې سره له مالونو راوستله دا پیښه درجب په لومړۍ ورځ وه دوی ګومان کاوو چي دابه دجمادی الاخر وروستی وي نو قریشو وویل: دادی چي محمد ﷺ حرامه میاشت حلاله کړه هغه چي ویریدونکي پکي په امن وي او خلک دخپلو کارونو لپاره پکي تیت او خواره وي داخبره پر مسلمانانو ډیره درنده شوه بیا دا آیتونه نازل شول: (یَسْـَٔلُونَكَ عَنِ ٱلشَّهْرِ ٱلْحَرَامِ قِتَالٍ فِيهِ...) دآیت تر پایه.

تفسير:

﴿ كَانَ ٱلنَّاسُ أُمَّةً وَٰحِدَةً ﴾ (تول خلک (په ابتدا کي) يوه تولى په يوه حق دين وو) يعنى په ايمان او مستقيم فطرت وو بيا يې اختلاف وكړ ﴿ فَبَعَثَ ٱللَّهُ ٱلنَّبِيِّـۧنَ مُبَشِّرِينَ وَمُنذِرِينَ ﴾ پس الله انبياء وليږل (د خلكو دلارښوونى لپاره) زيرى وركونكي (مؤمنانو ته په جنت سره) او ويرونكي كافرانو ته(په جحيم سره.) ﴿ وَأَنزَلَ مَعَهُمُ ٱلْكِتَـٰبَ بِٱلْحَقِّ ﴾ او راويې ليږه له دوى سره كتاب (بيانونكي ددين) په حقه سره) يعني له دوى سره يې آسماني كتابونه راواستول چي بشريت ته هدايت وكړي او ددين په امورو كي چي دوى يې په هكله اختلاف كاؤو سمه لاره وروښيي ﴿ لِيَحْكُمَ بَيْنَ ٱلنَّاسِ فِيمَا ٱخْتَلَفُواْ فِيهِ ۚ وَمَا ٱخْتَلَفَ فِيهِ إِلَّا ٱلَّذِينَ أُوتُوهُ ﴾ او اختلاف نه دي كړى په هغه هادي كتاب كي مگر هغو كسانو چي وركړى شوى وو دوى ته كتاب) يعنى دوى بر عكس كار غوره كړ هغه كتاب چي داختلافاتو دله منځه وړلو لپاره راغلى وو داختلافاتو دلا ټينگولو سبب يې كړ ﴿ مِنۢ بَعْدِ مَا جَآءَتْهُمُ ٱلْبَيِّنَـٰتُ ﴾ (وروسته له هغه چي راغلى ؤو دوى ته دليلونه ښكاره) يعني وروسته له دې چي دكتاب په رڼښتنولي ښكاره دليلونه او براهين ورته موجود وو خو دوى له علمه سره سره مخالفت پيل كړ ﴿ بَغْيًۢا بَيْنَهُمْ ﴾ په سبب دكينې په منځ ددوى كي يعني كافرانو له مؤمنانو سره حسد كاوو ﴿ فَهَدَى ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لِمَا ٱخْتَلَفُواْ فِيهِ مِنَ ٱلْحَقِّ بِإِذْنِهِۦ ﴾ (پس الله سمه لاره وښودله هغو كسانو ته چي ايمان يې راوړي دى هغه شي ته چي جگړه كړي وه دوى په هغه كي چي (عبارت دى) له حقه په اذن (حكم) خپل سره) يعني الله پخپل لطف مؤمنانو ته دهغه څه هدايت وكړ چي دگمراهي خاوندانو يې په هكله اختلاف كاوو ﴿ وَٱللَّهُ يَهْدِى مَن يَشَآءُ إِلَىٰ صِرَٰطٍ مُّسْتَقِيمٍ ﴾ او الله هدايت كوي هغه چا ته چي اراده (يې دهدايت) وكړي دسمي لاري لور ته هغه چي جنت ته رسونكي وى ﴿ أَمْ حَسِبْتُمْ أَن تَدْخُلُواْ ٱلْجَنَّةَ ﴾ بلكه ايا گومان كوي تاسي (اې مؤمنانو) چي داخل به شي جنت ته ؟ چي هيڅ ازموينښت به درباندي نه راځي ﴿ وَلَمَّا يَأْتِكُم مَّثَلُ ٱلَّذِينَ خَلَوْاْ مِن قَبْلِكُم ﴾ حال دا چي راغلى به نه وى په تاسي باندى په مثل (دسختيو) دهغو كسانو چي پخواله تاسي نه ؤو ، يعني تاسي ته هومره سختي او محنتونه نه دي رسيدلي لكه چي پخوانيو ته رسيدلى وو ﴿ مَّسَّتْهُمُ ٱلْبَأْسَآءُ وَٱلضَّرَّآءُ ﴾ چي رسيدلى وو دوى ته سختي (لكه فقراو رنځ) او مرض ﴿ وَزُلْزِلُواْ حَتَّىٰ يَقُولَ ٱلرَّسُولُ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ مَعَهُۥ مَتَىٰ نَصْرُ ٱللَّهِ ﴾ (او گرځول شوي وو دوى (په سختيو سره) تر هغه پوري چي ويل به (هم) رسول او (هم) دوى هغو كسانو چي ايمان يې راوړى ؤو سره له ده چي كله به وى دالله ﷻ مرسته ؟) يعني دوى به داسي سخت گوزارونه خوړلى ؤو لكه چي زلزله ورباندى راغلې وى آن تر دې چي پيغمبراو مؤمنانو به ويل : دالله نصرت به كله وى ؟ څكه په دوى به وخت ډير اوږ دشوى وو او دادسختيو او مشكلاتو دډير زياتوالي انځور دى څكه كله چي پيغمبر سره له دومره لوړ ذات او منزلته او دا چي په محنتونو كي فوق العاده زغم او صبر لري خو بيا هم حال يې دې ته رارسيدلى وى نو گواكي شدت او محنت

خپل وروستي سرحد ته رسيدلى دى. ﴿ أَلَآ إِنَّ نَصۡرَ ٱللَّهِ قَرِيبٞ ﴾ خبر دارشئ واورئ چي بيشكه نصرت دالله نژدې دى (مؤمنانو لره) زيرى مؤمنانو لره اچي دنصرت وخت راورسيدو (وَلَيَنصُرَنَّ ٱللَّهُ مَن يَنصُرُهُۥٓۚ إِنَّ ٱللَّهَ لَقَوِيٌّ عَزِيزٌ) بيا الله تعالى وفرمايل: ﴿ يَسۡـَٔلُونَكَ مَاذَا يُنفِقُونَ ﴾ (پوښتنه كوي له تاڅخه اې محمده اچي څه شي صرف كړى دوې (په لاره (دالله كي)؟ يعني دوى له تانه سوال او پوښتنه كوي چي څه شى وركړى او چاته يې وركړى؟ دا آيت شريف هغه وخت نازل شو چي ځينو اصحابو ﷺ وويل: اې دالله پيغمبره موږ دخپلو مالونو څه وركړو او چاته يې وركړو؟ ﴿ قُلۡ مَآ أَنفَقۡتُم مِّنۡ خَيۡرٖ فَلِلۡوَٰلِدَيۡنِ وَٱلۡأَقۡرَبِينَ وَٱلۡيَتَٰمَىٰ وَٱلۡمَسَٰكِينِ وَٱبۡنِ ٱلسَّبِيلِۗ ﴾ (ووايه (اې محمده !)هرشى چي صرفوى تاسى له مالونوڅخه نويې(صرف كړي) لپاره دموراوپلار اولپاره دخپلوانواولپاره ديتيمانو اومسكينانو اوله پاره دمسافرانو)يعنى په دغونوموړو خلكويې صرفوى ﴿ وَمَا تَفۡعَلُواْ مِنۡ خَيۡرٖ فَإِنَّ ٱللَّهَ بِهِۦ عَلِيمٞ ﴾ (اوهرهغه څه چي كوى تاسى له نيك كاره نوبيشكه چي الله په هغه باندى (لكه په نورو شيانو) ښه عليم دى) ﴿ كُتِبَ عَلَيۡكُمُ ٱلۡقِتَالُ وَهُوَ كُرۡهٞ لَّكُمۡۖ ﴾ (فرض كړى شوى دى پرتاسى باندى جنگ كول (له كفاروسره)حال داچي دغه جنگ بدښكارى تاسى ته)ځكه چي پكښى دمال اوځان تيريدنه ده ﴿ وَعَسَىٰٓ أَن تَكۡرَهُواْ شَيۡـٔٗا وَهُوَ خَيۡرٞ لَّكُمۡۖ ﴾ اوښايي چي بدگڼئ تاسى يوشى حال داچي هغه ډير بهتروى تاسى لره)يعنى لكن كله كله ستاسى نفسونه يوشى نه خوښوى خوهغه تول سره گټه وى) ﴿ وَعَسَىٰٓ أَن تُحِبُّواْ شَيۡـٔٗا وَهُوَ شَرّٞ لَّكُمۡۚ ﴾ اوښايي چي تاسى خوښوى يوڅيز اوهغه ستاسى لپاره شر وى (ډيربدوى)په هغه كى ستاسى لپاره ضرراوخطرنغښتى وى نودغه قتال (كه څه هم تاسى يى نه خوښوى) ډير بهترده ځكه يابه پكى برياليتوب وى اوولجه غنيمت يابه شهادت اواجر اودهغه په پرينبودلوكى(چي تاسى يى خوښوى)ذلت ،بيوزلى اوداجرنشتوالى دى ﴿ وَٱللَّهُ يَعۡلَمُ وَأَنتُمۡ لَا تَعۡلَمُونَ ﴾ اوالله عالم دى(په خيرستاسى)اوتاسى نه پوهيږئ (پخپل خير)يعنى الله ﷻ دامورو په پايلو اوعواقبوښه پوهيږى اوپه هغه څه چي ستاسى ددنيا اوآخرت ښيگڼى دى ښه خبردى نو هغه چي څه درته فرمايى ويى منئ ﴿ يَسۡـَٔلُونَكَ عَنِ ٱلشَّهۡرِ ٱلۡحَرَامِ قِتَالٖ فِيهِۖ ﴾ پوښتنه كوى خلك له تانه (اى محمده)له مياشتى حرامى څخه له جنگ كولو په دى كى (چي روادى كه ناروا؟)يعنى اى محمده ستاملگرى (اصحابان)درڅخه دحرامى مياشتى په هكله پوښتى چي دوى لره پدى مياشت كى قتال روادى اوكه ناروا؟ ﴿ قُلۡ قِتَالٞ فِيهِ كَبِيرٞۚ ﴾ ورته ووايه (اى محمده)چي جنگ كول (په اشهرالحرم كى (عمدا) لويه گناه ده) يعنى گناه لويه اوسزايى ستره ده خوهلته تردى هم بل لوى اوخطرناك څيز شته چي هغه ﴿ وَصَدٌّ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ وَكُفۡرُۢ بِهِۦ وَٱلۡمَسۡجِدِ ٱلۡحَرَامِ وَإِخۡرَاجُ أَهۡلِهِۦ مِنۡهُ أَكۡبَرُ عِندَ ٱللَّهِۚ ﴾ اومنع كول له لارى (دين)دالله اوكافركيدل په الله او(منع)كول له مسجدحرام نه اوايستل داهل دمسجدحرام له ده څخه (گناه)ډيره لويه ده په نزد دالله (له قتاله په اشهر الحرم كى)يعنى داچي مومنان له دين څخه منع كوى په الله كافركيږى له مسجدحرام دمكى څخه خلك گرزوى اوتاسويى له بلد حرام څخه وايستى اچي تاسويى اهل اوساتونكى واست داټول ډيره لويه گناه ده ترهغه چي تاسومشركان ووژنى نوكه تاسوپه اشهرالحرم كى قتال دروند گڼئ په دى پوه شئ چي كوم

جنايات دوی دنبی ﷺ اومسلمانانوپه حق کی کړی دی تر قتال ډیر لوی اوبد دی ﴿ وَالْفِتْنَةُ أَكْبَرُ مِنَ الْقَتْلِ وَلَا يَزَالُونَ يُقَاتِلُونَكُمْ حَتَّىٰ يَرُدُّوكُمْ عَن دِينِكُمْ إِنِ اسْتَطَاعُوا ﴾ اوفتنه ډيره لويه ګناه ده له جنګ څخه او هميشه به وي دوی (کافران) چي جنګ به کوی له تاسی سره ترهغه پوری چي بيرته وګرځوی تاسی ستاسی له دينه که يې لاس ورسيږی) يعنی دوی به تل ستاسی سره دجګړی کولو کوښښ کوی ترڅو کفر ته مو واړوی که يې لاس برشی خودوی پخپله له کفر څخه نه اوړی ﴿ وَمَن يَرْتَدِدْ مِنكُمْ عَن دِينِهِ فَيَمُتْ وَهُوَ كَافِرٌ فَأُولَٰئِكَ حَبِطَتْ أَعْمَالُهُمْ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ ﴾ (اوهرڅوک چي ګرزی له تاسی نه له دينه خپله پس مړشی حال داچي دی کافروی نودغه کسان ضائع شوی دی (تير) عملونه ددوی په دنيا اوآخرت کی) يعنی که له تاسو څخه څوک ددو ی خبره ومنی اوله خپله دينه وګرزی مرتدشی بياپه کفرکی مړشی نوهغه صالح عملونه يې په دنيا اوآخرت کی ضائع شول اوثواب يې ولاړ ﴿ وَأُولَٰئِكَ أَصْحَابُ النَّارِ هُمْ فِيهَا خَالِدُونَ ﴾ اودغه کسان څښتنان داور (ددوزخ) دی همدوی به په دی (اورکی) تل ترتله وی) چي هيڅکله به څنی نه را ايستل کيږی ﴿ إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَالَّذِينَ هَاجَرُوا وَجَاهَدُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ أُولَٰئِكَ يَرْجُونَ رَحْمَتَ اللَّهِ وَاللَّهُ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴾ بيشکه هغه کسان چي ايمان يې راوړی دی اوهغه کسان چي هجرت يې کړی دی اوجهادیې دالله په لاره کې کړی دي دغه کسان اميد لری دوی درحمت دالله اوالله ښه مغفرت کونکی (دخطيئاتو) پوره رحم لرونکی دی (داجرپه زياتوالی سره) يعنی هغوی چي خپل اهل اوهيواد يې پرې ايښی له دښمنانو سره يې جنګ کړی دوی ددی وړدی چي دالله رحمت اومغفرت ورته ورسيږی الله دستر مغفرت اوپراخ رحمت څښتن دی

بلاغت:

- پدی کلمه کښی ايجاز بالحذف دی کوم چي فرمايي:(كَانَ النَّاسُ أُمَّةً وَاحِدَةً) يعنی وودوی يوامت په ايمان باندی چي دحق پيروان وو بيايي اختلاف پيل کړلو الله ﷻ انبياء راواستول اوپدی باندی داقول دلالت کوی چي: (لِيَحْكُمَ بَيْنَ النَّاسِ فِيمَا اخْتَلَفُوا فِيهِ)
- (أَمْ حَسِبْتُمْ) أم منقطعه اوهمزه دانکار لپاره دی چي دلته انکاری استفهام بلل کيږی.
- پدی جمله کی چي فرمايي(وَلَمَّا يَأْتِكُم)لما په نفی دلالت کوی سره له هيلی دواقع کيدلو لکه چي زمخشری وايی معنی يی داده :لما ينزل بکم مثل ما نزل بمن قبلکم وسينزل فان نزل فاصبروا)يعنی په تاسو خوهغه څه نه دی راغلی چي په پخوانيو راغلی وو اوژربه په تاسوهم راشی کله چي راشی بياصبراوزغم کوی مبردوايی:کله چي څوک ووايی(لم يأتنی زيد) معنی يی داده چي ستادپوښتنی معنی کوی کوم چي تاورته ويلی وو (أتاک زيد)ايازيد درته راغلی وو؟هغه وايی هيڅکله زيد نه دی راغلی اوکه يی بيا وويل چي(لمايأتنی)نومعنی يی دادی چي تراوسه ندی راغلی اوزه هيله کوم چي رابه شی نوپدی توګه په مسلمانانو دسختيو اومشکلاتو راتلل شته اوانتظار يی کيدای شی.

- (أَلَآ إِنَّ نَصۡرَ ٱللَّهِ قَرِيبٌ) په دی جمله کی څو تاکیدات شته چي د نصرت په راتلو دلالت کوی اول داچي جمله داستفتاح په حرف (توری) پیل شوی چي (الا) ده او تاکید ځنی معلومیږی داسی نه دی ویل شوی چي په تاکید دلالت کوی دوهم (ان) ذکر شوی چي په تاکید دلالت کوی دریم داچي اسمیه جمله غوره شوی او څلورم داچي د نصرت یی رب العلمین ته اضافت کړی هغه چي په هرڅه قادر ذات دی.
- (وَهُوَ كُرۡهٌ لَّكُمۡ) په دی جمله کی مصدر دمفعول پرځای راوړل شوی چي (کره) د (مکروه) په ځای دی او په دی کی مبالغه ده لکه چي خنساء وایی: فانما هی اقبال وادبار.
- په دی دوو جملو کی چي فرمایی: (وَعَسَىٰٓ أَن تَكۡرَهُواْ شَيۡـٔٗا وَهُوَ خَيۡرٞ لَّكُمۡۖ وَعَسَىٰٓ أَن تُحِبُّواْ شَيۡـٔٗا وَهُوَ شَرّٞ لَّكُمۡ) دلته دمقابلی صنعت دی چي دحب اوکراهیت اوخیر اوشر ترمینځ راغلی اودبدیع علم له محسناتو څخه ګڼل کیږی.
- (وَٱللَّهُ يَعۡلَمُ وَأَنتُمۡ لَا تَعۡلَمُونَ) دلته دطباق سلب صنعت دی.

فائده او نکته:

الله تعالی دانبیاوو له کتابونو څخه په یوه کتاب تعبیر وفرمایه چي: (وأنزل معهم الکتاب) دی ته اشاره کوی کتابونه که څه هم متعدد دی خو په اصل او مقصد کی یو دی ځکه په یوه شریعت مشتمل دی لکه چي بل ځای الله فرمایی: (شَرَعَ لَكُم مِّنَ ٱلدِّينِ مَا وَصَّىٰ بِهِۦ نُوحٗا وَٱلَّذِيٓ أَوۡحَيۡنَآ إِلَيۡكَ وَمَا وَصَّيۡنَا بِهِۦٓ إِبۡرَٰهِيمَ وَمُوسَىٰ وَعِيسَىٰٓۖ أَنۡ أَقِيمُواْ ٱلدِّينَ وَلَا تَتَفَرَّقُواْ فِيهِۚ كَبُرَ عَلَى ٱلۡمُشۡرِكِينَ مَا تَدۡعُوهُمۡ إِلَيۡهِۚ ٱللَّهُ يَجۡتَبِيٓ إِلَيۡهِ مَن يَشَآءُ وَيَهۡدِيٓ إِلَيۡهِ مَن يُنِيبُ).

تنبیه:

امام بخاری رحمه الله له خباب ابن الارت ﷺ څخه روایت کوی چي رسول الله ﷺ د کعبی سیوری ته په خپل څادر باندی تکیه کړی وه مونږ ورته وویل: ایا زمونږ لپاره مرسته نه غواړی؟ ایا مونږ ته دعا نه کوی؟ نو یی وویل پخواله تاسی داسي څوک وو چي سړی به یی په مځکه کی ښخ کړ او په سر به یی اره ورکښیښوده دوه ځایه به یی کړ او داوسپنی په ږمنځو به یی داسي ږمنځول چي غوښی اوهډوکی به یی بیل شول خودوی له دینه څخه نه اوښتلو په الله لوړه چي الله به دادین داسي خپور کړی چي سپور به له صنعاء تر حضرموت پوری درومی خو له الله پرته به له بل چا څخه نه ویریږی او نه به د خپلی رمی په هکله څوک له لیوه د اریږی خو تاسی تلوار کوئ.

الله تعالی فرمایي:

﴿ ۞ يَسۡـَٔلُونَكَ عَنِ ٱلۡخَمۡرِ وَٱلۡمَيۡسِرِۖ قُلۡ فِيهِمَآ إِثۡمٞ كَبِيرٞ وَمَنَٰفِعُ لِلنَّاسِ وَإِثۡمُهُمَآ أَكۡبَرُ مِن نَّفۡعِهِمَاۗ وَيَسۡـَٔلُونَكَ مَاذَا يُنفِقُونَ قُلِ ٱلۡعَفۡوَۗ كَذَٰلِكَ يُبَيِّنُ ٱللَّهُ لَكُمُ ٱلۡأٓيَٰتِ لَعَلَّكُمۡ تَتَفَكَّرُونَ ﴿٢١٩﴾ فِي ٱلدُّنۡيَا وَٱلۡأٓخِرَةِۗ وَيَسۡـَٔلُونَكَ عَنِ ٱلۡيَتَٰمَىٰۖ قُلۡ إِصۡلَاحٞ لَّهُمۡ خَيۡرٞۖ وَإِنۡ تُخَالِطُوهُمۡ فَإِخۡوَٰنُكُمۡۚ وَٱللَّهُ يَعۡلَمُ ٱلۡمُفۡسِدَ مِنَ ٱلۡمُصۡلِحِۚ وَلَوۡ شَآءَ ٱللَّهُ

لَأَعْنَتَكُمْ إِنَّ ٱللَّهَ عَزِيزٌ حَكِيمٌ ﴿٢٢٠﴾ وَلَا تَنكِحُوا۟ ٱلْمُشْرِكَٰتِ حَتَّىٰ يُؤْمِنَّ وَلَأَمَةٌ مُّؤْمِنَةٌ خَيْرٌ مِّن مُّشْرِكَةٍ وَلَوْ
أَعْجَبَتْكُمْ وَلَا تُنكِحُوا۟ ٱلْمُشْرِكِينَ حَتَّىٰ يُؤْمِنُوا۟ وَلَعَبْدٌ مُّؤْمِنٌ خَيْرٌ مِّن مُّشْرِكٍ وَلَوْ أَعْجَبَكُمْ أُو۟لَٰٓئِكَ يَدْعُونَ إِلَى ٱلنَّارِ
وَٱللَّهُ يَدْعُوٓا۟ إِلَى ٱلْجَنَّةِ وَٱلْمَغْفِرَةِ بِإِذْنِهِۦ وَيُبَيِّنُ ءَايَٰتِهِۦ لِلنَّاسِ لَعَلَّهُمْ يَتَذَكَّرُونَ ﴿٢٢١﴾ وَيَسْـَٔلُونَكَ عَنِ ٱلْمَحِيضِ قُلْ هُوَ
أَذًى فَٱعْتَزِلُوا۟ ٱلنِّسَآءَ فِى ٱلْمَحِيضِ وَلَا تَقْرَبُوهُنَّ حَتَّىٰ يَطْهُرْنَ فَإِذَا تَطَهَّرْنَ فَأْتُوهُنَّ مِنْ حَيْثُ أَمَرَكُمُ ٱللَّهُ إِنَّ ٱللَّهَ يُحِبُّ
ٱلتَّوَّٰبِينَ وَيُحِبُّ ٱلْمُتَطَهِّرِينَ ﴿٢٢٢﴾ نِسَآؤُكُمْ حَرْثٌ لَّكُمْ فَأْتُوا۟ حَرْثَكُمْ أَنَّىٰ شِئْتُمْ وَقَدِّمُوا۟ لِأَنفُسِكُمْ وَٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ وَٱعْلَمُوٓا۟
أَنَّكُم مُّلَٰقُوهُ وَبَشِّرِ ٱلْمُؤْمِنِينَ ﴿٢٢٣﴾ وَلَا تَجْعَلُوا۟ ٱللَّهَ عُرْضَةً لِّأَيْمَٰنِكُمْ أَن تَبَرُّوا۟ وَتَتَّقُوا۟ وَتُصْلِحُوا۟
بَيْنَ ٱلنَّاسِ وَٱللَّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ ﴿٢٢٤﴾ لَّا يُؤَاخِذُكُمُ ٱللَّهُ بِٱللَّغْوِ فِىٓ أَيْمَٰنِكُمْ وَلَٰكِن يُؤَاخِذُكُم بِمَا كَسَبَتْ قُلُوبُكُمْ وَٱللَّهُ غَفُورٌ
حَلِيمٌ ﴿٢٢٥﴾ البقرة: ٢١٩ - ٢٢٥

مناسبت او تړاو:

کله چې الله تعالی په تیرو آیتونو کی دجنګ احکام بیان کړل اوهغه ستر هدف چې جهاد یې رواکړی اوهغه دحق مرسته اوددین لوړ تیا اوتعالي ده ترڅو اسلامی امت له دی څخه وژغورل شي چې دښمن یې له ستونی تیرکړی ذکر کړ وروسته یې مومنان هغه داخلی اصلاح ته متوجه کړل اوهغه یې وفرمایل چې په ټولنه کی دفضیلت اوښو اخلاقو پوری تړلی اوتعلق لری څکه چې ټولنه باید له بهرنی (خارجی) اوداخلی اصلاح څخه برخور داره وی ترڅو یی تاداوونه خوراټینګ اومحکم شی اوددنیا طوفانی بادونه یی ونه خوځوی.

لغتونه:

(الخمر)مستوونکی شیان خمر یی څکه بولی چې هغه پټولوته وایی اوداشیان هم عقل پټوی لکه چې وایی:(خمرت الاناء)لوښی می پټ کړ یعنی برغولی می ورباندی دپاسه کښیښود(المیسر)قمار ته وایی له یسر څخه اخیستل شوی څکه پرته له تکلیف نه تر لاسه شوی اوچاپیاویلی چې له یسارنه راغلی چې بډایی اوغناته وایی اوداهم دبډایی سبب ګرزی(الاثم)ګناه ته وایی جمع یی(آثام)راځی شرابوته هم (اثم)ویل کیږی څکه دوی دګناه سبب جوړیږی (العفو)ترحاجت زیات څه ته ویل کیږی(اعنتکم) په سختی کی به تاسی واچوی دعنت اصل مشقت اوسختی ده (امة)مینځې ته وایی جمع یی (اماء)راځی اوداصیلی مقابل ده (المحیض)مصدر اوحیض په معنا ده لکه (معیش)چې دعیش په معنی ده حیض په اصل کی بهیدلوته وایی اوښځی ته (حائض) او (حائضه) ویل کیږی فراء وایی:(کحائضة یزنی بهاغیرطاهر) لکه چې له حائضی سره ناولی زناکوی (الحرث) دتخم (زری)اچول په مځکه کی داخبره راغب کړی اوجوهری وایی چې کښت ته وایی[1] او(حارث)کښت کوونکی بولی اودحرث معنی دلته دښنه کیدلو ځای اودماشوم دزیږیدلو ځای د تشبیه په ډول ګڼل شوی دی(عرضة) منع کوونکی اوهرشی چې منع کوی (عرضه)بولی لکه چې وریځ عارض بولی څکه دلمرورانګی نه پریږدی (لغو)چتیات هغه که خبری اوکه نورڅه وی دمرغه آواز ته هم چې لغو وویل شی څکه معنی نلری.

[1] الصحاح للجوهری د(حرث) ماده.

دنزول سبب:

الف: يوه ډله انصار رضی الله عنهم رسول الله ﷺ ته راغلل چي پکی عمر بن الخطاب ؓ وو اوورته ويل يې: موږ ته دشرابو اوقمارپه هکله فتوا راکړه ځکه دادواړه شيان عقل اومال بايلی اوله مينځه يې وړی يې نوالله ﷻ داآيت نازل کړ(يَسْـَٔلُونَكَ عَنِ ٱلْخَمْرِ وَٱلْمَيْسِرِ).

ب: له ابن عباس ؓ څخه روايت شو ی چي هغه وايی کله چي الله داآيت نازل کړ: (وَلَا تَقْرَبُوا۟ مَالَ ٱلْيَتِيمِ إِلَّا بِٱلَّتِى هِىَ أَحْسَنُ) نوهغه چاچي ورسره به ديتيم مال وو هغه يې کوښی کړ ارخوراک څښاک يې ځنی جلا کړ کله چي به يې ديتيم له خوراک څخه څه پاتی شوي ډو هغه به يې ورته خوندی کړل ترڅوبه خوساشوا ويابه يې وخوړل نوداپه دوی سخته شوه اورسول الله ﷺ ته يې عرض وکړ الله دا آيت نازل کړ: (وَيَسْـَٔلُونَكَ عَنِ ٱلْيَتَـٰمَىٰ ۖ قُلْ إِصْلَاحٌ لَّهُمْ خَيْرٌ) دآيت ترپايه.

ج: أنس ؓ وايی چي: کله به ديهودو له ښځوځنی کومه يوه حائضه (دمياشتنی ناروغه) شوه نوبه يې له خونی (کوټې) بهره کړه ورسره به يې خوراک څښاک نه کاوو اونه به يې په کورکی ورسره يوځای ګوزاره کوله نو له رسول الله ﷺ څخه په دی هکله پوښتنه وشوه الله ﷻ دا آيت نازل کړچي: (وَيَسْـَٔلُونَكَ عَنِ ٱلْمَحِيضِ ۖ قُلْ هُوَ أَذًى) دآيت ترپايه.

تفسير:

﴿ يَسْـَٔلُونَكَ عَنِ ٱلْخَمْرِ وَٱلْمَيْسِرِ ۖ ﴾ پوښتنه کوی له تاڅخه (ای محمده ﷺ) له (حکمه) دشرابو اوله (حکمه) دقمارڅخه ﴿ قُلْ فِيهِمَآ إِثْمٌ كَبِيرٌ وَمَنَـٰفِعُ لِلنَّاسِ ﴾ ورته ووايه (ای محمده) په دی دواړوکی ګناه لويه ده اوګټی دی لپاره دخلکو ﴿ وَإِثْمُهُمَآ أَكْبَرُ مِن نَّفْعِهِمَا ۗ ﴾ اوګناه ددواړو ډيره لويه ده ترګټه ددوی دواړو ځکه دعقل وړل اودمال بايلودل اودتن وړاندی کول ناروغی ته په شرابوکی دی لکه چي قمار کورونه ورانوی کورنی تباه کوی دقمار بازانو لوبغاړو ترمينځ کرکه اونفرت راولی داټول ليدل شوی اومنل شوی دي که چيری يې دغه ستر ضرر اوتاوان له ليرې ګټی سره پرتله شي نوبه ددغه منکر اوخبيث عمل تاوان ځرګند شی ﴿ وَيَسْـَٔلُونَكَ مَاذَا يُنفِقُونَ ﴾ (اوپوښتنه کوی(ای محمده) له تاځنی چي څومره ولګوئ) يعنی څومره مصرف او څومره مال پريږدي؟ ﴿ قُلِ ٱلْعَفْوَ ﴾ ورته ووايه (ای محمده) چي صرف کړئ هغه چي وی) زيات له حاجته ستاسی نه اوهغه مه لګوئ چي ستاسو ورته اړتياوی اوځانونه خوارکړی ﴿ كَذَٰلِكَ يُبَيِّنُ ٱللَّهُ لَكُمُ ٱلْـَٔايَـٰتِ ﴾ (همداسي بيانوي الله تاسي ته احکام) يعنی لکه چي احکام درته بيانو ی همداسي ګټي اوتاوانونه اوحلال حرام هم دربنيي ﴿ لَعَلَّكُمْ

تَتَفَكَّرُونَ فِي ٱلدُّنْيَا وَٱلْآخِرَةِ ﴾ (لپاره ددی چي تاسی فکر وکړی(دالله تعالی په احکامو اودلائلوکی) اوپه (کارونود) دنیا اوآخرت کی) نوبه وپوهیږی چي دنیا پاتی اوفنا اوآخرت تل ترتله باقی پاتی دی نوبه هغه کارکوی چي ستاسی لپاره ترټولو ښه وی هوښیار هغه دی چي باقی ژوندته په فانی ژوند ترجیح ورکړی

﴿وَيَسْـَٔلُونَكَ عَنِ ٱلْيَتَـٰمَىٰ قُلْ إِصْلَاحٌ لَّهُمْ خَيْرٌ﴾ اوپوښتنه کوی دوی له تانه (ای محمده) له معاملاتو ، دیتیمانو ته ورته ووایه (ای محمده)چي اصلاح دمال ددوی بهتردی (له بیزاری نه)یعنی دوی دیتیمانو دګډون په هکله پوښتنه کوی چي ایا هغه له ځانه سره ملګری که ځنی ګوښی کړی نوورته ووایه چي ددوی ګډول داصلاح په ډول دهغوی له ګوښی توب ښه غوره دی ﴿وَإِن تُخَالِطُوهُمْ فَإِخْوَٰنُكُمْ﴾ (اوکه یوځای کړی خرڅ ددوی)له ځانه سره نودوی وروڼه ستاسی دی)یعنی که موخپل مالونو دهغوی له مالونو سره ګډکړل داصلاح اومصلحت په ډول نوبیادوی ستاسی دینی وروڼه دی اودینی اخوت ترنسبی ټینګ دی اودهمدی وروولی له حقوقوڅخه یودادی چي دمصالحې اوګټې لپاره به یی مال ګډوی ﴿وَٱللَّهُ يَعْلَمُ ٱلْمُفْسِدَ مِنَ ٱلْمُصْلِحِ﴾ اوالله ته معلوم دی ضائع کونکی (دمال)له اصلاح کونکی نه)یعنی الله دادواړه پیژنی اوهریوه ته په خپل عمل باندی جزا ورکوی ﴿وَلَوْ شَآءَ ٱللَّهُ لَأَعْنَتَكُمْ﴾ اوکه اراده کړی وای الله (دمشقت)ستاسی نوخامخابه یی مشقت راووست په تاسی باندی)خوالله ﷻ دآسانتیا اراده لری اودخپل رحمت اومهربانی له مخی یی دین درته آسانه کړی دی ﴿إِنَّ ٱللَّهَ عَزِيزٌ حَكِيمٌ﴾ (بیشکه چي الله ښه غالب ښه تدبیر والادی) یعنی الله ﷻ داسي قوی اوغالب ذات دی چي هیڅ ورته ممتنع نه دی هغه چي کوم احکام دخپلو بندګانو لپاره ټاکی دحکمت خاونددی ، بیاالله تعالی دهغو مشرکو ښځو له په نکاح کولو څخه ویرونه کوی چي هغوی اسمانی دین اوکتاب نلری فرمایی: ﴿وَلَا تَنكِحُوا۟ ٱلْمُشْرِكَـٰتِ حَتَّىٰ يُؤْمِنَّ﴾ اوپه نکاح مه اخلئ مشرکې ښځې ترهغو پوری چي ایمان راوړی دوی)یعنی داهل کتابو نه پرته مشرکې ښځې په نکاح مه اخلئ ترڅوپه الله اوآخرت باندې ایمان راوړی ﴿وَلَأَمَةٌ مُّؤْمِنَةٌ خَيْرٌ مِّن مُّشْرِكَةٍ وَلَوْ أَعْجَبَتْكُمْ﴾ (اوخامخا وینځه مسلمانه بهتره ده له مشرکې اصیلې څخه اګرکه تاسی ته ښه درښکاره شی) یعنی که څه هم چي مشرکه اصیله دمال اوجمال څښتنه وی اونورټول هغه صفات چي کورنۍ اوحسب یی لوړ وی پکی موجودوی خومؤمنه مینځه ترې بهتره ده ﴿وَلَا تُنكِحُوا۟ ٱلْمُشْرِكِينَ حَتَّىٰ يُؤْمِنُوا۟﴾ اوپه نکاح مه ورکوی (مسلمانې ښځې)کافرانوته ترهغه پوری چي ایمان راوړی دوی)یعنی تاسوخپلی لونې مشرکانوته که بت پرستان دی اویاأهل کتاب مه ورکوئ ترڅو چي په الله اوپیغمبر ﷺ ایمان راوړی ﴿وَلَعَبْدٌ مُّؤْمِنٌ خَيْرٌ مِّن مُّشْرِكٍ وَلَوْ أَعْجَبَكُمْ﴾ (اوخامخا مریئ مومن بهتردی له کافرسړی نه اګرکه ښه درښکاره شی تاسې ته)یعنی که تاسو خپلی لونی مومن مریی ته واده کړی ترهغه ښه ده چي اصیل مشرک ته یی ودوی که څه هم دغه مشرک په مال جمال حسب او نسب کی لوړ وی اوتاسی ته ښه ښکاری ﴿أُو۟لَـٰٓئِكَ يَدْعُونَ إِلَى ٱلنَّارِ﴾ دغه کسان بولی (خلک په بدعمل سره)په لوری داور(ددوزخ) یعنی دغه ذکرشو ی مشرکان اومشرکې ښځې چي له دوی سره دوستی دمصاهرت اویاپه نکاح اخستل نارواوګڼل شودوی تاسې هغه څه ته بولی چي اورته موغور خوی اوهغه کفر اوفسق دی

نوحق دادی چي نه خو خپله لور ورکړی اونه هم تاسو دغه مشرکې په نکاح واخلی ﴿ وَٱللَّهُ يَدْعُوٓاْ إِلَى ٱلْجَنَّةِ وَٱلْمَغْفِرَةِ بِإِذْنِهِۦ ﴾ اوالله بولی(خلک)په لوری دجنت اومغفرت په اذن (حکم اوارادې)خپلی سره یعنی الله موهغه ځه ته بولی چي جنت اومغفرت واجبوی ستاسو دخیر اراده لری اونیکمرغی ته موبولی ﴿ وَيُبَيِّنُ ءَايَٰتِهِۦ لِلنَّاسِ لَعَلَّهُمْ يَتَذَكَّرُونَ ﴾ اوبیانوې احکام خپل خلکوته دپاره ددې چي دوی نصیحت ومنی(پند واخلی)نودخیر اوشرتوپیربه وکړی. وروسته الله ﷻ دحیض احکام داسي بیانوی ﴿ وَيَسْـَٔلُونَكَ عَنِ ٱلْمَحِيضِ قُلْ هُوَ أَذًى ﴾ اوپوښتنه کوی دوی له تانه (ای محمده له احکامو)دحیض څخه ووایه (ای محمده دوی ته)دایوه پلیتی ده)یعنی دوی له تانه ددی پوښتنه کوی چي دحیض په موده کی له ښځوسره جماع (کوروالی)رواده که ناروا؟نوورته ووایه چي دایوناپاکه حالت دی اوپه دی کی (کوروالی)کول ددواړو لپاره ضرردې ﴿ فَٱعْتَزِلُواْ ٱلنِّسَآءَ فِى ٱلْمَحِيضِ ﴾ نوپه څنګ شی له جماع دښځو څخه په وخت دحیض کی ﴿ وَلَا تَقْرَبُوهُنَّ حَتَّىٰ يَطْهُرْنَ ﴾ اومه نژدی کیږی (په جماع سره)دوی ته ترهغه پوری چي (ښې)پاکی شی)یعنی چي وینی یی ودریږی اوغسل وکړی اومراد داده چي کوروالی (جماع) مه ورسره کوئ نه داچي مطلق نزدیکت یی مه کوئ یو ځای مه کښینئ اومه ورسره خوراک څښاک کوئ لکه چي به یهودوانو کله چي به یی میرمن حائضه شوه کول ﴿ فَإِذَا تَطَهَّرْنَ فَأْتُوهُنَّ مِنْ حَيْثُ أَمَرَكُمُ ٱللَّهُ ﴾ نوهرکله چي ښې پاکی شوی دوی نوراځئ دوی ته (په جماع سره)له هغه ځایه چي الله تاسی ته حکم کړی دی چي هغه دنسب اواولاد رواړلو ځای دي یعنی دمخه لوري ، نه دشالوري ﴿ إِنَّ ٱللَّهَ يُحِبُّ ٱلتَّوَّٰبِينَ وَيُحِبُّ ٱلْمُتَطَهِّرِينَ ﴾ بیشکه چي الله خوښوی تو به ایستونکی له ګناهونو اوخوښوی ځان ساتونکی (له پلیتیو څخه) ﴿ نِسَآؤُكُمْ حَرْثٌ لَّكُمْ فَأْتُواْ حَرْثَكُمْ أَنَّىٰ شِئْتُمْ ﴾ ستاسی ښځی ځای دکرلو ستاسی دی نوراځی ځای دکرلو خپلوته (چي دمخه لوری دی)په هرډول چي خوښه شی ستاسی) ابن عباس ﷺ وایی خپل کښت چي چیری زرغونیږی هلته یی اوبه کړه (اسق نباتک حیث ینبت)او(أنیٰ شئتم) معنا داده چي څه ډول موزړه غواړی په ولاړی وی که په ناستی یاملاستی یاپه اړخ وی خوچي دمخې له خوا (فرج) کی وی اوداد یهودانو دهغه خبری رد دی چي دوی به ویل که څوک دشاله خوادمخې په ځای کی مجامعت وکړي نوماشوم یی چپ سترګی (احول) زیږی ﴿ وَقَدِّمُواْ لِأَنفُسِكُمْ ﴾ اوپه مخکی ولیږئ تاسی لپاره دځانو نوخپلو (نیک عمل)ترڅو ستاسو لپاره ذخیره وی ﴿ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَٱعْلَمُوٓاْ أَنَّكُم مُّلَٰقُوهُ ﴾ اوویریږی له الله څخه اوو پوهیږئ چي بیشکه تاسی ملاقات کوونکی یی له الله سره)یعنی تاسو هغه ته ورځی اوهغه به تاسوته ستاسی په اعمالوجزا درکړی ﴿ وَبَشِّرِ ٱلْمُؤْمِنِينَ ﴾ اوزیری ورکړه (ای محمده)مؤمنانو ته (دجنت دنعمتونو) ﴿ وَلَا تَجْعَلُواْ ٱللَّهَ عُرْضَةً لِّأَيْمَٰنِكُمْ ﴾ اومه ګرزوئ (نوم د) الله نښانه لپاره دقسمونو خپلو) یعنی تاسو په خدای باندی لوړه سبب دمنعې دنیک عمل مه ګرزوئ چي بیا قسم پلمه کړی اووایاست چي مالوړه کړی چي داسې به نه کوم غواړم چي قسم پرځای کړم بلکه تاسو نیک

کاروکړی او د قسم کفاره ورکړی.(۱) ابی عباس ﷺ وایی چي الله دخپل قسم لپاره ننبنه مه ګرزوه چي ته به ښه کار نه کوی بلکه د قسم کفاره ورکړه او ښه کار ترسره کړه ﴿ أَن تَبَرُّوا وَتَتَّقُوا وَتُصْلِحُوا بَيْنَ النَّاسِ ﴾ (داچي (نه) به نیکی کړئ او (نه) به پرهیزګاري او (نه) به روغه کوی په مینځ دخلکو کی) یعنی الله سبب دمنعی دښو کارونو ،تقوئ ، او دخلکو ترمینځ دروغی جوړی مه ګرزوی. دا آیت شریف دعبدالله بن رواحه په هکله نازل شوی چي هغه قسم خوړلئ وو چي دخپل اوښی نعمان بن بشیر سره به خبرې نکوی اونه به دهغه او خپلې خور ترمینځ روغه جوړه کوی ﴿ وَاللَّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ ﴾ (اوالله ښه اوریدونکی ښه عالم دی) یعنی ستاسی داقوالو اوریدونکئ اوستاسی داحوالو لیدونکی دی بیا الله وفرمایل: ﴿ لَّا يُؤَاخِذُكُمُ اللَّهُ بِاللَّغْوِ فِي أَيْمَانِكُمْ ﴾ (نه نیسی الله تاسی په لغو (اوپه ګمان)سره په قسمونو ستاسی کی) یعنی الله تاسی په هغو قسمونو چي بی اختیاره موپه خوله راشی نه نیسی لکه چي څوک وایی(بلی والله) یعنی هوپه والله اویانه په والله خودلوږې اوقسم قصد یی نه وی ﴿ وَلَٰكِن يُؤَاخِذُكُم بِمَا كَسَبَتْ قُلُوبُكُمْ ﴾ اولکن نیسی (الله)تاسې په هغه قسم چي قصد کړی وی (دهغه)زړونو ستاسې) ﴿ وَاللَّهُ غَفُورٌ حَلِيمٌ ﴾ اوالله ښه مغفرت کونکی ښه تحمل کونکی دی ژرترژره بندګان په عذاب نه نیسي.

بلاغت:

۱- (يَسْأَلُونَكَ عَنِ الْخَمْرِ وَالْمَيْسِرِ)پدی کلام کی (ایجازبالحذف)دی یعنی پوښتنه کوی له تاڅخه دشرابو دڅښلو او دقمار دکولو په هکله.

۲-پدې قول کي چي الله فرمایی(وَإِثْمُهُمَا أَكْبَرُ مِن نَّفْعِهِمَا)دلته اطناب اوهغه داچي له اجمال نه وروسته تفصیل راشی.

۳-(كَذَٰلِكَ يُبَيِّنُ اللَّهُ لَكُمُ الْآيَاتِ)پدی کی(مرسله مجمله) تشبیه ده.

۴ -(وَاللَّهُ يَعْلَمُ الْمُفْسِدَ مِنَ الْمُصْلِحِ)دلته دطباق صنعت دمفسد اومصلح ترمینځ دی اودبدیعی محسناتو څخه ګڼل کیږی.

۵-(أُولَٰئِكَ يَدْعُونَ إِلَى النَّارِ ۖ وَاللَّهُ يَدْعُو إِلَى الْجَنَّةِ)په دی کی هم دطباق صنعت دی چي یویې دنار کلمه له بلې دجنت له کلمي سره راغلی.

۶-(قُلْ هُوَ أَذًى) پدی کلام کی بلیغه تشبیه ده ځکه دتشبیه توري حذف شوی اووجه دشبهی هم نده څرګنده نوورته بلیغه تشبیه وایو نوبه لکه چي وویل شی (علی زمرئ دی) اُودابه نودمبالغی لپاره وی.

۷-(وَلَا تَقْرَبُوهُنَّ حَتَّىٰ يَطْهُرْنَ)له جماع څخه کنایه راغلی ده.

(۱) چاپیاویلی چي دیرقسمونه مه خورئ چي الله دخپلو قسمونو ننبنه وګرزوئ اوپه هرلوی اوکوچنی سپک اودرانه کارکی قسمونه اخلئ غواړئ چي تاسی قسم پرځای کړی پرهیزګاراوصالحان یاست خوقسم خورهیڅکله هم نیک اوپرهیزګار نه وی.

۸ - پدی جمله کی چي فرمايي: (نِسَآؤُكُمْ حَرْثٌ لَّكُمْ) دادمضاف په حذف سره راغلی يعنی ځای (دحرث) ستاسو دی اويا تشبيه ده چي ښځه يی له مځکی سره مشابه ګڼلی او نطفه لکه تخم او زړی اولاد لکه کښت نو (حرث) دمحرث په معنی دمبالغی لپاره راوړل شوی دی.

فوائد او ګټي:

لومړۍ فائده: شرابو ته (ام الخبائث) وايی ځکه هغه دهر بدفعل سرچينه ده نسائی روايت کوی چي عثمان ﷺ وويل که له شرابو ځان وژغوری هغه (ام الخبائث) دی پخوا يو عبادت کونکی سړی وو نويوی پليتی ښځی هغه بی لاری کړ چي وينځه يی ورته راواستوله ورته ويل يی دشاهدۍ لپاره دی بولی او هغه له وينځی سره ورغی کله چي به په يوه دروازه دننه شوه هغه به يی پسی وتړله ترڅوچي ښځی ته ورورسيدل او هلته يو ماشوم او يو هم دشرابو خم وو ښځی ورته وويل: ماته دګواهۍ لپاره نه يی رابللی بلکه غواړم چي راسره (جماع) وکړی اويادا شراب وڅښی او هم داماشوم ووژنی هغه ورته وويل شراب راوڅښه چي يوه پياله يی ورکړه نوريی وغوښتل هغه يی هم ورو څښل ترڅويی زنا وکړه او ماشوم يی وواژه نوله شرابو ځان وژغوری ځکه چي بيشکه په الله قسم که به ايمان او تل ترتله شراب خوړل سره يوځای شی خامخابه يو يابل ايستلو ته اړباسی).

دوهمه فائده: په شرابوکی به څنګه فائده وی سره له دی چي هغه عقل او مال دواړه بيايی؟ ځواب داچي په آيت شريف کی مادی منافع مقصد دی چي دوی به سود اګری کوله او ګټي وتی به يی خوړلی اويا کيدای شی دغه لړ غوندی خوند او مست والی به مطلب وی قرطبی وايی: دشرابو څښونکی دخلکو ساتيری او خندنی جوړشی او پخپلو بولو او غائطه موادو لوبی کوی کله کله يی په مخ موښی چي ليدل شو ی يوچا له دوی څخه مخ په متيازو لړلی او ويل يی (اللهم اجعلنی من التوابين واجعلنی من المتطهرين) ځينی داسي ليدل شوی چي سپی مخ ورڅټی او هغه وايی چي (اکرمک الله کما اکرمتنی)[1]

دريمه فائده: زمخشري وايی چي په (فَٱعْتَزِلُوا۟ ٱلنِّسَآءَ فِى ٱلْمَحِيضِ) (مِنْ حَيْثُ أَمَرَكُمُ ٱللَّهُ) (فَأْتُوا۟ حَرْثَكُمْ أَنَّىٰ شِئْتُمْ) پدی ټولو کی کنايات لطيفه او تعريضات حسنه موجود دی او داکلمې او داسي نور هغه څه دی چي الله مؤمنانو ته دادابو ښوونه کوی څويی زده کړی او پخپلو محاوراتو او ليکنو کی يی راوړی[2]

الله تعالی فرمايي:

﴿ لِّلَّذِينَ يُؤْلُونَ مِن نِّسَآئِهِمْ تَرَبُّصُ أَرْبَعَةِ أَشْهُرٍ ۖ فَإِن فَآءُو فَإِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿٢٢٦﴾ وَإِنْ عَزَمُوا۟ ٱلطَّلَٰقَ فَإِنَّ ٱللَّهَ سَمِيعٌ عَلِيمٌ ﴿٢٢٧﴾ وَٱلْمُطَلَّقَٰتُ يَتَرَبَّصْنَ بِأَنفُسِهِنَّ ثَلَٰثَةَ قُرُوٓءٍ ۚ وَلَا يَحِلُّ لَهُنَّ أَن يَكْتُمْنَ مَا خَلَقَ ٱللَّهُ فِىٓ أَرْحَامِهِنَّ إِن كُنَّ يُؤْمِنَّ بِٱللَّهِ وَٱلْيَوْمِ ٱلْءَاخِرِ ۚ وَبُعُولَتُهُنَّ أَحَقُّ بِرَدِّهِنَّ فِى ذَٰلِكَ إِنْ أَرَادُوٓا۟ إِصْلَٰحًا ۚ وَلَهُنَّ مِثْلُ ٱلَّذِى عَلَيْهِنَّ بِٱلْمَعْرُوفِ ۚ وَلِلرِّجَالِ عَلَيْهِنَّ

[1] القرطبی ۳/۵۷)
[2] (الکشاف ۱/۲۰۲)

دَرَجَةٌ وَاللَّهُ عَزِيزٌ حَكِيمٌ ﴿۲۲۸﴾ الطَّلَاقُ مَرَّتَانِ فَإِمْسَاكٌ بِمَعْرُوفٍ أَوْ تَسْرِيحٌ بِإِحْسَانٍ وَلَا يَحِلُّ لَكُمْ أَنْ تَأْخُذُوا مِمَّا
آتَيْتُمُوهُنَّ شَيْئًا إِلَّا أَنْ يَخَافَا أَلَّا يُقِيمَا حُدُودَ اللَّهِ فَإِنْ خِفْتُمْ أَلَّا يُقِيمَا حُدُودَ اللَّهِ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِمَا فِيمَا افْتَدَتْ بِهِ تِلْكَ
حُدُودُ اللَّهِ فَلَا تَعْتَدُوهَا وَمَنْ يَتَعَدَّ حُدُودَ اللَّهِ فَأُولَئِكَ هُمُ الظَّالِمُونَ ﴿۲۲۹﴾ فَإِنْ طَلَّقَهَا فَلَا تَحِلُّ لَهُ مِنْ بَعْدُ حَتَّى تَنْكِحَ زَوْجًا
غَيْرَهُ فَإِنْ طَلَّقَهَا فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِمَا أَنْ يَتَرَاجَعَا إِنْ ظَنَّا أَنْ يُقِيمَا حُدُودَ اللَّهِ وَتِلْكَ حُدُودُ اللَّهِ يُبَيِّنُهَا لِقَوْمٍ يَعْلَمُونَ ﴿۲۳۰﴾

البقرة: ۲۲۶ - ۲۳۰

مناسبت او تړاو:

الله تعالی په تیرو آیتونو کی ځینی ټولنیزی ناروغی ذکر کړی چي دامت تن کمزوری کوی اودیوالی مزی پری کوی اودامت په مینځ کی دښمنی اوکرکی رامینځته کو ی لکه شراب خوړل اوقمار کول اوس بیرته خبره دکورنۍ په لور ولیږ دیده چي هغه ګواکی لومړی زړی دی چي ښایسته ټولنه وربادی جوړیږی ځکه دکورنۍ په سموالی ټولنه سمیږی اوپه فسادیی بیاټولنه فاسدیږی اوتباه کیږی نویی دکورنۍ احکام په دی بنا اوپیل کړل چي دزوجینو ترمینځ علاقه اوتړون باید ددین په تاداو بناوی ترڅو دغه تړون تلپاتی اوپکی مهربانی ،اخلاص اورښتنولی موجوده شی ځکه نو مشرکه ښځه نباید دمسلمان په څنګ کې وی اومسلمانه ښځه نه ښایی چي دکافراومشرک ترسلطی لاندې وی ځکه اسلام دمشرکانو نکاح اویاداچي مشرکانو ته مومنانې په نکاح ورکول شی حرام اعلان کړل اوس په دی آیتونو کی ځینې نورې ناروغی یادوی هغه چي دکورنۍ موجودیت ته خطرپیښوې چي هغه ایلاء،طلاق اوخلع ده اوددې لپاره یی بریالی علاج هم بیان کړ ترڅو کورنۍ له ورانی څخه وژغورل شی.

لغتونه:

(یؤلون) په لغت کی لوړی ته وایی له (له ألی ،یؤالی ،ایلاء) څخه اخیستل شوی اودشریعت په اَصلاح کی هغه قسم اولوړی ته وایی چي هغه یی دجماع په نه کولو اخلی (تربص)تربص انتظارته وایی (قُلْ تَرَبَّصُوا فَإِنِّي مَعَكُم مِّنَ الْمُتَرَبِّصِينَ)الطور:۳۱) (فیئ)رجوع ته وایی ځکه نوسیور ی ته هم (فیئ)وای چي هغه له کموالی وروسته راګرزی اوراټولیږی فراءوایی: چي عرب وایی:فلانی سړی (سریع الفیئ)ده یعنی له غضب نه وروسته ژر راګرزی (قرَوء)له قرء څخه اخیستل شوی له اضدادو څخه دی اوحیض ،پاکی دواړوته وایی اصل یی راټولیدنی ته وایی ځکه په رحم کی وینی راټولیږی په قاموس کی وَایی چي (قرء)په ضمه اوفتحه سره حیض،طهراووخت ته وایی خودطهر جمع یی قروء راځی اودحیض په معنی چي وی جمع یی اقراء راځی (بعولتهن)دبعل جمع اومیړه ته وایی (وهذابعلی شیخا)اوښځی ته بعلة وایی (درجة) منزلت اولوړی رتبی ته وایی (الطلاق)مصدر ده معنی یی دنکاح دغوټی پرانستل دی چي له آره خلاصولو اوپرانستلو ته وایی ویل کیږی (ناقةطالقة)هغه اوښه چي پرته له تړلو اوشپانه په څرځای کی ګرزی ، نوهغې طلاقې شوی ښځي ته هم یرانستلي اوخلاصه وویل شوه (تسریح)استول خلاصولوته وایی اودوینیتانو ږمنځولو ته ځکه تسریح ویلکیږې چي یوله بله پرانستل شی اوچي ووایی څاروی یی ایله کړ دی ته هم تسریح وایی راغب وایی تسریح په طلاق کی له (تسریح الابل)څخه مستعارده لکه چي طلاق مستعاردی له (اطلاق الابل)څخه

دنزول سبب:

په جاهليت کی به يو تن ښځه ځوځو ځله طلاق کړه اوبيرته به يی ورته مراجعه کوله ترڅو اله دی چي عدت يی تيرشی که څه هم يو زر ځله به يی طلاق کړه نو يو سړی به خپلی ښځی ته ويل نه دی خپلوم اونه دی خوشی کوم هغی به ويل څنګه ؟ورته ويل به يی:طلاق به درکړم کله چي دی د(دعدت)موده تيريدلو ته نژدی شوه بيرته به درته مراجعه وکړم نوښځی خپل شکايت پيغمبر ﷺ ته وړاندی کړ بيا الله دا آيت نازل کړ:

(اَلطَّلَٰقُ مَرَّتَانِۖ فَإِمۡسَاكُۢ بِمَعۡرُوفٍ أَوۡ تَسۡرِيحُۢ بِإِحۡسَٰنٖ) دآيت ترپايه.

تفسير:

﴿ لِّلَّذِينَ يُؤۡلُونَ مِن نِّسَآئِهِمۡ تَرَبُّصُ أَرۡبَعَةِ أَشۡهُرٖ ﴾ دی هغو کسانو لره چي قسمونه کوی (له جماع)دښځو خپلو نه(مطلقا ياترڅلورومياشتو پوری) انتظار دڅلورو مياشتو يعنی هغه کسان چي قسمونه کوی له خپلو ښځو سره به جماع نه کوی اودهغوی ځوريی مقصد وی دڅلورو مياشتوانتظار شته ﴿ فَإِن فَآءُو فَإِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٞ رَّحِيمٞ ﴾ نوکه بيارجوع وکړه دوی (اوسره يوځای شول)پس بيشکه الله ښه ببنونکی دګناهونو اوپوره رحم لرونکی دی (داجراوثواب په انعام سره)﴿ وَإِنۡ عَزَمُواْ ٱلطَّلَٰقَ فَإِنَّ ٱللَّهَ سَمِيعٌ عَلِيمٞ ﴾ اوکه قصد وکړ دوی دطلاق (اورجوع يی ونه کړه) پس بيشکه چي الله ښه اوريدونکی (دټولو اقوالو)ښه عالم دی (پرټولو احوالو)يعنی که دوی پخپل تصميم ولاړ وو اورجوع يی نه کوله نوالله ددوی داقوالو ښه اوريدونکی اوعليم د ی ددوی په نيتونو باندی دآيت شريف مراد دادی که چيری ميړه داسي قسم وخوری چي له ښځي سره به جماع (کوروالی)نه کوی نومير من دی ورته څلور مياشتی انتظار وباسی که ورسره نژدی شو (جماع يی وکړه)فبها اونعمت هله به نو په قسم حانث شوی اوکفاره به يی راوړی اوکه چيری يی جماع (کوروالی)ورسره ونکړ کله چي دغه نوموړی موده تيره شوه نوبيا بيلتون اوطلاق واقع شو اوهمدا دامام ابو حنيفه رحمه الله مذهب دی امام شافعي رحمه الله وايي: چي دغه قضيه به حاکم ته پورته کولی شی اوهغه به ميړه ته امرکوی چي ياخودی ورته راوګرزی يعنی هغه دی خپله کړی اويادی طلاق ورکړی که يی ممانعت وکړ نو حاکم دی ورباندی طلاقه کړی داد ايلاء دحکم لنډيز دی وروسته الله تعالی دعدت اوشرعی طلاق احکام داسي بيانوی: ﴿ وَٱلۡمُطَلَّقَٰتُ يَتَرَبَّصۡنَ بِأَنفُسِهِنَّ ثَلَٰثَةَ قُرُوٓءٖ ﴾ اوطلاق شوی ښځی دی انتظارکوی په ځانونو خپلو(له نکاح کولو نه)تردريو (قروء)پوری يعنی واجب په هغو اصيلو مدخول بهن ميرمنو باندی دادۀ چي ددريو طهرونو په موده انتظاروکړی دادامام مالک رحمه الله اوامام شافعی رحمه الله قول دی اوامام ابو حنيفه اوامام احمد رايه داده چي دری حيضه موده بايدی چي انتظار وګالی اوچي داموده تيره شوه که خوښه يی وه بل واده دی وکړی دادهغو ښځوپه هکله دی چي ورباندی دخول شوی وی اوغير مدخول بها بيا عدت نلری چي الله فرمايی: ﴿ فَمَا لَكُمۡ عَلَيۡهِنَّ مِنۡ عِدَّةٖ تَعۡتَدُّونَهَاۖ فَمَتِّعُوهُنَّ وَسَرِّحُوهُنَّ سَرَاحٗا جَمِيلٗا ﴾ الأحزاب: ٤٩ ﴿ وَلَا يَحِلُّ لَهُنَّ أَن يَكۡتُمۡنَ مَا خَلَقَ ٱللَّهُ فِيٓ أَرۡحَامِهِنَّ ﴾ اونه دی روادوی لره چي پټوی به دوی هغه شی چي پيدا کړی دی الله په ارحامو ددوی کی (له ولده ياحيضه)چي دوی دعدت په تيريدلو تلوار وکړی اودميړه حق په رجوع کولو کی تر پښنو لاندی کړی ﴿ إِن كُنَّ يُؤۡمِنَّ بِٱللَّهِ وَٱلۡيَوۡمِ ٱلۡأٓخِرِۚ ﴾ که وی دوی چي ايمان لرونکی وی په الله اوپه ورځی دآخرت (چي قيامت دی)داددوی لپاره تهديد دی يعنی که دوی په رښتنونی ډول مؤمناتی وی اودالله له عذاب څخه ويريږی نوبه حق وايی نه به زيادت کوی اونه نقصان څکه داداسي حالت دی چي يوازی ددوی له خوا څرګندول کيږی ﴿ وَبُعُولَتُهُنَّ أَحَقُّ

﴿ بِرَدِّهِنَّ فِي ذَٰلِكَ إِنْ أَرَادُوٓا إِصْلَٰحًا ﴾ اوميړونه ددوي ښه لائق دي په بيا کولو ددي ښځو (په دي موده کي) که اراده ولري دوي دجوړښت (په خپلو منځو کي) يعني تربل چادوي خپل ميړونه دنکاح وړ اولائق دي له رجعت څخه غرض اصلاح دي نه ضرر رسول داحکم درجعي طلاق په هکله دي ﴿ وَلَهُنَّ مِثْلُ ٱلَّذِي عَلَيْهِنَّ بِٱلْمَعْرُوفِ ﴾ (اوشته ښځو لره (حقوق په ميړونو باندي) په شان دهغو (حقوقو) چي په دوي دي دخاوندانو په معروف (ښه وجه) سره) هغه چي الله ﷻ امر فرمايلی دښه معاشرت اوضرر نه رسولو اوداسي نور ﴿ وَلِلرِّجَالِ عَلَيْهِنَّ دَرَجَةٌ ﴾ اوشته نارينه وولره په دوي درجه دبهتروالي (فضيلت) چي هغه قواميت اوانفاق کول دي په دوي اوامر کول دي دوي ته اودنارينه وو اطاعت کول دي پردوي باندي چي دا دتکليف درجه دي نه دتشريف ﴿ وَٱللَّهُ عَزِيزٌ حَكِيمٌ ﴾ اوالله ښه غالب دي اوډير تدبير والادي (چي هرکار په مصلحت سره کوي) يعني داچي الله تعالی غالب دي له هغه چاڅخه انتقام اوکسات اخلي چي څني سرغړونه وکړي اوپخپل امراوتشريع کی دحکمت خاوند دی وروسته الله تعالی دطلاق ورکولو ډول داسي بيانوي: ﴿ ٱلطَّلَٰقُ مَرَّتَانِ فَإِمْسَاكٌ بِمَعْرُوفٍ أَوْ تَسْرِيحٌ بِإِحْسَٰنٍ ﴾ (رجعی) طلاق دوه خله دی نوبيا ساتنه ده دښځو په رجوع سره په معروف (ښه وجه) سره ياپريښودل دی (ددی ښځو) په ښه وجه سره) يعنی هغه طلاق چي ميړه دبيرته رجوع کولو حق لري په دوه کرته دي اوله دی دوو وروسته بيا هغه ياخوداچي په ښه وجه يی خپله کړی اويايی په ښه وجه خوشی کړی چي دهغی له حقوقو يی نه محروموی په بدو الفاظو يی نه ستايی خلک له هغی څخه نه متنفرکوی چي څنی کرکه وکړي ﴿ وَلَا يَحِلُّ لَكُمْ أَن تَأْخُذُوا مِمَّآ ءَاتَيْتُمُوهُنَّ شَيْـًٔا ﴾ اوروانه دي تاسوته (ای خاوندانو) چي واخلی تاسی له هغه مال څخه چي ورکړی تاسی دوی ته (په مهر (ولور) کی (هيڅ شی) که څه هم لږ وی ﴿ إِلَّآ أَن يَخَافَآ أَلَّا يُقِيمَا حُدُودَ ٱللَّهِ ﴾ مگر که ويريږی دوی دواړه (ميړه اوښځه) چي وبه نشی ساتلی دوی دواړه احکام دالله چي هغه دمعاشرت اودزوجيت حقوق دي کوم چي الله يی امر فرمايلی دی ﴿ فَإِنْ خِفْتُمْ أَلَّا يُقِيمَا حُدُودَ ٱللَّهِ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِمَا فِيمَا ٱفْتَدَتْ بِهِۦ ﴾ پس که ويريږی تاسی چي وبه نشی ساتلی دوی دواړه دالله حقوق پس نشته هيڅ گناه په دوی دواړو باندی چي په هغه شي کی چي فديه ورکړی دا په هغه سره (يعنی ښځه ځان خلاص کړی) يعنی په هغه صورت کی چي تاسو ويريږی ددوی ترمينځ سم معاشرت نه راځی اوښځه غواړی چي له خپله حقه (چي مهردی) تيره شی اويايو څه مال ميړه ته ورکړی چي ورسره خلع وشی نوبيا که ميړه يی واخلي گنهگار نه دی اونه ښځه گنهکاره ده په ورکولو يی) ﴿ تِلْكَ حُدُودُ ٱللَّهِ فَلَا تَعْتَدُوهَا ﴾ (دادی ذکر شوی احکام) دالله حدود دی نوتاسی مه تيريږی له حدودو دالله) يعنی دغه ستراحکام دطلاق، رجعت اوخلعې اونور دالله شرائع اواحکام دی نوتاسويی مخالفت مه کوئ اوځني تجاوز مه کړئ ﴿ وَمَن يَتَعَدَّ حُدُودَ ٱللَّهِ فَأُولَٰٓئِكَ هُمُ ٱلظَّٰلِمُونَ ﴾ (اوهر هغه څوک چي تيريږی له حدود الله نه نودغه کسان هم دوی دی ظالمان) يعنی هغوی چي دالله دحکمونو مخالفت کړی ځانونه دالله ﷻ غضب ته دروی هغوی ظالمان اودعذاب وړ اومستحق دی ﴿ فَإِن طَلَّقَهَا فَلَا تَحِلُّ لَهُۥ مِنۢ بَعْدُ حَتَّىٰ تَنكِحَ زَوْجًا غَيْرَهُۥ ﴾ نو (وروسته له دې دوو طلاقو) که بيايی طلاقه کړه داښځه (دريم ځل) پس بيا حلاله نه ده ده لره پس (له دی نه) ترهغه پوری چي په نکاح واخلی داښځه بل ميړه) اوبيا څنی طلاقه شی وروسته له هغه چي داد هغه ،اوهغه ددې خوند وڅکی (جماع وکړی) لکه چي په حديث شريف کی راځی اوپه

د ې کی دښځی له دری ځله طلاقولو څخه زجر نغښتی دی ځکه څوک چي مروت او میړانه لری هیڅکله نه غواړی میرمن یې تربل لاندی شی او هغه ورسره جماع وکړی ﴿ فَإِن طَلَّقَهَا فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِمَآ أَن يَتَرَاجَعَآ إِن ظَنَّآ أَن يُقِيمَا حُدُودَ ٱللَّهِ ﴾ نو که طلاقه کړه دوهم میړه دا ښځه (او عدت یې تیر شو) پس نشته هیڅ ګناه په دغو دواړو (ښځه او میړه ړومبنی) چي بیا سره رجوع وکړی که ددوی ګومان وی چې دالله ﷻ دحکمونو اقامه به وکړي (پرځاي به یې کړي) ﴿ وَتِلْكَ حُدُودُ ٱللَّهِ يُبَيِّنُهَا لِقَوْمٍ يَعْلَمُونَ ﴾ (او دا حکمونه دالله دی چي بیانوې یې دهغه قوم لپاره چي پرې پوهیږی) یعنی هغوی چي دعلم او فهم خاوندان وی او دامورو عواقب سنجوي[1]

بلاغت:

١-(فَإِنَّ ٱللَّهَ سَمِيعٌ عَلِيمٌ) دلته خبر له خپلی معنا څخه دوعید او تهدید معنا ته اوښتی دی

٢- په دې کلمه کې چي فرمایي: (وَٱلْمُطَلَّقَٰتُ يَتَرَبَّصْنَ) دلته خبر دامر په معنا دی او په اصل کې کلام داسي دی چي (ولیتربصن المطلقات) زمخشری وایي: چي کله له خبر څخه امر راوزی معنی یې دادي چي ددی امر په هکله ټینګار او تاکید دی چي ژر ترژره دی امتثال وشی اولکه چي دوی امر په ځای کړی وی بیا اخبار ځنی کیږی او چي په مبتدا بنا شوی دا د تاکید نوره بهتری هم زیاتوی.

٣- پدی کلام کی چي فرمایي: (إِن كُنَّ يُؤْمِنَّ بِٱللَّهِ وَٱلْيَوْمِ ٱلْأَخِرِ) دلته په ایمان مقید کول مقصد نه دی بلکه هڅونه او ددوی په زړونو کی دیاد شوی امر دهیبت اچول دی.

٤-(وَلَهُنَّ مِثْلُ ٱلَّذِى عَلَيْهِنَّ) پدی کی ایجاز او ابداع دی چي هغه څوک ښه پرې پوهیږی کوم چي دبیان له علم څخه ونډه لری ځکه له لومړی څخه حذف ددوهم په قرینه او له دوهم څخه حذف دلومړی په قرینه راغلی چي معنی یې دادی: (لهن علی الرجال من الحقوق مثل الذی للرجال علیهن من الحقوق) او همدارنګه له بدیعی محسناتو څخه دطباق صنعت هم پکې ده چي هغه د(لهن) او(علیهن) کلماتو ترمینځ لیدلای شو.

٥- پدی دوو کلمو کی هم طباق دی چي (فَإِمْسَاكٌۢ بِمَعْرُوفٍ أَوْ تَسْرِيحٌۢ بِإِحْسَٰنٍ) طباق دامساک او تسریح ترمنځ دی۔

٦- پدی کلام کی چي: (تِلْكَ حُدُودُ ٱللَّهِ) دلته دضمیر پر ځای دالله ﷻ دنوم یادونه شوی چي مقصد یې په زړونو کی هیبت او ویره اچول دی او چي له نهی وروسته یې وعید ذکر کړ دا په تهدید کی مبالغه ده.

٧- پدی کلام کی: (فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلظَّٰلِمُونَ) قصر دصفت په موصوف پوری دی.

---

[1] وګوره زموږ په کتاب (روائع البیان) کی ٣٤٣/١ (الحکمة التشریعیة للطلاق).

فائده او نکته:

لومړنی خلع په اسلام کی د ثابت بن قیس او میرمنې ترمینځ یی وه کله چي هغه رسول الله ته راغله ورته ویل یی: ای دالله پیغمبره الله دی تل ترتله زما اودده سر نه سره یوځای کوی زمادی قسم وی چي زه یی په اخلاقو او دینداری کی څه عیب نه وینم خوزه له اسلامه وروسته کفر بد ګڼم نو رسول الله ﷺ ورته وویل ایا دهغه باغچه بیرته ورکوی هغی وویل: هو نو دواړو ترمینځ بیلتون واقع شو .

لطیفه:

روایت کاوه شی چي ابن عباس ﷺ وفرمایل: زه دا خوښوم چي خپلی ښځې ته داسي سینګار وکړم لکه چي دایی زما لپاره کوی ځکه الله تعالی فرمایی: (وَلَهُنَّ مِثْلُ ٱلَّذِى عَلَيْهِنَّ بِٱلْمَعْرُوفِ).

الله تعالي فرمايي:

﴿وَإِذَا طَلَّقْتُمُ ٱلنِّسَآءَ فَبَلَغْنَ أَجَلَهُنَّ فَأَمْسِكُوهُنَّ بِمَعْرُوفٍ أَوْ سَرِّحُوهُنَّ بِمَعْرُوفٍ ۚ وَلَا تُمْسِكُوهُنَّ ضِرَارًا لِّتَعْتَدُوا۟ ۚ وَمَن يَفْعَلْ ذَٰلِكَ فَقَدْ ظَلَمَ نَفْسَهُۥ ۚ وَلَا تَتَّخِذُوٓا۟ ءَايَٰتِ ٱللَّهِ هُزُوًا ۚ وَٱذْكُرُوا۟ نِعْمَتَ ٱللَّهِ عَلَيْكُمْ وَمَآ أَنزَلَ عَلَيْكُم مِّنَ ٱلْكِتَٰبِ وَٱلْحِكْمَةِ يَعِظُكُم بِهِۦ ۚ وَٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ وَٱعْلَمُوٓا۟ أَنَّ ٱللَّهَ بِكُلِّ شَىْءٍ عَلِيمٌ ﴿٢٣١﴾ وَإِذَا طَلَّقْتُمُ ٱلنِّسَآءَ فَبَلَغْنَ أَجَلَهُنَّ فَلَا تَعْضُلُوهُنَّ أَن يَنكِحْنَ أَزْوَٰجَهُنَّ إِذَا تَرَٰضَوْا۟ بَيْنَهُم بِٱلْمَعْرُوفِ ۗ ذَٰلِكَ يُوعَظُ بِهِۦ مَن كَانَ مِنكُمْ يُؤْمِنُ بِٱللَّهِ وَٱلْيَوْمِ ٱلْءَاخِرِ ۗ ذَٰلِكُمْ أَزْكَىٰ لَكُمْ وَأَطْهَرُ ۗ وَٱللَّهُ يَعْلَمُ وَأَنتُمْ لَا تَعْلَمُونَ ﴿٢٣٢﴾﴾ البقرة: ۲۳۱ - ۲۳۲

مناسبت او تړاو:

تر اوسه پوری لا آیتونه د طلاق احکام بیانوی او هغه ته لاره ښیی چي پکی اداب او شرطونه دی اوله ضرر رسولو څخه منع کوی نو دمناسبت وجه څرګنده ده.

لغتونه:

(فبلغن أجلهن) یعنی دعدت موده تیریدلو ته نژدی شوه (ضرارا) دضرر رسولو په قصد، فقال وایی (ضرار) مضارة ته وایی لکه چي الله فرمایی: (مسجدا ضرارا) یعنی چي مومنانو ته وربانډی ضرر ورسوی (تعضلوهن) (عضل) منعې ته وایی لکه چي وایی (أعضل الأمر) یعنی سخت شو کار چي تدبیر پکې نه چلیږی اویا (داء عضال) سخته ... ناروغی چي ډاکتران او طبیبان یی په علاج نه پوهیږی از هری وایې چي أصل یې له دی اخیستل شوی چي وایی: (عضلت الناقة) کله چي یی جونګۍ ونښلی او بهر راوتل یی سخت شی (۱) (یوعظ به) په هغه پند او نصیحت ورکاوه شی امر ورته کول کیږی (أزکیٰ) ګټور او ښه وده کونکی وایی: (زکا الزرع) کله چي ښه وده وکړی (أطهر) له طهارت څنی اخیستل شوی او پاکی ته وایی هغه که له پلیتی څخه وی او که له ګناهونو څخه یعنې ښه پاکیزه .

تهذیب اللغة مادة عضل.

دنزول سبب يې:

روايت كيږي چي معقل بن يسار خپله خوركوم مسلمان ته په نكاح وركړه اوڅه وخت ورسره وه بيايې طلاق وركړ اوترڅو يې عدت تيرشو مراجعه يې ورته ونكړه بياده هم غوښتله اوهغې هم غوښتل ترڅويې دنوروكسانو په ډله كې په نكاح اخيستل څني وغوښتل هغه ورته وويل :يا(لكع)معنى اى ناځوانه ماپه نكاح دركړه خوتاطلاقه كړه په خداى قسم كه به بيرته تاته دركول شي نوځرنګه چي الله ﷻ دهغه په اړتيا هغې ته اودهغې په اړتيا ميړه ته خبر وو دا آيت نازل شو(وَإِذَا طَلَّقۡتُمُ ٱلنِّسَآءَ فَبَلَغۡنَ أَجَلَهُنَّ فَلَا تَعۡضُلُوهُنَّ) دآيت ترپايه كله چي معقل بن يسار دا آيت واوريدلو نويې وويل:(سمعًا لربيّ وطاعةً) بيايې هغه راوغوښت اوورته يې وويل:تاته يې په نكاح دركوم اونازوم دى.(١)

تفسير:

﴿ وَإِذَا طَلَّقۡتُمُ ٱلنِّسَآءَ فَبَلَغۡنَ أَجَلَهُنَّ ﴾ اوهركله چي طلاق كړئ تاسي ښځې په رجعي طلاق پس ورسيدې دوى تاكلي مودې (آخر دعدت ته) ﴿ فَأَمۡسِكُوهُنَّ بِمَعۡرُوفٍ أَوۡ سَرِّحُوهُنَّ بِمَعۡرُوفٖۚ ﴾ نوو ساتي دوى په ښه ډول (يعنى رجوع ورته وكړى)ياخوشى كړئ دوى په معروف ډول يعنى پرته له ضرر رسولو ورته رجوع وكړئ اويايې په ښه توګه خوشى كړئ چي عدت يې تيرشى بې له دى چي عدت يې ورباندى اوږد كړئ ﴿ وَلَا تُمۡسِكُوهُنَّ ضِرَارٗا لِّتَعۡتَدُواْۚ ﴾ اومه ساتئ تاسى دا ښځي (په رجعت سره)لپاره دضررر سولو له جهته ددې چي (پردوى باندى)تيرئ وكړى) يعنى تاسو هسى مراجعت مه ورته كوى چي قصد موورته ضرر رسول وى ترڅويې خلع ته مجبوره كړى اوپدى زجر اوتهديد دى ځكه پخوا به خلكو چي ښځوته طلاق وركړه اوچي موده به يې تيريدلو ته نژدې شوه نوبه يې ورته رجوع وكړه ترڅو يې عدت اوږدكړى اوضرر ورورسوى دخپلولو رغبت به يې نه وو ﴿ وَمَن يَفۡعَلۡ ذَٰلِكَ فَقَدۡ ظَلَمَ نَفۡسَهُۥۚ ﴾ (اوهرهغه څوک چي وكړى داسي كار نوپه تحقيق سره ظلم يې وكړ په ځان خپل) يعنى هغه څوک چي داسي كوى هغې ته ضرر رسوى اويايې خلع ته مجبوره كوى نوهغه په ځان ظلم وكړ دالله عذاب ته يې خپل ځان چتوكړ﴿ وَلَا تَتَّخِذُوٓاْ ءَايَٰتِ ٱللَّهِ هُزُوٗاۚ ﴾ اومه ګرزوى آيتونه دالله (داسي چي په اعراض اوتهاون سره) مسخرې (پوكړى)يعنى دالله احكام نواهى اواوامر چي دالله شريعت دى ورباندى ملنډى مه وهئ چي مخالفت يې كوئ ﴿ وَٱذۡكُرُواْ نِعۡمَتَ ٱللَّهِ عَلَيۡكُمۡ وَمَآ أَنزَلَ عَلَيۡكُم مِّنَ ٱلۡكِتَٰبِ وَٱلۡحِكۡمَةِ ﴾ اويادكړى نعمت دالله په تاسو(چي اسلام دى اوتاسى ورباندى مشرف ياست) او(يادكړئ)هغه چي نازل كړى دى الله په تاسي باندى چي كتاب دى اوحكمت (احكام دكتاب)يعنى دالله هغه فضل درپه يادكړئ چي تاسى ته يې داسلام هدايت كړى اود قرآن عظيم او نبوى پاكيزه سنت نعمت يې دركړى دى﴿ يَعِظُكُم بِهِۦۚ ﴾ (پنددركوى تاسى ته په هغه سره) يعنى په كتاب اوسنت سره مود دارينو نيكمرغى ته رهبرى كوى ﴿ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَٱعۡلَمُوٓاْ أَنَّ ٱللَّهَ بِكُلِّ شَيۡءٍ عَلِيمٞ ﴾ (اوووېرېږى له الله نه اوپوه شئ تاسى چي بيشكه الله په هرشى باندى ښه پوه دى)ستاسى له احوالو هيڅ حال هم له هغه څخه پټ نه دى بياالله تعالى خپلو انو ، اولياووته امر كوى چي هغه ميرمنې كومې چي غواړى خپل ميړه ته رجوع وكړى

---

(١) رواه البخاري وګوره التاج ٤/٦٣.

راونه ګرزوي فرمايي﴿ وَإِذَا طَلَّقْتُمُ النِّسَاءَ فَبَلَغْنَ أَجَلَهُنَّ فَلَا تَعْضُلُوهُنَّ أَن يَنكِحْنَ أَزْوَاجَهُنَّ إِذَا تَرَاضَوْا بَيْنَهُم بِالْمَعْرُوفِ ﴾ اوهرکله چي طلاق کړی تاسی ښځې پس ورسيدی دوی تاکلی موديٰ خپلې ته نومه منع کوئ تاسی دوی له دی نه چي په نکاح واخلی دوی ميړونه خپل کله چي دوی سره خوښ وی پخپلو منځو کی په معروف سره يعني کله چي ښځی طلاق کړی اوعدت يی بشپړشی نوای(اولياوو) که چيری دپيښمانی علامی يی څرګندی شوی اودواړو له دستور سره سم دالله دخوښئ په لاره تلل غوښتل نو دوی مه منعه کوی چي خپلو ميړونو سره يو ځای شی ﴿ ذَٰلِكَ يُوعَظُ بِهِ مَن كَانَ مِنكُمْ يُؤْمِنُ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ ﴾ دا(حکم دنه منع کولو)پندورکاوه کيږی په ده سره هغه چاته چي دی وی له تاسی نه چي ايمان لری په الله اوپه ورځې آخرې باندې)څکه هغه په مواعظو باندې پند اخيستلای شی﴿ ذَٰلِكُمْ أَزْكَىٰ لَكُمْ وَأَطْهَرُ ﴾ دادېره غوره ده تاسی (اودوی)ته اوښه پاکيزه دی) يعنی دغه پند اخيستل په هغه چي ذکر شول اودالله ﷻ په اوامرو منګولی لګول خير اوګټور دی تاسو لره اوښه پاکيزه دی دګناهونو له چټليو څخه﴿ وَاللَّهُ يَعْلَمُ وَأَنتُمْ لَا تَعْلَمُونَ ﴾ او الله عالم دی (پر هرشی)اوتاسی نه پو هيږی)يعنی الله پوهيږی چي کوم کار ستاسو لپاره ډير سم دی له احکامو اوشرائعو څخه اوتاسو پدی نه پوهيږئ نو دهغه اوامر اونواهی په ټولو هغوکړو وړوکی چي کوئ يی اوياې پريږدی ومنئ.

بلاغت:

۱. داچي فرمايی:(فَبَلَغْنَ أَجَلَهُنَّ) پدې کې يی دکل نوم په اکثر باندی کښيښود او ورته مجازمرسل وايی څکه که يی ټول عدت تيرشی بيايی ساتل جواز نلری اوالله فرمايی:(فَأَمْسِكُوهُنَّ بِمَعْرُوفٍ).

۲. (وَاذْكُرُوا نِعْمَتَ اللَّهِ عَلَيْكُمْ وَمَا أَنزَلَ عَلَيْكُم مِّنَ الْكِتَابِ وَالْحِكْمَةِ) داله بابه دعطف دخاص دی په عام باندی څکه نعمت خوعام اوکتاب اوسنت يی له افرادو څخه ګڼل کيږی.

۳. (وَاعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ) په مابين دکلمی د(اعلموا)او(عليم) کی دبديعی محسناتو دجناس اشتقاق صنعت راغلی دی.

۴. پدی کلام کې چي فرمايي: (أَن يَنكِحْنَ أَزْوَاجَهُنَّ) مراد څنی هغه طلاق کوونکی ميړونه دی دلته بيامجاز مرسل اوعلاقه يی اعتبارد(ماکان)ده.

فائده اوګټه:

امام فخر رازی وايی :حکمت په اثبات درجعت(بيرته راګرزيدلو)کی دادی چي کله انسان له خپل ملګری سره وی نه پوهيږی چي ايابيلتون يی سخت دی که نه؟ اوکله چي بيل شی ورته څرګنده شی نوکه چيری يوازی يو طلاق الله تعالی له رجوع څخه مانع ګرزولی وای په انسان به خورامشقت بارشوی وو څکه مينه وروسته له بيلتون

اوفراقه معلوميږي اوڅرګنديږي اوبيا څرنګه چي دتجربې بشپړ توب په يوځلي نه حاصليږي الله تعالى دوه ځلي دمراجعت حق ثابت کړ چي دا دالله درحمت په کمال دلالت کوي اوپه بندګانو دشفقت څرګندونه ده.[١]

الله تعالى فرمايي:

﴿ ۞ وَالْوَالِدَاتُ يُرْضِعْنَ أَوْلَادَهُنَّ حَوْلَيْنِ كَامِلَيْنِ ۖ لِمَنْ أَرَادَ أَن يُتِمَّ الرَّضَاعَةَ ۚ وَعَلَى الْمَوْلُودِ لَهُ رِزْقُهُنَّ وَكِسْوَتُهُنَّ بِالْمَعْرُوفِ ۚ لَا تُكَلَّفُ نَفْسٌ إِلَّا وُسْعَهَا ۚ لَا تُضَارَّ وَالِدَةٌ بِوَلَدِهَا وَلَا مَوْلُودٌ لَّهُ بِوَلَدِهِ ۚ وَعَلَى الْوَارِثِ مِثْلُ ذَٰلِكَ ۗ فَإِنْ أَرَادَا فِصَالًا عَن تَرَاضٍ مِّنْهُمَا وَتَشَاوُرٍ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِمَا ۗ وَإِنْ أَرَدتُّمْ أَن تَسْتَرْضِعُوا أَوْلَادَكُمْ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ إِذَا سَلَّمْتُم مَّا آتَيْتُم بِالْمَعْرُوفِ ۗ وَاتَّقُوا اللَّهَ وَاعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ ﴿٢٣٣﴾ وَالَّذِينَ يُتَوَفَّوْنَ مِنكُمْ وَيَذَرُونَ أَزْوَاجًا يَتَرَبَّصْنَ بِأَنفُسِهِنَّ أَرْبَعَةَ أَشْهُرٍ وَعَشْرًا ۖ فَإِذَا بَلَغْنَ أَجَلَهُنَّ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ فِيمَا فَعَلْنَ فِي أَنفُسِهِنَّ بِالْمَعْرُوفِ ۗ وَاللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرٌ ﴿٢٣٤﴾ وَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ فِيمَا عَرَّضْتُم بِهِ مِنْ خِطْبَةِ النِّسَاءِ أَوْ أَكْنَنتُمْ فِي أَنفُسِكُمْ ۚ عَلِمَ اللَّهُ أَنَّكُمْ سَتَذْكُرُونَهُنَّ وَلَٰكِن لَّا تُوَاعِدُوهُنَّ سِرًّا إِلَّا أَن تَقُولُوا قَوْلًا مَّعْرُوفًا ۚ وَلَا تَعْزِمُوا عُقْدَةَ النِّكَاحِ حَتَّىٰ يَبْلُغَ الْكِتَابُ أَجَلَهُ ۚ وَاعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ يَعْلَمُ مَا فِي أَنفُسِكُمْ فَاحْذَرُوهُ ۚ وَاعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ غَفُورٌ حَلِيمٌ ﴿٢٣٥﴾ لَّا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ إِن طَلَّقْتُمُ النِّسَاءَ مَا لَمْ تَمَسُّوهُنَّ أَوْ تَفْرِضُوا لَهُنَّ فَرِيضَةً ۚ وَمَتِّعُوهُنَّ عَلَى الْمُوسِعِ قَدَرُهُ وَعَلَى الْمُقْتِرِ قَدَرُهُ مَتَاعًا بِالْمَعْرُوفِ ۖ حَقًّا عَلَى الْمُحْسِنِينَ ﴿٢٣٦﴾ وَإِن طَلَّقْتُمُوهُنَّ مِن قَبْلِ أَن تَمَسُّوهُنَّ وَقَدْ فَرَضْتُمْ لَهُنَّ فَرِيضَةً فَنِصْفُ مَا فَرَضْتُمْ إِلَّا أَن يَعْفُونَ أَوْ يَعْفُوَ الَّذِي بِيَدِهِ عُقْدَةُ النِّكَاحِ ۚ وَأَن تَعْفُوا أَقْرَبُ لِلتَّقْوَىٰ ۚ وَلَا تَنسَوُا الْفَضْلَ بَيْنَكُمْ ۚ إِنَّ اللَّهَ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ ﴿٢٣٧﴾ ﴾

البقرة: ٢٣٣ – ٢٣٧

مناسبت اوتړاو:

کله چي الله تعالى يوڅه هغه احکام چي دنکاح طلاق ،عدت ،رجعت ،اوعضل اړوند وو ذکر کړل وروسته يې په دې آيت کې درضاع (تی رودلو)حکم بيان کړ ځکه په طلاق باندې بيلتون اوفراق راځي کله کله يوسړی ښځه طلاق کړي دهغې تی رودونکی ماشوم وي کيداې شي هغه ماشوم له مينځه لاړشي اويايې له تی ورکولو څخه محروم کړي چي له ميره خپل کسات واخلي اويايې زوی ته ضرر ورسوي ځکه دا آيتونه نازل شول چي طلاق شوی ميندې دماشومانو په هکله رعايت اواهتمام ته راوبولي اوبياوروسته يې هغه فراق اوجلاوالي چي دميړه اوارتينې ترمينځ راځي اوهرينه يې سبب وي ذکر کړ چي دښځي عدت يې هغه چي دميړه حق وي بيان کړ لکه چي دهغې نکاح کول يې دعدت په موده کې اودهغې نيمايې ولور استحقاق اويابشپړ مهر وروسته له فراق اوطلاق څخه يې څرګند کړل

---

[١] التفسير الكبير ١٠٥/٦

لغتونه:

(فصالا) جلاوالی ته وایی ځکه یی (فصال) وباله چي ماشوم دمور له شیدو څخه نور غذاګانو ته ګوښی اوجلاشو مبرد وایی چي فصال ترفصل بهتره کلمه ده ځکه کله چي هغه له موره جلاشی نوموریی هم ورڅخه جلاشوه نودالکه قتال اوضراب غوندی دواړه خواوی په نظرکی وی (تشاور) درایی را ایستل اودارنګه مشاورت اومشورة دی چي له (شوُر) څخه اخیستل شوی اودشاتو (عسلو) راایستلو اواستخراج ته وایی (یذرون) پریږدی ددی فعل ماضي اومصدريي نشته (عرضتم) له تعریض څخه اوهغه اشاره کولو اوتلویح ته وایی چي څرګندونه اوښکاره والی پکی نه وی لکه چي فقیر سړی یو سخی بډای ته وایی: راغلم چي ستا سخی مخ وګورم (خِطبه) دخاپه کسره سره دنکاح غوښتل اوپه ضمه سره وعظ اوپند ورکولوته وایی لکه دجمعی اواخترونو خُطبې (أكننتم) له اكنان څخه اخیستل شوی اوپټوالی ته وایی (عقدة النكاح) دنکاح غوټه اوپه متل کی راځی (یاعاقد اذکر حلا) یعنی ای تړونکی دخلاصیدو فکر هم کوه راغب وایی عقده په ضمه سره هغه تړون ته چي دنکاح اویالوړه (یمین) یانورو وی وایی (حلیم) ځنډوی عذاب ژر ترژره یی ګنهګار ته نه ورکوی (المقتر) فقیر ته وایی لکه چي وایي (اقتر الرجل) کله چي فقیراونیستمن شي.

دنزول سبب:

روایت کاوه شی چي دانصاروڅخه یوچا دبنی حنیفه له ټبر څخه یوه ښځه په نکاح کړه اوولور یی نه وو معلوم کړی بیاترپخواله دی چي لاس وروغځوی هغه یی طلاقه کړه نوآیت نازل شو (لَّا جُنَاحَ عَلَيۡكُمۡ إِن طَلَّقۡتُمُ ٱلنِّسَآءَ مَا لَمۡ تَمَسُّوهُنَّ) نورسول اللهﷺ هغه ته وویل: (متعها ولوبقلنسوتک) هغی ته څه خرڅ ورکړه که څه هم ستاخولۍ وی.(١)

تفسیر:

﴿ وَٱلۡوَٰلِدَٰتُ يُرۡضِعۡنَ أَوۡلَٰدَهُنَّ حَوۡلَيۡنِ كَامِلَيۡنِ ﴾ اومیندی دی شیدی ورکوی اولاد خپل ته دوه کاله پوره ﴿ لِمَنۡ أَرَادَ أَن يُتِمَّ ٱلرَّضَاعَةَۚ ﴾ دا (حکم) هغه چالره دی چي اراده لری دوی چي پوره کړی نیته دتی ورکولو) اوتردی زیاته نه ده ﴿ وَعَلَى ٱلۡمَوۡلُودِ لَهُۥ رِزۡقُهُنَّ وَكِسۡوَتُهُنَّ بِٱلۡمَعۡرُوفِۚ ﴾ اوده په پلار روزی ددوی (میندو) اوکالی ددوی (میندو) په معروف طریقه (له دستورسره سم) ﴿ لَا تُكَلَّفُ نَفۡسٌ إِلَّا وُسۡعَهَاۚ ﴾ اوزورنشی کولی په هیڅ نفس باندی مګرپه اندازه دتوان دده سره یعنی نفقه به په اندازه دتوان دده سره وی ځکه چي: (لايكلف الله نفسا الاوسعها) ﴿ لَا تُضَآرَّ وَٰلِدَةُۢ بِوَلَدِهَا وَلَا مَوۡلُودٞ لَّهُۥ بِوَلَدِهِۦۚ ﴾ نه دی ضرر رسول کیږی مورته په سبب دولد ددې سره اونه (دی ضرر رساوه شی) پلار ددې ولدته په سبب دولد دده سره) یعنی مور اوپلارته دی په ولد ضرر نه رسول کیږی چي پالنه یی لکه چي ښایی هغسی ترسره نکړی اویایوبل دولد په سبب ضرر من کړی چي مور ووایی: زه شیدی نه

---

(١) القرطبی ٣/٢٠٢

ورکوم ترڅو یې پلار په روزنه سترې او زیانمن کړي او یاخو پلار ماشوم دهغې له غیږې وکاږي سره له دې چي هغه غواړي شیدې ورکړي مګر دڅورولو لپاره یې داکار وشي همدا خبره مجاهد راوړې ده ﴿ وَعَلَى ٱلْوَارِثِ مِثْلُ ذَٰلِكَ ۗ ﴾ اوشته په وارث (پلار) باندې په شان دهغه (نفقې چي په پلار وه) یعنی داچي دماشوم مورته به نفقه ورکوي ضرر به نه ورسوي مراد له وارث څخه دلته دپلار وارث دی اوچا بیاویلي چي دماشوم وارث مراد دی خولومړی ویناد طبری غوره او مختاره ده ﴿ فَإِنْ أَرَادَا فِصَالًا عَن تَرَاضٍ مِّنْهُمَا وَتَشَاوُرٍ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِمَا ۗ ﴾ (نو که وغواړي دوی دواړه (مور او پلار) بیلول (له تی څخه ترپخوا له دوو کلونو) په خوښې سره ددوی دواړو او په مشورې (ددوی دواړو) پس نشته هیڅ ګناه په دوی دواړو باندې (په دې کی) ﴿ وَإِنْ أَرَدتُّمْ أَن تَسْتَرْضِعُوٓا۟ أَوْلَٰدَكُمْ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ إِذَا سَلَّمْتُم مَّآ ءَاتَيْتُم بِٱلْمَعْرُوفِ ۗ ﴾ او که قصد وکړی تاسی چي دایی ونیسی لپاره دتی ورکولو اولادې ستاسی ته نو نشته هیڅ ګناه پر تاسی باند ی کله چي وسپاری هغه څه چي قصد دورکولو کړی وی تاسی دوی ته په معروف (سم له دستورسره) یعنې هغه مزدوری چي موافقه مو کړی ورکړی څکه که دایی ونه نازوله شی بیا دماشوم په روزنه کی ستړیانه ګالی او نه یې سم مړوی ﴿ وَٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ وَٱعْلَمُوٓا۟ أَنَّ ٱللَّهَ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ ﴾ او وویرېږی له الله ﷻ نه او پوه شی چي بیشکه الله په هغو شیانو چي کوی یې تاسی ښه لیدونکی (عالم په پټو او ښکاره وو) دی یعنی ستاسی احوال او اقوال ورته څرګند دي ﴿ وَٱلَّذِينَ يُتَوَفَّوْنَ مِنكُمْ وَيَذَرُونَ أَزْوَٰجًا يَتَرَبَّصْنَ بِأَنفُسِهِنَّ أَرْبَعَةَ أَشْهُرٍ وَعَشْرًا ۖ ﴾ او هغه کسان چي مړه شی له تاسی نه او پرېږدی دوی ښځي انتظار دی کوی دا ښځي (دنکاح کولو څخه) په ځانو خپلو څلور میاشتی او لس (ورځي) دغم ګاللو (حداد) په توګه او دا حکم دهغې لپاره دی چي امیدواره نه وی او کومه چي په ګیډه کی ماشوم لری دهغې عدت بیاد حمل زیږول دی چي الله فرمایي: (وَأُولَٰتُ ٱلْأَحْمَالِ أَجَلُهُنَّ أَن يَضَعْنَ حَمْلَهُنَّ) (الطلاق/۴) ﴿ فَإِذَا بَلَغْنَ أَجَلَهُنَّ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ فِيمَا فَعَلْنَ فِىٓ أَنفُسِهِنَّ بِٱلْمَعْرُوفِ ۗ ﴾ نو کله چي ورسیږی دوی مودی دعدت خپل ته پس نشته هیڅ ګناه پر تاسی باندې په هغه کار کی چي کوی یې دا ښځي (په حق د) نفسو نو خپلو کی په ښه توګه سم له شرعی اصولو سره یعنی کله چي یې عدت بشپړ شی نو ای اولیاوو په تاسو هیڅ ګناه نه شته چي اجازه ورکړئ دوی ته دواده کولو او یا هغه څه چي شریعت دوی ته رواکړی له زینت څخه او یا له وړاندی کیدلو نکاح ته ﴿ وَٱللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرٌ ﴾ او الله په هغو شیانو چي کوی یې تاسی ښه خبردار دی نو به ورباندې جزا در کړی ﴿ وَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ فِيمَا عَرَّضْتُم بِهِۦ مِنْ خِطْبَةِ ٱلنِّسَآءِ ﴾ او نشته هیڅ ګناه په تاسی باندې په هغه (ګار) کی چي اشاره کوئ تاسې په هغه سره چې غوښتل دهغو ښځو دی چي په عدت کی وی) یعنی ای نارینه وو په تاسی باندې څه ګناه نشته که چیری کونډې ښځی دعدت په موده کی په اشاره سره غواړی په څرګند ډول نه وی ابن عباس ﷺ وایی لکه داچي ووایي: ما غوښتل چي الله پاک یوه نیکه ښځه راکړی او یا زما ښځو ته اړتیا شته ﴿ أَوْ أَكْنَنتُمْ فِىٓ أَنفُسِكُمْ ۚ ﴾ (یا یې پټ ساتی په زړونو خپلو کی) یعنی پدی کی کومه ګناه نشته چي تاسی په زړه کی ددوی دنکاح رغبت پټ ساتئ ﴿ عَلِمَ ٱللَّهُ أَنَّكُمْ سَتَذْكُرُونَهُنَّ وَلَٰكِن لَّا تُوَاعِدُوهُنَّ سِرًّا إِلَّآ أَن تَقُولُوا۟ قَوْلًا مَّعْرُوفًا ۚ ﴾ معلوم دی الله ته چي بیشکه تاسی ژر به یاد کړی په غوښتلو سره

دنكاح دابنځي وليكن وعده مه كوئ له دوى سره (دنكاح) په پټه مگر (هم دا) چي ووايئ تاسى ويل ښه (له رواجه اوشريعت سره سم نيک ويل) يعنى الله ستاسى په زړونو خبر دى چي تاسى يى په زړه كى يادوئ اوصبر نشى كولاى نو الله له تاسى څخه گناه پورته كړه چي په اشاره يي يادوئ اوپه هغه ډول چي شريعت درته اجازه دركړى ده ﴿ وَلَا تَعْزِمُوا عُقْدَةَ ٱلنِّكَاحِ حَتَّىٰ يَبْلُغَ ٱلْكِتَٰبُ أَجَلَهُۥ ﴾ (اومه كوئ قصد دتړلو دغوټى دنكاح ددوى) ترهغه پورى چي ورسيږى تاكلى عدت انتهاء دنيټې خپلى ته ﴿ وَٱعْلَمُوٓا۟ أَنَّ ٱللَّهَ يَعْلَمُ مَا فِىٓ أَنفُسِكُمْ فَٱحْذَرُوهُ ﴾ اوپوه شى تاسى چي بيشكه الله ته معلوم ده هغه څه چي په زړونو ستاسى كى وى نوووېرېږئ له ده نه. دامرمخالفت يى مه كوئ ﴿ وَٱعْلَمُوٓا۟ أَنَّ ٱللَّهَ غَفُورٌ حَلِيمٌ ﴾ اوپوه شى چي بيشكه الله ښه بخښونكى (دخطيئاتو) تحمل والادى يعنى دهغه چي توبه گارښي اوڅوک چي گناه كوى په عقوبت يى تلواره نه كوى وروسته الله دهغې مطلقې حكم بيانوى چي لاس نه وى وروړل شوى (قبل المساس) وى وايى ﴿ لَّا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ إِن طَلَّقْتُمُ ٱلنِّسَآءَ مَا لَمْ تَمَسُّوهُنَّ أَوْ تَفْرِضُوا۟ لَهُنَّ فَرِيضَةً ﴾ نشته هيڅ گناه په تاسو باندى كه طلاقى كړى ښځي ترپخواله (جماع) اوترپخواله مهرټاكلو ددوى لپاره مقرر مهرډنوطلاق پداسي حال كى ممنوع نه دى كه چيرى دكوم مصلحت اوضرورت په بناوو ﴿ وَمَتِّعُوهُنَّ عَلَى ٱلْمُوسِعِ قَدَرُهُۥ وَعَلَى ٱلْمُقْتِرِ قَدَرُهُۥ مَتَٰعًۢا بِٱلْمَعْرُوفِ ۖ حَقًّا عَلَى ٱلْمُحْسِنِينَ ﴾ اوڅه خرڅ وركړئ دوى ته (واجب) دى په غنى ميړه باندى په اندازه دده اوشته په فقير ميړه په اندازه دتوان دده خرڅ چي په معروف (سم له اصولو سره وى لازمه په نيكى كونكو (مسلمانانو) باندى) او دا ددې لپاره چي زړه يى خوښ اودفراق اوبيلتون وحشت يى ليرې شى ﴿ وَإِن طَلَّقْتُمُوهُنَّ مِن قَبْلِ أَن تَمَسُّوهُنَّ وَقَدْ فَرَضْتُمْ لَهُنَّ فَرِيضَةً فَنِصْفُ مَا فَرَضْتُمْ ﴾ اوكه طلاقى كړئ تاسى دوى پخوادمسه كولو ددوى اوپه تحقيق سره ټاكلى مووه ددوى لپاره مهر نولازم دى په تاسي باندي نيمايئ څكه دغه طلاق ترپخووا له لاس وروړلودى) ﴿ إِلَّآ أَن يَعْفُونَ أَوْ يَعْفُوَا۟ ٱلَّذِى بِيَدِهِۦ عُقْدَةُ ٱلنِّكَاحِ ﴾ مگر كه عفوه وكړى دابنځى (ټول ميړه ته ورپرېږدى) ياهغه سړى (ميړه) عفوه وكړى چي په لاس دده كى ده غوټه دنكاح (چي كامل وركړى) يعنى ياداچي پخپله مطلقه له خپله حقه تيره شى اوميړه ته يى وربښيى اوياخودهغې ولى الأمر كه چيرى كوچنئ وه دهغى دمهر ښښنه ميړه ته وكړى چابيا ويلى چي مراد له سړى څخه ميړه دى څكه هغه دى چي په لاس كى يى دنكاح غوټه ده كه هغه دټول مهر وركولو عفو وكړى داوروستى خبره دابن جرير خوښه ده اوزمخشرى بياوايى چي له ظاهردآيت څنى ولى الأمر معلومېږى (۱) ﴿ وَأَن تَعْفُوٓا۟ أَقْرَبُ لِلتَّقْوَىٰ ﴾ داچي عفوه وكړى تاسى (اى ښځو اوميړونو دغه) عفوه پر هيڅ گارى ته نژدى ده ابن عباس وايى ددواړو تقوىٰ ته خورانژدى هغه دى چي عفوه وكړى ﴿ وَلَا تَنسَوُا۟ ٱلْفَضْلَ بَيْنَكُمْ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ ﴾ اومه هيروئ تاسى فضل اواحسان پخپلو منځو نركى بيشكه چي الله په هغه څه چي كوى يى تاسى ښه ليدونكى دى

---

[1] داخبره له ابن عباس(رض)څخه روايت شوى اودامام مالک مذهب اوپخوانى مذهب دامام شافعى (رح) وو ناصردزمخشرى په كلام تعليق ليكى وايى :چي زمخشرى رښتياوايى چي داقول په ظاهر كى صحت لرى څكه دحق ښكلا اودصواب خلايى په شپږو وجوهاتو په باريک بيان سره ليكلى په كشاف كى يى وگوره ۲۱۷/۱.

الله ﷻ دآیت پای داحسان اونیکي په نه هیرولو کړی دی چي باید دمیړه اومیرمنی ترمینځ محبت اواحسان هیرنشی که طلاق دکومی اړتیا له مخي رامنځته شوی وي خو دا باید دخپلوۍ روابط غوځ نکړی

بلاغت:

۱:(وَٱلۡوَٰلِدَٰتُ يُرۡضِعۡنَ) دا په حقیقت کی امر دی اودخبر په توګه راوړل شوی چي په کولو کي مبالغه یی مقصد دی لکه په تیر آیت کی چي راغلی وو (وَٱلۡمُطَلَّقَٰتُ يَتَرَبَّصۡنَ).

۲:(أَن تَسۡتَرۡضِعُوٓاْ أَوۡلَٰدَكُمۡ) دلته ایجاز بالحذف دی تقدیر یی داچي (تسترضعوا المراضع لأولادکم) لکه چي پکی دالتفات صنعت هم راغلی دی چي له غیاب څخه خطاب ته راګرزیدنه شوی ځکه مخکی راغلی وو(فَإِنۡ أَرَادَا فِصَالًا) اوددی التفات ګټه دادی چي دپلرونو مشاعر داولادونو په هکله راوینښ کاندی.

۳:پدی آیت کی چي فرمایی: (وَلَا تَعۡزِمُواْ عُقۡدَةَ ٱلنِّكَاحِ) دعزم یادونه دنهی دمبالغی لپاره شوی ځکه چي دعزم له کولو نهی وشی پخپله له کولو په طریقه أولیٰ نهی راغله.

۴:(مَا لَمۡ تَمَسُّوهُنَّ) دلته الله له جماع څخه په لاس وروړلو کنایه راوړی چي بند ګانو ته دښو الفاظو دغوره کولو په هکله روزنه ورکړی چي پخپلو خبرو اترو کی یی ووایی.

۵:پدی کلام کی چي الله فرمایی:(وَأَن تَعۡفُوٓاْ)او(وَلَا تَنسَوُاْ ٱلۡفَضۡلَ) خطاب دنارینه اوښځو لپاره عام دی خو دتغلیب په ډول راوړل شوی دی.

۶:(وَٱعۡلَمُوٓاْ أَنَّ ٱللَّهَ) دلته دالله جلیل نوم دضمیر په ځای ظاهر ذکرشوی چي مهابت او روعت یعنی هیبت اوویره افاده کړی

فوائد اوګټي:

لومړئ فائده : کله چي یی د(الوالدات) په لفظ ذکر وفرمایه اوداسي یی ونه ویل چي (المطلقات) اویا(النساء المطلقات) ددی لپاره چي داولاد لوری ته یی توجه راوګرزوی ځکه طلاق نه ښایی ددوی اولادونه دمور له عاطفي څخه محروم کړی

دوهمه فائده: الله تعالی په آیت شریف کی دولد اضافت مور اوپلار دواړوته کړی چي فرمایی:(وَٰلِدَةُۢ بِوَلَدِهَا) اویا(مَوۡلُودٞ لَّهُۥ بِوَلَدِهِۦ) دادد‌ي لپاره چي ددوی شفقت اومهربانی یی په هکله وغواړی ځکه ماشوم خوپر دی نه دی دایی مور اوهغه یي پلار دی نو دوی ته لازم ده چي ورباندي شفقت وکړی اوددوی ترمینځ دښمنی ددی سبب نشی چي ماشوم ته ضرر ورسیږی.

دریمه فائده: حکمت دمتعت په وجوب کې دادی چي دطلاق وحشت جبیره کړي ابن عباس وایی که فقیر وو مطلقی ته دی دری جامې په متعت کی ورکړی اوکه چیری بډای وی خادم دی ورکړی.

څلورمه فائده: روایت کاوه شی چي حسن بن علی رضی الله عنه خپلی طلاق شوی میرمنې ته لس زره درهمه متعه ورکړه نوښځی وویل: (متاع قلیل من حبیب مفارق) لیږ شی دی له جلاشوی حبیب څخه دهغې دطلاق سبب داوو کله چی حضرت علی کرم الله وجهه ولګیدو نوله حضرت حسن رضی الله عنه سره دخلافت بیعت وشو هغی ورته وویل: ای امیرالمؤمنینه خلافت دی مبارکه شه ! حسن رضی الله عنه ورته وویل: چي علی شهید کیږی اوته شماتت څرګندوی ولاړه شه ته دی په دری طلاقه سره طلاقه یی ! نوهغی ځان په خپل جلباب (پړونی) کی ونغښت اوکښینستله ترڅو چي عدت یی تیرشو اوبیا حضرت حسن لس زره متعه وروا ستوله اونور هغه چي له مهر څخه یی پاتې شونی وو بیا هغې هغه یاده شوي خبره وکړه اوکله چي ریبار حضرت حسن ته ددې خبره ورواروله ویی ژړل اوویې ویل که می دری ځله طلاقه کړی نه وای خامخا رجوع مي ورته کوله.(١)

الله تعالی فرمایي:

﴿ حَٰفِظُواْ عَلَى ٱلصَّلَوَٰتِ وَٱلصَّلَوٰةِ ٱلْوُسْطَىٰ وَقُومُواْ لِلَّهِ قَٰنِتِينَ ﴿٢٣٨﴾ فَإِنْ خِفْتُمْ فَرِجَالًا أَوْ رُكْبَانًا فَإِذَآ أَمِنتُمْ فَٱذْكُرُواْ ٱللَّهَ كَمَا عَلَّمَكُم مَّا لَمْ تَكُونُواْ تَعْلَمُونَ ﴿٢٣٩﴾ وَٱلَّذِينَ يُتَوَفَّوْنَ مِنكُمْ وَيَذَرُونَ أَزْوَٰجًا وَصِيَّةً لِّأَزْوَٰجِهِم مَّتَٰعًا إِلَى ٱلْحَوْلِ غَيْرَ إِخْرَاجٍ فَإِنْ خَرَجْنَ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ فِى مَا فَعَلْنَ فِىٓ أَنفُسِهِنَّ مِن مَّعْرُوفٍ وَٱللَّهُ عَزِيزٌ حَكِيمٌ ﴿٢٤٠﴾ وَلِلْمُطَلَّقَٰتِ مَتَٰعٌۢ بِٱلْمَعْرُوفِ حَقًّا عَلَى ٱلْمُتَّقِينَ ﴿٢٤١﴾ كَذَٰلِكَ يُبَيِّنُ ٱللَّهُ لَكُمْ ءَايَٰتِهِۦ لَعَلَّكُمْ تَعْقِلُونَ ﴿٢٤٢﴾ ﴾ البقرة: ٢٣٨ - ٢٤٢

مناسبت اوتړاو:

دلمانځه په هکله دا آیتونه دکورنۍ د احکامو اودطلاق اوبیلتون په وخت کی دمیړه اوښځی په علاقاتو چي بایدڅه ډول وی ؟ راتلل دیو ستر حکمت له مخی شوی دی هغه داچي څرنګه الله پاک په عفو اوبښنه امر وفرمایه چي ورروسته له طلاقه به یي تر سره کوئ نوبیایی په لمانځه امر وفرمایو: ځکه هغه خورا ستره وسیله ده چي ددنیا غمونه اوخفګانونه سړی پکښی هیروی له دی کبله وو چي کله به رسول الله ته غم اوخفګان ور پیښ شو نو به لمانځه ته پورته شو اوڅرنګه چي طلاق بغض، عداوت اودښمنی راپاروی لمونځ بیا احسان اوبښنې ته سړی رابولی اوله فحشاء اومنکر څخه یی راګرزوی اودادانسانی نفس دروزنی تر ټولو ښه اوغوره لاره ده.

لغتونه:

(حافظوا) وساتئ له محافظت څخه اخیستل شوی اومداومت ته وایی (الوسطیٰ) داوسط مؤنث اودشی وسط هغه غوره ته وایی.(قانتین) په اصل کی قنوت په یوشی باندی مداومت کولو ته وایی اوقرآنکریم دهغه

---
(١) القرطبی ٣/٢٠٢

طاعت په همیشه توب پسی خاص کړی دی چي له خشوع اوخضوع سره وی الله تعالی فرمایی :(يَٰمَرۡيَمُ ٱقۡنُتِي لِرَبِّكِ) آل عمران ٤٣) (فرجالا) دراجل جمع دی اوهغه پیاده تلونکی ته وایی راغب وایی چي له رجل څخه راجل مشتق اوپه پښو تلونکی ته وایی اوکله کله داسي ویل کیږی چي :(رجل راجل) یعنی هغه سړی چي په پیاده تګ غښتلی وی(١) (رکبانا)دراکب جمع اوهغه چاته وایی چي سپوروی هغه که په آس وی یا اوښ یا بل څه.

تفسیر:

﴿ حَٰفِظُواْ عَلَى ٱلصَّلَوَٰتِ وَٱلصَّلَوٰةِ ٱلۡوُسۡطَىٰ ﴾ ساتنه کوئ تاسي پر (ټولو) لمنځونو باندی او(خصوصا) په لمانځه منځنی باندی (چي دمازیګر دی)ځکه ملائکې ورته حاضریږی ﴿ وَقُومُواْ لِلَّهِ قَٰنِتِينَ ﴾ اوودریږی تاسی الله ته ویریدونکی په ادب سره یعنی همیشه توب کوی په طاعت اوعبادت کی له خشوع سره اوپه لمانځه کی په خشوع ودریږئ ﴿ فَإِنۡ خِفۡتُمۡ فَرِجَالًا أَوۡ رُكۡبَانٗاۖ ﴾ نوکه وویریدی تاسی(له دښمنه یاله بل څه)نو(لمونځ کوی) په پلی تګ یاپه سورلی سره ﴿ فَإِذَآ أَمِنتُمۡ فَٱذۡكُرُواْ ٱللَّهَ كَمَا عَلَّمَكُم مَّا لَمۡ تَكُونُواْ تَعۡلَمُونَ ﴾ نوکله چي په امن شی تاسی نویادوی تاسی الله لکه چي ښودلی دی تاسی ته هغه څه چي نه وی چي پرې پوهیدلی اودالکه داقول دالله داسي ده (فَإِذَا ٱطۡمَأۡنَنتُمۡ فَأَقِيمُواْ ٱلصَّلَوٰةَ)[النساء١٠٣] اوکه مرادله له ذکر څخه په آیت کی لمونځ وی یعنی الله په عبادت ذکر کړی لکه چي تاسوته یې شریعت درښودلی دی وروسته الله دعدت احکام داسي بیانوی ﴿ وَٱلَّذِينَ يُتَوَفَّوۡنَ مِنكُمۡ وَيَذَرُونَ أَزۡوَٰجٗا وَصِيَّةٗ لِّأَزۡوَٰجِهِم مَّتَٰعًا إِلَى ٱلۡحَوۡلِ غَيۡرَ إِخۡرَاجٖۚ ﴾ اوهغه کسان چي مړه شی له تاسی نه اوپریږدی دوی (خپلی)ښځی (لازم دی پردوی باندی) وصیت دی وکړی لپاره دښځو خپلو دخرڅ ورکړلو تریوه کاله پوری بی له ایستلو (له خپلو کورونوڅخه) دادا سلام په لومړی پیل کښی وو اوبیا دغه موده منسوخه اوپرځای یی څلور میاستی اولس شپی ورځی ودریدی ﴿ فَإِنۡ خَرَجۡنَ فَلَا جُنَاحَ عَلَيۡكُمۡ فِي مَا فَعَلۡنَ فِيٓ أَنفُسِهِنَّ مِن مَّعۡرُوفٖۗ ﴾ (نوکه پخپله ووتلی (داښځي دخپلو کورونو څخه) نونسته هیڅ ګناه په تاسی باندی په هغه شی کی چي کوی یی دوی پخپلو ځانو له شریعت سره سم یعنی که کوم داسی کار وکړی چي پکی زینت اوخوشبویی لګول وی اوځان دواده کولو لپاره وړاندی کړی ﴿ وَٱللَّهُ عَزِيزٌ حَكِيمٞ ﴾ (اوالله ډیر غالب ښه حکمت والادی) یعنی هغه په خپله پاچهی کی ډیر غالب اوپخپله صنع اوجوړښت کی ښه حکمت والادی ﴿ وَلِلۡمُطَلَّقَٰتِ مَتَٰعُۢ بِٱلۡمَعۡرُوفِۖ حَقًّا عَلَى ٱلۡمُتَّقِينَ ﴾ اوښته طلاقی کړی شوی ښځو ته خرڅ ورکول په معروفی (ښی طریقی) سره چي لازم کړی شوی دی په پرهیزګارانو باندی یعنی داپه متقینو مؤمنانو لازم دی چي طلاق کړی شوی میرمنی ته دفراق دوحشت دجبرانی لپاره څه خرڅ له خپله توانه سره سم ورکړی ﴿ كَذَٰلِكَ يُبَيِّنُ ٱللَّهُ لَكُمۡ ءَايَٰتِهِۦ لَعَلَّكُمۡ تَعۡقِلُونَ ﴾ همداسي (لکه چي دا احکام یی بشپړ بیان کړل) بیانوی الله تاسی ته آیتونه خپل لپاره ددی چي تاسی وپوهیږئ) یعنی ددی بیان په شان هغه چي خلک

١مفردات الراغب مادة (رجل).

ددوستی اومرحمت لوری ته رابولی. الله ﷻ خپل هغه آیتونه کوم چي په شرعی احکامو دلالت کوی بیانوی ترڅو تاسی وپوهیږئ اوورباندی عمل وکړئ.

بلاغت:

١: (وَٱلصَّلَوٰةِ ٱلْوُسْطَىٰ) دلته عطف دخاص دی پر عام باندی ځکه چي زیاته بهتري یی څرګندوی.

٢: پدې کلماتو کی چي فرمایی: (فَإِنْ خِفْتُمْ) (فَإِذَآ أَمِنتُمْ) دلته دطباق صنعت دی چي دبدیعی محسناتو څخه شمیرل کیږی ابوالسعود وایی: چي یوځلی یی (ان) شرطیه راوړه هغه چي ددې ښکارندوی دی چی خوف نه دی پیښ شوی او په دوهم ځل یی (اذا) راوړه هغه چی دامن دپیښیدلو څرګند ونه کوی سره له دی چي په لمړی ځواب کی یی ایجاز اوپه دوهم ځواب کی یی اطناب صنعت راوړی په دې کی دهغه چا لپاره چي سترګو روی پندونه دی.

تنبیه:

(صلوة الوسطی) په ډیرو اقوالو کی دمازیګر لمونځ ګڼل شوی ځکه هغه دسهار اوماسپښین اوماښام او ماسختن دلمونځونو په مینځ کی راځي اوددی خبری ملاتړ هغه دصحیحینو حدیث هم کوی چي فرمایی: (شغلونا عن الصلاة الوسطی صلاة العصر ملأ الله قلوبهم وبیوتهم نارا) یعنی موږیی دمازیګر له لمانځه (صلوة الوسطی) څخه وایستلو الله دی ددوي زړونه اوکورونه له اوره ډک کړی. اوپه یوبل حدیث کی راځي. (والذی تفوته العصر فکانما وتر أهله وماله) یعنی له چا څخه چي دمازیګر لمونځ قضاشی لکه چي خپل اهل ومال یی ورک شو.
متفق علیه اونور احادیث

الله تعالی فرمایي:

﴿ ۞ أَلَمْ تَرَ إِلَى ٱلَّذِينَ خَرَجُوا۟ مِن دِيَـٰرِهِمْ وَهُمْ أُلُوفٌ حَذَرَ ٱلْمَوْتِ فَقَالَ لَهُمُ ٱللَّهُ مُوتُوا۟ ثُمَّ أَحْيَـٰهُمْ
إِنَّ ٱللَّهَ لَذُو فَضْلٍ عَلَى ٱلنَّاسِ وَلَـٰكِنَّ أَكْثَرَ ٱلنَّاسِ لَا يَشْكُرُونَ ﴿٢٤٣﴾ وَقَـٰتِلُوا۟ فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ وَٱعْلَمُوٓا۟ أَنَّ
ٱللَّهَ سَمِيعٌ عَلِيمٌ ﴿٢٤٤﴾ مَّن ذَا ٱلَّذِى يُقْرِضُ ٱللَّهَ قَرْضًا حَسَنًا فَيُضَـٰعِفَهُۥ لَهُۥٓ أَضْعَافًا كَثِيرَةً ۚ وَٱللَّهُ يَقْبِضُ وَيَبْصُۜطُ
وَإِلَيْهِ تُرْجَعُونَ ﴿٢٤٥﴾ أَلَمْ تَرَ إِلَى ٱلْمَلَإِ مِنۢ بَنِىٓ إِسْرَٰٓءِيلَ مِنۢ بَعْدِ مُوسَىٰٓ إِذْ قَالُوا۟ لِنَبِىٍّ لَّهُمُ ٱبْعَثْ لَنَا مَلِكًا نُّقَـٰتِلْ
فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ ۖ قَالَ هَلْ عَسَيْتُمْ إِن كُتِبَ عَلَيْكُمُ ٱلْقِتَالُ أَلَّا تُقَـٰتِلُوا۟ ۖ قَالُوا۟ وَمَا لَنَآ أَلَّا نُقَـٰتِلَ فِى سَبِيلِ
ٱللَّهِ وَقَدْ أُخْرِجْنَا مِن دِيَـٰرِنَا وَأَبْنَآئِنَا ۖ فَلَمَّا كُتِبَ عَلَيْهِمُ ٱلْقِتَالُ تَوَلَّوْا۟ إِلَّا قَلِيلًا مِّنْهُمْ ۗ وَٱللَّهُ عَلِيمٌۢ
بِٱلظَّـٰلِمِينَ ﴿٢٤٦﴾ وَقَالَ لَهُمْ نَبِيُّهُمْ إِنَّ ٱللَّهَ قَدْ بَعَثَ لَكُمْ طَالُوتَ مَلِكًا ۚ قَالُوٓا۟ أَنَّىٰ يَكُونُ لَهُ ٱلْمُلْكُ
عَلَيْنَا وَنَحْنُ أَحَقُّ بِٱلْمُلْكِ مِنْهُ وَلَمْ يُؤْتَ سَعَةً مِّنَ ٱلْمَالِ ۚ قَالَ إِنَّ ٱللَّهَ ٱصْطَفَىٰهُ عَلَيْكُمْ وَزَادَهُۥ بَسْطَةً فِى
ٱلْعِلْمِ وَٱلْجِسْمِ ۖ وَٱللَّهُ يُؤْتِى مُلْكَهُۥ مَن يَشَآءُ ۚ وَٱللَّهُ وَٰسِعٌ عَلِيمٌ ﴿٢٤٧﴾ وَقَالَ لَهُمْ نَبِيُّهُمْ إِنَّ ءَايَةَ

مُلْكِهِۦٓ أَن يَأْتِيَكُمُ ٱلتَّابُوتُ فِيهِ سَكِينَةٌ مِّن رَّبِّكُمْ وَبَقِيَّةٌ مِّمَّا تَرَكَ ءَالُ مُوسَىٰ وَءَالُ هَٰرُونَ
تَحْمِلُهُ ٱلْمَلَٰٓئِكَةُ ۚ إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَءَايَةً لَّكُمْ إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ ﴿٢٤٨﴾ فَلَمَّا فَصَلَ طَالُوتُ بِٱلْجُنُودِ قَالَ إِنَّ
ٱللَّهَ مُبْتَلِيكُم بِنَهَرٍ فَمَن شَرِبَ مِنْهُ فَلَيْسَ مِنِّى وَمَن لَّمْ يَطْعَمْهُ فَإِنَّهُۥ مِنِّىٓ إِلَّا مَنِ ٱغْتَرَفَ غُرْفَةًۢ بِيَدِهِۦ ۚ فَشَرِبُوا۟
مِنْهُ إِلَّا قَلِيلًا مِّنْهُمْ ۚ فَلَمَّا جَاوَزَهُۥ هُوَ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ مَعَهُۥ قَالُوا۟ لَا طَاقَةَ لَنَا ٱلْيَوْمَ بِجَالُوتَ وَجُنُودِهِۦ ۚ
قَالَ ٱلَّذِينَ يَظُنُّونَ أَنَّهُم مُّلَٰقُوا۟ ٱللَّهِ كَم مِّن فِئَةٍ قَلِيلَةٍ غَلَبَتْ فِئَةً كَثِيرَةًۢ بِإِذْنِ ٱللَّهِ ۗ وَٱللَّهُ مَعَ
ٱلصَّٰبِرِينَ ﴿٢٤٩﴾ وَلَمَّا بَرَزُوا۟ لِجَالُوتَ وَجُنُودِهِۦ قَالُوا۟ رَبَّنَآ أَفْرِغْ عَلَيْنَا صَبْرًا وَثَبِّتْ أَقْدَامَنَا
وَٱنصُرْنَا عَلَى ٱلْقَوْمِ ٱلْكَٰفِرِينَ ﴿٢٥٠﴾ فَهَزَمُوهُم بِإِذْنِ ٱللَّهِ وَقَتَلَ دَاوُۥدُ جَالُوتَ وَءَاتَىٰهُ ٱللَّهُ
ٱلْمُلْكَ وَٱلْحِكْمَةَ وَعَلَّمَهُۥ مِمَّا يَشَآءُ ۗ وَلَوْلَا دَفْعُ ٱللَّهِ ٱلنَّاسَ بَعْضَهُم بِبَعْضٍ لَّفَسَدَتِ ٱلْأَرْضُ
وَلَٰكِنَّ ٱللَّهَ ذُو فَضْلٍ عَلَى ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿٢٥١﴾ تِلْكَ ءَايَٰتُ ٱللَّهِ نَتْلُوهَا عَلَيْكَ بِٱلْحَقِّ ۚ وَإِنَّكَ لَمِنَ
ٱلْمُرْسَلِينَ ﴿٢٥٢﴾ ﴾ البقرة: ٢٤٣ - ٢٥٢

مناسبت او تړاو :

کله چي الله جَلَّ جَلَالُهُ دکورنۍ احکام په تفصیل سره وښودل او هغه انتظامات او روابط یې چي دافراد وترمینځ وی دهغوی په اصلاح او سمولو کي لار ښوونې وکړې ځکه داکورنۍ لومړنی زړی او هغه لومړنۍ خښته ده چي دیوی فاضلې او سرلوړی ټولنې مانۍ ځنې جوړیږی له هغه وروسته یې دجهاد آیتونه ذکر کړل او دایې دعقیدې دساتنې او دمقدساتو دژغورنې لپاره ځکه چي دیوې مسلمانې کورنۍ لپاره چي عزتمن ژوند غواړی دیوه صالح اوسم چاپیر یال اړتیا ده او کورنۍ تر هغو اصلاح کیدای نشي چي ټولنه اصلاح نه وی دهغې تل پاتې کیدل او بقاء دحق او دهغه دپلویانو له بقاء سره تړلی ده ځکه نو الله جَلَّ جَلَالُهُ دقتال امر کړی او دپخوانیو امتونو مثالونه یې راوړی دی چي څرنګه یې دحق په لار کی جهاد کړی او سره له دی چي لږ او یو موټی به وو په ډیرو سرغړونکو کفارو بریالی شوی دی نو دباطل دپلویانو کثرت او ډیروالی ته اعتبار نشته بلکه دحق دپلویانو ټینګار عزم او دحق په لار کی جهاد ته اعتبار دی.

لغتونه:

(الوف) دألف جمع کثرت ده او جمع قلت یې آلاف رَاځی او معنایې داده چي زښته زیات (کثرة کاثرة) (الوف مؤلفة) (حذر) ویری ته وایی (یقبض ویبسط) قبض دیوشی راټولولو او غونډولو ته وایی او بسط بیا غوړولو او ویړولو ته او مراد ځنی فقر او بډایی ده . (الملاء) دخلکو مشران او اشراف ځکه یې (ملأ) بولی چي په هیبت او سترتوب یې دخلکو سترګی ډکیږی (فصل) جلاشو (فصل) جلاوالی او تجاوزته ویل کیږی (مبتلیکم) ازمویې تاسی (یظنون) یقین کوی او پوهیږی (فئة) ټولی او جماعت ته وایې داهسی کلمه ده چي واحد نلری او لکه رهط غوندی دی (افرغ) توی کړه فرغ تویولو او ښکته کولو ته وایې.

تفسیر: ﴿ أَلَمْ تَرَ إِلَى ٱلَّذِينَ خَرَجُوا۟ مِن دِيَٰرِهِمْ وَهُمْ أُلُوفٌ ﴾ (ایا نه دی لیدلی تا (یعنی نه دی رسیدلی علم ستاکیسې د) دهغو کسانو ته چي وتلی وو له کورونو خپلو حال داچي په زرګونو وو) یعنی ایاتا نه دی

اوریدلی ای محمده ! یانه دی اوریدلی تا ای مخاطبه ! حال دهغه قوم چي وتلی وو له خپل وطنه اوپه زرگونو وو ﴿ حَذَرَ ٱلْمَوْتِ ﴾ (له ویری دمرگه) دلته له استفهام ځخه غرض تشویق اوتعجب دی چي ددوی کیسه واوری دوی اویازره کسان وو ﴿ فَقَالَ لَهُمُ ٱللَّهُ مُوتُوا۟ ثُمَّ أَحْيَٰهُمْ ﴾ وویل الله دوی ته چي مړه شی (پس مړه شول بیایی ژوندی کړل دوی) دوی دبنی اسرائیلو یو تیروو پاچایی دوی جهادته وبلل خودوی دمرگ له ویری وتښتیدل پس الله ﷻ هغوی مړه کړل اته ورځي مړه وو بیاددوی دنبی په دعا چي حزقیل ﷺ نومیده الله ژوندی کړل اوبیا یو، دهږ ژوندی واوسیدل چابیاویلی چي له طاعون ځنی وتښتیدل بیا الله مړه کړل ابن کثیر وایی چي په دی قصه کی پندی چي په ویره سره تقدیرنه گرزی اوله الله ﷻ ځخه ځوک تښتیدلی نشی ﴿ إِنَّ ٱللَّهَ لَذُو فَضْلٍ عَلَى ٱلنَّاسِ ﴾ (بیشکه الله خامخا ښتن دمهربانی دی په خلکو باندی) چي وربښکاروي ځرگند دلائل اوښکاره معجزي چي هغي لاري ته یی رهبري کړی په کومه کي چي ددنیا اوآخرت نیکمرغی وی ﴿ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ ٱلنَّاسِ لَا يَشْكُرُونَ ﴾ (ولکن ډیر دخلکو شکرنه باسی) په نعمتونو دالله بلکه منکریږی ﴿ وَقَٰتِلُوا۟ فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ وَٱعْلَمُوٓا۟ أَنَّ ٱللَّهَ سَمِيعٌ عَلِيمٌ ﴾ (اوجنگ کوئ (ای مؤمنانو) په لاره دالله کی اوپوه شی تاسی چي بیشکه الله ښه اوریدونکی دی، ښه عالم دی) یعنی له کفارو سره ددین دلوړ تیا لپاره جگړه وکړئ نه دنفسی خو اهشاتو لپاره په دی پوه شیء چي الله ستاسی اقوال اوری اوستاسی په نیتونو اواحوالو خبردی ورباندی به جزادرکړی اولکه چي ویره سړی له قدر ځخه نه ژغوری همدارنگه له جهاد نه تیښته نه اجل لیري کولی شی اونه نژدې کولای. ﴿ مَّن ذَا ٱلَّذِى يُقْرِضُ ٱللَّهَ قَرْضًا حَسَنًا فَيُضَٰعِفَهُۥ لَهُۥٓ أَضْعَافًا كَثِيرَةً ﴾ (ځوک دی هغه سړی چي قرض ورکوی الله ته الله لره قرض نیک نوزیات به کړی الله قرض ده لره په زیاتوالي) په جهاد اونوردخیر ښیگڼي په لارکی نوجزابه یی داوی چي الله زیات کړی دغه قرض ډیر چنده (ځوواری) ځکه داهغه قرض دی چي (أغنی الاغنیاء) یعنی دبډایانو بډای ذات (الله)ته ورکول شوی دی اوپه حدیث کی راځي (من یقرض غیرعدیم ولاظلوم)؟ ځوک هغه ذات ته قرض ورکوی چي هغه نه فقیراونه ظالم دی ؟(۱) ﴿ وَٱللَّهُ يَقْبِضُ وَيَبْصُۜطُ ﴾ اوالله تنگوی (رزق) اوفراخوی(رزق) په هغه چاچي اراده یی شی دازموینښت لپاره ﴿ وَإِلَيْهِ تُرْجَعُونَ ﴾ (اوهم(خاص) ده ته بیولی کیږی) دقیامت په ورځ داعمالو دجزاء لپاره ﴿ أَلَمْ تَرَ إِلَى ٱلْمَلَإِ مِنۢ بَنِىٓ إِسْرَٰٓءِيلَ مِنۢ بَعْدِ مُوسَىٰٓ ﴾ آیانه دی لیدلی تا(یعنی نه دی رسیدلی علم ستا ای اوریدونکی (دکیسي)د ډلي ته له بنی اسرائیلو(اولادي دیعقوب ځنی) وروسته له موسی نه؟ پدی کی بیا دکیسي داوریدلو لپاره تعجیب اوتشویق دی ﴿ إِذْ قَالُوا۟ لِنَبِىٍّ لَّهُمُ ٱبْعَثْ لَنَا مَلِكًا نُّقَٰتِلْ فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ ﴾ کله چي وویل دوی یوه نبی ته (چي راغلی وو) دوی ته مقررکړه زموږ لپاره یوپاچا چي جنگ وکړو په لاره دالله کی) یعنی چي کله دوی (شمعون ﷺ) ته چي دهارون ﷺ له نسله ځخه وو، وویل: موږ ته دجنگ امیر اوقائد وټاکه چي له هغه سره دالله په لارکی له دښمنانو سره وجنگیږو ﴿ قَالَ هَلْ عَسَيْتُمْ إِن كُتِبَ عَلَيْكُمُ ٱلْقِتَالُ أَلَّا تُقَٰتِلُوا۟ ﴾ نو وویل نبی ایانږدې ده (توقع شته) که فرض کړی شی په به تاسی باندی جنگ چي

---

(۱) حدیث قدسی ده ابن کثیرددی آیت سره ذکر کړی مختصرابن کثیر۱/۲۲۲

ونه کړئ جنگ) یعنی زه په دی ویریږم که په تاسی قتال فرض شی بیابه یی تاسی نکوئ اوددښمن له مخامخ کیدلو څخه به ویریږئ ﴿ قَالُوا۟ وَمَا لَنَآ أَلَّا نُقَـٰتِلَ فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ وَقَدْ أُخْرِجْنَا مِن دِيَـٰرِنَا وَأَبْنَآئِنَا ﴾ (وویل دوی څه (مانع) مونږ لره ده چي جنگ به ونکړو دالله په لارکی؟ حال داچي په تحقیق سره ایستلی شوی یو مونږله کورونو خپلو اوله زامنو خپلو) یعنی له خپلو وطنونو څخه په زور اخیستل شوی یو اواولادونه مو په ظلم مړیان شوی ولی به جنگ نه کوو الله جل جلاله ددوی (بې زړه توب اوهلع حال داسي بیانوی: ﴿ فَلَمَّا كُتِبَ عَلَيْهِمُ ٱلْقِتَالُ تَوَلَّوْا۟ إِلَّا قَلِيلًا مِّنْهُمْ ﴾ کله چي په دوی باندی قتال فرض شو نوو گرځیدل دوی (تول له جنگه) مگرونه گرځیدل لږکسان له دوی نه) چي هغوی صبر وکړ ټینگ شول اوله طالوت سره له رود ه (نهره) تیرشول قرطبی وایی چي همدا حال دهغو ملتونو دی چي په نعمت کی لوبیږی دسوکالی لورته کاږه وی دغرور په وخت کی د جنگ هیله اوتمنا کوی خوکله چي جنگ پیښ شی بیانوبی زړه شی اودخپل طبیعت غوښتنو ته غاړه کښیږدی (١) ﴿ وَٱللَّهُ عَلِيمٌۢ بِٱلظَّـٰلِمِينَ ﴾ (اوالله ښه عالم دی په ظالمانو باندی) داددوی لپاره دجهاد په پریښودلو وعید دی چي ظالمان دی ﴿ وَقَالَ لَهُمْ نَبِيُّهُمْ إِنَّ ٱللَّهَ قَدْ بَعَثَ لَكُمْ طَالُوتَ مَلِكًا ﴾ اووویل دوی ته نبی ددوی چي بیشکه الله په تحقیق سره مقرر کړ ی د ی طالوت تاسی ته باچا : هغه یی ددوی لپاره امیر تاکلی چي دهغه ترقوماند ی لاندی جهادوکړی ﴿ قَالُوٓا۟ أَنَّىٰ يَكُونُ لَهُ ٱلْمُلْكُ عَلَيْنَا وَنَحْنُ أَحَقُّ بِٱلْمُلْكِ مِنْهُ وَلَمْ يُؤْتَ سَعَةً مِّنَ ٱلْمَالِ ﴾ وویل دوی (بنی اسرائیلو) چي څرنگه به وی ده لره پاچهی پر مونږ باندی حال داچي مونږ ډیر مستحق یو په باچهی له ده څخه اونه ده ورکړل شوی (ده ته) پراخی له ماله) یعنی دوی همدا اعتراض پخپل پیغمبر وکړ چي څرنگه طالوت زموږ پاچا کیدای شی په مونږ کی دپاچهانو زامن شته اوهغه سره له دی فقیر اوبی وزله دی نو څرنگه به زمونږ په سرودریږی ﴿ قَالَ إِنَّ ٱللَّهَ ٱصْطَفَىٰهُ عَلَيْكُمْ وَزَادَهُۥ بَسْطَةً فِى ٱلْعِلْمِ وَٱلْجِسْمِ ﴾ وویل نبی چي بیشکه الله غوره کړی دی (طالوت) په تاسی باندی اوزیات کړی یی دی هغه له جهته دپراخی په علم اوجسم سره) یعنی ددوی نبی ددوی ددغه اعتراض په ځواب کی ورته وویل:چي دی الله ترتاسی غوره کړی اوهغه په مصلحتونو ډیر ښه پوهیږی اوپه غوره کولو کی دوه څیزه داعتبار اواعتماد وړدی یوعلم چي په سیاسی امورو کی معرفت لری دوهم دبدن قوت اوطاقت چي په زړونو کی ورڅخه ویره لوېږی اوددښمنانو سره مقاومت کولای شی دسختیو اومشکلاتو په وخت کی عزم لری اوالله جل جلاله دغه دواړه نعمتونه په لویه پیمانه هغه ته ورکړی دی ابن کثیروایی :له دی ځایه ده چي پاچا باید دعلم خاوندښایسته بدن په وجود اوتن کی ښه غښتلی وی ﴿ وَٱللَّهُ يُؤْتِى مُلْكَهُۥ مَن يَشَآءُ ﴾ اوالله ورکوی ملک خپل (سلطنت) خپل هرچاته چي اراده کړی (دورکولو یې) له بندگانو خپلو پرته له دی چي په میراث ورته رسیدلی وي اویایې مال ډیروي ﴿ وَٱللَّهُ وَٰسِعٌ عَلِيمٌ ﴾ اوالله پراخ دی (احسان دده) ښه عالم دی (په استعداد او اهلیت دهرچا) اوکله چي دوی وغوښتل دهغه دسلطنت نور دلائل اوعلامی وروښیی داسي ځواب یی ورکړ ﴿ وَقَالَ لَهُمْ نَبِيُّهُمْ إِنَّ ءَايَةَ

(١) القرطبی ٢٤٥/٣

مُلْكِهِۦٓ ﴾ او وویل دوی ته نبی ددوی چي بیشکه علامه دپاچهی دده داده چي: ﴿ أَن يَأْتِيَكُمُ ٱلتَّابُوتُ ﴾ رابه شي تاسی ته یوصندوق) هغه چي له تاسی اخیستل شوی وو بیرته به درکړل شي اوهغه لکه چي زمخشری وایی دتورات صندوق وو کله چي به موسی ﷺ جهادته تلو نوهغه به یې له مخه اووړاندی کړ نوبه یې دبنی اسرائیلو زړونه آرام کړل اوله جنګه به نه تښتیدل ﴿ فِيهِ سَكِينَةٌ مِّن رَّبِّكُمْ وَبَقِيَّةٌ مِّمَّا تَرَكَ ءَالُ مُوسَىٰ وَءَالُ هَٰرُونَ تَحْمِلُهُ ٱلْمَلَٰٓئِكَةُ ﴾ (په هغه کی آرام دزړه له طرفه درب ستاسی اوباقی پاتی شوی له هغه شیانو چي پریښی وو اولادی دموسی ﷺ اواولادی دهارون ﷺ حال داچي بارکړی به وی هغه (صندوق) پرښتو) یعنی پدی صندوق کی سکون ،اطمینان اووقاردی اوځینی هغه تختی دی چي تورات وربانده ی لیکل شوی وو اوهغه پاتی شوی تبرکات دآل دموسی اوآل دهارون اوجامی دموسی اودهغه لکړه معجزه دده وه ملائکو دآسمان اومځکی ترمینځ لوړاختستی څو چي دطالوت په مخ کی یې کښیښود اوخلکو ورته کتل داخبره ابن عباس رضي الله عنهما کړی ده: ﴿ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَءَايَةً لَّكُمْ إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ ﴾ بیشکه چي په دی (راتلو دصندوق کی خاص علامه ده (په پاچهی دطالوت) تاسی ته که چیری یې تاسی مؤمنان)یقین لرونکی نوویی منی ﴿ فَلَمَّا فَصَلَ طَالُوتُ بِٱلْجُنُودِ ﴾ نوکله چي راووت طالوت سره له لښکرو یعنی کله چي طالوت له بیت المقدس نه راووت اوبهر شو اتیازره کسان ورسره ملګری جنګیالیان وو سخته تودوخه (ګرمی) وه دوی یې په وچه شاړه مځکه کی لاندی کړل سخت تږی شول ﴿ قَالَ إِنَّ ٱللَّهَ مُبْتَلِيكُم بِنَهَرٍ ﴾ وویل:(طالوت) چي بیشکه الله ازمویونکی دی ستاسی په یوه ویاله (نهر) سره) چي هغه نهر شریعت اودفلسطین اواردن ترمینځ مشهور (رود) دی ﴿ فَمَن شَرِبَ مِنْهُ فَلَيْسَ مِنِّي ﴾ نوهرڅوک چي اوبه وڅښی له هغی ویالی نونه دی له تابعانو زما) غوښتل یې مځکښی له دی چي په جګړه اودهغی په سختو کی ورګډشی ددوی ارادې اواطاعت وازمویی ﴿ وَمَن لَّمْ يَطْعَمْهُ فَإِنَّهُۥ مِنِّيٓ ﴾ اوهرڅوک چي اوبه ونه څکی دا اوبه نوبیشکه هغه له تابعانو زما دی) له ماسره به جګړی ته ځی ﴿ إِلَّا مَنِ ٱغْتَرَفَ غُرْفَةًۢ بِيَدِهِۦ ﴾ مګر خوله تابعانو زمادی هغه څوک چي اخلی یوارغوی اوبه په لاس خپل سره) یعنی هغه چي لږاوبه دتندی دلیری کولو لپاره وڅکی پروایی نشته ﴿ فَشَرِبُوا۟ مِنْهُ إِلَّا قَلِيلًا مِّنْهُمْ ﴾ (مګرنوو څښلی دوی (اوبه) له هغې ویالې ټولو ، زیات له ارغوی ،نه لږوکسانو له دوی نه) یعنی ټول لښکر اوبه وڅښلی اوڅلور زره کسان پاتی شول ﴿ فَلَمَّا جَاوَزَهُۥ هُوَ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ مَعَهُۥ ﴾ نوکله چي تیرشو ل له هغې ویالې نه یعنی طالوت اوهغه کسان چي ایمان لرونکی وو(تیرشول) له ده سره) یعنی دوی په تنده صبروکړو اوتکلیفونه یې وزغمل خوکله چي یې ددښمن ډیر والی ولیدی ویرې وربانده ی غلبه وکړه اویوې ډلې داسي وویل ﴿ قَالُوا۟ لَا طَاقَةَ لَنَا ٱلْيَوْمَ بِجَالُوتَ وَجُنُودِهِۦ ﴾ وویل دوی نشته طاقت مونږ لره نن ورځ له جالوت اودده له لښکرو سره (دجنګ کولو) څکه مونږ لږ یو اودوی خوراډیر دی ﴿ قَالَ ٱلَّذِينَ يَظُنُّونَ أَنَّهُم مُّلَٰقُوا۟ ٱللَّهِ ﴾ وویل هغوکسانو چي یقین یې وو (په دی) چي بیشکه دوی ورتلونکی دی الله ته) اودا دطالوت په پیروانو کی هغه

غوره اوچاڼ شوی خلک چې علماء اوابرار وو ﴿ كَم مِّن فِئَةٍ قَلِيلَةٍ غَلَبَتْ فِئَةً كَثِيرَةً بِإِذْنِ اللَّهِ ﴾ ډیر کرته لږ ډلو (دمؤمنانو) غلبه کړی وه په ډلې ډیری (لویی دکفارو مشرکانو) په اذن دالله سره. بری په ډیروالی سره نه دی بلکه دالله جَلَّ جَلَالُهُ له لوري دی وماالنصرالامن عندالله. ﴿ وَاللَّهُ مَعَ الصَّابِرِينَ ﴾ اوالله سره له صابرانو دی (په نصرت اواثابت) اوله چا سره چې الله ملګری وی هغه دالله په قوت سره بریالی دی. ﴿ وَلَمَّا بَرَزُوا لِجَالُوتَ وَجُنُودِهِ ﴾ اوکله چې راووتل (مخامخ شول) دوی لپاره (دجنګ) دجالوت اودلښکرودده) یعنی کله چې دوی په پراخه فضاکی له هغه لښکره سره مخامخ شول چې په جنګونو کی روزل شوی اوزړه وروو ﴿ قَالُوا رَبَّنَا أَفْرِغْ عَلَيْنَا صَبْرًا ﴾ (نووویل دوی (مؤمنانو) ای زموږ ربه نازل کړی په مونږ صبر) الله ته یی په عاجزی دعاګانی کولی اوهغه دری دعاوی چې دنصرت اومرستې اسباب جوړوی اول داچې: په مونږ صبرتوی کړی چې موږ ټولو ته شامل وی اوپه ځانګړی توګه زموږ په ځانونو چې ددښمنانو په جنګ کی موغښتلی کړی ﴿ وَثَبِّتْ أَقْدَامَنَا ﴾ (اوکلک کړی قدمونه زموږ) یعنی دجنګ په ډګرکی موټینګ کړی چې تیښته موپه زړه کی هم راونګرزی دادوهمه دعاده ﴿ وَانصُرْنَا عَلَى الْقَوْمِ الْكَافِرِينَ ﴾ (اومرسته وکړه له مونږ سره په قوم (کافرانو) یعنی موږ ته په هغه چابری راکړی چې په تاواوستاپه نبی کافران دی اوهغه جالوت اودهغه پلټنی اولښکر ی دی اودادریمه دعاده الله له دوی څخه اخبار کوی ﴿ فَهَزَمُوهُم بِإِذْنِ اللَّهِ ﴾ مات کړل مؤمنانو دوی (کافران) په اذن، حکم دالله سره) یعنی دجالوت لښکر دالله په حکم مات شو دهغو ی (مومنانو)دعاګانی الله ومنلی اودښمن یی سره له ډیروالی نسکور شو ﴿ وَقَتَلَ دَاوُودُ جَالُوتَ ﴾ (اومړ کړ داود جالوت لره) اوداود دطالوت په لښکر کی وو چې دطغیان لاربنود جالوت یې وواژه اودهغه لښکری یی تارپه تار کړي ﴿ وَآتَاهُ اللَّهُ الْمُلْكَ وَالْحِكْمَةَ وَعَلَّمَهُ مِمَّا يَشَاءُ ﴾ او ورکړ ده (داؤدته) الله سلطنت اوحکمت اوویی ښودل ده ته له هغو شیانو چې اراده یی کوله) یعنی الله داؤدته پاچهی، نبوت اوعلم ورکړ چې ګتور وو ابن کثیر وایی: طالوت داؤد ته ویلی وو که جالوت یی مړکړ نوبه خپله لور ورکوی اونازوی به یی په پاچهی کی به یې ګډوی هماغسی یی وکړل اوبیا پاچهی داؤد عَلَيْهِ السَّلَامُ ته راولیږدیده چې الله جَلَّ جَلَالُهُ دنبوت په ستر نعمت هم ونازاوو.

﴿ وَلَوْلَا دَفْعُ اللَّهِ النَّاسَ بَعْضَهُم بِبَعْضٍ لَّفَسَدَتِ الْأَرْضُ ﴾ که چیری نه وای دفع(منع) کول دالله خلکو لره ځینو ددوی لره په ځینو نورو سره نو خامخا به خرابه شوی وه ځمکه (هیواد په ظلم سره) یعنی که چیری الله داشرارو شرداخیارو په جهادنه منع کولای ژوند به خوساشوی وو ځکه چیرته چې شرغلبه وموی هلاکت اوخرابی رامنځته کیږی ﴿ وَلَٰكِنَّ اللَّهَ ذُو فَضْلٍ عَلَى الْعَالَمِينَ ﴾ ولکن الله څښتن دفضل دی په خلکو باندي) چې اشرارو ته دلوړتیا امکانات نه ورکوی ﴿ تِلْكَ آيَاتُ اللَّهِ نَتْلُوهَا عَلَيْكَ بِالْحَقِّ ﴾ دا(چې تیرشول) آیتونه (دلائل دقدرت) دالله دی چې مونږ یی لولو پرتاباندي (ای محمده) په حقه سره) یعنی هغه عجیبه امور اوحیرانونکی کیسې چې په بنی اسرائیلو کی پیښې شوی دالله جَلَّ جَلَالُهُ دقدرت دلائل دی اوغیبی اخبار دی چې تاته یی دحضرت جبرئیل عَلَيْهِ السَّلَامُ په واسطه په حق سره وحی کوی ﴿ وَإِنَّكَ لَمِنَ الْمُرْسَلِينَ ﴾ اوبیشکه

ته چي يې (اى محمده) هرومرو(زموږ) له مرسلانو څخه يې) هغه کسان چي الله عزوجل ددعوت اوبلنې لپاره رااستولي دي.

بلاغت: ابوحيان وايي چي پدې آيتونو کې دبلاغت اوبيان ډير څه شته چي يويې استفهام دی چي دتعجب په ځای کې راغلی اووايي:(أَلَمْ تَرَ إِلَى ٱلَّذِينَ) اوحذف دی په مينځ د(مُوتُوا ثُمَّ أَحْيَـٰهُمْ) کې چي معنايي داده پس مره شول بياالله دوی ژوندي کړل بل طباق دی په مينځ د(موتوا) او(احياهم) اوهمدارنګه پدی کلماتوکی (يَقْبِضُ) او(وَيَبْصُۜطُ) دطباق صنعت دی بل تکرار دی لکه (إِنَّ ٱللَّهَ لَذُو فَضْلٍ عَلَى ٱلنَّاسِ) او(وَلَـٰكِنَّ أَكْثَرَ ٱلنَّاسِ) په کلماتوکې له دې وروسته دالتفات صنعت دی لکه (وَقَـٰتِلُوا فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ) کې بله تشبيه دی بې له اداتو دتشبيه نه لکه (قَرْضًا حَسَنًا) دلته الله تعالی دبنده انفاق منل پخپله لار کې له حقيقی قرض (پور)سره مشابه کړی اونوم يې دقرض ورباندی ايښی بل پکی مغاير تجنيس دی لکه (فَيُضَـٰعِفَهُۥ) او(أَضْعَافًا كَثِيرَةً).(١)

٢:پدی قول کی چي فرمايي:(أَفْرِغْ عَلَيْنَا صَبْرًا)تمثيلي استعاره ده ددوی حال يې داسي تشبيه کړی چي الله ورباندی صبرتويوی لکه چي اوبه په جسم توئيږی اوټول ظاهر اوباطن ځان لمبوی نوهمداسي دغه صبر په زړه کی سوړوالی اوسلامتی اواطمينان راولی.

فوائد او ګټې :لومړی فائده :داستقراض نسبت الله ځان ته وکړ چي:(مَّن ذَا ٱلَّذِى يُقْرِضُ ٱللَّهَ) اوسره له دی چي هغه له اړتياڅخه پاک دی ددی لپاره چي په صدقه ورکولو کی ترغيب وشی لکه چي له مريض سره احسان اوياله وږې سره مرسته يې ځانته نسبت کړی اوپه قدسی حديث کی راځي: ای بنياد مه زه ناروغ شوم زما پوښتنه دې ونکړه دوږی می درڅخه وغوښتله رادی نکړه تږی وم اوبه مي غوښتی هغه دی رانکړی.متفق عليه

دوهمه فائده:روايت کاوه شی کله چي دغه آيت شريف نازل شو نو ابوالدحداح انصاری رضی الله عنه رسول الله ﷺ ته راغی ورته وويل :ايابيشکه الله له مونږ څخه پور(قرض) غواړی؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: هو اي ابوالدحداح نوابوالدحداح ورته وويل :لاس دی راڅرګندکړه رسول الله ﷺ لاس په لاس ورکړ نو يې وويل :پس ماپه تحقيق سره خپل باغ الله ته پور ورکړ(هغه چي پکی شپږسوه دخرماونی دی اوام الدحداح اواولادیې هم هلته اوسيدل) ابوالدحداح باغ ته راغی ورناره يې کړه :ای دالدحداح موری هغی وويل:ستاپه خدمت کی يم ! نوده ورته وويل راووزه داباغ ماخپل رب ته قرض ورکړ اوپه بل روايت کی چي هغی وويل:په دی بيعه کی دی ګټه وکړه او سره له خپل عياله راووتله(٢)

دريمه فائده :بقاعی وايی ښايې دبنی اسرائيلو پای په دی کيسه باندی به درسول الله ﷺ درسالت په رښتنولی اوصحت باندی څرګند دليل وی ځکه داهغه څه دی چي دبني اسرائيلو له يوڅو تنه تکره علماوو پرته چاته ندی معلوم.(٣)

---

(١) البحرالمحيط٢٥٣/٣

(٢) اخرجه البزاروالطبرانی عن ابن مسعود

(٣) محاسن التاويل ٢٥٠/٣

الله تعالی فرمايي:

﴿ تِلْكَ ٱلرُّسُلُ فَضَّلْنَا بَعْضَهُمْ عَلَىٰ بَعْضٍ مِّنْهُم مَّن كَلَّمَ ٱللَّهُ وَرَفَعَ بَعْضَهُمْ دَرَجَٰتٍ وَءَاتَيْنَا عِيسَى ٱبْنَ مَرْيَمَ ٱلْبَيِّنَٰتِ وَأَيَّدْنَٰهُ بِرُوحِ ٱلْقُدُسِ وَلَوْ شَآءَ ٱللَّهُ مَا ٱقْتَتَلَ ٱلَّذِينَ مِنۢ بَعْدِهِم مِّنۢ بَعْدِ مَا جَآءَتْهُمُ ٱلْبَيِّنَٰتُ وَلَٰكِنِ ٱخْتَلَفُوا۟ فَمِنْهُم مَّنْ ءَامَنَ وَمِنْهُم مَّن كَفَرَ وَلَوْ شَآءَ ٱللَّهُ مَا ٱقْتَتَلُوا۟ وَلَٰكِنَّ ٱللَّهَ يَفْعَلُ مَا يُرِيدُ ﴿٢٥٣﴾ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓا۟ أَنفِقُوا۟ مِمَّا رَزَقْنَٰكُم مِّن قَبْلِ أَن يَأْتِىَ يَوْمٌ لَّا بَيْعٌ فِيهِ وَلَا خُلَّةٌ وَلَا شَفَٰعَةٌ وَٱلْكَٰفِرُونَ هُمُ ٱلظَّٰلِمُونَ ﴿٢٥٤﴾ ﴾ البقرة: ٢٥٣-٢٥٤

مناسبت او تړاو:

په تيرو آيتونو کې الله تعالی په بني اسرائيلو د طالوت غوره کول ذکر کړل او بل دا چې داود ﷺ یې ددوی په پاچهۍ او نبوت بهتر وګانه ،وروسته يې رسول الله صلی الله علیه وسلم ته داسې خطاب وفرمايو چې هغه له مرسلينو څخه دی او ظاهرا لفظ د مرسلانو داسې غوښتنه او تقاضا کوي چې رسولان به ټول سره برابر وي، نو پدې آيت شريف کې دا څرګنده شوه چې رسولان ټول په يوه پوړي کې نه دي ځينې يې تر نورو بهتر دي لکه چې د نور بشريت تر مينځ هم دغه بهتري موجوده ده.

لغتونه:

(درجات) : منزلتونو ته وايي ، د(درجة)جمع دي او دلته يې معنی ستره او لويه مرتبه ده. (البينات) معجزي (وايدناه) له تائيد څخه اخستل شوی يعني موږ هغه قوي کړ. (روح القدس) جبرئيل عليه السلام ته وايي لکه چې پخوا هم تير شو(خلة) صداقت او دوستې ته وايي څکه ورته خلت وايي چې هغه داندامونو مينځ ته ګډيږي او سرايت کوي ، خليل هم له دې کلمې څخه اخستل شوی دی .(شفاعة) له شفع څخه اخستل شوی او يوځای کيدو ته وايي، څکه نو په شفاعت کې د بل چا انضمام او ګډون وي چې مرسته ورسره وکړي او يايې شفاعت کوونکی د مرستې او معاونت غوښتنه کوي

تفسير:

﴿ تِلْكَ ٱلرُّسُلُ فَضَّلْنَا بَعْضَهُمْ عَلَىٰ بَعْضٍ ﴾ دا ټول رسولان چې له آدم تر محمده پوري ياد شول ،فضيلت ورکړی دی موږ ځيني ددوی ته په ځينو نورو باندې يعني ای محمده ! دغه رسولان چې موږ يې احوال درته بيان کړل،دالله رسولان او بيشکه موږ بهتر کړي ځينې ددوی په ځينو نورو باندي په لوړوالي او سترو مرتبو کې ﴿ مِّنْهُم مَّن كَلَّمَ ٱللَّهُ ﴾ ځينې له دوی څخه هغه دي چې کلام کړی دی الله له دوی سره ، يعني پرته له واسطې الله ورسره خبري کړي ، لکه حضرت موسی عليه السلام ﴿ وَرَفَعَ بَعْضَهُمْ دَرَجَٰتٍ ﴾ او پورته کړي دي ځينو ددوی ته درجې ،لکه محمد صلی الله عليه وسلم چې خاتم المرسلين الاولين والاخرين دی او لکه دانبياوو پلار حضرت ابراهيم خليل الله عليه السلام ﴿ وَءَاتَيْنَا عِيسَى ٱبْنَ مَرْيَمَ ٱلْبَيِّنَٰتِ ﴾او ورکړي دي موږ عيسی زوی دمريمي ته ښکاره معجزي ، لکه ژوندي کول دمړيو او روغول دمورزاده ړندو او ابرصو (برګو) او له غيبو څخه اخبار کول او داسې نور. ﴿ وَأَيَّدْنَٰهُ بِرُوحِ ٱلْقُدُسِ ﴾ او

قوي كړي دی موږ هغه په روح القدس يعني جبريل عليه السلام سره چې داحضرت عيسى عليه السلام دی ﴿ وَلَوْ شَآءَ ٱللَّهُ مَا ٱقْتَتَلَ ٱلَّذِينَ مِنۢ بَعْدِهِم مِّنۢ بَعْدِ مَا جَآءَتْهُمُ ٱلْبَيِّنَٰتُ وَلَٰكِنِ ٱخْتَلَفُوا۟ فَمِنْهُم مَّنْ ءَامَنَ وَمِنْهُم مَّن كَفَرَ ۚ وَلَوْ شَآءَ ٱللَّهُ مَا ٱقْتَتَلُوا۟ وَلَٰكِنَّ ٱللَّهَ يَفْعَلُ مَا يُرِيدُ ﴾ (او كه اراده كړي وه الله (دټولو خلكو دهدايت) نونه به وو كړي جنګ هغو كسانو چې وروسته له دې رسولانو څخه وو وروسته له هغه چې راغلي دوی ته ښكاره معجزې و لكن دوی اختلاف او جګړې سره وكړې نو ځينې له دوی څخه هغه څوک دي چې ثابت پاتې شوي وي په ايمان او ځينې له دوی څخه هغه څوک دي چې كافران شول او كه اراده كړې وي الله (ددوی دهدايت) نو دوی به نه وو كړی جنګ (او مخالفت) ليكن الله هغه كار كوي چې اراده لري (دچا دهدايت او ضلالت) يعني كه الله اراده كړې وي نو هغه امتونه چې له پيغمبرانو وروسته راغلي او څرګندي معجزې او براهين خپلو پيغمبرانو ورته وړاندي كړي وو نو دوی به پخپل منځ كې اختلاف، جګړې او نزاع نه كوله او دپيغمبرانو په پيروي كولو به متفق وو لكه څرنګه چې پيغمبران دحق په كلمه سره متفق او يو لاس دي. ليكن الله ددوی د اختلافاتو په وجه چې په دين كې يې رامنځته كړي او يا يې ځانځاني مذهبونه جوړ كړي دخپل هوا او هوس يې منلي ددوی دهدايت اراده نه دي كړې. څكه نو ځينې په ايمان ثابت پاتې شول او ځينې نور بيا وګرزيدل او كافران شول؛ او كه اراده كړې وي الله نو به يې ټول بشر دپرښتو او ملائكو په طبعيت پيدا كړي وو چې نه به يې اختلاف كاوو او نه هم جنګ جګړې ، خو الله حكيم ذات دی هغه څه كوي چې پكې مصلحت وي او داټول دالله قضا او قدر ده ، الله پاک فعالٌ لما يريد ذات دی. ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓا۟ أَنفِقُوا۟ مِمَّا رَزَقْنَٰكُم ﴾ ای هغو كسانو چې ايمان يې راوړی دی (يعني ای مؤمنانو !) صرف كړي (په زكوة يا په جهاد يا په نورو واجبي صدقاتو كې) ځينې له هغو مالونو څخه چې دركړي دي موږ تاسي ته يعني زكات وركړی او دنيكې خير ښيګڼې په كارونو كې مال ولګوئ. ﴿ مِّن قَبْلِ أَن يَأْتِىَ يَوْمٌ لَّا بَيْعٌ فِيهِ وَلَا خُلَّةٌ وَلَا شَفَٰعَةٌ ﴾ پخوا دراتلو دهغې ورځي چې نه پيرودل او نه پلورل پكې شته او نه دوستي او نه شفاعت. يعني تر پخوا له راتلو دهغې ترهونكي ورځي چې په هغې كې تاسي خپل ځانونه دمال په وركولو له عذابه نه شي ژغورلئ چې مال وركړئ ځانونه واخلئ او نه به كوم دوست وموميئ چې عذاب درڅخه دفع كړي اونه مو څوک شفاعت او سپارښتنه كولای شي چې ستاسي ګناهونه درڅخه ليري كړي مګر چې الله چاته اذن او حكم وكړي. ﴿ وَٱلْكَٰفِرُونَ هُمُ ٱلظَّٰلِمُونَ ﴾. او كافران هم دوی دي ظالمان ، يعني تر هغه چا چې الله ته كافر ورشي بل څوک ستر ظالم نشته او كافر ظالم او تجاوز كونكي دعذاب مستحق دی.

بلاغت:

۱-(تلک الرسول)اشاره څكه په بعيد (ليري) ورته شوی چې دمرتبې كمال يې لوړ او ليري دی.

۲-(منهم من كلم الله) په آيت شريف كې دتفضيل او تفصيل صنعت دي او دي ته په بلاغت كې تقسيم وايي ، او همدا رنګه په دې قول كې (فمنهم من آمن ومنهم من كفر) لكه څرنګه چې د (آمن) او (كفر) كلماتو ترمينځ دطباق صنعت دی.

٣- په دي قول کې چې فرمايي (ولوشاء الله ما اقتتلوا) داطناب صنعت دی ځکه چې د (ولوشاء الله) کلمه تکرار شوي ده.

۴- (والکافرون هم الظلمون) دلته قصر دصفت په موصوف پوري راغلی دی او په جمله اسميه او دفعل په ضمير سره يې تاکيد شوی دی

فائده:

له عطاء بن دينار څخه روايت شوې چي هغه وويل : الله لره دي حمد او ثنا وي چي ويي ويل : (والکافرون هم الظلمون) او داسې ونه ويل چې (والظلمون هم الکافرون) او که داسې يې ويلی وای نو به ټول ظالمان ،کافران وو او هيڅوک به ځينې خلاص نه وو ، الا من عصمه الله.

تنبيه:

احتمال لري چي په کفر سره حقيقي او يا مجازي معنا مراد شي نو به په کفر سره دزکات نه ورکونکي مراد وي لکه چي زمخشري ويلي دي: اراده يې ده چې دزکات نه ورکونکي ظالمان دي او غوره کول ددي لفظ دتهديد او تغليظ لپاره دی لکه چي دحج په آيت کې د (ومن لم يحج) په ځای (ومن کفر) راغي هو دزکات نه ورکول دکفارو له صفاتو څخه ګڼل کيږي چې الله فرمائي : (وويل للمشرکين الذين لايؤتون الزکاة).

***

الله تعالی فرمايي:

﴿ اللَّهُ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ الْحَيُّ الْقَيُّومُ ۚ لَا تَأْخُذُهُۥ سِنَةٌ وَلَا نَوْمٌ ۚ لَّهُۥ مَا فِي السَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ ۗ مَن ذَا الَّذِي يَشْفَعُ عِندَهُۥٓ إِلَّا بِإِذْنِهِۦ ۚ يَعْلَمُ مَا بَيْنَ أَيْدِيهِمْ وَمَا خَلْفَهُمْ ۖ وَلَا يُحِيطُونَ بِشَيْءٍ مِّنْ عِلْمِهِۦٓ إِلَّا بِمَا شَآءَ ۚ وَسِعَ كُرْسِيُّهُ السَّمَٰوَٰتِ وَالْأَرْضَ ۖ وَلَا يَـُٔودُهُۥ حِفْظُهُمَا ۚ وَهُوَ الْعَلِيُّ الْعَظِيمُ ﴿٢٥٥﴾ لَآ إِكْرَاهَ فِي الدِّينِ ۖ قَد تَّبَيَّنَ الرُّشْدُ مِنَ الْغَيِّ ۚ فَمَن يَكْفُرْ بِالطَّٰغُوتِ وَيُؤْمِنۢ بِاللَّهِ فَقَدِ اسْتَمْسَكَ بِالْعُرْوَةِ الْوُثْقَىٰ لَا انفِصَامَ لَهَا ۗ وَاللَّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ ﴿٢٥٦﴾ اللَّهُ وَلِيُّ الَّذِينَ ءَامَنُوا يُخْرِجُهُم مِّنَ الظُّلُمَٰتِ إِلَى النُّورِ ۖ وَالَّذِينَ كَفَرُوٓا أَوْلِيَآؤُهُمُ الطَّٰغُوتُ يُخْرِجُونَهُم مِّنَ النُّورِ إِلَى الظُّلُمَٰتِ ۗ أُولَٰٓئِكَ أَصْحَٰبُ النَّارِ ۖ هُمْ فِيهَا خَٰلِدُونَ ﴿٢٥٧﴾ ﴾ البقرة: ٢٥٥ - ٢٥٧

مناسبت او تړاو:

څرنګه چې الله تعالی دځينو انبياوو فضيلت په ځينو نورو بيان کړ او دائې څرګنده کړه چې خلک له دوی وروسته سره مخالف شول يو له بله يې اختلافات او سره جنګونه وکړل او دا ټول ددي دين په سبب نو دايې يادونه وکړه چې دغه دانبياوو يو پر بل فضيلت ددي موجب نه ګرزي چې پيروان يو له بله سره اختلافات او دښمنې وکړي، ځکه انبياء او استازي (رسولان) که څه هم په فضيلت کې سره متفاوت خو ګرده (ټول) په يوه بلنه (دعوت) پسې راغلي دي رسالت يې يو دی ، دين يې يو دی او په دين کې اکراه جبر (زور) نشته په تحقيق سره دحق او حقانيت ځلا او وړانګې خپرې شوي دي.

لغتونه:

(الحی) دکامل حیات ښبنتن چې معنی یې ده تل تر تله ژوندی، (دائم) چې هیڅکله فنا ورته لاره نه مومي (القیوم) دخلکو په تدبیر ولاړ (سنة) د سین په کسره سره (نعاس) هغه له خوب نه مخکښې فتور مراوي توب او پر کالی ته وایې. (یؤده) ستړي کوي او درنوي (العلي) مراد دمنزلت لوړتیا او دالله دشان او سلطان جلال دی (اکراه) یو څوک په زوره هغه کار ته اړ ایستل چې نه یې غواړي (الطاغوت) له طغیان څخه اخیستل شوی او هر هغه څه ته وایې چې انسان دحق له لاري څخه سرغړوني او ګمراهی ته بیایې.

(الوثقی) د(اوثق)مؤنث دی او محکم تینګ ته ویل کیږي (انفصام) انکسار او پرانستلو ته وایې، فراء[1]) وایې چې: الانفصام ، او الانقصام دوه لغتونه دي او په فاء سره راوړل یې ښه فصیح دی او ځینو ویلي دي چي (فصم) هغه ماتیدلو ته وایې چي سره جلا نشي او د (قصم) هغه ماتیدلو ته وایې چې جلا والی هم ورسره راشي.

دنزول سبب:

له انصارو څخه دیو سړي دوه زامن وو او درسول الله صلی الله علیه وسلم تر بعثت له مخه نصرانیان وو او په یوه تجارتي قافله کې یې مدینې منوري ته غوري (تېل) دسوداګري لپاره راوړي وو نو پلار یې وریسي راغی او ورته یې وویل: زه تاسو نه پریږدم چي مسلمانان شي ، نو بیا دا آیت نازل شو: (لا اکراه في الدین قد تبین الرشد من الغيّ).

تفسیر:

﴿ ٱللَّهُ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ٱلْحَىُّ ٱلْقَيُّومُ ﴾ (الله چې دی نشته هیڅوک لائق دعبادت مګر هم دی دی چې تل ژوندی، په یو حال باقي ، قایم ، کامل ، تدبیر والا دی)یعني الله پاک هغه ذات دی چې واحد ، احد ، فرد ، صمد دبشپړ (کامل) ژوند خاوند باقي تل تر تله چي هیڅ نه مري او دخلکو دټولو امورو چلونکي په حفظ او تدبیر سره دی. ﴿ لَا تَأْخُذُهُۥ سِنَةٌ وَلَا نَوْمٌ ﴾ نه نیسي ده لره پر کالي (خوب) اونه پخپله خوب، ده لره لکه چي په حدیث شریف کې راغي: ان الله لا ینام ولا ینبغي له ان ینام یخفض القسط ویرفعه.

بیشکه الله نه ویده کیږي او نه ورسره خوب ښايي. هغه دعدل ترازو ښکته او پورته کوي. ﴿ لَّهُۥ مَا فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِى ٱلْأَرْضِ ﴾ ده لره دي هر هغه څه چې په آسمانونو کې دي او هر هغه څه چې په مځکه کې دي ، یعني ټول هغه څه چي په مځکه او اسمان کې دي ، دهغه ملک دی او دهغه مخلوق او بندګان دي دهغه تر قهر او سلطان لاندي دي. ﴿ مَن ذَا ٱلَّذِى يَشْفَعُ عِندَهُۥٓ إِلَّا بِإِذْنِهِۦ ﴾ ، څوک به وي هغه چې سپارښت وکړي په نزد دده (هیڅوک نشي کولای) مګر (خو کولای شي) په اذن (حکم) دده سره. یعني هیڅوک نشي کولای دیو بل چا ورته سپارښتنه وکړي مګر دده په حکم چې الله جل جلاله ورته اجازه ورکړي. ابن

[1] - القرطبي ٣/٢٨٠

کثير وايي چې دا دالله تعالی دعظمت ، جلال ، او کبريا بيان دی چې هيڅوک دا جرئت نشي کولای ده ته ديو چا سپارښتنه وکړي ، مگر چې پخپله الله تعالی اجازه ورکړي ﴿يَعْلَمُ مَا بَيْنَ أَيْدِيهِمْ وَمَا خَلْفَهُمْ﴾ عالم دی په هغو شيانو چې په مخ دمخلوقاتو کې دي (ددنيا له امورو) او په هغو شيانو چې وروسته له دوی دي (دعقبی له امورو) په تحقيق سره چې دده علم په ټولو کائناتو او عالمونو راگرزيدلی دی. ﴿وَلَا يُحِيطُونَ بِشَيْءٍ مِّنْ عِلْمِهِ إِلَّا بِمَا شَاءَ﴾ او احاطه نه کوي دوی په هيڅ شي له معلوماتو دده مگر (احاطه کولای شي) په هغه شي چې اراده وکړي (الله دهغه شي دمعلومولو دوی لره) او د انبياوو په ژبه. ﴿وَسِعَ كُرْسِيُّهُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ﴾ ارته (محيطه) ده کرسي دده په ټولو آسمانونو او ځمکي باندي دپراخوالي له سببه او اوه آسمانونه او ځمکي دکرسي په نسبت داسي دي لکه يوه کړۍ چې په صحراکي وغورځولي شي او له ابن عباس رضی الله عنهما څخه روايت شوی چې وايي: وسع کرسيه ، يعني علم دالله تعالی او ددې دليل هغه دالله جل جلاله قول دی چې فرمائي: ربنا وسعت کل شئ رحمة وعلما . نو له دي معلوميږي چې علم يې پراخ او هر څه يې احاطه کړي دي.([1]) او حسن بصري رضی الله عنه وائي چې عرش له کرسي نه پرته بل ده او عرش تر کرسي لوی دی لکه چې احاديث او اثار ورباندي دلالت کوي. ﴿وَلَا يَئُودُهُ حِفْظُهُمَا وَهُوَ الْعَلِيُّ الْعَظِيمُ﴾ او نه ستومانه کوي ده لره ساتنه دآسمانونو او ځمکې او هم دی (الله) دی خو را پورته (په پادشاهۍ او غلبه خپله کې) خورا لوی (په کماليه صفاتو کې) يعني دآسمانونو او ځمکې ساتنه او هغه څه چې په دوی کې دي نه په الله درنده او نه الله ځني عاجز دی او الله لوړ دی په خپل مخلوق دعظمت او جلال خاوند دی لکه چې فرمايي: وهو الكبير المتعال. الرعد -٩. ﴿لَا إِكْرَاهَ فِي الدِّينِ قَد تَّبَيَّنَ الرُّشْدُ مِنَ الْغَيِّ﴾ نشته هيڅ زور په (منلو) ددين کې په تحقيق سره ښکاره شوي ده سمه لاره (دايمان) له گمراهۍ (کفر) ځني. يعني په هيچا جبر او زور نشته چې اسلام ومني په تحقيق سره چې حق له باطل نه او هدايت له گمراهۍ څخه ځرگند شوی دی. ﴿فَمَن يَكْفُرْ بِالطَّاغُوتِ وَيُؤْمِن بِاللَّهِ فَقَدِ اسْتَمْسَكَ بِالْعُرْوَةِ الْوُثْقَىٰ﴾ پس هرڅوک چې کافر (منکر) شو له (عبادت دشيطان او) بتانو او ايمان يې راووړ (يقين يې وکړ) په (وحدانيت) دالله باندي نو په تحقيق سره يې ټينگه نيولي ده کړۍ کلکه. يعني هر څوک چې له الله پرته په نورو معبودانو لکه شيطان او بتان کافر شو او په الله يې ايمان راووړ نو په زښته کلکه ددين په رسۍ يې منگولې ښخې کړي دي ﴿لَا انفِصَامَ لَهَا﴾ چې له سره نشته پرې کيدل هغې لره او نه زوال. ﴿وَاللَّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ﴾ او الله ښه اوريدونکی دی (دگردو اقوالو) ښه عالم دی (پر ټولو احوالو) دبندگانو خپلو. ﴿اللَّهُ وَلِيُّ الَّذِينَ آمَنُوا يُخْرِجُهُم مِّنَ الظُّلُمَاتِ إِلَى النُّورِ﴾ الله دوست مرستيال دی دهغو کسانو چې مؤمنان دي باسي دوی له تيارو دکفر او گمراهۍ

([1])- ابن جرير وايي چې دابن عباس پدې قول دقرآن ظاهر هم دلالت کوي څکه کرسي په اصل کې علم ته وايي او علماوو ته هم له دې کبله کراسي وايي چې په دوی باندي تکيه کول شوي ده لکه چې (اوتاد الارض) دمځکې مراندي بولي. او صحيح هغه ده چې ابن کثير وايي:

نه ، درڼادایمان او هدایت لوري ته ، یعني الله دمؤمنانو ناصر ساتونکی او داموررو متولي دی دکفر او
ګمراهۍ له تیارو څخه یې دایمان او هدایت لور ته راکاږي ﴿ وَٱلَّذِينَ كَفَرُوٓاْ أَوْلِيَآؤُهُمُ ٱلطَّٰغُوتُ
يُخْرِجُونَهُم مِّنَ ٱلنُّورِ إِلَى ٱلظُّلُمَٰتِ ﴾ او هغه کسان چې کافران (منکران) شوي دي دوستان ددوی
شیطانان دي چې باسي دوی له رڼا (دفطري ایمان او هدایت نه) دتیارو (دکفر او ګمراهۍ) لوري
ته﴿ أُوْلَٰٓئِكَ أَصْحَٰبُ ٱلنَّارِۖ هُمْ فِيهَا خَٰلِدُونَ ﴾ دغه کسان صاحبان داور (ددوزخ) دي هم دوی په دي
اور کې تل پاتې کیدونکی دي ، چې هیڅکله به ځني نه راوزي

بلاغت:

۱:په آیت الکرسی کی دفصاحت اوعلم بیان ډیر څه خوندی دې چی له هغوی څخه یویې: حسن الافتتاح ده ځکه هغه دالله تبارک وتعالی په ډیر لوړاسم پیل شوی څو څو ځله یی نوم په ظاهراو مضمر ډول ذکر شوی چی ټول یی اتلس ځله کیږي او د صفاتو په تکرار سره د اطناب صنعت او پکښې د طباق صنعت دي لکه چی د:(ما بین أیدیهم وما خلفهم) په کلماتو کښی راغلی پورتنی دغه ټول څه د البحر المحیط مولف څرګند کړی دی.

۲:(استمسک بالعروة الوثقی) دلته تمثیلیه استعاره ده ځکه د اسلامی دین منونکې له هغه منونکې سره چی په یوی ټینګی او محکمی رسۍ یی منګولی ښخی کړی وی مشابه وګڼل اونه شلیدونکی او نه پری کیدونکی یی له ترشیحاتو څخه بلل کیږي.

۳:(من الظلمات الی النور) دلته تصریحی استعاره ده چی کفر یی له ظلماتو او تاریکیو سره او ایمان یی له نور سره مشابه کړ په تلخیص البیان کښی راوړی چی دا د تشبیهاتو تر ټولو ښه تشبیه ده ځکه کفر لکه تاریکی ده چی څښتنان یی ګمراهان او لار ورکی وی او ایمان بیا لکه نور او څلا چی حیران خلک پکښی لاره مومی او د ایمان عاقبت او انجام په نعمتونو او ثوابونو روښانه ده لکه چی د کفر پایلي او انجام په دوزخ او عذابونو ککړ او لړلی دی.[۱]

فائده او نکته

نور یی یوازی ذکر کړ او ظلمات یی د جمع په صیغې راوړ ځکه چی حق یو او ګمراهی او ضلالت لارې ډیرې او څانګې یې زیاتې دی.

تنبیه

آیت الکرسی ډیر فضیلت او ستر شان لری لکه چی په حدیث شریف کښی راغی چی: دا په قرآن کریم کښی تر ټولو بهتر آیت دی او په هغه کښی اسم اعظم شریف هم دی لکه چې په دی حدیث شریف کې وائي: دالله اعظم اسم هغه چي څوک یې په هغه نامه وبولي الله یې دعا مني په دریو ځایونو کې ، دالبقرة په سورت کې په آل عمران او یا سورت طه کې دي. هشام وایي په البقرة کې داقول دالله جل جلا له: الله لا

۱.تلخیص البیان ص۱۵

اله الاهو الحى القيوم. او په آل عمران کې دا: الله لا اله الاهو الحي القيوم. او په طه کې دا (وعنت الوجوه للحي القيوم). (طه:١١١).

ابن کثير وايي چې، دا آيت په لسو مستقلو جملو مشتمل دی کومې چې دالهي ذات متعلق او واحد ،الاحد تمجيد دي.[1]

***

الله تعالى فرمايي:

﴿ أَلَمْ تَرَ إِلَى ٱلَّذِى حَآجَّ إِبْرَٰهِـۧمَ فِى رَبِّهِۦٓ أَنْ ءَاتَىٰهُ ٱللَّهُ ٱلْمُلْكَ إِذْ قَالَ إِبْرَٰهِـۧمُ رَبِّىَ ٱلَّذِى يُحْىِۦ وَيُمِيتُ قَالَ أَنَا۠ أُحْىِۦ وَأُمِيتُ ۖ قَالَ إِبْرَٰهِـۧمُ فَإِنَّ ٱللَّهَ يَأْتِى بِٱلشَّمْسِ مِنَ ٱلْمَشْرِقِ فَأْتِ بِهَا مِنَ ٱلْمَغْرِبِ فَبُهِتَ ٱلَّذِى كَفَرَ ۗ وَٱللَّهُ لَا يَهْدِى ٱلْقَوْمَ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٢٥٨﴾ أَوْ كَٱلَّذِى مَرَّ عَلَىٰ قَرْيَةٍ وَهِىَ خَاوِيَةٌ عَلَىٰ عُرُوشِهَا قَالَ أَنَّىٰ يُحْىِۦ هَٰذِهِ ٱللَّهُ بَعْدَ مَوْتِهَا ۖ فَأَمَاتَهُ ٱللَّهُ مِا۟ئَةَ عَامٍ ثُمَّ بَعَثَهُۥ ۖ قَالَ كَمْ لَبِثْتَ ۖ قَالَ لَبِثْتُ يَوْمًا أَوْ بَعْضَ يَوْمٍ ۖ قَالَ بَل لَّبِثْتَ مِا۟ئَةَ عَامٍ فَٱنظُرْ إِلَىٰ طَعَامِكَ وَشَرَابِكَ لَمْ يَتَسَنَّهْ ۖ وَٱنظُرْ إِلَىٰ حِمَارِكَ وَلِنَجْعَلَكَ ءَايَةً لِّلنَّاسِ ۖ وَٱنظُرْ إِلَى ٱلْعِظَامِ كَيْفَ نُنشِزُهَا ثُمَّ نَكْسُوهَا لَحْمًا ۚ فَلَمَّا تَبَيَّنَ لَهُۥ قَالَ أَعْلَمُ أَنَّ ٱللَّهَ عَلَىٰ كُلِّ شَىْءٍ قَدِيرٌ ﴿٢٥٩﴾ وَإِذْ قَالَ إِبْرَٰهِـۧمُ رَبِّ أَرِنِى كَيْفَ تُحْىِ ٱلْمَوْتَىٰ ۖ قَالَ أَوَلَمْ تُؤْمِن ۖ قَالَ بَلَىٰ وَلَٰكِن لِّيَطْمَئِنَّ قَلْبِى ۖ قَالَ فَخُذْ أَرْبَعَةً مِّنَ ٱلطَّيْرِ فَصُرْهُنَّ إِلَيْكَ ثُمَّ ٱجْعَلْ عَلَىٰ كُلِّ جَبَلٍ مِّنْهُنَّ جُزْءًا ثُمَّ ٱدْعُهُنَّ يَأْتِينَكَ سَعْيًا ۚ وَٱعْلَمْ أَنَّ ٱللَّهَ عَزِيزٌ حَكِيمٌ ﴿٢٦٠﴾ ﴾

البقرة: ٢٥٨ - ٢٦٠

مناسبت او تړاو:

کله چې الله تعالى په الله او دهغه په لوړو صفاتو دايمان ذکر وفرمايه او خپل ولايت يې دمؤمنانو لپاره او دطاغوت ولايت يې دکافرانو لپاره وښود دلته يې دنمونې په ډول دکفارو او معاندينو په زړونو کې دطاغوت داوامرو منل او هغه ته غاړه ايښودل څرګند کړل چې څرنګه دالله تعالى دوحدانيت په هکله مجادلې ته تيارېږي نو دري کيسي يې دلته ذکر کړي ،. لومړى دالله دوجود اثبات کوي هغه چې خالق او دحکمت خاوند دى ، دوهمه او دريمه دحشر او بيرته راپاڅيدلو بيان دى.

لغتونه:

(حاج) له محاجة څخه اخيستل شوى يو له بله دليل وړاندي کول چې په دليل کې مغالبه يې معنا ده (فبهت) انقطاع او هغه سکوت ته وايي چې حيرانتيا ورسره مل وي. (خاوية) نړيدلى. (عروشها) عرش دخونې بام او چت ته وايي او هر هغه څه چې د سيوري کولو او يا اوسيدلو لپاره تيار شي ورته (عريش) وايي (يتسنه) تغيير او تبديل ته وايي چې له (تسنت النخلة) څخه اخيستل شوى هغه چې کالونه ، کالونه وربانذي تير شوي او هغه يې تغيير کړي وي (ننشزها) له نشز څخه اخيستل شوى او هغه يو په

---

[1] - تفسير ابن کثير ١/ ٢٣٠.

بل دپاسه خیژولو او پورته کولو ته وایې ، دمځکې لوړې برخې ته نشز وايي او له دي څخه دښځې نشوز هم دی ، ددي کلمې معنا داچې یو دبل له پاسه اوچتوو (فصرهن) در وې غواړه ځان ته ضم کول او بیا پري کولو ته وایې له(صار شئ یصوره) ، څخه اخیستل شوي کله چي یې غوڅ او پرې کړي.

تفسیر:

﴿ أَلَمْ تَرَ إِلَى ٱلَّذِى حَآجَّ إِبْرَٰهِـۧمَ فِى رَبِّهِۦٓ ﴾ ایا تاندي لیدلي (یعنی ای محمده ! ستا علم ندی رسیدلی کیسي د) هغه سړي (نمرود) ته چې جګړه (حجت بازي) یې کړي وه ابراهیم سره په (حق) (درب دده کې) دلته دسامع (اوریدونکي) لپاره ددي جګړه مار کافر هغه چې دالله دقدرت په هکله مجادله کوي تعجب وربنکاره کول دي یعني ایا ستا علم ددغه سرغړونکي (نمرود بن کنعان) کیسې ته ندی رسیدلی چې له ابراهیم علیه السلام سره یې دالله دوجود په باب مجادله کوله ؟ ﴿ أَنْ ءَاتَىٰهُ ٱللَّهُ ٱلْمُلْكَ ﴾ له دي جهته چې ورکړي وو ده ته الله ملک (سلطنت) چې دهمدې نعمت په سبب هغه دالله له شته والي څخه منکر شو ، دالله احسان او نعمت یې په کفر او طغیان استقبال کړ) ﴿ إِذْ قَالَ إِبْرَٰهِـۧمُ رَبِّىَ ٱلَّذِى يُحْىِۦ وَيُمِيتُ ﴾ (او کله چي وویل ابراهیم رب زما هغه ذات دی چې ژوندي کوي او مړه کوي) یعني ابراهیم علیه السلام دالله دشته والي په هکله ورته داسې دلیل وړاندي کړ چې زما پالونکی (رب) هغه ذات دی چې ژوند او مرګ یې دبدنونو لپاره پیدا کړی دی رب العالمین یوازې هغه دی. ﴿ قَالَ أَنَا۠ أُحْىِۦ وَأُمِيتُ ﴾ وویل (نمرود) چې زه (هم) ژوندی کوم دواجب القتل په عفوې سره ، او مړ کوم دبیګناه په ظلم سره ، روایت کاوه شي چې هغه دوه تنه چې داعدام حکم وربانديې صادر شوی وو راوبلل او دیوه په وژلو یې امر وکړ او ویل یې: دامې ووژل او امر یې وکړ چې هغه بل دی آزاد شي او ویې ویل چې دامې ژوندی کړ کله چې حضرت خلیل دده ناپوهې او حماقت ولید یو بل دلیل ته یې رجوع وکړه چې هغه زیات ملامتونکی وو .

﴿ قَالَ إِبْرَٰهِـۧمُ فَإِنَّ ٱللَّهَ يَأْتِى بِٱلشَّمْسِ مِنَ ٱلْمَشْرِقِ فَأْتِ بِهَا مِنَ ٱلْمَغْرِبِ ﴾ وویل ابراهیم چې بیشکه الله لمر راولي (له لوري) د مشرق (ختیز) نه نو ته یې راوله (له لوري) دمغرب (لویدیزه) یعني که چیري ته دالوهیت دعوي کړي او وایې چې درب العالمین په شان خلک ژوندي کوي او وژني ، نو همدا لمر دی چې دالله په حکم تل دختیز له لوري راخیژي نو ته یې دلویدیز له لوري په خپل توان او سلطان سره که څه هم یو ځل وي را وخیژوه ! ﴿ فَبُهِتَ ٱلَّذِى كَفَرَ ﴾ نو حیران او شرمنده شو هغه چې کافر شوی وو (نمرود) یعني هغه فاجر په همدې غوڅ دلیل ګونګئ او هیښ (حیران) شو چې هیڅ ځواب یې نشو ویلای. ﴿ وَٱللَّهُ لَا يَهْدِى ٱلْقَوْمَ ٱلظَّـٰلِمِينَ ﴾ (او الله نه ښیي خیر او سمه لاره ، قوم دظالمانو ته) یعني الله دوی ته دبرهان او دلیل لارښوونه نکوي لکه څنګه چې یې خپلو اولیاوو متقینو ته کوي. ﴿ أَوْ كَٱلَّذِى مَرَّ عَلَىٰ قَرْيَةٍ وَهِىَ خَاوِيَةٌ عَلَىٰ عُرُوشِهَا ﴾ (ایا ستا علم ندی رسیدلی کیسي) د هغه سړي (عزیر) ته چې تیر شو په یوې قریې او هغه (قریه) پریوتلي وه (دیوالونه یې) پر بامو ددوی باندې) دا دوهمه کیسه ده چې دهغه چا لپاره چې الله یې دلارښووني اراده کړي وي ، مثل دی او معنا داچې ایا ستا علم نه دی رسیدلي کیسي دهغه

چا ته چي په يو کلي تير شو او هغه چې ديوالونه يې په بامونو راپريوتي وو او دا دبيت المقدس يو کلی وو چې (بخت نصر) وران کړی وو. ﴿ قَالَ أَنَّىٰ يُحْيِۦ هَٰذِهِ ٱللَّهُ بَعْدَ مَوْتِهَا ﴾ (نو) ويې ويل څرنګه به بيا ودانه او ژوندي کړي الله دا قريه او يا يي خلک ، وروسته له (ورانيدلو او) مړه کيدو (داهل) دهغې؟ يعني همدي نيک سړي چي په مشهوره رايه نوم يې (عزير) دی وويل څنګه به الله دا کلي وروسته له ورانتيا او مړ کېدلو راژوندی کړی ؟ او دايې دالله جل جلاله دستر قدرت په باب تعجب ښکاره کاوو چې څنګه ورانه ويجاړه کلي او قريه به بيا راژوندی کړي، هلته دي په خره سپور تيريدلو ﴿ فَأَمَاتَهُ ٱللَّهُ مِائَةَ عَامٍ ثُمَّ بَعَثَهُۥ ﴾ (او مړيي کړ دی الله سل کاله بيا يې پورته (ژوندي) کړ دی) يعني هغه يې سل کاله مړ کړ او هلته يې پريښود بيا يې ژوندی راپاڅاوو چې دالله دقدرت کمال ورووينې. ﴿ قَالَ كَمْ لَبِثْتَ قَالَ لَبِثْتُ يَوْمًا أَوْ بَعْضَ يَوْمٍ ﴾ وويل (الله عزير ته) څومره ځنډ دی وکړ تا (دلته) وويل (عزير) ځنډ مي کړی دی يوه ورځ يا يوه برخه دورځي ، يعني ما هغه ته دملکې په واسطه وويل چي پدغه حالت کې دي څومره وخت شويدی نو هغه وويل يوه ورځ او کله چې يې لمر ته وکتل چې هغه لا لويدلي نه وو نو يې وويل چي يو څه برخه دورځي بيا پروردګار ورته وفرمايل: ﴿ قَالَ بَل لَّبِثْتَ مِائَةَ عَامٍ ﴾ وويل (الله داسې نه ده لکه چې ته وايې) بلکې ځنډ کړي دي تا دلته سل کاله ﴿ فَٱنظُرْ إِلَىٰ طَعَامِكَ وَشَرَابِكَ لَمْ يَتَسَنَّهْ ﴾ (نو وګوره خوړو خپلو ته او (شيانو) دڅښلو ته چې هيڅ نه دي خراب شوي) يعني که دي پدي کې شک وي نو دخوړلو شيانو ته دي وګوره چې دوخت په تيريدلو ندي خوسا شوې چې انګور، انځر او عصير (شربت) وو پخپل حال پاتې وو. ﴿ وَٱنظُرْ إِلَىٰ حِمَارِكَ ﴾ او وګوره خره ته دي ، چې څرنګه يې هډوکي تيت او زاړه شوي چې يوازې هيکل يې پاتي دي. ﴿ وَلِنَجْعَلَكَ ءَايَةً لِّلنَّاسِ ﴾ (او دپاره ددي چې موږ وګرځوو تا دليل (دقدرت) لپاره دخلکو) يعني دامو ددي لپاره وکړل چې ته دالله سبحانه وتعالى قدرت وپيژني ﴿ وَٱنظُرْ إِلَى ٱلْعِظَامِ كَيْفَ نُنشِزُهَا ثُمَّ نَكْسُوهَا لَحْمًا ﴾ او وګوره طرف دهډوکو د (خره خپل ته) چې څرنګه راخوځوو (موږ) هغه بيا ورواغوندو هغوی ته غوښه ، يعني دخره هډوکو ته دي وګوره چې څرنګه يې پخپل قدرت سره يو دبل له پاسه سپروو او بيا غوښه ورباندي را زرغونوو ﴿ فَلَمَّا تَبَيَّنَ لَهُۥ قَالَ أَعْلَمُ أَنَّ ٱللَّهَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ ﴾ نو کله چې ورښکاره شوه ده ته (داحال په مشاهده سره نو) وويل (عزير چې اوس) پوهيږم چې بېشکه الله په هر شي باندي (چې اراده يې وفرمايې) ښه قادر دی ، يعني وروسته له دي چې داڅرګندي علامې يې وليدي نو يې وويل پوهيږم ... ﴿ وَإِذْ قَالَ إِبْرَٰهِـۧمُ رَبِّ أَرِنِي كَيْفَ تُحْيِ ٱلْمَوْتَىٰ ﴾ او يا دکړه (ای محمده !) هغه وخت چې وويل ابراهيم ای ربه ! وښيه ماته چې څرنګه ژوندي کوي ته مړي ؟) دا دريمه قصه ده او پکې له فنا نه وروسته درا ژوندي کېدلو په باب هسې دليل موجود دی په دې کې حضرت خليل له خپله ټينګه ايمانه سره ، سره چې دالله په قدرت يې درلود ،

داپوښتنه وکړه او غوښتل يې هغه څه چې په وجدان کې يې وړباندې باور درلود ، عيان وويني څکه نو الله ورته وفرمايل: ﴿ قَالَ أَوَلَمْ تُؤْمِن ۖ قَالَ بَلَىٰ وَلَٰكِن لِّيَطْمَئِنَّ قَلْبِي ﴾ (وويل (الله) ايا ستا لا باور نشته (په ژوندي کولو دمړو بيا) وويل (ابراهيم) هو (باور مې شته) وليکن (غواړم) ددې لپاره چې مطمئن شي زړه زما) يعني بصيرت مې زيات او دزړه سکون مې په دې ليدلو پر ځاى شي ﴿ قَالَ فَخُذْ أَرْبَعَةً مِّنَ الطَّيْرِ فَصُرْهُنَّ إِلَيْكَ ﴾ (وويل (الله) نو ونيسه ، څلور له مرغانو نه پس راټول کړه دوى خپل ځان ته) او بيا يې توټې او غوښ کړه وروسته يې سره ګډوډ کړه ترڅو چې يوه بوټۍ غوښه وګرزي ﴿ ثُمَّ اجْعَلْ عَلَىٰ كُلِّ جَبَلٍ مِّنْهُنَّ جُزْءًا ﴾ بيا يې کنبېږده په هريوه غره باندې له دې څنبي يوه برخه ﴿ ثُمَّ ادْعُهُنَّ يَأْتِينَكَ سَعْيًا ﴾ بيا راوبوله (اى ابراهيمه !) دوى نو رابه شي دوى تاته په منډو) مجاهد وايي: چې دا څلور مرغان طاؤس ، کارغه ،کوتره او چرګ وو هغه يې حلال کړل او هغسې يې توټې کړل لکه چې ورته ويل شوي وو بيا يې دغرونو په څوکو وويشل او چې ورته نارې يې کړې په منډه ، منډه ورته راغلل ﴿ وَاعْلَمْ أَنَّ اللَّهَ عَزِيزٌ حَكِيمٌ ﴾ پوه شه (اى ابراهيمه !) چې بېشکه الله ډير غالب دى ښه حکمت والا دى) پخپل تدبير او صنعت کې مفسرين کرام وايي: چې مرغان يې حلال کړل بيا يې توټې ، توټې کړل او سره يې وتوکول آن تر دې چې بنې، وينې يې او غوښې يې سره ګډې شوي او دهغوى سرونه يې له ځانه سره وساتل او نور يې نو څلور ونډې دغرونو په سرونو کښېښودل ، وروسته يې دالله تعالى له فرمودې سره سم راوبلل او ورته کتل يې چې يوه بڼه به نورو بڼو ته ورالوته ، وينې به نورو وينو سره يوځاى کيدلې او غوښې به يې له نورو غوښو سره کوشير او پتليز اخيست تر څو چې به دپخوا په شان مرغه جوړ شو او بيا به په منډه ، منډه ورته راتو چې هغه يې سم وويني لکه چې له الله څخه يې غوښتې وو ، همدا خبرې ابن کثير راوړې دي

بلاغت:

١-(الم تر) دلته قلبي رؤيت مراد او استفهام دتعجب لپاره دى.

٢-پدې کلام کې چې فرمايي:(ربي الذي يحي ويميت) په مضارع سره تعبير دتجدد او استمرار افاده کوي او همدا رنګه پدې کې مبتداء او خبر معرفه ذکر شوي او قصر څرګندوي معنا داچې يوازې الله سبحانه وتعالى هغه ذات دى چې ژوندى والى او مړ کول کوي او د (يحي ويميت) په کلماتو کې دطباق صنعت دى چې دبديعي محسناتو څخه ګڼل کيږي لکه چې دمغرب او مشرق ترمينځ همدا صنعت دي

٣-(فبهت الذي كفر) پدې مبارک او لوړ تعبير کې داخوندي شوي ده چې دهغه دحيرانتيا سبب دهغه کفر وو که چيرې ويل شوي واى چې (فبهت الکافر) دغه باريکه معنا څنې نه څرګنديدله.

۴-(انى يحيى هذه الله بعد موتها) پدې آيت کې مرسل مجاز دى څکه دمحل اطلاق شوي مراد څنې حال دى او دکلي مړګ خو د کلي دخلکو مړګ وي- پدې کلام کې چې فرمايي:(ثم نكسوها لحما) معنا پټ کړم او ونغاړم يې په غوښو لکه چې بدن په جامو پټيږي. ابو حيان وايي چې کسوت په اصل کې هغه

څه ته وايې چې په تن او بدن سربيره جامې وي او دلته يې مجازاً استعمال شوي دي چې خورا ښکلې باريکه استعاره ده.[1]

فوائد او ګټې:

لومړۍ فائده: مجاهد وايې چې په ټوله نړۍ له ختيزه تر لويديزه څلورو تنو پاچهي کړې چې دوه يې مسلمانان او دوه يې کافران وو مؤمنان (سليمان بن داود) او (ذوالقرنين) وو او کافران يې (نمرود) او (بخت نصر) هغه چې بيت المقدس يې وران کړی وو.[2]

دوهمه فائده: کله چې ابراهيم خليل عليه السلام د سرغړونکي (نمرود) هغه دژوند او مرګ په هکله تجاهل وليد او داچې دخپل رعيت په سترګو کې يې په داسي دليل چې هر چاته يې بطلان څرګند وو (خاوري شيندلي) پردي غوړولي، نو بل ډول ته يې رجوع وکړه چې هلته دمغالطې امکان نه وي او دغه بدمرغه ونشي کولای چې په مکابره او تجاهل خلک تير باسي نو بيې ورته وويل: (ان الله يأتي بالشمس من المشرق فأت بها من المغرب) نو ابراهيم عليه السلام يې ورمېږ ورتاو کړ او هغه يې له ځواب ويلو عاجزکړ او ژبه يې ګونګۍ شوه.

دريمه فائده: دابراهيم عليه السلام دغه پوښتنه چې: (كيف تحي الموتى) دالله په قدرت کې دشک له کبله نه وه بلکې دژوندي کولو دځرنګوالي په باب وه چې (كيف) کلمه ورباندي دلالت کوي، او موضوع يې پوښتنه دحال دي او ددې تائيد د رسول الله صلى الله عليه وسلم پدې وينا کيږي چې فرمايې: (نحن احق بالشک من ابراهيم) معنا يې داده چې موږ شک نه لرو نو ابراهيم عليه السلام خو په طريقه اولی سره شک او شبهه نه کوي.

***

الله تعالى فرمايې:

﴿ مَّثَلُ ٱلَّذِينَ يُنفِقُونَ أَمْوَٰلَهُمْ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ كَمَثَلِ حَبَّةٍ أَنۢبَتَتْ سَبْعَ سَنَابِلَ فِي كُلِّ سُنۢبُلَةٍ مِّاْئَةُ حَبَّةٍ ۗ وَٱللَّهُ يُضَٰعِفُ لِمَن يَشَآءُ ۗ وَٱللَّهُ وَٰسِعٌ عَلِيمٌ ﴿٢٦١﴾ ٱلَّذِينَ يُنفِقُونَ أَمْوَٰلَهُمْ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ ثُمَّ لَا يُتْبِعُونَ مَآ أَنفَقُواْ مَنًّا وَلَآ أَذًى لَّهُمْ أَجْرُهُمْ عِندَ رَبِّهِمْ وَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ ﴿٢٦٢﴾ ۞ قَوْلٌ مَّعْرُوفٌ وَمَغْفِرَةٌ خَيْرٌ مِّن صَدَقَةٍ يَتْبَعُهَآ أَذًى ۗ وَٱللَّهُ غَنِيٌّ حَلِيمٌ ﴿٢٦٣﴾ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تُبْطِلُواْ صَدَقَٰتِكُم بِٱلْمَنِّ وَٱلْأَذَىٰ كَٱلَّذِي يُنفِقُ مَالَهُۥ رِئَآءَ ٱلنَّاسِ وَلَا يُؤْمِنُ بِٱللَّهِ وَٱلْيَوْمِ ٱلْءَاخِرِ ۖ فَمَثَلُهُۥ كَمَثَلِ صَفْوَانٍ عَلَيْهِ تُرَابٌ فَأَصَابَهُۥ وَابِلٌ فَتَرَكَهُۥ صَلْدًا ۖ لَّا يَقْدِرُونَ عَلَىٰ شَيْءٍ مِّمَّا كَسَبُواْ ۗ وَٱللَّهُ لَا يَهْدِي ٱلْقَوْمَ ٱلْكَٰفِرِينَ ﴿٢٦٤﴾ وَمَثَلُ ٱلَّذِينَ يُنفِقُونَ أَمْوَٰلَهُمُ ٱبْتِغَآءَ مَرْضَاتِ ٱللَّهِ وَتَثْبِيتًا مِّنْ أَنفُسِهِمْ كَمَثَلِ جَنَّةٍۭ بِرَبْوَةٍ أَصَابَهَا وَابِلٌ فَـَٔاتَتْ أُكُلَهَا ضِعْفَيْنِ فَإِن لَّمْ يُصِبْهَا وَابِلٌ فَطَلٌّ ۗ وَٱللَّهُ بِمَا

---

[1] - البحر المحيط ٢٩٤/٢

[2] - مختصر ابن كثير ٢٢٤/١

تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ ﴿٢٦٥﴾ أَيَوَدُّ أَحَدُكُمْ أَن تَكُونَ لَهُۥ جَنَّةٌ مِّن نَّخِيلٍ وَأَعْنَابٍ تَجْرِى مِن تَحْتِهَا ٱلْأَنْهَـٰرُ لَهُۥ فِيهَا مِن
كُلِّ ٱلثَّمَرَٰتِ وَأَصَابَهُ ٱلْكِبَرُ وَلَهُۥ ذُرِّيَّةٌ ضُعَفَآءُ فَأَصَابَهَآ إِعْصَارٌ فِيهِ نَارٌ فَٱحْتَرَقَتْ ۗ كَذَٰلِكَ يُبَيِّنُ ٱللَّهُ لَكُمُ
ٱلْـَٔايَـٰتِ لَعَلَّكُمْ تَتَفَكَّرُونَ ﴿٢٦٦﴾ يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓا۟ أَنفِقُوا۟ مِن طَيِّبَـٰتِ مَا كَسَبْتُمْ وَمِمَّآ أَخْرَجْنَا لَكُم مِّنَ
ٱلْأَرْضِ ۖ وَلَا تَيَمَّمُوا۟ ٱلْخَبِيثَ مِنْهُ تُنفِقُونَ وَلَسْتُم بِـَٔاخِذِيهِ إِلَّآ أَن تُغْمِضُوا۟ فِيهِ ۚ وَٱعْلَمُوٓا۟ أَنَّ ٱللَّهَ غَنِىٌّ حَمِيدٌ ﴿٢٦٧﴾
ٱلشَّيْطَـٰنُ يَعِدُكُمُ ٱلْفَقْرَ وَيَأْمُرُكُم بِٱلْفَحْشَآءِ ۖ وَٱللَّهُ يَعِدُكُم مَّغْفِرَةً مِّنْهُ وَفَضْلًا ۗ وَٱللَّهُ وَٰسِعٌ عَلِيمٌ ﴿٢٦٨﴾ يُؤْتِى
ٱلْحِكْمَةَ مَن يَشَآءُ ۚ وَمَن يُؤْتَ ٱلْحِكْمَةَ فَقَدْ أُوتِىَ خَيْرًا كَثِيرًا ۗ وَمَا يَذَّكَّرُ إِلَّآ أُو۟لُوا۟ ٱلْأَلْبَـٰبِ ﴿٢٦٩﴾

البقرة: ٢٦١ - ٢٦٩

مناسبت او تړاو :

څرنګه چې الله تعالی مخکې یادونه وکړه چې خلک په دوه ټولی وویشل شول ، یوه یې اولیاء الله چې مؤمنان او بله ډله یې اولیاء الشیطان او یا اولیاء الطاغوت دي چې هغوی کافران دي ، بیایې دایمان او طغیان نمونې ذکر کړي، نو دلته یې دالله په لار کې دمصرف کولو روا انفاق امر وفرمایو او په ځانګړې توګه د في سبیل الله جهاد په هکله څکه دالله په لار کې جهاد دري ډګرونه لري

لومړی :په ژبه جهاد او په برهان او حجت ، دښمن ته قناعت ورکول او دوهم: په خپل نفس او ځان جهاد کول ، او دریم: په مال جهاد کول نو څرنګه چې پخوا یې ددعوت او بلنې جهاد ذکر کړ او بیایې جهاد بالنفس یاد کړ اوس یې په مال سره جهاد کول راوړل.

لغتونه:

(المن) چاته وروسته له احسان ورکولو ضرر رسول او یا ورته دخپل نعمت څو ،څو ځله یادونه چې خپله مهترې وربانديې څرګنده کړې ، شاعر وایې:

افسدت بالمن ما اسدیت من حسن   لیس الکریم اذا اسدی بمنان

په احسان اچولو او منت ایښودلو دي هغه خپله نیکي برباد کړه سخې خو داسې نه وي چې خپله سخا په احسان اچولو برباد وي.

(رئاء الناس) هغه چې په خپله صدقه او انفاق دالله خوښې نه غواړي بلکې مطلب یې داوي چې خلکو ته ځان ښکاره کړي او هغوی بیا دده ثنا ووایې .(صفوان) ستري ښوی ډبرې ته وایې ، اخفش وایې چې داجمع دی او واحد یې (صفوانة) راځي او چا بیا ویلي چې همدا اسم جنس او لکه (حجر) غوندي دی . (وابل)سخت باران ته وایې (صلدا) هغه ښوی ډبرې ته چې څه نه را زرغونوي ویل کیږي (جبین اصلد) یعني ښوی وچولئ(بربوة) په لوړي ځمکې ،غونډۍ چې اصل یې له ربا څخه اخیستل شوی دزیاتوالي او لوړوالي په معنی ده (طل) سپک باران ته وایې هغه چې واړه څاڅکې لري ځینو بیا ویلي دي چې مجاهد هم پکې دی چې (طل) شبنم او پرخې یا رطوبت ته وایې (اعصار) هغه سخت باد ته وایې

چې له مخکې را الوزي او آسمان ته دستنې په شکل پورته کيږي او (زوبعة) يې بولي. (تيمموا) قصد کوئ (تغمضوا) سترګې پټوئ کله چې په يو کار کې تساهل وکړل شي لکه چې په ناخوښه کار کې (اغماض) ويل کيږي

دنزول سبب:

دا آيتونه دعثمان بن عفان او عبدالرحمن بن عوف رضوان الله عليهم په هکله نازل شوي چې حضرت عثمان رضی الله عنه يو زر او ښان سره له ټولو لوازمو دالله په لار کې جهاد ته ورکړل او يو زر ديناره يې درسول الله صلی الله عليه وسلم په وړاندې کښيښودل، رسول الله صلی الله عليه وسلم هغه اړول را اړول ويې فرمايل: (ماضر عثمان ما فعل بعد اليوم) او حضر عبدالرحمن بن عوف رضی الله عنه څلور زره درهمه رسول الله صلی الله عليه وسلم ته راوړل او ويې ويل: يارسول الله ! اته زره درهمه مې درلودل څلور زره مې دخپل اهل او عيال لپاره وساتل او څلور زره مې الله تعالى ته قرض ورکړل رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته وويل: "بارک الله لک فيما امسکت وفيما اعطيت" نو دا آيت شريف نازل شو: (مثل الذين ينفقون اموالهم في سبيل الله..)(١)

تفسير:

﴿ مَثَلُ ٱلَّذِينَ يُنفِقُونَ أَمْوَٰلَهُمْ فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ كَمَثَلِ حَبَّةٍ أَنۢبَتَتْ سَبْعَ سَنَابِلَ فِى كُلِّ سُنۢبُلَةٍ مِّائَةُ حَبَّةٍ ﴾ (مثال دهغو کسانو چې صرفوي مالونه خپل په لاره دالله کې په مثل ديوې دانې (تخم) دي چې زرغونه کړي دا اوه وږي په هر وږي کې سل (سل) دانې وي) دا هغه مثال دی چې الله دهغه چا په هکله چې دالله په لار کې مال لګوي فرمايلي او داچې نيکي په لس چنده تر اووسوو پورې الله زياتوي لکه چې يوه دانه اوه وږي راوړي او هر وږي په سل، سل دانو مشتمل وي اوداد هغه چا دصدقې مثال دي چې اخلاص درلودونکي وي څکه الله فرمايي: ﴿ وَٱللَّهُ يُضَٰعِفُ لِمَن يَشَآءُ ﴾ (او الله زياتوي اجر دپاره دهغه چاچې اراده وکړي د (داجر دزياتولو) يعني دنفقه ورکونکي دحال او اخلاص سره سم الله اجر زياتوي ﴿ وَٱللَّهُ وَٰسِعٌ عَلِيمٌ ﴾ (او الله پراخ دی (احسان، فضل او رحمت دده) ښه عالم دی (په ټولو احوالو) ﴿ ٱلَّذِينَ يُنفِقُونَ أَمْوَٰلَهُمْ فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ ثُمَّ لَا يُتْبِعُونَ مَآ أَنفَقُوا۟ مَنًّا وَلَآ أَذًى ﴾ (هغه کسان چې صرفوي مالونه خپل په لاره دالله (دجهاد او دنورو عبادتونو) کې بيا نه وروسې کوي (دوی) هغه شی پسې چې خيرات يې کړي دي (بارول د) احسان او نه (رسونه د) ضرر) يعني دوي پخپل انفاق کې دالله له رضا پرته بل مقصد او هدف نه لري څکه نو بيا په احسان پسې وروسته هغه سړی ته چې نفقه يې ورکړې داسې نه وايې چې ما خو درسره احسان کړی ستا غم مې خوړلی او نه هم بل چاته وايې چې ماله فلانې سره، دومره، دومره کومکونه او مرستې کړي چې هغه بيوزله له يادولو څخه ځوريږي او ورته ضرر رسيږي. ﴿ لَّهُمْ أَجْرُهُمْ عِندَ رَبِّهِمْ ﴾ (شته) لپاره ددوی اجر (دنفقې ثواب) ددوی په نزد رب ددوی. ﴿ وَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ

---

(١) - اسباب النزول للواحدي ص ٤٧.

يَحْزَنُونَ ﴾او نه به هيڅ ويره پرد وي او نه به دوى (هيڅكله) غمجن كيږي) يعنې دوى به دقيامت په ورځ هيڅ نه ويريږي او نه به ددنيا په پاتې كيدلو غمجن وي ﴿ قَوْلٌ مَّعْرُوفٌ وَمَغْفِرَةٌ خَيْرٌ مِّن صَدَقَةٍ يَتْبَعُهَآ أَذًى ﴾ نيكه (خوږه پسته) خبره و فقير ته او عفوه وده ته كه الحاح يا شور جنجال ، وكړي) ښه دى له خيراته چې په هغه پسي وي ضرر (رسونه په منت يا په پيغور دسوال سره) په نزد دالله ﴿ وَٱللَّهُ غَنِيٌّ حَلِيمٌ ﴾ او الله غنى ، (بې پروا دى له هرچا او هر څه) نهايت تحمل والا دى (د عذاب په وروسته والي دبېښيمانتيا لپاره) يعنى هغه چاته چې له امر څخه يې سرغړونه وكړي ژر تر ژره عذاب نه وركوي ... بيا الله هغه څه بيانوي چې دصدقې ثواب ته زيان رسوي او صدقه باطلوي ، فرمايي: ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تُبْطِلُواْ صَدَقَٰتِكُم بِٱلْمَنِّ وَٱلْأَذَىٰ ﴾ (اى هغو كسانو ! چې ايمان يې راوړى دى (اى مؤمنانو !) مه باطلوئ تاسي خيراتونه خپل (مه ضائع كوئ ثوابونه يې) په احسان بارولو او ضرر رسولو سره) ﴿ كَٱلَّذِى يُنفِقُ مَالَهُۥ رِئَآءَ ٱلنَّاسِ ﴾ په شان (دهغه سړى) چې صرفوي مال خپل دپاره دښودنې (دخلكو) ﴿ وَلَا يُؤْمِنُ بِٱللَّهِ وَٱلْيَوْمِ ٱلْءَاخِرِ ﴾ او ايمان نلري په الله او په ورځې داخرت باندې (چې قيامت دى) يعنې داچې نه خو دثواب هيله لري او نه هم له عذابه ويريږي ﴿ فَمَثَلُهُۥ كَمَثَلِ صَفْوَانٍ عَلَيْهِ تُرَابٌ ﴾نو مثال ددى (رياكارى) په شان دصفت دهغې ښوئې تيږې دى چې پرتې وي په هغې باندې څه خاوري ، چې سړي گومان كوي دانښه دزراعت او كرهڼې وړ خاوره ده . ﴿ فَأَصَابَهُۥ وَابِلٌ فَتَرَكَهُۥ صَلْدًا ﴾پس ورسيږي هغې ته زورور باران ، نو پريږدي دغه تيږه پاكه ستره له گرده همدارنگه دغه منافق گومان كوي چې عملونه يې ښه صالح دي خو كله چې قيامت شي نو هغه به هيڅ هم نه وي ځكه نو الله فرمايي: ﴿ لَّا يَقْدِرُونَ عَلَىٰ شَىْءٍ مِّمَّا كَسَبُواْ ﴾نه به قادريږي (دارياكاران) په هيڅ شي باندې (له ثوابه دهغه شي) چې كسب كړي دي دوى ، يعنې هيڅ ثواب به نشي ميندلاى چې وربانديې گټه واخلي. ﴿ وَٱللَّهُ لَا يَهْدِى ٱلْقَوْمَ ٱلْكَٰفِرِينَ ﴾ (او الله نه ښيې سمه لار قوم دكافرانو ته) بيا الله تعالى يو بل مثال دهغه مؤمن لپاره چې خاص دالله درضا لپاره مال صرفوي ، داسې بيانوي: ﴿ وَمَثَلُ ٱلَّذِينَ يُنفِقُونَ أَمْوَٰلَهُمُ ٱبْتِغَآءَ مَرْضَاتِ ٱللَّهِ وَتَثْبِيتًا مِّنْ أَنفُسِهِمْ ﴾ او مثال دهغو كسانو چې صرفوي مالونه خپل لپاره دطلب درضاء(دالله او لپاره دثبات (دزړه او صدق چې پيدا دى) له نفسونو ددوى څخه) يعنې يوازې دالله دخوښې او دثواب دگټلو لپاره چې دوى دالله په لقا باور لري خپل مالونه لگوي ﴿ كَمَثَلِ جَنَّةٍۭ بِرَبْوَةٍ ﴾ په شان ديوه باغ دى په لوړه ځكه) دلوړې ځكې يادونه يې پدې وكړه چې ميوه يې خورا ښه او ونې يې ښائسته وي. ﴿ أَصَابَهَا وَابِلٌ فَـَٔاتَتْ أُكُلَهَا ضِعْفَيْنِ ﴾، (چې ورسيږي دې باغ ته زورور باران نو وركړي ميوه خپله دوچنده) تر

نورو ونو چې بل چیرته وي ﴿ فَإِن لَّمْ يُصِبْهَا وَابِلٌ فَطَلٌّ ﴾ نو که ونه رسیږي (دي باغ) ته (زورور باران نو بیا پرخه (نری باران) هم کافي دی) ځکه هوایې سوتره پاکه ، مځکه یې مستعده مأمونه او په هر حال کې میوه ورکوي. ﴿ وَٱللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ ﴾. (او الله په هغو شیانو چې تاسي کوئ ښه لیدونکی دی.) یعني دبندګانو اعمال ورڅخه پټ نه دي. ﴿ أَيَوَدُّ أَحَدُكُمْ أَن تَكُونَ لَهُۥ جَنَّةٌ مِّن نَّخِيلٍ وَأَعْنَابٍ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا ٱلْأَنْهَٰرُ ﴾ آیا خوښوي یو دتاسو داچې وي ده لره باغ له خرماوو او له انګورو څخه چې بهیږي لاندي تر (ونو) دهغه ویالي ﴿ لَهُۥ فِيهَا مِن كُلِّ ٱلثَّمَرَٰتِ ﴾ چې وي ده لره په دغه باغ کې له هر ډول میوو څخه ﴿ وَأَصَابَهُ ٱلْكِبَرُ وَلَهُۥ ذُرِّيَّةٌ ضُعَفَآءُ ﴾، او ورسیږي ده ته زوړ والې او وي ده لره اولاد ضعیفان (چې کسب او کار نشي کولای). ﴿ فَأَصَابَهَآ إِعْصَارٌ فِيهِ نَارٌ فَٱحْتَرَقَتْ ﴾ (پس ورسیږي هغه باغ ته سخت باد چې وي په هغه کې اور نو وسوځئ داباغ) ونې او میوې یې پداسي حال کې وسوځوي چې انسان ورته سخت محتاج او اړ وي. ﴿ كَذَٰلِكَ يُبَيِّنُ ٱللَّهُ لَكُمُ ٱلْءَايَٰتِ لَعَلَّكُمْ تَتَفَكَّرُونَ ﴾،(همداسې بیانوي الله تاسې ته دلائل (دخپل قدرت) لپاره ددي چې تاسې فکر وکړئ !) یعني ددغه څرګند بیان او دغه روښانه مثال په ډول الله په خپل کتاب حکیم کې دلائل درته بیانوي تر څو تاسي ځنې عبرت او پند واخلئ

﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ أَنفِقُواْ مِن طَيِّبَٰتِ مَا كَسَبْتُمْ ﴾ (ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی (ای مؤمنانو !) لګوئ له حلالو دهغو مالونو چې په کسب سره تاسي ګټلي. ﴿ وَمِمَّآ أَخْرَجْنَا لَكُم مِّنَ ٱلْأَرْضِ ﴾، او له هغو شیانو چې ایستلي دي موږ تاسي لره له مځکي نه له میوو دانو څخه) ﴿ وَلَا تَيَمَّمُواْ ٱلْخَبِيثَ مِنْهُ تُنفِقُونَ ﴾ او قصد مه کوئ تاسې (دورکولو) دخبیثو (نابودوشیانو) له هغه ماله چې لګوئ یې تاسي ﴿ وَلَسْتُم بِـَٔاخِذِيهِ إِلَّآ أَن تُغْمِضُواْ فِيهِ ﴾ حال داچې نه یې تاسي اخیستونکي دهغه (ناکاره شي) په خپل حق کې مګر خو یې داسي اخلئ) چې سترګي پټي کړي په (اخیستو) دهغه کې یعني که تاسو ته یې څوک درکوي تاسې یې نه اخلئ مګر که وربا ندي سترګې پټې کړئ نو چې تاسو یې نه اخلي دالله جل جلاله حق ولي له داسې مال څخه ورکوئ؟ ﴿ وَٱعْلَمُوٓاْ أَنَّ ٱللَّهَ غَنِيٌّ حَمِيدٌ ﴾ او پوه شئ چې بیشکه الله غني دی. (او تل ورته ښه ستاینه) ثنا ویلي شوي) یعني الله ستاسو له نفقاتو څخه بې پروا او غني دی احسان کونکي ته ښه جزا ورکوي بیا الله تعالی دشیطان له وسوسوڅخه داسې تحذیرفرمایي: ﴿ ٱلشَّيْطَٰنُ يَعِدُكُمُ ٱلْفَقْرَ وَيَأْمُرُكُم بِٱلْفَحْشَآءِ ﴾، شیطان وعده درکوي تاسي ته دخوارئ (ویروي مو چې خوار به شئ) او حکم کوي تاسې ته (دکولو) ناوړه (غلطو) کارونو (لکه بخل) . ﴿ وَٱللَّهُ يَعِدُكُم مَّغْفِرَةً مِّنْهُ وَفَضْلًا ﴾، او الله وعده کوي له تاسې سره دمغفرت دګناهونو له خپله (لوري) او دفضل (دانفاق په بدل کې) یعني الله تاسې ته په انفاق باندې دګناهونو دمغفرت او دانفاق په بدل کې دزیاتوالي دمال وعده

درکوي. ﴿ وَٱللَّهُ وَٰسِعٌ عَلِيمٌ ﴾ او الله پراخ دی (رحمت ،فضل او احسان دده) ښه عالم دی پر ټولو احوالو یعني دالله فضل او ورکړه پراخه او لویه ده په هغه چاچې دثنا وړ دی. ﴿ يُؤْتِي ٱلْحِكْمَةَ مَن يَشَآءُ ﴾، ورکوي حکمت (نافع علم سره له عمله) هر چاته چې اراده وکړي ، له خپلو بندګانو څخه) ﴿ وَمَن يُؤْتَ ٱلْحِكْمَةَ فَقَدْ أُوتِيَ خَيْرًا كَثِيرًا ﴾ (او هر چاته چې ورکړ شو حکمت (نافع علم سره له عمله) نو په تحقیق سره ورکړ شو (ده ته) خیر ډیر) څکه چې خاوند به یې ابدي نیکمرغۍ تر لاسه کوي ﴿ وَمَا يَذَّكَّرُ إِلَّآ أُوْلُواْ ٱلْأَلْبَٰبِ ﴾ (او نه اخلي پند مګر خاوندان دعقلونو) یعني دقرآن کریم په متلونو اوحکمتونو پند نه اخلي مګرخاوندان دروښانه عقلونو پند اخلي هغه چې دهوا او هوس پلویان نه وي.

بلاغت:

۱-(کمثل حبة) الله پاک هغه صدقه چې دده په لار کې ورکول شوي له یوې دانې سره تشبیه کوي چې کرل شوي او الله پکې برکت اچولی وي اوه سوه دانې ځنې پیدا شوي وي پدې کلمه کې (مرسله مجمله) تشبیه دی څکه دتشبیه ادات ذکر شوي او دمشابهت وجه حذف شوي ده،ابوحیان وایې: چې همدا مثال خوچنده داسې دی لکه چې دسترګو په وړاندې یې را څوړند وي.[1]

۲- پدې قول کې چې فرمایې : (انبتت سبع سنابل) ، دلته (عقلي مجاز) راغلی څکه دزرغونیدلو نسبت یې دانې ته کړی دی او په حقیقت کې زرغونونکی الله تبارک وتعالی دی.

۳-(منا ولا اذی) پدې کلمه کې ذکر دعام وروسته له خاص نه راغلی دی تر څو شمول افاده کړي څکه احسان باروړل هم په ضرر کې شامل دی

۴-(کمثل صفوان علیه تراب) ، (پدې کلمه کې راوړل شوي تشبیه ته تمثیلي تشبیه وایې څکه له متعدد څخه دشبه وجه ایستل شوي ده او همدارنګه دغه تمثیلي تشبیه پدې کلمه کې هم راغلي چې فرمایې:(کمثل جنة بربوة) .

۵- پدې کلام کې چې الله تبارک وتعالی فرمایې: (ایود احدکم ان تکون له جنة) ، په آیت کې شبه ندي ذکر او نه هم دتشبیه ادات راوړل شوي چې دبلاغت علما دې ته تمثیلي استعاره وایې ، څکه پدې کې دیو حال له بل سره تشبیه شوي دي خو له مشبه به پرته بل څه نه دي ذکر شوي او داسې قرائن موجود دي چې دتشبیه په اراده کولو دلالت وکړي دلته همزه داستفهام لپاره دی او معنی په تبعید او نفي بنا ده یعني هیڅوک دانه خوښوي

۶-(تغمضوا فیه) پدې کلمه کې مراد تجاهل او مساهله ده ، کله چې انسان ناخوښه څیز ووینې نو ورباندې سترګې پټوي ، نو په کلام کې (مرسل مجاز) یا (استعاره) دی.[2]

[1] - البحر المحیط.
[2] - الفتوحات الالهیة ۲۲۳/۱.

فوائد او ګټې:

لومړۍ فائده: زمخشري وايي (من) هغه څه ته وايي چې له چا سره احسان وشي او دهغه احسان په ورياد ولو وخورول شي او په نوابغ الكلم کې راځي: (صنوان من منح سائله ومن ·ومن منع نائله وضن) يعني سيالان او ساري دي هغه دوه يو چې چاته څه ورکړي او بيا ورباندې احسان بار کړي او بل هغه چې چاته هيڅ نه ورکوي او بخل کوي. بله نابغه کلمه دا چې :(طعم الآلاء احلى من المن وهي أمرّ من الآلاء مع المن) يعني دنعمتونو خوند تر (من) لا خوږ دی (هغه من او سلوى ترې مراد دی) لاکن دغه (من) بيا تر آلا هم خورا تريخ دی کله چې له احسان بارولو سره يوځای وي.(١)

دوهمه فائده :دباران لومړی پيل ته (رش) وروسته (طش) بيا (طل) وروسته (نضح) وروسته (هطل) بيا (وبل) او هغه باران ته چې په شيبو، شيبو اوري (وابل) وايي.

دريمه فائده :يوه ورځ عمر بن الخطاب رضی الله عنه درسول الله صلى الله عليه وسلم اصحابو رضوان الله عليهم ته وويل: تاسو څه فکر کوئ چې دا آيت دچا په شان کې نازل شوی دی (ايود أحدكم ان تكون له جنة) نو دوی وويل :الله جل جلاله ښه عالم دی. عمر رضی الله عنه ته قهر ورغی او ورته وې ويل: ووايا ست چې پوهيږو يا نه پوهيږو ! ابن عباس رضی الله عنهما وويل :ای اميرالمؤمنينه ! زما په زړه کې يوڅه شته ، نو عمر رضی الله عنه ورته وويل: ووايه وراره ځان خوار او کوچنی مه ګڼه! نو ابن عباس رضی الله عنهما وويل : دادهغه چا لپاره مثال ويل شوی چې ښه عملونه او دالله طاعت عبادت کوي بدای وي خو بيا شيطان ورته راشي او ګناهونه يې دومره زيات کړي چې ښه عملونه او طاعات يې له مينځه يوسي او ډوب يې کړي دبخاري روايت.

څلورمه فائده : حسن بصري رضی الله عنه وايي: داهسي مثال دی چې ډير خلک ورباندي والله که پوهيږي ، دسپين ږيري بوډا چې خورا ضعيف بدن لري او ماشومان يې زيات وي خپل بڼ او باغ ته خورا اړ وي خو طوفاني لمبه راشي او باغ يې ورو سوځوي او هر يو ستاسې په والله چې کله له دنيا وليږدي او عمل يې منقطع شي خپل عمل ته همداسې اړ دی.

***

الله تعالى فرمايي:

﴿ وَمَآ أَنفَقْتُم مِّن نَّفَقَةٍ أَوْ نَذَرْتُم مِّن نَّذْرٍ فَإِنَّ ٱللَّهَ يَعْلَمُهُۥ ۗ وَمَا لِلظَّٰلِمِينَ مِنْ أَنصَارٍ ﴿٢٧٠﴾ إِن تُبْدُوا۟ ٱلصَّدَقَٰتِ فَنِعِمَّا هِىَ ۖ وَإِن تُخْفُوهَا وَتُؤْتُوهَا ٱلْفُقَرَآءَ فَهُوَ خَيْرٌ لَّكُمْ ۚ وَيُكَفِّرُ عَنكُم مِّن سَيِّـَٔاتِكُمْ ۗ وَٱللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرٌ ﴿٢٧١﴾ ۞ لَّيْسَ عَلَيْكَ هُدَىٰهُمْ وَلَٰكِنَّ ٱللَّهَ يَهْدِى مَن يَشَآءُ ۗ وَمَا تُنفِقُوا۟ مِنْ خَيْرٍ فَلِأَنفُسِكُمْ ۚ وَمَا تُنفِقُونَ إِلَّا ٱبْتِغَآءَ وَجْهِ ٱللَّهِ ۚ وَمَا تُنفِقُوا۟ مِنْ خَيْرٍ يُوَفَّ إِلَيْكُمْ

---

١ - الكشاف ١/٢٣٨ –(آلاء) هغه دښکلي منظر ونې ته وايي چې خوند يې خورا تريخ وي، همداسې صحاح راوړي دي

وَأَنتُمْ لَا تُظْلَمُونَ ﴿۲۷۲﴾ لِلْفُقَرَاءِ الَّذِينَ أُحْصِرُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ لَا يَسْتَطِيعُونَ ضَرْبًا فِي الْأَرْضِ يَحْسَبُهُمُ الْجَاهِلُ أَغْنِيَاءَ مِنَ التَّعَفُّفِ تَعْرِفُهُم بِسِيمَاهُمْ لَا يَسْأَلُونَ النَّاسَ إِلْحَافًا وَمَا تُنفِقُوا مِنْ خَيْرٍ فَإِنَّ اللَّهَ بِهِ عَلِيمٌ ﴿۲۷۳﴾ الَّذِينَ يُنفِقُونَ أَمْوَالَهُم بِاللَّيْلِ وَالنَّهَارِ سِرًّا وَعَلَانِيَةً فَلَهُمْ أَجْرُهُمْ عِندَ رَبِّهِمْ وَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ ﴿۲۷۴﴾ ﴾ البقرة: ۲۷۰ - ۲۷۴

مناسبت او تړاو:

تر اوسه لا آیتونه دخیر ښیګڼې په کارونو کې دمال لګولو مارپینه کوي چې تر ټولو زیات دخیر کار في سبیل الله جهاد او دکلمې داعلاء لپاره نفقه ورکول دي بل داچې صدقه باید پټه ورکول شي چې له ریا او سمعت څخه پاکه وي نو دمناسبت وجه څرګنده ده.

لغتونه:

(فنعما) اصل یې (نعم ما) دی یو میم په بل کې مدغم شوی نعما راغلی زجاج وایي چې معنایې داده: ښه دي هغه شئ. (احصروا) حصر بندولو ته وایي یعني هغه کسان چې خانونه یې دجهاد لپاره حصر کړي وي (التعفف) له عفت څخه اخیستل شوی معنایې ده ځان ساتنه او پاکونه دلته مراد ځان له سوال څخه ساتل او پاکول دي.
(بسیماهم) سیما هغه علامت ته وایي چې څوک ورباندي پیژندل کیږي څوک بیا وایي چې هغه سیما لکه کیمیا داسي ده، الله تعالی وایي: (سیما هم في وجوههم من اثر السجود) (الحافا)، الحاف الحاح ته وایي معنا یې ده په ټینګار سره څه غوښتل او په سوال کې سختې او کوښښ کول.

دنزول سبب:

سعید بن جبیر رضی الله عنه وایي چې مسلمانانو به دذمیانو په مسکینانو خیراتونه ویشل کله چې دمسلمانانو مساکین زیات شول نو رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل چې د خپل دین له خلکو نه پرته بل چاته صدقه مه ورکوئ ! نو دا آیت نازل شو چې :(لیس علیکم هداهم ...) او داهغه چاته چې داسلام په دین که څه هم مشرف شوې نه وي دصدقې ورکولو جواز ښیي.[1]

تفسیر:

﴿ وَمَا أَنفَقْتُم مِّن نَّفَقَةٍ أَوْ نَذَرْتُم مِّن نَّذْرٍ فَإِنَّ اللَّهَ يَعْلَمُهُ ﴾ (او هغه شئ چې صرف کړي تاسي له نفقې (لکه زکات خیرات لږ یا ډیر) یا یې لازم کړی (پخپل ځان) له کوم نذر څخه نو بېشکه الله ته معلوم ده هغه) او په هغه باندي جزا درکوي. ﴿ وَمَا لِلظَّالِمِينَ مِنْ أَنصَارٍ ﴾ (او نشته لپاره دظالموانو هیڅ

[1] - القرطبي ۳/۲۳۷.

مددکونکی) یعني هغه کسان چې زکات نه ورکوي او یا دالله جل جلاله په معصیت کې مال لګوي دالله له عذاب څخه دهغوی دژغورلو هیڅ مرستندوی نشته. ﴿ إِن تُبْدُواْ ٱلصَّدَقَٰتِ فَنِعِمَّا هِىَ ﴾ (که ښکاره کوئ خیراتونه پس ښه کار دی (ښکارول دهغه) چې تاسې یې کوئ) ﴿ وَإِن تُخْفُوهَا ﴾ (او که پټوئ یې تاسي) ﴿ وَتُؤْتُوهَا ٱلْفُقَرَآءَ فَهُوَ خَيْرٌ لَّكُمْ ﴾ (او ورکوئ یې فقیرانو ته نو دا (پټ ورکول بهتر او) خیر دی تاسې ته) ﴿ وَيُكَفِّرُ عَنكُم مِّن سَيِّـَٔاتِكُمْ ﴾ (او لیري به کړي (الله) له تاسې ځینې ګناهونه ستاسي) یعني ستاسې په ښو اعمالو به بد اعمال دروبښي ﴿ وَٱللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرٌ ﴾ (او الله په هغو کارونو چې کوئ یې تاسي ښه خبر دار دی) یعني له الله جل جلاله څخه هیڅ پټ نه دي، آیت شریف دصدقي دپټي ورکولو ترغیب ورکوي) ﴿ لَّيْسَ عَلَيْكَ هُدَىٰهُمْ وَلَٰكِنَّ ٱللَّهَ يَهْدِى مَن يَشَآءُ ﴾ (نشته پر تاباندي (پرسمه لاره) برابرول ددوی ولیکن الله (په سمه صافه لاره) برابروي هغه څوک چې اراده وکړي (دبرابروالي یې) یعنی ای محمد صلی الله علیه وسلم! پر تا دانشته چې خلکو ته هدایت وکړي (ددوی په ایمان نه راوړلو په تا وبال نشته) یوازې ستا دتبلیغ او رسولو دنده په غاړه ده او الله جل جلاله چې دچا اراده وکړي هغه سمې لاري ته راولي. ﴿ وَمَا تُنفِقُواْ مِنْ خَيْرٍ فَلِأَنفُسِكُمْ ﴾ (او هر هغه شئ چې صرفوئ (یې) تاسې (له ماله) پس لپاره دنفسونو ستاسو دی) یعني بل څوک ورباندي ګټه نه اخلي څکه چې ثواب یې ستاسې لپاره دی) ﴿ وَمَا تُنفِقُونَ إِلَّا ٱبْتِغَآءَ وَجْهِ ٱللَّهِ ﴾ (او نه صرفوئ تاسې (ای مؤمنانو!) مګر صرفوئ یې خاص لپاره دالله درضا) او دلته خبره دنهي په معنا دی یعنی ای مؤمنانو! تاسې انفاق ددنیوي اغراضو لپاره مکوئ یوازې دالله جل جلاله رضا مو باید موخه، هدف او مرام وي. ﴿ وَمَا تُنفِقُواْ مِنْ خَيْرٍ يُوَفَّ إِلَيْكُمْ وَأَنتُمْ لَا تُظْلَمُونَ ﴾ (او هر هغه شئ چې صرفوئ یې تاسې له خیره پوره به درکړ شي تاسې ته (ثواب دهغه) او په تاسې به ظلم ونکړای شي) یعني دهغه به څو چنده اجر او ثواب مومئ او ستاسې له نیکي او ثواب څخه به هیڅ هم نه کمیږي ﴿ لِلْفُقَرَآءِ ٱلَّذِينَ أُحْصِرُواْ فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ ﴾ (خیراتونه ستاسې) لپاره دهغو فقیرانو دي چې بند کړل شوي دي په لاره دالله کې) یعني هغه کسان چې دجهاد او غزا لپاره یې ځانونه بند کړي دي ﴿ لَا يَسْتَطِيعُونَ ضَرْبًا فِى ٱلْأَرْضِ ﴾ (چې توان نه لري دوی دګرځیدلو په ځمکه کې) یعنې دسوداګرۍ او تجارت لپاره دجهاد په سبب په ځمکه کې سفر نشي کولای. ﴿ يَحْسَبُهُمُ ٱلْجَاهِلُ أَغْنِيَآءَ مِنَ ٱلتَّعَفُّفِ ﴾ ګومان کوئ په دوی باندي ناپوه دغنیانو (دا په دي) چې سوال نه کوي) ﴿ تَعْرِفُهُم بِسِيمَٰهُمْ لَا يَسْـَٔلُونَ ٱلنَّاسَ إِلْحَافًا ﴾ (نه به یې پیژنې (ای مخاطبه!) په څیرو دعلائمو دتواضع او ځور) ددوی سره، نه کوي دوی سوال له خلکو ځنې په سختې (الحاح او کوښښ) سره) یعني له دې سره، سره دوی هیڅکله سوال په الحاح سره له خلکو څخه نکوي او چا بیا ویلې معنا یې داده چې دوی که چیري سوال هم کوي هغه په لطف او نرمي

سره كوي ﴿ وَمَا تُنفِقُوا۟ مِنْ خَيْرٍ فَإِنَّ ٱللَّهَ بِهِۦ عَلِيمٌ ﴾ او هر شی چې تاسي صرفوئ له خيره (مال نه) پس الله په هغه باندې هم ښه عالم او پوه دی) او تاسو ته به ښه جزاء باندي درکوي ﴿ ٱلَّذِينَ يُنفِقُونَ أَمْوَٰلَهُم بِٱلَّيْلِ وَٱلنَّهَارِ سِرًّا وَعَلَانِيَةً ﴾ (هغه کسان چې صرفوي مالونه خپل (د الله په لاره کې) په شپه او په ورځ کې په پټ او ښکاره) يعني هغوی چې د الله په لار کې د هغه د خوښې لپاره په ټولو وختونو کې که شپه وي او که ورځ او په ټولو حالاتو کې که پټ وي او که ښکاره خپل مالونه لګوي. ﴿ فَلَهُمْ أَجْرُهُمْ عِندَ رَبِّهِمْ وَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ ﴾ (پس شته دوی ته اجر (ثواب) د دوی په نزد د رب د دوی او نشته هيڅ ډول ويره په دوی باندي او نه به دوی هيڅکله غمجن کيږي) يعنی دوی ته به د خپل انفاق ثواب ورکول کيږي د قيامت په ورځ به ورباندي ويره نه وي او نه به د دنيا په پاتې کيدلو غمجن شي.

بلاغت:

١-(وما انفقتم من نفقة) دلته د (انفقتم) او (نفقة) تر مينځ د جناس صنعت دی او همدا راز د (نذرتم) او (نذر) تر مينځ.

٢- پدي جمله کې چې فرمايي: (ان تبدوا الصدقات) په (ابداء) او (اخفاء) کې لفظي طباق دی او همدا رنګه د (ليل) او (نهار) او (سر) او (علانية) تر مينځ نو موړی صنعت راغلی دی

٣-(وانتم لاتظلمون) دلته اطناب راغلی ځکه چې له دي کلمي چې (يوف اليکم) څخه وروسته راغلي او د غه معنی د هغه په ضمن کې پرته ده.

فائدي او ګټي:

ځينو د حکمت خاوندانو ويلي چې: که چا د رسره ښه وکړل هغه خپاره او ښکاره کړه او که تا له چا سره ښه وکړل هغه پټ کړه او داسې راغلي دي:

ان الجميل اذا اخفيته ظهر يخفي صنائعه والله يظهرها

هغه چې نيکي کوي پټوي يې خو الله يې ښکاره کوي بيشکه ښائسته اعمال چې پټ هم کړي هغه ښکاره يږي

الله تعالی فرمايي:

﴿ ٱلَّذِينَ يَأْكُلُونَ ٱلرِّبَوٰا۟ لَا يَقُومُونَ إِلَّا كَمَا يَقُومُ ٱلَّذِى يَتَخَبَّطُهُ ٱلشَّيْطَٰنُ مِنَ ٱلْمَسِّ ۚ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمْ قَالُوٓا۟ إِنَّمَا ٱلْبَيْعُ مِثْلُ ٱلرِّبَوٰا۟ ۗ وَأَحَلَّ ٱللَّهُ ٱلْبَيْعَ وَحَرَّمَ ٱلرِّبَوٰا۟ ۚ فَمَن جَآءَهُۥ مَوْعِظَةٌ مِّن رَّبِّهِۦ فَٱنتَهَىٰ فَلَهُۥ مَا سَلَفَ وَأَمْرُهُۥٓ إِلَى ٱللَّهِ ۖ وَمَنْ عَادَ فَأُو۟لَٰٓئِكَ أَصْحَٰبُ ٱلنَّارِ ۖ هُمْ فِيهَا خَٰلِدُونَ ﴿٢٧٥﴾ يَمْحَقُ ٱللَّهُ ٱلرِّبَوٰا۟ وَيُرْبِى ٱلصَّدَقَٰتِ ۗ وَٱللَّهُ لَا يُحِبُّ كُلَّ

كَفَّارٍ أَثِيمٍ ﴿٢٧٦﴾ إِنَّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ وَأَقَامُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتَوُاْ ٱلزَّكَوٰةَ لَهُمْ أَجْرُهُمْ عِندَ
رَبِّهِمْ وَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ ﴿٢٧٧﴾ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَذَرُواْ مَا بَقِيَ مِنَ ٱلرِّبَوٰٓاْ إِن كُنتُم
مُّؤْمِنِينَ ﴿٢٧٨﴾ فَإِن لَّمْ تَفْعَلُواْ فَأْذَنُواْ بِحَرْبٍ مِّنَ ٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ وَإِن تُبْتُمْ فَلَكُمْ رُءُوسُ أَمْوَٰلِكُمْ لَا تَظْلِمُونَ وَلَا
تُظْلَمُونَ ﴿٢٧٩﴾ وَإِن كَانَ ذُو عُسْرَةٍ فَنَظِرَةٌ إِلَىٰ مَيْسَرَةٍ وَأَن تَصَدَّقُواْ خَيْرٌ لَّكُمْ إِن كُنتُمْ تَعْلَمُونَ
﴿٢٨٠﴾ وَٱتَّقُواْ يَوْمًا تُرْجَعُونَ فِيهِ إِلَى ٱللَّهِ ثُمَّ تُوَفَّىٰ كُلُّ نَفْسٍ مَّا كَسَبَتْ وَهُمْ لَا يُظْلَمُونَ ﴿٢٨١﴾

البقرة: ۲۷۵-۲۸۱

مناسبت او تړاو:

خرنګه چې الله تبارک وتعالی د پاکیزه مالونو څخه د صدقې او انفاق کولو امر وفرمایه او د الله په لار کې د مال صرفولو هڅونه یې وکړه نو دلته یې د هغه مقابل ذکر کړ چې هغه ناپاکه مال او ربوا (سود) دي هغه پلیت کسب چې بخل او ناپاکې پکې دي په داسي حال کې چې صدقه ورکول، سخا او پاکیزه توب دی او سمدستي وروسته یي له پاکیزه مال څخه د دغه پلیت مال ذکر وفرمایل څکه چې وايي: وبضدها تتميز الاشياء، او شیان د یو بل په ضد سره پیژندل کیږي.

لغتونه:

(الرباء) په لغت کې زیاتوالي ته وايي او له دي څخه دي (ربوة) او (رابية) په شرعي اصطلاح کې هغه زیاتوالی دی چې پور ورکوونکی یې له پوروړي څخه د مودې په بدل کې تر اصلي مال پورته تر لاسه کوي. (يتخبطه) تخبط هغه وهلو ته وايي چې ناسم وي لکه چې اوښ په خپله ښپږ مځکه وهي او هغه چاته ویل کیږي چې کار کوي خو لاره نه مومي او د شیطان تخبط د هغه له لاسه لیونتوب او بیهوښي ته ویل کیږي. (المس) لیونتوب او جنون په اصل کې مس لاس وروړلو ته وايي او لکه چې شیطان لاس وروړي بیا تري لیونتوب پیدا شي. (سلف) تیر شوی وخت لکه چې وايي (سالف الدهر) یعني تیره شوې زمانه (يمحق) محق د یو څیز نقصان او کمبود ته وايي لکه چې د میاشتې کموالي ته (محاق) ویل کیږي داسې راغلي چې الله کمول او هغه کم شول. (اثيم) ډیر ګنهګار ته وايي هغه چې په ګناهونو کې غوپه وي

د نزول سبب:

دثقیف د قبیلې د بني عمرو خلکو په بني المغيرة توکم باندي پورونه باندي وو کله چې یې وخت پوره شو نو خپل پور او په هغه د پاسه ګټه یې هم تري غوښته نو بیا دا آیت نازل شو: (يا ايها الذين آمنوا اتقوا الله وذروا مابقى من الربوا ان كنتم مؤمنين فان لم تفعلوا فاذنوا بحرب من الله ورسوله...) نو د ثقیف قبیلې وویل زموږ توان نشته چې له الله سره وجنګیږو توبه یې وایستله او یوازي خپل پور یې څني واخیست.[1]

[1] - البحر الميحط ۲۳۷/۲.

تفسير:

﴿ ٱلَّذِينَ يَأْكُلُونَ ٱلرِّبَوٰاْ لَا يَقُومُونَ إِلَّا كَمَا يَقُومُ ٱلَّذِى يَتَخَبَّطُهُ ٱلشَّيْطَٰنُ مِنَ ٱلْمَسِّ ﴾ (هغه كسان چې خوري سود (له خلكو) نه پاځيږي دوی (دقيامت په ورځ) مگر (پاځيږي داسي) لكه چې پاځيږي هغه څوک چې شيطان يې حواس خراب كړي وي له خپله اثره) يعني هغه كسان چې سود خوري او دخلكو وينې څېښي نو دقيامت په ورځ به له خپلو قبرونو داسي پاځي لكه چې پيرياني ليوني پورته كيږي او لويږي به ، سم به نشې تلای په يوه بله خوا به ړنگيږي ، دوی به پداسې فضاحت او شرمندگۍ كې دمحشر خلک ويني. ﴿ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمْ قَالُوٓاْ إِنَّمَا ٱلْبَيْعُ مِثْلُ ٱلرِّبَوٰاْ ﴾ (دا په سبب ددې چې دوی ويل چې بيشكه داخبره ده چې تجارت خو هم داسې دی (په جواز كې) لكه سود) يعني ددوی دغه شان پاځيدنه ددې په سبب دی چې دوی دالله جل جلاله حرام ته حلال ويل او هغه داچې دوی سود او سوداگري دواړه يو ډول بللي نو ولي حرام شي؟ الله ددوی په رد كې فرمايي: ﴿ وَأَحَلَّ ٱللَّهُ ٱلْبَيْعَ وَحَرَّمَ ٱلرِّبَوٰاْ ﴾ (حال داچې حلال كړی دی الله تجارت او حرام كړی يې دی سود) يعني الله سوداگري روا كړي چې په هغه كې دمنافعو تبادله دی او سود يې ځكه ناروا كړی چې په هغه كې دفرد او ټولنې ضرر دی ځكه دپور وړي له زيار او غوښو څخه راپري كيږي او پور وركونكی يې وړي. ﴿ فَمَن جَآءَهُۥ مَوْعِظَةٌ مِّن رَّبِّهِۦ فَٱنتَهَىٰ فَلَهُۥ مَا سَلَفَ ﴾ (پس هر څوک چې راشي ده ته پند له (طرفه) درب دده پس بيا منع شو (له سوده) پس ده لري دي هغه شی چې پخوا يې اخيستي دی. ﴿ وَأَمْرُهُۥٓ إِلَى ٱللَّهِ ﴾ (او معامله يې الله ته سپارلي ده) كه يې اراده شوه وبه يې بښي او كه يې وغوښتل عذاب به وركړي ﴿ وَمَنْ عَادَ فَأُوْلَٰٓئِكَ أَصْحَٰبُ ٱلنَّارِ هُمْ فِيهَا خَٰلِدُونَ ﴾ (او هر څوک چې بيرته وگرځيد (سود ته او حلال يې وگڼه) نو دغه كسان څښتنان ددوزخ دي چې دوی به پدې اور كې تل وي، يعني هغه څوک چې بيا يې دسود كاروبار ته مخه كړه اود الله جل جلاله له تحريم نه وروسته يې بيا حلال وگڼل دوی به تل تر تله ددوزخ په اور كې وي. ﴿ يَمْحَقُ ٱللَّهُ ٱلرِّبَوٰاْ وَيُرْبِى ٱلصَّدَقَٰتِ ﴾ (ورک كوي الله (بركت) دسود او زياتوي (ثواب) دخيراتونو) يعني الله تعالى دسود خير او ښيگڼه بيا يې كه څه هم په ظاهر كې ډير څرگنديږي او دصدقاتو او خيراتونو مال زياتوي او وده وركوي كه څه هم په ښكاره توگه هغه نقصان معلوميږي. ﴿ وَٱللَّهُ لَا يُحِبُّ كُلَّ كَفَّارٍ أَثِيمٍ ﴾ (او الله دوستي نه كوي له هر سخت كافر گنهگار سره) يعني الله جل جلاله هغه دكفور زړه خاوند چې ناشكره او دحرامو حلالونكی وي) نه خوښوي چې قول او فعل (كړه ، وړه) يې له گناه نه ډک وي په آيت شريف كې دربا (سود) په هكله تغليظ دي او ددې خبرتيا وركوي چې داعمل دكفارو دی. بيا الله (جل جلاله) دفرمان منونكو مؤمنانو مدح كوي كوم چې لمنځونه دروي او زكاتونه وركوي. فرمايي: ﴿ إِنَّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ وَأَقَامُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتَوُاْ ٱلزَّكَوٰةَ ﴾ (بيشكه هغه كسان چې ايمان يې راوړی دی او كوي دوی ښه عملونه او قائموي دوی (سم اداء كوي سره له ټولو حقوقو په ترتيب) لمونځ او وركوي دوی زكات، ﴿ لَهُمْ أَجْرُهُمْ

عِندَ رَبِّهِمْ وَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ ﴾ (شته دوی لره ثواب ددوی په نزد درب ددوی او نشته هیڅ (ډول) ویره په دوی او نه به دوی (هیڅکله) غمجن کیږي (دثواب په نقصان سره) یعني دوی لره په جنت کې بشپړ ثواب دی دقیامت په ورځ به هیڅ ویره وربانديي نه وي او نه به هم ددنیا په پاتې کیدلو خواشیني کیږي. ﴿ يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ ٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ وَذَرُوا۟ مَا بَقِىَ مِنَ ٱلرِّبَوٰٓا۟ إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ ﴾ (ای هغو کسانو! چې ایمان یې راوړی دی (ای مؤمنانو!) وویریږئ له الله نه او پریږدئ هغه دسود پاتې شوني که تاسې مؤمنان یاست) یعني له الله څخه وویریږئ او دهغه ځارنه په خپلو ټولو عملونو کې په یاد ولرئ او هغه دسود پاتی چې په خلکو لرئ، پریږدئ که رښتوني او په حق مؤمنان یاست. ﴿ فَإِن لَّمْ تَفْعَلُوا۟ فَأْذَنُوا۟ بِحَرْبٍ مِّنَ ٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ ﴾ (پس که ونکړ تاسې (داکار) نو اګاه شئ (ځان تیار کړئ) تاسې په جنګ له (طرفه د) الله او رسول دده، یعني که تاسو دسود کاروبار نه پرېښود نو دالله او دهغه درسول په جنګ باور ولرئ. ابن عباس رضی الله عنهم وايي چې سود خور ته به دقیامت په ورځ وویل شي: وسله دي دجنګ لپاره را واخلي ﴿ وَإِن تُبْتُمْ فَلَكُمْ رُءُوسُ أَمْوَٰلِكُمْ لَا تَظْلِمُونَ وَلَا تُظْلَمُونَ ﴾ (او که توبه ګاره شوئ تاسې (له اخیستلو دسود څخه) نو شته تاسو لره اصل دمالونو ستاسې مه کوئ تاسې ظلم (چې سود به هم غواړئ) او نه دی ظلم کاوه شي پر تاسې (چې له راس المال څخه مو څه ستون او کم کړی شي) یعني که چیري مو له سود خوړلو توبه وایستله او سود مو پرېښود نو تاسې ته به خپل مال درکول کیږي نه به پکې څه زیاتوالی او نه تاوان وي. ﴿ وَإِن كَانَ ذُو عُسْرَةٍ فَنَظِرَةٌ إِلَىٰ مَيْسَرَةٍ ﴾ (اوکه چیري پور وړی ناداره وو پر تاسې ده انتظار کول پوروړي ته تر وخته دپراخي د پوروړي) یعني که چیري قرض وړونکی بیوزله او ناداره وو نو تاسې به وخت ورکوئ تر څو چې یو څه وموميي هسې به نکوئ لکه دجاهلیت دوخت خلک پوروړي ته به یې ویل چې پور مي راکړه او که نه وي بیا یې سود او ګټه هم غواړم ﴿ وَأَن تَصَدَّقُوا۟ خَيْرٌ لَّكُمْ ۖ إِن كُنتُمْ تَعْلَمُونَ ﴾ (او داچې ببښنه وکړئ تاسې (پوروړي ته) خیر (ډیر بهتره) ده تاسې ته که یې تاسې چې پوهیږي (په هغه خیر) یعني که مو هغه پور یو مخ ایزه پوروړي ته وروبښل دا ډیر بهتر او دسخا کار دی که تاسې پوهیږي چې داکار خیر او ذکر جمیل دی او زیات اجر پکې شته وروسته بیا الله تعالی خپل بندګان دهغې ورځې له هیبت څخه ویروي چې هلته پرته له نیک عمل څخه هیڅ هم سړي ته ګټه نه رسوي فرمایي: ﴿ وَٱتَّقُوا۟ يَوْمًا تُرْجَعُونَ فِيهِ إِلَى ٱللَّهِ ۖ ثُمَّ تُوَفَّىٰ كُلُّ نَفْسٍ مَّا كَسَبَتْ وَهُمْ لَا يُظْلَمُونَ ﴾ (او وویریږئ (له عذابه) دهغې ورځې چې بیرته بیول کیږي تاسې په هغې کې طرف دالله ته بیا پوره ورکول شي هر نفس ته (جزا) دهغه عمل دده (چې ده خیر یا شر) کړي وي او په دوی به ظلم ونکړي شي، یعني دهغې ورځې څخه چې تاسو الله ته رجوع کوئ وویریږئ هلته چې هر چاته دخپلو اعمالو بشپړ حساب ورکول کیږي او په تاسو به هیڅ ظلم نه کاوه شي دغه آیتونه پدي مبارک جامع او مانع آیت شریف سره پای ته ورسیدل هغه چې دهغه له نزول سره سم وحي هم پای ته ورسیده او داد قرآنکریم دنزول تر ټولو وروستنی آیت دی. پدې کې بندګانو ته دقیامت دسختې ورځې څخه دویرې

يادونه شوي ده ، ابن كثير وايې چي ددي آيت له نزول څخه نهه ورځي وروسته رسول الله صلى الله عليه وسلم وفات او رحلت يې وفرمايه.

بلاغت:

١- (انما البيع مثل الربوا) ، دلته هغه ډول تشبيه ده چي ورته (مقلوبه تشبيه) وايې او دا تر ټولو تشبيهاتو تشبيه لوړ ډول دی ځکه چي مشبه يې دمشبه به پر ځای راوړي. او اصل په آيت کې داده چي وويل شي (الربا مثل البيع) خو ددوی عقيده دربوا او سود په حلال والي کې دومره پخه وه چي سود يې اصل ګرځولی او له هغه سره يې دبيعي (تجارت) تشبيه کړي ده.

٢- پدې کلام کې چي فرمايې: (احل الله البيع وحرم الربوا) د(احل) او (حرم) ترمينځ دطباق صنعت دی او همدا رنګه د (يمحق) او (يربي) لفظونو ترمينځ.

٣- (فاذنوا بحرب ...) پدې کلام کې تنکير دتهويل لپاره دی يعني هسي ستر جنګ چي دهغه د سترتوب اندازه هيڅوک نشي لګولای دغه افاده ابو السعود کړي ده.

٤- (لاتظلمون ولاتظلمون) دلته دبديعي محسناتو څخه د (جناس ناقص) صنعت راغلی دی ځکه يوازې شکلي اختلاف موجود دی.

٥- پدې کلام کې چي فرمايې: (واتقوا يوما) ، تنکير دتضخيم او تهويل لپاره دی.

فوائد او ګټې:

لومړی ګټه: پدې کلام کې چي فرمايې :(ياكلون الربوا) له نفع اخيستلو څخه يې په خوړلو تعبير وفرمايل ځکه په منافعو کې غالباً خوراک وي او پدې کې ورکونکی اخيستونکی دواړه راځي ، حضرت جابر رضی الله عنه په يو حديث کې فرمايې: (لعن رسول الله صلى الله عليه وسلم اكل الربوا، مؤكله وكاتبه وشاهديه ، وقال: هم سواء) يعني رسول الله صلى الله وسلم دسود په خوړونکي او وکيل نيونکي ، ليکونکي او دواړو شاهدانو لعنت ويلی او ويلي يې دي چي دویٔ برابر دي.

دوهمه فائده: الله پاک سود خوړونکي له هغه چا سره تشبيه کړي چي پيريانو (شيطان) نيولي وي ځکه الله ددوی په نسونو کې سود پړسولی او دوی درانه شوي چي پورته کيږي بيرته خملي او غورځي او سعيد بن جبير وايې چي دغه دسود خوړونکي دقيامت په ورځ نښه او علامه ده.

دريمه فائده: داسلام شهيد سيدقطب رحمة الله عليه په خپل تفسير کې ددي آيت سره چي: (لايقومون الا كما يقوم الذي يتخبطه الشيطان من المس) داسې ليکي: "دايوه ترهونکي حمله او يو ويرونکی انځور دی او هيڅ معنوي تهديد به دومره اغيزناک نه وي لکه چي دغه ژوندی مجسم تصوير هغه چي دشيطان لاس وروړي ليوني پورته کيدل دي زياتره تفسيرونه دغه پاڅيدل دقيامت دورځي په هکله بولي خو موږ همدغه حال ددغه لار ورکي (ګمراه) بشريت دمځکې په مخ وينو چي دا د(ربوي نظام) پايلي دي هغه عالم چي اوس موږ پکې اوسو داضطراب ، لالهاندتوب ، ويري او عصبي ،نفسياتي ناروغيو څخه ډک دي سره له دي چي مادي مدنيت خپل اوج ته رسيدلي دی او ټولي مادي

آسانتياوې اوسوکالي شته خو بياهم نړۍ په جنګ او جګړو اخته ده او هره شيبه ديوې ورانونکي ستري
جګړې شونتيا ليدل کيږي. داعصابو شخړې او اضطراباتو هغه دناورين جګړې دلته او هلته رواني دي
چې هيڅ پريکړون نلري "([1]) او دا ښه رايه ده.

ثلورمه فائده: بخاري له ابي هريرة رضی الله عنه څخه روايت کوي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: (كان رجل يداين الناس فكان يقول لفتاه اذا اتيت معسرا فتجاوز عنه لعل الله ان يتجاوز عنا فلقى الله فتجاوز عنه[2]) پخوا يوسړی وو چې خلکو ته به يې پور ورکاوو او نوکرته يې ويل که چيري ناداره پوروړی وو هغه ته ښښنه کوه ښايې الله موږ ته ښښنه وکړي او کله چې وفات شو، الله ورته ښښنه وکړه.

***

الله تعالی فرمايي:

﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِذَا تَدَايَنتُم بِدَيۡنٍ إِلَىٰٓ أَجَلٖ مُّسَمّٗى فَٱكۡتُبُوهُۚ وَلۡيَكۡتُب بَّيۡنَكُمۡ كَاتِبُۢ بِٱلۡعَدۡلِۚ وَلَا
يَأۡبَ كَاتِبٌ أَن يَكۡتُبَ كَمَا عَلَّمَهُ ٱللَّهُۚ فَلۡيَكۡتُبۡ وَلۡيُمۡلِلِ ٱلَّذِي عَلَيۡهِ ٱلۡحَقُّ وَلۡيَتَّقِ ٱللَّهَ رَبَّهُۥ وَلَا يَبۡخَسۡ مِنۡهُ
شَيۡـٔٗاۚ فَإِن كَانَ ٱلَّذِي عَلَيۡهِ ٱلۡحَقُّ سَفِيهًا أَوۡ ضَعِيفًا أَوۡ لَا يَسۡتَطِيعُ أَن يُمِلَّ هُوَ فَلۡيُمۡلِلۡ وَلِيُّهُۥ بِٱلۡعَدۡلِۚ وَٱسۡتَشۡهِدُواْ
شَهِيدَيۡنِ مِن رِّجَالِكُمۡۖ فَإِن لَّمۡ يَكُونَا رَجُلَيۡنِ فَرَجُلٞ وَٱمۡرَأَتَانِ مِمَّن تَرۡضَوۡنَ مِنَ ٱلشُّهَدَآءِ أَن تَضِلَّ إِحۡدَىٰهُمَا
فَتُذَكِّرَ إِحۡدَىٰهُمَا ٱلۡأُخۡرَىٰۚ وَلَا يَأۡبَ ٱلشُّهَدَآءُ إِذَا مَا دُعُواْۚ وَلَا تَسۡـَٔمُوٓاْ أَن تَكۡتُبُوهُ صَغِيرًا أَوۡ كَبِيرًا إِلَىٰٓ أَجَلِهِۦۚ
ذَٰلِكُمۡ أَقۡسَطُ عِندَ ٱللَّهِ وَأَقۡوَمُ لِلشَّهَٰدَةِ وَأَدۡنَىٰٓ أَلَّا تَرۡتَابُوٓاْ إِلَّآ أَن تَكُونَ تِجَٰرَةً حَاضِرَةٗ تُدِيرُونَهَا بَيۡنَكُمۡ
فَلَيۡسَ عَلَيۡكُمۡ جُنَاحٌ أَلَّا تَكۡتُبُوهَاۗ وَأَشۡهِدُوٓاْ إِذَا تَبَايَعۡتُمۡۚ وَلَا يُضَآرَّ كَاتِبٞ وَلَا شَهِيدٞۚ وَإِن تَفۡعَلُواْ فَإِنَّهُۥ
فُسُوقُۢ بِكُمۡۗ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَۖ وَيُعَلِّمُكُمُ ٱللَّهُۗ وَٱللَّهُ بِكُلِّ شَيۡءٍ عَلِيمٞ ﴿٢٨٢﴾ ۞ وَإِن كُنتُمۡ عَلَىٰ سَفَرٖ وَلَمۡ
تَجِدُواْ كَاتِبٗا فَرِهَٰنٞ مَّقۡبُوضَةٞۖ فَإِنۡ أَمِنَ بَعۡضُكُم بَعۡضٗا فَلۡيُؤَدِّ ٱلَّذِي ٱؤۡتُمِنَ أَمَٰنَتَهُۥ وَلۡيَتَّقِ ٱللَّهَ رَبَّهُۥۗ وَلَا تَكۡتُمُواْ
ٱلشَّهَٰدَةَۚ وَمَن يَكۡتُمۡهَا فَإِنَّهُۥٓ ءَاثِمٞ قَلۡبُهُۥۗ وَٱللَّهُ بِمَا تَعۡمَلُونَ عَلِيمٞ ﴿٢٨٣﴾ ﴾ البقرة: ٢٨٢ - ٢٨٣

مناسبت او تړاو:

کله چې الله سود او دهغه بدوالي ذکر کړ چې سود دپوروړي له غوښو او وينو څخه غوڅول دي او دايو پليت کسب دی چې اسلام څنې کرکه کوي او حرام يې ګڼي ورپسې يې قرض حسن راووړ هغه چې

---

[1] - فی ظلال القرآن ٣/٨٢.

[2] - وګوره زموږ کتاب روائع البيان ١/٣٨٩ هغه بحث چې دسود په تحريم کې راغلی دی او دشريعت حکمت بيانوي

ګټه او سود پکې نه وي او په ځانګړې توګه يې د پور سوداګري ، ګروي احکام يې په ترځ کې راوړي چې داټولې لارې چارې د مال د زياتوالي لپاره ګټورې او له شرافت څخه ډکې دي. په دوی کې د فرد او ټولنې (صلاح مصلحت) او ښيګڼې خوندي دي. دغه د مداينت آيت شريف د قرآن کريم تر ټولو آيتونو ستر آيت دی چې دغه ګواکې د اسلام مقدس دين هغه پاملرنه ښيي چې د اقتصادي نظام په هکله يې لري.

لغتونه:

(وليملل) له املاء څخه اخيستل شوی او ليکونکې ته دويلو په معنی ده . **(يبخس)** له بخس څخه اخيستل شوی او نقص ته وايي. **(تسئموا)** سآم خفګان ته وايي. **(اقسط)** عادلانه تر **(قسط)** د قاف په کسره سره عدل ته وايي لکه چې (اقسط الرجل) ووايي هلته چې عدل وکړي او د قاف په فتحه سره بيا ظلم ته وايي څکه الله جل جلاله فرمايي:(**واما القاسطون فکانوا لجهنم حطبا**) **(تضل)** ابو عبيد وايي چې د **(تضل)** معنی نسيان او هيره دی چې دلته د شهادت ديو څه جزء دهيرولو په معنی دی.(**ادنی**) ډير نژدی.**(ترتابوا)** له ريب څخه اخيستل شوی شک کولو ته وايي(**فرهان**)له رهن څخه اخيستل شوی او هغه څيز ته ويل کيږي چې پور وړي ئې پور ورکونکي ته د پور د کره کولو (**توثيق**) لپاره ګرو ورکوي.

تفسير:

﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِذَا تَدَايَنتُم بِدَيۡنٍ إِلَىٰٓ أَجَلٖ مُّسَمّٗى فَٱكۡتُبُوهُۚ ﴾ (ای هغو کسانو چې ايمان مو راوړی (ای مؤمنانو !) کله چې له يو بل سره په پور معامله کوئ تاسي تر ټاکلې مودې پورې، نو وليکئ تاسي هغه (پور- قرض) او دغه د الله جل جلاله له لوري خپلو بندګانو ته ارشاد دی تر څو هغه معاملات چې وخت او موده پکې وي ، وليکي څکه دغه بيا ښه په ياد او ټينګ معلوم وي وخت او اندازه د پور به څرګنده وي. ﴿ وَلۡيَكۡتُب بَّيۡنَكُمۡ كَاتِبُۢ بِٱلۡعَدۡلِۚ ﴾ (او ودي ليکي (کاغذ د پور) په مينځ ستاسي کې يو کاتب په عدل (انصاف سره نه کم او نه زيات) يعني هسې ليکونکی چې هغه عادل او مامؤن وي د يو لوري هم نکوی دغه ستاسو معامله دي وليکي. ﴿ وَلَا يَأۡبَ كَاتِبٌ أَن يَكۡتُبَ كَمَا عَلَّمَهُ ٱللَّهُۚ فَلۡيَكۡتُبۡ ﴾ (او منع دي نه راوړي هيڅ يو کاتب (ددې کاغذ) له ليکلو څخه هغسې چې الله ده ته ښوونه کړې نو ودي ليکي. ﴿ وَلۡيُمۡلِلِ ٱلَّذِي عَلَيۡهِ ٱلۡحَقُّ ﴾ (يعني پوروړی دی ليکونکي ته دليکلو لپاره بيان وکړي چې پر ده باندې حق دی) ﴿ وَلۡيَتَّقِ ٱللَّهَ رَبَّهُۥ وَلَا يَبۡخَسۡ مِنۡهُ شَيۡـٔٗاۚ ﴾ (او ودي ويريږي (کاتب) له الله نه چې رب د ده دی او نه دي کموي له هغه حقه هيڅ شي) ﴿ فَإِن كَانَ ٱلَّذِي عَلَيۡهِ ٱلۡحَقُّ سَفِيهًا أَوۡ ضَعِيفًا ﴾ (پس که هغه څوک چې پر ده باندې حق دی (کم عقل) (مبذر) او يا ضعيف لکه ووړ (کوچنی) يا ډير زوړ (بوډا) وی.

﴿ أَوۡ لَا يَسۡتَطِيعُ أَن يُمِلَّ هُوَ فَلۡيُمۡلِلۡ وَلِيُّهُۥ بِٱلۡعَدۡلِۚ ﴾ (يايې توان نه وي چې بيان وکړي (چې ګونګ وي يا دليکونکي په ژبه نه پوهيږي) نو بيان دي وکړي ولي (واکدار) دده په عدل (انصاف) سره چې سمه خبره

ووايې نه كمه نه زياته . ﴿ وَٱسْتَشْهِدُواْ شَهِيدَيْنِ مِن رِّجَالِكُمْ ﴾ (اوشاهد ونيسئ تاسي په خپلو معاملاتو كې دوه شاهدان له سړيو ستاسې څخه (چې مسلمانان ، عاقلان ،بالغان او اصيلان وي) ترڅو دا په توثيق كې لازياتوالى راوړي ﴿ فَإِن لَّمْ يَكُونَا رَجُلَيْنِ فَرَجُلٌ وَٱمْرَأَتَانِ مِمَّن تَرْضَوْنَ مِنَ ٱلشُّهَدَآءِ ﴾ (پس كه نه وو دوه نارينه (شاهدان) نو يو سړى دي وي او دوې ښځي له هغو كسانو چې تاسي ترې راضي ياست د (عدالت له كبله) له شاهدانو. ﴿ أَن تَضِلَّ إِحْدَىٰهُمَا فَتُذَكِّرَ إِحْدَىٰهُمَا ٱلْأُخْرَىٰ ﴾ (د ښځو دا تعدد ددي لپاره دى كه هيره كړي (دا شاهدي) يو ه له دوى دواړو نه نو ورپه ياد به كړي هغه يوه له دي دواړو (چې ورپه ياد وي) هغې بلې ته او همدا دوه والي د وجوب علت دى ځكه په دوى كې هيره زياته وي.

﴿ وَلَا يَأْبَ ٱلشُّهَدَآءُ إِذَا مَا دُعُواْ ﴾ (او نه دي منع راوړي شاهدان كله چې وبلل شي دوى شاهدي ته) يعني شاهدان دي د شاهدې له وركولو او يا له منلو او تحمل څخه منع نكوي. ﴿ وَلَا تَسْـَٔمُوٓاْ أَن تَكْتُبُوهُ صَغِيرًا أَوْ كَبِيرًا إِلَىٰٓ أَجَلِهِۦ ﴾ (او مه خوابدي كيږئ (اى معامله دارانو) له دي چې وليكئ دا حق كه) لږ وي كه ډېروي تر نيتې د هغې پوري ﴿ ذَٰلِكُمْ أَقْسَطُ عِندَ ٱللَّهِ وَأَقْوَمُ لِلشَّهَٰدَةِ وَأَدْنَىٰٓ أَلَّا تَرْتَابُوٓاْ ﴾ دا (ليكل ستاسې پوره عدل دى په نزد د الله او ښه مرسته كونكى او ډېر محكم دى د پاره (د اداء د شاهدي) او ډېر نژدې دى دي ته چې شكمن نه شي تاسي (د دې معاملي په نيټه او مقدار كې) ﴿ إِلَّآ أَن تَكُونَ تِجَٰرَةً حَاضِرَةً تُدِيرُونَهَا بَيْنَكُمْ ﴾ (مګر كه وي (دا معامله ستاسې) تجارت په حضور (لاس په لاس) چې چلوئ يې تاسي (په راكړه ، وركړه سره ،پخپلو منځونو كې) يعني كله چې بيعه لاس په لاس او ثمن يې اخيستل شوى وي. ﴿ فَلَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ أَلَّا تَكْتُبُوهَا ﴾ (پس نشته پر تاسې هيڅ ګناه چې ونه ليكئ تاسي (دا معامله) ځكه محذور نشته ﴿ وَأَشْهِدُوٓاْ إِذَا تَبَايَعْتُمْ ﴾ (او شاهدان ونيسي تاسي كله چې يو له بل سره پلورل يا پيرودل كوي تاسي) يعني تاسي هر وخت كه بيع جايزه وي او كه په پور ، شاهدان نيسي ځكه دا له اختلاف څخه ژغورندوئ وي ﴿ وَلَا يُضَآرَّ كَاتِبٌ وَلَا شَهِيدٌ ﴾ او ضرر دي نه رسوي ،كاتب او يا شاهد ته) . ﴿ وَإِن تَفْعَلُواْ فَإِنَّهُۥ فُسُوقٌۢ بِكُمْ ﴾ (او كه وكړ تاسې (دا كار د ضرر رسولو) نو بيشكه دا ګناه ده په تاسي پوري (تړلي) يعني كه تاسو هغه څه وكړل چې ځنې منع شوى ياست نو دالله له طاعت څخه مو سرغړونه وكړه. ﴿ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَيُعَلِّمُكُمُ ٱللَّهُ ﴾ (او وويريږئ له الله نه او ښوونه د (احكامو) كوئ تاسي ته الله) يعني له الله نه وويريږئ او څارنه يې وكړي تر څو دا سي علم دركړي چې د دنيا او آخرت نيكمرغي پكي وي. ﴿ وَٱللَّهُ بِكُلِّ شَىْءٍ عَلِيمٌ ﴾ (او الله په هرشي باندي ښه عالم دى د خلكو مصالح او عواقب د هر څيز ورته ښه معلوم دي . ﴿ وَإِن كُنتُمْ عَلَىٰ سَفَرٍ وَلَمْ تَجِدُواْ كَاتِبًا فَرِهَٰنٌ

مَّقْبُوضَةٌ ﴾ (او که وي تاسي په سفر باندي او پيدا مو نکړ کوم کاتب نو (واخلئ) ګروي قبض کړي شوي يعني دحق خاوند دي تر لاسه کړي ترڅو يې دپور لپاره توثيق وي. ﴿ فَإِنْ أَمِنَ بَعْضُكُم بَعْضًا فَلْيُؤَدِّ ٱلَّذِى ٱؤْتُمِنَ أَمَٰنَتَهُۥ وَلْيَتَّقِ ٱللَّهَ رَبَّهُۥ ﴾ (پس که امين وګڼل ځينو ستاسي ځيني نور (چي ګروي يې وانه خيستله) نو اداء دي کړي هغه څوک چې امين ګرځولي شوی وي امانت دده (دپور ورکونکي) او ودي ويرېږي له الله څخه چې رب دده ده. يعني که پور ورکونکی له پوروړي څخه ګروي وانه اخستله چي امين يې وباله نو پوروړي دي هم دپور دخاوند حق پوره ادا کړي او له خپل پروردګار څخه دي وويرېږي دامانت حقوق دي پرځای کړي ﴿ وَلَا تَكْتُمُوا۟ ٱلشَّهَٰدَةَ ۚ وَمَن يَكْتُمْهَا فَإِنَّهُۥٓ ءَاثِمٌ قَلْبُهُۥ ﴾ (او مه پټوئ شهادت او هر چا چي پټه کړه دا شاهدي نو بيشکه دی ګنهکار دی زړه دده) چي دزړه خاوند فاجر او زړه يې ځکه ځانګړی کړ چې هغه دنورو اندامونو باچا دی کله چي زړه سم وي ټول اندامونه او غړي سم وي او چي فاسد شي ټول بدن ورسره فاسدېږي. ﴿ وَٱللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ عَلِيمٌ ﴾ (او الله په هغو کارونو چې تاسي يې کوئ ښه عالم دی) يعني دبندګانو هيڅ عمل او فعل ځني پټ نه دی.

بلاغت:

۱- پدي آيت شريف دفصاحت ډير ډولونه شته چي يو يې (جناس مغاير) دی او هغه پدي کلماتو کې (تداينتم بدين) او (استشهدوا شهيدين) بل په (اوتمن امانته) او په (يعلمکم ... او عليم) کې راغلي دي.

۲- دطباق صنعت چی پدې کلام کې :(صغيرا او کبيراً) او په (ان تضل ...او تذکر) کښې راغلی ځکه دلته ضلال دنسيان او هيري په معنا دی.

۳- همدارنګه په آيت شريف کې داطناب صنعت راغلی چې فرمايي :(فاکتبوه وليکتب بينکم کاتب بالعدل ولاياب کاتب) او همدا راز (فيملل الذي عليه الحق ....فان کان الذي عليه الحق) او دغسي په (ان تضل احداهما فتذکر احداهما الاخرى) کلام کښی اطناب دی

۴-(ايجاز بالحذف) چې دا ډير ځله راغلي او مثالونه يې (البحر المحيط) مؤلف راوړي دي.

۵- دالله جل جلاله لفظ په دريو جملو کې مکرر راغلی دی چي (واتقوا الله) او (ويعلمکم الله) او (والله بکل شئ عليم) چې دلته په زړونو کې دروعت او هيبت اچولو لپاره دي

۶- پدې کلام کې چې فرمايي: (وليتق الله ربه) دلته جمع راغلي په مينځ داسم جليل او نعت جميل کې او فائده يې دتحذير په هکله مبالغه دی.

فائده:

علم په دوه ډوله ده: کسبي او وهبي. لومړی ډول هغه علم دی چې زده کول یې په زیار، تحصیل او مذاکره پورې اړه لري او دوهم ډول یې هغه دی چې د تقوی او صالح اعمالو د کولو په نتیجه کې تر لاسه کیږي لکه چې الله تعالی فرمايي: (واتقوا الله ويعلمكم الله) او دغه راز علم ته (لدني) علم هم وايي چې الله فرمايي: (وآتيناه من لدنا علما) او دغه نافع علم دی چې الله جل جلاله یې هغو بندګانو ته وربښې چې متقين او پرهيزګاران وی، امام شافعي رحمه الله وايي:

شكوت الى وكيع سوء حفظى فارشدنى الى ترك المعاصى

واخبرنى بان العلم نور ونور الله لايهدى لعاصى

حضرت وكيع ته چې (سترعالم دی) ما دهيري او نسيان شكايت وكړ، هغه د ګناهونو د پرېښودلو لارښوونه راته وکړه. راته ويل يې چې علم نور او ځلا ده د الله پاک نور ګنهګارانو ته لاره نه مومي.

***

الله تعالى فرمايي:

﴿لِّلَّهِ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ ۗ وَإِن تُبْدُوا مَا فِي أَنفُسِكُمْ أَوْ تُخْفُوهُ يُحَاسِبْكُم بِهِ اللَّهُ ۖ فَيَغْفِرُ لِمَن يَشَاءُ وَيُعَذِّبُ مَن يَشَاءُ ۗ وَاللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ ﴿٢٨٤﴾ آمَنَ الرَّسُولُ بِمَا أُنزِلَ إِلَيْهِ مِن رَّبِّهِ وَالْمُؤْمِنُونَ ۚ كُلٌّ آمَنَ بِاللَّهِ وَمَلَائِكَتِهِ وَكُتُبِهِ وَرُسُلِهِ لَا نُفَرِّقُ بَيْنَ أَحَدٍ مِّن رُّسُلِهِ ۚ وَقَالُوا سَمِعْنَا وَأَطَعْنَا ۖ غُفْرَانَكَ رَبَّنَا وَإِلَيْكَ الْمَصِيرُ ﴿٢٨٥﴾ لَا يُكَلِّفُ اللَّهُ نَفْسًا إِلَّا وُسْعَهَا ۚ لَهَا مَا كَسَبَتْ وَعَلَيْهَا مَا اكْتَسَبَتْ ۗ رَبَّنَا لَا تُؤَاخِذْنَا إِن نَّسِينَا أَوْ أَخْطَأْنَا ۚ رَبَّنَا وَلَا تَحْمِلْ عَلَيْنَا إِصْرًا كَمَا حَمَلْتَهُ عَلَى الَّذِينَ مِن قَبْلِنَا ۚ رَبَّنَا وَلَا تُحَمِّلْنَا مَا لَا طَاقَةَ لَنَا بِهِ ۖ وَاعْفُ عَنَّا وَاغْفِرْ لَنَا وَارْحَمْنَا ۚ أَنتَ مَوْلَانَا فَانصُرْنَا عَلَى الْقَوْمِ الْكَافِرِينَ ﴿٢٨٦﴾﴾ البقرة: ٢٨٤ - ٢٨٦

مناسبت او تړاو:

د دې سورت پای په دې آيتونو وشو ځکه چې په سورت کې د ډېرو تکاليفو لکه: لمونځ، زکات، قصاص، روژه، حج، جهاد، طلاق، عدت، د سوداګرې او سود، قرض او پور يادونه شوې ده نو له دې سره مناسب وو چې د دغو اوامرو د راليږونکي ذکر وشي، هغه چې د ځمکې او آسمانونو خاوند دی او

هغه چې وغواړي هر څه په هر چا باندي لازمولای شي او داعمالو جزاء به په آخرت کې ورکول کیږي. نو دغه سورت پدې آیتونو سره پای ته رسول دوعید او تهدید په توګه دي.

لغتونه:

(اصرا) اصر په لغت کې دروند والي او شدت ته وایي، نابغه داسې راوړی: سخت تکلیفو ته څکه اصر وویل شو چې هغه هم دخاوند اوږي درنوي، لکه چې څرنګه چې عهد ته اصر وایي، څکه هغه هم دروند وي. (طاقة) په یو څه باندي توان او قدرت ته وایي، هسي ډول مصدر دی چې فعل یې ندی راغلی. (اعف عنا) عفو، بخشش او له ګناه څخه تیریدلو ته وایي. (واغفرلنا) غفران دګناه پټولو او ورک کولو ته وایي.

دنزول سبب:

کله چې دا آیت نازل شو چې: (وان تبدوا مافي انفسکم او تخفوه یحاسبکم به الله) درسول الله صلی الله علیه وسلم په اصحابانو سخته شوه او درسول الله صلی الله علیه وسلم په خدمت کښې یې داسې عرض وکړ: کله چې الله تعالی موږ په اعمالو مکلف کړو چې هغه لمونځ، روژه، زکات، جهاد او صدقه ده موږ یې طاقت او توان درلود خو دا آیت زموږ په توان کې نه راځي، رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل: ایا غواړئ لکه دپخوانیو اهل کتابو غوندي ووایاست چې: (سمعنا وعصینا) داسې وایاست چې (وامو اوریدل منو یې) یعنی (سمعنا واطعنا) کله چې دوی همدا وویل او ژبې یې وربانديوڅرخیدي، الله تعالی داسې آیت نازل کړ: (آمن الرسول بما انزل الیه من ربه والمؤمنون) او پخوانۍ آیت الله تعالی منسوخ کړ، داسې حکم نازل شو چې: (لایکلف الله نفساً الا وسعها لها ماکسبت وعلیها ماکتسبت ...)[1]

تفسیر:

﴿ لِّلَّهِ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلْأَرْضِ ﴾ (خاص الله لره دی هرهغه څه چې په آسمانونو کې دی او هر هغه څه چې په مځکه کې دي) یعني الله سبحانه دځمکي او آسمان دموجوداتو مالک او په هغوی خبردار دی ﴿ وَإِن تُبْدُوا۟ مَا فِيٓ أَنفُسِكُمْ أَوْ تُخْفُوهُ يُحَاسِبْكُم بِهِ ٱللَّهُ ﴾ او که ښکاره کړي تاسي هغه (ارادې او بدنیتونه) چې په زړونو ستاسې کې دي پټ کړي تاسي هغه حساب به وکړي له تاسي سره په هغه باندي الله ﴿ فَيَغْفِرُ لِمَن يَشَآءُ وَيُعَذِّبُ مَن يَشَآءُ ۗ وَٱللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ ﴾ پس مغفرت کوي هغه چاته چې اراده یې شي او په عذابوي هغه څوک چې اراده وکړي (الله دعذابولو یې) او الله په هر شي باندي ښه قادر دی.

---

[1] - اخرجه مسلم وانظر اسباب النزول للواحدي ص٥١.

دی. هسې الله چې دهغه په کولو سؤال نه کيږي او هغه له خلکو څخه د کولو پوښتنه کوي. ﴿ءَامَنَ ٱلرَّسُولُ بِمَآ أُنزِلَ إِلَيْهِ مِن رَّبِّهِۦ وَٱلْمُؤْمِنُونَ﴾ (تصديق کړي دي رسول په هغه څخه چې نازل کړي شوي ده ته له (طرفه) درب دده او مؤمنانو هم تصديق او باور کړی دی) يعني محمد صلی الله عليه وسلم سره له مؤمنانو په نازل شوي قرآن اووحي تصديق کړي دی. ﴿كُلٌّ ءَامَنَ بِٱللَّهِ وَمَلَٰٓئِكَتِهِۦ وَكُتُبِهِۦ وَرُسُلِهِۦ﴾ ټولو ددوي تصديق (باور) کړی دی په الله باندي او په پرښتو دده او په کتابونو دده او په رسولانو دده) يعني نبي او دهغه پلويانو دالله په وحدانيت، پرښتو، کتابونو او رسولانو تصديق کړي دی. ﴿لَا نُفَرِّقُ بَيْنَ أَحَدٍ مِّن رُّسُلِهِۦ﴾ (پداسې حال کې چې وايې دوی) فرق نه کوو په مينځ کې دهيڅ يو رسول له رسولانو دالله نه) يعني هسي نه کوو چې په يو چا ايمان راوړو او په ځينو کافران کيږو، لکه چې يهودو او نصاراوو به کول بلکې په ټولو رسولانو ايمان راوړو، تفريق يې نه کوو. ﴿وَقَالُوا۟ سَمِعْنَا وَأَطَعْنَا غُفْرَانَكَ رَبَّنَا وَإِلَيْكَ ٱلْمَصِيرُ﴾ (او وايې دوی (مؤمنان) چې واوريده مونږ (پيغام ستا) او قبول کړمونږ (حکم ستا) ای ربه زمونږ! تاته درتلل دي (دهرچا) يعنی الله مونږ ستا بلنه ومنله ستا امر ته مو غاړه کښېښودله له تاڅخه دبښنې غوښتنه کوو چې زمونږ ګناوې راوبښې او خاص تاته بيرته ستنيدل او رجوع شته. ﴿لَا يُكَلِّفُ ٱللَّهُ نَفْسًا إِلَّا وُسْعَهَا﴾ نه کوي الله تکليف پر هيچا مګر په اندازي د طاقت دده ﴿لَهَا مَا كَسَبَتْ وَعَلَيْهَا مَا ٱكْتَسَبَتْ﴾ (دی نفس لره (ثواب) دهغه عمل چې کړی يې دی او شته په ده باندي (وبال) دهغه عمل چې کړی يې ده) يعني هر چاچې دخير عمل کړي ثواب ورکول کيږئ او چې دشر عمل يې کړی سزا به ورکولی شي. ﴿رَبَّنَا لَا تُؤَاخِذْنَآ إِن نَّسِينَآ أَوْ أَخْطَأْنَا﴾ (ای ربه زمونږ! مه نيسه مونږ که هير کړو (حکم ستا) يا په خطا سره وکړو (ګناه) يعني تاسو په دعاکې داسي واياست چې ای الله! مونږ ته عذاب مه راکوه په سبب دهغو ګناهونو چې په خطا او نسيان راڅخه څرګند شوي وي. ﴿رَبَّنَا وَلَا تَحْمِلْ عَلَيْنَآ إِصْرًا كَمَا حَمَلْتَهُۥ عَلَى ٱلَّذِينَ مِن قَبْلِنَا﴾ (ای ربه زمونږ! او مه باروه په مونږ دروند بار لکه چې بار کړی وو، تادغه (بار) پر هغو کسانو باندي چې وو پخوا له مونږ) يعنی ای ربه! مونږ ته داسي شاقه تکاليف مه راکوه چې له کولو څخه يې عاجز يو او هغه شان چې په پخوانيو امتونو دي لورولي وو لکه دتوبې لپاره دځان وژل او يا دناپاکه جامې دپليت ځای پريکول غوڅول. ﴿رَبَّنَا وَلَا تُحَمِّلْنَا مَا لَا طَاقَةَ لَنَا بِهِۦ﴾ (ای ربه زمونږ! او مه باوره په مونږ باندي هغه (تکليف) چې نه شته هيڅ طاقت مونږ ته په هغه سره) يعني هسې تکاليف اوابتلاوي مه راکوه. ﴿وَٱعْفُ عَنَّا وَٱغْفِرْ لَنَا وَٱرْحَمْنَآ﴾ (او محوه کړه ګناهونه له مونږ او مغفرت وکړه مونږ ته او رحم وکړه په مونږ باندي) يعني زمونږ ګناهونه محوه او بدي مو پټي کړه او په محشر کې مو مه شرموه په مونږ باندي رحمت ولوروه چې ستارحمت هرځه ته رسيدلی دی.

﴿أَنتَ مَوْلَىٰنَا فَٱنصُرْنَا عَلَى ٱلْقَوْمِ ٱلْكَٰفِرِينَ﴾ (هم ته يې مولا (پروردګار) زموږ نو مدد وکړې له موږ سره په قوم دکافرانو (باندې) یعني ای الله ! ته زموږ مرستندوی او دامورو متولی یې موږ مه بنویوي ، په کافرانو باندې هغوی چې ستا له وحدانیت څخه منکر ستا دین نه منونکی او ستا د پیغمبر تکذیب کوي بری را په برخه کړې ، روایت کاوه شي چې کله رسول الله صلی الله علیه وسلم دا دعاګانې ولوستلې له هرې یوې څخه وروسته ورته وویل شول چې وکول شول یعني ومنل شول.

بلاغت:

۱- په آیت شریف کې دبلاغت او فصاحت ډیر څه شته چې له هغوی څخه یو (طباق) دی او هغه پدې قول دالله تعالی کې:(وان تبدوا ... او تخفوه) او همدارنګه و (یغفر) او (یعذب) ترمینځ لکه څرنګه چې معنوی (طباق) هم پکې راغلی او هغه د (کسبت) او (اکتسبت) دکلماتو ترمینځ ځکه کسب په خیر کې او اکتساب په شر کې استعمالیږي.

۲- پدې آیت کې دجناس صنعت راغلی چې د (آمن) او (مؤمنون) ترمینځ واقع دی او دې ته جناس اشتقاق وایې.

۳- پدې قول دالله تعالی کې چې فرمایې: (لانفرق بین احد من رسله) اطناب دی.

۴- لکه څرنګه چې پدې کلام کې: (والمؤمنون) ایجاز بالحذف دی چې اصل یې داسې راځي: (والمؤمنون آمنوا بالله ورسله) او داسې په نورو ځایونو کې.

فائدې او نکتې:

عبدالله بن مسعود رضی الله عنه وایې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: څوک چې دشپې دوه دبقرې دسورت وروستنې آیتونه ولولي دهغه لپاره کفایت کوي دبخاري روایت ، او دمسلم په روایت کې راځي چې له آسمانه یوه پربنته راکوزه شوه ، رسول الله صلی الله علیه وسلم ته راغله ، ورته یې وویل:

زیری په دوو (نورینو) سره چې له تا پرته هیڅ نبي ته پخوا ندي ورکول شوي یو فاتحه الکتاب او بل دبقرې سورت وروستنې آیتونه ، هیڅکله به ته کوم توری له دوي دواړو ونه لولې مګر تاته به درکول شي.

دالله جل جلاله په مرسته دالبقرې دسورت تفسیر بشپړ شو.

***

دآل عمران سورت مدني او دوه سوه آيتونه لري

دسورت په وړاندي:

دآل عمران سورت دمدني سورتونو له اوږدو څخه يو دی او دغه مبارک سورت ددين په دوو مهمو رکنونو مشتمل دی ، اول يې عقيده او دالله جل جلاله په وحدانيت باندي د دلائلو او براهينو راوړل ، دوهم يې تشريع او په ځانګړې توګه هغه چي په جهاد في سبيل الله او غزاګانو پوري اړه لري. دلومړي رکن په هکله دالله دوحدانيت دثابتولو لپاره دنبوت دتصديق په باب دقرآن دکريم دريښتنولي په باره کې او همدارنګه په هغو شبهاتو او شکونو چي اهل کتابو داسلام ، قرآن او محمد صلی الله عليه وسلم په رسالت درلودل ، ردونه شوي دي. که دبقرې سورت داهل کتابو دلومړۍ ډلې (يهودو) په هکله خبرې کولې ددوی حقيقت يې ښکاره کاوو نيتونه او پټ اسرار يې راسپړل، دهغوی هغه پليتې او دوکې يې بيانولي نوَ آل عمران سورت بيا ددوهمې ډلې (نصاراوو) څخه غږيږي هغوی چي دحضرت مسيح په هکله يې شخړې کولي ، پرهغه يې دمعبودګومان کاوو . درسول الله صلی الله عليه وسلم استازي توب يې نه مانو ، له قرآن کريم څخه يې انکار کاوو ، تقريباً نيمايې سورت دهمدوی څخه خبرې کوي او پدې آيتونو کې په دوی باندي رد شوی چي څرنګه په ښکاره دلائلو او څرګندو براهينو شبهې او شکونه کوي. په خاصه توګه بيا دحضرت مريمې او عيسی عليه السلام په باب او پدې ترڅ کې ځينې اشاري شوي او په يهودو تکونه هم شوي او مسلمانان ويرول شوي چي داهل کتابو له دوکو او دسيسو څخه باخبر واوسي او دوهم رکن بيا له شرعي احکامو لکه دحج فرضيت ، دجهاد فرضيت او يا لکه دسود تحريم او يا دزکات دنه ورکولو حکمونه بيانوي. همدا راز له غزاګانو څخه په تفصيل خبر راوړی لکه دبدر او احد غزا ؛ او هغه سبقونه چي مسلمانانو له دي دوو غزاګانو څخه ترلاسه کړي دي ، په بدر کې بريالي شول او په احد کې يې ماتې وخوړه. ځکه درسول الله صلی الله عليه وسلم له امر څخه يې سرغړونه کړي وه او بيا وروسته له ماتې يې ددښمنانو کفارو او منافقينو له خوا ډيري دخواشينې او سپيتانې خبري واوريدي، نو الله تبارک وتعالی دوی ته دهمدې درس حکمت ته لارښوونه وکړه هغه داچي الله جل جلاله غواړي دمسلمانانو صفونه دپليتو زړونو له خاوندانو څخه پاک کړي. خبيث او طيب سره بيل کړي لکه څرنګه چي آيتونه په تفصيل سره له نفاق او منافقينو غږيږي او دهغوی دريځ دمسلمانانو دهمت ماتولو په باب ښيې. بيا وروسته سورت دسوچ او فکر کولو په ارشاد پای ته رسيږي چي بايد دآسمانونو او ځمکې په ملکوت او په هغو شتو کې چي په خورا ښکلا او ابداع په عجيبه له اسرارو ډکو شيانو چي دحکمت خاوند خالق په وجود دلالت کوي ، فکر او تدبر وشي چي وروستنې آيت دجهاد او مجاهدينو په يادولو او هغوی ته ددغه ښائسته او شامل وصيت په کولو هغه چي خير او بريا ليتوب پکې نغښتی دی ، پای ته رسيږي فرمايي: ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱصۡبِرُواْ وَصَابِرُواْ وَرَابِطُواْ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ لَعَلَّكُمۡ تُفۡلِحُونَ ﴿٢٠٠﴾ ﴾

دسورت فضیلت:

نواس بن سمعان وايي: ماله رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه واوريدل چي ويل يې: دقيامت په ورځ به قرآن او دهغه اهل هغه کسان چي وربانديې عمل يې کاوو راوستل شي چي ترمخ به يې سورة البقرة او آل عمران وي[1]

دسورت نومول:

آل عمران يې ځکه بولي چي دهغې نيکمرغې کورنی چي (آل عمران) دمريمې پلار او هغه مريمه چي دعيسى عليه السلام مور وه کيسه پکې راغلي ده، هغه چي دالهي قدرت د مظاهرو تجلى پکې شته، کومه چي دمريم بتول او دهغې زوی حضرت عيسى الله عليه السلام دزيږيدلو په باب ده.

***

الله تعالی فرمايي:

﴿ الٓمٓ ۝١ اللَّهُ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ٱلۡحَيُّ ٱلۡقَيُّومُ ۝٢ نَزَّلَ عَلَيۡكَ ٱلۡكِتَٰبَ بِٱلۡحَقِّ مُصَدِّقٗا لِّمَا بَيۡنَ يَدَيۡهِ وَأَنزَلَ ٱلتَّوۡرَىٰةَ وَٱلۡإِنجِيلَ
مِن قَبۡلُ هُدٗى لِّلنَّاسِ وَأَنزَلَ ٱلۡفُرۡقَانَۗ إِنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ لَهُمۡ عَذَابٞ شَدِيدٞۗ وَٱللَّهُ عَزِيزٞ ذُو ٱنتِقَامٍ ۝٤ إِنَّ ٱللَّهَ لَا
يَخۡفَىٰ عَلَيۡهِ شَيۡءٞ فِي ٱلۡأَرۡضِ وَلَا فِي ٱلسَّمَآءِ ۝٥ هُوَ ٱلَّذِي يُصَوِّرُكُمۡ فِي ٱلۡأَرۡحَامِ كَيۡفَ يَشَآءُۚ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ٱلۡعَزِيزُ
ٱلۡحَكِيمُ ۝٦ هُوَ ٱلَّذِيٓ أَنزَلَ عَلَيۡكَ ٱلۡكِتَٰبَ مِنۡهُ ءَايَٰتٞ مُّحۡكَمَٰتٌ هُنَّ أُمُّ ٱلۡكِتَٰبِ وَأُخَرُ مُتَشَٰبِهَٰتٞۖ فَأَمَّا ٱلَّذِينَ فِي قُلُوبِهِمۡ زَيۡغٞ
فَيَتَّبِعُونَ مَا تَشَٰبَهَ مِنۡهُ ٱبۡتِغَآءَ ٱلۡفِتۡنَةِ وَٱبۡتِغَآءَ تَأۡوِيلِهِۦۖ وَمَا يَعۡلَمُ تَأۡوِيلَهُۥٓ إِلَّا ٱللَّهُۗ وَٱلرَّٰسِخُونَ فِي ٱلۡعِلۡمِ يَقُولُونَ ءَامَنَّا بِهِۦ كُلّٞ مِّنۡ
عِندِ رَبِّنَاۗ وَمَا يَذَّكَّرُ إِلَّآ أُوْلُواْ ٱلۡأَلۡبَٰبِ ۝٧ رَبَّنَا لَا تُزِغۡ قُلُوبَنَا بَعۡدَ إِذۡ هَدَيۡتَنَا وَهَبۡ لَنَا مِن لَّدُنكَ رَحۡمَةًۚ إِنَّكَ أَنتَ ٱلۡوَهَّابُ ۝٨
رَبَّنَآ إِنَّكَ جَامِعُ ٱلنَّاسِ لِيَوۡمٖ لَّا رَيۡبَ فِيهِۚ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يُخۡلِفُ ٱلۡمِيعَادَ ۝٩ ﴾ آل عمران: ۱-۹

لغتونه:

(الحی) هغه تلپاتې ژوندي چي فنا او مرګ نلري (القيوم) دخلکو دامورو چلونکی. (يصوركم) له تصوير نه اخيستل شوی يعنې جوړوي صورتونه ستاسي يعنې څنګه چي غواړي هغسي مو پيدا کوي او پنځوي. (الارحام) درحم جمع ده او دجنين دپيدا کيدلو او جوړيدلو ځای ته وايي. (محكمات) محكم هغه ته وايي چي معنا يې څرګنده وي. قرطبي وايي چې: (محكم هغه ته وايې چي تأويل يې پيژندل شوی او تفسير معنايې څرګنده وي او متشابه هغه ته وايې چي هيڅوک يې هم پرته له الله تعالی علم او پوهه نه وي لکه (مقطعات) چي دسورتونو په اوائلو کې راغلي دي او دا تر تولو ښه خبره ده چي پدې هکله شوي ده). [2] (ام الكتاب) دکتاب اصل، اساس او دملاتير. (زيغ) له حق څخه ميلان ته وايي لکه زاغ، زيغا، يعني کوږ شو په کږيدلو سره. (تاويله) تاويل تفسير ته او همدارنګه په اصل کې مرجع او مصير ته وايي

---

[1] - اخرجه مسلم
[2] - القرطبي ۱۹/۴

لکه چي وايي: (آل الامر الى كذا) يعني وګرزيدو كار ودي ته . (والراسخون) رسوخ ديوشي ثبوت او په هغه كې تمكن ته وايي.

دنزول سبب يې:

دغه آيتونه دنجران دوفد په هكله چي هغوى شپيته كسان وو ، نازل شوي دي. څوارلس يې مشران كسان او دري تنه يې لوړ رتبه اكابر چي ددوى امير (عبدالمسيح) او دهغه مشاور (ايهم) او بل (حارثه بن علقمة) ددوى عالم وو. رسول الله صلى الله عليه وسلم ته راغلل او دغو دريو كسانو ورسره خبري وكړي كله به يې ويل چي: عيسى پخپله (الله) دى ځكه هغه به مړي راژوندي كول ، كله به يې ويل چي: هغه دالله زوى (نعوذبالله من ذلك) دى ځكه هغه پلار نه درلود ، كله به يې ويل چي هغه ددريو دريم (ثالث ثلاثة) دى ، ځكه الله دجمع صيغه فرمايي: (فعلنا وقلنا) كه چيري الله يو واى ويل به يې چي (فعلت و قلت) نو رسول الله صلى الله عليه وسلم دوى ته وويل: ايا تاسي نه پوهيږئ چي الله زموږ رب ژوندى او نه مري او عيسى مري دوى وويل: هو همداسې ده ، بيا يې ورته وويل: ايا تاسو نه پوهيږئ چي زوى ارومرو خپل پلار ته مشابه وي، دوي وويل هو ! رسول الله صلى الله عليه وسلم وويل: ايا تاسو نه پوهيږئ چي الله بروردګار يو شى محفوظ ساتي، څاري او رزق وركوي ، ايا عيسى هم داسې كولاى شي ؟ دوى وويل نه ، رسول الله وويل: چي ايا تاسو نه پوهيږئ چي له الله جل جلاله څخه نه په ځمكه او نه په آسمانونو كې څه پټ شته ؟ ايا عيسى له دي څخه خبر دى پرته له هغه چي الله علم وركړي ؟ دوى وويل نه ! خبر ندى ، بيايې وويل چي: ايا تاسو نه پوهيږئ چي زموږ رب نه څه خوري او نه څښي او نه انساني حاجت لري او عيسې به خوراک كاوو ، څښاک به يې كاوو او انساني حاجت يې درلود ، دوى وويل هو ! نو رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته وفرمايل څرنګه هسي كيداى شي چي لكه تاسو يې ګومان كړى دى ، نو دوى پټه خوله شول ، پرته له انكار څخه اعتراف يې نه كاوو بيا الله جل جلاله دسورت له پيل څخه تر څو اتيا آيتونه پوري رانازل كړل.[1]

تفسير:

﴿ الٓمٓ ﴾ دقرآن كريم اعجاز ته اشاره ده چي قرآنكريم له همدي تورو څخه جوړ شوى او دالبقرې سورت په پيل كې مو ذكر كړل. ﴿ ٱللَّهُ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ﴾ (الله) چي دى نشته هيڅوک لائق دعبادت مګر هم دى دى) يعني نه له ده پرته بل رب (پروردګار) شته او نه هم معبود برحق ﴿ ٱلْحَىُّ ٱلْقَيُّومُ ﴾ (چي تل ژوندى په يو حال باقي قايم كامل تدبير والا دى) ﴿ نَزَّلَ عَلَيْكَ ٱلْكِتَٰبَ بِٱلْحَقِّ ﴾ (نازل كړي يې دى په تا باندي كتاب (قرآن) په حقه) په رښتينو اخبارونو او واضحو دلائلو) ﴿ مُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهِ ﴾ (حال داچي تصديق كونكي دي دهغو (كتابونو) چي پخوا له ده نه دي) ﴿ وَأَنزَلَ ٱلتَّوْرَىٰةَ وَٱلْإِنجِيلَ مِن قَبْلُ هُدًى لِّلنَّاسِ ﴾ (او نازل كړي دي تورات او انجيل پخوا له دي (قرآنه) لپاره دهدايت (دخلقو) يعني تر دې قرآن له مخه

[1] - الفخر الرازي ۱۲۵/۷ –ابن كثير ۲۸۸/۱.

يې دوه ستر کتابونه تورات او انجيل دبني اسرائيلو دهدايت او لارښوونې لپاره رالېږلي دي ﴿وَأَنزَلَ ٱلْفُرْقَانَ﴾ (او نازل کړي يې دی فرقان) يعني هسي کتابونه چي دحق او باطل بېلونکي دي او چا بيا ويلي چي مراد له فرقان څخه قرآن کريم دی او دتعظيم دشان لپاره يې مکرر ذکر کړ.(١) ﴿إِنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ بِـَٔايَـٰتِ ٱللَّهِ﴾ (بيشکه هغه کسان چي کافران شوي په آيتونو دالله سره) يعني انکاريي تري کړی او په باطل سره يې رد کړي دي. ﴿لَهُمْ عَذَابٌ شَدِيدٌ﴾ (شته دوی لره عذاب سخت (په آخرت کې). ﴿وَٱللَّهُ عَزِيزٌ ذُو ٱنتِقَامٍ﴾ (او الله ډير غالب (پخپل امر کې) او څښتن دانتقام (کسات) دی (له هغو څخه چي څښې سرغړونه کوي) ﴿إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَخْفَىٰ عَلَيْهِ شَىْءٌ فِى ٱلْأَرْضِ وَلَا فِى ٱلسَّمَآءِ﴾ (بيشکه له الله پټ نه دي هيڅ شي په مځکه او نه په آسمان کې) يعني دهغه له علمه هيڅ هم پټ نه دي ، الله په ټول هغه چي په (کائناتو) کې دي خبردار دی هيڅ هم څښې پټ نشته. ﴿هُوَ ٱلَّذِى يُصَوِّرُكُمْ فِى ٱلْأَرْحَامِ كَيْفَ يَشَآءُ﴾ (الله هغه ذات دی چي جوړوي صورتونه ستاسو په رحمو (دميندو) کې په هر ډول چي اراده وکړي (دجوړولو يې) يعني نر يا ښځه ، ښکلی او بدرنګه) ﴿لَآ إِلَـٰهَ إِلَّا هُوَ ٱلْعَزِيزُ ٱلْحَكِيمُ﴾ (نشته بل هيڅ لائق دعبادت مګر هم دی دی ډير غالب ښه تدبيروالا (څښتن دحکمت) دی پخپل صنعت کې) يعني پرته له هغه بل رب نشته هغه په وحدانيت او الوهيت کې منفرد دی پخپله پادشاهي کې غالب دی پخپل جوړښت او صنعت کې دحکمت خاوند دی په آيت شريف کې په نصاراووباندي رد راغلی څکه دوی (دحضرت عيسی عليه السلام) دالوهيت دعوي کړي وه ، نو الله دوی ته تنبيه ورکړه چي الله په رحمونو کې صورتونه جوړوي او بل داچي حضرت عيسی عليه السلام په غيبو علم نه لري هغه لکه نور بندګان غوندي بنده دی. ﴿هُوَ ٱلَّذِىٓ أَنزَلَ عَلَيْكَ ٱلْكِتَـٰبَ﴾ (الله هغه ذات دی چي نازل کړي يې دی په تا (ای محمده !) کتاب (قرآن عظيم) ﴿مِنْهُ ءَايَـٰتٌ مُّحْكَمَـٰتٌ هُنَّ أُمُّ ٱلْكِتَـٰبِ﴾ (چي ځيني له ده څخه ايات محکمات دي (چي معناوي يې ښکاره وي) لکه آياتونه دحلال او حرامو (دامحکم آيات) اصل او ام الکتاب دی څکه چي بنسټ دي ﴿وَأُخَرُ مُتَشَـٰبِهَـٰتٌ﴾ او نور (ځيني ايات) متشابهات دي (چي معنی يې معلومه نه وي) او ډيرو کسانو ته يې په دلالت کې اشتباه وي که څوک همدا متشابه هغه واضح او محکم ته رد کړي نولاره يې ومونده او که يې عکس وکړ ګمراه شو ، څکه الله فرمايي: ﴿فَأَمَّا ٱلَّذِينَ فِى قُلُوبِهِمْ زَيْغٌ فَيَتَّبِعُونَ مَا تَشَـٰبَهَ مِنْهُ﴾ (نو هغه کسان چي په زړونو ددوی کې کوږوالي دی پس پيروي کوي دوی دهغو (کلماتو) چي متشابه وي له دي

١- دغه قول دقتاده او ربيع ده ، ابن جرير داغوره بولي چي فرقان په معنی دبېلونکې دحق او باطل يعني ګمراهې او هدايت دی څکه دقرآن ذکر پخوا لا وشو.

(قرآنه) يعنې پخپله هوا او هوس یې تفسیر کوي ﴿ ٱبۡتِغَآءَ ٱلۡفِتۡنَةِ وَٱبۡتِغَآءَ تَأۡوِيلِهِۦۖ ﴾ (لپاره دطلب دفتنې (او ګمراهۍ) او لپاره دطلب دمعنا دهغو) یعنې دي خلکو ته په دین کې فتنه غواړي او دخپلو خواهشاتو سره سم دکلام الله تفسیر کوي لکه چي ګمراه نصرانیانو دعیسی علیه السلام په باب دالله تعالی پدې قول دلیل نیولی چي فرمایې :(وکلمة القاها الی مریم وروح منه) (دوی وایې (نعوذبالله) چې عیسی دالله زوی او یایې جزء دی نو ځې دالوهیت دعوی کوي او هغه محکم قول چي الله فرمایې:(ان هو الا عبد انعمنا علیه) (چي پدې ځرګند دلالت کوي چي حضرت عیسی دالله بنده او له پیغمبرانو څخه یو پیغمبر دی پرابر دي) ﴿ وَمَا يَعۡلَمُ تَأۡوِيلَهُۥٓ إِلَّا ٱللَّهُۗ ﴾ (حا ل داچي نه پوهیږي په حقیقي معنا او مطلب دهغه مګر الله جل جلاله). ﴿ وَٱلرَّٰسِخُونَ فِي ٱلۡعِلۡمِ يَقُولُونَ ءَامَنَّا بِهِۦ ﴾ (او هغه په علم کې پاخه کسان وایې چي موږ ایمان راوړی دی پدې چي په معنا یې نه پوهیږو په مثل (دایمان زموږ په محکم باندي) ﴿ كُلّٞ مِّنۡ عِندِ رَبِّنَاۗ ﴾ (دا ټول(محکم او متشابه) له طرفه درب زموږ دي)﴿ وَمَا يَذَّكَّرُ إِلَّآ أُوْلُواْ ٱلۡأَلۡبَٰبِ ﴾ (او پند نه اخلي (په دي خو (پند اخلي) خاوندان د عقلونو (روغو او ځلاندو). ﴿ رَبَّنَا لَا تُزِغۡ قُلُوبَنَا ﴾ وایې (دغه راسخون) ای ربه زموږ مه کږوه زړونه زموږ). ﴿ بَعۡدَ إِذۡ هَدَيۡتَنَا ﴾ (وروسته له دي نه چي په سمه صافه لاره دي برابر کړي یو، ستا دشریعت او ددین سمه سیخه لاره) ﴿ وَهَبۡ لَنَا مِن لَّدُنكَ رَحۡمَةًۚ ﴾ او وبښه او عنایت وکړه موږ ته له نزده خپله رحمت، چې موږ ستا په حق دین باندي ټینګ کړي . ﴿ إِنَّكَ أَنتَ ٱلۡوَهَّابُ ﴾ (بیشکه دا ته هم ډیر ښښونکی یې (دعطاء او احسان) . ﴿ رَبَّنَآ إِنَّكَ جَامِعُ ٱلنَّاسِ لِيَوۡمٖ لَّا رَيۡبَ فِيهِۚ ﴾ (ای ربه ! زموږ بیشکه ته یوځای کوونکی یې دمخلوقاتو (په محشر کې) چي دحساب په ورځ او هیڅ شک پکې نشته. ﴿ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يُخۡلِفُ ٱلۡمِيعَادَ ﴾ (بیشکه چي الله نکوي مخالفت له وعدې خپلې نه) یعنې ستا وعده حق دی او ته ځنې نه اوړي لکه داقول دالله تعالی: ﴿ ٱللَّهُ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَۚ لَيَجۡمَعَنَّكُمۡ إِلَىٰ يَوۡمِ ٱلۡقِيَٰمَةِ لَا رَيۡبَ فِيهِۗ وَمَنۡ أَصۡدَقُ مِنَ ٱللَّهِ حَدِيثٗا ﴾ النساء: ۸۷

بلاغت:

۱- له قرآن کریم څخه یې په کتاب تعبیر وفرمایل چي (نزل علیک الکتاب) ، چي کتاب اسم جنس ترڅو دقرآنکریم په دې نورو آسماني کتابونو دکمال او لوړتیا ګواهي ورکړي نو دقرآن سره دابنایې چي په کتاب ونومول شي.

۲- پدې قول کې چي فرمایې: (لما بین یدیه) دلته له پخوانیو کتابونو څخه کنایه ده نو هغه چي پخوا تیر شوي (بین یدیه) یې وبلل ځکه قرآنکریم خورا ځرګند او مشهور دی.

۳- وانزل الفرقان ، دلته عطف دعام په خاص باندې دی ځکه یو ځل یې دري سره کتابونه ځانګړي یاد کړل او وروسته یې ټول کتابونه چې شمول افاده کړي او خاصه پاملرنه یې وشي.

۴- پدې کلام کې چې فرمایي: (هن ام الکتاب) شریف رضي وایې چې دغه استعاره ده او مراد ځنې داده چې دغه آیتونه دکتاب بنسټ او لکه دمور په مرتبه چې وي او لکه چې ټول قرآن ددي پلوي کوي او یا ورته پناه راوړي لکه چې اولاد مورته پناه راوړي.([1])

۵- (والراسخون في العلم) دغه استعاره ده او مراد ځنې هغه ټینګ عالمان دي رسوخ هغه ته وایي لکه چې یو دروند شي ښکته په مځکه کي دننه شي او داتردي چې ویلي یي وایې (الثابتون في العلم) خو را ابلغ ده.([2])

فوائد او ګټې:

لومړۍ فائده : امام مسلم له حضرت عائشې رضی الله عنها څخه روایت کوي چې حضرت رسول الله صلی الله علیه وسلم داایت ولوست چې: (هو الذي انزل علیک الکتاب منه ایا ت محکمات هن ام الکتاب ولخر متشابهات) ... د آیت تر پایه او بیا یې وفرمایل : (اذا رایتم الذین یتبعون ماتشابه منه فاولئک الذین اسماهم الله فاحذروهم).

یعني چې هغه کسان ووینئ چې پیروي کوي دمتشابهاتو (پخپله هوا اوهوس سره یې تفسیر کوي) نو داهغه کسان دي چې الله نومولي دي پس تاسي ځنې وویریږئ.

دوهمه فائده : تر ټولو ښه معنا چې دمتشابه او محکم شوي داده چې محکم هغه ته وایې چې تاویل یې څرګند معنا یې مفهومه ، او تفسیر یې واضح وي او متشابه بیا هغه دي چې علم یې الله دځان لپاره غوره کړي او بندګان وربانديي نه پوهیږي او ځینو علماوو ویلي چې دالکه دقیامت دورځي علم ، یاجوج او ماجوج راوتل ، ددجال راتلل ، دعیسی علیه السلام راکوزیدل او دارنګه دسورتونو په پیل کې مقطعات توري.([3])

دریمه فائده : پوښتنه کیږي قرآنې آیتونه دوه ډوله دي، محکمات او متشابهات لکه چې دلته او هغه چې دهود په سورت کې راغلي او فرمایي: (کتاب احکمت آیاته) ، ګواکې ټول قرآن کریم محکم دی او یا هغه چې څرنګه دزمر په سورت کې راځي (نزل احسن الحدیث کتاباً متشابهاً) ګواکې چې قرآن ټول متشابه دی څرنګه ددي ترمینځ موافقت راځي؟ ځواب دا چې ددي آیتونو ترمنځ هیڅ تعارض نشته ،ځکه هر آیت خپله ځانګړې معنی لري، هلته چې فرمایي (احکمت ایاته) معنا یې داده چې دا قرآن عبث نه دی، عیب پکې نشته. الفاظ یې فصیح او معنا یې صحیح ده او هلته چې فرمایي (کتاباً متشابهاً) یعنې داچي ځینې یې له ځینو نورو سره په حسن او ښکلا کې مشابهت لري ځینې یې دځینو نورو آیتونو تصدیق کوي نو کوم تعارض نه راځي.

---

[1] - تلخیص البیان ص ۱۷.
[2] - تلخیص البیان ص ۱۷.
[3] - القرطبي ۹/۴.

ځلورمه فائده: امام بخاري له سعيد بن جبير رضی الله عنه څخه روايت کوي چي يو تن ابن عباس رضی الله عنهما ته وويل چي په قرآنکريم کې داسي څه لولم چي راته پکښی اختلاف ښکاري، ابن عباس رضی الله عنه ورته وويل هغه کوم دي؟ نو بې ورته وويل چي داقول دالله تعالی چي فرمايي (فلا انساب بينهم ولايتسالون)او داچي (واقبل بعضهم على بعض يتسالون) بل داقول دالله جل جلاله (ولا يكتمون الله حديثا) او داچي فرمايي (والله ربنا ما كنا مشركين) څکه دوی دلته خپل حال له الله څخه پټ کړی. او همدارنګه په سورة (النازعات) کې الله تعالی دآسمانونو خلقت ترمځکې پخوا ذکر کوي او (فصلت) په سورت کې بيا دمځکې خلقت ترآسمانونو دمخه يادوي. او الله جل جلاله فرمايي:(وكان الله غفوراً رحيما) (وكان الله عزيزاً حكيما) (وكان الله سمعياً بصيرا) او دالکه چي پخوا وو او تير شوي وي، نو ابن عباس رضی الله عنهما په ځواب کې ورته وويل چي: (فلا انساب بينهم) دادلومړۍ شپيلي په وخت کې (فصعق من في السموات ومن في الارض الا من شاء الله) نو پدې وخت کې (فلا انساب بينهم ولايتسالون) وروسته بيا ددوهمې شپيلۍ په وخت کې (اقبل بعضهم على بعض يتسالون) او داقول چي فرمايي: (ماكنامشركين) (ولايكتمون الله حديثا) څکه الله جل جلاله داخلاص دخاوندانو ګناهونه وربښي نو مشرکان وايي: راشئ چي موږ وواېو چي موږ مشرکان نه يو ، نو الله جل جلاله به يې په خوله مهر ووهي او اندامونه به ددوی اعمال ورته ووايي نو دلته معلومه شوه چي الله جل جلاله څخه خبر نه پټيږي او پدې وخت کې به کافران داسې هيله کوي ، کاشکې دوی مؤمنان وای. او الله جل جلاله مځکه په دوې ورځي کې پيدا کړي ، بيايې آسمان پيدا کړی اوه آسمانونه يې په دوي ورځي کې برابر کړي وروسته بيا الله جل جلاله مځکه ويره کړي او غوړولي ده. اوبه او وابنه يې څنې را ايستلي دي او غرونه ونې او شيلي يې په دوي ورځې کې تيار کړي لکه چي فرمايي: (والارض بعد ذلک دحاها) نو مځکه او ټولې هغه چي په مځکه کې دي په څلورو ورځي کې او آسمانونه په دوې ورځې پنځولې او داچي الله فرمايي: (وكان الله غفوراً رحيما) نو الله خپل ځان همداسې ستايي، معنا يې داده چي تل ترتله او هميشه به هم داسې وي ، افسوس ستا په حال ،په قرآن کې دي اختلاف درته ونه ايسي داټول دالله کلام او هغه دالله جل جلاله له لوري راغلی دی ، هيڅ اختلاف پکې نشته.

***

الله تعالی فرمايي:

﴿إِنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ لَن تُغْنِىَ عَنْهُمْ أَمْوَٰلُهُمْ وَلَآ أَوْلَٰدُهُم مِّنَ ٱللَّهِ شَيْـًٔا ۖ وَأُو۟لَٰٓئِكَ هُمْ وَقُودُ ٱلنَّارِ ﴿١٠﴾ كَدَأْبِ
ءَالِ فِرْعَوْنَ وَٱلَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ ۚ كَذَّبُوا۟ بِـَٔايَٰتِنَا فَأَخَذَهُمُ ٱللَّهُ بِذُنُوبِهِمْ ۗ وَٱللَّهُ شَدِيدُ ٱلْعِقَابِ ﴿١١﴾ قُل لِّلَّذِينَ كَفَرُوا۟ سَتُغْلَبُونَ
وَتُحْشَرُونَ إِلَىٰ جَهَنَّمَ ۚ وَبِئْسَ ٱلْمِهَادُ ﴿١٢﴾ قَدْ كَانَ لَكُمْ ءَايَةٌ فِى فِئَتَيْنِ ٱلْتَقَتَا ۖ فِئَةٌ تُقَٰتِلُ فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ
وَأُخْرَىٰ كَافِرَةٌ يَرَوْنَهُم مِّثْلَيْهِمْ رَأْىَ ٱلْعَيْنِ ۚ وَٱللَّهُ يُؤَيِّدُ بِنَصْرِهِۦ مَن يَشَآءُ ۗ إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَعِبْرَةً لِّأُو۟لِى
ٱلْأَبْصَٰرِ ﴿١٣﴾ زُيِّنَ لِلنَّاسِ حُبُّ ٱلشَّهَوَٰتِ مِنَ ٱلنِّسَآءِ وَٱلْبَنِينَ وَٱلْقَنَٰطِيرِ ٱلْمُقَنطَرَةِ مِنَ ٱلذَّهَبِ وَٱلْفِضَّةِ

وَالْخَيْلِ الْمُسَوَّمَةِ وَالْأَنْعَامِ وَالْحَرْثِ ذَٰلِكَ مَتَاعُ الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَاللَّهُ عِندَهُ حُسْنُ الْمَآبِ ﴿١٤﴾ قُلْ أَؤُنَبِّئُكُم
بِخَيْرٍ مِّن ذَٰلِكُمْ لِلَّذِينَ اتَّقَوْا عِندَ رَبِّهِمْ جَنَّاتٌ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَا وَأَزْوَاجٌ مُّطَهَّرَةٌ وَرِضْوَانٌ
مِّنَ اللَّهِ وَاللَّهُ بَصِيرٌ بِالْعِبَادِ ﴿١٥﴾ الَّذِينَ يَقُولُونَ رَبَّنَا إِنَّنَا آمَنَّا فَاغْفِرْ لَنَا ذُنُوبَنَا وَقِنَا عَذَابَ النَّارِ ﴿١٦﴾
الصَّابِرِينَ وَالصَّادِقِينَ وَالْقَانِتِينَ وَالْمُنفِقِينَ وَالْمُسْتَغْفِرِينَ بِالْأَسْحَارِ ﴿١٧﴾ ﴾

مناسبت او تړاو:

کله چي الله تعالی د مسلمانانو د دعا او تضرع یادونه وکړه چي دوی له الله څخه غواړي چي په ایمان ثبات او ټینګار ورکړي نو بیا يې د کافرانو یاد راووړ چي د دوی بیا د خپل کفر لامل (سبب) دادی چي په وینا مغروره شوي د مالونو او لادونو کثرت غواړي خو دا به لکه چي په دنیا کې له دوی څخه څه نشي شړلای په هیڅ ډول هم د الله جل جلاله له عذابه څخه د دوی ژغورنه ونکړي او پدې باندي يې د بدر د غزا مثال راوړی کله چي د رحمن لښکرې د شیطان له لښکرو سره مخامخ شوي، خو پایله (نتیجه) د کفارو ماتې او د مسلمانانو بری وو، سره له دې چي مسلمانان ډیر لږ وو او کفار خورا زیات؛ خو د دوی مالونو اولادونو ورته څه ګټه ونه رسوله بیا وروسته الله تعالی د دنیا شهوتونه او خوندونه هغه څه چي انسانان یو له بله د هغوی سیالي کوي، بیانوي خو په پای کې يې پدې بشپړ وي چي هغه څه چي د الله په نزد موجود دي، هغه د نیکانو لپاره غوره دي

لغتونه:

(تغني) له اغنا څخه او د غه دفع کولو او یا نفع رسولو ته وایې. (وقود النار) وقود دوا وپه زبر از وغي ته وایې چي وربانديي اور بلیږي یعني د سوند مواد او په ضمه (پیښ)سره اوربلولو ته وایې. (داب): عادت او شان ته وایې څکه که یو څوک په یو شان ډیره موده واوسي هغه يې عادت جوړ شي.
(آیة)علامي ته وایې. (فئة) ټولۍ او جماعت ته وایې څکه يې (فئة) بولي چي د شدت او ستونزو په وخت کې ورته رجوع کیږي (عبرة) پند اخستلو ته وایې له عبور څخه يې اشتقاق شوی او هغه تجاوز ته وایې نو اعتبار هم د جهل او ناپوهی له حالت څخه د علم حالت ته تجاوز او تیرول دي(زین): له تزیین څخه راغلی او تحسین، تجمیل يې معنی ده چي انسان ته څرګندیږي (الشهوات) شهوت هغه څه ته وایې چي د انسان نفس يې غوښتنه کوي، فعل يې (اشتهی) او جمع يې (شهوات) راځي. (القناطیر) د قنطار جمع او هغه د مال لویې غوټې او یا ډیر مال ته وایې چي شمیرل يې ګران وي (المقنطرة) څوګونې د تاکید لپاره راغلي، لکه چي ووایې: (الوف مؤلفة) او یا (اضعاف مضاعفة) طبري وایی چي له فراء څخه روایت شوي چي هغه وایې:(قناطیر) د قنطار جمع ده او (مقنطرة) د جمعي جمع ده ګواکې نه قنطاره یوه مقنطره ده[1] (المسومة): علامه داره چي ښکلي منظر لري او نظرو راوړي او چا بیا ویلي چي (مسومه) یعني ایل او تابع مجاهد او عکرمة وایې چي (مسومة) هغه ښکلې (نطهمه) آسان دی یعني غټ سره توربخون

---

[1] القرطبي ۴ / ۱۳.

آسان به وی .(١)(المآب): مرجع ته وايه شي لکه چي الله تعالی فرمايي : (ان الينا ايابهم) . (الاسحار) له سپيده چاوده يو څه دمخه وخت ته سحر وايي.

دنزول سبب:

کله چي رسول الله صلی الله عليه وسلم قريشو ته په بدر کي ماتي ورکړه او مديني منوري ته راستون شو يهودان يي راټول کړل او ورته يي داسي وويل:

ای ديهودانو ټولګی ! پخوا تر دي ايمان راوړئ چي الله مو دقريشو په شان په ماتي محکوم کړي ،بيشکه تاسو پوهيږئ زه رښتونی استازی يم ، دوی وويل: ای محمده ! ته پدي مغرور کيږه مه، چي يو څو تنه ناپوه قريش دي وژلي، هغوی چي دجنګ جګړي په چلونو نه پوهيدل په خدای قسم که ته له موږ سره وجنګيدي په دي به پوه شي چي موږ نارينه او ته زموږ په شان له خلکو سره مخامخ شوی نه يي ، نو الله وفرمايل: قل للذي کفروا ستغلبون .(٢)

تفسير:

﴿ إِنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ لَن تُغْنِيَ عَنْهُمْ أَمْوَٰلُهُمْ وَلَآ أَوْلَٰدُهُم مِّنَ ٱللَّهِ شَيْـًٔا ﴾ بيشکه هغه کسان چي کافران شوي دي له سره به دفع نکړي له دوی څني مالونه ددوی او نه اولادونه ددی (له عذابه) دالله نه هيڅ شي. ﴿ وَأُوْلَٰٓئِكَ هُمْ وَقُودُ ٱلنَّارِ ﴾ (او داکسان هم دوی دي خس داورد دوزخ) هغه چي وربانديي اور بليږي. ﴿ كَدَأْبِ ءَالِ فِرْعَوْنَ ﴾ (حال ددوی داسي دی ، لکه حال (عادت) دتابعانو دفرعون) يعني د کفارو کړه وړه او عادت دفرعونيانو د تابعانو په شان دی. ﴿ وَٱلَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ ﴾ (او کله دهغو کسانو چي پخوا له دوی څني وو) لکه قوم د هود ، صالح او شعيب علی نبينا وعليهم الصلوة والسلام. ﴿ كَذَّبُواْ بِـَٔايَٰتِنَا ﴾ (چي نسبت ددروغو به يي کاوو آيتونو زموږ ته) هغه چي درسولانو په رسالت يي دلالت کاوو. ﴿ فَأَخَذَهُمُ ٱللَّهُ بِذُنُوبِهِمْ ﴾ (ونيول دوی لره الله (په عذاب مهلک سره) په سبب سره دګناهونو د دوی (له کفره ددوی) ﴿ وَٱللَّهُ شَدِيدُ ٱلْعِقَابِ ﴾ (او الله سخت دی عذاب دده) او له آيت څخه غرض چي دقريشو کفار لکه پخواني کافران غوندي چي دفرعون تابعان او يا تر هغه دمخه وو داسي دي نو لکه چي هغوی ته خپلو مالونو او اولادونو ګټه ونه رسوله ، دوی ته يي هم نه رسوي ﴿ قُل لِّلَّذِينَ كَفَرُواْ ﴾ (ووايه (ای محمده !) هغو کسانو ته چي کافران شوي دي) يعني ووايه يهودانو او ټولو کافرانو ته ﴿ سَتُغْلَبُونَ ﴾ (ژر به مغلوب کړي شي تاسي (په دنيا کي) ﴿ وَتُحْشَرُونَ إِلَىٰ جَهَنَّمَ ﴾ (او جمع به کړی تاسي (ټرلي به

(١) تفسير الرازي ۲۱۱/۷.
(٢) مختصر ابن کثير ۲۲۸/۱ اسباب النزول.

شي په عقباکي) دوزخ ته . ﴿ وَبِئْسَ ٱلْمِهَادُ ﴾ (او بد ځای دهستوګنې دی دغه (دوزخ) چي تاسي به پکې هستوګنه کوئ) . ﴿ قَدْ كَانَ لَكُمْ ءَايَةٌ ﴾ (او په تحقيق سره دی تاسې ته لوی عبرت) يعنی ای يهودانو ! تاسو ته پند او موعظت دی . ﴿ فِي فِئَتَيْنِ ٱلْتَقَتَا ﴾ (په هغو دوو ټولیو کې چي سره مخامخ شوي دجنګ لپاره په بدر کې) ﴿ فِئَةٌ تُقَٰتِلُ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ ﴾ یوه فرقه ده چي جنګ يې کاوو په لاره دالله کې (دمؤمنانو ټولی) ، ﴿ وَأُخْرَىٰ كَافِرَةٌ ﴾ (او بله فرقه ده چي کافره وه) دشيطان په لار کې جنګيدل او دا دقريشو کافران وو. ﴿ يَرَوْنَهُم مِّثْلَيْهِمْ ﴾ (ليدل به دوی هغو لره دوه چنده دهغوی) يعني کافرانو به مسلمانان داسي ليدل لکه چي دوی دوه چنده وي. ﴿ رَأْيَ ٱلْعَيْنِ ﴾ (په ليدلو دسترګو سره) يعني په ظاهري کتلو او په سپينو سترګو نه داچي وهم او خيال به يې کاوو او چا بيا ويلي چي کافران وينې مسلمانان دوه چنده په عدد او شمير کې ځکه چي الله مؤمنان دکافرانو په سترګو کې زيات کړي چي ځنې ووېرېږي او له جنګ کولو څخه يې بې زړه شي خو لومړی قول دابن جرير غوره دی او هغه خورا ځرګند دی ځکه چي الله (رأی العين) فرمايلی يعني حقيقي رؤيت نه داچي خيال وي ﴿ وَٱللَّهُ يُؤَيِّدُ بِنَصْرِهِۦ مَن يَشَآءُ ﴾ (او الله قوت ورکوي په نصرت خپل سره هرچا ته چي اراده وکړي . ﴿ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَعِبْرَةً ﴾ (بيشکه پدې (زيات او کم ليدلو کې) خامخا عبرت دی) ﴿ لِّأُوْلِي ٱلْأَبْصَٰرِ ﴾ (لپاره دخاوندانو دبصيرت) هغوی چي سالم عقلونه اومستقيم افکار لري (د آيت مغز داده چي په مادي قوت هيڅکله هم بری نه ترلاسه کيږي او نه هم په ډيرو سرو او ډيرو وسلو بلکې دالله جل جلاله په مرسته او تائيد بريالیتوب راځي ، لکه چي الله جل جلاله فرمايي: (ان ينصركم الله فلا غالب لكم) (آل عمران-۱۶۰) بيا الله تعالی دخلکو هغوی چي دفاني دنيا په شهوتونو غوليږي حال بيانوي ، فرمايي: ﴿ زُيِّنَ لِلنَّاسِ حُبُّ ٱلشَّهَوَٰتِ مِنَ ٱلنِّسَآءِ ﴾ (ښائسته کړي شوي دي خلکو ته محبت دمرغوبو خوندورو شيانو چي ښځي دي) او پيل يې په ښځو وکړ ځکه چي فتنه سخته په دوی کې ده او په دوی باندي خوند اخيستل زيات دي په حديث شريف کې راځي (ماتركت فتنة اضر علی الرجال من النساء)[1] مانه ده پرېښي وروسته له خپله ځانه يوه فتنه چي زيات ضرر رسونکی وي نارينه وو ته له ښځو څخه) او بيايې دهغه څه ذکر وفرمايل چي له دوی څخه زيږي وبې ويل: ﴿ وَٱلْبَنِينَ ﴾ او چي دوهم ځل يې راوړي ځکه اولادونه دزړه ميوه او دسترګو نور او يخوالی وي. چي ترمال ئې دمخه ذکر کړل ځکه دانسان مينه له اولاد سره تر مال زياته ده. ﴿ وَٱلْقَنَٰطِيرِ ٱلْمُقَنطَرَةِ مِنَ ٱلذَّهَبِ وَٱلْفِضَّةِ ﴾ (او ډير مالونه چي راټول کړي شوي دي له سرو او سپينو زرو) مال ځکه محبوب دی چي ډير شهوتونه په ده تر لاسه کيږي او سړی دمال په

(۱) اخرجه البخاري

راتولولو کې خطرونو ته هم لاس ورغزوي. (وتحبون المال حبا جما) او څرنګه چې سره او سپین زر په معاملاتو کې اړول را اړول کیږي ځکه یې ځانګړي کړي. ﴿ وَالْخَيْلِ الْمُسَوَّمَةِ ﴾ (او ښائسته آسان) ﴿ وَالْأَنْعَامِ ﴾ (او نور چارپایان) یعنې اوښ، غوايي، پسه څرنګه چې له هغوی څخه د سورلي، خوراک او زینت کار اخیستل کیږي. ﴿ وَالْحَرْثِ ﴾ (او کښت چې په هغه کې د خوراکونو انواع راځي) ﴿ ذَٰلِكَ مَتَاعُ الْحَيَاةِ الدُّنْيَا ﴾ (دغه فائده اخیستل د ژوندون د دنیا دی) او هغه فاني او زائل زینت دی. ﴿ وَاللَّهُ عِندَهُ حُسْنُ الْمَآبِ ﴾ (او خاص د الله په نزد شته ښه ځای د ورتلو چې جنت دی) ﴿ قُلْ أَؤُنَبِّئُكُم بِخَيْرٍ مِّن ذَٰلِكُمْ ﴾ (وو وایه ای (محمده) دوی ته ایا خبر درکړم تاسي ته په بهتر له دغو نه) یعنې ایا زه تر دغو چې خلکو ته ښائسته شوي زائل شیان دي د ښه شي خبر درکړم استفهام د تعزیر لپاره دی. ﴿ لِلَّذِينَ اتَّقَوْا عِندَ رَبِّهِمْ جَنَّاتٌ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ ﴾ (شته لپاره د هغو کسانو چې متقیان دي په نزد درب د دوی جنتونه چې بهیږي (لاندي له ونو او ماڼیو) د هغوی ویالې) ﴿ خَالِدِينَ فِيهَا ﴾ (تل به وي په دې جنتو کې) ﴿ وَأَزْوَاجٌ مُّطَهَّرَةٌ ﴾ (او ښځې به وي ښې پاکې) یعنې له حسي او معنوي ناپاکي او پلیدي څخه به پاکي وي نه به حیض او نفاس او نه به هم وړي او غټې متیازي لري او نه به هغه ستونزې لري کومې چې د دنیا میرمنې یې لري ﴿ وَرِضْوَانٌ مِّنَ اللَّهِ ﴾ او (رضامندي له جانبه د الله) یعنې دوی لره به لدي نعمتونو سره، سره د الله جل جلاله رضوان وي څه د ول رضوان (؟) ! په حدیث شریف کې راغلي: (احل علیکم رضواني فلا اسخط علیکم بعده ابدا) داسې لویه رضامندي به درکړم چې له هغه وروسته به هیڅکله هم درته په قهر نشم. ﴿ وَاللَّهُ بَصِيرٌ بِالْعِبَادِ ﴾ (او الله ښه لیدونکی دی د بندګانو) یعنې پوه دی د بندګانو په حالاتو هر چاته له خپل استحقاق سره سم څه ورکوي بیا الله د هغو متقیانو صفات بیانوي هغه چې تل تر تله یې د نعمتونو په ځای ورکولو نازولي دي. وایې: ﴿ الَّذِينَ يَقُولُونَ رَبَّنَا إِنَّنَا آمَنَّا ﴾ (هغه (متقیان) چې وایې ای ربه زموږ! بیشکه موږ ایمان راوړی دی) په تا او ستا په رسولانو. ﴿ فَاغْفِرْ لَنَا ذُنُوبَنَا وَقِنَا عَذَابَ النَّارِ ﴾ (نو مغفرت وکړه موږ ته د ګناهونو زموږ او وساته موږ له عذابه داور د دوزخ) یعنې موږ ته په خپل فضل او مرحمت مغفرت وکړه او له اوره مو وژغوره. ﴿ الصَّابِرِينَ وَالصَّادِقِينَ وَالْقَانِتِينَ ﴾ (هسې (متقیان) چې صبر کونکی وي او صادقان دي او حکم منونکي دي (د حکم د الله) یعنې دوی په تکالیفو او بیوزلیو کې صبر کوي او رښتنې دي په خپل ایمان کې او په وخت د لقاء، او حکم په ځای راوړونکي دي په وخت د ستونزو او خوښیو کې ﴿ وَالْمُنفِقِينَ ﴾

(او خیرات ورکونکي دي) هغوی چي خپل مالونه د خیر ښېګڼو په کارونو کې لګوي ﴿ وَٱلْمُسْتَغْفِرِينَ بِٱلْأَسْحَارِ ﴾ او مغفرت غوښتونکي دي د سهار په وخت کې هغه چي له سپیده چاود دمخه وخت دی

بلاغت:

پدې کلام کې چي فرمايي: (من الله) ايجاز بالحذف او تقدير يې داده چي (من عذاب الله) او په (شيئا) کلمه کې تنکير د تقليل لپاره ده يعني لږ ګټه هم ورته نه رسوي او پدې کلام کې چي (و اولئک هم وقود النار) جمله اسميه ددي لپاره راوړل شوه چي دامر په ثبوت دلالت وکړي او هلته چي يې وفرمايل (كذبوا باياتنا فاخذهم الله) په التفات مشتمل دی چي له غياب څخه يې حضورته راوړي اصل يې داوو چي (فاخذناهم). (لكم آية) په اصل کې (آية لكم) و او دلته يې تقديم ددي لپاره شوی چي پاملرنه (اعتنا) ورته وشي او مؤخر ته تشويق پيدا شي او دلته تنکير د تفخيم او تهويل لپاره دی يعني ستر او عظيم آيت او همدا راز تنکير په (رضوان من الله) کې او بيا په (يرونهم) او په (راى العين) کې د جناس اشتقاق موجود دی. په دې کلمه کې چي فرمايي: (حب الشهوات) مراد ځني مشتهيات دي زمخشري وايي چي په شهواتو سره يې تعبير ځنې وفرمايل د مبالغې لپاره لکه چي هغه عيناً پخپله شهوات دي او بل په دي تنبيه راشي چي خساست پکې دي ځکه حکماء وايي چي هرشهوت ستر ذلت (سپک او چټي) دی، پدې کلمه کې چي وايي: (بخير من ذلكم) (په خير کې ابهام د تفخيم لپاره) او داچي د پېژندلو په هکله يې ترغيب زيات شي. (للذين اتقوا عند ربهم) ابوالسعود وايي چي د ربوبيت عنوان سره له اضافته د متقينو ضمير ته راوړل ددي لپاره دی چي د زيات لطف او مهرباني څرګندونه وشي.[1] (القناطير المقنطرة) پدې کې بيا هغه بديعي محسنات دي چي ورته جناس ناقص وايي.

فوائد او ګټې:

لومړی فائده: څوک د شهوتونو ښائسته کونکی دی؟ څوک وايي چي شيطان، ځکه الله فرمايي: (و زين لهم الشيطان اعمالهم) (او د شيطان کار ښائسته کول او وسوسه اچول او ښه څرګندول دي)، او څوک بيا وايي چي ښائسته کونکی الله جل جلاله دي دليل دا چي فرمايي: (انا جعلنا ما على الارض زينة لها لنبلوهم ايهم احسن عملا) (او د الله تزئين د ابتلا لپاره وي ترڅو د شهوت بنده د مولی له بنده څخه بيل شي. او د حضرت عمر رضی الله عنه د قول ظاهري معنا دا ده چي وايي: (اللهم لا صبرلنا على ما زينت لنا الا بک) يعني ای ربه! د هغو شيزونو څخه چي تا راته ښائسته کړی موږ صبر نلرو مګر چي ته توان راکړي)(٢)

دوهمه فائده: د سباون (سهار) ځانګړتيا په استغفار سره ددي لپاره شوي چي دعا په دي وخت کې د منلو لپاره خورا نژدې وي ځکه نفس پاک وي، روح سپيځلی او تولهوي او عبادت کول ډير ستونزمن

---

[1] - تفسير ابي السعود ٢٢٦/١.
[2] - رواه البخاري.

وي ،ځکه نو دعا اجابت ته خورا نژدې وي ، ابن کثیر وايي چې عبدالله ابن عمر رضی الله عنهما به د شپې لمونځ کاوو او بيا به يې ويل : ای نافع ! ايا سهار دی که به هغه ورته وويل چې هو ! نو به يې په دعا کولو پيل وکړ او استغفار به يې کاوو ترڅو به سپيدې وچاودې.[1]

***

الله تعالی فرمايي:

﴿ شَهِدَ ٱللَّهُ أَنَّهُۥ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ وَٱلْمَلَٰٓئِكَةُ وَأُو۟لُوا۟ ٱلْعِلْمِ قَآئِمًۢا بِٱلْقِسْطِ ۚ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ٱلْعَزِيزُ ٱلْحَكِيمُ ﴿١٨﴾ إِنَّ ٱلدِّينَ عِندَ ٱللَّهِ ٱلْإِسْلَٰمُ ۗ وَمَا ٱخْتَلَفَ ٱلَّذِينَ أُوتُوا۟ ٱلْكِتَٰبَ إِلَّا مِنۢ بَعْدِ مَا جَآءَهُمُ ٱلْعِلْمُ بَغْيًۢا بَيْنَهُمْ ۗ وَمَن يَكْفُرْ بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ فَإِنَّ ٱللَّهَ سَرِيعُ ٱلْحِسَابِ ﴿١٩﴾ فَإِنْ حَآجُّوكَ فَقُلْ أَسْلَمْتُ وَجْهِىَ لِلَّهِ وَمَنِ ٱتَّبَعَنِ ۗ وَقُل لِّلَّذِينَ أُوتُوا۟ ٱلْكِتَٰبَ وَٱلْأُمِّيِّـۧنَ ءَأَسْلَمْتُمْ ۚ فَإِنْ أَسْلَمُوا۟ فَقَدِ ٱهْتَدَوا۟ ۖ وَّإِن تَوَلَّوْا۟ فَإِنَّمَا عَلَيْكَ ٱلْبَلَٰغُ ۗ وَٱللَّهُ بَصِيرٌۢ بِٱلْعِبَادِ ﴿٢٠﴾ إِنَّ ٱلَّذِينَ يَكْفُرُونَ بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ وَيَقْتُلُونَ ٱلنَّبِيِّـۧنَ بِغَيْرِ حَقٍّ وَيَقْتُلُونَ ٱلَّذِينَ يَأْمُرُونَ بِٱلْقِسْطِ مِنَ ٱلنَّاسِ فَبَشِّرْهُم بِعَذَابٍ أَلِيمٍ ﴿٢١﴾ أُو۟لَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ حَبِطَتْ أَعْمَٰلُهُمْ فِى ٱلدُّنْيَا وَٱلْءَاخِرَةِ وَمَا لَهُم مِّن نَّٰصِرِينَ ﴿٢٢﴾ أَلَمْ تَرَ إِلَى ٱلَّذِينَ أُوتُوا۟ نَصِيبًا مِّنَ ٱلْكِتَٰبِ يُدْعَوْنَ إِلَىٰ كِتَٰبِ ٱللَّهِ لِيَحْكُمَ بَيْنَهُمْ ثُمَّ يَتَوَلَّىٰ فَرِيقٌ مِّنْهُمْ وَهُم مُّعْرِضُونَ ﴿٢٣﴾ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمْ قَالُوا۟ لَن تَمَسَّنَا ٱلنَّارُ إِلَّآ أَيَّامًا مَّعْدُودَٰتٍ ۖ وَغَرَّهُمْ فِى دِينِهِم مَّا كَانُوا۟ يَفْتَرُونَ ﴿٢٤﴾ فَكَيْفَ إِذَا جَمَعْنَٰهُمْ لِيَوْمٍ لَّا رَيْبَ فِيهِ وَوُفِّيَتْ كُلُّ نَفْسٍ مَّا كَسَبَتْ وَهُمْ لَا يُظْلَمُونَ ﴿٢٥﴾ ﴾ آل عمران: ۱۸-۲۵

مناسبت او تړاو:

کله چې الله د مؤمنانو ستاينه وکړه چې: (**الذين يقولون ربنا اننا آمنا**)، وروسته يې جوخت دا څرګنده کړه چې دايمان دليلونه په ښکاره توګه څرګند دي ويې فرمايل: (**شهدا لله انه لا اله الا هو**) بيا يې دا بيان کړه چې حق دين هغه چې دالله خوښ دی ، داسلام دين دی او پيغمبر ته يې امر وکړ چې خپل انقياد او غاړه ښودنه اعلان کړي د همدې دين لپاره. او وروسته يې بيا دګمراهانو اهل کتابو هغه ددين په هکله دستر اختلاف يادونه وکړه او داچې دالله دحکم له منلو ينې غاړه وغړوله.

لغتونه:

(**شهد**) شهادت اقرار او بيان ته وايي. (**قسط**) عدل. (**الدين**) : دين په اصلي لغت کې جزاء ته وايي او په ملت يې هم اطلاق راځي چې دلته همدا مراد دی. (**الاسلام**) : الاسلام په لغت کې غاړه اېښودلو او بشپړ تسليم کيدلو (سپارلو) ته وايي .الانباري داسې وايي چې : دمسلم معنا دالله په عبادت کې مخلص ده لکه چې دوی وايي (**سلم الشئ لفلان**) يعنې خالص يې کړ،نو داسلام معنا الله لره په دين او عقيده کې اخلاص ته وايي. (**حاجوک**) شخړه او جګړه کوي تاسره. (**غرهم**) تير ايستلی. (**يفترون**) دوی درواغ وايي.

---

[1] - مختصر ابن کثير ۲۷۷/۱.

دنزول سبب:

کله چي رسول الله صلی الله علیه وسلم په مدینه منوره کې میشت شو نو د شام له احبارو څخه دوه تنه ورته راغلل او رسول الله صلی الله علیه وسلم یې په نعت او صفت وپیژاند نو یې ورته وویل ایا ته محمد یې ؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وویل: هو ! بیا یې ورته وویل او ته احمد یې ، ورته یې وویل: هو ! نو دوی دواړو ورته وویل موږ د دې شاهدي غواړو ، رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وویل چي وپوښتئ ، نو دوی ورته وویل چي تر ټولو ستر شهادت په کتاب الله کې راوښیه نو دا آیت نازل شو : (شهد الله انه لا اله الا هو) نو دوی دواړه مسلمانان شول او د رسول الله صلی الله علیه وسلم په رسالت یې ایمان راووړ.[1]

تفسیر:

﴿ شَهِدَ ٱللَّهُ أَنَّهُۥ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ﴾ (شاهدي اداکړي الله د وحدانیت او د قدرت د آیتونو (دلائلو په اقامت خلکو ته) پدې شان چي نشته هیڅ مستحق د عبادت مگر هم دی دی) یعني الله بیان کړي او خلکو ته وربنودلي چي الله واحد دی ، زمخشري وایي چي الله پخپل وحدانیت دلالت په بیان او څرگند یدلو کې د شاهد له شاهدي سره مشابه وگڼل. ﴿ وَٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ وَأُوْلُواْ ٱلۡعِلۡمِ ﴾ (او شاهدي اداء کړی ده ، پرښتو او شاهدي اداکړې ده ، د علم خاوندانو) په سبب د دلائلو د خلقت او بدیع صنعت دده . ﴿ قَآئِمَۢا بِٱلۡقِسۡطِۚ ﴾ (پدې حال کې چي ثابت دی (الله او حکم یې په عدل سره).په هغه څه کې چي ویشي رزقونه د خلکو او اجلونه د دوی ﴿ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ﴾ نشته هیڅ مستحق د عبادت مگر هم دی دی. ﴿ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡحَكِيمُ ﴾ (ښه غالب حکمت والا دی.) غالب په خپله پاچهي کې او حکمت والا په خپل صنعت کې. ﴿ إِنَّ ٱلدِّينَ عِندَ ٱللَّهِ ٱلۡإِسۡلَٰمُۗ ﴾ (بیشکه دین غوره شوی ، په نزد د الله دین د اسلام دی) او بل هیڅ دین الله نه خوښوي.

﴿ وَمَا ٱخۡتَلَفَ ٱلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلۡكِتَٰبَ إِلَّا مِنۢ بَعۡدِ مَا جَآءَهُمُ ٱلۡعِلۡمُ ﴾ (او اختلاف ندی کړی هغو کسانو چي ورکړي شوي دي دوی ته کتاب چي (یهود او نصارا دی) مگر وروسته له هغه چي راغی دوی ته علم) یعني یهودانو او نصرانیانو د توحید او محمدي نبوت په هکله تر هغو کوم اختلاف نه درلود ترڅو په څرگندو دلائلو او روښانه حقایقو ورته معلومه شوه چي داحق دی نو د دوی کفر د اشتباه او ناپوهی له امله نه وو بلکې سره له پوهې د عناد او استکبار په سبب یې اختلاف پیل کړ او د هغې ډلې څخه دی چي سره له پوهې گمراهی ته ملا تړي. ﴿ بَغۡيَۢا بَيۡنَهُمۡۗ ﴾ (په سبب د ضد ، حسید ، کینې چي وو په مینځ د دوي کې) چي دوی یې د ریاست د مینې لپاره هڅولي وو. ﴿ وَمَن يَكۡفُرۡ بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ فَإِنَّ ٱللَّهَ سَرِيعُ ٱلۡحِسَابِ ﴾ (او هرڅوک چي کافر کیږي (انکار کوي) په آیتونو د الله ، پس بیشکه الله ډیر ژر حساب والا دی) یعني څوک چي د الله په آیتونو کافر کیږي ژر به الله ته ورشي او الله به دده د کفر په سبب دي ډیر ژر په سزا

[1] - القرطبي ۴ /۴۷.

ورسوي ﴿ فَإِنْ حَآجُّوكَ فَقُلْ أَسْلَمْتُ وَجْهِيَ لِلَّهِ وَمَنِ ٱتَّبَعَنِ ﴾ پس که بیا جګړه کوئ دا (کافران) له تاسره پس وو وایه (ای محمده!) دوی ته چي ما خالص تسلیم کړي دی مخ خپل الله ته او هر هغه چي زما متابعت کوي) یعنې که بیایې هم له تاسره ددین په شان کې جګړه کوله (ای محمده!) نو ته ورته وو وایه چي زه دالله بنده یم خپل ځان مې په بشپړه توګه هغه ته سپارلی او عبادت خالص یوازې دهغه کوم، شریک، سیال ، میرمن او ذوذات نلري ، زه او زما پلویان داسلام په دین او دالله جل جلاله دامر منونکي یو ﴿ وَقُل لِّلَّذِينَ أُوتُوا۟ ٱلْكِتَـٰبَ وَٱلْأُمِّيِّـۧنَ ﴾ (او ووایه (ای محمده!) هغو کسانو ته چي ورکړل شوي دی ورډوی ته کتاب او ناپوهانو (عربي مشرکانو)ته) یعني یهودانو ، نصرانیانو او دعربو بت پرستانو ته وو وایه.

﴿ ءَأَسْلَمْتُمْ ﴾ (ایا اسلام راوړئ تاسي؟) او یا پخپل کفر پاتې یاست په تحقیق سره تاسو ته هغه ځه راغلل چي ستاسي داسلام راوړل لازموي ﴿ فَإِنْ أَسْلَمُوا۟ فَقَدِ ٱهْتَدَوا۟ ﴾ (پس که اسلام راووړ دوی پس په تحقیق چي وموندله دوی سمه صافه لاره) ځانونو ته یې ګټه ورسوله له ګمراهې څخه هدایت ته او له تاریکې څخه روښنایې ته راووتل . ﴿ وَّإِن تَوَلَّوْا۟ فَإِنَّمَا عَلَيْكَ ٱلْبَلَـٰغُ ﴾ (او که وګرځیدل دوی له اسلامه پس بیشکه هم داخبره ده چي پر تا تش تبلیغ (دهدایت) دی) یعنې ای محمده ! که دوی له اسلامه هم وګرزي تاته څه تاوان نه رسوي ځکه ته الله جل جلاله ددوی په هدایت مکلف کړی نه یې ستا کار یوازې تبلیغ دی او له دي څخه غرض درسول الله صلی الله علیه وسلم ډاډینه او تسلا وه . ﴿ وَٱللَّهُ بَصِيرٌۢ بِٱلْعِبَادِ ﴾ (او الله ښه لیدونکی دی ، عالم پر پټو او ښکاره احوالو دبندګانو) او وربانديې به جزا ورکړي ، روایت کاوه شي چي کله رسول الله صلی الله علیه وسلم دغه آیت اهل کتابو ته ولوست هغوی وویل موږ مسلمانان شو ، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم یهودانو ته وویل : ایا تاسو دا شاهدي وایاست چي عیسی علیه السلام دالله کلمه ، بنده او پیغمبر دی ، نو هغوی وویل : معاذالله او بیایې نصرانیانو ته وویل چي ایاتاسو داشاهدي وایاست چي عیسی دالله بنده او استازی دی نو هغوی وویل: معاذ الله چي عیسی بنده وي او دادالله هغه قول دی چي فرمایې : (وان تولوا) ([1]) ﴿ إِنَّ ٱلَّذِينَ يَكْفُرُونَ بِـَٔايَـٰتِ ٱللَّهِ ﴾ (بیشکه هغه کسان چي کافران کیږي په آیتونو (دالله باندي) یعني دروغ ګڼې نازل شوي آیتونه.

﴿ وَيَقْتُلُونَ ٱلنَّبِيِّـۧنَ بِغَيْرِ حَقٍّ ﴾ (او وژني دوی انبیاء په ناحقه سره) هغه چي هیڅ ګناه نلري پرته له دي چي دوی دالله لوري ته بولي دغه یهودان دي چي زکریا او زوی یې یحیی علیه السلام او نور نبیان یې ووژل. ابن کثیر وایې چي بني اسرائیلو دري سوه انبیاء دیوې ورځي په سرکښې ووژل او بیایې دورځې په پای کې دسوداګري بازار پرانستل. ﴿ وَيَقْتُلُونَ ٱلَّذِينَ يَأْمُرُونَ بِٱلْقِسْطِ مِنَ ٱلنَّاسِ ﴾ (اووژني هغه کسان چي حکم کوي په عدل (او انصاف) له خلکو سره) یعني هغه کسان چي دعوتګران وي خلکو ته دخیر او عدل حکم کوي. ﴿ فَبَشِّرْهُم بِعَذَابٍ أَلِيمٍ ﴾ (پس زیري ورکړه دوی ته په عذاب دردناک سره

([1]) تفسیر ابي السعود ١/٢٢٣.

يعني دوی ته خوشحالونکي خبر ورواوره چي هغه دردناک او سپکوونکی عذاب دی دغه اسلوب ته تهکم وايي په تحقيق سره دوی : همدي متسحق او ور دي څکه دوی دري دوله گناهو ته کړي دي، دالله دآيتونو انکار بل دانبياوو وژل او يوبل هم دبلونکو او مبلغينو قتل الله جل جلاله ددوی عاقبت او پايله داسي ښيي: ﴿ أُولَٰئِكَ الَّذِينَ حَبِطَتْ أَعْمَالُهُمْ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ ﴾ (داهغه کسان دي چي باطل شوي دي نيک) عملونه د دوی په دنيا کي او (هم) په آخرت کي) بلکي ددوی لپاره لعنت او سپکاوی په دنيا او آخرت کي پاتي دی ﴿ وَمَا لَهُم مِّن نَّاصِرِينَ ﴾ (او نشته دوی ته هيڅ مددگاران (دعذاب په دفع کولو کي) بيا الله جل جلاله ددوی لجاجت او سپين سترگي عناد داسي نمونه بيانوي ﴿ أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِينَ أُوتُوا نَصِيبًا مِّنَ الْكِتَابِ ﴾ (ايا ته نه گوري هغو کسانو ته چي ورکړل شوي دوی ته څه برخه له کتابه (تورات) څخه) يعني ايا ته تعجب نه کوي (ای محمده !) دلته صيغه دتعجب لپاره ده چي دپيغمبر لپاره او يا دهر مخاطب لپاره ده ، زمخشري وايي په آيت شريف کي ديهودو احبار مراد شوي چي دوی ته ښه غوښته (زياته) برخه دتورات ورکول شوي وه . ﴿ يُدْعَوْنَ إِلَىٰ كِتَابِ اللَّهِ لِيَحْكُمَ بَيْنَهُمْ ﴾ (حال داچي وباله شي دوی طرف دکتاب الله ته چي حکم وکړي (داکتاب) په مېنځ د دوی کي) يعني کله چي دوی دالله کتاب لوري (تورات) چي ددوی کتاب دي وبلل شي ترڅو دوی متنازع فيه مسئلي حل کړي نو دوی يې نه مني.

﴿ ثُمَّ يَتَوَلَّىٰ فَرِيقٌ مِّنْهُمْ وَهُم مُّعْرِضُونَ ﴾ (بيا مخ گرځوي يوه ډله له دوی نه حال داچي دوی تل څنگ کونکي وي (له منلو دحکم دالله نه) او دلته استبعاد دی څکه دوی پدې علم لري چي دلته دالله حکم ته رجوع کول لازمي ده خو بيا هم دوی مخ اړوي او دا جمله چي فرمايي :(وهم معرضون) (دتوبي لپاره تاکيد دی يعني دوی هسې قوم او ټبر دی چي له حق څخه تل مخ اړوي او په باطل باندي اصرا رکوي او آيت شريف لکه چي مفسرينو ليکلي هغې کيسې ته اشاره کوي چي کله ،دوه يهودانو زنا وکړه او يهودانو له رسول الله څخه دحکم او فيصلي غوښتنه وکړه نو درجم حکم ورباندي صادر شوخو دوی نه منله او ويل يې زموږ په تورات کي داسي حکم نشته (يوازي تحميم) دمخ تورول شته دي او کله چي تورات راوړل شو د رجم حکم پکي موجود ؤ او ورباندي نافذ شو دوی ته قهر ورغی نوالله تعالی په دي آيت کي ددوی بدي بيان کړه .(١) ﴿ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمْ قَالُوا لَن تَمَسَّنَا النَّارُ إِلَّا أَيَّامًا مَّعْدُودَاتٍ ﴾ (دغه (گرځيدل ددوی) په سبب د دي دي چي بېشکه دوی (يهودان) وايي له سره به ونه رسيږي موږ ته اور د (دوزخ) مگر يو څو ورځي شميرلي) يعني دغه گرزيدل د دوی په سبب دهغو دروغو دی چي په الله يې تړلی او گومان کوي چي دوی دانبياوو زامن دي او دوی ته نه رسيږي اور مگر لږ موده څلوېښت ورځي هغه چي دوي دخوسي عبادت کاوو.

﴿ وَغَرَّهُمْ فِي دِينِهِم مَّا كَانُوا يَفْتَرُونَ ﴾ (او غره کړي دی دوی (تيرا يستلي) په دين خپل کي هغه شی چي وو دوی دروغ به يې جوړول (په الله) . ﴿ فَكَيْفَ إِذَا جَمَعْنَاهُمْ لِيَوْمٍ لَّا رَيْبَ فِيهِ ﴾ (نو څه حال به وي هغه وخت کله چي يوځای کړو موږ دوی لپاره (دحساب دهغې ورځي) چي نشته هيڅ شک په راتلو د (هغې کي) او

١- وگوره دا کيسه صحيح البخاري کتاب التفسير.

پدې کې دهغو سختيو او کړاوونو سترتوب او هيبت مقصود دی چې دوئ به هغه وخت ويني.

﴿ وَوُفِّيَتْ كُلُّ نَفْسٍ مَّا كَسَبَتْ ﴾ او پوره به ورکړل شي هر نفس ته جزا دهغه عمل چې کړي يې وي.

﴿ وَهُمْ لَا يُظْلَمُونَ ﴾ (حال داچې په دوی به ظلم ونکړی شي) دعذاب په زياتولو يا دثواب په کمولو.

بلاغت:

۱- داچې الله جل جلاله فرمايي :(ان الدين عندالله الاسلام) جمله په دواړو خواوو کې معرفه ده نو حصر افاده کوي معنا داچې نشته هيڅ دين مگر اسلام دی.

۲- (الذين اوتوا الكتاب) ، تعبير له يهودو او نصاراوو څخه په اهل کتابو راغلی تر څو دوی زيات اشقياء او بدمرغي وښودل شي څکه سره له دي چې په منزل کتاب علم لري نو اختلاف خو رابدبختې او زښته بدي او ستر شناعت دی.

۳-(بايات الله فان الله)، اظهار د اسم جليل لپاره دی چې په زړونو کې مهابت وروزي او په نفسونو کې روعت کښېنوي.

۴- پدې کلمه کې چې فرمايې: (اسلمت وجهي)، اطلاق يې دوجهې وکړ او مراد څني کل دی او دی ته مجاز مرسل وايې.

۵-(فبشرهم بعذاب اليم)، اصل په بشارت کې دادی چې دخير په خبر کې وي خو استعمال يې دشر دخبري په وخت کې تهکم او ملندي وي،له دي چې داخطار په ځای يې زيري ورته استعمال کړ هغه چې خوښحالونکی وي اوداسکه دالله جل جلاله داقول چې:(بشرالمنافقين بان لهم عذاباً اليما) .(النساء-۱۳۸) اودغه په تهکمي اسلوب مشهور دی.

فائده:

قرطبي وايې پدې آيت کې دعلم په فضيلت باندي دليل شته او داچې علماء شرافت لري څکه که تر علماوو ډېر څوک دشرافت خاوند وايې، نو الله به يې نوم له خپل نامه او پرښتو سره يو ځای ذکر کړي وو لکه چې دعلماوو نوم يې ياد کړی دی او دعلم دشرافت په هکله د رسول الله صلى الله عليه وسلم لپاره دغه دالله قول بس ده چې ورته امر کوي (وقل رب زدني علما) (طه:۱۱۴) او همدارنگه د رسول الله صلى الله عليه وسلم دغه ويناچې فرمايې : (العلماء ورثة الانبياء) په حديث شريف کې راځي چې ابن مسعود روايت کړی وايې چې څوک د الله تعالى دغه قول چې (شهدالله انه لا اله الا هو.....) تر پايه ووايې دقيامت په ورځ به راوستل شي او الله جل جلاله به وايې زما بنده له ماسره په عهد کولو عهد کړی او زه تر هر چاچې په عهد وفا کوي حق داره او وفاداره يم زما بنده جنت ته داخل کړئ.(۱)

۱- رواه الطبراني في الكبير.

الله تعالی فرمایي:

﴿ قُلِ ٱللَّهُمَّ مَٰلِكَ ٱلْمُلْكِ تُؤْتِي ٱلْمُلْكَ مَن تَشَآءُ وَتَنزِعُ ٱلْمُلْكَ مِمَّن تَشَآءُ وَتُعِزُّ مَن تَشَآءُ وَتُذِلُّ مَن تَشَآءُ بِيَدِكَ
ٱلْخَيْرُ إِنَّكَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ ﴿٢٦﴾ تُولِجُ ٱلَّيْلَ فِي ٱلنَّهَارِ وَتُولِجُ ٱلنَّهَارَ فِي ٱلَّيْلِ وَتُخْرِجُ ٱلْحَيَّ مِنَ ٱلْمَيِّتِ وَتُخْرِجُ ٱلْمَيِّتَ مِنَ ٱلْحَيِّ
وَتَرْزُقُ مَن تَشَآءُ بِغَيْرِ حِسَابٍ ﴿٢٧﴾ لَّا يَتَّخِذِ ٱلْمُؤْمِنُونَ ٱلْكَٰفِرِينَ أَوْلِيَآءَ مِن دُونِ ٱلْمُؤْمِنِينَ وَمَن يَفْعَلْ ذَٰلِكَ فَلَيْسَ مِنَ ٱللَّهِ
فِي شَيْءٍ إِلَّآ أَن تَتَّقُوا۟ مِنْهُمْ تُقَىٰةً وَيُحَذِّرُكُمُ ٱللَّهُ نَفْسَهُۥ وَإِلَى ٱللَّهِ ٱلْمَصِيرُ ﴿٢٨﴾ قُلْ إِن تُخْفُوا۟ مَا فِي صُدُورِكُمْ أَوْ تُبْدُوهُ
يَعْلَمْهُ ٱللَّهُ وَيَعْلَمُ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلْأَرْضِ وَٱللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ ﴿٢٩﴾ يَوْمَ تَجِدُ كُلُّ نَفْسٍ مَّا عَمِلَتْ مِنْ خَيْرٍ
مُّحْضَرًا وَمَا عَمِلَتْ مِن سُوٓءٍ تَوَدُّ لَوْ أَنَّ بَيْنَهَا وَبَيْنَهُۥٓ أَمَدًۢا بَعِيدًا وَيُحَذِّرُكُمُ ٱللَّهُ نَفْسَهُۥ وَٱللَّهُ رَءُوفٌۢ بِٱلْعِبَادِ ﴿٣٠﴾ قُلْ إِن
كُنتُمْ تُحِبُّونَ ٱللَّهَ فَٱتَّبِعُونِي يُحْبِبْكُمُ ٱللَّهُ وَيَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوبَكُمْ وَٱللَّهُ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿٣١﴾ قُلْ أَطِيعُوا۟ ٱللَّهَ وَٱلرَّسُولَ فَإِن تَوَلَّوْا۟ فَإِنَّ
ٱللَّهَ لَا يُحِبُّ ٱلْكَٰفِرِينَ ﴿٣٢﴾ ﴾ آل عمران ۲۶-۳۲

مناسبت او تړاو:

کله چي الله تعالی په تیرو آیتونو کې د توحید او نبوت دلائل راوړل او د اسلام د دین رښتیا والی یې رښود بیایې دهغو بشارتونو او زیرو یادونه وکړه چي د الله مرستې له مسلمانانو او اسلام سره په نژدیوالي دلالت کوي هر څه د الله په ید دقدرت کې دي، هغه چاته چي خوښه یې شي عزت ورکوي او چاته چي خوښه یې شي ذلت ورباندي لوروي او په آیتونو کې الله خپل استازي ته د دعا او ابتهال امر کوي چي ووایې(یا الله)! د حق لښکري بریالی او خپل مبین دین ته نصرت ورکړي!!

لغتونه:

(اللهم) اصل یې یا الله د نداء توری حذف او پر ځای یې مشدد میم عوض راوړل شوی، دغه خبره خلیل او سیبویه کړي ده. (تنزع)، اخلي یا زائل کوي ویل کیږي (نزع الله عنه الشر) کله چي یې شر ختې لیري کړي (تولج)، ایلاج داخلولو ته وایې او له دي څخه د الله هغه قول دی چي فرمایې: (حتي یلج الجمل في سم الخیاط). (امداً) آخر او منتها د شي ته ویل کیږي جمع یې (آماد) راځي. (تقاة) تقیه دیو انسان سره هغه مدارات ته وایې چي له شره یې ځان ژغوري.

دنزول سبب:

الف: کله چي رسول الله صلی الله علیه وسلم مکه فتح کړه او امت ته یې د فارس او روم د پاچهیو دنیولو وعده ورکړه نو منافقینو او یهودانو ویل: لیري ده،، لیري ده! چیري به محمد د فارس او روم پاچهې ونیسي هغوی ډیر قوي او ستر قدرتونه دي، ایا د محمد مکه کفایت نه کوي چي د روم او فارس

دپاچهيو په لوري هم سترګې غړوي اوهيلې لري ، بيا الله دا آيت نازل کړ : (قل اللهم مالک الملک تؤتي الملک من تشاء ...) دآيت تر پايه.[1]

ب : له ابن عباس رضی الله عنهما څخه روايت شوي چي (عبادة بن صامت) هغه چي دبدر له مجاهدينو څخه (يوپرهيزګاره صحابي) وو ديهودو سره يې تړون لاره، کله چي رسول الله داحزاب په ورځ رابهر شو نو (عبادة بن صامت) ورته وويل : ای دالله نبي ! له ماسره پنځه سوه تنه يهودان دي ، ماداسې اټکل کړي چي راسره ملګري به ووزي او په دښمن به ورباندي برى ومومو ، نو بيا الله دا آيت نازل کړ :(لايتخذ المؤمنون الکافرين اولياء)([2])

تفسير :

﴿ قُلِ ٱللَّهُمَّ مَٰلِكَ ٱلْمُلْكِ ﴾ووايه (ای محمده !) يا الله (ای) مالکه د سلطنت (واکداره د پاچهي) ﴿ تُؤْتِي ٱلْمُلْكَ مَن تَشَآءُ وَتَنزِعُ ٱلْمُلْكَ مِمَّن تَشَآءُ ﴾ (ورکوي ته سلطنت هغه چاته چي اراده وکړي (يا الله دورکولو يې) او بيرته اخلي پاچهي له هغه چا چي اراده وکړي (دبيرته اخيستلويې) يعني ته په کائناتو کې تصرف کونکی يې چاته پاچهي ورکوي له چا څخه يې بيرته اخلي. ﴿ وَتُعِزُّ مَن تَشَآءُ وَتُذِلُّ مَن تَشَآءُ ﴾ (او عزت ورکوي هر هغه چاته چي اراده وکړي (الله دعزت يې) او خوار ذليل کوي هر هغه څوک چي اراده وکړي (الله د ذلت يې) . ﴿ بِيَدِكَ ٱلْخَيْرُ إِنَّكَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ ﴾ (په لاس دقدرت ستا کې دي جزا دخير (ښېګڼې) بيشکه ته په هر شي باندي ښه قادر يې). ﴿ تُولِجُ ٱلَّيْلَ فِي ٱلنَّهَارِ وَتُولِجُ ٱلنَّهَارَ فِي ٱلَّيْلِ ﴾ (ننني باسي شپه په ورځ کې (ته يا الله) او ننې باسې ورځ په شپه کې (ته يا الله) چي تل په پسرلي کې له شپو کموي او په ورځو کې يې زياتوی اوپه منې کې له ورځو کموي او په شپو کې يې زياتوی. ﴿ وَتُخْرِجُ ٱلْحَيَّ مِنَ ٱلْمَيِّتِ وَتُخْرِجُ ٱلْمَيِّتَ مِنَ ٱلْحَيِّ ﴾ (او راوباسې ته ژوندی له مړي نه او وباسي مړي له ژوندي نه) يعني کښت له دانې څخه زرغونوي او دانه بيا له کښت څخه پيدا کوي دخرما ونه دخرما له زړي شنه کوي او خرما اوزړی بيا دخرما له ونې څخه پيدا کوي ، هګۍ له چرګې نه او چرګه له هګۍ څخه راوباسي مؤمن له کافر څخه زيږوي او کافر بيا له مسلمان او مؤمن څخه ، همدا راز ابن کثير ويلي دي او طبري وايي: چي تر ټولو بهتر سم تأويل دهغه چا قول دی چي وايي: ژوندی انسانان ، حيوان او چارپايان له مړو نطفو څخه پيدا کوي او مړه نطفه بيا له ژوندي انسان ، حيوان او څلور بول څخه پيدا کوي([3]) ﴿ وَتَرْزُقُ مَن تَشَآءُ

---

[1] - القرطبي ۵۲/۴.

[2] - روائع البيان ۳۹۹/۱.

[3] - تفسير الطبري ۳۰۹/۲ – شهيد سيدقطب ددې آيت په معنی کولو کې خوندوره ليکنه کړې چي په لنده توګه يې دلته له ظلال القرآن څخه را اخلو هغه قدس الله روحه وايي: او برابره خبره ده که د ايلاج معنا داوي چي له ورځې څه اخلي شپې ته او له شپې ورځې ته دفصلونو دبدليدلو په وخت کې ورکوي که داوي او که هغه خوزره کولای يې شي وګورئ چي دالله دقدرت درس آسمانونه خوځوي او دغه تکه توره کره دهغې بلي خلانده دلمر کړې په وړاندي نغاړي او دتياري او رڼا خايونه اړوي را اړوي دشپې تاريکي دورځې رڼا ته ورلېږدوي او لږ ،لږ دسباون رڼا پسې له تور پړوني راوباسي شپه اوږديږي او په ژمي کې

بِغَيْرِ حِسَابٍ ﴾ (او روزي ورکوي ته (یاالله) هرهغه چاته چي اراده وفرمايي ، بې حسابه) وروسته بيا الله تعالى دکافرانو له دوستۍ او مرستي کولو څخه منع وفرمايله چي: ﴿ لَّا يَتَّخِذِ ٱلْمُؤْمِنُونَ ٱلْكَٰفِرِينَ أَوْلِيَآءَ مِن دُونِ ٱلْمُؤْمِنِينَ ﴾ (نه دي نيسي مؤمنان کافران دوستان بې له مؤمنانو) يعني مؤمنان دي دالله دښمنان په دوستۍ نه نيسي چي دالله اولياء پرېږدي ، داغير معقوله ده چي دالله محبت او دهغه ددښمن محبت دي دانسان په زړه کې يوځای شي، زمخشري وايې چي له دي څخه منع راغلي چي له کافرانو سره دوستۍ دقرابت، صداقت او يا نور موجباتو په سبب وشي. ﴿ وَمَن يَفْعَلْ ذَٰلِكَ فَلَيْسَ مِنَ ٱللَّهِ فِى شَىْءٍ ﴾ او هرڅوک چي وکړي دا (کار) نو نه دي او دده (تعلق) له دين دالله د دوستي دالله سره په هيڅ شي کې. ﴿ إِلَّآ أَن تَتَّقُوا۟ مِنْهُمْ تُقَىٰةً ﴾ (مګر (خو روا ده دغه دوستي) که ځان ساتی تاسې له دوی نه په ځان ساتنې سره يعنې که تاسو له دوی نه ويرېږئ او يابې له شر څخه ځان ژرغوئ نو ورسره په ژبه دوستي څرګندوی نه په زړه کې څکه دايو ډول له ناپوهانو سره مدارات دی لکه چي روايت کيږي (انا لنبش في وجوه اقوام وقلوبنا تلعنهم) موږ ځينو خلکو ته په ورين تندي مخامخ کيږو خو زړونه مو ورباندي لعنت وايې. ﴿ وَيُحَذِّرُكُمُ ٱللَّهُ نَفْسَهُۥ ﴾ (او ويروئ تاسې الله له (عذابه) نفس خپل يعني له هغه دخدای له لوري صادر شوي عذاب نه مو ويروي). ﴿ وَإِلَى ٱللَّهِ ٱلْمَصِيرُ ﴾ (او (خاص) طرف دالله ته دي ورتله (ستاسې او دټولو) نو هرچاته به دخپل عمل جزا ورکړي. ﴿ قُلْ إِن تُخْفُوا۟ مَا فِى صُدُورِكُمْ أَوْ تُبْدُوهُ يَعْلَمْهُ ٱللَّهُ ﴾ (ووايه (ای محمده !) دوی ته که پټ کړي تاسې هغه شی چي ستاسي په سينو کې دي يا ښکاره کړي تاسي هغه معلوم دي هغه پاک الله ته يعني که تاسي پټ کړي هغه دکفارو دوستي چي ستاسي په زړونو کې ده او يا څرګنده کړی الله ورباندي خبر دی هيڅ شي تري پټ نه دي. ﴿ وَيَعْلَمُ مَا فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِى ٱلْأَرْضِ ﴾ (او معلوم دی الله ته ټول هغه شيان چي په آسمانونو کې دي او هغه چي په مځکه کې دي يعني په ټولو امورو عالم دی. ﴿ وَٱللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَىْءٍ قَدِيرٌ ﴾ (او الله هر شي باندي چي اراده يې وکړي) ښه قادر دی يعني هغه سبحانه وتعالى په کسات اخستلو او انتقام دهغه چاچي له حکم څخه يې سرغړونه وکړي ښه قادر دی دا خورا ستر تهديد دی. ﴿ يَوْمَ تَجِدُ كُلُّ نَفْسٍ مَّا عَمِلَتْ مِنْ خَيْرٍ مُّحْضَرًا ﴾ (او وويرېږئ له) هغې ورځې چي

ورځ خوري بيا ورځ اوږديږي په اوړي کې او له شپې څخه رادبره کيږي همدا راز ژوند او مرګ يو په بل کې په ګرار ، کرار سره اوډل کيږي پر يوه شيبه چي په ژوند تيريږي مرګ ورګډيږي او ځنې خوري يې، ژوند پکې جوړوي ، ژوندی خپله مړی کيږي او وړې خليې پکې پنځيږي او کار کوي دارنګه هره لحظه دشپې او ورځي تيريږي چي دغه قرآني اشاره يې بشري عقل ته ورڅرګندوي او هيڅوک دا ادعا نشي کولای چي هغه پخپله له دي څخه څه جوړوي او نه هوښيار داسوچ کوي چي داهسي تصرفات نابېره له تدبيره پرته راځي ، بلکې دايو ستر پټ خوښنت دی چي دقدرت ، لطف او تدبير دخاوند په لاس ترسره کيږي.

في ظلال القرآن ٣/١٧٠.

مومئ په هر نفس (پکې) هر هغه څه چي کړي يې وي له خيره حاضر کړي شوي) يعني د قيامت په ورځ به هر څوک د خپل عمل جزاء حاضره وينې که نيکي يې کړي وه نيکي جزا ءبه ورکولی شي او که بدي يې کړي د هغې جزا ء به مومي که ښه اعمال يې ترسره کړي وي په جزاء موند لو به يې خوښ خوشحاله شي.

﴿ وَمَا عَمِلَتْ مِن سُوٓءٍ تَوَدُّ لَوْ أَنَّ بَيْنَهَا وَبَيْنَهُۥٓ أَمَدًۢا بَعِيدًا ﴾ (او هر هغه څوک چي کړي وي ده له بدي نه آرزو به کوي دا (نفس) ددي چي کاشکي په مينځ ددې (نفس او بدعمل) کې مسافه وای ، ليري اوږده) يعني که چيري يې عمل بد وی نو دا آزرو به کوي چي خپل عمل بيخي ونه وينې او دابه خوښې چي دده او بد عمل ترمينځ يې زښته زيات واټن او مسافه وي لکه د ختيز او لويديځ ترمينځ مسافه ﴿ وَيُحَذِّرُكُمُ ٱللَّهُ نَفْسَهُۥ ﴾ او ويروئ تاسي الله له (عذابه) د نفس خپل نه. ﴿ وَٱللَّهُ رَءُوفٌۢ بِٱلْعِبَادِ ﴾ (او الله ډير مهربان دی په بندګانو (خپلو) دا خوښوي چي په مسقيمه لاره روان شي. ﴿ قُلْ إِن كُنتُمْ تُحِبُّونَ ٱللَّهَ فَٱتَّبِعُونِى يُحْبِبْكُمُ ٱللَّهُ ﴾ (ووايه (ای محمده ! دوی ته) که چيري يې تاسي چي محبت کوئ له الله سره پس متابعت وکړئ زما ، څکه زه دالله استازی يم بيابه الله له تاسي سره محبت وکړي. ﴿ وَيَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوبَكُمْ ۗ وَٱللَّهُ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴾ (او مغفرت به وکړي تاسي ته ګناهونه ستاسي (او الله مغفرت کونکی دی د خفياتو) ډير رحم والا دی) يعني د رسول الله په اتباع سره او د هغه د اوامرو په منلو له تاسي سره الله محبت کوي او ستاسي پخواني ګناهونه دربښي . ابن کثير وايي چي دغه آيت حکم کوي هر څوک چي دالله د مينې او محبت دعوي کوي خو د محمدي لاري پيروي نه کوي هغه په خپله دعوي کې دروغجن دی ، تر څو چي محمدي شريعت په ټولو افعالو او اقوالو کې پلي نکړي .([1]) بيا الله فرمايي: ﴿ قُلْ أَطِيعُوا۟ ٱللَّهَ وَٱلرَّسُولَ ﴾ (ووايه (ای محمده ! دوی ته) چي اطاعت کوئ تاسي دالله او د رسول (دالله چي محمد دی) . ﴿ فَإِن تَوَلَّوْا۟ ﴾ (پس که وګرځيدل دوی له طاعت څخه) ﴿ فَإِنَّ ٱللَّهَ لَا يُحِبُّ ٱلْكَٰفِرِينَ ﴾ (پس بيشکه الله دوستي نه کوي له کافرانو سره ، يعني الله هغه څوک چي آيا تونه يې نه مني له رسولانو څخه سرغړونه کوي نه خوښوي بلکې په عذابوي او رسوا کوي يې دا هلته چي: (يوم لايخزي الله النبي والذي آمنوا معه) (التحريم: ٨)

بلاغت:

پدې مبارکو آيتونو کې د بلاغت ډيري بيلګې او د فصاحت ډير ډولونه شته ، لکه:

١- د طباق صنعت پدې کلماتو کې چي: (تؤتی ، تنزع) (تعز وتذل) (الليل ،النهار) (الحی ،الميت) (تخفوا، تبدوا) (خير ،سوء) (محضرا، بعيدا) او نور.

٢- ناقص جناس لکه په: (مالک الملک) او (تحبون او يحببکم) همدارنګه اشتقاقي جناس لکه (تتقوا) او (تقاة) ترمينځ او د (يغفر او غفور) ترمينځ.

([1]) مختصر ابن کثير ١/ ٢٢٧.

۳- رد العجز صنعت چي پدې جملو کې راغلی: (تولج الليل في النهار) او (تولج النهارفي الليل) چي دلته ردالعجز على الصدر راغلی دی.

۴- دتفخیم او تعظیم لپاره تکرار لکه پدې کلام کې: (تؤتی الملک من تشاء وتنزع الملک ممن تشاء)

۵- ایجاز بالحذف په ځینو ځایونو کې لکه: (تؤتی الملک من تشاء) چي بشپړ کلام داسې راځي (تؤتی الملک من تشاء ان تؤتیه) او ددې په مثل په (تنزع) اود (تذل) او (تعز) کلماتو کې.

۶- په تلخیص البیان کې راوړي چي پدې قول دالله تعالی کې چي فرمايې: (تولج الليل في النهار) عجیبه استعاره خوندې ده او هغه عبارت له ننې ایستلو دشپې په ورځې کې او د ورځې په شپه کې کوم چي کم شي له شپې څخه زیاتیږئ په ورځې کې او همدارنګه برعکس او دایلاج لفظ ډیر زیات بلیغ ځکه ده چي دا افاده کوي چي ننې ایستل دهریو په بل کې په خورا باریک امتزاج اوګډون او سخت ورته والي سره صورت نیسي.

۷- پدې کلام کې چي: (تخرج الحی من المیت وتخرج المیت من الحی) حی او میت (ژوندی او مړی) عبارت دي له مؤمن او کافر څخه مؤمن له ژوندي او کافر يې له مړي سره تشبیه کړی او مجاز صنعت يې راوړی دی. والله اعلم.[1]

تنبیه:

امام مسلم په خپل صحیح کې روایت کوي چي رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: بیشکه کله چي الله يو بنده په دوستې ومني نو جبرائیل ﷺ راوبولي بیا ورته وايې چي زه فلانی دوست بولم ته يې هم دوست وګڼه او جبرائیل علیه السلام يې په دوستې ونیسي، بیا په اسمانونو کې ناري کړي چي بیشکه الله فلانی په دوستي منلی، تاسې يې هم په دوستي ونیسي، پس هغوی يې هم په دوستې خوښ کړي او کله چي الله يو بنده مبغوض او بد ګڼې، جبرائیل راوبولي پس ورته وايې چي زه فلاني بد ایسوم ته يې هم بد وایسوه بیا يې جبرئیل مبغوض وګڼي او دآسمان په اهل ناري کړي چي بیشکه الله له فلاني سره بغض کړی تاسي هم ورسره بغض وکړئ هغوی هم نفرت او کرکه ځنې وکړي او بیا په ځمکه کې يې دنفرت او کرکي تادا و کنبېنبودل شي.

الله تعالی فرمايې:

﴿إِنَّ ٱللَّهَ ٱصْطَفَىٰٓ ءَادَمَ وَنُوحًا وَءَالَ إِبْرَٰهِيمَ وَءَالَ عِمْرَٰنَ عَلَى ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿٣٣﴾ ذُرِّيَّةًۢ بَعْضُهَا مِنۢ بَعْضٍ ۗ وَٱللَّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ
﴿٣٤﴾ إِذْ قَالَتِ ٱمْرَأَتُ عِمْرَٰنَ رَبِّ إِنِّى نَذَرْتُ لَكَ مَا فِى بَطْنِى مُحَرَّرًا فَتَقَبَّلْ مِنِّىٓ ۖ إِنَّكَ أَنتَ ٱلسَّمِيعُ ٱلْعَلِيمُ ﴿٣٥﴾ فَلَمَّا وَضَعَتْهَا قَالَتْ

[1] - دادهغه چاپه قول چي تفسیر دژوندي يې په مؤمن او دمړه يې په کافر کړي دی، یعني مؤمن له کافر څخه پیدا کوي او کافر له مؤمن څخه او پدې باندې دالله قول دلالت کوي چي: (او من کان میتا فاحییناه) همدا دحسن بصري رحمه الله وینا هم ده

رَبِّ إِنِّي وَضَعْتُهَا أُنثَىٰ وَاللَّهُ أَعْلَمُ بِمَا وَضَعَتْ وَلَيْسَ الذَّكَرُ كَالْأُنثَىٰ وَإِنِّي سَمَّيْتُهَا مَرْيَمَ وَإِنِّي أُعِيذُهَا بِكَ وَذُرِّيَّتَهَا مِنَ
الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ ﴿٣٦﴾ فَتَقَبَّلَهَا رَبُّهَا بِقَبُولٍ حَسَنٍ وَأَنبَتَهَا نَبَاتًا حَسَنًا وَكَفَّلَهَا زَكَرِيَّا كُلَّمَا دَخَلَ عَلَيْهَا زَكَرِيَّا الْمِحْرَابَ
وَجَدَ عِندَهَا رِزْقًا قَالَ يَا مَرْيَمُ أَنَّىٰ لَكِ هَٰذَا قَالَتْ هُوَ مِنْ عِندِ اللَّهِ إِنَّ اللَّهَ يَرْزُقُ مَن يَشَاءُ بِغَيْرِ حِسَابٍ ﴿٣٧﴾ هُنَالِكَ دَعَا
زَكَرِيَّا رَبَّهُ قَالَ رَبِّ هَبْ لِي مِن لَّدُنكَ ذُرِّيَّةً طَيِّبَةً إِنَّكَ سَمِيعُ الدُّعَاءِ ﴿٣٨﴾ فَنَادَتْهُ الْمَلَائِكَةُ وَهُوَ قَائِمٌ يُصَلِّي فِي
الْمِحْرَابِ أَنَّ اللَّهَ يُبَشِّرُكَ بِيَحْيَىٰ مُصَدِّقًا بِكَلِمَةٍ مِّنَ اللَّهِ وَسَيِّدًا وَحَصُورًا وَنَبِيًّا مِّنَ الصَّالِحِينَ ﴿٣٩﴾ قَالَ رَبِّ أَنَّىٰ يَكُونُ لِي
غُلَامٌ وَقَدْ بَلَغَنِيَ الْكِبَرُ وَامْرَأَتِي عَاقِرٌ قَالَ كَذَٰلِكَ اللَّهُ يَفْعَلُ مَا يَشَاءُ ﴿٤٠﴾ قَالَ رَبِّ اجْعَل لِّي آيَةً قَالَ آيَتُكَ أَلَّا
تُكَلِّمَ النَّاسَ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ إِلَّا رَمْزًا وَاذْكُر رَّبَّكَ كَثِيرًا وَسَبِّحْ بِالْعَشِيِّ وَالْإِبْكَارِ ﴿٤١﴾ ﴾ آل عمران ۳۳-۴۱

مناسبت او تړاو:

څرنګه چې الله جل جلاله بیان وفرمایل چې دده محبت هله ترلاسه کیږي چې د رسولانو متابعت او پیروي یې وشي، نو یې د نبیانو لوړې درجې او ستر منصبونه بیان کړل او د حضرت آدم څخه یې پیل دو هم یې نوح ابوالبشر ثاني ذکر کړ او دریم ځل یې آل ابراهیم راوړ چې رسول الله صلی الله علیه وسلم هم پکې شامل دی او بیا یې د آل عمران یادونه وکړه چې حضرت عیسی هم پکې دی له دې وروسته یې دري کیسي ذکر کړي. کیسه د زیږیدلو د حضرت مریمي او بیا د حضرت یحیی او وروسته بیا د حضرت عیسی علی نبینا وعلیهم الصلوة والسلا م د ولادت کیسې یې راوړي چې ټولي خارق العاده پیښې او د العلی القدیر الله په قدرت دلالت کوي

لغتونه:

(اصطفی) غوره کې، له صفوة څخه اخستل شوي یعني ویې ګرزاوو غوره له خپل مخلوق نه. (محررا) له حریت څخه اخیستل شوی او هغه چاته ویل کیږي چې خالص د الله لپاره ځانګړې شوي وي او دنیوي کارونه یې دنده نه وي. (اعیذها): پناه ورکوم. (وکفلها): او کفیل وګرزاوو دوی له کفل یکفل فهو کافل څخه ده او هغه چاته وایې چې د بل انسان د مصلحتونو اهتمام کوي په حدیث شریف کې راځي (انا وکافل الیتیم في الجنة کهاتین). (المحراب): هغه بختور لوړ مقام، ابوعبیده وایې د ناستې تر ټولو شریف او غوره او ړومبنی ځای ته محراب وایې او د غه ځای له مسجد څخه هم محراب باله شي.[1] (حصورا): له حصر څخه اخیستل شوي او حبس ته وایې او هغه چاته حصور وایې چې له شهوتونو او لذتونو یې ځان ژغولي وي، مفسرین کرامو د حصور د معنا په هکله دوې خبري کړي موږ هغه ځنې غوره کوو چې محققینو غوره کړي او هغه داچې هغه چاته وایې چې له ښځو څخه اجتناب کوي نه د عجز له کبله بلکې د عفت په وجه سره.[2] (عاقر): شنډه هغه چې اولاد یې نه زیږي هغه که نر وي که ښځه، عاقر

---

[1] - البحر المحیط ۴۳۳/۲.

[2] - تفسیر الفخر الرازي وبنحوه في الطبري والقرطبي.

ورته ويل كيږي. (رمزا): رمز په لاس او سر باندي اشاري كولو ته وايي ، طبري راوړي چي: په شونډانو اشاري كولو ته وايي او كله ، كله دوړخو او ستركو اشاري ته هم (رمز) وايي[1]. (العشي): دلمر له زواله ونيسه ترډوبيدلو پوري. (الابكار): دلمر له راختلو بيا تر ځاښته پوري وخت ته ابكار وايي.

تفسير:

﴿ إِنَّ ٱللَّهَ ٱصْطَفَىٰٓ ءَادَمَ ﴾ (بيشكه چي الله غوره كړى دى آدم (دنبوت لپاره). ﴿ وَنُوحًا ﴾ (او نوح د رسولانو مشر) ﴿ وَءَالَ إِبْرَٰهِيمَ ﴾ (او اولاده دابراهيم چي اسماعيل ، اسحاق او ددوى له اولاده ي نور انبياء او ددوى له ډلي حضرت خاتم المرسلين صلى الله عليه وسلم. ﴿ وَءَالَ عِمْرَٰنَ ﴾ (او اولاده دعمران چي له دوى ځيني عيسى ابن مريم چي دبني اسرائيلو خاتم الانبياء وو. ﴿ عَلَى ٱلْعَٰلَمِينَ ﴾ (په ټولو خلكو (دزماني ددوى) قرطبي وايي چي دغه كسان يې پرته له نورو په يادولو ځانګړي كړل ځكه نبيان او رسولان غونډ (ټول) ددوى له نسله دي ﴿ ذُرِّيَّةًۢ بَعْضُهَا مِنۢ بَعْضٍ ﴾ (حال داچي اولاده وو ځيني ددوى له ځينو نورو څخه) يعني غوره يې كړل پداسي حال كي چي په دين ، تقوى او صلحيت كي متجانس وو.

﴿ وَٱللَّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ ﴾ (او الله ښه اوريدونكى دى (دبندګانو داقوالو) او ښه پوه دى (په ټولو احوالو دضمائرو د دوى) ﴿ إِذْ قَالَتِ ٱمْرَأَتُ عِمْرَٰنَ ﴾ (ورياد كړه دوى ته اى محمده! هغه وخت چي وويل ښځي دعمران (چي نوم يې حنة بنت فاقود وو). ﴿ رَبِّ إِنِّى نَذَرْتُ لَكَ مَا فِى بَطْنِى ﴾ (چي اى ربه زما! بيشكه ما نذر كړى دى هغه چي په ګيډه كي زما دي) يعني ما ستا دعبادت او طاعت كولو لپاره نذر اينبى دى.) ﴿ مُحَرَّرًا ﴾ (حال داچي هغه به آزاد وي (له نورو مشاغلو دعبادت او خدمت لپاره). ﴿ فَتَقَبَّلْ مِنِّىٓ ۖ إِنَّكَ أَنتَ ٱلسَّمِيعُ ٱلْعَلِيمُ ﴾ (پس قبول كړه ته (اى ربه!) له ما څخه (نذر) بيشكه ته چي يې همدا ته ښه اوريدونكى او ښه عالم يې (زما دعا اوري او په نيت مي پوه يې). ﴿ فَلَمَّا وَضَعَتْهَا قَالَتْ رَبِّ إِنِّى وَضَعْتُهَآ أُنثَىٰ ﴾ (پس چي كله يې وزيږاوو هغه (نذر) نو وويل (حنې) چي اى ربه زما! بيشكه زه چي يم ومې زيږاوه هغه (نذر) چي ښځه ده ،دايې دافسوس په ډول وويل ابن عباس رضى الله عنهما وايي چي هغې دا ځكه وويل چي ښځې ښ په نذر كې نه منل كيدي يوازې نارينه وو خو الله جل جلاله مريم په نذر كې ومنله ، الله وايي: ﴿ وَٱللَّهُ أَعْلَمُ بِمَا وَضَعَتْ ﴾ او الله ښه عالم دى په هغه څه چي دى (حنې) زيږولي وو.) يعني كه دي ويلي واى او كه نه الله ورباندي عالم وو. ﴿ وَلَيْسَ ٱلذَّكَرُ كَٱلْأُنثَىٰ ﴾ (او نه دى نارينه (چي حنې غوښتى وو) په شان دجينئ (ښځې) (چي وركول شوه) بلكې دا تري بهتره ده او دواړه جملې معترضې دالله جل جلاله له لوري څخه دي ترڅو دغه مولود په شان كې تعظيم او دهغو سترو امورو چي ددې او زوى څخه يې ځرګنديږئ

[1] - الطبري ٢/ ٣٨٦

درناوي وکړي کوم چي پکې دعالميانو لپاره آيات او معجزې دي ﴿ وَإِنِّي سَمَّيْتُهَا مَرْيَمَ ﴾ (او بيشکه مانوم کښېښود ددې مريمه) او دعمران دښځې دخبرو بشپړونه ده چي ويې ويل ښځه مې وزيږوله او دغه مې مريمه ونوموله ، ددوی په ژبه مريمه دالله عبادت کونکې او چوپړ وهونکې ته وايې. ﴿ وَإِنِّي أُعِيذُهَا بِكَ وَذُرِّيَّتَهَا مِنَ ٱلشَّيْطَٰنِ ٱلرَّجِيمِ ﴾ (او بيشکه زه پناه ورکوم په تا پورې او اولاد ددې ته له شيطان مردود (رټلي سوي نه) نو الله ددې دعا ومنله ، الله فرمايي: ﴿ فَتَقَبَّلَهَا رَبُّهَا بِقَبُولٍ حَسَنٍ ﴾ (پس قبوله کړه الله دا (مريمه) رب ددې (په ځای دنارينه) په قبولو ښو سره. ﴿ وَأَنۢبَتَهَا نَبَاتًا حَسَنًا ﴾ (او زرغونه يې کړه (لويه) په زرغونولو (لويولو) ښو سره يعنې په صالح او سمه روزنه سره يې وروزله ﴿ وَكَفَّلَهَا زَكَرِيَّا ﴾ (او (الله) کفيل وګرزاوو دې لره زکريا عليه السلام چي دهغې دمصالحو متعهد وی ترڅو چي دښځو او ميرمنو ځای ته ورسيده او پخپل محراب کې يې دالله عبادت ته په ګوښه والي کې ځان چمتو کړ. ﴿ كُلَّمَا دَخَلَ عَلَيْهَا زَكَرِيَّا ٱلْمِحْرَابَ وَجَدَ عِندَهَا رِزْقًا ﴾ (هرکله چي به ورننوت هغي ته زکريا په محراب (په عبادت خانه) کې نو موندله به يې له دې (مريمي) سره څه روزي (ميوې دژمي په اوړي کې او ميوې داوړي په ژمې کې) داخبره مجاهد رحمه الله کړې ده. ﴿ قَالَ يَٰمَرْيَمُ أَنَّىٰ لَكِ هَٰذَا ﴾ (وويل (زکريا) ای مريمې له کومه (راغلي) ده تاته داروزي ؟) ﴿ قَالَتْ ﴾ وويل مريمې زکريا ته: ﴿ هُوَ مِنْ عِندِ ٱللَّهِ ﴾ دا رزوي له طرفه دالله ده. ﴿ إِنَّ ٱللَّهَ يَرْزُقُ مَن يَشَآءُ بِغَيْرِ حِسَابٍ ﴾ (بيشکه چي الله روزي ورکوي هغه چاته چي اراده وفرمايي دروزي ورکولو يې ډېر پريمانه ، بې حسابه ، بې له تکليف او زحمت څخه. ﴿ هُنَالِكَ دَعَا زَكَرِيَّا رَبَّهُۥ ﴾ (په دغه ځای (يا وخت) کې دعا (غوښتنه) وکړه زکريا له ربه خپله) معنی پدې وخت کې چي زکريا عليه السلام دمريمې هغه کرامت وليد چي الله وربښلی وو نو يې له الله جل جلاله څخه په عجز او زارۍ هسې غوښتنه او دعا وکړه چي: ﴿ قَالَ رَبِّ هَبْ لِي مِن لَّدُنكَ ذُرِّيَّةً طَيِّبَةً ﴾ (وويل زکريا ای ربه ! راوبښه (راکړه) له نزده خپله اولاد (ښه پاکيزه) يعنې ای ربه ! ماته له خپله نزده صالح زوی راکړې ، داوخت زکريا عليه السلام بيخي سپين ږيری بوډا او ښځه يې سپين سرې او بيخې شنډه وه او دلته دطيب معنا صالح او مبارک دی. ﴿ إِنَّكَ سَمِيعُ ٱلدُّعَآءِ ﴾ (بيشکه ته ښه اوريدونکی ددعا يې چي خوک دې وبولي) ﴿ فَنَادَتْهُ ٱلْمَلَٰٓئِكَةُ وَهُوَ قَآئِمٌ يُصَلِّي فِي ٱلْمِحْرَابِ ﴾ (نو ورناري کړې ده ته پرښتو حال داچي دی ولاړ وو لمونځ يې کاوو په محراب (عبادت خانه) کې. ﴿ أَنَّ ٱللَّهَ يُبَشِّرُكَ بِيَحْيَىٰ ﴾ (چي بېشکه الله زيري کوي په تا ديحيي (چي ستا زوی به وي) نوم به يې يحيی وي ﴿ مُصَدِّقًۢا بِكَلِمَةٍ مِّنَ ٱللَّهِ ﴾ (حال داچي تصديق کونکی به وي په يوه کلمه سره چي له (طرفه د الله ده) يعنې دعيسی په رسالت به ايمان لري او دهغه به تصديق کوي عيسی عليه السلام ته ځکه کلمه وويل شو چي هغه د (کن) په کلمه سره بې پلاره پيدا شوی دی. ﴿ وَسَيِّدًا ﴾ (حال

داچي دخپل قوم سردار به وي) ﴿ وَحَصُورًا ﴾ او ډير منع راوړنکي به وي (له شهواتو ځينې) يعني دعفاف او زهد له مخې به ښځو ته نه نژدې کيږي سره له دي چي ددي توان به لري او هغه چي بعضې مفسرينو ليکلي چي توان به يې نلري او (عنين) به وي دا باطله خبره ده دانبياوو لپاره روا نه ده ځکه دايوډول نقص او بيکارتوب دی او آيت شريف خودصفت او ثناويلو لپاره راغلی دی.(١) ﴿ وَنَبِيًّا مِّنَ الصَّٰلِحِينَ ﴾ (او نبي به وې (له ډلې) دصالحانو. ابن کثير وايې داغه دوهم زيری دی چي هغه به نبي وي او داتر لومړی زيري لا لوړ دی لکه چي دموسی عليه السلام مور ته وايې: (انا رادوه اليک وجاعلوه من المرسلين) (٢).﴿ قَالَ رَبِّ أَنَّىٰ يَكُونُ لِي غُلَٰمٌ ﴾ (وويل (زکريا) ای ربه زما ! څرنګه به پيدا کيږي ما لره هلک؟) .﴿ وَقَدْ بَلَغَنِيَ ٱلْكِبَرُ ﴾ (حال داچي په تحقيق رسيدلی دی ماته زوړوالی (او د ده عمر دلته يوسل او شل کاله وو) ﴿ وَٱمْرَأَتِي عَاقِرٌ ﴾ (او ښځه مې هم شنډه ده) چي اولاديی نه زيږي (او پدې وخت کې يې عمر اته نوي کاله وو) او پدوی کې داولاد دنه پيدا کولو دوه سببونه چي زړوالي او شنډوالي وو موجود وو. ﴿ قَالَ كَذَٰلِكَ ٱللَّهُ يَفْعَلُ مَا يَشَآءُ ﴾ (وويل (جبريل) همداسې الله کوي هغه کار چي اراده وفرمايې (دکولو يې) يعني هيڅ کار وربانديې لوی او درووند نه دی ﴿ قَالَ رَبِّ ٱجْعَل لِّيٓ ءَايَةً ﴾ (وويل (زکريا) ای ربه زما ! وګرزوه مالره څه علامه (پدې چي ميرمن مې اميدواره شوي ده) ﴿ قَالَ ءَايَتُكَ أَلَّا تُكَلِّمَ ٱلنَّاسَ ثَلَٰثَةَ أَيَّامٍ إِلَّا رَمْزًا ﴾ (نو وويل (جبريل) (علامه) ستا داده چي خبري به نه کوي ته له خلکو سره درې ورځي (او شپې) مګر په اشاره سره.) يعني علامه يې داده چي ته به ونشي کړای له خلکو سره خبري وکړي مګر په اشارت سره او دا له دي سره، سره چي ته به روغ رمټ يې غرض داچي ده ته به اسماني يو مانع پيدا شې چي پرته دالله له ذکره به نوري خبري نشي کولای. ﴿ وَٱذْكُر رَّبَّكَ كَثِيرًا ﴾ (او يادوه رب خپل ډير (لپاره دشکر) يعني په ژبه باندي دالله ډير شکر په نعمت اداکوه هغه له خبرو ځني منع خوله ذکر څخه منع شوی نه وو او داپه اعجاز کې نور ابلغ دی. ﴿ وَسَبِّحْ بِٱلْعَشِيِّ وَٱلْإِبْكَٰرِ ﴾ (او تسبيح وايه (لمونځ کوه) په آخر دورځې کې اوپه اول دورځې کې) يعني دالله پاکي دنقص له صفتونو څخه په (سبحان الله) سره بيانوه څوک بيا وايې چي مرادله تسبيح څخه داچی لمونځ کوه. طبري وايې چي معنا داچي د الله تعظيم دهغه په عبادت سره مابنام او سهار کوه.

(١)- ابن کثير له قاضي عياض رحمهما الله څخه نقل کوي چي: (پوه شه دالله ثنا چي ديحيي په هکله يې فرمايلي چي هغه حصور دی ،هسي نه وو لکه چي څوک وايې يحيي (عنين) او يا يي بيخي تناسلي آله نه درلوده ، بلکې دغه پخوا لا مفسرينو ردکړې او دانقص او تاوان دی دغه عيب په انبياوو پسې نه ښايې او معنا يې داده چي هغه له ګناهونو څخه معصوم او پاک وو هيڅ ګناه يې نه کوله لکه حصور داسي وو او يايې ځان منع کاوو ، تاته معلومه ده چي په نکاح توان نه درلودل نقص او عيب دی او بهترې په دې کې ده چي سړي توان ولري خو ځان ځنې رامنع کړي هغه يا خو دنفس سره په مجاهدت کولو ورڅخه مخ اړوي، لکه عيسی عليه السلام او يا لکه ديحيی عليه السلام چي الله يې کفايت کړی وو).

(٢) مختصر ابن کثير ٢٨٧/١.

بلاغت:

۱- (والله اعلم بما وضعت) او(وليس الذكر كالانثى) دا دواړه جملې معترضې او دتعظيم لپاره يا دمولود دمرتبې دلوړوالي په هکله دي.

۲- (واني اعيذها) ، دمضارع صيغه ده چي په استمرار او تجدد دلالت وکړي

۳- په دې کلام کې چي فرمايي: (وانبتها نباتاً حسنا) دهغې وده او نشونما يې له کښت سره وکړه او دغه کلام دهغې له روزنې څخه مجاز دی په ټولو حالاتو کې او دا دتبعيي استعاري په بڼه کې دی.

۴- (فنادته الملائكة)، دلته ندا کونکی جبرائيل دي او دجماعت په نوم يې څنې تعبير وکړ په داچي تعظيم يې وشي ځکه هغه دپرښتو رئيس دی.

۵- په دې کلام کې چي فرمايي: (بالعشي والابكار) دطباق صنعت دی هغه چي له بديعي محسناتو څخه ګڼل کيږي.

ګټې او فائدې:

لومړی فائده: روايت کاوه شي چي (حنة) دعمران ميرمن زړه او شنډه وه يو ورځ د ونې سيوري ته ناسته وه که ګوري چي يوه مرغۍ خپل کوچنی زوی ته خوراک ورکوي نو دهغې هم اولاد ته زړه وشو او ويې ويل: ای ربه ! که ماته دي زوی راکړ زما وعده ده چي هغه به دبيت المقدس دخدمت لپاره نذر کوم چي دهغه له نوکرانو څخه شي ، بيا عمران مړ شو او هغه امېدواره وه.([1]) دغه دنذر اېښودلو راز وو.

دوهمه فائده: ابن کثير دالله تعالی له دې قول سره چي وايي :(كلما دخل عليها زكريا المحراب وجد عندها رزقا) داسې راوړي چي په آيت کې داولياوو په کرامت باندي دلالت موجود دی او په احاديثو کې ددي په شان نور هم ډير مثالونه شته لکه هغه دجابر روايت چي د (جفنه) قصه يې راوړي او لنډيز يې دادی چي يوه ورځ رسو ل الله صلى الله عليه وسلم وږی شو او دفاطمې رضى الله عنها کور ته راغی او دخوراک ښناک يې څنې څه غوښتل، له هغې سره نه وو بيا دهغې دهمسايه څنګلوري ميرمنې دوه ټکيالي او يوه ټوټه غوښه ورته راوليږله او هغه يې په کاسه کې کښيښودل او بيا يې وليدل چي هغه کاسه (جفنة) له غوښې او ډوډۍ څخه ډکه شوه.

***

الله تعالی فرمايي:

﴿ وَإِذْ قَالَتِ ٱلْمَلَٰٓئِكَةُ يَٰمَرْيَمُ إِنَّ ٱللَّهَ ٱصْطَفَىٰكِ وَطَهَّرَكِ وَٱصْطَفَىٰكِ عَلَىٰ نِسَآءِ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿٤٢﴾ يَٰمَرْيَمُ ٱقْنُتِى لِرَبِّكِ وَٱسْجُدِى وَٱرْكَعِى مَعَ ٱلرَّٰكِعِينَ ﴿٤٣﴾ ذَٰلِكَ مِنْ أَنۢبَآءِ ٱلْغَيْبِ نُوحِيهِ إِلَيْكَ ۚ وَمَا كُنتَ لَدَيْهِمْ إِذْ يُلْقُونَ أَقْلَٰمَهُمْ أَيُّهُمْ يَكْفُلُ مَرْيَمَ وَمَا كُنتَ لَدَيْهِمْ إِذْ يَخْتَصِمُونَ ﴿٤٤﴾ إِذْ قَالَتِ ٱلْمَلَٰٓئِكَةُ يَٰمَرْيَمُ إِنَّ ٱللَّهَ يُبَشِّرُكِ بِكَلِمَةٍ مِّنْهُ ٱسْمُهُ ٱلْمَسِيحُ عِيسَى ٱبْنُ مَرْيَمَ وَجِيهًا فِى ٱلدُّنْيَا وَٱلْءَاخِرَةِ وَمِنَ ٱلْمُقَرَّبِينَ ﴿٤٥﴾ وَيُكَلِّمُ ٱلنَّاسَ فِى ٱلْمَهْدِ وَكَهْلًا وَمِنَ

[1] - تفسير ابي السعود ۱/ ۲۳۰.

ٱلصَّٰلِحِينَ ﴿٤٦﴾ قَالَتْ رَبِّ أَنَّىٰ يَكُونُ لِي وَلَدٌ وَلَمْ يَمْسَسْنِي بَشَرٌ قَالَ كَذَٰلِكِ ٱللَّهُ يَخْلُقُ مَا يَشَآءُ إِذَا قَضَىٰٓ أَمْرًا فَإِنَّمَا يَقُولُ لَهُۥ
كُن فَيَكُونُ ﴿٤٧﴾ وَيُعَلِّمُهُ ٱلْكِتَٰبَ وَٱلْحِكْمَةَ وَٱلتَّوْرَىٰةَ وَٱلْإِنجِيلَ ﴿٤٨﴾ وَرَسُولًا إِلَىٰ بَنِىٓ إِسْرَٰٓءِيلَ أَنِّى قَدْ جِئْتُكُم بِـَٔايَةٍ
مِّن رَّبِّكُمْ أَنِّىٓ أَخْلُقُ لَكُم مِّنَ ٱلطِّينِ كَهَيْـَٔةِ ٱلطَّيْرِ فَأَنفُخُ فِيهِ فَيَكُونُ طَيْرًۢا بِإِذْنِ ٱللَّهِ وَأُبْرِئُ ٱلْأَكْمَهَ
وَٱلْأَبْرَصَ وَأُحْىِ ٱلْمَوْتَىٰ بِإِذْنِ ٱللَّهِ وَأُنَبِّئُكُم بِمَا تَأْكُلُونَ وَمَا تَدَّخِرُونَ فِى بُيُوتِكُمْ إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَـَٔايَةً لَّكُمْ إِن كُنتُم
مُّؤْمِنِينَ ﴿٤٩﴾ وَمُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَىَّ مِنَ ٱلتَّوْرَىٰةِ وَلِأُحِلَّ لَكُم بَعْضَ ٱلَّذِى حُرِّمَ عَلَيْكُمْ وَجِئْتُكُم بِـَٔايَةٍ
مِّن رَّبِّكُمْ فَٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ وَأَطِيعُونِ ﴿٥٠﴾ إِنَّ ٱللَّهَ رَبِّى وَرَبُّكُمْ فَٱعْبُدُوهُ هَٰذَا صِرَٰطٌ مُّسْتَقِيمٌ ﴿٥١﴾ آل عمران ٤٢ - ٥١

مناسبت او تړاو:

کله چې الله تعالی دحضرت (یحیی بن زکریا) د ولادت کیسه بیان کړه چې له بوډا پلاره او بوډۍ شنډې مور څخه تولد شو او دادتکویني نظام له عادت څخه ګوښې بلکې خارق العاده پیښه وه، نو له دې وروسته یې داسې څه بیان کړل چې تر لومړی تولد خورا زیات خارق العاده وو او هغه دحضرت عیسی علیه السلام دزیږیدلو کیسه ده کوم چې پرته له پلاره زیږیدلی او تر پخوانې زښته زیات عجیب او نادره وو او غرض له دې کیسې نه په نصاراوو باندې رد کول دي هغوی چې حضرت عیسی علیه السلام یې په خدایې او الوهیت منلی وو نو یې دهغه زیږیدل دحضرت مریمې څخه ذکر کړل چې دعیسی علیه السلام بشریت څرګند شي او بیا یې دهغه دمعجزاتو یادونه وکړه چې په استازیتوب او رسالت یې دلالت وکړئ او داچې هغه علیه السلام یو دهغو انبیاوو څخه دی چې په لاس یې معجزاتې او خارق العاده کارونه ترسره شوې دي او نور دربوبیت او خدایې کوم صفات پکې نه وو.

لغتونه:

(انباء) دنبأجمع او مهم خبر ته وایې.(نوحیه) موږوحي کوو ، په زړه کې دیوې معنی اچول په پټه سره وحي بولي.(اقلامهم) قلمونه ددوی قلم هغه معروف څیز چې ورباندې لیکنه کیږې او کله ، کله په غشې هم اطلاق کاوو شي هغه چې ورباندې قرعه اچول کیږې او دلته همدا وروستی مراد دی.(المسیح) له مشرفو القابو څخه یو لقب دی لکه صدیق او فاروق اصل یې (مسیحا) چې په عبرانې مبارک ته ویل کیږي[1] (وجیها): شریف مخه ور او هغه د روي او هغه د عزت خاوند ته وایې.(المهد) دماشوم فراش ته مهد یا څانګو وایې. (کهلا) هغه چې دځوان او بوډا تر مینځ وي او میرمنې ته (کهلة) وایې. (الاکمه) مورزاده ړانده ته وایې. (الابرص) هغه ناروغي ده چې دانسان پوستکی سپین واوړوي او نه رغیدونکي ناجوړي ده.

[1] - الکشاف ١/٢٧٨.

تفسیر:

﴿ وَإِذْ قَالَتِ ٱلْمَلَٰٓئِكَةُ يَٰمَرْيَمُ إِنَّ ٱللَّهَ ٱصْطَفَىٰكِ ﴾ (او یاد کړه ای محمده !) هغه وخت چي وویل پرښتو (جبریل) ای مریمې ! بیشکه چي الله غوره کړي یې ته) له ټولو ښځو څخه او ته یې په کراماتو سره ځانګړي کړي یې. ﴿ وَطَهَّرَكِ ﴾ (او پاکه کړي یې ته له پلیدي ،چټلي او له هغو تورونو او تهمتونو څخه چي یهودانو به دزنا درپوري تړل) ﴿ وَٱصْطَفَىٰكِ عَلَىٰ نِسَآءِ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴾ (او غوره کړې یې ته په ګردو ښځو دعالمیانو ترڅو ته دالله جل جلاله دقدرت مظهر شي چي بې پلاره زوی راوړي. ﴿ يَٰمَرْيَمُ ٱقْنُتِى لِرَبِّكِ ﴾ (ای مریمې !فرمان برداره شه لپاره درب خپل یعني دهغه عبادت او طاعت کوه او د ده شکر اداکړه چي ته الله ته غوره یې) ﴿ وَٱسْجُدِى وَٱرْكَعِى مَعَ ٱلرَّٰكِعِينَ ﴾ (او سجده او رکوع کوه له نورو رکوع کونکو سره یعنې په جماعت لمونځ کوه له نورو لمونځ کوونکو سره) ﴿ ذَٰلِكَ مِنْ أَنۢبَآءِ ٱلْغَيْبِ نُوحِيهِ إِلَيْكَ ﴾ (دا دحنې دعمران میرمنې) او دهغې دلور مریمې اوزکریا او یحیی علیهم السلام قصې له اخبارونو دغیبو څخه دي چي موږ یې په وحي سره تاته (ای محمده !) درلیږو ، تاته پخوا نه وې معلومې. ﴿ وَمَا كُنتَ لَدَيْهِمْ إِذْ يُلْقُونَ أَقْلَٰمَهُمْ أَيُّهُمْ يَكْفُلُ مَرْيَمَ ﴾ (او نه وې ته (ای محمده !)حاضر په نزد ددوی کله چي دوی غورځول قلمونه خپل چي کوم یو ددوی پالنه وکړي دمریمې) یعنې ته .. له دوی سره نه وې هلته چي دوی دمریمې دروزنې په هکله سیالي کوله او خپل غشي یې دقرعې په ډول وغورځول چي هریوه غوښتل هغه وروزي. ﴿ وَمَا كُنتَ لَدَيْهِمْ إِذْ يَخْتَصِمُونَ ﴾ (او نه وې ته په نزد ددوی کله چي دوی جګړه سره کوله (په کفالت دمریمې کې) غرض دادی چي دغه اخبار دعلیم او خبیر ذات له لوري وحي ده. روایت کیږي چي کله حضرت مریمه له حنې مبارکې څخه وزیږیدله نو (حنې) هغه په یوه ټوکر کې ونغښته مسجد ته یې یوړه او داحبارو په وړاندې یې کښیښودله ، دغه احبار لکه دکعبې متولیان غوندې دبیت المقدس مجاوران او پرده داران وو ، نو یې ورته وویل : (دونکم هذه النذیرة)یعني دغه نذر مې شتاسو په مخ کې وړاندې کړپالنه یې وکړې بیا دوی دهغې (مریمې)دروزنې په هکله پالنه کې یو له بله سیالي پیل کړه څکه هغه ددوی دامام لور وه ، وروسته چي قرعه یې واچوله ،قرعه دحضرت زکریا علیه السلام ته راوختله اوهغه یې روزنه په غاړه واخیسته .(١) ابن کثیر وایي چي الله جل جلاله دهغې د تکفل او پالنې لپاره څکه حضرت زکریا علیه السلام وټاکل چي دهغه له پریمانه علم او سپیڅلي عمل څخه مریمه ونډه واخلي. ﴿ إِذْ قَالَتِ ٱلْمَلَٰٓئِكَةُ يَٰمَرْيَمُ إِنَّ ٱللَّهَ يُبَشِّرُكِ بِكَلِمَةٍ مِّنْهُ ﴾ (یاد کړه (ای محمده !) هغه وخت چي وویل ملائکو (جبرائیل) ای مریمې ! بیشکه الله زیري درکوي تاته په یوې کلمې سره چي له طرفه د ده) یعنې دیو داسي مولود چي دالله دیوې کلمې په واسطه به پیدا کیږي دپلار واسطه به نه غواړي.

---

١ - الطبري ٢/٣٥١.

﴿ اسْمُهُ الْمَسِيحُ عِيسَى ابْنُ مَرْيَمَ ﴾ (نوم دهغه مسيح ,عيسى زوى دمريمي دى) نو م به يې عيسى او لقب به يې مسيح وي او مور ته به يې څكه نسبت كيږي چي داوفهمول شي چي بې پلاره زيږيدلي دي ﴿ وَجِيهًا فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ ﴾ (پداسې حال كې چي مرتبه والا دى په دنيا كې او آخرت كې) . ﴿ وَمِنَ الْمُقَرَّبِينَ ﴾ (او (دالله) له مقربانو څخه دى) ﴿ وَيُكَلِّمُ النَّاسَ فِي الْمَهْدِ وَكَهْلًا ﴾ (او خبرې به كوي له خلكو سره په مهد او كهولت كې) يعني كله چي وړوكى ماشوم وي هم به خبري كوي او كله چي دپوره عمر خاوند شي هم زمخشري وايې چي پدې دواړو حالتونو كې به دانبياوو خبري كوي، دماشوم توب او بشپړ عمر دخبرو به يې څه توپير نه وي(١) او بې له شكه چي دغه نو داعجاز هغه وروستى پړاو دى ﴿ وَمِنَ الصَّالِحِينَ ﴾ (او له صالحانو څخه به وي يعنې دهغو كسانو چي په تقوى او صلاح كې كامل دي) ﴿ قَالَتْ رَبِّ أَنَّى يَكُونُ لِي وَلَدٌ وَلَمْ يَمْسَسْنِي بَشَرٌ ﴾ (وويل مريمې: اى ربه زما ! څرنگه به پيدا شي ما لره زوى؟ حال داچي زه بشر نه يم مس كړي) يعنې څنگه به مې اولاد پيدا شي زه خو ميړه نلرم؟ ﴿ قَالَ كَذَٰلِكِ اللَّهُ يَخْلُقُ مَا يَشَاءُ ﴾ (وويل (جبريل) همداسې (بې دنارينه له مس څخه) الله پيدا كوي هغه چي اراده وفرمايې يعني همداسې الله ته څه سخته نه ده او دوالدينو په سبب يې پيدا كوي همدارنگه بې له سببه يې پيدا كوي ﴿ إِذَا قَضَىٰ أَمْرًا فَإِنَّمَا يَقُولُ لَهُ كُن فَيَكُونُ ﴾ (هر كله چي اراده وكړي (الله) ديوه كار پس بيشكه هم داخبره ده چي ووايې هغه شي ته چي پيدا شه، پس پيدا شي) . ﴿ وَيُعَلِّمُهُ الْكِتَابَ ﴾ (او ورزده كوي هغه ته (الله) كتاب (ليک) .

﴿ وَالْحِكْمَةَ ﴾ (او حكمت ،ژوري خبري او عمل دانبياوو په سنت باندي) ﴿ وَالتَّوْرَاةَ وَالْإِنجِيلَ ﴾ (او تورات او انجيل يعني هغه به يې حفظ وي .) ابن كثير وايې چي دحضرت عيسى عليه السلام دا دواړه كتابونه په ياد وو . ﴿ وَرَسُولًا إِلَىٰ بَنِي إِسْرَائِيلَ ﴾ (او استازى (رسول) دبني اسرائيلو طرف ته (چي دوى ته به وايې) . ﴿ أَنِّي قَدْ جِئْتُكُم بِآيَةٍ مِّن رَّبِّكُمْ ﴾ (بيشكه زه په تحقيق راغلى يم تاسي ته په لويه علامه (هغه چي زما په رښتنولي دلالت كوي او هغه داچي الله جل جلاله زما ملاتړ په معجزاتو كړى دى زما د صدق علامه داده چي : ﴿ أَنِّي أَخْلُقُ لَكُم مِّنَ الطِّينِ كَهَيْئَةِ الطَّيْرِ ﴾ (بيشكه زه جوړوم تاسي ته (اى بني اسرائيلو) له ختو څخه په شان دشكل د مارغه) . ﴿ فَأَنفُخُ فِيهِ فَيَكُونُ طَيْرًا بِإِذْنِ اللَّهِ ﴾ (نو پو كوم په دې شكل كې پس كيږي هغه شكل مرغه په اذن (حكم) د الله سره . ابن كثير وايې چي همداسې به يې كول له ختې څخه به يې دمرغه شكل جوړ كړ او پكې پو به يې كړل هغه به په سترگو ليدل كيده چي

---

١ - الكشاف١/٢٧٨.

الوتل به د الله په حکم سره او دا دهغه معجزه وه چې د ده د استازيتوب په رېښتنولي يې دلالت کاوو.[1]

﴿ وَأُبْرِئُ ٱلْأَكْمَهَ وَٱلْأَبْرَصَ ﴾ (او روغوم مورزاده ړوند او پيس (برګ) او دا دوهمه معجزه ده.

﴿ وَأُحْيِ ٱلْمَوْتَىٰ بِإِذْنِ ٱللَّهِ ﴾ (او ژوندی کوم مړی په اذن (دالله سره)) يعني زه ځينې مړي ژوندي کوم نه پخپل توان او قدرت سره بلکې دالله په حکم سره او دهغه په قدرت سره او څلورتنه يې ژوندی کړي چې يو (عازر) دحضرت عيسى عليه السلام دوست او ملګرى بل (ابن العجوز) او بل بيا (بنت العاشر) څلورم (سام بن نوح) وو ، همدا راز قرطبي او نورو مفسرينو ليکلي دي د(اذن الله) کلمه يې څو ځله تکرار راوړه چې له ده څخه دالوهيت توهم دفع شي. ﴿ وَأُنَبِّئُكُم بِمَا تَأْكُلُونَ وَمَا تَدَّخِرُونَ فِي بُيُوتِكُمْ ﴾ (او خبروم زه تاسي په هغه شي چې تاسي يې ، خورئ او هغه شی چې تاسي (يې) ساتی پخپلو کورونو کې) يعني تاسو ته دپټو شيانو په څرګندولو خبر درکوم چې تاسي پکې هيڅ شک نلري نو به يې يو چا ته چې څه به يې خوړلي وو او يا به يې په کور کې زيرمه کړي وو ، خبر ورکول او دايې څلورمه معجزه وه. ﴿ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَةً لَّكُمْ إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ ﴾ (بيشکه په دې (معجزو) کې هرومرو نشانه ده تاسې لره که يې تاسي مؤمنان) يعنې پدې معجزاتو کې زما درېښتنولي څرګندي علامې دي که تاسي دالله په آيتونو باور کوئ بيا يې دوی ته ددې اخبار ورکړ چې هغه دموسى عليه السلام درسالت په تائيد کې راغلى دی ، ويې ويل: ﴿ وَمُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيَّ مِنَ ٱلتَّوْرَىٰةِ ﴾ (حال داچې مصدق يم دهغه کتاب چې پخوا له ما نازل شوی دی چې تورات دی) يعنې زه دموسى رسالت تصديق کوم او هغه چې په تورات کې راغلي دهغو تائيد کوم. ﴿ وَلِأُحِلَّ لَكُم بَعْضَ ٱلَّذِي حُرِّمَ عَلَيْكُمْ ﴾ (او بل راغلى يم تاسې ته لپاره ددې چې حلال کړم لپاره ستاسې ځينې له هغو شيانو چې حرام کړي شوي وو په تاسو باندي (دموسى په شريعت کې) . ابن کثير وايې : چې پدې کې دادليل شته چې حضرت عيسى عليه السلام د حضرت موسى عليه السلام دشريعت ځينې حکمونه منسوخ کړي دي او داصحيح ده . ﴿ وَجِئْتُكُم بِـَٔايَةٍ مِّن رَّبِّكُمْ ﴾ (او راغلى يم تاسي ته په (هرقسم) معجزې له طرفه (درب ستاسي)) يعنې زه په ګواهې ورکونکو معجزو سره هغه چې زما درسالت درېښتنولي او صحت شاهدې ورکوي راغلى يم چې الله معجزاتې راکړي دي دايې په تکرار سره ددې لپاره راوړل چې تاکيد يې وشي. ﴿ فَٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ وَأَطِيعُونِ ﴾ (نو وويرېږئ له الله او ومنئ (وينا) زما). ﴿ إِنَّ ٱللَّهَ رَبِّي وَرَبُّكُمْ فَٱعْبُدُوهُ ﴾ بېشکه چې الله رب زما او ستاسې دی نو بندګي کوئ تاسې دده) يعنې زه او تاسي دهغه په بندګې کې سره برابر يو. ﴿ هَٰذَا صِرَٰطٌ مُّسْتَقِيمٌ ﴾ (همدا لار ده سمه صافه) څکه دالله عبادت او له هغه څخه ويره دهغه په وحدانيت اقرار کول دا سيخه لاره ده چې کږوالى پکې نشته.

[1] - مختصر ابن کثير ۲۸۴/۱.

بلاغت:

۱-(واذ قالت الملائكة): دلته تسمیه دخاص په اسم دعام راغلی څکه ملائکه عام او حضرت جبریل خاص دی چي دي صنعت ته مجاز مرسل وايي او تعظيم دخاص پکي مقصد دی.

۲-پدې کلام کې چي فرمايي: (اصطفاك وطهرك واصطفاك)، اطناب دی څکه چي (اصطفاك) كلمه دوه ځله او همدا راز دمريم لفظ مکرر راغلی دی چي اطناب صنعت دی.

۳-(ولم يمسسني بشر) مس په دې کلام کې له جماع څخه کنایه راغلی ده لکه چي په حرث، لباس او مباشرت سره کنایه اراده شوي ده.

۴-(ولاحل لكم بعض الذي حرم) دلته (د احل) او د (حرم)ترمينځ طباق صنعت دی همدا راز پدې آيتونو کې ډير ځايونه حذف څو ځايونه اطناب او څه نور دبلاغت پلونه او لوري هم شته مونږ نه دي راوړي چي طوالت (درازي) پيښوي

فائده:

پدې آيت شريف کې داسي تعبير فرمايي: (كذلك الله يخلق مايشاء) او دحضرت يحيى عليه السلام په کيسه کې وايي: (كذلك الله يفعل مايشاء) او پدې کې سر او راز دادی چي دعیسی علیه السلام پيدايښت بې له پلاره يوه اختراع او ايجاد دی چي عادي سبب پکې موجود نه دی نو دخلق ذكر ورسره مناسب دی او هلته ديحيى عليه السلام په هکله خو خاوند او میرمن میړه او ښځه دواړه موجود دي ليکن بوډا والی او شنډتوب عادتي موانع دي نو هلته دفعل ذکر او يا دول مناسب دی. والله أعلم.

تنبيه:

ځيني علماء کرام وايي چي الله تعالى په قرآن كريم کې پرته له مریمې دبلې ښځې نوم ذکر کړی نه دی پدې کې دا اشاره کيدای شي چي په نصاراوو رد راشي چي دوی به ویل، داد الله جل جلاله میرمن ده (العياذ بالله) څکه ستر شخصيت دانه خوښوي چي دخپلې ميرمنې نوم دخلکو په مينځ کې ياد کړي او لپاره ددې چي دعيسى عليه السلام نسبت پرته له پلاره هغې ته وشي، څکه فرمايي: (اسمه المسيح عيسى ابن مريم).(۱)

***

الله تعالى فرمايي:

﴿ فَلَمَّآ أَحَسَّ عِيسَىٰ مِنْهُمُ ٱلْكُفْرَ قَالَ مَنْ أَنصَارِيٓ إِلَى ٱللَّهِ ۖ قَالَ ٱلْحَوَارِيُّونَ نَحْنُ أَنصَارُ ٱللَّهِ ءَامَنَّا بِٱللَّهِ
وَٱشْهَدْ بِأَنَّا مُسْلِمُونَ ﴿٥٢﴾ رَبَّنَآ ءَامَنَّا بِمَآ أَنزَلْتَ وَٱتَّبَعْنَا ٱلرَّسُولَ فَٱكْتُبْنَا مَعَ ٱلشَّٰهِدِينَ ﴿٥٣﴾
وَمَكَرُوا۟ وَمَكَرَ ٱللَّهُ ۖ وَٱللَّهُ خَيْرُ ٱلْمَٰكِرِينَ ﴿٥٤﴾ إِذْ قَالَ ٱللَّهُ يَٰعِيسَىٰٓ إِنِّى مُتَوَفِّيكَ وَرَافِعُكَ إِلَىَّ وَمُطَهِّرُكَ مِنَ
ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ وَجَاعِلُ ٱلَّذِينَ ٱتَّبَعُوكَ فَوْقَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓا۟ إِلَىٰ يَوْمِ ٱلْقِيَٰمَةِ ۖ ثُمَّ إِلَىَّ مَرْجِعُكُمْ فَأَحْكُمُ بَيْنَكُمْ فِيمَا

۱- دصاوي حاشيه په جلالين کې وګورئ

كُنتُمْ فِيهِ تَخْتَلِفُونَ ﴿٥٥﴾ فَأَمَّا الَّذِينَ كَفَرُوا فَأُعَذِّبُهُمْ عَذَابًا شَدِيدًا فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ وَمَا لَهُم مِّن نَّاصِرِينَ ﴿٥٦﴾
وَأَمَّا الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ فَيُوَفِّيهِمْ أُجُورَهُمْ ۗ وَاللَّهُ لَا يُحِبُّ الظَّالِمِينَ ﴿٥٧﴾ ذَٰلِكَ نَتْلُوهُ عَلَيْكَ مِنَ
الْآيَاتِ وَالذِّكْرِ الْحَكِيمِ ﴿٥٨﴾ إِنَّ مَثَلَ عِيسَىٰ عِندَ اللَّهِ كَمَثَلِ آدَمَ ۖ خَلَقَهُ مِن تُرَابٍ ثُمَّ قَالَ لَهُ كُن فَيَكُونُ ﴿٥٩﴾ الْحَقُّ
مِن رَّبِّكَ فَلَا تَكُن مِّنَ الْمُمْتَرِينَ ﴿٦٠﴾ فَمَنْ حَاجَّكَ فِيهِ مِن بَعْدِ مَا جَاءَكَ مِنَ الْعِلْمِ فَقُلْ تَعَالَوْا نَدْعُ أَبْنَاءَنَا وَأَبْنَاءَكُمْ وَنِسَاءَنَا
وَنِسَاءَكُمْ وَأَنفُسَنَا وَأَنفُسَكُمْ ثُمَّ نَبْتَهِلْ فَنَجْعَل لَّعْنَتَ اللَّهِ عَلَى الْكَاذِبِينَ ﴿٦١﴾ إِنَّ هَٰذَا لَهُوَ الْقَصَصُ الْحَقُّ ۚ وَمَا مِنْ
إِلَٰهٍ إِلَّا اللَّهُ ۚ وَإِنَّ اللَّهَ لَهُوَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ ﴿٦٢﴾ فَإِن تَوَلَّوْا فَإِنَّ اللَّهَ عَلِيمٌ بِالْمُفْسِدِينَ ﴿٦٣﴾ آل عمران ٥٢ - ٦٣

مناسبت او تړاو:

او تر اوسه آیتونه دعیسی علیه السلام له کیسې څخه خبري کوي او په تیرو آیتونو کې الله جل جلاله مریمې ته په عیسی زیري ورکول یا د کړل بیايي دهغه معجزاتې او څرګند دلائل دده په نبوت بیان کړل او سره له دې تولو دلائلو او معجزاتو چې دالله له لوري ورباندي دعیسي علیه السلام ملاتړ شوی وو بیا هم ډیرو بني اسرائیلو ورباندي ایمان نه راووړ او دالله ددښمنانو (یهودو) دهغه دوژلو تکل وکړ، بیا الله ددوی له شر څخه هغه وژغورل او اسمان ته یې اوچت وخیژاوو.

لغتونه:

(احس): له احساس څخه اخیستل شوی موندلو ته وايي. (الحواريون): دحواري جمع ده او دانسانانو غوره او سپیڅلو ته وايي لکه چې دمدني تولني میرمنو ته حواريات وايې چې غوره رنګونه او خالص سپین والی پکې لیدل کیږي حواریون دعیسی علیه السلام اتباعو ته وايي لکه چې درسول الله صلی الله علیه وسلم پیروانو ملګرو ته چې اصحاب ویل کیږي دوی ته څکه حواریون ویل شوي چې زړونه یې سپیڅلي او پاک وو. (مکروا): مکر دوکې او فریب ته ویل کیږي او په اصل کې په پټه دفساد په لور هلو ځلو ته مکر وايي. زجاج وايې چې ددې معنا چې (مکر اللیل وامکر) داده چې تیاره شوه او مکر دالله دهغوی استدراج کول دي پداسي ډول چې دوی پرې نه پوهیږي دغه خبره له فراء څخه رانقل شوي ده. (نبتهل) ابتهال به وکړو په دعا کې تضرع ته ابتهال وايې، ابتهال اصل په دعا کې زیار چې په دښمن باندي لعن وکړل شي څکه (بهلة) لعنت ته وايې.

دنزول سبب:

کله چې دنجران نصاراوو وفد رسول الله صلی الله علیه وسلم ته راغی او دحضرت عیسی علیه السلام په هکله یې له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره مجادله کوله، ورته ویل یې زموږ ملګري ته ولي بښکنځل کوي؟ رسول الله ورته وویل څه وايم؟ دوی ویل ته وايې چې هغه بنده وو. رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل: هو! هغه دالله بنده او پیغمبر وو او هغه کلمه وو چې حضرت مریمې (عذرا) ته یې ورکړي وه بیا یې ورته وویل ایا تر اوسه دي هم بې پلاره زوی لیدلی دی؟ که رښتیا دي لیدلي وي نو موږ ته یې مثال راوښیه بیا الله جل جلاله دا آیت نازل کړ: (ان مثل عیسی عندالله کمثل آدم) دآیت تر پایه او روایت کیږي چې کله رسول الله صلی الله علیه وسلم دوی اسلام ته راوبلل، هغوی وویل: موږ تر تا

پخوا لا مسلمانان وو ، رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل: دروغ وایاست ، تاسي له اسلام څخه دري شیان منع کوي ، یو داچي وایاست الله جل جلاله زوی نیولی دی (دالله زوی شته) بل داچي دخنزیر غوښې خوري او بل صلیب ته سجده کوئ ، نو دوی ورته وویل: دعیسی پلار څوک وو؟ بیا الله جل جلاله دا آیت نازل کړ: ان مثل عیسی عندالله .... تر دې ځایه چي فرمایي: (ثم نبتهل فنجعل لعنة الله علی الکافرین) . بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم دوی مباهلي ته راوغوښتل وروسته بیا ځینو ددوی په ځینو نورو ته وویل چي که مو مباهله وکړه پدې کنده کې به اور راباندي بل شي بیا یې رسول الله صلی الله علیه وسلم ته وویل: ایا له دي پرته بل وړاندیز راته نه کوي؟ هغه ورته وویل: اسلام راوړل یا جزیه ورکول او یاهم جنګ ته تیار شي. بیا دوی جزیه ومنله.(۱)

تفسیر:

﴿ فَلَمَّآ أَحَسَّ عِيسَىٰ مِنْهُمُ ٱلْكُفْرَ ﴾ (نو کله چي معلوم کړ عیسی (په محسوس ډول) له بني اسرائیلو څخه کفر) یعني دهغوی استمراري په ضلالت معلوم کړ او داچي دوی یې دقتل اراده لري. ﴿ قَالَ مَنْ أَنصَارِىٓ إِلَى ٱللَّهِ ﴾ وویل عیسی علیه السلام چي څوک دي مددګاران زما په طرف دالله کې ؟ مجاهد وایې چي معنا یې داده څوک مې دالله په لار کې پیروي او متابعت کوي ﴿ قَالَ ٱلْحَوَارِيُّونَ نَحْنُ أَنصَارُ ٱللَّهِ ﴾ (وویل حواریونو موږ یو مددګاران (ددین) دالله) یعنې هغو مؤمنانو ته چي تر ټولو پاک سپیڅلي وو هغوی ددین مرستې ته ځان چمتو کړ. ﴿ ءَامَنَّا بِٱللَّهِ وَٱشْهَدْ بِأَنَّا مُسْلِمُونَ ﴾ (ایمان مو راوړی دی په الله او شاهد شه ته (ای عیسی!) پدې چي بېشکه موږ مسلمانان یو یعني موږ په الله باور لرو او په هغه څه چي تاراوړي او ته چي وي ګواه اوسه چي موږ ستا استازیتوب ته غاړه ایښې او په اخلاص سره ستا مرستندویان یو. ﴿ رَبَّنَآ ءَامَنَّا بِمَآ أَنزَلْتَ وَٱتَّبَعْنَا ٱلرَّسُولَ فَٱكْتُبْنَا مَعَ ٱلشَّٰهِدِينَ ﴾ (ای ربه ! زموږ ایمان راوړی دی موږ په هغه کتاب (انجیل) چي تا نازل کړی دی او پیروي مو کړي ده درسول ستا (عیسی علیه السلام) نو ولیکه موږ سره له شاهدانو (په وحدانیت او رسالت) بیا وروسته الله پاک دهغو دوکه بازانو یهودانو خبر راوړی کوم چي دعیسی علیه السلام دقتل اراده یې درلوده ، فرمایي: ﴿ وَمَكَرُوا۟ وَمَكَرَ ٱللَّهُ ﴾ (او مکر وکړ کفارو په عیسی باندي) او مکر وکړ الله له دوی سره) یعني دوی دحضرت عیسی دقتل اراده لرله، الله جل جلاله هغه ته نجات ورکړ او ددوی له شر نه یې وژغورل او آسمان ته یې وخیژاوو. دوی هیڅ زیان او ربړ هم ورته ونه رساوو ، الله دحضرت عیسی علیه السلام (شبه) پدغه خائن (یهوذا) باندې وغورځوله او دې ته مشاکلهٔ مکر وویل شو.(۲) څکه الله فرمایي: ﴿ وَٱللَّهُ خَيْرُ ٱلْمَٰكِرِينَ ﴾ (او الله خیر دماکرینو دی) یعني الله ته دوي ډیر زیات قوي د(مکر) تدبیر لرونکی دی چي ددوی تدبیر یې ددوی په تدمیر کې ونغښت او په حدیث شریف کې راغلي چي: (اللهم

---

۱ - القرطبي ۴/ ۱۰۳ واسباب النزول للواحدي

۲ - مشاکلت اتفاق په لفظ او اختلاف په معنی کې بولي ، مثال یې پخوا تیر شوی دی

امکر لي ولا تمکر علي) ﴿ إِذْ قَالَ ٱللَّهُ يَٰعِيسَىٰٓ إِنِّى مُتَوَفِّيكَ وَرَافِعُكَ إِلَىَّ ﴾ (یاد کړه (ای محمده!) هغه وخت چي وویل الله: ای عیسی! بیشکه زه اخیستونکی یم ستا (له ځمکې نه) او پورته بیونکی یم ستا (طرف زما ته) یعنې زه ستا پورته کونکی یم دآسمان لوري ته او وروسته بیا چي ستا تول اجل پوره شي مړ کوونکی یم او مقصود حضرت عیسی علیه السلام ته دده دنجات ورکولو زیری دی چي دیهودانو څخه به یې الله وژغوري او پرته له کوم زیان څخه به یې آسمان ته وخیژوي. قتاده وایې چي: دلته تقدیم او تاخیر دی، تقدیر یې داسي کیږي چي (انې رافعک الي ثم متوفیک بعد ذلک). او طبری داسی راوړي وایې: نورو علماوو ویلي دي چي معنایې داده: کله چي وویل الله یاعیسی زه تاځان ته را اوچتوم اوپاکونکی یم ستا له هغو کسانو چي کافران دي اومړکونکی یم ستا کله چي دي دنیا ته کوز کړم[1] ﴿ وَمُطَهِّرُكَ مِنَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ ﴾ (اوپاکونکی یم ستا (لیری کونکی) له هغو کسانو څخه چي کافران شوي دي) یعنی زه ستا ژغورنکی یم دا شرارو څخه هغه کسان چي ستا د وژلو اراده یې کړې وه، حسن رحمه الله وایې: چي الله ﷻ هغه له یهودو، نصاراوو، مجوسو او دده دقوم له کافرانو څخه پاک کړ ﴿ وَجَاعِلُ ٱلَّذِينَ ٱتَّبَعُوكَ فَوْقَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓا۟ إِلَىٰ يَوْمِ ٱلْقِيَٰمَةِ ۖ ﴾ او ګرځونکی یم دهغو کسانو چي متابعت یې کړی ستا د پاسه دهغو کسانو چي کافران (منکران) شوي دي ترورځي د قیامته پوري) یعنې ستا اتباع به په هغو کسانو چي ستا له نبوت څخه منکروي دپاسه وګرزوم او تر قیامته پوري به په هغو کسانو یې چي ددوئ سره مخالف وي بریالي کړم په جلالین تفسیر کي کښې وایې: (الذین اتبعوک) هغه کسان چي ستا د نبوت تصدیق یې کړي هغه له مسلمانو او نصاراوو څخه (فوق الذین کفروا) چي هغه یهودان وي په توره او دلیل به ورباندي دپاسه وي ﴿ ثُمَّ إِلَىَّ مَرْجِعُكُمْ ﴾ بیا (خاص) طرف زما ته دي راتګ ستاسو ﴿ فَأَحْكُمُ بَيْنَكُمْ فِيمَا كُنتُمْ فِيهِ تَخْتَلِفُونَ ﴾ او زه به حکم وکړم په منځ ستاسي کښې په هغه شي کښې چي وي تاسي په هغه کښې اختلاف به موکاوو) یعنې د عیسی ؑ په هکله ﴿ فَأَمَّا ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ فَأُعَذِّبُهُمْ عَذَابًا شَدِيدًا فِى ٱلدُّنْيَا وَٱلْءَاخِرَةِ ﴾ (نو هر څه هغه کسان چي کافران شوي دي نو زه به په عذاب کړم دوئ په عذاب سخت سره په دنیا او په آخرت کښې) یعنې ستا په نبوت کافران. او ستا دملت مخالفینو ته به سخته سزا او عذاب ورکړم په دنیا کښې په قتل او اسارت سره او په آخرت کښې ددوزخ په اور باندی ﴿ وَمَا لَهُم مِّن نَّٰصِرِينَ ﴾ (او نشته دوئ لره مددګاران) چي د دوزخ له عذابه یې وژغوري ﴿ وَأَمَّا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَعَمِلُوا۟ ٱلصَّٰلِحَٰتِ فَيُوَفِّيهِمْ أُجُورَهُمْ ۗ ﴾ او هر څه هغه کسان چي ایمان یې راوړی او کړي یې ښه عملونه نو پوره به ورکړی الله ﷻ دوئ ته اجرونه د عملونه ددوئ چي هیڅ کمي به په کښې نه وي ﴿ وَٱللَّهُ

[1] - طبری ۲ / ۴۵۸ او دځینو مفسرینو هغه خبره چي دورځي دري ساعته وفات شو او بیا پورته شو او دځینو هغه خبره چي وایې مراد په وفات سره د خوب وفات دي دا خبرې ضعیفې او کمزورې دي محققینو ورباندی رد کړی دی قرطبی وایې: چي صحیح او سمه داده چي الله ﷻ هغه آسمان ته بی له وفاته وخیژاوو چي خوب هم نه وو لکه چي حسن او ابن زید رحمهما الله ویلی او دا د طبری هم غوره ده او د صحت وجه یې له ابن عباس ؓ څخه روایت دی.

لَا يُحِبُّ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴾ (او الله ﷻ نه خوښوي ظالمان)يعني الله ظالمان نه خوښوي نو په خپله به څرنګه په بندګانو ظلم وکړي ؟ ﴿ ذَٰلِكَ نَتْلُوهُ عَلَيْكَ ﴾(داچي تېر شول) موږ يې لولو پرتا اي محمده) ﴿ مِنَ ٱلْءَايَٰتِ وَٱلذِّكْرِ ٱلْحَكِيمِ ﴾ له آيتونو د قرآنكريم محكم هغه چي: (لا ياتيه الباطل من بين يديه ولا من خلفه)﴿ إِنَّ مَثَلَ عِيسَىٰ عِندَ ٱللَّهِ كَمَثَلِ ءَادَمَ ﴾ بيشكه مثل (صفت) دعيسى په نزد د الله ﷻ په شان دآدم ﷺ ﴿ خَلَقَهُۥ مِن تُرَابٍ ثُمَّ قَالَ لَهُۥ كُن فَيَكُونُ ﴾ چي الله جوړ کړ هغه آدم له خاوروڅخه بيا يې وويل آدم ته چي (بشر) شه پس (بشر) شو نو امر او حال دعيسى ﷺ ترآدم ﷺ زيات عجيب او نادر نه دى ﴿ ٱلْحَقُّ مِن رَّبِّكَ فَلَا تَكُن مِّنَ ٱلْمُمْتَرِينَ ﴾ حق هغه دي چي راغلى دى له جانبه درب ستا(په شان دعيسى كښي) نومه کيږه له شک کونکونه يعنى همدا حق قول دى دعيسى ﷺ په باب کي ته له شک کونکوڅخه مه کيږه ﴿ فَمَنْ حَآجَّكَ فِيهِ مِنۢ بَعْدِ مَا جَآءَكَ مِنَ ٱلْعِلْمِ ﴾ نو هرڅوک چي جګړه کوي له تاسره په (باره) دعيسى ﷺ کښي وروسته له هغه چي حاصل شوتاته (صحيح) علم﴿ فَقُلْ تَعَالَوْا۟ نَدْعُ أَبْنَآءَنَا وَأَبْنَآءَكُمْ وَنِسَآءَنَا وَنِسَآءَكُمْ وَأَنفُسَنَا وَأَنفُسَكُمْ ﴾ نو ووايه (اي محمده) دوئ ته راځئ چي راوبولو زامن زموږ اوزامن ستاسى اوښځي زموږ اوښځي ستاسى اوځانونه خپل اوځانونه ستاسى) دمباهلې لپاره په صحيح مسلم کښي روايت شوي کله چي داآيت نازل شو رسول الله ﷺ حضرت فاطمه اوحسن اوحسين (رضي الله عنهم اجمعين) راوغوښتل بيا يې وويل:(اللهم هؤلآء اهلى) اي الله ! دازما اهل دى﴿ ثُمَّ نَبْتَهِلْ فَنَجْعَل لَّعْنَتَ ٱللَّهِ عَلَى ٱلْكَٰذِبِينَ ﴾ بيا به التجاء عاجزى وکړو(په دعاکښي) نووبه ګرځوو موږ (وبه وايو) لعنت دالله ﷻ په دروغجنانو باندى) يعنى الله ته به عجز اوزاري وکړواووبه وايوچي (اى الله څوک چي دعيسى په شان کښي دروغ وايې وريباندى لعنت وکړه !) کله چي يې مباهلې ته راوغوښتل دوئ ممانعت وکړ اوجزيه يې ومنله ، ابن عباس ﷺ روايت کوي چي رسول الله ﷺ وفرمايل: که چيرى هغه کسان چي له رسول الله ﷺ سره يې مباهله کوله راوتلى وايې نوبيا به داسى ستنيدل چي نه به يې اهل اونه به يې مال درلود، ابوحيان وايې چي پدى کښي چي نصاراوو(ملاعنت)اومباهله پرينښوده ستر شاهد دي چي دوئ د رسول الله ﷺ دنبوت په رښتنولې علم اوپوهه درلوده.[1] بيا الله ﷻ وفرمايل:﴿ إِنَّ هَٰذَا لَهُوَ ٱلْقَصَصُ ٱلْحَقُّ ﴾ بيشکه دا(قصې چي موږ تاته دعيسى ﷺ په شان کښي وکړې) خامخا دابيان حق دى (هيڅ شک پکښى نشته ﴿ وَمَا مِنْ إِلَٰهٍ إِلَّا ٱللَّهُ ﴾ (اونشته هيڅ برحق معبود مګرپوازى الله دى) اوپدى کښي په نصاراوو رد راغلى چي دوئ په تثليث ايمان درلود ﴿ وَإِنَّ ٱللَّهَ لَهُوَ ٱلْعَزِيزُ ٱلْحَكِيمُ ﴾ اوبيشکه الله ﷻ خامخاهم دي ډيرغالب قوي دي (پخپله بادشاهى کښي) حکمت والادي (پخپله) صنع کښي) ﴿ فَإِن

[1]- البحر المحيط ۲/ ۴۸۰

﴿ تَوَلَّوْاْ فَإِنَّ ٱللَّهَ عَلِيمُۢ بِٱلْمُفْسِدِينَ ﴾ (نو که وګرځیدل دوئ پس بیشکه الله ﷻ ښه پوه دی په فساد (کونکو) یعنی که دوئ له ایمانه او د توحیدله اقراره وګرځیدل نودوئ فساد کونکي او الله ﷻ ورباندي پوه دی نودوئ ته به سزا ورکړی.

بلاغت:

(فلمااحس) ابوحیان وایې چي دلته استعاره وه څکه کفرخوغیرمحسوس وي اوورباندی پوهیدل په حواسونه کیږي نودحس اطلاق ورباندی کول استعاره ده لکه پدی قول کښي چي فرمایې: (والله خیرالماکرین) مکر اوماکرین دالفاظوترمنځ جناس اشتقاق دی اوداد مشاکلې له ډول څخه دی.

۳: (فیوفّیهم اجورهم) دلته دالتفات صنعت دي چي دتکلم له ضمیرڅخه یې غائب ضمیرته کړي اودفصاحت تنوع افاده کوي.

۴: (الحق من ربّک) دربوبیت عنوان ته تعرض له دي سره سره چي اضافت یې پیغمبر ته شوي دی درسول الله ﷺ دتعظیم اوتشریف ځرګندونه کوي.

۵: په دي کلام کښي چي فرمایې: (فلاتکن من الممترین) دادزیات تثبیت لپاره هڅونه اوالهاب دی. ابوسعود همداسي ویلي دي.

لطیفه:

دالبحر المحیط مؤلف لیکلي چي یو سړی له (جنید) څخه پوښتنه وکړه چي: څرنګه الله خپل خان په مکرستایې اوهغه یې دبل چالپاره بدبللی دی نوجنیدورته وویل: په هغه څه نه پوهیږم چي ته وایې خوفلاني ظهرانی ماته داسي شعر ویلی دی چي:(ویقبح من سواک الفعل عندی ۞ فتفعله فیحسن منک ذاکا) یعنی هغه کار چي بل یې کوی ماته بد ښکاری ۞ خوچي ته یې کوې له تاسره ښکلی ایسې بیایې ورته وویل که ته پوهیږی ماستاځواب وکړ.(۱)

***

الله تعالی فرمایې:

﴿ قُلْ يَٰٓأَهْلَ ٱلْكِتَٰبِ تَعَالَوْاْ إِلَىٰ كَلِمَةٍ سَوَآءِۭ بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمْ أَلَّا نَعْبُدَ إِلَّا ٱللَّهَ وَلَا نُشْرِكَ بِهِۦ شَيْـًٔا وَلَا يَتَّخِذَ
بَعْضُنَا بَعْضًا أَرْبَابًا مِّن دُونِ ٱللَّهِ ۚ فَإِن تَوَلَّوْاْ فَقُولُواْ ٱشْهَدُواْ بِأَنَّا مُسْلِمُونَ ﴿٦٤﴾ يَٰٓأَهْلَ ٱلْكِتَٰبِ لِمَ
تُحَآجُّونَ فِىٓ إِبْرَٰهِيمَ وَمَآ أُنزِلَتِ ٱلتَّوْرَىٰةُ وَٱلْإِنجِيلُ إِلَّا مِنۢ بَعْدِهِۦٓ ۚ أَفَلَا تَعْقِلُونَ ﴿٦٥﴾ هَٰٓأَنتُمْ هَٰٓؤُلَآءِ حَٰجَجْتُمْ
فِيمَا لَكُم بِهِۦ عِلْمٌ فَلِمَ تُحَآجُّونَ فِيمَا لَيْسَ لَكُم بِهِۦ عِلْمٌ ۚ وَٱللَّهُ يَعْلَمُ وَأَنتُمْ لَا تَعْلَمُونَ ﴿٦٦﴾ مَا كَانَ إِبْرَٰهِيمُ يَهُودِيًّا وَلَا
نَصْرَانِيًّا وَلَٰكِن كَانَ حَنِيفًا مُّسْلِمًا وَمَا كَانَ مِنَ ٱلْمُشْرِكِينَ ﴿٦٧﴾ إِنَّ أَوْلَى ٱلنَّاسِ بِإِبْرَٰهِيمَ لَلَّذِينَ ٱتَّبَعُوهُ وَهَٰذَا ٱلنَّبِىُّ
وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ۗ وَٱللَّهُ وَلِىُّ ٱلْمُؤْمِنِينَ ﴿٦٨﴾ وَدَّت طَّآئِفَةٌ مِّنْ أَهْلِ ٱلْكِتَٰبِ لَوْ يُضِلُّونَكُمْ وَمَا يُضِلُّونَ إِلَّآ أَنفُسَهُمْ وَمَا

۱ - البحر المحیط ۴۷۲/۲.

يَشْعُرُونَ ﴿٦٩﴾ يَـٰٓأَهْلَ ٱلْكِتَـٰبِ لِمَ تَكْفُرُونَ بِـَٔايَـٰتِ ٱللَّهِ وَأَنتُمْ تَشْهَدُونَ ﴿٧٠﴾ يَـٰٓأَهْلَ ٱلْكِتَـٰبِ لِمَ تَلْبِسُونَ ٱلْحَقَّ
بِٱلْبَـٰطِلِ وَتَكْتُمُونَ ٱلْحَقَّ وَأَنتُمْ تَعْلَمُونَ ﴿٧١﴾ وَقَالَت طَّآئِفَةٌ مِّنْ أَهْلِ ٱلْكِتَـٰبِ ءَامِنُوا۟ بِٱلَّذِىٓ أُنزِلَ عَلَى ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَجْهَ
ٱلنَّهَارِ وَٱكْفُرُوٓا۟ ءَاخِرَهُۥ لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُونَ ﴿٧٢﴾ وَلَا تُؤْمِنُوٓا۟ إِلَّا لِمَن تَبِعَ دِينَكُمْ قُلْ إِنَّ ٱلْهُدَىٰ هُدَى ٱللَّهِ أَن يُؤْتَىٰٓ أَحَدٌ مِّثْلَ
مَآ أُوتِيتُمْ أَوْ يُحَآجُّوكُمْ عِندَ رَبِّكُمْ قُلْ إِنَّ ٱلْفَضْلَ بِيَدِ ٱللَّهِ يُؤْتِيهِ مَن يَشَآءُ وَٱللَّهُ وَٰسِعٌ عَلِيمٌ ﴿٧٣﴾ يَخْتَصُّ بِرَحْمَتِهِۦ مَن
يَشَآءُ وَٱللَّهُ ذُو ٱلْفَضْلِ ٱلْعَظِيمِ ﴿٧٤﴾ ﴾ آل عمران ٦٤-٧٤

مناسبت او تړاو:

څرنګه چې د الله تعالی کلام (قرآنکریم) په نصاراو وحجت ودراوواو د دوئ هغه دعوی چې مسیح يې معبود دوالله باطله کړه نو بیایې دواړه ډلې (یهود او نصاری) توحید ته راوبلل او داچې په ابراهیم ﷺ پسې اقتداء وکړی څکه د هغه ملت (سمحاء حنفیة) ووچې د اسلام ملت دي هغه نه یهودی وو او نه نصرانی لکه چې دوئ دواړه ډلې دعوی کوي او بیایې دایادونه وکړه چې ابراهیم ﷺ ته د نسبت کیدلو څوک حق داره دی هغه محمد ﷺ او د هغه امت دی.

لغتونه:

(سواء) عدل او نیاو ته وایې (أولى) احق یعنی ښه حقداره (ودت) هیله لری (تلبسون) له لبس څخه او خلط او التباس ته وايې لکه داچې: (لبس الامر علیه) کله چې د کوم کار په هکله په اشتباه کښې واقع شي (وجه النهار) د ورځې پیل څکه لومړی چې له ورځې سره مخامخ کیږي پیل یې وی.

د نزول سبب يې:

له ابن عباس ﷺ څخه روایت کاوه شي چې د نجران د یهودو او نصاراو و احبار چې له رسول الله ﷺ سره یوځای شول نو د ابراهیم ﷺ په هکله یې شخړې پیل کړی یهودو به ویل چې هغه نه وو مګر یهودي وو او نصاراؤ به ویل هغه نه وو مګر نصراني بیا الله ﷻ دغه آیت نازل کړ: (ماکان ابراهیم یهودیًا ولا نصرانیًا ولکن کان حنیفًا مسلما)[1]

تفسیر:

﴿ قُلْ يَـٰٓأَهْلَ ٱلْكِتَـٰبِ تَعَالَوْا۟ إِلَىٰ كَلِمَةٍ سَوَآءٍۭ بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمْ ﴾ ووایه اي محمده چې اي اهل کتابو راځئ تاسي په طرف دیوې کلمې (خبري) چې برابره ده په منځ زموږ او ستاسې کښي) یعنی اي محمده دیهودو او د نصارا ... ته ووایه راشئ یوې داسي کلمې ته چې زموږ او ستاسي ترمنځ د عدل او انصاف فیصله کوي ﴿ أَلَّا نَعْبُدَ إِلَّا ٱللَّهَ وَلَا نُشْرِكَ بِهِۦ شَيْـًٔا ﴾ او هغه داده چې عبادت به نه کوو مګر یوازي د الله ﷻ او شریک به نه نیسو په الله پوری هیڅ شي ﴿ وَلَا يَتَّخِذَ بَعْضُنَا بَعْضًا أَرْبَابًا مِّن دُونِ

[1] مجمع البیان ٢/ ٤٥٢

أَلْفَا ﴾ اونه به نيسی ځينی زموږ ځينی نورخدايان غيرله الله ﷻ څخه لکه چي تاسي کتابيان يې نيسئ لکه چي يهوداونصاری دعزيراوعيسی عليهما السلام عبادت کوي اوداحباراورهبانوپيروي کوي چي هغوئ څه ورته حلالوي اوڅه حراموي هغوي يې مني روايت کاوه شي چي کله داآيت نازل شونو (عدی بن حاتم) وويل چي اي رسول الله کله موږ دهغوئ عبادت کاوو! رسول الله ﷺ وفرمايل آيادوئ تاسوته نه حلالول اونه يې حرامول چي تاسوددوئ خبرې منلی؟! نوهغه وويل هو! رسول الله ﷺ وفرمايل همدغه يې عبادت دی ﴿ فَإِن تَوَلَّوْاْ فَقُولُواْ ٱشْهَدُواْ بِأَنَّا مُسْلِمُونَ ﴾ نوکه وګرځيدل دوئ (له توحيدنه اودغه عادلانه بلنه يې ونه منله) پس ووايې تاسی (اي مؤمنانوکتابيانوته) چي شاهدان شئ تاسی پدي چي په تحقيق سره موږ مسلمانان يو د الله په وحدانيت ايمان لرو يوازي هغه لره عبادت کوو ﴿ يَٰٓأَهْلَ ٱلْكِتَٰبِ لِمَ تُحَآجُّونَ فِىٓ إِبْرَٰهِيمَ ﴾ اي اهل کتابو ولی جګړه کوئ په (شان) دابراهيم کښي (چي داګومان کوئ هغه ستاسو په دين وو) ﴿ وَمَآ أُنزِلَتِ ٱلتَّوْرَىٰةُ وَٱلْإِنجِيلُ إِلَّا مِنۢ بَعْدِهِۦٓ ﴾ حال داچي نه دی نازل کړی شوي تورات اوانجيل مګرورسته له ده (په سلهاووکلونه) نوڅنګه به هغه يې پيرو وي؟ ﴿ أَفَلَا تَعْقِلُونَ ﴾ آيانوهيڅ عقل نلرئ تاسی؟! چي داستاسی خبره څومره باطله ده پس تحقيق دادی چي دابراهيم ﷺ اوموسی ﷺ ترمنځ يوزرکاله موده وه اودموسی اوعيسی عليهما السلام ترمنځ بيا دوه زره کاله وخت وونوهوښيار سړی به څنګه داسی ووايې؟ استفهام دلته دتوبيخ لپاره دي ﴿ هَٰٓأَنتُمْ هَٰٓؤُلَآءِ حَٰجَجْتُمْ فِيمَا لَكُم بِهِۦ عِلْمٌ ﴾ (واورئ خبردارشئ هغه کسان چي جګړه مو کړی ده په هغه شي کښي چي وتاسی ته پکښي يوڅه علم) يعنی اي ديهودواونصاراوودلې تاسی چي دعيسی ﷺ په هکله جګړه کړی وه داهغه زمانه وه چي تاسی پکښي اوسيدی نوڅه ګومان چـي موکاووهغه موو کړ ﴿ فَلِمَ تُحَآجُّونَ فِيمَا لَيْسَ لَكُم بِهِۦ عِلْمٌ ﴾ نوولي جګړه کوئ په هغه شي کښي چي نشته تاسي لره په هغه کښي هيڅ علم) چي هغه دابراهيم ﷺ شان دی ګوم چي تاسی هغه ته نسبت ديهوديت اونصرانيت کوئ اوهيڅ علم هم نلرئ آياداحماقت اوناپوهي نه ده؟ ﴿ وَٱللَّهُ يَعْلَمُ وَأَنتُمْ لَا تَعْلَمُونَ ﴾ (حال داچي الله پوهيږي اوتاسي نه پوهيږئ) يعنی الله ﷻ ته دابراهيم ﷺ په هلکه حق معلوم دی اوتاسی پری نه پوهيږئ جاهلان ياست ابوحيان وايې: دادهغوئ رابلل دی چي حق واورئ لکه چي ته يوچاته وايې چي هغه ناخبره وي: واوره چي زه ښه پوهيږم په هغه څه چي ته ورباندي خبرنه يې.(۱) بيا الله ﷻ دابراهيم ﷺ په هکله ددوئ دعوی داسی دروغ څرګنده کړه ﴿ مَا كَانَ إِبْرَٰهِيمُ يَهُودِيًّا وَلَا نَصْرَانِيًّا ﴾ (نه ووابراهيم يهودي اونه نصراني) يعنی نه خوابراهيم ديهوديت په دين وواونه هم دنصرانيت ځکه يهوديت تحريف شوي دموسی ﷺ له شريعت نه دي اوهمدارنګه نصرانيت دعيسی ﷺ له شرعي څخه تحريف شوي دي.

(۱) البحرالمحيط ۲/ ۴۷۲

﴿ وَلَٰكِن كَانَ حَنِيفًا مُّسْلِمًا ﴾ (وليكن وودي حنيف (مائل) له ګردو باطلوادیانو څخه حق دين ته) او مسلمان (دحکم منونکي وو) ﴿ وَمَا كَانَ مِنَ ٱلْمُشْرِكِينَ ﴾ اونه وو ابراهیم له مشرکانونه) يعنى هغه مسلمان ومشرک نه وو اوپدې کښي دوې ته تعريض دي چي دوئ مشرکان دی ځکه چي دوئ وايي:(عزير بن الله اوعيسى ابن الله) اودمشرکينو ددعوي رددی چي دوئ دابراهیم عليه السلام په دين دی

﴿ إِنَّ أَوْلَى ٱلنَّاسِ بِإِبْرَٰهِيمَ لَلَّذِينَ ٱتَّبَعُوهُ ﴾ بيشکه ډيرنژدې له خلګونه ابراهیم ته هرومرو هغه کسان دی چي متابعت يې کړی ووده) يعنی دده پيروان او هغه کسان چي دده په عصر اويا وروسته کښي دده په لاره لارويان وي ﴿ وَهَٰذَا ٱلنَّبِيُّ ﴾ اودانبی (محمد ﷺ) دی ﴿ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ ﴾ اوهغه کسان دی چي ايمان يې راوړی دی (له محمدی امته) نودوئ ددې حقدار ه دي چي ووايې: موږ دابراهیم په دین يو نه تاسو.

﴿ وَٱللَّهُ وَلِىُّ ٱلْمُؤْمِنِينَ ﴾ اوالله ولی (دوست اوناصر) دمؤمنانودی اوکله چي يهودانو ځني اصحابو رضوان الله عليهم ته ديهوديت بلنه ورکړه داآيت نازل شو ﴿ وَدَّت طَّآئِفَةٌ مِّنْ أَهْلِ ٱلْكِتَٰبِ لَوْ يُضِلُّونَكُمْ ﴾ دوست ګڼي هيله کوي يوه طائفه له اهل کتابو څخه ددې چي ګمراه کړي تاسي) يعنی دوئ ستاسی دګمراهي هيله من دی چي خپل دين ته مووروا ړوي اودغه کاردکينې اوسرغړونی له مخی کوي ﴿ وَمَا يُضِلُّونَ إِلَّآ أَنفُسَهُمْ ﴾ اونه ګمراه کوي (په واقع کښي نه ښويوي) دوئ مګرنفسونه خپل (چي وبال اوعذاب يې هم دوئ ته راجع کيږي) اوددوئ عذاب زياتيږي ﴿ وَمَا يَشْعُرُونَ ﴾ اودوئ (پدی) نه پوهيږي) بيا وروسته قرآنکريم ددوئ ددغه بدکارتوبيخ اوترټنه کوي فرمايې: ﴿ يَٰٓأَهْلَ ٱلْكِتَٰبِ لِمَ تَكْفُرُونَ بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ وَأَنتُمْ تَشْهَدُونَ ﴾ ای اهل کتابوولي کافران کيږئ تاسی په آياتونود الله (قرآنکريم چي په محمد ﷺ) نازل شوي دی) حال داچي تاسی شاهدان يې (پوهيږئ چي داحق دی) ﴿ يَٰٓأَهْلَ ٱلْكِتَٰبِ لِمَ تَلْبِسُونَ ٱلْحَقَّ بِٱلْبَٰطِلِ وَتَكْتُمُونَ ٱلْحَقَّ وَأَنتُمْ تَعْلَمُونَ ﴾ يا اهل کتابوولي ګډوئ تاسی حق له باطلو (چي شبهې ، تحريف ، اوتبديل کوئ) سره اوپټوئ تاسی حق (دمحمدنبوت) حال داچي تاسي پوهيږئ چي دادمحمد ﷺ صفت ستاسوپه کتابونوکښي راغلی دی اوتاسوېې پټوئ بيا الله تبارک وتعالی ددوئ له مکراوپليتي څخه ديوبل ډول ذکرکوي چي دوي په لومړيوکښي داسلام څرګندونه کوي اوپه پاي کښي ځنی اوړی چي خلګوته داسلام په دين کښي شکوک اوشبهات پيدا کړی فرمايې: ﴿ وَقَالَت طَّآئِفَةٌ مِّنْ أَهْلِ ٱلْكِتَٰبِ ءَامِنُوا۟ بِٱلَّذِىٓ أُنزِلَ عَلَى ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَجْهَ ٱلنَّهَارِ وَٱكْفُرُوٓا۟ ءَاخِرَهُۥ لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُونَ ﴾ وويل يوی طائفې له اهل کتابو بلې طائفې ته) چي ايمان راوړئ په هغه (قرآن) چي نازل کړی شوي دی په هغوکسانوچي مؤمنان دی په اول دورځې کښي اوکافران شئ (اي کتابيانو) په آخردورځي کښي لپاره ددي چي دوئ (مومنان هم لکه کتابيان) (له ايمانه) وګرځي ابن کثيروايې چي داهم ددوئ دوکه اوچل ووچي په ضعيفواوکمزورو مسلمانانوباندی يې ددين په هکله پوښتني راپورته کولی دوئ داسی جرګه وکړه چي

ګهيځ به د ايمان څرګندونه کوي اوله مسلمانانو سره به لمونځ ګذاری کله چي دورځي پای شي نوبه له اسلامه بيرته خپل دين ته اوړی ترڅوناپوهه کسان ووايې چي دا ددوئ ګرځيدل خامخاپه يوعيب اونقص بنادی چي دوئ داسلام په دين کښي موندلی دی.(۱) ﴿ وَلَا تُؤۡمِنُوٓاْ إِلَّا لِمَن تَبِعَ دِينَكُمۡ ﴾ (اومه منئ تاسی (اي کتابيانو دهيچا) مګردهغه چاچي متابعت يې کړي وي ددين ستاسی) داهم ديهودودکلام تتمه ده چي الله ﷻ ځني حکايت کړي چي داسی يې معناکيږي تاسو دهيچاپه خبره باور مکړئ اوخپل سر اورازهيچاته مه واياست مګريوازي هغوکسانوته يې وايي چي ستاسوپه دين وي ﴿ قُلۡ إِنَّ ٱلۡهُدَىٰ هُدَى ٱللَّهِ ﴾ (الله فرمايې چي اي محمده دوئ ته) ووايه بيشکه هدايت (حق دين) هدايت دالله اسلامي دين دي) يعني هدايت اولارښوونه ستاسوپه لاس نه ده داد الله ﷻ کاردی چي څوک دايمان لوری ته هدايت کوي اوورباندی ثبات ورکوي لکه چي يې مومنانوته ورکړی دغه جمله اعتراضيه ده اوله دی وروسته بيا ديهودوکلام دی چي ﴿ أَن يُؤۡتَىٰٓ أَحَدٞ مِّثۡلَ مَآ أُوتِيتُمۡ أَوۡ يُحَآجُّوكُمۡ عِندَ رَبِّكُمۡ ﴾ (اوداچي ولی ورکړي شي يوچاته په مثل دهغو(فضائلو) چي ورکړی شوي دي تاسوته ؟ اوحجت قائم کړئ اوغالب شي پرتاسی په نزددرب ستاسي) يعني ځينی يهودوځينونوروته وايې چي تاسی په چا باورمه کړئ اوخپل راز چاته مه واياست مګريوازی هغه چاته يې واياست چي ستاسوپه دين وی وګورئ هغه چاچي دنبوت دعوی يې کړی که ستاسوددين متابعت يې کاوونوتاسی يې هم ومنئ اوکه نه دروغ يې وګڼئ اودهيچاپه نبوت اعتراف اواقرار مه کوئ مګرچي ستاسي په دين وي له دي کبله چي ويره شته چي ورکول شي دوئ ته هغه فضائل چي تاسوته درکول شوي اوله دی ويري چي قائم کړي پرتاسی حجت دالله ﷻ په وړاندی نوکه دمحمد ﷺ په نبوت مواقراروکړاوپه دين کښي يې داخل نه شوئ دابه پرتاسودقيامت په ورځ دليل وي ددي ويلوڅخه ددوئ مقصددرسول الله ﷺ دنبوت انکاراونه منل وو. ﴿ قُلۡ إِنَّ ٱلۡفَضۡلَ بِيَدِ ٱللَّهِ يُؤۡتِيهِ مَن يَشَآءُۗ ﴾ (ووايه اي محمده) بيشکه فضل په قدرت دالله کښي دي ورکوی يې هغه چاته چي اراده وکړی) يعنی دنبوت امرتاسوته ندی سپارل شوي داد الله ﷻ په لاس کښي دي ټول فضل اوخيرله الله ﷻ سره دی چاته چي يې اراده شي ورکوي يې ﴿ وَٱللَّهُ وَٰسِعٌ عَلِيمٞ ﴾ اوالله ﷻ پراخ دی رحمت فضل اواحسان دده)ښه عالم (اوپوه دی) دالله ﷻ انعامات اوورکړی زښته زياتی اوپه هغه چاښه خبردی چي څوک يې اهل دی ﴿ يَخۡتَصُّ بِرَحۡمَتِهِۦ مَن يَشَآءُۗ ﴾ (ځانګړی کوي په رحمت خپل هغه څوک چي اراده يې وکړی) يعنی خاصوي په نبوت سره هغه چي دچااراده وکړی ﴿ وَٱللَّهُ ذُو ٱلۡفَضۡلِ ٱلۡعَظِيمِ ﴾ اوالله ﷻ څښتن دفضل ډيرلوی دی) چي هيڅ پای اومانع نلري.

بلاغت:

په دي آيتونو کښي دفصاحت اوبلاغت ډيرډولونه شته لکه داچي ۱ مجازراغلی دی پدی کلمه کښي (الی کلمة) چي ديوې کلمې نوم يې په جمع لوررولی دي.

(۱) مختصرابن کثير۱/۲۹۱

تشبيه: لکه پدی جمله کښي (اربابًا) ځکه ددوئ دخپلو رئیسانو پیروي او اطاعت یې دتحلیل اوتحریم په هکله درب سره چي دعبادت مستحق دی مشابه کړی دی.

طباق: پدی کلام کښي (الحق بالباطل) اوتام جناس لکه دلته (یضلونکم ومایضلون) بل اشتقاقی جناس لکه: (أولی) او (ولی) همدارنګه په ډیروځایونو کښي دتکراراوحذف صنعتونه راغلی دی.[1]

فائده:

رسول الله ﷺ دروم پاچا هرقل ته یولیک وکیښ چي هغه ته یې داسلام بلنه ورکړه په لیک کښي یې په هغه آیت شریف استشهادوکړی په کوم کښي چي دیوازی الله ﷻ لپاره دعبادت اخلاص راغلی اودلیک متن یې په صحیح مسلم کښي راغلی دادی: بسم الله الرحمن الرحیم. من محمد رسول الله الی هرقل عظیم الروم سلام علی من اتبع الهدی امابعد: فانی ادعوک بدعایة الاسلام اسلِم تَسْلَم وأسلِم یؤتک الله اجرک مرتین فان تولیت فان علیک اثم الاریسیین (الفلاحین والخدم) و: یا اهل الکتب تعالوا الی کلمة سواء بیننا وبینکم ان لا نعبد الا الله ولا نشرک به شیئاً ولایتخذ بعضنا بعضاً اربابا من دون الله فان تولوا فقولوا اشهدوا بانا مسلمون.[2]

***

الله تعالی فرمایي:

﴿ ۞ وَمِنْ أَهْلِ ٱلْكِتَٰبِ مَنْ إِن تَأْمَنْهُ بِقِنطَارٍ يُؤَدِّهِۦٓ إِلَيْكَ وَمِنْهُم مَّنْ إِن تَأْمَنْهُ بِدِينَارٍ لَّا يُؤَدِّهِۦٓ إِلَيْكَ إِلَّا مَا

دُمْتَ عَلَيْهِ قَآئِمًا ۗ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمْ قَالُوا۟ لَيْسَ عَلَيْنَا فِى ٱلْأُمِّيِّۦنَ سَبِيلٌ وَيَقُولُونَ عَلَى ٱللَّهِ ٱلْكَذِبَ وَهُمْ يَعْلَمُونَ ﴿٧٥﴾ بَلَىٰ

مَنْ أَوْفَىٰ بِعَهْدِهِۦ وَٱتَّقَىٰ فَإِنَّ ٱللَّهَ يُحِبُّ ٱلْمُتَّقِينَ ﴿٧٦﴾ إِنَّ ٱلَّذِينَ يَشْتَرُونَ بِعَهْدِ ٱللَّهِ وَأَيْمَٰنِهِمْ ثَمَنًا قَلِيلًا أُو۟لَٰٓئِكَ لَا

خَلَٰقَ لَهُمْ فِى ٱلْءَاخِرَةِ وَلَا يُكَلِّمُهُمُ ٱللَّهُ وَلَا يَنظُرُ إِلَيْهِمْ يَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ وَلَا يُزَكِّيهِمْ وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿٧٧﴾

وَإِنَّ مِنْهُمْ لَفَرِيقًا يَلْوُۥنَ أَلْسِنَتَهُم بِٱلْكِتَٰبِ لِتَحْسَبُوهُ مِنَ ٱلْكِتَٰبِ وَمَا هُوَ مِنَ ٱلْكِتَٰبِ وَيَقُولُونَ هُوَ مِنْ

عِندِ ٱللَّهِ وَمَا هُوَ مِنْ عِندِ ٱللَّهِ وَيَقُولُونَ عَلَى ٱللَّهِ ٱلْكَذِبَ وَهُمْ يَعْلَمُونَ ﴿٧٨﴾ مَا كَانَ لِبَشَرٍ أَن يُؤْتِيَهُ ٱللَّهُ ٱلْكِتَٰبَ

وَٱلْحُكْمَ وَٱلنُّبُوَّةَ ثُمَّ يَقُولَ لِلنَّاسِ كُونُوا۟ عِبَادًا لِّى مِن دُونِ ٱللَّهِ وَلَٰكِن كُونُوا۟ رَبَّٰنِيِّۦنَ بِمَا كُنتُمْ تُعَلِّمُونَ ٱلْكِتَٰبَ

وَبِمَا كُنتُمْ تَدْرُسُونَ ﴿٧٩﴾ وَلَا يَأْمُرَكُمْ أَن تَتَّخِذُوا۟ ٱلْمَلَٰٓئِكَةَ وَٱلنَّبِيِّۦنَ أَرْبَابًا ۗ أَيَأْمُرُكُم بِٱلْكُفْرِ بَعْدَ إِذْ أَنتُم مُّسْلِمُونَ ﴿٨٠﴾ ﴾

آل عمران: ٧٥-٨٠

مناسبت او تړاو:

کله چي الله ﷻ داهل کتابو قبائح ذکر کړل او ددوئ پلیتي ،دوکي، او چالاکي یې بیان کړی نو وروسته یې دیهودانو ځني نورصفتونه راوړل چي هغوئ له دوو خواوو خیانت کاووچي یو یې مالي او بل دیني

---

[1] - البحر المحیط.
[2] - صحیح بخاری ومسلم

خیانت وودوئ له الله او خلګو دواړو سره خیانت کاوو د الله ﷻ د کلام یې تحریف کاوو او د خلګو مالونو خوړل یې حلال ګڼل.

لغتونه:

(قنطار) ډیر مال ته وایې او پخوا تېرشو (قائمًا) ملازم او همیشه غوښتونکي. (الأُمیین) مراد ځیني عرب دی او اصل یې له (أم) څخه (أم) مور ته وایې ځکه یې مور ته نسبت کوي چي دوئ لیک او لوست نه پیژانده (یلوُن) له (للی) څخه اخیست شوي دي او هغه پیچلو ته او تاوولو ته وایې او مقصد له ته دوئ د ژبو پیچل او تاوول دی چي دوئ به له نازل شو آیتونو څخه خپلې ژبې تاوولی څو تحریف شوي آیتونه ووایې (لاخلاق) نشته نصیب او برخه ددوئ له رحمت د الله نه (ربانیین) رب ته منسوب کسان طبری وایې چي معنا یې ده حاکمان او عالمان.(١)

دنزول سبب:

اشعث بن قیس ﷺ وایې زما او یو بل تن یهودی ترمنځ زما ځکه وه او هغه ورڅخه منکر شو ما رسول الله ﷺ ته د (محاکمي لپاره) وړاندی کړ بیا رسول الله ﷺ راته وویل آیا ستا شاهدان شته؟! ما ورته وویل نه بیا یې یهودی ته وویل چي ته قسم وکړه ما ویل هغه خو قسم کولو ته تیار دی زما مال خو ولاړ بیا الله ﷻ دغه آیت نازل کړ: (ان الذین یشترون بعهد الله ....) د آیت ترپایه پوري.(٢)

تفسیر:

﴿وَمِنْ أَهْلِ ٱلْكِتَـٰبِ مَنْ إِن تَأْمَنْهُ بِقِنطَارٍ يُؤَدِّهِۦٓ إِلَيْكَ﴾ (او ځیني له اهل کتابو څخه هغه څوک دی که امین کړی ته دي په ډیر مال باندی نو بیرته به وسپاری د (مال) تاته (ځکه هغه امین دی لکه عبدالله ابن سلام چي یو قریشي ورته یوزر او قیه دسروزرو امانت ایښی وو هغه بیرته ورکړل ﴿وَمِنْهُم مَّنْ إِن تَأْمَنْهُ بِدِينَارٍ لَّا يُؤَدِّهِۦٓ إِلَيْكَ﴾ (او ځینی له دوئ څخه هغه دی که امین کړی ته هغه په یوه دینار باندی نو اداء به نکړی دی د دینار تاته) ځکه هغه خائن وي لکه (فنحاص بن عازوراء) چي یو قریشي یو دینار ورته ایښی وو هغه ورباندي منکر شو ﴿إِلَّا مَا دُمْتَ عَلَيْهِ قَآئِمًا ۗ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمْ قَالُوا۟ لَيْسَ عَلَيْنَا فِى ٱلْأُمِّيِّـۧنَ سَبِيلٌ﴾ (دغه په امانت کښي خیانت) په سبب ددی دي چي بیشکه دوئ وویل نشته پرموږ باندی په (حق) ددي امیانو کښي هیڅ ګناه (چي مالونه یې وخورو) یعنی ددوئ دغه ګومان چي ویل به یې الله د امیانو مالونه دوئ ته روا کړی دی خیانت ته اړ ایستلی دی، روایت کیږي چي یهودانو به ویل (نحن ابناء الله واحباءه) موږ د الله زامن او دوستان یو نور خلګ زموږ مریونه دی نو که چیري د خپلو مریونو مالونه وخوروڅه ګناه نشته او چا بیا ویلي چي یهودو به ویل: الله دهغو کسانو مالونه چي زموږ ددین مخالف دي زموږ لپاره روا کړي دي ﴿وَيَقُولُونَ عَلَى ٱللَّهِ ٱلْكَذِبَ وَهُمْ يَعْلَمُونَ﴾ او وایې دوئ په الله باندی دروغ حال دا چي دوئ

١- الطبری ۶/ ۵۴۰

٢- القرطبی ۴/ ۱۲۰

پوهيږي) چي ددوئ دغه دعوي دروغ او افتراء ده روايت کاوه شي چي کله دوئ داوويل چي : (ليس علينا في الاميين سبيل) نو دالله نبی ﷺ وفرمايل : (كذب اعداء الله مامن شئ كان في الجاهلية الاهوتحت قدميّ هاتين الا الامانة فانها مؤداة الي البروالفاجر) دالله دښمنان دروغ وايي دجاهليت دزمانې ټول ارزښتونه زما تر پښولاندی دي مګر دامانت ساتنه چي هغه بايد نيکو کار او فاجر دواړو ته وسپارل شي.(١)

شي.(١) بيا الله ﷻ فرمايي : ﴿ بَلَىٰ مَنْ أَوْفَىٰ بِعَهْدِهِۦ وَٱتَّقَىٰ فَإِنَّ ٱللَّهَ يُحِبُّ ٱلْمُتَّقِينَ ﴾ (ولی نشته عذاب ؟) بلکه شته ! هر څوک چی وفا وکړی په عهد خپل (چی ايمان په نبی او داماناتو ساتنه ده) او پرهيز ګاری وکړی .(له کفر او خيانته) نو بيشکه الله پرهيز ګاران دوست ګڼی يعنی دغسی نه ده لکه چی دوی ګومان کوی بلکه پردوی باندی ددوی په دغه عمل ګناه شته ليکن که ددوی څوک داماناتو ورکړه وکړی په رسول الله ﷺ ايمان راوړی له الله څخه وويريږی نو الله ﷻ يی نازوی او دوست يی ګڼی ﴿ إِنَّ ٱلَّذِينَ يَشْتَرُونَ بِعَهْدِ ٱللَّهِ وَأَيْمَٰنِهِمْ ثَمَنًا قَلِيلًا ﴾ (بيشکه هغه کسان چي پيری دوئ په عهد دالله باندی او په قسمونو خپلو قيمت لږ) يعنی دوئ هغه عهدچي درسول الله درسالت يې تصديق کړی ووبدلوي او په خپلو په دروغو قسمونو کولو باندی دنيالږ متاع اخلي او پيري . ﴿ أُوْلَٰٓئِكَ لَا خَلَٰقَ لَهُمْ فِي ٱلْأٓخِرَةِ ﴾ دغه کسان نشته هيڅ برخه ددوئ دپاره په آخرت کښي (درحمت دالله) ﴿ وَلَا يُكَلِّمُهُمُ ٱللَّهُ وَلَا يَنظُرُ إِلَيْهِمْ يَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ ﴾ او نه به خبری وکړي له دوئ سره الله ﷻ (په خوښي) او نه به وګوري الله ﷻ دوئ ته (په رحم سره) دقيامت په ورځ کښي ﴿ وَلَا يُزَكِّيهِمْ وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴾ او نه به پا ک کړي دوئ الله ﷻ د ګناهونو (له خيرو) او شته دوئ ته عذاب دردناک (په سبب دهغو ګناهونو ددوئ) ﴿ وَإِنَّ مِنْهُمْ لَفَرِيقًا يَلْوُۥنَ أَلْسِنَتَهُم بِٱلْكِتَٰبِ ﴾ او بيشکه څيني له دوئ څخه خامخا يو فريق دی چي اړوي دوئ ژبې خپلي په لوستلو) دکتاب کښي (چي معناګاني يې تحريف کړی او دالله ﷻ کلام له خپل مراد څخه تبديل کړي ابن عباس ﷺ وايې چي هسی يې تحريفوي چي دالله له مراد څخه بغيريې تأويل وکړی ﴿ لِتَحْسَبُوهُ مِنَ ٱلْكِتَٰبِ وَمَا هُوَ مِنَ ٱلْكِتَٰبِ ﴾ لپاره ددی چي وګڼئ تاسی دا (محرف عبارتونه) له کتاب نه حال داچي نه دی دا (محرف عبارتونه) له کتاب (منزل) څخه يعني دايوازي ګمراه کونکي بهتان دی ﴿ وَيَقُولُونَ هُوَ مِنْ عِندِ ٱللَّهِ وَمَا هُوَ مِنْ عِندِ ٱللَّهِ ﴾ او وايې دوئ چي دا (محرف عبارتونه) له جانبه د الله ﷻ څخه دی حال داچي نه دی دا (محرف عبارتونه راغلی له (جانبه) دالله نه) يعنی دوئ يې الله ته نسبت کوي او دا په الله پسی دروغ تړل دی . ﴿ وَيَقُولُونَ عَلَى ٱللَّهِ ٱلْكَذِبَ وَهُمْ يَعْلَمُونَ ﴾ (او وايې دوئ په الله باندی دروغ حال داچي پوهيږي دوئ په خپلو دروغو باندی) چي دا په الله دروغ او افتراء ده وروسته الله په نصاراو باندی هغوئ چي ګومان يې کاو وچي عيسی ﷺ دوئ ته حکم کړي چي عبادت يې وکړي داسی

١- القرطبی ٤/ ١١٩

رد فرمايي: ﴿ مَا كَانَ لِبَشَرٍ أَن يُؤْتِيَهُ اللَّهُ الْكِتَابَ وَالْحُكْمَ وَالنُّبُوَّةَ ﴾ نه ښايي هيڅ بشرته چي ورکړی ده ته الله کتاب اوحکمت اونبوت ﴿ ثُمَّ يَقُولَ لِلنَّاسِ كُونُوا عِبَادًا لِّي مِن دُونِ اللَّهِ ﴾ بيا دئ وايي خلکوته چي شئ تاسی بندګان (عبادت کونکي) مالره بی له الله ﷻ څخه ، دلته دنفی صيغه دعمومی نفی لپاره ده هغه چي عقل يي ثبوت روانه بولی غرض داچي ! هيڅکله داسمه خبره نه ده اونه هم عقل داسی دعوی دکولو تصورکوي چي يونبی دی هغه چي الله ورته نبوت اوشريعت ورکړی وي له خلکوڅخه دي دځان لپاره دعبادت غوښتنه وکړی څه خوداچي بالفعل داکارموجودشي ځکه رسول اوپيغمبرخودالله ﷻ اومخلوق ترمنځ دسفيرحيثيت لری چي خلګ دالله دعبادت لوري ته رهبری کړی نوبيا څرنګه به يي دځان عبادت ته وغواړی ؟﴿ وَلَٰكِن كُونُوا رَبَّانِيِّينَ ﴾ ولکن (وايي چي شئ تاسی ربانيين ابن عباس ﷺ وايي هسي عالمان چي دحکمت اوحلم خاوندان وي معنی داچي زه تاسودځان عبادت ته نه رابولم خوتاسوته بلنه درکوم چي شئ علماء فقهاءاودالله ﷻ داوامرومنونکي ﴿ بِمَا كُنتُمْ تُعَلِّمُونَ الْكِتَابَ وَبِمَا كُنتُمْ تَدْرُسُونَ ﴾ په سبب ددي چي يي تاسی چی ښوونه کو ئ (خلکو ته)کتاب او په سبب ددي چي تدريس کوئ کتاب (اودرس اخلئ پخپله)﴿ وَلَا يَأْمُرَكُمْ أَن تَتَّخِذُوا الْمَلَائِكَةَ وَالنَّبِيِّينَ أَرْبَابًا ﴾ (اونه کوي امرتاسی ته ددي چي ونيسئ تاسی پربښتي اوانبياء خدايان) يعنی اونه ښايي چي تاسوته دغيرالله دعبادت امروکړي چي هغه ملائک اوانبياء دي ځکه درسولانودنده دالله ﷻ لوري ته بلنه اويوازي دهغه دعبادت دکولولارښوونه ده ﴿ أَيَأْمُرُكُم بِالْكُفْرِ بَعْدَ إِذْ أَنتُم مُّسْلِمُونَ ﴾ (ايا امرکوي تاسي ته (نبی) په کفرسره وروسته له دی چي يي تاسی مسلمانان) يعنی آيا ستاسونبی وروسته له دي چي تاسی ايمان راوړي اوداسلام په دين کښي داخل شوي ياست وروسته دالله ﷻ دوحدانيت څخه دانکاراوکفرامردرته کوي ؟ ! دلته استفهام انکاری اودتعجب لپاره دی.

بلاغت:

١- (ذلک بانهم قالوا) دلته په بعيد سره اشاره ددوئ دشراوفسادهغه وروستی پړاوته درسيدلواشاره ورکوي.

٢- پدي کلام کښي چي فرمايي: (ليس علينافي الاميين سبيل)،ايجازبالحذف دی چي تقديريي داسي دی (ليس علينافي أکل اموال الأميين سبيل).

٣- (يشترون بعهدالله) دلته استعاره اودشراء لفظ يي داستبدال څخه مجاز راوړی دی.

٤- (ولايکلمهم الله) دلته بياکلام نه کول دالله ﷻ دغضب له شدت څخه مجاز راغلی دی اوهمدارنګه په وروستی نوروکښی لکه (ولاينظراليهم .... ولايزکيهم) کښي.

٥- پدی کلام کښي چي فرمايي: (ولاينظراليهم) زمخشري وايي چي دغه دسپکاوي اوغضب نښه ده ځکه يوخوک چي دچاپاملرنه نکوي ورته نه ګوري.

٦- په مينځ دلفظ د(اتقي) او(المتقين) کښي اشتقاقي جناس اوبيادا(الکفر) او(المسلمون)ترمنځ دطباق صنعت دي.

فائده: روايت كړي دي ابن ابي حاتم او ابن كثير ليكي چي: يوه سړي ابن عباس ﷺ ته وويل چي موږ ته دغزا په مهال دذميانو څه مال لكه چرګه اوپسه رسيږي ابن عباس ﷺ ورته وويل چي تاسو يې څه وايئ؟ ورته وېې ويل چي موږ وايو څه پروا نلري هغه وفرمايل: دا لكه هغه داهل كتابوو يناغونډي دي چي ويل بې: (ليس علينافي الأميين سبيل) چي كله دوئ جزيه وركوي نو بيا يې مال خوړل روانه دي مګرچي ددوئ په خوښه وي.

الله تعالى فرمايي:

﴿وَإِذْ أَخَذَ اللَّهُ مِيثَاقَ النَّبِيِّينَ لَمَا آتَيْتُكُم مِّن كِتَابٍ وَحِكْمَةٍ ثُمَّ جَاءَكُمْ رَسُولٌ مُّصَدِّقٌ لِّمَا مَعَكُمْ
لَتُؤْمِنُنَّ بِهِ وَلَتَنصُرُنَّهُ ۚ قَالَ أَأَقْرَرْتُمْ وَأَخَذْتُمْ عَلَىٰ ذَٰلِكُمْ إِصْرِي ۖ قَالُوا أَقْرَرْنَا ۚ قَالَ فَاشْهَدُوا وَأَنَا مَعَكُم مِّنَ الشَّاهِدِينَ
(٨١) فَمَن تَوَلَّىٰ بَعْدَ ذَٰلِكَ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الْفَاسِقُونَ (٨٢) أَفَغَيْرَ دِينِ اللَّهِ يَبْغُونَ وَلَهُ أَسْلَمَ مَن فِي
السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ طَوْعًا وَكَرْهًا وَإِلَيْهِ يُرْجَعُونَ (٨٣) قُلْ آمَنَّا بِاللَّهِ وَمَا أُنزِلَ عَلَيْنَا وَمَا أُنزِلَ عَلَىٰ
إِبْرَاهِيمَ وَإِسْمَاعِيلَ وَإِسْحَاقَ وَيَعْقُوبَ وَالْأَسْبَاطِ وَمَا أُوتِيَ مُوسَىٰ وَعِيسَىٰ وَالنَّبِيُّونَ مِن رَّبِّهِمْ لَا نُفَرِّقُ
بَيْنَ أَحَدٍ مِّنْهُمْ وَنَحْنُ لَهُ مُسْلِمُونَ (٨٤) وَمَن يَبْتَغِ غَيْرَ الْإِسْلَامِ دِينًا فَلَن يُقْبَلَ مِنْهُ وَهُوَ فِي الْآخِرَةِ مِنَ
الْخَاسِرِينَ (٨٥) كَيْفَ يَهْدِي اللَّهُ قَوْمًا كَفَرُوا بَعْدَ إِيمَانِهِمْ وَشَهِدُوا أَنَّ الرَّسُولَ حَقٌّ وَجَاءَهُمُ الْبَيِّنَاتُ ۚ وَاللَّهُ لَا
يَهْدِي الْقَوْمَ الظَّالِمِينَ (٨٦) أُولَٰئِكَ جَزَاؤُهُمْ أَنَّ عَلَيْهِمْ لَعْنَةَ اللَّهِ وَالْمَلَائِكَةِ وَالنَّاسِ أَجْمَعِينَ (٨٧) خَالِدِينَ
فِيهَا لَا يُخَفَّفُ عَنْهُمُ الْعَذَابُ وَلَا هُمْ يُنظَرُونَ (٨٨) إِلَّا الَّذِينَ تَابُوا مِن بَعْدِ ذَٰلِكَ وَأَصْلَحُوا فَإِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ
(٨٩) إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا بَعْدَ إِيمَانِهِمْ ثُمَّ ازْدَادُوا كُفْرًا لَّن تُقْبَلَ تَوْبَتُهُمْ وَأُولَٰئِكَ هُمُ الضَّالُّونَ (٩٠) إِنَّ الَّذِينَ
كَفَرُوا وَمَاتُوا وَهُمْ كُفَّارٌ فَلَن يُقْبَلَ مِنْ أَحَدِهِم مِّلْءُ الْأَرْضِ ذَهَبًا وَلَوِ افْتَدَىٰ بِهِ ۗ أُولَٰئِكَ لَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ وَمَا
لَهُم مِّن نَّاصِرِينَ (٩١)﴾ آل عمران: ٨١ - ٩١

مناسبت او تړاو:

كله چي الله تعالى داهل كتابو هغه خيانت چي دكلام الله تحريف يې كاو د رسول الله ﷺ صفتونه يې هغه چي ددوئ په كتاب كښي راغلي وو اړول ترڅو ورباندي ايمان نه راوړي نو دلته الله پاك هغه څه چي په دوئ دليل ګرځي ذكر كړل او هغه دا چي الله سبحانه وتعالى له انبياوو څخه كلكه وعده اخيستى كه چيري درسول الله (محمد ﷺ) دبعثت موده ومومي ورباندي ايمان به راوړي اودهغه له پيروانو او مرستندويانو څخه به ياست نو چي له انبياوو څخه وعده اخيستل شوي چي ورباندي ايمان به راوړي او په بعثت به يې خلګو ته زيري وركوي نو دانبياو اتباعو ته به څنګه روا وي چي د محمد ﷺ تكذيب وكړي؟ بيا الله ﷻ دا وښودله چي په ټولو نبيانو ايمان راوړل دايمان لپاره شرط دي او دا يې څرګنده كړه چي اسلام هغه حق دين دی چي الله ﷻ له هغه پرته بل دين نه مني.

لغتونه:

(میثاق) هغه ټینګه اوکلکه وعده چي په قسم اویابل څه يې توثیق شوي وی لکه چي پخواهم تیر شو(اصری) زما وعده اوپه لغت کښي (اصر) دروندوالی ته وايي زمخشری لیکی عهدته اصرځکه وايي چی ترل کیږی.(١) (الفاسقون) دالله ﷻ له طاعت څخه وتلی (طوعًا) په خپله خوښه غاړه ایښودل(کرها) په زوره ورباندی منل (الاسباط) دسبط جمع اولمسی ته وايي اوذلته مراد دبنی اسرائیلو قومونه دی چي د یعقوب ﷺ له اولادې څخه دی (ینظرون) وخت ورکول ویل کیږی (انظره) یعنی مهلت ورکړه (الخاسرون) خسران درأس المال کمیدلوته وايي ،وايي چي (خسرفلان) یعنی رأس المال يې تاواني شو (الضالون) دکفرپه دښتوکښي لارورکی لالهانده اوحیران.

دنزول سبب:

له ابن عباس ﷺ څخه روایت شوي دی چي له انصاروڅخه یوتن له اسلام څخه مرتداوله مشرکانوسره یوځاي شو بیاوروسته پښیمان شواوبیايې خپل ټبرته وویل چي: له رسول الله ﷺ څخه راته پوښتنه وکړئ چي زه په خپلوکړوپښیمانه یم آیازماتوبه شته ؟ بیا دا آیت نازل شو: کیف یهدی الله قومًا کفروا.....تردی قوله الاالذین تابوامن بعدذلک واصلحوافان الله غفور رحیم) اوبیايې قوم ورته ولیکل هغه راستون اومسلمان شو.(٢)

تفسیر:

﴿ وَإِذْ أَخَذَ ٱللَّهُ مِيثَٰقَ ٱلنَّبِيِّـۧنَ ﴾ اویادکړئ اي (اهل کتابو) هغه وخت چي واخیست الله محکم عهدله نبیانواوو ﴿ لَمَآ ءَاتَيْتُكُم مِّن كِتَٰبٍ وَحِكْمَةٍ ﴾ (چي خامخاهغه شي چي درکړم زه تاسی ته چي هغه کتاب اوحکمت دی یعنی له هغه کبله چي درکړی دی ماتاسی ته کتاب اوحکمت طبری وايي چی (لما) د(مهما) په معنی دی﴿ ثُمَّ جَآءَكُمْ رَسُولٌ مُّصَدِّقٌ لِّمَا مَعَكُمْ ﴾ بیا راشی تاسی ته رسول (محمد) چي مصدق رښتیاویونکي دی دهغه کتاب چي له تاسو سره دي﴿ لَتُؤْمِنُنَّ بِهِۦ وَلَتَنصُرُنَّهُۥ ﴾ نوهرومرو به ایمان راوړئ تاسی خامخاپه هغه اوخامخابه ورسره مرسته کوئ ابن عباس ﷺ وايي الله پاک هیڅ نبی نه دی رااستولی مګردغه محکم عهد يې ځیني اخیستی دی چي که چیري رسول الله محمدﷺ واستول شواودی ژوندی ووارومروبه ورباندی ایمان راوړی اومرسته به يې کوی او الله ﷻ ورته فرمایلي دي چي له خپله امته هم دغه ټینګه وعده اوعهدواخلئ ﴿ قَالَ ءَأَقْرَرْتُمْ وَأَخَذْتُمْ عَلَىٰ ذَٰلِكُمْ إِصْرِى ﴾وویل (الله دوی ته)ایا اقرار وکړ تاسو په دغه (ایمان او نصرت)او واخیسته تاسی پردی (ایمان او نصرت)ټینګه وعده زما ؟﴿ قَالُوٓا۟ أَقْرَرْنَا ﴾ وویل دوئ اقراروکړ موږ (په دی)﴿ قَالَ فَٱشْهَدُوا۟ وَأَنَا۠ مَعَكُم مِّنَ ٱلشَّٰهِدِينَ ﴾وویل

---

١ - الکشاف١/٢٩٠.

(٢) اخرجه النسائی وانظرالقرطبی ۴ / ١٢٩

(الله) اوتاسی شاهدان اوسي (په خپل نفس اواتباعو) اوزه هم له تاسی سره له شاهدانوځيني يم پرتاسواودوئ باندی) ﴿ فَمَن تَوَلَّىٰ بَعۡدَ ذَٰلِكَ ﴾ (نوهرڅوک چي بيرته وګرځيد وروسته له دی) يعنی عهد يې مات کړ ﴿ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡفَٰسِقُونَ ﴾ نودغه (دشاګرځونکی کسان) هم دوئ فاسقان دی) يعنی دالله له طاعت څخه وتلي دي ﴿ أَفَغَيۡرَ دِينِ ٱللَّهِ يَبۡغُونَ ﴾ آيانوغيرد الله له دين څخه غواړی ؟ (دوئ بل دين) همزه دلته دتوبيخ اوانکارلپاره ده يعنی آيا اهل کتاب له اسلامه پرته هغه چي الله پيغمبران وربان‌دی رااستولی بل دين غواړي ؟ ﴿ وَلَهُۥٓ أَسۡلَمَ مَن فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ ﴾ حال داچي الله ته غاړه اينبي وه هرهغه چي په آسمانونو کښي اوپه ځمکه کښي دي ﴿ طَوۡعٗا وَكَرۡهٗا ﴾ په خوښه ياپه زوره قتاده وايي چي مسلمان په خوښه غاړه اينبی اوکافرپه زوره هلته چي ورته دغه غاړه اينبودل ګټه نلري[1] ابن کثيروايي چي مسلمان قلبًا اوقالبًا په خپله خوښه الله ته غاړه اينبي اوکافرپه داسی حال کښي الله ته غاړه اينبی چي زور وربان‌دی راغلی ځکه هغه ترداسی قهر اوسطان لاندی دی چي هيڅکله بې مخالفت اوممانعت نه کيږي[2] ﴿ وَإِلَيۡهِ يُرۡجَعُونَ ﴾ اوبيا (خاص) هم ده ته بيرته بيول کيږی، (دقيامت په ورځ اوهرچاته به دخپل عمل جزاء ورکول شي) ﴿ قُلۡ ءَامَنَّا بِٱللَّهِ وَمَآ أُنزِلَ عَلَيۡنَا ﴾ ووايه ای (محمده ته اوامت دی اهل کتابوته) ايمان راوړئ دی موږ په الله ﷻ اوپرهغه کتاب چي نازل کړی شوي دي پرموږ (قرآن) ﴿ وَمَآ أُنزِلَ عَلَىٰٓ إِبۡرَٰهِيمَ وَإِسۡمَٰعِيلَ وَإِسۡحَٰقَ وَيَعۡقُوبَ وَٱلۡأَسۡبَاطِ ﴾ اوپرهغو(صحيفو) چي نازلی کړی شوي دی پرابراهيم اواسماعيل اواسحاق اويعقوب اوپراولادده (دوئ) باندي ﴿ وَمَآ أُوتِيَ مُوسَىٰ وَعِيسَىٰ ﴾ اوپرهغوچي ورکړل شوي دي موسی ته (چي تورات) اوعيسی ته (چي انجيل دی) ﴿ وَٱلنَّبِيُّونَ مِن رَّبِّهِمۡ ﴾ اونوروانبياووته له جانبه درب ددوئ (چي ورکړی شوي آيتونه دی) ﴿ لَا نُفَرِّقُ بَيۡنَ أَحَدٖ مِّنۡهُمۡ ﴾ (نه کووفرق په مينځ دهيڅ يوه ددوئ کښی) يعنی داسی نه کووچي په ځينوايمان راوړواوپه ځينويې نه راوړولکه چي يهودواونصاراووهمداسی کول موږ په ټولوايمان راوړو او منوېي ﴿ وَنَحۡنُ لَهُۥ مُسۡلِمُونَ ﴾ (اوموږ (خاص) الله ته غاړه اينبودونکي يو) يعنی يوازی دهغه عبادت کوو هغه په الوهيت اوربوبيت سره منو له هغه سره هيڅکله شريک نه نيسو ، بيا الله فرمايي چي له اسلامه پرته بل هردين باطل دی ﴿ وَمَن يَبۡتَغِ غَيۡرَ ٱلۡإِسۡلَٰمِ دِينٗا فَلَن يُقۡبَلَ مِنۡهُ ﴾ (اوهرڅوک چي غواړی غيرله اسلامه بل دين نوله سره به ونه مانه شی له ده نه) يعنی هرڅوک چي پرته داسلامی شريعت نه بل شريعت وروسته دمحمد ﷺ له بعثت نه غواړی الله ﷻ به يې هيڅکله ورڅخه قبول نکړی

[1]) الطبری ۶ / ۵۷۹
[2]) مختصرابن کثير ۱ / ۳۹۷

﴿ وَهُوَ فِي الْآخِرَةِ مِنَ الْخَاسِرِينَ ﴾ حال دا چي وي به دی په آخرت کښي له زیانکارانو (چي پدی سبب به تل په دوزخ کښي پاتی کیږی) ﴿ كَيْفَ يَهْدِي اللَّهُ قَوْمًا كَفَرُوا بَعْدَ إِيمَانِهِمْ ﴾ څرنګه به سمه صافه لاره ښيي الله ﷻ هغه قوم ته چي کافران شوي دی وروسته له ایمان راوړلو ددوئ ، استفهام دلته دتعجب لپاره دی اوداچی کفرډیره ستره ګناه ده یعنی څرنګه دوئ دهدایت وړاومستحق کیدای شي چي له ایمان راوړلو وروسته کافران شوي دی ﴿ وَشَهِدُوا أَنَّ الرَّسُولَ حَقٌّ ﴾ حال داچي شاهدي ورکړی ده دوی په دی چي بیشکه رسول حق دی ﴿ وَجَاءَهُمُ الْبَيِّنَاتُ ﴾ اوراغلی دی دوئ ته معجزي ښکاره (دنبی ﷺ پرصداقت اورښتنولی باندی) ﴿ وَاللَّهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الظَّالِمِينَ ﴾ (اوالله نه کوی هدایت قوم دظالمانو ته) یعنی الله یې دنیکمرغی په لاري تللو ته توفیق نه ورپه برخه کوی حسن رحمه الله وایې چي : دغه کسان یهوداونصارادی دوئ چي په خپلو کتابونو کښي دمحمد ﷺ صفات ولیدل اوشاهدي یې وویله چي داحق دي اوکله چي ددوئ له تبراوقوم څخه په بل قوم کښي مبعوث شونودوئ بیاله عربوسره حسداورخه واخیستله اوله ایمان راوړلو وروسته کافران شول.[1] ﴿ أُولَٰئِكَ جَزَاؤُهُمْ أَنَّ عَلَيْهِمْ لَعْنَةَ اللَّهِ وَالْمَلَائِكَةِ وَالنَّاسِ أَجْمَعِينَ ﴾ دغه کسان جزاددوئ داده چي بیشکه پردوئ دی لعنت دالله اولعنت دپرښتو اودټولو خلکو ! ﴿ خَالِدِينَ فِيهَا لَا يُخَفَّفُ عَنْهُمُ الْعَذَابُ وَلَا هُمْ يُنظَرُونَ ﴾ حال داچی دوئ به تل په (اور) کښي وی نه به سپکاوه شی له دوی څخه عذاب (ددوزخ) اونه به دوئ ته مهلت ورکړل شی ﴿ إِلَّا الَّذِينَ تَابُوا مِن بَعْدِ ذَٰلِكَ وَأَصْلَحُوا ﴾ مګرهغه کسان چي توبه یې وکښله (بیرته اسلام ته راوګرځیدل) وروسته له دی (ارتداده) اونیک یې کړل (عملونه) خپل ﴿ فَإِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴾ (نوبیشکه الله بنه مغفرت کونکي ډیررحم والا دی) یعنی الله پخپل فضل سره ورته مغفرت کوی اووربانذی رحمت لوروی ﴿ إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا بَعْدَ إِيمَانِهِمْ ثُمَّ ازْدَادُوا كُفْرًا ﴾ (بیشکه هغه کسان (له یهودو) چي کافران شوی دی (په انجیل اوعیسی) وروسته له ایمان راوړلو (په تورات اوموسی) بیا یې زیات والی وکړ په کفرکښي (په نه منلو دقرآن اومحمد) داآیت دیهودانو په شان کښي نازل شوي دي ﴿ لَّن تُقْبَلَ تَوْبَتُهُمْ ﴾ له سره به نه قبلیږی توبه ددوئ ترڅوچي پخپل کفرپاتی وي ﴿ وَأُولَٰئِكَ هُمُ الضَّالُّونَ ﴾ اودغه کسان هم دوئ ګمراهان دی) یعنی دحق له لاری څخه کږولاروته وتلی دی بیا الله تعالی دهغه چاپه هکله چي کافروی اوپه کفرکښي ومري داسی فرمایي : ﴿ إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا وَمَاتُوا وَهُمْ كُفَّارٌ ﴾ بیشکه هغه کسان چي کافران شویدي اومړه شوي دي حال داچي دوي کافران دي) اوتوبه یې نه دی ایستلی دغه حکم دټولو کافرانو په باب کي عام دي ﴿ فَلَن يُقْبَلَ مِنْ أَحَدِهِم مِّلْءُ الْأَرْضِ ذَهَبًا وَلَوِ افْتَدَىٰ بِهِ ﴾ نوله سره به قبول نشي له

---

[1] - الطبری ۶/۵۷۵

يوه ددوئ څخه په ډک والی دمځکي سره زراواګرکه فديه ورکړی په دغوتولوزروسره﴿ أُوْلَـٰٓئِكَ لَهُمۡ عَذَابٌ أَلِيمٞ ﴾ (دغه کسان شته دوئ لره عذاب دردناک ﴿ وَمَا لَهُم مِّن نَّـٰصِرِينَ ﴾ (او نشته دوئ لره هيڅ مددګاران) چي دوئ دالله له عذابه څخه وژغوري.

بلاغت:

۱- پدی کلام کښي چي فرمايي: (لما أتيتكم) التفات دي چي له غياب څخه حضورته راغلی ځکه تردي له مخه (ميثاق النبيين) راغلی دي.

۲- په منځ دلفظ د (اشهدوا) اود(شاهدين) کښي اشتقاقي جناس اوهمدارنګه په منځ د (كفروا) او (كفرا) کښي نوموړی جناس اودبديعي محسناتوڅخه ګڼل کيږي.

۳- په دي کلماتوکښي چي فرمايي: (طوعًا) او(كرهًا) دطباق صنعت دی اوهمدارازد(كفر) او (ايمان) دالفاظوترمنځ.

۴- پد ي کلام کښي چي الله ﷻ فرمايي: (اولئک هم الضالون) او(اولئک هم الفاسقون) دلته قصردصفت په موصوف پوري راغلی دي.

۵- (وماأوتی موسی وعيسی والنبيون) دغه کلام له بابه دعطف دعام پرخاص باندي ګڼل کيږی.

۶- پدی جملوکښي چي فرمايي: (ولهم عذاب اليم) دمؤلم په معنااودفعيل صيغه دمبالغې لپاره راوړل شوي ده.

فائده:

په دغومبارکوآيتونوکښي کافران په دري ډوله ويشل شوي دي.

۱- هغه چي رښتنی توبه يې کښلي وي اوهغه ورته ګټه ورسوی دغوته پدی آيت کښي اشاره فرمايي (الاذين تابوامن بعدذلک).

۲- هغه خلک چي يوازي په نامه يې توبه کښلی وي فاسده توبه وي اوورته نفع نه رسوی هغوئ ته په دی قول اشاره راغلی ده: (كفروابعدايمانهم ثم ازدادوا كفرا).

۳- آويوډول هغه کسان دی چي بيخی يې توبه نه وي کښلي اوپه کفرباندی مړه شوي وي دهغوپه هکله داآيت اشاره فرمايي: (ان الذين كفروا وماتواَ وَهم كفار).

تنبيه:

له انس بن مالک ﷺ څخه بخاری اومسلم يوروايت راوړی چي نبی ﷺ وفرمايل دقيامت په ورځ به ددوزخ له کسانوڅخه يوچاته وويل شي: آياکه چيری په مځکه کښي ستاهرڅه واي (ددي عذاب څخه دژغورلوپه بدله کښي دي فديه ورکول ؟ نوهغه به وايې هو ! الله ﷻ به ورته ووايې تردی وړوکي څيزماله تاڅخه غوښتی ووماستادپلارپه ملا (ظهر) کښي له تاڅخه داژمنه (وعده) اخيستی وه چي له ماسره به شريک نه نيسی خوتاونه منله اوله ماسره دی شريک غوره کړ.

الله تعالی فرمايي:

﴿لَنْ تَنَالُوا الْبِرَّ حَتَّىٰ تُنْفِقُوا مِمَّا تُحِبُّونَ ۚ وَمَا تُنْفِقُوا مِنْ شَيْءٍ فَإِنَّ اللَّهَ بِهِ عَلِيمٌ (٩٢) ۞ كُلُّ الطَّعَامِ كَانَ
حِلًّا لِبَنِي إِسْرَائِيلَ إِلَّا مَا حَرَّمَ إِسْرَائِيلُ عَلَىٰ نَفْسِهِ مِنْ قَبْلِ أَنْ تُنَزَّلَ التَّوْرَاةُ ۗ قُلْ فَأْتُوا بِالتَّوْرَاةِ فَاتْلُوهَا إِنْ كُنْتُمْ
صَادِقِينَ (٩٣) فَمَنِ افْتَرَىٰ عَلَى اللَّهِ الْكَذِبَ مِنْ بَعْدِ ذَٰلِكَ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الظَّالِمُونَ (٩٤) قُلْ صَدَقَ اللَّهُ ۗ فَاتَّبِعُوا مِلَّةَ
إِبْرَاهِيمَ حَنِيفًا وَمَا كَانَ مِنَ الْمُشْرِكِينَ (٩٥) إِنَّ أَوَّلَ بَيْتٍ وُضِعَ لِلنَّاسِ لَلَّذِي بِبَكَّةَ مُبَارَكًا وَهُدًى لِلْعَالَمِينَ (٩٦) فِيهِ
آيَاتٌ بَيِّنَاتٌ مَقَامُ إِبْرَاهِيمَ ۖ وَمَنْ دَخَلَهُ كَانَ آمِنًا ۗ وَلِلَّهِ عَلَى النَّاسِ حِجُّ الْبَيْتِ مَنِ اسْتَطَاعَ إِلَيْهِ سَبِيلًا ۚ وَمَنْ كَفَرَ فَإِنَّ
اللَّهَ غَنِيٌّ عَنِ الْعَالَمِينَ (٩٧) قُلْ يَا أَهْلَ الْكِتَابِ لِمَ تَكْفُرُونَ بِآيَاتِ اللَّهِ وَاللَّهُ شَهِيدٌ عَلَىٰ مَا تَعْمَلُونَ (٩٨) قُلْ يَا أَهْلَ
الْكِتَابِ لِمَ تَصُدُّونَ عَنْ سَبِيلِ اللَّهِ مَنْ آمَنَ تَبْغُونَهَا عِوَجًا وَأَنْتُمْ شُهَدَاءُ ۗ وَمَا اللَّهُ بِغَافِلٍ عَمَّا تَعْمَلُونَ (٩٩) يَا أَيُّهَا
الَّذِينَ آمَنُوا إِنْ تُطِيعُوا فَرِيقًا مِنَ الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ يَرُدُّوكُمْ بَعْدَ إِيمَانِكُمْ كَافِرِينَ (١٠٠) وَكَيْفَ تَكْفُرُونَ وَأَنْتُمْ تُتْلَىٰ
عَلَيْكُمْ آيَاتُ اللَّهِ وَفِيكُمْ رَسُولُهُ ۗ وَمَنْ يَعْتَصِمْ بِاللَّهِ فَقَدْ هُدِيَ إِلَىٰ صِرَاطٍ مُسْتَقِيمٍ (١٠١) يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللَّهَ
حَقَّ تُقَاتِهِ وَلَا تَمُوتُنَّ إِلَّا وَأَنْتُمْ مُسْلِمُونَ (١٠٢) وَاعْتَصِمُوا بِحَبْلِ اللَّهِ جَمِيعًا وَلَا تَفَرَّقُوا ۚ وَاذْكُرُوا نِعْمَتَ اللَّهِ عَلَيْكُمْ إِذْ
كُنْتُمْ أَعْدَاءً فَأَلَّفَ بَيْنَ قُلُوبِكُمْ فَأَصْبَحْتُمْ بِنِعْمَتِهِ إِخْوَانًا وَكُنْتُمْ عَلَىٰ شَفَا حُفْرَةٍ مِنَ النَّارِ فَأَنْقَذَكُمْ مِنْهَا ۗ كَذَٰلِكَ يُبَيِّنُ
اللَّهُ لَكُمْ آيَاتِهِ لَعَلَّكُمْ تَهْتَدُونَ (١٠٣)﴾ آل عمران ۹۲ - ۱۰۳

مناسبت او تړاو:

څرنګه چې الله پاک دکفاروحال اودهغه وروستي پړاوذکرکړاودايې څرګنده کړه که کافران دمځکي سر سره زرقرباني کړی ورته به ګټه ونه رسوي نوداستطرادپه ډول يې دلته بيا هغه څه راوړل چې مؤمنانوته ګټه رسوی ترڅودالله خوښي اودجنت نيکمرغي يې په برخه شي اوبيايې هغه خبره راوګرځوله کوم چې اهل کتابوبه دنبوت ، رسالت اوداسلامي دين دبرحق ګڼلوپه باب شکونه اوشبهات درلودل څوهغه رفع اودفع کړی اوبياوروسته ددوئ دفريبونواودوکو په هکله چې داسلام اومسلمانانو په وړاندی يې پلی کولي ترڅودهغوئ وحدت اويووالی ته زيان ورسوي اوصف يې تارپه تارکړی بيان راغلی دي.

لغتونه:

(البر) دخيربښيګڼولپاره يوه جامع کلمه ده اودلته مرادځيني جنت دي (حِلا) حلال داهسی مصدردی چې وربانډی صفت کړل شوي دي څکه نوواحد، جمع اومذکر، مؤنث پکښي برابردی (اسرائيل) هغه يعقوب ﷺ دی (بکة) دمکې نوم دی هغې ته بکه اومکه دواړه وايې (بکه) يې څکه بولی چې هغه دکبرجنوخلګوورمېږونه تاووي يعنی کله چې جبابره يې دورانولوقصدوکړی الله ﷻ يې په ملاماتوي .

(مباركًا) دبركت خاوند بركت زياتوالى اودخيرډيروالي ته وايي (مقام ابراهيم) دابراهيم ﷺ دډيدلوځاى اوداهغه تيږه ده چي دكعبې دودانولوپه وخت به وړباندى دريدلو(عوجا) ميل اوكږوالى ته وايي ابوعبيده وايي چي كږوالى په دين ، عمل ،اوكلام كښي (عوجا)بولى چي دعين په كسره سره وى اوكه چيري يې زبراوفتحه درلوده په هغه دديوال اويادونى ښاخ كښي كږوالى مراددى (يعتصم) اعتصام په اصل كښي منع اودلته دتمسك اوالتجاء په معنى دى قرطبى وايي چي هرمنګولي څښونكي په يوشي متمسك معتصم اوهرمنع كونكى له شي څخه (عاصم) بلل كيږى[1] الله ﷻ فرمايي: (قال لاعاصم اليوم من امرالله) (شفا) شفاپه زبرسره ديوشي څنډه اوغاړه (شفير) هم پدى معنا ده لكه (شفاحفرة)دكندې څنډه الله فرمايي (على شفاحفرة) .

دنزول سبب:

روايت كاوه شى چي :(شاس بن قيس) يهودي داوس اوخزرج انصاروپه يوه ټولى راغى چي هغوئ په مينه يوله بله خبرى كولى نويهودى ته قهر ورغي چي داځومره يوله بله خواږه اوترمنځ يې دمينې اوالفت ننبى ښكاريږى داوروسته له هغه چي ددوئ ترمنځ په جاهليت كښي څومره دښمنى اوعداوت وونويې له ځانه سره وويل كه داخلګ په يوه خوله كومه پريكړه وكړى نوزموږ ورسره څه په وس كښي وى ؟ بيا يې ديهوديوځوان ته امروكړچي له دوئ سره كښينى اود(بُعاث) ورځ ورپه يادكړى هغه اشعاورته ووايي كوم چي دهغې ورځي په درناوي كښي ويل شوي وواهغه ورځ وه چي د اوس اوخزرج ترمنځ پكښي سخته مرګ ژوبله شوي وه اوبرى داوس په برخه ووهغه هم دغسى وكړل نوپدى وخت كښي هغوئ يوله بله وياړاوفخرپيل كړغضب ورته مخه كړه اوچيغى يى كړى وييې ويل هلى: وسله را واخلي ، وسله ! بيا رسول الله ﷺ ته خبوررسيدواوهغه سره له ځوتنومهاجرينواو انصارواصحابانوسره راووت دوئ ته يې وويل: آيادجاهليت په بلنه اودعوى (راپاريدلي ياست) حال داچي زه ستاسوپه منځ كښى موجوديم ورروسته له هغه چي الله داسلام په مشرف كولوتاسي ته عزت دركړ دجاهليت څخه يې راوايستلي ستاسوترمنځ يې الفت (اومينه) پيداكړه) خلګ دنبى ﷺ دموژرى ويناپه بركت وپوهيدل چي داشخړه دشيطان وسوسه اوددښمن چل اودوكه ده نويې وسله وغورځوله اوويې ژړل يوبل ته ورغاړى وتل اوبياله رسول الله ﷺ سره پداسى حال كښي چي دهغه خبرې يې اوريدلي اوهغه يې منلى روان شول ورروسته الله ﷻ دا آيت نازل كړ: (يآيها الذين آمنوا ان تطيعوا فريقامن الذين اوتوا الكتاب)[2] آيت ترپايه.

تفسير:

﴿لَن تَنَالُوا۟ ٱلْبِرَّ حَتَّىٰ تُنفِقُوا۟ مِمَّا تُحِبُّونَ﴾ له سره به ونه مومئ تاسي پوره نيكى ترهغه پورى چي صرف كړئ تاسي (په لاره دالله ﷻ) ځينى له هغو شيانوچي ستاسي خوښ وي) يعنى تاسوبه له نيكانونه ونه ګڼل شئ اونه به جنت پيداكړئ ترڅوچي خپل غوره مالونه ونه لګوئ. ﴿وَمَا تُنفِقُوا۟ مِن شَىْءٍ

---

(۱) القرطبى ۴ / ۱۵۲

(۲) اسباب النزول ص ۶۲ ، الكشاف ۱ / ۳۰۱

فَإِنَّ ٱللَّهَ بِهِۦ عَلِيمٌ ﴾ او هغه چي صرفوئ (يې) تاسي له يوه شي (لږ وي كه ډېر) پس بيشكه الله په هغه ښه عالم دى) يعنى هغه شي چي دالله په لاره كښي يې لګوئ ستاسو لپاره خوندى دى الله به ورباندى ښه جزا دركړي ﴿ كُلُّ ٱلطَّعَامِ كَانَ حِلًّا لِّبَنِىٓ إِسْرَٰٓءِيلَ ﴾ ټول دخوړلو شيان حلال وو بنى اسرائيلو ته ﴿ إِلَّا مَا حَرَّمَ إِسْرَٰٓءِيلُ عَلَىٰ نَفْسِهِۦ ﴾ مګرهغه چي حرام كړى وو (يعقوب) پخپل ځان چي هغه داوښانو غوښي اوشيدې وي بيانو رخوراكونه ورباندى حرام شول لكه وازدي (شحوم) اونور چي دادهغوئ دګناهونو نتيجه وه ﴿ مِن قَبْلِ أَن تُنَزَّلَ ٱلتَّوْرَىٰةُ ﴾ (پخواله هغه چي نازل كيدو تورات) يعنى ترنزول له مخه ورته حلال وو ﴿ قُلْ فَأْتُوا۟ بِٱلتَّوْرَىٰةِ فَٱتْلُوهَآ إِن كُنتُمْ صَٰدِقِينَ ﴾ (ووايه اي محمده) نوراوړئ تاسي تورات پس ويې لولئ تاسي كه ياست تاسي صادقان (رښتني) يعنى تورات راوړئ او ماته يې ولولئ كه تاسي په دې دعوى كښي رښتوني ياست چي ستاسو دسرغړونى اوظلم په سبب درباندى حرام شوي نه دى . زمخشري وايې چي ددوئ غرض دالله ﷺ دهغې شاهدې چي ددوئ په ظلم اوبغي يې اداكړى تكذيب وونو كله چي يې ددوئ په كتاب دليل راووړ دوئ وشرميدل اوسرټيټي شول هيڅاونشو كولي چي تورات راوباسى اوپه دغه دليل كښي دنبى ﷺ دښتنولي هم اثبات كيږى .(١) ﴿ فَمَنِ ٱفْتَرَىٰ عَلَى ٱللَّهِ ٱلْكَذِبَ مِنۢ بَعْدِ ذَٰلِكَ ﴾ پس هرچاچي وتړل په الله دروغ وروسته له هغه چي دحرمت حجت اوجهت يې ښكاره شو) ﴿ فَأُو۟لَٰٓئِكَ هُمُ ٱلظَّٰلِمُونَ ﴾ پس دغه كسان هم دوئ دي ظالمان (چي حق پريږدى اوباطل خوښوي) ﴿ قُلْ صَدَقَ ٱللَّهُ ﴾ (ووايه اي محمده) رښتيا فرمايلي دى الله يعنى هرهغه څه چي يې محمدته وحى كړى اويايې خبرور كړى ګرد رښتيادى . ﴿ فَٱتَّبِعُوا۟ مِلَّةَ إِبْرَٰهِيمَ ﴾ نومتابعت وكړئ تاسي ددين دابراهيم ﴿ حَنِيفًا ﴾ چي حنيف وو (په يولورى) يعنى له هرباطله دين څخه حق ته مائل وو ﴿ وَمَا كَانَ مِنَ ٱلْمُشْرِكِينَ ﴾ اونه وودئ له مشركانو الله ﷺ هغه ته ديهودواونصاراووله هغونسبتونوڅخه چي هغه يې يهودى يانصرانى بالوبرائت وركړاوداېي څرګنده كړه چي دوئ مشركان دي ﴿ إِنَّ أَوَّلَ بَيْتٍ وُضِعَ لِلنَّاسِ لَلَّذِى بِبَكَّةَ مُبَارَكًا ﴾ بيشكه ړومبى كوټه (بيت الله) چي جوړه شوي ده (له ګردوڅخه پخوادعبادت لپاره) خلكوته خامخا(هغه كوټه) همداده چي په مكه كښي ده (هغه ځاته چي حج اوعمره يې كوي دخيربښيګنى منبع او) دډېرخيراوبركت والاده ﴿ وَهُدًى لِّلْعَٰلَمِينَ ﴾ (اولاره ښوونكى ده خلكوته) يعنى دهدايت اونورڅخه دكه ځكه چي دخلكو قبله ده بيا يې نورمزاياهغه چي په نوروجوماتونويې لرى داسي يادوئ : ﴿ فِيهِ ءَايَٰتٌۢ بَيِّنَٰتٌ مَّقَامُ إِبْرَٰهِيمَ ﴾ (پدى كښي اثارښكاره مقام ابراهيم دي) يعنى پدى كښي ډيري څرګندې علامې دي چي دهغې په شرف اوفضيلت دلالت كوى چي يويې مقام ابراهيم دى هغه چي

(١) الكشاف ١/ ٢٩٥

دکعبې دودانولو په وخت کښې به ابراهیم ﷺ ورباندې ختل اوبل زمزم دی همدارنګه (حطیم) (صفا) او(مروة) اوحجراسود دی آیادا دهغې په شرافت باندې دلیل نه دی ؟ اودهغې داحقیت نه څرګندوي چې دمسلمانانولپاره دی قبله وي ؟﴿ وَمَن دَخَلَهُۥ كَانَ ءَامِنًاۗ ﴾ (اوهرڅوک چې ننوت پدې (کعبه) نوشي به په آمان کښې) اودایوه بله دبزرګي علامه ده چې ابراهیم ﷺ دعاکړې ده (رب اجعل هذا بلدا آمنا) !

﴿ وَلِلَّهِ عَلَى ٱلنَّاسِ حِجُّ ٱلۡبَيۡتِ مَنِ ٱسۡتَطَاعَ إِلَيۡهِ سَبِيلٗاۚ ﴾ او(فرض)دي پرخلګوحج ددي بیت الله پرهغه چې قدرت لرې طرف ددې ته دلارې﴿ وَمَن كَفَرَ فَإِنَّ ٱللَّهَ غَنِيٌّ عَنِ ٱلۡعَٰلَمِينَ ﴾ (اوهرڅوک چې کافرشوې (ویې نه مانو) بیشکه الله بې پروادی له ټوله عالم نه) یعنی چاچې حج پرېښود نو الله له عبادته دټولو خلګوځینې بې پروادی دحج نه کولوڅخه یې په کفرسره تعبیروفرمایل دادتغلیظ په توګه ابن عباس ﷺ وایې څوک چې دحج فرضیت نه مني کافردی اوالله یې پروانلرې[1]بیا وروسته الله پاک اهل کتاب ددوئ په کفرترتي ورته فرمایې:﴿ قُلۡ يَٰٓأَهۡلَ ٱلۡكِتَٰبِ لِمَ تَكۡفُرُونَ بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ ﴾ (ووایه اي محمده) چې اي اهل کتابوولي کافران کیږئ تاسي په آیتونودالله ﷺ ؟ یعنی ولی دقرآن کریم څخه انکارکوئ هغه چې په محمد ﷺ نازل شوي اوپه ربښتنولي یې دلائل اوبراهین موجوددی ؟﴿ وَٱللَّهُ شَهِيدٌ عَلَىٰ مَا تَعۡمَلُونَ ﴾ (اوالله بنه شاهدی پرهغوکارونوچې تاسي یې کوئ) یعنی ستاسوپه کړووړوخبراو وربانډې جزا به درکړي﴿ قُلۡ يَٰٓأَهۡلَ ٱلۡكِتَٰبِ لِمَ تَصُدُّونَ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ مَنۡ ءَامَنَ ﴾ ووایه اي محمده) چې اي اهل کتابو ولي تاسي منع کوئ (اړوئ) له لارې دالله څخه هغه څوک چې دایمان راوړلو قصدلرې؟﴿ تَبۡغُونَهَا عِوَجٗا ﴾لټوئ تاسي لارې دالله ته کوږ والی داپدې چې دنبی ﷺ صفتونه بدلوئ اوخلګوته داسې وسوسې وراچوئ چې ګواکي په اسلام کښې خلل اوکوږوالی شته ﴿ وَأَنتُمۡ شُهَدَآءُۗ ﴾(حال داچې تاسي یې شاهدان)یعنی پدي پوهیږئ چې اسلام حق اوسم مستقیم دین دی ﴿ وَمَا ٱللَّهُ بِغَٰفِلٍ عَمَّا تَعۡمَلُونَ ﴾ (اونه دی الله بی خبره له هغه شي څخه چې تاسي کوئ) پدی کښې تهدیداووعیددی په تحقیق سره چې یهودواو نصاراوو دوه صفتونه چې یوضلال اوبل اضلال ده سره یوځاي کړي وواوپه تېرومبارکوآیتونوکښې ورته اشاره وشوه دوئ په اسلام کافران وواوبیایې خلګ داسلام دین ته د داخلیدلو لپاره هم نه پرېښودل هغوئ ته به یې شکونه اوشبهې وراچولې﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِن تُطِيعُواْ فَرِيقٗا مِّنَ ٱلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلۡكِتَٰبَ ﴾(اي هغوکسانوچې ایمان یې راوړی دی (اي مومنانو ! که تاسي حکم ومنئ دیوفریق دهغو کسانوچې ورکړی شویدي دوئ ته کتاب ﴿ يَرُدُّوكُم بَعۡدَ إِيمَٰنِكُمۡ كَٰفِرِينَ ﴾ (نوبیرته به وګرځوي تاسي وروسته له ایمانه ستاسو،کافران) دلته خطاب اوس اوخزرج ته دی ځکه یهودانوددوئ ترمنځ فتنه غوښتله لکه چې په شان نزول کښې تیرشواودفریق لفظ په آیت کښې عام حکم لري ﴿ وَكَيۡفَ تَكۡفُرُونَ وَأَنتُمۡ تُتۡلَىٰ عَلَيۡكُمۡ ءَايَٰتُ

[1] مختصرابن کثیر۱ / ۳۰۳

ٱللَّهِ وَفِيكُمْ رَسُولُهُۥ ﴾ اوځرنګه به تاسي کافران کيږئ او تاسي چي يې لوستی شي پر تاسي آيتونه دالله او دي په تاسي کښي رسول دالله ﷺ دلته دا استفهام بيا انکاري او داستبعاد لپاره دی يعنی ځرنګه به تاسو بيا کفرته زړه ښه کړئ او حال داچي لاتراوسه دالله ﷺ آيتونه رانازليږي وحي قطع شوي نه ده او رسول الله ﷺ ستاسو په منځ کښي ژوندی موجود دی ﴿ وَمَن يَعْتَصِم بِٱللَّهِ فَقَدْ هُدِيَ إِلَىٰ صِرَٰطٍ مُّسْتَقِيمٍ ﴾ او هرڅوک چي منګولي ښخي کړی دالله په دين نو په تحقيق سره ده ته لاره وښودله شوه په طرف دلاری سمې، هغه لاره چي جنات النعيم ته رسيږي ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا ٱتَّقُوا ٱللَّهَ حَقَّ تُقَاتِهِۦ ﴾ (اي هغو کسانو چي ايمان يې راوړی دی (اي مومنانو) وويريږئ له الله نه په حق دويري سره ابن مسعود رضی الله عنه وايي هغه داده چي : دالله د امرمنل کوي او سرغړول تري نه کوي، الله يادوي او نه يې هيروي دالله شکر پر ځای کوي دنعمت کفران يې نه کوي.(۱) او مراد پدی کلام چي (حق تقاته) دی داچي لکه چي حق دويري وي او هغه په ځان ژغورنه له ټولو ګناهونو کيږي ﴿ وَلَا تَمُوتُنَّ إِلَّا وَأَنتُم مُّسْلِمُونَ ﴾ (او مه مرئ مګر په دي حال کښي چي يې تاسي مسلمانان) يعنی په اسلام ټينګې منګولې ولګوئ ترڅو چي مرګ درته راشي او تاسي همداسی په اسلام ټينګ ولاړياست مقصد پکښي دادی چی په اسلام کښي ثابت اوسئ ﴿ وَٱعْتَصِمُوا بِحَبْلِ ٱللَّهِ جَمِيعًا وَلَا تَفَرَّقُوا ﴾ او منګولي ولګوئ (ای مومنانو) په رسۍ دالله چي دالله ﷺ دين او کتاب دی) ټول او مه سره مختلف کيږئ ، لکه چي تر تاسو دمخه يهود او نصارا سره مختلف شوي وو ﴿ وَٱذْكُرُوا نِعْمَتَ ٱللَّهِ عَلَيْكُمْ ﴾ او ياد کړئ تاسي نعمت دالله پاک پر تاسي (اي دعربو خلکو) ﴿ إِذْ كُنتُمْ أَعْدَآءً فَأَلَّفَ بَيْنَ قُلُوبِكُمْ فَأَصْبَحْتُم بِنِعْمَتِهِۦٓ إِخْوَٰنًا ﴾ (کله چي وي تاسي دښمنان نو الفت يې پيدا کړ په منځ د زړونو ستاسي کښي) يعنی چي کله تاسو تر اسلام پخواسخت دښمنان وئ او بيا د اسلام په وجه الله ﷺ ستاسو په زړونو کښي الفت او مينه پيدا کړه او په ايمان يې راغونډ کړئ ﴿ وَكُنتُمْ عَلَىٰ شَفَا حُفْرَةٍ مِّنَ ٱلنَّارِ فَأَنقَذَكُم مِّنْهَا ﴾ او وئ تاسي په غاړه د کندې له اوره (د دوزخ) نو خلاص يې کړئ تاسي له هغه اوره (په اسلام سره) ﴿ كَذَٰلِكَ يُبَيِّنُ ٱللَّهُ لَكُمْ ءَايَٰتِهِۦ ﴾ همداسي بيانوي الله تاسي ته دلائل (د قدرت) خپل ﴿ لَعَلَّكُمْ تَهْتَدُونَ ﴾ لپاره ددي چي تاسي په سمه لاره ثبات او دوام ومومئ، او د دارينو نيکمرغي ته ورسيږئ.

بلاغت:

په دی آيتونو کښي د بلاغت ډير څه شته چي په لنډه توګه يې دا يو څو ليکو:

۱ – پدی کلام کښي چي فرمايي (قل فأتوا بالتوراة) امر د تبکيت (چپ) کولو لپاره دی چي د دوی په بشپړ قباحت دلالت کوي.

---

(۱) مختصر ابن کثير ۱ / ۳۰۴

۲- (للذي ببكة) په اصل کښي داسی ده چي (للبيت الذي ببكة) دلته موصوف پرېښودل شوي چي په تعظيم يې دلالت وکړی.

۳- پدی کلام کښي چي فرمايې: (ومن كفر) دادهغه پرځای راغلی دي چي (ومن لم يحج) اووجه يې داده چي دحج په وجوب تأکيد اوپه تارک يې تشددخرګندشي ابوالسعودوايې چي په آيت شريف دومره زيات داعتبار فنون راغلی دی چي نوروورباندی نه ځائيږي اوهغه دا چي: (ولله على الناس حج البيت) دلته يې دخبرصيغه غوره کړی ده چي په تحقيق دلالت وکړی اوداسميې جملې په شکل يې راوړی چي په ثبات اواستمراردلالت وکړی پداسی ډول چي دالله ﷻ حق اودخلګوپه ذمه باندی پور دي يوځل يې دتعميم په بڼه اوبيا يې تخصيص فرمايلی يوواريې ابهام راوړی اوبيا يې بيان کړی دی يو کرت يې اجمالی ذکر کوي اوبيايې تفصيل روښانه کوی[1]

۴- (واعتصموا بحبل الله) دلته يې قرآن له رسۍ سره مشابه کړی اومشبه به يې دمشبه لپاره استعاره کړی وجه جامع يې نجات دی نودغې ته تصريحيه استعاره وايې.

۵-(شفاحفرة) ددوئ دجاهليت حال يې له هغه چاسره مشابه کړچي دژوري کندې په غاړه ولاړوی اوپه دي کښي تمثيليه استعاره ده والله اعلم.

تنبيه:

دغه آيتونه داهل کتابودووشبهاتوددفع کولولپاره راغلی چي هغه لومړی داچي دوئ نبی ﷺ ته ويل چي ته وايې دابراهيم ؑ په دين يې خودهغه له شريعت څخه مخالفت کوي ته داوښانوغوښي اوشيدې حلالې ګڼې خوداپه ابراهيمي شريعت کښي حرامې دي الله ورباندی داسي ردوفرمايل: (كل الطعام كان حلا لبني اسرائيل) دآيت کريمه ترپايه دوهمه داچي: دوئ ويل بيت المقدس دټولوانبياوو قبله اولومړني مسجددي اوهغه ته مخامخ کيدل حق دی نوته څرنګه دهغه استقبال پرېږدي اوداګومان کوي چي دانبياووشريعتونه تصديق کوي نوالله ﷻ ددوئ تر ديد داسې وفرمايل:(ان اول بيت وضع للناس للذي ببكة) دآيت ترپايه.

***

الله تعالی فرمايې:

﴿ وَلْتَكُن مِّنكُمْ أُمَّةٌ يَدْعُونَ إِلَى الْخَيْرِ وَيَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنكَرِ ۚ وَأُولَٰئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ ﴿١٠٤﴾
وَلَا تَكُونُوا كَالَّذِينَ تَفَرَّقُوا وَاخْتَلَفُوا مِن بَعْدِ مَا جَاءَهُمُ الْبَيِّنَاتُ ۚ وَأُولَٰئِكَ لَهُمْ عَذَابٌ عَظِيمٌ ﴿١٠٥﴾ يَوْمَ تَبْيَضُّ وُجُوهٌ
وَتَسْوَدُّ وُجُوهٌ ۚ فَأَمَّا الَّذِينَ اسْوَدَّتْ وُجُوهُهُمْ أَكَفَرْتُم بَعْدَ إِيمَانِكُمْ فَذُوقُوا الْعَذَابَ بِمَا كُنتُمْ تَكْفُرُونَ ﴿١٠٦﴾ وَأَمَّا الَّذِينَ
ابْيَضَّتْ وُجُوهُهُمْ فَفِي رَحْمَةِ اللَّهِ هُمْ فِيهَا خَالِدُونَ ﴿١٠٧﴾ تِلْكَ آيَاتُ اللَّهِ نَتْلُوهَا عَلَيْكَ بِالْحَقِّ ۗ وَمَا اللَّهُ يُرِيدُ ظُلْمًا
لِّلْعَالَمِينَ ﴿١٠٨﴾ وَلِلَّهِ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ ۚ وَإِلَى اللَّهِ تُرْجَعُ الْأُمُورُ ﴿١٠٩﴾ كُنتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ أُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ

[1]- ابوالسعود۱/ ۲۵۵

تَأْمُرُونَ بِٱلْمَعْرُوفِ وَتَنْهَوْنَ عَنِ ٱلْمُنكَرِ وَتُؤْمِنُونَ بِٱللَّهِ ۗ وَلَوْ ءَامَنَ أَهْلُ ٱلْكِتَٰبِ لَكَانَ خَيْرًا لَّهُم ۚ
مِّنْهُمُ ٱلْمُؤْمِنُونَ وَأَكْثَرُهُمُ ٱلْفَٰسِقُونَ ﴿١١٠﴾ لَن يَضُرُّوكُمْ إِلَّآ أَذًى ۖ وَإِن يُقَٰتِلُوكُمْ يُوَلُّوكُمُ ٱلْأَدْبَارَ ثُمَّ لَا
يُنصَرُونَ ﴿١١١﴾ ضُرِبَتْ عَلَيْهِمُ ٱلذِّلَّةُ أَيْنَ مَا ثُقِفُوٓا۟ إِلَّا بِحَبْلٍ مِّنَ ٱللَّهِ وَحَبْلٍ مِّنَ ٱلنَّاسِ وَبَآءُو بِغَضَبٍ مِّنَ ٱللَّهِ وَضُرِبَتْ
عَلَيْهِمُ ٱلْمَسْكَنَةُ ۚ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمْ كَانُوا۟ يَكْفُرُونَ بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ وَيَقْتُلُونَ ٱلْأَنۢبِيَآءَ بِغَيْرِ حَقٍّ ۚ ذَٰلِكَ بِمَا عَصَوا۟ وَّكَانُوا۟
يَعْتَدُونَ ﴿١١٢﴾ ﴾ آل عمران: ۱۰۴-۱۱۲

مناسبت او تړاو:

څرنگه چي دالله ﷻ داهل کتابو له فریبو نو او دوکو څخه مسلمانان وویرول او دوئ ته یې دالله په دین او شریعت د منګولو لګولو حکم وکړ همدا راز دامر بالمعروف او نهي عن المنکر دعوت ته یې وروبلل دیووالی او اتحاد ما رېبنه یې وکړه بیا یې هغه څه ذکر کړل چي یهودو ته د سپکاوي او ذلت څخه رسیدلي وو او سبب یې د هغوئ سرغړونه او دالله ﷻ سره دښمني وه.

لغتونه:

(امة) یوه ډله (البینات) څرګندي نښې (المعروف) نیکې او د شریعت مأموربه شیان هغه چي عقل یې مستحسن ګڼي (المنکر) د شریعت منع شوي شیان او هغه چي عقل یې بد بولی (الأدبار) د دبر جمع ده او د هرشي وروستی برخي ته وایې ویل کیږي (ولاه دبره) یعنی وتښتید او شا یې ور وګرزاوو (ثقفوا) چي پیدا شي (حبل من الله) دالله عهد په اصل کښې حبل رسۍ ته وایې او عهد ته ځکه وویل شو چي د هغه په سبب لکه په حبل نجات موندل کیږي (بآءوا) وګرځیدل (المسکنة) محتاجي او فقر.

تفسیر:

﴿ وَلْتَكُن مِّنكُمْ أُمَّةٌ يَدْعُونَ إِلَى ٱلْخَيْرِ ﴾ او وي دی (تل) له تاسي یوه ډله چي بولی (خلک) په لوري د خیر ﴿ وَيَأْمُرُونَ بِٱلْمَعْرُوفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ ٱلْمُنكَرِ ۚ ﴾ او حکم کوي خلګو ته په (هره) نیکي سره او منع کوي خلک له (هري) بدي نه. ﴿ وَأُو۟لَٰٓئِكَ هُمُ ٱلْمُفْلِحُونَ ﴾ هم دوئ دي په مراد رسیدلی یعنی بریالي دی. ﴿ وَلَا تَكُونُوا۟ كَٱلَّذِينَ تَفَرَّقُوا۟ وَٱخْتَلَفُوا۟ مِنۢ بَعْدِ مَا جَآءَهُمُ ٱلْبَيِّنَٰتُ ۚ ﴾ (او مه کیږئ تاسي په شان د هغو کسانو چي سره جلا شول او اختلاف یې وکړ دوئ په اصولو کښې وروسته له هغه چي راغلی وو دوئ ته دلائل ښکاره) یعنی دیهودو او نصارا او وپه شان مه کیږئ چي سره جلا جلا شول او وروسته له دی چي دالله ﷻ صاف او ښکاره احکام ورته ورسیدل دوئ دهوا او هوس په سبب په اصولو او فروعو کښې اختلاف وکړ ﴿ وَأُو۟لَٰٓئِكَ لَهُمْ عَذَابٌ عَظِيمٌ ﴾ (او ده دوئ ته عذاب ډیر لوئ) یعنی د دوئ د اختلاف په سبب د قیامت په ورځ دوئ ته ستر عذاب دی ﴿ يَوْمَ تَبْيَضُّ وُجُوهٌ وَتَسْوَدُّ وُجُوهٌ ۚ ﴾ په هغه ورځ چي سپین به شي (ځیني) مخونه

(دمومنانو) اوتوربه شي (ځيني) مخونه (دکافرانو) دمومنانو به دايمان په وجه اودکافرانو به دکفر له کبله ﴿فَأَمَّا الَّذِينَ اسْوَدَّتْ وُجُوهُهُمْ أَكَفَرْتُم بَعْدَ إِيمَانِكُمْ﴾ پس هغه کسان چي تورشوي دي مخونه ددوی (نوبه وويل شي دوئ ته) آياکافران شوي ياست وروسته له ايمان راوړلوستاسي ؟) دغه له اجمال نه وروسته تفصيل دی يعنی کافرانوته به دتوبيخ په ډول وويل شي ﴿فَذُوقُوا الْعَذَابَ بِمَا كُنتُمْ تَكْفُرُونَ﴾ نوڅکئ عذاب په سبب ددي چي وي تاسي چي کافران کيدلی يعنی په سبب دکفرستاسي سخت عذاب وڅکئ ﴿وَأَمَّا الَّذِينَ ابْيَضَّتْ وُجُوهُهُمْ﴾ (اوهغه کسان چي سپين شوي دی مخونه ددوئ) يعنی اوهرچي نيکمرغه نيکان خلگ دي مخونه يې په نيکواعمالوسپين شوي دي ﴿فَفِي رَحْمَةِ اللَّهِ هُمْ فِيهَا خَالِدُونَ﴾ نووي به دوئ په رحمت دالله کښي چي وی به دوئ په هغه کښي تل ترتله چي هيڅکله به ځيني ونه وزي ﴿تِلْكَ آيَاتُ اللَّهِ نَتْلُوهَا عَلَيْكَ بِالْحَقِّ﴾ داآيتونه دالله دی موږ يې لولوپرتاباندی (اي محمده) په حقه سره ﴿وَمَا اللَّهُ يُرِيدُ ظُلْمًا لِّلْعَالَمِينَ﴾ (اونه دی الله چي اراده به کړي دظلم لپاره دعالميانو) يعنی الله په هيچاهم ظلم نه کوي خوخلگ پخپلوځانونوظلم کوي ﴿وَلِلَّهِ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ﴾ او(خاص) اللّه لره دی هرهغه څه چي په آسمانونوکښي دی اوهرهغه څه چي په مځکه کښي دي (ملکا اوعبيداً) ﴿وَإِلَى اللَّهِ تُرْجَعُ الْأُمُورُ﴾ اوخاص الله ته بيرته ګرځول کيږي ګردکارونه ،يعنی الله ددنيااوآخرت تصرف کونکی حاکم دی ﴿كُنتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ أُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ﴾ (يې تاسي اي (محمدي امته) بهتره امت چي ايستل شوي دی لپاره دخلګو) يعنی ای محمدی امته تاسوتر ټولوبهتريې ځکه تاسوګټه رسوونکي ياست خلګوته امام بخاری له ابوهريرة ﷺ نه روايت کوي چي ﴿كُنتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ أُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ﴾ يعنی يې تاسي بهتردخلګوچي دوئ به ځنځيرونه په غاړه راولئ ترڅوبه اسلام کښي داخل شي ﴿تَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَتَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنكَرِ وَتُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ﴾ (چي حکم کوي تاسي (هرچاته) په نيکی سره اومنع کوئ تاسي هرڅوک له منکرځني اوايمان لرئ په الله ﷻ باندی)اودابيان دبهتری د دوی دی لکه چي ويل شوي دي چي ستاسودبهتری همدغه بنه ځويونه سبب دی عمر ﷺ وايي :که څوک پدی خوښيږي چي ددی امت څخه وي نودالله شرط دي پکښي پرځاي کړی(١) ﴿وَلَوْ آمَنَ أَهْلُ الْكِتَابِ لَكَانَ خَيْرًا لَّهُم﴾ اوکه ايمان راوړی وي اهل کتابو(په قرآن اومحمد) خامخابه ووداايمان بهتردوئ لره (په دنيااوآخرت کښي) ﴿مِّنْهُمُ الْمُؤْمِنُونَ وَأَكْثَرُهُمُ الْفَاسِقُونَ﴾ (ځينی له دوئ څخه مومنان دی اوزيات ددوئ فاسقان دی) يعنی ددوئ لږکی ډله مومنان دی لکه نجاشي اوعبدالله بن سلام

١- مختصرابن کثير.

اوډیرکسان یې دالله له طاعت څخه سرغړونکي اوو تلی (فاسقان) دی ﴿ لَن يَضُرُّوكُمْ إِلَّآ أَذًى ﴾ له سره به ضررونه رسوي تاسي ته مګرپه لږ ربړولوسره (دژبې) چي تاسوته به ښکنځل کوي اویابه پیغوردرکوي ﴿ وَإِن يُقَٰتِلُوكُمْ يُوَلُّوكُمُ ٱلْأَدْبَارَ ﴾ اوکه جنګ وکړی له تاسي سره نووبه ګرځوي دوئ تاسي ته شاوي ﴿ ثُمَّ لَا يُنصَرُونَ ﴾ (بیا به له دوئ سره مرسته ونکړی شي) یعنی تاسوته زیری درکوم چی دوئ به ناکام اوشرمیدلي وی دغه جمله استینا ف دی ﴿ ضُرِبَتْ عَلَيْهِمُ ٱلذِّلَّةُ أَيْنَ مَا ثُقِفُوٓاْ ﴾ (مقرر کړی شوي دی په دوی باندی ذلت په هرځای کښي چي وموندل شی) یعنی دغه ذلت په دوئ داسی احاطه کړی ده لکه چي خونه په ساکن باندی احاطه لري ﴿ إِلَّا بِحَبْلٍ مِّنَ ٱللَّهِ وَحَبْلٍ مِّنَ ٱلنَّاسِ ﴾ مګرچي منګولي ولګوي په ذمه دالله اوذمه دمسلمانانو ابن عباس ﷺ وایې چي دالله په عهداودمسلمانانو په عهدمنګولی ولګوئ ﴿ وَبَآءُو بِغَضَبٍ مِّنَ ٱللَّهِ ﴾ (اووګرځیدل دوئ په غضب له (جانبه) دالله) یعنی دالله دسخت غضب وړوګرځیدل ﴿ وَضُرِبَتْ عَلَيْهِمُ ٱلْمَسْكَنَةُ ﴾ اومقرر کړی شوپردوئ باندی مسکنت (له هري خواورباندي راپریووت) ﴿ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمْ كَانُواْ يَكْفُرُونَ بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ ﴾ داپه سبب ددي چي بیشکه دوئ ووچي کافران کیدل په آیتونودالله ﷻ ﴿ وَيَقْتُلُونَ ٱلْأَنۢبِيَآءَ بِغَيْرِ حَقٍّ ﴾ اووژل یې انبیاء په ناحقه سره یعنی دغه ذلت، سپکاوي اودالله غضب ددوئ په همدي کړوړوورته مخه کړی وه ﴿ ذَٰلِكَ بِمَا عَصَواْ وَّكَانُواْ يَعْتَدُونَ ﴾ «داکفراوقتل په هغه سبب ووچي سرغړونه یې کوله اووودوئ چي له حدودوبه تیریدل (یعنی دالله اوامربه یې نه منل)

بلاغت:

پدی آیتونوکښي دبدیع اوبیان ډیري ښیلګي شته چي په لنډډول یې ځو را اخلو:

۱ - (یأمرون بالمعروف وینهون عن المنکر) دلته دمقابلې صنعت دی.

۲ - پدي کلام کښي (اولئک هم المفلحون) قصردصفت په موصوف پسي ده.

۳ - (تبیض وجوه وتسود وجوه) دلته بیا د(تبیض) اود(تسود) ترمنځ طباق دي.

۴ - پدی کلام کښي چي فرمایې: (ففی رحمة الله) مجاز مرسل دي چي حال یې راوړی اومراد ځني محل دی معنایې داچي (ففی الجنة) ځکه هغه داسی ځای دي چي رحمت پکښي نازلیږي.

۵ - (ضربت علیهم الذلة) پدی کښي استعاره ده ځکه ذلت یې له خیمې سره مشابه کړی چي به خلکوخوره وي اوددی تفصیل په سورة البقره کښي تیرشو.

۶ - (وبآءوابغضب من الله) دلته تنکیردتفخیم اوهیبت لپاره دي.

فائده:

پدی قول دالله ﷻ کښي چي فرمایې (ثم لاینصرون) جمله مستأنفه ده ځکه یې نون په خپل حال پاتی دي زمخشري وایې چي دلته یې لومړی دجزاء له حکم څخه داخبارحکم ته عدول کړي لکه چي ویل

شوي وي: وروسته خبردركوم چي دوئ به مخذول شوي اومرسته به ورسره نه كيږي اوكه په جزم يې راوړى وايي بيا به نونصرت په جګړه پوري تړلى ووپه داسى حال كښى چى نصرت مطلقاوعد(زيرى)دي.(۱)

تنبيه:

هغه اختلاف چي آيت شريف پدى ډول (ولاتكونواكالذين تفرقواواختلفوا) ورته اشاره وكړه مرادځني دعقيدې اختلاف اوددين داصولوپه هكله تفرقه ده اوهرچي دفروعو اختلاف دي لكه چي مجتهدينودمذهب امامانوكړى دارحمت دي اوپه شريعت كښي دآسانتيا اويسرموجب ګرزي لكه چي علماوودي لورته تنبيه كړي ده اوابن تيميه رحمه الله يوه ډيره قيمتي رساله چي نوم يې دي:(رفع الملام عن الائمة الاعلام) ليكلى هغې ته رجوع وكړه ويې لوله چي خورابنائسته اوګټوره ده.

الله تعالى فرمايي:

﴿ ۞ لَيْسُوا سَوَاءً مِّنْ أَهْلِ الْكِتَابِ أُمَّةٌ قَائِمَةٌ يَتْلُونَ آيَاتِ اللَّهِ آنَاءَ اللَّيْلِ وَهُمْ يَسْجُدُونَ ﴿١١٣﴾ يُؤْمِنُونَ
بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ وَيَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنكَرِ وَيُسَارِعُونَ فِي الْخَيْرَاتِ وَأُولَٰئِكَ مِنَ
الصَّالِحِينَ ﴿١١٤﴾ وَمَا يَفْعَلُوا مِنْ خَيْرٍ فَلَن يُكْفَرُوهُ وَاللَّهُ عَلِيمٌ بِالْمُتَّقِينَ ﴿١١٥﴾ إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا لَن تُغْنِيَ
عَنْهُمْ أَمْوَالُهُمْ وَلَا أَوْلَادُهُم مِّنَ اللَّهِ شَيْئًا وَأُولَٰئِكَ أَصْحَابُ النَّارِ هُمْ فِيهَا خَالِدُونَ ﴿١١٦﴾ مَثَلُ مَا يُنفِقُونَ فِي هَٰذِهِ
الْحَيَاةِ الدُّنْيَا كَمَثَلِ رِيحٍ فِيهَا صِرٌّ أَصَابَتْ حَرْثَ قَوْمٍ ظَلَمُوا أَنفُسَهُمْ فَأَهْلَكَتْهُ وَمَا ظَلَمَهُمُ اللَّهُ وَلَٰكِنْ
أَنفُسَهُمْ يَظْلِمُونَ ﴿١١٧﴾ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَتَّخِذُوا بِطَانَةً مِّن دُونِكُمْ لَا يَأْلُونَكُمْ خَبَالًا وَدُّوا مَا عَنِتُّمْ قَدْ بَدَتِ
الْبَغْضَاءُ مِنْ أَفْوَاهِهِمْ وَمَا تُخْفِي صُدُورُهُمْ أَكْبَرُ قَدْ بَيَّنَّا لَكُمُ الْآيَاتِ إِن كُنتُمْ تَعْقِلُونَ ﴿١١٨﴾ هَا أَنتُمْ أُولَاءِ تُحِبُّونَهُمْ
وَلَا يُحِبُّونَكُمْ وَتُؤْمِنُونَ بِالْكِتَابِ كُلِّهِ وَإِذَا لَقُوكُمْ قَالُوا آمَنَّا وَإِذَا خَلَوْا عَضُّوا عَلَيْكُمُ الْأَنَامِلَ مِنَ الْغَيْظِ قُلْ مُوتُوا
بِغَيْظِكُمْ إِنَّ اللَّهَ عَلِيمٌ بِذَاتِ الصُّدُورِ ﴿١١٩﴾ إِن تَمْسَسْكُمْ حَسَنَةٌ تَسُؤْهُمْ وَإِن تُصِبْكُمْ سَيِّئَةٌ يَفْرَحُوا بِهَا وَإِن تَصْبِرُوا
وَتَتَّقُوا لَا يَضُرُّكُمْ كَيْدُهُمْ شَيْئًا إِنَّ اللَّهَ بِمَا يَعْمَلُونَ مُحِيطٌ ﴿١٢٠﴾ ﴾ آل عمران: ۱۱۳-۱۲۰

مناسبت اوتړاو:

څرنګه چي الله تعالى داهل كتابوبداوناكاره صفتونه يادكړل نودلته يې بيا داخركنده كړه چي ټول يوډول نه دي په دوئ كښي مومنان اوكافران نيكان اوفاجران دواړه شته دي بيا الله ﷻ دكافرانوعذاب داسى ياد كړ چي دوئ ته به مالونه اولادونه هيڅ ګټه ونه رسوي چي دقيامت په ورځ يې له عذابه څخه وژغوري اوبيا يې داسي ارشاد وفرمايل چي ددين دښمنان په دوستي مه نيسئ ځكه په داسي كولو كښي ددين اودنيا سترضرراوتاوان نغښتي دي.

۱- الكشاف ۱/۳۰۸

لغتونه:

(آناء) وختونه اوشيبې ساعتونه مفرديې (اِني) لکه (معي)داسي دي چي جمع يې (امعاء)ده (يکفروه) انکارته ويل کيږي دجحودپه معنا دي اودجزاء منع ته څکه کفروويل شوي چي داپه منزله دپټولواوانکاردي (صرّ) سختې يخني ته وايې دادابن عباس ﷺ قول دي اواصل يې له صرير څخه اخيستل شوي چي غږته ويل کيږي اومرادځيني هغه سخت ديخني باددي (حرث) کښت ته ويل کيږي اصل يې له (حرث الارض) څخه اخيستل شوي کله چي مځکه دکښت لپاره يويې قلبه اوخيرل شي (بطانة) دجامې استرته ويل کيږي اودسړي بطانة معناداچي درازشريک هغه څوک چي سړي خپل رازونه ورته وايې له استرسره يې څکه مشابه وګڼل چي هغه بدن ته خورانژدې وي (يألونکم) کمي کوي له تاسوسره له (ألا،يألو) څخه اخيستل شوي اوتقصيرته وايې .(خبالا) فساداونقصان ته ويل کيږي اومخبول انسان هغه دي چي په عقل کښي يې تاوان وي (عنتم) تاوان ستاسی عنت سخت ضرراومشقت ته وايې (أنامل) دګوتوسرونه.

دنزول سبب:

چي کله عبدالله ابن سلام اوده ملګري مسلمانان شول نوديهودواحباروبه ويل چي په محمدﷺ باندی يوازي زموږ اشرارو ايمان راووړ که چيري دوئ غوره اخياراوښه کسان وای دپلرونودين به يې نه پريښود اودوئ ته به يې ويل چي په تحقيق سره تاسي کافران شوي اوزيان مووکړبيا الله ﷻ داآيت نازل کړ: (ليسواسواء من اهل الكتاب أمة قائمة .....) دآيت ترپايه

تفسير:

﴿ لَيۡسُواْ سَوَآءٗ ﴾ (ندی دوئ ټول اهل کتاب سره برابر) يعنی په بديوکښي ټول يوشان برابرنه دي دلته خبره بشپړه شوه بياالله فرمايي: ﴿ مِّنۡ أَهۡلِ ٱلۡكِتَٰبِ أُمَّةٞ قَآئِمَةٞ ﴾ ځيني داهل کتابويوه فرقه ده چي سمه ولاړه ده په حق باندي﴿ يَتۡلُونَ ءَايَٰتِ ٱللَّهِ ءَانَآءَ ٱلَّيۡلِ وَهُمۡ يَسۡجُدُونَ ﴾ (چي لولي دوئ آيتونه دالله په ساعتونودشپي حال داچي دوئ سجدې کوي) يعنی دشپې دتهجدلمونځونه کوي اولمانځه په حال کښي دالله دکلام تلاوت کوي﴿ يُؤۡمِنُونَ بِٱللَّهِ وَٱلۡيَوۡمِ ٱلۡأٓخِرِ ﴾ ايمان راوړي په الله ﷻ اوپه ورځي دآخري (دقيامت) باندي﴿ وَيَأۡمُرُونَ بِٱلۡمَعۡرُوفِ وَيَنۡهَوۡنَ عَنِ ٱلۡمُنكَرِ ﴾ خلکوته په نيکي سره امرکوي اومنع کوي يې له بدي څخه (اوغوره مالي نه کوي)﴿ وَيُسَٰرِعُونَ فِي ٱلۡخَيۡرَٰتِ ﴾ اوتلوارکوي په ښوکارونوکښي﴿ وَأُوْلَٰٓئِكَ مِنَ ٱلصَّٰلِحِينَ ﴾ اودغه کسان له صالحانوځيني دي﴿ وَمَا يَفۡعَلُواْ مِنۡ خَيۡرٖ فَلَن يُكۡفَرُوهُۗ ﴾ اوهرڅه چي کوي له خيره پس ضائع به نکړي شي دوئ لره (ثواب) دهغه کار(په نزد د الله ﷻ)﴿ وَٱللَّهُ عَلِيمُۢ بِٱلۡمُتَّقِينَ ﴾ (اوالله ښه عالم دي پراحوال) دپرهيزګارانو) يعني په الله ﷻ باندی دهيڅ يوعمل کونکي عمل هم پټ نه دي اونه دمتقينواجردده سره ضائع کيږي بياالله تعالی د

کافرانو وروستي پراوداسي ښيي ﴿ إِنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ لَن تُغْنِىَ عَنْهُمْ أَمْوَٰلُهُمْ وَلَآ أَوْلَٰدُهُم مِّنَ ٱللَّهِ شَيْـًٔا ﴾
بیشکه هغه کسان چي کافران شوي دي له سره به دفع نه کړي شي له دوئ څیني مالونه ددوئ اونه اولادونه دوئ له (عذابه) دالله هیڅ شي) یعني ددوئ هغه مالونه چي دهغوئ په راټولولو کښي یې سختي ګاللي اویاهغه اولادونه چي په مینه کښي یې یومخه ایزه ډوب وودوئ ته به هیڅ ګټه ونه رسوي ﴿ وَأُو۟لَٰٓئِكَ أَصْحَٰبُ ٱلنَّارِ ۖ هُمْ فِيهَا خَٰلِدُونَ ﴾ اودغه کسان څښتنان داوردوزخ دي دوئ به په هغه اورکښي تل وي ﴿ مَثَلُ مَا يُنفِقُونَ فِى هَٰذِهِ ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا كَمَثَلِ رِيحٍ فِيهَا صِرٌّ ﴾ (مثال دهغه مال چي صرفوي یې (کافران دالله په لارکښي) پدی ژوندانه ددنیاکښي په شان دمثال دهغه باددی چي وي په بادکښي ډیره یخني) یعنی مثال دهغومالونو ددوئ چي دوئ یې دثنااوصفت ویلوپه قصدپه دنیاکښي لګوي لکه هغه تندبادغوندي دي چي سخته یخني پکښي وي ﴿ أَصَابَتْ حَرْثَ قَوْمٍ ظَلَمُوٓا۟ أَنفُسَهُمْ فَأَهْلَكَتْهُ ﴾ چي ورسیږي (داباد) کښت دیوقوم ته چي ظلم یې کړي دي پرځانونوخپلو پس هلاک کړي دغه کښت ،اوګټه ورباندی نشي اخیستل کیداي نوهمداسی دکفارونیک عملونه خوشي ځي لکه ددغو ګناهګارانو دګناه په سبب چي یې کښت ضائع کیږي ﴿ وَمَا ظَلَمَهُمُ ٱللَّهُ وَلَٰكِنْ أَنفُسَهُمْ يَظْلِمُونَ ﴾ (اونه دي ظلم کړي پردوئ باندي الله ولیکن پرځانونوخپلوظلم کوي دوئ) یعني الله ددوئ دکښت په هلاکولوپه دوئ ظلم ندي کړي بلکه دوئ پرخپلوځانونودګناه په کولو ظلم کړي دي بیا الله تعالی مسلمانان له دي څخه ویرولي چي منافقین درازشریکان جوړ کړي اوخپل اسرارورته ووایې ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ لَا تَتَّخِذُوا۟ بِطَانَةً مِّن دُونِكُمْ ﴾ اي هغوکسانوچي ایمان یې راوړی دی (اي مومنانو) مه نیسئ تاسي دوستان دراز (له هیڅ فرقې نه) غیرله تاسي مومنانو) یعنی اي مومنانوتاسي منافقین په ملګرتیااودوستي مه نیسئ چي خپل رازونه ورته وایاست اوتاسي پرته له مسلمانانودوئ په دوستي نیسئ ﴿ لَا يَأْلُونَكُمْ خَبَالًا ﴾ هیڅ کمی نه کوي له تاسوسره دفساد ﴿ وَدُّوا۟ مَا عَنِتُّمْ ﴾ دوست ګني دوئ ضررستاسي ﴿ قَدْ بَدَتِ ٱلْبَغْضَآءُ مِنْ أَفْوَٰهِهِمْ ﴾ (په تحقیق سره ښکاره شوي دي بغض اودښمني له خولوددوئ نه) یعنی دوئ یوازي په زړه کښي په بغض ، نفرت اوبدایسیدلوباندي کفایت نه کوي په خوله هم هغه بیانوي ﴿ وَمَا تُخْفِى صُدُورُهُمْ أَكْبَرُ ﴾ (اوهغه بغض چي پټوي یې سینې ددوئ ډیرلوي دي) یعنی هغه بغض چي په زړه کښي یې ستاسولپاره ساتي تردي ډیرلوی دي چي دوئ یې په خوله بیانوي ﴿ قَدْ بَيَّنَّا لَكُمُ ٱلْءَايَٰتِ ﴾ په تحقیق موږ بیا ن کړي دي تاسي ته علامې) یعنی موږ تاسي ته هغه علامې چي په دین کښي داخلاص وجوب ښیې اوله مسلمانانوسره ددوستي اوموالات حکم کوي همداسی له کفاروسره ددښمني اوشلون (مقاطعی)مارېینه کوي بیان کړي دي ﴿ إِن كُنتُمْ تَعْقِلُونَ ﴾ که یې تاسي چي هوښیاران یې (عقل پکښي چلوئ)اودادخوځوني اوتحریک په ډول دي لکه چي ته یوچاته وایې : که چیري مسلمان یې نوخلګوته

زیان مه رسوه ! ابن جریر وایې معنایې داده : که تاسو د الله ﷻ په امر اونهي پوهیږئ ؟ .بیا الله ﷻ د دوئ هغه حال بیانوي چي له مسلمانانو سره څومره کراهیت (کرکه) ساتی فرمایې ﴿ هَٰٓأَنتُمۡ أُوْلَآءِ تُحِبُّونَهُمۡ وَلَا يُحِبُّونَكُمۡ ﴾ (واورئ خبردارشئ تاسي هغه کسان یې چي دوستي کوي له دوئ سره اونه کوي دوستي دوئ له تاسي سره) یعنی اي مسلمانانوتاسي پدي دوستي کولو غولیدلي یاست چي له دوئ سره دوستي کوئ اودوئ درسره دښمني کوي تاسو دوئ ته ګټه رسول غواړئ اودوئ ستاسوبیخ ایستلوته تږي دښمنان دي . ﴿ وَتُؤۡمِنُونَ بِٱلۡكِتَٰبِ كُلِّهِۦ ﴾ (اوتاسي ایمان لرونکي یاست په ټولو کتابونو) خوله دي سره دوئ له تاسوسره بغض کوي نوداڅومره بی موقعه خبره ده چي تاسوورسره مینه کوئ اودوئ ستاسو دکتاب په هیڅ توري ایمان نه راوړي ؟ په دي کښي توبیخ دي چي دوئ پخپل باطل هومره ټینګ دي چي تاسو پخپل حق هومره ټینګ نه یاست. ﴿ وَإِذَا لَقُوكُمۡ قَالُوٓاْ ءَامَنَّا ﴾ اوکله چي یوځاي شي دوئ له تاسي سره نووایې دوئ ایمان موراوړي دي (دادوئ دخبث اومکرنښه ده چي ستاسوپه وړاندي ایمان څرګندوي اودمنافق عمل کوي ﴿ وَإِذَا خَلَوۡاْ عَضُّواْ عَلَيۡكُمُ ٱلۡأَنَامِلَ مِنَ ٱلۡغَيۡظِۚ ﴾ (اوکله چي یوازي شي دوئ نوچیچي دوئ په تاسي باندي سرونه دګوتوله (ډیره) قهره یعني دوئ چي ستاسي یووالي مینې الفت ته ګوري له ډیره قهره ګوتي اوغاښونه چیچي چي دوئ ونشوکړاي تاسي ته ضرر ورسوي ﴿ قُلۡ مُوتُواْ بِغَيۡظِكُمۡۗ ﴾ (ووایه اي محمده دوئ ته) مړه شئ په قهر (اوبغض) خپل سره) دایوه ښیراده چي ستاسوبغض ، غیظ اوغصه دي دومره اوږده شي چي بالآخره پکښي ومری .(١) ﴿ إِنَّ ٱللَّهَ عَلِيمُۢ بِذَاتِ ٱلصُّدُورِ ﴾ (بیشکه چي الله ښه عالم دي په هغو(خبروهم) چي په سینوکښي دي) یعنی الله ﷻ په هغوپټوکرکو اونفرتونوچي دوئ یې دمسلمانانولپاره په زړونوکښي ساتي ښه خبردي بیا الله ﷻ دهغه څه بیان فرمایې چي دوئ څرنګه مسلمانانوته دابتلاګانواومحنتونودراتلو انتظاراوځارکوي فرمایې: ﴿ إِن تَمۡسَسۡكُمۡ حَسَنَةٞ تَسُؤۡهُمۡ ﴾ که ورسیږي تاسي ته کومه نیکي لکه دفتح ، غنیمت اوښیرازي نودوئ خپه کوي ﴿ وَإِن تُصِبۡكُمۡ سَيِّئَةٞ يَفۡرَحُواْ بِهَاۖ ﴾ اوکه ورسیږي تاسي ته کومه بدي (لکه قتل وچکالي اویاناکامي) نوخوشحالیږي دوئ په سبب دهغه (نوالله ﷻ ددوئ دزیاتې دښمني همدغه علامي وښودلي) ﴿ وَإِن تَصۡبِرُواْ وَتَتَّقُواْ لَا يَضُرُّكُمۡ كَيۡدُهُمۡ شَيۡـًٔاۗ ﴾ (اوکه صبروکړئ تاسي (ددوئ په ضررونو) اوځان وساتئ تاسي (له دوستي ددوئ نوضرربه ونه رسوي تاسي ته ددوئ مکراوفریب هیڅ شي) یعنی که تاسوددوئ په ضرر صبروکړئ اوځانونه وژغورئ (تقوئ) وکړئ پخپلواقوالوافعالوکښي نوددوئ فریبونه به درته زیان ونه رسوي الله پاک ددوئ دزیان نه رسولولپاره صبراوتقوئ شرط وګرزوله ﴿ إِنَّ ٱللَّهَ بِمَا يَعۡمَلُونَ مُحِيطٞ ﴾ (بیشکه چي الله ﷻ په هغوکارونوچي دوئ

١ - دادطبری اونوروډیرومفسرینوقول دی اوځینوبیا ویلي چی دغه ددوئ تکول اوقهر ورته رابلل ښیي اومعنا داچي دوئ څه چي غواړي نشي موندلاي نومرګ به ورته رادمخه شي . القرطبی ١/١٨٣

يې کوي ښه احاطه کونکي دي) يعنی الله پاک ددوئ په تدبيرونو او چلونو ښه عالم دي تاسو به ددوئ له شرخيني وژغوري او دوئ ته به په خپلو پټو بدو نيتونو سزاور کړي.

بلاغت :

۱ -(من اهل الكتٰب أمة) جمله يې اسميه ددي لپاره راوړه چي په استمرار دلالت وکړي لکه څرنګه چي يې وروسته بيا مضارع په (يتلون آيٰت الله) او(يسجدون) کښي غوره کړي چي په تجدد دلالت وکړي.

۲ - پدي کلام کښي چي فرمايي (وأولئک من الصالحين) اشاره دبعيد(ليري) لپاره شوي څکه ددوئ منزلت لوړ او فضل يې ستردي.

۳ -(کمثل ريح فيها صر) دلته تمثيلي تشبيه ده څکه هغه مالونه چي دوئ يې د نامه او فخر(وياړ) لپاره لګوي له هغه کښت سره مشابه شول چي سخته ديخني سيلۍ يې ووهي او خس خاشاک شي.

۴ - پدي قول دالله کښي چي فرمايي (لاتتخذوا بطانة) دانسان دراز شريکان يې دجامي له استره سره مشابه کړل چي دوی دسړي له باطن سره سروکارلری او له تن سره يې جوخت وي او تلخيص البيان وايې چي پدي کښي استعاره ده.[1]

۵ - ابوحيان وايې چي پښيمان او قهرکونکي دګوتو په چيچلو ستايل ياخو حقيقت دي اوددي احتمال هم شته چي تمثيلي مجاز وي اوددوئ له ډيره غضبه او افسوس څخه يې چی نشي ګولاي مسلمانانو ته زيان ورسوي استعاره کړي وي.[2]

۶ - په آيتونو کښي دمقابلی صنعت دي لکه په (ان تمسسکم حسنة تسؤهم وان تمسسکم سيئة يفرحوا بها) چی نيکي يې دبدي په وړاندي او خفګان يې دخوښحالي په مقابل کښي ياد کړي لکه څرنګه چي اشتقاقي جناس هم پکښي دي او هغه بيا د(ظلمهم) او(يظلمون) او(الغيظ) او(غيظکم) او(تؤمنون) او(آمنا) ترمنځ دي.

لطيفه او باريکه ښکلا:

دکشاف په حاشيه کښي وايې چي الله ﷻ په حسنه کښي (مس) تعبير کړي (ان تمسسکم حسنة) او په سيئة کښي يې په اصابت تعبير فرمايلی چي(وان تصبکم سيئة يفرحوا بها) دا ددي لپاره که نيکي هرڅومره لږ هم وي چي يوازي مس او لاس ور وړل شوي وي دښمنان خوابدي کيږي او بدی چي هرڅومره ژوره چي په اصابت ورته اشاره شوي درته ورسيږي هغه چي شماتت کونکي يې هم نه خوښوي او زړه يې درته خوږيږي مګر دادښمنان خوغمرازي بيخي نه کوي بلکه درباندي خوشحاليږي. اودغه دتنزيل له رازونو څخه يو راز دی.

---

[1] - تلخيص البيا ن ص۲۱ فقط
[2] -البحرالمحيط ۳ /۴۱

الله تعالی فرمايي:

﴿ وَإِذْ غَدَوْتَ مِنْ أَهْلِكَ تُبَوِّئُ الْمُؤْمِنِينَ مَقَاعِدَ لِلْقِتَالِ ۗ وَاللَّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ ﴿١٢١﴾ إِذْ هَمَّت طَّائِفَتَانِ
مِنكُمْ أَن تَفْشَلَا وَاللَّهُ وَلِيُّهُمَا ۗ وَعَلَى اللَّهِ فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُؤْمِنُونَ ﴿١٢٢﴾ وَلَقَدْ نَصَرَكُمُ اللَّهُ بِبَدْرٍ وَأَنتُمْ أَذِلَّةٌ ۖ فَاتَّقُوا اللَّهَ
لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ ﴿١٢٣﴾ إِذْ تَقُولُ لِلْمُؤْمِنِينَ أَلَن يَكْفِيَكُمْ أَن يُمِدَّكُمْ رَبُّكُم بِثَلَاثَةِ آلَافٍ مِّنَ الْمَلَائِكَةِ مُنزَلِينَ ﴿١٢٤﴾ بَلَىٰ ۚ
إِن تَصْبِرُوا وَتَتَّقُوا وَيَأْتُوكُم مِّن فَوْرِهِمْ هَٰذَا يُمْدِدْكُمْ رَبُّكُم بِخَمْسَةِ آلَافٍ مِّنَ الْمَلَائِكَةِ مُسَوِّمِينَ ﴿١٢٥﴾ وَمَا جَعَلَهُ اللَّهُ
إِلَّا بُشْرَىٰ لَكُمْ وَلِتَطْمَئِنَّ قُلُوبُكُم بِهِ ۗ وَمَا النَّصْرُ إِلَّا مِنْ عِندِ اللَّهِ الْعَزِيزِ الْحَكِيمِ ﴿١٢٦﴾ لِيَقْطَعَ طَرَفًا مِّنَ الَّذِينَ كَفَرُوا أَوْ
يَكْبِتَهُمْ فَيَنقَلِبُوا خَائِبِينَ ﴿١٢٧﴾ لَيْسَ لَكَ مِنَ الْأَمْرِ شَيْءٌ أَوْ يَتُوبَ عَلَيْهِمْ أَوْ يُعَذِّبَهُمْ فَإِنَّهُمْ ظَالِمُونَ ﴿١٢٨﴾ وَلِلَّهِ مَا فِي
السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ ۚ يَغْفِرُ لِمَن يَشَاءُ وَيُعَذِّبُ مَن يَشَاءُ ۚ وَاللَّهُ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿١٢٩﴾ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا
تَأْكُلُوا الرِّبَا أَضْعَافًا مُّضَاعَفَةً ۖ وَاتَّقُوا اللَّهَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ ﴿١٣٠﴾ وَاتَّقُوا النَّارَ الَّتِي أُعِدَّتْ لِلْكَافِرِينَ ﴿١٣١﴾
وَأَطِيعُوا اللَّهَ وَالرَّسُولَ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ ﴿١٣٢﴾ ﴾ آل عمران: ۱۲۱-۱۳۲

مناسبت او تړاو:

په قرآن کريم کښي له دي آيت نه وروسته دغزا ګانو خبري پيل کيږي اوخبره دژبې اومکالمي له شخړو څخه دجنګ ډګر ته دمقابلي کولو لپاره ليږدي په آيتونو کښي داحد دغزا بيان دي چي په ډير تفصيل سره يې څيړلي اودهغه په منځ منځ کښي دبدر دغزا خبرهم راغلی ترڅو دوئ ته دالله نعمت هغه فتح چي له دي سره سره چي دوئ په شميره او وسله کښي لږ وو ورپه يادکړي اودغه آيت داحد دغزا دکيسې پيل دي اوپدي کښي شپيته آيتونه نازل شوي دي اومناسبت دآيتونو له ړومبنيو سره دادی چي الله پاک په هغو کښي مسلمانان دکفارو له دوستي څخه ويرولي وواودلته يې دايادونه وکړه چي دهغو دووقومونو انصاروچي دراګرزيدلو قصد يې وکړ سبب يې داووچي دوئ منافقينو دي کار ته هڅولي ووکوم چي ددوئ په سر کښي عبدالله ابن أبی ابن سلول ووهغه چي دنفاق سردارو ونو مناسبت څرګند دي. بخاري ومسلم له حضرت جابر ﷺ څخه روايت کړي چي هغه وايې زموږ په شان کښي دا آيت نازل شوچي: (اذهمت طائفتان منکم ان تفشلا والله وليهما) ويې ويل چي موږ دوي طائفي (بنی حارث) او(بنی سلمه) وواوموږ دانه خوښووچي نه وايې نازل شوي ځکه چي الله ﷻ فرمايي: (والله وليهما) .

لغتونه:

(غدوت) دسهارپه وختونو کښي و وتلی ته (تفشلا) دوی بی زړه شوی له فشل څخه اخيستل شوي اوبی زړه توب ته وايې (تبوئ) ته تياروي ويل کيږي (بوأت له منزلا) يعنی هغه لره يې دکوزيدلو ځاي جوړ کړ (اذلة) په وسله اوشمير کښي لږوالی ته وايې (فورهم) سرعت اوچټکتيا ګرندي توب په اصل کې دايشيدلو شدت ته وايې وروسته بيا دګړندي والی لپاره استعمال شوه (مسومين)

دواوپه زبرسره (مُعلمین) دجنګ لپاره روزل شوي اوکه دواوپه زيرسره وي بيانوعلامه درلودونکي معنالري چي ددوئ نښه اوعلامه دبدرپه ورځ سپين پټکي اولنګوټې وي (طرفا) يوه ټولی اوډله (يکبتهم) کبت ناکامي هلاکت اوکله کله دغيظ اوسپکاوي په معناهم راځي (خائبين) ناکامي اومقصدته نه رسيدل دي.

دنزول سبب:

په صحيح مسلم کښي راغلي چي دأحدپه ورځ درسول الله ﷺ درباعي غاښونوځخه مات شواو سر يې پرهارشونووينې يې پاکولي اوداسي يې ويل : هغه قوم به څرنګه خلاصون مومي چي دخپل نبی سربې ټپی اوغاښ يې ورمات کړ پداسي حال کښي چي هغه (نبی) يې الله ﷻ ته بولی ؟ نوالله پاک داآيت نازل کړ(ليس لک من الامر شئ).

تفسير:

﴿ وَإِذْ غَدَوْتَ مِنْ أَهْلِكَ ﴾ اويادکړه (اي محمده !) چي راووتی ته په اول دورځي کښي له کوره خپله ﴿ تُبَوِّئُ ٱلْمُؤْمِنِينَ مَقَٰعِدَ لِلْقِتَالِ ﴾ چي تيارول دي مومنانوته په (احدکښي) ځايونه لپاره دجنګ ﴿ وَٱللَّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ ﴾ اوالله ﷻ ښه اوريدونکي (ستاسي دخبرو) ښه عالم (ستاسي په احولو) دي ﴿ إِذْ هَمَّت طَّآئِفَتَانِ مِنكُمْ أَن تَفْشَلَا ﴾ کله چي قصدوکړدووطائفوله تاسي ددي خبري چي بې زړه شي دوئ (له جنګه)اوبيرته وګرزي چي دوئ دواړه بنی سلمه اوبنی حارثه وواوداهغه وخت چي رسول الله ﷺ احدته راووت اويوزر تنه اصحاب ورسره ووکله چي دکفاروولښکروته نژدي شول هغوئ چي دري زره تنه ووڼو(عبدالله ابن ابی) وويل چي موږولی خپل ځانونه اولادونه وژنو ؟اويودريمه دلښکرويې بيرته راستنه کړه نودغودوو انصاري ټبرونوهم دراګرزيدلوقصدوکړمګرالله ﷻ وژغورل اوله رسول الله ﷺ سره ملګري پاتي شول اودغه د الله ﷻ قول دي چي فرمايې﴿ وَٱللَّهُ وَلِيُّهُمَا ﴾ حال داچي الله ﷻ ولی اومددګارددوئ دي ﴿ وَعَلَى ٱللَّهِ فَلْيَتَوَكَّلِ ٱلْمُؤْمِنُونَ ﴾ اوخاص پرالله ﷻ دي نوتوکل وکړي مومنان (په ټولوحالاتواواموروکښي) بياالله تعالی دبدردغزا هغه دفتحي اوکاميابی خبرذکرکوي چي زړونو يې قوي اوله دغي ماتی ځخه چي په أحدکښي ور پيښه شوي تسلاشي فرمايې﴿ وَلَقَدْ نَصَرَكُمُ ٱللَّهُ بِبَدْرٍ وَأَنتُمْ أَذِلَّةٌ ﴾ (اوخامخاپه تحقيق مرسته کړي وه له تاسي سره الله ﷻ په بدرکښي حال داچي تاسي کمزوري وئ) يعني تاسوته يې په بدرکښي سره له دي چي وسله اوشميره مولږوه مرسته درکړه ترڅوپه دي وپوهيږئ چي فتح اوکاميابی يوازي دالله ﷻ له لوري ده اوپه زيات شميراووسله پوري اړه نلري﴿ فَٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ ﴾ نووويريږئ له الله نه لپاره ددي چي شکروکړئ تاسي (دهغه احسان چي بري يې درکړ)﴿ إِذْ تَقُولُ لِلْمُؤْمِنِينَ أَلَن يَكْفِيَكُمْ أَن يُمِدَّكُمْ رَبُّكُم بِثَلَٰثَةِ ءَالَٰفٍ مِّنَ ٱلْمَلَٰٓئِكَةِ مُنزَلِينَ ﴾ يادکړه (اي محمده !) کله چي ويل تامومنانوته چي آياکافي به نه شي ستاسي داچي مرسته وکړي له تاسي سره رب

ستاسي په دري زره له پرښتو چي راليږلي شوي دي (له آسمانه) ﴿ بَلَىٰٓ إِن تَصۡبِرُواْ وَتَتَّقُواْ ﴾ هو كه تاسي صبروكړئ اوويريږئ له الله ﷻ (امر يې ومني) نوتاسي ته به داملكې راوليږي ﴿ وَيَأۡتُوكُم مِّن فَوۡرِهِمۡ هَٰذَا ﴾ اوراشئ (مشركان)پرتاسي په دغه ساعت (يوناځاپه) ﴿ يُمۡدِدۡكُمۡ رَبُّكُم بِخَمۡسَةِ ءَالَٰفٖ مِّنَ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةِ مُسَوِّمِينَ ﴾ مرسته به وكړي له تاسي سره رب ستاسي په پنځوزروسره له پرښتوچي دوسلي په چلولواودجګړې په كولوبه اموخته وي[1] ﴿ وَمَا جَعَلَهُ ٱللَّهُ إِلَّا بُشۡرَىٰ لَكُمۡ ﴾ اونه ده ګرځولې الله ﷻ دامرسته مګرلپاره دخوشحالتياستاسي (چي تاسوته زيري وي اوستاسي ثبات ورباندې لا پياوړی كړي ﴿ وَلِتَطۡمَئِنَّ قُلُوبُكُم بِهِۦ ﴾ اولپاره ددي چي تسكين ومومي زړونه ستاسي پدي سره (اوبيادد ښمن له زيات شميراودځان له كمزوري ونه ويريږئ) ﴿ وَمَا ٱلنَّصۡرُ إِلَّا مِنۡ عِندِ ٱللَّهِ ﴾ اونه ده مرسته په حقيقت كښي مګرله جانبه دالله ﷻ)پرته له هغه بل هيڅوک مرسته نشي كولاي ،نه پرښتې اونه بل څوک ﴿ ٱلۡعَزِيزِ ٱلۡحَكِيمِ ﴾ هغه چي ښه غالب قوي اوښه دحكمت والادي (چي هركارپه تدبيرسره كوي).

﴿ لِيَقۡطَعَ طَرَفٗا مِّنَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓاْ ﴾ (الله كومک دركړ) څو ،چي هلاک كړي ځيني له هغوكسانوچي كافران شوي دي) يعنی دغه الهي تدبير ددي لپاره ووچي يوه ډله په وژلواواسارت كښي نيولو هلاكه كړي اوشرک يوركن ونړوي ﴿ أَوۡ يَكۡبِتَهُمۡ ﴾ يايې ذليل (خواروزار) كړي په ناكامي سره ﴿ فَيَنقَلِبُواْ خَآئِبِينَ ﴾ پس بيرته ولاړشي (په ماتي سره) محروم اودغسي الله ﷻ په بدركښي ورسره وكړل چي دمشركانواوياتنه مشران يې ووژل اوياتنه نوريې دمسلمانانوپه اسارت كښي راوستل الله ﷻ مومنانوته عزت اوبري وركړ اومشركان يې ذليل كړل ﴿ لَيۡسَ لَكَ مِنَ ٱلۡأَمۡرِ شَيۡءٌ ﴾(نشته تالره له امره هيڅ شي) دغه آيت اعتراض راغلي اوداحدپه كيسه كښي دي كله چي درسول الله ﷺ رباعي غاښ شهيدكړاي شونومبارک مخ يې په وينوولړل شونوبې وويل ! څرنګه به هغه قوم خلاصون ومومي چي دخپل نبی مخ يې په وينوولړل ؟ اوبيا داآيت نازل شو ﴿ لَيۡسَ لَكَ مِنَ ٱلۡأَمۡرِ شَيۡءٌ ﴾ يعنی نشته تالره اې محمده دبندګانوله تدبيرڅخه هيڅ شي اوددئ امرالله ﷻ ته دي الله ﷻ دهرشي اختيارلری) ﴿ أَوۡ يَتُوبَ عَلَيۡهِمۡ أَوۡ يُعَذِّبَهُمۡ فَإِنَّهُمۡ ظَٰلِمُونَ ﴾ (يابه رجوع وكړي (الله ﷻ په قبلولودتوبې سره) په دوئ باندي يابه عذابوي الله ﷻ دوئ پس بيشكه دوئ ظالمان دي) يعنی دچاروواک له الله ﷻ سره دي يابه يې هلاک كړي يابه يې ماتي په برخه كړي اوياكه اسلام يې راووړ توبه به يې ومني اوكه چيرې بيا په كفركي پاتي شول نوبه عذاب وركړي څكه دوئ ظالمان اودعذاب مستحق دي ﴿ وَلِلَّهِ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلۡأَرۡضِۚ

---

١ - چابياويل چي دمسومين معنانښي لرونكي اوعروة ابن زبير وايې چي پرښتې په برګوآسانوباندي سپاره چي سپينې لنګوټې يې په سروی شملې يې دوليوترمنځ راځړولی وی. الطبری اوكشاف.

﴿ يَغْفِرُ لِمَن يَشَآءُ وَيُعَذِّبُ مَن يَشَآءُ ۚ وَٱللَّهُ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴾ او خاص الله ﷻ لره دي هغه څه چي په آسمانونو کښي دي او هر څه چي په مځکه کښي دي ببښنه کوي هر هغه ته چي اراده وفرمايې د ببښني يې او په عذابوي الله ﷻ هر چاته چي اراده وفرمايې د عذاب يې او الله ﷻ ښه بخښونکي ډير رحم والا دي ﴿ يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ لَا تَأْكُلُوا۟ ٱلرِّبَوٰٓا۟ أَضْعَـٰفًا مُّضَـٰعَفَةً ﴾ اي هغو کسانو چي ايمان يې راوړي (اي مومنانو) مه خورئ سود په دي حال چي دوه چنده په دوه چنده وي) پدی کښي الله ﷻ مسلمانان د سود له خوړلو څخه منع کوي او هغه د جاهليت په وخت کښي چي دوئ دوه چنده سود خوړل د هغه په هکله هم توبيخ ورکوی ابن کثير وايې چي په جاهليت کښي به کله چي د پورورکونکي موده بشپړه شوه نو پوروړي ته به يې ويل يا به پور راکوي او يا به يې په سود کوي که به يې پورورکړ خو ښه که نه نو به موده هم زياته شوه او اندازه هم چي ډيرځله به لږ مال خوراډير شو.[۱] ﴿ وَٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ ﴾ (او وويريږئ له الله ﷻ ښايي چي په مراد به ورسيږی) يعنی د الله له منعه شوی شيانو څخه ځانونه ژغوری ترڅو له عذابه وژغورل شی ﴿ وَٱتَّقُوا۟ ٱلنَّارَ ٱلَّتِىٓ أُعِدَّتْ لِلْكَـٰفِرِينَ ﴾ او وويريږی له هغه اوره څخه چي تيار کړي شوي دي لپاره د کافرانو ﴿ وَأَطِيعُوا۟ ٱللَّهَ وَٱلرَّسُولَ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ ﴾ (او حکم ومنئ د الله (او حکم ومنئ) د رسول لپاره د دي چي پر تاسي رحم وکړي شي) يعنی تاسي له نيکانو څخه شي چي په هغوئ باندي د الله ﷻ رحمت کيږي.

بلاغت:

۱- پدي کلام کښي چي فرمايې (اذتقول) مضارع صيغه يې د ماضي لپاره حکايت راوړي ترڅو چي صورت او انځوريې په ذهن کښي حاضر شي.

۲- (ان يمدکم ربکم) د ربوبيت عنوان غوره کول په داسي حال کښي چي مخاطبينو ته يې اضافت شوي وي د دی لپاره دي چي دوئ ته بشپړه پاملرنه او کامل عنايت وښيې.

۳- د دي کلماتو ترمينځ چي (يغفر) او (يعذب) دي د طباق صنعت موجود دي.

۴- پدي کلماتو کښي چي فرمايې (اضعافًا مضاعفة) د اشتقاق جناس موجود دي.

۵- کله چي الله ﷻ فرمايې (لاتأکلوا الربوا) دلته يې اخيستل خوړل وبلل چي بالآخره خوړل کيږي او دا مجاز مرسل دي.

تنبيه:

پدي آيت شريف کښي چي (اضعافًا مضاعفة) راغلی دا د کوم قيد يا شرط لپاره نه دی بلکي د هغه حال بيان کوي کوم چي د جاهليت د وخت خلکو ورباندی تعامل درلود بل دا چي د دوئ د دغه حال شناعت بيانوي چي دا خوبر ملا ظلم دي بربنډه دښمني او تېري دي څکه دوئ به رباخو چنده اخيستله ابو حيان وايې چي: دوئ له دغه بد حالت څخه منع شوي ډيروخت به په لږ څه د پوروړي ټول مال د سود خوړونکي

---

[۱]- مختصر ابن کثير ۱/ ۳۱۸

حق جوړ شوا وپدي کلمه چي (مضاعفة) دي دې ته اشاره کوي چي دوئ به دادوچند په مکرر ډول کال په کال زیاتاوو. اودیادولووړده چي ربا اوسود په هرډول چي وي حرام دي اودغه حالت يې په منع اونهی کښي قید نه ګڼل کیږي.

الله تعالی فرمایي:

﴿ ۞ وَسَارِعُوٓاْ إِلَىٰ مَغۡفِرَةٖ مِّن رَّبِّكُمۡ وَجَنَّةٍ عَرۡضُهَا ٱلسَّمَٰوَٰتُ وَٱلۡأَرۡضُ أُعِدَّتۡ لِلۡمُتَّقِينَ ﴿١٣٣﴾ ٱلَّذِينَ
يُنفِقُونَ فِي ٱلسَّرَّآءِ وَٱلضَّرَّآءِ وَٱلۡكَٰظِمِينَ ٱلۡغَيۡظَ وَٱلۡعَافِينَ عَنِ ٱلنَّاسِۗ وَٱللَّهُ يُحِبُّ ٱلۡمُحۡسِنِينَ ﴿١٣٤﴾
وَٱلَّذِينَ إِذَا فَعَلُواْ فَٰحِشَةً أَوۡ ظَلَمُوٓاْ أَنفُسَهُمۡ ذَكَرُواْ ٱللَّهَ فَٱسۡتَغۡفَرُواْ لِذُنُوبِهِمۡ وَمَن يَغۡفِرُ ٱلذُّنُوبَ إِلَّا ٱللَّهُ
وَلَمۡ يُصِرُّواْ عَلَىٰ مَا فَعَلُواْ وَهُمۡ يَعۡلَمُونَ ﴿١٣٥﴾ أُوْلَٰٓئِكَ جَزَآؤُهُم مَّغۡفِرَةٞ مِّن رَّبِّهِمۡ وَجَنَّٰتٞ تَجۡرِي مِن تَحۡتِهَا
ٱلۡأَنۡهَٰرُ خَٰلِدِينَ فِيهَاۚ وَنِعۡمَ أَجۡرُ ٱلۡعَٰمِلِينَ ﴿١٣٦﴾ قَدۡ خَلَتۡ مِن قَبۡلِكُمۡ سُنَنٞ فَسِيرُواْ فِي ٱلۡأَرۡضِ فَٱنظُرُواْ كَيۡفَ كَانَ
عَٰقِبَةُ ٱلۡمُكَذِّبِينَ ﴿١٣٧﴾ هَٰذَا بَيَانٞ لِّلنَّاسِ وَهُدٗى وَمَوۡعِظَةٞ لِّلۡمُتَّقِينَ ﴿١٣٨﴾ وَلَا تَهِنُواْ وَلَا تَحۡزَنُواْ وَأَنتُمُ ٱلۡأَعۡلَوۡنَ إِن
كُنتُم مُّؤۡمِنِينَ ﴿١٣٩﴾ إِن يَمۡسَسۡكُمۡ قَرۡحٞ فَقَدۡ مَسَّ ٱلۡقَوۡمَ قَرۡحٞ مِّثۡلُهُۥۚ وَتِلۡكَ ٱلۡأَيَّامُ نُدَاوِلُهَا بَيۡنَ ٱلنَّاسِ
وَلِيَعۡلَمَ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَيَتَّخِذَ مِنكُمۡ شُهَدَآءَۗ وَٱللَّهُ لَا يُحِبُّ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿١٤٠﴾ وَلِيُمَحِّصَ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَيَمۡحَقَ
ٱلۡكَٰفِرِينَ ﴿١٤١﴾ أَمۡ حَسِبۡتُمۡ أَن تَدۡخُلُواْ ٱلۡجَنَّةَ وَلَمَّا يَعۡلَمِ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ جَٰهَدُواْ مِنكُمۡ وَيَعۡلَمَ ٱلصَّٰبِرِينَ ﴿١٤٢﴾ وَلَقَدۡ كُنتُمۡ
تَمَنَّوۡنَ ٱلۡمَوۡتَ مِن قَبۡلِ أَن تَلۡقَوۡهُ فَقَدۡ رَأَيۡتُمُوهُ وَأَنتُمۡ تَنظُرُونَ ﴿١٤٣﴾ وَمَا مُحَمَّدٌ إِلَّا رَسُولٞ قَدۡ خَلَتۡ مِن قَبۡلِهِ ٱلرُّسُلُۚ
أَفَإِيْن مَّاتَ أَوۡ قُتِلَ ٱنقَلَبۡتُمۡ عَلَىٰٓ أَعۡقَٰبِكُمۡۚ وَمَن يَنقَلِبۡ عَلَىٰ عَقِبَيۡهِ فَلَن يَضُرَّ ٱللَّهَ شَيۡـٔٗاۗ وَسَيَجۡزِي ٱللَّهُ
ٱلشَّٰكِرِينَ ﴿١٤٤﴾ وَمَا كَانَ لِنَفۡسٍ أَن تَمُوتَ إِلَّا بِإِذۡنِ ٱللَّهِ كِتَٰبٗا مُّؤَجَّلٗاۗ وَمَن يُرِدۡ ثَوَابَ ٱلدُّنۡيَا نُؤۡتِهِۦ مِنۡهَا
وَمَن يُرِدۡ ثَوَابَ ٱلۡأٓخِرَةِ نُؤۡتِهِۦ مِنۡهَاۚ وَسَنَجۡزِي ٱلشَّٰكِرِينَ ﴿١٤٥﴾ وَكَأَيِّن مِّن نَّبِيّٖ قَٰتَلَ مَعَهُۥ رِبِّيُّونَ كَثِيرٞ فَمَا وَهَنُواْ
لِمَآ أَصَابَهُمۡ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ وَمَا ضَعُفُواْ وَمَا ٱسۡتَكَانُواْۗ وَٱللَّهُ يُحِبُّ ٱلصَّٰبِرِينَ ﴿١٤٦﴾ وَمَا كَانَ قَوۡلَهُمۡ إِلَّآ أَن قَالُواْ رَبَّنَا ٱغۡفِرۡ
لَنَا ذُنُوبَنَا وَإِسۡرَافَنَا فِيٓ أَمۡرِنَا وَثَبِّتۡ أَقۡدَامَنَا وَٱنصُرۡنَا عَلَى ٱلۡقَوۡمِ ٱلۡكَٰفِرِينَ ﴿١٤٧﴾ فَـَٔاتَىٰهُمُ ٱللَّهُ ثَوَابَ ٱلدُّنۡيَا وَحُسۡنَ ثَوَابِ
ٱلۡأٓخِرَةِۗ وَٱللَّهُ يُحِبُّ ٱلۡمُحۡسِنِينَ ﴿١٤٨﴾ ﴾ آل عمران: ۱۳۳ - ۱۴۸.

مناسبت او تړاو:

څرنګه چي الله تعالی دصبراوتقوي په هکله مومنان وهڅول اوددي تنبیه یې ورکړه چي کله په بدرکښي الله پاک ددوئ مرسته په ملائکواوپرښتووکړه نوبې داحکم وکړچي د الله درضا اوخوښي دمونډلو لپاره تلواروکړي بیا وروسته یې په تفصیل سره دأحدغزاءاودمومنانوماتي وروسته له بری وخیړله اوهغه هم پدي چي درسول الله ﷺ له امر څخه مخالفت وشواووروسته یې داوښودله چي

ابتلااوازمویینت دژوندانه سنت دی اودانبیاووقتل نه بنایې چي په زړونوکښي کمزوري پیداکړي اوبیاپرله پسي آیتونه دعبرت څخه ډک درسونه چي دأحد په غزا کښي دي بیانوي.

لغتونه:

(وسارعوا) تلواروکړئ (السرآء) شتمني (والضرآء) نیستي (والکاظمین) قهرخوړونکي ویل کیږي (کظم غیظه) یعنی قهر یې پټ کړ سره له دي چي کولاي یې شول په دښمن باندي دقهرعکس العمل څرګند کړي اوله (کظم القِربة) اخیستل شوي چي معنا یې ده ژئ یې ډک کړ خوله یې وروتړله .

(فاحشة) هغه ډیربدفعل اوعمل (خلت) تېرشوي (سنن) دسنت جمع ده اوهغې لاري ته ویل کیږي چي ورباندی تګ کیږي اوله دي څخه دنبی ﷺ سنت دي اودلته مرادهغه پیښي دي چي دروغجنوته ورپیښي شوي دي (قرح) پرهارته وایې اوهغه چي په زبراوپیښ وي فراء وایې چي دقاف په زبرسره زخم اوپرهارته وایې اوپه ضمه سره یې دردته[1] اودکلمي اصل له قراح څخه اخیستل شوي چي خالص ته وایې لکه (مآء قراح) (نداولها) موږیې ګرځوو له (تداول)نه اخیستل شوي له یو څخه بل ته لیږد ، داسي ویل کیږي (تداولته الأیدي) کله چي یوشي لاس په لاس شي (ولیمحص) او چی پاک کړی تمحیص پاکولو اوله هره عیب څخه چاڼ کولوته وایې چي د(تنقیه) په معنا دي (ویمحق) محق دیوشي لږوالي اوکمبودته چي وروترسره کیږي وایې (اودسپوږمۍ محاق هم له دي څخه دي) (اعقابکم) له عقب څخه اخیستل شوي اوشاته وایې وایې (انقلب علی عقبیه) یعنی وګرزید په پوندو خپلوهغه پخوانی ځاي ته (مؤجلا) تاکلي موده چي وروسته وړاندي نه کیږي (وکأین) دتکثیرپه معنا دي اصل یې (ايّ) وواوبیادتشبیه کاف ورباندي داخل شو(کأیّن) راغي (ربیون) رب ته یې نسبت شوي اولکه ربانیون اوهغوئ تقوي لرونکي علما دي چي دالله ﷻ عبادت کونکي وي چابیاویلی چي (الربة) ته یې نسبت شوي چي هغه ټولۍ اوجماعت دی (استکانوا) خضوع کونکي اوذلیل اصل یې له سکون څخه اخیستل شوي ځکه خاضع هم ساکن وي چي ورباندی هرڅه کول کیږي نه خوځیږي.

تفسیر:

﴿ وَسَارِعُوٓا۟ إِلَىٰ مَغْفِرَةٍ مِّن رَّبِّكُمْ وَجَنَّةٍ ﴾ اوتلواروکړئ په طرف د(هغواعمالو) چي سبب دمغفرت درب ستاسي او(سبب ددخول) د جنت دی﴿ عَرْضُهَا ٱلسَّمَٰوَٰتُ وَٱلْأَرْضُ ﴾ چي پلنوالی دهغه (پسور) لکه پلنوالی دآسمانونواوځمکي دي لکه چي بل ځای په سورة الحدید کښي فرمایې :(عرضها کعرض السمآء والارض) الحدید(۲۱) اوغرض دهغه دپراخوالي بیا ن دي نوچي دومره یې پسوروي اوږدوالی به یې څومره وي؟!﴿ أُعِدَّتْ لِلْمُتَّقِينَ ﴾ تیارکړي شوي دي لپاره دپرهیزګارانو﴿ ٱلَّذِينَ يُنفِقُونَ فِى ٱلسَّرَّآءِ وَٱلضَّرَّآءِ ﴾ هغه کسان چي نفقه ورکوي (مال لګوي دالله په نامه) په آسانی اوسختي کښي یاپه شتمني

---

[1] - القرطبی ۴ / ۲۱۷

اوتنگسیا تکلیف کښي ﴿ وَٱلۡكَٰظِمِينَ ٱلۡغَيۡظَ ﴾ اوزغمونکي دقهردي (سره له قدرته دانتقام اوغچ اخیستلو) ﴿ وَٱلۡعَافِينَ عَنِ ٱلنَّاسِۗ ﴾ اوعفوکونکي دی له خلګو (چي پري زیاتی اویاظلم وکړي) ﴿ وَٱللَّهُ يُحِبُّ ٱلۡمُحۡسِنِينَ ﴾ (اوالله ﷻ خوښوي نیکي کونکي) یعني هغه کسان چي پدي صفتونومتصف وي ﴿ وَٱلَّذِينَ إِذَا فَعَلُواْ فَٰحِشَةً ﴾ اوهغه کسان چي وکړي دوئ لويه ګناه (کبیره)[1] ﴿ أَوۡ ظَلَمُوٓاْ أَنفُسَهُمۡ ﴾ اویایې په ځانونوظلم کړي وي (په یوه ګناه کولو) ﴿ ذَكَرُواْ ٱللَّهَ فَٱسۡتَغۡفَرُواْ لِذُنُوبِهِمۡ ﴾ (نویادکړي دوئ الله پس مغفرت وغواړي دوئ لپاره دګناهونوخپلو) یعنی دوئ دالله ﷻ عظمت اوهغه وعید چي دګنهګارانوپه هکله یې فرمایلی وربه یادکړی نوله ګناه څخه ځان وژغوري اوتوبه ګارشی الله ﷻ ته رجوع وکړي ﴿ وَمَن يَغۡفِرُ ٱلذُّنُوبَ إِلَّا ٱللَّهُ ﴾ اوڅوک دي چي مغفرت کوي د (ټولو) ګناهونومګرالله ﷻ دلته استفهام دنفي په معنا دي یعنی دګناهونوبښنه نه کوي مګرالله ﷻ دغه جمله اعتراضیه اودبندګانودزړه خوښولواودتوبې لپاره دراوبښولوپه هکله یې فرمایلی ده اوبل ددي بیان دی چي ګناهونه که څه هم لوي وي خودالله ﷻ رحمت اوعفوزښته لويه اوزیاته ده ﴿ وَلَمۡ يُصِرُّواْ عَلَىٰ مَا فَعَلُواْ وَهُمۡ يَعۡلَمُونَ ﴾ اونه کوي مداومت دوئ پرهغه ګناه چي کړي یې ده دوئ حال دا چي دوئ پوهیږي (چي موږ بدکړي دي) بلکه دوئ هغه فعل پریږدي اوتوبه کاږي ﴿ أُوْلَٰٓئِكَ جَزَآؤُهُم مَّغۡفِرَةٞ مِّن رَّبِّهِمۡ ﴾ هم دامتقیان چي ذکرشول جزاء ددوئ مغفرت له (جانبه) درب ددوئ اوثواب ددوئ عفواوبښنه ده له هغوتېرشوي ګناهونوڅخه ﴿ وَجَنَّٰتٞ تَجۡرِي مِن تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُ ﴾ اوجنتونه دي چي بهیږي لاندي له ونودهغوویالې ﴿ خَٰلِدِينَ فِيهَاۚ ﴾ چي تل به وي دوئ په هغوجنتونوکښي ، ﴿ وَنِعۡمَ أَجۡرُ ٱلۡعَٰمِلِينَ ﴾ (اوڅومره ښه دي اجردعاملینو) یعنی جنت څومره ښه دي دهغه چالپاره چي دالله ﷻ دامرمنونکي وي بیا الله ﷻ دأحددغزاپاتی تفصیل وروسته له دي چي دسمون اورشدیوتمهیدیې کښیښنودداسي بیانوي : ﴿ قَدۡ خَلَتۡ مِن قَبۡلِكُمۡ سُنَنٞ ﴾ په تحقیق سره تېر شوي دي پخواله تاسي ډیرې طریقې (دکفارودهلاکت چي له انبیاووسره به یې مخالفت کاوو) ﴿ فَسِيرُواْ فِي ٱلۡأَرۡضِ فَٱنظُرُواْ كَيۡفَ كَانَ عَٰقِبَةُ ٱلۡمُكَذِّبِينَ ﴾ (نووګرځئ (تګ وکړئ په ځمکه کښي پس وګورئ چي څرنګه وه عاقبت دنسبت کونکوددرغو(رسولانوته) یعنی ددروغجنانواخبارځان ته معلوم کړئ چي له دوئ سره څه وشول ؟ ترڅوتاسي ددوئ له هلاکت څخه پنداوعبرت واخلئ ﴿ هَٰذَا بَيَانٞ لِّلنَّاسِ ﴾ دا(قرآن) بیان دي له پاره

---

[1] - ابن عباس ﷺ وایې چي فاحشه زناته وایې او(ظلم النفس) بیاکتلواودلاس ورغزولوته وایې

د(تولو) خلکو.[1] ﴿ وَهُدًى وَمَوْعِظَةٌ لِّلْمُتَّقِينَ ﴾ (او هدايت او نصيحت دي پرهيزګارانو ته) يعنى دغه دسمي لاري لاربښونه او موعظت دي او متقينو ته په ځانګړى توګه يادونه ده او چي يوازي متقين يې راوړل ددې لپاره چي هغوئ ګټه اخيستونکي دى وربانده نه نورخلک بياوروسته الله پاک دوئ ته

پادينه او تسل ورکوي چي د احد ماتى بې دخفګان سبب نه شي فرمايي ﴿ وَلَا تَهِنُوا وَلَا تَحْزَنُوا ﴾ (او مه ستړيږئ او مه خفه کيږئ تاسي) يعنى له جهاد څخه مه سستيږئ او په هغه قتل او ماتى چي درته

رسيدلي مه خپه کيږئ ﴿ وَأَنتُمُ الْأَعْلَوْنَ ﴾ (او هم داتاسي غالب ياست) يعنى تاسو پردوئ سربيره ياست که څه هم دوئ په احد کښي دربانده برياليي شول هو تاسو په بدر کښي دوئ ته سخته ماتى ورکړي وه !

﴿ إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ ﴾ (که يې تاسي مومنان په حقه سره) نو مه سستيږئ او مه هم خپه کيږئ ﴿ إِن يَمْسَسْكُمْ قَرْحٌ فَقَدْ مَسَّ الْقَوْمَ قَرْحٌ مِّثْلُهُ ﴾ که ورسيږي تاسي ته زخم نو په تحقيق رسيدلي دي قوم

(دکفارو) ته (هم) زخم په شان دزخم ستاسي ﴿ وَتِلْكَ الْأَيَّامُ نُدَاوِلُهَا بَيْنَ النَّاسِ ﴾ (او دا ورځي اړوورا اړويې (په وار) په منځ دخلکو کښي) يوه ورځ برى بله ماتي يوه ورځ دخوښي بله دغم ﴿ وَلِيَعْلَمَ

اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا ﴾ او لپاره ددى چي معلوم کړي الله ﷻ هغه کسان چي ايمان لرونکي وي) يعنى الله پاک دغه ازمېښت ددې لپاره ورکړ چي وګوري څوک په سختيو کښي زغم او صبر کوي او ترڅو منافقين

اومؤمنين سره بيل کړي ﴿ وَيَتَّخِذَ مِنكُمْ شُهَدَاءَ ﴾ او بل لپاره ددې چي ونيسي الله ﷻ له تاسي شهيدان (دالله په لاره کښي) ﴿ وَاللَّهُ لَا يُحِبُّ الظَّالِمِينَ ﴾ او الله نه خوښوي ظالمان يعنى متجاوزين چي منافقين هم

ددوئ له ډلي دي هغوئ چي د احد په ورځ يې درسول الله ملاتړ پرېښود. ﴿ وَلِيُمَحِّصَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا ﴾

او لپاره ددې چي پاک او صاف کړي (له ګناه هغه کسان چي ايمان لرونکي دي) ﴿ وَيَمْحَقَ الْكَافِرِينَ ﴾

او هلاک کړي (الله ﷻ) کافران (ورو ،ورو) ﴿ أَمْ حَسِبْتُمْ أَن تَدْخُلُوا الْجَنَّةَ ﴾ آيا ګمان کوئ تاسي ددې چي ننوځي به جنت ته) استفهام انکاري دي يعنى اي مسلمانانو تاسو داګمان کوئ چي جنت ته به پرته

له امتحان او ازمېښته ورشئ ﴿ وَلَمَّا يَعْلَمِ اللَّهُ الَّذِينَ جَاهَدُوا مِنكُمْ وَيَعْلَمَ الصَّابِرِينَ ﴾ حال دا چي معلوم کړى به نه وي الله ﷻ (په علم ظهور سره) هغه کسان چي جهاد يې کړي وي له تاسي څيني او معلوم کړي الله نه وي (په علم ظهور سره) صابران(په سختيو کښي)طبرى وايي معنا دا چي اي درسول الله ﷺ اصحابانو رضي الله عنهم آيا ګومان کوئ چي دالله عزت به درکول شي او مؤمنو بندګانو ته به مجاهدين في سبيل الله او په سختيو کښي صبر او زغم لرونکي او دالله لپاره زخم خوړونکي معلوم نه وي.[2] ﴿ وَلَقَدْ كُنتُمْ

---

1 - طبرى او څيني مفسرينو ويلى چى دا اشاره ماتقدم ذکره ته راغلى او معنا دا چي دا څرګنده شوي حقائق او دغه دتيرو امتونو هلاکتونه په دې کښي بيان دى له چوپتيا څخه ، هدايت دى له ضلالت نه او پند دي دمتقينو لپاره.

2 - تفسير طبرى

تَمَنَّوْنَ ٱلْمَوْتَ ﴾ اوخامخا په تحقيق وې تاسي چي آرزوبه موكوله دمرګ يعنی تاسوبه ددښمن مخامخ كيدل غوښتل ترڅوشهادت موپه برخه شي﴿ مِن قَبْلِ أَن تَلْقَوْهُ ﴾ پخواله هغه چي تاسي پيښيدي پردغه مرګ (يعني پخواله دي چي وڅكئ شدت يې آيت شريف دهغه چالپاره چي ماتی يې كړی عتاب دي .

﴿ فَقَدْ رَأَيْتُمُوهُ وَأَنتُمْ تَنظُرُونَ ﴾ (نوپه تحقيق وليدتاسي دا(مرګ) حال داچي تاسي (ورته) كتل يعنی تاسي هغه دسرپه سترګو وليدچي ورونه مووژل كيدل اوتژدي ووچي تاسي هم وژل شوي وای ،راتلونكي آيت شريف هغه وخت نازل شوچي كافرانوداآوازه خپره كړه چي محمدووژل شواومنافقينوويل: كه چيري وژل شوي وي نوراشئ چي بيرته لومړني دين ته وګرزو﴿ وَمَا مُحَمَّدٌ إِلَّا رَسُولٌ قَدْ خَلَتْ مِن قَبْلِهِ ٱلرُّسُلُ ﴾ اونه دی محمد ﷺ مګر دي (يورسول (دالله) په تحقيق سره تېرشوي له ده نه پخوا(ډير) رسولان) اوله رسولانوځيني خوک مړه شوي اوځيني وژل شوي دي .﴿ أَفَإِيْن مَّاتَ أَوْ قُتِلَ ٱنقَلَبْتُمْ عَلَىٰٓ أَعْقَٰبِكُمْ ﴾ (آيانوكه مړشي (محمد) ياشهيد كړی شي (محمد) نوبيرته به وګرزئ تاسي پرپوندو خپلو؟) يعنی كه يې الله ﷺ ووژني اويايې كفارشهيدكړي نوتاسئ به وروسته له ايمانه مرتدكيږئ اوكفرته به ګرزئ؟﴿ وَمَن يَنقَلِبْ عَلَىٰ عَقِبَيْهِ فَلَن يَضُرَّ ٱللَّهَ شَيْـًٔا ﴾ (اوهرڅوک چي بيرته وګرځيد په پوندوخپلو(كفرته)نوله سره به زيان ونه رسوي الله ﷺ ته هيڅ شي) بلكه خپل ځان ته به زيان ورسوي چي دالله ﷺ قهراوغضب ته به ودريږي ﴿ وَسَيَجْزِى ٱللَّهُ ٱلشَّٰكِرِينَ ﴾ (اوژربه جزاوركړي الله شكرګزاروته) يعنی الله پاک به طاعت كونكوته هغه چي ثابت قدم پاتي شوي اوګرزيدلي نه دي ثواب وركړي بياالله تعالی دابښيې چي دهرساكښ لپاره يې موده ټاكلې چي يوه شيبه به وروسته وړاندی نشي نوفرمايي:﴿ وَمَا كَانَ لِنَفْسٍ أَن تَمُوتَ إِلَّا بِإِذْنِ ٱللَّهِ ﴾ (اونشته هيڅ يونفس لره چی مړشي مګرپه اذن (حكم) دالله ﷺ سره يعنی دالله په اراده اومشيت سره ﴿ كِتَٰبًا مُّؤَجَّلًا ﴾ (چي ليكل شوي دي (دامرګ) په يوه مقرره وخت كښي) چي نه وړاندی اونه وروسته كيږي اوپدي كښي ددوئ لپاره دجهادكوڵوهڅونه اوتحريض دي چي ددښمن له مخامخ كيدلوونه ويريږي ځكه ويره تقديرنه شي بدلولي اوانسان ترخپل اجل دمخه نه وژل كيږي اومړكيږي كه څه هم په سختوجګړو كښي اړشي

﴿ وَمَن يُرِدْ ثَوَابَ ٱلدُّنْيَا نُؤْتِهِۦ مِنْهَا ﴾ اوهرڅوک چي غواړي (په عمل خپل سره بدل) ثواب ددې دنيانومونږ به يې وركړوهغه ته له هم دغه (دنيوی بدل) (اونه به وی ده لره په آخرت كښي برخه ، په دي كښي دهغه چالپاره تعريض دي چي دغنيمتونويې رغبت درلودبيا الله پاک دابيانوي چي ددنياموندل اوكټل دغبطي وړنه دي ځكه هغه نيک اوفاجر دواړوته وركول كيږي ﴿ وَمَن يُرِدْ ثَوَابَ ٱلْءَاخِرَةِ نُؤْتِهِۦ مِنْهَا ﴾ اوهرڅوک چي غواړي (په خپل عمل سره بدل) ثواب دآخرت نوورېه يې كړومونږ هغه ته له همدغه (اخروي ثواب) بشپړسره له هغی دنيوي برخي لكه چي بل ځاي فرمايي: (من كان يريدحرث الآخرة نزدله

فی حرثه) (الشوری ۲۰) ﴿ وَسَنَجۡزِي ٱلشَّٰكِرِينَ ﴾ اوژر به جزا(ثواب) ورکړو شکرګزارو ته) یعنی موږ به دوئ ته له خپله فضله اورحمته ددوئ دشکر او عمل ثواب ورکړو ﴿ وَكَأَيِّن مِّن نَّبِيّٖ قَٰتَلَ مَعَهُۥ رِبِّيُّونَ كَثِيرٞ ﴾ (او ډیرله نبیانو څخه ووچي ددوئ په مرسته جنګیدلی وورباني سړي ډیر) یعنی ډیروانبیاوو داعلاء کلمة الله لپاره جهاد کړي چي رباني علمائې ملګری وو.(۱) اوصالح بندګان ورسره وواوخیني له دوئ څینی ووژل شول ﴿ فَمَا وَهَنُواْ لِمَآ أَصَابَهُمۡ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ ﴾ (نوهیڅ قدربه نه سستیدل هغوئ له سببه دهغه تکلیفه چي رسیدلی به وودوئ ته په لاره دالله کښي) یعنی دوئ به نه بي زړه کیدل اونه به ضعیفان کیدل له هغه وژلو او زخمونو څخه چي دوئ ته به رسیدل ﴿ وَمَا ضَعُفُواْ ﴾ اونه به ضعیفان کیدل (په جهاد کښي) ﴿ وَمَا ٱسۡتَكَانُواْۗ ﴾ اونه به یې سرټیټاوودښمن ته ﴿ وَٱللَّهُ يُحِبُّ ٱلصَّٰبِرِينَ ﴾ اوالله خوښوي (دالله په لاره کښي په سختیو کښي) صبرکونکي ﴿ وَمَا كَانَ قَوۡلَهُمۡ إِلَّآ أَن قَالُواْ رَبَّنَا ٱغۡفِرۡ لَنَا ذُنُوبَنَا ﴾ (اونه وه ویناددوئ مګرداچي ویل دوئ ای ربه زموږ مغفرت وکړه موږته ګناهونه زموږ) یعنی دوئ سره له خپل قوت اوپه دین کښي ټینګارسره له الله ﷻ څخه دمغفرت غوښتلو دعاوې کولي ﴿ وَإِسۡرَافَنَا فِيٓ أَمۡرِنَا ﴾ اوله حده تېریدل زموږپه دي کارزموږکښي) هغه چي زموږ طاعت اوعبادت دي ستاله پاره ﴿ وَثَبِّتۡ أَقۡدَامَنَا ﴾ (اوټینګ کړه قدمونه زموږ (دجنګ په ډګرکښي) ﴿ وَٱنصُرۡنَا عَلَى ٱلۡقَوۡمِ ٱلۡكَٰفِرِينَ ﴾ اومرسته راکړه موږته پرقوم دکافرانو ﴿ فَـَٔاتَىٰهُمُ ٱللَّهُ ثَوَابَ ٱلدُّنۡيَا وَحُسۡنَ ثَوَابِ ٱلۡأٓخِرَةِۗ ﴾ (نوورکړی دوئ ته الله ثواب ددنیااوښه ثواب دآخرت) یعنی الله دوئ ته ددنیاثواب چي غنیمت (ولجه) عزت اوبری دی سره دښارونودنیولودآخرت له جزاسره یوځاي چي جنت اونعمتونه یې دي ورکړل ﴿ وَٱللَّهُ يُحِبُّ ٱلۡمُحۡسِنِينَ ﴾ (اوالله خوښوي نیکي کونکي) یعنی هغه کسان چي نیک عمل یې دي اونیت یې خالص دالله لپاره وي دآخرت ثواب یې څکه په حسن وستایل چي دالله فضل څرګندونه وکړي اوداچي الله ته غوره دي.

بلاغت:

پدی مبارکو آیتونو کښي دبدیع اوبیان ډیر څه شته چي په لاندی ډول یې لنډیزلیکو:

۱- (عرضها السموات والأرض) وجه دمشابهت اودتشبیه ادات (توري) حذف شوي نوورته بلیغه تشبیه ویل کیږي

۲ – پدی قول دالله تبارک وتعالی کښي چي فرمایې: (سارعوا الی مغفرة) دلته تسمیه دشي په اسم دسبب سره دی یعنی تلوار وکړئ موجباتو دمغفرت ته.

۳ – پدي کلماتو کښي (السرآء والضرآء) دطباق صنعت دي چي له بدیعي محسناتو څخه شمیرل کیږي.

۱- طبری وایې چی د(ربیون کثیر) معنی ډیري ډلي دی اوقتاده هم دغسی ویلي اوحسن وایې چي مراد عالمان دی.

۴ - (ومن يغفر الذنوب الاالله) دلته استفهام اوغرض ځنې نفى ده يعنى نه يې ببنى.

۵ - پدى كلام كښې چې (اولئک جزاءهم مغفرة) دلته دبعيد اشاره ددى لپاره ده چې ددوئ منزلت ډيرلوړ او درجه يې ستره ده دفضل خاوندان دى.

۶ - (ونعم اجر العاملين) دلته مخصوص بالمدح حذف شوي دي اوتقديريې داسى راځي (ونعم أجر العاملين ذلک)

۷ - پدى جملوكښې چې فرمايې (وليعلم الله) التفات دى ځكه هغه وروسته له (نداولها) راځي نوځكه له حاضرڅخه غائب ته التفات دى اوغرض پكښې دجهاد دشان تعظيم اودرناوي دى.

۸ - (ومامحمد الارسول) دلته قصردموصوف په صفت پسى دى.

۹ - پدى قول كښې چې راځي (انقلبتم على اعقابكم) په تلخيص البيان كتاب كښې وايې چې دا استعاره ده اومرادځنى له دينه څخه رجوع كول دى نوالله ﷺ گرځيدل له دينــه ، له گرزيدلوپه پوندوسره مشابه كړل.[1]

فوائداوگټي:

لومړۍ فائده: پدي آيتونوكښي چي پيل يې شوي دي په: (وسارعوا الى مغفرة) دښو اخلاقو او مكارمو ،فضيلتونوډيرى بيلگي دي لكه سخاوت ،قهرزغمل ،ببښنه كول ، له گناهونوڅخه توبه كول اوهريو يې ددومره بهتريوخاوندى دى چي حصراوشميريې امكان نلري.

دوهمه فائده: پدى آيتونوكښي مغفرت ترجنت دمخه ذكرشوي دى ځكه تخليه ترتحليه وړاندې وي اوجنت ته ددخول استحقاق هغه وخت مونډل كيږي چي له گناهونوپاک شي.

دريمه فائده: دجنت عرض (پسور) يې په ځانگړى توگه ذكركړچي دجنت دپراخي په صفت كښي مبالغه مقصد ده نوچي عرض يې هومره وي طول به يې څومره زيات وي ؟ ابن عباس ﷺ پدى هكله وايې چى لكه اوه آسمانونه اوه مځكې يوله بله سره ونښليږي[2] هومره پراخ دى.

څلورمه فائده: هرقل باچا نبى ﷺ ته وليكل: تا زه هغه جنت ته بللى يم چي عرض يې لكه آسمانونه اوځمكې غوندى دى نواورڅه شو؟ عليه الصلوة والسلام وفرمايل : (سبحان الله أين الليل اذاجاء النهار(چيرته ده شپه چي ورځ راشي).[3]

پنځمه فائده: الله تعالى دآخرت كاراوعمل ته دتلواري حكم كړي اودا په ډيروآيتونوكښي لكه: (وسارعوا الى مغفرة) (وسابقوا الى مغفرة) (فاستبقوا الخيرات) (فاسعوا الى ذكر الله) (وفى ذلک فليتنافس المتنافسون)اوهرچي دنيوي كاراوعمل دي هغه يې په كراراوهون سره كول امركړي دى لكه (فامشوا فى مناكبها)(وآخرون يضربون فى الارض) نودغه باريک رازته ښه ځيرشه اووربانديې سوچ وكړه!

[1] - تلخيص البيان ص ۲۱
[2] - البحر المحيط ۳ / ۵۸
[3] - اخرجه احمد

الله تعالى فرمايي:

﴿ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِن تُطِيعُوا الَّذِينَ كَفَرُوا يَرُدُّوكُمْ عَلَىٰ أَعْقَابِكُمْ فَتَنقَلِبُوا خَاسِرِينَ
(١٤٩) بَلِ اللَّهُ مَوْلَاكُمْ ۖ وَهُوَ خَيْرُ النَّاصِرِينَ (١٥٠) سَنُلْقِي فِي قُلُوبِ الَّذِينَ كَفَرُوا الرُّعْبَ بِمَا أَشْرَكُوا
بِاللَّهِ مَا لَمْ يُنَزِّلْ بِهِ سُلْطَانًا ۖ وَمَأْوَاهُمُ النَّارُ ۚ وَبِئْسَ مَثْوَى الظَّالِمِينَ (١٥١) وَلَقَدْ صَدَقَكُمُ
اللَّهُ وَعْدَهُ إِذْ تَحُسُّونَهُم بِإِذْنِهِ ۖ حَتَّىٰ إِذَا فَشِلْتُمْ وَتَنَازَعْتُمْ فِي الْأَمْرِ وَعَصَيْتُم مِّن بَعْدِ مَا أَرَاكُم
مَّا تُحِبُّونَ ۚ مِنكُم مَّن يُرِيدُ الدُّنْيَا وَمِنكُم مَّن يُرِيدُ الْآخِرَةَ ۚ ثُمَّ صَرَفَكُمْ عَنْهُمْ لِيَبْتَلِيَكُمْ ۖ
وَلَقَدْ عَفَا عَنكُمْ ۗ وَاللَّهُ ذُو فَضْلٍ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ (١٥٢) ۞ إِذْ تُصْعِدُونَ وَلَا تَلْوُونَ عَلَىٰ أَحَدٍ
وَالرَّسُولُ يَدْعُوكُمْ فِي أُخْرَاكُمْ فَأَثَابَكُمْ غَمًّا بِغَمٍّ لِّكَيْلَا تَحْزَنُوا عَلَىٰ مَا فَاتَكُمْ وَلَا
مَا أَصَابَكُمْ ۗ وَاللَّهُ خَبِيرٌ بِمَا تَعْمَلُونَ (١٥٣) ثُمَّ أَنزَلَ عَلَيْكُم مِّن بَعْدِ الْغَمِّ أَمَنَةً نُّعَاسًا يَغْشَىٰ طَائِفَةً مِّنكُمْ ۖ
وَطَائِفَةٌ قَدْ أَهَمَّتْهُمْ أَنفُسُهُمْ يَظُنُّونَ بِاللَّهِ غَيْرَ الْحَقِّ ظَنَّ الْجَاهِلِيَّةِ ۖ يَقُولُونَ هَل لَّنَا مِنَ الْأَمْرِ مِن شَيْءٍ ۗ قُلْ إِنَّ
الْأَمْرَ كُلَّهُ لِلَّهِ ۗ يُخْفُونَ فِي أَنفُسِهِم مَّا لَا يُبْدُونَ لَكَ ۖ يَقُولُونَ لَوْ كَانَ لَنَا مِنَ الْأَمْرِ شَيْءٌ مَّا قُتِلْنَا هَاهُنَا ۗ قُل لَّوْ كُنتُمْ
فِي بُيُوتِكُمْ لَبَرَزَ الَّذِينَ كُتِبَ عَلَيْهِمُ الْقَتْلُ إِلَىٰ مَضَاجِعِهِمْ ۖ وَلِيَبْتَلِيَ اللَّهُ مَا فِي صُدُورِكُمْ وَلِيُمَحِّصَ مَا فِي قُلُوبِكُمْ ۗ
وَاللَّهُ عَلِيمٌ بِذَاتِ الصُّدُورِ (١٥٤) إِنَّ الَّذِينَ تَوَلَّوْا مِنكُمْ يَوْمَ الْتَقَى الْجَمْعَانِ إِنَّمَا اسْتَزَلَّهُمُ الشَّيْطَانُ بِبَعْضِ مَا
كَسَبُوا ۖ وَلَقَدْ عَفَا اللَّهُ عَنْهُمْ ۗ إِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ حَلِيمٌ (١٥٥) يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَكُونُوا كَالَّذِينَ كَفَرُوا وَقَالُوا لِإِخْوَانِهِمْ إِذَا
ضَرَبُوا فِي الْأَرْضِ أَوْ كَانُوا غُزًّى لَّوْ كَانُوا عِندَنَا مَا مَاتُوا وَمَا قُتِلُوا لِيَجْعَلَ اللَّهُ ذَٰلِكَ حَسْرَةً فِي قُلُوبِهِمْ ۗ وَاللَّهُ يُحْيِي
وَيُمِيتُ ۗ وَاللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ (١٥٦) وَلَئِن قُتِلْتُمْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ أَوْ مُتُّمْ لَمَغْفِرَةٌ مِّنَ اللَّهِ وَرَحْمَةٌ خَيْرٌ مِّمَّا
يَجْمَعُونَ (١٥٧) وَلَئِن مُّتُّمْ أَوْ قُتِلْتُمْ لَإِلَى اللَّهِ تُحْشَرُونَ (١٥٨) ﴾ آل عمران: ١٤٩-١٥٨

مناسبت اوتړاو:

لاتراوسه پوري آيتونه داحد دغزا پيښي بيانوي پندونه اونصيحتونه وړاندی کوي اوداچی دماتی سبب څه وو؟منافقينو څرنګه شرمونکي دريزاوموقف نيولی وو څرنګه يې داسلامي دعوت په لارکښي خنډونه اچول چي د مسلمانانو عزائم مړژواندي کړي؟.

لغتونه:

(سلطانا) حجت اوبرهان اواصل يې قوت ته وايې همدالامل دي چي والي ته سلطان وايي (مثوىٰ) دانسان هستوګنځي لکه چي وايې (يؤي بالمكان) کله چي داوسيدلولپاره ځای غوره کړي (تحسونهم) چي وژل تاسي دوي زجاج وايې چي (حسّ) په وژلوسره يې بنياداېستلوته وايې اواصل يې دحس په ځای باندی وارکولوته وايې (تصعدون) اصعادپه مځکه کښي تللوته اوليري کيدلوته وايې

او د اصعاد او صعود تو پیر دا دی چي اصعاد په مستوي ځمکه تګ کول او صعود په لوړه ختلو ته وايي (لاتلون) هیڅ ته مونه کتل لکه چي ماتی خوړلی د تیښتی په حال کښي مندي وهي او اصل يې له (لی العنق) څخه اخیستل شوي دي چي د التفات په وخت کښي غاړه کږولو ته وايي (اُخراکم) وروسته ستاسي (اثابکم) سزايي درکړه (اَمنة) اطمئنان (یغشی) پټه يې کړه لاندي يې کړه (ولیمحص) تمحیص پاکولو او چاڼ کولو ته وايي (استزلهم) په ګناه کښي اچول او ښویولو ته وايي (غُزّی) د غازي جمع ده هغه چي د الله ﷻ په لاره کښي وتلی وي.

د نزول سبب: کله چي رسول الله ﷺ مديني منوري ته راستون شو او په اُحد کښي اصحابانو ته هغه څه رسیدلی وو کوم چي رسیدلی وو نو د اصحابانو رضوان الله علیهم له ډلي څخه یو چا ویل: دا سی ولی وشول؟ او په تحقیق سره چي الله پاک را سره د مرستي ژمنه او وعده کړی وه نو الله دا آیت نازل کړ: (ولقد صدقکم الله وعده...) تر دي ځایه پوری چي فرمایي (منکم من یرید الدنیا) یعنی هغه غیشي ویشتونکي چي د اُحد په ورځ يې سنګر پریښود.[1]

تفسیر:

﴿ يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِن تُطِيعُواْ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ ﴾ (ای هغو کسانو چي ایمان يې راوړي دي (ای مؤمنانو) که اطاعت وکړئ تاسي د هغو کسانو چي کافران شوي دي) یعنی که تاسو د کافرانو او منافقینو د اوامرو اطاعت وکړئ ﴿ يَرُدُّوكُمْ عَلَىٰٓ أَعْقَـٰبِكُمْ ﴾ (نو بیرته به و ګرزوي د غه (کفار) تاسي پرپوندو ستاسي) یعنی کفر ته به مو واړوي ﴿ فَتَنقَلِبُواْ خَـٰسِرِينَ ﴾ نو و به ګرزئ تاسي زیانکاران یعني خسران ته به واوړئ او تر دی ستر خسران چیرته دی چي ایمان په کفر بدل کړئ ابن عباس ﷺ وايي: چي کله له اُحد نه مسلمانان راوګرزیدل نو منافقینو به ورته ویل که چیري ریښتونی پیغمبر (نبی) وای هسي به نه وروپیښیدله نو راوګرزئ خپلو وروڼو ته! ﴿ بَلِ ٱللَّهُ مَوْلَىٰكُمْ ﴾ بلکه الله (مرسته کونکي دوست لرونکي) ستاسي دي) یعنی الله ښه مرستندوئ او مددګار دي، تر دي چي د دوئ پیروي کوئ د الله ﷻ پیروي وکړئ ﴿ وَهُوَ خَيْرُ ٱلنَّـٰصِرِينَ ﴾ او هم دي خورا ښه د ټولو مرسته کونکو دي) نو تاسي له بل چا څخه مدد او مرسته مه غواړئ بیا الله تعالی مؤمنانو ته زیري ورکړچي د دښمنانو په زړونو کښي به ویره واچوی وېې ویل: ﴿ سَنُلْقِى فِى قُلُوبِ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ ٱلرُّعْبَ ﴾ ژر به وغورځوو په زړونو د هغو کسانو کښي چي کافران شوي دي هیبت او ویره ﴿ بِمَآ أَشْرَكُواْ بِٱللَّهِ مَا لَمْ يُنَزِّلْ بِهِۦ سُلْطَـٰنًا ﴾ په سبب د شریک نیولو د دوئ له الله سره هغه شي چي ندی نازل کړي (الله) په (شریک نیولو) د هغه کوم برهان او دلیل) .

﴿ وَمَأْوَىٰهُمُ ٱلنَّارُ ﴾ او ځای د هستوګنی د دوئ اور د دوزخ دی) ﴿ وَبِئْسَ مَثْوَى ٱلظَّـٰلِمِينَ ﴾ او بد ځای د هستوګنی د ظالمانو دی د اور د دوزخ پس د دوئ په دنیا کښي ویرول شوي او په آخرت کښي په

---

[1] - اسباب النزول للواحدی ص ۷۲

عذاب اخته شوي په حديث شريف كښې راځي: (نصرت بالرعب مسيرة شهر) ما ته ديوې مياشتي (دمزل كولو په مسافه دكافرانو) دويرولو نصرت اوبرى راكول شوي دي. ﴿ وَلَقَدۡ صَدَقَكُمُ ٱللَّهُ وَعۡدَهُۥٓ ﴾ (اوخامخا په تحقيق رښتياكړه تاسي ته الله وعده خپله) يعنى هغه دمرستي وعده چي يې كړې وه په هغه يې درسره وفا وكړه ﴿ إِذۡ تَحُسُّونَهُم بِإِذۡنِهِۦ ﴾ په هغه وخت كښې كله چي وژل تاسي كافران په حكم د الله سره (يعنى كله چي موكافران ريبل اوپخپلو تورو موهغوئ دالله په اذن سره پوپناكول ﴿ حَتَّىٰٓ إِذَا فَشِلۡتُمۡ وَتَنَٰزَعۡتُمۡ فِي ٱلۡأَمۡرِ ﴾ ترهغه وخته پوري چي بى زړه شوي تاسي او (پخپلو منځونو كښې) سره مخالف شوئ په امرد (ځاي) كښې (هغه چي په غره كښې وو) ﴿ وَعَصَيۡتُم مِّنۢ بَعۡدِ مَآ أَرَىٰكُم مَّا تُحِبُّونَۚ ﴾ (يعنى نافرمانى وكړه تاسي (له امردرسول الله نه) له هغه وروسته چي دروښود (الله) تاسي ته هغه شي چي ستاسي خوښ وو) يعنى وروسته دهغه چي برياليتوب ستاسي په برخه وو. روايت كيږي چي نبى ﷺ پنځوس تنه غشي ويشتونكي په غره دپاسه ودرول اوحكم يې ورته وكړچي له مسلمانانو څخه به دفاع كوي ورته ويل يې: (لاتبرحوا أماكنكم حتي ولورأيتمونا تخطفتنا الطير) تاسي خپل ځايونه مه پريږدئ آن ترديي هم كه تاسي ووينئ چي مرغان زموږ غوښې خوري ! اوكله چي دواړه لښكري دجنګ په ډګركښې سره مخامخ شوي نودمشركانو آسانوددي توان نه درلودچي دزياتوغشواوريدلو له امله تينګاروكړي مشركانو ماتي وخوړه اوكله چي غشي ويشتونكودا حال وليدويې ويل: ولجه ، ولجه اودپاتى شونودراتولولو لپاره راكوز شول يوازي ددوئ مشر (عبدالله ابن جبير) رضى الله عنه سره له لسوتنوپاتى شواومشركان دغره دشاله پلوه راغبرګ شول اودوئ يې شهيدان كړل بيا وروسته يې مسلمانان دشاله لوري تعقيب كړل اوپه توروبې وهل چي يوواربري په ماتي بدل شواودغه دالله تعالى قول دى چي فرمايي ﴿ وَعَصَيۡتُم مِّنۢ بَعۡدِ مَآ أَرَىٰكُم مَّا تُحِبُّونَۚ ﴾ يعنى له بري وروسته ﴿ مِنكُم مَّن يُرِيدُ ٱلدُّنۡيَا ﴾ ځيني له تاسي هغه دي چي خوښوي دنيا يعنى غنيمت اودوئ هماغه دي چي غريې پريښود ﴿ وَمِنكُم مَّن يُرِيدُ ٱلۡأٓخِرَةَۚ ﴾ (اوځيني ستاسي هغه دي چي خوښوي آخرت) يعنى دالله ثوابونه اوهغوئ هغه شهيدان دي چي لس تنه اوله خپل مشرسره يوځاي شهيدان شول ﴿ ثُمَّ صَرَفَكُمۡ عَنۡهُمۡ لِيَبۡتَلِيَكُمۡۖ ﴾ بيا (الله ﷻ) وګرزولي تاسي له كافرانو څخه (په تيښته سره) لپاره ددي چي وازمويې تاسي) يعنى تاسي يې په ماتي محكوم كړي چي ستاسي ايمان وازمويي. ﴿ وَلَقَدۡ عَفَا عَنكُمۡۗ ﴾ اوهرومروپه تحقيق عفوه وكړه (الله تاسي ته سره له عصيانه ستاسي اوپدي كښې دي خبرې ته اشاره وه چي ګناه ددي استحقاق درلودچي ترديي زيات زيان دراړول شوي واى خوالله ﷻ عفووكړه ځكه فرمايي: ﴿ وَٱللَّهُ ذُو فَضۡلٍ عَلَى ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ﴾ (اوالله څښتن دلوي فضل دي په مؤمنانوباندى) يعنى په ټولووختونواوحالاتو كښې الله ﷻ پرمؤمنانو باندي داحسان اونعمت خاونددي ﴿ إِذۡ تُصۡعِدُونَ وَلَا تَلۡوُۥنَ عَلَىٰٓ أَحَدٖ ﴾ (يادكړئ هغه وخت) چي

تلئ مندي وهلی تاسي اونه موکتل هیچاته (یوبل ته نه دریدلئ) ﴿ وَٱلرَّسُولُ يَدۡعُوكُمۡ فِيٓ أُخۡرَىٰكُمۡ ﴾ (حال داچي رسول الله محمد ﷺ) بللي تاسي وروسته ستاسي) یعنی اومحمد ﷺ په تاسي پسی له شاچیغي وهلي ویل یې: (اليّ عبادالله الي عباد الله) اي دالله ﷻ بندګانو زماپه لورراشئ زماپه لورراشئ زه دالله رسول یم ځوک چي په کفارو حمله کوي جنت دهغوئ لپاره دي ! خوتاسي دتیښتي په هکله هوډ کړي وو ﴿ فَأَثَٰبَكُمۡ غَمَّۢا بِغَمّٖ ﴾ (نوسزايي درکړه تاسي ته یوغم په سبب دبل غم) یعنی تاسي چي درسول الله ﷺ له حکم څخه مخالفت وکړددي غم په سبب یې په بل غم اخته کړئ[1]) ﴿ لِّكَيۡلَا تَحۡزَنُواْ عَلَىٰ مَا فَاتَكُمۡ ﴾ لپاره ددي چي خفه نشئ تاسي په هغه شي چي پاتي شوله تاسي (له غنیمت څخه) ﴿ وَلَا مَآ أَصَٰبَكُمۡۗ ﴾ اونه په هغه شي چي ورسید تاسي ته (دجنګ اوماتي څخه غرض دلته دغم دحکمت بیان دی هغه داچي دپاتی شوي خواشیني اودرسیدلی ربړاوزیان خفګان موهیرشي اودادالله درحمت نښه ده ﴿ وَٱللَّهُ خَبِيرُۢ بِمَا تَعۡمَلُونَ ﴾ (اوالله ښه خبردار دی په هغه شي چي تاسي یې کوئ) یعنی مخلص له نورو څخه پیژني ﴿ ثُمَّ أَنزَلَ عَلَيۡكُم مِّنۢ بَعۡدِ ٱلۡغَمِّ أَمَنَةٗ نُّعَاسٗا ﴾ (بیایې نازل کړه پرتاسي باندی وروسته له دی غمه أمن ، پرکالی (خوب) چي دابیادالله یواحسان اوفضل ووچي تاسي ته یې سکینه اواطمینان درپه برخه کړترڅوله دښمن څخه بیغمه شئ ځکه ویریدونکي ته خوب نه ورځي امام بخاري له انس ﷺ څخه روایت کوی چي ابوطلحة ﷺ وویل: مونږ پداسی حال کښي چي په أحد کښي دجنګ په ډګرکښي پرکالی لاندی کړو ویل یې توره به مي له لاسه لویدله اومابه رااخیستله بیابه لویدله مابه رااوچتوله بیا الله پاک فرمایې چي دادتولولپاره نه وه بلکي داخلاص منو کسانولپاره وه منافقین په ویره اوهیبت کښی وو ﴿ يَغۡشَىٰ طَآئِفَةٗ مِّنكُمۡۖ ﴾ چي لاندي کړه یوه طائفه له تاسي چي مؤمنان وو ﴿ وَطَآئِفَةٞ قَدۡ أَهَمَّتۡهُمۡ أَنفُسُهُمۡ ﴾ اوبله طائفه وه (له تاسي چي منافقان وو) په تحقیق په فکرکښي غورځولي وودوئ نفسونوددوئ (یعنی اوبله ډله هغه وه چي په ځانونویې ماتی منلی وه نورهیڅ غم اودرد ور سره نه ووپرته (دځان له ژغورنی دوئ منافقان وودوئ دویري اوخوف سبب هماغه دمشرکانو خبرورکول ووچي بیرته به جنګ ته راګرزي نومسلمانان د تیارسئ په حال کښي کښیناستل اوالله ورباندی پرکالی راوستله بیده شول خومنافقین له دي ویري چي کفاربه بیرته راوګرزي له سترګویې خوب تښتیدلی وو ﴿ يَظُنُّونَ بِٱللَّهِ غَيۡرَ ٱلۡحَقِّ ظَنَّ ٱلۡجَٰهِلِيَّةِۖ ﴾ (چي ګومانونه به کول دوی په الله باندی (ګمان) ناحقه لکه (ګمان) دجاهلیت) ابن کثیروایې داکسان په دي باورووچي اوس دفیصلې وخت دی نورنوداسلام اومسلمانانوکیسه پای ته ورسیده اوهم داسی دشکمنومذبذبه خلګوحال وي چي کله یوه سخته صدمه ورسیږي دوئ ته هم داسی ګومانونه پیدا کیږي.[2]) ﴿ يَقُولُونَ

---

[1] - طبری وایې چي (با) د(علی) په معناده اوترجمه یې داسی راځي چي ستاسي دعصیان اودپیغمبرله امرڅخه په مخالفت یوغم په بل غم درکول شواولکه چي (فی جذوع النخل) هلته (فا) د(علی) په معنا ده ابن کثیراوابن قیم همدغه قول ته ترجیح ورکړی ده.

[2] - مختصرابن کثیر ۱/ ۳۳۰

﴿هَل لَّنَا مِنَ ٱلْأَمْرِ مِن شَيْءٍ﴾ وايي دوئ آيا شته موږ لره له امره څه برخه ؟ يعنى زموږ خو په لاس كښي هيڅ نشته كه زموږ اختيار وايي موږ به د جنګ لپاره راوتلى نه واى ﴿قُلْ إِنَّ ٱلْأَمْرَ كُلَّهُۥ لِلَّهِ﴾ ووايه (اي محمده دوئ ته چي) بيشكه امر ټول خاص الله لره دى) اړوى يې څرنګه چي يې اراده شي (هرشي د الله په حكم كيږي) ﴿يُخْفُونَ فِىٓ أَنفُسِهِم مَّا لَا يُبْدُونَ لَكَ﴾ پټوي دا (منافقان) په نفسونو (زړونو) خپلو كښي هغه خبري چي نه يې دربښكاروي تاته (اي محمده) ﴿يَقُولُونَ لَوْ كَانَ لَنَا مِنَ ٱلْأَمْرِ شَيْءٌ مَّا قُتِلْنَا هَـٰهُنَا﴾ (وايي (دغه منافقان يو تربله) كه چيري وي موږ لره له امره يو شي نو نه به وو وژل شوي موږ دلته كښي) يعنى كه زموږ خپل واک وايي نو به نه وو راوتلى خو موږ په زوره را ايستل شوي يو او دا دهغه قول تفسير دي چي دوئ به پټوي په زړونو خپلو كښي زبير ﷺ وايي په موږ باندى خوب رانازل شوي وو ما د (معتب بن قشير) خبره واوريده چي ويل يې: (لوكان لنا من الامر شئ ماقتلنا ههنا)[1] ﴿قُل لَّوْ كُنتُمْ فِى بُيُوتِكُمْ لَبَرَزَ ٱلَّذِينَ كُتِبَ عَلَيْهِمُ ٱلْقَتْلُ إِلَىٰ مَضَاجِعِهِمْ﴾ نو ووايه اى محمده دوئ ته ! كه وئ تاسي په كورونو خپلو كښي (نو) خامخا به راوتلي وو هغه كسان چي مقرر شوى وو په دوئ باندي وژل طرف د ځايو د پريوتلو خپلو ته) يعنى دالله له تقدير څخه تيښته او خلاصون نشته . ﴿وَلِيَبْتَلِىَ ٱللَّهُ مَا فِى صُدُورِكُمْ﴾ او د پاره ددې چي وازمويې الله هغه شى چي په سينو ستاسي كښي دى (له اخلاص او نفاق څخه ﴿وَلِيُمَحِّصَ مَا فِى قُلُوبِكُمْ﴾ (او لپاره ددي چي ښكاره كړي هغه شي چي په زړونو ستاسي كښي دي) يعنى پاک او چاڼ يې كړي ﴿وَٱللَّهُ عَلِيمٌۢ بِذَاتِ ٱلصُّدُورِ﴾ (او الله ښه عالم دي په هغو خبرو چي په سينو كښي پرتې دى) يعنى الله په پټو رازونو او د سينو په خوندى ساتل شويو خبرو خبردار دي چي خيردى او كه شر بيا الله هغه كسان ذكر كوى چي په أحد كښي يې ماتى خوړلې او فرمايې:

﴿إِنَّ ٱلَّذِينَ تَوَلَّوْا۟ مِنكُمْ﴾ بيشكه هغه كسان له تاسي چي وګرزيدل دوئ (له جنګ څخه ﴿يَوْمَ ٱلْتَقَى ٱلْجَمْعَانِ﴾ (په هغې ورځ چي مخامخ شول سره دواړه پوځونه) يعنى د مسلمانانو او د مشركانو ډلي ﴿إِنَّمَا ٱسْتَزَلَّهُمُ ٱلشَّيْطَـٰنُ بِبَعْضِ مَا كَسَبُوا۟﴾ بيشكه هم دا خبره ده چي ښويولي وو دوئ شيطان په سبب (دشامت) دځيني هغو ګناهونو چي كړي وو دوئ) او هغه مخالفت دامر د رسول الله ﷺ وو ﴿وَلَقَدْ عَفَا ٱللَّهُ عَنْهُمْ﴾ او خامخا په تحقيق سره عفوه كړې دى الله دوئ ته له ګناه څخه يې تېرشوي دي ﴿إِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٌ حَلِيمٌ﴾ بيشكه الله ښه مغفرت كونكى ښه تحمل كونكى دى) يعنى مغفرت يې پراخ دي او څوک چي ځينى سرغړونه وكړي حليم دي سمدستي يې سزا نه كوي بيا الله پاک په منافقينو پسى د قول او عمل له

---

[1] - تفسير القرطبى ۴ / ۲۴۲

اقتداء کولو څخه منع فرمایلی ده وایي﴿ يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَكُونُواْ كَٱلَّذِينَ كَفَرُواْ ﴾ (اي هغو کسانو چي ایمان یې راوړی دی (اي مؤمنانو) لکه کافران داسی مه کیږئ) یعنی لکه منافقین غوندي﴿ وَقَالُواْ لِإِخۡوَٰنِهِمۡ إِذَا ضَرَبُواْ فِي ٱلۡأَرۡضِ ﴾ (او ویل به دوئ (په حق دورونو خپلو کښي کله چي به سفر ته وتل دوئ په ځمکه کښي) یعنی دوئ به د خپلو منافقینو په هکله چي به سفرته تللی وو داسی ویل ﴿ أَوۡ كَانُواْ غُزّٗى ﴾ یا به وو دوئ غزاکونکی (په لاره دالله کښي) ﴿ لَّوۡ كَانُواْ عِندَنَا مَا مَاتُواْ وَمَا قُتِلُواْ ﴾ (که چیري وي دوئ په نزد زموږ کښي نونه به وو مړه شوي دوئ او نه به قتل کړي شوي وو الله تعالی د دوئ په رد کښي فرمایي: ﴿ لِيَجۡعَلَ ٱللَّهُ ذَٰلِكَ حَسۡرَةٗ فِي قُلُوبِهِمۡۗ ﴾ (د پاره د دې چي وګرزوی الله (دا ګومان) حسرت (ارمان) په زړونو د دوئ کښي) یعنی دوئ به دا ویل ترڅو چي دغه فاسد اعتقاد د دوئ په زړونو کښي افسوس پاتي شي﴿ وَٱللَّهُ يُحۡيِۦ وَيُمِيتُۗ ﴾ (او الله ژوندی کول او مړه کول کوي) دا د دوئ په فاسد اعتقاد باندی رددی یعنی الله یې وژنی او ژوندی کوی په کور کښي کیناستل مرګ نشی منع کولای ﴿ وَٱللَّهُ بِمَا تَعۡمَلُونَ بَصِيرٞ ﴾ (او الله پر هغو تولو شیانو چي تاسي یې کوئ ښه لیدونکي دی پر هغو به جزا درکړي ﴿ وَلَئِن قُتِلۡتُمۡ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ ﴾ او خامخا که ووژل شوئ تاسي په لاره دالله کښي﴿ أَوۡ مُتُّمۡ ﴾ یا مړه شوئ پداسی حال کښي چي تاسو له دوئ سره د جنګ قصد درلود ﴿ لَمَغۡفِرَةٞ مِّنَ ٱللَّهِ وَرَحۡمَةٌ خَيۡرٞ مِّمَّا يَجۡمَعُونَ ﴾ (نو خامخا مغفرت له جانبه دالله او رحمت خیر دي له هغو(مالونو) چي دوئ یې جمع کوي) یعنی په دنیا کښي ترپاتی کیدلو او د مالونو تر راتولولو دالله مغفرت بهتر دی ﴿ وَلَئِن مُّتُّمۡ أَوۡ قُتِلۡتُمۡ لَإِلَى ٱللَّهِ تُحۡشَرُونَ ﴾ او که مړه شوئ تاسي یا ووژل شي تاسي نو خامخا به الله ته را جمع کړی شي تاسي) یعني که په خپله کمپله مړه شوي یا د جنګ په ډګر کښي ووژل شوي نو ستاسو مرجع الله ته دی تاسو ته به پخپلو اعمالو جزا درکړي نو هغه څه غوره کړئ چي الله ته مونژ دي کړی او دهغه د رضا موجب وی لکه فی سبیل الله جهاد او د هغه په طاعت باندی عمل کول شاعر وایي:

فان تکن الأبدان للموت انشئت ❁ فقتل أمرئ بالسیف فی الله افضل . که چیري بدنونه د مرګ لپاره پیداوي ؟ نو د سړی وژل کیدل په توره دالله په لار کښي افضل دی.

بلاغت:

۱ - (یردوکم علی اعقابکم) پدی کښي استعاره ده څکه معنا یې ده چي ګرزوی مو له ایمان څخه کفرته او پخوایې هم مثال تېرشوی دی.

۲ – په مابین دلفظ د(آمنوا) او(کفروا) کښي همدارازد(یخفون) او(یبدون) او(فاتکم) او(اصابکم) ترمنځ د طباق صنعت دی چي د بدیعي محسناتو څخه ګڼل کیږي.

Bawar.net

۳-(وبئس مثوى الظالمين)ابو السعود وايي دلته يې هسې ونه ويل چي (وبئس مثواهم) بلكه ظاهر يې دضمير پر ځاي غوره كړچي ددوئ په شان كښي تغليظ اوبل ددې خبرې سپيناوي وشي چي دوئ ظالمان دی ځكه دوئ وضع دشي په غيرموضع كښي كوى او مخصوص بالذم محذوف دی چي اصلا: (بئس مثوى الظلمين النار) دی.[1]

۴-(ذوفضل على المؤمنين) دلته تنكير دتفخيم لپاره دي اوپدی قول كښي چي: (على المؤمنين) يې وويل او عليهم يې نه راووړ دلته اظهار داضمار پرځاى دتشريف لپاره راغلى اودحكم علت بيانوى.

۵-كله چي فرمايي (يظنون بالله غيرالحق ظن) ددي كلماتو ترمينځ داشتقاق جناس موجوددي.

۶-(واذا ضربوا فى الارض) پدي كښي استعاره ده ځكه په بيديا كښي سفركونكي يې دسيند اوبحر له لامبو وهونكوسره تشبيه كړي اودسيند لامبوزن ته ضارب ځكه وايي چي هغه لاس او پښي وهي چي ځان ته لاره وباسي همداخبره تلخيص البيان راوړی ده.[2]

ګټي اوفائدي:

لومړی فائده : له هغو كسانوچي په أحدكښي زمرى غوندى ثابت قدم وويو يې(انس بن نضر) دحضرت انس كاكا وو كله چي مسلمانان مات شول اومنافقينو دا آوازه خپره كړه چي محمد ووژل شونوده وويل : اى الله دي كسانو(مسلمانانو) چي څه وكړل زه ددوئ څخه عذر درته وړاندى كوم ،اوبيزاري څرګندوم له دي كسانو (مشركانو) څخه چي څه يې وكړل اوبيا كښلي توره راوړاندى شوسعد بن معاذ ورسره مخامخ شوده ورته وويل چيري ځي ؟ زمادي په الله قسم وي چي دجنت بوى أحدله هغې خوا راځي نوور اندى ولاړاو شهيد شو كفارو يې مثلت وكړ هيچانه پيژانده يوازي خوريې دګوتو په سرونو وپيژاند اوپه تن كښي يې څه دپاسه اتيا زخمونه اوپرهارونه جوړ شوي وو.[3]

دوهمه فائده : ابن كثيرله ابن مسعود څخه روايت كوي چي دأحدپه غزا كښي ميرمنو دنارينه وو له شاد مشركينو دزخميانو اجهاز(وژل) كول كه لوړه قسم مي كړي واي اميدمي درلود چي پكښي زښتونى به وم داچي هغه ورځ هيچا هم ددنيا غوښتنه نه درلوده ترڅوچي الله دا آيت نازل كړ(منكم من يريد الدنيا ومنكم من يريد الآخرة) كله چي رسول الله اصحابانو(دغره دوت غيشى ويشتونكو) مخالفت وكړ اوله امر څخه يې سرغړونه وكړه نورسول الله له نهو تنوسره پاتى شوچي رسول الله يې لسم وو كله چي (مشركانو) رسول الله محاصره كړنورسول الله داسى وويل په هغه چادي رحمت وي چي دغه (مشركان) له موږ څخه وشړي ترهغويې داويل څواوه تنه مړه شول بيا يې وكتل چي دحضرت حمزه مباركه ګيډه يې څيرلى (اوهندې) يې اينه (ځيګر) په غاښونو ځپښلي وه چي دخوړلو توان يې نه درلود اورسول الله وراندى سخت خواشينى شو اويا المنځونه يې ورباندي وګذارل.

---

[1] - ابو السعود ۱/۲۹۲

[2] - تلخيص البيان ص۲۲

[3] - انظر قصته فى البخارى

الله تعالى فرمايي:

﴿ فَبِمَا رَحْمَةٍ مِّنَ ٱللَّهِ لِنتَ لَهُمْ ۖ وَلَوْ كُنتَ فَظًّا غَلِيظَ ٱلْقَلْبِ لَٱنفَضُّوا۟ مِنْ حَوْلِكَ ۖ فَٱعْفُ عَنْهُمْ وَٱسْتَغْفِرْ لَهُمْ
وَشَاوِرْهُمْ فِى ٱلْأَمْرِ ۖ فَإِذَا عَزَمْتَ فَتَوَكَّلْ عَلَى ٱللَّهِ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ يُحِبُّ ٱلْمُتَوَكِّلِينَ ﴿١٥٩﴾ إِن يَنصُرْكُمُ ٱللَّهُ فَلَا غَالِبَ لَكُمْ ۖ وَإِن
يَخْذُلْكُمْ فَمَن ذَا ٱلَّذِى يَنصُرُكُم مِّنۢ بَعْدِهِۦ ۗ وَعَلَى ٱللَّهِ فَلْيَتَوَكَّلِ ٱلْمُؤْمِنُونَ ﴿١٦٠﴾ وَمَا كَانَ لِنَبِىٍّ أَن يَغُلَّ ۚ وَمَن يَغْلُلْ
يَأْتِ بِمَا غَلَّ يَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ ۚ ثُمَّ تُوَفَّىٰ كُلُّ نَفْسٍ مَّا كَسَبَتْ وَهُمْ لَا يُظْلَمُونَ ﴿١٦١﴾ أَفَمَنِ ٱتَّبَعَ رِضْوَٰنَ ٱللَّهِ كَمَنۢ بَآءَ
بِسَخَطٍ مِّنَ ٱللَّهِ وَمَأْوَىٰهُ جَهَنَّمُ ۚ وَبِئْسَ ٱلْمَصِيرُ ﴿١٦٢﴾ هُمْ دَرَجَٰتٌ عِندَ ٱللَّهِ ۗ وَٱللَّهُ بَصِيرٌۢ بِمَا يَعْمَلُونَ ﴿١٦٣﴾ لَقَدْ مَنَّ ٱللَّهُ
عَلَى ٱلْمُؤْمِنِينَ إِذْ بَعَثَ فِيهِمْ رَسُولًا مِّنْ أَنفُسِهِمْ يَتْلُوا۟ عَلَيْهِمْ ءَايَٰتِهِۦ وَيُزَكِّيهِمْ وَيُعَلِّمُهُمُ ٱلْكِتَٰبَ
وَٱلْحِكْمَةَ وَإِن كَانُوا۟ مِن قَبْلُ لَفِى ضَلَٰلٍ مُّبِينٍ ﴿١٦٤﴾ أَوَلَمَّآ أَصَٰبَتْكُم مُّصِيبَةٌ قَدْ أَصَبْتُم مِّثْلَيْهَا قُلْتُمْ أَنَّىٰ
هَٰذَا ۖ قُلْ هُوَ مِنْ عِندِ أَنفُسِكُمْ ۗ إِنَّ ٱللَّهَ عَلَىٰ كُلِّ شَىْءٍ قَدِيرٌ ﴿١٦٥﴾ وَمَآ أَصَٰبَكُمْ يَوْمَ ٱلْتَقَى ٱلْجَمْعَانِ فَبِإِذْنِ ٱللَّهِ وَلِيَعْلَمَ
ٱلْمُؤْمِنِينَ ﴿١٦٦﴾ وَلِيَعْلَمَ ٱلَّذِينَ نَافَقُوا۟ ۚ وَقِيلَ لَهُمْ تَعَالَوْا۟ قَٰتِلُوا۟ فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ أَوِ ٱدْفَعُوا۟ ۖ قَالُوا۟ لَوْ نَعْلَمُ قِتَالًا لَّٱتَّبَعْنَٰكُمْ ۗ هُمْ
لِلْكُفْرِ يَوْمَئِذٍ أَقْرَبُ مِنْهُمْ لِلْإِيمَٰنِ ۚ يَقُولُونَ بِأَفْوَٰهِهِم مَّا لَيْسَ فِى قُلُوبِهِمْ ۗ وَٱللَّهُ أَعْلَمُ بِمَا يَكْتُمُونَ ﴿١٦٧﴾ ٱلَّذِينَ
قَالُوا۟ لِإِخْوَٰنِهِمْ وَقَعَدُوا۟ لَوْ أَطَاعُونَا مَا قُتِلُوا۟ ۗ قُلْ فَٱدْرَءُوا۟ عَنْ أَنفُسِكُمُ ٱلْمَوْتَ إِن كُنتُمْ صَٰدِقِينَ ﴿١٦٨﴾ ﴾

آل عمران: ۱۵۹ - ۱۶۸

مناسبت اوتړاو:

همداسی لا آیتونه د(أحد) دغزا خبرې کوی الله پاک دمسلمانانوماتی بیان کړه اوهغه دغم خپگان اوپریشانی چي یوه په بل پسي ورته ورسیده نوددوئ لپاره یې ددرملنې ځای اودرمل وروښودل اوپدې آیتونوکښي چي اوس یې تفسیرلولودحکیمانه قیادت ستاینه کوي سره له دې چي ځینواصحابانودرسول الله ﷺ له اوامروڅخه مخالفت وکړخودرسول الله ﷺ دښوصفاتو، مهربانی اوزړه سواند توب دانتیجه وه چي دوئ ته یې په سخته وینا خطاب ونکړبلکه په نرمه لهجه اوپسته ژبه یې ورته خبره وکړه ځکه نوزړونه ذده ددعوت اوبلنی په خواوشاراټول شول دده قیادت یې ومانونودا آیتونه دنبوي اخلاقواودالله ﷻ دهغه ستراحسان بیان کوي چي دداسی مهربانه دحکمت خاوندقائدبعثت یې په نړۍ ولوراوه اوهم داسی دکیسې نوری مهمې پیښني بیانوي.

لغتونه:

(فظا) بدخویه واحدی وایې چي هغه غلیظ ته وایې. (غلیظ القلب) سخت زړه چي څه شي وربا ندی اغیزنکوي.(انفضوا) تیت اوپرک شوي وو(فض)اصل ماتیدلوته وایې لکه چي وایې (لایفضض الله فاک) یعنی خوله دی الله مه ماتوه (یغل) له غلول څخه اخیستل شوي اوخیانت ته وایې اصل یې په پټه یوشي اخیستلوته وایی لکه چي وایې: (فلانی په غنیمت کښي غلول وکړ) یعنی څه یې تری پټ کړل

(باء) وګرزيدو (سخط) سخت قهر او غضب ته وايي (مأوىٰ) دهستوګنی ځای (يزكيهم) دوی به پاک کړی (من) منت او احسان ته وايي (فادرأوا) دفع کړئ او له دې څخه دی (ويدرء عنها العذاب).

دنزول سبب:

يو سور څادر دبدر دغزا په ورځ له غنيمت څخه ورک شو ځينو اصحابانو وويل : ښايي نبي ﷺ به اخيستي وي نو الله ﷺ دا آيت نازل کړ: (ماكان للنبي ان يغل...) ([1])دا آيت تر پايه.

تفسير:

﴿ فَبِمَا رَحْمَةٍ مِّنَ ٱللَّهِ لِنتَ لَهُمْ ﴾ (نو په سبب د رحمت الله (چي پر تا شوي دي (ای محمده) نرمي کوي ته دوئ ته) يعنی په سبب دهغه رحمت دالله ﷺ چی ستا په زړه کښي يې خوندی کړی دی ته له اصحابانو سره نرمي کوي سره له دې چي دوئ ستاله حکم څخه سرغړونه کوي او ستاله امر څخه يې مخالفت کړی دی ﴿ وَلَوْ كُنتَ فَظًّا غَلِيظَ ٱلْقَلْبِ لَٱنفَضُّوا۟ مِنْ حَوْلِكَ ﴾ او که وای ته (ای محمده) بد خوي سخت زړه نو ارومرو به تا رپه تار شوي وو (اصحاب) له چاپيره ستا څخه) يعنی که چيری ته په طبيعت کښي پوچ او په زړه کښي سخت وای له دوئ سره دی په غلظت او جفا معامله کولای ستاله خوا وشا به تښتيدلی وو او څرنګه چي فظاظت په کلام کښي او غلظت او قساوت د زړه له خواصو څخه وو دوا ړه يې نفی کړل

﴿ فَٱعْفُ عَنْهُمْ وَٱسْتَغْفِرْ لَهُمْ وَشَاوِرْهُمْ فِى ٱلْأَمْرِ ﴾ (نو عفو (او بخشش) وکړه له دوئ نه (د دوئ له تجاوز نه پر تا) او مغفرت وغواړه (له الله نه) دوئ ته (د تقصيراتو د دوئ) او مشوره وکړه له دوئ سره) په ټولو امورو کښي چي خلک په تا پسی اقتداء وکړي ، حسن رحمه الله وايي چي: هر قوم چي مشوره کړي هغوئ هر و مرو هغه د دوئ په ګټه لوری ته (الله) رهبري کړی دی([2]) او رسول الله ﷺ به له اصحابانو سره ډير ځله مشوره کوله ﴿ فَإِذَا عَزَمْتَ فَتَوَكَّلْ عَلَى ٱللَّهِ ﴾ نو کله چي دي ټينګه اراده وکړه (ای محمده) د يو کار د کولو) نو توکل (اعتماد) وکړه په الله باندی او وسپاره خپل کار هغه ته ﴿ إِنَّ ٱللَّهَ يُحِبُّ ٱلْمُتَوَكِّلِينَ ﴾ بيشکه الله خوښوي توکل کونکي چي خپل امور هغه ته وسپاري ﴿ إِن يَنصُرْكُمُ ٱللَّهُ فَلَا غَالِبَ لَكُمْ ﴾ که مرسته وکړي له تاسي سره (الله) نو نشته (هيڅ) غالب پر تاسي باندی ﴿ وَإِن يَخْذُلْكُمْ فَمَن ذَا ٱلَّذِى يَنصُرُكُم مِّنۢ بَعْدِهِۦ ﴾ (او که مرسته ونه فرمايي له تاسي سره نو څوک دي هغه چي مرسته به وکړي له تاسي سره وروسته له هغه (خذلان) دالله ؟ يعنی که الله ستاسي دخذلان او معاونت نه کولو اراده وکړی بيا نو ستاسو مرستندوئ نشته يعنی دبدر مرسته او دأحد ماتې دالله په خوښه او اراده وه عزت او بری ، ماتې او سپکاوي دالله ﷺ په لاس کښي دی ﴿ وَعَلَى ٱللَّهِ فَلْيَتَوَكَّلِ ٱلْمُؤْمِنُونَ ﴾ (او خاص پر الله دی پس توکل وکړي مؤمنان) او هغه ته دی پناه يوسي ﴿ وَمَا كَانَ لِنَبِىٍّ أَن يَغُلَّ ﴾ او نه ښايي هيڅ نبی ته چي څه شي پټ

[1] - اسباب النزول للواحدي ص۷۲

[2] - الطبری ۷ / ۳۳۴

کړي) يعنى داخبره شرعًا اوعقلاً ممنه ده چي يونبى له انبياووڅخه په غنيمت کښي غلول وکړي دلته نفى دشان لپاره ده نه نفى دفعل معنايې داچي ددي هيڅ تصورلانشي کيداى څه خوچي فعل يې واقع شي ﴿ وَمَن يَغْلُلْ يَأْتِ بِمَا غَلَّ يَوْمَ الْقِيَامَةِ ﴾ (اوهرڅوک چي څه شي پټوي نورابه شي (داپټونکي) په هغه سره چي ده پټ کړي وي په ورځي دقيامت کښي) يعنى هغه به يې په غاړه را اخيستى وي ترڅودخلکوپه وړاندى رسواشي ﴿ ثُمَّ تُوَفَّىٰ كُلُّ نَفْسٍ مَّا كَسَبَتْ ﴾ بيا به پوره ورکړى شي هرنفس ته (جزاء) دهغه عمل چي کړى وي ده ﴿ وَهُمْ لَا يُظْلَمُونَ ﴾ (اوپردوئ به ظلم ونکړي شي) يعنى عادلانه جزابه پرته له زياتوالى اوکمبود څخه ورکول شى نه به دګنهګارعذاب څه زيات شى اونه به دعبادت کونکى ثواب څه کم شي ﴿ أَفَمَنِ اتَّبَعَ رِضْوَانَ اللَّهِ كَمَن بَاءَ بِسَخَطٍ مِّنَ اللَّهِ ﴾ آيانوهغه څوک چي متابعت کوي دالله په شان دهغه چادى چي بيرته راشى په قهر سره له طرفه دالله تعالى ؟ يعنى آيا نو دى لکه هغه څوک داسى دي چي دالله دقهر او غضب مورد وګرځي معناداچي برابرنه دى هغه څوک چي دالله رضاغواړى اوطاعت يې کوي اوهغه چي عصيان اوسرغړونه کوي اودالله قهراوغضب مستحق وي ﴿ وَمَأْوَاهُ جَهَنَّمُ وَبِئْسَ الْمَصِيرُ ﴾ اوځاى دده دوزخ دى ، اوبدځاى دورتلودى (دادوزخ) ﴿ هُمْ دَرَجَاتٌ عِندَ اللَّهِ ﴾ دوئ خاوندان دمتفاوتودرجودى په نزدالله ﷻ طبرى وايې چي ددوئ منزلونه اودرجې مختلفي دى څوک چي دالله ﷻ رضاغواړى کرامت اوډيرثواب يې شته اوڅوک چي دالله دقهرمستحق وي سپکاوي خوارى اودردناک عذاب به ورکول کيږي[1] ﴿ وَاللَّهُ بَصِيرٌ بِمَا يَعْمَلُونَ ﴾ اوالله ښه ليدونکي دي په هغوشيانو(هم) چي دوئ (يې) کوي نوبه جزاورکړي. بيا الله تعالى هغه ستر نعمت چي دخاتم المرسلين بعثت دى داسى بيانوي ﴿ لَقَدْ مَنَّ اللَّهُ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ إِذْ بَعَثَ فِيهِمْ رَسُولًا مِّنْ أَنفُسِهِمْ ﴾ (خامخاپه تحقيق احسان کړى دى الله پرمؤمنانوباندى کله چي يې مبعوث کړپه دوئ (مؤمنانو) کښي رسول له جنس ددوئ نه) هوپه خداى قسم چي په تحقيق سره الله په مؤمنانونعمت کړي چي دوئ ته يې عربى استازي (پيغمبر) ددوئ له جنس څخه چي دوئ ته ښه معلوموُراواستاوه ، الله پاک دمؤمنانويادونه په ځانګړى توګه وکړه چي هغوئ دده په بعثت نفع اخيستونکي ووکه نه هسى خورسول الله رحمت للعالمين دى ﴿ يَتْلُوا عَلَيْهِمْ آيَاتِهِ ﴾ (لولى پردوئ باندى آيتونه دالله) چي نازل شوي وحى ده ﴿ وَيُزَكِّيهِمْ ﴾ اوله ګناهونويې پاکوي ﴿ وَيُعَلِّمُهُمُ الْكِتَابَ وَالْحِكْمَةَ ﴾ اوښيې دوئ ته کتاب (قرآن) اوحکمت (نبوي پاکيزه سنت) ﴿ وَإِن كَانُوا مِن قَبْلُ لَفِي ضَلَالٍ مُّبِينٍ ﴾ اوشان دادى ووددوئ له دې نه پخواهرومروپه ګمراهي ښکاره کښي بياله تاريکي څخه نورانيت ته وليږديدل اوترټولوامتونوافضل اوغوره شول ﴿ أَوَلَمَّا أَصَابَتْكُم مُّصِيبَةٌ ﴾ (آياکله چي دوررسيد تاسي ته (په

---

[1] - الطبرى ۷ / ۳۶۷

أحد كښي له كفارو څخه) يو مصيبت) چي اوياتنه مووژل شول ﴿ قَدْ أَصَبْتُم مِّثْلَيْهَا ﴾ (په تحقيق سره رسولی وو تاسي (كفارو ته په بدر كښي) دوه چنده له دي غمه) چي اوياتنه مووژل او ياتنه مو په اسارت ونيول ﴿ قُلْتُمْ أَنَّىٰ هَٰذَا ﴾ نو ويل تاسي له كومه دا (غم راغی موږ ته) ؟ يعنی ولې موماتې وخوړه او دمرستې وعده راكول شوی وه ؟ دلته دتقريع (تكولو) موجب ددوئ داخبره ده چي (أنىٰ هذا) څكه دوئ په خپله دماتې سبب وو ﴿ قُلْ هُوَ مِنْ عِندِ أَنفُسِكُمْ ﴾ (ووايه (ای محمده دوئ ته !) چي دامصيبت او تكليف) له جانبه دنفسو نوستاسي دي) يعنی دمصيبت سبب ستاسو دپيغمبر له امر څخه معصيت او دولجې او غنيمت حرص وو ﴿ إِنَّ اللَّهَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ ﴾ (بيشكه الله په هرشي باندی (چي اراده وفرمايې) ښه قادردی) يعنی هغه څه كوی چي خوښه يې شي دهغه دحكم په وړاندې هيڅ شي خنډ كيدلای نشی اونه يې قضا په شا تمبولی شي ﴿ وَمَا أَصَابَكُمْ يَوْمَ الْتَقَى الْجَمْعَانِ فَبِإِذْنِ اللَّهِ ﴾ او هغه (غم) چي دررسيدلی دی تاسي ته په هغې ورځې كښي چي سره يوځای شو دوه پوځونه پس هغه په اذن (حكم) دالله سره ه وو) يعنی هغه ورځ چي دوه پوځونه دمسلمانانو او مشركانو سره يوځای او تاسي ته غم ورسيدو دا دالله په قضا او قدر او ازلی ارادې باندی دحكمت نه ډكه فيصله وه ترڅو مؤمنان له منافقانو څخه جلا كړي ﴿ وَلِيَعْلَمَ الْمُؤْمِنِينَ ﴾ اولپاره ددي چي معلوم (ښكاره) كړي (الله) مؤمنان هغه چي صبر، استقامت او په سنګر كښي ټينګاريې درلود ﴿ وَلِيَعْلَمَ الَّذِينَ نَافَقُوا ۚ وَقِيلَ لَهُمْ تَعَالَوْا قَاتِلُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ أَوِ ادْفَعُوا ۖ ﴾ اوبل لپاره ددي ووچي معلوم (ښكاره) كړی (الله) هغه كسان چي نفاق يې كړی وو او وويل شودغو (منافقينو)ته چي راځئ غزا وكړئ په لاره دالله كښي اويامدافعه وكړئ) يعنی چي معلوم كړي الله منافقين لكه عبدالله ابن ابی ابن سلول او دده ملګری هغوئ چي دأحد په ورځ له رسول الله څخه بيرته راستانه شول او ددری سوه تنه په شا وخوا كښي وو مؤمنانو ورته وويل چي راشئ له مشركانو سره جنګ وكړئ اويا پخپله ډله باندی زموږ شميرزيات كړئ ﴿ قَالُوا لَوْ نَعْلَمُ قِتَالًا لَّاتَّبَعْنَاكُمْ ﴾ نو ويل دی(منافقانو) كه موږ پوهيدلاي چي درسره جنګ كيږي نو هرومرو به موږ ستاسي متابعت كړی وو خو موږ داګومان نه كوو چي جنګ دي پيښ شي ﴿ هُمْ لِلْكُفْرِ يَوْمَئِذٍ أَقْرَبُ مِنْهُمْ لِلْإِيمَانِ ۚ ﴾ دوئ كفرته په دغې ورځي كښي (چي دغه خبره يې كوله) ډير نژدی وو له دوئ نه په نسبت سره دايمان ﴿ يَقُولُونَ بِأَفْوَاهِهِم مَّا لَيْسَ فِي قُلُوبِهِمْ ۗ ﴾ وايې دوئ په خولو خپلو سره هغه چي نشته (پري تصديق)په زړونو ددوئ كښي ﴿ وَاللَّهُ أَعْلَمُ بِمَا يَكْتُمُونَ ﴾ او الله ښه پوه دی په هغه څه چي پټوی يې دوئ له نفاق او شرك څخه ﴿ الَّذِينَ قَالُوا لِإِخْوَانِهِمْ وَقَعَدُوا ﴾ (هغه منافقان) چي ويل يې په (حق) دوروڼو خپلو كښي حال داچي دوئ پخپله ناست وو) يعنی بل داچي معلوم كړي الله هغه منافقين چي دوي پخپله ناست وو او ددوئ په شان وروڼو ته يې ويل: ﴿ لَوْ أَطَاعُونَا مَا قُتِلُوا ﴾ كه دوئ (دأحد غازيانو) زموږ خبرې منلي

وای نونه به وووژل شوي يعنی ويل به يې که مؤمنانو زموږ نصيحت منلی وای اوزموږ په شان راستانه شوي وای هلته به دوئ وژل شوي نه وو ﴿ قُلْ فَادْرَءُوا عَنْ أَنفُسِكُمُ الْمَوْتَ إِن كُنتُمْ صَادِقِينَ ﴾ (ووايه (اي محمده! دوئ ته) نوليري کړئ تاسي له خپلوځانونوڅخه مرګ که يي تاسي ربښتينی) يعنی دي منافقينوته ووايه که چيري نه وتل ،له مرګ څخه څوک ژغوری نوتاسوله خپلوځانونوڅخه مرګ دفع کړئ که ربښتياويونکي ياست پدي دعوی کښي اوغرض له دې څخه توبيخ اوددوئ چپ کول دي چې مرګ خامخاراتلونکي دي که څه هم تاسو په لوړومضبوطو برجونو کښي ناست ياست.

بلاغت:

۱ -(ان ينصركم الله)او(ان يخذلكم الله) ددي دواړوترمنځ تقابل صنعت دی چي دبديعی محسناتو څخه ګڼل کيږي.

۲ – پدی کلام کښي چي فرمايي (وعلى الله فليتوكل) جاراومجرور ړومبی شوي چي حصرافاده کړي.

۳–(وماكان لنبی ان يغل) دلته نفی دشان دی، نه دفعل ځکه هغه ابلغ ګڼل کيږي يعنی نه ښايي اونه سمه ده چي نبی ﷺ څه پټ کړي.

۴ – پدی قول کښي چي (افمن اتبع رضوان الله كمن بآء بسخط من الله) ابوحيان وايې چي دايره بديعه خوندوره استعاره ده چي دالله شريعت يې لکه هغه دليل غوندی ګرځولی چي څوک وربانديلاره مومی هغه چي متابعت يی کوی اوګنهګاريې له هغه چاسره مشابه کړي چي ديوشی دپيروي کولوامرورته وشي خوهغه يې پيروي نه کوي اوله هغه پرته راوګرزي.[1]

۵- (بسخط من الله) تنكيردتهويل لپاره دی يعنی دومره سترقهراوغصه چي وصف يی نشي کيدای.

۶–پدی جمله کښي چي الله پاک فرمايي: (هم درجات) دلته دمضاف حذف شوي يعنی (ذودرجات متفاوتة) ځکه دمؤمن درجه لوړه اودکافرښکته ده.[2]

۷–پدی جملو کښي چي: (للكفر..وللايمان) او(يبدون...ويخفون) د طباق صنعت دی.

۸ –(اصابتكم مصيبة) دلته اشتقاقی جناس دی اوهغه له بديعی محسناتو څخه ګڼل کيږي.

تنبيه:

پدی آيت کښي چي فرمايي: (فبمارحمة من الله لنت لهم) ددي دلالت دي چي زموږ نبی په مكارم الاخلاق سره ځانګړی شوي دی اوعجيبه خوداده چي رسول الله ﷺ ترټولوخلګوزيات دسترتوب ښي اوخويونه درلودل خوله دی سره سره بياهم تواضع ته زيات نژدي ووهغه ترټولوخلګوپه نسب کی اشرف او په حسب کی زيات وو عمل يی پاکيزه او په سخاوت اوکرم کښي نوميالی په بيان کښي ترټولوفصيح وواوداګرد دسترتوب اوعظمت دواعی اوبلونکي دی خوبيايې تواضع دومره وه چي جامه به يې پخپله

---

[1] - البحرالمحيط

[2] - تلخيص البيان ص۲۲

کښله پنې ، خپلی به یې رغولې په خره به یې سورلی کوله په مځکه به کښیناستل اودمریې دعوت او بلنه به یې منله (صلوات الله وسلامه علیه) هغه ، رونبانه (بل)څراغ او دښوخویونوفضائلواومکارمو (نیکو خویونو)څپاند سمندر وو(اللهم صل وسلم وبارک علیه) .

فائده:

په الله پاک باندی توکل کول له دووسببونوخوراسترمقام دی یوداچي الله ورسره مینه کوي چي فرمایي (ان الله یحب المتوکلین) اوبل داچي دالله په ساتنه کښي یې ضمانت شوی چي فرمایي (ومن یتوکل علی الله فهوحسبه).

الله تعالی فرمایي:

﴿ وَلَا تَحْسَبَنَّ ٱلَّذِينَ قُتِلُوا۟ فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ أَمْوَٰتًۢا ۚ بَلْ أَحْيَآءٌ عِندَ رَبِّهِمْ يُرْزَقُونَ ﴿١٦٩﴾ فَرِحِينَ بِمَآ ءَاتَىٰهُمُ ٱللَّهُ مِن فَضْلِهِۦ
وَيَسْتَبْشِرُونَ بِٱلَّذِينَ لَمْ يَلْحَقُوا۟ بِهِم مِّنْ خَلْفِهِمْ أَلَّا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ ﴿١٧٠﴾ ۞ يَسْتَبْشِرُونَ بِنِعْمَةٍ مِّنَ
ٱللَّهِ وَفَضْلٍ وَأَنَّ ٱللَّهَ لَا يُضِيعُ أَجْرَ ٱلْمُؤْمِنِينَ ﴿١٧١﴾ ٱلَّذِينَ ٱسْتَجَابُوا۟ لِلَّهِ وَٱلرَّسُولِ مِنۢ بَعْدِ مَآ أَصَابَهُمُ ٱلْقَرْحُ ۚ لِلَّذِينَ
أَحْسَنُوا۟ مِنْهُمْ وَٱتَّقَوْا۟ أَجْرٌ عَظِيمٌ ﴿١٧٢﴾ ٱلَّذِينَ قَالَ لَهُمُ ٱلنَّاسُ إِنَّ ٱلنَّاسَ قَدْ جَمَعُوا۟ لَكُمْ فَٱخْشَوْهُمْ فَزَادَهُمْ إِيمَٰنًا
وَقَالُوا۟ حَسْبُنَا ٱللَّهُ وَنِعْمَ ٱلْوَكِيلُ ﴿١٧٣﴾ فَٱنقَلَبُوا۟ بِنِعْمَةٍ مِّنَ ٱللَّهِ وَفَضْلٍ لَّمْ يَمْسَسْهُمْ سُوٓءٌ وَٱتَّبَعُوا۟ رِضْوَٰنَ ٱللَّهِ ۗ وَٱللَّهُ
ذُو فَضْلٍ عَظِيمٍ ﴿١٧٤﴾ إِنَّمَا ذَٰلِكُمُ ٱلشَّيْطَٰنُ يُخَوِّفُ أَوْلِيَآءَهُۥ فَلَا تَخَافُوهُمْ وَخَافُونِ إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ ﴿١٧٥﴾ وَلَا يَحْزُنكَ ٱلَّذِينَ
يُسَٰرِعُونَ فِى ٱلْكُفْرِ ۚ إِنَّهُمْ لَن يَضُرُّوا۟ ٱللَّهَ شَيْـًٔا ۗ يُرِيدُ ٱللَّهُ أَلَّا يَجْعَلَ لَهُمْ حَظًّا فِى ٱلْءَاخِرَةِ ۖ وَلَهُمْ عَذَابٌ عَظِيمٌ ﴿١٧٦﴾ إِنَّ
ٱلَّذِينَ ٱشْتَرَوُا۟ ٱلْكُفْرَ بِٱلْإِيمَٰنِ لَن يَضُرُّوا۟ ٱللَّهَ شَيْـًٔا وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿١٧٧﴾ وَلَا يَحْسَبَنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓا۟ أَنَّمَا نُمْلِى لَهُمْ
خَيْرٌ لِّأَنفُسِهِمْ ۚ إِنَّمَا نُمْلِى لَهُمْ لِيَزْدَادُوٓا۟ إِثْمًا ۚ وَلَهُمْ عَذَابٌ مُّهِينٌ ﴿١٧٨﴾ مَّا كَانَ ٱللَّهُ لِيَذَرَ ٱلْمُؤْمِنِينَ عَلَىٰ مَآ أَنتُمْ عَلَيْهِ
حَتَّىٰ يَمِيزَ ٱلْخَبِيثَ مِنَ ٱلطَّيِّبِ ۗ وَمَا كَانَ ٱللَّهُ لِيُطْلِعَكُمْ عَلَى ٱلْغَيْبِ وَلَٰكِنَّ ٱللَّهَ يَجْتَبِى مِن رُّسُلِهِۦ مَن يَشَآءُ ۖ فَـَٔامِنُوا۟ بِٱللَّهِ وَرُسُلِهِۦ ۚ
وَإِن تُؤْمِنُوا۟ وَتَتَّقُوا۟ فَلَكُمْ أَجْرٌ عَظِيمٌ ﴿١٧٩﴾ وَلَا يَحْسَبَنَّ ٱلَّذِينَ يَبْخَلُونَ بِمَآ ءَاتَىٰهُمُ ٱللَّهُ مِن فَضْلِهِۦ هُوَ خَيْرًا لَّهُم ۖ بَلْ
هُوَ شَرٌّ لَّهُمْ ۖ سَيُطَوَّقُونَ مَا بَخِلُوا۟ بِهِۦ يَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ ۗ وَلِلَّهِ مِيرَٰثُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ۗ وَٱللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرٌ ﴿١٨٠﴾ ﴾

آل عمران: ۱۶۹ - ۱۸۰

مناسبت او تړاو:

لاتراوسه پوری دااحد دغزا پیښي پرله پسی په آیتونو کښي راغلي اودمنافقینواسرار او شرمونکي دریزونه لوڅوي او ددي ستري غزا له واقعاتوڅخه دپند او عبرت درسونه بیانوي .

لغتونه:

(**يستبشرون**) خوشحالی کوي اصل يې له (**بشرة**)څخه اخيستل شوي ځکه کله چې انسان خوښحاله شي دخوښي اثريې په مخ کښي څرګندوي ابن عطيه وايې استفعل پدی ځای کښي دبشارت دطلب په معنانه دي بلکي دمجردفعل په معنادی لکه چي په (**واستغنى الله**) کښي (**القرح**) په زبرسره زخم اوپه پيښ سره يې دردته وايې پخواهم تېرشو(**حسبنا**) له حساب څخه اخيستل شوي اودکفايت په معنی دی(**حظا**) برخه اونصيب ته وايې په خيراوشردواړوکښي استعمالېږي خوکه چيري مطلق ذکرشي دخيرلپاره دي (**نملى**) موږبه يی وځنډوله املاء څخه راغلی اوتأخيرياځنډ ته وايې قرطبی ليکی چي مرادله املاء څخه دلته اوږدژونداوپراخه روزی ده.[1](**يميز**) جلاوالی ته وايې اوله (**ماز ، يميز**) څخه راغلی اوله همدي بناڅخه داهم دي چي (**وامتازوا اليوم ايها المجرمون**) (**يجتبى**) غوره کوي (**سيطوقون**) له طوق څخه اخيستل شوی اوغاړه ګۍ ته وايې يعنی هسی درسره ملګری دی لکه چي طوق له غاړی سره.

دنزول سبب:

الف: له ابن عباس ﷺ څخه روايت شوي چي رسول الله وفرمايل کله چي ستاسوورونه په أحد کښي شهيدان شول نوالله ددوئ ارواګانی دشنومرغانوپه ججوروکښي واچول چي دجنت په ويالوګرزي له ميوو څخه يې خوری اوبياهغه دسروزروقنديلونوته ورځي چي دعرش په سيوری کښي ځوړندی کله چي دوئ خپل پاک ستره خوراک ، ځښاک اوهستوګن ځای وموندنوويل يې څوک به زموږ ورونوته داحال ورسوي چي موږپه جنت کښي ژوندی اوخوراک راکول کيږی ترڅودوئ جهادپری نږدي اودجګړې په وخت کښي بی زړه نشي پس الله ﷻ وويل ستاسودغه حال به زه دوئ ته ورسوم اوداآيت نازل شو(**ولاتحسبن الذين قتلوافى سبيل الله امواتا**)[2]دآيت ترپايه.

ب: له جابرﷺ بن عبدالله ﷺ څخه روايت شوي چي رسول الله راسره يوځای شوراته ويل يې اي جابره ولی داسی غمجن اوپريشانه يې ماورته وويل اي دالله استازي پلارمي شهيدشوعيال يې پاتی شواوپورورباندی وو. رسول الله وفرمايل: آياهغه زيري درنکړم چي پلاردي له الله سره (څنګه) يوځای شوماورته وويل هوراکړه يا رسول الله ويل يې: بيشکه الله ستاپلار ژوندی کړ او مخامخ يی ورسره خبری وکړي (۱) اوله هيچاسره الله مخامخ خبری ندی کړی مګردپردي ترشا ،(الله) ورته وويل: ای عبدالله غواړه چي دريې کړم هغه ويل ای ربه دا غواړم چي دنياته ستون شم اوستاپه لارکښي دوهم ځل وجنګيږم الله تبارک وتعالی ورته وفرمايل چي دا فيصله شوي چي دوئ بيرته دنياته نه ستنيږي هغه وويل: ای ربه زماحال وروسته کسانوته ورسوه بياالله نازل کړل (**ولاتحسبن الذين قتلوا فى سبيل الله امواتا**).[3]

---

[1] - القرطبی ۴ / ۲۶۸

[2] - اسباب النزول للواحدي ص ۷۳ القرطبی ۴ /۲۶۸

[3] - اخرجه ابن ماجه والترمذی، القرطبی ۴ /۲۶۸

تفسير:

﴿ وَلَا تَحْسَبَنَّ ٱلَّذِينَ قُتِلُوا۟ فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ أَمْوَٰتًۢا ﴾ اوله سره گومان مکوه پرهغوکسانو چي وژل شوي دوئ په لاره دالله کښي دمړو، داسي چي نه حس لري اونه په نعمتونو ګډوي ﴿ بَلْ أَحْيَآءٌ عِندَ رَبِّهِمْ يُرْزَقُونَ ﴾ بلکه ژوندي دي په نزد درب خپل رزق ورته ورکولي شي) يعنی دوئ ته په تلپاتی جنت کښي دنعمتونوروزي ګهيځ اوبيګاه ورکولي شي واحدی وايې چي ترټولوصحيح خبره دشهداوو دژوندپه باب هغه ده چي رسول الله ﷺ څخه روايت شوي چي : (ان ارواحهم فی اجواف طيورخضر و انهم يرزقون ويأکلون ويتنعمون) ﴿ فَرِحِينَ بِمَآ ءَاتَىٰهُمُ ٱللَّهُ مِن فَضْلِهِۦ ﴾ پدي حال کښي چي خوشحاله دي دوئ په هغه شي باندی چي ورکړي دی دوئ ته الله له فضله خپله) يعنی دوئ به دجنت په نعمتونوکښي وی اوپدې خوشحال دي چي په نعمت اوغبطه کښي دی ﴿ وَيَسْتَبْشِرُونَ بِٱلَّذِينَ لَمْ يَلْحَقُوا۟ بِهِم مِّنْ خَلْفِهِمْ ﴾ (اوخوشاليږي دوئ (په راتلو) دهغوکسانوباندی چي لانه دي رسيدلی دوئ ترهغو پوري ورروسته ددوئ نه) يعنی دوئ خوشاليږي پخپلو مجاهدينوورونوباندی هغوئ چي لاتراوسه په جهاد کښي مړه نه دي که چيري شهيدان شي دوئ به هم پداسي نعمت کښي وي ﴿ أَلَّا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ ﴾ پدې شان سره چي نه به وي هيڅ قسم ويره په دوئ باندی اونه به دوئ هيچيری غمجن کيږي) يعنی نه به په آخرت کښي ورباندی ويره وي اونه به ددنياپه پاتی کيدلو غمجن وي ځکه دوئ دجنت په نعمتونو کښي دي.

﴿ يَسْتَبْشِرُونَ بِنِعْمَةٍ مِّنَ ٱللَّهِ وَفَضْلٍ وَأَنَّ ٱللَّهَ لَا يُضِيعُ أَجْرَ ٱلْمُؤْمِنِينَ ﴾ (خوشاليږي دوئ په نعمت سره له (جانبه) دالله او(دده) په فضل سره او(پدي چي) بيشکه الله نه ضائع کوي اجردمؤمنانو) دلته يې استبشارمکررراووړ ترڅو هغه متعلق يې چي فضل اونعمت دي بيان شی معناداچي دوئ خوشاليږي دالله په هغه ورکړی سترکرامت اوهغه نعمتونه اوثوابونه چي يې ورباندی لوروِلی نعمت هغه ددوئ په طاعت استحقاق او فضل يې بيا هغه داجرزياتوالی دی ﴿ ٱلَّذِينَ ٱسْتَجَابُوا۟ لِلَّهِ وَٱلرَّسُولِ مِنۢ بَعْدِ مَآ أَصَابَهُمُ ٱلْقَرْحُ ﴾ هغه کسان چي حکم يې منلی دي دالله او(حکم يې منلی دی) درسول الله) پس له هغه چي رسيدلی وودوئ ته زخم (تکليف اومشقت) ابن کثيروايې چي داخبره (دحمراء الاسد) دورځي ده.[1] اوهغه داچي مشرکانوچي خومره تکليف مؤمنانوته ورساووهغه خوووبياکله چي ښارونوته راغلل نوپښيمانی يې کوله چي ولی يې دمديني دخلګويومخ ايزه فيصله ونکړه اوکله چي داخبررسول الله ته ورسيده نوامريې وفرمايه چي په مشرکانوپسي له شاووزی اوهغوئ ته داخرګنده کړی چي توان اوطاقت يې شته اوهغوئ وترهوی رسول الله له هغه چاپرته چي په أحد کښي يې ګډون کړی ووبل چاته دوتلواجازه نه ورکوله نومسلمانانوسره له دي چي پرهارژلی وينې ځينې بهيدې اوستومان وودالله اورسول الله ﷺ دامراطاعت يې وکړ.[2] ﴿ لِلَّذِينَ أَحْسَنُوا۟ مِنْهُمْ وَٱتَّقَوْا۟ أَجْرٌ عَظِيمٌ ﴾ شته لپاره

---

[1] - حمراء الاسدد مديني منورې څخه اته ميله ليری يوځای دی

[2] - مختصرابن کثير ۱/ ۳۳۸

دهغو کسانو چې نیکي یې کړې له دوی نه (د رسول الله د حکم په منلو سره) چې پرهیزګاري یې کړې ده (له مخالفته) اجر لوی یعنی چې سره له زخمونو او تکلیفونو یې بیا هم غزاته مخه کړې ستراجریې په برخه دی ﴿ ٱلَّذِينَ قَالَ لَهُمُ ٱلنَّاسُ إِنَّ ٱلنَّاسَ قَدْ جَمَعُواْ لَكُمْ فَٱخْشَوْهُمْ فَزَادَهُمْ إِيمَـٰنًا ﴾ (دوی هغه کسان دي چې وویل دوئ ته (ځینو) خلکو چې بیشکه خلګ (دمکې) په تحقیق سره راټول شوي دي ستاسي (دجنګ لپاره) نو وویریږئ له دوئ ځینې پس (دغو ویرولو) لازیات کړ ایمان د دوئ) یعنی هغه کسان چې په دوئ کښې دمشرکینو ملګرې وو داسې آوازه خپره کړه چې قریشو ډیرې لښکرې ستاسي دجنګ لپاره تولی کړې دي په ځانونو بیریږئ خو دوئ لا زیات زړور شول ﴿ وَقَالُواْ حَسْبُنَا ٱللَّهُ وَنِعْمَ ٱلْوَكِيلُ ﴾ (او ویل دوئ بس دی موږ ته الله او خومره ښه کارجوړونکي دي (الله) یعنی دوئ وویل الله زموږ کافی ، ساتونکي او کارجوړونکي دی هغه دپناه ورور لوو او دهغه چاچې ورباندي توکل وکړي ښه مرستندوی دي ﴿ فَٱنقَلَبُواْ بِنِعْمَةٍ مِّنَ ٱللَّهِ وَفَضْلٍ ﴾ نو بیرته راوګرځیدل (دامؤمنان) په نعمت (د سلامتي) (له جانبه دالله او په فضل داجراو ثواب له الله نه ﴿ لَّمْ يَمْسَسْهُمْ سُوٓءٌ ﴾ چې ونه رسیده د ئ ته هیڅ بدی ﴿ وَٱتَّبَعُواْ رِضْوَٰنَ ٱللَّهِ ﴾ (او تابعان شول دوئ درضامندي دالله) یعنی دوئ ته دالله رضاورکول شوه چې په دارینو کښې نیکمرغي ده ﴿ وَٱللَّهُ ذُو فَضْلٍ عَظِيمٍ ﴾ او الله څښتن دفضل ډیرلوي دي (په بندګانو) ﴿ إِنَّمَا ذَٰلِكُمُ ٱلشَّيْطَـٰنُ يُخَوِّفُ أَوْلِيَآءَهُۥ ﴾ بیشکه داسړي شیطان دي چې ویروي تاسي له دوستانو خپلو (کفارو) څخه چې درته وایي : ﴿ إِنَّ ٱلنَّاسَ قَدْ جَمَعُواْ لَكُمْ ﴾ ﴿ فَلَا تَخَافُوهُمْ وَخَافُونِ إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ ﴾ نو مه ویریږئ تاسي له کفارو ! او وویریږئ له ماڅخه که یې تاسي مؤمنان (په حق سره) زه ستاسي دبریالیتوب متکفل یم له دوئ څخه مه ویریږئ له ماڅخه وویریږئ زماد احکامو ترک مه کوئ که موزماله امرڅخه سرغړونه کوله هلاک به شئ اودلته مرادله شیطان څخه (نعیم بن مسعودالاشجعي) دی هغه چې ابوسفیان راواستاوو چې دمسلمانانو عزائم مات کړي اودوئ بی زړه او وویروي ابوحیان وایې چې دایې شیطان ته ځکه منسوب کړ چې داټول څه دشیطان له وسوسې بی لاري کولو او تدبیرڅخه پیدا شوي دی.[1] ﴿ وَلَا يَحْزُنكَ ٱلَّذِينَ يُسَـٰرِعُونَ فِى ٱلْكُفْرِ ﴾ او غمجن دې نکړی تا (اي محمده)هغه کسان چې منډې وهي دوئ په (طرف) دکفرپډې کښې رسول الله ﷺ ته ډاډینه اوتسلا ده یعنی اي محمده ددې منافقینو په خبرو او کړو مه خواشینې کیږه اوددوئ په هغه دوکو او فریبونو چې داسلام او مسلمانانو سره یې کوي باک مه کوه ! دوئ دکفرلوري ته منډې وهي ﴿ إِنَّهُمْ لَن يَضُرُّواْ ٱللَّهَ شَيْـًٔا ﴾ بیشکه دوئ به له سره هیڅ ضررنه رسوي الله ته دهیڅ شي (بلکې ضرر رسوی ځانونو خپلو ته) ﴿ يُرِيدُ ٱللَّهُ أَلَّا يَجْعَلَ لَهُمْ حَظًّا فِى ٱلْـَٔاخِرَةِ ﴾ (اراده لري الله ددې چې مقررنه کړي ددوئ لپاره هیڅ برخه په آخرت کښې (دثواب) ﴿ وَلَهُمْ

---

[1] - مختصرابن کثیر ۱/ ۳۴۰

عَذَابٌ عَظِيمٌ ﴾ اومقرردی دوئ لره عذاب ډیرلوي (سره دثواب له حرمانه) دوئ به ددوزخ په اورکښي وی﴿ إِنَّ الَّذِينَ اشْتَرَوُا الْكُفْرَ بِالْإِيمَانِ لَن يَضُرُّوا اللَّهَ شَيْئًا وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴾ بیشکه هغوکسانوچي پیرودلی یې دي کفرپه ایمان سره له سره به ضررنه رسوي دوئ الله ته هیڅ شي اومقرردی دوئ لره عذاب دردناک یعنی همداچي مخکي ذکرشول دامنافقین هغه څوک دی چي کفریې په ایمان رانیولی اودوئ به په دغه ارتداداوکفرالله ته څه زیان ونه رسوي دوئ لره په دوزخ کښي دردناک عذاب دی ﴿ وَلَا يَحْسَبَنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا أَنَّمَا نُمْلِي لَهُمْ خَيْرٌ لِّأَنفُسِهِمْ ﴾ اونه دي ګومان کوی هغه کسان چي کافران شوي دي چي بیشکه داچي مهلت ورکوموږ دوئ ته خیردی له پاره د(۱) ځانونود دوئ ﴿ إِنَّمَا نُمْلِي لَهُمْ لِيَزْدَادُوا إِثْمًا ﴾ بیشکه همداخبره ده چي تل مهلت ورکوونږدوئ ته لپاره ددي چي زیاته کړي دوئ ګناه ﴿ وَلَهُمْ عَذَابٌ مُّهِينٌ ﴾ او(مقرر) دي دوئ لره عذاب سپکونکی﴿ مَّا كَانَ اللَّهُ لِيَذَرَ الْمُؤْمِنِينَ عَلَىٰ مَا أَنتُمْ عَلَيْهِ حَتَّىٰ يَمِيزَ الْخَبِيثَ مِنَ الطَّيِّبِ ﴾ (نه دی الله چي پریږدي مؤمنان په هغه حال (داختلاط) چي یې تاسي (ای خلګو) پرهغه ترڅوچي جلاکړی (الله) ناپاکه له پاکه څینی) داالله هغه وعده ده چي خپل استازی ته یې ورکوي چي هغه ته به مؤمن له منافق څخه وربیلوي اومعناخوداده چي هیڅکله به الله مؤمنان اومنافقان هسی ګډسره نه پریږدی ترڅووربااندی ازموینبت راولی اوداکسان له هغه نوروڅخه بیل اوجلاشي لکه چي دأحدپه غزاکښي وشومؤمنان اومنافقین څرګندشول ابن کثیروایي چي ارومروبه داسی یومحنت راځي چي هلته به د الله دوست اودښمن دواړه څرګندیږي هلته به صابرمؤمن له منافق فاجرڅخه ګوښي شی لکه دأحدپه غزاکښي (۱)﴿ وَمَا كَانَ اللَّهُ لِيُطْلِعَكُمْ عَلَى الْغَيْبِ ﴾ (اونه دي الله چي خبرکاندي تاسي په غیب باندی) طبری وایي چي : ترټولو بهتره خبره ددې په تفسیرکښي داده چي نه دي الله چي تاسودخلګوپه زړونوخبردارکړي ترڅوپیژني چي دا منافق اودامؤمن دي خوپه ازموینبتونواومحنتونویې سره جلاکوي لکه دأحدپه ورځ چي په سختي اوداالله له دښمن سره په غزاکولویې وازمویل﴿ وَلَٰكِنَّ اللَّهَ يَجْتَبِي مِن رُّسُلِهِ مَن يَشَاءُ ﴾ (ولیکن الله غوره کوي له رسولانو خپلوڅخه چي اراده وفرمایې) اوهغه بیاپه پټورازونوخبروي لکه چي رسول الله یې دمنافقینوپه حال خبرکړ ﴿ فَآمِنُوا بِاللَّهِ وَرُسُلِهِ ﴾ (نوایمان ولرئ تاسي په الله اوپه رسولانودالله) یعنی داسی صحیح ایمان ولرئ چي یوازي الله عالم الغیب دی اورسول الله چي کومي خبری دغیبوڅخه بیانوي بیشکه هغه داالله ﷻ وحي ده ﴿ وَإِن تُؤْمِنُوا وَتَتَّقُوا فَلَكُمْ أَجْرٌ عَظِيمٌ ﴾ اوکه په ایمان قائم پاتی اوسئ اوپرهیزګاري وکړئ پس تاسوته ډیرلوئ اجردي (په جنت کښي) ﴿ وَلَا يَحْسَبَنَّ الَّذِينَ يَبْخَلُونَ بِمَا آتَاهُمُ اللَّهُ مِن فَضْلِهِ هُوَ خَيْرًا لَّهُم ﴾ (داګومان دي نکوي له سره هغه کسان چي بخیلی کوی دوئ په هغه شي چي ورکړی دی دوئ ته الله له فضله خپله چي دابخل خیردی دوی

۱- مختصرابن کثیر ۱/ ۳۴۰

لره) څرنګه چي الله پاک مؤمنانو ته پخپلو ځانونو دجهادلپاره ښه زياته هڅونه او تحريض ورکړلته د الله په لاره کښي دمال دښندلو تحريض دي همداسې سخت وعيد دهغه چالپاره دی چي په خپل مال کښې بخل کوی هغه دې هسې ګومان نه کوي چي دامال راټولول اودهغه په باب کښې بخل کول ورته ګټه رسوي بلکه تاوان يې په دين اودنيا کښې زيات دی ﴿ بَلْ هُوَ شَرٌّ لَّهُمْ ﴾ (بلکه (دابخل ډيربد) شردی دوئ ته) نه هسې لکه چي دوئ ګومان کوي ﴿ سَيُطَوَّقُونَ مَا بَخِلُوا بِهِۦ يَوْمَ ٱلْقِيَـٰمَةِ ﴾ (ژربه په ورځ دقيامت په غاړه کښې ورته اميل کړل شي هغه چي بخيلی کړی دی دوئ په هغه شي کښې) دوئ ته به ورباندی عذاب ورکول کيږي لکه چي په بخاری شريف کښې يو حديث راوړی چی: چاته الله ﷻ مال ورکړی اوهغه يې زکات نه باسی دقيامت په ورځ به يې دغه مال الله پاک يو ستر ښامارو ګرځوی اوترغاړه به يې جاروزی ترژامو به يې ونيسي اوبيابه وايې چی زه ستامال يم زه ستاخزانه يم اوبيارسول الله دا آيت ولوستل ﴿ وَلَا يَحْسَبَنَّ ٱلَّذِينَ يَبْخَلُونَ ﴾ دآيت ترپايه ﴿ وَلِلَّهِ مِيرَٰثُ ٱلسَّمَـٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ﴾ (اوخاص الله ﷻ لره دی ميراث دآسمانونواودځمکي) يعنی ټول هغه څه چي په کائناتو کښې دي دالله ﷻ ملک دی له فناڅخه وروسته به هرڅه حقيقی مالک ته پاتی کيږی ﴿ وَٱللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرٌ ﴾ اوالله پرهغو کارونو(هم) چي تاسي يې کوئ ښه خبردار دی.

بلاغت:

په البحرالمحيط کښې راوړی چي پدی آيتونو کښې دبلاغت اودبديع دمحسناتوفنونه راغلی چي له هغې جملې څخه يو يې اطناب دی چي دالله ﷻ پدی قول کښې راځي چي فرمايې: (**يستبشرون**) او(**لن يضروا**) اوهمدارنګه دالله ﷻ دسپيڅلی اسم په راوړلو څوځايه داطناب صنعت دی لکه څرنګه چي په (**أمواتابل أحيآء**) کښې دطباق صنعت دي همدارنګه په (**الكفر بالايمان**) جمله کښې اوپدی کلام کښې چي فرمايې (**اشتروا الكفر**) استعاره ده لکه چي په دي کلام کښې (**يسارعون فی الكفر**) اوهمداډول په دي کلام کښې (**الخبيث والطيب**) څکه چي مؤمن اومنافق ځينی مراددی لکه چي په ډيروځايونو کښې حذف هم راغلی دی.[1]

فائده:

د الله پاک دغه قول چي: (**حسبنا الله ونعم الوكيل**) داهغه کلمه ده چي حضرت ابراهيم عليه السلام هغه وخت وويله چي په اورکښې يې وغورځاوو سيوطي په اکليل نومي کتاب کښې ليکي چي ددغې کلمې لوستل دغم او پريشانې يا(ستروکارونو)په وخت کښې مستحب دی.

---

[1] - البحرالمحيط ۳ / ۱۲۹

الله تعالی فرمايي:

﴿لَقَدْ سَمِعَ اللَّهُ قَوْلَ الَّذِينَ قَالُوا إِنَّ اللَّهَ فَقِيرٌ وَنَحْنُ أَغْنِيَاءُ سَنَكْتُبُ مَا قَالُوا وَقَتْلَهُمُ الْأَنْبِيَاءَ بِغَيْرِ حَقٍّ
وَنَقُولُ ذُوقُوا عَذَابَ الْحَرِيقِ ﴿١٨١﴾ ذَٰلِكَ بِمَا قَدَّمَتْ أَيْدِيكُمْ وَأَنَّ اللَّهَ لَيْسَ بِظَلَّامٍ لِلْعَبِيدِ ﴿١٨٢﴾ الَّذِينَ
قَالُوا إِنَّ اللَّهَ عَهِدَ إِلَيْنَا أَلَّا نُؤْمِنَ لِرَسُولٍ حَتَّىٰ يَأْتِيَنَا بِقُرْبَانٍ تَأْكُلُهُ النَّارُ قُلْ قَدْ جَاءَكُمْ رُسُلٌ مِنْ قَبْلِي
بِالْبَيِّنَاتِ وَبِالَّذِي قُلْتُمْ فَلِمَ قَتَلْتُمُوهُمْ إِنْ كُنْتُمْ صَادِقِينَ ﴿١٨٣﴾ فَإِنْ كَذَّبُوكَ فَقَدْ كُذِّبَ رُسُلٌ مِنْ قَبْلِكَ جَاءُو
بِالْبَيِّنَاتِ وَالزُّبُرِ وَالْكِتَابِ الْمُنِيرِ ﴿١٨٤﴾ كُلُّ نَفْسٍ ذَائِقَةُ الْمَوْتِ وَإِنَّمَا تُوَفَّوْنَ أُجُورَكُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فَمَنْ
زُحْزِحَ عَنِ النَّارِ وَأُدْخِلَ الْجَنَّةَ فَقَدْ فَازَ وَمَا الْحَيَاةُ الدُّنْيَا إِلَّا مَتَاعُ الْغُرُورِ ﴿١٨٥﴾ ۞ لَتُبْلَوُنَّ فِي
أَمْوَالِكُمْ وَأَنْفُسِكُمْ وَلَتَسْمَعُنَّ مِنَ الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ مِنْ قَبْلِكُمْ وَمِنَ الَّذِينَ أَشْرَكُوا
أَذًى كَثِيرًا وَإِنْ تَصْبِرُوا وَتَتَّقُوا فَإِنَّ ذَٰلِكَ مِنْ عَزْمِ الْأُمُورِ ﴿١٨٦﴾ وَإِذْ أَخَذَ اللَّهُ مِيثَاقَ الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ
لَتُبَيِّنُنَّهُ لِلنَّاسِ وَلَا تَكْتُمُونَهُ فَنَبَذُوهُ وَرَاءَ ظُهُورِهِمْ وَاشْتَرَوْا بِهِ ثَمَنًا قَلِيلًا فَبِئْسَ مَا يَشْتَرُونَ ﴿١٨٧﴾ لَا تَحْسَبَنَّ
الَّذِينَ يَفْرَحُونَ بِمَا أَتَوْا وَيُحِبُّونَ أَنْ يُحْمَدُوا بِمَا لَمْ يَفْعَلُوا فَلَا تَحْسَبَنَّهُمْ بِمَفَازَةٍ مِنَ الْعَذَابِ وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿١٨٨﴾
وَلِلَّهِ مُلْكُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَاللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ ﴿١٨٩﴾﴾ آل عمران: ۱۸۱ - ۱۸۹

مناسبت اوتړاو:

وروسته له هغه چي قرآنکريم داحددغزاهغه سترې پيښي وړاندی اوپدې ترڅ کښي يې د منافقينودسيسې اودوکې بيان کړی ددوئ هغه ناکاره نيتونه چی داسلام اومسلمانانوسره يې دخيانت درلودل اويايې دمسلمانانوعزائم سست (ومړی) کول چي له جهادڅخه پاتی شی له دي وروسته الله تعالی ديهودودوکې او فريبونه اوپليت چل اوول چي داسلامي دعوت سره يې جګړه اعلان کړی وه اوهغه هم دمسلمانانوپه زړونو کښي دشکوکواوشبهاتوپه اچولواونورو ډول ډول دسيسو په کارولو رسواکړل ترڅومسلمانان له دوئ څخه هم داسی لکه له منافقينوڅخه وويروي داآيتونه ديهودانواودوئ دشرمونکی دريزونو څخه چي دوئ دالله په وړاندي غوره کړي ووغږيږي الله پاک يې په بدواوناروانورونو باندی لکه بخل اوفقرتورن کاوو اوبيادهغوئ عهد ماتول اودانبياووژل اوپه هغه امانت کښي چي الله ورته سپارلی ووخيانت کول يادوي اوآيتونه ددغه ملعون قوم نور جرمونه اوګناوي بيانوي.

لغتونه:

(عهدالينا) وصيت يې کړی موږته (بقربان) په قرباني او قرباني هغه حيوانات دی چي دثواب لپاره حلاليږي (البينات) څرګندې نښانې اومرادڅيني معجزې دی (الزبر) د(زبور) جمع ده اوهغه بيا کتاب ته وايې لکه کتاب دمکتوب په معنا دی همداسې زبوردمزبورپه معنا راځي لکه چي رکوب دمرکوب په

معناوي زجاج وايي چي زبوردحکمت خاوندهرکتاب ته ويل کيږي (زحزح)ليري کيدل د(زح)تکراردا چي په تلواره ليرى کړل شي (فاز) په مراد ورسيدواوله هغه چي ويريدو وژغورل شو.
(الغرور) خطاايستل (متاع) هغه چي ورباندى ګټه اوخوند اخيستل کيږى اوبيافناکيږى (لتبلون) تاسوبه وازمويل شئ (عزم الأمور) دراېي ثبات اودلته مرادځينى سمه رايه ده هغه داچي هرهوښيارسړي په هغه عزم کوي (بمفازة) ځاى دخلاصون له فوزڅخه اخيستل شوي لکه چي وايي: (فازفلان)يعنى نجات يې وموند.

دنزول سبب:

ابن عباس ﷺ وايې چي يوه ورځ ابوبکرصديق ﷺ ديهودويوکور (مدراس) ته ورننوت که ګوري چي يهودان ديوسړي لورته راټول شوي چي هغه ته يې(فنحاص بن عازوراء) ويل هغه ددوئ له احبارواو علماووځينى ووابوبکر ﷺ ورته وويل : افسوس پرتا له الله څخه وويريږه اومسلمان شه زمادى په الله قسم وي ته پدي ښه پوهيږي چي محمد ﷺ دالله له لوري استازى دى چى دالله له لورى په حق رااستول شوي اوتاسويې په تورات اوانجيل کښي صفات لوستلي دي فنحاص وويل: اي ابوبکره موږ الله ته اړنه يو الله فقيردي موږهغه ته دومره زاري نه کوولکه چي دي يې موږته کوي موږله هغه څخه بې پروايوکه چيرى هغه بډاي واى نوبيابه يې له موږڅخه پورنه غوښتل لکه چي ستاسي ملګري ګومان کوي ، تاسي له ربا اوسودڅخه منع کوئ اوموږته يې راکوئ که غنى واى موږ ته به يې سودنه راکول ابوبکر ﷺ ته غصه ورغله اوفنحاص يې سخت په چپلاخه وواهواوورته يې وويل زمادى په خداى لوړه وي که زموږ اوستاسي ترمنځ عهدنه واي ته به مي وژلى واى ته دالله دښمن يې فنحاص رسول الله ﷺ ته ورغي اوورته ويل يې: اى محمده ملګرى دى راسره هسې وکړل ماته وګوره ! رسول الله ﷺ وويل اى ابوبکره دڅه لپاره دى داسى وکړل هغه وويل اى دالله پيغمبره دغه دالله دښمن ډيره سخته خبره وکړه دي ګومان کوي چي الله فقيردي اودوئ بډايان دي نوماته دالله ﷺ په هکله داسې خبرې کولوغصه اوغضب راووست هغه مي په مخ وواهو(فنحاص) له دي وروسته له داسى خبري کولوڅخه منکرشو نوالله دده په ردولواودابوبکر ﷺ په تصديق کښي داآيت نازل کړ (لقدسمع الله قول الذين قالوا ان الله فقيرونحن اغنيآء)([1]) داآيت ترپايه

تفسير:

﴿ لَّقَدْ سَمِعَ اللَّهُ قَوْلَ الَّذِينَ قَالُوٓا۟ إِنَّ اللَّهَ فَقِيرٌ وَنَحْنُ أَغْنِيَآءُ ﴾ خامخاپه تحقيق اوريدلى ده الله خبره دهغوکسانوچي ويلى يې ووبيشکه الله فقيردى اوموږغنيان يو) دادالله ددښمنانويهودوهغه ملعونانوخبره ده چي ګومان يې کاووه الله فقيردي ځکه له موږڅخه پورغواړى داپه هغه وخت کښي چي داآيت نازل شو(من ذاالذي يقرض الله قرضا حسنا) (البقرة : ۲۴۵) نودوئ به ويل چي الله فقيردي له موږڅخه پورغواړى لکه چي به يې ويل (يدالله مغلولة) (البقرة : ۲۴۹)قرطبى وايي دادوئ ددى لپاره نه ويل چي ګواکي داسى عقيده يې درلوده بلکه دضعيفواوکمزوروومسلمانانودتشکيک لپاره يې داسى

[1] - اسباب النزول للواحدى ص ۷۲ ومختصرابن کثير۱ / ۳۴۲

کول اوهم داچي درسول الله ﷺ تکذیب یې کړی وی یعنی دوئ داملنډي پدې وهلی چي محمدوایې چي الله له موږ څخه قرض (پور) غواړی(۱) ﴿ سَنَكْتُبُ مَا قَالُوا وَقَتْلَهُمُ الْأَنبِيَاءَ بِغَيْرِ حَقٍّ ﴾ (ژربه موږ لیکلي وساتوهغه خبرې چي دوئ ویلی دي (اولیکلی به وساتو) وژل (دنیکونو) ددوئ انبیاوولره په ناحقه سره) یعنی موږ به ژرلیکونکي پرښتوته امروکړوچي دوئ څه وایې د دوئ په عملناموکښي یې ولیکي اوددوئ هغه ستره گناه چي دپیغمبرانووژل دي هم ولیکي مرادله وژلود انبیاوو څخه ددوئ خوښه اورضاده په هغووژلودنیکونوددوئ انبیاوولره ﴿ وَنَقُولُ ذُوقُوا عَذَابَ الْحَرِيقِ ﴾ اووبه وایو موږ(دوئ ته چي) وڅکئ عذاب داور سوځیدونکي) یعنی الله به په آخرت کښي دملائکوپه خوله دوئ ته ووایې چي دسوځیدونکی اورعذاب وڅکئ ﴿ ذَٰلِكَ بِمَا قَدَّمَتْ أَيْدِيكُمْ ﴾ (داعذاب) په سبب دهغه دی چي پخوالیږلی دي لاسونوستاسي) له گناهونو څخه ﴿ وَأَنَّ اللَّهَ لَيْسَ بِظَلَّامٍ لِّلْعَبِيدِ ﴾ (اوبیشکه چي الله نه دي ظلم کونکي په بندگانو) یعنی الله پاک خوعادل دی ظلم په خلگونه کوي مراددلته دادي چي داعذاب ستاسي دگناهونوپه سبب دي اودالله له لوري له تاسوسره عدالت دی زمخشري وایې چي دادعدالت غوښتنه ده چي گناهکارته سزااودیندار (محسن) ته ثواب ورکول شي .

(۲) ﴿ الَّذِينَ قَالُوا إِنَّ اللَّهَ عَهِدَ إِلَيْنَا ﴾ (هغه کسان چي وایې بیشکه الله پیغام کړي دی موږته) یعنی دوئ هغه کسان دی چي وایې الله موږ ته په تورات کښي وصیت اوحکم کړي دی ﴿ أَلَّا نُؤْمِنَ لِرَسُولٍ حَتَّىٰ يَأْتِيَنَا بِقُرْبَانٍ تَأْكُلُهُ النَّارُ ﴾ (چي ایمان به نه راوړوموږ په هیڅ رسول ترهغه پوري چي راوړی موږته (هسی) قربانی چي اوریې خوري) یعنی موږبه په هیچاترهغوپوري ایمان نه راوړو ترڅوچي دهغه قربانی دآسمان اورونه سوځوي اودادوئ له لوري په الله پاک باندی افتراء ده ځکه هغه ورته هسي نه وو ویلي ﴿ قُلْ قَدْ جَاءَكُمْ رُسُلٌ مِّن قَبْلِي بِالْبَيِّنَاتِ وَبِالَّذِي قُلْتُمْ ﴾ (ووایه اي محمده دوئ ته چي) په تحقیق راغلی ووتاسي ته (ډیر) رسولان پخواله ما په ښکاره وومعجزواوپه هغه شي سره چي ویلی دی تاسي) یعنی ای محمده دوئ ته دتوبیخ په توگه اوددوئ دروغ ځرگندولولپاره هسی ووایه چي تاسوته خوترماله مخه پیغمبران په ځرگندومعجزواودلائلوسره راغلی ووچي ددوئ دنبوت په رښتنولی یې او په هغه څه چي تاسویې ادعاکوئ دلالت کاوو ﴿ فَلِمَ قَتَلْتُمُوهُمْ إِن كُنتُمْ صَادِقِينَ ﴾ (نوولی ووژل (نیکونو ستاسي)هغوئ که یې تاسي صادقان) ؟ یعنی که پخپله دعوی کښي تاسي صادقان یی چي په الله ایمان لرئ اوپه انبیاووباورلري نو ولی مو ووژل ؟ بیاالله پاک رسول الله ﷺ ته دداو تسلا په ډول فرمایې: ﴿ فَإِن كَذَّبُوكَ فَقَدْ كُذِّبَ رُسُلٌ مِّن قَبْلِكَ ﴾ پس که نسبت ددروغو وکړي دوئ تاته (ای محمده) نومه خپه کیږه (ځکه) پس په تحقیق نسبت ددروغوکړي شوی ووډیرودرسولانوته پخواله تاچي راغلی وو) یعنی ددوئ نیکونودپخوانیوانبیاووتکذیب هم کړي

۱ - تفسیرکبیرامام رازی
۲ - الکشاف ۱/۳۴۴

وونوستالپاره په هغوانبياووپسي بنه اقتداء ده ﴿ جَآءُو بِٱلۡبَيِّنَٰتِ ﴾ راغلي وودوئ په ښكاره ووومعجزو﴿ وَٱلزُّبُرِ وَٱلۡكِتَٰبِ ٱلۡمُنِيرِ ﴾(اوپه كتابودشرعي احكامو) اوپه كتاب روښان (بيانونكي دحلال اوحرام) هغه چي په حكمتونواوپندونوډک وولكه تورات اوانجيل ﴿ كُلُّ نَفۡسٖ ذَآئِقَةُ ٱلۡمَوۡتِۗ ﴾ هريونفس څكونكي دمرګ دی لكه چي بل ځای الله تعالی فرمايي:(كل من عليها فان) [الرحمن ۲۶] ﴿ وَإِنَّمَا تُوَفَّوۡنَ أُجُورَكُمۡ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِۖ ﴾ اوبيشكه هم داخبره ده چي پوره به دركړل شي تاسي ته اجرونه ستاسي په ورځ دقيامت كښي ﴿ فَمَن زُحۡزِحَ عَنِ ٱلنَّارِ وَأُدۡخِلَ ٱلۡجَنَّةَ فَقَدۡ فَازَۗ ﴾ اوهرڅوک چي ليري كړي شي له اوره د دوزخ اوداخل كړي شو جنت ته نو په تحقيق مراديې ومومند(بريالی شو) اوتل ترتله نيكمرغی اونعمت يې په برخه شو ﴿ وَمَا ٱلۡحَيَوٰةُ ٱلدُّنۡيَآ إِلَّا مَتَٰعُ ٱلۡغُرُورِ ﴾ (اونه دی ژوندون لږ(ددنيا)مګرپنګه دغوليدلو) يعنی دنيا دفناځای دی اوناپوه مغروروربانديی نفع اخلی ابن كثيروايې چي په آيت كښي ددنيادشان دكموالی اودهغې دپناكيدلو رازپروت دی.(١) ﴿ لَتُبۡلَوُنَّ فِيٓ أَمۡوَٰلِكُمۡ وَأَنفُسِكُمۡ ﴾ (قسم دي چي خامخابه وازمويل شئ تاسي هرومروپه مالونو خپلو او په ځانونوخپلو) يعنی تاسوبه پخپلومالونوپه فقراومصيبوتونو وازمويل شئ همدارازبه پخپلو ځانونوبه په امراضواومشكلاتوامتحان شئ﴿ وَلَتَسۡمَعُنَّ مِنَ ٱلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلۡكِتَٰبَ مِن قَبۡلِكُمۡ وَمِنَ ٱلَّذِينَ أَشۡرَكُوٓاْ أَذٗى كَثِيرٗاۚ ﴾ (اوخامخابه واورئ تاسي بالضرور له هغوكسانوچي وركړي شوي دوئ ته كتاب له تاسي څخه پخوااوله هغو كسانوچي شريكان نيسی (په الله پوري) ضرر ډير) يعنی تاسوبه له يهودوواونصاراوواو له نورومشركانو څخه چي ستاسي دښمنان دی ډيرڅه ضرروويني دادالله ﷻ له لوری مؤمنانوته ددي اخباردي چي هغوئ ته به د مشركينواوفاجرانوله لوري ربړونه اوتكاليف رسيږي اودوئ ته يی كله چي دا ورپېښېږي دصبراوزغم امركړي څكه چي جنت په تكليفونوكښي نغښتی دی نوبې وويل :﴿ وَإِن تَصۡبِرُواْ وَتَتَّقُواْ ﴾) (اوكه صبراوپرهيزګاري وكړئ) يعنی په تكليفونوصبروكړئ اوله الله څخه پخپلوافعالواقوالوكښي وويريږئ ﴿ فَإِنَّ ذَٰلِكَ مِنۡ عَزۡمِ ٱلۡأُمُورِ ﴾ (نوبيشكه دا(صبراوتقوی) دهمت له كارونوڅخني ده) دابنايې چي تاسي ورته ملاوتړئ څكه داالله مأموربه دی﴿ وَإِذۡ أَخَذَ ٱللَّهُ مِيثَٰقَ ٱلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلۡكِتَٰبَ ﴾ (اويادكړه (اي محمده) هغه وخت چي واخيست الله عهدمحكم له هغو كسانوڅيني چي وركړی شوی دي دوئ ته كتاب) يعنی له يهودانوڅخه يې په تورات كښي ټينګ عهد واخيست﴿ لَتُبَيِّنُنَّهُۥ لِلنَّاسِ وَلَا تَكۡتُمُونَهُۥ ﴾ چي خامخابه بيانوئ تاسي هرومرو(داكتاب) خلكوته اونه به يې پټوئ تاسي ابن عباس ﷺ وايې داديهودوپه باب دي له دوئ څخه ټينګ عهداخيستل شوي چي درسول الله تعريفات به خلكوته ورښيې خودوئ هغه پټ اوشانه يې

---

١ - مختصرابن كثير١ / ٣٤٣

وغورځول(۱) ﴿ فَنَبَذُوهُ وَرَآءَ ظُهُورِهِمْ وَٱشْتَرَوْا بِهِۦ ثَمَنًا قَلِيلًا ﴾ نووغورځاوودوئ (دغه عهد) وروسته له شاووخپلواووايې خيست (په عوض دهغه) قيمت لږ (ددنياله مال نه) ﴿ فَبِئْسَ مَا يَشْتَرُونَ ﴾ (نوبدا خيستل ددوئ دي داخيستل) يعنى ددوئ دغه پيرل ډيرپه تاوان کښي دي ﴿ لَا تَحْسَبَنَّ ٱلَّذِينَ يَفْرَحُونَ بِمَآ أَتَوا ﴾ له سره گومان مه کوه (اى محمده) په هغو کسانو چي خوښحاليږي په هغه کارچي دوئ کړي (چي ستاپه هکله بشارتونه يې پټ کړي) ﴿ وَّيُحِبُّونَ أَن يُحْمَدُوا بِمَا لَمْ يَفْعَلُوا ﴾ اومينه کوي دوئ پدې چي وستايل شى دوئ په هغه کارچي نه وي کړى دوئ ، له تمسکه په حق اودوئ گمراهان دي ﴿ فَلَا تَحْسَبَنَّهُم بِمَفَازَةٍ مِّنَ ٱلْعَذَابِ ﴾ پس له سره مه گڼه دوئ په ځاى دخلاصيدلوله عذابه (دالله) ﴿ وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴾ اومقرردى دوئ لره عذاب درد رسوونکى. ابن عباس ﷺ وايې: چى داداهل کتابوپه باب کښي نازل شوي رسول الله ﷺ ورځخه يوشي وپوښتل هغوئ ځني پټ کړ اوبل څه يې په ځواب کښي ورته وويل اوپدي خوشحاله شول چي هغه ورکړى شوي حکم يې کله چي ځني وغوښتل شوپټ کړ.(۲) ﴿ وَلِلَّهِ مُلْكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ﴾ اوخاص الله لره دى سلطنت دآسمانواوځمکي (نوڅرنگه به هغه فقيروگڼل شي ؟) داآيت په هغو کسانوباندى ردکوي چي ويل به يې: الله فقيراوموږ بډايان يو ﴿ وَٱللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَىْءٍ قَدِيرٌ ﴾ (اوالله په هرشي باندى (چي اراده يې وکړي ښه قادردي) اوددوئ په عذاب ورکولوهم.

بلاغت :

په دى آيتونو کښي دبيان اوبديع ډيري ښکلاوي شته چي په لاندي ډول يې لنډيز ليکو:

۱ - پدي کلام کښي چي: (ان الله فقيرونحن اغنيآء) يهودانودالله په هکله داجمله دمبالغې لپاره په تاکيدي توروسره راوړه اوخپل ځان ته يې دغنانسبت هسى وکړچي گوياتاکيدته يې هيڅ اړه نشته لکه چي بډايې اوغناددوئ هسي صفت وي چي هيڅوک هم پکښي اختلاف نه لري چي تاکيدته يې ضرورت پيښ شي نودادهغوئ په کفراوعصيان کښي دتمرداوسرغړوني ښنه ده.

۲ - (سنکتب ماقالوا) پدې جمله کښي عقلي مجاز دى ځکه معنايې ده چي ژرده زمونږ پرښتې به يې وليکي الله تعالى خويې پخپله نه ليکي بلکه دليکلوامرورته فرمايې ځکه نودفعل نسبت کول الله ته مجازا شوي دي.

۳ - پدي کلام کښي چى الله تعالى فرمايې (ذلک بماقدمت أيديکم) دلته مجازمرسل دي دجزء په راوړلوسره دکل اراده مطلب ده ځکه ډيرکره وړه په لاسونوسره ترسره کيږي.

---

۱ - التسهيل لعلوم التنزيل۱/ ۱۳۶

۲ - الکشاف۱/ ۳۴۵

۴ – پدی جمله کښې چې: (تأکله النار) دلته دخوراک نسبت اورته کول داستعارې په توګه دی ځکه حقیقت خوخوراک دانسان اوحیوان صفت دي همدارازپه دي جمله کښې استعاره ده چې فرمايي: (ذائقة الموت) ځکه دڅکلوحقیقت خودانسان احساس دی.

۵ – (متاع الغرور) زمخشری وايي چې دنيايې له هغې متاع سره چې پيرودونکي ته يې دتېرايستلولپاره ښائسته کړي وی مشابه کړي ترڅوهغه وغولوي او غولونکي اوښائسته کونکي شيطان دي داهم داستعارې له ډول څخه ګڼل کيږي.(۱)

۶ – (فنبذوا وراء ظهورهم .....واشتروا به ثمنا قليلا) همدارازدلته غورځول اوپيرودل (اخيستل) استعارې دي ځکه په يوحکم باندی عمل نه کول يې له هغه څه سره چې شاته وغورځول شي مشابه کړی اودغسی يې دالله دآيتونوپه پټولوباندی بدې اخيستل چې لږقيمت يې بللی اودوئ يې په عوض کښې اخيستي له پيرودلوسره مشابه بللی دي.

۷ – لکه چې په دي مبارکوآيتونوکښې دبديعی محسناتوڅخه دطباق صنعت پدي کلموکښې راغلی لکه (فقير) او (اغنياء) همدارازدمقابلې صنعت لکه (زحزح عن النار)او(أدخل الجنة) اوبل په (لتبيننه) ...ولاتکتمونه) همداسی مغايرجناس راغلی پدی کلام کښې چې : (قول الذين قالوا) او(کذبوک فقدکذب)

فائده:

دفعال صيغه په دي آيت کښې چې: (ومار بک بظلام) دمبالغې لپاره نه بلکه دنسبت لپاره ده اولکه نجار، عطار، اوتمارغوندی راځي.

تنبيه:

بيشکه چې الله ددنياعيش اونعمت په متاع الغرورسره وستايوځکه ددنياخوندونه اوشهوتونه دتل ترتله اواوږدې بقاپه هيله وي خوهغه باندی سړي تېروزي اوژربېږي وغولوی اوراوېږي غورځوي نوځکه صالحينواسلافوويلي چې دنيامتروکه متاع ده ژرده چې ورکه ويرانه شي نوله دغې متاع څخه ګټه واخلئ اوځوموتوان وی دالله دطاعت عمل پکښې ترسره کړئ. والله المستعان.

الله تعالی فرمايي:

﴿ إِنَّ فِي خَلْقِ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ وَٱخْتِلَٰفِ ٱلَّيْلِ وَٱلنَّهَارِ لَءَايَٰتٍ لِّأُوْلِي ٱلْأَلْبَٰبِ (۱۹۰) ٱلَّذِينَ يَذْكُرُونَ ٱللَّهَ
قِيَٰمًا وَقُعُودًا وَعَلَىٰ جُنُوبِهِمْ وَيَتَفَكَّرُونَ فِي خَلْقِ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ رَبَّنَا مَا خَلَقْتَ هَٰذَا بَٰطِلًا سُبْحَٰنَكَ فَقِنَا
عَذَابَ ٱلنَّارِ (۱۹۱) رَبَّنَآ إِنَّكَ مَن تُدْخِلِ ٱلنَّارَ فَقَدْ أَخْزَيْتَهُۥ وَمَا لِلظَّٰلِمِينَ مِنْ أَنصَارٍ (۱۹۲) رَّبَّنَآ إِنَّنَا سَمِعْنَا مُنَادِيًا
يُنَادِي لِلْإِيمَٰنِ أَنْ ءَامِنُواْ بِرَبِّكُمْ فَـَٔامَنَّا رَبَّنَا فَٱغْفِرْ لَنَا ذُنُوبَنَا وَكَفِّرْ عَنَّا سَيِّـَٔاتِنَا وَتَوَفَّنَا مَعَ ٱلْأَبْرَارِ (۱۹۳) رَبَّنَا
وَءَاتِنَا مَا وَعَدتَّنَا عَلَىٰ رُسُلِكَ وَلَا تُخْزِنَا يَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ إِنَّكَ لَا تُخْلِفُ ٱلْمِيعَادَ (۱۹۴) فَٱسْتَجَابَ لَهُمْ رَبُّهُمْ أَنِّي لَآ أُضِيعُ

---
۱ - الکشاف ۱/ ۳۴۵

عَمَلَ عَامِلٍ مِّنكُم مِّن ذَكَرٍ أَوْ أُنثَىٰ بَعْضُكُم مِّن بَعْضٍ فَالَّذِينَ هَاجَرُوا وَأُخْرِجُوا مِن دِيَارِهِمْ وَأُوذُوا فِي سَبِيلِي
وَقَاتَلُوا وَقُتِلُوا لَأُكَفِّرَنَّ عَنْهُمْ سَيِّئَاتِهِمْ وَلَأُدْخِلَنَّهُمْ جَنَّاتٍ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ ثَوَابًا مِّنْ عِندِ اللَّهِ وَاللَّهُ
عِندَهُ حُسْنُ الثَّوَابِ ﴿۱۹۵﴾ لَا يَغُرَّنَّكَ تَقَلُّبُ الَّذِينَ كَفَرُوا فِي الْبِلَادِ ﴿۱۹۶﴾ مَتَاعٌ قَلِيلٌ ثُمَّ مَأْوَاهُمْ جَهَنَّمُ وَبِئْسَ
الْمِهَادُ ﴿۱۹۷﴾ لَٰكِنِ الَّذِينَ اتَّقَوْا رَبَّهُمْ لَهُمْ جَنَّاتٌ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَا نُزُلًا مِّنْ عِندِ اللَّهِ وَمَا عِندَ
اللَّهِ خَيْرٌ لِّلْأَبْرَارِ ﴿۱۹۸﴾ وَإِنَّ مِنْ أَهْلِ الْكِتَابِ لَمَن يُؤْمِنُ بِاللَّهِ وَمَا أُنزِلَ إِلَيْكُمْ وَمَا أُنزِلَ إِلَيْهِمْ خَاشِعِينَ لِلَّهِ لَا
يَشْتَرُونَ بِآيَاتِ اللَّهِ ثَمَنًا قَلِيلًا أُولَٰئِكَ لَهُمْ أَجْرُهُمْ عِندَ رَبِّهِمْ إِنَّ اللَّهَ سَرِيعُ الْحِسَابِ ﴿۱۹۹﴾
يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اصْبِرُوا وَصَابِرُوا وَرَابِطُوا وَاتَّقُوا اللَّهَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ ﴿۲۰۰﴾ ﴾ آل عمران ۱۹۰-۲۰۰

مناسبت او تړاو:

الله تعالی دغه آیتونه د توحید ، الوهیت او نبوت د دلائلو په بیانولو پیل کړی او همدا رنګه د وحدانیت ، قدرت ، خلق او ایجاد په دلائلو پای ته رسولي دي ترڅو انسان د بعث او نشور په هکله ورباندې استدلال وکړي او دا ګواکي مسک الختام دی. څرنګه چي د دې عظیم الشان او ستر (مسطور) کتاب څخه مقصد د خلګو د زړونو او روحونو رابښکون دی چي د ټول مخلوق څخه یې د حقیقي مالک الله معرفت ته بوزي نو آیتونه د زړونو خلا او روښنايي د توحید ، الوهیت کبریا او جلال په دلائلو سره کوي او نظرونه د مځکې او آسمان په ملکوت کښي په تدبر او تفکر کولو سره ګوماري ترڅو انسان د زړه له اخلاصه د الله په وحدانیت او څرګند قدرت اعتراف وکړي په داسې حال کښي چي د منظور کتاب د دغو پراخو کائناتو په باب سوچ کوي وروسته له هغه چي د الله ﷻ د مسطور کتاب (قرآن کریم) هغه ډیرې اشارې چي د منظور کتاب آیتونو ته یې کوي لولي کومې چي د حواسو په کار اچولو د حقائقو پېژند ګلوی او معرفت ته یې رابولي ﴿ وَكَأَيِّن مِّنْ آيَةٍ فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ يَمُرُّونَ عَلَيْهَا وَهُمْ عَنْهَا مُعْرِضُونَ ﴿۱۰۵﴾ ﴾ یوسف.

لغتونه:

(الالباب) عقول **(باطلا)** چتي عبث بې حکمته **(سبحانک)** پاکې ده تا لره د الله پاکې بیانول **(اخزیته)** چي تاذلیل او رسوا کړې **(کفرعنا)** محوا او پټ کړی له موږ څخه **(الابرار)** د (بر) او یا (بار) جمع ده هغه چاته وایې چي په شریعت یې منګولي لګولي وي **(فاستجاب)** ویې منله **(نزلا)** میلمستیا هغه څه چي د میلمانه لپاره تیاریږي **(رابطوا)** په سنګرونو کښي د دښمن څارنه کوئ.

د نزول سبب یې: له ام سلیم رضی الله عنها څخه روایت کیږي چي هغه وایې : ما رسول الله ته وویل زما په یاد نه دی چي الله دی د هجرت په باب د میرمنو (ښځو) څه یادونه کړې وي نو الله ﷻ دا آیت نازل کړ:

(فَاسْتَجَابَ لَهُمْ رَبُّهُمْ أَنِّي لَا أُضِيعُ عَمَلَ عَامِلٍ مِّنكُم مِّن ذَكَرٍ أَوْ أُنثَىٰ).[1]

---

[1] - الطبری ۷-۴۸۸ و اسباب النزول ص ۸۰ .

تفسير:

﴿ إِنَّ فِي خَلْقِ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ﴾ (بيشكه په پيداكولو دآسمانونو او مځکې كښې) سره له محكم والى او ابداع) ﴿ وَٱخْتِلَٰفِ ٱلَّيْلِ وَٱلنَّهَارِ ﴾ او په اختلاف دشپې او ورځې كښې) چې يو په بل پسې تل ترتله راځي ﴿ لَءَايَٰتٍ لِّأُو۟لِى ٱلْأَلْبَٰبِ ﴾ (هرومرو دلائل دی(دالله دقدرت) لپاره دخاوندانود (خالصو عقلونو) يعنى پدې كښې دصانع په وجوداودهغه په سترقدرت باندې څرګندې نښې اوعلامې دي اوداپرته له هغه چاچې دعقل خاوندان او كائناتوته په سوچ اوتفكرګوري بل چاته نه معلوميږي ددوئ كتل دتدبر او استدلال كتل وي نه لكه چارپايان چې يوازې كتل كوي اوسوچ تدبرنلري وروسته الله پاک هغه كسان ستايې: ﴿ ٱلَّذِينَ يَذْكُرُونَ ٱللَّهَ قِيَٰمًا وَقُعُودًا وَعَلَىٰ جُنُوبِهِمْ ﴾ (دغه (عاقلان) هغه كسان دي چې يادوي الله په ولاړه اوپه ناستې اوپه اړخونوخپلو (چې پراته وي) يعنى دوئ الله په خوله اوپه زړه په ټولوحالاتوكښې يادوي يوه شيبه هم دالله له ياده نه غافليږي ځكه ددوئ دزړه اطمئنان دالله په ذكردى اوزړه يې دالله په مراقبت كښې غوپه وي ﴿ وَيَتَفَكَّرُونَ فِي خَلْقِ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ﴾ (اوفكركوي دوئ په پيدا ښت دآسمانونو او ځمکې (ومافيهما) كښې) يعنى داعجيب مصنوعات اوغريب موجودات الله پنځولى نووايې: ﴿ رَبَّنَا مَا خَلَقْتَ هَٰذَا بَٰطِلًا ﴾ (اى ربه زموږه ! ندې پيداكړى تادامخلوقات عبث (بې حكمته) ﴿ سُبْحَٰنَكَ فَقِنَا عَذَابَ ٱلنَّارِ ﴾ نسبت دپاكې دى تاته (له ټولوعيبونو) نووساته موږ له عذابه داور(ددوزخ نه) ﴿ رَبَّنَآ إِنَّكَ مَن تُدْخِلِ ٱلنَّارَ فَقَدْ أَخْزَيْتَهُۥ ﴾ اي ربه زموږ بيشكه ته چې هرڅوک اورته داخل كړې نوپه تحقيق رسوا كړتاهغه (اى ربه) يعنى هغه دې په بې سارې ډول سپک اودخلكوپه وړاندى رسواكړ ﴿ وَمَا لِلظَّٰلِمِينَ مِنْ أَنصَارٍ ﴾ اونشته ظالمانو (كافرانو) ته هيڅ مددګاران (دعذاب په دفع كښې) دلته مراد له ظالمانوڅخه كافران دي لكه چې ابن عباس ﷺ اوجمهورمفسرينوويلى دي اوپه سورة البقرة كښې يې داسې يادونه شوې ده چې: ﴿والكافرون هم الظالمون﴾ ﴿ رَّبَّنَآ إِنَّنَا سَمِعْنَا مُنَادِيًا يُنَادِى لِلْإِيمَٰنِ ﴾ اى ربه زموږ بيشكه موږ واوريده (غږ) ديوه آوازكونكي (چې محمددى) بلل يې خلګ ! ايمان ته ﴿ أَنْ ءَامِنُوا۟ بِرَبِّكُمْ فَـَٔامَنَّا ﴾ (چې ايمان راوړئ ! په رب خپل نوايمان راووړ موږ په رب خپل) يعنى دغه بلونكې داسې ويل چې اى خلكوستاسى په رب ايمان راوړئ اودهغه په وحدانيت شاهدى وواياست نوموږ دهغه خبره ومنله اودهغه پيروى مووكړه ﴿ رَبَّنَا فَٱغْفِرْ لَنَا ذُنُوبَنَا وَكَفِّرْ عَنَّا سَيِّـَٔاتِنَا ﴾ اى ربه زموږ نومغفرت وكړه موږ ته ګناهونه(لوى) زموږ ! اوليرى كړه له موږه ګناهونه (واړه) زموږ !) يعنى اى ربه زموږ ګناهونه پټ كړه اوموږمه رسواكوه اوپه خپل فضل اورحمت سره زموږ ګناهونه محوكړه ﴿ وَتَوَفَّنَا مَعَ ٱلْأَبْرَارِ ﴾ (اووفات كړه موږ (پداسې حال كښې چې داخل اوسو) سره له ډلې دنيكانو) يعنى له نيكانوسره موصل كړه ابن عباس ﷺ وايې چې مرادله (ذنوب) څخه كبائرګناهونه

اومرادله (سيئآت) څخه صغائردی اوددې خبرې تائيدپدی هم کيږي چي: ﴿ان تجتنبوا کبائر ما تنهون عنه نكفرعنكم سياتكم﴾ نوبياتكرارنه راځي ﴿ رَبَّنَا وَءَاتِنَا مَا وَعَدتَّنَا عَلَىٰ رُسُلِكَ إِنَّكَ لَا تُخْلِفُ ٱلْمِيعَادَ ﴾ ای ربه زمونږ اوراكړه مونږ ته هغه چي وعده دی کړی ده تاله مونږ سره (په ژبه د رسولانو) يعنی مونږ ته هغه څه (جنت) راکړه چي د رسولانو په ژبه دی راسره وعده کړی ده دا دابن عباس ﷺ قول دی دنداء تكرار دبشپړې خضوع دڅرګندولو اوتضرع لپاره دی ﴿ وَلَا تُخْزِنَا يَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ ﴾ (اومه رسواکوه مونږ په ورځې دقيامت کښي!) لکه چي کفار دی رسواکړی ﴿ فَٱسْتَجَابَ لَهُمْ رَبُّهُمْ أَنِّى لَآ أُضِيعُ عَمَلَ عَٰمِلٍ مِّنكُم مِّن ذَكَرٍ أَوْ أُنثَىٰ ﴾ پس قبول کړي دوئ لره (دادعاوي) رب ددوئ (پدې شان چي) بيشکه زه نه ضائع کوم عمل دهيڅ عمل کونکي له تاسی نارينه وي (داعامل) اوکه ښځه وی حسن وايې چي دوئ به هميشه ويل ربنا ربنا ترڅوچي الله ﷻ دعاومنله.[1] ﴿ بَعْضُكُم مِّنۢ بَعْضٍ ﴾[2] (څکه چي) ځينی ستاسو دی له ځينو نورو) يعنی نارينه له ښځو او ښځي له نارينه وودي نو څرنګه چي اصل مومشترک دی اجراومکافات موهم ګډ اوشريک دی ﴿ فَٱلَّذِينَ هَاجَرُوا۟ وَأُخْرِجُوا۟ مِن دِيَٰرِهِمْ ﴾ او هغه کسان چي هجرت کړی دی دوئ (لپاره ددين) اوايستلی شوی دی دوئ له کورونو خپلو څخه ﴿ وَأُوذُوا۟ فِى سَبِيلِى ﴾ اوضرر رسول شوی دی دوئ ته په لاره زماکښي ددين په سبب ﴿ وَقَٰتَلُوا۟ وَقُتِلُوا۟ ﴾ اوجنګونه يې کړی دی (له کفاروسره) اووژل شوی دی (په غزاکښي زماپه لاره کښي) ﴿ لَأُكَفِّرَنَّ عَنْهُمْ سَيِّـَٔاتِهِمْ ﴾ (نوخاماخابه ليری کړم هرومرو له دوئ نه ګناهونه ددوئ) يعنی زه به پخپل مغفرت اورحمت سره ددوئ ګناهونه محوکړم ﴿ وَلَأُدْخِلَنَّهُمْ جَنَّٰتٍ تَجْرِى مِن تَحْتِهَا ٱلْأَنْهَٰرُ ثَوَابًا مِّنْ عِندِ ٱللَّهِ ﴾ اوخاماخابه داخل کړم هرومرو دوئ په جنتونو کښي چي بهيږي له لاندی د(مانيواونو) دهغوويالې (جزادنيکيو به ورکړو مونږ دوئ ته) په جزاورکولو (نيکو) سره دا ددوئ دنيکواعمالو په سبب سره ﴿ وَٱللَّهُ عِندَهُۥ حُسْنُ ٱلثَّوَابِ ﴾ اوالله په نزدده دي ښه ثواب (نيکه جزا) چي هغه جنت دی اوپکښي هغه څه دی چي نه خوستر ګوليدلی نه غوږونو اوريدلی دی اونه دچاپه زړه باندی تېرشوي دی بيا وروسته الله ﷻ ددی تنبيه ورکوی چي كفارکه په دی دنيا کښي په نعمتونو اوخوښيو کښي لامبي خو دا هسی نعمت دی چي زوال مومی فرمايي: ﴿ لَا يَغُرَّنَّكَ تَقَلُّبُ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ فِى ٱلْبِلَٰدِ ﴾ نه دې تېرباسي له سره تا (ای اوريدونکي) تلل راتلل دهغو کسانو چي کافران شوی دی (اوتصرف ددوئ) په ښارونو کی چي ددوئ دمالونو ګټلو اورتبو حاصلولو لپاره ځي راځي ﴿ مَتَٰعٌ قَلِيلٌ ثُمَّ مَأْوَىٰهُمْ جَهَنَّمُ ۚ وَبِئْسَ ٱلْمِهَادُ ﴾ دافائده ده لږ پس (له مرګه) ځای ددوئ دوزخ دی اوبدځای دهستوګنی دی (دادوزخ) ﴿ لَٰكِنِ ٱلَّذِينَ ٱتَّقَوْا۟ رَبَّهُمْ لَهُمْ جَنَّٰتٌ تَجْرِى مِن

---

[1] - القرطبی ۴ / ۳۱۸

[2] - طبری وايې چي ځينی ستاسو له ځينونو رودی په مرسته، ملت اودين کښي او هغه چي سوړوليکل دجلالين رايه اوڅرګنده (ظاهر) ده.

﴿ تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُ خَٰلِدِينَ فِيهَا ﴾ ليکن هغه کسان چي ويريږي دوئ له ربه خپله شته دوی لره جنتونه چي بهيږي له لاندې (دونواومانيود) هغو ويالې تل به وی دوئ په هغو جنتو کښي ﴿ نُزُلٗا مِّنۡ عِندِ ٱللَّهِۗ ﴾ پدې حال کښي چي (دغه جنتونه ځای دی) ميلمستيادی (له جانبه) دالله ﷻ ﴿ وَمَا عِندَ ٱللَّهِ خَيۡرٞ لِّلۡأَبۡرَارِ ﴾ (اوهغه شئ (باقی شئ) چي په نزدد الله ﷻ دي خيردی لپاره دنيکانو) يعنی هغه ثواب اوعزت کرامت چي دنيکانو اواخيارولپاره دالله ﷻ په نزدشته هغه تردی تللو راتللو دفجارو او اشراروچي زائل کيدونکی دی غوره دی بيا الله پاک دځينواهل کتابو کسانودايمان خبره راوړی فرمايي: ﴿ وَإِنَّ مِنۡ أَهۡلِ ٱلۡكِتَٰبِ لَمَن يُؤۡمِنُ بِٱللَّهِ وَمَآ أُنزِلَ إِلَيۡكُمۡ وَمَآ أُنزِلَ إِلَيۡهِمۡ ﴾ اوبيشکه ځينی داهل کتاب خامخاهغه څوک دی چي ايمان لری په الله اوپرهغه (قرآن) چي نازل کړل شوی دی تاسی ته (ای مسلمانانو) اوپرهغه تورات اوانجيل چي نازل کړل شوی دی دوئ ته لکه عبدالله بن سلام اوملگری يې اويا نجاشی اوپيروان تابعان يې ﴿ خَٰشِعِينَ لِلَّهِ ﴾ حال داچي ويريدونکی (متواضع) دی الله لره يعنی تذلل اوخضوع لری ﴿ لَا يَشۡتَرُونَ بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ ثَمَنٗا قَلِيلًاۚ ﴾ نه پيری (اخلی دوئ په آيتونودالله قيمت لږ ﴿ أُوْلَٰٓئِكَ لَهُمۡ أَجۡرُهُمۡ عِندَ رَبِّهِمۡۗ ﴾ (همدغه کسان (مقرردی) دوئ لره اجراوثواب ددوئ په نزددرب ددوئ) يعنی دوئ ته ددوئ دايمان ثواب مضاعف ورکوی لکه چي الله فرمايي: ﴿ إِنَّ ٱللَّهَ سَرِيعُ ٱلۡحِسَابِ ﴾ بيشکه چي الله ډيرژردی حساب دده (يعنی ډير ژرحساب اخلی) ځکه چي په ټولومعلوماتوعلم لری اودهرچا عذاب او ثواب ورته ښکاره دی چي څومره ورکړه دی ابن عباس ﷺ اوحسن وايې چي داآيت دنجاشی په باب نازل شوی کله چي نجاشی وفات شودهغه دمړينې خبرحضرت جبرائيل ﷺ رسول الله ﷺ ته ورساوونورسول الله ﷺ اصحابانوته وويل: پورته شئ اوپه نجاشی ورورباندی مولمونځ وگذارئ ! نوځينې اصحابانوځينو نوروته وويل: رسول الله ﷺ موږته حکم کوی چي دحبشوپه يوتن باندی دجنازې لمونځ وگذارو؟ نوالله داآيت نازل کړ(وان من اهل الکتاب لمن يومن بالله)[1] بياالله تبارک وتعالی دامبارک سورت پدې وصيت باندی چي دداربنونيکمرغی اوسعادت پکښې خوندی شوي پای ته رسوی فرمايي: ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱصۡبِرُواْ ﴾ ای هغوکسانوچي ايمان يې راوړی دی (ای مؤمنانو) صبرکوئ (په سختيو د طاعاتو او مصيبتونودمشکلاتو) ﴿ وَصَابِرُواْ ﴾ اوټينگ اوسئ په صبر دکفاروپه مقابل کښې دجنگ په کړاوونواوتکليفونو کښي ﴿ وَرَابِطُواْ ﴾ اومحکم اوسئ (په اسلامي سرحداتو کښي) تيارسئ اوسئ دغزااومقابلې لپاره ﴿ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ لَعَلَّكُمۡ تُفۡلِحُونَ ﴾ (اوويريږئ له الله لپاره ددې چي په مرادورسيږئ) يعنی له الله ﷻ څخه وويريږئ اودهغه اوامرو مخالفت يې مه کوئ ترڅوموددواړو جهانونو نيکمرغی په برخه شي.

[1]-البحرالمحيط ۳ / ۱۴۸ والقرطبی ۴ / ۳۲۲

بلاغت: داآیتونه دبدیع اوبیان ډیرتوکی لری چي په لاندی توګه یې لوستلای شو:

۱- داطناب صنعت دی چي داکلمه (ربنا) یې پنځه ځلی مکرراوړی دی اوغرض ځینی په تضرع کښي مبالغه اوزیاتوب دی.

۲- پدې قول دالله تعالی کښي چي فرمایي: (السموات ....والارض) دطباق صنعت دی لکه چي په (اللیل والنهار) او (قیاماً وقعوداً) او(ذکر ....وانثی) کښي همدغه صنعت لیدل کیږي.

۳- پدې کلام کښي چي فرمایي: (ما وعدتنا علی رسلک) ایجازبالحذف دی ځکه اصل یې: (ماوعدتناعلی السنة رسلک) دی اوهمدارنګه نوموړی صنعت پدی قول کښي چي (ویتفکرون في خلق السموات والارض ربنا) یعنی (قائلین ربنا).

۴-مغایرجناس پدې کلماتوکښي: (آمنوا فامنا) او(عمل عامل) او(منادیاً ینادي) راغلی دی.

۵- (لایات لاولی الالباب) دلته تنکیردتفخیم لپاره دي اولام د(انّ) په خبرکښي دتأکیددزیاتوالی لپاره راغلی دی.

۶-پدی قول دالله کښي چي فرمایي: (لایغرنک تقلب الذین کفروا) تقلب یې له تګ څخه استعاره کړی هغه تګ چي څوک یې دمکاسبودموندلولپاره کوی. والله اعلم.

فوائداوګټې:

لومړۍ فائده: څرنګه چي الله دمخلوق په هکله تفکرځانګړی کړدادې لپاره چي دخالق په شان کښي له تفکرکولوڅخه منع راغلی ده حدیث شریف دی چي فرمایي: (په مخلوق (جوړښت)کښي سوچ کوئ اوپه خالق کښي یې مه کوئ ځکه تاسودالله ورقدرنشئ پیژندلای) اوداپدی چي دالله دذات اوصفاتوکنه او(حقیقت)ته څوک رسیدلای نشی ځینوعلماوویلی د ی چي دالله په ذات کښي فکرکونکی داسی دی لکه څوک چي دلمرسترګي ته ګوری (چي ورته کتلای نشی) ځکه دالله په مثل هیڅ شی نشته.

دوهمه فائده: حضرت عائشه رضی الله تعالی عنها له داسی ترټولوعجیبه حال احواله درسول الله ﷺ څخه وپوښتله شوه چي هغې لیدلی دی هغې وویل ټول حالات عجیبه وویوه شپه زماپه نوبت چي راغی تن یې زماله تن سره ولګیداوبیایې وویل: ماپریږدئ چي دخپل خدای عزوجل عبادت وکړم ماورته وویل والله ستاله نزدیوالی ستاله خوښۍ سره مینه لرم نوهغه داوبوژي ته چي په کورکښي وو ورغی اودس یې تازه کړ ډیرې اوبه یې تویې نکړې بیاودرید ولمونځ یې ګذارل اوپه ژړاشوترڅوچي ږیره یې لمده شوه بیایې سجده وکړه اودومره یې وژړل چي مځکه لمده شوه بیاپه اړخ پریوت هم یې ژړل آن تردې چي بلال راغی اودسهاردلمانځه اذان یې کاوو ورته ویل یې: یارسول الله ﷺ ولي ژاړې ؟ الله خوستاپخواني اوراتلونکي ګناهونه بخښلي دي رسول الله ﷺ ورته وویل: (ویحک) ای بلاله څه شی به ماله ژړاڅخه رامنع کړی په تحقیق سره په ماباندی نن شپه دا آیتونه نازل شوی دی (ان في خلق السموات والارض) دآیتونوترپایه بیایې وویل ! افسوس دهغه چاپه حال چي داولولي اوتفکرپکښي ونکړي. (۱)

دالله ﷺ په مرسته دآل عمران سورت تفسیربشپړشو

۱- اخرجه ابن مردویه ابن کثیر۱ / ۳۴۸ وګوره.

دالنسآء سورت مدني دى اويوسل شپږ آيتونه لري.

دسورت په وړاندي:

دالنسآء سورت مدني داوږدوسورتونوڅخه يوسورت دى اوپه شرعى احكامو مشتمل دى هغه چې دمسلمانانوكورنۍ اوبهرنى چارې تنظيموى داسورت لكه نورمدنى سورتونه تشريعى پلوته پاملرنه كوى اوپدې كښې هغه مهم امورچې په ميرمنوپسى تعلق لري راغلى اوهمدارازدكورنۍ ، كهول ، دولت اوټولنى مهم احكام پكښې بيان شوى دى خوترټولوستره برخه يې هغه احكام دى چې دښځوسره سروكارلرى نوځكه يې سورت النسآء بولى !

دامبارك سورت دښځواويتيمانوحقوق راوړى په ځانګړى توګه ديتيمونجونوحقوق هغوئ چې داولياوو- اوصياووپه غيږكښې اوسى نوددوئ حقونه يې په ميراث ، كسب اوكار اواده كولوكښې خوندى ساتلى اودجاهليت له ناروادودونو اوظالمونيمه خواروا جونوڅخه يې ژغورلى دى.

* دميرمنوموضوع داسي څيري چې كرامت يې ساتي احترام يې پرځاى كوي هغې ته دهغې حقونه كوم چې الله ﷻ وركړى لكه ولور(مهر) ميراث اوښه ګوذاره اوچال چلندورسپارى.

* لكه چې په تفصيلى توګه دميراث احكام په عادلانه ډول ذكركوى هغه چې نياو(عدالت) اومساوات پكښې وي اوداسي دناروا(محرماتو) ښځوكه دنسب له خواوى يادرضاع (تى رودلو) له خواوى بيان كوي.

* په دى سورت كښې دزوجيت (ميره ارتينى) تعلقات تنظيمېږي اوداسي څرګندوي چې دايوازى دتن اوجسد علاقه نه بلكى دانسانيت تړون اوعلاقه ده اودغه مهر(ولور) مزدورى اوبيه نه بلكى هسى سوغات دى چې دميني مزي مرغلين كوي اوملګرتياتل ترتله اوزړونه پيوندوى.

* بيادميره حق په ښځه اودښځې حق په ميړه په ګوته كوى اوداسى لارې چارې ميره ته وربښيي چې دكورنى ژونددسمون لپاره ورته اړتياوى كله چې ددوئ ترمنځ اختلاف اومشكلات راپيښ شى دميړه دقوام معناسپړى چې داهغه قوام دى هغه چې دراعى اورعيت ترمنځ وي.

* وروسته بيادكورنۍ له دائرې څخه دټولنى دائرې ته ليږدى اوپه هرڅه كښې داحسان اونيكې مارښنه كوى اوداڅرګندوى چې داحسان بنسټ يودبله ترحم ، نصيحت اوپيرزوينه ، امانت اوپه عدالت راكړه وركړه ده ترڅوچې ټولنه په قوى اركانو اومظبوتوتاداوونو ودريږي.

* له كورنى سمون اواصلاح څخه وروسته آيتونه دبهرنى امن لپاره له دښمن سره دمقابلې داستعداد او تيارى نيولولپاره حكم كوي هغه چې دامت استقراراوسوكالى پكښې نغښتي ده.

* بياوروسته دمعاملاتوځينى قوانين دمسلمانانواودوستواويادښمنودولتونوترمنځ ټاكي.

* وريسى دجهاد امرصادروى چې په منافقينوباندى ټينګ اوسخت ګوذارونه وشي ځكه دوئ داسى دبدمرغې بوټي اودشرارت زړى دى چې تري ويره په كارده لكه چې په سورت كښې ددوئ خطرونه اودوكې ، چلونه بيان شوى دى.

* همداسى يې داهل كتابودخطراتولوري ته مسلمانان متوجه كړى چې په خاصه توګه ديهودانودريزيې دانبياووكراموپه وړاندى جوت كړى دى.

* په پای کښې سورت د نصاراوو ګمراهې ته کتنه کوی چې د حضرت مسیح ﷺ په هکله يې درلوده اوتردی اندازې يې دهغه په باب لاره ورکه کړې وه چې يو ځل يې عبادت پيل اوبيا يې په دار ځړولو(۱)
پداسی حال کښې چې دوئ ايمان درلود هغه الله او دعبادت وړدی او دتثليث آند او فکر هم ددوئ اختراع وه نولکه بت پرست مشرکان داسی ګرزيدل اودا آيتونه دوئ ته له دې ګمراهيو څخه دراګرزيدلو بلنه ورکوی ترڅو د توحيد صافه ستره سپيڅلې عقيده خپله کړی الله پاک فرمايي:

﴿وَلَا تَقُولُوا ثَلَاثَةٌ ۚ انتَهُوا خَيْرًا لَّكُمْ ۚ إِنَّمَا اللَّهُ إِلَٰهٌ وَاحِدٌ﴾ [النساء : ۱۷۱]

تسميه اونوموليې:

دغه سورت څرنګه چې زياتره برخه يې د ښځو اړوند احکام رااخلی چې په داسی زيات ډول په نوروسورتونو کښې نشته څکه نو ورته د(سورة النسآء الکبری) نوم ورکړل شوی او دا دهغه سورت په مقابل کښې چې (سورة النسآء الصغری)يې بولی اوهغه بيا هغه سورت دی چې په قرآنکريم کښې د(الطلاق) په سورت پيژندل کيږي.

الله تعالی فرمايي:

﴿يَا أَيُّهَا النَّاسُ اتَّقُوا رَبَّكُمُ الَّذِي خَلَقَكُم مِّن نَّفْسٍ وَاحِدَةٍ وَخَلَقَ مِنْهَا زَوْجَهَا وَبَثَّ مِنْهُمَا رِجَالًا كَثِيرًا وَنِسَاءً ۚ وَاتَّقُوا اللَّهَ
الَّذِي تَسَاءَلُونَ بِهِ وَالْأَرْحَامَ ۚ إِنَّ اللَّهَ كَانَ عَلَيْكُمْ رَقِيبًا ﴿١﴾ وَآتُوا الْيَتَامَىٰ أَمْوَالَهُمْ ۖ وَلَا تَتَبَدَّلُوا الْخَبِيثَ بِالطَّيِّبِ ۖ وَلَا تَأْكُلُوا أَمْوَالَهُمْ
إِلَىٰ أَمْوَالِكُمْ ۚ إِنَّهُ كَانَ حُوبًا كَبِيرًا ﴿٢﴾ وَإِنْ خِفْتُمْ أَلَّا تُقْسِطُوا فِي الْيَتَامَىٰ فَانكِحُوا مَا طَابَ لَكُم مِّنَ النِّسَاءِ مَثْنَىٰ وَثُلَاثَ وَرُبَاعَ ۖ
فَإِنْ خِفْتُمْ أَلَّا تَعْدِلُوا فَوَاحِدَةً أَوْ مَا مَلَكَتْ أَيْمَانُكُمْ ۚ ذَٰلِكَ أَدْنَىٰ أَلَّا تَعُولُوا ﴿٣﴾ وَآتُوا النِّسَاءَ صَدُقَاتِهِنَّ نِحْلَةً ۚ فَإِن طِبْنَ لَكُمْ عَن
شَيْءٍ مِّنْهُ نَفْسًا فَكُلُوهُ هَنِيئًا مَّرِيئًا ﴿٤﴾ وَلَا تُؤْتُوا السُّفَهَاءَ أَمْوَالَكُمُ الَّتِي جَعَلَ اللَّهُ لَكُمْ قِيَامًا وَارْزُقُوهُمْ فِيهَا وَاكْسُوهُمْ وَقُولُوا لَهُمْ
قَوْلًا مَّعْرُوفًا ﴿٥﴾ وَابْتَلُوا الْيَتَامَىٰ حَتَّىٰ إِذَا بَلَغُوا النِّكَاحَ فَإِنْ آنَسْتُم مِّنْهُمْ رُشْدًا فَادْفَعُوا إِلَيْهِمْ أَمْوَالَهُمْ ۖ وَلَا تَأْكُلُوهَا إِسْرَافًا
وَبِدَارًا أَن يَكْبَرُوا ۚ وَمَن كَانَ غَنِيًّا فَلْيَسْتَعْفِفْ ۖ وَمَن كَانَ فَقِيرًا فَلْيَأْكُلْ بِالْمَعْرُوفِ ۚ فَإِذَا دَفَعْتُمْ إِلَيْهِمْ أَمْوَالَهُمْ فَأَشْهِدُوا
عَلَيْهِمْ ۚ وَكَفَىٰ بِاللَّهِ حَسِيبًا ﴿٦﴾ لِّلرِّجَالِ نَصِيبٌ مِّمَّا تَرَكَ الْوَالِدَانِ وَالْأَقْرَبُونَ وَلِلنِّسَاءِ نَصِيبٌ مِّمَّا تَرَكَ الْوَالِدَانِ
وَالْأَقْرَبُونَ مِمَّا قَلَّ مِنْهُ أَوْ كَثُرَ ۚ نَصِيبًا مَّفْرُوضًا ﴿٧﴾ وَإِذَا حَضَرَ الْقِسْمَةَ أُولُو الْقُرْبَىٰ وَالْيَتَامَىٰ وَالْمَسَاكِينُ
فَارْزُقُوهُم مِّنْهُ وَقُولُوا لَهُمْ قَوْلًا مَّعْرُوفًا ﴿٨﴾ وَلْيَخْشَ الَّذِينَ لَوْ تَرَكُوا مِنْ خَلْفِهِمْ ذُرِّيَّةً ضِعَافًا خَافُوا عَلَيْهِمْ
فَلْيَتَّقُوا اللَّهَ وَلْيَقُولُوا قَوْلًا سَدِيدًا ﴿٩﴾ إِنَّ الَّذِينَ يَأْكُلُونَ أَمْوَالَ الْيَتَامَىٰ ظُلْمًا إِنَّمَا يَأْكُلُونَ فِي بُطُونِهِمْ نَارًا ۖ
وَسَيَصْلَوْنَ سَعِيرًا ﴿١٠﴾﴾ النساء:۱-۱۰

۱- يعنی دوئ همداسی ګومان کاوه چې په دار شواو ربښتيا وايي چې: (اذاصُلب الاله بفعل عبدٍ يهودیٍ فماهذاالاله ؟).

لغتونه:

(بث) تيت اوخپاره كړی دی لكه (وزرابي مبثوثة) - (الارحام) د(رحم)جمع ده په اصل كښې دجنين (ماشوم)دموريه نس كښې هستوګنځې ته وايي اوبيايې په خپلوي باندی اطلاق كيږي (رقيبا) ساتونكی خبرداريه اعمالو(حوبا) ګناه او(تعولوا) چې تاسوبه ظلم وكړئ مائل به شی ويل كيږي. (عال الميزان) كله چې يوه خواكوږشي اوهمدارنګه(عال الحاكم) معنی داچې ظلم يې وكړ (صدقاتهن) ددوی مهرونه صداق مهرته وايي اودصدقة جمع ده (نحلة) سوغات (السفهاء) كم عقله خلک اودلته مراد ځينې مبذرين دی (آنستم) كه موولیدې اولكه چې ويل كيږي (آنس الشئ) يعنی ويې ليدل شي (بدارا) په تلوارسره يعنی چې په تلوارسره يې خوری چې مباداًيتيم لوئ شی اوبيا به يې ورته سپاري. (سديدا) له سدادڅخه اخيستل شوی اواستقامت ته وايي.

دنزول سبب يې:

أ : عروة ابن الزبير وايي چې هغه له حضرت عائشې رضی الله عنهاڅخه ددې آيت په هكله چې فرمايي (وَإِنْ خِفْتُمْ أَلَّا تُقْسِطُوا۟ فِى ٱلْيَتَٰمَىٰ) [النساء: ۳] وپوښتل هغې ورته وويل: ای دخورزويه ! داهغه يتيمه ده چې دولی په تصرف كښې وی اوله هغه سره يې مال ګډوی دهغې مال اوجمال يې خوښيږی غواړی چې په نكاح يې واخلی پرته له دی چې بشپړولور په عدل سره ورته ورسوی لكه چې بل څوک يې دې ته وركوی نوله دې څخه دوئ منع شول ترڅو عدل وكړی اوهغوئ (يتيمو) ته خپل ولورپه ښه شان ورسوي نودوئ ته امروشوچې له دې يتيمې پرته نورې ښځې چې زړه يې غواړی په نكاح واخلی اوخلكوله رسول الله ﷺ څخه ددې آيت له نزول څخه وروسته فتوی غوښتله چې بيا داآيت نازل شو: ﴿ وَيَسْتَفْتُونَكَ فِى ٱلنِّسَآءِ ﴾.[النساء : ۱۲۷] دآيت ترپايه.([1]).

ب : مقاتل بن حيان روايت كوی چې دغطفان دقبيلې يوتن چې (مرثدبن زيد) نوميده دخپل يتيم وراره مال ورته پاتې ووهغه يې وخوړدا آيت نازل شو: ﴿إِنَّ ٱلَّذِينَ يَأْكُلُونَ أَمْوَٰلَ ٱلْيَتَٰمَىٰ ظُلْمًا ﴾ [النساء: ۱۰] ([2]) دآيت ترپايه.

تفسير:

الله تبارک وتعالی دالنسآء سورت په يوعام خطاب چې ټول بشريت ته متوجه دی پيل كړهغوئ يې ديوه الله عبادت ته راوبلل هغه چې هيڅ شريک نلری اودوئ ته يې تنبيه وركړه چې الله دقدرت اووحدانيت خاونددی ويې فرمايل: (﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ ٱتَّقُوا۟ رَبَّكُمُ ٱلَّذِى خَلَقَكُم مِّن نَّفْسٍ وَٰحِدَةٍ ﴾ ای خلكو(تل) وويريږئ له ربه خپله ! هغه رب چې پيدايې كړئ تاسی له نفسه يوه نه چې آدم عليه السلام دی)(﴿وَخَلَقَ مِنْهَا زَوْجَهَا ﴾ او پيدايې كړه له دې نفسه جوړه دده (چې حواء ده) ﴿ وَبَثَّ مِنْهُمَا رِجَالًا كَثِيرًا وَنِسَآءً ﴾ اوخپاره يې كړل له دی

---

[1] – اخرجه البخاری ومسلم

[2] – القرطبی ۵ / ۵۳ واسباب النزول ص ۸۳.

دوارونه سرې اوښځې دیرې ﴿وَاتَّقُوا اللَّهَ الَّذِي تَسَاءَلُونَ بِهِ وَالْأَرْحَامَ﴾ اووویریږئ له الله هغه چې سوال کوئ تاسې یوتربله (په نامه) دده سره (یعنی وایاست چې (اسألک بالله) اویاداچې(انشدک بالله) اووویریږئ له پریکولودخپلوئ څخه ﴿إِنَّ اللَّهَ كَانَ عَلَيْكُمْ رَقِيبًا﴾ بیشکه الله دی پرتاسې ساتونکی) ستاسوپرتولو احوالو او اعمالو خبرداردي) هو، الله پاک دلته دآیت په پیل اوپای کښې په تقوی اوپرهیزګاری ټینګاروکړددې لپاره چې دالله هغه سترحق ته چې په بندګانوېې لري اشاره وشی اوداچې الله تعالی په آیت کښې تقوی اوصله رحمې دیوځای راوړلوارشادوفرمایه ترڅوددغې انسانې رابطې په اهمیت دلالت وکړې چې خلک ټول له یو اصل څخه پیدا شوی او دوی په انسانیت اونسب کښې سره ورونه دی که خلک پدی وپوهیږې نوبه په امن اونیکمرغۍ کښې ژوندسباکوی اوداسې ویرانونکې اوخونړۍ جنګونه به چې وچ اولامده سوزوې واړه اوزاړه وژنې له سره نکوی بیاالله تعالی دیتیمانو یادونه کوې اوهسې توصیه کوی چې له دوئ سره باید غوره چال چلندوشي اودمالونوېې سمه پالنه اوساتنه وکړل شی فرمایې: ﴿وَآتُوا الْيَتَامَىٰ أَمْوَالَهُمْ﴾ اوورکړئ یتیمانوته مالونه ددوئ (کله چې دوئ بلوغ ته ورسیږې) ﴿وَلَا تَتَبَدَّلُوا الْخَبِيثَ بِالطَّيِّبِ﴾ اوبدل مه اخلئ تاسې خبیث (حرام) دیتیمانومال) په طیب (حلال ستاسومال) باندی ﴿وَلَا تَأْكُلُوا أَمْوَالَهُمْ إِلَىٰ أَمْوَالِكُمْ﴾ (اومه خورئ تاسې مالونه ددوئ له مالونو خپلوسره) یعنی دیتیمانومالونه له خپلوسره مه ګډوئ چې بیایې یوځای خورئ (﴿إِنَّهُ كَانَ حُوبًا كَبِيرًا﴾ بیشکه دادیتیمانو مال خوړل لویه ګناه ده) څکه چې یتیم پاملرنې اوحمایت ته اړوی هغه نوبیکسه بی سراوسامانه اوضعیف دی اوپه ضعیف باندی ظلم کول دالله ﷻ په نزدستره ګناه ده وروسته له دی بیا الله تعالی دیتیمې نجلۍ له په نکاح کولوڅخه په داسې حال کښې چې مهر مثل ورنکړې دځان ژغورلوارشادفرمایې : ﴿وَإِنْ خِفْتُمْ أَلَّا تُقْسِطُوا فِي الْيَتَامَىٰ﴾ (اوکه وویریږئ تاسې چې وبه نکړی شئ تاسې عدل اوانصاف په حق دیتیمانوکښې) یعنی که چیرې له یوستاسې سره په کورکښې ستاسې ترپالنې لاندې یتیمه وي اوتاسې پدې ویریږئ چې مهرمثل به ورنکړی شې نود هغې له نکاح کولوڅخه تیرشئ نورې ښځې په نکاح واخلئ الله خودرباندی تنګسیانه دی راوړې(۱) ﴿فَانكِحُوا مَا طَابَ لَكُم مِّنَ النِّسَاءِ مَثْنَىٰ وَثُلَاثَ وَرُبَاعَ﴾ نوپه نکاح سره واخلئ تاسې (نورې) هغه ښځې چې خوښې وی تاسې ته له ښځودوه دوه اودرې درې اوڅلورڅلور ﴿فَإِنْ خِفْتُمْ أَلَّا تَعْدِلُوا فَوَاحِدَةً﴾ نوکه بیا وویریږئ چې عدل به ونکړی شئ دښځو تر منځ کښې په نفقه نوبت اونوروکښې نویوه (اصیله)کوئ ﴿أَوْ مَا مَلَكَتْ أَيْمَانُكُمْ﴾ یاهغه مینځې چې مالکان شوی دی دهغوښی لاسونه ستاسې (یعنی چې تاسې یې مالکان یاست څکه چې دهغوئ هغه حقوق نشته کوم چې داصیلوښځووی. ﴿ذَٰلِكَ أَدْنَىٰ أَلَّا تَعُولُوا﴾ دانکاح ښه نژدی ده دې ته چې ظلم ونکړئ

۱- طبري داغوره کړی چې معنایې کوي که تاسوویریدلای چې دیتیمانوپه هکله به عدل ونکړای شی اودارنګه ویریدلای چې دمیرمنوترمنځ به عدل ونکړای شی خوکوم تفسیرچې موږ ولیکل دابن کثیرغوره اوله شان نزول سره سم دی.

تاسو (یعنی نکاح دیوې اصیلې یادد یرووینځو) ﴿ وَءَاتُواْ ٱلنِّسَآءَ صَدُقَٰتِهِنَّ نِحۡلَةٗ ﴾ اوورکوئ تاسی ښځولره مهرونه ددوئ په ورکره دخوښې سره ﴿ فَإِن طِبۡنَ لَكُمۡ عَن شَيۡءٖ مِّنۡهُ نَفۡسٗا ﴾ نوکه راضی شوی دا (ښځې) تاسی ته په (ښښنه) له کوم شی له دې (مهره په خوشالی) دنفس خپل ﴿ فَكُلُوهُ هَنِيٓـٔٗا مَّرِيٓـٔٗا ﴾ نوخورئ تاسی دغه شي پداسی حال کښی چې خوندور، حلال ، بی ضرره وي ﴿ وَلَا تُؤۡتُواْ ٱلسُّفَهَآءَ أَمۡوَٰلَكُمُ ٱلَّتِي جَعَلَ ٱللَّهُ لَكُمۡ قِيَٰمٗا ﴾ (اومه ورکوئ تاسی مبذرینویتیمانوته مالونه خپل هغه چې گرځولی دی الله دپاره ستاسی سبب دگذارې) چې دوئ یې ضائع کړي ابن عباس ﷺ وایې چې سفهاء عبارت له ماشومانواوښځو څخه دی اوطبری وایې چې : سفیه ته خپل مال مه ورکوه هغه چې په بیکاره تدبیرسره یې بایلی هغه که ماشوم وی اوکه سړی نارینه وی اوکه ښځه وی ([1])﴿ وَٱرۡزُقُوهُمۡ فِيهَا وَٱكۡسُوهُمۡ ﴾ اوروزې ورکوي دوئ ته په دی مالونوکښی اوجامې ورکوئ دوئ ته ﴿ وَقُولُواْ لَهُمۡ قَوۡلٗا مَّعۡرُوفٗا ﴾ اووایئ دوئ ته خبره نیکه (پسته خوږه اومعقوله) یعنی دوئ ته تسلی ورکړئ چې داگردستاسی مال دی کله چې پوهان هوښیاران شئ داتاسوته درکول کیږي ﴿ وَٱبۡتَلُواْ ٱلۡيَتَٰمَىٰ حَتَّىٰٓ إِذَا بَلَغُواْ ٱلنِّكَاحَ ﴾ اووازمویئ تاسی یتیمان ترهغه پوري کله چې ورسیږي دوئ (حدد) نکاح ته (چې د بلوغ وخت دی) ﴿فَإِنۡ ءَانَسۡتُم مِّنۡهُمۡ رُشۡدٗا فَٱدۡفَعُوٓاْ إِلَيۡهِمۡ أَمۡوَٰلَهُمۡ﴾ نوکه وموندہ تاسی له هغونه هوښیاری نووسپارئ تاسی دوئ ته مالونه دهغوئ) یعنی که تاسودهغوئ صلاح ددین اومال په هکله ولیده نوسمدستې ددوئ مالونه وروسپارئ ﴿ وَلَا تَأۡكُلُوهَآ إِسۡرَافٗا وَبِدَارًا أَن يَكۡبَرُواْ ﴾ (اومه خورئ تاسی دادیتیمانونا پوهانومالونه) په اسراف اوتلوارسره) یعنی له ضرورت څخه زیات ،په تلوارسره پداسی شان چې تاسی غواړئ ترپخواله دی چې دوئ لوئ شی اوستاسی له لاسونوځخه یې وکاږي هغه وخورئ اوولگوئ ﴿ وَمَن كَانَ غَنِيّٗا فَلۡيَسۡتَعۡفِفۡ ﴾ (اوهرڅوک چې وی مالدارنوښایې چې ځان پاک وساتې (دیتیمانوله مالونو) اوپه وصایت باندی مزدوري وانخلی ﴿ وَمَن كَانَ فَقِيرٗا فَلۡيَأۡكُلۡ بِٱلۡمَعۡرُوفِ ﴾ اوهرڅوک چې وی فقیرنوخوري دی له دی مال څخه په معروف (له دستورسره سم دمزدوري په اندازه) سره ﴿ فَإِذَا دَفَعۡتُمۡ إِلَيۡهِمۡ أَمۡوَٰلَهُمۡ فَأَشۡهِدُواْ عَلَيۡهِمۡۚ ﴾ نوکله چې ورکړئ (وسپارئ) تاسی دغویتیمانوته) مالونه ددوئ نوشاهدان ونیسئ تاسی پردوئ باندی) ترڅوچې بیاانکارونکړي چې تسلیم کړی یې نه دی ﴿ وَكَفَىٰ بِٱللَّهِ حَسِيبٗا ﴾ اوکافی دی الله پدې حال کښې چې ښه حساب کونکي دی بیاالله تبارک وتعالی دنارینه اوښځینه دمیراث برخه بیانوي فرمایې : ﴿ لِّلرِّجَالِ نَصِيبٞ مِّمَّا تَرَكَ ٱلۡوَٰلِدَانِ وَٱلۡأَقۡرَبُونَ وَلِلنِّسَآءِ نَصِيبٞ مِّمَّا تَرَكَ ٱلۡوَٰلِدَانِ وَٱلۡأَقۡرَبُونَ ﴾ (شته نارینه وولره (هم لوی وي که واړه) نصیب ددوئ له هغه ماله چې پرې ایښي وی موراوپلاراوخپلوانواوشته ښځولره (هم

---

[1] - الطبری ۷/ ۵۲۵ .

لوېي وي اوکه وړې) برخه له هغه ماله چې پرې ايښي وی مور او پلار او خپلوانو) ددوئ ټول دوراثت په حق کښې سره برابردی که څه هم داندازې توپيرېې شته دنزول سبب يې داووچې ځينی عربو به ښځو اوماشومانوته دميراث حق نه ورکاوو اوويل به يې چې هغه څوک دميراث حق لری چې جګړه کوی اوکورنۍ ژغوری نوالله دجاهليت حکم په پورتنی آيت باطل کړ ﴿ مِمَّا قَلَّ مِنْهُ أَوْ كَثُرَ ﴾ هغه چې لږوي له دې ماله اوکه ډېروی ﴿ نَصِيبًا مَّفْرُوضًا ﴾ نصيب مقررکړی شوي دی (له طرفه دالله نه) يعنی داسی برخه چې الله پخپل مبين کتاب کښی په عادلانه شريعت کښې ټاکلی ده ﴿ وَإِذَا حَضَرَ الْقِسْمَةَ أُولُوا الْقُرْبَىٰ وَالْيَتَامَىٰ وَالْمَسَاكِينُ فَارْزُقُوهُم مِّنْهُ ﴾ اوکله چې حاضرشی په وخت دويش (دميراث کښې) خاوندان دخپلوئ (چې وارثان نه وي) اويتيمان اومسکينان وی نوروزي ورکوئ تاسی دوئ لره له هغه (ميراثه) ددوئ دخوشحالولولپاره ﴿ وَقُولُوا لَهُمْ قَوْلًا مَّعْرُوفًا ﴾ (اووواياست تاسی دوئ ته خبره معروفه (خوږه معقوله) يعنی داچې ورته ووایاست دادیتیمانوماشومانومال دی اوموږ يې مالکان نه يو ﴿ وَلْيَخْشَ الَّذِينَ لَوْ تَرَكُوا مِنْ خَلْفِهِمْ ذُرِّيَّةً ضِعَافًا خَافُوا عَلَيْهِمْ ﴾ اوودې ويرېږي (دیتیمانوپرضیاع) هغه وصیان که پرېږدي دوئ پس له (مرګه) خپل اولادضعيفان (نو) ويرېږي به دوئ په دغو (اولادونوچې وروسته له موږ به دوئ هم داسی شی) يعنی ای وصي خپل واړه ماشومان وروسته له خپله مرګه په نظرکښی ولره له دې يتيمانوسره هغسی معامله وکړه څرنګه چې ته دخپلواولادونولپاره انتظارکوي ﴿ فَلْيَتَّقُوا اللَّهَ وَلْيَقُولُوا قَوْلًا سَدِيدًا ﴾ (پس ودې ويرېږي دوي له الله ﷻ څخه اوودې وايې دوئ ته خبره سمه خوږه) يعنی دوئ ته دې داسی دمهربانی څخه ډکه پسته خبره لکه چې خپلواولادونوته يې کوي وکړي ﴿ إِنَّ الَّذِينَ يَأْكُلُونَ أَمْوَالَ الْيَتَامَىٰ ظُلْمًا ﴾ بيشکه هغه کسان چې دوئ خوری مالونه دیتیمانوپه ظلم سره (بې له شرعی اذنه) ﴿ إِنَّمَا يَأْكُلُونَ فِي بُطُونِهِمْ نَارًا ﴾ خبره داده چې دوئ خوري په (ډکو) ګیډوخپلوسره اور) يعنی دغه مال به ددوئ په ګيډوکښې دقيامت په ورځ بليږي ﴿ وَسَيَصْلَوْنَ سَعِيرًا ﴾ اوژربه ورسيږي (ننه به وځي) دوئ اورسخت ته هغه سترد سعيراورته.

بلاغت:

پدې آيتونوکښې دبلاغت اوبيان چې کومي ښکلاوي دي په لاندي ډول بيانيږي:

۱- دطباق صنعت چې پدی هردوو کلماتوکښې جلاجلا شته دی لکه (غنيا او فقيرا) او(قل او کثر) او (رجالاء ونساء) او(الخبيث - الطيب) ترمنځ.

۲- مغايرجناس لکه په: (دفعتم ... فادفعوا) او (فولوا قولا) کښې.

۳- داطناب صنعت چې فرمايي: (فادفعوا إليهم اموالهم ...فاذا دفعتم إليهم اموالهم) اوپدی کلام کښې (للرجال نصيب مما ترک الوالدان... وللنساء نصيب مما ترک الوالدان والاقربون) .

۴ - مرسل مجاز چې فرمايي: (وآتوا اليتامى أموالهم) چې دادماکان په اعتبار سره دی يعنی دوئ چې پخوا يتيمان وو او همدارنګه پدې کلام کښی چې (ياکلون في بطونهم نارا) ځکه دا په اعتبار دمايؤل اليه سره لکه چې بل ځای راځي: (اني أراني اعصر خمرا) يعنی زه وينم نچوړکوم دانګورو چې بيا شراب جوړشي.

۵ - لطيفه مقابله لکه چې الله تعالی فرمايي: (ومن كان غنيا فليستعفف ومن كان فقيرا فلياكل بالمعروف).

۶ - دايجاز صنعت لکه چې په ثوځايونوکښې راځي دمثال په توګه: (رجالاً كثيرا ونساء) يعنی ونسآء کثيرات.

فوائد او ګټې:

لومړی فائده: څرنګه چې الله پاک دامبارک سورت پدی کلماتو پيل کړی چې دوئ يې له يوه نفس څخه پيدا کړی پدې کښې ډيره ښايسته سريزه او دمطلع براعت دی چې پدې سورت کښې دنکاح احکام، دميراث او زوجيت حقوق او دمصاهرت، رضاع (تي رودلو) اونور شرعي حکمونه خوندي دي.

دوهمه فائده: غالبا کله چې خطاب په (يآيها الناس) سره وي هغه دکافرانو ويا کافرانو او نورو لپاره وي نوورو سته ځينی دوحدانيت اوربوبيت دلائل راځي لکه: (يا ايها الناس اعبدوا ربكم) او (يا ايها الناس ان وعد الله حق) اوکله چې خطاب دمؤمنانو لپاره وي نوورو سته ځينی دنعمتونو يادونه وی لکه چې دلته راغلی دغه خبره دالبحر المحيط مؤلف ليکلی ده[1]

دريمه فائده: څرنګه چې دګيډو ذکر يې کړی اوخوراک خوارومروپه ګيډه کښې وی دادتاکيد اومبالغې لپاره لکه چې څوک ووايي: (ابصرت بعينی وسمعت بأذنی) اولکه دالله تعالی داقول چې: (ذلكم قولكم بافواهكم).

څلورمه فائده: ديتيمانو دمالونو نسبت الله پاک اوصياووته وکړ. اوسره له دې چې داخو ديتيمانو خپل مالونه دی ددې لپاره چې دامت ترمنځ دتکافل تنبيه وکړی اوداچې ددوئ هڅونه وشی چې ويې ساتی اوضائع يې نکړی ځکه دناپوه مبذر په ضائع کولوکښې دګردې ټولنې لپاره ضرروی.

دزوجاتو دتعدد په هکله څوخبرې:

دزوجاتو دتعدد (څووالی) مسئله دژوندانه دپيښو ارتياده داهسی تشريعي حکم نه دی چې يوازې اسلام راوړی بلکه اسلام هغه په داسی حال کښې موندلی چې قيودا وشرائط يې نه درلودل او په غيرانسانی توګه دود اورواج ووهغه يې په ښکلی ډول وپييل اودځينو نابرېره حالاتو لپاره يې درمل کړهغه حالات چې ټولنه يې په رنځ رنځوره وه په حقيقت کښې دتعدد روا والی اوتشريع داسلام له مفاخرو اوويا ړونوڅخه يوويا ړدی ځکه ويې کړای شو هغه اجتماعي مشکله مسئله حل کړی کومه چې ترټولو مشکلاتو سخته اوستونزمنه وه چې امتونه اوټولنې ورباندی اخته اوپرانستل يې ورته ممکن نه ووټولنه دتلې په شان ده چې بايد دواړه پلې يې سره برابرې وی نو ناورين به هلته پيښ شی کله چې

---

[1]- البحرالمحيط ۳ / ۱۵۳.

دښخوشميردنارينه وودوه چنده شي هلته به څه کوي ؟ آيابنځه به دنکاح له نعمت څخه محروموي اوهغوئ ته به داحق نه ورکوي چې مورجوره شي ؟ څودرزالت اوزنالاره ونيسي ؟ اوکه داچې داغوته ستونزه په داسې ډول وسپړل شي چې دميرمنې کرامت دکورنۍ سپيڅلتيااود ټولنې سموالي پکښې رادبره شي زمونږ ددې خبرې دشاهدترټولونژدې مثال دادی چې په جرمنی کښې له دوهمې نړيوالې جګړې څخه وروسته پيښ شول هلته ترنارينه وودښخوشميرخوځله زيات شواودهرزلمي په مقابل کښې درې نجونې وې داهسې داجتماعې حالت يواختلال وونودقانون جوړونکي به ددې مواجهت اومخامخوالي څنګه کوي ؟ اسلام همدغه ستونزه پخپل عالمشمول قانون اوتشريع سره حل کړې خو مسيحيت لاس ترزنی ورته حيران ناست دی چې نه پرمخ اونه شاته درومي اوروپايې سړی ته دهغه دين دتعدد اجازه نه ورکوي خوهغه دخپل ځان لپاره دسلګونوښځواشنايي اوملګرتوب دپليتی لپاره رواګنې پلار خپله پيغله لورله خپل آشناسره ويني اووربانديې خوشحاليږي آن تردې چې ددوئ دوارولپاره ټولې ددوئ دخوښې آرامی لارې چارې پخپله سموي اوداګواکی منل شوی دوداورواج ګرځيدلی دی چې دولتونه يې دي ته اړکړی چې ددواړوجنسونونارو اړيکې په قانونی توګه ومنی هغوئ داخلاقی انحطاط دروازه دواړه پلې پرانستلی ده اودوئ ګواکی داصل په توګه دزوجاتوتعددته غاړه ايښی خوداشنايې اوانډيوالی ترپردې لاندې هغه چې حقيقی زواج دی خوليکل شوی نه وی اونارينه کولای شی هغه ښځه هروخت چې وغواړی وشړی پرته له دې چې هيڅ حق اوحقوق ورکړی ددوئ ترمنځ يوازې دتن اوشهوت اړيکې وی نه دکورنۍ. اونه هم دميره اوميرمنې علاقه اوتړاو، نودتعجب خبره داده چې يوځوک دزوجاتوتعددپه حلاله توګه منع کوي اوپه حرامه توګه ورته اجازه ورکوي چې په نتيجه کې يې ميرمن اوښځه دانسانيت له مرتبې څخه حيوانيت ته راښکته کړی ده

الله تعالی فرمايي:

﴿ يُوصِيكُمُ اللَّهُ فِي أَوْلَادِكُمْ لِلذَّكَرِ مِثْلُ حَظِّ الْأُنثَيَيْنِ فَإِن كُنَّ نِسَاءً فَوْقَ اثْنَتَيْنِ فَلَهُنَّ ثُلُثَا مَا تَرَكَ وَإِن
كَانَتْ وَاحِدَةً فَلَهَا النِّصْفُ وَلِأَبَوَيْهِ لِكُلِّ وَاحِدٍ مِّنْهُمَا السُّدُسُ مِمَّا تَرَكَ إِن كَانَ لَهُ وَلَدٌ فَإِن لَّمْ يَكُن لَّهُ وَلَدٌ وَوَرِثَهُ
أَبَوَاهُ فَلِأُمِّهِ الثُّلُثُ فَإِن كَانَ لَهُ إِخْوَةٌ فَلِأُمِّهِ السُّدُسُ مِن بَعْدِ وَصِيَّةٍ يُوصِي بِهَا أَوْ دَيْنٍ آبَاؤُكُمْ وَأَبْنَاؤُكُمْ لَا تَدْرُونَ
أَيُّهُمْ أَقْرَبُ لَكُمْ نَفْعًا فَرِيضَةً مِّنَ اللَّهِ إِنَّ اللَّهَ كَانَ عَلِيمًا حَكِيمًا (١١) ۞ وَلَكُمْ نِصْفُ مَا تَرَكَ أَزْوَاجُكُمْ
إِن لَّمْ يَكُن لَّهُنَّ وَلَدٌ فَإِن كَانَ لَهُنَّ وَلَدٌ فَلَكُمُ الرُّبُعُ مِمَّا تَرَكْنَ مِن بَعْدِ وَصِيَّةٍ يُوصِينَ بِهَا أَوْ
دَيْنٍ وَلَهُنَّ الرُّبُعُ مِمَّا تَرَكْتُمْ إِن لَّمْ يَكُن لَّكُمْ وَلَدٌ فَإِن كَانَ لَكُمْ وَلَدٌ فَلَهُنَّ الثُّمُنُ مِمَّا تَرَكْتُم
مِّن بَعْدِ وَصِيَّةٍ تُوصُونَ بِهَا أَوْ دَيْنٍ وَإِن كَانَ رَجُلٌ يُورَثُ كَلَالَةً أَوِ امْرَأَةٌ وَلَهُ أَخٌ أَوْ أُخْتٌ فَلِكُلِّ
وَاحِدٍ مِّنْهُمَا السُّدُسُ فَإِن كَانُوا أَكْثَرَ مِن ذَٰلِكَ فَهُمْ شُرَكَاءُ فِي الثُّلُثِ مِن بَعْدِ وَصِيَّةٍ يُوصَىٰ بِهَا أَوْ دَيْنٍ
غَيْرَ مُضَارٍّ وَصِيَّةً مِّنَ اللَّهِ وَاللَّهُ عَلِيمٌ حَلِيمٌ (١٢) تِلْكَ حُدُودُ اللَّهِ وَمَن يُطِعِ اللَّهَ وَرَسُولَهُ يُدْخِلْهُ

جَنَّٰتٍ تَجۡرِي مِن تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُ خَٰلِدِينَ فِيهَاۚ وَذَٰلِكَ ٱلۡفَوۡزُ ٱلۡعَظِيمُ ﴿١٣﴾ وَمَن يَعۡصِ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ وَيَتَعَدَّ حُدُودَهُۥ يُدۡخِلۡهُ نَارًا خَٰلِدٗا فِيهَا وَلَهُۥ عَذَابٞ مُّهِينٞ ﴿١٤﴾ ﴾ النساء: ۱۱ - ۱۴

مناسبت اوتړاو:

کله چې په تېروآيتونوکښې الله ﷻ ديتميانوپه هلکه توصيه وفرمايله اوپه ترڅ کښې يې نورخپلوان هم په اجمالي توګه بيان کړل نودلته يې په تفصيل سره دميراث احکام ذکرکړل ترڅوده‌غه اجمال لپاره توضيح شی نوبې داولادونوکه زامن وی اوکه لوڼې برخې وتاکلی بيايې دپلرونواومېندو وروسته دمېړونواومېرمنواوبيايې دخويندواوورونوونډې اوبرخې يادې کړی.

لغتونه:

(يوصيکم) وصيت کوی تاسوته په يوشی باندی عهداوحکم کولوته وصيت وايې اوترامردايصاء لفظ په اهتمام کولوکښې ښه ابلغ دی ځکه هغه په يوشی باندی دحرص غوښتنې اوتمسک ته وايې (فريضة) حق ، فرض اولازم ته وايې (کلالة) له (کل) اخستل شوی چې ضعف اوناتوانی ته وايې اوپه شرعی اصطلاح کښې هغه چاته ويل کيږي چې نه اولاد لري اونه پلار اومور يعنی نه اصل لری اونه هم فرع (حدود الله) دالله ﷻ احکام اوټاکلی فرائض چې تجاوز اوتېری ورځخه ناروا وی.

دنزول سبب:

روايت کاوه شي چې د(سعدبن ربيع) مېرمن سره له دوولوڼورسول الله ﷺ ته راغله اورته ويل يې: يارسول الله ﷺ دغه دواړه دسعدلوڼې دی ځوک چې له تاسره داحدغزاته تللی اوهلته شهيدشوددې نجونو تره (کاکا) ټول مال ځني يوړاوهيڅ شی يې دوئ ته نه پريښوداودوئ له ماله پرته هيڅوک هم په نکاح نه اخلی رسول الله ﷺ ورته وويل : الله به پدې هکله فيصله کوی اوپدې هکله دميراث داآيت نازل شوچې : (يوصيکم الله في اولادکم) دآيت ترپايه نورسول الله ﷺ يې تره ته ځوک ورواستول چې دسعدلوڼوته دوه ثلثه اوموړته يې اتمه برخه ميراث ورکړی اوچې پاتی شی هغه يې ستاده (۱)

تفسير:

﴿ يُوصِيكُمُ ٱللَّهُ فِيٓ أَوۡلَٰدِكُمۡۖ ﴾ حکم کوي تاسی ته الله (په حق دميراث)د اولادستاسی کښې يعنی امرپه عدل کولوکوي دميراث په هکله ﴿ لِلذَّكَرِ مِثۡلُ حَظِّ ٱلۡأُنثَيَيۡنِۚ ﴾ شته نارينه وولره (له ميراثه) په مثل دبرخې ددووښځو ﴿ فَإِن كُنَّ نِسَآءٗ فَوۡقَ ٱثۡنَتَيۡنِ فَلَهُنَّ ثُلُثَا مَا تَرَكَۖ ﴾ نوکه وودااولاد(خالص) ښځې پورته له دووځخه (يادوې) نو(شته) دوئ لره دوه ثلثه (دوه دريمې) له هغه ماله چې پری ايښې وي (مړي) ﴿ وَإِن كَانَتۡ وَٰحِدَةٗ فَلَهَا ٱلنِّصۡفُۚ ﴾ اوکه وه دالوريوه نوهغې لره نيمايې (دترکې دی) الله لومړي داولادپه ميراث بيانولوپيل کړی اوبيايې موراوپلار راوړی ځکه دميراث په باب فرع تراصل دمخه ده نوالله وفرمايل ! ﴿ وَلِأَبَوَيۡهِ لِكُلِّ وَٰحِدٖ مِّنۡهُمَا ٱلسُّدُسُ ﴾ اوشته موراوپلار دده لره لپاره دهريوه له دی

۱- رواه ابوداؤدوالترمذی.

دواړو شپږمه برخه (مِمَّا تَرَكَ) له هغه ماله چې پرېږ اینبی وی (مړی) ﴿إِن كَانَ لَهُۥ وَلَدٌ فَلِأُمِّهِ ٱلسُّدُسُ﴾ كه وی مړی لره (ذوذات) نروي اوكه ښځه ځكه دولد په دواړو باندی اطلاق كیدای شی)نو مور لره یي شپږمه ده﴿ فَإِن لَّمْ يَكُن لَّهُۥ وَلَدٌ وَوَرِثَهُۥٓ أَبَوَاهُ ﴾ نو كه نه وي ده لره (ذوذات) حال داچې میراث اخلی له ده څخه مور او پلار دده (اویا ورسره یو دزوجینو) دده﴿ فَلِأُمِّهِ ٱلثُّلُثُ ﴾ نو ده مور دده لره ثلث (دریمه) او پاتی نوریې دپلار ده (وروسته له فرض دیو دزوجینو) څخه (فَإِن كَانَ لَهُۥٓ إِخْوَةٌ ﴾ نو كه وي مړی لره ورونه ((یا خویندي) نو شته مور دده لره شپږمه (برخه) او نورټول یې دپلار دی او حكمت پكښې دادی چې پلار دوئ ته په نفقه وركولو مكلف دی او مور دغه مكلفیت نه لری ځكه نو دپلار اړتیا دمال لپاره ترمور زیاته ده ﴿ مِنۢ بَعْدِ وَصِيَّةٍ يُوصِى بِهَآ أَوْ دَيْنٍ ﴾ (پس له اداكولو دوصیت څخه چې وصیت وكړی مړی په هغه سره یا پس (له اداكولو) ددین څخه) یعنی دوارثانو حق وروسته له تنفیذ دوصیت او پریكولو دپور دمړي څخه ده تركه تردي دمخه نه ویشل كیږي ﴿ ءَابَآؤُكُمْ وَأَبْنَآؤُكُمْ لَا تَدْرُونَ أَيُّهُمْ أَقْرَبُ لَكُمْ نَفْعًا فَرِيضَةً مِّنَ ٱللَّهِ ﴾ (پلرونه ستاسی او زامن ستاسی نه پوهیږئ تاسی چې كوم یو له دوئ زیات نژدی دی تاسی ته له جهته دنفعې (دابرخې فرض شوي دی) مقرره برخه له (جانبه) دالله ﷻ) یعنی الله پخپله دمیراث ویش كړی دی او له خپل علم او حكمت سره سم یې فرائض ټاكلی او داسی ویش یې فرمایلی چې پكښې منفعت او مصلحت نغښتی دی كه چیرې یې بشرته ویش ورسپارلی وای نو به هغوئ نه پوهیدل چې كوم یو ډیرنفع رسوونكي دی نو به یې پرته له حكمته مالونه ویشلی وو ځكه نو وروسته الله وفرمایل : ﴿إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ عَلِيمًا حَكِيمًا ﴾ بیشكه چې الله دی ښه عالم (په مصالحو دخلكو) او ښه حكمت والادی (په هغه څه كښې چې شریعت او فرض كړی یې دي بیا الله ﷻ دمیرمنی او میړه میراث داسی بیانوی: ﴿ وَلَكُمْ نِصْفُ مَا تَرَكَ أَزْوَٰجُكُمْ إِن لَّمْ يَكُن لَّهُنَّ وَلَدٌ ﴾ او شته تاسی ته نیمایې دهغه مال چې پری اینبي دی ښځو ستاسی كه نه وی دی ښځو لره ذوذات (له تاسی او یا له بل میړه څخه) ﴿ فَإِن كَانَ لَهُنَّ وَلَدٌ فَلَكُمُ ٱلرُّبُعُ مِمَّا تَرَكْنَ ﴾ نو كه وی دی ښځو لره ذوذات نو تاسی لره شته څلورمه برخه له هغه ماله چې پری اینبي وي دي ښځو او په ولد پسی ولدالابن هم په اجماع سره ملحق ګڼل شوي دي ﴿ مِنۢ بَعْدِ وَصِيَّةٍ يُوصِينَ بِهَآ أَوْ دَيْنٍ ﴾ پس له اداكولو دوصیت نه چې وصیت كړی وی دی ښځو په هغه سره یا پس له اداكولو دپور څخه (چې وي پردوئ) ﴿ وَلَهُنَّ ٱلرُّبُعُ مِمَّا تَرَكْتُمْ إِن لَّمْ يَكُن لَّكُمْ وَلَدٌ ﴾ (او شته دی ښځو لره څلورمه برخه له هغه ماله چې پرېږ اینبي وی تاسی كه نه وی تاسی لره ذوذوات) یعنی ستاسو میرمنو ته كه یوه وي او كه زیاتې دمیراث څلورمه برخه ده هله چې ستاسو له دوئ څخه او یا له نورو ښځو څخه ذوذات (اولاد) نه وی ﴿ فَإِن كَانَ لَكُمْ وَلَدٌ فَلَهُنَّ ٱلثُّمُنُ مِمَّا تَرَكْتُم) نو كه وو تاسی لره ذوذات نو دي ښځو لره شته اتمه برخه له هغه ماله چې پری اینبي دی تاسی ﴿ مِّنۢ بَعْدِ

وَصِيَّةٍ تُوصُونَ بِهَآ أَوْ دَيْنٍۢ) پس له اداکولودوصیت چې وصیت کوئ تاسی په هغه سره یاپس له اداکولوددین (چې وی پرتاسو) اوداهرخلی دوصیت اوپورتکرارراوړل ددوئ دواړوپه هکله دزیاتی پاملرنې اواعتناء لپاره دی چې ښکاره خبره ده ﴿ وَإِن كَانَ رَجُلٌ يُورَثُ كَلَـٰلَةً ﴾ اوکه وویوسړی چې میراث تري وړل کیږی ،کلاله (بی ولده بی والده) اولیری خپلوان یې میراث وړی ﴿أَوِ ٱمْرَأَةٌ﴾ او یاښځه وه داپه (رجل)عطف اومعناداچې یامیرمن وه کلاله چې اولادیې نه درلوداونه یې هم پلارمور درلودل ﴿ وَلَهُۥٓ أَخٌ أَوْ أُخْتٌ ﴾ حال داچې وی (دی مړي لره) یواخیافی ورورا ویا(اخیافی) خور ﴿ فَلِكُلِّ وَٰحِدٍ مِّنْهُمَا ٱلسُّدُسُ ﴾ پس شته هریوه لره له دی اخیافی ورورا وخورنه سدس (شپږمه برخه دترکې) یعنی اخیافی وروراواخیافی خورته شپږمه ونډه ده ﴿ فَإِن كَانُوٓا۟ أَكْثَرَ مِن ذَٰلِكَ فَهُمْ شُرَكَآءُ فِى ٱلثُّلُثِ ﴾ نوکه وو(ورونه خویندی (کلالې له موره) زیات له دغه (یوورورا وخورځخه) دوئ ګردسره شریکان دی په ثلث کښې) یعنی نارینه اوښځینه یې په میراث کښی برابره ونډه لری په البحرالمحیط کښې وایې چې پدی باندی اجماع راغلی چې مرادله ورونوځخه پدی آیت کښې اخیافی (له موره) ورونه دی ﴿ مِنۢ بَعْدِ وَصِيَّةٍ يُوصَىٰ بِهَآ أَوْ دَيْنٍ غَيْرَ مُضَآرٍّ ﴾ وروسته له اداکولودوصیت) چې وصیت کولی شی په هغه سره یاپس (له اداکولود) پور(دین) په دی حال کښې چې (نورورته) نقصان ونه رسوی (پدی وصیت کښې) یعنی که چېری وصیت دمصلحت لپاره وونه دضررلپاره چې وارثانوته پیښ کړل شی لنډه داچې د(ثلث) په چوکاټ کښې دی وصیت کولای شي ځکه رسول الله ﷺ فرمایې : (الثلث والثلث کثیر). ﴿ وَصِيَّةً مِّنَ ٱللَّهِ ﴾ وصیت کوئ الله تاسی ته وصیت له (جانبه دالله) ﴿ وَٱللَّهُ عَلِيمٌ حَلِيمٌ ﴾ اوالله ښه عالم دی (په هغه څه چې رواکړی یې دی) اوډیرتحمل والا دی ژرترژره هغه چاته چې له حکمه یې غاړه وغړوی ژرسزانه ورکوی ﴿ تِلْكَ حُدُودُ ٱللَّهِ ﴾ داحکمونه دالله دی یعنی دغه ذکرشوی (دیتیمانو) میراثونو وصیت او د دین تېرشوی حکمونه دالله شریعت اوهغه حدونه دی چې الله ټاکلی ځوبندګان له هغوئ ځخه تجاوزونکړی اوپرهغوئ عمل وکړی ﴿ وَمَن يُطِعِ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ يُدْخِلْهُ جَنَّـٰتٍ تَجْرِى مِن تَحْتِهَا ٱلْأَنْهَـٰرُ ﴾ اوهرڅوک چې ومنی حکم دالله او د رسول دده نوداخل به کړی الله دغه (مطیع په هسی) جنتونوکښې چې بهیږي لاندی له ونواومانیو د هغه ویالې ﴿ خَـٰلِدِينَ فِيهَا ﴾ همیشه به وی پدې جنتونوکښې ﴿ وَذَٰلِكَ ٱلْفَوْزُ ٱلْعَظِيمُ ﴾ اودآننوتل جنت ته مرادمونډل دیرلوی دی. ﴿ وَمَن يَعْصِ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ وَيَتَعَدَّ حُدُودَهُۥ ﴾ اوهرڅوک چې نافرمانې کوي دالله اورسول دده اووزی له حدوده دالله (چې طاعات دی) ﴿ يُدْخِلْهُ نَارًا خَـٰلِدًا فِيهَا ﴾ نوداخل به کړی (الله) دغه متجاوزاورته چې همیشه به وی (دی) په دغه اورددوزخ کښې (هیڅکله به ځینی ونه وزی) ﴿ وَلَهُۥ

عَذَابٌ مُّهِينٌ ﴾ اوشته ده لره عذاب ډیر سپک کونکي یعنی داسی سخت عذاب چې سپکاوی ذلت اورسوایې به پکښې وی.

بلاغت:

ددې آیتونو په ترخ کښې چې دبدیع اوبیان کومې ښکلاوي شته دادي:

۱ - دطباق صنعت پدې کلماتو کښې چې: (الذکر و الانثی) او (ومن یطع ...ومن یعص) او (اباءکم وابناءوکم).

۲ - اطناب پدې کلام کښې چې: (من بعد وصیة توصون بها او دین) او (من بعد وصیة یوصین بها اودین) اوفائده یې دهغه حکم دتنفیذ په هکله چې ذکرشو تأکیددی.

۳ - اشتقاقی جناس لکه: (وصیة یوصی) په کلماتو کښې.

۴ - مبالغه پدی صفاتو کښی لکه (علیم، حلیم).

فائده: ځینو علماوو دالله ﷻ له دې کلماتو څخه چې فرمایې (یوصیکم الله فی اولادکم) دااستنباط کړی دی چې الله ترمور زیات مهربانه دی ځکه چې دوئ ته یې داولادونو په هکله وصیت فرمایلی دی اوددی تائید هغه حدیث شریف هم کوي چې رسول الله ﷺ فرمایې: (الله أرحم بعباده من هذه بولدها) یعنی الله تردې مور چې په زوئ مهربانه ده خورازیات رحم لرونکي اومهربان دی پخپلو بندګانو باندی.

تنبیه:

ددې وجه چې نارینه دوې برخې دمیراث دخویندو په پرتله اخلی داده چې هغه دنفقې تکالیف په غاړه لری اودکسب اوکار، سوداګرې ستونزی ورله غاړی دی نودهغه لګښتونه زیات اوندې یې درنې دی مال ته زیاته اړتیا لری.(۱)

الله تعالی فرمایې:

﴿ وَٱلَّٰتِي يَأۡتِينَ ٱلۡفَٰحِشَةَ مِن نِّسَآئِكُمۡ فَٱسۡتَشۡهِدُواْ عَلَيۡهِنَّ أَرۡبَعَةٗ مِّنكُمۡۖ فَإِن شَهِدُواْ فَأَمۡسِكُوهُنَّ فِي
ٱلۡبُيُوتِ حَتَّىٰ يَتَوَفَّىٰهُنَّ ٱلۡمَوۡتُ أَوۡ يَجۡعَلَ ٱللَّهُ لَهُنَّ سَبِيلٗا ﴿١٥﴾ وَٱلَّذَانِ يَأۡتِيَٰنِهَا مِنكُمۡ فَـَٔاذُوهُمَاۖ فَإِن تَابَا
وَأَصۡلَحَا فَأَعۡرِضُواْ عَنۡهُمَآۗ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ تَوَّابٗا رَّحِيمًا ﴿١٦﴾ إِنَّمَا ٱلتَّوۡبَةُ عَلَى ٱللَّهِ لِلَّذِينَ يَعۡمَلُونَ ٱلسُّوٓءَ بِجَهَٰلَةٖ ثُمَّ
يَتُوبُونَ مِن قَرِيبٖ فَأُوْلَٰٓئِكَ يَتُوبُ ٱللَّهُ عَلَيۡهِمۡۗ وَكَانَ ٱللَّهُ عَلِيمًا حَكِيمٗا ﴿١٧﴾ وَلَيۡسَتِ ٱلتَّوۡبَةُ لِلَّذِينَ يَعۡمَلُونَ
ٱلسَّيِّـَٔاتِ حَتَّىٰٓ إِذَا حَضَرَ أَحَدَهُمُ ٱلۡمَوۡتُ قَالَ إِنِّي تُبۡتُ ٱلۡـَٰٔنَ وَلَا ٱلَّذِينَ يَمُوتُونَ وَهُمۡ كُفَّارٌۚ أُوْلَٰٓئِكَ أَعۡتَدۡنَا
لَهُمۡ عَذَابًا أَلِيمٗا ﴿١٨﴾ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا يَحِلُّ لَكُمۡ أَن تَرِثُواْ ٱلنِّسَآءَ كَرۡهٗاۖ وَلَا تَعۡضُلُوهُنَّ لِتَذۡهَبُواْ بِبَعۡضِ مَآ
ءَاتَيۡتُمُوهُنَّ إِلَّآ أَن يَأۡتِينَ بِفَٰحِشَةٖ مُّبَيِّنَةٖۚ وَعَاشِرُوهُنَّ بِٱلۡمَعۡرُوفِۚ فَإِن كَرِهۡتُمُوهُنَّ فَعَسَىٰٓ أَن تَكۡرَهُواْ شَيۡـٔٗا وَيَجۡعَلَ

۱ - زموږدهغه کتاب چې نوم یې دی *المواریث فی الشریعة الاسلامیة* ۱۸ مخ وګوری.

اللَّهُ فِيهِ خَيْرًا كَثِيرًا ﴿١٩﴾ وَإِنْ أَرَدتُّمُ اسْتِبْدَالَ زَوْجٍ مَّكَانَ زَوْجٍ وَآتَيْتُمْ إِحْدَاهُنَّ قِنطَارًا فَلَا تَأْخُذُوا مِنْهُ شَيْئًا أَتَأْخُذُونَهُ بُهْتَانًا وَإِثْمًا مُّبِينًا ﴿٢٠﴾ وَكَيْفَ تَأْخُذُونَهُ وَقَدْ أَفْضَىٰ بَعْضُكُمْ إِلَىٰ بَعْضٍ وَأَخَذْنَ مِنكُم مِّيثَاقًا غَلِيظًا ﴿٢١﴾ النساء: ۱۵ - ۲۱

مناسبت اوتړاو:

څرنګه چې الله تعالى دنارينه اوښځوپه نکاح اوميراث کښې احکام بيان کړل نويې دحدودواحکام هم ددوئ په هکله راوړل اوبيااوروسته يې دجاهليت له دودونواورواجونوڅخه وويرول چې په ښځوبه يې ظلمونه کول اودهغوئ ولورونه به يې خوړل اوورسره به يې انسانې سپيڅلى اوسوتره چال چلندنه کاوو.

لغتونه:

(اللاتي)هغه ښځي داکلمه (اللاتي) داللتي جمع اوله قياس پرته راځي (الفاحشة) بدکارته وايي اودلته ځيني مراد زناده (اللذان) د(الذى تثنيه ده) (التوبة) په اصل کښى رجوع ته وايې خوحقيقت يې ديوځيي کارپه کولوپښيمانى څرګندول دى (کرها) دکاف په زبر سره (کره) دزور او(جبر) په معناده اودکاف په پيښ سره بيامشقت اوسختى ته وايې لکه (حملته امه کُرها) (تعضلوهن) منع کوي دوئ ويل کيږي چې (عضل المرأة) کله چې يې له ميړه کولوراوګرځوى (بهتانا) ظلم ته ويل کيږي اصل يې له بهت څخه اخستل شوى اوهغه دروغوته وايې چې په چاپسى وتړل شى هغه ورته هک پک حيران پاتى شى (افضى) درسيدلوپه معنادي اصل يې له فضاڅخه اخستل شوى اوهغه وسعت اوپراخي ته وايې (ميثاقا غليظا) ټينګ پنډاومحکم ترون اوعهدهغه چې دنکاح عقددى.

دنزول سبب:

روايت کيږى چې دجاهليت په وخت کښې داسى دوداورواج ووکله چې به يوڅوک مړشواو ميرمن به يې پاتى شوه نو زوى به يې چې له دغې ښځې به نه وواوياولى به يې راغى اوپه ښځه به يې جامه وراغورزوله اودمال په شان به يې په ميراث کښې وړله که به يې زړه شونوبه يې په لومړنى ولورپه نکاح واخيسته اوکه نه بل چاته به يې په نکاح ورکړه اوولوربه يې پخپله ترګوتوکړالله ﷻ داآيت نازل کړ: (ياايهاالذين امنوا لايحل لکم ان ترثوا النساء کرها) .([1])

تفسير:

﴿ وَالَّاتِي يَأْتِينَ الْفَاحِشَةَ مِن نِّسَائِكُمْ فَاسْتَشْهِدُوا عَلَيْهِنَّ أَرْبَعَةً مِّنكُمْ ﴾ اوهغه (ميرمني) ښځې چې راځي فاحشه (دزناقبيح کارته) له ښځوستاسى نوشاهدان وغواړى پردوئ باندى څلورتنه له تاسى مسلمانانونه (چې احراروي) ﴿ فَإِن شَهِدُوا فَأَمْسِكُوهُنَّ فِي الْبُيُوتِ ﴾ نوکه شاهدى وويله ((شاهدانوپرزنا) نوبندى کړى تاسى دا(ښځې) په کوټوکښې. ﴿ حَتَّىٰ يَتَوَفَّاهُنَّ الْمَوْتُ ﴾ ترڅوچې وفاتي

---

[1]- زادالمسير ۲ / ۲۹

كاندى دوئ (مرگ) يعنى ترمرگه پوري يې بندى وساتئ ﴿ أَوْ يَجْعَلَ ٱللَّهُ لَهُنَّ سَبِيلًا ﴾ اوياوگرځوي (مقرركړى) الله دوئ لره كومه لاره د(خلاصى له بنده) ابن كثير وايې چې داسلام په پيل كښې داحكم وو چې كله به په ښځې باندى د زنا تور دعادلو شاهدانو په گواهې ثابت شونو به هغه په كوټه كښى بندى كولاى شواى ترڅو به مړه كيدله تردي چې الله تعالى سورت النور رانازل كړنو بيادا حكم درجم اوجلد په احكامو منسوخ كړى شو. ﴿ وَٱلَّذَانِ يَأْتِيَـٰنِهَا مِنكُمْ ﴾ اوهغه دواړه چې راځي دي (كارته) له تاسى څخه مراد په دې سره زانى نارينه اوزانيه ښځه ده اودتغليب په ډول په پورتنى شكل ذكرشوي ﴿ فَـَٔاذُوهُمَا ﴾ نوايذاء ورسوئ دوئ ته (په ترټلوبدوويلواووهلوتكولوسره) ﴿ فَإِن تَابَا وَأَصْلَحَا فَأَعْرِضُوا عَنْهُمَآ ﴾ نوكه توبه وويستله دې دواړو اواصلاح كړ دواړو (عمل خپل) نوځنګ وكړئ تاسي له دې دواړونه (ضرر مه ورته رسوئ) ﴿ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ تَوَّابًا رَّحِيمًا ﴾ بيشكه چې الله دى ښه توبه قبلونكي ډير رحم والا, امام فخر رازى (رحمه الله) وايې بندى كول په خونه كښې يې دښځې په هكله وفرمايل اوايذاء يې دنارينه وولپاره ځكه ښځه هغه وخت دزناپه قبيح عمل اخته كيږي چې له كورنه بهر راووزي كله چې په كوټه كښې دننى بنده شي نوددغه معصيت جرړې وايستل شوي اونارينه خوپه كوركښى بنديدلاي نشى ځكه هغه دژوندانه داړتياوواودالولادونودنفقې پيداكولولپاره بهروتلوته اړدى ځكه نوددوئ دواړوجزاگانومختلفى وټاكلى شوي (۱) ﴿ إِنَّمَا ٱلتَّوْبَةُ عَلَى ٱللَّهِ لِلَّذِينَ يَعْمَلُونَ ٱلسُّوٓءَ بِجَهَـٰلَةٍ ﴾ بيشكه (قبول) دتوبې په الله (دوفاله مخې ضرورى شى) دي دپاره دهغوكسانوچې كوي دوئ ناكاره عمل په ناپوهې سره) يعنى هغه توبه چې الله ﷻ يې منل په ځان ليكلى داده چې له هغه فعل څخه چې په ناپوهې ترسره شوى وي اوددي وروسته بيااندازه لګول شوى وي چې داناكاره عمل اوعاقبت يې بدى وروسته وربانديې پښيمانې څرګنده شوي اوځينى رجوع ترسره شوى وي. ﴿ ثُمَّ يَتُوبُونَ مِن قَرِيبٍ ﴾ (بياتوبه وباسي دوئ په نږدى زمانه كښى) يعنى مخكې ترناڅاپه مرګ راتلو ﴿ فَأُوْلَـٰٓئِكَ يَتُوبُ ٱللَّهُ عَلَيْهِمْ ﴾ نودغه كسان قبلوي به الله توبه ددوئ ﴿ وَكَانَ ٱللَّهُ عَلِيمًا حَكِيمًا ﴾ (اودى الله ښه عالم ښه حكمت والا) يعنى الله ښه عالم دي پخپل مخلوق اوښه حكمت والادى په شريعت ټاكلو كښې ﴿ وَلَيْسَتِ ٱلتَّوْبَةُ لِلَّذِينَ يَعْمَلُونَ ٱلسَّيِّـَٔاتِ حَتَّىٰٓ إِذَا حَضَرَ أَحَدَهُمُ ٱلْمَوْتُ قَالَ إِنِّى تُبْتُ ٱلْـَٔـٰنَ ﴾ اونشته (وعده قبلول) دتوبې لپاره دهغوكسانوچې گناهونه كوي ترهغوپوري چې راحاضرشى دوئ ته (اسباب د مرگ نووايې چې بيشكه ماتوبه وايسته اوس, ځكه دغه دمظطرتوبه ده اوهغه نه منل كيږي (۲)

۱- التفسيرالكبيرللرازى ۹ / ۲۳۵.

۲- شهيدسيدقطب رحمه الله وايې چي دغه دمجبور توبه ده هغه چې طغيان اوسرغړونى يومخ ايزه ډوب كړى وي گناهونويې خواوشااحاطه كړي وي دادهغه چاتوبه ده چې دده لپاره نوردگناه كولووخت موجودنه وى اونه نوردېغاوت لپاره ځاى لرى داتوبه الله ﷻ ځكه نه قبلوي چي دزړه له اصلاح څخه نه وى نه دده دژوند او طبيعت په اصلاح دلالت كوي او نه يې هم لاره بدله شوي وي.

اوپه حديث شريف کښی راځي چې الله دبنده توبه ترهغوپوري قبلوي ځويې ساپه ستوني کښی غرغره نشی ﴿ وَلَا ٱلَّذِينَ يَمُوتُونَ وَهُمْ كُفَّارٌ ﴾ (اونه قبليږي توبه دهغه چاچې دوئ مړه شی حال داچې دوئ کافران وي) يعنی دهغوکسانوچې کافران دی هم هغه وخت توبه نه قبليږي چې دوئ دځنګدن په وخت کښی ايمان راوړل غواړی ﴿ أُوْلَٰٓئِكَ أَعْتَدْنَا لَهُمْ عَذَابًا أَلِيمًا ﴾ دغه کسان (چې دکفرپه حالت کښې مري اوپه عين غرغره کښې توبه کوي) تيارکړی دی مونږدوئ ته عذاب دردناک

﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ لَا يَحِلُّ لَكُمْ أَن تَرِثُوا۟ ٱلنِّسَآءَ كَرْهًا ﴾ اي هغوکسانوچې ايمان يې راوړی دی (ای مؤمنانو) نه دی حلال تاسی لره دا(کار) چې په ميراث به اخلئ تاسی ښځې په زورسره يعنی تاسوته داحلاله نه ده چې ښځې لکه مال غوندی يوله بله په ميراث باندی وليږدوئ اوپه زوريې دميړه له مرګ وروسته په ميراث واخلئ ابن عباس ﷺ وايي : په جاهليت کښی داسی دودووچې کله به يوځوک مړشونوخپلوانوبه يې ښځه پخپله خوښه ياپه نکاح اخيستله اويابه يې بل ته په نکاح ورکوله اويابه يې بيځې له نکاح کولورامنع کوله.[1] ﴿ وَلَا تَعْضُلُوهُنَّ لِتَذْهَبُوا۟ بِبَعْضِ مَآ ءَاتَيْتُمُوهُنَّ ﴾ اومه منع کوئ تاسی دانبځې) لپاره ددی چې يوسئ (ترې واخلئ) ځينې دهغه مال چې تاسی دوئ ته ورکړی دی (په مهرکښې) يعني تاسوته داروانه دی چې دوئ له نکاح کولوڅخه راوګرزوئ اويآيې دومره په تنګ کړئ چې هغوئ مجبورې شی ځينی له ورکړل شوي مال څخه چې په مهر(ولور) کښې مووړکړی بيرته درکړی ﴿ إِلَّآ أَن يَأْتِينَ بِفَٰحِشَةٍ مُّبَيِّنَةٍ ﴾ (مګرچې راشي دوئ فاحشه ښکاره ته) يعنی زنا وکړی اوابن عباس ﷺ وايې چې ﴿ فاحشة مبينة) نشوزاوعصيان ته وايې ﴿وَعَاشِرُوهُنَّ بِٱلْمَعْرُوفِ ﴾ نوګذران کوئ تاسی (اي ميړو) له دوئ (ښځو) سره په نيکې طريقې سره) يعنی له دوئ سره په پسته ژبه اوښه ډول چال چلند کوئ ﴿ فَإِن كَرِهْتُمُوهُنَّ فَعَسَىٰٓ أَن تَكْرَهُوا۟ شَيْـًٔا وَيَجْعَلَ ٱللَّهُ فِيهِ خَيْرًا كَثِيرًا ﴾ (پس که خوښي نه وی ستاسی دانبځې نو(صبروکړئ) ښايې چې نه به خوښوئ تاسی يوشي حال داچې ګرځولی به وی الله په دی کښې ډيرخير) يعنی که دانبځې ستاسی ناخوښه وي اوتاسی ددوئ ملګرتيانه غوښته نوتاسی صبروکړئ اوهمدغسی ورسره احسان کوئ کيدای شی الله پاک له دوئ څخه تاسوته صالح اولاددرکړی چې ستاسوسترګې ورباندی يخې شي اوډيروخت په يوناخوښه ځيزکښې زښته زيات خيراوبرکت نغښتی وي په صحيح حديث شريف کښی راځي چې : مسلمان نارينه له خپلې مسلماني ښځې سره هيڅ وخت هم بغض اوعداوت نه کوي که يوخوي يې خوښ نه وی بل يې خوښ وي بيا الله پاک له دې څخه چې دښځې له ولور(مهر) څخه وروسته له طلاقه څه ځينی اخلی منع وفرمايله چې ﴿ وَإِنْ أَرَدتُّمُ ٱسْتِبْدَالَ زَوْجٍ مَّكَانَ زَوْجٍ ﴾ اوکه اراده وکړه تاسی اي ميړونود بدلولوديوې ښځې په ځای دبلې ښځې (چې يوه طلاقه اوبله نکاح کړئ) ﴿ وَءَاتَيْتُمْ إِحْدَىٰهُنَّ قِنطَارًا فَلَا تَأْخُذُوا۟ مِنْهُ شَيْـًٔا ﴾ حال داچې ورکړي وي تاسی يوې ته ددوئ ډيرمال (په مهرکښې هم) نومه اخلئ تاسی (اي ميړونوبيرته) له هغه مال نه هيڅ

[1] القرطبی ۵/ ۹۴.

شي د(فلاتأخذوامنه شيئا) معناداده چې هيڅ څيني مه اخلئ که څه هم ډيرلږوي ﴿ أَتَأْخُذُونَهُ بُهْتَانًا وَإِثْمًا مُّبِينًا ﴾ آيا اخلئ به تاسي دغه (مال) په ناحقه اوپه ګناه ښکاره سره (ظاهره ظلم سره) دلته استفهام انکاري دی يعنی آياتاسوبې په باطله توګه اوظلم تري اخلئ ؟ ! ﴿ وَكَيْفَ تَأْخُذُونَهُ وَقَدْ أَفْضَىٰ بَعْضُكُمْ إِلَىٰ بَعْضٍ ﴾ اوڅرنګه به اخلئ تاسی هغه مال حال داچې په تحقيق سره رسيدلی دی څينی له تاسی څينونوروته يعنی تاسوپه دوئ باندی دزوجيت په معاشرت سره خونداخستی دی ﴿ وَأَخَذْنَ مِنكُم مِّيثَاقًا غَلِيظًا ﴾ اواخستی دی (ښځو) له تاسی نه عهدکلک (چې هغه دنکاح عقددی مجاهدوايې چې (ميثاق غليظ) دنکاح عقدته وايي اوپه حديث شريف کښی راځي:

دښځوپه هکله له الله نه وويريږئ ځکه تاسودوئ دالله په امانت کښی اخيستی دی اوددوئ فروج مودالله په حکم څانته حلال کړی دی([1])

بلاغت: پدی آيتونوکښې چې دبيان اودبديع کومې ښکلاوی شته په لنډډول يې داسی ليکو:

۱-عقلی مجازپدې قول کښی: (يتوفاهن الموت) اومرادخودادی چې الله اويا ملائکې دی چې ددوئ روح اخلی.

۲-استعاره پدې کلام کښې (واخذن منكم ميثاقاً غليظا) چې دلته يې دشرعي عقدلپاره دميثاق کلمه استعاره کړی ده.

۳-مغايرجناس پدې کلماتوکښې: (فان تآبا...توابا) او(كرهتموهن ... ان تكرهوا) .

۴ - دامرپه هکله دتأکيداوتفخيم لپاره مبالغه لکه چې فرمايې : (وآتيتم احداهن قنطارا) چې دامرلپاره په تعظيم اومبالغې دلالت کوي.

فائده:

الله پاک له جماع نه د(افضاء) په لفظ کنايه راوړی چې فرمايې : (وقد افضى بعضكم الى بعض) ترڅومسلمانانوته لوړادب وروښيې ابن عباس ﷺ وايې چې (افضاء) پدی آيت کښې له جماع څخه عبارت دی الله کريم دی اوکنايه فرمايې.

تنبيه:

يوه ورځ حضرت عمرﷺ خطبه لوستله نووېې ويل : ای خلګودښځوپه مهرونواوولورونوکښې زياتوب مکوئ داکه چېری په دنياکښې دعزت ننبه وای اويا په آخرت کښی دتقوی برخه وای نورسول الله ترتاسی پدی باب زيات حقداروخوهغه تردوولس اوقيه زيات خپلوميرمنوته ولور(مهر) نه دی ورکړی اونه يې دلوڼولپاره غوښتی دی يوه ښځه ورته راپورته شوه ويل يې : ای عمره الله يې موږته راکوی اوته موڅخنی محروموي !؟الله ﷻ فرمايي:

(وآتيتم احداهن قنطارا فلا تاخذوا منه شيئاً) عمرﷺ وويل : ښځه سم وايي عمرخطاشو.([2])

---

[1]-اخرجه مسلم.
[2]-الكشاف۱/ ۳۷۹

الله تعالى فرمايي:

﴿ وَلَا تَنكِحُواْ مَا نَكَحَ ءَابَآؤُكُم مِّنَ ٱلنِّسَآءِ إِلَّا مَا قَدۡ سَلَفَۚ إِنَّهُۥ كَانَ فَٰحِشَةٗ وَمَقۡتٗا وَسَآءَ
سَبِيلًا ﴿٢٢﴾ حُرِّمَتۡ عَلَيۡكُمۡ أُمَّهَٰتُكُمۡ وَبَنَاتُكُمۡ وَأَخَوَٰتُكُمۡ وَعَمَّٰتُكُمۡ وَخَٰلَٰتُكُمۡ وَبَنَاتُ ٱلۡأَخِ وَبَنَاتُ
ٱلۡأُخۡتِ وَأُمَّهَٰتُكُمُ ٱلَّٰتِيٓ أَرۡضَعۡنَكُمۡ وَأَخَوَٰتُكُم مِّنَ ٱلرَّضَٰعَةِ وَأُمَّهَٰتُ نِسَآئِكُمۡ وَرَبَٰٓئِبُكُمُ ٱلَّٰتِي
فِي حُجُورِكُم مِّن نِّسَآئِكُمُ ٱلَّٰتِي دَخَلۡتُم بِهِنَّ فَإِن لَّمۡ تَكُونُواْ دَخَلۡتُم بِهِنَّ فَلَا جُنَاحَ عَلَيۡكُمۡ
وَحَلَٰٓئِلُ أَبۡنَآئِكُمُ ٱلَّذِينَ مِنۡ أَصۡلَٰبِكُمۡ وَأَن تَجۡمَعُواْ بَيۡنَ ٱلۡأُخۡتَيۡنِ إِلَّا مَا قَدۡ سَلَفَۗ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ
غَفُورٗا رَّحِيمٗا ﴿٢٣﴾ ۞ وَٱلۡمُحۡصَنَٰتُ مِنَ ٱلنِّسَآءِ إِلَّا مَا مَلَكَتۡ أَيۡمَٰنُكُمۡۖ كِتَٰبَ ٱللَّهِ عَلَيۡكُمۡۚ وَأُحِلَّ لَكُم مَّا وَرَآءَ
ذَٰلِكُمۡ أَن تَبۡتَغُواْ بِأَمۡوَٰلِكُم مُّحۡصِنِينَ غَيۡرَ مُسَٰفِحِينَۚ فَمَا ٱسۡتَمۡتَعۡتُم بِهِۦ مِنۡهُنَّ فَـَٔاتُوهُنَّ أُجُورَهُنَّ فَرِيضَةٗۚ وَلَا
جُنَاحَ عَلَيۡكُمۡ فِيمَا تَرَٰضَيۡتُم بِهِۦ مِنۢ بَعۡدِ ٱلۡفَرِيضَةِۚ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ عَلِيمًا حَكِيمٗا ﴿٢٤﴾ وَمَن لَّمۡ يَسۡتَطِعۡ مِنكُمۡ طَوۡلًا أَن
يَنكِحَ ٱلۡمُحۡصَنَٰتِ ٱلۡمُؤۡمِنَٰتِ فَمِن مَّا مَلَكَتۡ أَيۡمَٰنُكُم مِّن فَتَيَٰتِكُمُ ٱلۡمُؤۡمِنَٰتِۚ وَٱللَّهُ أَعۡلَمُ بِإِيمَٰنِكُمۚ بَعۡضُكُم
مِّنۢ بَعۡضٖۚ فَٱنكِحُوهُنَّ بِإِذۡنِ أَهۡلِهِنَّ وَءَاتُوهُنَّ أُجُورَهُنَّ بِٱلۡمَعۡرُوفِ مُحۡصَنَٰتٍ غَيۡرَ مُسَٰفِحَٰتٖ وَلَا مُتَّخِذَٰتِ أَخۡدَانٖۚ
فَإِذَآ أُحۡصِنَّ فَإِنۡ أَتَيۡنَ بِفَٰحِشَةٖ فَعَلَيۡهِنَّ نِصۡفُ مَا عَلَى ٱلۡمُحۡصَنَٰتِ مِنَ ٱلۡعَذَابِۚ ذَٰلِكَ لِمَنۡ خَشِيَ ٱلۡعَنَتَ مِنكُمۡۚ
وَأَن تَصۡبِرُواْ خَيۡرٞ لَّكُمۡۗ وَٱللَّهُ غَفُورٞ رَّحِيمٞ ﴿٢٥﴾ يُرِيدُ ٱللَّهُ لِيُبَيِّنَ لَكُمۡ وَيَهۡدِيَكُمۡ سُنَنَ ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِكُمۡ وَيَتُوبَ
عَلَيۡكُمۡۗ وَٱللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٞ ﴿٢٦﴾ وَٱللَّهُ يُرِيدُ أَن يَتُوبَ عَلَيۡكُمۡ وَيُرِيدُ ٱلَّذِينَ يَتَّبِعُونَ ٱلشَّهَوَٰتِ أَن تَمِيلُواْ مَيۡلًا
عَظِيمٗا ﴿٢٧﴾ يُرِيدُ ٱللَّهُ أَن يُخَفِّفَ عَنكُمۡۚ وَخُلِقَ ٱلۡإِنسَٰنُ ضَعِيفٗا ﴿٢٨﴾ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَأۡكُلُوٓاْ أَمۡوَٰلَكُم
بَيۡنَكُم بِٱلۡبَٰطِلِ إِلَّآ أَن تَكُونَ تِجَٰرَةً عَن تَرَاضٖ مِّنكُمۡۚ وَلَا تَقۡتُلُوٓاْ أَنفُسَكُمۡۚ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ بِكُمۡ رَحِيمٗا ﴿٢٩﴾ وَمَن
يَفۡعَلۡ ذَٰلِكَ عُدۡوَٰنٗا وَظُلۡمٗا فَسَوۡفَ نُصۡلِيهِ نَارٗاۚ وَكَانَ ذَٰلِكَ عَلَى ٱللَّهِ يَسِيرًا ﴿٣٠﴾ إِن تَجۡتَنِبُواْ كَبَآئِرَ مَا تُنۡهَوۡنَ
عَنۡهُ نُكَفِّرۡ عَنكُمۡ سَيِّـَٔاتِكُمۡ وَنُدۡخِلۡكُم مُّدۡخَلٗا كَرِيمٗا ﴿٣١﴾ ﴾ النساء: ٢٢ — ٣١

مناسبت او تړاو:

څرنګه چې الله پاک مسلمانانو ته د دوي له میرمنو سره د ښه چال چلند توصیه وکړه او هغوئ ته يې له زیان رسولو څخه منع وفرمایله همدا راز دوئ ته ورکړل شوي ولور بیرته ځینی اخستل يې وغندل نو له دې وروسته يې د محرماتو او ناروا ښځو هغوئ چې له دوئ سره نکاح کول د خپلوئ خسرګنئ او تی ورکولو له کبله ناروا وي بیان کړل.

لغتونه:

(سلف) تېرشوی (مقتا) مقت هغه چاته چې بدکارکوي دسخت غضب کولوپه معنی ده اوعربوبه دهغې ښځې نکاح ته چې چابه دپلارمنکوحه په نکاح اخستله دمقت نکاح ویله (ربائبکم) دربيبة جمع ده اودښځې هغې لورته رایې چې له بله مېړه څخه یې لری ځکه ربيبة ورته وایې چې دمېړه په څنګ کښې روزله کيږي (فلان فی حجرفلان) کله چې یې هغه روزنه کوي ابوعبيده وایې چې فی (حجورکم)معنادا ده چې ستاسی په کوټوکښی وی (حلائل) د(حليلة) جمع ده اودمېرمنې (زوجې) په معناده ځکه یې حليله بولې چې خپل مېړه ته روا ده (محصنين) ساتونکی له زنا(مسافحين) له سفاح څخه ده اوزناته ويل کيږي په اصل کښې له (سفح) څخه اخستل شوی اوهغه تویولو ته وايې ځکه يې زنا ته سفاح وويل چې هغه پرته دشهوانی غريزې له مړولواونطفې تویولو بل مقصد نلري (طولاً) توان اوبډايي (اخدان) د(خدن) جمع ده اودښځې پټ آشنا او انډيوال ته وايې چې ورسره زناکوي (العنت) فجوراواصل يې ضرراوفساد ته ويل کيږي (سنن) دسنت جمع اولاري ته وايې (نصيله) مونږبه يې داخل کړو.

دنزول سبب:

أ - کله چې (ابوقيس ابن الاسلت)مړشو اودانصارو له ښوخلګوڅخه يوتن وونوقيس دده زوي دپلارماندينې ته په خپله د ځان لپاره دنکاح کولوپيغام واورول هغې ورته وويل زه دي زوي ګڼم اوزه له رسول الله ﷺ څخه پدې هکله پوښتنه کوم هغه ووچې رسول الله ﷺ ته راغله اودغه واقعه يې ورته بيان کړه نوالله ﷻ داآيت نازل کړ(ولاتنکحوا مانکح آباؤکم...) دآيت ترپايه([1])

ب: ابوسعيدالخدري ﷺ وايې چې داوطاس په ورځ داسی مينځې زمونږ په لاس راغلی چې مېړونه يې درلودل نومونږ ورسره جماع کول ناخوښه ګڼل اوله رسول الله ﷺ څخه مووپوښتل اوبياداآيت نازل شو:(والمحصنت من النساء الا ماملکت ايمانکم...) (دآيت ترپايه) نوبيامونږحلالی وګڼلی.([2])

تفسير:

﴿ وَلَا تَنكِحُواْ مَا نَكَحَ ءَابَآؤُكُم مِّنَ ٱلنِّسَآءِ إِلَّا مَا قَدۡ سَلَفَ ﴾ اومه اخلئ تاسی په نکاح سره هغه (ښځې) چې نکاح کړی دی پلرونوستاسی مګر هغه چې پخواله دی تېرشوی دی (هغه ستاسو لپاره عفودی) ﴿إِنَّهُۥ كَانَ فَٰحِشَةً وَمَقۡتًا﴾ (بيشکه چې داکار) دی فاحش (ډېرناکاره) اوډېر مبغوض (شرعی) ته يعنی دغه نکاح خورازياته بده ده چې په بدوالی کښی خپل وروستی سرحدته رسيدلی ځکه څرنګه له يوانسان سره ښايې چې دخپل پلار(ارتينه)مېرمن ځان ته نکاح کړی او دپلار له مړينې وروسته يې خپله مېرمن کړی ؟ حال داچې هغه يې دمورپه شان ده . ﴿ وَسَآءَ سَبِيلًا ﴾ او بده ده دا(لاره) بياوروسته له دی الله ﷻ دناروا ښځو بيان داسی فرمايې : ﴿ حُرِّمَتۡ عَلَيۡكُمۡ أُمَّهَٰتُكُمۡ ﴾ (حرامې کړی شوی دی پرتاسی ميندې ستاسی) اودی ته نياګانې (جداتې) دموراو پلارله خواهم

---

[1] - القرطبی ۵ / ۱۰۴

[2] - اسباب النزول ص ۸۵.

ورګډیږي ﴿وَبَنَاتُكُمْ﴾ (اولونې ستاسی) اواولادونه دلونو (لمسی) که څه هم ښکته وی ﴿وَأَخَوَٰتُكُمْ﴾ (اوخویندی ستاسی) که له پلاره وی اوکه له موره ﴿وَعَمَّٰتُكُمْ وَخَٰلَٰتُكُمْ﴾ (اوترورياني ستاسی) يعنی ستاسی دپلرنواونیکه ګانو خویندی اوتوړی ګاني ستاسی (خالې) ﴿وَبَنَاتُ ٱلْأَخِ وَبَنَاتُ ٱلْأُخْتِ﴾ اولونې د ورور(وريرې) اولونې دخور(خورځې) ستاسی اوددوئ په ډله کښې ددوئ لونې هم راځي دغه هغه حرامې شوی ښځې دی چې دنسب په لړۍ کښې راځي وروسته بیا الله پاک درضاع محرمې داسی بیانوي ﴿وَأُمَّهَٰتُكُمُ ٱلَّٰتِيٓ أَرْضَعْنَكُمْ وَأَخَوَٰتُكُم مِّنَ ٱلرَّضَٰعَةِ﴾ (اوحرامي کړی شوی دی پر تاسي باندی) ستاسی هغه میندې چې تی یې درکړی وی تاسی ته اوخویندی ستاسی له جهته د(تی رودلو) الله ﷻ رضاعت دنسب په منزلت وګرځاوو آن تردي چې تی ورکونکي ښځې ته لکه دنسب مور،مورویل کیږي يعنی داسی ورته ناروا کیږي لکه څرنګه چې ورته مور ناروا ده اوهمدا راز د رضاعت خور هماغسی ورته ناروا ده لکه سکنۍ خور په آيت شريف کښې درضاعت په حرمت کښې یوازی مورا وخور ذکر شول خو په نبوي احاديثو کښې داڅرګنده شوي چې درضاعت محرماتی هم او ډوله دی لکه دنسب غوندی يعنی رضاعی لور، ترور، توړه ، وريره اوخورځه ګردي سره محرماتې دی او رسول الله ﷺ فرمايې: يحرم من الرضاع مايحرم من النسب.[1] يعنی له نسب څخه چې کومې ښځې حرامې دی همداسی له رضاع څخه هغوئ حرامي دی بیاد مصاهرې دحرمت بيان الله تعالی داسی فرمايې ﴿وَأُمَّهَٰتُ نِسَآئِكُمْ﴾ (اوحرامي کړی شوی دی پر تاسي) میندې دښځو ستاسي يعنی په مجر دعقد د نکاح کولو د نجلۍ دهغې مور په تاسی باندی حرامه ده که دخول کړی شوی وی اوکه نه.

﴿وَرَبَٰٓئِبُكُمُ ٱلَّٰتِي فِي حُجُورِكُم﴾ (اوپرکتیاني ستاسي هغه چې ستاسی په روزنه کښې دی) يعنی ستاسو د ښځو هغه لونې چې تاسی یې روزنه کوي دحجر يادونه دلته قيد نه بلکه دغالب حالاتو لپاره راوړل شوي ځکه غالبانجونې له خپلې موره سره وی اودښځې میړه یې روزنه کوي ﴿مِّن نِّسَآئِكُمُ ٱلَّٰتِي دَخَلْتُم بِهِنَّ فَإِن لَّمْ تَكُونُوا۟ دَخَلْتُم بِهِنَّ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ﴾ (اوپیداشوی) دی له ښځوستاسی هغه چې دخول (مجامعت) کړی وی تاسی له دوئ سره پس که نه وي تاسی چې دخول (مجامعت مو کړی دي تاسی له دوئ سره نونشته هیڅ ګناه پرتاسی باندي (په نکاح دپرکتیو کښې) دلته په دخول باندی له جماع څخه کنايه راغلی يعنی هغه چې پردو ته مو ننی ایستلی وی ابن عباس ؓ وايې چې معنايې داده : ای مؤمنانو که چیری تاسی ددوئ له میندوسره دخول نه وي کړی اوتردخول له مخه موطلاقي کړی وي نوبیایې دلونو په نکاح کولو کښې کومه ګناه نشته ﴿وَحَلَٰٓئِلُ أَبْنَآئِكُمُ ٱلَّذِينَ مِنْ أَصْلَٰبِكُمْ﴾ (اوحرامي کړی شوی دی پرتاسو) ښځې دزامنو ستاسي هغه چې له شاګانوستاسي پیدادي (اوحرامي کړی شوي دي پرتاسي دغه) پرخلاف دهغو زامنو چې یوازی په خوله ستاسو زامن

---

[1] - اخرجه بخاری ومسلم

(متبنی) بلل شوی وي دهغو زوجاتې په نکاح کولای شي . ﴿ وَأَن تَجْمَعُوا۟ بَيْنَ ٱلْأُخْتَيْنِ ﴾
(اوحرامي کړي شوی دی پرتاسو) دغه چې جمع وکړئ په مینځ ددوو خویندوکښی ﴿ إِلَّا مَا قَدْ سَلَفَ ﴾
(مګرهغه چې په تحقیق پخواتېری شوي دي) د جاهلیت په زمانه کښی په تحقیق سره الله دهغوئ ښښنه
درته کړی ﴿ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ غَفُورًا رَّحِيمًا ﴾ بیشکه چې الله دی ښه مغفرت کونکي (دهغه چې
تېرشوي) ډیررحم والا دی (په بندګانوخپلو) ﴿ وَٱلْمُحْصَنَٰتُ مِنَ ٱلنِّسَآءِ إِلَّا مَا مَلَكَتْ أَيْمَٰنُكُمْ ﴾
(اوحرامي کړی شوي دی پرتاسو) میړوښې له ښځومګرهغه میړوښې چې مالکان شوي وی (دهغو) ښې
لاسونه ستاسی) یعنی ددغونیول شوومینځونکاح ستاسی لپاره روا او له استبراء وروسته ورسره
جماع کول جائزدی ځکه په (سبی) نیولوسره دکافرعصمت شلیږي ﴿ وَلَا تُمْسِكُوا۟ بِعِصَمِ ٱلْكَوَافِرِ ﴾ [الممتحنة: ۱۰]
داد الله ﷻ قول دی ﴿ كِتَٰبَ ٱللَّهِ عَلَيْكُمْ ﴾ (مقررکیدل ددی حکم دی) په کتاب دالله کښې په تاسی باندی،
یعنی داد الله فرض دی په تاسی باندی ﴿ وَأُحِلَّ لَكُم مَّا وَرَآءَ ذَٰلِكُمْ ﴾ اوحلالی کړی شوي دی تاسی ته
ګردي ښځې چې پرته له دوئ څخه دی ﴿ أَن تَبْتَغُوا۟ بِأَمْوَٰلِكُم مُّحْصِنِينَ غَيْرَ مُسَٰفِحِينَ ﴾ (پدې شرط) چې
طلب وکړئ تاسی (دهغو) په مالونو خپلو(چې مهردی) پدی حال کښې چې ساتونکي شي (دخپل دین
په نکاح سره) نه زناکونکي ﴿ فَمَا ٱسْتَمْتَعْتُم بِهِۦ مِنْهُنَّ فَـَٔاتُوهُنَّ أُجُورَهُنَّ فَرِيضَةً ﴾ پس هرهغه ښځه چې
نفع واخیسته تاسی په هغې سره له دی (منکوحو ښځو) څخه نو ورکړئ تاسی دوئ ته مهرونه ددوئ په
داسې حال کښی چې فرض کړی شوی دی پرتاسود الله له لوري پدې قول سره ﴿ وَءَاتُوا۟ ٱلنِّسَآءَ صَدُقَٰتِهِنَّ نِحْلَةً ﴾
[النساء: ۴] بیاالله تعالی فرمایي: ﴿ وَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ فِيمَا تَرَٰضَيْتُم بِهِۦ مِنۢ بَعْدِ ٱلْفَرِيضَةِ ﴾ (اونشته ګناه
پرتاسی باندی (اي میرمنو اوښځو) په هغه شی کښې چې راضی شوی یاست تاسی په هغه باندی پس له
مقررولو دمهرڅخه یعنی پدی کښې ګناه نشته چې ښځه دخپل ولورڅخه یوڅه پخپله خوښه وغورځوی
لکه چې وایي : ﴿ فَإِن طِبْنَ لَكُمْ عَن شَىْءٍ مِّنْهُ نَفْسًا فَكُلُوهُ هَنِيٓـًٔا مَّرِيٓـًٔا ﴾ [النساء: ۴] ابن کثیروایي چې کله ته دهغې
لپاره ولوروټاکی خوهغه پخپله مرضی څه دروبښي نونه په تاګناه شته اونه په هغې باندی ﴿ إِنَّ ٱللَّهَ
كَانَ عَلِيمًا حَكِيمًا ﴾ بیشکه چې الله ښه عالم (دخلګوپه مصالحو) اوډیر حکمت والادی په
هغواحکاموکښې چې ددوئ لپاره یې تشریع ګرزوی ﴿ وَمَن لَّمْ يَسْتَطِعْ مِنكُمْ طَوْلًا أَن يَنكِحَ
ٱلْمُحْصَنَٰتِ ٱلْمُؤْمِنَٰتِ فَمِن مَّا مَلَكَتْ أَيْمَٰنُكُم ﴾ اوهغه څوک چې توان نلري له تاسی له جهته دغنادي
چې په نکاح واخلی اصیلې مؤمنې ښځې نو(په نکاح دی واخلی) له هغوښځوچې مالکان شوی ښې
لاسونه ستاسی ﴿ مِّن فَتَيَٰتِكُمُ ٱلْمُؤْمِنَٰتِ ﴾ له هغووینځوستاسوچې مؤمنې وی ﴿ وَٱللَّهُ أَعْلَمُ بِإِيمَٰنِكُم ﴾
(اوالله ته ښه معلوم دی ایمان ستاسی) داجمله معترضه ددي بیان لپاره ده چې دایمان په

معلومولوکښې ظاهري معرفت کفایت کوي اوپټې خبري (غیب) یوازي الله ته معلومي دي ﴿ بَعْضُكُم مِّنۢ بَعْضٍ ﴾ ځینې ستاسې له ځینونورویۍ (یعنی گرددیوه پلارآدم اولاده یئ نوپدی مه شرمیږئ چې مینځه په نکاح اخلئ ډیر خله وینځه تر اصیلی ښځی غوره وی او په دې ددوئ دزړه ساتنه اودمینې لوریینه ده، بهتري په ایمان سره ده نه په نسب اوحسب سره ﴿ فَٱنكِحُوهُنَّ بِإِذْنِ أَهْلِهِنَّ ﴾ نوپه نکاح واخلئ دوئ (وینځی دبل چا) په اذن دخاوندانو ددوئ ﴿ وَءَاتُوهُنَّ أُجُورَهُنَّ بِٱلْمَعْرُوفِ ﴾ (اوورکړئ تاسی دوئ ته مهرونه ددوئ په معروف (سم له دستوره په نیکه وجه) سره) یعنی په خوښه رضاولورونه ورکړئ له هغه څخه څه مه کموئ چې ددوئ سپکاوي وشی چې دامینځې مملوکي دي. ﴿ مُحْصَنَٰتٍ غَيْرَ مُسَٰفِحَٰتٍ ﴾ چې وی دوئ عفیفي ساتلي شوي له زناچې نه وي په ښکاره زناکونکي ﴿ وَلَا مُتَّخِذَٰتِ أَخْدَانٍ ﴾ اونه وي نیونکي دپټویارانوپه زناکولوکښې) ابن عباس ﷺ وایې چې (خدن) دښځې هغه اشناته وایې چې په پټه ورسره زناکوی نوالله دڅرگندواوپټوفواحشوڅخه منع وفرمایله([1]) ﴿ فَإِذَآ أُحْصِنَّ فَإِنْ أَتَيْنَ بِفَٰحِشَةٍ فَعَلَيْهِنَّ نِصْفُ مَا عَلَى ٱلْمُحْصَنَٰتِ مِنَ ٱلْعَذَابِ ﴾ نوکله چې میړوښې (واده) کړی شی دوئ پس که راتله وکړه دوئ په فاحشه (زنا) سره نوده په دوئ باندی نیم دهغه چې په اصیلوښځوباندی وي له عذاب ﴿ ذَٰلِكَ لِمَنْ خَشِىَ ٱلْعَنَتَ مِنكُمْ ۚ وَأَن تَصْبِرُوا۟ خَيْرٌ لَّكُمْ ﴾ (دا (په نکاح اخیستل دمینځو) دپاره دهغه چادي چې ویریږي له ضرره د(زنا) له تاسی نه) اوداچې صبروکړي له مینځوغوره دی تاسی ته) یعنی ستاسوصبرددوئ له نکاح څخه بهتر اوافضل دی څوولدمریی پیدانشی اوپه حدیث شریف کښی راځي: څوک چې غواړی الله ته پاک سپیځلی ورشی نواصیلی ښځې دی په نکاح واخلی.([2]) ﴿ وَٱللَّهُ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴾ اوالله ښه مغفرت کونکي دی ډیررحم والادی ﴿ يُرِيدُ ٱللَّهُ لِيُبَيِّنَ لَكُمْ ﴾ اراده لری الله چې بیان کړی تاسی ته (شرعی احکام) اوداموروومصلحتونه ﴿ وَيَهْدِيَكُمْ سُنَنَ ٱلَّذِينَ مِن قَبْلِكُمْ ﴾ اووښیئ تاسی ته لاره دهغه کسانوچې پخواله تاسی وولـه انبیآوواوصالحینوڅخه چې تاسویې په لاره ولاړشئ ﴿ وَيَتُوبَ عَلَيْكُمْ ﴾ اوقبوله کړئ توبه دتاسی په هغوگناهونوکښې چې له محارموڅخه موکړی دی ﴿ وَٱللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ ﴾ اوالله ښه عالم دی ښه حکمت والادی . دخلکوپه احوالوخبرداردی دحکمت خاونددی پخپله تشریع کښې ددوئ لپاره ﴿ وَٱللَّهُ يُرِيدُ أَن يَتُوبَ عَلَيْكُمْ ﴾ اوالله اراده لری چې ستاسی توبه قبوله کړي ددی لپاره یې تکرارراووړچې دالله په بندگانوباندی درحمت پراخوالی څرگندشی یعنی الله داخوښوي چې پخپلوشرعی احکاموتاسی له گناه نه پاک کړی دبنده توبه غواړی چې قبوله یې کړی ﴿ وَيُرِيدُ ٱلَّذِينَ يَتَّبِعُونَ ٱلشَّهَوَٰتِ أَن تَمِيلُوا۟ مَيْلًا عَظِيمًا ﴾ اواراده لری هغه کسان چې متابعت کوی دنفس

---

[1] - البحرالمحیط ۳ / ۲۲۲.

[2] - مختصرابن کثیر۱/ ۳۷۸.

دشهواتو ،ددې چې کاږه شي تاسي په کږيدلو ډيرولويوسره يعنى د شيطان ملګري اوپلويان غواړي چې تاسوددوئ په شان فاسقان فاجران جوړشئ اوله حق څخه دباطل لورى ته واوړئ ﴿ يُرِيدُ ٱللَّهُ أَن يُخَفِّفَ عَنكُمْۚ وَخُلِقَ ٱلْإِنسَٰنُ ضَعِيفًا ﴾ اراده لرى الله ددې چې سپک کړى (بار) له تاسى نه اوپيداکړى شوى دى انسان ضعيف اوکمزوري) يعنى الله ﷻ اراده لرى چې تاسوته دشرعى احکام آسانه کړي اوانسان کمزوري پيداشوى چې دهوااونفس له پيروى څخه صبرنشي کولاي بياالله په ناروادخلګوله مالونوخوړلوڅخه داسي ممانعت وکړ: ﴿ يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ لَا تَأْكُلُوٓا۟ أَمْوَٰلَكُم بَيْنَكُم بِٱلْبَٰطِلِ ﴾ اي هغوکسانوچې ايمان يې راوړى دى (اى مؤمنانو) مه خورئ تاسي مالونه ديوبل په مينځونوخپلو کښې په نارواسره ، اوداهره هغه لاره ده چې شريعت نه وي رواکړى لکه غلا ، خيانت ، غصب ، سود ، قمار ،اوداسى نور ﴿إِلَّآ أَن تَكُونَ تِجَٰرَةً عَن تَرَاضٍ مِّنكُمْۚ ﴾ مګر(خورئ) كه وى داما لونه چې خورئ يې اموال دتجارت (چې صادروى) په خوښې سره له تاسونه) يعنى نه خوهغه چې دشريعت دشريفې لاري له لوري وي لکه دتجارت هغه چې الله رواکړى دى ابن کثيروايي چې استثناء دلته منقطع ده يعنى داسى لاري چارى مه لټوئ چې هغه حرامي وى اوتاسى ځينى مال راغونډوئ بلکه هغه رواسوداګري کوئ چې اخيستونکي اوپلورونکي په خوښه رضاوي هسى کاروکړئ.(۱) ﴿ وَلَا تَقْتُلُوٓا۟ أَنفُسَكُمْۚ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ بِكُمْ رَحِيمًا ﴾ (اومه وژنئ تاسي سره ځانونه خپل بيشکه چې الله دى پرتاسى باندى ډيرمهربان) يعنى ستاسويودي دبل وينى نه تويوي اوتعبيرد ځان په وژلودزجرپه هکله دمبالغې لپاره دى اويا پخپل ظاهرپاتى دى چې تاسوانتحار(خودکشي) مه کوئ اودادالله درحمت ننبه دى پرتاسوباندى ﴿ وَمَن يَفْعَلْ ذَٰلِكَ عُدْوَٰنًا وَظُلْمًا ﴾ اوهرڅوک چې وکړي دغه (تيرمنهيات) په تيريدلوسره له حقه اوپه ظلم سره (نه په خطااونسيان) ﴿ فَسَوْفَ نُصْلِيهِ نَارًاۚ ﴾ نوژربه مونږداخل کړودى اور (ددوزخ) ته (هغه ستراورته چې پکښې وسوځي) ﴿ وَكَانَ ذَٰلِكَ عَلَى ٱللَّهِ يَسِيرًا ﴾ اودى دا(اورته دده ننې ايستل) پرالله باندى ډيرآسان ځکه الله له هيڅ شيزڅخه عاجز کيږي نه ﴿ إِن تَجْتَنِبُوا۟ كَبَآئِرَ مَا تُنْهَوْنَ عَنْهُ نُكَفِّرْ عَنكُمْ سَيِّـَٔاتِكُمْ ﴾ كه ځان وساتئ تاسى له لويو ګناهونوڅخه چې منع کولى شى تاسى له هغونه نوليرى به کړو مونږ له تاسى نه (صغيره) ګناهونه ستاسى ﴿ وَنُدْخِلْكُم مُّدْخَلًا كَرِيمًا ﴾ اوننه به باسوتاسى په ځاى دنئوتلوډيرښه کښې (چې جنت دى) هغه دنعمتونواوکرامت ځاى چې پکښې هغه څه دى چې نه سترګوليدلى نه غوږواوريدلى نه دچابشرپه زړه باندى تيرشوي دى.

بلاغت:

دبديع اوبيان ښکلاوي چې پدې آيتونوکښې راغلي لنډيزيې دادى:

۱- مختصرابن کثير۱ / ۳۷۸ .

۱ - مرسل مجاز لکه : (حرمت عليكم امهاتكم) دادمضاف په حذف سره چې (حرمت عليكم نكاح امهاتكم) راغلی دی.

۲ - دطباق صنعت لکه : (حرمت...احل) او(محصنين...مسافحين) او(كبائر...سيئاتكم) څکه مرادله سیأتو څخه صغیره ګناهونه دی.

۳ - کنایه پدی کلام کښې چې : (اللاتي دخلتم بهن) چې له دخول څخه جماع مراددی لکه چې څوک وايي (بنى عليها) اوخيمه يې ورباندی ودروله پدی کښې دکنايي صنعت دی.

۴ - استعاره چې فرمايي : (وآتوهن اجورهن) داجورلفظ يې دمهورواوولورونولپاره استعاره کړی څکه هغه هم په صورت کښې له اجراومزدوری سره مشابه دی.

۵ - مغايرجناس پدې کلماتو کښې : (تنكحوا مانكح) او(ارضعنكم... من الرضاعة) او(محصنات ... فاذا احصن) اوهمداډول اطناب په څوځايونو کښې اوحذف په څونورو ځايونو کښې.

فوائداوګټې:

لومړۍ فائده : علمای کرامودمحرماتوله دی آيت نه داقاعده رااېستلی چې عقدپه لونړومېندې حراموي اودخول په مېندولوڼې حراموي.

دوهمه فائده : بعضې روافضواوځينواهل تشيعو د(الله ﷻ) داقول چې فرمايي (فما استمتعتم به منهن) دمتعت په نکاح اړولی اوداستره سهواوخطاده څکه له استمتاع څخه مقصددلته په خپلونکاح شوؤمېرمنودجماع له وجهې تمتع اخيستل دی نه دمتعت(موقتی نکاح) په تحقيق سره چې نوموړی دمتعت نکاح په احاديثواودعلماوو په اجماع حرامه ده.[1]

دريمه فائده : ابن عباس ﷺ وايي کبيره هرهغه ګناه ده چې الله په اور، غضب ، لعنت اوعذاب باندی ختم کړی وي.

څلورمه فائده: سعيدابن جبير ﷺ روايت کوی چې يوچاابن عباس ﷺ ته وويل: کبيره ګناوی اوه دی هغه ورته وويل تراوو لاوه سووته نژدی دی خوکبيره له استغفارسره کبيره نه پاتی کيږي اوصغيره له اصرارسره صغيره نه وي (يعنی کبيره ځينی جوړيږي) دغه خبره قرطبی راوړي ده.

الله تعالی فرمايي:

﴿وَلَا تَتَمَنَّوْا مَا فَضَّلَ اللَّهُ بِهِ بَعْضَكُمْ عَلَىٰ بَعْضٍ لِّلرِّجَالِ نَصِيبٌ مِّمَّا اكْتَسَبُوا وَلِلنِّسَاءِ نَصِيبٌ مِّمَّا اكْتَسَبْنَ
وَاسْأَلُوا اللَّهَ مِن فَضْلِهِ إِنَّ اللَّهَ كَانَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمًا ﴿٣٢﴾ وَلِكُلٍّ جَعَلْنَا مَوَالِيَ مِمَّا تَرَكَ الْوَالِدَانِ
وَالْأَقْرَبُونَ وَالَّذِينَ عَقَدَتْ أَيْمَانُكُمْ فَآتُوهُمْ نَصِيبَهُمْ إِنَّ اللَّهَ كَانَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ شَهِيدًا ﴿٣٣﴾ الرِّجَالُ
قَوَّامُونَ عَلَى النِّسَاءِ بِمَا فَضَّلَ اللَّهُ بَعْضَهُمْ عَلَىٰ بَعْضٍ وَبِمَا أَنفَقُوا مِنْ أَمْوَالِهِمْ فَالصَّالِحَاتُ قَانِتَاتٌ
حَافِظَاتٌ لِّلْغَيْبِ بِمَا حَفِظَ اللَّهُ وَاللَّاتِي تَخَافُونَ نُشُوزَهُنَّ فَعِظُوهُنَّ وَاهْجُرُوهُنَّ فِي الْمَضَاجِعِ وَاضْرِبُوهُنَّ فَإِنْ

---

[1] - دڅېړنې تفصيل اودتحريم دلائل زمونږ په کتاب روائع البيان ۱/ ۴۵۷ کښې چې مهم بحث دی وګوری.

أَطَعْنَكُمْ فَلَا تَبْغُوا عَلَيْهِنَّ سَبِيلًا إِنَّ اللَّهَ كَانَ عَلِيًّا كَبِيرًا ﴿٣٤﴾ وَإِنْ خِفْتُمْ شِقَاقَ بَيْنِهِمَا فَابْعَثُوا حَكَمًا
مِنْ أَهْلِهِ وَحَكَمًا مِنْ أَهْلِهَا إِنْ يُرِيدَا إِصْلَاحًا يُوَفِّقِ اللَّهُ بَيْنَهُمَا إِنَّ اللَّهَ كَانَ عَلِيمًا خَبِيرًا ﴿٣٥﴾ ۞ وَاعْبُدُوا اللَّهَ وَلَا
تُشْرِكُوا بِهِ شَيْئًا وَبِالْوَالِدَيْنِ إِحْسَانًا وَبِذِي الْقُرْبَى وَالْيَتَامَى وَالْمَسَاكِينِ وَالْجَارِ ذِي الْقُرْبَى وَالْجَارِ الْجُنُبِ
وَالصَّاحِبِ بِالْجَنْبِ وَابْنِ السَّبِيلِ وَمَا مَلَكَتْ أَيْمَانُكُمْ إِنَّ اللَّهَ لَا يُحِبُّ مَنْ كَانَ مُخْتَالًا فَخُورًا ﴿٣٦﴾ الَّذِينَ
يَبْخَلُونَ وَيَأْمُرُونَ النَّاسَ بِالْبُخْلِ وَيَكْتُمُونَ مَا آتَاهُمُ اللَّهُ مِنْ فَضْلِهِ وَأَعْتَدْنَا لِلْكَافِرِينَ عَذَابًا
مُهِينًا ﴿٣٧﴾ وَالَّذِينَ يُنْفِقُونَ أَمْوَالَهُمْ رِئَاءَ النَّاسِ وَلَا يُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَلَا بِالْيَوْمِ الْآخِرِ وَمَنْ يَكُنِ الشَّيْطَانُ لَهُ
قَرِينًا فَسَاءَ قَرِينًا ﴿٣٨﴾ وَمَاذَا عَلَيْهِمْ لَوْ آمَنُوا بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ وَأَنْفَقُوا مِمَّا رَزَقَهُمُ اللَّهُ وَكَانَ اللَّهُ بِهِمْ عَلِيمًا ﴿٣٩﴾ إِنَّ اللَّهَ
لَا يَظْلِمُ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ وَإِنْ تَكُ حَسَنَةً يُضَاعِفْهَا وَيُؤْتِ مِنْ لَدُنْهُ أَجْرًا عَظِيمًا ﴿٤٠﴾ فَكَيْفَ إِذَا جِئْنَا مِنْ كُلِّ أُمَّةٍ
بِشَهِيدٍ وَجِئْنَا بِكَ عَلَى هَؤُلَاءِ شَهِيدًا ﴿٤١﴾ يَوْمَئِذٍ يَوَدُّ الَّذِينَ كَفَرُوا وَعَصَوُا الرَّسُولَ لَوْ تُسَوَّى بِهِمُ الْأَرْضُ وَلَا
يَكْتُمُونَ اللَّهَ حَدِيثًا ﴿٤٢﴾ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَقْرَبُوا الصَّلَاةَ وَأَنْتُمْ سُكَارَى حَتَّى تَعْلَمُوا مَا تَقُولُونَ وَلَا جُنُبًا إِلَّا
عَابِرِي سَبِيلٍ حَتَّى تَغْتَسِلُوا وَإِنْ كُنْتُمْ مَرْضَى أَوْ عَلَى سَفَرٍ أَوْ جَاءَ أَحَدٌ مِنْكُمْ مِنَ الْغَائِطِ أَوْ لَامَسْتُمُ النِّسَاءَ فَلَمْ تَجِدُوا
مَاءً فَتَيَمَّمُوا صَعِيدًا طَيِّبًا فَامْسَحُوا بِوُجُوهِكُمْ وَأَيْدِيكُمْ إِنَّ اللَّهَ كَانَ عَفُوًّا غَفُورًا ﴿٤٣﴾ النساء: ٣٤ - ٤٣

مناسبت اوتړاو:

کله چې الله تعالی دښځونار وااومحرماتی بیان کړی اوتردې پخوايې دنارينه ووفضيلت پردوئ بیان کړی وونوآیتونه په دې باب چې یودبل جنس په هکله تمنااوآرزوونکړي منع فرمايې ځکه دغه بیادِحسداورخي سبب کیږي وروسته الله تعالی دمیړه ارتېنې حقوق یوپه بل پسی څرګندوي اوزينه په زینه دداسی ګامونودا خیستلوښوونه کوي چې دنشوزاوسرغړونی په وخت کښې ورته اړتیاوي.

لغتونه:

(موالي) خپلوان وارثان ځکه ورته (موالی) وايې چې یودبل مرستندویان وي مريې ته مولی وايې اوهمدارنګه بادارته مولاوايې ځکه هریودبل تولّی کوی اودلته مرادځینی عصبه اووارثان دی (قوامون) حاکمان ساتندویان (قوّام) په قیام کښې دمبالغې لپاره استعمال شوي کله چې دیوامرپه هکله دساتنې اوپاملرنې بشپړه توجه وشی ورته قوام وايې نومیړونه هم دأولي الامرپه شان چې په رعیت حاکم وي اوپاملرنه یې کوی دخپلومیرمنوحاکمان اوپاملرنه لری (قانتات) خبره منونکي قنوت په اصل کښې دطاعت همیشه والی ته وايې (نشوزهن) ددوې سرغړونه (نشوز) سرغړونې اولویې ته وايې ځکه نشوز لوړتیاته وايې لکه چې داسی راځي (تل ناشز) (لويه اوچته غونډۍ) او(نشزت المرأة) کله چې په میړه لویې کوی اوخبره یې نه مني (المضاجع) دمضجع جمع اودویدیدلوځای ته ویې (شقاق) خلاف اوعداوت ته وايې له شق څخه اخیستل شوی ځکه دشقاق خاوندان هریوپه داسی شق (ګوټ) کښی وی چې بل ملګري هلته نه وی (الجنب) هغه پردې چې دخپلوی رابطه یې له همسایه سره نه وی له جنابت څخه اخیستل شوي چې لیري والی (بعد) ته وايې (مختالاً) کبرجن اوخیلاء ته وايې (مثقال) وزن (دروندوالی)

(الغائط) بی اودسې ته وايې اصل يې له ټيټې مځکې څخه دی او کله چې به دوئ دانسانی حاجت درفع کولواراده درلوده نوکډي ځاي، ټيټې مځکې ته به ورتلونوله حاجت څخه کنايه هم دغه غائط راوړل شو.

دنزول سبب:

أ - له مجاهد ﷺ څخه روايت شوی چې: أم سلمه رضی الله عنهاوويل ای رسول الله ﷺ نارينه غزاکوی (غنيمتونه تر لاسه کوی) اوموږ غزانه کووخوموږلره دنارينه وونيمايي ميراث وندې ټاکلی شوی ده نوالله ﷻ داآيت نازل کړ: (ولاتتمنوا مافضل الله به بعضکم علی بعض...)[۱]

ب: روايت کاوه شی چې سعدبن ربيع ﷺ چې دانصاروله ډلې څخه وو ښځې يې نافرمانی کوله ده خپله ميرمن (حبيبه بنت زيد) په څپيړه ووهله رسول الله ﷺ وفرمايل دادی هم ځينی قصاص واخلي: بيادا آيت نازل شو (الرجال قوامون علی النساء) نورسول الله ﷺ وفرمايل: زموږ يو څه خوښه وه اودالله ﷻ اراده بل څه وه دالله ﷻ په اراده کښی خيردی.

تفسير:

﴿ وَلَا تَتَمَنَّوْاْ مَا فَضَّلَ ٱللَّهُ بِهِۦ بَعْضَكُمْ عَلَىٰ بَعْضٍ ﴾ (اوارمان مکوئ تاسی دهغه شی چې غوره ګرځولی دی الله په هغه شی سره ځينی له تاسی پرځينونورو) يعنی اي مؤمنانو ددين اويادنياپه امورو کښی دهغه څه آرزومکوئ چې په کوم باندی له تاسی پرته الله پاک بل څوک ځانګړي کړی دی ځکه دابغض، کينه اوحسدپيداکوي زمخشري وايې: الله له حسدڅخه منع فرمايلی چې يوڅوک دی دداسی شی آرزو(تمنا) نه کوی چې الله پاک په يوچا باندی درتبې او مال لورولی وی ځکه دا دالله ويش دی هغه پخپل حکمت اوتدبيرسره چې دبندګانوپه احوالوخبردي فرمايلی: ﴿ لِّلرِّجَالِ نَصِيبٌ مِّمَّا ٱكْتَسَبُواْ وَلِلنِّسَآءِ نَصِيبٌ مِّمَّا ٱكْتَسَبْنَ ﴾ (شته نارينه وولره نصيب (برخه مقرره له ازله) په سبب دهغه عمل چې کړی دی دوئ اوشته ښځولره نصيب په سبب دهغه عمل چې کړي دی دوئ) يعنی هريوه له دوئ دواړوډلوته په ميراث کښې معلومه ونډه اوبرخه ده طبری وايې هرچاته دخپل عمل سره سمه جزاده که ښه ووښه جزاء اوکه بدوه بده جزاء به مومي.[۲] ﴿ وَسْـَٔلُواْ ٱللَّهَ مِن فَضْلِهِۦٓ ﴾ اوسوال کوئ تاسی له الله نه له فضل اومهربانی دده (خودربې کړی ځکه الله کريم اووهاب دی) ﴿ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ بِكُلِّ شَىْءٍ عَلِيمًا ﴾ بيشکه چې الله په هرشی ښه دانا(عالم) دی (ځکه يې خلک پوړی پوړی کړی اوځينوته يې په ځينونورو لوړې درجاتې ورکړی دی ﴿ وَلِكُلٍّ جَعَلْنَا مَوَٰلِىَ مِمَّا تَرَكَ ٱلْوَٰلِدَانِ وَٱلْأَقْرَبُونَ ﴾ اولپاره دهريوه له (نارينه اوښځو) ګرزولی دی موږ وارثان له هغه ماله چې پری ايښي وي موراوپلاراوخپلوانوله ميراث څخه ﴿ وَٱلَّذِينَ عَقَدَتْ أَيْمَٰنُكُمْ فَـَٔاتُوهُمْ نَصِيبَهُمْ ﴾ (اوهغه کسان چې غوټه شوی دی قسمونه ستاسی (په دوستی ددوئ) نوورکوئ برخه د دوئ) يعنی اوهغه کسان چې تاسی په جاهليت کښی په دوستی سره (حلف) لوړه ددوستی په نصرت اوميراث اخيستي وی نوله ميراث څخه ددوئ برخه ورکوئ حسن

۱- اسباب النزول ص ۸۵

۲- الطبری ۸ / ۲۶۷.

رحمه الله وايي يوسړي به له بل سره داسي تحالف کاووچې وروسته ديوه له مړيني به يې بل ميراث وړی نوبيا دالله ﷻ پدی قول منسوخ شوچې فرمايي ﴿ وَأُوْلُواْ ٱلۡأَرۡحَامِ بَعۡضُهُمۡ أَوۡلَىٰ ﴾ [الأنفال: ٧٥] ابن عباس ﷺ وايي چې کله مهاجرين مديني منورې ته راغلل نوبه مهاجر د انصارو ميراث وړ داپه هغه مواخات بناوو چې رسول الله ﷺ د دوئ ترمنځ تاکلی وواوسکني ورور به يې محروم پاتی وو خوکله چې دا آيت نازل شو: ﴿ وَلِكُلٍّ جَعَلۡنَا مَوَٰلِيَ ﴾ نوبياهغه منسوخ شو.(١) ﴿ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ شَهِيدًا ﴾ بيشکه چې الله دی په هرشی باندی ښه خبردار(اوپه هغه به جزا درکړی) وروسته بيا الله ﷻ داخرگنده کړه چې نارينه ووته دښځوامورسپارل شوی چې دهغوئ مسئوليت ومني اوهغوي متوجه کړی وبې فرمايل: ﴿ ٱلرِّجَالُ قَوَّٰمُونَ عَلَى ٱلنِّسَآءِ ﴾ (سړي حاکمان مقررشوی) پرښځوباندی)يعنی هغوئ ته په امر او نهی کولواونفع ورکولواودهغوئ په لاربنوونه کولوګمارل شوی دی لکه چې حاکمان دخپل رعيت لپاره ټاکل شوی دی ﴿ بِمَا فَضَّلَ ٱللَّهُ بَعۡضَهُمۡ عَلَىٰ بَعۡضٖ وَبِمَآ أَنفَقُواْ مِنۡ أَمۡوَٰلِهِمۡ ﴾ (په سبب ددی چې فضيلت ورکړی دی الله ځينی ددوئ ته پرځينونوروباندی اوپه سبب ددي چې لګښت (نفقه) کوي دوئ (پرډغوښځو)له خپلومالونوڅخه) يعنی په سبب ددي چې الله ځينی ددوئ ته عقل ، تدبيرورښنلی اوکسب اولګښت يې ورکړی چې دوئ يې دښځوپه پاملرنه ساتنه اونفقه ورکولو کښې ورکړی اوتأديب يې وکړی ابوالسعودوايي چې دسړی بهتري په دی کښې ده چې دعقل تدبيرخاونددسمې رايې اوفکرښښتن اودقوت مالک وی ځکه نوالله دنبوت ، امامت ، ولايت ، شهادت اوجهادلپاره غوره کړی دی(٢) ﴿ فَٱلصَّٰلِحَٰتُ قَٰنِتَٰتٌ حَٰفِظَٰتٞ لِّلۡغَيۡبِ بِمَا حَفِظَ ٱللَّهُ ﴾ (نوهغه ښځې چې نيکې دی حکم منونکی دی (دميړونو) ساتونکې دی په غياب دميړونوخپلوکښی) دځانونوخپلواودخپلو ميړونو دکورونو مالونو اولادونو)په سبب دهغه چې ساتلی دی الله دوئ ته له حقوقوپر ميړونو) داهغه تفصيل دی چې الله دښځودهغه حال چې دنارينه تر رياست لاندی وي فرمايلی دی الله پاک يادونه کوي چې دوئ دوه ډوله دی يوه ډله يې نيکاني ، خبره منونکي اوبله ډله يې سرغړونکي ګنهګاراني دی هغه چې نيکې دی نو د الله اطاعت کوی دميړه منونکي وی هغه حقوق چې ميړه يې ورباندی لری په ښه توګه يې تر سره کوي ځانونه له زنا ژغوري دميړونو مالونه له بيځايه لګولو ساتی لکه چې دوئ هغه رازونه هم پټ ساتی کوم چې ددوئ اوميړونوترمنځ وي اوپټول يې لازمي اوغوره کاردی په حديث شريف کښی راغلي چې دقيامت په ورځ ترټولو خلګوپه منزلت کښې بدهغه څوک دی چې خپلې مېرمنی ته رسيدل کوی اوهغه ده ته رسيږي (کوروالی کوی) اوبيادخپل يوملګری راز بل ملګری ته خپروی ﴿ وَٱلَّٰتِي تَخَافُونَ نُشُوزَهُنَّ ﴾ (اوهغه ښځې چې ويريږئ تاسی له سرکشی ددوئ نه) دادوهم ډول ښځې دی هغه ګنهګاري سرغړونکي ښځې چې پخپل ميړه يې غته وايي اوله طاعت څخه يې سرکشي کوی نواى خلګوله دوئ سره داصلاح لاره غوره کړئ ﴿ فَعِظُوهُنَّ وَٱهۡجُرُوهُنَّ فِي ٱلۡمَضَاجِعِ وَٱضۡرِبُوهُنَّ ﴾ نونصيحت وکړئ دوئ ته اوپريږدئ

١- مختصرابن کثير١/ ٣٨٤

٢- ارشادالعقل السليم١/ ٣٣٩.

تاسی دوئ په ځای دخوب(خپلې شاوی وروګرزوئ که په نصیحت سمي نشوی)او ووهئ تاسی دوئ (که په بیلتون هم سمي نه شوی)یعنی دوئ دنصیحت په ډول وبیروئ لارښوونه ورته وکړئ که پدی وعظ او پند کارونشونوځای ورپریږدئ مه ورسره نژدي کیږئ اومه خبری ورسره کوئ ابن عباس ﷺ وایي چې دهجرمعناداده چې (کوروالی) جماع ورسره ونکړئ اوچې دخوب پرځای کښې شاوروګرزوئ که داهم ګټوره نه وه بیادي سپک وهل تکول ورکړی.(۱) ﴿ فَإِنْ أَطَعْنَكُمْ فَلَا تَبْغُوا۟ عَلَيْهِنَّ سَبِيلًا ﴾ نوکه اطاعت یې وکړ(غاړه یې کښېښود) تاسی ته نومه لټوئ تاسي پردوی باندي لاره دضرراوأذیت) ﴿ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ عَلِيًّا كَبِيرًا ﴾ بیشکه الله دی ډیر پور ته ډیرلوي دي ,له تاسي هغه ددوی ولی دی اوله هغه چاڅخه کسات اخلی چې په دوی ظلم کوي اویاورباندی بغاوت کوي وګوره ددي عقوباتو ترتیب اوباریکې ته چې لومړی یې مونږ په وعظ اونصیحت مأمورکړوبیایې راته دهجران وفرمایل وروسته یې دداسی وهلوچې (مبرح) نه وی راته وویل آیت شریف یې دکبریااواعتلاء په صفاتوپای ته ورساووچې بنده تنبیه شی پدی چې دالله قدرت دمیړه له قدرت نه په هغې باندی لوړ دی او الله د بیوزلواو مظلومانومرستندوی اومددګاردی !!﴿ وَإِنْ خِفْتُمْ شِقَاقَ بَيْنِهِمَا فَٱبْعَثُوا۟ حَكَمًا مِّنْ أَهْلِهِۦ وَحَكَمًا مِّنْ أَهْلِهَآ ﴾ اوکه ویریږئ تاسی له مخالفت څخه په مینځ دمیړه اوښځې کښې نو ورولیږئ یومنصف له خپلوانو ددي سړی اوبل منصف له خپلوانوددي ښځې نه) ترڅودوی غونډه وکړی اوددی میړه اوارتینې په هکله سوچ وکړي هغه څه سره غوټه کړی چې پکښې مصلحت وي﴿ إِن يُرِيدَآ إِصْلَٰحًا يُوَفِّقِ ٱللَّهُ بَيْنَهُمَآ ﴾(که اراده لري دغه کسان داصلاح (جوړښت) نوموافقت به پیدا کړي الله ددغو(زوجینو) په منځ کښې) یعنی که داکسان داصلاح ذات البین قصد(تکل) لری نیت یې سم وی زړونه یې دالله لپاره دنصیحت په هکله سوتره وي الله به یې په وساطت اومینځګړتیاکښې برکت واچوي اوددوی په وجه به دزوجینوترمینځ الفت مینه اومهربانی اوجوړښت رامینځ ته کړی. ﴿ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ عَلِيمًا خَبِيرًا ﴾ بیشکه الله دی ښه عالم ښه خبردار) په احوالو دبندګانو اودحکمت خاونددي دتشریع په ټاکلوکښې ددوی لپاره ﴿ وَٱعْبُدُوا۟ ٱللَّهَ وَلَا تُشْرِكُوا۟ بِهِۦ شَيْـًٔا ۖ وَبِٱلْوَٰلِدَيْنِ إِحْسَٰنًا ﴾ (اوعبادت کوئ تاسی دالله اومه شریکوئ تاسی له ده سره هیڅ شي اونیکې کوئ له موراوپلارسره په نیکي کولو) یعنی الله ﷻ په وحدانیت اوعظمت سره ستایئ له هغه سره هیڅ شی بتان اویا نورڅه شریکان مه نیسئ ! له موراوپلارسره احسان کوئ دهغوئ انعام اواکرام وکړئ ﴿ وَبِذِى ٱلْقُرْبَىٰ وَٱلْيَتَٰمَىٰ وَٱلْمَسَٰكِينِ ﴾ (اونیکې کوئ) له خاوندانودخپلوي سره او(نیکي کوئ) له یتیمانوسره (اونیکي کوئ) له مسکینانو(بیوزلانوسره) او(نیکي کوئ) له همسایګانوسره چې قریب وي

---

(۱)-مختصرابن کثیر۱/ ۳۸۲

ځکه دهغه دوه حقوق دی يوبې دهمسايګي اوبل دخپلوي دی. ﴿وَٱلْجَارِ ٱلْجُنُبِ﴾ او(نيکي کوئ) له همسايګانوسره چې لري وي (په خپلوي کښې) ﴿وَٱلصَّاحِبِ بِٱلْجَنۢبِ﴾ او(نيکي کوئ) له هغه ملګري سره چې په څنګ کښې وي) ابن عباس ﷺ وايې چې دادسفرملګري دی. زمخشري وايې چې دهغه دځنګ ملګري دی که په سفرکښی وي يانژدې همسايه اويآ د تعليم شريک ياپه مجلس کښې ځنګ ته ناست اويا نور چې لږ ترلږه ګاونډي وي دهغه مراعات اوحقوق شته چې بايدهير نشي چا بيا ويلي چې مراد له دې ښځه دسړی خپله ميرمن ده (١) ﴿وَٱبْنِ ٱلسَّبِيلِ﴾ او(نيکي کوئ) له مسافرسره هغه چې له خپل اهل اوهيوادڅخه ليرې وي ﴿وَمَا مَلَكَتْ أَيْمَٰنُكُمْ﴾ او(نيکي کوئ) له هغو(مينځواومريوسره) چې مالکان وي (ورلره) ښې لاسونه ستاسی ﴿إِنَّ ٱللَّهَ لَا يُحِبُّ مَن كَانَ مُخْتَالًا فَخُورًا﴾ (بيشکه چې الله نه خوښوي هغه څوک چې دی کبرکونکي ډيرفخر (وياړ) کونکي) يعنی هغه کبرجن چې په خپلوانواوګاونډيانوباندی ځان لوړګڼي او وياړي (فخر) کوي چې دی ترټولوښه بهتر او لوړ دی دغه آيت دښواخلاقوجامع اوپه احسان باندی هڅونه کوي که څوک پکښې ښه سوچ اوتدبر وکړی نودواعظانوله ډيرپنداونصيحت څخه ورته کافی دی اوبيا وروسته الله تعالي دهغوکسانو صفات کوم چې الله يې مبغوض ګڼي بيانوي فرمايي: ﴿ٱلَّذِينَ يَبْخَلُونَ وَيَأْمُرُونَ ٱلنَّاسَ بِٱلْبُخْلِ﴾ (هغه کسان چې بخيلی کوي دوی اوامرکوی (نورو) خلګوته (هم) په بخيلی سره) يعنی هغه کسان چې دالله ﷻ واجب شوی مال دالله په لاره کښې نه لګوي اونوروته هم دنه لګولوامراوحکم کوي . داآيت ديهودانو د هغې ټولۍ په هکله نازل شوي چې انصاروته به يې ويل : په جهاداوصدقاتوکښی خپل مالونه مه لګوئ ! خوحکم يې عام دی ﴿وَيَكْتُمُونَ مَآ ءَاتَىٰهُمُ ٱللَّهُ مِن فَضْلِهِۦ﴾ (اوپټوي دوی هغه شی چې ورکړی دی الله دوی ته له مهرباني خپلې) يعنی دوی هغه خپله بډايي اومال پټوي اودرسول الله ﷺ هغه نعت چې په تورات کښې موجوددي نه ښکاره کوی (٢) ﴿وَأَعْتَدْنَا لِلْكَٰفِرِينَ عَذَابًا مُّهِينًا﴾ (اوتيارکړی دی مونږ کافرانوته عذاب سپکونکي) يعنی هغه چاته چې دالله له نعمت څخه منکروی مونږ دردناک عذاب چې ذلت اوسپکتيا ورسره وی تيارکړی دی ﴿وَٱلَّذِينَ يُنفِقُونَ أَمْوَٰلَهُمْ رِئَآءَ ٱلنَّاسِ﴾ (اونه خوښوي الله) هغه کسان چې صرفوی دوی مالونه خپل لپاره دښوونی خلګوته) يعنی دفخر اوريالپاره يې لګوي دالله ﷻ رضايې مطلب نه وی ﴿وَلَا يُؤْمِنُونَ بِٱللَّهِ وَلَا بِٱلْيَوْمِ ٱلْءَاخِرِ﴾ اونه لري ايمان په الله باندی اونه په ورځ آخری د(قيامت) باندی داآيت دمنافقينوپه باب دی ﴿وَمَن يَكُنِ ٱلشَّيْطَٰنُ لَهُۥ قَرِينًا فَسَآءَ قَرِينًا﴾ اوهرڅوک چې وي شيطان ده لره ملګری نوبدملګری دی (داشيطان) ﴿وَمَاذَا عَلَيْهِمْ

(١) الکشاف ١ / ٣٩٣ همدغه رايه طبري هم ويلي ده.
(٢) دغه خبره چې وروسته راغلی دطبری اوابوالسعود غوره ده.

لَوْ ءَامَنُواْ بِٱللَّهِ وَٱلْيَوْمِ ٱلْـَٔاخِرِ وَأَنفَقُواْ مِمَّا رَزَقَهُمُ ٱللَّهُ ﴾ (او څه نقصان به وو په دی کفارو باندی که ایمان راوړی وي دوی په الله او په ورځ آخره د(قیامت) باندی او صرف کړی وای دوی خپني د هغه څه چې روزي کړی دي دوی لره الله) استفهام د توبیخ او انکار لپاره دی او زمخشری وایې چې ددې مثال داسې دی لکه چې څوک کسات (غچ) اخیستونکي ته وایې څه تاوان به دی ووکه دی ورته عفو کړی وای ؟ او یا عاق (آزاری) ته وایې چې څه غم به دی ووکه دی دمور او پلار خبره منلای ؟ او دا توبیخ او ذم او دګتې په خای تجهیل دی (۱)﴿ وَكَانَ ٱللَّهُ بِهِمْ عَلِيمًا ﴾ (او دی الله په ټولو اعمالو باندی (هم) ښه عالم) دا د دوی لپاره دعذاب وعید دی یعنی ژرده چې ددوی په کړو وړو به سزا ورکړی. ﴿ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَظْلِمُ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ ﴾ بیشکه چې الله نه کوي ظلم په اندازه دیوې ذرې هغه چې (هبا) دوړانګې خاشه دی او دا د تمثیل په ډول دی چې تنبیه راشی دلږشي په ډیر باندی ﴿ وَإِن تَكُ حَسَنَةً يُضَٰعِفْهَا ﴾ (نو که وي دا ذره) نیکی نو دوه چنده به کړي هغه نیکۍ) یعنی که دغه نیکي یوه ذره غوندی وي الله ﷻ به یې وده وکړی او څو چنده به شی ﴿ وَيُؤْتِ مِن لَّدُنْهُ أَجْرًا عَظِيمًا ﴾ (او ور به کړی الله (محسن ته) له نزده خپله ثواب ډیر لوي) یعنی تفضلا به ورته جنت ورکړي ﴿ فَكَيْفَ إِذَا جِئْنَا مِن كُلِّ أُمَّةٍۭ بِشَهِيدٍ وَجِئْنَا بِكَ عَلَىٰ هَٰٓؤُلَآءِ شَهِيدًا ﴾ (نو څرنګه به وی (حال) په هغه وخت کښې چې راولو مونږ له هریوه (پخواني) امت څخه یو شاهد (ددوی له انبیاوو) څخه او راولو مونږ تا (ای محمده !) پر دغه (محمدی امت باندی) شاهد (احوال ویونکي) یعنی دکفارو، فجارو به څه حال وي ؟ کله چې په هر امت باندی ددوی نبی شاهدې ویونکي راوستل شی او تا (ای محمده) ستا دامت په دروغ ویونکو، سرغړونکو باندی شاهدې ویونکي راولو چې ددوی دعصیان او انکار شاهدي ورکړی ددوی به څه دریزوی ؟ څه به یې حال وی ؟ استفهام دلته د توبیخ او ویرونې لپاره دی. ﴿ يَوْمَئِذٍ يَوَدُّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ وَعَصَوُاْ ٱلرَّسُولَ ﴾ (په دغه ورځ کښې به آرزو کوي هغه کسان چې کافران شوي وو او نافرماني یې کړی وه له رسوله) یعنی پدغه سخته ورځ کښې به فاجران هغه کسان چې دالله له وحدانیت څخه منکر او درسول له فرمان څخه یې غاړه غړولی داسې آرزو کوی چې ﴿ لَوْ تُسَوَّىٰ بِهِمُ ٱلْأَرْضُ ﴾ (کاشکې هواره شوی وای پر دوی باندی مځکه) لکه چې په مړیو باندی هواره ده او یا څمکه څیری شوی وای او هغه یې ډوب کړی وای او دوی خاوری وای ﴿ يَوْمَ يَنظُرُ ٱلْمَرْءُ مَا قَدَّمَتْ يَدَاهُ وَيَقُولُ ٱلْكَافِرُ يَٰلَيْتَنِى كُنتُ تُرَٰبًۢا ﴾ [سورة النبأ ۴۰] او دا به له دی وجهی وایې چې دوی دقیامت سختی او ربړونه ویني ﴿ وَلَا يَكْتُمُونَ ٱللَّهَ حَدِيثًا ﴾ (او نه به پټوي له الله څخه هیڅ خبره) یعنی دوی به له الله څخه هیڅ خبره نشی پټولای ځکه غړی او اندامونه به یې ورباندی شاهدی وایې پر څه چې یې کړی وي (۲) بیا الله تعالي دمستې او جنابت په

---

(۱) الکشاف ۱/۳۹۵.

(۲) دغه تفسیر هغه وخت کیدای شي چې جمله مستأنفه وبلل شي او همدا ظاهره ده چابیا ویلی چې دا جمله په پخواني باندی عطف ده یعنی دوئ دا غواړي چې تر مځکه لاندی خښ کړل شی او دوئ پدې خبره کښی نه څه پټوی او نه دروغ وایې چې (والله ما کنا مشرکین) ځکه که یې پټ کړی رسوا کیږي نو ددی ورځې له سختې دا آرزو کوي چې په مځکې ننوزي-

حال کښې دلمانځه کولو څخه دپرهيزپه هکله فرمايي : ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَقۡرَبُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَأَنتُمۡ سُكَٰرَىٰ حَتَّىٰ تَعۡلَمُواْ مَا تَقُولُونَ ﴾ (ای هغو کسانو چې ايمان يې راوړی دی (ای مؤمنانو) مه نژدي کيږئ تاسی لمانځه ته حال داچې تاسي مست يئ (له نشې) ترهغه پوري چې پوه شئ تاسي پرهغه شي چې (يئ) وايئ تاسي) يعنی تاسودمستی په وخت کښې لمونځ مه کوئ ځکه پدغه حالت کښې دالله دمناجات کولو خضوع اوخشوع نه راځي اوداد شرابو ترتحريم له مخې حکم دي ترمذی روايت کوي چې علی کرم الله وجهه وايي : مونږته عبدالرحمن بن عوف ﷺ د ميلمستيا بلنه راکړی وه اوشراب يې راوښل زمونږ په سرکښېوتل دلمانځه وخت شوزه يې دلمانځه دامامت لپاره مخکي کړم اوماقرائت لوستل ويل مي (قل ياأيها الكافرون أعبد ماتعبدون) نحن نعبد ماتعبدون) بياالله ﷻ دامذکور آيت نازل کړو: (١) ﴿وَلَا جُنُبًا إِلَّا عَابِرِي سَبِيلٍ حَتَّىٰ تَغۡتَسِلُواْ ﴾ (اونه پداسی حال کښې چې تاسی جنب اوسئ مگرپه هغه حال کښې چې تاسی تېريدونکي دلاری يئ ترهغه پوري چې تاسی غسل وکړئ) يعنی لمانځه ته دجنابت په حال کښې مه نژدې کيږئ چې دانزال ياايلاج په سبب ناپاکه ياست مگرکه چېری مسافرين وئ اوبه مونشواي ميندلاي نوبياد تيمم په وهلوسره په دغه حالت کښې لمونځ وکذارئ ﴿وَإِن كُنتُم مَّرۡضَىٰٓ أَوۡ عَلَىٰ سَفَرٍ أَوۡ جَآءَ أَحَدٌ مِّنكُم مِّنَ ٱلۡغَآئِطِ ﴾ اوکه تاسی رنځوران ياپه سفر باندی (په حالت دبې اودسی ياجنابت کښې) ياراشي يوله تاسی له بيديا (له بولو) نه يعنی که تاسی ناروغان وئ اوبودرته تاوان رساووا وياپه سفرکښې وئ کوچني اودس درباندی اوښتي ووا وبه مونشواي ميندلای ﴿ أَوۡ لَٰمَسۡتُمُ ٱلنِّسَآءَ ﴾ (ياجماع وکړئ تاسی ښځوسره) دغه ابن عباس ﷺ قول دی ﴿فَلَمۡ تَجِدُواْ مَآءً فَتَيَمَّمُواْ صَعِيدًا طَيِّبًا ﴾ نونه مومئ تاسي اوبه نواراده وکړئ تاسي مخ د ځمکې پاکي ته ﴿فَٱمۡسَحُواْ بِوُجُوهِكُمۡ وَأَيۡدِيكُمۡ ﴾ نومسحه وکړئ تاسی په مخونوخپلواوپه (دواړو) لاسونو خپلو (ترڅنگلوپوري) په دغي پاک خاوره .

﴿ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ عَفُوًّا غَفُورًا ﴾ (بيشکه الله دی ښه عفوه کونکي ښه مغفرت کونکي) يعنی دخپلوبندگانو لپاره سختی آسانه کوي چې په تکليف کښې ونه لويږي.

بلاغت:

دغه آيتونه دفصاحت اوبديع بيان لاندنی ښکلاوي لري:

١- داطناب صنعت دالله ﷻ پدی قول کښې چې فرمايي : (نصيباً مما اكتسبوا) او(نصيباً مما اكتسبن) اوهمدارنگه په(حكماً من أهله و حكماً من أهلها) کښې لکه چې په (و الجار ذي القربى و الجار الجنب) کښې هم راغلی دی.

کشاف وگورئ١ / ٢٩٢.

(١) قال الترمذی هذاحديث حسن صحيح .

۲ – استعاره پدې کلام کښې چې (مما اكتسبوا) په میراث کښې یې ددوی استحقاق (ورتیا) له اکتساب سره مشابه کړه او له هغه څخه یې د اکتسبوا لفظ مشتق کړچې ورته تبعیه استعاره ویل کیږي.

۳ – د کنایې صنعت په: (واهجروهن في المضاجع) چې د غه یې د جماع نه کولو څخه کنایه راوړي لکه چې په: (لامستم النساء) کښې ابن عباس ﷺ یې معنا جماع بللی او همدا رنګه پدې کلام کښې چې فرمایې: (او جاء أحد منكم من الغائط) چې دلته یې له بې اودسې څخه په غائط کنایه راوړې ده.

۴ – مبالغه چې په دې جمله کښې: (الرجال قوامون على النساء) څکه فعال د مبالغې صیغه او د جملې اسمیې غوره کول بیا د استمرار او دوام د افادې لپاره راغلی ده.

۵ – له معلوم څخه سوال کول د اورېدونکې د توبیخ لپاره دی لکه چې: (فكيف اذا جئنا) دلته توبیخ او تقریع ده.

۶ – د اشتقاق جناس لکه په دې کلماتو کښې: (حافظات... بما حفظ) او (بشهيد ...وشهيدا).

۷ – تعریض لکه په: (مختالا فخورا) کښې چې د تکبر ذم یې بیان کړ هغه چې د خلکو خوار ګڼل ځینې پیدا کیږي.

۸ – حذف په ډېرو ځایونو کښې لکه: (وبالوالدين احسانا) چې په بشپړه توګه داسې راځي: (احسنوا الی الوالدین احسانا).

فوائد او ګټې:

لومړی فائده: الله پاک پدی آیت کښې چې فرمایې (ان يريدا اصلاحا) له اصلاح نه پرته بل څه یاد نکړل او د تفریق چې د اصلاح عکس (ضد) دي یادونه یې هم ونکړه چې پدې کښی باریکه اشاره ده چې د غو منصفانو ته ښایې چې خپل ټول زیار د اصلاح لپاره په کار واچوي څکه په تفریق کښی کورونه ورانیږي اولادونه شړل کیږي او دا هغه څه دی چې باید کورنی ځینی وژغورل شی.

دوهمه فائده: امام بخاری رحمه الله له عبدالله ابن مسعود ﷺ څخه روایت کوی چې وایې ماته رسول الله ﷺ وفرمایل: ماته قرآن ولوله! ما ورته وویل: یارسول الله زه یې درته ولولم حال دا چې پرتا نازل شوی دی؟! راته ویل یې هوزه دا خوښوم چې له بل چا څخه قرآنکریم واورم!! نو ما سورت نسآء ورته تلاوت کړ تر څو دی آیت ته راورسیدم: (فكيف اذا جئنا من كل أمة بشهيد و جئنا بك على هؤلاء شهيدا) راته ویل یې (اوس بس ده) ما ورته وکتل چې له سترګو یې رپ رپ اوښکي توئیدلی.

دریمه فائده: الله پاک چې کوم آیت په دی دوو مبارکو نومونو پای ته ورساوو چې (ان الله كان عليا كبيرا) پدې کښې د میړونو تهدید مطلب دي چې ظلم ونکړي ګواکي چې آیت فرمایې: پدې مه مغروره کیږئ چې تاسو په دوی پورته لاس لرئ (بر لاسی یاست) او درجه مو لوړه ده څکه الله ډیر لوړ او له هغه چا څخه چې ظلم کوي کسات (غچ) اخیستونکي دی الله تر تاسو چې په میرمنو لوړیاست لوړ او زورور دی دهغه له عذابه وویریږئ!.

تنبیه:

قرآنی نظم او پیپلتوب هسی راغلی چې: (بما فضل الله بعضهم على بعض) او که چیري داسې ویل شوی وای چې (بتفضيلهم عليهن) نو به ښه لنډ او روان وو خو تعبیر په یاده شوی صیغه باندی

دیوستر حکمت له مخي راغلی دی چې هغه داڅرګندوي چې میرمن له سړی ښخه په منزلت دانسان دتن دیوغړي ده او همدآرنګه نارینه له میرمني ښخه، نوسړی لکه دتن سراو میرمن لکه نوربدن غوندی ځکه نونه ښایې چې دتن یوغړی دی په بل باندی تکبراولوبې وکړي معلومه خبره ده چې غوږسترګوته اړده لاسونه پښوته محتاج اوداد سړی لپاره عیب اوشرم نه ګڼل کیږي چې زړه یې ترمعده بهتروي اوسریې ترلاس غوره وی هرغړي خپل کارپه واراوترتیب سره کوي یوله بله بی نیازه اوبی پروانشی کیدلای همداددغه تعبیرچې وایې : (بعضهم على بعض) رازاواسراردی نوآیت داعجازاوایجازوروستی سرحدته رسیدلی دي.

دمیرمنو دتأدیب په هکله وینا:

ښایې چې ترټولوپلیته خبره چې داسلام دښمنان وربانـدی اسلامي شریعت ته پیغورورکوي داوي چې دوی ګمان کوي اسلام دمیرمني سپکاوي کړي کله چې یې میړه ته واک ورکړي هغه وډبوي دوی وایې څرنګه قرآن دښځي دډبول رواګڼي چې فرمایې: (واهجروهن في المضاجع واضربوهن) آیادغه دهغې سپکاوی اوپه کرامت (عزت) باندي تیری نه دی ؟!.

ځواب داچې هوحکیم اوعلیم ذات دهغې دډبولواذن ورکړي خوکله ؟ اودچالپاره ؟ بیشکه وهل به (غیر مبرح) وي لکه چې په حدیث شریف کښی راغلی چې دا دمیرمنی دسرغړوني اونشوزدمخنیوي لپاره یوه لاره ده کله چې دښځې ګذاره له میړه سره ورانیږي دمیړه په څټ کښې ورسپریږي دشیطان خبره مني له کورکهوله ښخه دوزخ جوړوي چې داټول څه دمنلووړاوزغملونه وي نوبه نارینه پداسی حال کښی څه کوي ؟ قرآن کریم پدی هکله ددرملني لار ښوونه کوي چې صبراوزغم خپل کړئ ، بیاورته وایئ چې پند، وعظ اونصیحت دي ورته وکړي بیایې دخوب دځای بیلتون اوهجران ورښیې که دی ټولولاروچاروګټه ونکړه نواورموربه بله لیاره خپلوئ چې هغه ډبول دی ترڅویې دمیرمنی کبراوغرور مات شی اوداګواکي ډیرکوچني زیان دی ترهغه چې طلاق ورکول شی اوکله چې ډیرضرراوتاوان له لږسره پرتله شی نولږبیاښکلی اواغلی ښکاري څومره ښه یې ویلي: ترړوندوالی چپ سترګی توب ښه دی (وعندذكر العمى يستحسن العور) نووهل ډبول دعلاج په ډول په ځینی حالاتوکښې چې هلته په نرم والی ، احسان اوښه والی دسمون تمه نشی کیداي یوه بله دعلاج اودرملني لاره ده . (فما لهؤلاء القوم لايكادون يفقهون حديثا).

الله تعالی فرمایي:

﴿ أَلَمْ تَرَ إِلَى ٱلَّذِينَ أُوتُوا۟ نَصِيبًا مِّنَ ٱلْكِتَٰبِ يَشْتَرُونَ ٱلضَّلَٰلَةَ وَيُرِيدُونَ أَن تَضِلُّوا۟ ٱلسَّبِيلَ ﴿٤٤﴾ وَٱللَّهُ أَعْلَمُ بِأَعْدَآئِكُمْ
وَكَفَىٰ بِٱللَّهِ وَلِيًّا وَكَفَىٰ بِٱللَّهِ نَصِيرًا ﴿٤٥﴾ مِّنَ ٱلَّذِينَ هَادُوا۟ يُحَرِّفُونَ ٱلْكَلِمَ عَن مَّوَاضِعِهِۦ وَيَقُولُونَ سَمِعْنَا وَعَصَيْنَا وَٱسْمَعْ
غَيْرَ مُسْمَعٍ وَرَٰعِنَا لَيًّۢا بِأَلْسِنَتِهِمْ وَطَعْنًا فِى ٱلدِّينِ ۚ وَلَوْ أَنَّهُمْ قَالُوا۟ سَمِعْنَا وَأَطَعْنَا وَٱسْمَعْ وَٱنظُرْنَا لَكَانَ خَيْرًا لَّهُمْ وَأَقْوَمَ
وَلَٰكِن لَّعَنَهُمُ ٱللَّهُ بِكُفْرِهِمْ فَلَا يُؤْمِنُونَ إِلَّا قَلِيلًا ﴿٤٦﴾ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ أُوتُوا۟ ٱلْكِتَٰبَ ءَامِنُوا۟ بِمَا نَزَّلْنَا مُصَدِّقًا لِّمَا مَعَكُم
مِّن قَبْلِ أَن نَّطْمِسَ وُجُوهًا فَنَرُدَّهَا عَلَىٰٓ أَدْبَارِهَآ أَوْ نَلْعَنَهُمْ كَمَا لَعَنَّآ أَصْحَٰبَ ٱلسَّبْتِ ۚ وَكَانَ أَمْرُ ٱللَّهِ مَفْعُولًا ﴿٤٧﴾ إِنَّ

ٱللَّهَ لَا يَغْفِرُ أَن يُشْرَكَ بِهِۦ وَيَغْفِرُ مَا دُونَ ذَٰلِكَ لِمَن يَشَآءُ ۚ وَمَن يُشْرِكْ بِٱللَّهِ فَقَدِ ٱفْتَرَىٰٓ إِثْمًا عَظِيمًا ﴿٤٨﴾ أَلَمْ تَرَ إِلَى
ٱلَّذِينَ يُزَكُّونَ أَنفُسَهُم ۚ بَلِ ٱللَّهُ يُزَكِّى مَن يَشَآءُ وَلَا يُظْلَمُونَ فَتِيلًا ﴿٤٩﴾ ٱنظُرْ كَيْفَ يَفْتَرُونَ عَلَى ٱللَّهِ ٱلْكَذِبَ ۖ وَكَفَىٰ بِهِۦٓ إِثْمًا
مُّبِينًا ﴿٥٠﴾ أَلَمْ تَرَ إِلَى ٱلَّذِينَ أُوتُوا۟ نَصِيبًا مِّنَ ٱلْكِتَٰبِ يُؤْمِنُونَ بِٱلْجِبْتِ وَٱلطَّٰغُوتِ وَيَقُولُونَ لِلَّذِينَ كَفَرُوا۟
هَٰٓؤُلَآءِ أَهْدَىٰ مِنَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ سَبِيلًا ﴿٥١﴾ أُو۟لَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ لَعَنَهُمُ ٱللَّهُ ۖ وَمَن يَلْعَنِ ٱللَّهُ فَلَن تَجِدَ لَهُۥ نَصِيرًا ﴿٥٢﴾ أَمْ لَهُمْ نَصِيبٌ
مِّنَ ٱلْمُلْكِ فَإِذًا لَّا يُؤْتُونَ ٱلنَّاسَ نَقِيرًا ﴿٥٣﴾ أَمْ يَحْسُدُونَ ٱلنَّاسَ عَلَىٰ مَآ ءَاتَىٰهُمُ ٱللَّهُ مِن فَضْلِهِۦ ۖ فَقَدْ ءَاتَيْنَآ ءَالَ إِبْرَٰهِيمَ
ٱلْكِتَٰبَ وَٱلْحِكْمَةَ وَءَاتَيْنَٰهُم مُّلْكًا عَظِيمًا ﴿٥٤﴾ فَمِنْهُم مَّنْ ءَامَنَ بِهِۦ وَمِنْهُم مَّن صَدَّ عَنْهُ ۚ وَكَفَىٰ بِجَهَنَّمَ سَعِيرًا ﴿٥٥﴾ إِنَّ
ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ بِـَٔايَٰتِنَا سَوْفَ نُصْلِيهِمْ نَارًا كُلَّمَا نَضِجَتْ جُلُودُهُم بَدَّلْنَٰهُمْ جُلُودًا غَيْرَهَا لِيَذُوقُوا۟ ٱلْعَذَابَ ۗ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ
عَزِيزًا حَكِيمًا ﴿٥٦﴾ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَعَمِلُوا۟ ٱلصَّٰلِحَٰتِ سَنُدْخِلُهُمْ جَنَّٰتٍ تَجْرِى مِن تَحْتِهَا ٱلْأَنْهَٰرُ خَٰلِدِينَ فِيهَآ أَبَدًا ۖ لَّهُمْ
فِيهَآ أَزْوَٰجٌ مُّطَهَّرَةٌ ۖ وَنُدْخِلُهُمْ ظِلًّا ظَلِيلًا ﴿٥٧﴾

دنزول سبب:

روایت کیږي چې یووخت ابوسفیان کعب بن الاشرف ته چې دیهودانو یوعالم ووویل چې ته کتاب لولی اوپوهیږي خومونږعوام خلک (امیان) یوته ووایه مونږپه حق لاره یواوکه محمد؟ هغه ورته وویل چې ستاسی دین راوښیه ! ابوسفیان ورته وویل مونږدحاجیانولپاره اوښان حلالووهغوئ ته اوبه ورکوودمیلمانه پالنه اوعزت کوودخپل رب کورآبادوواومحمدزمونږدین پرې ایښي دخپلوانوسره اړیکې شلولي یعنی صله رحم نه لري !! هغه ورته وویل ستاسی دین دهغه تردین ښه دی اوپه الله سوګندچې تاسوترده په سمه لاره روان یاست نوالله ﷻ دا آیت نازل کړ: ﴿ أَلَمْ تَرَ إِلَى ٱلَّذِينَ أُوتُوا۟ نَصِيبًا مِّنَ ٱلْكِتَٰبِ ... ﴾ [1] دآیت ترپایه پورې.

مناسبت اوتړاو:

څرنګه چې الله پاک دکافرانواحوال یوڅه څرګندکړچې دوی به په آخرت کښې وایې چې کاشکې مځکه ورباندې غوړیدلی وای اوله الله څخه به خبرنه پټوی وروسته یې وریسې دیهودانودکفراو انکاربیلګې اودالله ﷻ دآیتونودروغ ګڼل راوړل اووریسې یې دیوې ډلې باطلې عقیدې اوګروهې بیان کړي اوبیاهغه څه بیانوی چې دوی ته په دوزخ کښې تل ترتله عذاب تیاردی . الله ﷻ دی مونږځنې وژغورې.

لغتونه: (راعنا) مونږته وګوره دغه کلمه په عبرانی ژبه کښې دښکنځلو په معناده اویهودانوبه وویل چې (راعنا) اود(رعونت) قصدبه یې ځنی کاوو (اقوم) ډیرسم اوښه (نطمس)موږ به ورک

[1] اسباب النزول ص ۸۹. الطبری ۸ / ۴۲۸

کړو(طمس)محو کول او دشی اثرور کول ته وايي (فتيلاً) هغه نري تار چې دخرما دزړي په درز کښې وي (الجبت) هرهغه څه چې پرته له الله نه يې عبادت کاوه شي هغه که ډبره وي ، بشروي يا شيطان اوچاپيا ويلي چې همداد شيطان نوم دی (نقيراً) هغه ټکی چې دخرما دزړي په شا لګيدلی وي (نصليهم) مونږ به يې داخل کړو.

تفسير:

﴿ أَلَمْ تَرَ إِلَى ٱلَّذِينَ أُوتُوا۟ نَصِيبًا مِّنَ ٱلْكِتَٰبِ ﴾ (آيا نه دی کتلی تا (اي محمده) (حال) دهغو کسانو چې ورکړی شوی دی دوی ته برخه دکتاب ؟) استفهام دتعجيب لپاره دی چې ددوی له بده حاله او دهغوئ له موالات څخه تحذير پکښې دی يعنی ای محمده ته نه ګوري هغو کسانو ته چې څه ونډه له کتاب څخه ورکول شوي چې هغوئ ديهودانو احبار او علما دي ﴿ يَشْتَرُونَ ٱلضَّلَٰلَةَ ﴾ پيري (اخلي) دوی ضلالت (په عوض دهدايت)يعنی دوی تر هدايت ګمراهي او تر ايمان کفر غوره کوی ﴿ وَيُرِيدُونَ أَن تَضِلُّوا۟ ٱلسَّبِيلَ ﴾ (غواړي) اراده لري دوی ددې چې ورکه کړي تاسي (هم) لاره د(حق) (چې ددوی په ډول شی) ﴿ وَٱللَّهُ أَعْلَمُ بِأَعْدَآئِكُمْ ﴾ (او الله ښه عالم دی په دښمنانو ستاسو) يعنې الله دهمدي يهودانو ګمراهانو په دښمني ښه عالم دي تر تاسی نو تري په څنګ شئ ﴿ وَكَفَىٰ بِٱللَّهِ وَلِيًّا وَكَفَىٰ بِٱللَّهِ نَصِيرًا ﴾ او کافی دي الله ولی (دوست حمايت کونکي) ستاسي) او کافی دي الله مددګار (ستاسی) نو په الله باندی ويسا(تکيه) کوئ او يوازي په همده ﷻ باندی باور ولرئ چې هغه ددوی فريب له تاسو څخه منع کوي بيا الله ددوی لعينانو څه قبائح راوړي چې : ﴿ مِّنَ ٱلَّذِينَ هَادُوا۟ يُحَرِّفُونَ ٱلْكَلِمَ عَن مَّوَاضِعِهِۦ ﴾ (ځينی له هغو کسانو چې يهودان شوي دي اړوي دوی خبري (دشريعت او محمدي اوصاف) له ځايوددي (خبرو) څخه يعنی ددغو يهودانو يوه ډله داسی کسان دي چې په تورات کښی دالله ﷻ کلام بدلوي او دالله ﷻ له مراد څخه پرته يې تفسير کوي دوی په لوي لاس (قصدا) درسول الله ﷺ اوصاف او درجم احکام او نور تغير کړي دي.

﴿ وَيَقُولُونَ سَمِعْنَا وَعَصَيْنَا ﴾ (او وايي (دغه يهودان) واوريدله مونږ(ويناستا) او ونه مانو مونږ(حکم ستا) يعنی کله چې يې ته ايمان ته دعوت کړي وايې چې ستا خبره مو واوريده او ستا حکم مو ونه مانه مجاهد وايي چې معنايې داده : ای محمده څه چې دي وويل مونږ واوريدل خو منويې نه ! او دغه په کفر او عناد کښې خوراسخت دريزدی ﴿ وَٱسْمَعْ غَيْرَ مُسْمَعٍ ﴾ (او وايې) يهودان واوره (ته) پداسی حال کښی چې نه يې اورول شوي) يعنی واوره هغه څه چې مونږ يې وايو ،نه دی واورولی شی ته ! دغه خبره دوه مخه لري دخير او شر دواړه احتمالات پکښې شته اصلا خو دخير او دعا په بڼه ده.چې بده خبره دی وانه وري لکن پليتو يهودانو به رسول الله ﷺ ته دښيرا کولو لپاره ويل يعنی الله دی مه اوروه او دغه ګواکي په مرګ او يا کوڼ والی باندی هغه ته ښيرا کول وو. ﴿ وَرَٰعِنَا ﴾ (او وايې يهودان لفظ د(راعنا) يعنی دوی دخپل خطاب په ترڅ کښې (دراعنا) کلمه وايې چې دښکنځلو په معنا او حماقت ته وايې نو دوی به دغه کلمه په رسول الله ﷺ باندی دملنډي وهلو په نيت کاروله داسی خبره به يې کوله چې دوه مخه به يې

درولودل دوی به د سپکاوي اوبښکنځلو نیت کاووا وپه ظاهره سره به یې عزت اواکرام څرګندول څکه الله ﷻ فرمایي: ﴿ لَيًّۢا بِأَلْسِنَتِهِمْ وَطَعْنًا فِى ٱلدِّينِ ﴾ (په تاوولو د ژبو خپلو او په عیب ویلو سره په دین کښی ،یعنی دوی به له حق څخه باطل ته اړوله اودا سلام بدی به یې ښودله ابن عطیه وایې چې داتراوسه لاهم په یهودانوکښې شته خپلو اولادونوته داسې کلماتې وریادوي چې په ظاهره عزت وي خودوی د تحقیر اوسپکاوي اراده کوي (۱)﴿ وَلَوْ أَنَّهُمْ قَالُوا۟ سَمِعْنَا وَأَطَعْنَا ﴾ اوکه بیشکه دوی ویلی وایې واوریده مونږ (ویناستا) اوومانو مونږ (حکم ستا په بدل د (عصینا) کښې ﴿ وَٱسْمَعْ وَٱنظُرْنَا ﴾ (اوکه دوی ویلی واي) واوره (بی له غیر مسمع) اونظر لره پرمونږ (په بدل (دراعنا) کښې یعنې که دغو یهودانو رسول الله ﷺ ته دغه پسته خبره دهغې شډلي خبرې په بدل کښې کړی وای (لَكَانَ خَيْرًا لَّهُمْ وَأَقْوَمَ ﴾ نوخامخا به ووخیر دوی ته اوډیره سمه (داوینا) په نزد د الله ﷻ ﴿ وَلَٰكِن لَّعَنَهُمُ ٱللَّهُ بِكُفْرِهِمْ فَلَا يُؤْمِنُونَ إِلَّا قَلِيلًا ﴾ (اولیکن لیری کړی دی الله دوی (له خپله رحمته) په سبب د کفرد دوی پس نه راوړي ایمان (له دغو یهودانو) مګرلږ) یعنی دوی الله ﷻ له هدایت اورحمت څخه لیري کړی دا دهغوئ د پخوانی کفرپه سبب نوایمان نه راوړي مګرلږ ایمان زمخشري وایې: یعنی کمزوری ایمان چې وربا ندی باورنشي کیدای (۲) هغه چې دوی په ځینو کتابو اوځینو رسولانو ایمان راوړي وروسته الله پاک دوی ته د حواسو په له منځه ورلو تهدید ورکړي دي فرمایې: ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ أُوتُوا۟ ٱلْكِتَٰبَ ءَامِنُوا۟ بِمَا نَزَّلْنَا ﴾ (اي هغو کسانو چې ورکړل شوي دي دوی ته کتاب (ای کتابیانو) ایمان راوړئ تاسی په هغه قرآن چې نازل کړي دی مونږ) یعنی ای دیهودانو ټولي په هغه قرآن چې مونږ په محمد ﷺ نازل کړی دی ایمان راوړئ ﴿ مُصَدِّقًا لِّمَا مَعَكُم) حال داچې تصدیق کونکي دی دهغه کتاب (تورات) چې تاسی سره دی ﴿ مِّن قَبْلِ أَن نَّطْمِسَ وُجُوهًا فَنَرُدَّهَا عَلَىٰٓ أَدْبَارِهَآ ﴾ (پخواله دی چې هوار کړو مونږ ډیرمخونه نووګرزوودا (هوار مخونه) په شاګانو د دوی) یعنی هوارکړو حواس چې پوزه سترګي وروځې دی آن تردي چې لکه شاګانې داسی وګرزي او دغه دانسان د محاسنو خوراستره تشویه اوبدرنګي دی دا دابن عباس ﷺ تفسیردی (۳) (أَوْ نَلْعَنَهُمْ كَمَا لَعَنَّآ أَصْحَٰبَ ٱلسَّبْتِ) (یاپخواله دی چې لعنت وکړو پردوی لکه چې لعنت کړي وومونږ پرښنبتنانو دورځې دشنبې) یعنی چې مسخ یې کړولکه چې (اصحاب السبت) مومسخ کړي ووهغوئ چې دشنبې په ورځ یې تجاوز کاوو الله ﷻ هغوئ په بیزوګانو اوخنزیرانو مسخ کړل (وَكَانَ أَمْرُ ٱللَّهِ مَفْعُولًا) اودی امر(حکم) دالله کیدونکي (خامخا) (إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَغْفِرُ أَن يُشْرَكَ بِهِۦ وَيَغْفِرُ مَا دُونَ ذَٰلِكَ لِمَن يَشَآءُ) بیشکه چې الله نه بښي

---

(۱)البحر المحیط ۳ / ۲۷۴

(۲) الکشاف ۴۰۱/۱

(۳) دغه دطبری هم غوره ده وایې ترپخواله دی چي دسترګو اثاریې ورک شی هواري شی اولکه شاګانې داسی وګرزي نوسترګي به یې په ملا کښې وي اودشا په خوا به درومي.

داچې شریک ونیولی شی له (الله سره) اوبښی (هغه ګناه) چې ښکته وی له شرکه هغه چاته چې اراده وفرمايې (دمغفرت يې) يعنی الله شرک نه ښښي اوله دي پرته نورګناهونه چې دچادمغفرت اراده وکړي وريښي يې (وَمَن يُشْرِكْ بِٱللَّهِ فَقَدِ ٱفْتَرَىٰٓ إِثْمًا عَظِيمًا) (اوهرهغه څوک چې شریک ونیسی له الله سره نوپه تحقيق ويې تړل (په الله) دروغ لوي اوويې کړه ګناه ډيره لويه) طبری وايې: چې له آيت شريف څخه داسی څرګنديږي چې دکبيره ګنهګاربښنه دالله په اراده پوري تړلی که اراده يې وه ښښي يې اوکه اراده يې شوه عذاب به ورکوي ترڅوچې کبيره ګناه يې شرک ته نه وی رسيدلی [1] بياالله پاک ديهودانوهغه دځان سپيناوي (تزکيه) بيانوي سره له دی چې دکتاب يې تحريف کاوواوکفريې غوره کړي ووالله فرمايې: (أَلَمْ تَرَ إِلَى ٱلَّذِينَ يُزَكُّونَ أَنفُسَهُم) (آياندی کتلی تا(نه يې خبرله حاله د) هغوکسانو چې پاکوي دوی ځانونه خپل) يعنی آياتاته دهغوکسانوخبرندی رسيدلی چې دوی دخپلوځانونوصفت کوي اودتقوی اوطاعت دعوی لری؛ استفهام دتعجب لپاره دی چې ددوی شان دتعجب وړدی قتاده وايې چې دغه دالله دښمنان يهودان دي چې وايې: (نحن أبناء الله و أحباؤه) اوويل به يې: (لاذنوب لنا) [2]،(بَلِ ٱللَّهُ يُزَكِّي مَن يَشَآءُ) (اوپه واقع کښې داسی نه دی) بلکه (خاص) الله پاکوي هغه څوک چې اراده وفرمايې د(پاکي يې) الله ﷻ داموروپه حقائقوښه عالم دی پټ اسراراورازونه ورته معلوم دي دهغه چاتزکيه اوپاکي کوي چې رضايې شی اوهغوئ ابراراواطهاردی نه يهودان اشرار(وَلَا يُظْلَمُونَ فَتِيلًا) اوظلم به ونکړي شی پردوی په اندازه ديونري تار(هغه چې دخرمادزنی په درزکښې وي اوداګواکي دلږوالی لپاره متل دي لکه چې ويلی شی: ﴿إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَظْلِمُ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ﴾ [النسآء: ۴۰]. ﴿ٱنظُرْ كَيْفَ يَفْتَرُونَ عَلَى ٱللَّهِ ٱلْكَذِبَ وَكَفَىٰ بِهِۦٓ إِثْمًا مُّبِينًا﴾ (وګوره (اي محمده) چې څرنګه تړي ذوی په الله باندی دروغ) داد دوی له افتراء او دروغوڅخه تعجب دی چې دوی څرنګه په الله دروغ تړي اوځان سپينوي اودغه ادعاکوي چې دوی دالله زامن اودوستان دي؟ ﴿أَلَمْ تَرَ إِلَى ٱلَّذِينَ أُوتُوا۟ نَصِيبًا مِّنَ ٱلْكِتَٰبِ يُؤْمِنُونَ بِٱلْجِبْتِ وَٱلطَّٰغُوتِ﴾ آيانه دي کتلي تاهغو کسانوته چې ورکړی شوی دی دوی ته برخه له کتاب څخه ايمان راوړي دوی په بت اوپه شيطان) استفهام دتعجب لپاره دی اومراددلته هم يهودان دي چې دتورات يوڅه برخه هم ورکړل شوي خوله دي سره سره په بتانو،اوثانوباندی ايمان لري ﴿وَيَقُولُونَ لِلَّذِينَ كَفَرُوا۟ هَٰٓؤُلَآءِ أَهْدَىٰ مِنَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ سَبِيلًا﴾ اووايې دوی په حق دهغوکسانوکښې چې کافران شوي دی دا(کفار) ښه لاره موندونکي دي له هغوکسانوڅخه چې مؤمنان دی له جهته دلاري) يعنی يهودان دقريشوکافرانوته وايې چې تاسوترمحمداودهغه ترملګروښه لاره موندونکي ياست ابن کثيروايې چې: دوی کفارترمسلمانانوبهترګڼي ځکه دوی جاهلان اودالله په کتاب هغه چې ددوی په لاس کښې دي کافران

[1] الطبری ۸/ ۴۵۰.
[2] الطبری ۸/ ۴۵۲

دی (١) الله تعالی له دوی څخه داخبارپه توګه فرمایي: ﴿ أُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ لَعَنَهُمُ ٱللَّهُۖ وَمَن يَلۡعَنِ ٱللَّهُ فَلَن تَجِدَ لَهُۥ نَصِيرًا ﴾ (داحکم کونکي په غوره والی دکفارو) هغه کسان دي چې لعنت کړی دی (پردوی باندی) الله اوهرهغه څوک چې لعنت (پری) وکړي الله نوله سره نه مومي (ته) ده لره کوم مددګار (دعذاب دفع کونکي) یعنی څوک چې دالله له رحمت څخه وشړل شي نوبیابه څوک دوی دالله له عذاب څخه وژغوری؟ اودلعنت اثاربه ځینی منع کړي هغه چې دردناک عذاب دي ﴿ أَمۡ لَهُمۡ نَصِيبٞ مِّنَ ٱلۡمُلۡكِ ﴾ آیا شته یهودانوته څه برخه له سلطنته؟ داخبره دانکارپه توګه ده یعنی نشته دوی لره له پاچهي څخه هیڅ شی ﴿ فَإِذٗا لَّا يُؤۡتُونَ ٱلنَّاسَ نَقِيرًا ﴾ (اوکه شي دوی لره برخه) نوپه دغه وخت کښې به ورنکړي دوی خلګوته (په اندازه) دنقیر) ځکه دوی خورابخیلان دي (نقیر) هم لکه د(فتیل) غوندي په لړوالی کښې مس دي اوداهغه ټکي دي چې دخرمادزړي په شالګیدلی وي بیاوروسته ددوی تربخل لاهم بدصفت داسی بیانیږی ﴿ أَمۡ يَحۡسُدُونَ ٱلنَّاسَ عَلَىٰ مَآ ءَاتَىٰهُمُ ٱللَّهُ مِن فَضۡلِهِۦۖ ﴾ (بلکه آیا حسدکوي دغه (یهودان) خلګوسره (له محمده اواصحابوسره یې) پرهغه شي چې ورکړي دی الله هغوئ ته له فضله خپله) ابن عباس ﷺ وایي چې: دوی له نبی ﷺ سره په نبوت اوله اصحابوسره یې په ایمان راوړلوکینه اورخه درلوده معناداچې آیادوی له نبی اواصحابومؤمنانو سره په نبوت هغه چې الله په محمد ﷺ باندي فضل کړي اوعربان یې ورباندی مشرف کړي کینه کوئ اوله مؤمنانوسره پدي حسدپالئ؟ چې الله هغوئ ته زیات عزت اوتمکین ورکړي دی ﴿ فَقَدۡ ءَاتَيۡنَآ ءَالَ إِبۡرَٰهِيمَ ٱلۡكِتَٰبَ وَٱلۡحِكۡمَةَ وَءَاتَيۡنَٰهُم مُّلۡكًا عَظِيمٗا ﴾ نوپه تحقیق سره ورکړي دی مونږ اولادې دابراهیم ته کتاب (تورات) زبور، انجیل) اوحکمت اوورکړي دی مونږدوی ته لوي سلطنت) یعنی مونږستاسواسلافوته دابراهیم ﷺ له اولادې څخه نبوت لورولی پرهغوئ موکتابونه نازل کړی هغوئ ته موسترسلطنت ورکړي لکه داؤد ﷺ اوسلیمان ﷺ چې له نبوت سره سره پاچهي یې هم درلوده نوولی تاسی یوازي له محمد ﷺ سره حسدکوئ پرته له نوروچې الله په هغوئ هم نعمت کړي وو؟ اومقصددلته په یهودانوباندی درسول الله سره په حسدکولورددي چې دوی ته خوهغه دابراهیم ﷺ په اولادباندي دالله فضل معلوم وو ﴿ فَمِنۡهُم مَّنۡ ءَامَنَ بِهِۦ وَمِنۡهُم مَّن صَدَّ عَنۡهُۚ ﴾ نوځینی له دغویهودانو) هغه دي چې ایمان یې راوړی دی په محمد اوځینی له دغو (یهودانو) هغه دي چې څنګ یې کړی دی له محمدڅخه) یعنی ځینوچې په رسول الله ﷺ ایمان راوړی هغوئ دلږکیوڅخه اوچاچې څنګ کړی اوایمان یې ندی راوړي ډیردی لکه دالله ﷺ داقول چې: فَمِنۡهُم مُّهۡتَدٖۖ وَكَثِيرٞ مِّنۡهُمۡ فَٰسِقُونَ ﴿٢٦﴾ الحدید: ٢٦ ﴿ وَكَفَىٰ بِجَهَنَّمَ سَعِيرًا ﴾ اوبس دی دوزخ (دکفارو دعذاب دپاره) لمبې وهونکي) یعنی ددوی لپاره ددوی دکفراو عناد په وجه څوبښ وهونکي دوزخ کافی دی وروسته بیا الله دهغه سخت عذاب دوعیدچې کافرانو فاجرانو ته یې تیارکړي داسي خبرورکوي ﴿ إِنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ بِـَٔايَٰتِنَا سَوۡفَ

(١) مختصرابن کثیر١/ ٤٠٣

﴿ نُصْلِيهِمْ نَارًا ﴾ بیشکه هغه کسان چې کافران شوی دی په آیتونوزمونږ ژربه ننی باسومونږ دوی اورته (چې پکښې سوځلی شی) دهغوئ مخونه اوڅرمنې کبابوي ﴿ كُلَّمَا نَضِجَتْ جُلُودُهُم بَدَّلْنَٰهُمْ جُلُودًا غَيْرَهَا لِيَذُوقُوا۟ ٱلْعَذَابَ ﴾ هرکله چې پاخه شی (وسوځي) پوستکي ددوی (په اورکښې نو) بدلوومونږدوی ته پوستکي غیرله هغو، لپاره ددی چې وڅکي دوی (تل ترتله نوي نوی) عذاب حسن رحمه الله وایې چې دوی به اورپه ورځ کښې اویازره ځله پخوي کله یې اوروسوځي اووخوري ورته به وویل شی چې بیرته راوګرزئ اوبیابه ورته راوګرزي لکه پخواغوندی ؛ ربیع وایې دکفاروپنډ پوستکي به څلویښت ذراع وي ګیډه به یې دومره غټه وي که غروررواچوي پکښې به ځائیږي کله چې اوریې څرمنې وسوځوي نوری به وربانډی خورې شی په حدیث شریف کښی راځي چې دوزخیان دومره غټ شي چې دغوږوله نرميوترغاړي پوري به یې داووسووکلونولاروي اودڅرمنې پنډوالی به یې اویاذراع وي دژامې غاښ به یې دأحددغره په شان وی (١) ﴿ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ عَزِيزًا حَكِيمًا ﴾ بیشکه چې الله دی ښه غالب قوی لوي حکمت والا) یعنی هغه غالب اوقوی دی چې هیڅ څیزیې مانع نشی کیدای اودحکمت خاونددی عذاب هیچاته له عدل نه پرته په ظلم نه ورکوی ﴿ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَعَمِلُوا۟ ٱلصَّٰلِحَٰتِ سَنُدْخِلُهُمْ جَنَّٰتٍ تَجْرِى مِن تَحْتِهَا ٱلْأَنْهَٰرُ خَٰلِدِينَ فِيهَآ أَبَدًا ﴾ (داهغه کسان چې ایمان یې راوړي دی اوکړي یې دی ښه عملونه ژربه داخل کړودوی په هغوجنتونوکښې چې بهیږي له لاندی د(مانیواوونو) ددوی ویالې همیشه به وی دوی په دغو(جنتونو) کښې تل ترتله) دغه دنیکمرغه کسانودراتلونکي ښخه اخباردي چې ژربه دوی ننی باسوهغو جنتونوته چې هلته ویالې بهیږي هرچېرې چې وغواړي هلته به اوسی تل ترتله به ژوندی اومرینه به نلري ﴿ لَّهُمْ فِيهَآ أَزْوَٰجٌ مُّطَهَّرَةٌ ﴾ وي به دوی ته په دی جنتونو کښی ښځې پاکی کړی شوی (له تولو ناپاکیوڅخه) مجاهدوایې چې پاکي به وی له ټولوناپاکیولکه بولی ، حیض ، نارې دپوزې ګرنګ ، منی اوذوذات راوړل ﴿ وَنُدْخِلُهُمْ ظِلًّا ظَلِيلًا ﴾ (اومونږبه ننی باسودوی په ګڼو سیوریو کښې) یعنی داسی سیوری به وی چې لمراوتودوخه به وربانډی اغیزنه کوي حسن وایې چې په ظلیل باندی یې وستایل ځکه هغه څه چې ددنیاسیوري ته ورننوزی دجنت سیوري ته به نه ورننوزي لکه ګرم بادونه اوتوده هواپه حدیث شریف کښې راځي چې په جنت کښې داسی ونه شته چې (دآس) سپوربه یې په سیوري کښې سل کاله تګ وکړي لابه یې هم بشپړنه کړي (٢)

بلاغت:

پدې آیتونوکښې چې دفصاحت اوبلاغت کومې ښکلاوې شته په لاندې ډول دی.

---

(١) اخرجه احمد فی المسند.

(٢) اخرجه الشیخان.

۱ – مرسل مجاز لکه پدی کلماتو کښې (أم يحسدون الناس) مراد دلته محمد ﷺ دی ځکه نو تسمیه دخاص په اسم دعام سره وشوه چې رسول الله ﷺ هغه سپیڅلی ذات دی چې د ړومبنیو او وروستنیو کمالات ورکول شوی دی.

۲ – استعاره پدی قول کښې (يشترون الضلالة) ځکه ګمراهی خو نه پیرل کیږي او (ليذوقوا العذاب) ځکه خوند خو په خوله اخیستل کیږي او دلته د درد لپاره استعاره راوړل شوه هغه چې انسان ته رسیږي او همدارنګه په (ليا بألسنتهم) کښې ځکه (اللي) په اصل کښې د رسۍ تاوولو ته وایي او دلته د هغې خبرې لپاره راوړل شوی چې ظاهريې مرادنه وی اوداسی په (نطمس وجوها) کښې چې دمخونو له مسخ کولو څخه عبارت دی او له هغې لیکلی پاڼي سره تشبیه شوي چې توري او لیک یې وران شي.

۳ – استفهام د تعجب لپاره لکه پدی جملو کښې (الم تر) دوه ځلی.

۴ – تعجب د امر په لفظ سره لکه (انظر كيف يفترون) او د خطاب رنګیني لکه (يفترون) چې د ماضي زماني په ځای راغلی ترڅو چې په دوام او استمرار دلالت وکړي.

۵ – هغه استفهام چې توبیخ او تقریع یې مقصدوی لکه د (أم لهم نصيب) او (أم يحسدون) په کلماتو کښې.

۶ – تعریض لکه پدی کلام کښې چې: (فإذا لا يأتون الناس نقيرا) دا ددوی د سخت بخل لپاره تعریض دی.

۷ – د طباق صنعت لکه په: (وجوه...ادبار) او (امنوا...وكفروا) کښې.

۸ – د اشتقاق جناس لکه (نلعنهم...ولعنا) او (يؤتون...و أتاهم) او په (ظلا ظليلا) کښې.

۹ – اطناب په څو ځایونو کښې او همدارنګه حذف په څو ځایونو کښې.

الله تعالی فرمايي:

﴿ إِنَّ ٱللَّهَ يَأْمُرُكُمْ أَن تُؤَدُّوا۟ ٱلْأَمَٰنَٰتِ إِلَىٰٓ أَهْلِهَا وَإِذَا حَكَمْتُم بَيْنَ ٱلنَّاسِ أَن تَحْكُمُوا۟ بِٱلْعَدْلِ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ نِعِمَّا يَعِظُكُم بِهِۦٓ ۗ إِنَّ
ٱللَّهَ كَانَ سَمِيعًۢا بَصِيرًا ﴿٥٨﴾ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓا۟ أَطِيعُوا۟ ٱللَّهَ وَأَطِيعُوا۟ ٱلرَّسُولَ وَأُو۟لِى ٱلْأَمْرِ مِنكُمْ ۖ فَإِن تَنَٰزَعْتُمْ فِى شَىْءٍ فَرُدُّوهُ إِلَى ٱللَّهِ
وَٱلرَّسُولِ إِن كُنتُمْ تُؤْمِنُونَ بِٱللَّهِ وَٱلْيَوْمِ ٱلْءَاخِرِ ۚ ذَٰلِكَ خَيْرٌ وَأَحْسَنُ تَأْوِيلًا ﴿٥٩﴾ أَلَمْ تَرَ إِلَى ٱلَّذِينَ يَزْعُمُونَ أَنَّهُمْ ءَامَنُوا۟
بِمَآ أُنزِلَ إِلَيْكَ وَمَآ أُنزِلَ مِن قَبْلِكَ يُرِيدُونَ أَن يَتَحَاكَمُوٓا۟ إِلَى ٱلطَّٰغُوتِ وَقَدْ أُمِرُوٓا۟ أَن يَكْفُرُوا۟ بِهِۦ وَيُرِيدُ
ٱلشَّيْطَٰنُ أَن يُضِلَّهُمْ ضَلَٰلًۢا بَعِيدًا ﴿٦٠﴾ وَإِذَا قِيلَ لَهُمْ تَعَالَوْا۟ إِلَىٰ مَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ وَإِلَى ٱلرَّسُولِ رَأَيْتَ ٱلْمُنَٰفِقِينَ
يَصُدُّونَ عَنكَ صُدُودًا ﴿٦١﴾ فَكَيْفَ إِذَآ أَصَٰبَتْهُم مُّصِيبَةٌۢ بِمَا قَدَّمَتْ أَيْدِيهِمْ ثُمَّ جَآءُوكَ يَحْلِفُونَ
بِٱللَّهِ إِنْ أَرَدْنَآ إِلَّآ إِحْسَٰنًا وَتَوْفِيقًا ﴿٦٢﴾ أُو۟لَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ يَعْلَمُ ٱللَّهُ مَا فِى قُلُوبِهِمْ فَأَعْرِضْ عَنْهُمْ وَعِظْهُمْ
وَقُل لَّهُمْ فِىٓ أَنفُسِهِمْ قَوْلًۢا بَلِيغًا ﴿٦٣﴾ وَمَآ أَرْسَلْنَا مِن رَّسُولٍ إِلَّا لِيُطَاعَ بِإِذْنِ ٱللَّهِ ۚ وَلَوْ أَنَّهُمْ إِذ
ظَّلَمُوٓا۟ أَنفُسَهُمْ جَآءُوكَ فَٱسْتَغْفَرُوا۟ ٱللَّهَ وَٱسْتَغْفَرَ لَهُمُ ٱلرَّسُولُ لَوَجَدُوا۟ ٱللَّهَ تَوَّابًا رَّحِيمًا ﴿٦٤﴾ فَلَا

وَرَبِّكَ لَا يُؤْمِنُونَ حَتَّىٰ يُحَكِّمُوكَ فِيمَا شَجَرَ بَيْنَهُمْ ثُمَّ لَا يَجِدُوا فِي أَنفُسِهِمْ حَرَجًا مِّمَّا قَضَيْتَ
وَيُسَلِّمُوا تَسْلِيمًا ﴿٦٥﴾ وَلَوْ أَنَّا كَتَبْنَا عَلَيْهِمْ أَنِ اقْتُلُوا أَنفُسَكُمْ أَوِ اخْرُجُوا مِن دِيَارِكُم مَّا فَعَلُوهُ إِلَّا قَلِيلٌ مِّنْهُمْ
وَلَوْ أَنَّهُمْ فَعَلُوا مَا يُوعَظُونَ بِهِ لَكَانَ خَيْرًا لَّهُمْ وَأَشَدَّ تَثْبِيتًا ﴿٦٦﴾ وَإِذًا لَّآتَيْنَاهُم مِّن لَّدُنَّا أَجْرًا عَظِيمًا ﴿٦٧﴾
وَلَهَدَيْنَاهُمْ صِرَاطًا مُّسْتَقِيمًا ﴿٦٨﴾ وَمَن يُطِعِ اللَّهَ وَالرَّسُولَ فَأُولَٰئِكَ مَعَ الَّذِينَ أَنْعَمَ اللَّهُ عَلَيْهِم مِّنَ النَّبِيِّينَ
وَالصِّدِّيقِينَ وَالشُّهَدَاءِ وَالصَّالِحِينَ ۚ وَحَسُنَ أُولَٰئِكَ رَفِيقًا ﴿٦٩﴾ ذَٰلِكَ الْفَضْلُ مِنَ اللَّهِ ۚ وَكَفَىٰ بِاللَّهِ عَلِيمًا
﴿٧٠﴾

مناسبت او تړاو:

کله چې الله پاک د يهودانو حسد، عناد او انکار حال بيان کړ او هغه څه يې وښودل چې ددوی لپاره به په آخرت کښی عذاب او سزاور کول کيږی وروسته يې مسلمانانو ته دنيکمرغي دلارې ښوونه وکړه چې دالله اورسول اطاعت اوداماناتوسپارل، دخلکوترمينځ په عدل حکم اوفيصله کول دی وروسته دمنافقينو صفتونه راوړل چې ښايې مسلمانان ددوی څخه وويريږي او ځانونه ځينی ليری کړي.

دنزول سبب:

أ – روايت کيږي چې کله رسول الله ﷺ دمکې دفتح په ورځ مکې مکرمې ته داخل شونو (عثمان بن طلحة) دکعبې شريفې دروازه وتړله اوبام ته ... وخوت اونه يې غوښتل رسول الله ﷺ ته يې مفتاح (کلي) ورکړی ويل يې که زه پدې پوهيدلای چې دی دالله استازی اورسول دي (کلی) مفتاح می نه ځينی منع کوله نوحضرت علی کرم الله وجهه دهغه لاس ورتاوکړاو په زوره يې کلی (مفتاح) ځينی واخيستله دروازه يې پرانستله اورسول الله ﷺ وردننه شو دوه رکعته لمونځ يې وکړ اړل کله چې بهرراووت حضرت علی ته يې وفرمايل چې بيرته چابی (کلی) (عثمان بن طلحة) ته وسپاری او عذر ورته ووايې عثمان ورته وويل: زه دی وځورولم په زوره دی راڅخه مفتاح (کلی) واخيسته وروسته بيا نرمي اومهربانی کوي؟! نو بيا يې ورته وويل الله ستا په باب کښی قرآن نازل کړ (إِنَّ اللَّهَ يَأْمُرُكُمْ أَن تُؤَدُّوا الْأَمَانَاتِ إِلَىٰ أَهْلِهَا) النساء: ٥٨ او آيت شريف يې ورته ولوست عثمان مسلمان شو وروسته رسول الله ﷺ داسی وفرمايل ای دبنی طلحة زامنوو تل ترتله اخلئ دادکعبې مفتاح هيڅوک به يې درڅخه نه اخلی مګرچې ظالم وی([1])

ب: له ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت شوی چې دمنافقينو يوتن چې (بشر) نوميده له يوبل يهودي سره يې دعوه درلوده يهودي ورته وويل فيصله به په محمد کوومنافق غوښتل چې دفيصلې لپاره (کعب بن الاشرف) ته ولاړشی او هغه داسی څوک دي چې الله ﷺ طاغوت بللی دی خويهودي هيڅکله نه منله چې له رسول الله ﷺ پرته په بل چافيصله وکړی نو هغه ووچې رسول الله ﷺ ديهودي په حق کښی فيصله وکړه اوچې رسول الله ﷺ له مجلس نه رابهرشول منافق نه منله اوويل يې راشه چې په عمر بن الخطاب فيصله

([1]) الفخرالرازی ١٠/١٣٨ اسباب النزول ص ٩٠

وکړودواړه حضرت عمرﷺ ته راغلل یهودی ورته وویل : زما اوددي سړی ترمینځ دعوی وه او محمدته دفیصلې لپاره ورغلو هغه زما په باب دحق فیصله صادره کړه خودی دهغه فیصله نه مني اوداسی فکرکوی چې ته فیصله وکړي عمرﷺ منافق ته وویل چې دغسی ده ؟ هغه وویل هو نوعمرﷺ ورته وویل پخپل ځای ودریږئ ترڅوزه راووزم اوعمرتنوت توره یې راواخیسته راووت اومنافق یې ورباندی وواهو چې مړشو ورته وویل یې زه بیا دهغه چاپه باب چې درسول الله ﷺ فیصله نه مني داسی فیصله کوم نو داآیت نازل شو: (أَلَمۡ تَرَ إِلَى ٱلَّذِينَ يَزۡعُمُونَ أَنَّهُمۡ ءَامَنُواْ بِمَآ أُنزِلَ إِلَيۡكَ) ([1])

لغتونه:

(نعما) اصل یې (نعم ما) وویعنی ښه دی هغه څه چې الله تاسوته درباندی پند درکوی (تاویلا) انجام اوعاقبت (یزعمون) دوی ګمان کوی زعم ګمانې عقیدې ته وایې لیث وایې چې عربان وایې (زعم فلان) کله چې شکمن وی آیادابه رښتیاوي که دروغ؟ ابن درید وایې چې زعم ډیرځله دباطل په هکله راځي لکه چې دوی وایې : (زعموامطیة الکذب)ګومان د دروغو سورلۍ ده (توفیقا) موافقت اوالفت ته وایې موافق دمخالف ضددي (بلیغا) مؤثراغیزلرونکي (شجر) ګډوډ اومختلف ونې ته څکه شجروایې چې ښاخونه یې سره اوډلی اوځینې په ځینونوروکښې ګډوډوي (حرجا) تنګسیااوشک ، واحدي وایې چې حرج هغې ګڼې ونې ته وایې چې په سختې ورته رسیدل (نفوذ) کیږي.

تفسیر:

﴿ إِنَّ ٱللَّهَ يَأۡمُرُكُمۡ أَن تُؤَدُّواْ ٱلۡأَمَٰنَٰتِ إِلَىٰٓ أَهۡلِهَا ﴾ (بیشکه الله امرکوي پرتاسی (ای مؤمنانو) ددي چې وسپارئ تاسی امانتونه اهل داماناتوته) خطاب عام اوټولو مکلفینوته متوجه دی لکه چې امانات عام اوپه ذمه باندې ټولوحقوقوته شامل دی هغه که دالله تعالی حقوق وي که دبندګانو یې زمخشری وایې خطاب د هرچا لپاره په هر امانت کښې عام دی ([2])اومعنی دا چې اي مؤمنانو الله درته امرکوي چې امانتونه دهغوئ خاوندانو ته وسپارئ ابن کثیر وایې چې الله داامانتونوسپارل څښتنانوته یې امر کړی اودا ټول واجب امانتونه چې دانسان په غاړه دالله له حقوقووي لکه لمونځ ،زکات ، روژه ، کفارات اوداسی نور او که د بندګانوحقوق وي چې یو پر بل یې لري لکه امانات (ودائع) اونور([3])﴿ وَإِذَا حَكَمۡتُم بَيۡنَ ٱلنَّاسِ أَن تَحۡكُمُواْ بِٱلۡعَدۡلِ ﴾ (اوکله چې حکم کوئ تاسی په مینځ دخلګوکښې نوحکم وکړئ په انصاف سره) یعنی تاسوته امرکوي دخلګو تر مینځ په انصاف فیصلې وکړئ ﴿ إِنَّ ٱللَّهَ نِعِمَّا يَعِظُكُم بِهِۦٓ ﴾ بیشکه الله ښه شي چې پند در کوي تاسي ته په هغه سره یعنی بیشکه الله په ښه شی سره پند درکوی ﴿ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ سَمِيعَۢا بَصِيرٗا ﴾ بیشکه چې الله ښه اوریدونکی دی (ستاسودخبرو) ښه لیدونکي دی (ستاسودافعالو) پدی

([1]) الکشاف۱ / ۴۰۲ – القرطبی ۵ / ۲۶۴

([2]) الکشاف۱ / ۴۰۵

([3]) مختصرابن کثیر۱ / ۴۰۵

کښې وعد او وعيد نغښتي دی. ﴿ يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓا۟ أَطِيعُوا۟ ٱللَّهَ وَأَطِيعُوا۟ ٱلرَّسُولَ وَأُو۟لِى ٱلْأَمْرِ مِنكُمْ ﴾ (اي هغو کسانو چې ايمان يې راوړي دی (اي مؤمنانو) حکم ومنئ تاسی د الله او حکم ومنئ تاسی د رسول الله ﷺ او (حکم) ومنئ د خاوندانو د حکم له تاسی نه) يعنی حکم ومنئ د الله او د رسول په منګولو لګولو په کتاب او سنت باندی او همدا راز د مسلمانانو حاکمانو چې د الله په شريعت متمسکين وي د دوی حکم ومنئ او له دي پرته يې متابعت نشته ځکه (لاطاعة لمخلوق في معصية الخالق) او پدي کلمه کښې چې فرمايې:

﴿مِنكُمْ﴾ دي ته اشاره ده چې حاکمان به ارومرو په بشپړه توګه مسلمانان وي په واقعي توګه به يې اسلام په ځان منلی وي غوښتي وينې به يې له اسلامه جوړي وي نه داچې يوازي په شکل او نامه به مسلمان ياديږي. ﴿فَإِن تَنَـٰزَعْتُمْ فِى شَىْءٍ فَرُدُّوهُ إِلَى ٱللَّهِ وَٱلرَّسُولِ﴾ نو بياکه جګړه وکړه تاسی په يوه شی کښې نو وګرځوئ تاسی دا (کار) طرف د الله ته (د الله کتاب ته) او رسول ته (د رسول الله سنت ته) ﴿إِن كُنتُمْ تُؤْمِنُونَ بِٱللَّهِ وَٱلْيَوْمِ ٱلْـَٔاخِرِ﴾ (که يئ تاسی چې ايمان لرئ په الله او په ورځې آخري د (قيامت) باندی) يعنی که تاسو په اخلاص سره مؤمنان ياست دا هغه شرط دي چې ځواب يې حذف شوي ځکه چې پخوانی ورباندي دلالت کوي يعنی نو ويې ګرځوئ طرف د الله او رسول ته او غرض له دی څخه په کتاب الله او سنت د رسول الله باندی د منګولو لګولو هڅونه ده لکه چې يو څوک وايې (ان کنت ابنی فلاتخالفنی) که چېري زما زوي يې نو مخالفت مي مکوه ﴿ذَٰلِكَ خَيْرٌ وَأَحْسَنُ تَأْوِيلًا﴾ دغه (رجوع الله او رسول الله ته) خير(ډير غوره) ده او دا (رجوع) ډيره ښه د عاقبت له جهته بيا الله تعالی د منافقينو هغه خواص ذکر کوي چې دوی به د ايمان دعوی کوله خو زړونه به يې له ايمان څخه خالی وو ﴿أَلَمْ تَرَ إِلَى ٱلَّذِينَ يَزْعُمُونَ أَنَّهُمْ ءَامَنُوا۟ بِمَآ أُنزِلَ إِلَيْكَ وَمَآ أُنزِلَ مِن قَبْلِكَ﴾ آيا نه دی کتلی تا؟ هغو کسانو ته چې ظاهري) دعوی کوي دوی چې بيشکه دوی ايمان راوړی دی په هغه (قرآن) چې نازل کړی شوی دی تاته (ای محمده) او په هغو (کتابونو) چې نازل کړي شوی دی پخوا له تانه (ای محمده !) دا تعجب کول دي په حال د هغو کسانو چې د ايمان دعوی لري خو بيا هم د الله حکم نه مني يعنی ته تعجب نه کوي د دغو منافقينو له کړو وړو څخه چې دوی په قرآن کريم باندی د ايمان راوړلو دعوی کوي او همدا رنګه په پخوانيو نازل شوی کتابونو باندی تر تا ځان مؤمن ګڼي ﴿يُرِيدُونَ أَن يَتَحَاكَمُوٓا۟ إِلَى ٱلطَّـٰغُوتِ﴾ اراده لري دوی چې ورو وړي (خصومت خپل) په طرف د شيطان (کعب بن الاشرف) يعنی دوی غواړي د خپلې قضيې فيصله په طاغوت وکړي ابن عباس ﷺ وايې چې: هغه کعب بن الاِشرف دي چې د يهودانو له طغاتو او سرغړونکو څخه يو تن وو هغه ته طاغوت ځکه وويل شو چې په طغيان کښې يې افراط کا و او د رسول الله ﷺ سره يې عداوت درلود ﴿وَقَدْ أُمِرُوٓا۟ أَن يَكْفُرُوا۟ بِهِۦ﴾ او په تحقيق حکم کړي شوی و دوی ته چې کافر دي شی دوی په ده سره (ويې نه مني يعنی حال داچې دوی ته امر شوي وو چې په الله ايمان راوړي او له الله پرته بل څوک ونه مني ﴿فَمَن يَكْفُرْ بِٱلطَّـٰغُوتِ وَيُؤْمِنۢ بِٱللَّهِ فَقَدِ ٱسْتَمْسَكَ

بِٱلْعُرْوَةِ ٱلْوُثْقَىٰ ﴾ [البقرة: ۲۵۶] ﴿ وَيُرِيدُ ٱلشَّيْطَٰنُ أَن يُضِلَّهُمْ ضَلَٰلًۢا بَعِيدًا ﴾ او اراده لري شيطان داچې ګمراه
كړي دوى په ګمراهى ليرى سره (له حقه) يعنى شيطان اراده لرى چې دوى له هدايت اوله حق څخه ليرې
اوكاږه كړي په سبب دهغو اعمالو چې ورته يې ښائسته كړي دى. ﴿ وَإِذَا قِيلَ لَهُمْ تَعَالَوْا۟ إِلَىٰ مَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ
وَإِلَى ٱلرَّسُولِ ﴾ اوكله چې وويل شي دي (منافقانوته) راځئ طرف د (حكم) دهغه كتاب) ته چې نازل
كړي دى الله (قرآن) ته اوطرف ته د (حكم) درسول دده) ته (دفيصلې لپاره) ﴿ رَأَيْتَ ٱلْمُنَٰفِقِينَ يَصُدُّونَ
عَنكَ صُدُودًا ﴾ (نوګورې به ته منافقان چې ګرزي به له تاپه ګرزيدلو سره) يعنى دنفاق له امله به دوى
له تاڅخه اعراض اوڅنګ كوي په څنګ كولو سره ﴿ فَكَيْفَ إِذَآ أَصَٰبَتْهُم مُّصِيبَةٌۢ بِمَا قَدَّمَتْ
أَيْدِيهِمْ ﴾ (نوڅه به وي (حال ددوى) كله چې ورسيږي دوى ته كوم مصيبت په سبب دهغو (ګناهونو)
چې وړاندى ليږدولى دي لاسونو ددوى) يعنى ددوى به څه حال وي كله چې يې الله ددوى دګناهونو په
سبب په عذاب اخته كړي؟ آيا كولاي شى څوك چې له دوى څخه عذاب دفع كړي؟ ﴿ ثُمَّ جَآءُوكَ يَحْلِفُونَ
بِٱللَّهِ إِنْ أَرَدْنَآ إِلَّآ إِحْسَٰنًا وَتَوْفِيقًا ﴾ بيا به راشى دوى تاته (اى محمده !) چې قسمونه به خوري په الله
چې اراده نه وه كړې مونږ مګر دښېګڼي اوموافقت) يعنى وروسته بيا دغه منافقين تاته دعذر لپاره راځي
دهغو ګناهونو په هكله چې دوى ترسره كړي قسمونه كوي چې دوى په بل چا باندى دفيصلې كولو دې
اراده درلوده چې د دواړو متخاصمو خواوو ترمينځ صلح اوموافقت راشى دا د دوى مقصد نه وو چې
ستاحكم يې نه منل الله تعالى ددوى دتكذيب په هكله فرمايي: ﴿ أُو۟لَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ يَعْلَمُ ٱللَّهُ مَا فِى
قُلُوبِهِمْ ﴾ (دغه منافقان) هغه كسان دي چې معلوم دي الله ته هغه شى (هم) چې په زړونو ددوى كښې
دى) مكر،دوكه پكښې ده دوى غواړى تاپه دغه غوره مالى باندى دوكه اوتېر باسي ﴿ فَأَعْرِضْ
عَنْهُمْ ﴾ نوڅنګ وكړه له دوى څخه يعنى دمصلحت په خاطردوى ته سزا مه وركوه اودوى ته هغه څه چې
تاته ددوى له پټو رازونو څخه معلوم دى مه لوڅوه ترڅو دوى په وېره او حذر كښې واوسي ﴿ وَعِظْهُمْ ﴾
(اوپندوركړه دوى ته) يعنى دوى له ټګي اوبرګې اونفاق څخه په ټكونكوآيتونو وويروه ﴿ وَقُل لَّهُمْ
فِىٓ أَنفُسِهِمْ قَوْلًۢا بَلِيغًا ﴾ او ووايه (اى محمده) دوى ته په حق دنفسونوددوى كښې خبره بليغه
(تاثيرناكه) يعنى دوى ته ستا او د دوى ترمينځ داسى اغيزمنه وينا وكړه چې دزړه له كومي يې واوري
ترڅودوى ته ويرونكي اوله نفاق څخه راګرځونكي وي بيا الله تعالى درسولانو دنده داسى بيانوي:
﴿ وَمَآ أَرْسَلْنَا مِن رَّسُولٍ إِلَّا لِيُطَاعَ بِإِذْنِ ٱللَّهِ ﴾ (اونه دي ليږلى مونږ هيڅ رسول مګر (ليږلى مودي
) ددي لپاره چې حكم ومنل شي دده په اذن دالله سره) نوطاعت درسول دالله طاعت دى اومعصيت
دپيغمبردالله معصيت اوسرغړونه ده ﴿ وَلَوْ أَنَّهُمْ إِذ ظَّلَمُوٓا۟ أَنفُسَهُمْ جَآءُوكَ ﴾ (اوبيشكه دغه

(منافقان) کله چې ظلم وکړي دوی پرځانونو خپلوراغلی دی تاته ﴿ فَاسْتَغْفَرُوا اللَّهَ وَاسْتَغْفَرَ لَهُمُ الرَّسُولُ ﴾ پس مغفرت غوښتی وي دوی له الله او مغفرت غوښتي وي دوی ته رسول) یعنی کله چې همدغه منافقین په خپلوځانو باندي ستادحکم دنه منلوله امله ظلم وکړي اوبیاتاته له نفاق څخه توبه کارراشی اوله الله څخه ښښنه غواړي په خپله گناه اقرارکوي اوته هم له الله څخه ورته مغفرت غواړي چې ددوی گناوي الله وروبښی (﴿ لَوَجَدُوا اللَّهَ تَوَّابًا رَّحِيمًا ﴾ (نوخامخابه موندلی وودوی الله ښه قبلونکي دتوبې ډیررحم والا) یعنی نودوی به دالله پراخ رحمت اوزیات توبه قبلول دالله پاک لیدلی ووبیاالله تعالی درښتوني ایمان لاراولیکه داسی ښیې: ﴿ فَلَا وَرَبِّكَ لَا يُؤْمِنُونَ حَتَّىٰ يُحَكِّمُوكَ فِيمَا شَجَرَ بَيْنَهُمْ ﴾ (پس قسم دي په رب ستاچې نه مؤمنان کیږي دوی ترهغوپوري چې حَکم (منصف) کړي دوی تاپه هغه جگړه کښې چې پیښه شوي ده. په مینځ ددوی کښې) لام دقسم دتاکیدلپاره دی یعنی قسم ستاپه رب چې دوی به مؤمنان ونه گڼل شی ترڅوچې تادخپلوقضایاوو د حل اوفصل لپاره منصف ونه ټاکي اوبیاستاله حکم څخه غاړه هم ونه غړوي ﴿ ثُمَّ لَا يَجِدُوا فِي أَنفُسِهِمْ حَرَجًا مِّمَّا قَضَيْتَ وَيُسَلِّمُوا تَسْلِيمًا ﴾ بیاونه مومي په زړونوخپلو کښی (ناراضي تنگي) له هغه شي چې فیصله کړی تااو ویې مني دوی په منلوسره (بی له جگړې په خوښي سره) ځکه حقیقت دایمان خضوع اواذعان (باورکول) دي.

﴿ وَلَوْ أَنَّا كَتَبْنَا عَلَيْهِمْ أَنِ اقْتُلُوا أَنفُسَكُمْ أَوِ اخْرُجُوا مِن دِيَارِكُم ﴾ اوکه په تحقیق مونږفرض کړي وي پدغو (مدعیانو دایمان) داچې مړه کړئ تاسی ځانونه خپل یاووزئ تاسی له کورونوخپلو) یعنی که مونږپدی منافقانوباندی هغه کړاوونه فرض کړی وای چې په پخوانیوأمتونوموفرض کړي وولکه داچې دځان وژل اویاله هیواده بهروتل دی کوم چې په بنی اسرائیلوموفرض کړي وو. ﴿ مَّا فَعَلُوهُ إِلَّا قَلِيلٌ مِّنْهُمْ ﴾ نونه به ووکړي دوی هغه (قتل اوجلا) مگرلږکسانوله دوی نه (ځکه ددوی ایمان کمزوري دي)

﴿ وَلَوْ أَنَّهُمْ فَعَلُوا مَا يُوعَظُونَ بِهِ لَكَانَ خَيْرًا لَّهُمْ وَأَشَدَّ تَثْبِيتًا ﴾ (اوکه په تحقیق دوی کړي وي هغه چې پندورکاوه شی دوی ته په هغه سره نوخامخابه وو داکارډیرغوره دوی ته اوډیربه کلک وو له جهته دمحکم والی) یعنی که دوی دغه مأموربه دالله اورسول الله اطاعت کولاي ددوی لپاره به اوس اوپه راتلونکي کښې ډیرغوره وو اوددوی دایمان به وربانديټینگوالی راتو.له نفاق اوضلالت څخه به بې ژغورل ﴿ وَإِذًا لَّآتَيْنَاهُم مِّن لَّدُنَّا أَجْرًا عَظِيمًا وَلَهَدَيْنَاهُمْ صِرَاطًا مُّسْتَقِيمًا ﴾ اوپه دغه وخت کښې به خامخاورکړي وومونږدوی ته (خاص) له خپله درباره ډیرلوی اجراوثواب) او خامخا به برابر کړی(بیولي) ومونږ دوي سمي لاري ته یعنی مونږبه دوی سمې سیخې لارې ته رهبری کړي وای هغه چې برابره جنت ته رسیدونکي ده بیاالله پاک دالله اورسول داطاعت میوه اوگټه داسی ښیې: ﴿ وَمَن يُطِعِ اللَّهَ وَالرَّسُولَ فَأُولَٰئِكَ مَعَ الَّذِينَ أَنْعَمَ اللَّهُ عَلَيْهِم ﴾ (اوهرڅوک چې حکم ومني دالله اودرسول نودغه کسان به له

هغوسره وي (په جنت کښی) چې انعام کړي دی الله پردوی باندی) یعنی څوک چې دالله اوپیغمبر اوامرومني اوله نواهیوڅخه یې ځان وژغوري الله پاک به یې دعزت په ځای کښی چې تل ترتله جنت دی له مقربینوسره یوځای کړی ﴿مِّنَ ٱلنَّبِيِّـۧنَ وَٱلصِّدِّيقِينَ وَٱلشُّهَدَآءِ وَٱلصَّٰلِحِينَ﴾ (چې انبیاء اوصدیقان دی اوشهیدان اوصالحان دی) یعنی دوی به دسترومنزلتونوله خاوندانوسره چې سپیڅلی انبیاء ابرارصدیقان چې دانبیاوو بهتراصحابان دي اوله هغه چاسره چې دالله په لاره کښې یې شهادت ګټلی وي له نوروصالحانوسره ملګري وی ﴿وَحَسُنَ أُوْلَٰٓئِكَ رَفِيقٗا﴾ (اوښه دی دغه کسان له جهته درفاقته) چې ښه ملګري دی له حضرت عائشې رضی الله عنهاڅخه روایت شوی دی چې ویل یې: ماله رسول الله ﷺ څخه په هغه ناروغې کښې چې ځینی وفات شو واوریدل چې ویل یې: ﴿مَعَ ٱلَّذِينَ أَنۡعَمَ ٱللَّهُ عَلَيۡهِم مِّنَ ٱلنَّبِيِّـۧنَ وَٱلصِّدِّيقِينَ وَٱلشُّهَدَآءِ وَٱلصَّٰلِحِينَۚ وَحَسُنَ أُوْلَٰٓئِكَ رَفِيقٗا﴾ النساء: ۶۹ نوزه وپوهیدم چې هغه ته اختیاوروکول شوی دی ([1]) ﴿ذَٰلِكَ ٱلۡفَضۡلُ مِنَ ٱللَّهِۚ﴾ (داملګرتیا فضل (احسان رحمت) دی له (جانبه) دالله نه) یعنی دغه اعطامطیعانوته دستراجرایکی یوازی دالله دفضل اومرحمت زیږنده ده ﴿وَكَفَىٰ بِٱللَّهِ عَلِيمٗا﴾ (اوکافی دی الله ښه پوه (په ټولونیتونواوعملونوهم) یعنی کافی دی الله جزاورکونکي هغه چاته چې اطاعت یې کړی او عالم دی په هغه چاچې دفضل او احسان وړاومستحق وی.

بلاغت:

دفصاحت اوبدیع چې کومې ښکلاوې پدې آیتونوکښې شته په لنډوول لیکل کیږی.

۱- استفهام چې مرادځینی تعجب وي لکه په (الم تر إلى الذين يزعمون) کښې.

۲- التفات چې پدې کلام کښې راځي: (واستغفر لهم الرسول) چې درسول دشان تفخیم (سترتوب) اوداستغفارتعظیم پکښې نغښتی دی که په خپل اصل راغلی وای نوبه داسی ویل شوي وو (واستغفرت لهم).

۳- امرداخبارپه صورت اوپه پیل کښې یې هغه توری چې تحقیق افاده کوی لکه (انّ) راوړل چې فرمایې (إن الله يأمركم) دتفخیم لپاره اوداچې په امتثال کښې یې دوجوب تأکیدوشی اودپاملرنې وړ وګرزي.

۴- مغایرجناس لکه پدې کلماتوکښې: (يضلهم .. ضلالاً) او(قل لهم قولاً) او(يسلّموا تسليما) او(يصدّون صدودا) او(فاز فوزاً)کښې.

۵- استعاره چې پدې کلام کښې راغلی: (فيما شجر بينهم) دګښې ونې هغه اوډلی ښاخونه یې دهغې منازعې لپاره استعاره کړي چې خبرې یوپه بل کښې سره ګډې وډې کیږي دلته یې دمعقول لپاره دمحسوس استعاره وکړه.

۶- دالله ﷻ دمبارک نامه په تکرارسره یادول لکه: (إن الله يأمركم)او (إن الله نعما يعظكم به) او (إن الله كان سميعاً) ددی لپاره چې دالله ﷻ دهیبت په هکله نفوس وروزل شی.

([1]) مختصرابن کثیر۱/ ۴۱۱

۷- اطناب په ځوځایونو او حذف بیا په ځوځایونو کښي.

فائده:

حضرت عائشه رضی الله عنها فرمایي: یو سړی رسول الله ﷺ ته راغي ورته ویل یې: یارسول الله بیشکه ته ماته ترخپل ځان او اهل خوراګران یې زه چې په کورکښې یم اوته راپه یادشی توان نلرم څوراشم اوتاووینم کله چې خپل او ستامرګ راپه یادکړم نووپوهیږم که زه جنت ته داخل شوم پدی ویریږم تا به ونه وینم رسول الله ﷺ څه ورته ونه ویل ترڅو الله ﷻ دا آیت نازل کړ: (**و من یطع الله و الرسول فاولئك مع الذین انعم الله علیهم**) دآیت ترپایه[1]

الله تعالی فرمایي:

﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ خُذُواْ حِذْرَكُمْ فَٱنفِرُواْ ثُبَاتٍ أَوِ ٱنفِرُواْ جَمِيعًا ﴿٧١﴾ وَإِنَّ مِنكُمْ لَمَن لَّيُبَطِّئَنَّ فَإِنْ
أَصَٰبَتْكُم مُّصِيبَةٌ قَالَ قَدْ أَنْعَمَ ٱللَّهُ عَلَىَّ إِذْ لَمْ أَكُن مَّعَهُمْ شَهِيدًا ﴿٧٢﴾ وَلَئِنْ أَصَٰبَكُمْ فَضْلٌ مِّنَ ٱللَّهِ لَيَقُولَنَّ كَأَن لَّمْ
تَكُنۢ بَيْنَكُمْ وَبَيْنَهُۥ مَوَدَّةٌ يَٰلَيْتَنِى كُنتُ مَعَهُمْ فَأَفُوزَ فَوْزًا عَظِيمًا ﴿٧٣﴾ ۞ فَلْيُقَٰتِلْ فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ ٱلَّذِينَ
يَشْرُونَ ٱلْحَيَوٰةَ ٱلدُّنْيَا بِٱلْءَاخِرَةِ ۚ وَمَن يُقَٰتِلْ فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ فَيُقْتَلْ أَوْ يَغْلِبْ فَسَوْفَ نُؤْتِيهِ أَجْرًا عَظِيمًا ﴿٧٤﴾
وَمَا لَكُمْ لَا تُقَٰتِلُونَ فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ وَٱلْمُسْتَضْعَفِينَ مِنَ ٱلرِّجَالِ وَٱلنِّسَآءِ وَٱلْوِلْدَٰنِ ٱلَّذِينَ يَقُولُونَ رَبَّنَآ أَخْرِجْنَا مِنْ هَٰذِهِ ٱلْقَرْيَةِ
ٱلظَّالِمِ أَهْلُهَا وَٱجْعَل لَّنَا مِن لَّدُنكَ وَلِيًّا وَٱجْعَل لَّنَا مِن لَّدُنكَ نَصِيرًا ﴿٧٥﴾ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ يُقَٰتِلُونَ فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ ۖ وَٱلَّذِينَ كَفَرُواْ
يُقَٰتِلُونَ فِى سَبِيلِ ٱلطَّٰغُوتِ فَقَٰتِلُوٓاْ أَوْلِيَآءَ ٱلشَّيْطَٰنِ ۖ إِنَّ كَيْدَ ٱلشَّيْطَٰنِ كَانَ ضَعِيفًا ﴿٧٦﴾ أَلَمْ تَرَ إِلَى ٱلَّذِينَ قِيلَ لَهُمْ كُفُّوٓاْ
أَيْدِيَكُمْ وَأَقِيمُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتُواْ ٱلزَّكَوٰةَ فَلَمَّا كُتِبَ عَلَيْهِمُ ٱلْقِتَالُ إِذَا فَرِيقٌ مِّنْهُمْ يَخْشَوْنَ ٱلنَّاسَ كَخَشْيَةِ ٱللَّهِ أَوْ أَشَدَّ خَشْيَةً ۚ
وَقَالُواْ رَبَّنَا لِمَ كَتَبْتَ عَلَيْنَا ٱلْقِتَالَ لَوْلَآ أَخَّرْتَنَآ إِلَىٰٓ أَجَلٍ قَرِيبٍ ۗ قُلْ مَتَٰعُ ٱلدُّنْيَا قَلِيلٌ وَٱلْءَاخِرَةُ خَيْرٌ لِّمَنِ ٱتَّقَىٰ وَلَا تُظْلَمُونَ
فَتِيلًا ﴿٧٧﴾ أَيْنَمَا تَكُونُواْ يُدْرِككُّمُ ٱلْمَوْتُ وَلَوْ كُنتُمْ فِى بُرُوجٍ مُّشَيَّدَةٍ ۗ وَإِن تُصِبْهُمْ حَسَنَةٌ يَقُولُواْ هَٰذِهِۦ مِنْ عِندِ ٱللَّهِ ۖ وَإِن
تُصِبْهُمْ سَيِّئَةٌ يَقُولُواْ هَٰذِهِۦ مِنْ عِندِكَ ۚ قُلْ كُلٌّ مِّنْ عِندِ ٱللَّهِ ۖ فَمَالِ هَٰٓؤُلَآءِ ٱلْقَوْمِ لَا يَكَادُونَ يَفْقَهُونَ حَدِيثًا ﴿٧٨﴾ مَّآ أَصَابَكَ مِنْ
حَسَنَةٍ فَمِنَ ٱللَّهِ ۖ وَمَآ أَصَابَكَ مِن سَيِّئَةٍ فَمِن نَّفْسِكَ ۚ وَأَرْسَلْنَٰكَ لِلنَّاسِ رَسُولًا ۚ وَكَفَىٰ بِٱللَّهِ شَهِيدًا ﴿٧٩﴾ مَّن يُطِعِ ٱلرَّسُولَ فَقَدْ أَطَاعَ
ٱللَّهَ ۖ وَمَن تَوَلَّىٰ فَمَآ أَرْسَلْنَٰكَ عَلَيْهِمْ حَفِيظًا ﴿٨٠﴾ وَيَقُولُونَ طَاعَةٌ فَإِذَا بَرَزُواْ مِنْ عِندِكَ بَيَّتَ طَآئِفَةٌ مِّنْهُمْ غَيْرَ
ٱلَّذِى تَقُولُ ۖ وَٱللَّهُ يَكْتُبُ مَا يُبَيِّتُونَ ۖ فَأَعْرِضْ عَنْهُمْ وَتَوَكَّلْ عَلَى ٱللَّهِ ۚ وَكَفَىٰ بِٱللَّهِ وَكِيلًا ﴿٨١﴾ أَفَلَا يَتَدَبَّرُونَ ٱلْقُرْءَانَ ۚ وَلَوْ
كَانَ مِنْ عِندِ غَيْرِ ٱللَّهِ لَوَجَدُواْ فِيهِ ٱخْتِلَٰفًا كَثِيرًا ﴿٨٢﴾ وَإِذَا جَآءَهُمْ أَمْرٌ مِّنَ ٱلْأَمْنِ أَوِ ٱلْخَوْفِ أَذَاعُواْ بِهِۦ ۖ وَلَوْ
رَدُّوهُ إِلَى ٱلرَّسُولِ وَإِلَىٰٓ أُوْلِى ٱلْأَمْرِ مِنْهُمْ لَعَلِمَهُ ٱلَّذِينَ يَسْتَنۢبِطُونَهُۥ مِنْهُمْ ۗ وَلَوْلَا فَضْلُ ٱللَّهِ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَتُهُۥ
لَٱتَّبَعْتُمُ ٱلشَّيْطَٰنَ إِلَّا قَلِيلًا ﴿٨٣﴾ فَقَٰتِلْ فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ لَا تُكَلَّفُ إِلَّا نَفْسَكَ ۚ وَحَرِّضِ ٱلْمُؤْمِنِينَ ۖ عَسَى ٱللَّهُ أَن يَكُفَّ

---

(۱) اخرجه ابن مردویه.

بَأْسَ الَّذِينَ كَفَرُوا ۚ وَاللَّهُ أَشَدُّ بَأْسًا وَأَشَدُّ تَنكِيلًا ﴿۸۴﴾ مَّن يَشْفَعْ شَفَاعَةً حَسَنَةً يَكُن لَّهُ نَصِيبٌ مِّنْهَا ۖ وَمَن
يَشْفَعْ شَفَاعَةً سَيِّئَةً يَكُن لَّهُ كِفْلٌ مِّنْهَا ۗ وَكَانَ اللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ مُّقِيتًا ﴿۸۵﴾ وَإِذَا حُيِّيتُم بِتَحِيَّةٍ فَحَيُّوا بِأَحْسَنَ مِنْهَا أَوْ
رُدُّوهَا ۗ إِنَّ اللَّهَ كَانَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ حَسِيبًا ﴿۸۶﴾ اللَّهُ لَا إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ۚ لَيَجْمَعَنَّكُمْ إِلَىٰ يَوْمِ الْقِيَامَةِ لَا رَيْبَ فِيهِ ۗ وَمَنْ أَصْدَقُ
مِنَ اللَّهِ حَدِيثًا ﴿۸۷﴾

مناسبت اوتړاو:

کله چې الله له نفاق او منافقينو څخه حذر و فرمايل او د الله او رسول الله د طاعت ماريينه او توصيه يې وکړه دلته يې دستر طاعت او لوړ ثواب د عمل امر وفرمايو چې هغه د كلمة الله د اعلاء او دين د احياء لپاره في سبيل الله جهاد دي او د اسې د تيارسئ او استعداد امر يې وکړ بيا وروسته يې د هغو کسانو حال ښکاره کړ څوک چې له جهاد څخه پاتې شوي او يا تصميمونه يې اومړي او عزائم يې كمزوري دي هغوئ منافقين دي او مسمانان يې د دوی له شره څخه وويرول.

لغتونه:

(ثبات) د (ثبتةً) جمع او هغه بيا جماعت او ټولګی ته وايي يعنی ټولګی وروسته له بله (بروج) د برج جمع او لوړي مانۍ ستر قصرته وايي دلته څني مراد برجونه (حصون) دی (بيّت) د شپې پلان جوړولو ته وايي او چې كله وايي (البيّات) معنی يې داده چې د شپې له خوا په دښمن تاړاک شوي او له دي څخه د عربانو هغه متل هم دي چې وايي (امرمبيت بالليل) داهسي کاردي چې د شپې سنجول شوی او غوټه شوی دی (اذاعو به) خپور کړی او رسولی يې دي (يستنبطونه) رااېستلی يې دی او له دي کلمې څخه استنباط د احکامو له کتاب او سنت څخه هم اخستل شوي دی (حرض) وهڅوه (تنكيلا) عذاب او سزا (كفل) برخه ، ونډه خو زياتره په شر کښې استعماليږي (مقيتا) مقتدر د قدرت خاوند.

د نزول سبب:

ابن عباس ﷺ وايي چې عبدالرحمن بن عوف او د هغه ملګري په مكه کښې رسول الله ﷺ ته راغلل او ورته ويل يې : ای د الله نبی مونږ چې مشرکان وو په عزت کښې وو خو كله چې مسلمانان شوو نو د کافرانو لخوا ذليل شو و که له كفار وسره د جهاد امر راکړی ! رسول الله ورته وويل زه په بښنه او عفوه کولو مأمور يم تاسو له دوی سره مه جنګيږئ ! خو کله چې مدينې منورې ته راغلل نو د قتال امرورته وشو او د دوی څينو کسانو لاس ونيو: بيا الله دا آيت نازل کړچې : (الم تر إلى الذين قيل لهم كفوا أيديكم و أقيموا الصلاة) [1]

---

[1] اسباب النزول ص ۹۲ والقرطبی ۵ /۲۸۱

تفسير:

﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ خُذُواْ حِذْرَكُمْ ﴾ اي هغوكسانوچې ايمان يې راوړی دی (اي مؤمنانو) واخلئ تاسي وسلې خپلې وساتئ ځان له كفاروځخه ﴿ فَٱنفِرُواْ ثُبَاتٍ أَوِ ٱنفِرُواْ جَمِيعًا ﴾ بيا ووزئ تاسی غزاته ډلې ډلې يا ووزئ تاسی ګرد سره يوځای الله پاک دوی ته اختيار ورکړچې ټولې ټولې وزي اوکه يوځای لښكر﴿ وَإِنَّ مِنكُمْ لَمَن لَّيُبَطِّئَنَّ ﴾ (اوبيشكه ځينی له تاسی خامخاهغه څوک دی چې هرومرو تأخيريه کوي په تللوکښې) مرادله دوی څخه منافقين دي اوچې له مسلمانانوګډل شول داددوی په ګمان اوپه ظاهري اعتبارسره ده ﴿ فَإِنْ أَصَٰبَتْكُم مُّصِيبَةٌ ﴾ نوكه ورسيږي تاسی ته كوم مصيبت (لكه قتل اوهزيمت) ﴿ قَالَ قَدْ أَنْعَمَ ٱللَّهُ عَلَىَّ إِذْ لَمْ أَكُن مَّعَهُمْ شَهِيدًا) ﴾ نووايئ (دامتخلف منافق) په تحقيق فضل احسان کړی دی الله پرماباندی ځكه (چې) نه وم زه له دوی سره حاضر) بيابه زه هم له نوروكسانو سره وژل شوي وای ﴿ وَلَئِنْ أَصَٰبَكُمْ فَضْلٌ مِّنَ ٱللَّهِ ﴾ اوكه ورسيږئ تاسي ته احسان اورحمت له(طرفه) دالله (لكه فتح ياغنيمت) ﴿ لَيَقُولَنَّ كَأَن لَّمْ تَكُنۢ بَيْنَكُمْ وَبَيْنَهُۥ مَوَدَّةٌ يَٰلَيْتَنِى كُنتُ مَعَهُمْ فَأَفُوزَ فَوْزًا عَظِيمًا ﴾ نوخاماخابه وايی هرومرو(دامنافق) چې ګواکي نه ووپه مينځ ستاسي اودده کښې هيڅ دوستی (اووايې به) كاشکي زه هم وای له دوی سره نوبريالی شوي به وم په بري ډيرلوي سره . له غنيمتونوڅخه اوجمله د﴿كَأَن لَّمْ تَكُنۢ﴾ اعتراضيه ده چې ددوی په كمزوري ايمان تنبيه وركړي اودغه دوستي دمنافق په ظاهرباندی بناده نه خوپه اعتقادکښی دوی دا آرزولری چې کاشکي دمال دمونډلولپاره له مؤمنانوسره ملګري وای نه داچې داسلام دبري اوعزت لپاره اوكله چې الله تعالی دجهاددلاري د متخلفينو بدي بيان کړه دمؤمنانورغبت يې وپارول اوداسی يې وويل: ﴿ فَلْيُقَٰتِلْ فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ ٱلَّذِينَ يَشْرُونَ ٱلْحَيَوٰةَ ٱلدُّنْيَا بِٱلْءَاخِرَةِ ﴾ (پس جنګ دی وکړی په لاره دالله كښې هغه كسان چې خرڅوي دوی ژوند دنيوي په آخرت) يعنی جنګ دی وکړی هغه مخلصين چې ځانونه اومالونه دالله په لاركښې ځاروي هغه كسان چې دنيوي ژوند په اخروي پلوري ﴿ وَمَن يُقَٰتِلْ فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ فَيُقْتَلْ أَوْ يَغْلِبْ فَسَوْفَ نُؤْتِيهِ أَجْرًا عَظِيمًا ﴾ (اوهرڅوك چې جنګ وکړي په لاره دالله كښې (داعلاء كلمة الله لپاره) پس شهيدکړی شی ياغالب (غازي اوبريالی) نوژربه ورکړومونږده ته اجرډير لوی.) دادالله تعالی له لوري هغوکسانوته زيري دی چې دکلمة الله دلوړوالی لپاره جنګيږي چې دوی ته به ستراجرورکوي كه شهيداوياغازي شي هغه ته به يودوونيكيورسيږي ياشهادت يااجراوغنيمت لکه چې په حديث شريف كښې راځي: الله پاک ضمانت کړي دهغه چالپاره چې دالله په لاركښې خاص دجهادلپاره ووزي دغه وتل يې دايمان له مخي وي چې په الله يې لري اوپه پيغمبرانو يې لري نوالله فرمايي چې دهغه زه ضامن يم

یابه یې جنت ته داخلوم او یا به یې بیرته خپل هستوګنځي ته له اجر او غنیمت سره راستنوم. (۱) ﴿ وَمَا لَكُمْ لَا تُقَٰتِلُونَ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ وَٱلْمُسْتَضْعَفِينَ مِنَ ٱلرِّجَالِ وَٱلنِّسَآءِ وَٱلْوِلْدَٰنِ ﴾ (او څه مانع دی تاسی ته چې جنګ نه کوئ تاسی په لاره دالله کښې او په (خلاصولو) د ضعیفانو کښې چې سړی دی او ښځې دی او هلکان دی) استفهام د هڅوني او تحریض لپاره دی یعنی اي مؤمنانو څه مانع دی چې دالله په لاره کښې جهاد نکوئ او د هغو مؤمنانو د خلاصولو په لاره کښې کوم چې مشرکانو له هجرت کولو څخه منع کړي دي او په ذلت او بې وزلي کښې ربړونه او تکالیف ګالي نه جنګیږئ؟. او دا کلام چې: ﴿ مِنَ ٱلرِّجَالِ وَٱلنِّسَآءِ وَٱلْوِلْدَٰنِ ﴾ راغلی دی د مستضعفینو بیان دی ابن عباس ﷺ وایې چې: زه او مورمي د مستضعفینو له ډلي څخه وو او دوی هغه کسان وو چې رسول الله ﷺ به ورته دعاګانې کولې ویل به یې: (اللهم انج الولید ابن الولید و سلمة ابن هشام و...) د حدیث تر پایه لکه چې په صحیح کښی راغلی دی ﴿ ٱلَّذِينَ يَقُولُونَ رَبَّنَآ أَخْرِجْنَا مِنْ هَٰذِهِ ٱلْقَرْيَةِ ٱلظَّالِمِ أَهْلُهَا ﴾ هغه کسان چې وایې دوی (اي ربه زمونږ وباسه مونږ له دي کلی (مکې) څخه! چې ظالمان دي او سیدونکي د هغې) یعنی هغه کسان چې الله ته زاری کوی تر څو تکلیف ځینی پورته کړی وایی: ای زمونږ ربه مونږ له دي کلی وباسه چې اوسیدونکي یې ظالمان دی کله چې د کفر او شرک تیاتوبی وو او له همدي امله رسول الله ﷺ ځینی هجرت کړی دی د کفر مشرانو د قریشو مخه ورو به مسلمانان له هجرت کولو او اسلام څرګندولو څخه راګرزول ﴿ وَٱجْعَل لَّنَا مِن لَّدُنكَ وَلِيًّا وَٱجْعَل لَّنَا مِن لَّدُنكَ نَصِيرًا ﴾ (او وګرځوه مونږ ته له خپله درباره کوم ولی (حامي ساتونکي) او وګرځوه مونږ ته له خپله درباره کوم مددګار) یعنی ای ربه مونږ ته له دغې تنګسیا څخه پراخي او د وتلو ځای راپه برخه کړه او له خپله درباره مرستندوی راته وټاکه الله ﷻ یې دعا ومنله او ډیر ښه مددګار او ساتونکي یې ورته وټاکل چې هغه محمد مصطفی ﷺ وو کله چې مکه فتح شوه او هغه وخت چې له مکې څخه وتل نو یې (عتاب بن اسید) ورباندی والی مقرر کړ چې له ظالم څخه یې د مظلوم حق ترلاسه کړو روسته بیا الله ﷻ مجاهدینو ته د جهاد رغبت ورکوي او په دی لاره کښی یې تشجیع فرمایې: ﴿ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ يُقَٰتِلُونَ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ ﴾ (هغه کسان چې ایمان لرونکي دی جنګ کوي دوی په لاره دالله کښې (د دین د ترقی لپاره) یعنی مؤمنان د یو ستر هدف لپاره جنګیږي چې هغه د کلمې اعلاء او دالله رضا ده نو الله یې مرستندوي دي ﴿ وَٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ يُقَٰتِلُونَ فِي سَبِيلِ ٱلطَّٰغُوتِ ﴾ (او هغه کسان چې کافران شوي دي جنګ کوي په لاره د شیطان کښې) یعنی کافران د شیطان په لاره کښې جنګ کوي هغه چې بلونکي وي د کفر او طغیان لوري ته ﴿ فَقَٰتِلُوٓا۟ أَوْلِيَآءَ ٱلشَّيْطَٰنِ ﴾ (نو جنګ وکړئ تاسی له دوستانو د شیطان سره!) یعنی ای دالله ولیانو د شیطان له کومکیانو او مرستندویانو سره جنګ وکړئ تاسو به ورباندی بري ومومي ځکه د هغه چا چې د کلمة الله د لوړتیا لپاره جنګیږي او هغه څوک چې د شیطان په لارکښی جنګیږي ډیر لوي فرق شته هغه چې دالله په

(۱) اخرجه مسلم

لاره کښې جنګ کوي اورمروبه بريالی کيږي ځکه الله يې ساتونکي اومرستندوئ وي اوځوک چې دشيطان په لاره کښې جنګ کوي هغه به ښوئيدلی اومغلوب وي ځکه ويل شوي چې: ﴿ إِنَّ كَيۡدَ ٱلشَّيۡطَٰنِ كَانَ ضَعِيفًا ﴾ (بيشکه چې مکردشيطان ضعيف دي) يعنی دشيطان زياراوکوښښ په خپل ذات کښې کمزوري دی. نودالله دقدرت په پرتله به ولی کمزوری نه وي ؟ زمخشري وايې چې دشيطان کيددمؤمنانولپاره دالله دکيدپه وړاندی چې دکفارو لپاره دي خوراکمزوری اوکاواکه دی (١) ﴿ أَلَمۡ تَرَ إِلَى ٱلَّذِينَ قِيلَ لَهُمۡ كُفُّوٓاْ أَيۡدِيَكُمۡ وَأَقِيمُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتُواْ ٱلزَّكَوٰةَ ﴾ (آياندي کتلي تا(ندي رسيدلي تاته حال د)هغوکسانوچې وويل شول دوی ته ونيسئ لاسونه خپل (له جنګه په مکه کښې) اوسم اداکوئ (سره له ټولوحقوقو) تاسی لمونځ ! اوورکوئ تاسي زکات !) يعنی ته تعجب نکوي اي محمده ! له حاله دهغه قوم څخه چې جنګ يې غوښتل اودوی په مکه کښې وواودوی ته وويل شول چې دکفاروله جنګ څخه اوس لاس ونيسئ وخت يې ندی رارسيدلي اوتاسوځانونه دلمانځه په سم اداکولواودزکات په ورکولووروزئ اوداحکمونه په ځای راوړئ ﴿ فَلَمَّا كُتِبَ عَلَيۡهِمُ ٱلۡقِتَالُ إِذَا فَرِيقٞ مِّنۡهُمۡ يَخۡشَوۡنَ ٱلنَّاسَ كَخَشۡيَةِ ٱللَّهِ أَوۡ أَشَدَّ خَشۡيَةٗ ﴾ نوکله چې (په مدينه کښې) فرض کړشوپه دوی باندی (له کفاروسره) جنګ پدی وخت کښې يوه ډله له دوی نه ويريدله له خلګونه په شان دويرې (ددوی) له الله نه بلکه ډيرزيات له جهته دويرې. يعنی اوکله چې پردوی دمشرکينوقتال فرض شونوددوی يوه ډله ويريدله اوله مرګ څخه دومره په ويره کښې وولکه دالله له عذاب نه اوياتردي لا هم زيات ابن کثيروايې مسلمانان چې کله په مکه کښې ووپه لمانځه ، زکات اوصبرباندی ورته حکم شوي ووخودوي دزړه له کومي غوښتل چې کاشکي ورته دقتال امرشوي وای ترڅويې په دښمنانوکافرانوزړه يخ کړي وای بياکله چې دهمدي څيزامرورته وشوځينی کسان يې وويريدل اودمخامخ کيدلوويره يې خوراسخته وه (٢) ﴿ وَقَالُواْ رَبَّنَا لِمَ كَتَبۡتَ عَلَيۡنَا ٱلۡقِتَالَ ﴾ (اوويې ويل دوی اي ربه زمونږ ! ولي دي فرض کړپرمونږباندي جنګ ؟) يعنی دوی دمرګ له ويرې داسی و ويل ﴿ لَوۡلَآ أَخَّرۡتَنَآ إِلَىٰٓ أَجَلٖ قَرِيبٖ ﴾ (ولي دي وروسته نکړومونږترهغې نيتې نږدی پوري؟) «لولا»کلمه دلته د تحضيض لپاره ده چې د«هلا»په معنا راځي چې دوی هيله کوله دقتال امرڅه ټال وخوري اوورځندېږي ترڅو دوی پخپلواجلونومري اودښمنان يې ددوی په وژلوخوشحاله نشي. ﴿ قُلۡ مَتَٰعُ ٱلدُّنۡيَا قَلِيلٞ وَٱلۡأٓخِرَةُ خَيۡرٞ لِّمَنِ ٱتَّقَىٰ ﴾ ووايه اي محمده ! دغوويريدونکوته) متاع ددنيادنياډيره لږده اوآخرت ډيرغوره دی هغه چاته چې ويريږي (له الله نه) يعنی ای محمده ! دوی ته ووايه چې ـ دنيانعمتونه زوال مومي اودآخرت تل ترتله دي نوهغه تردي غوره دی دهغه چالپاره چې له الله ويريږي اوداوامروامتثال يې کوي ﴿ وَلَا تُظۡلَمُونَ فَتِيلًا ﴾) (اوظلم به ونکړه شي پرتاسو(په اندازه) ديو ډيرنري تار)چې

(١) الکشاف

(٢) مختصرابن کثير١/ ۴١٣

دخرمادمندتې (زړي) په درزکېښې راځي په تسهيل نومي كتاب كښې وايې چې : داآيت داصحابو رضوان الله عليهم)دهغې ټولی په هکله دي چې دوی له جنګ کولوڅخه منع شوي وواودوی آرزولرله چې دجنګ کولواجازه ورکړل شوي وای خوکله چې دجنګ کولوحکم ورته وشونودوی ته جنګ کول ناخوښه وواودغه دالله ﷻ دحکم څخه دغاړي غړولوله کبله نه وو بلکه له مرګ څخه ويريدل اوداويره دطبعي كراهت له امله وه چابياويلي چې دادمنافقينوپه باب دی اودغه دكلام له سياق سره وړاوښايې (¹) ﴿ أَيْنَمَا تَكُونُوا۟ يُدْرِككُّمُ ٱلْمَوْتُ وَلَوْ كُنتُمْ فِى بُرُوجٍ مُّشَيَّدَةٍ ﴾ هرچېرته چې اوسئ تاسی وبه مومي تاسی لره مرګ اګرکه اوسئ تاسی په برجونو کښی (په کلاګانوماڼيو کښې) ډيرولوړومحكمو مضبوط کړي شويو کښې !) يعنی هرچېری چې ياست تاسوته مرګ رسيدونکي دی کله چې مواجل راورسيږي که څه هم تاسوپه لوړو مضبوطوبرجونو کښې ځان خوندي کړئ نوله مرګ څخه دويري په سبب جهادمه پريږدئ ﴿ وَإِن تُصِبْهُمْ حَسَنَةٌ يَقُولُوا۟ هَٰذِهِۦ مِنْ عِندِ ٱللَّهِ ۖ وَإِن تُصِبْهُمْ سَيِّئَةٌ يَقُولُوا۟ هَٰذِهِۦ مِنْ عِندِكَ ﴾ (اوکه ورسيږي دوی ته څه نيکې (بری اوغنيمت) نووايې دوی دا(نيکی) له جانبه د) الله ده اوکه ورسيږي دوی ته څه بدی (له ناکامي لوږي) نووايې دوی دا(بدي) له جانبه ستاده) عنی که دي منافقينوته څه نيکې ورسيږي نودوی وايې داداالله له طرفه ده دالله تقديرده چې په مونږکښې يې خيرليدلی نيکې راباندي پيرزوده اوکله چې هزيمت اوکاختې ورته راشي نودوی وايې داپه سبب ددي چې مونږخپل دين پرې ايښی اودمحمد پيروي موکړي ده دوی پدي باندی دمحمد ﷺ اودهغه ددين بدمرغې (شګون) بدفالی نيسی سدي وايې : دوی داخبره کوي چې دابدي زمونږددين له پرېښودلواودمحمد ﷺ ددين دمنلوپه وجه راپيښه شوه لکه چې الله ﷻ دفرعون دقوم بيان کوي ﴿ وَإِن تُصِبْهُمْ سَيِّئَةٌ يَطَّيَّرُوا۟ بِمُوسَىٰ وَمَن مَّعَهُۥٓ ۗ أَلَآ إِنَّمَا طَٰٓئِرُهُمْ عِندَ ٱللَّهِ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَهُمْ لَا يَعْلَمُونَ ﴾ الأعراف: ١٣١ ﴿ قُلْ كُلٌّ مِّنْ عِندِ ٱللَّهِ ﴾ ووايه اي محمده دوی ته ! داټول (خيراوشر)له (جانبه) دالله دی رسول الله ﷺ ته امرشوی دی چې ددوی باطل ګومان وغندې اوپه خوله يې کانړي ورکړي داسی ورته څرګنده کړي چې نيکې اوبدې ، نعمت ، اوعذاب ټول دالله پيدا ښت اوايجاددي له الله ﷻ څخه پرته بل خالق نشته الله پاک نفع رسوونکي اوضرررسونکي دي دهغه له ارادې څخه ټول کائنات صادريږي. ﴿ فَمَالِ هَٰٓؤُلَآءِ ٱلْقَوْمِ لَا يَكَادُونَ يَفْقَهُونَ حَدِيثًا ﴾ (پس څه سبب دي دي قوم لره چې نه دی نژدي (دې ته) چې پوه شي دوی په هيڅ خبره باندی) يعنی څه وجه ده چې دوی په دې نه پوهيږي چې ټول شيان دالله په تقديراوفيصله کې دي داددوی لپاره توبيخ اوددوی دسپک فهم څرګندونه ده بيا الله دايمان حقيقت داسي بيانوي ﴿ مَّآ أَصَابَكَ مِنْ حَسَنَةٍ فَمِنَ ٱللَّهِ ۖ وَمَآ أَصَابَكَ مِن سَيِّئَةٍ فَمِن نَّفْسِكَ ﴾ (هرهغه شي چې ورسيږي تاته (اي انسانه !) له نيکې څخه نو(هغه) له جانبه) دالله دي اوهرهغه شي چې

(¹) التسهيل لعلوم التنزيل ١/ ١٤٨ قرطبی اوابوحيان داغوره کړی اوهمدا ارجح دی په البحرکښی وايې چې ددي خبري کونکي منافقين ووځکه چې الله په يوشی حکم وکړي دهغه له علت څخه هغه څوک چې سوچه ايمان لري پوښتنه نکوي څکه نودکلام سياق وروسته داسی راځي چې (وان تصبهم سيئة يقولوا هذه من عندک) اوداخبره له منافق څخه پرته بل څوک نه وايې . البحر ٣ / ٩٢٨.

ورسيد تاته (اي انسانه !) له بدي څخه نو (هغه) له (جانبه) دنفس ستادي) ؛ دلته خطاب هراوريدونكي ته دى يعنى اى انسانه كوم شي چې تاته دنعمت اواحسان دررسي دادالله فضل ، احسان او ازموېښت دى اوكوم مصيبت اوبلاچې درپيښيږي هغه ستادكړورو په نتيجه كښې ده لكه دالله داقول : ﴿ وَمَآ أَصَٰبَكُم مِّن مُّصِيبَةٍ فَبِمَا كَسَبَتۡ أَيۡدِيكُمۡ وَيَعۡفُواْ عَن كَثِيرٍ ﴾ [الشورى: ۳۰] . بيا الله رسول الله ﷺ ته دخطاب په ترڅ كښې فرمايي ﴿ وَأَرۡسَلۡنَٰكَ لِلنَّاسِ رَسُولٗاۚ وَكَفَىٰ بِٱللَّهِ شَهِيدٗا ﴾ (اوليږلى يې مونږ ته (اي محمده !) دپاره د(ټولو) خلكورسول اوبسُ دى الله شاهد(په رسالت ستااى محمده !) يعنى اى محمده مونږ ته دټولو خلكولپاره استازي ليږلى يې چې دالله شريعت ورته رسوي اوداكافى ده چې الله ستاپه رسالت شاهد وي بياالله تعالى درسول الله دپيروى درغبت وركولوپه هكله فرمايي : ﴿ مَّن يُطِعِ ٱلرَّسُولَ فَقَدۡ أَطَاعَ ٱللَّهَۖ ﴾ هرچاچې حكم ومانودرسول (دالله) نوپه تحقيق چې حكم يې ومانودالله ځكه هغه دالله له لوري مبلغ تاكل شوى دى ﴿ وَمَن تَوَلَّىٰ فَمَآ أَرۡسَلۡنَٰكَ عَلَيۡهِمۡ حَفِيظٗا ﴾ (اوهرڅوك چې وګرځيد پس نه يې ليږلى مونږ ته په دوى باندي ساتونكي (څارونكي داعمالو) يعنى څوك چې ستاله اطاعته وګرځيدنو ته دده داعمالوساتونكي مونږ نه يى استولي چې له هغه سره محاسبه وكړي پرتاباندي پرته له ابلاغ اورسولوبل څه نشته ﴿ وَيَقُولُونَ طَاعَةٞ فَإِذَا بَرَزُواْ مِنۡ عِندِكَ بَيَّتَ طَآئِفَةٞ مِّنۡهُمۡ غَيۡرَ ٱلَّذِي تَقُولُۖ ﴾ اووايې دوى (زمونږ كارستا) طاعت دى نوكله چې راووزي دوى له تاڅخه نودشپې (په مشوره سره وايې) يوه ډله له دوى غيرله هغې خبرې نه چې وايې يې (داطائفه تاته) يعني منافقان وايې چې ستا حكم منولكه چې يوڅوك وايې (سمعاوطاعة) خوكله چې له تانه بهرراوزي نوددوى يوه ډله خلاف له هغه څه تدبير جوړوي چې ستاپه مخكې يې وايې چې هغه سرغړونه اوعصيان دي ﴿ وَٱللَّهُ يَكۡتُبُ مَا يُبَيِّتُونَۖ فَأَعۡرِضۡ عَنۡهُمۡ وَتَوَكَّلۡ عَلَى ٱللَّهِۚ وَكَفَىٰ بِٱللَّهِ وَكِيلًا ﴾ (اوالله ليكي هغه خبرې چې دشپې يې (په مشوره سره وايې) دوى نوپه څنګ شه ته له دوى نه اوتوكل وكړه په الله باندي) يعنى الله ﷻ پرښتو ته حكم كوي چې دغه كړه وړه ددوى داعمالوپه پاڼو كښې وليكي ترڅوورباندي سزاوركړي اوهغه مرستندوي اومددګاردهغه چالپاره كافى دي چې څوك ورباندي توكل اواعتمادكوي وروسته بياالله تعالى دمنافقينو هغه عيوب بيانوي چې دوى دقرآن كريم په محكمومعناګانواوبليغوالفاظوكښې سوچ نه كوي ځكه په قرآن كريم كښې په تدبركولودهغه نوراوڅلا ښكنديږي ﴿ أَفَلَا يَتَدَبَّرُونَ ٱلۡقُرۡءَانَۚ وَلَوۡ كَانَ مِنۡ عِندِ غَيۡرِ ٱللَّهِ لَوَجَدُواْ فِيهِ ٱخۡتِلَٰفٗا كَثِيرٗا ﴾ (آيانوفكرغور نكوي دوى پدي فصيح بليغ)قرآن كښې اوكه وي (داقرآن) له جانبه دغيردالله څخه نو خامخاموندلى به وودوى په هغه كښې اختلاف ډير) يعنى كه دغه قرآن لكه څرنګه چې مشركان اومنافقان ګومان كوي له ځانه جوړشوي واى نوستر اختلاف به يې پكښې ليدلي وي دهغه په اخبار، نظم اومعناګانو كښې به تناقض ووخوهدوداسى نه ده بلكه اخبارېې رښتيااونظم يې فصيح اومعناګانې يې محكم دي نوپدي دلالت كوي چې دحكيم حميدله لوري منزل دى ﴿ وَإِذَا جَآءَهُمۡ أَمۡرٞ مِّنَ

ٱلْأَمْنِ أَوِ ٱلْخَوْفِ أَذَاعُواْ بِهِۦ ﴾ اوكله چې راشي دي (منافقانوته كوم امرله امن يا له ويرې نومشهوروي دوئ هغه (خبر) يعنى كله چې منافقينوته دمؤمنانويوه خبره دبري اوغنيمت ترلاسه كولواويا هم دمصيبت اوناكامي ورسيږي هغه خوروي اوپخواله دى چې دحال حقيقت ورته څرګندشي يوله بله ږغيږي اودهغه خبرپه مشهورلو كښې دمسلمانانو لپاره زيان وي ﴿ وَلَوْ رَدُّوهُ إِلَى ٱلرَّسُولِ وَإِلَىٰٓ أُوْلِي ٱلْأَمْرِ مِنْهُمْ لَعَلِمَهُ ٱلَّذِينَ يَسْتَنۢبِطُونَهُۥ مِنْهُمْ ﴾ (اوكه دوى وررسولي (اوپريښي) وي داخبر(طرف) درسول الله (ص) ته او(طرف) دحاكمانوخپلوته له دوى نه نو خامخا معلوم به وي (تدبير) ددي كارهغوكسانوته چې ايستلى (اوبيلولى شي ښه له بدو) له دوى څينى) يعنى كه دغو كسانو خبررسول الله ﷺ اودا صحاب كرامو مشرانوته پري ايښي واى نوهغوئ به يې تدبيررا ايستلى اوتحقيق به يې شوى وو. ﴿ وَلَوْلَا فَضْلُ ٱللَّهِ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَتُهُۥ لَٱتَّبَعْتُمُ ٱلشَّيْطَٰنَ إِلَّا قَلِيلًا ﴾ اوكه نه واى فضل دالله پرتاسى اورحمت دده نوهرومرو به متابعت كړى ووتاسى دشيطان مګر(متابعت به نه ووكړى له تاسى څخه) لږوكسانو) يعنى اي مؤمنانوكه دالله ﷻ فضل په تاسى نه واي چې پيغمبريې درته رااستولى اوهغه رحمت يې نه واى چې قرآن كريم يې درته رانازل كړي نوتاسى به خامخادشيطان پيروي كړي وه هغه چې دفواحشوامربه يې درته كاووخولږكسان به دهغه له پيروي څخه پاتى ووبياوروسته الله پاک رسول خپل ته دجهادكولوحكم كوي وايې: (فَقَٰتِلْ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ لَا تُكَلَّفُ إِلَّا نَفْسَكَ ﴾ نوجنګ كوه ته په لاره دالله كښې (يواځي اي محمده) كه بل چادرسره ملګرتيانه كوله) نه يې مكلف كړل شوي مګرپه حق دځا ن خپل كښې) يعنى جګړه كوه ددين دترقي اواعلاء كلمة الله لپاره كه څه هم يوازي يې تاته دبرياليتوب وعده (زيري) دركړل شوي اودمنافقينوتخلف ته اعتبارمه وركوه ﴿ وَحَرِّضِ ٱلْمُؤْمِنِينَ ﴾او تېزوه مؤمنان (په جهاداوترغيبوه يې ! ﴿ عَسَى ٱللَّهُ أَن يَكُفَّ بَأْسَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ ﴾ (اونژدي ده چې الله بنده كړي (سختې د) جنګ دهغوكسانوچې كافران شوي دى) يعنى كله چې مؤمنان جهادته ترغيب كړى الله به دكفاروفجاروشرله تاسى څخه بندكړي (عسى) دالله په كلام كښې تحقيق افاده كوي همداسى وشو چې الله پاک په بدراودمكې دفتح په وخت كښې دكفاروله شرڅخه مسلمانان وژغورل اوكفاريې تارپه تاركړل ﴿ وَٱللَّهُ أَشَدُّ بَأْسًا وَأَشَدُّ تَنكِيلًا ﴾ اوالله ډيرسخت دى له جهته دهيبته دجنګ اوډيرسخت دى له جهته دعذاب وركولو ﴿ مَّن يَشْفَعْ شَفَٰعَةً حَسَنَةً يَكُن لَّهُۥ نَصِيبٌ مِّنْهَا ﴾ اوهرڅوک چې سپارښت وكړي سپارښت نيک (له شرعي سره سم)نووي به (دي سپارښت كونكي ته) يوه برخه (دثواب) په سبب دهغه سره ﴿ وَمَن يَشْفَعْ شَفَٰعَةً سَيِّئَةً يَكُن لَّهُۥ كِفْلٌ مِّنْهَا ﴾ اوهر څوک چې سپارښت وكړي سپارښت ناكاره (له شرعي خلاف نووي به (دې سپارښت كونكي ته يوبار(برخه دګناه په) سبب دهغه سره ﴿ وَكَانَ ٱللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ مُّقِيتًا ﴾ اودى الله په هرشي باندى قدرت لرونكي (نوجزابه وركړي هرچاته په خپل عمل سره) ﴿ وَإِذَا حُيِّيتُم بِتَحِيَّةٍ فَحَيُّواْ بِأَحْسَنَ

مِنۡهَآ أَوۡ رُدُّوهَآۗ ﴾ او هرکله چې سلام واچوي تاسو ته (کوم مسلمان) په يوه سلام دعاسره نو تاسی هم سلام دعاور کړئ په ښه سلام سره ترهغې نه او يا يې هغه ډول ور وګرځوئ ﴿إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٍ حَسِيبًا ﴾ بيشکه چې الله ﷻ دی پر هرشی باندی ښه حساب کونکی) بندګانو ته ددوی په لوي اوواړه عمل جزا ورکوي) ﴿ ٱللَّهُ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَۚ لَيَجۡمَعَنَّكُمۡ إِلَىٰ يَوۡمِ ٱلۡقِيَٰمَةِ لَا رَيۡبَ فِيهِۗ ﴾ (الله نشته هيڅ لائق دعبادت مګريوازی هم دی دی خامخا راجمع به کړي هرو مرو تاسي ورځي دقيامت ته چې نشته هيڅ شک په هغې کښې) دادالله ﷻ له لوري لوړه اوقسم دي چې دمعاد په ورځ به مخلوقات راټولوي هغه واحدالله چې له ده پرته بل معبودنشته تاسوبه له خپلوقبرونوراپاځوي اودحساب لپاره به مودقيامت په ورځ راغونډکړي چې نشته هيڅ شک (په دغې ورځې ياپه دې جمع کښی) چې اولين اوآخرين به دحساب اوجزا لپاره په يوه ميدان (ډګر) ودروي ﴿وَمَنۡ أَصۡدَقُ مِنَ ٱللَّهِ حَدِيثٗا ﴾ (اوڅوک دي ډير رښتونی له الله له جهته ددي خبرې (هيڅ څوک نشته) دلته لفظ داستفهام اومعنا يې نفی ده يعنی هيڅوک ترالله رب العالمين په وعده اوخبروکښې رښتينی نشته.

بلاغت:

پدې آيتونو کښې چې دفصاحت بيان اوبديع کومي ښکلاوي شته په لاندی ډول يې لنډيز ليکو:

۱- استعاره دالله ﷻ پدې قول چې: (يشرون الحياة الدنيا بالأخرة) يعنی پلوري فانی دنيا په تلپاتې (باقي) دنيا باندي دلته يې دشراء لفظ دبدلولو(مبادلې) لپاره راوړ چې پکښې باريکه استعاره راغلی ده.

۲-اعتراض پدې کلام کښې (كأن لم تكن بينكم و بينه مودّة) .

۳-مرسله مجمله تشبيه پدې قول کښې (يخشون الناس كخشية الله) .

۴-طباق چې د: (الأمن أو الخوف) په کلام کښی راغلی دی.

۵-اشتقاقی جناس لکه: (أصابتكم مصيبة) او(حييتم بتحية فحيوا) اوپه (يشفع شفاعة) اوپه (بيّت و يبيتون) کښې چې راغلی دی.

۶-هغه استفهام چې انکارځينی اراده شوي وي لکه (أفلا يتدبرون القرآن) .

۷- مقابله لکه پدې آيت شريف کښی چې فرمايي (الذين آمنوا يقاتلون في سبيل الله و الذين كفروا يقاتلون في سبيل الطاغوت) اوهمداسی (من يشفع شفاعة حسنة يكن له نصيب منها و من يشفع شفاعة سيئة يكن له كفل منها) اوداله بديعي محسناتوڅخه بولی چې دوه او،يازياتې معناګانی راوړل شي اوبيايې مقابل په ترتيب سره يادکړي.

تنبيه:

دالله ﷻ ددي قول چې فرمايي: (قل كل من عند الله) او(ما اصابك من سيئة فمن نفسك) ترمينځ يې هيڅ اختلاف اوتعارض نشته ځکه چې لومړي يې په حقيقت بناءدي چې خلق اوايجاد يې بولواودوهم قسم يې کسبي چې کسب يې دګناهونوپه وجه شوي وي لکه چې فرمايي (و ما أصابكم من مصيبة فيما كسبت أيديكم) اويامونږ.دا وايوچې دنيکي (حسنه) نسبت الله ﷻ ته او د(بدي (سيئة) نسبت بنده ته ددي

لپاره دي چې له الله سره په کلام کښې ادب وکړل شي که څه هم په حقيقت کي هرڅه د الله ﷻ له لوري دي لکه چې رسول الله ﷺ فرمايي: (الخير کله بيديک الشر ليس اليک) والله اعلم.

الله تعالی فرمايي:

﴿ فَمَا لَكُمْ فِي الْمُنَافِقِينَ فِئَتَيْنِ وَاللَّهُ أَرْكَسَهُم بِمَا كَسَبُوا ۚ أَتُرِيدُونَ أَن تَهْدُوا مَنْ أَضَلَّ اللَّهُ ۖ وَمَن يُضْلِلِ اللَّهُ فَلَن
تَجِدَ لَهُ سَبِيلًا (٨٨) وَدُّوا لَوْ تَكْفُرُونَ كَمَا كَفَرُوا فَتَكُونُونَ سَوَاءً ۖ فَلَا تَتَّخِذُوا مِنْهُمْ أَوْلِيَاءَ حَتَّىٰ يُهَاجِرُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ ۚ
فَإِن تَوَلَّوْا فَخُذُوهُمْ وَاقْتُلُوهُمْ حَيْثُ وَجَدتُّمُوهُمْ ۖ وَلَا تَتَّخِذُوا مِنْهُمْ وَلِيًّا وَلَا نَصِيرًا (٨٩) إِلَّا الَّذِينَ يَصِلُونَ إِلَىٰ قَوْمٍ
بَيْنَكُمْ وَبَيْنَهُم مِّيثَاقٌ أَوْ جَاءُوكُمْ حَصِرَتْ صُدُورُهُمْ أَن يُقَاتِلُوكُمْ أَوْ يُقَاتِلُوا قَوْمَهُمْ ۚ وَلَوْ شَاءَ اللَّهُ لَسَلَّطَهُمْ عَلَيْكُمْ
فَلَقَاتَلُوكُمْ ۚ فَإِنِ اعْتَزَلُوكُمْ فَلَمْ يُقَاتِلُوكُمْ وَأَلْقَوْا إِلَيْكُمُ السَّلَمَ فَمَا جَعَلَ اللَّهُ لَكُمْ عَلَيْهِمْ سَبِيلًا (٩٠) سَتَجِدُونَ آخَرِينَ
يُرِيدُونَ أَن يَأْمَنُوكُمْ وَيَأْمَنُوا قَوْمَهُمْ كُلَّ مَا رُدُّوا إِلَى الْفِتْنَةِ أُرْكِسُوا فِيهَا ۚ فَإِن لَّمْ يَعْتَزِلُوكُمْ وَيُلْقُوا إِلَيْكُمُ السَّلَمَ وَيَكُفُّوا
أَيْدِيَهُمْ فَخُذُوهُمْ وَاقْتُلُوهُمْ حَيْثُ ثَقِفْتُمُوهُمْ ۚ وَأُولَٰئِكُمْ جَعَلْنَا لَكُمْ عَلَيْهِمْ سُلْطَانًا مُّبِينًا (٩١) وَمَا كَانَ
لِمُؤْمِنٍ أَن يَقْتُلَ مُؤْمِنًا إِلَّا خَطَأً ۚ وَمَن قَتَلَ مُؤْمِنًا خَطَأً فَتَحْرِيرُ رَقَبَةٍ مُّؤْمِنَةٍ وَدِيَةٌ مُّسَلَّمَةٌ إِلَىٰ أَهْلِهِ إِلَّا
أَن يَصَّدَّقُوا ۚ فَإِن كَانَ مِن قَوْمٍ عَدُوٍّ لَّكُمْ وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَتَحْرِيرُ رَقَبَةٍ مُّؤْمِنَةٍ ۖ وَإِن كَانَ مِن قَوْمٍ
بَيْنَكُمْ وَبَيْنَهُم مِّيثَاقٌ فَدِيَةٌ مُّسَلَّمَةٌ إِلَىٰ أَهْلِهِ وَتَحْرِيرُ رَقَبَةٍ مُّؤْمِنَةٍ ۖ فَمَن لَّمْ يَجِدْ فَصِيَامُ
شَهْرَيْنِ مُتَتَابِعَيْنِ تَوْبَةً مِّنَ اللَّهِ ۗ وَكَانَ اللَّهُ عَلِيمًا حَكِيمًا (٩٢) وَمَن يَقْتُلْ مُؤْمِنًا مُّتَعَمِّدًا
فَجَزَاؤُهُ جَهَنَّمُ خَالِدًا فِيهَا وَغَضِبَ اللَّهُ عَلَيْهِ وَلَعَنَهُ وَأَعَدَّ لَهُ عَذَابًا عَظِيمًا (٩٣) يَا أَيُّهَا الَّذِينَ
آمَنُوا إِذَا ضَرَبْتُمْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ فَتَبَيَّنُوا وَلَا تَقُولُوا لِمَنْ أَلْقَىٰ إِلَيْكُمُ السَّلَامَ لَسْتَ مُؤْمِنًا تَبْتَغُونَ عَرَضَ
الْحَيَاةِ الدُّنْيَا فَعِندَ اللَّهِ مَغَانِمُ كَثِيرَةٌ ۚ كَذَٰلِكَ كُنتُم مِّن قَبْلُ فَمَنَّ اللَّهُ عَلَيْكُمْ فَتَبَيَّنُوا ۚ
إِنَّ اللَّهَ كَانَ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرًا (٩٤) لَّا يَسْتَوِي الْقَاعِدُونَ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ غَيْرُ أُولِي الضَّرَرِ وَالْمُجَاهِدُونَ فِي سَبِيلِ
اللَّهِ بِأَمْوَالِهِمْ وَأَنفُسِهِمْ ۚ فَضَّلَ اللَّهُ الْمُجَاهِدِينَ بِأَمْوَالِهِمْ وَأَنفُسِهِمْ عَلَى الْقَاعِدِينَ دَرَجَةً ۚ وَكُلًّا وَعَدَ اللَّهُ الْحُسْنَىٰ ۚ وَفَضَّلَ اللَّهُ
الْمُجَاهِدِينَ عَلَى الْقَاعِدِينَ أَجْرًا عَظِيمًا (٩٥) دَرَجَاتٍ مِّنْهُ وَمَغْفِرَةً وَرَحْمَةً ۚ وَكَانَ اللَّهُ غَفُورًا رَّحِيمًا (٩٦) ﴾

مناسبت او تړاو:

کله چې الله پاک د منافقينو شرميدلی دريزونه يادکړل ورپسې يې د هغوئ نور ناکاره او بد احوال راوړل او بيا يې د قتل خطا او قصدي قتل حکمونه بيان کړل او دا توصيه يې وکړه چې تر پخوا له وژلو يوچا بنه تثبت کول په کار دي ترڅو چېرې مسلمانان سړی ونه وژل شي وروسته بيا الله ﷻ د مجاهدينو ستري درجې او مرتبې بيانوي چې په آخرت کښې به هغوئ ته ورکول کيږي.

لغتونه:

(اركسهم) كفرته بې واړول (ركس) په اصل كښى ديوشي اپوته (مقلوب) اړولوته وايي (حصرت) په تنگ شول (السلم) غاړه ايښودل (ثقفتموهم) چې ورسره مخامخ شوي او ومو موندل (فثبتوا) معلومات وكړئ (اركسوا فيها) په هغه كښې اپوته غورځول شوي.

دنزول سبب:

الف – زيدبن ثابت ﷛ وايي چې نبى ﷺ دأحد غزاته ووت او ځينى كسان چې ورسره ووبيرته راستانه شول نودرسول الله ﷺ ملگري دهغوي په هكله دوه ډلې شووچاويل چې وژنوبه يې چاويل نه نوالله ﷻ داآيت نازل كړ: (فما لكم في المنافقين فنتين....) دا آيت ترپايه، نو رسول الله وفرمايل:(انهاطيبة تنفى الخبَث كماتنفى النارخبَث الحديد) .

اخرجه الشيخان .

ب – روايت كاوه شي چې (حارث بن يزيد) ..... چې كله داسلام راوړلو په نيت په هجرت راوتلى وونو(عياش بن ربيعه) ورسره مخامخ شوهغه يې وواژه (حارث) خوداسلام راوړلو اراده درلوده مگر(عياش) ورباندي خبرنه وونوالله ﷻ داآيت نازل كړ: (و ما كان لمؤمن أن يقتل مؤمناً إلا خطاء) دآيت ترپايه[1]

ج – ابن عباس ﷛ وايي چې يووخت مسلمانان دغنيمت لاس ته راوړلوپه وخت كښې له يوچاسره مخامخ شول هغه ورته وويل: السلام عليكم ! خوهغوئ نوموړي وواژه اوغنيمت يې ځينى واخيست نوداآيت نازل شو. (و لا تقولوا لمن ألقى اليكم السلام لست مؤمنا) دآيت ترپايه پورى.[2]

تفسير:

﴿ فَمَا لَكُمْ فِى ٱلْمُنَٰفِقِينَ فِئَتَيْنِ وَٱللَّهُ أَرْكَسَهُم بِمَا كَسَبُوٓا۟ ﴾ (نوڅه شوي دى تاسى ته په (معامله) دمنافقانو كښې چې دوه ډلى (شوي يې) اوالله بيرته گرځولى دى دوى (ردكړي يې دي كفرته) په سبب دهغواعمالوچې كړى دى دوى) چې هغه نفاق اوعصيان دي يعنى اي مؤمنانوولى تاسى دمنافقينوپه هكله دوه ډلې شوي يئ چې ځينى وايئ وژنويې ځيني وايئ نه يې وژنواوحال داچې دوى الله ﷻ كفرته ردكړى اوورگرځولى دى ﴿ أَتُرِيدُونَ أَن تَهْدُوا۟ مَنْ أَضَلَّ ٱللَّهُ ﴾ (آيااراده لرئ تاسى (اى مؤمنانو) ددي چې په سمه صافه لاره برابركړي هغه څوک چې الله گمراه كړي دي) استفهام دواړه ځايه دتوبيخ اوانكارلپاره دي معناداچې تاسوددوى په هكله اختلاف مه كوئ اومه هم په دوى باندي دخيرگومان كوئ څكه الله ﷻ ددوى په گمراهي حكم كړي دى ﴿ وَمَن يُضْلِلِ ٱللَّهُ فَلَن تَجِدَ لَهُۥ سَبِيلًا ﴾ اوهرڅوک چې گمراه (يې) كړى الله پس نه به مومي ده ته هيڅ لاره (دهدايت اوايمان) ﴿ وَدُّوا۟ لَوْ تَكْفُرُونَ كَمَا كَفَرُوا۟ فَتَكُونُونَ سَوَآءً ﴾ دوست گڼي دوى (غواړي دامرتدان دغه) كه تاسى (هم) كافران شئ لكه چې كافران شوي دى دوى

[1] اسباب النزول ص ۹۷.
[2] رواه البخاري

نوشئ به تاسی اودوی ګردسره برابر(په کفرکښې) ﴿ فَلَا تَتَّخِذُوا مِنْهُمْ أَوْلِيَآءَ حَتَّىٰ يُهَاجِرُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ ﴾ نو مه نیسئ تاسی هیڅوک له دوی نه دوستان ترڅوچې (دزړه ایمان راوړي) اوهجرت (هم) وکړئ په لاره دالله کښې (اوپه جهاد کولوسره دایمان اثبات وکړئ) ﴿ فَإِن تَوَلَّوْا فَخُذُوهُمْ وَاقْتُلُوهُمْ حَيْثُ وَجَدتُّمُوهُمْ ﴾ (نوکه وګرځېدل دوی (له هجرت کولوپه لاري دالله) نوونیسئ تاسي دوی (او بندیان یې کړئ) اوویې وژنئ تاسي دوی هرچېرته چې وموندل تاسي دوی) یعنی که په حل کښې وي اوکه په حرم کښې ﴿ وَلَا تَتَّخِذُوا مِنْهُمْ وَلِيًّا وَلَا نَصِيرًا ﴾ (اومه نیسئ تاسی (هیڅوک) له دوی څخه دوست اونه مددګار) یعنی تاسوله دوی څخه نصیحت اومرسته مه غواړئ که څه هم دوی ستاسو دوستي اومرستي کولوته چمتووي. ﴿ إِلَّا الَّذِينَ يَصِلُونَ ﴾ مګر(مه وژنئ اومه بندي کوئ) هغه کسان چې وتړي دوی ځانونه خپل (اوچې امان وروړي) ﴿ إِلَىٰ قَوْمٍ بَيْنَكُمْ وَبَيْنَهُم مِّيثَاقٌ ﴾ هغه قوم ته چې په مینځ ستاسي اومینځ ددوی کښې عهد پیمان وي) دوی هم دلته دهغوئ په حکم کښې دي یعنی وژل یې روانه دی ﴿ أَوْ جَآءُوكُمْ حَصِرَتْ صُدُورُهُمْ أَن يُقَٰتِلُوكُمْ أَوْ يُقَٰتِلُوا قَوْمَهُمْ ﴾ یاراشي دوی تاسی ته حال داچې تنګي شوي وي سینې (زړونه) ددوی (اوبدګني له دي نه) چې جنګ وکړي له تاسی سره (دخپل قوم په مرسته یاجنګ وکړي دوی له قوم خپل سره (ستاسی په مرسته) یعنی دوی هغه کسان دي چې نه له تاسوسره دي اونه ستاسی له دښمنانوسره ﴿ وَلَوْ شَآءَ اللَّهُ لَسَلَّطَهُمْ عَلَيْكُمْ فَلَقَٰتَلُوكُمْ ﴾ (اوکه اراده کړي وي الله نوخامخازوروکړي به یې وي دوی په تاسی نوهرومرو به جنګېدل له تاسی سره) یعنی دالله له لطف او احسان څخه داهم ده چې ددوی لاسونه یې له تاسو څخه لنډکړي اوکه اراده کړي وای الله نودوی ته به یې زړه ورکړي اوله تاسوسره به جنګېدلی وو ﴿ فَإِنِ اعْتَزَلُوكُمْ فَلَمْ يُقَٰتِلُوكُمْ وَأَلْقَوْا إِلَيْكُمُ السَّلَمَ فَمَا جَعَلَ اللَّهُ لَكُمْ عَلَيْهِمْ سَبِيلًا ﴾ (نوکه څنګ وکړي دوی له تاسی پس ونکړجنګ دوی له تاسی سره اودروړاندی کړه دوی تاسی ته روغه (اوامان وغواړي له تاسی نه) نونه دي ګرځولی الله تاسی ته پردوی هیڅ لاره (دنیولواووژلواومال اخیستلو) یعنی که دوی جنګ درسره نه کاووله تاسوڅخه یې غاړه نه غړوله سوله یې غوښتله نوتاسی نشئ کولای چې ورسره وجنګېږئ (روانه ده) ﴿ سَتَجِدُونَ ءَاخَرِينَ يُرِيدُونَ أَن يَأْمَنُوكُمْ وَيَأْمَنُوا قَوْمَهُمْ ﴾ ژربه وموم‌ئ تاسی یوبل قوم چې اراده به لري دوی ددي چې په امان شی له تاسی (هم) اوپه امان شي له خپله قومه (هم) یعنی دمنافقینویوه بله داسی ډله به ومومئ چې تاسوته به دایمان څرګندونه کوي ترڅو درڅخه په امن شي اوخپل ټبرته به بیا دکفرڅرګندونه کوي کله چې ورستانه شي ترڅوچې په امان شي له هغوئ نه هم ابوالسعودوایي چې : هغوئ (داسد اوغطفان) قوم ووکله چې به مدینې منورې ته راغلل ایمان به یې راووړاوتعهدبه یې وکړچې له مسلمانانوپه امن شی اوکله چې به خپل قوم ته ستانه شول بیرته به له دین څخه راوګرځېدل اوعهدونه به یې مات کړل ترڅوله خپل قوم څخه په امن شی)(۱)

---

(۱) دقصدي قاتل دحکم تفصیل په البحر۳ / ۳۲۲ – اومختصرابن کثیر۱ / ۴۲۲ کښې وګورئ.

﴿ كُلَّمَا رُدُّوٓا۟ إِلَى ٱلْفِتْنَةِ أُرْكِسُوا۟ فِيهَا ﴾ (هر كله چې وبلل شي دوى فتنې (فساد ، كفر) ته نو بيرته گرځاوه شي په فساد كښې) يعنى كله چې كفراو يا له مسلمانانو سره مقابلې او جنگ كولو ته وبلل شي نو ورته لبيك وايې او تر پخوا په بترشكل را پاڅيږي گواكې دا تر هر شرارت خوښونكي دښمن لا هم بد دي . ﴿ فَإِن لَّمْ يَعْتَزِلُوكُمْ وَيُلْقُوٓا۟ إِلَيْكُمُ ٱلسَّلَمَ وَيَكُفُّوٓا۟ أَيْدِيَهُمْ ﴾ بيا كه نه شول په څنگ دوى له تاسى نه او دروړاندې يې نه كړه تاسى ته روغه (دامان غوښتنه) او بندې نه كړل لاسونه خپل (له جنگه) ﴿ فَخُذُوهُمْ وَٱقْتُلُوهُمْ حَيْثُ ثَقِفْتُمُوهُمْ ﴾ نو نيسئ تاسي دوى (او بندي كوئ يې) او وژنئ يې تاسى دوى په هر ځاى كښې چې وموموئ تاسى دوى ؛ ﴿ وَأُو۟لَـٰٓئِكُمْ جَعَلْنَا لَكُمْ عَلَيْهِمْ سُلْطَـٰنًا مُّبِينًا ﴾ (دا تولى گرځولى دى مونږ تاسي له پر دوى باندې برهان (دليل) ښكاره) يعنى د دوى د غدر او خيانت په سبب مونږ تاسو ته د دوى په نيولو او وژلو څرگند دليل دركړي دى ﴿ وَمَا كَانَ لِمُؤْمِنٍ أَن يَقْتُلَ مُؤْمِنًا إِلَّا خَطَـًٔا ﴾ او نه ښايې هيڅ مؤمن ته دا چې مړ كړي (بل) مؤمن مگر په خطا سره ځكه چې ايمان يې عدوان او قتل ته اجازه نه وركوي ﴿ وَمَن قَتَلَ مُؤْمِنًا خَطَـًٔا فَتَحْرِيرُ رَقَبَةٍ مُّؤْمِنَةٍ وَدِيَةٌ مُّسَلَّمَةٌ إِلَىٰٓ أَهْلِهِۦٓ إِلَّآ أَن يَصَّدَّقُوا۟ ﴾ (او هر څوك چې مړ كړي كوم مؤمن په خطا سره نو (شته پر قاتل) ازادول د غاړې (د مريې) مؤمن او (بل) ديت دي سپارلى شوي اهل د وارثانو) د مقتول ته مگر دا كه معاف كړي دا (وارثان د غه قاتل) يعنى څوك چې په خطا بل مؤمن ووژني نو هغه به مؤمن مريي آزادوي ځكه آزادول د مريي لكه د مړي ژوندي كول غوندې دى او وارثانو د مقتول ته به ديت هم وركوي خو مگر كه چېرې يې وارثان قاتل وبښي نو بيا ديت نشته ، شارع په خطايي قتل كښې دوه شيان واجب كړل چې يو د غاړې آزادول هغه هم د مؤمن مريې چې دا به د قاتل له مال څخه آزادوي دوهم ديت دي چې هغه سل اوښان (د وينې بدله) به يې خپلوان د مقتول وارثانو ته وركوي ﴿ فَإِن كَانَ مِن قَوْمٍ عَدُوٍّ لَّكُمْ وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَتَحْرِيرُ رَقَبَةٍ مُّؤْمِنَةٍ ﴾ پس كه وو (دا مقتول) له هسى) قومه چې دښمن وي تاسى ته (كافران وي) حال دا چې دا (مقتول) مؤمن وي نو (شته پر قاتل) آزادول د غاړي (د مريې) مؤمن (بى له ديته) تر څو چې دوى د ديت په مال باندى په مسلمانانو قوت ونه مومي ﴿ وَإِن كَانَ مِن قَوْمٍۭ بَيْنَكُمْ وَبَيْنَهُم مِّيثَـٰقٌ فَدِيَةٌ مُّسَلَّمَةٌ إِلَىٰٓ أَهْلِهِۦ وَتَحْرِيرُ رَقَبَةٍ مُّؤْمِنَةٍ ﴾ (او كه وو دا مقتول له (هسى) قومه چې په مينځ ستاسى او مينځ د هغه قوم كښې عهد وي نو (شته پر قاتل يو) ديت ور سپارل شوي اهل د (وارثانو) د مقتول ته او (بل) آزادول د غاړي د (مريې) مؤمن دي) دغه ديت يې ځكه وارثانو ته وركول كيږي چې له نوموړي قوم سره معاهده شوي ده ﴿ فَمَن لَّمْ يَجِدْ فَصِيَامُ شَهْرَيْنِ مُتَتَابِعَيْنِ تَوْبَةً مِّنَ ٱللَّهِ ﴾ پس هر څوك كه ونه مومي (مريې يا مال چې ور باندى مريي واخلى) نو (پرې) روژه نيول د دوو مياشتو دي پر له پسى (بلا انقطاع لپاره د قبلولو د) توبې له (جانبه) د الله ﴿ وَكَانَ ٱللَّهُ عَلِيمًا حَكِيمًا ﴾ او دي الله ښه عالم (په ټولو مخلوقاتو لوي حكمت

والا په هغه څه کښې چې شريعت يې تاکي وروسته الله د قصدي قتل حکم او د دغه خوراناوره ګناه سخته سزا داسې بيانوي چې: ﴿ وَمَن يَقْتُلْ مُؤْمِنًا مُّتَعَمِّدًا فَجَزَآؤُهُۥ جَهَنَّمُ خَٰلِدًا فِيهَا ﴾ او هرڅوک چې مړکړي کوم مؤمن په قصد سره نو جزا دده دوزخ دي (په داسې حال کښې) چې تل به وي دي په هغه (دوزخ) کښې يعنې څوک چې يو مسلمان پداسې حال کښې ووژني چې په ايمان يې علم او پوهه لري او وژل يې هم په عمدا او قصدي توګه وي هغه به تل په دوزخ کښې وي او دا د جمهورو علماوو په نزد د هغه چا لپاره دي چې د مسلمان د غه قتل روا هم وګڼي لکه چې ابن عباس ﷺ ويلي ځکه نو هغه د حرام په حلال ګڼلو کافر ګرزي ﴿ وَغَضِبَ ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَلَعَنَهُۥ وَأَعَدَّ لَهُۥ عَذَابًا عَظِيمًا ﴾ او غضب (قهر) کړي دي الله په ده باندې او ليرې کړي دي الله) دا (قاتل) له خپل رحمت څخه) او تيار کړي يې دي ده ته عذاب ډيرلوي ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِذَا ضَرَبْتُمْ فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ فَتَبَيَّنُواْ ﴾ (اى هغو کسانو چې ايمان يې راوړي دی (اى مؤمنانو) کله چې سفر کوئ تاسې په لاره د الله کښې (جهادته) نو ښه تحقيق وکړئ) (چې مؤمن او کافر سره وپيژنئ ؛ دوژلو په کار کښې تلوار مه کوئ ﴿ وَلَا تَقُولُواْ لِمَنْ أَلْقَىٰٓ إِلَيْكُمُ ٱلسَّلَٰمَ لَسْتَ مُؤْمِنًا ﴾ او مه وايئ تاسې هغه چاته چې تاسې ته سلام دراچوي چې ته مؤمن نه يې او دغه اسلامي تحيه دي د قتل له ويرې پرځاي کړه ! او بيا يې ووژنئ ﴿ تَبْتَغُونَ عَرَضَ ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا ﴾ (غواړئ تاسې حال (اسباب) د دي دنيوي ژوند (خسيس) يعنې تاسو د هغه د مال چې د دنيا ژر فنا کيدونکي متاع ده تمه لرئ ﴿ فَعِندَ ٱللَّهِ مَغَانِمُ كَثِيرَةٌ ﴾ (او که واقعي غنيمت غواړئ) پس دى له الله څخه ډير غنيمتونه) يعنې هغه څه چې په نزد د الله له ډيرثواب او لوي اجر څخه ستاسو لپاره تيار دي تردي خوراډير ښه دي ﴿ كَذَٰلِكَ كُنتُم مِّن قَبْلُ فَمَنَّ ٱللَّهُ عَلَيْكُمْ فَتَبَيَّنُوٓاْ ﴾ (همداسې وئ تاسې (هم چې يوازې د اسلام په اظهار سره مأمون شوي وئ) پخواله دي نو فضل وکړ الله په تاسو نو ښه تحقيق کوئ (او هيچاته تش په شبه ضرر مه رسوئ) يعنې تاسو هم همداډول کفار وئ او الله په تاسو د ايمان راوړلو نعمت او احسان وکړ نو ښه تحقيق کوئ چې مسلمان ونه وژنئ او ددوی حال له خپل حال سره پرتله کړئ ﴿ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرًا) بيشکه الله دي په هغه څه چې تاسې يې کوئ ښه خبردار (نو پرې جزا در کوي) بيا الله تعالى د مجاهدينو فضيلت بيانوي ﴿ لَّا يَسْتَوِى ٱلْقَٰعِدُونَ مِنَ ٱلْمُؤْمِنِينَ غَيْرُ أُوْلِى ٱلضَّرَرِ وَٱلْمُجَٰهِدُونَ فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ بِأَمْوَٰلِهِمْ وَأَنفُسِهِمْ ﴾ نه دي برابر کښيناستونکي (په کور کښې) له مؤمنانو نه (له جهاده) بې له خاوندانو د عذره او جهاد کونکي په لاره د الله کښې (د دين د ترقي لپاره) په (لګولو) د مالونو خپلو سره او په (ځارولو) د ځانونو خپلو سره ابن عباس ﷺ وايي چې دا هغه کسان په ګوته کوي چې څوک بدرته وتلې او څوک په کورونو کښې ناست او نه وو تللی کله چې دا آيت نازل شو نو ابن أم مکتوم را ولاړ شو او يې ويل: يارسول الله زما لپاره اجازه شته؟ زما دي په الله ﷺ سوګند او لوړه وي که ما د جهاد کولو توان درلودي ځان به مي نه وو سپمولي (هغه ړوند وو) نو الله ﷺ دا قيد ﴿ غَيْرُ أُوْلِى

ٱلضَّرَرِ ﴾ نازل کړ ﴿ فَضَّلَ ٱللَّهُ ٱلْمُجَٰهِدِينَ بِأَمْوَٰلِهِمْ وَأَنفُسِهِمْ عَلَى ٱلْقَٰعِدِينَ دَرَجَةً ﴾ فضیلت ورکړي دی الله ﷻ جهادکونکوته په (لګولو) دمالونو خپلو سره اوپه (ځارولو) دځانونوخپلوسره په کښېناستونکو باندي (له معذرته) په درجه کښي په نیت کښي تول برابردی یوله بله توپیرنه لری لکه چې رسول الله ﷺ فرمایي: بیشکه په مدینه کښي داسی خلګ شته چې تاسی هرچېري ځئ اوپه هره شیله اووادي تېرېږئ دوی درسره دي. اصحابانو رضوان الله علیهم ورته وویل یارسول الله ﷺ دوی په مدینه کښې دي ؟ ! رسول الله ﷺ وفرمایل هو عذر بند کړی دی (۱) ﴿ وَكُلًّا وَعَدَ ٱللَّهُ ٱلْحُسْنَىٰ ﴾ اوله ټولوسره (که مجاهدوي اوکه معذورناست) وعده کړي ده الله دښې جزاء (دجنت په آخرت کښې) ﴿ وَفَضَّلَ ٱللَّهُ ٱلْمُجَٰهِدِينَ عَلَى ٱلْقَٰعِدِينَ أَجْرًا عَظِيمًا ﴾ اوفضیلت ورکړي دی الله جهادکونکو ته پرکښېناستونکو(بې معذرته) په اجرډېرلوي سره ﴿ دَرَجَٰتٍ مِّنْهُ وَمَغْفِرَةً وَرَحْمَةً ﴾ چې مرتبې دي له جانبه د(الله) اومغفرت دي اورحمت دی ﴿ وَكَانَ ٱللَّهُ غَفُورًا رَّحِيمًا ﴾ اوالله دي ښه بخښونکي دګناهونوډېررحم والادي (په انعام داجراوثواب سره) په حدیث شریف کښې راغلي چې په جنت کښې سل درجې الله دفی سبیل الله مجاهدینولپاره تیارې کړي دی چې دهردوودرجو(مرتبو) ترمابین دومره واټن اومسافه ده لکه دآسمان اوځمکې ترمینځ(۲)

بلاغت:

پدې آیتونو کښې چې دبلاغت، بدیع اوبیان کومې ښکلاوې شته لنډیزیې په لاندي ډول دی.

۱-استفهام چې دانکارپه معنادي لکه: (فما لکم في المنافقین) ؟او(أتریدون أن تهدوا)) ؟ .

۲-دطباق صنعت لکه: (أن تهدوا من أضل الله) اوهمدارنګه (القاعدون...والمجاهدون) ترمینځ

۳-مغایرجناس لکه (تکفرون کما کفروا) اوهمدا راز په (مغفرة...غفورا) کښې.

۴-اطناب پدي کلام کښې چې (فضل الله المجاهدین بأموالهم و أنفسهم ... و فضل الله المجاهدین على القاعدین) اوهمدا راز په (أن یقتل مؤمناً إلا خطاء) او(من قتل مؤمناً خطاء) کښې.

۵-استعاره کله چې فرمایي: (إذا ضربتم في سبیل الله) دلته وهل ددښمنانودقتال لپاره اوسبیل الله دالله ددین لپاره استعاره شوي دي.

۶-مرسل مجازلکه: (فتحریر رقبة) چې جزء راوړل شوی اومرادځینی کل دي یعنی مملوک مریی.

ګټي اوفائدې:

قصدي وژل (قتل عمد) په اسلام کښې له خوراستروګناهونواوجرمونوڅخه ګڼل کیږي ځکه یې نوسزاهم هغومره سخته اوناوړه ده رسول الله ﷺ فرمایي: (من أعان على قتل مسلم مؤمن بشطر کلمة جآء یوم القیامة مکتوب بین عینیه آیئس من رحمة الله) (۳) یعنی که یوڅوک دمؤمن مسلمان دوژلولپاره له

(۱) رواه البخاري
(۲) اخرجه النسائي .
(۳) اخرجه ابن ماجه .

قاتل سره ديوې كوچنۍ خبرې مرسته هم وكړي دقيامت په ورځ به هسې راپاڅي چې په تندي به يې ليكلي وي (داسړی) دالله له رحمت څخه نااهيلی دي اوهمدارنګه په حديث شريف كښې راغي چې ددنياورانيدل دالله په نزد دمسلمان تروژلوآسانه دي (۱) څكه نوابن عباس ﷺ دقاتل دتوبې دنه قبليدلو فتوى وركړي دي. (اعاذنا الله من ذلك) .

تنبيه: . .

الله ﷻ دقتل خطاء په وخت كښې دمسلمان مريي آزادول حكم كړي دی او حكمت پكښې دادی چې څرنګه هغه يو مسلمان مؤمن دوژلو په سبب له مسلمانانو څخه بيل كړي دي نوورباندي لازم دي چې دهغه په شان يو بل څوك دا حرارو آزادو مسلمانانو تولنې ته دننه كړي څكه آزادول لكه دمړي ژوندي كول داسې دي . هودمريي بنده لپاره په اسلام كښې دومره حقوق شته چې په نورو ملتونو او دينونو كښې دانسانانو لپاره هم نشته اوپدي خبره باندې دالله ﷻ تردي قول چې فرمايي: ﴿ فَمَا ٱلَّذِينَ فُضِّلُوا۟ بِرَآدِّى رِزْقِهِمْ عَلَىٰ مَا مَلَكَتْ أَيْمَـٰنُهُمْ فَهُمْ فِيهِ سَوَآءٌ ۚ أَفَبِنِعْمَةِ ٱللَّهِ يَجْحَدُونَ ﴾[النحل: ۷۱] بل ستر او ښه دليل نشته او داچې رسول الله ﷺ دمړينې په رنځ اوناروغۍ كښې وصيت كوي فرمايي: (الصلوة الصلوة وماملكت أيمانكم لاتكلفوهم مالايطيقون) يعنی دلمانځه دلمانځه اهتمام كوئ او هغه څوك چې ستاسی مريونه دي هغوئ ته داسې پاملرنه كوئ چې داسې كارمه ورسپارئ چې له عهدې يې وتلای نشي داټول دهمدې خلګو دحقوقو څرګندونه كوي كه موږ په امريكا كښې له تور پوستو سره معامله وڅيړو نوزموږ ددعوی سموالی اوربښتنولی به له ورايه څرګنده شي . همدا لويديزملتونه دي چې مريتوب روا نه ګڼي خودوی اصيل خلګ مريان كوي دوی دافرادو (استرقاق) مريتوب غندي خوپخپله نوری ټولنې په بشپړه توګه مريتوب ته راكاږي دوی دغه كار د استعمارپه بڼه ترسره كوي نودغه خيالی مدنيت اوناچله ترقی اودموكراسي هيڅكله هم داسلام هغه ربښتونې مدنيت ،ترقی اوآزادي ته چې ټولنو ، ملتونو اوافرادوته يې وربښلی رسيدلای نشي !

الله تعالی فرمايي:

﴿ إِنَّ ٱلَّذِينَ تَوَفَّىٰهُمُ ٱلْمَلَـٰٓئِكَةُ ظَالِمِىٓ أَنفُسِهِمْ قَالُوا۟ فِيمَ كُنتُمْ ۖ قَالُوا۟ كُنَّا مُسْتَضْعَفِينَ فِى ٱلْأَرْضِ ۚ قَالُوٓا۟ أَلَمْ تَكُنْ أَرْضُ ٱللَّهِ وَٰسِعَةً
فَتُهَاجِرُوا۟ فِيهَا ۚ فَأُو۟لَـٰٓئِكَ مَأْوَىٰهُمْ جَهَنَّمُ ۖ وَسَآءَتْ مَصِيرًا ﴿٩٧﴾ إِلَّا ٱلْمُسْتَضْعَفِينَ مِنَ ٱلرِّجَالِ وَٱلنِّسَآءِ وَٱلْوِلْدَٰنِ لَا يَسْتَطِيعُونَ حِيلَةً
وَلَا يَهْتَدُونَ سَبِيلًا ﴿٩٨﴾ فَأُو۟لَـٰٓئِكَ عَسَى ٱللَّهُ أَن يَعْفُوَ عَنْهُمْ ۚ وَكَانَ ٱللَّهُ عَفُوًّا غَفُورًا ﴿٩٩﴾ ۞ وَمَن يُهَاجِرْ فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ يَجِدْ فِى
ٱلْأَرْضِ مُرَٰغَمًا كَثِيرًا وَسَعَةً ۚ وَمَن يَخْرُجْ مِنۢ بَيْتِهِۦ مُهَاجِرًا إِلَى ٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ ثُمَّ يُدْرِكْهُ ٱلْمَوْتُ فَقَدْ وَقَعَ أَجْرُهُۥ عَلَى ٱللَّهِ ۗ وَكَانَ ٱللَّهُ غَفُورًا
رَّحِيمًا ﴿١٠٠﴾ وَإِذَا ضَرَبْتُمْ فِى ٱلْأَرْضِ فَلَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ أَن تَقْصُرُوا۟ مِنَ ٱلصَّلَوٰةِ إِنْ خِفْتُمْ أَن يَفْتِنَكُمُ ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓا۟ ۚ إِنَّ ٱلْكَـٰفِرِينَ كَانُوا۟
لَكُمْ عَدُوًّا مُّبِينًا ﴿١٠١﴾ وَإِذَا كُنتَ فِيهِمْ فَأَقَمْتَ لَهُمُ ٱلصَّلَوٰةَ فَلْتَقُمْ طَآئِفَةٌ مِّنْهُم مَّعَكَ وَلْيَأْخُذُوٓا۟ أَسْلِحَتَهُمْ فَإِذَا

---

(۱) اخرجه البيهقی

سَجَدُوا فَلْيَكُونُوا مِن وَرَآئِكُمْ وَلْتَأْتِ طَآئِفَةٌ أُخْرَىٰ لَمْ يُصَلُّوا فَلْيُصَلُّوا مَعَكَ وَلْيَأْخُذُوا حِذْرَهُمْ
وَأَسْلِحَتَهُمْ وَدَّ الَّذِينَ كَفَرُوا لَوْ تَغْفُلُونَ عَنْ أَسْلِحَتِكُمْ وَأَمْتِعَتِكُمْ فَيَمِيلُونَ عَلَيْكُم مَّيْلَةً وَاحِدَةً وَلَا جُنَاحَ
عَلَيْكُمْ إِن كَانَ بِكُمْ أَذًى مِّن مَّطَرٍ أَوْ كُنتُم مَّرْضَىٰ أَن تَضَعُوا أَسْلِحَتَكُمْ وَخُذُوا حِذْرَكُمْ إِنَّ اللَّهَ أَعَدَّ
لِلْكَافِرِينَ عَذَابًا مُّهِينًا (١٠٢) فَإِذَا قَضَيْتُمُ الصَّلَوٰةَ فَاذْكُرُوا اللَّهَ قِيَامًا وَقُعُودًا وَعَلَىٰ جُنُوبِكُمْ فَإِذَا اطْمَأْنَنتُمْ
فَأَقِيمُوا الصَّلَوٰةَ إِنَّ الصَّلَوٰةَ كَانَتْ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ كِتَابًا مَّوْقُوتًا (١٠٣) وَلَا تَهِنُوا فِي ابْتِغَاءِ الْقَوْمِ إِن تَكُونُوا تَأْلَمُونَ
فَإِنَّهُمْ يَأْلَمُونَ كَمَا تَأْلَمُونَ وَتَرْجُونَ مِنَ اللَّهِ مَا لَا يَرْجُونَ وَكَانَ اللَّهُ عَلِيمًا حَكِيمًا (١٠٤) إِنَّا أَنزَلْنَا إِلَيْكَ الْكِتَابَ
بِالْحَقِّ لِتَحْكُمَ بَيْنَ النَّاسِ بِمَا أَرَاكَ اللَّهُ وَلَا تَكُن لِّلْخَائِنِينَ خَصِيمًا (١٠٥) وَاسْتَغْفِرِ اللَّهَ إِنَّ اللَّهَ كَانَ غَفُورًا رَّحِيمًا
(١٠٦) وَلَا تُجَادِلْ عَنِ الَّذِينَ يَخْتَانُونَ أَنفُسَهُمْ إِنَّ اللَّهَ لَا يُحِبُّ مَن كَانَ خَوَّانًا أَثِيمًا (١٠٧) يَسْتَخْفُونَ مِنَ النَّاسِ
وَلَا يَسْتَخْفُونَ مِنَ اللَّهِ وَهُوَ مَعَهُمْ إِذْ يُبَيِّتُونَ مَا لَا يَرْضَىٰ مِنَ الْقَوْلِ وَكَانَ اللَّهُ بِمَا يَعْمَلُونَ مُحِيطًا (١٠٨) هَا أَنتُمْ هَٰؤُلَاءِ
جَادَلْتُمْ عَنْهُمْ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا فَمَن يُجَادِلُ اللَّهَ عَنْهُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ أَم مَّن يَكُونُ عَلَيْهِمْ وَكِيلًا (١٠٩) وَمَن
يَعْمَلْ سُوءًا أَوْ يَظْلِمْ نَفْسَهُ ثُمَّ يَسْتَغْفِرِ اللَّهَ يَجِدِ اللَّهَ غَفُورًا رَّحِيمًا (١١٠) وَمَن يَكْسِبْ إِثْمًا فَإِنَّمَا يَكْسِبُهُ عَلَىٰ نَفْسِهِ
وَكَانَ اللَّهُ عَلِيمًا حَكِيمًا (١١١) وَمَن يَكْسِبْ خَطِيئَةً أَوْ إِثْمًا ثُمَّ يَرْمِ بِهِ بَرِيئًا فَقَدِ احْتَمَلَ بُهْتَانًا وَإِثْمًا مُّبِينًا (١١٢) وَلَوْلَا
فَضْلُ اللَّهِ عَلَيْكَ وَرَحْمَتُهُ لَهَمَّت طَّائِفَةٌ مِّنْهُمْ أَن يُضِلُّوكَ وَمَا يُضِلُّونَ إِلَّا أَنفُسَهُمْ وَمَا يَضُرُّونَكَ مِن شَيْءٍ
وَأَنزَلَ اللَّهُ عَلَيْكَ الْكِتَابَ وَالْحِكْمَةَ وَعَلَّمَكَ مَا لَمْ تَكُن تَعْلَمُ وَكَانَ فَضْلُ اللَّهِ عَلَيْكَ عَظِيمًا (١١٣)

النساء: ٩٧ - ١١٣

مناسبت اوتړاو:

كله چي الله تعالى دربښتوني پاكيزه مجاهدينوثواب بيان كړ وروسته يې له جهادڅخه دپاتې كيدونكو(متخلفينو) عذاب راووړهغه چي دكفرپه هيوادكښې هستوګنه غوره كوي ، وروسته يې دهجرت په هكله دمسلمانانوهڅونه اوترغيب بيان كړ، څرنګه چي هجرت اوجهاداسې عبادتونه دي چي دهغوئ په ترڅ كښې خوف اوويره پيداكيدله نو الله ﷻ دمسافراوخوف لمونځونه راوړل اوتردي وروسته يې هغه نادراو ښايسته مثال چي په تاريخ كښې يې ساري نشته دعدالت اونياودپلې كيدلوبيان كړ كوم چي يوچايهودي دغلاپه تورنيولي اوپه چل اودوكه يې ورته لومه ايښې وه خوداسلامي عدالت په سيوري كښې دهغه دبرائت فرمان صادراواصلي مجرمين يې رسول الله ته الله تعالى وروپيژندل چي په مدينه منوره كښې ديوې انصارې كورنۍ غړي وو.

لغتونه : (مراغما) تګلاره له رغام څخه مشتق اوهغه خاورې ته وايې ابن قتيبة ويلي چي مراغم اومهاجردواړه يو دي اصل يې داده كله چي به يوڅوك مسلمان شواودهجرت كولونيت به يې وكړنوخپلوان به يې په قهراومراغم كړل نودده تګلارې ته مراغم اودرسول الله ﷺ لورې ته تلل يې هجرت

وبلل شو[۱] (سعة) په رزق کښې پراخوالى (تقصروا) قصرنقص ته وايې لکه چي دوئ وايې لمونځ يې قصرکړيعنى څلوررکعته يې دوه وګوذارل ابوعبيدوايې چي پدى کښې درې لغتونه شته يوداچي ووايې (قصرتُ الصلوة) بل (قصرتها)په شدسره اودريم (أقصرتها) (تغفلون) تاسوغافل شئ غفلت سهوي اوناپوهې ته وايې (موقوتا) په وخت کښې محدود(دننه)چي وتل يې روانه وي (لاتهنوا) مه کمزوري کيږئ (خصيما) دمخاصم په معنايعنى منازع اومدافع (خوانا) په خيانت کښې مبالغې ته وايې.

دنزول سبب :

أ – ابن عباس ﷺ وايې چي په مکه مکرمه کښې څه مسلمانان ووچي له کفاروڅخه يې اسلام پټ ساتوخومشرکينودبدرپه ورځ له ځانه سره راوستل اوهغه ووچي څوکسان يې ووژل شول نومسلمانانو وويل همدازمونږملګري مسلمانان وواوپه زوره راوستل شوي دي نوداآيت نازل شو: (ان الذين توفاهم الملائکة ظالمي انفسهم ....) (۲) دآيت ترپايه.

ب – ضمرة بن القيس په مکه مکرمة کښې له مستضعفينوڅخه اوناروغ ووکله چي يې هغه آيتونه واوريدل چي دهجرت دفضيلت په باب رانازل شوي وونويې زامنوته وويل ما(په کټ) واخلئ زه ځان له مستضعفينو څخه نه ګڼم ماته لاره معلومه ده زمادي په الله سوګندوي که نن شپه لاپه مکه کښې تېره کړم نوهغوئ په کټ واخيست اوله مکې مکرمې څخه يې ويوست اودتنعيم سره وفات شوالله ﷻ داآيت يې په هکله نازل کړ: (ومن يخرج من بيته مهاجرا الى الله ورسوله ثم يدرکه الموت فقدوقع اجره على الله)(۳)

ج – روايت کيږي چي له انصاروڅخه يوتن چي (طعمة بن ابيرق) نوميده دبني ظفرله ټبرڅخه ووخپل ګاونډي (قتادة بن نعمان) څخه يې يوه زغره داوړوپه بوړۍ کښې غلاکړه اوهغه بوړۍ سورى درلود اوړه ځينى توئيدل نود(زيدبن السمين) يهودي کره يې خوندي کړه اوکله چي زغره يې د(طعمه) په کورکښې ولټله پيدايې نکړه اوهغه قسم وخوړچي زغره يې نه اخيستى اونه وربانديې علم لرى نوهغه يې پريښود اوداوړو په کرښه راروان شول ترڅوچي ديهودي کورته راورسيدل اوزغره يې ځينى راوايستله هغه ورته وويل چي ماته (طعمه) راکړي ده اوڅوتنويهودانوهم دغسي شاهدي اداکړه اودبنى ظفرقوم وويل چي راځئ رسول الله ﷺ ته ولاړشواوهلته يې دخپل سړي دبرائت شاهدي ورکړه اويهودي يې دغلاپه تورونيو نورسول الله ﷺ يې هم خبره ومنله چي داآيت نازل شو: (انا انزلنا اليک الکتاب بالحق لتحکم بين الناس بما اراک الله ...) دآيت ترپايه او(طعمه) مکې ته وتښتيد اوهلته يې ديوکورديوال سوري کاووچي غلاځينى وکړى خوديوال وربانډى ونړيد اوهلته مړشو.[۳]

تفسير:

﴿ إِنَّ ٱلَّذِينَ تَوَفَّىٰهُمُ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ ظَالِمِيٓ أَنفُسِهِمۡ قَالُواْ فِيمَ كُنتُمۡۖ قَالُواْ كُنَّا مُسۡتَضۡعَفِينَ فِي ٱلۡأَرۡضِۚ ﴾ (بيشکه هغه کسان چي وفات کړى وى دوئ لره ملائکو(دمرګ) پداسى حال کښې چي وي دوئ ظلم کونکي په ځانونوخپلووايې ورته (ملائکې) په کوم حال کښې وئ تاسى ؟(پخپلودينى چاروکښې) وايې دوئ چي وومونږضعيفان کړى شوي په ځمکه کښې) يعنى هغه کسان چي پخپلوځانونويې پدى ظلم کړي چي دشرک په ټاټوبى کښې اوسيدل اودهجرت وطن ته نه ووليږديدلى کله چي پرښتې دغه سوال دتوبيخ

۱- تفسيرغريب القرآن ص۱۳۴ ۲- القرطبى ۵/ ۳۲۰ ۳- مختصرابن کثير۱/ ۴۲۷

اوتقريع په ډول ځيني وپوښتني نودوئ به عذرونه راندی کړي چي مونږ په مکه کښي عاجزان وونه موشواى
کولاي ديني احکام پرځاى راوړو ﴿ قَالُوٓاْ أَلَمْ تَكُنْ أَرْضُ ٱللَّهِ وَٰسِعَةً فَتُهَاجِرُواْ فِيهَا ﴾ (ملائکې ورته وايې چي
آيانه وه ځمکه دالله ارته پس هجرت کړي واى تاسي پدي (ځمکه) کښي ؟) يعنی ملائکې دتوبيخ
اوترټني په ډول ورته وايې چي آيا دالله ځمکه پراخه نه وه چي له دارکفر نه موهجرت کړي واى داسی ځاى
ته چي هلته موکولاي شواى دخپل دين په شعائروازادوکولوکښي آزادواى لکه چي دمدينې منورې
اوحبشې مهاجرينووکړاى شول ؟ وروسته الله ددوئ جزاء هسی بيانوي ﴿ فَأُوْلَٰٓئِكَ مَأْوَىٰهُمْ جَهَنَّمُ وَسَآءَتْ
مَصِيرًا ﴾ نودا(تارکين دهجرت) ځاى ددوئ دوزخ دی اوناکاره ځاى دورتلودی (دادوزخ) بيا الله تعالی؛
کمزوری اوله هجرت څخه عاجزان ځنی مستثنی کړل چي: ﴿ إِلَّا ٱلْمُسْتَضْعَفِينَ مِنَ ٱلرِّجَالِ وَٱلنِّسَآءِ وَٱلْوِلْدَٰنِ
لَا يَسْتَطِيعُونَ حِيلَةً وَلَا يَهْتَدُونَ سَبِيلًا ﴾ مگر(نه به عذابيږي) هغه چي په رښتيا سره ضعيفان دی له نارينه
وواوله ښځواوله هلکانوچي نه توانيږي او(نلري) هيڅ حيله (تدبير) اونه پيژني دوئ لاره دتللو(له
دارحرب نه) ﴿ فَأُوْلَٰٓئِكَ عَسَى ٱللَّهُ أَن يَعْفُوَ عَنْهُمْ ﴾ پس داعاجزان (چي دي) ښايې چي الله عفووکړي له
گناهونو ددوئ نه ځکه دوئ خو هجرت پخپل اختيارنه دی پری ايښي ﴿ وَكَانَ ٱللَّهُ عَفُوًّا غَفُورًا ﴾ اودي الله
ښه عفوکونکي (دمعذورانو) ښه بښونکي ددوئ عسی دالله ﷻ په کلام کښي تحقيق افاده کوي ﴿ وَمَن
يُهَاجِرْ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ يَجِدْ فِي ٱلْأَرْضِ مُرَٰغَمًا كَثِيرًا وَسَعَةً ﴾ اوهرڅوک چي وطن پريږدی (اوولاړشي) په لاره دالله
کښي نوو به مومي دی په ځمکه کښي دآرامې ځايونه ډيراوپراخې (دروزې) دغه دهجرت په باره کښي
ترغيب اوهڅونه ښيي يعنی څوک چي له خپله هيواده بيل شي اوخپل دين له دښمنانوڅخه وژغوری
نوپه ځمکه کښي به دومره پراخې ومومي چي ددښمن پوزه به يې سپيره شي (خجل اوشرمنده به شی)
اوپراخه روزې به الله ورکړي ځکه دالله ځمکه پراخه اوروزې يې ډيره ده(يا عبادی الذين آمنوا ان ارضي
واسعة فاياي فاعبدون) ﴿ وَمَن يَخْرُجْ مِنۢ بَيْتِهِۦ مُهَاجِرًا إِلَى ٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ ثُمَّ يُدْرِكْهُ ٱلْمَوْتُ فَقَدْ وَقَعَ أَجْرُهُۥ عَلَى ٱللَّهِ ﴾
اوهرڅوک چي ووزي له کوره خپله پداسی حال کښي چي هجرت کونکي وي طرف دالله اورسول ته
بيادی ومومي مرگ (لاندی کړی دي له کوره بهر) نوپه تحقيق سره واقع شواجرد ده په الله باندی يعنی
ترپخواله دې چي دارهجرت ته ورسيږي مرگ ورته راشی نواجرېې دالله په نزد ثابت شو ﴿ وَكَانَ ٱللَّهُ غَفُورًا
رَّحِيمًا ﴾ اودي الله ښه بښونکي ډيرحم والايعنی دبندگانود گناهونو پټونکي اوبښونکي دی ﴿ وَإِذَا ضَرَبْتُمْ
فِي ٱلْأَرْضِ فَلَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ أَن تَقْصُرُواْ مِنَ ٱلصَّلَوٰةِ ﴾ اوکله چي سفرکوئ تاسی په ځمکه کښي پس نشته
پرتاسی هيڅ گناه پدی کښی چي څه لنډوالی وکړئ تاسی له لمانځه يعنی کله چي
تاسو دغزا،اويا سوداگري لپاره په سفرځئ نوپه تاسی هيڅ گناه نشته چي څلوررکعتيزدوه رکعته
وکوذارئ ﴿ إِنْ خِفْتُمْ أَن يَفْتِنَكُمُ ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓاْ ﴾ که ويريدئ تاسی له دې چي په فتنه کښي به واچوي (ضرربه

ورسوي) تاسی ته هغه[۱] کسان چي کافران شوی دی ،دوېري يادونه دلته دشرط لپاره نه بلکه دواقعي بيان دی ځکه پخوانی سفرونه به له وېرې څخه خلاص نه وومشرکان خوراډيرووداودغي خبري تائيد(ديعلى بن أميه) حديث هم کوي چي هغه وايې ماعمربن الخطاب ته وويل چي الله فرمايي: (ان خفتم) خواوس خلکوايمان راوړي دی نوهغه راته وويل کوم څيزچي تاته عجيب ښکاره شوي ماته هم عجيب وومااله رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وکړه هغه راته وفرمايل : (دادالله ﷻ له لوری صدقه پرتاسولوروال شوي ده دالله ﷻ صدقه ومنئ ! ﴿إِنَّ ٱلْكَٰفِرِينَ كَانُوا۟ لَكُمْ عَدُوًّا مُّبِينًا﴾ بيشکه چي کافران دی تاسولره دښمنان ښکاره) يعنی ددوئ دښمنې څرګنده ده کله چي تاسوپه لمانځه ولاړياست دوئ ته سخته نه ده چي تاسودي ونه وژنی ﴿وَإِذَا كُنتَ فِيهِمْ فَأَقَمْتَ لَهُمُ ٱلصَّلَوٰةَ فَلْتَقُمْ طَآئِفَةٌ مِّنْهُم مَّعَكَ وَلْيَأْخُذُوٓا۟ أَسْلِحَتَهُمْ﴾ اوکله چي اوسي ته (ای محمده) په دوئ کښي (ددښمنانوڅخه دوېرې په وخت کښی) پس اقامت وکړي ته دوئ ته دلمانځه (نولښکرخپل دوه طائفې کړه) پس ودې دريږي يوه طائفه له دوئ څخه له تاسره اووادي اخلی (دالمونځ کونکي) وسلې خپلې يعني دوئ دي مسلح وي داحتياط لپاره ﴿فَإِذَا سَجَدُوا۟ فَلْيَكُونُوا۟ مِن وَرَآئِكُمْ وَلْتَأْتِ طَآئِفَةٌ أُخْرَىٰ لَمْ يُصَلُّوا۟ فَلْيُصَلُّوا۟ مَعَكَ﴾ (نوکله چي سجده وکړی دوئ (دوه رکعتې په اول رکعت کښي) اودرې رکعتېزاوڅلوررکعتېزپه دوهم رکعت کښي) پس شي دی دوئ ستاسی وروسته اورادي شی بله ډله چي لمونځ يې نه وي کړی پس لمونځ دی وکړي دوئ له تاسره ﴿وَلْيَأْخُذُوا۟ حِذْرَهُمْ وَأَسْلِحَتَهُمْ﴾ اووادې خلی دوئ (هم اسباب د) بيدارې اووسلې خپلې (تيارسئ دی اوسې) ﴿وَدَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ لَوْ تَغْفُلُونَ عَنْ أَسْلِحَتِكُمْ وَأَمْتِعَتِكُمْ فَيَمِيلُونَ عَلَيْكُم مَّيْلَةً وَٰحِدَةً﴾ خوښه ده دهغوکسانوچي کافران شوي دی (دا) که په يوډول سره غافلان شي تاسی له وسلوخپلوڅخه اوله اسبابونوخپلوڅخه څوحمله وکړي دوئ پرتاسي باندې په يوه حمله سره اوتاسی ووژنی پداسی حال کښي چي په لمانځه ولاړياست يعنی تاسوټول په يوځای په لمانځه مه مشغوليږئ چي دښمن درباندی نابيره حمله راوړي بلکه داسی لمونځ کوئ لکه چي درته ارشادوشو ﴿وَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ إِن كَانَ بِكُمْ أَذًى مِّن مَّطَرٍ أَوْ كُنتُم مَّرْضَىٰٓ أَن تَضَعُوٓا۟ أَسْلِحَتَكُمْ﴾ (اونشته هيڅ ګناه په تاسی باندی که چيري په تاسی باندې څه ضرر وی له بارانه ياوئ تاسي ناجوړه چي کښيږدئ تاسي وسلې خپلې چي ورلای يې نشئ ﴿وَخُذُوا۟ حِذْرَكُمْ﴾ اوونيسي (په هرحال کښي اسباب) دبيداري خپلې يعنی بيداراوسئ اوخوموس وی ددښمن لپاره تياروواوسئ ﴿إِنَّ ٱللَّهَ أَعَدَّ لِلْكَٰفِرِينَ عَذَابًا مُّهِينًا﴾ بيشکه الله تيارکړی دی له پاره دکافرانوعذاب سپک کونکي ابن کثيروايي ددې آيت شريف له تفسيرسره داروايت له (ابی عياش الزرقی) څخه راوړي چي هغه ويلي مونږپه (عُسفان) کښی له رسول الله ﷺ سره ووچي له مشرکانوسره مخامخ شووچي خالدبن وليدهم وودوئ زمونږاوقبلې ترمينځ وورسول الله ﷺ

---

[۱] مختصرابن کثير ۱/ ۴۳۱)

مونږته لمونځ راکړاوداماسپښین لمونځ وونودوئ ویل که مونږورباندی حمله کړی وای دوئ به موپرزولی ووځکه دوئ په لمانځه مشغول وواوبیاېي وویل اوس پردوئ داسې لمونځ راتلونکې دی چي دوئ ته ترځانونواولادونوهم غوره دی (ابی عیاش وايي) چي بیاحضرت جبریل دغه آیتونه رسول الله ﷺ ته وحی راوړه چي:(وَإِذَا كُنتَ فِيهِمْ فَأَقَمْتَ لَهُمُ ٱلصَّلَوٰةَ)[۱] دآیت ترپایه وروسته الله ﷻ دذکردزیاتولوستلوامروفرمایه چي وروسته دخوف له لمانځه باید په یادولرل شي ویې فرمایل : ﴿ فَإِذَا قَضَيْتُمُ ٱلصَّلَوٰةَ فَٱذْكُرُوا۟ ٱللَّهَ قِيَٰمًا وَقُعُودًا وَعَلَىٰ جُنُوبِكُمْ ﴾ بیاکله چي اداکړئ تاسی لمونځ نویادوئ الله (یا) پس کله چي اراده وکړئ تاسي دګذارلود لمانځه نویادوئ تاسی الله په ولاړي اوپه ناستې اوپه اړخونوخپلو. یعنی کله چي له لمانځه څخه فارغ شئ نودالله ﷻ ذکرډیرکوئ په ولاړي په ناستې اوپه اړخ هم په ټولو حالاتوکښي ښایې چي دا(الله) تاسوته ستاسوپه دښمن بری درکړي ﴿ فَإِذَا ٱطْمَأْنَنتُمْ فَأَقِيمُوا۟ ٱلصَّلَوٰةَ ﴾ (پس کله چي آرام شوئ نوقائموئ تاسي (سم اداکوئ سره له ټولو حقوقولمونځ) یعنی کله چي په امن شوئ رکوع ، سجوداوخشوع یې سره له ټولوشرائطوپرځای کوئ ﴿ إِنَّ ٱلصَّلَوٰةَ كَانَتْ عَلَى ٱلْمُؤْمِنِينَ كِتَٰبًا مَّوْقُوتًا ﴾ بیشکه چي لمونځ دی پرمسلمانانوباندی فرض کړی تاکلی شوی په معلومواوقاتوکښي ، چي ناوخته کول یې ندي روا وروسته الله ﷻ دجهادپه هکله اوهمدارازدتکالیفواوربړونوپه باب دزغم اوصبرتوصیه کوي فرمايې : ﴿ وَلَا تَهِنُوا۟ فِى ٱبْتِغَآءِ ٱلْقَوْمِ ۖ إِن تَكُونُوا۟ تَأْلَمُونَ فَإِنَّهُمْ يَأْلَمُونَ كَمَا تَأْلَمُونَ ۖ وَتَرْجُونَ مِنَ ٱللَّهِ مَا لَا يَرْجُونَ ۗ ﴾ (اوسستې (بی همتې) مه کوئ (ای مؤمنانو) په طلب (تعقیب او جنګ) دقوم دکفاروکښي که یئ تاسی چي دردمن کیږئ نوبیشکه دوئ (هم) دردمن کیږي همغسی چي تاسی دردمن کیږئ اوهیله لرئ تاسی (له جانبه) دالله دهغه ثواب چي دوئ (کفار)یې امیداوهیله نلری) یعنی ددوئ په لټه اوجنګ باندی کمزوری کیږئ مه ویې وژنئ ټولې لارې ورته ونیسئ اوکه تاسوته دردرسیږي دوئ ته هم رسیږي خوتاسی له الله ﷻ څخه دثواب دنصرت اوشهادت امیدلرئ چي دوئ یې نلری ﴿ وَكَانَ ٱللَّهُ عَلِيمًا حَكِيمًا ﴾ (اودي الله (په هرشی) ښه عالم ښه حکمت والا) دخلګوپه مصالحوښه عالم اودتشریع په باب دحکمت اوتدبیرخاونددی قرطبی وايې چي دغه آیت شریف داحددجنګ په وخت کښي رانازل شوی چي رسول الله ﷺ ته امروشوچي دکفاروتعقیب وکړي اوله شاپسی ووزی پداسی حال کښي چي مسلمانان پرهارژلی اوزخمیان وواورسول الله ﷺ داسی امروکړچي یوازی هغه کسان به وزی چاچي دأحدپه غزاکښي ګډون کړي وواوچابیاویلی داپه هره غزاکښي دی ﴿ إِنَّآ أَنزَلْنَآ إِلَيْكَ ٱلْكِتَٰبَ بِٱلْحَقِّ لِتَحْكُمَ بَيْنَ ٱلنَّاسِ بِمَآ أَرَىٰكَ ٱللَّهُ ۚ ﴾ بیشکه مونږنازل کړی دی تاته کتاب (قرآن)ای محمده !) په حقه سره دپاره ددې چي حکم وکړي ته (ای محمده په مینځ دخلګوکښي په هغه طریقه سره چي درښودلی ده تاته الله ﷻ (اووحی یې درته کړی) ﴿ وَلَا تَكُن لِّلْخَآئِنِينَ

---

[۱]- مختصر ابن کثیر ۴۳۱/۱.

خَصِيمًا ﴾) اومه کیږه له جانبه دخیانتګروجګړه کونکي (له بی ګناهوسره) یعنی دخائنانومدافع مه جوړیږه چي مرادځینی (طعمة بن ابیرق) اودهغه تبردی ﴿ وَٱسْتَغْفِرِ ٱللَّهَ ﴾ اومغفرت وغواړه له الله په هغه څه چي تاد(طعمه) دقوم ګواهۍ ومنله چي ګواکي هغه برئ الذمة دی اوله ده څخه دی ددفاع کولوقصدوکړ ﴿ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ غَفُورًا رَّحِيمًا ﴾ بیشکه چي الله دی ښه مغفرت کونکي هغه چالره چي تری ښښنه غواړي ډیررحم والادی هغه لره ﴿ وَلَا تُجَٰدِلْ عَنِ ٱلَّذِينَ يَخْتَانُونَ أَنفُسَهُمْ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يُحِبُّ مَن كَانَ خَوَّانًا أَثِيمًا ﴾ (اوجګړه مه کوه له (طرفه) دهغوکسانوچي خیانت کوي دوئ له ځانونوخپلوسره بیشکه چي الله نه خوښوي هرهغه څوک چي وی ډیرخیانت کونکي ګنهګار) یعنی هغه څوک چي له خپل ځان سره په ګناهونوکولوخیانت کوي دهغه دفاع مکوه هغه څوک چي په ګناهونوکښي غرق اوخیانت کښي ډوب وي الله یې نه خوښوي ﴿ يَسْتَخْفُونَ مِنَ ٱلنَّاسِ وَلَا يَسْتَخْفُونَ مِنَ ٱللَّهِ ﴾ (پټوی له خلګوڅخه (له شرمه داخیانت) اونه یې پټوي (نه شرمیږي) له الله نه او الله خوډیرددي وړدی چي ځنی حیاوشي اوله عذاب څخه یې ووېرېږي ﴿ وَهُوَ مَعَهُمْ إِذْ يُبَيِّتُونَ مَا لَا يَرْضَىٰ مِنَ ٱلْقَوْلِ ﴾ (الله ﷻ تل له دوئ سره دی (پخپل علم) کله چي دشپې دوئ دهغه خبروچي الله یې نه خوښوي تدبیرونه تړي) یعنی الله ﷻ له دوئ سره دي چي په دوئ عالم دي هغه څه تدبیرونه پلمې چي دوئ یې په پټه جوړوي الله یې اوري دوئ په پټه تړون کوي چي ددروغو شاهدي اوقسمونه آخلی بری الذمة سړي پرې تورنوي اودګنهګاردبرائت بهانې جوړوي ﴿ وَكَانَ ٱللَّهُ بِمَا يَعْمَلُونَ مُحِيطًا ﴾ (اودی الله ﷻ په هغوکارونوچي دوئ یې کوي محیط (چاپیریدونکي په علم اوقدرت سره) یعنی له هغه څخه هیڅ هم پټ او الونیانه دی وروسته له دی الله پاک دطعمه تبرته دتوبیخ په ډول داسی فرمایي: ﴿ هَٰٓأَنتُمْ هَٰٓؤُلَآءِ جَٰدَلْتُمْ عَنْهُمْ فِى ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا ﴾ واورئ خبردارشئ تاسی ای هغه کسانوچي جګړه کوئ له (طرفه د) طعمه دوئ په دې حیات دنیوي کښي ؛) یعنی تاسې چي له غلواوخائنانوڅخه په دنیاکښي دفاع کوئ ! ﴿ فَمَن يُجَٰدِلُ ٱللَّهَ عَنْهُمْ يَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ ﴾ پس څوک دی چي جګړه به وکړي له الله سره (له طرفه) ددغو (خیانتګرو) په ورځې دقیامت کښي ؟ ! کله چي الله یې پخپل عذاب اخته کړي ﴿ أَم مَّن يَكُونُ عَلَيْهِمْ وَكِيلًا ﴾ بلکه آیاڅوک دی چي وي به (دقیامت په ورځې کښي) ددوئ وکیل (ساتونکي) له عذابه؟ بلکه هیڅوک نشته) وروسته بیاالله تعالی دوئ درجوع اوتوبې لوری ته رابولی فرمایي: ﴿ وَمَن يَعْمَلْ سُوٓءًا أَوْ يَظْلِمْ نَفْسَهُۥ ﴾ (اوهرڅوک چي وکړی یوه ګناه یاظلم وکړي پخپل ځان) یعنی څوک چي یوبدکاروکړي لکه چي په بیګناه سړي تورولګوي اویاپه ظلم بله ګناه وکړي لکه غلاچي پخپل ځان ظلم کول دی ﴿ ثُمَّ يَسْتَغْفِرِ ٱللَّهَ يَجِدِ ٱللَّهَ غَفُورًا رَّحِيمًا ﴾ بیامغفرت وغواړی له الله څخه نو(مومي) الله ډیرمغفرت کونکي ډیررحم والا. ابن عباس ﵁ وایي چي الله پاک پدې آیت کښي (بن ابیرق) ته توبه وړاندی کړی ده ﴿ وَمَن يَكْسِبْ إِثْمًا فَإِنَّمَا يَكْسِبُهُۥ عَلَىٰ نَفْسِهِۦ ۚ وَكَانَ ٱللَّهُ عَلِيمًا حَكِيمًا ﴾

(اوهرڅوک چي وکړی ګناه نوبیشکه هم داخبره ده چي کوي دا(ګناه) په ځان خپل باندی اودی الله ښه عالم ښه حکمت والا) یعنی ځوک چي په قصد کومه ګناه وکړي نووبال یې هغه ته راجع دی اوالله دده په ګناه ښه عالم اوپه جزاء ورکولویې ښه دحکمت خاونددی ﴿ وَمَن يَكْسِبْ خَطِيٓـَٔةً أَوْ إِثْمًا ﴾ اوهرڅوک چي وکړي یوه وړه ګناه یایوه لویه ګناه ﴿ ثُمَّ يَرْمِ بِهِۦ بَرِيٓـًٔا فَقَدِ ٱحْتَمَلَ بُهْتَٰنًا وَإِثْمًا مُّبِينًا ﴾ بیاوولی (متهم کوي) پدې (ګناه) سره کوم پاک سړي پس په تحقیق باریې کړ(پرځان خپل) ډیرغټ دروغ اوګناه ښکاره بیاوروسته الله تعالی په خپل پیغمبرباندی فضل اواحسان بیانوي فرمایې: ﴿ وَلَوْلَا فَضْلُ ٱللَّهِ عَلَيْكَ وَرَحْمَتُهُۥ لَهَمَّت طَّآئِفَةٌ مِّنْهُمْ أَن يُضِلُّوكَ ﴾ اوکه چیری نه وي فضل (احسان) دالله پرتاباندی اومهربانی دده نوهرومروبه قصدکړي وویوې طائفي ددوئ څخه چي تیرباسی تا(اوګمراه کړی پخپل قصدسره تا) یعنی که چیری په تادالله فضل اواحسان نه وای چي رحمت ، عصمت اونبوت یې درکړ نویوې ډلې به ته له حق څخه تیرایستلی وای اوداهغه وخت چي له رسول الله ﷺ څخه یې وغوښتل چي ددوئ سړي بیګناه ثابت کړي اوتور په یهودي پوري کړي خوالله په رسول الله باندی فضل اواحسان وکړچي په حقیقت یې خبرکړ﴿ وَمَا يُضِلُّونَ إِلَّآ أَنفُسَهُمْ ﴾ اونه تیرباسی دوئ مګرځانونه خپل ﴿ وَمَا يَضُرُّونَكَ مِن شَىْءٍ ﴾ اونه شي ضررسولای تاته دهیڅ شي !(ځکه ته الله معصوم کړی یی)﴿ وَأَنزَلَ ٱللَّهُ عَلَيْكَ ٱلْكِتَٰبَ وَٱلْحِكْمَةَ ﴾ اونازل کړی دی الله په تاباندی کتاب اوحکمت (ای محمده !) یعنی قرآن اوسنت یې په تانازل کړي نودوئ به څرنګه وکولاي شي تاتیرباسی چي الله کتاب درته رااستولی اوداحکاموحی درته کوي ﴿ وَعَلَّمَكَ مَا لَمْ تَكُن تَعْلَمُ ۚ وَكَانَ فَضْلُ ٱللَّهِ عَلَيْكَ عَظِيمًا ﴾ (اودرښوولی دی تاته هغه (خبري) چي ته نه وې پوهیدلی (پری) اودی فضل (احسان ،رحمت)دالله پرتاباندی ډیرلوی) یعنی الله ﷺ تاته شرائع اوغیبې امورهغه چي تاته معلوم نه وودرښودلی اودالله فضل په تاباندی دوحی استولو ،رسالت اونوروسترونعمتونوډیرلوی دی

بلاغت: پدی آیتونوکښي چي دبلاغت ،بیان اوبدیع څه ډولونه شته لنډیزیې دادی:

۱. هغه استفهام چي توبیخ یې مقصدوی لکه (قالوا فیم کنتم) اوپدی آیت کښي: (ألم تکن أرض الله واسعة) .
۲. اطلاق دعام چي دخاص اراده یې شوی وی لکه (فاذا قضیتم الصلوة) چي دخوف لمونځ ځنی مقصددی.
۳. مغایرجناس چي په: (یعفو...عفوا)او (یهاجر...مهاجراً) او (یختانون...خوانا) او (یستغفر...غفوراً) کښي راغلی دی.
۴. په واحدباندی دجمع اطلاق کول لکه: (توفاهم الملائکة) چي مرادځینی ملک الموت اومقصدپکښي دهغه تعظیم دی.
۵. دسلب طباق لکه: (یستخفون من الناس ولایستخفون من الله) .

٧. اطناب چي دصلاة دلفظ په تكرارسره راغلى ترڅوپه فضيلت يې تنبيه راشى لكه: (فاقيموا الصلوة ......ان الصلوة كانت على المؤمنين كتاباً موقوتا).

الله تعالى فرمايي:

﴿لَّا خَيْرَ فِي كَثِيرٍ مِّن نَّجْوَاهُمْ إِلَّا مَنْ أَمَرَ بِصَدَقَةٍ أَوْ مَعْرُوفٍ أَوْ إِصْلَاحٍ بَيْنَ النَّاسِ ۚ وَمَن يَفْعَلْ
ذَٰلِكَ ابْتِغَاءَ مَرْضَاتِ اللَّهِ فَسَوْفَ نُؤْتِيهِ أَجْرًا عَظِيمًا ﴿١١٤﴾ وَمَن يُشَاقِقِ الرَّسُولَ مِن بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُ الْهُدَىٰ
وَيَتَّبِعْ غَيْرَ سَبِيلِ الْمُؤْمِنِينَ نُوَلِّهِ مَا تَوَلَّىٰ وَنُصْلِهِ جَهَنَّمَ ۖ وَسَاءَتْ مَصِيرًا ﴿١١٥﴾ إِنَّ اللَّهَ لَا يَغْفِرُ أَن يُشْرَكَ بِهِ
وَيَغْفِرُ مَا دُونَ ذَٰلِكَ لِمَن يَشَاءُ ۚ وَمَن يُشْرِكْ بِاللَّهِ فَقَدْ ضَلَّ ضَلَالًا بَعِيدًا ﴿١١٦﴾ إِن يَدْعُونَ مِن دُونِهِ إِلَّا
إِنَاثًا وَإِن يَدْعُونَ إِلَّا شَيْطَانًا مَّرِيدًا ﴿١١٧﴾ لَّعَنَهُ اللَّهُ ۘ وَقَالَ لَأَتَّخِذَنَّ مِنْ عِبَادِكَ نَصِيبًا مَّفْرُوضًا ﴿١١٨﴾
وَلَأُضِلَّنَّهُمْ وَلَأُمَنِّيَنَّهُمْ وَلَآمُرَنَّهُمْ فَلَيُبَتِّكُنَّ آذَانَ الْأَنْعَامِ وَلَآمُرَنَّهُمْ فَلَيُغَيِّرُنَّ خَلْقَ اللَّهِ ۚ وَمَن
يَتَّخِذِ الشَّيْطَانَ وَلِيًّا مِّن دُونِ اللَّهِ فَقَدْ خَسِرَ خُسْرَانًا مُّبِينًا ﴿١١٩﴾ يَعِدُهُمْ وَيُمَنِّيهِمْ ۖ وَمَا
يَعِدُهُمُ الشَّيْطَانُ إِلَّا غُرُورًا ﴿١٢٠﴾ أُولَٰئِكَ مَأْوَاهُمْ جَهَنَّمُ وَلَا يَجِدُونَ عَنْهَا مَحِيصًا ﴿١٢١﴾ وَالَّذِينَ آمَنُوا
وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ سَنُدْخِلُهُمْ جَنَّاتٍ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَا أَبَدًا ۖ وَعْدَ اللَّهِ حَقًّا ۚ وَمَنْ
أَصْدَقُ مِنَ اللَّهِ قِيلًا ﴿١٢٢﴾ لَّيْسَ بِأَمَانِيِّكُمْ وَلَا أَمَانِيِّ أَهْلِ الْكِتَابِ ۗ مَن يَعْمَلْ سُوءًا يُجْزَ بِهِ وَلَا يَجِدْ
لَهُ مِن دُونِ اللَّهِ وَلِيًّا وَلَا نَصِيرًا ﴿١٢٣﴾ وَمَن يَعْمَلْ مِنَ الصَّالِحَاتِ مِن ذَكَرٍ أَوْ أُنثَىٰ وَهُوَ مُؤْمِنٌ
فَأُولَٰئِكَ يَدْخُلُونَ الْجَنَّةَ وَلَا يُظْلَمُونَ نَقِيرًا ﴿١٢٤﴾ وَمَنْ أَحْسَنُ دِينًا مِّمَّنْ أَسْلَمَ وَجْهَهُ لِلَّهِ وَهُوَ مُحْسِنٌ
وَاتَّبَعَ مِلَّةَ إِبْرَاهِيمَ حَنِيفًا ۗ وَاتَّخَذَ اللَّهُ إِبْرَاهِيمَ خَلِيلًا ﴿١٢٥﴾ وَلِلَّهِ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ ۚ وَكَانَ اللَّهُ
بِكُلِّ شَيْءٍ مُّحِيطًا ﴿١٢٦﴾ وَيَسْتَفْتُونَكَ فِي النِّسَاءِ ۖ قُلِ اللَّهُ يُفْتِيكُمْ فِيهِنَّ وَمَا يُتْلَىٰ عَلَيْكُمْ فِي الْكِتَابِ
فِي يَتَامَى النِّسَاءِ اللَّاتِي لَا تُؤْتُونَهُنَّ مَا كُتِبَ لَهُنَّ وَتَرْغَبُونَ أَن تَنكِحُوهُنَّ وَالْمُسْتَضْعَفِينَ مِنَ الْوِلْدَانِ
وَأَن تَقُومُوا لِلْيَتَامَىٰ بِالْقِسْطِ ۚ وَمَا تَفْعَلُوا مِنْ خَيْرٍ فَإِنَّ اللَّهَ كَانَ بِهِ عَلِيمًا ﴿١٢٧﴾ وَإِنِ امْرَأَةٌ خَافَتْ مِن بَعْلِهَا
نُشُوزًا أَوْ إِعْرَاضًا فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِمَا أَن يُصْلِحَا بَيْنَهُمَا صُلْحًا ۚ وَالصُّلْحُ خَيْرٌ ۗ وَأُحْضِرَتِ الْأَنفُسُ الشُّحَّ ۚ وَإِن
تُحْسِنُوا وَتَتَّقُوا فَإِنَّ اللَّهَ كَانَ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرًا ﴿١٢٨﴾ وَلَن تَسْتَطِيعُوا أَن تَعْدِلُوا بَيْنَ النِّسَاءِ وَلَوْ
حَرَصْتُمْ ۖ فَلَا تَمِيلُوا كُلَّ الْمَيْلِ فَتَذَرُوهَا كَالْمُعَلَّقَةِ ۚ وَإِن تُصْلِحُوا وَتَتَّقُوا فَإِنَّ اللَّهَ كَانَ غَفُورًا
رَّحِيمًا ﴿١٢٩﴾ وَإِن يَتَفَرَّقَا يُغْنِ اللَّهُ كُلًّا مِّن سَعَتِهِ ۚ وَكَانَ اللَّهُ وَاسِعًا حَكِيمًا ﴿١٣٠﴾ وَلِلَّهِ مَا فِي السَّمَاوَاتِ
وَمَا فِي الْأَرْضِ ۗ وَلَقَدْ وَصَّيْنَا الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ مِن قَبْلِكُمْ وَإِيَّاكُمْ أَنِ اتَّقُوا اللَّهَ ۚ وَإِن تَكْفُرُوا فَإِنَّ لِلَّهِ مَا فِي

ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلْأَرْضِ ۚ وَكَانَ ٱللَّهُ غَنِيًّا حَمِيدًا ﴿١٣١﴾ وَلِلَّهِ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلْأَرْضِ ۚ وَكَفَىٰ بِٱللَّهِ وَكِيلًا ﴿١٣٢﴾ إِن
يَشَأْ يُذْهِبْكُمْ أَيُّهَا ٱلنَّاسُ وَيَأْتِ بِـَٔاخَرِينَ ۚ وَكَانَ ٱللَّهُ عَلَىٰ ذَٰلِكَ قَدِيرًا ﴿١٣٣﴾ مَّن كَانَ يُرِيدُ ثَوَابَ ٱلدُّنْيَا فَعِندَ
ٱللَّهِ ثَوَابُ ٱلدُّنْيَا وَٱلْـَٔاخِرَةِ ۚ وَكَانَ ٱللَّهُ سَمِيعًۢا بَصِيرًا ﴿١٣٤﴾ النساء: ١١۴ - ١٣۴

مناسبت اوتړاو:

کله چي الله تعالى د(طعمة) کیسه اودغلا پیښه بیان کړه چي په هغه يې یوبې ګناه یهودي تورن کړاوده ته يې ناحقه دده ملاتړوکړ په پټه يې دیهودي لپاره تدبیرجوړکړنو دلته الله داسې یادونه کوي چي (نجوی) له الله څخه پټیدلای نشي اوهره دوکه اوچل چي په پټه ترسره کیږي الله وربانډې خبردي اوپه پټوغونډي غونډوکښي خیرنشته خویوازې هغه غونډې چي دبرکت وی وروسته الله داخرګندوي چي درسول الله ﷺ له حکم څخه سرغړونه سترجرم اوګناه ده همداسې دشیطان له لارولیکوڅخه مسلمانان وېروي او بیا دا خبره راغبرګوي چي په میرمنوباندې په میراث اوولورظلم مکوئ اوهغوئ ته احسان لازم ګڼي لکه چي دنشوز اوسرغړونې موضوع راسپړي چي دمیړه اومېرمنې ترمینځ باید اصلاح اوسوله وشي یا یې سره متفق اویا سره جلاکړي.

لغتونه:

(نجواهم) ددوي رازونه (نجوی) هغه رازته وایې چي ددووي ترمینځ وي واحدی وایې چي (نجوی) یوازې ددووتنوترمینځ کیدای شي (لیشاقق)چي مخالفت وکړي له شقاق څخه اخیستل شوی اومخالفت ته وایې چي له دښمنه سره جوخت ترسره کیږي څکه هریوددوئ په یوشق کښې واقع چي بل هلته نه وي (مریدا) متمرداوسرکښ ته وایې کله چي څوک متجبراو سرغړونکي وي (الازهري) وایې چي : (مردالرجل اذاعتا فهومارد ومرید) یعنی کله چي څوک سرغړونکي اوله طاعت څخه ووزي ورته (مارد) او(مرید) وایې(فلیبتکن)(بتک) قطع ته وایې اوله دې څخه راغلی چي (سیف باتک) یعنی(قاطع)غوڅونکي توره (محیصا) دتیښتې لاراوپه متلونوکښي راځي چي: (وقعوافی حیص بیص) یعني پداسې لانجه کښې ولویدوچي څینې خلاصون به ونه مومي (خلیلا) له خلت څخه اخیستل شوي اوهغه دزړه له کومې مینې ته وایې (الثعلب) وایې چي خلیل ته څکه خلیل وایې چي محبت يې دزړه تل ته په ټوله معنا رسیدلی اوهیڅ خلل يې پري ایښې نه وي (شح) دبخل شدت ته وایې (المعلقة) هغې ښځې ته ویل کیږي چي نه خومیړه لري اونه هم طلاق ورکول شوي وي.

دنزول سبب :

أ- کله چي (طعمه) بن (ابیرق) غلاوکړه اورسو ل الله ﷺ دهغه دلاس په غوڅولوحکم صادر کړهغه مکې ته وتښتید واومرتدشونو الله داآیت نازل کړ:(ومن یشاقق الرسول من بعد ماتبین له الهدی)[1]دآیت ترپایه.

ب- قتادة ﵁ وایې چي مسلمانانو اواهل کتابو هرچاڅانته ویاړاوفخرکاوواهل کتابو ویل چي زمونږ نبی ستاسوترنبی پخواراغلی اوکتاب موهم ترتاسودمخه دی نوموږترتاسودالله وړاولائق

(١) القرطبی ۵/ ۴۰۰ (٢) القرطبی ۵/ ٣٨۵. (٣) اسباب النزول ص ١٠۴ (۴) الطبری ٩/ ٢٠١

يومؤمنانوويل چي زمونږپيغمبرخاتم النبيين دي اوكتاب مودنوروكتابونوناسخ دى نوالله ﷻ داآيت نازل كړچي: (ليس بأمانيكم ولا أماني أهل الكتاب) .

تفسير:

﴿ لَّا خَيْرَ فِي كَثِيرٍ مِّن نَّجْوَىٰهُمْ إِلَّا مَنْ أَمَرَ بِصَدَقَةٍ أَوْ مَعْرُوفٍ أَوْ إِصْلَٰحٍ بَيْنَ ٱلنَّاسِ ﴾ نشته هيڅ خيرپه ډيروكښي له پټوخبرو(مشورو) ددوئ نه مگر(خيرشته په پټوخبرو) دهغه چاچي امركوي په صدقه كولويا په نيک كاريا په اصلاح (روغه) په مينځ دخلگوكښي طبرى وايي: معروف ټول هغه څه دي چي الله پاک يې دكولوامركړي وي اويانور دخيراونيكۍ مستحب كارونه وي اواصلاح ددومتخاصموترمينځ روغه كول دي ﴿ وَمَن يَفْعَلْ ذَٰلِكَ ٱبْتِغَآءَ مَرْضَاتِ ٱللَّهِ ﴾ اوهرڅوک چي وكړي دغه (صدقه) معروف ، اصلاح) دپاره دغوښتنې دخوښي داالله نه ددنيوي اغراضواومقاصدولپاره ﴿ فَسَوْفَ نُؤْتِيهِ أَجْرًا عَظِيمًا ﴾ پس ژربه وركړومونږ ده ته ثواب ډيرلوي چي هغه جنت دى صاوي وايې چي په (سوف) سره تعبيردى ته اشاره ده چي دنيكواعمالوجزابه په آخرت كښي وركول كيږي نه په دنيا كښي ځكه دنيادجزاځاى نه دى ﴿ وَمَن يُشَاقِقِ ٱلرَّسُولَ مِنۢ بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُ ٱلْهُدَىٰ ﴾ (اوهرڅوک چي مخالفت كوي له رسوله وروسته له هغه چي ښكاره شوه ده ته سمه لاره)په معجزاتوباندى حق ورته څرگندشو ﴿ وَيَتَّبِعْ غَيْرَ سَبِيلِ ٱلْمُؤْمِنِينَ ﴾ (اولاړشي بى ليارى دمؤمنانو) يعنى له هغوئ بيل بله لاره غوره كړي .
﴿ نُوَلِّهِۦ مَا تَوَلَّىٰ وَنُصْلِهِۦ جَهَنَّمَ ۖ وَسَآءَتْ مَصِيرًا ﴾ نووبه گرځوو دى هغه لوري ته چي دى ورگرځيدلى دى اوداخل به كړومونږ دى دوزخ ته اوبدځاى دورتلودى دا(دوزخ) يعنى دى اودهغه اختياربه سره مخ كړواوپه جهنم كښي به يې ننه باسو ﴿ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَغْفِرُ أَن يُشْرَكَ بِهِۦ وَيَغْفِرُ مَا دُونَ ذَٰلِكَ لِمَن يَشَآءُ ﴾ بيشكه الله بښنه نه كوي داچي شريک ونيول شى له ده سره اومغفرت كوي دهغې گناه چي تردي ښكته وى هغه چاته چي اراده وفرمايې د(مغفرت) يې ﴿ وَمَن يُشْرِكْ بِٱللَّهِ فَقَدْ ضَلَّ ضَلَٰلًۢا بَعِيدًا ﴾ (اوهرڅوک چي شريک ونيسى (كوم شى) له الله سره نوپه تحقيق گمراه شوي په گمراهي ليري (له حقه) يعنى هغه دحق له لاري اوله نيكمرغې څخه ليرى ولويدو ﴿ إِن يَدْعُونَ مِن دُونِهِۦٓ إِلَّآ إِنَٰثًا ﴾ (نه بولى دوئ (عبادت نه كوي دامشركان) بې له الله نه مگردښځو) يعنى دوئ دداسى بتانو عبادت كوي چي دښځونومونه يې ورباندي اينبى دى لكه : دلات، عزى اومناة په تسهيل نومي كتاب كښى وايې چي عربانوبه بتان دښځوپه نومونوباندى يادول[1] ﴿ وَإِن يَدْعُونَ إِلَّا شَيْطَٰنًا مَّرِيدًا ﴾ اونه بولى دوئ (عبادت نه كوي دامشركان مگردشيطان سركښه هغه ابليس چي دالله له حكم نه يې غاړه غړولى ده اوپه فجوراوتمردكښي وروستې حد ته رسيدلى دي ﴿ لَّعَنَهُ ٱللَّهُ ۘ وَقَالَ لَأَتَّخِذَنَّ مِنْ عِبَادِكَ نَصِيبًا مَّفْرُوضًا ﴾

(١) الطبرى ٥ / ٢٠١ دغه له ابن عباس ﷺ مجاهد اوضحاک رضي الله عنهم څخه روايت شوى اودطبرى غوره دى چاپياويلي چي مرادله اناث څخه پرښتې دى ځكه چي مشركانوداسى گومان كاووچي پرښتې دالله لوڼې دي.

ليري كړی دی الله (له رحمته خپله) (نوهغه داسی قسم خوړلی) اوویل شیطان چي خامخابه ونیسم هرومرو زه (اي الله) ستاله بندګانویوه برخه مقرره کړل شوي (زه به يې خپل طاعت ته راوبولم چي عاصيان اوکافران شي په صحيح مسلم کښې يوحديث داسی راځي چي الله تعالی به آدم ﷺ ته دقيامت په ورځ ووايي: پاڅوه ! پاڅيدونکي داور(آدم ﷺ به وايي) څوک دي داورپاڅيدونکي ؟ الله ﷻ به ورته وفرمايي له هرورز سنوڅخه نه سوه نه نوي کسان (اورته پاڅوه) ﴿ وَلَأُضِلَّنَّهُمْ وَلَأُمَنِّيَنَّهُمْ ﴾ (اوزه به هرومرو(لازما) ګمراه کړم (دوئ اوخامخابه زه (لازما) دوئ په باطلوهيلوکښې واچوم) يعنی زه به دوئ له سمې لارې څخه واړوم اوددروغو وعدې به ورسره وکړم ددوئ په زړونوکښې به دعمراوږدوالی ورواچوم اوداچې نه مرګ شته اونه هم حساب کتاب ﴿ وَلَأٓمُرَنَّهُمْ فَلَيُبَتِّكُنَّ ءَاذَانَ ٱلْأَنْعَٰمِ ﴾ اوهرومرو(لازما) به زه امروکړم خامخادوئ ته نوهرومروبه دوئ څيروي غوږونه دحيواناتود (چارپايانو) قتادة وايې چي دغوږونوڅيرول هغه دبحيرة اوسائبة په نامه نښانې کول دی لکه چي به دوئ په جاهليت کښې کول ﴿ وَلَأٓمُرَنَّهُمْ فَلَيُغَيِّرُنَّ خَلْقَ ٱللَّهِ ﴾ اوزه به خامخا امروکړم دوئ ته پس خامخابه دوئ تغيرورکړي پيدايښت دالله ته لکه دمريانوخصی کول اويادحيواناتواوياهم وربانْدی خالونه ايښودل چابياويلی چي مراددالله ددين تغيرپه کفراوګناهونودي (۱)څه چي الله حلال کړي هغه حرامول اوڅه چي حرام دی هغه حلال ګرزول هم تغيردی ﴿ وَمَن يَتَّخِذِ ٱلشَّيْطَٰنَ وَلِيًّا مِّن دُونِ ٱللَّهِ فَقَدْ خَسِرَ خُسْرَانًا مُّبِينًا ﴾ (اوهرڅوک چي ونيسی شيطان دوست بی له الله نوپه تحقيق زيان يې وکړزيان ښکاره) يعنی څوک چي دشيطان خبره ومني اودالله امرپريږدي نوددنيااوآخرت تاوان يې په برخه شوځکه هغه به تل ترتله په اورکښې وي اوتردي تاوان بل کوم سترتاوان شته ؟ وروسته الله له ابليس څخه داسې حکايت کوي ﴿ يَعِدُهُمْ وَيُمَنِّيهِمْ ﴾ (وعده کوي شيطان له دوئ سره اوپه باطلواميدونوکښې غورځوي دوئ) يعنی هغوئ ته دنيکمرغې اوسعادت وعدې په دروغو ورکوي اوپه نارواهيلوکښې يې اچوي ابن کثيروايې چي دغه دواقعې اخباردی ځکه شيطان خپل ملګري اودوستانوته داسی وروښيې چي همدوئ بريالی دی دوئ ددنيا اوآخرت برخه لري خوداسراسردروغ اوافتراء ده ۲ ﴿ وَمَا يَعِدُهُمُ ٱلشَّيْطَٰنُ إِلَّا غُرُورًا ﴾ اونه کوي شيطان له دوئ سره وعده مګرپه فريب يعنی دغه وعده باطله اوغولونکي ده ابن عرفه وايې چي غرورهغه څه ته وايې چي په څرګنده ښکلی خوپه حقيقت کښې ناکاره اوناخوښه وي په ظاهرښائسته اوپه باطن کښې چټل اوپليت وي . ﴿ أُوْلَٰٓئِكَ مَأْوَىٰهُمْ جَهَنَّمُ وَلَا يَجِدُونَ عَنْهَا مَحِيصًا ﴾ دغه (تابعان دشيطان) ځاي ددوئ جهنم دي اونه به مومي دوئ له دي دوزخه هيڅ ځای دتيښتې (اوخلاصی) بياوروسته الله تعالی دنيکمرغه نيکانوخلکوحال

(۱) مختصرابن کثير۱/ ۴۳۹ (۲) ابوالسعود۱/ ۳۸۴

بیانوي چي په څومره عزت او کرامت کښې به تل ترتله په جنت کښې اوسی فرمايي: ﴿ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَعَمِلُوا۟ ٱلصَّٰلِحَٰتِ سَنُدْخِلُهُمْ جَنَّٰتٍ تَجْرِى مِن تَحْتِهَا ٱلْأَنْهَٰرُ خَٰلِدِينَ فِيهَآ أَبَدًا ﴾ او هغه کسان چي ایمان یې راوړی دي او کړی یې دی ښه عملونه نو ژر به داخل کړو مونږ دوئ په جنتونو کښې چي بهیږي له لاندي (د ماڼیو او ونو) د دوئ ویالې چي همیشه به وي دوئ په دغو (جنتونو کښې) تل ترتله ﴿ وَعْدَ ٱللَّهِ حَقًّا ﴾ (وعده کړي ده الله حقه (وعده) چي هیڅ شک او شبه پکښې نشته ﴿ وَمَنْ أَصْدَقُ مِنَ ٱللَّهِ قِيلًا ﴾ او څوک دي زیات رښتیني له الله نه په خبره (او وعده) کښې یعنی هیڅوک له الله ﷻ څخه په وعده کښې رښتینی نشته ابو السعود وایي چي مقصد د شیطان د دروغو وعدو چي خپلو دوستانو او اولیاوو ته یې ورکوي پر ترله کول دی چي د الله ﷻ هغه وعدې چي له خپلو اولیاوو سره یې کوي د شیطان د دعوی ګانو معارضه وکړي. ﴿ لَّيْسَ بِأَمَانِيِّكُمْ وَلَآ أَمَانِىِّ أَهْلِ ٱلْكِتَٰبِ ﴾ (نه دی (ثواب) پر امیدونو ستاسی او نه پر امیدونو د اهل کتابو) یعنی نه دی د الله هغه د ثواب وعده چي یوازي په آرزوګانو یې وموميي اي مسلمانانو او نه هم په آرزوګانو د اهل کتابو ده خو په ایمان او صالح عمل باندی موندل کیږي حسن بصري رحمه الله وایي: ایمان په هیلو نه بلکه هغه دی چي په زړه کښې ځای ونیسی او په عمل یې تصدیق وکړي، ډیر داسی قومونه وو چي آرزوګانو په غفلت کښې اچولی وو ویل به یې مونږ په الله نیک ګومان لرو خو له دنیا څخه داسی رخصت شول چي هیڅ نیک عمل یې نه درلود دوئ دروغژن وو ځکه که په الله یې نیک ګومان کولای نو نیک عملونه به یې کړي وو ﴿ مَن يَعْمَلْ سُوٓءًا يُجْزَ بِهِۦ ﴾ (هر څوک چي وکړي ناکاره کارونه جزا به ورکړل شی ده ته په هغه سره) که ژر وي که وروسته ﴿ وَلَا يَجِدْ لَهُۥ مِن دُونِ ٱللَّهِ وَلِيًّا وَلَا نَصِيرًا ﴾ او نه به مومي دغه (ګنهګار) د ځان لپاره بی له الله نه هیڅ دوست او نه مددګارچي مرسته ورسره وکړی او د الله له عذاب څخه یې وژغوري ﴿ وَمَن يَعْمَلْ مِنَ ٱلصَّٰلِحَٰتِ مِن ذَكَرٍ أَوْ أُنثَىٰ وَهُوَ مُؤْمِنٌ ﴾ او هر څوک چي عمل وکړي له (ځینو) نیکو عملونو له نارینه وو او له ښځو حال دا چي دي مؤمن وي ﴿ فَأُو۟لَٰٓئِكَ يَدْخُلُونَ ٱلْجَنَّةَ وَلَا يُظْلَمُونَ نَقِيرًا ﴾ نو دغه (نیکو کاران) داخل به شي په جنت کښې او ظلم به ونشي په دوئ (په اندازه) د نقیر (یعنی د دوئ د اعمالو له ثواب څخه به هیڅ لږشي هم ځینی ونه ګرزي ولی نه الله پاک خو ارحم الراحمین دي او چي ډیر فرمایل: (وهو مؤمن) دا د دي لپاره چي طاعات پر ته له ایمانه ګټه نلری ﴿ وَمَنْ أَحْسَنُ دِينًا مِّمَّنْ أَسْلَمَ وَجْهَهُۥ لِلَّهِ ﴾ او څوک دی ډیر غوره له جهته د دین له هغه چا چي ایښي یې وي مخ خپل (ځان خپل یا تندی خاص حکم د) الله ته) یعنی تر هغه چا غوره بل څوک له جهته د دین څخه نشته چي د الله حکم ته یې غاړه کښیښنوده او عمل یې خاص د الله لپاره کړ ﴿ وَهُوَ مُحْسِنٌ ﴾ (حال دا چي دي نیکو کاروی) یعنی د الله

اطاعت کوي له نواهیوڅخه ځان ژغوري ﴿ وَٱتَّبَعَ مِلَّةَ إِبْرَٰهِيمَ حَنِيفًا ﴾ اوچي متابعت یې کړې وي د(دین) دابراهیم حال داچي دی حنیف وو(مائل) وو له باطله حق ته) چي هغه دین داسلام وو ﴿ وَٱتَّخَذَ ٱللَّهُ إِبْرَٰهِيمَ خَلِيلًا ﴾ اونیولی دی الله ابراهیم دوست (خاص خپل) یعنی هغه یې دمحبت اوخلت لپاره غوره کړي ابن کثیروایې: چي هغه د(خلت)هغې اوچتې مرتبې ته چي دمحبت ترټولولوړه ده پورته شوي اودادالله تعالی لپاره دهغه دزیات طاعت له کبله وو(۱) ﴿ وَلِلَّهِ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلْأَرْضِ ﴾(او(خاص) الله لره دی هرهغه شیان چي په آسمانونو کښي دی اوهرهغه شیان چي په ځمکه کښي دی) یعنی ټول هغه څه چي په کائناتو کښي دی دالله ملکیت، خلقت اوبندګان دی اوهغه په ټولو کښي تصرف کوي دهغه دقضاء اوفیصلې بدلونکي نشته ﴿ وَكَانَ ٱللَّهُ بِكُلِّ شَيْءٍ مُّحِيطًا ﴾ اودی الله په هرشی ښه احاطه کونکي (پخپل علم اوقدرت سره) هیڅ شی ورڅخه پټ اوالونیانه دی ﴿ وَيَسْتَفْتُونَكَ فِي ٱلنِّسَآءِ ﴾ طلب دفتوی کوي دوئ له تانه په باب دښځو کښي چي پردوئ باندی دهغوئ واجبات څه دی؟ ﴿ قُلِ ٱللَّهُ يُفْتِيكُمْ فِيهِنَّ وَمَا يُتْلَىٰ عَلَيْكُمْ فِي ٱلْكِتَٰبِ ﴾ ووایه (ای محمده دوئ ته !) چي الله ﷻ فتوی (حکم) درکوي تاسی ته په باب د) دوئ کښي (اوبل) هغه شی (حکم درکوي) چي لوستلی شی پرتاسی په کتاب (قرآن کښي)له میراث ددوئ نه ﴿ فِي يَتَٰمَى ٱلنِّسَآءِ ٱلَّٰتِي لَا تُؤْتُونَهُنَّ مَا كُتِبَ لَهُنَّ وَتَرْغَبُونَ أَن تَنكِحُوهُنَّ ﴾ (په باب) دیتیمانوښځوکښي هغه چي نه ورکوی تاسی دوئ ته هغه (میراث) چي فرض کړي شوي دی دوئ ته اومینه کوئ تاسی دی کارته چي نکاح کړئ تاسی دوئ) دهغوئ دمال اویاجمال له سببه خوهغوئ ته بشپړ ولورنه ورکوئ نوالله له دی کارڅخه منع کړل ابن عباس ﷺ وایی: دجاهلیت په وخت کښي به دیوچاپه کورکښي یتیمه نجلۍ وه په هغې باندی به یې جامه وغورځوله اوبیابه نوهیچانشو کولای هغه په نکاح واخلی نوکه به ښکلی اوښائسته وه اودده به خوښه وه په نکاح کښي به یې کړه اومال به یې وخوړاوکه بدرنګه به وه نورخلګ به یې نه پرېښودل چي هغه په نکاح کړی اونه به یې هم پخپله په نکاح کوله) ترڅوبه مړه شوه اوده به یې میراث یووړالله ﷻ له داسی کارڅخه منع کړل .

﴿ وَٱلْمُسْتَضْعَفِينَ مِنَ ٱلْوِلْدَٰنِ وَأَن تَقُومُوا۟ لِلْيَتَٰمَىٰ بِٱلْقِسْطِ ﴾ اوحکم درکوي الله په حق) دضعیفانو کښی اووړوهلکانو کښي او(بل الله داحکم درکوي) چي ودریږئ تاسی په حق دیتیمانو کښي په عدل سره (په میراث اومهرکښي) دجاهلیت په وختونو کښي به چا کوچنیانواو ښځوته میراث نه ورکاوواوویل به یې: څرنګه مونږهغه چاته چي وسله نه شی اخیستلای اوپه آس نه سپریږي دښمن نه شی وژلای دمیراث مال ورکړو؟ الله ﷻ له دی څخه دوئ منع کړل اودوئ ته یې حکم وکړچي

---

(۱) مختصرابن کثیر۱/ ۴۲۲ (۲) مختصرابن کثیر۱/ ۴۴۳

دنوموږووندە (په بشپړه توګه) ورکړئ. ﴿ وَمَا تَفْعَلُواْ مِنْ خَيْرٍ فَإِنَّ اللَّهَ كَانَ بِهِۦ عَلِيمًا ﴾ اوهرڅه چي کوئ تاسی له خیر(نیکي) پس بیشکه چي الله دی پرهغه ښه عالم اوپرهغه به جزادرکړي ابن کثیروایې چي دغه دنیکوکارونولپاره هڅونه ده چي دالله دحکمونوپه امتثال اوپه ښوکارونوبه الله ﷻ بشپړه جزااوثواب درکوي (بیا) له دې وروسته الله ﷻ دنارینه دسرغړونی اونشوزحکم داسی بیانوي: ﴿ وَإِنِ امْرَأَةٌ خَافَتْ مِنۢ بَعْلِهَا نُشُوزًا أَوْ إِعْرَاضًا ﴾ اوکه کومه ښځه وېریده له میړه خپله دسرکشی (دحقوقوپه منع اویادصحبت په ترک) یادمخ ګرزولو(له مجلسه اوخبرو) یعنی که چیری کومه ښځه له دی ویریده چي میړه یې ورباندی غټه وایې اوله هغې څخه ددې دبدرنګې له سببه مخ اړوی چي دازړه اویابدرنګه ده دبلې ځوانې ښځې چي ښایسته وی دهغې لورته مینه کوي ﴿ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِمَآ أَن يُصْلِحَا بَيْنَهُمَا صُلْحًا وَالصُّلْحُ خَيْرٌ ﴾ پس نشته هیڅ ګناه پردغودواړوپدې کښني چي صلح وکړي دوئ په خپلومینځونو کښني یوشا ن صلح اوصلح کول خیر(ډیرغوره) دی) یعنی میړه اوښځه باندی دسولې په کولوکښني څه ګناه نشته چي ښځه له خپلوحقوقو څخه یوڅه پرېږدي چي دنفقې ، یاجامې اویاکوروالی حقوق دی ترڅوپدې باندی میړه راضی اوخوښ کړی اوملګرتیایې وساتې ابن جریرله حضرت عائشې رضی الله عنهاڅخه روایت کوی چي: دیوه سړی به دوې مېرمنې وی یوه به بوډۍ اویابدرنګه وه اودده به خوښه نه وه هغې به ورته وویل: ماخپل حق دربښلی خوماته طلاق مه راکوه.[1] (والصلح الخير) اوصلح ډیره غوره ترفراق اوطلاق ده) ﴿ وَأُحْضِرَتِ الْأَنفُسُ الشُّحَّ ﴾ (اوحاضری کړي شوي دی نفسونه حرص ته) یعنی نفسونه په شدت دبخل باندی پنځول شوي دی ښځه له خپله حقه چي نفقه او استمتاع ده نه تېرېږي اونارینه هم دښځې دبدرنګې په حال کښني دي ته نه تیارېږي چي دهغې خپل واړسم اداکړي اویایې دځان ملګري وساتي کله چي تردي زیاته یې بله خوښېږي ﴿ وَإِن تُحْسِنُواْ وَتَتَّقُواْ ﴾ اوکه نیکې وکړئ تاسی (له خپلوښځوسره) اوپرهیزوکړئ تاسی (له نشوزاوخصومته) یعنی له میرمنوسره نیکه معامله اوښه چلندوکړئ ورباندی ظلم نه کوئ ﴿ فَإِنَّ اللَّهَ كَانَ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرًا ﴾ نوبیشکه چي الله دی په هغه شی چي کوئ یې تاسی ښه خبرداراوپه هغه به بشپړه جزادرکړی وروسته بیاالله تعالی داڅرګندوی چي په حقیقی توګه مطلق عدل کول دښځوترمینځ لکه محال غوندی دی چي هیڅوک یې ګواکي توان نلری فرمایي: ﴿ وَلَن تَسْتَطِيعُوٓاْ أَن تَعْدِلُواْ بَيْنَ النِّسَآءِ ﴾ اوله سره به طاقت رانه وړئ تاسی (ای دډیروښځو میړونو) ددي چي عدل وکړئ (برابروالی اومساوات یې وساتئ) ﴿ وَلَوْ حَرَصْتُمْ ﴾ اګرکه ډیرحرص وکړئ تاسی (عدل ته) یعنی‌که‌خپل توان په کارواچوئ هم نشئ کولاي ځکه په مینه کښني مساوات کول اوذړه میل اورغبت انسان په طاقت کښني نه راځي ﴿ فَلَا تَمِيلُواْ كُلَّ الْمَيْلِ فَتَذَرُوهَا كَالْمُعَلَّقَةِ ﴾ (نومخ مه ګرزوئ تاسی (له یوې ښځې) په کامل مخ ګرځولوسره چي پس پرېږدئ تاسی (داښځه) پشان

[1] الطبری ۹ / ۲۷۱

دځورندي شوي چي نه يې طلاقوئ اونه هم دمېړه توب معامله ورسره کوئ !) ددي مشابهت يې له هغه څه سره وکړچي دمځکې اوآسمان ترمينځ ځوړندشوي وی چي نه په مځکه قرارلری اونه هم په آسمان کښي دغه د أبلغې تشبيه مثال دی ﴿ وَإِن تُصْلِحُوا۟ وَتَتَّقُوا۟ ﴾ (اوکه اصلاح وکړئ تاسی (له خپلو ښځوسره) اوپرهيزوکړئ (له ظلمه څخه) يعنی که چيری تاسی دپخوانی ځوراوظلم په هکله سره سوله وکړئ اوپه راتلونکي کښي له الله څخه وويرېږئ اوپه عدل ورسره چال چلند کوئ نو ﴿ فَإِنَّ ٱللَّهَ كَانَ غَفُورًا رَّحِيمًا ﴾ نوبيشکه چي الله ﷻ دی ښه مغفرت کونکي (دګناهونو) ډيررحم والا داجراوثواب په انعام ورکولوسره) يعنی ستاسوپخوانی تېری به دروبښی اودرباندی به رحم وکړي .

﴿ وَإِن يَتَفَرَّقَا يُغْنِ ٱللَّهُ كُلًّا مِّن سَعَتِهِۦ ﴾ اوکه سره بيل شول دواړه (زوجين په طلاق سره نوبې پروابه کاندی الله هريوله دوئ نه له فراخې خپلې ؛) يعنی که دوئ دواړه په طلاق سره جلاشول نوالله به هريوه ددوئ پخپل لطف اوفضل سره ونازوي اوداسی جوړه به ورکړي چي ترپخوانی غوره وی همدارازژوندبه يې هوسااوخوښحاله کړي ﴿ وَكَانَ ٱللَّهُ وَٰسِعًا حَكِيمًا ﴾ اودی الله ﷻ پراخ (رحمت ، فضل،احسان دده) تدبيروالادی (چي هرکارله حکمت اومصلحت سره سم کوي ﴿ وَلِلَّهِ مَا فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِى ٱلْأَرْضِ ﴾ اوخاص الله لره دی هغه شيان چي په آسمانونوکښي دی اوهرهغه شيان چي په ځمکه کښي دی (ملکا ، خلقاوعبيدا) ﴿ وَلَقَدْ وَصَّيْنَا ٱلَّذِينَ أُوتُوا۟ ٱلْكِتَٰبَ مِن قَبْلِكُمْ وَإِيَّاكُمْ ﴾ اوخامخاپه تحقيق حکم کړي دی مونږهغوکسانوته چي ورکړي شوی دی دوئ ته کتاب پخواله تاسی اوهم .خاص حکم کړی دی مونږتاسی ته ﴿ أَنِ ٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ ﴾ ددی چي وويرېږئ له الله ﴿ وَإِن تَكْفُرُوا۟ فَإِنَّ لِلَّهِ مَا فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِى ٱلْأَرْضِ ﴾ (اوکه تاسی کافران شئ نوبيشکه خاص الله لره دی هرهغه شيان چي په آسمانونوکښي دی اوهغه شيان چي په مځکه کښي دی) يعنی ستاسوکافرکيدل هغه ته زيان نه رسوي ځکه هغه دټولومځکني اوآسماني مخلوقاتومالک دی ﴿ وَكَانَ ٱللَّهُ غَنِيًّا حَمِيدًا ﴾ (اودی الله بی پروا(له هرشی اوهرچا) ښه ستايلی شوي) يعنی هغه ته دطاعت کونکوطاعت ګټه نه ور رسوي اودګناهګارانوګناه ورته زيان نه رسوي ﴿ وَلِلَّهِ مَا فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِى ٱلْأَرْضِ ۚ وَكَفَىٰ بِٱللَّهِ وَكِيلًا ﴾ اوخاص الله لره دی هغه شيان چي په آسمانونوکښي وي اوهغه چي په مځکه کښي وي اوبس دی الله وکيل (دبندګانوداعمالوساتونکي) ﴿ إِن يَشَأْ يُذْهِبْكُمْ أَيُّهَا ٱلنَّاسُ وَيَأْتِ بِـَٔاخَرِينَ ۚ ﴾ که اراده وفرمايي (الله) نوتاسی به بوزی (په مرګ سره) ای خلکواورابه ولی نورخلک (په پيداکولوسره) ﴿ وَكَانَ ٱللَّهُ عَلَىٰ ذَٰلِكَ قَدِيرًا ﴾ اودی الله ﷻ (پردغه اعدام اوايجاد(هم) ښه قادر(توانا) ﴿ مَّن كَانَ يُرِيدُ ثَوَابَ ٱلدُّنْيَا فَعِندَ ٱللَّهِ ثَوَابُ ٱلدُّنْيَا وَٱلْـَٔاخِرَةِ ۚ وَكَانَ ٱللَّهُ سَمِيعًۢا بَصِيرًا ﴾ (اودی الله ښه اوريدونکي ښه ليدونکي)

یعنی ځوک چي پخپل عمل باندی دنیوي اجرغواړي نود الله په نزدتردي ښه غوره اولوړاجرددنیااوآخرت موجوددي نوولی ددنیاخسیس اجرغواړئ اوسترغوره اجرددنیااو آخرت نه غواړئ بایدبنده ددنیااوآخرت ثواب اواجروغواړي الله تعالی دبندګانواقوال اوري اوعملونه یې وینې.

بلاغت:

پدې آیتونوکښي دفصاحت بدیع اوبیان چي کومي بیلګې شته په لاندي ډول یې لندیزلیکو:

۱ - استعاره پدې قول کښي چي: (اسلم وجهه لله) مخ یې دقصداوجهت لپاره استعاره کړې اوهمدارنګه په (أحضرت الانفس الشح) کښي حاضریدل ځکه چي دبخل شدت خوله انسانه بیلیدونکې نه وي اونه هم ځني لیري وی نوګواکي هغه یې ورته راحاضر او بیاورسره ملګري کړچي حاضرول یې له ملګرتوب څخه استعاره راوړ.[1]

۲ - مغایرجناس په (ضل...ضلالاً) اوپه (خسر...خسراناً) اوپه (أحسن، محسن) اوپه (صلحاً... والصلح) اوپه (تمیلوا کل المیل) کښي.

۳ - تشبیه پدی قول کښي چي فرمایي: (فتذروها کالمعلقة) دلته مرسل مجازدی.

۴ - اطناب اوایجازپه ځوځایونوکښي.

تنبیه:

پدې آیت کښي له عدل څخه مقصد ـ دمیړه په اختیارکی ـ دزړه دمینې عدل دی اوکه داسی ونشي نوبیابه له هغه آیت سره چي فرمایي: (فانکحوا ماطاب لکم من النساء مثنی وثلاث ورباع) ټکرشی اورسول الله ﷺ به دخپلومیرمنوترمینځ ویش کاوواوعدل به یې مراعت کاوویل به یې: اللهم هذاقسمي فیماأملک فلاتؤاخذني فیماتملک ولاأملک) الهی دازماویش دی چي زماپه وس کښي راځي په هغه څه مي مه نیسه چي زماله توانه بهراوستاپه واک کښي ده) یعنی قلبی محبت اوآیت شریف هم پدې دلالت کوي چي فرمایي: (فتذروها کالمعلّقة) اوهغه ځوک چي مجددین بلل کیږي اودیوې میرمنې په نکاح کولودوجوب حکم کوي اوپه دي آیت دلیل نیسی دوی ته اعتبارنشته ځکه دغه دنصوصوپه پوهیدلوکښي جهل دی اودادوئ بیخي باطل قول دی شریعت غراي محمدي ﷺ اونبوي پاکیزه سنت یې نه مني، وکفاناالله شرعلماء السوء.

الله تعالی فرمایي:

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ كُونُواْ قَوَّٰمِينَ بِٱلْقِسْطِ شُهَدَآءَ لِلَّهِ وَلَوْ عَلَىٰٓ أَنفُسِكُمْ أَوِ ٱلْوَٰلِدَيْنِ وَٱلْأَقْرَبِينَ ۚ إِن يَكُنْ غَنِيًّا أَوْ فَقِيرًا فَٱللَّهُ أَوْلَىٰ بِهِمَا ۖ فَلَا تَتَّبِعُواْ ٱلْهَوَىٰٓ أَن تَعْدِلُواْ ۚ وَإِن تَلْوُۥٓاْ أَوْ تُعْرِضُواْ فَإِنَّ ٱللَّهَ كَانَ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرًا ﴿١٣٥﴾ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ ءَامِنُواْ بِٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ وَٱلْكِتَٰبِ ٱلَّذِى نَزَّلَ عَلَىٰ رَسُولِهِۦ وَٱلْكِتَٰبِ ٱلَّذِىٓ أَنزَلَ مِن قَبْلُ ۚ وَمَن يَكْفُرْ بِٱللَّهِ وَمَلَٰٓئِكَتِهِۦ وَكُتُبِهِۦ وَرُسُلِهِۦ وَٱلْيَوْمِ ٱلْءَاخِرِ فَقَدْ ضَلَّ ضَلَٰلًۢا بَعِيدًا ﴿١٣٦﴾ إِنَّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ثُمَّ كَفَرُواْ ثُمَّ ءَامَنُواْ ثُمَّ كَفَرُواْ ثُمَّ ٱزْدَادُواْ كُفْرًا لَّمْ يَكُنِ ٱللَّهُ لِيَغْفِرَ لَهُمْ وَلَا لِيَهْدِيَهُمْ سَبِيلًۢا ﴿١٣٧﴾

[1] - تلخیص البیان ص ۳۷

بَشِّرِ ٱلْمُنَٰفِقِينَ بِأَنَّ لَهُمْ عَذَابًا أَلِيمًا ﴿١٣٨﴾ ٱلَّذِينَ يَتَّخِذُونَ ٱلْكَٰفِرِينَ أَوْلِيَآءَ مِن دُونِ ٱلْمُؤْمِنِينَ ۚ أَيَبْتَغُونَ عِندَهُمُ
ٱلْعِزَّةَ فَإِنَّ ٱلْعِزَّةَ لِلَّهِ جَمِيعًا ﴿١٣٩﴾ وَقَدْ نَزَّلَ عَلَيْكُمْ فِى ٱلْكِتَٰبِ أَنْ إِذَا سَمِعْتُمْ ءَايَٰتِ ٱللَّهِ يُكْفَرُ بِهَا وَيُسْتَهْزَأُ بِهَا فَلَا
تَقْعُدُوا۟ مَعَهُمْ حَتَّىٰ يَخُوضُوا۟ فِى حَدِيثٍ غَيْرِهِۦٓ ۚ إِنَّكُمْ إِذًا مِّثْلُهُمْ ۗ إِنَّ ٱللَّهَ جَامِعُ ٱلْمُنَٰفِقِينَ وَٱلْكَٰفِرِينَ فِى جَهَنَّمَ جَمِيعًا
﴿١٤٠﴾ ٱلَّذِينَ يَتَرَبَّصُونَ بِكُمْ فَإِن كَانَ لَكُمْ فَتْحٌ مِّنَ ٱللَّهِ قَالُوٓا۟ أَلَمْ نَكُن مَّعَكُمْ وَإِن كَانَ لِلْكَٰفِرِينَ نَصِيبٌ قَالُوٓا۟
أَلَمْ نَسْتَحْوِذْ عَلَيْكُمْ وَنَمْنَعْكُم مِّنَ ٱلْمُؤْمِنِينَ ۚ فَٱللَّهُ يَحْكُمُ بَيْنَكُمْ يَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ ۗ وَلَن يَجْعَلَ ٱللَّهُ لِلْكَٰفِرِينَ عَلَى
ٱلْمُؤْمِنِينَ سَبِيلًا ﴿١٤١﴾ إِنَّ ٱلْمُنَٰفِقِينَ يُخَٰدِعُونَ ٱللَّهَ وَهُوَ خَٰدِعُهُمْ وَإِذَا قَامُوٓا۟ إِلَى ٱلصَّلَوٰةِ قَامُوا۟ كُسَالَىٰ يُرَآءُونَ
ٱلنَّاسَ وَلَا يَذْكُرُونَ ٱللَّهَ إِلَّا قَلِيلًا ﴿١٤٢﴾ مُّذَبْذَبِينَ بَيْنَ ذَٰلِكَ لَآ إِلَىٰ هَٰٓؤُلَآءِ وَلَآ إِلَىٰ هَٰٓؤُلَآءِ ۚ وَمَن يُضْلِلِ ٱللَّهُ فَلَن تَجِدَ
لَهُۥ سَبِيلًا ﴿١٤٣﴾ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ لَا تَتَّخِذُوا۟ ٱلْكَٰفِرِينَ أَوْلِيَآءَ مِن دُونِ ٱلْمُؤْمِنِينَ ۚ أَتُرِيدُونَ أَن تَجْعَلُوا۟ لِلَّهِ
عَلَيْكُمْ سُلْطَٰنًا مُّبِينًا ﴿١٤٤﴾ إِنَّ ٱلْمُنَٰفِقِينَ فِى ٱلدَّرْكِ ٱلْأَسْفَلِ مِنَ ٱلنَّارِ وَلَن تَجِدَ لَهُمْ نَصِيرًا ﴿١٤٥﴾ إِلَّا
ٱلَّذِينَ تَابُوا۟ وَأَصْلَحُوا۟ وَٱعْتَصَمُوا۟ بِٱللَّهِ وَأَخْلَصُوا۟ دِينَهُمْ لِلَّهِ فَأُو۟لَٰٓئِكَ مَعَ ٱلْمُؤْمِنِينَ ۖ وَسَوْفَ يُؤْتِ ٱللَّهُ
ٱلْمُؤْمِنِينَ أَجْرًا عَظِيمًا ﴿١٤٦﴾ مَّا يَفْعَلُ ٱللَّهُ بِعَذَابِكُمْ إِن شَكَرْتُمْ وَءَامَنتُمْ ۚ وَكَانَ ٱللَّهُ شَاكِرًا عَلِيمًا
﴿١٤٧﴾ النساء: ١٣٥ - ١٤٧

مناسبت او تړاو:

کله چي الله پاک له ښځوسره په احسان اوعدل دمعامله کولوامروفرمايو نودلته يې بيادعمومي نياواوعدالت ماريينه وکړه اودشاهدي اداکولوته يې په بشپړه توګه بلنه وکړه زياتې که مشهودعليه بډای اوغنی وي اوکه بې وسه اوفقير؛ بيايې دنفسياتی خواهشاتوله منلوڅخه تحذيروفرمايه وروسته له دی يې دايمان بلنه ورکړه چي په ګردوملائکو، کتابونواورسولانوايمان راوړئ اوپه پای کښې يې دمنافقينوشرميدلي صفتونه څرګنداوددې يادونه يې وکړه چي ددوئ دهستوګنې ځای به ددوزخ په لاندني پوړکښې وي.

لغتونه :

(تلووا) (لیّ) دفع اومنع ته وايې په حديث شريف کښې راځي (ليّ الواجدِ ظلم) يعنی دغنی ځنډول اونه ورکول ظلم دی (يخوضوا) له خوض څخه اخيستل شوي اوهغه ډوبيدلوته وايې (نستحوذ) ته غلبه مومې (استحواذ) غلبې ته وايې الله فرمايې: (استحوذعليهم الشيطان) (مذبذبين) (تذبذب) خوځيدلواوتحريک ته وايې چي مرادځنی متردددی (الدرک) دراء په سکون اوزبرسره د پوړي (طبقې) په معنی ده ابن عباس ﷺ وايې چي درک داهل النارلپاره لکه درجه دجنتيانولپاره ده خودرجې يوپه بل دپاسه وي اودرکات يودبل دلاندي.

تفسير: ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ كُونُوا۟ قَوَّٰمِينَ بِٱلْقِسْطِ شُهَدَآءَ لِلَّهِ أَن تَعْدِلُوا۟ ﴾) اى هغوكسانوچي ايمان يې راوړى دى (اى مؤمنانو) تل په انصاف محكم ولاړاوسئ شاهدان (خاص) دپاره دالله يعنى اى هغه كسانوچي په الله اودالله په كتاب موايمان راوړي دعدل په كولوكښي زياروباسئ اود (قوامين) كلمه يې دمبالغې څكه راوړه چي هيڅكله هم بايدظلم اوځلل ونكړي يوازي دالله لپاره شاهدي وركړي هلته چې پکښي دخپلوي يابل څه پلوي كول نه وي ﴿ وَلَوْ عَلَىٰٓ أَنفُسِكُمْ أَوِ ٱلْوَٰلِدَيْنِ وَٱلْأَقْرَبِينَ ﴾ اګركه وي(داشاهدي)پرنفسونوستاسى(چي زيان موپكښي وي)يا(په) والدينو دمور او پلار ستاسى) ياپه خپلوانوستاسى) نوتاسى دي داخپلوي اومنفعت دشاهدي له وركولوڅخه منع نه كړي څكه حق په هرانسان باندى حاكم دى ﴿ إِن يَكُنْ غَنِيًّا أَوْ فَقِيرًا ﴾ (كه وي دا (مشهودعليه) شتمن اويامحتاج) يعنى دېږاى دغنامراعات كول اويادمحتاج اوبيوزله په حال رحم كول پدي چي شاهدي سمه ونه واياست روانه دي ﴿ فَٱللَّهُ أَوْلَىٰ بِهِمَا ﴾ الله ډيرخيرغوښتونكي دى پردوئ (له تاسې نه) الله ددوئ په مصالحوښه عالم دي نوتاسى دالله دامرمراعات وكړئ ﴿ فَلَا تَتَّبِعُوا۟ ٱلْهَوَىٰٓ ﴾ تاسى دنفسانى خواهشاتومتابعت مكوئ ابن كثيروايې چي : تاسودي هواهوس اوخپلوي تربګنى يابغض اوعداوت پدې مجبوره نكړي چي عدل ته شاكړئ بلكه عدل په ټولوحالاتوكښي مدنظرولرئ [1] ﴿ وَإِن تَلْوُۥٓا۟ أَوْ تُعْرِضُوا۟ ﴾ اوكه ژبى واړوئ اوياڅنګ وكړئ (دحق شاهدي له اداكولوڅخه) ﴿ فَإِنَّ ٱللَّهَ كَانَ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرًا ﴾ نوبيشكه الله دي پرهرهغه شي چي كوئ (يې) تاسي ښه خبردارنوجزابه دركړي ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓا۟ ءَامِنُوا۟ بِٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ ﴾ اى هغوكسانوچي ايمان يې راوړي (اي مؤمنانو) ثابت اوخالص كړئ تاسى ايمان (يقين) خپل پرالله اورسول دده (محمد) ﴿ وَٱلْكِتَٰبِ ٱلَّذِى نَزَّلَ عَلَىٰ رَسُولِهِۦ ﴾ اوپه هغه كتاب (قرآن) چي ټوټه ټوټه يې نازل كړي دى پررسول خپل (محمد ﷺ) باندى ﴿ وَٱلْكِتَٰبِ ٱلَّذِىٓ أَنزَلَ مِن قَبْلُ ﴾ (اوپرهغه كتاب چي ټول يې يوځل نازل كړي دى پخوا (له قرآنه په نوروررسولانو) يعنى پرهغونوروآسمانى كتابونوچي ترقرآن دمخه نازل شوي دى ابوالسعودوايې چي مرادله كتاب څخه جنس منتظم دى اوټولو آسمانى كتابونوته شامليږي ﴿ وَمَن يَكْفُرْ بِٱللَّهِ وَمَلَٰٓئِكَتِهِۦ وَكُتُبِهِۦ وَرُسُلِهِۦ وَٱلْيَوْمِ ٱلْءَاخِرِ فَقَدْ ضَلَّ ضَلَٰلًۢا بَعِيدًا ﴾ اوهرڅوك چي كافرشي په الله اوپه پرښتودده (الله) اوپرکتابونودده (الله) اوپررسولانودده (الله) اوپه ورځي آخري (قيامت) نوپه تحقيق ګمراه شوي دى په ګمراهي ليري (له حقه) ﴿ إِنَّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ ثُمَّ كَفَرُوا۟ ثُمَّ ءَامَنُوا۟ ثُمَّ كَفَرُوا۟ ثُمَّ ٱزْدَادُوا۟ كُفْرًا ﴾ بيشكه هغه كسان چي ايمان يې راوړي دى بياكافران شوي دى بيايې ايمان راوړي دى بياكافران شوي

[1] مختصرابن كثير۱ / ۴۴۷.

دی بیازیات شوي دی له جهته دکفره[۱] دغه آیت دمنافقینو په هکله دی څکه دوئ ایمان راوړي بیاکافران شوي بیابېا ایمان راوړي بیامرتدشوي بیاوروسته په کفرمړه شوی دی ابن عباس ﷺ وایې چې پدی آیت کښې درسول الله ﷺ په عهد کښې هرمنافق داخل دي هغه که په وچه کښې وي اوکه په بحرکښې ابن کثیروایې : چې الله پدی آیت کښې دهغه چاخبرراوړي چې په اسلام کښې داخل شوي اوبیامرتدشوي بیامسلمان شوي اوبیاکافرشوی دي اوپخپله ګمراهی کښې غوپه شوي ترڅوچې مړشي نودهغه لپاره توبه نشته وروسته له مرګه اونه یې الله ښښي نه یې هم دحق لارې ته الله رهبري کوي څکه الله فرمایې:

﴿ لَّمْ يَكُنِ ٱللَّهُ لِيَغْفِرَ لَهُمْ وَلَا لِيَهْدِيَهُمْ سَبِيلًا ﴾ ندی الله چې مغفرت وکړي دوئ ته اونه دي چې وښیې دوئ ته سمه صافه لاره د(جنت) زمخشري وایې چې معنایې داده څوک چې دارتدادله تکراره وروسته ایمان هم راوړي نه څینی منل کیږي اونه ورته ښښنه کیږي خولکن دغه استبعاداواستغراب دي چې داسې هیڅکله نشی کیدای اوهمدارنګه ته فاسقان ګوري چې یوځل توبه کاږي بیافسق پیل کوي بیاتوبه کاږي بیرته رجوع کوي له هغه دثبات اواستقامت هیله نشی کیدای اوغالباچې هغه په بدحال مري

وروسته الله دمنافقینوله حال څخه بیان کوي چې: ﴿ بَشِّرِ ٱلْمُنَٰفِقِينَ بِأَنَّ لَهُمْ عَذَابًا أَلِيمًا ٱلَّذِينَ يَتَّخِذُونَ ٱلْكَٰفِرِينَ أَوْلِيَآءَ ﴾ (زیري ورکړه (ای محمده !) منافقانوته پدې چې بیشکه شته دوئ لره عذاب دردناک هغه کسان چې نیسی دوئ کافران دوستان) الله ﷻ دزیري اوبشارت په کلمه تعبیر دتهکم لپاره وفرمایل ﴿ مِن دُونِ ٱلْمُؤْمِنِينَ ﴾ (بې له مؤمنانو) یعنی دوئ دکافرانوملګرتیاکوي چې ګواکي هغوئ دقوت خاوندان دی اودمسلمانانوملګرتیاپرېږدي ﴿ أَيَبْتَغُونَ عِندَهُمُ ٱلْعِزَّةَ ﴾ آیالټوی دا(منافقان) په نزد(ددي کفارو) عزت ؟ اوغلبه استفهام انکاری دی یعنی کفارولره خوهډوعزت نشته نوڅرنګه دوئ دهغوئ په نزدعزت لټوي ؟ ﴿ فَإِنَّ ٱلْعِزَّةَ لِلَّهِ جَمِيعًا ﴾ پس بیشکه ټول (دنیوي اواخروي) عزت خاص الله لره دی یعنی عزت له الله اودالله له دوستانوسره دی ابن کثیروایې چې پدی کښې دی ته هڅونه ده چې دالله څخه دی دعزت غوښتنه وشي ﴿ وَقَدْ نَزَّلَ عَلَيْكُمْ فِي ٱلْكِتَٰبِ ﴾ (اوپه تحقیق (پخوا) نازل کړي دی الله ﷻ پرتاسی په کتاب (قرآن) کښې داحکم) خطاب دلته ټولوهغوکسانوته دی چې دایمان څرګندونه یې کړي وی هغه که مؤمن وي اوکه منافق ﴿ أَنْ إِذَا سَمِعْتُمْ ءَايَٰتِ ٱللَّهِ يُكْفَرُ بِهَا وَيُسْتَهْزَأُ بِهَا ﴾ هرکله چې واوریدل تاسی (په یومجلس کښې) آیتونه دالله چې کفر(اوانکارکولی شو) پدی آیتونواومسخرې کولی شی په هغوپوري . ﴿ فَلَا تَقْعُدُوا۟ مَعَهُمْ حَتَّىٰ يَخُوضُوا۟ فِى حَدِيثٍ غَيْرِهِۦٓ ﴾ (نومه کیني تاسي له دوئ سره (ای مؤمنانو) ترڅوپوري چې مشغول شی دوئ په بله خبره کښې) یعنی تاسوله کافرانوسره مه کښېنئ کوم چې دالله په آیتونوملنډې وهي ترڅوچې دوئ بله خبره راواخلی اوپه قرآن مسخرې پرېږدي

---

[۱] چابیاویلي چې دادیهودانوپه باب کښې راغلی چې په موسی ﷺ یې ایمان راووړاوبیادخوسی په عبادت کولوکافران شول بیاوروسته چې موسی ﷺ راستون شوایمان یې راووړپه عیسی ﷺ کافران شول اوبیادرسول الله محمد ﷺ په راتګ یې کفرزیات شودغه قول دقتادة ده وطبری غوره کړی دی.

﴿ إِنَّكُمْ إِذًا مِّثْلُهُمْ ﴾ په تحقيق تاسی به (هم) پدې وخت کښې(په ګناه کښي) ددوئ پشان شئ ! يعنی که ورسره کښيناستئ نوددوئ په ډول به شئ ﴿ إِنَّ ٱللَّهَ جَامِعُ ٱلْمُنَٰفِقِينَ وَٱلْكَٰفِرِينَ فِى جَهَنَّمَ جَمِيعًا ﴾ (بيشکه چي الله يوځای کونکي دي دمنافقانواوکافرانوپه جهنم کښي (دټولو)ځکه چي (المرء مع من احب) سړي به له خپلودوستانوسره وي دادالله له لوري تحذيراوويرونه ده چي له کفارومنافقينوسره مخالطت اومجالست مکوئ بياالله ددوئ بده څارنه داسی په ډاګه کوي ﴿ ٱلَّذِينَ يَتَرَبَّصُونَ بِكُمْ ﴾ هغه منافقان چي هميشه منتظردي (دحوادثو) ستاسی ته ﴿ فَإِن كَانَ لَكُمْ فَتْحٌ مِّنَ ٱللَّهِ ﴾ (نوکه وو تاسی ته بري له (لوري) د(الله) يعنی پردښمنانوبريالی اوولجې موترګوتوکړي ﴿ قَالُوٓا۟ أَلَمْ نَكُن مَّعَكُمْ ﴾ نووايې دا(منافقان مسلمانانوته) چي آيانه وومونږ له تاسی سره؟) نومونږته هم دغنيمت ونډه راکړئ ﴿ وَإِن كَانَ لِلْكَٰفِرِينَ نَصِيبٌ ﴾ اوکه وه کافرانوته برخه (دبري) ﴿ قَالُوٓا۟ أَلَمْ نَسْتَحْوِذْ عَلَيْكُمْ وَنَمْنَعْكُم مِّنَ ٱلْمُؤْمِنِينَ ﴾ نووايې دا(منافقان کفاروته) آياغالب شوي نه وو مونږپرتاسواء (آيا) ومونه ژغورلئ تاسی له مؤمنانوڅخه ؟ يعنی دمؤمنانوعزائم موسست کړل اوتاسی موځينی وژغورلئ نومونږته خپله ونډه راکړئ ځکه مونږهيڅوک نه پريږدوتاسوته زيان ورسوی الله تعالی ددواړوحال په راتلونکي کښي داسی بيانوي چي ﴿ فَٱللَّهُ يَحْكُمُ بَيْنَكُمْ يَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ ﴾ (نوالله به فيصله وکړي په مينځ ستاسی کښي په ورځي دقيامت کښي) يعنی الله دمؤمنانواوکافرانوترمينځ دقيامت په ورځې کښي فيصله کوي ﴿ وَلَن يَجْعَلَ ٱللَّهُ لِلْكَٰفِرِينَ عَلَى ٱلْمُؤْمِنِينَ سَبِيلًا ﴾ (اوله سره به ونه ګرزوي الله دپاره دکافرانوپرمؤمنانوباندی هيڅ لاره) يعنی هغوئ به هيڅکله هم داسی غالبه نکړي چي مسلمانان له بيخه وباسی. ابن کثيروايې چي هغه په داډول چي يومخه ايزه مسلمانان له مينځه يوسی که څه هم کله کله به کافران يوڅه بري ترلاسه کوي خووروستي بری خامخادمتقيانولپاره په دنيااوآخرت کښي وي(۱) ﴿ إِنَّ ٱلْمُنَٰفِقِينَ يُخَٰدِعُونَ ٱللَّهَ وَهُوَ خَٰدِعُهُمْ ﴾ بيشکه چي منافقان تګي کوي (په اظهارداسلام اوخفاء دکفر) له الله سره اوالله سزاورکونکي ددوئ دی ددوئ دتګې په سبب نوالله ددوئ جزاته دمشاکلت په ډول خداع وويل ځکه ددوئ دتګی وبال دوئ ته راجع دی ﴿ وَإِذَا قَامُوٓا۟ إِلَى ٱلصَّلَوٰةِ قَامُوا۟ كُسَالَىٰ ﴾ (اوهرکله چي پاڅيږي دغه (منافقان) لمانځه ته نوپاڅيږي سست کاهلان) نهٔ دثواب طمع لري اونه هم له عذابه ويريږي ﴿ يُرَآءُونَ

---

(۱) قرطبی ددي آيت په هکله دمفسرينوپنځه قولونه راوړی يوداچي مونږترجيح ورکړه اوومولیکل اوچابياويلی چي مرادله سبيل څخه حجت اودليل دی اوچابياويلی چي دادقيامت په ورځ کښي ده اوطبری هم دی ته ترجيح ورکړي چي وايې دادقيامت دورځې حجت دی اوپه هغه حديث يې دليل نيولی چي يوچاله حضرت علی کرم الله وجهه څخه ددې آيت په هکله وپوښتل هغه ورته وويل رانژدی شه ! اوبيايې دغه آيت ورته تلاوت کړ: (فالله يحكم بينكم يوم القيامة ولن يجعل للكافرين على المؤمنين سبيلا) يعنی دقيامت په ورځ ،خودغه رايه ابن عربی ضعيفه کړی اوکمزوری بللی. قرطبی وګوره ۵ / ۴۱۹. (۲) مختصرابن کثير۱ / ۴۴۹

﴿ النَّاسَ ﴾ (خلکو ته ځان ښيي (چي مونږ هم مسلمانان يو) يعنی دوئ په لمونځ کولو د ريا او سمعت اراده لري دالله د رضا لپاره يې نه کوي ﴿ وَلَا يَذْكُرُونَ اللَّهَ إِلَّا قَلِيلًا ﴾ اونه يادوي دوئ الله مګر لږ ﴿ مُّذَبْذَبِينَ بَيْنَ ذَٰلِكَ ﴾ پدې حال کښی چي دوئ متحيران مترددان دی په مينځ ددغه ايمان او کفر کي) ﴿ لَآ إِلَىٰ هَٰٓؤُلَآءِ وَلَآ إِلَىٰ هَٰٓؤُلَآءِ ﴾ نه په طرف ددغو مؤمنانو دی اونه په طرف دهغو کفارو دی ﴿ وَمَن يُضْلِلِ اللَّهُ فَلَن تَجِدَ لَهُۥ سَبِيلًا ﴾ اوهرڅوک چي الله يې ګمراه کړي نو له سره ته به ونه مومي ده ته لاره (دحق) نيکمرغي اوهدايت وروسته بيا الله تعالی مؤمنان ددين ددښمنانو له دوستي څخه ويروي: ﴿ يَٰٓأَيُّهَا الَّذِينَ ءَامَنُوا لَا تَتَّخِذُوا الْكَٰفِرِينَ أَوْلِيَآءَ مِن دُونِ الْمُؤْمِنِينَ ﴾ (ای هغو کسانو چي ايمان يې راوړي دی (ای مؤمنانو) مه نيسئ تاسی کافران دوستان (خپل) بی له مؤمنانو څخنی) يعنی تاسو دمسلمانانو دوستی مه پريږدئ چي په بدل کښی له مجرمينو کفارو سره دوستی اوخپلوي پالئ ﴿ أَتُرِيدُونَ أَن تَجْعَلُوا لِلَّهِ عَلَيْكُمْ سُلْطَٰنًا مُّبِينًا ﴾ آيا اراده لرئ تاسی (ای مؤمنانو) چي پيدا کړئ الله لره پرتاسی برهان (حجت) ښکاره ؟ چي تاسی منافقان ياست ؟ ابن عباس رضی الله عنه وايي چي په قرآن کريم کښي هرځای سلطان حجت ته ويل کيږي وروسته الله فرمايي: ﴿ إِنَّ الْمُنَٰفِقِينَ فِى الدَّرْكِ الْأَسْفَلِ مِنَ النَّارِ ﴾ بيشکه چي منافقين دی په طبقه ډيره ښکته کښي له اوره د(جهنم) چي هغه اوه طبقې (پوړي) ده ابن عباس رضی الله عنه وايي داورپه خورا ښکتنی برخه کښی به وي ځکه دوئ کفر او په اسلام اومسلمانانو استهزاء اوملنډې وهل دواړه يوځای کړي دی اور درکات لري لکه چي جنت درجات لری ﴿ وَلَن تَجِدَ لَهُمْ نَصِيرًا ﴾ اوله سره به نه مومي ته دوئ ته مددګار(دالله له عذابه ژغورونکي) ﴿ إِلَّا الَّذِينَ تَابُوا وَأَصْلَحُوا ﴾ مګر هغه کسان چي توبه وباسی (له نفاقه) اواصلاح کړي (اعمال خپل) ﴿ وَاعْتَصَمُوا بِاللَّهِ ﴾ اومنګولي خښې کړئ په (دين) دالله (اوکتاب دهغه) ﴿ وَأَخْلَصُوا دِينَهُمْ لِلَّهِ ﴾ (اوخالص کړئ دين خپل خاص الله لره) يعنی دالله څخه پرته پخپل عمل دبل څه غوښتونکي نه وي ﴿ فَأُولَٰٓئِكَ مَعَ الْمُؤْمِنِينَ ﴾ نودغه کسان به وي سره له مؤمنانو(په قيامت کښي) ﴿ وَسَوْفَ يُؤْتِ اللَّهُ الْمُؤْمِنِينَ أَجْرًا عَظِيمًا ﴾ اوژر به ورکړي الله ټولو مؤمنانو ته (په عقبی) کښي ثواب ډيرلوي (چي جنت دي) ﴿ مَّا يَفْعَلُ اللَّهُ بِعَذَابِكُمْ إِن شَكَرْتُمْ وَءَامَنتُمْ ﴾ (څه به کوي الله په عذاب ستاسی ؟ (ولی به عذاب درکوي تاسی ته ؟) که شکروباسئ تاسی اوايمان ولرئ تاسی) يعنی پداحال کښي ستاسو په عذابولو کښي الله ته څه ګټه شته ؟ آيا قهربه يې کښينی ؟ کسات به واخلي ؟ اوکه به کوم زيان اوضررځينی دفع شي ؟ الله پاک خوله دی ټولوڅخه غنی اوبی

پروادی ﴿وَكَانَ ٱللَّهُ شَاكِرًا عَلِيمًا﴾ اودي الله شكرقبلونكي ښه عالم يعنى الله دبندګانو د طاعت سره له دې چي ورته اړنه دى خوپه لږعبادت ډيراجراوثواب وركوي.

بلاغت: پدې آيتونو كښي دفصاحت اوبديع چي كومي بيلګې شته لنډيزيې دادى:

۱-مبالغه د (قوامين بالقسط) په صيغه كښي يعنى زيارايستونكي په عدل كښي.

۲-طباق صنعت د (غنياوفقيرا) او (آمنوا ثم كفروا) په .... كښي.

۳-ناقص جناس په دى جملوكښي چي: (آمنوا،آمِنوا) يوازي شكل په تغيرراغلى.

۴-اشتقاقى جناس په: (يخادعون ...خادعهم) او (جامع ...جميعاً) اوبيا (شكرتم..شاكراً) كښي.

۵ – تهكمى اسلوب په دې كلام كښي چي (بشر المنافقين) ځكه دبشارت لفظ يې دانذارپه ځاى استعمال كړى دى.

۶-استعاره په دى كلام كښي چي (وهو خادعهم) دخداع نوم يې دعمل دمجازات لپاره راوړي اوالله ﷻ خوله خداع څخه منزه اوپاک دى.

۷-انكارى استفهام پدې جمله كښي چي: (ايبتغون عندهم العزة) غرض ځينى تكول اوتوبيخ دى.

فوائداوټكې:

لومړۍ فائده: دالله تعالى داقول چي فرمايي: (يا ايها الذين آمَنوا،امِنوا) تكرارنه دى اومعنايې داچي په ايمان ثابت اوتل ترتله اوسئ لكه چي مؤمن وايي (اهدنا الصراط المستقيم) يعنى مونږ په مستقيمه لارثابت ولرئ.

دوهمه فائده: الله تعالى دمؤمنانوفتحه عظيمه بللى اوځان ته يې نسبت كړي چي: (فتح من الله) اودكافرانويې ونډه (نصيب) بللى چي: (وان كان للكافرين نصيب) اوځان ته يې نسبت نه دى كړى ددې لپاره چي دمسلمانانودشان تعظيم اودكفارودبرخې لږوالى اوتخسيس په ډاګه كړى.

دريمه فائده: مفسرين وايې چي داوراوه دركات دى لومړي يې جهنم، بيالظىٰ وروسته حطمة، بياسعير، بياسقر، بياجحيم اوبياهاوية ده كله كله دغه طبقات يودبل په نوم يادول كيږي ځكه ټول په اوركښي سره يودى اورټولوته شامليږي همداسى په البحرالمحيط كښي هم راغلى دى.

تنبيه: منافق تركافرزيات خطرناک دى ځكه يې نوعذاب هم ترهغه سخت اودردونكي دى الله تعالى فرمايي: (ان المنافقين في الدرک الاسفل من النار ولن تجدلهم نصيرا) اوالله تعالى دكافردتوبې لپاره يوازى له كفرراګرزيدل شرط ګڼلى دى فرمايي: (قل للذين كفروا ان ينتهوا يغفرلهم ماقد سلف) خودمنافق دتوبې لپاره څلورشرطونه اينبودل شوى چي هغه ،توبه، اصلاح ، منګولي ښخول دالله په دين اوپه دين كښي اخلاص دى الله تعالى فرمايي: (الا الذين تابوا واصلحوا واعتصموابالله واخلصوا دينهم لله) نوله دې څخه معلوميږي چي منافق تركافر ډيربددى اودالله په غضب اخته اوله رجوع كولوڅخه ليري دى بياالله فرمايي چي: (فاولئک مع المؤمنين) اوداسى يې نه وويل چي: (فأولئک هم المؤمنون) بياالله تعالى فرمايي: (وسوف يؤت الله المؤمنين اجراً عظيما) اوداسى يې ونه ويل چي (وسوف يؤتيهم) ځكه الله ﷻ دوئ سره بغض لري اوددوئ دهغه كفري نفاق غندنه كوي. (زادناالله فهما لاسراركتابه).

دکتاب پیژندنه

دمننې مراتب

اهداء

صفوة التفاسیر 1 ټوک

د نصیراحمد احمدي

لخوا سکین او pdf سو

تاریخ. ۱۰-۱۱-۱۳۹۸

واتساپ۰۷۴۹۸۴۹۵۶۹

د دعـا محـتـاج احمدي!